www.nanafghan.com

# قصص الانبیاء

په کندهاري پښتو

للامام ابی الفدا اسماعیل بن کثیر

۷۰۱-۷۷۴ هجریة

Ketabton.com

مکتبه رحمانیه

کانسي روډ کوټه

(c) ketabton.com: The Digital Library

# قصص الانبیاء

للامام الحافظ ابن کثیر الدمشقی

(c) ketabton.com: The Digital Library

نَحْنُ نَقُصُّ عَلَيْكَ أَحْسَنَ الْقَصَصِ بِمَآ أَوْحَيْنَآ إِلَيْكَ هٰذَا الْقُرْآنَ (یوسف ۳)

# قصص الانبیآء

للامام الحافظ عماد الدين ابى الفدآء إسماعيل بن كثير الدمشقى

المولود سنة ۷۰۱ ، المتوفى سنة ۷۷٤ هجرية

ژباړه:

مولانا مُحمَّد احمد الحقانى الافغانى

ناشر:

مكتبه رحمانيه ، كاسى روډ ، كوئټه

: 03337806049

(c) ketabton.com: The Digital Library

بسم الله الرحمن الرحيم

(c) ketabton.com: The Digital Library

ټول حقوق محفوظ دي

© All Rights Reserved

لومړی چاپ

۱۴۲۸ ذی القعده \ نومبر 2007

| | |
|---|---|
| Maktabah Rahmaniyah | مکتبۃ رحمانیۃ |
| Publishing Organization | خپروونکی اداره |

Kasi Road, Quetta, Pakistan . Mob: 03337806049 : کاسي روډ ، کوئټه ، پاکستان ، ګرځنده تلیفون شمیره

AL-ILM Computers, Quetta,. Mob: 03218016371 : العلم کمپیوټرز، کوئټه پاکستان، ګرځنده تلیفون شمیره

(c) ketabton.com: The Digital Library



## دقصص الانبيآء دمضامينو فهرست


دمصنف رحمة الله علیه حالاتو ته لنډه کتنه ........................................ ۹
ذکر دهغو آیتونو چی وارد سویدی په باره کی دآدم علیه السلام ........................ ۱۰
ذکر دمکالمې دحضرت آدم علیه السلام او حضرت موسیٰ علیه السلام........................۲۸
ذکر دهغه احادیثو چی وارد دی په باره دپیدایش دآدم علیه السلام کی.................. ۲۹
قصه دزامنو دآدم علیه السلام یعنی دهابیل او قابیل.................................. ۳۸
وفات دآدم علیه السلام او وصیت دده خپل زوی شیث علیه السلام ته...................... ۴۵
ادریس علیه السلام........................................................................ ۴۸
قصه دنوح علیه السلام..................................................................... ۵۰
ذکر دیو څو خبرو په باره کی دنوح علیه السلام......................................... ۷۸
روژه دنوح علیه السلام.................................................................... ۷۸
حج دنوح علیه السلام...................................................................... ۷۹
وصیت دنوح علیه السلام خپل زوی ته....................................................... ۷۹
قصه دهود علیه السلام..................................................................... ۸۱
قصه دصالح علیه السلام چی نبی دبنی ثمود دی.............................................. ۹۳
بیان دتیریدلو دنبی صلی الله علیه وسلم پر وادی الحجر باندی پرمځکی دثمود په کال دتبوك.........۱۰۴
قصه دابراهیم الخلیل علیه السلام.......................................................... ۱۰۲
مناظره دابراهیم علیه السلام دباچا سره دوقت................................................۱۱۹
هجرت دابراهیم علیه السلام شام ته او داخلیدل دده دمصر کورونو ته او اوسیدل دده په
مځکه دبیت المقدس کی...................................................................۱۲۱
پیدایش داسماعیل علیه السلام دبی بی هاجرې څخه........................................... ۱۲۷
بیان دهجرت دابراهیم علیه السلام او اسماعیل علیه السلام او بی بی هاجرې مکی ته او
جوړول دخانه کعبی....................................................................... ۱۲۹
امتحان دحلالیدو داسماعیل علیه السلام..................................................... ۱۳۴
پیدایش داسحاق علیه السلام................................................................۱۳۹
بیان دجوړولو دخانه کعبې...................................................................۱۴۲
ثنآء دالله جل جلاله او درسول الله صلی الله علیه وسلم پر ابراهیم علیه السلام باندی........................۱۴۷
محل دده په جنت کی.......................................................................۱۵۷
اوصاف دابراهیم علیه السلام............................................................... ۱۵۸

(c) ketabton.com: The Digital Library




وفات دابراهیم عَلَيْهِ السَّلَام او هغه اقوال چی دده دعمر په باره کی ویل سویدی............ ۱۵۹
اولاد دابراهیم عَلَيْهِ السَّلَام ........................................ ۱۶۱
قصه دلوط عَلَيْهِ السَّلَام ........................................ ۱۶۱
قصه دمدین قوم دشعیب عَلَيْهِ السَّلَام ........................................ ۱۷۳
نسل دابراهیم عَلَيْهِ السَّلَام ........................................ ۱۸۴
قصه داسماعیل عَلَيْهِ السَّلَام ........................................ ۱۸۵
اسحاق عَلَيْهِ السَّلَام ........................................ ۱۸۷
ذکر دهغه څه چی واقع سویدی په ژوند داسرئیل کی دعجیبو کارونو څخه............ ۱۹۱
قصه دایوب عَلَيْهِ السَّلَام ........................................ ۲۲۲
بیان دقصی دذی الکفل عَلَيْهِ السَّلَام ........................................ ۲۲۸
بیان دهغو امتونو چی په عام طور سره هلاك سویدی........................ ۲۳۱
اصحاب الرس........................................ ۲۳۱
قصه دقوم دیٰس ........................................ ۲۳۴
قصه دیونس عَلَيْهِ السَّلَام ........................................ ۲۳۷
فضیلت دیونس عَلَيْهِ السَّلَام ........................................ ۲۴۳
قصه دموسیٰ عَلَيْهِ السَّلَام ........................................ ۲۴۳
هلاکت دفرعون او دهغه دلښکر........................................ ۲۷۷
بیان په باره دبنی اسرآئیلو کی وروسته تر هلاکت دفرعون........................ ۲۸۴
بیان دهغو واقعاتو چی دتیه په مقام کی واقع سوی وه........................ ۲۹۱
غوښتنه دلیدلو دموسیٰ عَلَيْهِ السَّلَام الله ﷻ لره........................ ۲۹۵
قصه ددوی دعبادت ګلیګی لره په ناموجودوالی کی دموسیٰ عَلَيْهِ السَّلَام ........ ۲۹۸
قصه دغوا دبنی اسرآئیلو........................................ ۳۰۹
قصه دموسیٰ عَلَيْهِ السَّلَام او خضر عَلَيْهِ السَّلَام ........................ ۳۱۱
حدیث الفتون........................................ ۳۱۸
جوړول دقبة الزمان........................................ ۳۳۰
قصه دقارون دموسیٰ عَلَيْهِ السَّلَام سره........................................ ۳۳۲
بیان دفضیلت دموسیٰ عَلَيْهِ السَّلَام او دهغه دوفات........................ ۳۳۷
حج دموسیٰ عَلَيْهِ السَّلَام ........................................ ۳۴۲
بیان دوفات دموسیٰ عَلَيْهِ السَّلَام ........................................ ۳۴۳
نبوت دیوشع بن نون عَلَيْهِ السَّلَام ........................................ ۳۴۶

(c) ketabton.com: The Digital Library




| | |
|---|---|
| قصه دخضر او الیاس علیهما السلام ........ | ۳۵۳ |
| بیان دالیاس علیه السلام ........ | ۳۶۷ |
| بیان دیوې ډلی دپیغمبرانو په بنی اسرائیلو کی وروسته تر موسٰی علیه السلام ........ | ۳۶۹ |
| بیان دحزیقل علیه السلام ........ | ۳۷۰ |
| الیسع علیه السلام ........ | ۳۷۱ |
| قصه دشمویل علیه السلام ........ | ۳۷۳ |
| قصه دداؤد علیه السلام ........ | ۳۷۷ |
| وفات دداؤد علیه السلام ........ | ۳۸۴ |
| قصه دسلیمان علیه السلام ........ | ۳۸۶ |
| بیان دوفات دسلیمان علیه السلام او موده دده دباچهی ........ | ۳۹۷ |
| بیان دیوې ډلی دنبیانو چی وختونه او زمانه یې صحیح معلومه نه ده ........ | ۳۹۸ |
| ورانیدل دبیت المقدس ........ | ۴۰۰ |
| بیان ددانیال علیه السلام ........ | ۴۰۷ |
| جوړول دبیت المقدس وروسته تر خرابیدلو او راجمع کیدل دسردارانو دبنی اسرآئیلو وروسته تر جلا کیدلو ........ | ۴۱۰ |
| قصه دعزیر علیه السلام ........ | ۴۱۱ |
| قصه دزکریا او دیحیٰی علیهما السلام ........ | ۴۱۵ |
| سبب دقتل دیحیٰی علیه السلام ........ | ۴۲۱ |
| قصه دعیسٰی بن مریم روح الله ........ | ۴۲۳ |
| ولادت دعیسٰی علیه السلام ........ | ۴۲۸ |
| بیان ددې خبری چی الله تعالی داولاد نه منزه دی ........ | ۴۳۷ |
| ځای دپیدایش دعیسٰی علیه السلام او دهغه دتربیت په کوچنیوالی کی ........ | ۴۴۳ |
| بیان دنازلیدلو دڅلورو کتابونو دآسمان څخه او دهغو وختونه ........ | ۴۴۶ |
| بیان ددسترخوان ........ | ۴۵۴ |
| بیان دپورته کولو دعیسٰی علیه السلام آسمان ته ........ | ۴۶۱ |
| بیان دصفت دعیسٰی علیه السلام او دهغه فضآئل ........ | ۴۶۶ |
| بیان دجوړولو دبیت اللحم اودقمامه ........ | ۴۷۳ |
| بیان دخاتم الانبیآء حضرت محمد صلی الله علیه وسلم ........ | ۴۷۳ |
| عظمت دنبی صلی الله علیه وسلم ........ | ۴۷۴ |
| بیان دحُسن دحضرت محمد صلی الله علیه وسلم او دهغه صلی الله علیه وسلم حُلیه مبارکه ........ | ۴۷۵ |

(c) ketabton.com: The Digital Library



پیدایش دنبی اکرم ﷺ ...... ۴۷۷
دنبی ﷺ دپیدایش ورځ ...... ۴۷۷
بیان دورځی دپیدایش دنبی ﷺ ...... ۴۷۷
دنبی ﷺ تیۍ رودل ...... ۴۸۱
بیان دبرکاتو دنبی ﷺ ...... ۴۸۲
بیان دژر ژر غتیدو دنبی ﷺ ...... ۴۸۳
بیان دوفات دمور دنبی ﷺ ...... ۴۸۵
بیان دنکاح دنبی ﷺ دخدیجة الکبرٰی سره ...... ۴۸۶
تجارت دنبی ﷺ او سفر دنبی ﷺ شام ته ...... ۴۸۷
اولاد دنبی ﷺ ...... ۴۸۷
نوی تعمیر دخانه کعبې ...... ۴۸۸
نبی ﷺ ته دنبوت زیری ورکول کیدل ...... ۴۸۹
پر بعثت دنبی ﷺ باندی دیهودیانو عقیده ...... ۴۹۰
دنبی ﷺ دنبوت ابتدآء ...... ۴۹۱
ابتدآء دوحی ...... ۴۹۱
نزول دقرآن کریم ...... ۴۹۲
هغه کسان کومو چی اول اسلام قبول کړیدی ...... ۴۹۳
د اسلام ښکاره اعلان ...... ۴۹۳
هجرة دحبشی ...... ۴۹۴
هجرة دمدینی ...... ۴۹۵
دنبی ﷺ مدینې منورې ته راتلل ...... ۴۹۶
غزوه بدر ...... ۴۹۶
بیان دحجة الوداع ...... ۴۹۷
دحضرت عآئشه ؓ مناسکِ حج ...... ۴۹۸

پای

(c) ketabton.com: The Digital Library



## دمصنف صاحب رحمة الله علیه وژوند ته لنډه کتنه!

ددې کتاب مصنف داسلامی نړۍ یو ستر عالِم، فقیه، مفسر، محدث، او مؤرّخ دی.
دده اصلی نوم اسماعیل، لقب یې عماد الدین، کنیت یې ابو الفدآء، او دپلار نوم یې عمر، دنیکه نوم یې کثیر دی، او دی پخپله دابن کثیر په نامه سره ډیر شهرت لری.
دجندل په علاقه کی په کال ۷۰۱ هجری کی زیږیدلی دی، پلار یې دده ترپیدایش دوه کاله وروسته په کال ۷۰۳ هجری کی وفات سو.
علامه عماد الدین لیکلی دی (۱) چی تردې څلور کاله وروسته چی کله یې عمر شپږ کاله وو دخپل ورور سره دمشق ته ولاړی او هم هلته یې دعلم طلب شروع کی، په دمشق کی یې دابن الشحنة الحنفی، ابن الزراد، اسحاق الآمدی، ابن عساکر، حافظ مزی، ابن الرضی او یو شمیر نورو نامورو علماوو څخه دحدیثو سماع وکړه.
نوموړی دحافظ مزی سره ډیر وخت تیر کی او دهغه ټول تصینفات یې ورڅخه واوریدل او هم یې خپل استاذ ورته خپل لوره په نکاح ورکړه. (۲)
حافظ ابن حجر عسقلانی رح لیکلی (۳) دی: نوموړی په احادیثو باندی مشغوله سو، تردې چی داحادیثو په متن او رجالو کی یې پوره مهارت پیدا کی، او بیا یې یو تفسیر ولیکی چی په تفسیر ابن کثیر باندی مشهوره دی، او په احکامو کی یې یو ډیر غټ کتاب شروع کی خو هغه یې پوره نکړای سو، اوپه تاریخ کی یې یو غټ کتاب ولیکی چی په البدایة والنهایة سره مشهوره دی، او دنوموړی تصنیفات دده په خپل ژوند کی واطرافو ته دعالَم خپاره سوی وه.
هغه خپل ټول ژوند په درس، تدریس، تصنیف او مطالعې سره تیر کی ترڅو په کال ۷۷۴ هجری کی په دمشق کی وفات سو اودخپل شیخ اواستاذ ابن تیمیة وڅنګ ته د (الصوفیة) په قبرستان کی خاوروته وسپارل سو.
دنوموړی دمشهور تصنیفاتو څخه تفسیر ابن کثیر، البدایة والنهایة، الفصول فی السیرة، مختصر علوم الحدیث دابن الصلاح او نور دی. رحمه الله تعالی رحمة واسعة وتغمده بغفرانه

را ټولوونکی: محمد احمد الحقانی الافغانی رح

---

(۱). وګوره: شذرات الذهب فی اخبار من ذهب ج ۳ جزء ۲ ص ۲۳۱.
(۲). مخکی ذکر سوی کتاب او صفحه.
(۳). وګوره: الدرر الکامنة فی اعیان المئة الثامنة ، ترجمة: اسماعیل بن کثیر.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ذکر دهغو آیتونو چی وارد سویدی په باره دآدم عَلَيْهِ السَّلَامُ کی:

الله ﷻ په آیت کی فرمایلی دی: مِنْهَا خَلَقْنَاكُمْ وَفِيهَا نُعِيدُكُمْ وَمِنْهَا نُخْرِجُكُمْ تَارَةً أُخْرَىٰ (طه **۵۵**)

اودارنگه الله ﷻ فرمایلی دی: وَلَقَدْ خَلَقْنَا الْإِنْسَانَ مِنْ صَلْصَالٍ مِنْ حَمَإٍ مَسْنُونٍ (٢٦) وَالْجَانَّ خَلَقْنَاهُ مِنْ قَبْلُ مِنْ نَارِ السَّمُومِ (٢٧) وَإِذْ قَالَ رَبُّكَ لِلْمَلَائِكَةِ إِنِّي خَالِقٌ بَشَرًا مِنْ صَلْصَالٍ مِنْ حَمَإٍ مَسْنُونٍ (٢٨) فَإِذَا سَوَّيْتُهُ وَنَفَخْتُ فِيهِ مِنْ رُوحِي فَقَعُوا لَهُ سَاجِدِينَ (٢٩) فَسَجَدَ الْمَلَائِكَةُ كُلُّهُمْ أَجْمَعُونَ (٣٠) إِلَّا إِبْلِيسَ أَبَىٰ أَنْ يَكُونَ مَعَ السَّاجِدِينَ (٣١) قَالَ يَا إِبْلِيسُ مَا لَكَ أَلَّا تَكُونَ مَعَ السَّاجِدِينَ (٣٢) قَالَ لَمْ أَكُنْ لِأَسْجُدَ لِبَشَرٍ خَلَقْتَهُ مِنْ صَلْصَالٍ مِنْ حَمَإٍ مَسْنُونٍ (٣٣) قَالَ فَاخْرُجْ مِنْهَا فَإِنَّكَ رَجِيمٌ (٣٤) وَإِنَّ عَلَيْكَ اللَّعْنَةَ إِلَىٰ يَوْمِ الدِّينِ (٣٥) قَالَ رَبِّ فَأَنْظِرْنِي إِلَىٰ يَوْمِ يُبْعَثُونَ (٣٦) قَالَ فَإِنَّكَ مِنَ الْمُنْظَرِينَ (٣٧) إِلَىٰ يَوْمِ الْوَقْتِ الْمَعْلُومِ (٣٨) قَالَ رَبِّ بِمَا أَغْوَيْتَنِي لَأُزَيِّنَنَّ لَهُمْ فِي الْأَرْضِ وَلَأُغْوِيَنَّهُمْ أَجْمَعِينَ (٣٩) إِلَّا عِبَادَكَ مِنْهُمُ الْمُخْلَصِينَ (٤٠) قَالَ هَٰذَا صِرَاطٌ عَلَيَّ مُسْتَقِيمٌ (٤١) إِنَّ عِبَادِي لَيْسَ لَكَ عَلَيْهِمْ سُلْطَانٌ إِلَّا مَنِ اتَّبَعَكَ مِنَ الْغَاوِينَ (٤٢) وَإِنَّ جَهَنَّمَ لَمَوْعِدُهُمْ أَجْمَعِينَ (٤٣) لَهَا سَبْعَةُ أَبْوَابٍ لِكُلِّ بَابٍ مِنْهُمْ جُزْءٌ مَقْسُومٌ (٤٤) (الحجر **۲۴، ۴۴**).

اودارنگه الله ﷻ فرمایلی دی: وَإِذْ قُلْنَا لِلْمَلَائِكَةِ اسْجُدُوا لِآدَمَ فَسَجَدُوا إِلَّا إِبْلِيسَ كَانَ مِنَ الْجِنِّ فَفَسَقَ عَنْ أَمْرِ رَبِّهِ أَفَتَتَّخِذُونَهُ وَذُرِّيَّتَهُ أَوْلِيَاءَ مِنْ دُونِي وَهُمْ لَكُمْ عَدُوٌّ بِئْسَ لِلظَّالِمِينَ بَدَلًا (الکهف **۵۰**)

اودارنگه الله ﷻ فرمایلی دی: قُلْ هُوَ نَبَأٌ عَظِيمٌ (٦٧) أَنْتُمْ عَنْهُ مُعْرِضُونَ (٦٨) مَا كَانَ لِيَ مِنْ عِلْمٍ بِالْمَلَإِ الْأَعْلَىٰ إِذْ يَخْتَصِمُونَ (٦٩) إِنْ يُوحَىٰ إِلَيَّ إِلَّا أَنَّمَا أَنَا نَذِيرٌ مُبِينٌ (٧٠) إِذْ قَالَ رَبُّكَ لِلْمَلَائِكَةِ إِنِّي خَالِقٌ بَشَرًا مِنْ طِينٍ (٧١) فَإِذَا سَوَّيْتُهُ وَنَفَخْتُ فِيهِ مِنْ رُوحِي فَقَعُوا لَهُ سَاجِدِينَ (٧٢) فَسَجَدَ الْمَلَائِكَةُ كُلُّهُمْ أَجْمَعُونَ (٧٣) إِلَّا إِبْلِيسَ اسْتَكْبَرَ وَكَانَ مِنَ الْكَافِرِينَ (٧٤) قَالَ يَا إِبْلِيسُ مَا مَنَعَكَ أَنْ تَسْجُدَ لِمَا خَلَقْتُ بِيَدَيَّ أَسْتَكْبَرْتَ أَمْ كُنْتَ مِنَ الْعَالِينَ (٧٥) قَالَ أَنَا خَيْرٌ مِنْهُ خَلَقْتَنِي مِنْ نَارٍ وَخَلَقْتَهُ مِنْ طِينٍ (٧٦) قَالَ فَاخْرُجْ مِنْهَا فَإِنَّكَ رَجِيمٌ (٧٧) وَإِنَّ عَلَيْكَ لَعْنَتِي إِلَىٰ يَوْمِ الدِّينِ (٧٨) قَالَ رَبِّ فَأَنْظِرْنِي إِلَىٰ يَوْمِ يُبْعَثُونَ (٧٩) قَالَ فَإِنَّكَ مِنَ الْمُنْظَرِينَ (٨٠) إِلَىٰ يَوْمِ الْوَقْتِ الْمَعْلُومِ (٨١) قَالَ فَبِعِزَّتِكَ لَأُغْوِيَنَّهُمْ أَجْمَعِينَ (٨٢) إِلَّا عِبَادَكَ مِنْهُمُ الْمُخْلَصِينَ (٨٣) قَالَ فَالْحَقُّ وَالْحَقَّ أَقُولُ (٨٤) لَأَمْلَأَنَّ جَهَنَّمَ مِنْكَ وَمِمَّنْ تَبِعَكَ مِنْهُمْ أَجْمَعِينَ (٨٥) قُلْ مَا أَسْأَلُكُمْ عَلَيْهِ مِنْ أَجْرٍ وَمَا أَنَا مِنَ الْمُتَكَلِّفِينَ (٨٦) إِنْ هُوَ إِلَّا ذِكْرٌ لِلْعَالَمِينَ (٨٧) وَلَتَعْلَمُنَّ نَبَأَهُ بَعْدَ حِينٍ (٨٨) (ص، **۴۷، ۸۸**).

(c) ketabton.com: The Digital Library



کمه قصه چی په دی آیاتونو کی ذکرده دا دمختلفو ځایونو دقرآن کریم څخه راټوله سوی ده، اوپه دی کی موږ بحث کړی دی په تفسیرونو (۱) کی اودلته موږ مضمون ذکر کوو دهریو آیت چی داایت په څه باندی دلالت کوی اوذکر دهغو احادیثو هم کوو چی دنبی ﷺ څخه نقل دی اوددی ځای سره تعلق لری پس الله ﷻ خبر ورکی په خپل خطاب سره ملائکو ته په دی قول خپل سره: إِنِّي جَاعِلٌ فِي الْأَرْضِ خَلِيفَةً (البقرة ۳۰) خبریې ورکی په دی قول سره دخپلی ارادی څخه چی پیدا کول دآدم ؑ دی اودهغه دکورنی اوبیا دوی خلیفه ګرزول دی په مزکه کی ددی بیان هم الله ﷻ وکی: وَهُوَ الَّذِیْ جَعَلَکُمْ خَلٰئِفَ الْاَرْضِ (الانعام ۱۴۵)، اودارنګه الله ﷻ فرمایلی دی وَیَجْعَلُکُمْ خُلَفَآءَ الْاَرْضِ (النمل، ۴۲) نوخبر یې کی په طریقه دتنویه یعنی په نیت کولو سره په پیدائش دآدم ؑ او دهغه دکورنی، په داسی طریقی سره خبر ورکول سو چی دیوغټ کار دکیدو څخه مخکی خبر ورکول کیږی، نو پوښتنه وکړه ملائکو په طریقه دسوال دپاره دکشف کولو اومعلومولو دحکمت، نه په طریقه داعتراض سره اونه ددی وجی څخه چی ددوی دبنی آدم سره څه حسد وو لکه څه رکم چی توهم کړی دی بعضو مفسرینو، هغو مفسرینو ویلی: أَتَجْعَلُ فِيهَا مَنْ يُفْسِدُ فِيهَا وَيَسْفِكُ الدِّمَاءَ (البقرة ۳۰) قتاده ویلی دی په تفسیر ددی آیت کی: داخبره معلومه سویده ددی څخه چی دآدم څخه مخکی په مځکه کی پریان وه اوملائکو دهغو دکارونو څخه استدلال وکی چی هغوی به په مځکه کی قسم قسم فسادونه کول. اوعبدالله بن عمر ؓ ویلی دی چی دآدم څخه په زرګونو کال مخکی پریانو دیوبل وینی تویې کړی وی نوالله په دوی پسی یوه ډله دملائکو ولیږله نو دوی یې وشړل دسمندرونو غاړو ته.

وَنَحْنُ نُسَبِّحُ بِحَمْدِكَ وَنُقَدِّسُ لَكَ (البقره ۳۰) یعنی ملائکو الله ﷻ ته وفرمایل چی ای الله ﷻ که چیری داخلګ ته پیدا کوی ددی دپاره چی ستاعبادت وکی نوموږ ستاسی عبادت کوو شپه اوورځ (یعنی هروخت اوپه موږ کی ستا نافرمانی هیڅ یونه کوی).

قَالَ إِنِّي أَعْلَمُ مَا لَا تَعْلَمُونَ (البقره ۳۰) یعنی هغه مشورت چی راجح دی تاسی په هغه باندی نه پوهیږی، یعنی ددی بنی آدمو څخه به انبیاء اوصالحین اوصدیقین اوشهداء پیدا کیږی.

بیا الله ﷻ بیان کی ملائکو ته شرافت دآدم ؑ پر دوی باندی نو ویې فرمایل: وَعَلَّمَ آدَمَ

---

(۱). پوه سه! چی دمصنف ؒ دا عادت دی، هم په دې کتاب قصص الانبیآء او هم په البدایة والنهایة (تاریخ) او نورو کتابو کی دده، چی کم ځای دی پر یوه ایت باندی بحث کوی نو هلته داسی وایی: موږ پردې آیت باندی په تفسیر کی بحث کړیدی، او مراد یې ددې تفسیر څخه هغه تفسیر دی کم چی ده تصنیف کړیدی او نن سبا په عمومی ډول سره هرځای پیدا کیږی چی په تفسیر ابن کثیر مشهوره دی. محمد احمد الحقانی ؒ

(c) ketabton.com: The Digital Library



الْأَسْمَاءَ كُلَّهَا (البقره ۳۱) ابن عباسؓ وایي چې: دنومونو څخه مرادهغه نومونه دی چې په کم باندی انسانان پیژندنه کوی لکه (انسان، آس، خر، غر، اوښ، اوداسی نور)، اومجاهد ویلی دی: الله ﷻ ورته ښوولی دی نوم ددیګ، او ښوولی یې دی ورته نومونه دحیوانانو او نومونه دمارغانو اوداسی نورو شیانو اوهم دارنګه قول کړی دی سعید ابن جبیر اوقتاده. اوربیع ویلی دی: ښوولی یې دی ورته نومونه دملائکو اوعبد الرحمان ویلی دی چې: ده ته یې ښوولی دی نومونه دکورنی خپل اوصحیح قول دادی چې: ښوولی یې دی ده ته نومونه دذواتو اوکارونو.

بخاری اومسلم دلته ذکر کړی دی روایت دهشام اوسعید چې دا دواړه نقل کوی دقتاده څخه چې هغه نقل کوی دانس ابن مالك څخه چې رسول الله ﷺ فرمایلی دی چې مفهوم یې داسی دی: دقیامت په ورځ به الله ﷻ مومنان راټول کی نودوی به ووایی چې زموږ دی یو څوك سفارش اوشفاعت وکی چې الله ﷻ موږ ددی تکلیف څخه په راحت کی کړی نوآدم ؑ ته به دوی راسی. الخ (تر آخره پوری دحدیث)

(داډیر اوږد حدیث دی چې داځای یې دذکر کولو دپاره مناسب نه دی).

حسن بصری ویلی دی: کله چې اراده وکړه الله ﷻ دپیدائش دآدم ؑ نو وویل ملائکو: نه وو رب زموږ چې پیدا کوی به یې یومخلوق مګر موږ به ترینه خبر وو، نو مبتلا سوه په دی سره (یعنی په دوی باندی په دی طریقی سره امتحان وسو)، همداسی قول دی دالله ﷻ (إِنْ كُنتُمْ صَٰدِقِينَ) او نورو ویلی دی چې داسی نه ده لکه څه رکم چې موږ ذکر کړه او نوری توجیهاتی یې ورلره ذکر کړی دی. دا اقوال موږ ذکر کړی دی په تفسیرونو کی نو دزیادت دپاره هلته رجوع وکی. بیاملائکو الله ﷻ لره پاکی بیان کړه په دی قول سره قَالُوا سُبْحَانَكَ لَا عِلْمَ لَنَا إِلَّا مَا عَلَّمْتَنَا إِنَّكَ أَنْتَ الْعَلِيمُ الْحَكِيمُ (۳۲) یعنی پاکی ده تالره نسته زموږ دپاره علم مګر هغه چې تا موږ ته راښوولی دی اودا دقول دالله ﷻ: وَإِذْ قُلْنَا لِلْمَلَائِكَةِ اسْجُدُوا لِآدَمَ فَسَجَدُوا إِلَّا إِبْلِيسَ أَبَى وَاسْتَكْبَرَ وَكَانَ مِنَ الْكَافِرِينَ (۳٤) داډیر لوی اکرام دی دطرفه دالله پر آدم عَلَيْهِ السَّلَامُ باندی کله چې یې جوړکی په خپل قدرت سره اوروح یې پکښی واچوی اوبیا یې ورلره ملائکی په سجده کړی لکه څه رکم چې الله ﷻ فرمایلی دی: فَإِذَا سَوَّيْتُهُ وَنَفَخْتُ فِيهِ مِنْ رُوحِي فَقَعُوا لَهُ سَاجِدِينَ (ص: ۷۲) نو دا څلور شرافتونه سوه دآدم عَلَيْهِ السَّلَامُ :

۱. پیدائش دآدم ؑ په خپلو لاسونو سره.

۲. اوپه هغه کی روح اچول.

۳. امر کول ملائکو ته په سجده سره ده ته.

(c) ketabton.com: The Digital Library



۴. ښوول آدم ﷺ ته دنومونو دشیانو

لکه څه رنګه چې موسٰی ﷺ به دقیامت په ورځ په ملا الاعلی کی آدم ﷺ ته ووایې چې (ته دانسانانو پلارېې ته الله ﷻ په خپلو لاسونوسره پیداکړی یې اوپه تاکی یې روح اچولی دی اوتاته یې پرسجده کړېدی ملائکی اوتاته یې ښوولی دی نومونه دټولو شیانو). (۱)

اوهم دارنګه اهل محشربه ورته دقیامت په ورځ وایې لکه څه رنګه چې ذکر سوه اووروسته به هم ذکرکول کیږی (یعنی په ورځ دقیامت کی به دآدم ﷺ سره خلګ بحث کوی اوموسٰی ﷺ به ورسره هم بحث کوی چې دهغه ذکربه وروسته په خپل ځای کی راسی).

اودارنګه الله ﷻ فرمایلی دی په بل ځای کی: وَلَقَدْ خَلَقْنَاكُمْ ثُمَّ صَوَّرْنَاكُمْ ثُمَّ قُلْنَا لِلْمَلَائِكَةِ اسْجُدُوا لِآدَمَ فَسَجَدُوا إِلَّا إِبْلِيسَ لَمْ يَكُنْ مِنَ السَّاجِدِينَ (۱۱) قَالَ مَا مَنَعَكَ أَلَّا تَسْجُدَ إِذْ أَمَرْتُكَ قَالَ أَنَا خَيْرٌ مِنْهُ خَلَقْتَنِي مِنْ نَارٍ وَخَلَقْتَهُ مِنْ طِينٍ (۱۲) (الاعراف ۱۱، ۱۲) حسن بصری ویلی دی (۲) قیاس وکی ابلیس اودی اولنی کس دی چې قیاس یې وکی، او ویلی دی ابن سیرین اول چې چا قیاس کړی دی هغه ابلیس دی، اومابنده ګی نه ده کړی دلمر اوسپوږمی مګر په قیاس سره، دادواړه روایتونه نقل کړی دی ابن جریر، مطلب ددی دادی چې ابلیس ځان ته په نظر دمقایسی وکتل چې زه داور څخه پیدایم اوآدم ﷺ دخاوری څخه، ځان ورته ښه ښکاره سو دآدم ﷺ څخه، نومنع سو دسجدی کولو څخه سره دکیدلو دامر ټولو ملائکو ته دسجدی بیاهم ده انکار وکی، اوقیاس چې کله په مقابله دنص کی راسی نودا قیاس باطل وی په عرف او اعتبار سره، بیا داقیاس فاسد دی په خپل نفس کی هم ولی چې خاوره ډیره ښه او منفعت والا شی دی په مقابل داورکی په خاوره کی نرم والی اوحلم سته اوپه اورکی داشی نسته په اور کی سوزل دی اوغصه ده. بیا آدم ته الله ﷻ شرافت ورکی په دی چې په خپلو لاسونو یې جوړکی اوبیایې پکښې دخپل روح څخه روح واچوی اوبیایې امر ملائکو ته وکی دسجدی.

لکه څه رنګه چې الله ﷻ فرمایلی دی: وَإِذْ قَالَ رَبُّكَ لِلْمَلَائِكَةِ إِنِّي خَالِقٌ بَشَرًا مِنْ صَلْصَالٍ مِنْ حَمَإٍ مَسْنُونٍ (۲۸) فَإِذَا سَوَّيْتُهُ وَنَفَخْتُ فِيهِ مِنْ رُوحِي فَقَعُوا لَهُ سَاجِدِينَ (۲۹) فَسَجَدَ الْمَلَائِكَةُ

---

(۱). ددې حدیث تخریج او تفصیل به وروسته راسی.

(۱) حسن بصری: دی ابو سعید بن ابی الحسن یسار البصری دی، پیدائش دده په کال ۲۱ دهجرت باندی سوی دی دی وو دلوړو تابعینو څخه ، اورا جمع وه په ده کی ټول فنونه، دعلم څخه اودزهد څخه اودورع او دعبادت څخه. دی وو امام داهل بصره وو اویکتا عالم وو په خپله زمانه کی وفات سوی دی په کال ۱۱۰ هـ باندی، وګوره: (حلیة الاولیاء ۱۳۱\۲، تذکرة الحفاظ ۷۱\۱، الوافیات ص۱۰۹، البدایة والنهایة ۲۴۸\۹، شذرات الذهب ۱۳۴\۱.

(c) ketabton.com: The Digital Library



كُلُّهُمْ أَجْمَعُونَ (٣٠) إِلَّا إِبْلِيسَ أَبَى أَنْ يَكُونَ مَعَ السَّاجِدِينَ (٣١) قَالَ يَا إِبْلِيسُ مَا لَكَ أَلَّا تَكُونَ مَعَ السَّاجِدِينَ (٣٢) قَالَ لَمْ أَكُنْ لِأَسْجُدَ لِبَشَرٍ خَلَقْتَهُ مِنْ صَلْصَالٍ مِنْ حَمَإٍ مَسْنُونٍ (٣٣) قَالَ فَاخْرُجْ مِنْهَا فَإِنَّكَ رَجِيمٌ (٣٤) وَإِنَّ عَلَيْكَ اللَّعْنَةَ إِلَى يَوْمِ الدِّينِ (٣٥) (الحجر، ۲۸، ۳۵).

مستحق سو ابلیس ددی قهر دطرفه دالله ﷻ څخه، ولی چی هغه سپك وګڼی آدم ؑ اوهغه ته یې سجده ونه کړه اوعذرونه بیانول یې شروع کړه لکه څه رنګه چی الله ﷻ بیان کړی دی په سورت الاسراء کی: وَإِذْ قُلْنَا لِلْمَلَائِكَةِ اسْجُدُوا لِآدَمَ فَسَجَدُوا إِلَّا إِبْلِيسَ قَالَ أَأَسْجُدُ لِمَنْ خَلَقْتَ طِينًا (٦١) قَالَ أَرَأَيْتَكَ هَذَا الَّذِي كَرَّمْتَ عَلَيَّ لَئِنْ أَخَّرْتَنِ إِلَى يَوْمِ الْقِيَامَةِ لَأَحْتَنِكَنَّ ذُرِّيَّتَهُ إِلَّا قَلِيلًا (٦٢) قَالَ اذْهَبْ فَمَنْ تَبِعَكَ مِنْهُمْ فَإِنَّ جَهَنَّمَ جَزَاؤُكُمْ جَزَاءً مَوْفُورًا (٦٣) وَاسْتَفْزِزْ مَنِ اسْتَطَعْتَ مِنْهُمْ بِصَوْتِكَ وَأَجْلِبْ عَلَيْهِمْ بِخَيْلِكَ وَرَجِلِكَ وَشَارِكْهُمْ فِي الْأَمْوَالِ وَالْأَوْلَادِ وَعِدْهُمْ وَمَا يَعِدُهُمُ الشَّيْطَانُ إِلَّا غُرُورًا (٦٤) إِنَّ عِبَادِي لَيْسَ لَكَ عَلَيْهِمْ سُلْطَانٌ وَكَفَى بِرَبِّكَ وَكِيلًا (٦٥) (الاسراء: ۴۱، ۴۵).

ووتی دی دطاعت څخه دالله ﷻ قصداً اوعناداً اوپه کبر کولو سره ددی خبری څخه چی سجده نه کول دی اودا نه وو مګر خیانت وو دطبع دده اورا کشول دده وکړه هغه خباثت دده دطاعت دالله ﷻ څخه ولی چی دده ماده خبیثه وه چی اور دی اودی پیدا داور څخه وو لکه څه رنګه چی په مسلم کی حدیث دعائشی ؓ ذکردی چی رسول ﷺ فرمایلی دی، پیدا سوی دی ملائکی دنور څخه، اوپیدا سوی دی پریان داور څخه، اوپیدا سوی دی آدم ؑ دهغه څخه چی تاسی ته یې صفت بیان سو (یعنی دخاوری څخه). حسن بصری ویلی دی: نه وو ابلیس دملائکو څخه بالکل. اوویلی دی شهربن حوشب: دی وو دپریانو دقبیلی څخه هغه کله چی دوی فساد وکی پرسر دمزکی باندی نو ولیږل الله لښکر دملائکو نو دوی یې قتل کړه اوځه یې وشړل دسمندرونو غاړی ته، او وو ابلیس چی ده خوش اخلاقی وکړه نو ملائکو دی دځان سره آسمان ته وخیژوی نو دی پاته سو په آسمان کی، بیاچی کله امر وسو ملائکو ته په آسمان ددنیا کی، ابن عباس وایی چی: دده نوم عزازیل وو، اوپه بل روایت کی (الحارث) ذکر دی. النقاش وایی چی کنیه دده: ابو کردوس وو، ابن عباس وایی چی: دی وو دیوې ډلی دملائکو څخه چی هغه ته یې الجن وایه اودی وو اشرف ددوی او ډیر عبادت کوونکی ددوی څخه او وه دځلورو وزرونو والانو بیا مسخه کی الله ﷻ دده شکل نو شیطان ورڅخه جوړ سو.

دارنګه الله ﷻ په سورة اعراف کی فرمایلی دی قَالَ فَبِمَا أَغْوَيْتَنِي لَأَقْعُدَنَّ لَهُمْ صِرَاطَكَ الْمُسْتَقِيمَ (١٦) ثُمَّ لَآتِيَنَّهُمْ مِنْ بَيْنِ أَيْدِيهِمْ وَمِنْ خَلْفِهِمْ وَعَنْ أَيْمَانِهِمْ وَعَنْ شَمَائِلِهِمْ وَلَا تَجِدُ أَكْثَرَهُمْ شَاكِرِينَ (١٧) (الاعراف، ١٢، ١٧) ابلیس وایې: یعنی په سبب دپریښیدو زما زه به په لارو کی کښینم

(c) ketabton.com: The Digital Library



خلګو ته او راځم به دوی ته دهر اړخ څخه پس کامیاب به هغه وی چی دده مخالفت وکی او بدبخته به هغه وی چی دده تابعداری وکی. اوویلی دی امام احمد: خبر راکړی دی موږ ته هاشم بن القاسم هغه وویل خبر ورکی ابوعقیل چی خپل نوم یې عبد الله بن عقیل الثقفی دی......، همدارنګه سند بیان سوی دی تر رسول اللهﷺ پوری دی وایی چی ما اوریدلی دی درسول اللهﷺ څخه چی فرمایلی یې دی یقیناً شیطان ناست وی بنی آدم ته په هری یوی لاری کی، دارنګه یې ټول حدیث ذکر کړی دی (لکه څه رنګه چی مخکی بیان سو په قباحتونو دابلیس کی). او اختلاف کړی دی مفسرینو په هغه ملائکو کی کموته چی امر دسجدی سوی وو. آیا داټولی ملائکی وی بالعموم لکه څه رنګه چی پردی دلالت کوی اکثره آیاتونه دقرآن ؟ داقول دجمهورو دی. یامراد په دی سره ملائکی دمځکی دی لکه څه رنګه چی داروایت کړی دی ابن جریر دطرفه دضحاك څخه چی هغه یې دابن عباس څخه نقل کوی ؟ اوپه دی قول کی انقطاع سویده که څه هم بعضی مفسرین دی ته ترجیح ورکوی مګر داډیره واضحه ده داولنیو سیاقاتو څخه اوپر دی قول باندی داحدیث هم دلالت کوی چی (اوسجده وکړه ده ته ملائکو ددی (یعنی ملائکی دمځکی ورڅخه مراد دی) دلته داذکر دعموم سوی دی والله اعلم.

اوقول دالله ﷻ ابلیس ته (قَالَ فَاهْبِطْ مِنْهَا) (الاعراف ۱۳) (اُخْرُجْ مِنهَا) (الاعراف ۱۸) دا دلیل پردی خبره باندی دی چی ابلیس په آسمان کی وو بیا وروسته ورته امر وسو دکښته کیدو اوخروج یعنی راوتل یې وسوه دهغه ځای څخه چی په عبادتونو سره یې حاصل کړی وو بیا ورڅخه واخیستل سو دغه ځای دوجی څخه دکبر اودوجی څخه دمخالفت درب خپل نو راوشړل سو مزکی ته ذلیله اوګناه ګاره او امر وکی الله ﷻ آدم ؑ ته داوسیدلو په جنت کی دخپلی ښځی سره.

اودارنګه الله ﷻ فرمایلی دی: وَإِذْ قُلْنَا لِلْمَلَائِكَةِ اسْجُدُوا لِآدَمَ فَسَجَدُوا إِلَّا إِبْلِيسَ أَبَى (۱۱۶) فَقُلْنَا يَا آدَمُ إِنَّ هَذَا عَدُوٌّ لَكَ وَلِزَوْجِكَ فَلَا يُخْرِجَنَّكُمَا مِنَ الْجَنَّةِ فَتَشْقَى (۱۱۷) إِنَّ لَكَ أَلَّا تَجُوعَ فِيهَا وَلَا تَعْرَى (۱۱۸) وَأَنَّكَ لَا تَظْمَأُ فِيهَا وَلَا تَضْحَى (۱۱۹) (طٰه، ۱۱۲، ۱۱۹) او دسیاق ددی ایاتونو څخه دامعلومیږی چی بی بی حوا مخکی پیدا سویده دداخلیدلو دآدم ؑ څخه وجنت ته دا ددی قول څخه معلومیږی: وَقُلْنَا يَا آدَمُ اسْكُنْ أَنْتَ وَزَوْجُكَ الْجَنَّةَ، اوپه دی قول سره تصریح کړیده اسحاق بن یسار، اودا ظاهر ددی آیت دی لیکن حکایت کړی دی السدی دابی صالح څخه چی هغه دابن عباس څخه اوهغه دمره څخه اوده دابن مسعود څخه او دیوی ډلی دصحابه وو څخه چی دوی ویلی دی: او وایستی الله ﷻ ابلیس دجنت څخه اوآدم ؑ یې وردننه کی نوآدم ؑ به په جنت کی یوازی اوسیدی نوبیده سو کله چی راکښینستی نو سر

(c) ketabton.com: The Digital Library



موږ ته دادرخته راښوولی وای. اوبل اختلاف په دی خبری کی دی چی آدم علیه السلام چی کم جنت ته داخل سوی وو داپه آسمان کی وو اوکه په مځکه کی جمهور دا قول کوی چی داجنت په آسمان کی دی ولی چی دا ددی آیت څخه معلومیږی: (وَقُلْنَا يَا آدَمُ اسْكُنْ أَنتَ وَزَوْجُكَ الْجَنَّةَ) الف اولام په دی آیت کی دعموم دپاره نه دی اونه دمعهود لفظی دپاره دی بلکه ددی رجوع کیږی معهود ذهنی ته اودا مستقردی شرعًا دجنت ماوی څخه اوهمدارنګه قول دموسٰی علیه السلام آدم علیه السلام ته دقیامت په ورځ (په څه دی راوایستلو موږ اوځان دجنت څخه ؟) وروسته (۱) به ښه کلام پروسی. اومسلم روایت نقل کړی دی په خپل صحیح کی دحدیث دمالك الاشجعی څخه اونوم دده سعد بن طارق دی دی نقل کوی دابی حازم سلمه بن دینار څخه چی هغه نقل کوی دابی هریره رضی الله عنه څخه اوابی مالك دربعی څخه اوهغه نقل کوی دحذیفه څخه دوی ټول وایی چی رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلی دی (راټول به کړی الله جل جلاله دقیامت په ورځ ټول خلګ نو مومنان به ودرول سی اوجنت به ورته وښوول سی. نودوی به آدم علیه السلام ته راسی او ورته وبه وایی چی ای زموږ پلاره خلاص کړه زموږ دپاره جنت، نووبه وایی دوی ته آدم علیه السلام ایانه وه را ایستونکی ستاسی یوه خطا زما ؟ (۲) اوداسی یې بیان کړی دی ټول حدیث اودا حدیث ډیر قوی دلیل دی په دی خبری چی دهغه جنت جنت الماوٰی دی.
اوبعضو ویلی دی چی آدم علیه السلام چی یې په کم جنت کی هستوګن کړی وو داجنت الخلدنه وو ولی چی دی پکښی مکلف سوی وو په نه خوړلو ددی درختی، اوددی وجی چی دی پکښی بیده سوی وو اوبیا ورڅخه را ایستل سوی وو، اودده خواته ورغلی دی ابلیس اودا منافی دی ددې چی دادی جنت الماوی سی. داقول نقل سوی دی دابی کعب څخه او دعبد الله بن عباس څخه او دوهب بن منبه څخه او دسفیان ابن عیینه څخه اوخوښ کړی دی دا قول ابن قتیبه په (المعارف) کی اوقاضی منذر بن سعید البلوطی په خپل تفسیرکی اوجلا تالیف یې هم جوړ کړی دی ددی په باره کی اوحکایت یې کړی دی دابی حنیفه څخه اودهغه داصحابو څخه اونقل کړی دی دا ابو عبد الله محمد بن عمر الرزای بن خطیب الری په

---

(۱). رابه سی تخریج ددې حدیث مخ ته تږدی.
(۲). تخریج کړیدی ددې بخاری په کتاب الرقاق کی، باب صفة الجنة والنار ۱۱\۲۵۲۵ اوتخریج کړیدی مسلم ددې حدیث په کتاب الایمان کی باب الشفاعة ۷۰۱۳، ۷۱، زه نه یم صاحب ددې کار ولاړ سیء ابراهیم علیه السلام ته کله چی دوی ورسی ابراهیم علیه السلام ته نوهغه ورته وایی چی زه صاحب ددې کارنه یم تاسی ولاړسیء عیسٰی علیه السلام ته کله چی دوی ورسی عیسٰی علیه السلام ته نو هغه ورته وایی چی زه صاحب ددې کار نه یم بیابه دوی ورسی محمد صلی الله علیه وسلم ته نو نبی صلی الله علیه وسلم به ولاړ سی او امانت اورحم به دواړه ولیږی دجنت دروازې ته یو به رسته طرف ته ولاړ وی اوبل به چپه طرف ته نو اول سړی به ستاسی څخه تیریږی په شان دبجلیء دبرېښنا.......او همدا ډول پاته حدیث تر آخره بوری بیان سویدی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



تفسیر خپل کی دابی القاسم البلخی څخه اودابی مسلم الاصبهانی څخه اونقل کړی دی دا
قرطبی په تفسیر خپل کی دمعتزله وو څخه او دقدریه وو څخه اودا قول نص دی دتورات
هغه چی په لاس دیهودو کی دی اوحکایت دخلاف چی چاکړی دی په دی مسئله کی هغوی
دغه علماء دی: (ابو محمد بن حزم په الملل والنحل کی اوابو محمد بن عطیه په خپل
تفسیرکی اوابو عیسیٰ الرمانی په تفسیر خپل کی اوحکایت یې کړی دی داولنیو جمهورو
څخه، اوابو القاسم الراغب اوالقاضی الماوردی په تفسیر خپل کی چی ویلی دی دوی:
او اختلاف دی په هغه جنت کی چی آدم ؑ اوحوا پکښی اوسیدلی دی پردوو قولینو یو
قول دادی چی داجنت الخلدوو اودوهم قول دادی چی داجنت الله تعالیٰ صرف ددوی دواړو
دپاره جوړکړی وو اودا دار الابتلاء وو اونه وو جنت الخلد چی ګرځول سوی وو دار الجزاء
اوبعضو علماء په دی خبره کی اختلاف کړی دی چی داجنت په آسمان کی وو اوکه په
مځکه کی، یوقول دادی چی داپه آسمان کی وو ولی چی دوی ته پکښی ویل سوی دی چی
کښته سی ددی څخه او (اهبت) لفظ ورته په قرآن کی ذکر سوی دی داقول دحسن دی او
دوهم قول دادی چی داپه مځکه کی وو ځکه چی الله ﷻ په هغه کی په دوی باندی امتحان
کړی دی دنه خوړلو ددرختی او دا قول دابن یحییٰ دی او وو دا وروسته تر امر دالله ﷻ
ابلیس ته دسجدی وآدم ؑ ته والله اعلم بالصواب داوو کلام ددوی متضمن سو کلام
ددوی په درو اقوالو سره او ددی اقوالو څخه داسی معلومه سوه چی دوی متوقف دی په
دی مسئله کی او ددی وجی څخه عبدالله الرازی حکایت کوی په خپل تفسیرکی په دی
مسئلی باندی څلور اقوال: دری دادی کم چی موږ مخکی ذکرکړه اوڅلورم یې وقف دی او
ابی علی الجبایې حکایت کړی دی ددی قول چی دهغه جنت په آسمان کی دی خو جنت
الماوٰی نه دی او وارد کړی دی اصحاب دقول ثانی یو سوال چی دهغه جواب لازمی دی
دوی ویلی دی چی شك نسته چی الله ﷻ پرینښووی ابلیس کله چی دی منع سو دسجدی
څخه، او امریې ورته وکی په وتلو سره دجنت څخه اودا خبره امر نه دی داوامرو شرعیه وو
څخه په دی حیثت سره چی ددی مخالفت وسی، بلکه دایو امر قدری دی چی نه ددی
مخالفت کیدای سی اونه یې ممانعت. او ددی وجی الله ﷻ فرمایلی دی: اُخْرُجْ مِنْهَا مَذْءُوْمًا
مَّدْحُوْرًا (الاعراف \۱۸) اوهمدارنګه الله ﷻ فرمایلی دی: فَاهْبِطْ مِنْهَا فَمَا یَكُـوْنُ لَكَ اَنْ تَتَكَبَّرَ
فِیْهَا (الاعراف \۱۳)، اوپه بل ځای کی یې فرمایلی دی: فَاخْرُجْ مِنْهَا فَاِنَّكَ رَجِیْمٌ (الحجر \۳۴)
اوضمیر راجع دی جنت ته یا آسمان ته یاددی منزل ته نو ددی څخه دا معلومیږی چی دده
قدرت نه وو پرخپل مکان باندی هغه مکان چی دهغه څخه وشړل سو دوی وایی دظاهر
دسیاقاتو دآیت څخه خو دامعلومیږی چی دی ابلیس وسوسه وراچولی وه آدم ته او دآیت

(c) ketabton.com: The Digital Library



ځخه خودا معلومیږی چی دی ابلیس وسوسه کړی وه آدم ؈ ته اوخطاب یې کړی دی ورته په دی قول سره: هَلْ أَدُلُّكَ عَلَى شَجَرَةِ الْخُلْدِ وَمُلْكٍ لَا يَبْلَى (طٰه \ ۱۲۰)، اوپه دی قول سره: مَا نَهَاكُمَا رَبُّكُمَا عَنْ هَذِهِ الشَّجَرَةِ إِلَّا أَنْ تَكُونَا مَلَكَيْنِ أَوْ تَكُونَا مِنَ الْخَالِدِينَ (۲۰) وَقَاسَمَهُمَا إِنِّي لَكُمَا لَمِنَ النَّاصِحِينَ (۲۱) فَدَلَّاهُمَا بِغُرُورٍ (الاعراف \ ۲۰، ۲۲) اودا ښکاره خبره ده چی ابلیس ددوی سره په دغه ځای کی وو. دوی جواب کړی دی ددی سوال ځخه په دی طریقی سره: چی ممتنع نه ده چی دی دي ددوی سره په جنت کی وی په طریقی دمرورسره یعنی مطلب داچی دا ابلیس به په دوی دواړو باندی تیریدی اورا تیریدی داسی نه وه چی مستقل ورسره په جنت کی پروت وو اودی ابلیس به وسوسه وراچوله په داسی حال کی چی دی به په دروازی کی ولاړ وو یابه لاندی دآسمان ځخه اوپر دی دری واړو نظریو باندی اعتراض دی.
اوهغه چی حجت نیولی دی په هغه سره اصحاب ددی مقالی: هغه چی روایت یې کړی دی عبد الله ابن الامام احمد په الزیادات کی دهدیه بن خالد ځخه چی هغه نقل کوی دحماد بن سلمه ځخه هغه دحمید ځخه اودحسن بصری ځخه چی هغه نقل کوی دیحیٰی بن ضمرة السعدی ځخه اوهغه نقل کوی دابی بن کعب ځخه دی وایی چی کله چی دآدم ؈ دمرګ وخت پوره سو نو دجنت دانګورو غنچی ته یې زړه وسو نو ولاړی زوی دده چی ده ته انګور راوړی پس ولیده ده ملائکه نوپوښتنه یې ترینه وکړه ملائکو ورته وویل چیرته ځی ای اولاده دآدم ؈ نودوی ورته وویل چی زموږ دپلار زړه انګورو ته سوی دی نودی ملائکو ورته وویل چی بیرته ولاړسی هغه کفایت وکی دپلار ستاسی کله چی دوی بیرته راغله نو دپلار ځخه یې ملائکو روح قبض کړی وو اوبیا غسل ورکی ملائکو آدم ؈ ته او خوشبویې یې ورباندی ولګوله او بیایې کفن ورکی، اوبیا جبرائیل ؈ دجنازی لمونځ پر ورکی او وروسته ورپسی نوری ملائکی هم ولاړی وی بیایې دفن کی او وویل ملائکو دی اولا دآدم ؈ ته چی داستاسی سنت دی په مړی کی (۱)، اوذکربه سی حدیث وروسته دسند سره اوپوره الفاظ ددی به دآدم ؈ دوفات ذکرسره بیانیږی. نودوی وایی که چیری رسیدل نه کیده هغه انګورو ته چی دآدم ؈ زړه ورته کیدی نودوی به دطلب دپاره نه وای وتلی نودا دلالت کوی په دی خبری باندی چی داجنت په ځمکه کی وو نه په آسمان کی.
اوالله ډیر ښه پوهیږی. دوی وایی چی احتجاج په دی خبری کی دی چی الف لام په دی قول دالله ﷻ کی (يَا آدَمُ اسْكُنْ أَنْتَ وَزَوْجُكَ الْجَنَّةَ) مخکی نه دی بیان سوی عهد چی راجع سی هغه ته نودا وعده ذهنی ده لیکن داهغه ده چی پردی باندی دلالت کړی دی مخکی سیاق

(۱). ددې حدیث نور بیان مخ ته را روان دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



دکلام، ولی چی آدم ﷺ پیداسوی دی په مځکه باندی اوبیاوروسته نه دی لوړسوی آسمان ته اودی پیداسوی ددی دپاره وو چی دی په مځکه کی وی اوپه دی باندی خبرداری ورکی الله ﷻ ملائکوته په دی قول سره إِنِّي جَاعِلٌ فِي الْأَرْضِ خَلِيفَةً او ویلی دی دوی چی دا قول دالله ﷻ : إِنَّا بَلَوْنَاهُمْ كَمَا بَلَوْنَا أَصْحَابَ الْجَنَّةِ (القلم \۱۷) په دی کی الف لام دعموم دپاره نه دی اومخکی معهود لفظی هم نه دی ذکر، بلکی دادواړه معهود ذهنی دی هغه چی په هغه باندی دلالت کوی سیاق چی هغه (باغ) دی اودوی ویلی چی ذکر دهبوط دلالت نه کوی په نزول دآسمان څخه، لکه څرنګه چی الله ﷻ فرمایلی دی: قِيلَ يَا نُوحُ اهْبِطْ بِسَلَامٍ مِنَّا وَبَرَكَاتٍ عَلَيْكَ وَعَلَى أُمَمٍ مِمَّنْ مَعَكَ (هود \۴۸) نوح ﷺ په مځکه باندی ولاړ وو چی الله ورته امروکی چی کښتیۍ ته وخیژی برکت دی وی پرتا باندی اوپر هغو خلګو باندی چی ستاسره په کښتیۍ کی سپاره دی اودارنګه الله ﷻ په بل ځای کی فرمایلی دی: اهْبِطُوا مِصْرًا فَإِنَّ لَكُمْ مَا سَأَلْتُمْ (البقره \ ۶۱). اودا رنګه په بل ځای کی بیې فرمایلی دی: وَإِنَّ مِنْهَا لَمَا يَهْبِطُ مِنْ خَشْيَةِ اللهِ اوپه احادیثو کی اوپه لغت کی داډیر دی، اودوی ویلی دی چی هغه جنت چی په هغه کی آدم ﷺ هستوګن سوی وو هغه لوړ ځای دی دټولو مزکو څخه داسی مځکه وه چی په هغه کی درختی اوبوټی اومیوه جات اوآرم ورکوونکی سایه اوپرسکون مکان اوګرمایش دلمر بالکل برابر وو لکه څه رنګه چی الله ﷻ فرمایلی دی : إِنَّ لَكَ أَلَّا تَجُوعَ فِيهَا وَلَا تَعْرَىٰ یعنی خوار به نه وی باطن ستاپه لوږی والی سره اوظاهر به دی خراب نه وی په لڅوالی سره، وَأَنَّكَ لَا تَظْمَأُ فِيهَا وَلَا تَضْحَىٰ نوبرابر بیې ذکر کړی دی هریو نعمت دبل سره ولی چی ددواړو په مینځ کی علاقه سته پس دوجی دخوړلو دهغه درختی څخه راکښته سو سختی مزکی ته چی په هغه کی ستړی والی وو اومشقتونه وه اوامتحانونه وه اوخواری وی اوبدل وه خلګ په اعتبار ددین اواخلاق سره اوپه اعتبار داعمالو سره لکه څه رنګه چی الله ﷻ فرمایلی دی: وَلَكُمْ فِي الْأَرْضِ مُسْتَقَرٌّ وَمَتَاعٌ إِلَى حِينٍ (البقره \۳۶). اودلته نه لازمیږی ددی څخه چی دوی وه په آسمان کی لکه څه رنګه چی الله ﷻ فرمایلی دی : وَقُلْنَا مِنْ بَعْدِهِ لِبَنِي إِسْرَائِيلَ اسْكُنُوا الْأَرْضَ فَإِذَا جَاءَ وَعْدُ الْآخِرَةِ جِئْنَا بِكُمْ لَفِيفًا (الاسراء \۱۰۴) اوښکاره ده چی دوی په دی کی وه مګرپه آسمان کی نه وه. اودوی ویلی دی چی، اوداقول تفریع نه ده پرقول دمنکرینو دجنت اودوږخ باندی اوتلازم ددی دواړو په منځ کی هم نسته اودا قول دالله ﷻ فَأَزَلَّهُمَا الشَّيْطَانُ عَنْهَا یعنی دجنت څخه فَأَخْرَجَهُمَا مِمَّا كَانَا فِيهِ یعنی راوایستل سوه دهغه دخوشحالیو څخه اودهغه دانعاماتو څخه کور دستړی توب ته اودخواري ته اودا ددی وجی چی شیطان

(c) ketabton.com: The Digital Library



ورته ښائسته کړه په زړونو کی دهغه درخته (وَقَاسَمَهُمَآ) یعنی قسم یې ورته واخستی په دی خبری چی: وَقَاسَمَهُمَا إِنِّي لَكُمَا لَمِنَ النَّاصِحِينَ زه ستاسی دپاره خیر خواه یم لکه څه رنګه چی یې ورته په بل آیت کی ویلی دی: فَوَسْوَسَ إِلَيْهِ الشَّيْطَانُ قَالَ يَا آدَمُ هَلْ أَدُلُّكَ عَلَى شَجَرَةِ الْخُلْدِ وَمُلْكٍ لَا يَبْلَى یعنی ابلیس وویله آدم ﷺ ته چی اٰیازه تاته داسی کار ونه ښیم چی هغه خوراك ددی درختی څخه دی چی په دی سره تاته حاصل سی دهمیشه والی زندګی او داسی ملکیت چی نه ختمیدونکی وی؟ اودایو قسم ددروغو خبره وه اوداسی خبره وه چی داصل څخه خلاف وه. اومقصد ددی خبری څخه دادی چی دشجرة الخلد څخه مراد دهمیشه والی درخته ده یعنی چی ددی څخه خوراك وسی نودهمیشه والی ژوند انسان ته حاصل سی اوکیدای سی چی ددی درختی څخه مراد هغه درخته وی چی امام احمد ذکر کړی دی. امام احمد نقل کوی دعبدالرحمان بن مهدی څخه چی هغه نقل کوی دشعبه څخه هغه نقل کوی دابی الضحاك څخه دی وایی چی ما اوریدلی دی دابو هریرة څخه چی هغه روایت کوی درسول الله ﷺ څخه: یقینًا په جنت کی یوه درخته ده چی دهغه څخه لاندی یو کس سل کاله مزل وکی نوددی سایه به ختم نه سی: دادرخته دخلدده [1] اودارنګه روایت کړی دی ددی غُنْدر چی ما وویله شعبه ته ایا داشجرة الخلد ده ؟ هغه وویله چی دا د (آیا) لفظ پکښی نسته، امام صاحب په دی باندی تفرد کړی دی [2].

اودا قول دالله ﷻ فَدَلَّاهُمَا بِغُرُورٍ فَلَمَّا ذَاقَا الشَّجَرَةَ بَدَتْ لَهُمَا سَوْآتُهُمَا وَطَفِقَا يَخْصِفَانِ عَلَيْهِمَا مِنْ وَرَقِ الْجَنَّةِ اولکه څه رنګه چی الله ﷻ فرمایلی دی په سورة طٰه کی فَأَكَلَا مِنْهَا فَبَدَتْ لَهُمَا سَوْآتُهُمَا وَطَفِقَا يَخْصِفَانِ عَلَيْهِمَا مِنْ وَرَقِ الْجَنَّةِ (طه، ۱۲۱) اوحوا مخکی دا‌دم ﷺ څخه خوراك کړی وو اوهم دی بی بی حواپه آدم ﷺ باندی دادرخته وخوړه. والله اعلم، اوپه دی باندی حمل کیږی حدیث دامام بخاری چی دی نقل کوی دبشربن یسارڅخه هغه نقل کوی دعبدالله څخه دی وایی چی موږ ته خبر راکړی دی معمر، هغه نقل کوی دهمام بن منبه څخه اوهغه نقل کوی دابو هریره څخه چی دی نقل کوی درسول الله ﷺ څخه چی رسول الله ﷺ فرمایلی دی (که چیری بنی اسرائیل نه وای نوغوښه به نه وای زخیره سوی اوکه چیری حواء نه وای

---

([1]). ددې حدیث تخریج بخاری کړیدی په کتاب بدء الخلق، باب ما جآء فی صفة الجنة وانها مخلوقة ۲\۳۲۵۲ اومسلم په کتاب الجنة وصفة نعیهما کی ۱۷\۱۲۷.

([2]). ددې حدیث تخریج امام احمد کړیدی ۲\۴۵۵ په خپل لفظ سره، په جنت کی یوه درخته ده چی یو مزل کوونکی تر هغه لاندی ۷۰ کاله یا ۱۰۰ کاله مزل وکی نودهغې سایه به ختمه نسی اودا شجرة الخلد ده، حجاج وایی چی یا سل کاله، ما وویله شعبه ته دا درخته شجرة الخلد ده هغه راته وویل چی دا لفظ پکښی نسته اولفظ دالطیالسی ۱۰\ح ۲۵۴۷ ان فی الجنة شجرة یسیر الراماهی فی ظلها مئة عام ما یقطعها وهی شجرة الخلد.

(c) ketabton.com: The Digital Library



نو هیڅکله به هم خیانت نه وای کړی ښځی دخپل خاوند سره (١) اوتخریج ددی دصحیحینو څخه دحدیث دعبدالرزاق (٢) څخه سوی دی چی هغه نقل کوی دهمام څخه اوبیا دی نقل کوی دابوهریره څخه او روایت ددی کړی دی احمد دهارون بن معروف (٣) څخه دی نقل کوی دوهب څخه اودی نقل کوی دعمر وبن حارث څخه اودی دابی یونس څخه اودی دابی هریره څخه، نو ددی دواړو روایتونو رجوع ابی هریره ﷺ ته کیږی. اوپه تورات کی ذکر سوی دی چی حواء ته ددرختی دخوړلو مار ویلی وه اودا مار ډیر ښکلی وو اوډیر ښائسته شکل یې درلودی نووخوړله بی بی حواء دهغه درختی څخه اوپه آدم ﷺ باندی یې هم دا درخته وخوړله اوپه تورات کی دابلیس ذکرنسته اوپه دی کی داهم ویل سوی دی چی دوی دواړه په جنت کی لڅ وه نودوی دواړوته راوړل سوی پاڼی دانځرو نو دهغه څخه یې ځان ته کپړی جوړی کړی اودارنګه ویلی دی وهب بن منبه چی وو ددوی دواړو لباس نور ددوی په عورت باندی اوداڅه چی ددوی په تورات کی ذکردی داټول غلط دی اودوی داپه خپله پکښی ځای کړی دی یعنی په تورات کی یې تحریف کړی دی ولی چی نقل دیوه کلام دیوی ژبی څخه دبلی ژبی کلام ته دومره اسان کارنه دی پاته لا داچی یوسړی په خپله په عربی باندی نه پوهیږی اونه احاطه لری په علم دکتاب خپل باندی نو ددی وجی څخه دوی په عربی ترجمه کی غلط سوی دی او ددوی څخه پکښی ډیری غلطیانی سوی دی لفظًا او معنًا. اوقرآن کریم پردی خبری باندی دلالت کوی چی دوی لڅ نه وه: يَنْزِعُ عَنْهُمَا لِبَاسَهُمَا لِيُرِيَهُمَا سَوْآتِهِمَا نودانه واردیږی دبل کلام دپاره.

ابی حاتم حدیث بیانوی چی نقل یې کوی دعلی بن الحسن بن اسکاب څخه هغه نقل کوی دعلی بن عاصم څخه اوهغه نقل کوی دسعید ابن عروه څخه اوهغه دقتاده څخه اوهغه دحسن څخه اوهغه دابی کعب څخه دی وایی چی فرمایلی دی رسول الله ﷺ: ان الله خلق آدم رجلاً طویلاً کثیر شعر الراس، کانه نخلة سحوق، فلما ذاق الشجرة سقط عنه لباسه، فاول مابدا منه عورته، فلما نظر الی عورته جعل یشتد فی الجنة، فاخذت شعره شجرة فنازعها، فناداه الرحمٰن عزوجل: یا آدم! منی تفر؟ فلما سمع کلام الرحمٰن قال، یارب، لا، ولٰکن استحیاء (۴)

---

(١). تخریج ددې حدیث کړیدی امام بخاری په کتاب الانبیآء کی، باب خلق آدم وذریته ۳۳۳۰/۲

(٢). متفق علیه، تخریج ددې حدیث بخاری کړیدی په کتاب الانبیآء کی، باب قول الله تعالی «وواعدنا موسی ثلثین لیلة» ۳۳۹۹/۲ او مسلم په کتاب الرضاع کی، باب الوصیة بالنسآء ۵۹/۱.

(٣). تخریج ددې کړیدی مسلم په کتاب الرضاع کی، باب الوصیة بالنسآء ۵۹/۱، او احمد ۳۴۹/۲

(۴). دحدیث ترجمه داده: رسول الله ﷺ فرمایلی دی چی الله ﷻ پیدا کی آدم ﷺ یو سړی اوږد، چی دسریې ډیر ویښتان وه، داسی لکه دخرما درخته چی ډیره جګه اومیوه داره وی اوکله چی یې دمنع کړل سوی درختی څخه =

اوامام الثوری فرمایلی دی په نقل کولو سره دابی لیلی څخه چی هغه نقل کوی دمنهال بن عمرو څخه هغه نقل کوی دسعید ابن جبیر څخه اوهغه نقل کوی دابن عباس څخه چی د: وَطَفِقَا يَخْصِفَانِ عَلَيْهِمَا مِنْ وَرَقِ الْجَنَّةِ دلته دپاڼی څخه مراد پاڼه دانځرده او ددې اسناد ابن عباس ته صحیح دی اوګواکی چی دا اخیستل سوی دی داهل کتابو څخه. اوظاهر دآیت تقاضا دعموم کوی.

اوروایت ذکر کړی دی حافظ ابن عساکر دطرفه دمحمد بن اسحاق، چی هغه نقل کوی دحسن ابن ذکوان څخه چی هغه نقل کوی دحسن بصری څخه چی هغه نقل کوی دابی ابن کعب ؓ څخه دی وایی چی فرمایلی دی رسول الله ﷺ (وو ستاسی پلار آدم ﵇ په شان ددرختی دسحوق خورما، اویا ۷۰ لویشتی یې اوږدوالی وو ډیرو وریښتو والا وو ښکاره عورت والاوو، کله چی ده غلطی وکړه نوښکاره سوه ده ته بدی ددی نودجنت څخه دباندی سو نو مخامخ سوه ورته یوه درخته اوآدم ﵇ یې ترتندی را ونیوی، نواواز ورته وکی الله ﷻ چی زما څخه تښتی ای اٰدمه ؟ آدم ﵇ ورته وویل چی نه ای زماربه بلکی حیا کوم ستا څخه په هغه کارسره چی کم می کړی دی یعنی نافرمانی دالله ﷻ) (۱) بیایې روایت کړی دی دطریقی دسعید ابن عروبه څخه چی هغه نقل کوی دقتاده څخه دی نقل کوی دحسن څخه اودی نقل کوی دیحیٰی بن ضمره څخه دی نقل کوی دابی ابن کعب څخه دی نقل کوی دنبی ﵇ څخه په همدی طریقی سره اودا صحیح روایت دی.

بیایې ذکر کړی دی دطریقی دخیثمه بن سلیمان الطرابلیسی څخه، چی هغه نقل کوی دمحمد بن عبدالوهاب څخه او دابی بن مرصافه العسقلانی څخه چی دی نقل کوی دآدم بن ابی ایاس څخه چی هغه نقل کوی دسنان څخه اودی نقل کوی دقتاده څخه هغه دانس ؓ څخه

---

= خوراك وکی نودده څخه دده جامه ولویده، اول یې دبدن څخه عورت ښکاره سو، کله چی یې خپل عورت ته وکتل نوپه جنت کی ځغاستی اوپټیدی، کله چی یوې درختی ته نژدی سوچی ځان په پټ کړی نوهغه درختی دده وریښتان ونیول او ده ورڅخه راکش کړل خوهغه درختی نه ایله کوی، نوده ته آواز وکی الله تعالی چی ای آدمه! آیاته زما څخه تښتی، کله چی آدم ﵇ دالله ﷻ خبری واوریدی نو ویې ویل چی ای ربه، تښتم نه، لیکن دحیاء دوجی پټیږم.

ددې حدیث تخریج کړیدی حاکم په المستدرك علی الصحیحین ۲۲۲\۲ کی په خپل لفظ سره چی: ان آدم کان رجلاً طویلاً ، کانه نخلة سحوق، کثیر شعر الراس فلما رماهی الخطیئة بدت له عورته، وکان لا یراها قبل ذلك فانطلق هاربا فی الجنة فتعلقت به الشجرة فقال لها ارسیلینی قالت: لست بمرسلتك، قال ونااداه ربه: یا آدم! امنی تفر؟ قال، یارب استحییتك، دحدیث تر نقل کولو وروسته حاکم ویلی دی چی دا حدیث صحیح دی سنداً، مګر امام ذهبی ؒ چی پرحاکم کم تلخیص کړیدی په هغه کی یې دحاکم سره دحدیث پر صحت باندی موافقت نه دی ورسره کړی.

(۱). ددې تخریج کړیدی طبری ؒ په خپل تفسیر کی ۱۸۸\۱ دابن زید څخه اوحدیث ته یې مرفوع نه دی ویلی، السحوق: هغه درختی ته وایی چی ډیره اوږده وی او دهغې خرماوو ته رسیدل ډیر ګران وی، دا معنی یې علامه ابن الاثیر الجزری په النهایه کی ذکر کړیده.

(c) ketabton.com: The Digital Library



مرفوعًا هم په دی مخکی ذکرسوی ترتیب سره.
فَدَلَّاهُمَا بِغُرُورٍ فَلَمَّا ذَاقَا الشَّجَرَةَ بَدَتْ لَهُمَا سَوْآتُهُمَا وَطَفِقَا يَخْصِفَانِ عَلَيْهِمَا مِنْ وَرَقِ الْجَنَّةِ وَنَادَاهُمَا رَبُّهُمَا أَلَمْ أَنْهَكُمَا عَنْ تِلْكُمَا الشَّجَرَةِ وَأَقُلْ لَكُمَا إِنَّ الشَّيْطَانَ لَكُمَا عَدُوٌّ مُبِينٌ (۲۲) قَالَا رَبَّنَا ظَلَمْنَا أَنْفُسَنَا وَإِنْ لَمْ تَغْفِرْ لَنَا وَتَرْحَمْنَا لَنَكُونَنَّ مِنَ الْخَاسِرِينَ (۲۳) (الاعراف ۲۱\۲۲).
داقول دلالت کوی په دی خبره چی آدم ﷷ بیرته توبه وکښله اوانابت یې وکی اوخپله عاجزی یې بیان کړه الله ﷻ ته په ساعت دغلطی کی، اودا داسی یوعادت دی چی چاهم په ځان کی پیدا کی یعنی عاجزی په وخت دغلطی کی نو دهغه ددنیا اودآخرت دپاره به فائده مندوی. قَالَ اهْبِطُوا بَعْضُكُمْ لِبَعْضٍ عَدُوٌّ وَلَكُمْ فِي الْأَرْضِ مُسْتَقَرٌّ وَمَتَاعٌ إِلَى حِينٍ (۲٤) داخطاب دی آدم ﷷ ته اوابلیس ته اوبعضی وایی چی مارهم ورسره سته، دوی ته امر وسو دکښته کیدو دجنت څخه اودلیل نیول سوی دی په دی حدیث سره چی مار ددوی سره وو چی رسول الله ﷺ فرمایلی دی چی امرسوی وو رسول الله ﷺ ته دوژلو دمارانو، اوفرمایلی دی چی (موږ سالم نه یوپاته سوی ددی دلاس څخه دهغه ورځی را ایسی چی موږ یې په تیښته کړی یو (۱)، اودارنګه قول دالله ﷻ په سورة طٰهٰ کی: قَالَ اهْبِطَا مِنْهَا جَمِيعًا بَعْضُكُمْ لِبَعْضٍ عَدُوٌّ، دا امر دی آدم ﷷ ته اوابلیس ته اوتابع سوه حوآء دآدم ﷷ اومار دابلیس او چا دا ویلی دی چی دا امر دوی ته په صیغه دتثنیې سره سویدی، لکه څرنګه چی ذکر سویدی په دې قول دالله ﷻ کی: وَدَاوُودَ وَسُلَيْمَانَ إِذْ يَحْكُمَانِ فِي الْحَرْثِ إِذْ نَفَشَتْ فِيهِ غَنَمُ الْقَوْمِ وَكُنَّا لِحُكْمِهِمْ شَاهِدِينَ ، اوهرڅه چی دوباره ذکر کول دلفظ د (اهبطوا) په سورة البقرة کی دی: وَقُلْنَا اهْبِطُوا بَعْضُكُمْ لِبَعْضٍ عَدُوٌّ وَلَكُمْ فِي الْأَرْضِ مُسْتَقَرٌّ وَمَتَاعٌ إِلَى حِينٍ (۳٦) فَتَلَقَّى آدَمُ مِنْ رَبِّهِ كَلِمَاتٍ فَتَابَ عَلَيْهِ إِنَّهُ هُوَ التَّوَّابُ الرَّحِيمُ (۳۷) قُلْنَا اهْبِطُوا مِنْهَا جَمِيعًا فَإِمَّا يَأْتِيَنَّكُمْ مِنِّي هُدًى فَمَنْ تَبِعَ هُدَايَ فَلَا خَوْفٌ عَلَيْهِمْ وَلَا هُمْ يَحْزَنُونَ (۳۸) وَالَّذِينَ كَفَرُوا وَكَذَّبُوا بِآيَاتِنَا أُولَئِكَ أَصْحَابُ النَّارِ هُمْ فِيهَا خَالِدُونَ (۳۹) ، البقرة ۳۲، ۳۹، بعضی مفسرین وایی چی داول اهبطوا څخه مرادکښته کیدل دی دجنت څخه وآسمان ته ددنیا او ددوهم اهبطوا څخه مراد کښته کیدل دی دآسمان څخه ومځکی ته او دا ضعیف دی داولنی قول دوجې چی دادی: وَقُلْنَا اهْبِطُوا بَعْضُكُمْ لِبَعْضٍ عَدُوٌّ وَلَكُمْ فِي الْأَرْضِ مُسْتَقَرٌّ وَمَتَاعٌ إِلَى حِينٍ، البقرة ۳۲ پس دادلالت کوی پردې خبری چی داول

---

(۱). ددې حدیث تخریج کړیدی ابو داؤد په کتاب الادب، باب فی قتل الحیاة ۵۲۴۸\۴ دحدیث دابی هریرة ﷺ څخه اوپه سرددې کی یې داهم ذکر کړیدی (اوچاچی پرې ښووی ددې څخه یوشی نو هغه زموږ څخه نه دی)، او احمد ذکر کړیدی په خپل تصنیف کی ۲۴۷\۲ په شان دلفظ دابی داؤد ۵۲۰\۲ دحدیث دابی هریرة ﷺ څخه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



اهبطوا څخه مراد کښته کیدل دی مځکی ددنیا ته. او صحیح دادی چی دا مکرر ذکر دی لفظًا که څه هم چی یو وی او راوپس سویدی دهر یوه ځل سره حکمًا داول سره دا مراد دی چی ددې دواړو په خپلوکی دښمنی وی او ددوهم سره دا مراد دی چی هغه چی الله ﷻ یې رالیږی څوك چی دهغه تابعداری کوی هغه به کامیاب وی اوچی چا دهغه مخالفت وکی نو هغه به ناکام اوبد بخته وی، اودې اسبابو لره ډیر نظآئر دی په قرآن حکیم کی. او روایت ذکر کړیدی ابن عساکر دمجاهد څخه دی وایی چی: امر وکی الله تعالی دوو ملائکو ته چی وباسی آدم عليه السلام او بی بی حواء دخپل همسایه توب څخه. نولیری کی جبرائیل عليه السلام تاج خپل اومیکائیل عليه السلام هم لیری کی هغه تاج چی په شان دامیل دی دخپل تندی څخه، او پیوست سو په آدم عليه السلام پوری یوه څانگه نوگمان وکی آدم عليه السلام چی تیزی وسوه په سزا ورکولو کی نوټیټ یې کی خپل سر اوویل یې: العفو العفو نوالله ﷻ ورته وفرمایل چی ایا زما څخه پټیږی نوآدم عليه السلام ورته وویل چی نه ای زما سرداره بلکی ستا څخه حیاء کوم اوزاعی دحسان څخه نقل کوی چی نوم یې ابن عطیه دی: آدم عليه السلام په جنت کی سل کاله تیر کړی وه اوپه بل روایت کی اویا کاله ذکردی، اوپه جنت پسی یې اویا کاله ژړلی دی او دځوی په مرگ یې څلویښت کاله ژړلی دی. ددی راوی ابن عساکردی اوابن حاتم نقل کوی دابو زرعه څخه دی نقل کوی دعثمان بن ابی شعبه څخه دی نقل دجریر څخه دی نقل کوی دسعید څخه دی نقل کوی دابن عباس څخه چی ده ویلی دی: راکښته سوی دی آدم عليه السلام په (دَحْنا) نومی ځای کی چی په مینځ دمکه اوطائف کی دی. او دحسن څخه نقل دی چی راکښته سوی دی په هندوستان کی اوحواء په جده کی اوابلیس په (دستمیان) کی چی دبصری څخه په یوڅو میله واقع دی اومار په اصبهان کی، ابن حاتم هم ددی روایت کړی دی. اوالسدی وایی: راکښته سوی دی آدم عليه السلام په هندوستان کی اوراکښته کړی دی دهغه سره حجر اسود اویوه دانه دبوټی دجنت څخه نودایې وکری په هندکی نودهغه څخه درختی اوبوټی را وټوکیدل. او دابن عمر رضي الله عنه څخه نقل دی چی: راکښته سوی دی آدم عليه السلام په صفا کی اوحواء په مروه کی. داروایت هم دابن حاتم څخه نقل دی اوعبد الرزاق نقل کوی دمعمر څخه هغه وایی چی ماته خبر راکړی دی عوف چی هغه نقل کوی دقسامه بن زهیر څخه دی نقل کوی دابی موسیٰ الاشعری څخه چی هغه فرمایې: کله چی الله ﷻ آدم عليه السلام دجنت څخه مزکی ته راولیږی نوهغه ته یې دهرشی جوړولو طریقه وښوولی اوتوښه یې ورلره ورکړه دجنت دمیوو څخه، نودا میوی ستاسی دهغه میوو څخه دی فرق دادی چی دامتغیر کیږی او هغه نه متغیر کیږی. اوحاکم ویلی دی په مستدرك خپل کی: خبر راکړی دی موږ ته ابا بکر بن بالویه، چی هغه نقل کوی دمحمد ابن احمد بن نضر څخه دی نقل کوی دمعاویه بن

(c) ketabton.com: The Digital Library



عمر څخه دی نقل کوی دزائده څخه دی نقل کوی دعماربن ابی معاویه البجلی څخه دی نقل کوی دسعیدبن جبیر څخه دی دابن عباس څخه چی ابن عباس فرمایلی دی: نه دی هستوګن سوی آدم علیه السلام په جنت کی مګر دماپښین څخه تر مازدیګره پوری. (۱)

اوپه صحیح مسلم کی دحدیث دالزهری چی نقل کوی دالاعراج څخه دی نقل کوی دابی هریره رضی الله عنه څخه دی وایی چی فرمایلی دی رسول الله صلی الله علیه وسلم: ښه ورځ چی په هغه کی لمر راختلی دی ورځ دجمعی ده، په دی کی آدم علیه السلام پیداسوی دی، اوپه دغه ورځ جنت ته داخل سوی دی اوپه دغه ورځ رایستل سوی دی (۲) اوپه صحیح کی په بل روایت سره ذکردی (اوپه دی کی به قیامت قائمیږی) اواحمد نقل کوی دمحمد بن مصعب څخه دی نقل دالاوزاعی څخه دی نقل کوی ابی عمار څخه دی نقل کوی دعبدالله بن فروخ څخه دی نقل کوی دابی هریره رضی الله عنه څخه دی نقل کوی دنبی علیه السلام څخه چی فرمایلی دی (ښه ورځ هغه چی په هغه کی لمر راختلی دی ورځ دجمعی ده، په دی کی آدم علیه السلام پیداسوی دی، اوپه دغه ورځ جنت ته داخل سوی دی، اوپه هغه ورځ را ایستل سوی دی اوپه هغه ورځ به قیامت هم قائمیږی) (۳) په شرط دمسلم سره هرڅه چی هغه حدیث دی چی نقل کړی دی ابن عساکر دطریقی دابی القاسم البغوی څخه چی دی نقل کوی دمحمد بن جعفر الورکانی څخه دی نقل کوی دسعید بن میسره څخه دی نقل کوی دانس رضی الله عنه څخه دی وایی چی فرمایلی دی رسول الله صلی الله علیه وسلم (راکښته سوی وو آدم علیه السلام اوحواء دواړه لڅ، چی په دواړو دجنت پاڼی وی، نودآدم علیه السلام ګرمی وسوه تردی چی کښینسی اوپه ژړا سو او وایی حواء ته ای حواء تنګ کړمه زه دی ګرمی، نوراغی جبرایل علیه السلام اورایی وړه کپړه، او امر یې وکی حواء ته چی دا وګنډه اوطریقه یې ورته وښووله اوامر یې وکی آدم ته چی وایې غونده، او وویل رسول الله صلی الله علیه وسلم: آدم علیه السلام به جماع نه کوله دحواء سره تردی چی دجنت څخه راکښته سوه دوجی دغلطی دهغه څخه چی ترینه سوی وه په جنت کی، اودارنګه یې وویله، او وه به چی بیده کیده به دوی جلاجلا یوبه په بطحاء کی بیدیدی اوبل به په بل ځای کی، تردی چی راغی ورلره جبرایل علیه السلام اوورته ویې ویل چی راتګ وکړه خپل اهل ته یعنی خپلی ښځی ته، اوطریقه دجماع یې هم وروښووله کله چی یې ورته راتګ وکی نوجبرایل ورته رالی اوور څخه یې پوښتنه وکړه چی خپل اهل دی څنګه پیداکی آدم علیه السلام ورته وویل چی صالحه داحدیث غریب دی اومرفوع کول ددی منکردی، اودا دی دکلام دبعض سلفو څخه.

---

(۱). ددې تخریج حاکم کړیدی په مستدرک کی ۵۴۲\۲ او ویلی یې دی چی دا حدیث صحیح پرشرط دشیخینو او هغوی ددې تخریج نه دی کړی، او موافقت ورسره کړیدی ذهبی.

(۲). ددې تخریج مسلم کړیدی په کتاب الجمعة ۱۴۱\۲ کی.

(۳). مخکی په دې لفظ سره ذکر د (نه به قآئمیږی قیامت مګر دجمعې په ورځ).

(c) ketabton.com: The Digital Library



اوسعید ابن میسره وایی چی هم دادی: ابوعمران البکری البصری: ددی په باره کی بخاری ویلی دی چی دامنکر الحدیث دی، اوابن حبان ویلی دی چی داموضوعی روایتونه نقل کوی، اوابن عدی ویلی دی چی داپټوونکی دامردی یعنی ددی امر په تیاره کی وی. (١)
اودارنګه قول دالله ﷻ : فَتَلَقَّى آَدَمُ مِنْ رَبِّهِ كَلِمَاتٍ فَتَابَ عَلَيْهِ إِنَّهُ هُوَ التَّوَّابُ الرَّحِيمُ (البقره ۳۷) ویل سوی دی چی دا داقول دی: قَالَا رَبَّنَا ظَلَمْنَا أَنْفُسَنَا وَإِنْ لَمْ تَغْفِرْ لَنَا وَتَرْحَمْنَا لَنَكُونَنَّ مِنَ الْخَاسِرِينَ، اودانقل سوی دی دمجاهد څخه اودسیعد ابن جبیر اودابی العالیه اودالربیع بن انس څخه اودحسن څخه اودقتاده څخه اودمحمد بن کعب څخه اودخالد بن معدن څخه اودعطاء الخراسانی څخه اودعبد الرحمٰن بن زیدبن اسلم څخه، اوویلی دی ابی حاتم: چی نقل کوی دسعید بن عروبه څخه دی دقتاده څخه دی دحسن څخه دی دابی بن کعب څخه دی وایی چی فرمایلی دی رسول الله ﷺ (ویله آدم علیه السلام خپل رب ته چی: ای ربه زما ایاچی زه توبه وکاړم اورجوع وکړم تاته نوایازه به دوباره جنت ته داخل سم؟ نو وویل رب ددی چی هو!) نوبیا داقول یې ذکر کی: فَتَلَقَّى آَدَمُ مِنْ رَبِّهِ كَلِمَاتٍ فَتَابَ عَلَيْهِ، اوویلی دی ابن نجیح چی نقل یې کوی دمجاهد څخه: چی آدم علیه السلام دا الفاظ ویلی وه (اللهم لااله الا انت سبحانك وبحمدك، رب انی ظلمت نفسی فاغفرلی انك خیر الراحمین. اللهم لااله الا انت سبحانك وبحمدك، رب انی ظلمت نفسی فتب علی انك انت التواب الرحیم) دارنګه روایت ذکرکړی دی حاکم اوالبیهقی اوابن عساکر دطریقی دعبدالرحمٰن بن زید بن اسلم څخه چی دی نقل کوی دخپل پلار څخه هغه نقل کوی دخپل نیکه څخه هغه نقل کوی دعمربن الخطاب څخه دی وایی چی فرمایلی دی رسول الله ﷺ: کله چی خطا وکړه آدم علیه السلام نو دالله ﷻ څخه یې سوال وکی چی: ای ربه زما! زه ستا څخه سوال کوم په حق دمحمد باندی چی ته ماته بخښنه وکړی، نوالله ﷻ ورته وویل چی تاڅه رنګه وپیژندی محمد اوحال داچی ماخو هغه تراوسه پوری پیدا کړی هم نه دی؟ آدم علیه السلام وویل: ای ربه زما آیا تازه نه یم پیداکړی؟ اوپه ماکی دی روح نه دی اچولی؟ ما لوړ کی خپل سرنو ومی لیدی چی په اطرافو دعرش کی لیکل سوی وو لااله الا الله محمد رسول الله، نوآدم علیه السلام وفرمایل چی زه پوه سم چی اضافت ددی نوم نه دی سوی مګر دابه تاته ګران اومحبوب دټولو مخلوقاتو څخه وی. نوالله ﷻ ورته وفرمایل چی رښتیا وایی ته ای آدم، یقینًا داماته محبوب ترین شخص دی دمخلوقاتو څخه، اوچه تامانه سوال وکی په حق ددی باندی نومادرته بخښنه وکړه اوکه چیری محمدنه

---

(١). دا روایت نقل کړیدی ابن عساکر دانس څخه او همدارنګه ویلی دی علامه متقی الهندی په کنز العمال کی (۱۱۵۱۴۳\۲)، او ویل سویدی چی ابن عدی ویلی دی چی دا مظلم یعنی په تیاره کی وی دده دحدیث بیان، کنز العمال ۳۵۵۲۷\۱۲ او سیوطی ویلی په الدر المنثور کی: سند ددې ضعیف دی ۱۳۸\۱

(c) ketabton.com: The Digital Library



وای نومابه نه وای پیدا کړی دادنیا (١) بیهقی وایی چی یوازی والی کړی دی په دی باندی عبد الرحمٰن بن زید بن اسلم ددی وجی څخه داضعیف دی.
اودا آیت په شان دهغه قول دالله ﷻ دی: وَعَصَى آدَمُ رَبَّهُ فَغَوَى (١٢١) ثُمَّ اجْتَبَاهُ رَبُّهُ فَتَابَ عَلَيْهِ وَهَدَى (١٢٢)، (طٰه ١٢١\ ١٢٢).

**ذکر دمحاورې دحضرت آدم عَلَيْهِ السَّلَامُ او دحضرت موسٰی عَلَيْهِ السَّلَامُ**

امام بخاری ویلی دی په نقل کولو سره دقتیبه څخه دی نقل کوی دایوب بن نجار څخه دی نقل کوی دیحیٰی بن کثیر څخه دی نقل کوی دابی سلمه څخه دی نقل کوی دابی هریره رضی الله عنه څخه چی دی نقل کوی درسول الله ﷺ څخه چی فرمایلی یې دی (بحث به کوی موسٰی علیه السلام دآدم علیه السلام سره نوموسٰی علیه السلام به ورته وایی چی تارا ایستلی دی داخلګ دجنت څخه په خپله خطا سره اودا ټول دی په محنت کی اچولی دی نوآدم علیه السلام به وایی چی ای موسٰی ته ما ملامتوی په هغه کار چی الله ﷻ لیکلی وو مخکی ترپیدائش زما) نو وفرمایل رسول الله ﷺ: پس دلیل (حجت) به قائم کی آدم علیه السلام په موسٰی باندی (٢) همدارنګه داروایت نورو هم نقل کړی دی په مختلفو طریقو سره اودارنګه امام احمد یوروایت نقل کوی دمعاویه بن عمر څخه چی دی نقل کوی دزائد څخه، اودی نقل کوی دالاعمش څخه دی نقل کوی دابی صالح څخه دی نقل کوی دابی هریره رضی الله عنه څخه چی دی نقل کوی درسول الله ﷺ څخه چی فرمایلی دی بحث به کوی آدم علیه السلام اوموسٰی علیه السلام، نوموسٰی علیه السلام به آدم علیه السلام ته وایی چی ته هغه شخصی یې چی ته الله ﷻ په خپلو لاسونو جوړکړی یې اوبیایې په تاکی دخپل روح څخه روح اچولی دی، تادا خلګ په محنت کی اخته کړه اوخلګ دی ټول دجنت څخه را وایستل، نوآدم علیه السلام به موسٰی علیه السلام ته وایی: ای موسٰی ته هغه شخص یې چی تاته الله ﷻ خپل کتاب درکړی دی اورسالت یې درکړی دی ته ماملامتوه په هغه کار چی ماکړی دی او الله ﷻ هغه کار دآسمانونو اودمزکو دپیدا کولو څخه مخکی لیکلی وو. نو وفرمایل رسول الله چی دوی دواړه بحث کوی. دارنګه ډیر حدیثونه ذکر سوی دی ددوی دواړو دمکالمې

---

(١). ددې تخریج کړیدی حاکم په مستدرك کی ٥٧٥\٢ او ویلی یې دی چی دا حدیث صحیح الاسناد دی او دا اول حدیث دی چی ذکر سویدی دعبد الرحمٰن بن زید څخه دده په کتاب کی، ذهبی ویلی دی چی دا موضوعی دی او ذکر کړیدی دا بیهقی په دلآئل کی ٤٨٩\٥ او ویلی یې دی چی تفرد کړیدی پردې باندی عبدالرحمٰن بن زید بن اسلم هم ددې وجی څخه، او دا ضعیف دی دا ذکر کړیدی طبرانی په المعجم الصغیر کی ٢٠٧\١ ، او ویلی دی هیثمی په مجمع الزوآئد ومنبع الفوآئد ٢٥٣\٨ کی روایت ددې کړیدی الطبرانی په الاوسط کی اوپه الصغیر کی اوپه دې کی داسی اشخاص دی چی هغه زه نه پیژنم.
(٢). ددې تخریج کړیدی امام بخاری په کتناب التفسیرکی، سورة طٰه، باب فلا یخرجنکم من الجنة فتشقٰی ٤٧٣٨\٨ او مسلم په کتاب القدر کی، باب حجاج آدم وموسٰی ٢٠٢\١٢ دطریقی څخه دعمر.

(c) ketabton.com: The Digital Library



په باره کی چی دوی دواړه به دقیامت په ورځ باندی دیوبل سره مکالمه کوی اوموسیٰ ﷺ به پرآدم ﷺ باندی دلیل اوحجت قائموی اوآدم ﷺ به دهغه څخه جواب ورکوی. اودارنګه په هغو احادیثوکی علماوو خبری کړی دی چی دامکالمه اوبحث به دوی ولی کوی. خلاصه داچی موسیٰ ﷺ به دآدم ﷺ سره بحث کوی دقیامت په ورځ باندی.

## ذکر دهغه احادیثو چی وارد دی په باره دپیدائش دآدم ﷺ کی

روایت نقل کړی امام احمد دیحییٰ اودمحمد بن جعفر څخه دی نقل کوی دعوف څخه دی نقل کوی دقسامه بن زهیر څخه دی نقل کوی دابی موسیٰ څخه دی وایی چی ویلی دی نبی ﷺ یقیناً پیداکړی دی الله ﷻ آدم دیوموټی خاوری دټولی مزکی څخه (چی داخاوره دټولی مزکی څخه لړلړ راټوله سوی وه) ، پس پیدا سوه بنی آدم په اندازه دمزکی، پیداسو ددی څخه سپین اوسور اوتور اودرمیانه ددی (یعنی نیم سور اونیم سپین)، اوپیدایې پکښی کړه ښه اوبد، اوآسانی اوسختی اودرمیانه ددی. (۱)

او دارنګه ذکر کړیدی السدی په نقل کولو سره دابی مالك څخه او دابی صالح څخه چی دا دواړه نقل کوی دابن عباس څخه چی دی نقل کوی دمره څخه دی نقل کوی دابن مسعود څخه اودی نقل کوی دیوی ډلی دصحابه وو څخه دوی وایی چی: پس ولیږی الله ﷻ جبرایل مزکی ته چی دمزکی څخه خاوره راوړی، نومزکی ته چی راغل نومزکی ورته ویله چی: زه پناه غواړم په الله ﷻ باندی ستا څخه چی ته زما څخه څه حصه کمه کړی اوماته ضرر ورسوی نوواپس سو جبرایل اوهیڅ یې ترینه وانه خیستل: اوالله ﷻ ته یې ویل چی ای ربه هغه استعاذه وکړه په تاباندی نوما پریښوولو. بیایې میکائیل ورلیږی نو دهغه څخه یې هم استعاذه وکړه نوهغه هم پریښووله اوواپس سو اوالله ﷻ ته یې وفرمایل لکه څه رنګه چی جبرایل فرمایلی وو. بیایې ملك الموت راولیږی نودهغه څخه یې هم استعاذه وکړه نوملك الموت ورته وویل چی زه استعاذه کوم په الله ﷻ باندی چی زه به نه سم ولاړ بیرته ترڅو

---

(۱). ددې حدیث تخریج کړیدی احمد ۴۰۰\۴، ۴۰۲ اوترمذی په کتاب التفسیرکی، سورة البقرة، باب ۳ (۲۹۵۵\۵) دطریقې دمحمد بن بشار څخه چی دی نقل کوی دیحییٰ بن سعید او ابن ابی عدی او محمد بن جعفر او عبد الوهاب څخه دوی وایی په نقل کولو سره دعوف څخه او روایت ددې نقل کړیدی ابوداؤد په کتاب السنة کی، باب فی القدر ۴۲۹۳\۴ دطریقې څخه دمسدد، چی یزید بن زریع او یحییٰ بن سعید ددې نقل کړیدی دوی وایی چی موږ ته رانقل کړیدی دا عوف، او بیهقی دا نقل کوی په السنن الکبریٰ کی ۹\۲ ح ۱۷۷۰۷ دطریقې دابی عبد الله الحافظ څخه دی وایی چی خبر راکړیدی موږ ته محمد بن علی الصنعانی په مکه کی دی نقل کوی داسحاق بن ابراهیم څخه دی وایی چی خبر راکړیدی موږته عبد الرزاق چی هغه ته خبر ورکړیدی متمم دی وایی چی ماته خبر را کړیدی عوف هم په دې الفاظو سره (ح ۱۷۷۰۸) دطریقې څخه دحسن بن بشران دی نقل کوی داسماعیل بن محمد الصفار او دجعفر الرازی څخه، دوی دواړه نقل کوی دسعدان بن نصر څخه دی نقل کوی داسحاق الازرق څخه دی نقل کوی دعوف الاعرابی څخه هم په دې طریقې سره.

(c) ketabton.com: The Digital Library



چی می دالله ﷻ امرنه وی پوره کړی، نودمزکی دسر څخه یې خاوره واخستله اوهغه یې ګډه وډه کړه او دیوځای څخه یې ټوله نه ده را اخیستی اورا وایې خیسته سپینه اوتوره او سره خاوره نوپه دی وجه بنو آدم پیداکړل سوه په مختلفو رنګونو سره، نو ویې خیژوله دا خاوره لوړه نو وګرزیده داخاوره خړینه، بیا الله ﷻ ملائکو ته خطاب وکی په دی قول سره: إِنِّي خَالِقٌ بَشَرًا مِنْ طِينٍ (۷۱) فَإِذَا سَوَّيْتُهُ وَنَفَخْتُ فِيهِ مِنْ رُوحِي فَقَعُوا لَهُ سَاجِدِينَ (۷۲) (ص ۷۱، ۷۲)، پس جوړکی الله ﷻ آدم ؑ په خپل لاس (کمايليق بشانه) ددی وجی چی ابلیس تکبر ونه کی، نوجوړ یې کی بشر نو وو دایو جسد دخاوری چی پروت وو ترډیری مودی پوری، دڅلويښتو کالو څخه وروسته تیری سوی پردی ملائکی نوبیریدی ددی څخه اوډیر سخت بیریدونکی ددی څخه ابلیس وو اودی به چی کله هم په دی باندی تیریدی نوضرر به یې ورکوی دده جسدته اووهی به یې دده جسد، نواواز به کوی دده جسد لکه پخه خټه چی څرنګه اواز کوی. لکه څه رنګه چی الله ﷻ فرمایلی دی (مِنْ صَلْصَالٍ كَالْفَخَّارِ) او ویل به یې چی ددی کار دپاره زه نه یم پیدا یعنی ددی وهلو دپاره، اودننه کیدی به دده دخولی څخه او دشا څخه به یې راوتی اوملائکو ته به یې ویله چی تاسی مه بیریږی ددی څخه ولی چی رب ستاسی صمددی اوداهسی خټه ده. که چیری دامسلط سوی وای په آدم ؑ باندی نو هغه به یې هلاك کړی وای. کله چی دروح اچولو وخت رالی نوالله ﷻ ملائکو ته وفرمایل چی کله زه په دی کی روح واچوم نوتاسی دی ته سجده وکی، نوکله چی ورلره الله ﷻ روح په سرکی واچوی نوده پرنجی وکی، نوملائکو ورته ویل چی الحمدلله ووایه نوده وویل الحمدلله، نوالله ورته وفرمایل چی رحم دی وکړی رب ستا په تا باندی، کله چی یې ورلره په سترګو کی روح واچوی نوده وکته دجنت میووته، اوکله چی یې ورلره په نس کی روح واچوی نودده ډوډی ته اشتهاء وسوه، نوده ټوپ ووهی دجنت په میوو پسی مخکی ددی څخه چی دده په پښو کی روح واچول سو، اوداپه دی وخت کی چی الله ﷻ فرمایلی دی: خُلِقَ الْإِنْسَانُ مِنْ عَجَلٍ (الانبیاء ۳۷) فَسَجَدَ الْمَلَائِكَةُ كُلُّهُمْ أَجْمَعُونَ (۳۰) إِلَّا إِبْلِيسَ أَبَى أَنْ يَكُونَ مَعَ السَّاجِدِينَ (۳۱) (الحجر ۳۰\ ۳۱) اوداسی یې ذکر کړی ده ټوله قصه [1]

امام احمد وایی په نقل کولو سره دعبدالصمد څخه دی نقل کوی دحماد څخه دی نقل کوی دثابت څخه دی نقل کوی دانس بن مالك څخه دی وایی چی فرمایلی دی رسول الله ﷺ: کله چی پیداکی الله ﷻ آدم ؑ نو پري یې ښوی دی ترډیری مودی پوری هم داسی، نو وو ابلیس چی څرخیدی به پردی نوپوه سو چی دابی بسه دی په ځان باندی قدرت نه لری [2]

---

[1]. دایې ذکر کړیدی په تاریخ الطبری ۱\۲۲، ۲۳ ذکر سویدی، قصه هم په دې طریقې سره.

[2]. ددې حدیث تخریج کړیدی امام احمد ۳\۱۵۲ اومسلم ددې تخریج کړیدی په کتاب البر والصلة کی، باب =

(c) ketabton.com: The Digital Library



دا رنګه روایت ذکرکوی عمر بن عبدالعزیز چی وایې: کله چی امر وسو ملائکو ته دسجدی نو وو اول سجده کوونکی اسرافیل ﷷ، نو راوستی الله ﷻ دی او ویې لیکی قرآن دده په تندی باندی. راوی ددی ابن عساکردی. دارنګه روایت ذکر کړی دی حافظ ابویعلی په نقل کولو سره دعقبه بن مکرم څخه دی نقل کوی دعمر بن محمد څخه دی نقل کوی داسماعیل بن رافع المقبری څخه دی نقل کوی دابی هریره ؓ څخه دی وایی چی فرمایلی دی رسول الله ﷺ: یقیناً الله ﷻ پیداکړی دی آدم ﷷ دخاوری څخه بیایې وګرځوله خټه بیایې هم داسی پریښووله ترڅه وخته پوری بیاچی کله ترینه بوی داره خټه جوړه سوه نوبیایې هم داسی پریښووله تردی چی داسی سوه لکه پخه خټه. نوفرمایې چی وو ابلیس چی تیریدی به په دی باندی نوویل به یې: چی ته پیداسوی یې دیولوی کار دپاره بیا پکښی الله ﷻ روح واچوی نو وو اول هغه ځای چی روح پکښی واچول سو سترګی اوپزه. نوده پرنجی وکی بیایې حمد درب بیان کی نوالله ﷻ ورته وفرمایل چی رحم دی وکی رب ستاپه تا باندی بیاورته الله ﷻ وفرمایل چی ای آدمه ﷷ ولاړسه اودغو خلګو ته ووایه السلام علیکم، نوته وګوره چی دوی درلره څه جواب درکوی؟ نوراغی دوی ته اوالسلام علیکم یې ووایه، نوهغوی ورته په جواب کی وفرمایل چی وعلیکم السلام ورحمة الله وبرکاته نو وفرمایل الله ﷻ آدم ﷷ ته داستا اوستا دنسل تحیه اوپه خیر راغلی دی. نوده وویل چی زمانسل څه ته وایې؟ نو ورته ویې وفرمایل چی خوښ کړه زما یولاس نوآدم ﷷ ویله چی زه راسته لاس خوښوم اوزما درب دواړه لاسونه راسته دی نوخلاص کی الله ﷻ خپل لاس مبارك (کمایلیق بشانه) نوپه هغه کی ټول نسل دآدم ﷷ وو، وروسته په دی کی داسی خلګ وه چی دهغه خولی دنور څخه ډکی وی، اوپه دی کی یو شخص وو چی آدم ﷷ دهغه نورته حیران سو ویې فرمایل، ای ربه زما داڅوك دی؟ نوالله ﷻ ورته وفرمایل چی دا ستا زوی داود ﷷ دی: نوبیایې وویل چی ای زماربه دی لره دی څومره عمر ورکړی؟ نوورته یې وفرمایل چی شپیته کاله، نوده وویل ای ربه زما هبه کړه زما دعمر څخه ده ته څلویښت کاله نوددی عمر به سل کاله سی نو وروسته وکی الله ﷻ دغه شان کار اودایې پر شاهد کی نو کله چی پوره سو عمر دآدم ﷷ نوالله ﷻ ورته ملك الموت ورواستوی، نوآدم ورته وفرمایل چی آیا زما دعمر څخه څلویښت کاله نه دی پاته نودی به ورته وایی چی هغه تانه دی هبه کړی خپل زوی داود ﷷ ته؟ نودی به بحث وکی پردی عمر باندی (کم یې چی داود ﷷ ته هبه کړی وو) نوددی بحث ماده ددی په اولاد کی پاته سوه، اوهیره کړه ده خپله خبره

---

= خلق الانسان خلقا لا یتملك ۱۲\۱۲۴ په دوو طریقو سره، اول دا: چی نقل کوی دابوبکر بن شیبة څخه چی دی نقل کوی دیونس بن محمد څخه دی نقل کوی دحماد څخه هم په دې قول سره، دوهم دا: چی نقل کوی ابوبکر بن نافع څخه دی نقل کوی دبهز څخه دی نقل کوی دحماد څخه آه

(c) ketabton.com: The Digital Library



(چې داود ﷺ ته خپل ځلوېښت کاله عمر ورکول وو) نوددې په نسل کې دهېروالی ماده پاته سوه (یعنی آدم ﷺ څخه چې څه رنګه خبره هېره سویده نودارنګه دده په اولاد کې دهېرولو ماده پاته سوه) اودارنګه ترمذي ویلي دي په نقل کولو سره دابونعیم څخه دې نقل کوی دهشام بن سعد څخه دي نقل کوی دزید بن اسلم څخه دي نقل کوی دابی صالح څخه دی نقل کوی دابی هریره څخه دي وایې چې فرمایلي دي رسول الله ﷺ: کله چې الله ﷻ پیداکی آدم ﷺ نومسح یې کړه ملا دهغه، نو ولویدې ورڅخه هرهغه څوك چې هغه دی پیداکیدونکی دده دنسل څخه ترقیامت دورځې پورې اوددوی دسترګوپه مینځ کې ګرځول سوی دی برېښیدل دنور، بیابه وړاندې سي دانسل آدم ﷺ ته نودی به یې وګوی نو پوښتنه به وکی چې داڅوك دي؟ نوورته به وویل سي چې داستا نسل دی، نودی به پکښې یوسړی وګوری چې هغه به په تعجب کې واچوی دی، نودی به پوښتنه وکی ای ربه. داڅوك دی؟ نوورته به وویل سي چې داسړی به آخرې امتونو کې وی چې داود ﷺ یې نوم دی، نودی به وایې چې دی لره دی څومره عمر ورکړی دی: نوورته به وویل سي چې شپیته کاله: نواوبه وایې چې ای ربه زما زیات کړه دده عمر زما دحصې څخه ځلوېښت کاله: کله چې دآدم ﷺ عمر پوره سو اوملك الموت ورته راغی: نوده ورته وویل چې ایازما دعمر څخه ځلوېښت کاله نه دی پاته؟ ورته وویل به سي چې تادغه ځلوېښت کاله نه دی ورکړی خپل زوی داود ﷺ ته؟ نودی به بحث وکی نودده داولادو سره هم بحث وسو، اوهېر کړه آدم ﷺ نوهېرسو دده دنسل، اوخطایې وکړه آدم ﷺ نوپه خطایې کې واقع سو دده نسل. (۱)

اودارنګه ابن ابی حاتم روایت ذکرکړی دی دحدیث دعبدالرحمٰن بن زید اسلم څخه چې دی نقل کوی دوالدخپل څخه چې دی نقل کوی دعطاء بن یسار څخه دی نقل کوی دابی هریره څخه مرفوعًا په هم دی طریقی سره ذکرکړی دی اوداعبارت په کې زیات دی (بیایې مخکې کې آدم ﷺ ته: نوورته وویل سوه چې ای آدمه داستا نسل دی، اوپه دی کې به ړوند اوګوډ اودبرګی ناجوړی والاوی، نووبه وایې چې ای ربه زما داولې تاداسې کړی دی زماپه نسل باندې؟ نور ورته به وویل سی، ددې دپاره چې ته زما دنعمت شکر وکاږه بیایې ذکرکړیده قصه دداود ﷺ، اودابه ذکر کیږی په روایت دابن عباس کې هم، اوویلې دی امام احمد په مسند خپل کې په نقل کولو سره دالهیشم بن خارجه څخه دی نقل کوی دابو الربیع څخه دی نقل کوی دیونس بن میسره څخه، دی نقل کوی دابی ادریس څخه دی نقل کوی دابی الدرداء رضی الله عنه څخه دی وایې چې فرمایلي دي رسول الله ﷺ: پیداکی الله ﷻ آدم نودي یې په

(۱). داذکر کړیدی هیثمی په المجمع کې ۱۹۷/۸ راوی ددې ابویعلی دی اوپه دې کې اسماعیل بن رافع هم دی، بخاری ویلي دی چې دی ثقه دی اوپه حدیثو کې یې مهارت سته او ضعیف کړیدی دی جمهورو، اوباقی نقل کوونکی ددې ټول ثقه دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



اوږه باندی کښته کی نودده داوړی ښخه یوسپین نسل راووتی چی وو په شان دڼرو میږیانو، بیایې وواهی په چپه اوږه باندی نودهغه ښخه یوتور نسل راپیدا سو چی وو په شان دسکارو، نوددی چی کم دراسته اړخ ښخه راوتلی وو نوالله ﷻ هغوی ته وفرمایل چی جنت ته ولاړسی په مرضی سره اوزما هیڅ پروا په تاسی باندی نسته: اوکم نسل یې چی دچپه اوړی ښخه راوتلی وو هغوی ته الله ﷻ وفرمایل ولاړسی جهنم ته زماهیڅ پرواه په تاسی باندی نسته (١)

او ویلی دی ابن ابی الدنیا په نقل کولو سره دخلف ښخه دی نقل کوی دهشام ښخه دی نقل دحکم بن سنان ښخه دی نقل کوی دحوشب ښخه دی نقل کوی دحسن ښخه چی ده ویلی دی: پیداکی الله ﷻ آدم‌علیه السلام نو راویې ایسته اهل جنت والا ددی دراسته اړخ ښخه اوجهنم والا ددی دچپه اړخ ښخه، اوبیایې دوی خپاره کړه پرمخ دمزکی باندی، ښه په دی کی ړانده وه اوښه پکښی ګنګیان وه اوښه پکښی په ناجوړی کی مبتلی وه نو وویل آدم علیه السلام ای زما ربه، زما اولاد دی برابرولی نه دی پیداکړی، نوالله ﷻ ورته وفرمایل چی. زه غواړم چی زماشکر اداسی. اوامام بخاری ویلی دی په نقل کولوسره دعبدالله بن محمد بن منبه ښخه دی نقل کوی دابی هریره ښخه دی نقل کوی دنبی علیه السلام ښخه چی هغه فرمایلی دی: پیداکړی دی الله ﷻ آدم علیه السلام اودهغه اوږدوالی شپیته ګزه وو، نبی علیه السلام فرمایې چی بیاده ته وویل سوه چی ولاړسه اوسلام وکړه په هغه ملائکو باندی اوغوږ کښیږده چی ښه جواب درکوی، نودهغه جواب به ستا اوستا دنسل تحیه اوپخیر راغلی وی، نودی ورلی اوورته وی ویل چی: السلام علیکم، نوهغوی ورته په جواب کی وویل، وعلیکم السلام ورحمت الله وبرکاته نو وروسته هرهغه شخص چی داخلیږی جنت ته نوهغه په شان دآدم علیه السلام وی، نو تر نن ورځ پوری دخلګو عمرونه کمیږی (٢) اودارنګه ذکر کړی دی امام بخاری هم داروایت په کتاب الاستئذان کی دیحیٰی بن جعفر ښخه اودارنګه مسلم دمحمد بن رافع ښخه اودا دواړه بیانقل کوی دعبد الرزاق ښخه، او وویل امام احمد په نقل کولو سره دروح ښخه دی نقل کوی دحماد بن سلمه ښخه دی نقل کوی دعلی بن زید ښخه دی نقل کوی دسعیدبن المسیب ښخه دی نقل کوی دابی هریره‌رضی الله عنه ښخه دی وایی چی فرمایلی دی رسول الله ﷺ: وو اوګدوالی دآدم علیه السلام شپیته ګزه اوپه (٧) ګزو کی پلن والی ددی وو (یواځی والی کړی

---

(١). ددې حدیث تخریج کړیدی امام احمد ۴۴١.

(٢). تخریج ددې بخاری کړیدی په کتاب احادیث الانبیآء کی، باب خلق آدم وذریته ۳۳۲۶\۲ اودبلی طرېقی ښخه په کتاب الاستئذان کی، باب بدء السلام ۶۲۲۷\۱۱ دطریقې دیحیٰی بن جعفر ښخه دی نقل کوی دعبد الرزاق ښخه هم په دې طریقې سره، اومسلم په کتاب الجنة وصفة نعیمها واهلها ۱۷۷\۱۷ دطریقې دمحمد بن رافع ښخه دی نقل کوی دعبد الرزاق ښخه هم په دې طریقې سره اوامام احمد ۳۱۵\۲ دعبد الرزاق ښخه.

دی په دی روایت باندی امام احمد). او ویلی دی امام احمد په نقل کوی سره دعفان څخه دی نقل کوی دحماد بن سلمه څخه دی نقل کوی دعلی بن زید څخه دی نقل کوی دیوسف بن مهران څخه دی نقل کوی دابن عباس څخه دی وايې، کله چی نازل سو آیت د (دَین) یعنی قرض نو وفرمایل رسول اللهﷺ: اولنی سړی چی انکاريې کړی دی آدم ؑ دی: اولنی سړی چی انکار يې کړی دی آدم ؑ دی: هم دارنګه يې دری واره داسی وفرمایل. اوبیايې ورپسی مخکنی عبارت چی په مخکی حدیث کی بیان سو هغه ذکر کړی دی چی دده دراسته اړخ څخه یونسل راووتی اوبیايې دچپه اړخ څخه یونسل را وایستل سو. الخ (١)

دااحادیث دلالت کوی په دی خبری باندی چی الله ﷻ دآدم ؑ نسل ټول دهغه دملا څخه را ایستلی دی په شان دمیږیو اوبیايې تقسیم کړی دی داپه دوو ډلو باندی چی یواهل الیمین، اوبل اهل شمال دی، اوورته يې داهم ویلی دی چی دا دجنت دپاره دی اوزه هیڅ باك نه په کوم. اودا دجهنم دپاره دی اوزه هیڅ باك نه په کوم. اوهرڅه چی ګواه کول ددی نسل دی په رب باندی اودوی ته طاقت دنطق ورکول دی دا په احادیثوکی نه دی ذکر.

هرڅه چی هغه حدیث دی چی روایت يې کړی دی امام احمد (٢) په نقل کولو سره دحسین بن محمد څخه دی نقل کوی دجریر څخه دی نقل کوی دکلثم بن جبر څخه دی نقل کوی دسعید بن جبیر څخه دی نقل کوی دابن عباس څخه دی وایی چی فرمایلی دی رسول اللهﷺ: یقیناً الله ﷻ اخستی دی دخلګو څخه میثاق اووعده په ملا دآدم ؑ باندی په نعمان مقام کی په ورځ دعرفی باندی، نورا ویی ایستی دده دملا څخه هغه ټول نسل چی دی يې پیدا کونکی دی ترقیامته پوری په شان دمیږیو بیايې ورسره خبری کړی دی په دی انداز سره : وَإِذْ أَخَذَ رَبُّكَ مِنْ بَنِي آدَمَ مِنْ ظُهُورِهِمْ ذُرِّيَّتَهُمْ وَأَشْهَدَهُمْ عَلَى أَنْفُسِهِمْ أَلَسْتُ بِرَبِّكُمْ قَالُوا بَلَى شَهِدْنَا أَنْ تَقُولُوا يَوْمَ الْقِيَامَةِ إِنَّا كُنَّا عَنْ هَذَا غَافِلِينَ (١٧٢) أَوْ تَقُولُوا إِنَّمَا أَشْرَكَ آبَاؤُنَا مِنْ قَبْلُ وَكُنَّا

---

(١). ددې حدیث تخریج امام احمد کړیدی ١\٢٥١ اوبیهقی هم ددې روایت نقل کړیدی په السنن الکبرٰی کی دطریقې دابوبکر بن فورك څخه چی دی خبر کړیدی عبد الله بن جعفر چی دی نقل کوی دیونس بن حبیب څخه دی نقل کوی ددآؤد څخه دی نقل کوی دحماد بن سلمه څخه هم په دې طریقې سره ١٠\١٤٢ او روایت ددې نقل کړیدی طبرانی په المعجم الکبیر کی دطریقې څخه دعلی بن عبد العزیز دی نقل کوی دحجاج بن منهال څخه دی نقل کوی دحماد بن سلمه څخه هم په دې طریقې سره ١٢\١٢٥ ح ١٢٩٢٨ او الطیالسی ١١\٣٥٠ دطریقې دحماد بن سلمه څخه، هیثمی ویلی دی په مجمع کی ٨\٢٠٦ په دې سندکی علی بن زید دی او دی ضعیف ګرځولی دی جمهورو اوباقی سړی ددې ثقه دی.

(٢). ددې حدیث تخریج امام احمد کړیدی ١\٢٧٢ په لفظ دمصنف سره، اوحاکم په مستدرك کی ١\٢٧٠ ددې لفظ څخه ماسوا په بل لفظ سره (بنعان یوم العرفة) او ویلی يې دی چی دا حدیث حسن اوصحیح دی اوبحث کړیدی مسلم په کلثم بن جبر باندی، او موافقه کړیده ورسره امام ذهبی، او هیثمی ویلی دی په مجمع کی ٧\٢٥ روایت ددې کړیدی امام احمد، او سړی ددې ټول ثقه دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ذُرِّيَّةً مِنْ بَعْدِهِمْ أَفَتُهْلِكُنَا بِمَا فَعَلَ الْمُبْطِلُونَ (۱۷۳) (الاعراف \۱۸۲، ۱۷۳) په دی آیت کی دا بیان سوی دی چی الله ﷻ دبنی آدمو څخه لوظ او وعده اخستی ده اودوی یې په ځانونو باندی شاهدان کړی دی. ترآخره پوری.

امام احمد وایی په نقل کولو سره دحجاج څخه دی نقل کوی دشعبه څخه دی نقل کوی دابی عمران الجونی څخه دی نقل کوی دانس بن مالك څخه دی نقل کوی درسول الله ﷺ څخه چی فرمایلی یې دی: وبه ویل سی یوسړی ته چی دجهنم والاوو څخه به وی په ورځ دقیامت کی: که چیری ستاسره وای په مځکه کی څه مال نو آیاتا به فدیه کوی هغه مال؟ نبی ﷺ وفرمایل چی داسړی به ووایی چی هونو الله ﷻ به ورته وایی چی ماخو ستا څخه ددی څخه ډیر سپك او وړوکی کار غوښتی وو په ملا دآدم ﷺ باندی هغه داچی ته شریك مه مقرروه زماسره نوتا انکار وکی اوزماسره دی شریك مقررکوی (۱) تخریج ددی یې کړی دی دحدیث دشعبه څخه. اوویلی دی ابو جعفر الرازی په نقل کولو سره دربیع بن انس څخه دی نقل کوی دابی العالیه څخه دی نقل کوی دابی کعب څخه په باره ددی قول دالله ﷻ کی وَإِذْ أَخَذَ رَبُّكَ مِنْ بَنِي آدَمَ مِنْ ظُهُورِهِمْ ذُرِّيَّتَهُمْ چی الله ﷻ ټول مخلوقات یووار دآدم ﷺ په ملا مبارکی باندی راټول کړی دی اودټولو څخه یې وعده اخیستی ده په خپل الوهیت باندی اوپه خپل ربوبیت باندی اوټولو څخه یې داوعده واخیسته، اودټولو څخه یې داپوښتنه وکړه چی: أَلَسْتُ بِرَبِّكُمْ قَالُوا بَلَى (آیا زه ستاسی رب نه یم، نودی ټولو انسانانو په جواب کی ویل چی، ولی نه ته زموږ رب یې) نوالله ﷻ دوی ته وفرمایل چی زه شاهد کوم په تاسی باندی دا اوه آسمانونه اودا اوه مزکی اودا ستاسی پلار آدم ﷺ، په دی خبری چی تاسی دقیامت په ورځ دا ونه وایاست چی: موږ ته پته نسته ، پوه کړی په دی خبری باندی ځان چی نسته بل اله ماسوا زما څخه اونسته بل رب غیر زما څخه، اوشریك مه جوړوی زماسره بل څوك، اوزه به درلیږم تاسی ته پیغمبران اورسولان چی تاسی ته به زماوعده اومیثاق ښیی، اوزه به په تاسی باندی خپل کتاب نازلوم. نودا ټول نسل دآدم ﷺ به ووایی چی موږ شاهدی کوو چی ته زموږ رب یې اوزموږ اله یې، نسته زموږ دپاره بل رب ماسوا ستا څخه اونسته زموږ دپاره بل رب ستا څخه ماسوا اونسته زموږ دپاره اله بل ستا څخه. نودوی اقرار وکی په دغه ورځ داطاعت. اولوړ سو آدم ﷺ دی خپل نسل ته چی خپل نسل وګوری کم به چی دده څخه اوده داولاد څخه ترقیامته پوری پیداکیږی نودی چی کله خپل نسل

(۱). ددې تخریج امام احمد کړیدی ۱۲۷\۳ او دارنګه نقل دی په نزد دبخاری، کتاب احادیث الانبیآء، باب خلق آدم وذریته ۳۳۳۴\۲ هم په دې لفظ سره، یقیناً الله تعالی به ووایی هغه سپك عذاب والا جهنمی ته، الحدیث، اومسلم، کتاب صفة القیامة والجنة والنار باب فی الکفار ۱۴۷\۱۷ دطریقې دشعبه څخه.

ووینی چی په دی کی فقیران اومالداره، اوښکلی اوبدرنګه روغ اوناجوړی اوداسی نورو نښانو والا انسانان وه. نودی وویل ای ربه زما داټول انسانان دی ولی یوشان نه دی پیدا کړی؟ نوالله ﷻ به ورته وفرمایی چی زه داغواړم چی زماشکر وکاړی. اوپه دی کی یې پیغمبران ولیده چی په شان دشمعو وه اودنور څخه به ډك به وه، اوخاص سوی وه په یوبل میثاق اووعده باندی چی هغه نبوت اورسالت دی پس داهغه خصوصیت دی چی الله ﷻ ذکرکړی دی: وَإِذْ أَخَذْنَا مِنَ النَّبِيِّينَ مِيثَاقَهُمْ وَمِنْكَ وَمِنْ نُوحٍ وَإِبْرَاهِيمَ وَمُوسَى وَعِيسَى ابْنِ مَرْيَمَ وَأَخَذْنَا مِنْهُمْ مِيثَاقًا غَلِيظًا (الاحزاب ۷)، اودارنګه په بل ځای کی فرمایلی دی: فَأَقِمْ وَجْهَكَ لِلدِّينِ حَنِيفًا فِطْرَةَ اللهِ الَّتِي فَطَرَ النَّاسَ عَلَيْهَا لَا تَبْدِيلَ لِخَلْقِ اللهِ (الروم ۳۰)، مخکی داذکر سوه چی الله ﷻ کله امر وکی ملائکو ته دسجدی آدم عليه السلام ته، ټولو دالله ﷻ دامر پوره والی وکی اومنعه سو ابلیس دسجدی څخه دوجی دحسد اوعداوت څخه، نوالله ﷻ وشړی هغه دجنت څخه او لیری یې کی دخپل دربار څخه اوکښته یې کی مزکی ته شړل سوی اوملعون اوترټل سوی.
امام احمد وایی په نقل کولو سره دوکیع څخه اودیعلی څخه اودمحمد څخه چی دادواړه ځامن دعبیددی دوی نقل کوی داعمش څخه دی نقل کوی دابی صالح څخه دی نقل کوی دابی هریره څخه دی وایی چی فرمایلی دی رسول اللهﷺ: کله چی وویل آدم عليه السلام سجده نو سجده یې وکړه، نوولګیدی شیطان چی ژړایې شروع کړه او وی ویل: ای تباهی اوافسوس دی وی زما دپاره. امر وسو آدم عليه السلام ته دسجدی نوده سجده وکړه نودده دپاره جنت دی، اوماته دسجدی امر وسو نوما نافرمانی وکړه نوزما دپاره اوردی. (١) بیا آدم عليه السلام په جنت کی اقامت اختیار کی دخپلی ښځی حواء سره، چی خوراك به یې کوی ددی جنت څخه چی څه ته به یې زړه کیدی، بیاچی کله دوی خوراك وکی دهغه درختی څخه چی دهغه څخه منع سوی وو نوددوی څخه وکښل سو هغه لباس چی دوی پکښی وه اوراکښته سوه مزکی ته. اواختلاف مو دراکښته کیدو په باره کی مخکی ذکر کړی دی. اواختلاف سوی دی په مقدار اواندازه ددوی داقامت په جنت کی: نوبعضو ویلی دی چی یوڅو ورځی ددنیا دورځو په مقدار یې تیری کړی دی، اومخکی موذکرکی هغه چی روایت یې کړی دی امام مسلم دابی هریره رضي الله عنه څخه مرفوعًا: اوپیدا سوی دی آدم عليه السلام په آخری ساعاتونو دورځ دجمعی هم په دغه ورځ باندی پیداسو اوهم په دغه ورځ باندی دجنت څخه را وایستل سو. ابن جریر هم وایی چی: معلومه خبره ده چی آدم عليه السلام پیداسوی دی په آخری ساعت دورځی

(١). ددې حدیث تخریج امام احمد کړیدی ۱۲۷\۳ اوهمدارنګه په نزد دبخاری هم ذکردی، کتاب احادیث الانبیآء، باب خلق آدم وذریته ۳۳۳۴\۲ هم په دې الفاظو سره، چی الله تعالی به دقیامت په ورځ هغه ادنی جهنمی ته وایی....الحدیث، او مسلم په کتاب صفة القیامة والجنة والنار فی باب الکفار ۱۴۷\۱۷ کی دطریقې دشعبه څخه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



دجمعی کی، اویوساعت دهغه دری اتیا کاله اوځلور میاشتی دی، نودی پروت ووپه داسی حال کی چی روح په کی نه وو ترڅلویښتو کالو پوری اواقامت یې کړی دی په جنت کی مخکی ددی څخه چی راکښته سی دری څلویښت کاله اوڅلور میاشتی. (۱)
اودارنګه روایت ذکرکړی دی عبدالرزاق په نقل کولو سره دهشام بن حسان څخه دی نقل کوی دسوار څخه چی داخبر رسان دعطاء بن رباح وو: دی وایې: کله چی الله ﷻ آدم ﷺ دجنت څخه راوایستی نودده پښی په مزکی کی وی اوسریې په آسمان کی وو نوالله ﷻ دی اوږدکی په اندازه دشپیتو ګزو، نونه دی نسل دده چی قدونه یې کمیږی تراوسه پوری او دارنګه ذکرکړی دی ابن جریر دابن عباس څخه: چی الله ﷻ وفرمایل آدم ﷺ ته: ای آدمه یقیناً زما دپاره یوحرم سته په اړخ دعرش کی نوته بیرته ولاړسه اوجوړکړه زما دپاره کور اودهغه څخه طواف کوه لکه څه رنګه چی طواف کوی ملائکی زما دعرش څخه، او ولیږه الله ﷻ یوه ملائکه چی هغه ځای ورته وښیې اومناسك یې وروښیی، اودایې هم ذکر کړی دی چی آدم ﷺ پرکم ځای چی تیرسوی دی هغه ځای کی بیا کلی جوړسوی دی: اوده داهم نقل کړی دی چی اول ډوډی هغه چی آدم ﷺ په مځکه کی خوړلی هغه اوه دانی دغنم وی چی جبرائیل ورلره راوړی وی نودوی پوښتنه ترینه وکړه چی داڅه دی؟ نوورته یې: وویل چی دا دهغه درختی څخه دی چی دکم څخه ته منع سوی وی اوتا ترینه خوراك کړی وو. نودوی ورته وفرمایل چی په دی څه وکم؟ نوجبرائیل ورته وفرمایل چی داپه مځکه کی وشینده، نوده وشیندلی دغه دانی نودهری دانی څخه سل زره دانی جوړی سوی نوبیا ده هغه وریبل، اوبیایې غلبیل کړه اوبیایې وځنډله بیایې وړه تری نه جوړکړه اوبیایې ترینه خمیره جوړه کړه اوبیایې ترینه ډوډی پخه کړه بیایې ډیر په سختیو سره وخوړله.
اودا قول دالله ﷻ په دی دلالت کوی: فَلاَ يُخْرِجَنَّكُمَا مِنَ الْجَنَّةِ فَتَشْقَى، او وو اولی کپړی ددوی دوړیو دپسو څخه چی هغه یې پرې کړی اوبیا یې ترینه تار جوړکی، بیایې ترینه ځان ته جبه چی ورته چوغه هم ویل کیږی جوړه کړه اوحوا ته یې ترینه څادر اولوپټه جوړه کړه.
اوپه دی خبره کی هم ډیر اختلاف سوی دی چی آیا دآدم ﷺ اولاد په جنت کی پیدا سوی وو اوکه نه: بعضو ویلی دی چی نه وو ددوی دپاره اولاد په جنت کی اوبعضو ویلی دی چی ددوی دپاره اولاد په جنت کی پیدا سوی وو، نووو قابیل اوخور دهغه چی پیداسوی وه په جنت کی. اوداخبره ذکرسویده چی ددوی دپاره به په یوه حمل کی دوه بچی وه یوبه په کی نروو اوبل به په کی عورت اوامر ورته سوی وو چی واده به کوی هریو زوی دخپل دورور دخور سره چی ورسره پیدا سویده اودابل به ددی بلی سره واده کوی.

---

(۱). تاریخ الطبری ۷۸\۱

(c) ketabton.com: The Digital Library



## قصه دزامنو دآدم عليه السلام : قابيل او هابيل

الله ﷻ په قرآن کريم کی فرمايلی دی: وَاتْلُ عَلَيْهِمْ نَبَأَ ابْنَيْ آدَمَ بِالْحَقِّ إِذْ قَرَّبَا قُرْبَانًا فَتُقُبِّلَ مِنْ أَحَدِهِمَا وَلَمْ يُتَقَبَّلْ مِنَ الْآخَرِ قَالَ لَأَقْتُلَنَّكَ قَالَ إِنَّمَا يَتَقَبَّلُ اللهُ مِنَ الْمُتَّقِينَ (۲۷) لَئِنْ بَسَطْتَ إِلَيَّ يَدَكَ لِتَقْتُلَنِي مَا أَنَا بِبَاسِطٍ يَدِيَ إِلَيْكَ لِأَقْتُلَكَ إِنِّي أَخَافُ اللهَ رَبَّ الْعَالَمِينَ (۲۸) إِنِّي أُرِيدُ أَنْ تَبُوءَ بِإِثْمِي وَإِثْمِكَ فَتَكُونَ مِنْ أَصْحَابِ النَّارِ وَذَلِكَ جَزَاءُ الظَّالِمِينَ (۲۹) فَطَوَّعَتْ لَهُ نَفْسُهُ قَتْلَ أَخِيهِ فَقَتَلَهُ فَأَصْبَحَ مِنَ الْخَاسِرِينَ (۳۰) فَبَعَثَ اللهُ غُرَابًا يَبْحَثُ فِي الْأَرْضِ لِيُرِيَهُ كَيْفَ يُوَارِي سَوْأَةَ أَخِيهِ قَالَ يَا وَيْلَتَا أَعَجَزْتُ أَنْ أَكُونَ مِثْلَ هَذَا الْغُرَابِ فَأُوَارِيَ سَوْأَةَ أَخِي فَأَصْبَحَ مِنَ النَّادِمِينَ (۳۱) (المائده ۲۷\ ۳۱) .

علامه السدی ويلی دی په نقل کولو سره دابی مالك څخه دی نقل کوی دابن عباس څخه دی نقل کوی دمره بن ابن مسعود څخه دی نقل کوی ديوډلی دصحابوو څخه وو آدم عليه السلام چی په نکاح کوله به يې ديوه نس دواړه حمل دبل نس ددواړو حمل سره، نوهابيل وغوښته چی واده وکی دقابيل دخور سره اوخور دقابيل ددی څخه ښائسته وه.

اودا قابيل دهابيل څخه مشرهم وو، نوقابيل وغوښته چی دی خپل خور ته په هابيل باندی ښه والی ورکی، نوآدم عليه السلام ورته امروکی چی په نکاح ورکی داخپله خور هابيل ته نوهغه انکار وکی اوامريې ورته وکی دصدقی ورکولو، او ولاړی آدم عليه السلام مکی ته چی حج وکی، آدم عليه السلام خپلو بچو ته دمزکو دحفاظت ذمداری ورکړه نوټولو انکار وکی تردی چی قابيل دا ذمواری قبوله کړه، بياچی کله دی هابيل اوقابيل دواړو صدقه ورکوله نوهابيل يوه غټه بچی داوښی ورکړه اودده سره پسونه اوبزی ډيری وی. اوقابيل ورکړه يوه ګيډی دخپلو کروندو څخه چی بيکاره وه نواور رالی اودهابيل صدقه يې وخوړله اودقابيل صدقه يې پريښووله، نوقابيل ته درد ورلی اوهابيل ته يې وويل چی زه تاوژنم چی ته زما دخور سره واده ونه کی، نودی هابيل ورته وويل چی الله ﷻ صدقه دمتقيانو قبلوی. اودارنګه روايت ذکر کړی دی ابن عباس په نورو وجوهو سره، په نقل کولو سره دعبدالله بن عمر څخه ده ويلی دی په دی روايت کی چی زمادی قسم وی په الله ﷻ باندی چی مقتول زورور وو دقاتل څخه. ليکن منع کی دی حرج چی اوږد کی لاس خپل وهغه ته، اودارنګه ذکرکړی دی ابوجعفر الباقر چی آدم عليه السلام زيری ورکی دخوشحالی دوی ته په قبليدو باندی دهابيل څخه اوپه نه قبليدو باندی دقابيل څخه نوقابيل وويل آدم عليه السلام ته: چی دهابيل څخه ځکه قبول سو چی هغه ته تادعا کړی وه اوماته دی دعانه وه کړی، اووعده يې وکړه دخپل ورور سره دهغه کارچی قصد يې ورته کړی وو چی دهغه وژل وو. پس يوه شپه وه چی هابيل دپسو او بزو سره ناوخته کی، نو وليږی آدم عليه السلام قابيل چی وګوری چی ده ولی ناوخته کی، کله چی

ولاړی قابیل نودی یې ولیدی دخپل کار سره نوورته یې وویل چی ستاسه الله ﷻ صدقه قبوله کړه اوزماسه یې قبوله نکړه نوهابیل ورته وویل چی الله ﷻ قبلول کوی دپرهیزګارانو څخه نوغصه سو قابیل په دی خبره باندی او ویې وهی هابیل په اوسپنه باندی چی دده سره وه نودی یې مړکی. او بعضو ویلی دی چی دی یې مړکی په ویشتلو سره په ډبری باندی پر سر، اودی بیده وو نووفات سو. اوبعضو ویلی دی چی دی ته یې پر مری باندی زور ورکړی وو اونوکان یې په لګولی وو لکه څه رنګه چی حیوان نوکان لګوی نو مړ یې کی. والله اعلم. اوقول دهابیل کله چی ورته دقتل اخطار ورکول کیدی: لَئِنْ بَسَطْتَ إِلَيَّ يَدَكَ لِتَقْتُلَنِي مَا أَنَا بِبَاسِطٍ يَدِيَ إِلَيْكَ لِأَقْتُلَكَ إِنِّي أَخَافُ اللهَ رَبَّ الْعَالَمِينَ داقول دلالت کوی په حسن خلق دده باندی اوپه خوف باندی دالله ﷻ څخه دا دلالت کوی په خشیت اوعاجزی دده باندی او ځان یې بچ ساتی دهغه کار څخه چی وررور ورته اراده کړی وه یعنی هغه ورته دقتل اراده کړی وه نوده ورته دا اراده نه وه کړی. اوددی وجی څخه ثابت سوی دی په صحیحینو کی درسول الله ﷺ څخه چی هغه فرمایلی دی: کله چی دوه مسلمانان په خپلو کی دیوبل سره مخامخ سی دتورو په لحاظ نوقاتل اومقتول دواړه به په جهنم کی وی: نوصحابوو پوښتنه وکړه چی ای دالله رسوله. قاتل خوقتل کوی نوځکه جهنم ته ځی نومقتول ولی جهنم ته ځی؟ نورسول الله ﷺ وفرمایل چی: دی حریص وو دهغه پر قتل باندی (۱)

اودا رنګه قول دده: إِنِّي أُرِيدُ أَنْ تَبُوءَ بِإِثْمِي وَإِثْمِكَ فَتَكُونَ مِنْ أَصْحَابِ النَّارِ وَذَلِكَ جَزَاءُ الظَّالِمِينَ ، یعنی زه پریږدم قتل ستا که څه هم چی پرتا زوروریم او قوی یم او ما دا عزم کړیدی چی ته ککړ سی زما په ګناه باندی اوپه خپله ګناه باندی، یعنی زما دقتل په ګناه باندی به هم ملوث سی اوکم چی دی خپله مخکی کړی دی په هغه کی هم ککړ سی، داقول ذکر کړیدی مجاهد او السدی او ابن جریر اوداسی نورو، او دلته دا مراد نه دی چی ګناهونه دمقتول ټول اوړی دقاتل غاړی ته په مجرد قتل سره لکه څرنګه چی داوهم کړیدی بعضو خلګو، او هرڅه چی داخلګ ذکر کوی حدیث دنبی ﷺ نودغه خلګ دهیڅ څخه نه دی خبر لکه دا قول سو: چی نه به پریږدی قاتل پرمقتول باندی ذره هومره ګناه. (۲) نو ددې حدیث دپاره بالکل

---

ددی حدیث تخریج کړی دی امام بخاری په: کتاب الفتن کی. باب اذا التقی المسلمان بسیفهما (۱۳\ ۷۰۸۳) اومسلم په کتاب الفتن اشراط الساعة (۱۸\۱۱) کی ذکر کړی دی. او ابوداود په کتاب الفتن والملاحم، باب فی النهی عن القتال فی الفتنة (۴\۴۲۶۸) اونسايې په کتاب التحریم کی باب تحریم القتل (۷\ ۴۱۰۳) اوابن ماجه په کتاب الفتن. باب اذا التقی المسلمان بسیفهما، اوالفاظ ددی دادی: که په دوو مسلمانانوکی یوه پر بل باندی اسلحه لوړه کړه نودواړه به په جهنم کی وی، نوکه یودا بل قتل کی نودواړه به په کی داخلیږی.

(۲). داذکردی په الدرر المنتثرة فی الاحادیث المشتهرة (۳۵۹) کشف الخفاء (۲\ ۲۴۰) اوویلی دی سخاوی په المقاصد الحسنه (۹۵۰) اوویلی دی ابن کثیر: ددی دپاره بالکل اصل نسته اومعنايې صحیح ده لکه څه رکم چی =

اصل نسته، داحدیث ضعیف دی لیکن په دې قول باندی اتفاق سویدی دبعضو خلگو چی دقیامت په ورځ به مطالبه کوی مقتول دقاتل څخه نونه به وی حسنات دقاتل چی پوره والی وکړی دمقتول دپاره نو وابه ړول سی گناهونه دمقتول قاتل ته، لکه څرنگه چی ثابت سوی دی داپه صحیح احادیثوکی دټولو ظلمونوپه باره کی، اوقتل په دې ظلمونوکی غټ ظلم دی، اوموږ دا ذکر کړیدی په تفسیر کی.

او دارنگه روایت ذکر کړیدی امام احمد اوابو داؤد اوترمذی په نقل کولو سره دابی وقاص څخه چې ده ویلی دی په وخت دفتنې دعثمان بن عفان کی: چی رسول الله ﷺ فرمایلی دی، یقیناً یوه فتنه به په تاسی کی واقع کیږی په هغه کی به ناست غوره وی دولاړ څخه او ولاړبه په کی ښه وی دتلونکی څخه اوتلونکی به ښه وی دلوړ ختونکی اومنډه وهونکی څخه. نوصحابی ویله چی ای دالله رسوله ایاته پیدا کی چی زما کور ته څوك رادننه سی اوماته لاس را اوږدکړی. نورسول الله ورته وفرمایل چی، ته سه په شان دزوی دآدم ﷺ (١)

اودارنگه روایت ذکر کړی دی ابن مردویه دحذیفه بن الیمان څخه مرفوعاً، چی هغه فرمایلی دی: ته سه په شان دښه دځامنو دآدم ﷺ په بل روایت کی امام احمد ویلی دی په نقل کولو سره دابو معاویه څخه او دوکیع څخه، چی دا دواړه وایی چی موږ ته داحدیث بیان کړی دی اعمش دی نقل کوی دعبدالله بن مره څخه اودی نقل کوی دمسروق څخه دی نقل کوی دابن مسعود څخه دی وایی چی فرمایلی دی رسول الله ﷺ: نه قتل کیږی یونفس په ظلم سره مگروی به زوی دآدم چی اول قتل یې کړی دی څه حصه په گناه دده کی، ولی هغه اول شخص دی چی داسنت یې اجراء کړیدی. (٢)

اوپه (قاسیون) نومی علاقه کی چی په شمال ددمشق کی واقع دی هلته یوڅو غارونه دی چی هغه ته مغارات الدم ویل کیږی دا مشهوره دی په دی خبری چی په هغه ځای کی قابیل

---

= دانقل کړی ابن حبان دعمر څخه مرفوعاً په دی الفاظو سره: یقیناً توره محو کونکی ده دگناهونو. اودعقیلی دپاره په ترجمه داصوم بن غیاث کی، چی هغه دضعفائو څخه شمارل سوی دی، دادی: نه تیریږی یوه توره پرچا باندی مگروی محوه کوونکی دهغه گناهونو لره. مگر ناصر الالبانی ویلی دی په السلسلة الضعیفه کی (۲۸۷۱) چی ددی دپاره بالکل اصل نسته.

(١). ددی حدیث تخریج کړی دی ترمذی په: کتاب الفتن کی، باب ماجاء تکون فتنة، القاعد فیها خیر من القائم (۱۹۴\۴) ابوعیسیٰ ویلی دی، اوروایت سوی دی ددی حدیث دسعد څخه هغه نقل کړی دی دنبی ﷺ څخه اواحمد نقل کړی دی داپه (۱\ ۱۸۵) اوابوداود په کتاب الفتن والملاحم کی: باب فی النهی عن السعی فی الفتنه (۴۲۵۷\۴) اوصحیح کړی دی دا البانی په الجامع الصغیر کی (۱\۲۳۱).

(٢). ددی حدیث تخریج بخاری کړی دی په کتاب احادیث الانبیاء کی، باب خلق آدم وذریته (۲\ ۳۳۳۵) اومسلم: په کتاب السامه، باب اثم من سن القتل (۱۱۲۲۱) اوترمذی: په کتاب العلم کی، باب ماجاء: الدال علی الخیر کفاعله (۵\ ۲۲۷۳) اودا حدیث حسن اوصحیح دی اونسایي په کتاب تحریم الدم کی (۷\۳۹۹۲).

(c) ketabton.com: The Digital Library



خپل ورور هابیل قتل کړی دی، اودا خبره نقل سویده داهل کتابو څخه.
اودارنګه قول دالله ﷻ : فَبَعَثَ اللهُ غُرَابًا يَبْحَثُ فِي الْأَرْضِ لِيُرِيَهُ كَيْفَ يُوَارِي سَوْأَةَ أَخِيهِ قَالَ يَا وَيْلَتَا أَعَجَزْتُ أَنْ أَكُونَ مِثْلَ هَذَا الْغُرَابِ فَأُوَارِيَ سَوْأَةَ أَخِي فَأَصْبَحَ مِنَ النَّادِمِينَ (المائدة ۳۱) څه علمائو داخبره ذکر کړیده چی ده داخپل ورو یوکال په اوږه باندی ګرځولی دی. اونورو ویلی دی چی لوړکړی یې وو داسل کاله او وو همداسی تردی چی راولیږل الله ﷻ دوه کارغان، امام السدی ویلی دی په اسناد خپل سره صحابوو ته چی دادوه ورونه وه دواړو دیوبل سره جګړه وکړه نودایوه دابل قتل کی اوبیایې ورلره کنده وکښله اوپه هغه کی یې دفن کی اودا یې ده ته ښودله چی دی هم خپل ورور په داسی طریقی سره دفن کی، نوکله چی ده ولیده داطریقه نووی ویل (یاویلتٰی اعجزت) نوده وکړه لکه څرنګه چی کړی وه هغه کارغه اودفن یې کی خپل ورور. او ویلی دی مجاهد چی قابیل ته په جزاء ورکولو کی تیزی وسوه اوپه هغه ورځ ورته عذاب ورکول سو په کم ورځ یې چی خپل ورور ووژی اودواړه ځنګنونه یې ورمعلق کړه په دواړو ورنونو پوری، او وګرځول سو مخ دده دلمر اړخ ته دادوجی دده دګناه څخه اودوجی دده دحسد اوبغض څخه دخپل ورور سره او دپلار سره.
اودارنګه په حدیث کی داسی ذکرسوی دی چی رسول الله ﷺ فرمایلی دی: چی داسی یوه ګناه هم نسته چی دهغه عقوبت الله ﷻ په دنیاکی انسان ته ورکوی سره ددی چی په آخرت کی ورته هم دهغه جزاء ورکول کیږی مګر هغه ظلم دی اوخپلولی قطعه کول دی. ([1])
اوهرڅه چی هغه څه دی چی ذکردی په کتاب داهل کتابو کی چی دوی ګمان دتورات پر کوی: چی الله ﷻ نیته ورکړه ده ته، اودی اوسیدی په (نود) مقام کی چی داپه شرق اړخ دعدن کی ده اودا اوسنی خلګ ورته (قنین) وایی اودده یوزوی پیداسو چی نوم یې خنون وو اودخنون یوزوی وو چی نوم یې عندر وو اودعندر زوی محوایل او دمحوایل زوی متوشیل اودمتوشیل زوی لامك وو. ده دوی ښځی کړی وی: چی دیوی نوم عداوه اودبلی نوم صلاوه. نوپیداسو دعدا څخه یوزوی چی نوم یې (ابل) وو اودی اول هغه شخص وو چی اوسیدلی دی په قباب کی اومال یې جمع کړی وو. اوبل زوی یې پیداسو چی نوم یې (نوبل) وو اودا اول هغه شخص وو چی ده دساز دپاره دوی کاسی جوړی کړی وی اودواړی به یې یو دبله وهلی. اوپیداسو د(صلا) څخه یوزوی چی نوم یې (توبلقین وو اودی اول هغه

([1]). داحدیث صحیح دی تخریج ددی ترمذی کړی دی په کتاب القیامت کی، باب (۵۷) (۱۱۲۵\۴) اوویلی یې دی چی داحدیث حسن صحیح دی، اوابوداود په کتاب الادب کی ذکرکړی دی، باب النهی عن البغی (۴۹۰۲\۴) اوابن ماجه: په کتاب الزهدکی \ باب البغی (۲۵۴\۲) اودایې ویلی دی چی داصحیح الاسناد دی اوصحیح کړی دی دا البانی په الادب المفرد کی ۴۸.

(c) ketabton.com: The Digital Library



شخص وو چی دپیتلو ځخه اوداوسپنی ځخه یې اسباب جوړ کړی وه، اویوه لوریې پیدا سوی وه چی نوم یې (نعمه) وه. اودا هم ورسره ذکردی چی آدم علیه السلام خپلی ښځی ته یو وار راغی نوددی ښځی ځخه پیداسو یوغلام چی دهغه نوم یې (شیش) کښیښووی اوویل سوی دی چی دانوم یې ورته ځکه ایښوولی دی چی دی ورلره الله جل جلاله دهابیل په مقابل کی هبه کی. اوپیدا سو دشیث علیه السلام یوزوی چی نوم یې نوش وو.
اوویل سوی دی چی عمر دآدم علیه السلام تردغه ورځی پوری چی په کمه ورځ کی دهغه زوی شیث پیداسوی وو یوسل او دیرش کاله وو، او وو عمر دشیث په هغه ورځ چی دده زوی انوش پیداسوی وو یوسل او پنځه شپیته کاله وو اودوی دواړو بیا ددی دپیدائش ځخه وروسته (۸۰۷) کاله ژوند تیرکړی دی. اوددوی نور زامن او لوڼی هم پیداسوی وی ماسوا دانوش ځخه. اودانوش یوځوی پیداسو چی نوم یې قینان وو اودانوش عمر په دغه وخت کی نوی کاله وو او ددی دپیدائش ځخه وروسته یې (۸۱۵) کاله ژوند تیرکړی دی اوددی هم نور ځامن اولوری پیداسوی وی، بیاچی کله وو عمر دمهلاییل پنځه شپیته کاله دده هم یو زوی پیداسو چی نوم یې (خنوخ) وو اوددی دپیدائش ځخه وروسته یې (۸۰۰) کاله ژوند نور تیرکړی دی اودده نور اولاد هم وو ماسوا دخنوخ ځخه.
بیاچی کله وو عمر دخنوخ پنځه شپیته کاله نودده یوزوی پیداسو چی نوم یې متوشلخ وو اودده دپیدائش ځخه وروسته یې (۸۰۰) کاله ژوند نور تیرکړی دی، بیاچی کله وو عمر دمتوشلخ (۱۸۷) کاله نودده یوزوی پیداسو چی نوم یې (لامك) وو اودده دولادت ځخه وروسته یې (۷۸۲) کاله ژوند تیرکړی دی اودده هم نور اولاد سوی وو، اوبیاچی کله وو عمر دلامك (۱۸۲) کاله نودده یوزوی پیداسو چی نوم یې (نوح) وو اودده دپیدائش ځخه وروسته یې (۵۹۵) کاله نور ژوند تیرکړی دی اودده نور اولاد هم پیداسوی دی. بیاچی کله دنوح علیه السلام عمر (۵۰۰) کاله وو دده دری ځامن پیدا سوه چی نومونه یې (سام، حام، یافث) دی داهغه مضمون دی کم چی داسرائیلو په کتاب کی په وضاحت سره ذکرسوی دی دتاریخ په محفوظ کیدلو کی نظردی ولی چی په دی کی ډیری غلطیانی دی چی هغه به موږ ذکر کوو په خپلو مواضعو کی انشاء الله جل جلاله، اودارنګه ذکرکوی امام ابوجعفر بن جریر په تاریخ خپل کی چی دحواء دآدم علیه السلام ځخه ځلویښت بچی په (۲۰) حملونو کی [1] پیدا سوی وه اوابن اسحاق ویلی دی چی دوی نومونه هم پر ایښی دی. والله اعلم.
اوچا ویلی دی چی په (۱۲۰) حملونو کی یې دوه دوه بچی زیږولی دی چی یو به نارینه او بله به زنانه وه. چی اول په هغه کی قابیل او دهغه خور وه اوآخر دهغه عبد المغیث وو، بیا

---

(۱). داپه تاریخ الطبری ۸۹\۱ کی ذکردی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



خپاره سو خلګ دهغه څخه وروسته په مځکه کی اوقبیلی اوډلی جوړی سوی، اوتر لیری ځایونو پوری خلګ ولاړه لکه څه رنګه چی الله ﷻ فرمایلی دی: يَا أَيُّهَا النَّاسُ اتَّقُوا رَبَّكُمُ الَّذِي خَلَقَكُمْ مِنْ نَفْسٍ وَاحِدَةٍ وَخَلَقَ مِنْهَا زَوْجَهَا وَبَثَّ مِنْهُمَا رِجَالًا كَثِيرًا وَنِسَاءً، (النساء ۱\) اودارنګه ذکرکړی دی اهل تواریخو چی آدم ﷷ وفات سوی نه وو تردی چی دخپل نسل څخه یې (۴۰۰۰) افراد لیدلی وه. والله اعلم. اودارنګه الله ﷻ فرمایلی دی: هُوَ الَّذِي خَلَقَكُمْ مِنْ نَفْسٍ وَاحِدَةٍ وَجَعَلَ مِنْهَا زَوْجَهَا لِيَسْكُنَ إِلَيْهَا فَلَمَّا تَغَشَّاهَا حَمَلَتْ حَمْلًا خَفِيفًا فَمَرَّتْ بِهِ فَلَمَّا أَثْقَلَتْ دَعَوَا اللَّهَ رَبَّهُمَا لَئِنْ آتَيْتَنَا صَالِحًا لَنَكُونَنَّ مِنَ الشَّاكِرِينَ (۱۸۹) فَلَمَّا آتَاهُمَا صَالِحًا جَعَلَا لَهُ شُرَكَاءَ فِيمَا آتَاهُمَا فَتَعَالَى اللَّهُ عَمَّا يُشْرِكُونَ (۱۹۰)، (الاعراف ۱۸۹\۱۹۰) نودا تنبیه ده اول آدم ﷷ ته اوبیا ذکر دجنس دی. اونه دی مراد په دی ځای کی صرف آدم ﷷ اوحواء، ولی چی اول ذکر دشخص واحد سوی دی بیا وروسته ذکر دجنس سوی دی لکه څه رنګه چی ذکرسوی دی په دی قول دالله ﷻ کی: وَلَقَدْ خَلَقْنَا الْإِنْسَانَ مِنْ سُلَالَةٍ مِنْ طِينٍ (۱۲) ثُمَّ جَعَلْنَاهُ نُطْفَةً فِي قَرَارٍ مَكِينٍ (۱۳) (المومنون ۱۲\ ۱۳) دارنګه دآدم ﷷ په فضائلو باندی ډیر احادیث وارد دی چی یودهغه څخه داقول درسول الله ﷺ دی چی دابی ذر ﷛ څخه نقل دی دی وایی چی ماپوښتنه وکړه درسول الله ﷺ څخه چی ټول پیغمبران څودی؟ نورسول الله ﷺ ماته جواب راکی چی (۱۲۴۰۰۰) دی نوما بیاپوښتنه وکړه چی په دی کی څورسولان دی؟ نورسول الله ﷺ وفرمایل چی (۳۱۳) دی چی داجم غفیردی: نوماورته وویل چی اول ددی څخه څوك وو؟ نو ویې فرمایل چی آدم ﷷ دی نوما ورته وویل چی ایادی نبی اورسول دواړه دی؟ نورسول الله ﷺ راته وویل چی هو! پیدا کړی دی الله ﷻ دی په خپلو لاسونو سره او بیایې په کی دخپل روح څخه روح وراچولی دی اوبیایې برابر کړی دی دمخ داړخ څخه. ([1])

اودارنګه ویلی دی طبرانی په نقل کولو سره دابراهیم بن نائلة الاصبهانی څخه دی نقل کوی دشیبان بن فروخ څخه دی نقل کوی دنافع بن هرمز څخه دی نقل کوی دعطاء بن رباح څخه دی نقل کوی دابن عباس څخه دی وایی چی فرمایلی دی رسول الله ﷺ: چی ایازه نه خبروم تاسی په ښه ملائکو باندی چی هغه جبریل دی، اوپه ښه پیغمبر باندی چی آدم ﷷ دی اوپه ښه ورځ باندی چی ورځ دجمعی ده اوپه ښه میاشت باندی چی میاشت دروژی ده، اوپه ښه شپی باندی چی شپه دلیلة القدرده، اوپه ښه ښځی باندی چی مریم بنت عمران ده ([2]) دا اسناد ضعیف دی، او ویلی دی کعب الاحبار: نه به وی په جنت کی دهیڅ چا دپاره

---

([1]). داخه حصه ده داوږد حدیث څخه چی تخریج یې کړی دی احمد (۵\ ۲۴۴).

([2]). داموضوعی حدیث دی تخریج ددی کړی دی الطبرانی (۱۱ح ۱۱۳۴۱) اوهیثمی ویلی دی په المجمع کی =

ږیره مګر دآدم عليه السلام به ږیره وی. ږیره دده به توره وی اوترنامه پوری به وی اواسم کنیه به نه وی دهیڅ چادپاره په جنت کی مګر دآدم عليه السلام دپاره به وی، په دنیاکی ورته ابو البشر ویل کیږی اوپه جنت کی به ورته ابو محمد ویل کیږی.
اودا رنګه روایت ذکرکړی دی ابن عدی دطریقی دشیخ ابن ابی خالد څخه چی هغه نقل کوی دحماد بن سلمه څخه دی نقل کوی دعمرو څخه دی نقل کوی دابن دینار څخه دی نقل کوی دجابر بن عبدالله څخه مرفوعًا: دی وایی چی اهل جنت والا به رابلل کیږی په جنت کی په خپلو نومونو سره مګرنه آدم عليه السلام چی هغه به په اسم کنیه سره رابلل کیږی چی ابا محمد دی اوددی روایت ابن عدی هم دی چی هغه نقل کوی دعلی بن ابی طالب څخه او هغه ضعیف دی په ټولو وجوهو سره. ([1])
اوپه حدیث داسراء کی هغه چی په صحیحینو کی ذکر دی: کله چی رسول الله صلى الله عليه وسلم په آدم باندی تیرسو اودی وو په آسمان ددنیاکی، نوورته یې وفرمایل چی په خیر راغلی دی وی تالره ابن صالحه اوای نبی صالحه، نورسول الله صلى الله عليه وسلم وفرمایل چی ماوکتله دهغه راسته اړخ ته نویوه توره ډله ناسته وه اوکله چی می وکتله دهغه چپه اړخ ته نویوه توره ډله وه کله چی دده راسته اړخ ته می وکتله نوخندل یې اوکله چی می ورته چپه اړخ ته وکتل ژړل یې، نوما وفرمایل چی ای جبرایله داڅه دی؟ نوجبرایل وویل چی داپه مینځ کی آدم عليه السلام دی اودواړو اړخونو ته یې نسل دی کله چی دی خپل راسته اړخ ته وګوری نو وخاندی اوکله چی خپل چپه اړخ ته وګوری نو وژاړی ولی چی دا رسته اړخ جنت والادی اوچپه اړخ والا جهنمیان دی ([2])
اودارنګه ابوبکر البزار ویلی دی په نقل کولو سره دمحمد بن المثنٰی څخه دی نقل کوی دیزید بن هارون څخه دی نقل کوی دهشام بن حسان څخه دی نقل کوی دحسن څخه دی وایی چی وو عقل دآدم عليه السلام په شان دټولو بچو دآدم عليه السلام اوویلی دی بعضو علماوو په دی قول درسول الله صلى الله عليه وسلم کی: نو وروسته زه تیرسم په یوسف عليه السلام باندی اوهغه وو چی هغه ته ورکول سوی وو څه حصه دحسن، اومعنٰی ددی داده چی دی وو په نیمایې دحسن دآدم عليه السلام

= (۲\۱۴۵) او روایت ددی کړی دی طبرانی په الکبیرکی اوپه هغه کی نافع ابو هرمز دی اودا ضعیف دی اودا رنګه یې ویلی دی په (۳\۲۴۰) او دارنګه یې ویلی دی په (۸\ ۱۹۸) اودا متروك دی، اوویلی دی البانی په ضعیفو کی (۲۱۵۷) چی داموضوعی دی. والله اعلم
([1]). ددی راوی ابن عدی دی دایې ذکر کړی دی په الکامل کی (۴\ ۲ ۳۰) اوپه الموضوعات دابن جوزی کی (۱۲\ ص ۴۲۸) او ویلی یې دی چی داحدیث نه دی صحیح درسول الله صلى الله عليه وسلم څخه.
([2]). داصحیح حدیث دی داڅه جزء دی دیواوږد حدیث څخه تخریج ددی کړی دی امام بخاری په کتاب الصلاة کی، باب کیفیت الصلوات المفروضه فی الاسراء (۱\ ۳۴۹) اواطراف ددی په (۱۴۳۴، ۳۴۳۲) اومسلم په کتاب الایمان کی، باب الاسراء برسول الله صلى الله عليه وسلم ۲\۲۱۷، ۲۲۳) او احمد په (۵\ ۱۴۳، ۱۴۴).

باندی اودا مناسبه ده، ولی چی الله ﷻ پیدا کړی دی آدم په خپلو لاسونو سره اوصورت یې ورکی په خپلو لاسونو (یعنی په خپل قدرت سره) اوروح یې په کی خپله اچولی دی. نو الله ﷻ به نه وو چی پیداکوی به یې ښائسته شیان.

اودارنګه روایت نقل سوی دی دعبدالله بن عمر څخه او دابن عمر څخه هم داسی روایت دی مرفوعًا اوموقوفًا په دواړو صورتونوکی: کله چی الله ﷻ جنت جوړکی نوملائکو ورته وویل چی ای زموږ ربه وګرځوه دازموږ دپاره ولی چی تاګرځولی دی آدم ﷺ لره دنیا اوهغه په هغه کی خوراك اوڅښاك کوی، نو الله ﷻ ورته وفرمایل چی زمادی په خپل عزت اوجلال باندی قسم وی چی زه به دننه کوم په دی کی نیکان اوصالحین، یعنی داجنت دصالحینو دپاره جوړدی (١) دارنګه په بل روایت کی رسول الله فرمایلی دی: یقینًا الله ﷻ پیداکړی دی آدم ﷺ په صورت خپل باندی (یعنی دبل چاپه صورت نه وو) (٢) پردی حدیث باندی ډیر اوږد بحث سوی دی چی داځای دتفصیل نه دی.

## وفات دآدم ﷺ او وصیت دهغه خپل زوی شیث ﷺ ته

معنٰی دشیث: دالله ﷻ هبه (یعنی دالله ﷻ ورکړه)، اوداورته ځکه ویل کیږی چی دا الله ﷻ آدم ﷺ ته هبه کړی وو وروسته دوفات دهابیل څخه، ویلی دی ابوذر ﷺ په حدیث خپل کی په نقل کولو سره درسول الله ﷺ څخه: یقینًا الله ﷻ نازل کړی دی دآسمان څخه (١٠۴) صحیفی، اودهغه څخه یې په شیث ﷺ باندی (۵٠) صحیفی نازل کړی دی.

ویلی دی محمد ابن اسحاق: کله چی حاضرسو آدم ﷺ ته مرګ نووصیت یې وکی شیث ﷺ ته اوهغه ته یې وښووله دشپی اودورځی ګینتیی، اوورته یې ددغو وختونو عبادتونه هم ورته وښووله، اوورته یې داهم ویل چی په وروسته وخت کی به طوفان راځی. اوویل سوی دی چی دبنی آدم دنسب خاتمه په شیث ﷺ باندی سوی دی اونور اولاد دآدم ﷺ ټول مړه سوی دی اونیستی سوی دی. والله اعلم. اوکله چی وفات سوآدم ﷺ نووه ورځ دجمعی رالی ورته ملائکی سره دخشبویانو اوکفن دطرفه دالله ﷻ دجنت څخه او عزتمندیې کی په دی کی شیث ﷺ اوده ته یې وصیت وکی. ابن اسحاق وایي: تندر ونیوی لمر اوسپوږمی تر (٧) ورځو اوشپو پوری. اودارنګه ویلی دی عبدالله بن الامام احمد په نقل کولو سره دهدبه بن خالد څخه دی نقل کوی دحماد بن سلمه څخه دی نقل کوی دحمید څخه دی نقل کوی دحسن څخه دی نقل کوی دیحیٰی څخه دی نقل کوی دابن ضمره السعدی څخه دی

---

(١). روایت ددی ذکرکړی دی عثمان بن سعید الدارمی دعبدالله بن عمر څخه مرفوعًا اوداصحیح دی، همدارنګه ذکر ددی ابن کثیر په البدایه والنهایه کی (١\۵۵) هم کړیدی.

(٢). داځه حصه ده دحدیث څخه تخریج ددی کړی دی بخاری په کتاب الاستئذان کی، باب بدء السلام (١١\٢٢٢٧) اومسلم په کتاب البرو الصله کی، باب النهی عن ضرب الوجه (١٢\١٢٢) اواحمد (٢\٢٢٢) دابی هریره څخه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



وایي ما ولیدی یوشیخ په مدینه منوره کی خبری یې کولی مادهغه په باری کی پوښتنه وکړه نوخلګو راته وویل چی دا ابی بن کعب دی، نوده ویل: کله چی آدم ﷺ ته مرګ حاضر سو نوخپل زامنو ته یې وویل: ای زمابچو زمادجنت میوو ته زړه سوی دی. نودی وایی چی دده ځامن ولاړه چی دا میوی طلب کړی. نومخامخ سوی دوی ته په لاره کی ملائکی او ددوی سره دآدم ﷺ کفن اوخوشبویانی وی، اودوی سره وو تبر، اوبیلچه. اوبچی. نودوی ورته وویل چی ای بنی آدمو تاسی څه غواړی اودڅه شی طلب کوی؟ دوی ورته وویل چی پلار زموږ ناجوړی دی اودهغه دجنت میوو ته زړه سوی وو، نودوی ملائکو ورته وویل چی ولاړ سی ستاسی پلار وفات سوی دی. کله چی دوی راله نوددوی پلار وفات سوی وو او کله چی دوی ولیده حواء نودوی یې وپیژنده. اوبیا داپیوسته سوه په آدم ﷺ پوری. نوآدم ﷺ ورته وفرمایل چی لیری سه زما څخه ولی چی زه ستا دوجی څخه دلته راغلی یم، نو یوائی والی راوله زما اودملائکو په مینځ کی، نودده څخه یې روح واخیسته او غسل یې ورکی اوکفن یې پر وپیچی اوخوشبویانی یې پر ولګولی، اوقبریې ورته وکښنی اولحدیې ورته جوړکی اودجنازی لمونځ یې ورکی اوبیایې قبرته داخل کی اوپه قبرکی یې کښیښووی اوبیایې خاوری پر ورواچولی، بیادی ملائکو وویل: ای بنی آدمو داستاسی طریقه ده په مړو کی (١) اسناد ددی صحیح دی ده ته.

اودارنګه روایت ذکرکړی دی ابن عساکر دطریقی دشیبان بن فروخ څخه دی نقل کوی دمحمد بن زیاد څخه دی نقل کوی دمیمون بن مهران څخه دی نقل کوی دابن عباس څخه دی وایی چی فرمایلی دی رسول الله ﷺ: تکبیرات وکړه ملائکو په آدم ﷺ باندی څلور تکبیرات، اوتکبیرات به کوی ابوبکر پرفاطمه باندی اوتکبیرات به کوی عمر په ابوبکر باندی څلور واره، اوتکبیرات به کوی صهیب پرعمر باندی څلور واره. (٢) دا ویلی دی ابن عساکر. اوراوی ددی غیر دابن میمون څخه بل څوك دی نوبعضی ویلی دی چی ابن عمر دی. او اختلاف سوی دی په هغه ځای کی چی آدم ﷺ په کی دفن سوی دی نو مشهوره

---

(١). ددی حدیث تخریج امام احمد کړی دی (۵\ ۱۲۲) اوهیثمی وایی په المجمع کی (۸\ ۱۹۹): روایت ددی کړی دی عبدالله بن احمد اوپه مسند الرویانی (۱۳\ ۱۷) کی مرفوعًا ذکردی په دی لفظ سره: کله چی آدم ﷺ وفات سو نو ملائکو ولمبوی. اوبنی آدم ته یې وویل چی داستاسی طریقه ده په مړو کی. اودا ذکر کړی دی المقدسی په المختارات کی.

(٢). داضعیف حدیث دی راوی ددی ابونعیم دی چی دایې په الحلیه (۴\۹۲) کی ذکر کړی دی اوددی دپاره شاهد سته دحدیث دانس څخه چی روایت یې کړی دی حاکم په مستدرك کی (۱\۳۸۵) اوویلی یې دی چی داحدیث حسن اوصحیح دی اوشیخینو ددی تخریج نه دی کړی اوالمبارك بن فضاله داهل زهد اواهل علم والاو څخه دی اوضعیف ګرځولی دی دا البانی په ضعیف الجامع الصغیرکی (۴۱۲۰۰)، مګر دالبانی ضعیف کیدل دې حدیث لره صحیح نه دی، ځکه چی البانی ډیر صحیح حدیثونه ضعیف اوډیر ضعیف حدیثونه قوی بللی دی. والله اعلم

(c) ketabton.com: The Digital Library



خبره داده چې دی دفن سوی دی دهغه غرسره دکم سره چې دی دآسمان څخه راکښته سوی وو چې په هندوستان کې دی اوبعضې وایې چې دی په غر دابې قیس کې دفن سوی دی کم چې په مکه کې دی.
اوویل سوی دی چې کله دنوح ؈ دطوفان زمانه وه نونوح ؈ آدم اوحواء دواړه په تابوت کې لوړ کړه اوپه بیت المقدس کې یې پټ کړه دانقل سوی دی دابن جریرڅخه اوابن عساکر دبعضو څخه روایت کړی دی چې ویل سوی دی چې سریې دمسجد ابراهیم سره دی او دواړی پښې یې دصخره دبیت المقدس سره دی. اووفات سوی وه حواء دده څخه یوکال وروسته.
اواختلاف سوی دی دآدم ؈ په عمر کې: نوموړ مخکې ذکرکړه په حدیث دابن عباس کې اوپه حدیث دابې هریره کې مرفوعًا: چې په لوح محفوظ کې دده عمر زر کاله لیکل سوی وو اودا معارضه نه کوی دهغه څه سره چې په تورات کې ذکردی چې ددی عمر (۹۳۰) کاله وو، ولې چې ددوی په قول کې طعن دی اودا مردود دی، ولې چې په دی کې خلاف سوی دی دهغه څخه کم چې زموږ په لاس کې حق دی اومعصوم دی دخطایانو څخه، اودارنګه جمع ددی ممکنه ده په مابین دتورات اوهغه څه کم چې په حدیث کې دی، ولې څه چې په تورات کې ذکرسوی دی که داچیری محفوظ وی نودابه حمل وی په موده داقامت ددی په مځکه کې وروسته دراکښته کیدلو څخه، اودا (۹۳۰) کاله په حساب شمسی سره صحیح دی اوپه حساب قمری سره (۹۵۷) کاله جوړیږی اودی ته به اضافت وسی دهغه (۴۳) کالو کم یې چې په جنت کې تیرکړی دی مخکې دراکښته کیدو څخه لکه څه رنګه چې ذکرکړی دی ابن جریر اوداسی نورو نوسی به داټول (۱۰۰۰) کاله.
اوویلی دی عطاء الخراسانی: کله چې وفات سو آدم ؈ ژړا وکړه په دی باندی مخلوقاتو (۷) ورځې، اوروایت ددی کړی دی ابن عساکر کله چې وفات سو آدم ؈ نو وسپارل سوه ټول کارونه شیث ؈ ته، اودی وو نبی په بیان ددی حدیث سره چې روایت یې کړی دی ابن حبان په صحیح خپل کې دابې ذر څخه مرفوعًا: چې نازل سوی دی پر ده باندی (۵۰) صحیفې. بیاچې کله وفات کیدی دی نووصیت یې وکې خپل زوی ته چې انوش دی نودی ټول کارونه کوله دخپل پلار څخه وروسته. بیادده څخه وروسته زوی دده قنین اوبیا دده څخه وروسته زوی دده مهلاییل. اودی هغه دی چې ګمان پر کوی عجم دفارس چې داهغه سړی دی چې بادشاهی یې کړیده په (۷) واړو براعظمونو باندی، اودی اول هغه سړی دی چې ده درختې پری کړی وی اوآبادیانی یې جوړی کړی وی اوغټې غټې قلعې یې جوړی کړی وی، اودا هغه سړی دی چې ده جوړ کړی دی ښار دبابل اوښار دسوس الاقصٰی، او داهغه سړی وو چې ابلیس او دهغه ډله یې وشړله دمزکې څخه او دسمندر غاړوته یې ولیږل او دغرونو سرونو

(c) ketabton.com: The Digital Library



ته یې وشړل اوده قتل کړه ددوی مشران اومداوت وکی دده دولت (۴۰) کاله. اوکله چې دی وفات سو نودده زوی (یرد) دده په ځای باندی ټوله عهده سمباله کړه اوبیاچی کله ده ته مرګ رالی نوده وصیت وکی خپل زوی ته چی (خنوخ) دی چی هغه حضرت ادریس ؈ دی په مشهور قول سره.

## ادریس ؈

الله ﷻ په قرآن کریم کی فرمایلی دی: وَاذْكُرْ فِي الْكِتَابِ إِدْرِيسَ إِنَّهُ كَانَ صِدِّيقًا نَبِيًّا (٥٦) وَرَفَعْنَاهُ مَكَانًا عَلِيًّا (٥٧)، (مریم ۵۲ \ ۵۷) ادریس ؈ ته الله ﷻ نبوت ورکړی دی اوپه ربنتنوالی سره، اودده خپل نوم خنوخ دی اودی په ستنه دنسبت دنبی ﷺ کی راځی لکه څه رنګه چی داقول کړی دی بل چا ماسوا دعلماوو دنسب څخه. اودی وو اول بنی آدم چی ورته نبوت ورکول سو وروسته دآدم ؈ څخه او وروسته دشیث ؈ څخه. اوابن اسحاق وایی چی دی اول سړی دی چی په قلم باندی یې خط لیکلی دی، اوده پیدا کړیده دزمانی دآدم ؈ څخه (۳۰۸) کاله.

اودارنګه ویلی دی یوی ډلی دخلګو چی دامشار الیه په حدیث دمعاویه بن الحکم السلمی کی دی چی کله پوښتنه وکړه درسول الله ﷺ څخه په باره دخط بالرمل یعنی لیکل په شګو باندی اوفال نیول په هغه سره، نورسول الله ﷺ وفرمایل چی دانبی وو چی لیکل به یې کول په شګو باندی اوپه هغه سره به یې فال نیوی نودچا خط چی دهغه سره برابرسی نو همدغه به وی (١) اوډیر خلګ دعلماوو دتفسیر څخه اوداحکامو څخه داګمان کوی چی دی اول سړی دی چی ددوی په باره کی یې تکلم کړی دی، اوده ته یې نوم ورکړی دی دهرمس الهرامسه، اوپه دی پوری ددروغو خبری تړی لکه څه رنګه چی یې دنورو انبیاوو په سی اوعلماوو په سی اوحکماوو په سی دروغ ویلی دی.

اودا قول دالله ﷻ (وَرَفَعْنَاهُ مَكَانًا عَلِيًّا) دی لکه څه رنګه چی ثابت سوی دی داپه حدیث دصحیحینو کی په حدیث داسراء کی چی رسول الله ﷺ تیرسو په دوی باندی اودی وو په څلورم آسمان کی. اودارنګه یې آیت ذکرکړی دی ابن جریر په نقل کولو سره دانس څخه چی هغه نقل کوی دعبد الاعلی څخه دی نقل کوی دابن وهب څخه دی نقل کوی دجریر بن حازم څخه دی نقل کوی داعمش څخه دی نقل کوی دشمر بن عطیه څخه دی نقل کوی دهلال بن یساف څخه دی وایی چی پوښتنه وکړه ابن عباس دکعب څخه اوزه حاضروم په هغه ځای

(١). داصحیح دی تخریج ددی مسلم کړی دی په: کتاب المساجد کی، باب تحریم الکلام فی الصلاة (۵\۲۳) او ابوداود په کتاب الصلاة کی، باب تشمیت العاطس فی الصلاة (۹۳۰\۱) اوالنسایي په کتاب السهوکی، باب الکلام فی الصلاة (۳\ ۱۲۷۱)، اواحمد په (۵\ ۴۴۷) کی ذکر کړی دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



کی: نوورته ویې ویل چی څه مراددی دالله ﷻ په باره دادریس﵇ کی په دی قول کی ﴿وَرَفَعْنٰهُ مَكَانًاعَلِيًّا﴾ نوکعب وویله: هرڅه چی ادریس ﵇ دی نوالله ﷻ ده ته وحی وکړی چی زه به تاته لوړوم هره ورځ په شان دعمل دآدم ﵇. ولی چی دی دخپل زمانی شخص وو، نورالی ده ته دوست دده دملائکو څخه اوورته یې وویل: چی الله ﷻ ماته دا وفرمایل نو خبری یې وکړی تردی چی زیات سی عملاً. نودی یې لوړ کی په منځ ددواړو وزرو کی او آسمان ته یې وخیژوی کله چی دی ورسیدی څلورم آسمان ته نویو ځای سو دده سره ملك الموت په منعه، نوخبره یې وکړه دملك الموت سره په باره دهغه کی چی دادریس ﵇ سره یې پکښی خبری کړی وی، نو ویې ویل چی څه سو ادریس؟ دی زماپر ملا باندی دی. نو ورته ویې ویل چی څومره عجیبه کاردی زه خورالیږل سوی یم دده مرګ دپاره چی زه دده څخه روح قبض کړم په څلورم آسمان کی نوما وویل چی زه څه رنګه قبض کړم دهغه څخه روح حالانکی هغه په مځکه کی دی؟ نوروح یې ځینی واخستی په څلورم آسمان کی نوددی وجی الله ﷻ فرمایلی دی چی ﴿وَرَفَعْنٰهُ مَكَانًا عَلِيًّا﴾.

اودارنګه روایت ذکرکړی دی ابن ابی حاتم په خپل تفسیرکی. نودی لوړسو نو وویل دغه ملائکی ته. چی ته پوښتنه وکړه زما دپاره دملك الموت څخه چی زما څومره عمرپاته دی؟ نوده وویل چی ماته پته نسته تردی چی زه وګورم، نوکله چی یې وکتل نو ورته ویې وویل چی ته زما څخه پوښتنه کوی دهغه سړی په باره کی چی دهغه دسترګی درپ هومره وخت نه دی پاته، نوکله چی وکتله دی ملائکی دخپل وزر لاندی نو دده څخه روح اخستل سوی وو اوده ته پته هم نه وه. دا اسرائیلیات دی، اوپه بعضو ددی کی نکارت دی.

اوویلی دی ابن ابی نجیح په نقل کولو سره دمجاهد څخه په دی قول دالله ﷻ کی ﴿وَرَفَعْنٰهُ مَكَانًا عَلِيًّا﴾ دی وایی چی ادریس ﵇ هم لوړ سوی دی آسمان ته په دی حال کی چی هغه نه وو مړ په شان دعیسٰی ﵇ اوپه دی خبره کی چی هغه تراوسه پوری نه دی مړنوپه دی قول کی نظردی. اوکه مراد داسی چی دمزکی څخه ژوندی لوړ سوی دی اوبیا هلته وفات سوی دی نودا منافی نه ده لکه څنګه چی مخکی په قول دکعب الاحبار کی ذکرسو.

اوویلی دی عوفی په نقل کولو سره دابن عباس څخه په باره ددی قول کی ﴿وَرَفَعْنٰهُ مَكَانًا عَلِيًّا﴾ لوړسو دی (٦) آسمان ته نوهلته وفات سو اوهمدارنګه نقل کړی دی ضحاك. اومتفق علیه حدیث کی داذکر دی چی دی په څلورم آسمان کی وفات سوی دی اوداصحیح قول دی اوداقول دمجاهد دی اوویلی دی حسن بصری ﴿وَرَفَعْنٰهُ مَكَانًا عَلِيًّا﴾ دی وایی چی جنت ته.

اوبعضو ویلی دی: چی دی لوړ سوی دی په ژوند دپلار کی چی (یردبن مهلاییل) دی. والله اعلم، اوبعضو داویلی دی چی ادریس ﵇ مخکی دنوح ﵇ څخه نه وو. بلکی دی په بنی

(c) ketabton.com: The Digital Library



اسرائیلوکی وو. اوویلی دی امام بخاری په ذکر کولو سره دابن مسعود اوابن عباس څخه چې الیاس هم دا ادریس ﷺ دی اودلیل یې نیولی دی په هغه چې په حدیث دزهری کی دی چې نقل کوی دانس څخه په باره داسراء کی چې ذکر سوی دی: کله چې تیرسو رسول الله ﷺ نوورته وویل چې سلامتیا دی وی په زوی صالح باندی اونبی صالح باندی. اونه دی یې ویلی لکه څه رنګه چې ویلی وه ابراهیم اوآدم ﷺ نودوی وایی چې دانه دی په نسب درسول الله کی که چیری وای نوده به ورته هم داسی ویلی وای لکه څه رنګه چې ورته ابراهیم اوآدم ﷺ ویلی دی اودا په دی باندی دلالت نه کوی ولی چې اکثر دراوی څخه څه ناڅه هیرسی، یاداسی کیدی سی چې ده ورته دوجی دعاجزی څخه ویلی وی، اوځان ته نسبت په لحاظ دپلار والی اودمشری نه کوی لکه څه رنګه چې آدم ﷺ ته یې دابو البشر اسم کنیه ورکړیده، اوابراهیم ته خلیل الله اودا لوی اولی العزم والا دی وروسته ترمحمد رسول الله ﷺ څخه. پر دوی ټولو باندی دی دالله ﷻ رحمتونه وی.

## قصه دنوح عَلَيْهِ السَّلَامُ

دده نوم اونسب، دده خپل نوم: نوح بن لامك بن متوشلخ بن خنوخ چې دا ادریس ﷺ دی بن یرد ابن مهلاییل بن قینن ابن انوش بن شیث بن آدم ﷺ دی.

ددوی پیدائش دآدم ﷺ دوفات څخه یوسل شپیته کاله وروسته سوی دی لکه څه رکم چې داذکر کړی دی ابن جریر اوداسی نورو اوپه تاریخ داهل کتابوکی دده اودآدم ﷺ دپیدائش په مینځ کی یوسل او شپوږ څلویښت کاله فاصله ده، اوحافظ ابوحاتم بن حبان ویلی دی په صحیح خپل کی په نقل کولو سره دمحمد بن عمر وبن یوسف څخه دی نقل کوی دمحمد بن مالك بن زنجویه څخه دی نقل کوی دابوتوبه څخه دی نقل کوی دمعاویه بن سلام څخه دی نقل کوی دخپل ورور څخه چې زید ابن سلام دی، دی وایی چې ما اوریدلی دی دابا سلام څخه دی وایی چې ما اوریدلی دی دابوامامه څخه دی وایی چې یوسړی وویله: ای رسول الله ﷺ: ایا آدم ﷺ نبی وو؟ نبی ﷺ ورته وفرمایل چې هو! داسی نبی دی چې خبری ورسره هم سوی دی. نوبیایې ورته وفرمایل چې دده اودنوح ﷺ په مینځ کی دڅومره وخت فرق دی؟ نورسول الله ﷺ وفرمایل چې: شل پیړی: (١)، داپه شرط دمسلم سره دی اوبخاری ددی تخریج نه دی کړی. اوپه صحیح البخاری کی دابن عباس رضی الله عنه څخه نقل سوی دی چې رسول الله فرمایې: چې دآدم اونوح عَلَيْهِمَا السَّلَامُ په مینځ کی لس پیړی وی اودوی ټول پر اسلام

---

(١). روایت ددی طبرانی کړی دی په الکبیرکی (٨\ح ٧٥٤٥، اوهیثمی ویلی دی په المجمع کی (٨\٢١٠) راوی ددی طبرانی دی. اوویلی دی ابن کثیر په البدایه والنهایه کی (١\١٠١)چې دا په شرط دمسلم سره دی او تخریج ددی دبخاری دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



باندی وه (۱) که چیری مراد دقرن څخه سل کاله سی، لکه څنګه چی دامشهوره ده په خلګو کی نوددوی په مینځ کی به زرکاله سی اودا محاله نه ده، خو منافی نه ده چی دا سی ډیر لکه څه رنګه چی ویلی دی ابن عباس په قید داسلام کی، کیدی سی چی ددوی په مینځ کی بل شان قرون وی چی متاخروی اونه وی په اسلام کی، لیکن حدیث دامامه دلالت کوی په حصر کولو ددی په شلو پیړیو کی، اوزیات کړی دی ورسره ابن عباس داهم چی ټول په اسلام باندی وه، اوداپه دی وجه رد دی په هغه چا باندی چی بعضی تاریخ دانانو داګمان کړی دی چی قابیل اودهغه ځامنو داور عبادت کوی. والله اعلم بالاصح. اوکه چیری دقرون څخه مراد قومونه دخلګو سی لکه څه رنګه چی الله ﷻ فرمایلی دی: وَكَمْ أَهْلَكْنَا مِنَ الْقُرُونِ مِنْ بَعْدِ نُوحٍ (الاسراء\ ۱۷)، اوداقول دالله ﷻ : ثُمَّ أَنْشَأْنَا مِنْ بَعْدِهِمْ قَرْنًا آخَرِينَ (المومنون \ ۳۱) اودارنګه الله ﷻ فرمایلی دی: وَقُرُونًا بَيْنَ ذَلِكَ كَثِيرًا (الفرقان \ ۳۸) اودارنګه یې ویلی دی: وَكَمْ أَهْلَكْنَا قَبْلَهُمْ مِنْ قَرْنٍ (مریم \ ۷۴)، اودارنګه قول درسول الله ﷺ: خیر القرون قرنی.... نو وه قومونه مخکی دنوح ؑ څخه چی ډیر عمرونه به یې تیرول نوپه دی وجی دآدم ؑ او دنوح ؑ په مینځ کی زرګونو کالونه تیرسوی دی. والله اعلم، اونوح ؑ هغه وخت الله ﷻ راولیږی چی کله دبتانو عبادتونه شروع سوی وه اوخلګ ټول په کفر اوپه ګمراهی کی اخته سوی وه، نورا ولیږی الله ﷻ نوح ؑ رحمت دپاره دبندګانو، نودی وو اول رسول چی الله ﷻ مبعوث کی مزکی والاوته لکه څه رنګه چی به ویل کیږی په ورځ دقیامت کی په موقف کی به دده قوم ته بنو راسب ویل کیږی لکه څنګه چی داذکر کړی دی ابن جبیر او داسی نورو اواختلاف سوی دی ددوی په عمرکی کله چی دارسول مبعوث سو نوبعضی وایی چی دی دپنځوسو کالو وو اوچا ویلی دی چی د (۳۵۰) کالو وو اوچا ویلی دی چی دی د (۴۸۰) کالو وو داقول نقل کړی دی ابن جریر اوده نقل کړی دی دابن عباس څخه. اوذکر کړیده الله ﷻ دده قصه اوهغه چی دده دقوم سره سوی دی، اوهغه چی نازل سوی دی پرهغو باندی عذاب دطوفان، اوپه کمه طریقه چی محفوظ سو دی اوددہ سره چی نور څوک په کښتی کی وه، نوپه سورة الاعراف اوسورة یونس اوهود اوالانبیاء اوالمومنون او الصافات اواقتربت کی ذکرسوی دی اونازل سوی دی دده په باره کی یومکمل سورة، نو

---

(۱). دامونه دی پیداکړی په بخاری کی مګر روایت ددی نقل کړی دی حاکم په مستدرك کی (۲\ ۵۴۲) دطریقی دابی نصرمحمد بن احمد بن عمر الخفاف څخه چی دی نقل کوی داحمد بن سلمه څخه دی نقل کوی دمحمد بن البشار څخه دی نقل کوی دابو داود څخه دی نقل کوی دهمام څخه دی نقل کوی دقتاده څخه دی نقل کوی دعکرمه څخه دی نقل کوی دابن عباس رضی الله عنه څخه دی وایی چی: وو په مینځ دنوح اوآدم ؑ کی لس پیړی داټول وه په شریعت دحق باندی نو دوی اختلاف وکی نو وروسته راولیږل الله ﷻ پیغمبران زیری ورکوونکی او بیرونکی. دا حدیث صحیح دی په شرط دبخاری باندی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



الله ﷻ په سورة الاعراف کی فرمایلی دی: لَقَدْ أَرْسَلْنَا نُوحًا إِلَى قَوْمِهِ فَقَالَ يَا قَوْمِ اعْبُدُوا اللَّهَ مَا
لَكُمْ مِنْ إِلَهٍ غَيْرُهُ إِنِّي أَخَافُ عَلَيْكُمْ عَذَابَ يَوْمٍ عَظِيمٍ (٥٩) قَالَ الْمَلَأُ مِنْ قَوْمِهِ إِنَّا لَنَرَاكَ فِي ضَلَالٍ مُبِينٍ
(٦٠) قَالَ يَا قَوْمِ لَيْسَ بِي ضَلَالَةٌ وَلَكِنِّي رَسُولٌ مِنْ رَبِّ الْعَالَمِينَ (٦١) أُبَلِّغُكُمْ رِسَالَاتِ رَبِّي وَأَنْصَحُ
لَكُمْ وَأَعْلَمُ مِنَ اللَّهِ مَا لَا تَعْلَمُونَ (٦٢) أَوَعَجِبْتُمْ أَنْ جَاءَكُمْ ذِكْرٌ مِنْ رَبِّكُمْ عَلَى رَجُلٍ مِنْكُمْ لِيُنْذِرَكُمْ
وَلِتَتَّقُوا وَلَعَلَّكُمْ تُرْحَمُونَ (٦٣) فَكَذَّبُوهُ فَأَنْجَيْنَاهُ وَالَّذِينَ مَعَهُ فِي الْفُلْكِ وَأَغْرَقْنَا الَّذِينَ كَذَّبُوا بِآيَاتِنَا إِنَّهُمْ
كَانُوا قَوْمًا عَمِينَ (٦٤) (الاعراف ۵۹\ ۲۵)، اودارنگه الله ﷻ په سورة یونس کی فرمایلی دی:
وَاتْلُ عَلَيْهِمْ نَبَأَ نُوحٍ إِذْ قَالَ لِقَوْمِهِ يَا قَوْمِ إِنْ كَانَ كَبُرَ عَلَيْكُمْ مَقَامِي وَتَذْكِيرِي بِآيَاتِ اللَّهِ فَعَلَى اللَّهِ
تَوَكَّلْتُ فَأَجْمِعُوا أَمْرَكُمْ وَشُرَكَاءَكُمْ ثُمَّ لَا يَكُنْ أَمْرُكُمْ عَلَيْكُمْ غُمَّةً ثُمَّ اقْضُوا إِلَيَّ وَلَا تُنْظِرُونِ (٧١) فَإِنْ
تَوَلَّيْتُمْ فَمَا سَأَلْتُكُمْ مِنْ أَجْرٍ إِنْ أَجْرِيَ إِلَّا عَلَى اللَّهِ وَأُمِرْتُ أَنْ أَكُونَ مِنَ الْمُسْلِمِينَ (٧٢) فَكَذَّبُوهُ فَنَجَّيْنَاهُ
وَمَنْ مَعَهُ فِي الْفُلْكِ وَجَعَلْنَاهُمْ خَلَائِفَ وَأَغْرَقْنَا الَّذِينَ كَذَّبُوا بِآيَاتِنَا فَانْظُرْ كَيْفَ كَانَ عَاقِبَةُ الْمُنْذَرِينَ
(یونس ۷۱\ ۷۳)، اودارنگه الله ﷻ په سورة هود کی فرمایلی دی: وَلَقَدْ أَرْسَلْنَا نُوحًا إِلَى قَوْمِهِ
إِنِّي لَكُمْ نَذِيرٌ مُبِينٌ (٢٥) أَنْ لَا تَعْبُدُوا إِلَّا اللَّهَ إِنِّي أَخَافُ عَلَيْكُمْ عَذَابَ يَوْمٍ أَلِيمٍ (٢٦) فَقَالَ الْمَلَأُ الَّذِينَ
كَفَرُوا مِنْ قَوْمِهِ مَا نَرَاكَ إِلَّا بَشَرًا مِثْلَنَا وَمَا نَرَاكَ اتَّبَعَكَ إِلَّا الَّذِينَ هُمْ أَرَاذِلُنَا بَادِيَ الرَّأْيِ وَمَا نَرَى لَكُمْ
عَلَيْنَا مِنْ فَضْلٍ بَلْ نَظُنُّكُمْ كَاذِبِينَ (٢٧) قَالَ يَا قَوْمِ أَرَأَيْتُمْ إِنْ كُنْتُ عَلَى بَيِّنَةٍ مِنْ رَبِّي وَآتَانِي رَحْمَةً مِنْ
عِنْدِهِ فَعُمِّيَتْ عَلَيْكُمْ أَنُلْزِمُكُمُوهَا وَأَنْتُمْ لَهَا كَارِهُونَ (٢٨) وَيَا قَوْمِ لَا أَسْأَلُكُمْ عَلَيْهِ مَالًا إِنْ أَجْرِيَ إِلَّا عَلَى
اللَّهِ وَمَا أَنَا بِطَارِدِ الَّذِينَ آمَنُوا إِنَّهُمْ مُلَاقُو رَبِّهِمْ وَلَكِنِّي أَرَاكُمْ قَوْمًا تَجْهَلُونَ (٢٩) وَيَا قَوْمِ مَنْ يَنْصُرُنِي مِنَ
اللَّهِ إِنْ طَرَدْتُهُمْ أَفَلَا تَذَكَّرُونَ (٣٠) وَلَا أَقُولُ لَكُمْ عِنْدِي خَزَائِنُ اللَّهِ وَلَا أَعْلَمُ الْغَيْبَ وَلَا أَقُولُ إِنِّي مَلَكٌ
وَلَا أَقُولُ لِلَّذِينَ تَزْدَرِي أَعْيُنُكُمْ لَنْ يُؤْتِيَهُمُ اللَّهُ خَيْرًا اللَّهُ أَعْلَمُ بِمَا فِي أَنْفُسِهِمْ إِنِّي إِذًا لَمِنَ الظَّالِمِينَ (٣١)
قَالُوا يَا نُوحُ قَدْ جَادَلْتَنَا فَأَكْثَرْتَ جِدَالَنَا فَأْتِنَا بِمَا تَعِدُنَا إِنْ كُنْتَ مِنَ الصَّادِقِينَ (٣٢) قَالَ إِنَّمَا يَأْتِيكُمْ بِهِ
اللَّهُ إِنْ شَاءَ وَمَا أَنْتُمْ بِمُعْجِزِينَ (٣٣) وَلَا يَنْفَعُكُمْ نُصْحِي إِنْ أَرَدْتُ أَنْ أَنْصَحَ لَكُمْ إِنْ كَانَ اللَّهُ يُرِيدُ أَنْ
يُغْوِيَكُمْ هُوَ رَبُّكُمْ وَإِلَيْهِ تُرْجَعُونَ (٣٤) أَمْ يَقُولُونَ افْتَرَاهُ قُلْ إِنِ افْتَرَيْتُهُ فَعَلَيَّ إِجْرَامِي وَأَنَا بَرِيءٌ مِمَّا
تُجْرِمُونَ (٣٥) وَأُوحِيَ إِلَى نُوحٍ أَنَّهُ لَنْ يُؤْمِنَ مِنْ قَوْمِكَ إِلَّا مَنْ قَدْ آمَنَ فَلَا تَبْتَئِسْ بِمَا كَانُوا يَفْعَلُونَ
(٣٦) وَاصْنَعِ الْفُلْكَ بِأَعْيُنِنَا وَوَحْيِنَا وَلَا تُخَاطِبْنِي فِي الَّذِينَ ظَلَمُوا إِنَّهُمْ مُغْرَقُونَ (٣٧) وَيَصْنَعُ الْفُلْكَ
وَكُلَّمَا مَرَّ عَلَيْهِ مَلَأٌ مِنْ قَوْمِهِ سَخِرُوا مِنْهُ قَالَ إِنْ تَسْخَرُوا مِنَّا فَإِنَّا نَسْخَرُ مِنْكُمْ كَمَا تَسْخَرُونَ (٣٨)
فَسَوْفَ تَعْلَمُونَ مَنْ يَأْتِيهِ عَذَابٌ يُخْزِيهِ وَيَحِلُّ عَلَيْهِ عَذَابٌ مُقِيمٌ (٣٩) حَتَّى إِذَا جَاءَ أَمْرُنَا وَفَارَ التَّنُّورُ قُلْنَا

(c) ketabton.com: The Digital Library



احْمِلْ فِيهَا مِنْ كُلٍّ زَوْجَيْنِ اثْنَيْنِ وَأَهْلَكَ إِلَّا مَنْ سَبَقَ عَلَيْهِ الْقَوْلُ وَمَنْ آمَنَ وَمَا آمَنَ مَعَهُ إِلَّا قَلِيلٌ (٤٠) وَقَالَ ارْكَبُوا فِيهَا بِسْمِ اللهِ مَجْرَاهَا وَمُرْسَاهَا إِنَّ رَبِّي لَغَفُورٌ رَحِيمٌ (٤١) وَهِيَ تَجْرِي بِهِمْ فِي مَوْجٍ كَالْجِبَالِ وَنَادَى نُوحٌ ابْنَهُ وَكَانَ فِي مَعْزِلٍ يَا بُنَيَّ ارْكَبْ مَعَنَا وَلَا تَكُنْ مَعَ الْكَافِرِينَ (٤٢) قَالَ سَآوِي إِلَى جَبَلٍ يَعْصِمُنِي مِنَ الْمَاءِ قَالَ لَا عَاصِمَ الْيَوْمَ مِنْ أَمْرِ اللهِ إِلَّا مَنْ رَحِمَ وَحَالَ بَيْنَهُمَا الْمَوْجُ فَكَانَ مِنَ الْمُغْرَقِينَ (٤٣) وَقِيلَ يَا أَرْضُ ابْلَعِي مَاءَكِ وَيَا سَمَاءُ أَقْلِعِي وَغِيضَ الْمَاءُ وَقُضِيَ الْأَمْرُ وَاسْتَوَتْ عَلَى الْجُودِيِّ وَقِيلَ بُعْدًا لِلْقَوْمِ الظَّالِمِينَ (٤٤) وَنَادَى نُوحٌ رَبَّهُ فَقَالَ رَبِّ إِنَّ ابْنِي مِنْ أَهْلِي وَإِنَّ وَعْدَكَ الْحَقُّ وَأَنْتَ أَحْكَمُ الْحَاكِمِينَ (٤٥) قَالَ يَا نُوحُ إِنَّهُ لَيْسَ مِنْ أَهْلِكَ إِنَّهُ عَمَلٌ غَيْرُ صَالِحٍ فَلَا تَسْأَلْنِ مَا لَيْسَ لَكَ بِهِ عِلْمٌ إِنِّي أَعِظُكَ أَنْ تَكُونَ مِنَ الْجَاهِلِينَ (٤٦) قَالَ رَبِّ إِنِّي أَعُوذُ بِكَ أَنْ أَسْأَلَكَ مَا لَيْسَ لِي بِهِ عِلْمٌ وَإِلَّا تَغْفِرْ لِي وَتَرْحَمْنِي أَكُنْ مِنَ الْخَاسِرِينَ (٤٧) قِيلَ يَا نُوحُ اهْبِطْ بِسَلَامٍ مِنَّا وَبَرَكَاتٍ عَلَيْكَ وَعَلَى أُمَمٍ مِمَّنْ مَعَكَ وَأُمَمٌ سَنُمَتِّعُهُمْ ثُمَّ يَمَسُّهُمْ مِنَّا عَذَابٌ أَلِيمٌ (٤٨) تِلْكَ مِنْ أَنْبَاءِ الْغَيْبِ نُوحِيهَا إِلَيْكَ مَا كُنْتَ تَعْلَمُهَا أَنْتَ وَلَا قَوْمُكَ مِنْ قَبْلِ هَذَا فَاصْبِرْ إِنَّ الْعَاقِبَةَ لِلْمُتَّقِينَ (٤٩)، (هود ۲۵\ ۴۹)، اودارنګه الله ﷻ په سورة الانبیاء کی فرمایلی دی: وَنُوحًا إِذْ نَادَى مِنْ قَبْلُ فَاسْتَجَبْنَا لَهُ فَنَجَّيْنَاهُ وَأَهْلَهُ مِنَ الْكَرْبِ الْعَظِيمِ (٧٦) وَنَصَرْنَاهُ مِنَ الْقَوْمِ الَّذِينَ كَذَّبُوا بِآيَاتِنَا إِنَّهُمْ كَانُوا قَوْمَ سَوْءٍ فَأَغْرَقْنَاهُمْ أَجْمَعِينَ ، (سورة الانبیاء ۷۲\ ۷۷)، اودارنګه الله ﷻ فرمایلی دی: وَلَقَدْ أَرْسَلْنَا نُوحًا إِلَى قَوْمِهِ فَقَالَ يَا قَوْمِ اعْبُدُوا اللهَ مَا لَكُمْ مِنْ إِلَهٍ غَيْرُهُ أَفَلَا تَتَّقُونَ (٢٣) فَقَالَ الْمَلَأُ الَّذِينَ كَفَرُوا مِنْ قَوْمِهِ مَا هَذَا إِلَّا بَشَرٌ مِثْلُكُمْ يُرِيدُ أَنْ يَتَفَضَّلَ عَلَيْكُمْ وَلَوْ شَاءَ اللهُ لَأَنْزَلَ مَلَائِكَةً مَا سَمِعْنَا بِهَذَا فِي آبَائِنَا الْأَوَّلِينَ (٢٤) إِنْ هُوَ إِلَّا رَجُلٌ بِهِ جِنَّةٌ فَتَرَبَّصُوا بِهِ حَتَّى حِينٍ (٢٥) قَالَ رَبِّ انْصُرْنِي بِمَا كَذَّبُونِ (٢٦) فَأَوْحَيْنَا إِلَيْهِ أَنِ اصْنَعِ الْفُلْكَ بِأَعْيُنِنَا وَوَحْيِنَا فَإِذَا جَاءَ أَمْرُنَا وَفَارَ التَّنُّورُ فَاسْلُكْ فِيهَا مِنْ كُلٍّ زَوْجَيْنِ اثْنَيْنِ وَأَهْلَكَ إِلَّا مَنْ سَبَقَ عَلَيْهِ الْقَوْلُ مِنْهُمْ وَلَا تُخَاطِبْنِي فِي الَّذِينَ ظَلَمُوا إِنَّهُمْ مُغْرَقُونَ (٢٧) فَإِذَا اسْتَوَيْتَ أَنْتَ وَمَنْ مَعَكَ عَلَى الْفُلْكِ فَقُلِ الْحَمْدُ لِلَّهِ الَّذِي نَجَّانَا مِنَ الْقَوْمِ الظَّالِمِينَ (٢٨) وَقُلْ رَبِّ أَنْزِلْنِي مُنْزَلًا مُبَارَكًا وَأَنْتَ خَيْرُ الْمُنْزِلِينَ (٢٩) إِنَّ فِي ذَلِكَ لَآيَاتٍ وَإِنْ كُنَّا لَمُبْتَلِينَ، (المومنون ۲۳\ ۳۰)، اودارنګه الله ﷻ په بل ځای کی فرمایلی دی: كَذَّبَتْ قَوْمُ نُوحٍ الْمُرْسَلِينَ (١٠٥) إِذْ قَالَ لَهُمْ أَخُوهُمْ نُوحٌ أَلَا تَتَّقُونَ (١٠٦) إِنِّي لَكُمْ رَسُولٌ أَمِينٌ (١٠٧) فَاتَّقُوا اللهَ وَأَطِيعُونِ (١٠٨) وَمَا أَسْأَلُكُمْ عَلَيْهِ مِنْ أَجْرٍ إِنْ أَجْرِيَ إِلَّا عَلَى رَبِّ الْعَالَمِينَ (١٠٩) فَاتَّقُوا اللهَ وَأَطِيعُونِ (١١٠) قَالُوا أَنُؤْمِنُ لَكَ وَاتَّبَعَكَ الْأَرْذَلُونَ (١١١) قَالَ وَمَا عِلْمِي بِمَا كَانُوا يَعْمَلُونَ (١١٢) إِنْ حِسَابُهُمْ إِلَّا عَلَى رَبِّي لَوْ تَشْعُرُونَ (١١٣) وَمَا أَنَا بِطَارِدِ الْمُؤْمِنِينَ (١١٤) إِنْ أَنَا إِلَّا نَذِيرٌ

(c) ketabton.com: The Digital Library



مُبِينٌ (١١٥) قَالُوا لَئِنْ لَمْ تَنْتَهِ يَا نُوحُ لَتَكُونَنَّ مِنَ الْمَرْجُومِينَ (١١٦) قَالَ رَبِّ إِنَّ قَوْمِي كَذَّبُونِ (١١٧) فَافْتَحْ بَيْنِي وَبَيْنَهُمْ فَتْحًا وَنَجِّنِي وَمَنْ مَعِيَ مِنَ الْمُؤْمِنِينَ (١١٨) فَأَنْجَيْنَاهُ وَمَنْ مَعَهُ فِي الْفُلْكِ الْمَشْحُونِ (١١٩) ثُمَّ أَغْرَقْنَا بَعْدُ الْبَاقِينَ (١٢٠) إِنَّ فِي ذَلِكَ لَآيَةً وَمَا كَانَ أَكْثَرُهُمْ مُؤْمِنِينَ (١٢١) وَإِنَّ رَبَّكَ لَهُوَ الْعَزِيزُ الرَّحِيمُ، (الشعراء ۱۰۵\ ۱۲۲) اودارنګه الله ﷻ فرمایلی دی: وَلَقَدْ أَرْسَلْنَا نُوحًا إِلَى قَوْمِهِ فَلَبِثَ فِيهِمْ أَلْفَ سَنَةٍ إِلَّا خَمْسِينَ عَامًا فَأَخَذَهُمُ الطُّوفَانُ وَهُمْ ظَالِمُونَ (١٤) فَأَنْجَيْنَاهُ وَأَصْحَابَ السَّفِينَةِ وَجَعَلْنَاهَا آيَةً لِلْعَالَمِينَ، (العنکبوت ۱۴\ ۱۵)، اودارنګه الله ﷻ په بل ځای کی فرمایلی دی: وَلَقَدْ نَادَانَا نُوحٌ فَلَنِعْمَ الْمُجِيبُونَ (٧٥) وَنَجَّيْنَاهُ وَأَهْلَهُ مِنَ الْكَرْبِ الْعَظِيمِ (٧٦) وَجَعَلْنَا ذُرِّيَّتَهُ هُمُ الْبَاقِينَ (٧٧) وَتَرَكْنَا عَلَيْهِ فِي الْآخِرِينَ (٧٨) سَلَامٌ عَلَى نُوحٍ فِي الْعَالَمِينَ (٧٩) إِنَّا كَذَلِكَ نَجْزِي الْمُحْسِنِينَ (٨٠) إِنَّهُ مِنْ عِبَادِنَا الْمُؤْمِنِينَ (٨١) ثُمَّ أَغْرَقْنَا الْآخَرِينَ (الصفات ۷۵\ ۸۲)، اودارنګه الله ﷻ په بل ځای کی فرمایلی دی: كَذَّبَتْ قَبْلَهُمْ قَوْمُ نُوحٍ فَكَذَّبُوا عَبْدَنَا وَقَالُوا مَجْنُونٌ وَازْدُجِرَ (٩) فَدَعَا رَبَّهُ أَنِّي مَغْلُوبٌ فَانْتَصِرْ (١٠) فَفَتَحْنَا أَبْوَابَ السَّمَاءِ بِمَاءٍ مُنْهَمِرٍ (١١) وَفَجَّرْنَا الْأَرْضَ عُيُونًا فَالْتَقَى الْمَاءُ عَلَى أَمْرٍ قَدْ قُدِرَ (١٢) وَحَمَلْنَاهُ عَلَى ذَاتِ أَلْوَاحٍ وَدُسُرٍ (١٣) تَجْرِي بِأَعْيُنِنَا جَزَاءً لِمَنْ كَانَ كُفِرَ (١٤) وَلَقَدْ تَرَكْنَاهَا آيَةً فَهَلْ مِنْ مُدَّكِرٍ (١٥) فَكَيْفَ كَانَ عَذَابِي وَنُذُرِ (١٦) وَلَقَدْ يَسَّرْنَا الْقُرْآنَ لِلذِّكْرِ فَهَلْ مِنْ مُدَّكِرٍ (سورة القمر ۹\ ۱۷)، اودارنګه الله ﷻ فرمایلی دی: إِنَّا أَرْسَلْنَا نُوحًا إِلَى قَوْمِهِ أَنْ أَنْذِرْ قَوْمَكَ مِنْ قَبْلِ أَنْ يَأْتِيَهُمْ عَذَابٌ أَلِيمٌ (١) قَالَ يَا قَوْمِ إِنِّي لَكُمْ نَذِيرٌ مُبِينٌ (٢) أَنِ اعْبُدُوا اللهَ وَاتَّقُوهُ وَأَطِيعُونِ (٣) يَغْفِرْ لَكُمْ مِنْ ذُنُوبِكُمْ وَيُؤَخِّرْكُمْ إِلَى أَجَلٍ مُسَمًّى إِنَّ أَجَلَ اللهِ إِذَا جَاءَ لَا يُؤَخَّرُ لَوْ كُنْتُمْ تَعْلَمُونَ (٤) قَالَ رَبِّ إِنِّي دَعَوْتُ قَوْمِي لَيْلًا وَنَهَارًا (٥) فَلَمْ يَزِدْهُمْ دُعَائِي إِلَّا فِرَارًا (٦) وَإِنِّي كُلَّمَا دَعَوْتُهُمْ لِتَغْفِرَ لَهُمْ جَعَلُوا أَصَابِعَهُمْ فِي آذَانِهِمْ وَاسْتَغْشَوْا ثِيَابَهُمْ وَأَصَرُّوا وَاسْتَكْبَرُوا اسْتِكْبَارًا (٧) ثُمَّ إِنِّي دَعَوْتُهُمْ جِهَارًا (٨) ثُمَّ إِنِّي أَعْلَنْتُ لَهُمْ وَأَسْرَرْتُ لَهُمْ إِسْرَارًا (٩) فَقُلْتُ اسْتَغْفِرُوا رَبَّكُمْ إِنَّهُ كَانَ غَفَّارًا (١٠) يُرْسِلِ السَّمَاءَ عَلَيْكُمْ مِدْرَارًا (١١) وَيُمْدِدْكُمْ بِأَمْوَالٍ وَبَنِينَ وَيَجْعَلْ لَكُمْ جَنَّاتٍ وَيَجْعَلْ لَكُمْ أَنْهَارًا (١٢) مَا لَكُمْ لَا تَرْجُونَ لِلَّهِ وَقَارًا (١٣) وَقَدْ خَلَقَكُمْ أَطْوَارًا (١٤) أَلَمْ تَرَوْا كَيْفَ خَلَقَ اللهُ سَبْعَ سَمَوَاتٍ طِبَاقًا (١٥) وَجَعَلَ الْقَمَرَ فِيهِنَّ نُورًا وَجَعَلَ الشَّمْسَ سِرَاجًا (١٦) وَاللهُ أَنْبَتَكُمْ مِنَ الْأَرْضِ نَبَاتًا (١٧) ثُمَّ يُعِيدُكُمْ فِيهَا وَيُخْرِجُكُمْ إِخْرَاجًا (١٨) وَاللهُ جَعَلَ لَكُمُ الْأَرْضَ بِسَاطًا (١٩) لِتَسْلُكُوا مِنْهَا سُبُلًا فِجَاجًا (٢٠) قَالَ نُوحٌ رَبِّ إِنَّهُمْ عَصَوْنِي وَاتَّبَعُوا مَنْ لَمْ يَزِدْهُ مَالُهُ وَوَلَدُهُ إِلَّا خَسَارًا (٢١) وَمَكَرُوا مَكْرًا كُبَّارًا (٢٢) وَقَالُوا لَا تَذَرُنَّ آلِهَتَكُمْ وَلَا تَذَرُنَّ وَدًّا وَلَا سُوَاعًا وَلَا يَغُوثَ وَيَعُوقَ وَنَسْرًا (٢٣) وَقَدْ أَضَلُّوا

(c) ketabton.com: The Digital Library



كَثِيرًا وَلَا تَزِدِ الظَّالِمِينَ إِلَّا ضَلَالًا (٢٤) مِمَّا خَطِيئَاتِهِمْ أُغْرِقُوا فَأُدْخِلُوا نَارًا فَلَمْ يَجِدُوا لَهُمْ مِنْ دُونِ اللهِ أَنْصَارًا (٢٥) وَقَالَ نُوحٌ رَبِّ لَا تَذَرْ عَلَى الْأَرْضِ مِنَ الْكَافِرِينَ دَيَّارًا (٢٦) إِنَّكَ إِنْ تَذَرْهُمْ يُضِلُّوا عِبَادَكَ وَلَا يَلِدُوا إِلَّا فَاجِرًا كَفَّارًا (٢٧) رَبِّ اغْفِرْ لِي وَلِوَالِدَيَّ وَلِمَنْ دَخَلَ بَيْتِيَ مُؤْمِنًا وَلِلْمُؤْمِنِينَ وَالْمُؤْمِنَاتِ وَلَا تَزِدِ الظَّالِمِينَ إِلَّا تَبَارًا (٢٨) (سورة نوح داول څخه ترآخره پوری) ددی آیتونو وضاحت اومکمل تفسیر موږ په تفسیرکی کړی دی. اوذکربه کو داتړولی قصی چی په مختلفو آیتونوکی دی اوهغه احادیث به هم ذکر کووکم چی پردی باندی دلالت کوی. اوالله ﷻ دده مدحه په مختلفو ځایونو دقرآن کریم کی ذکرکوی.

نوالله ﷻ فرمایلی دی : إِنَّا أَوْحَيْنَا إِلَيْكَ كَمَا أَوْحَيْنَا إِلَى نُوحٍ وَالنَّبِيِّينَ مِنْ بَعْدِهِ وَأَوْحَيْنَا إِلَى إِبْرَاهِيمَ وَإِسْمَاعِيلَ وَإِسْحَاقَ وَيَعْقُوبَ وَالْأَسْبَاطِ وَعِيسَى وَأَيُّوبَ وَيُونُسَ وَهَارُونَ وَسُلَيْمَانَ وَآتَيْنَا دَاوُودَ زَبُورًا (١٦٣) وَرُسُلًا قَدْ قَصَصْنَاهُمْ عَلَيْكَ مِنْ قَبْلُ وَرُسُلًا لَمْ نَقْصُصْهُمْ عَلَيْكَ وَكَلَّمَ اللهُ مُوسَى تَكْلِيمًا (١٦٤) رُسُلًا مُبَشِّرِينَ وَمُنْذِرِينَ لِئَلَّا يَكُونَ لِلنَّاسِ عَلَى اللهِ حُجَّةٌ بَعْدَ الرُّسُلِ وَكَانَ اللهُ عَزِيزًا حَكِيمًا، (سورة النساء ۱۲۳\ ۱۲۵)، اودارنګه الله ﷻ فرمایلی دی: وَتِلْكَ حُجَّتُنَا آتَيْنَاهَا إِبْرَاهِيمَ عَلَى قَوْمِهِ نَرْفَعُ دَرَجَاتٍ مَنْ نَشَاءُ إِنَّ رَبَّكَ حَكِيمٌ عَلِيمٌ (٨٣) وَوَهَبْنَا لَهُ إِسْحَاقَ وَيَعْقُوبَ كُلًّا هَدَيْنَا وَنُوحًا هَدَيْنَا مِنْ قَبْلُ وَمِنْ ذُرِّيَّتِهِ دَاوُودَ وَسُلَيْمَانَ وَأَيُّوبَ وَيُوسُفَ وَمُوسَى وَهَارُونَ وَكَذَلِكَ نَجْزِي الْمُحْسِنِينَ (٨٤) وَزَكَرِيَّا وَيَحْيَى وَعِيسَى وَإِلْيَاسَ كُلٌّ مِنَ الصَّالِحِينَ (٨٥) وَإِسْمَاعِيلَ وَالْيَسَعَ وَيُونُسَ وَلُوطًا وَكُلًّا فَضَّلْنَا عَلَى الْعَالَمِينَ (٨٦) وَمِنْ آبَائِهِمْ وَذُرِّيَّاتِهِمْ وَإِخْوَانِهِمْ وَاجْتَبَيْنَاهُمْ وَهَدَيْنَاهُمْ إِلَى صِرَاطٍ مُسْتَقِيمٍ، (سورة الانعام ۸۳\ ۸۷)، اودارنګه الله ﷻ په بل ځای کی فرمایلی دی: أَلَمْ يَأْتِهِمْ نَبَأُ الَّذِينَ مِنْ قَبْلِهِمْ قَوْمِ نُوحٍ وَعَادٍ وَثَمُودَ وَقَوْمِ إِبْرَاهِيمَ وَأَصْحَابِ مَدْيَنَ وَالْمُؤْتَفِكَاتِ أَتَتْهُمْ رُسُلُهُمْ بِالْبَيِّنَاتِ فَمَا كَانَ اللهُ لِيَظْلِمَهُمْ وَلَكِنْ كَانُوا أَنْفُسَهُمْ يَظْلِمُونَ (التوبه ۷۰)، اومخکی ذکرسوه قصه دده په سورة یونس کی اوپه سورة هود کی، اوسورة ابراهیم کی الله ﷻ فرمایلی دی: أَلَمْ يَأْتِكُمْ نَبَأُ الَّذِينَ مِنْ قَبْلِكُمْ قَوْمِ نُوحٍ وَعَادٍ وَثَمُودَ وَالَّذِينَ مِنْ بَعْدِهِمْ لا يَعْلَمُهُمْ إِلاَّ اللهُ جَاءَتْهُمْ رُسُلُهُمْ بِالْبَيِّنَاتِ فَرَدُّوا أَيْدِيَهُمْ فِي أَفْوَاهِهِمْ وَقَالُوا إِنَّا كَفَرْنَا بِمَا أُرْسِلْتُمْ بِهِ وَإِنَّا لَفِي شَكٍّ مِمَّا تَدْعُونَنَا إِلَيْهِ مُرِيبٍ، اودارنګه الله ﷻ په بل سورة کی فرمایلی دی: ذُرِّيَّةَ مَنْ حَمَلْنَا مَعَ نُوحٍ إِنَّهُ كَانَ عَبْدًا شَكُورًا (الاسراء ۳)، اوهم په دی سورة کی الله ﷻ فرمایلی دی: وَكَمْ أَهْلَكْنَا مِنَ الْقُرُونِ مِنْ بَعْدِ نُوحٍ وَكَفَى بِرَبِّكَ بِذُنُوبِ عِبَادِهِ خَبِيرًا بَصِيرًا (الاسراء ۱۷)، اومخکی تیره سوه قصه په سورة انبیاء کی اوپه سورة المومنون کی اوپه سورة الشعراء کی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



اودارنګه الله ﷻ فرمایلی دی: وَإِذْ أَخَذْنَا مِنَ النَّبِيِّينَ مِيثَاقَهُمْ وَمِنْكَ وَمِنْ نُوحٍ وَإِبْرَاهِيمَ وَمُوسَى وَعِيسَى ابْنِ مَرْيَمَ وَأَخَذْنَا مِنْهُمْ مِيثَاقًا غَلِيظًا (سورة الاحزاب ۷)، اودارنګه الله ﷻ په بل ځای کی فرمایلی دی: كَذَّبَتْ قَبْلَهُمْ قَوْمُ نُوحٍ وَعَادٌ وَفِرْعَوْنُ ذُو الْأَوْتَادِ (۱۲) وَثَمُودُ وَقَوْمُ لُوطٍ وَأَصْحَابُ الْأَيْكَةِ أُولَئِكَ الْأَحْزَابُ (۱۳) إِنْ كُلٌّ إِلَّا كَذَّبَ الرُّسُلَ فَحَقَّ عِقَابِ، (سورة ص ۱۲\ ۱۴)، اودارنګه الله ﷻ په بل ځای کی فرمایلی دی: كَذَّبَتْ قَبْلَهُمْ قَوْمُ نُوحٍ وَالْأَحْزَابُ مِنْ بَعْدِهِمْ وَهَمَّتْ كُلُّ أُمَّةٍ بِرَسُولِهِمْ لِيَأْخُذُوهُ وَجَادَلُوا بِالْبَاطِلِ لِيُدْحِضُوا بِهِ الْحَقَّ فَأَخَذْتُهُمْ فَكَيْفَ كَانَ عِقَابِ (۵) وَكَذَلِكَ حَقَّتْ كَلِمَةُ رَبِّكَ عَلَى الَّذِينَ كَفَرُوا أَنَّهُمْ أَصْحَابُ النَّارِ (سورة غافر۵\ ۶)، اودارنګه الله ﷻ په بل ځای کی داسی فرمایلی دی : شَرَعَ لَكُمْ مِنَ الدِّينِ مَا وَصَّى بِهِ نُوحًا وَالَّذِي أَوْحَيْنَا إِلَيْكَ وَمَا وَصَّيْنَا بِهِ إِبْرَاهِيمَ وَمُوسَى وَعِيسَى أَنْ أَقِيمُوا الدِّينَ وَلَا تَتَفَرَّقُوا فِيهِ كَبُرَ عَلَى الْمُشْرِكِينَ مَا تَدْعُوهُمْ إِلَيْهِ اللهُ يَجْتَبِي إِلَيْهِ مَنْ يَشَاءُ وَيَهْدِي إِلَيْهِ مَنْ يُنِيبُ (سورة شوری ۱۳)، اودارنګه الله ﷻ په بل ځای کی فرمایلی دی: كَذَّبَتْ قَبْلَهُمْ قَوْمُ نُوحٍ وَأَصْحَابُ الرَّسِّ وَثَمُودُ (۱۲) وَعَادٌ وَفِرْعَوْنُ وَإِخْوَانُ لُوطٍ (۱۳) وَأَصْحَابُ الْأَيْكَةِ وَقَوْمُ تُبَّعٍ كُلٌّ كَذَّبَ الرُّسُلَ فَحَقَّ وَعِيدِ (سورة ق ۱۲\ ۱۴)، اودارنګه الله ﷻ فرمایلی دی: وَقَوْمَ نُوحٍ مِنْ قَبْلُ إِنَّهُمْ كَانُوا قَوْمًا فَاسِقِينَ (سورة الذاریات \۴۶)، اودارنګه الله ﷻ په بل ځای کی فرمایلی دی: وَقَوْمَ نُوحٍ مِنْ قَبْلُ إِنَّهُمْ كَانُوا هُمْ أَظْلَمَ وَأَطْغَى (سورة النجم \ ۵۲) اوددی قصه په سورة القمر کی ذکرده.

اودارنګه الله ﷻ فرمایلی دی: وَلَقَدْ أَرْسَلْنَا نُوحًا وَإِبْرَاهِيمَ وَجَعَلْنَا فِي ذُرِّيَّتِهِمَا النُّبُوَّةَ وَالْكِتَابَ فَمِنْهُمْ مُهْتَدٍ وَكَثِيرٌ مِنْهُمْ فَاسِقُونَ (سورة حدید\ ۲۶). اودارنګه الله ﷻ فرمایلی دی په بل ځای کی: ضَرَبَ اللهُ مَثَلًا لِلَّذِينَ كَفَرُوا امْرَأَةَ نُوحٍ وَامْرَأَةَ لُوطٍ كَانَتَا تَحْتَ عَبْدَيْنِ مِنْ عِبَادِنَا صَالِحَيْنِ فَخَانَتَاهُمَا فَلَمْ يُغْنِيَا عَنْهُمَا مِنَ اللهِ شَيْئًا وَقِيلَ ادْخُلَا النَّارَ مَعَ الدَّاخِلِينَ (سورة التحریم \ ۱۰).

اوهرڅه چی مضمون داحادیثو او دآثارو دی. نوهغه مورږ مخکی ذکرکی په قول دابن عباس کی: چی وو په مینځ دآدم ﷺ اونوح ﷺ کی فاصله دشلو قرونو اوداټول وه په حق اواسلام باندی: روایت ددی کړی دی بخاری اودامو هم ذکرکړه چی مراد دقرن څخه یاموده ده اویا قوم قبیله ده. بیا وروسته ددغو قرونو صالحو څخه داسی خلګ پیداسوه چی عبادت به یې دبتانو کوی. او ووسبب ددی هغه چی ذکرکړی دی امام بخاری دحدیث دابن جریج څخه چی هغه نقل کړی دی دعطاء څخه اوهغه نقل کوی دابن عباس څخه په تفسیر ددی آیت کی: وَقَالُوا لَا تَذَرُنَّ آلِهَتَكُمْ وَلَا تَذَرُنَّ وَدًّا وَلَا سُوَاعًا وَلَا يَغُوثَ وَيَعُوقَ وَنَسْرًا (سورة نوح ۲۳) ویل

(c) ketabton.com: The Digital Library



سوی دی چی دانومونه دصالحینو دی دقوم دنوح علیه السلام څخه کله چی دوی وفات سوه نو وسوسه وکړه شیطان ددوی قوم ته چی دوی دی ورځی هغه ځای ته چی دوی به په کی کښنی ناسته اونومونه یې ورکړه هغو ځایونو ته اودوی دغه کاروکی او ددوی هغه ځایونو ته به ورتلل اودهغه عبادت به یې نه کوی کله چی داهم مړه سوه او ددوی اولاد پیداسو نو علم ختم سوی وو نوهغوی ددی صالحینو عبادت شروع کی (۱) اوابن عباس وایی چی دا عبادت دبتانو وروسته دقوم دنوح څخه په عربو کی پیداسو. اوهم دارنگه ویلی دی عکرمه اوالضحاك اوقتاده اومحمد بن اسحاق. اوویلی دی ابن جریر په تفسیر خپل کی په نقل کولو سره دابن حمید څخه دی نقل کوی دمهران څخه دی نقل کوی دسفیان څخه دی نقل کوی دموسٰی څخه دی نقل کوی دمحمد بن قیس څخه دی وایی چی: داوو یوصالح قوم په مینځ دآدم علیه السلام اونوح علیه السلام کی، او وه ددوی دپاره اتباع چی ددوی اقتدا به یې کوله، کله چی دوی مړه سوه نوددوی مقتدیانو داویله چی که چیری موږ ددی صورتونه جوړکړو نوزموږ به عبادت ته ډیرشوق کیږی چی کله موږ ددی صورتونه گورو نوددی صورتونه یې جوړ کړه نوکله چی دوی هم مړه سوه او ددوی څخه وروسته خلگ راله نوهغوی ددی عبادتونه شروع کړه په وسوسه دابلیس لعین باندی اودایې ورته وویل چی ستاسی پلرونه ددوی عبادتونه کول او ددوی په واسطه یې بارانونه غوښتله، نودوی دوکه سوه ددی په وسوسی باندی اوددی عبادتونه یې شروع کړه، اودارنگه روایت ذکرکړی دی ابن ابی حاتم دعروه بن زبیر څخه چی دی وایې: ود اویغوث اویعوق اوسواع اونسر، داټول اولاد دآدم علیه السلام دی اومشر ددی (ود) دی.

اودارنگه ابن ابی حاتم وایی په نقل کولو سره داحمد بن منصور څخه دی نقل کوی دحسن بن موسٰی څخه دی نقل کوی دیعقوب څخه دی نقل کوی دابی المطهر څخه، دی وایی چی ذکر وسو دابوجعفر الباقر خواته دیزید ابن المهل په دی حال کی چی ده لمونځ کوی کله چی دی دلمانځه څخه فارغه سو اومخ یې راواړوی نو ویې ویل چی تاسی ذکر دیزید ابن المهلب وکی، ایا داهغه سړی نه دی چی داوژل سوی دی په هغه مځکه کی چی هلته اول عبادت دغیر الله سوی دی، دی وایی چی دوی ذکر دود وکی چی دایو صالح سړی وو او خپل قوم ته ډیر محبوب وو. کله چی دا وفات سو نودوی راټول سوه دده دقبر خوا ته، او مجمع یې داعتکاف په شکل ولگوله په مځکه دبابل کی اوفریاد یې شروع کی پردی باندی، وروسته کله چی ولیدی ابلیس لعین ددی خلگو دا فریادونه نودوی ته دانسان په شکل رالی اودوی ته یې وویل چی زه ستاسی فریادونه وینم په دی سړی باندی، نو ایازه

(۱). ددی حدیث تخریج کړی امام بخاری په کتاب التفسیرکی، سورة نوح، باب (ودًا ولا سواعا ولایغوث ویعوق) (۴۹۲۰۱۸).

(c) ketabton.com: The Digital Library



جوړنه کړم ستاسی دپاره یوشکل ددی چی تاسی ورته ګوری؟ نودوی ورته وویل چی ولی نه. نودوی ته یې دهغه شکل جوړکی. نونبی ﷺ وفرمایل: چی دوی داشکل په خپل مینځ کی کښیښوی اودایې یادوی. بیا چی کله دی ابلیس ولیدی ددوی کار نودوی ته رالی او دوی ته یې وویل چی ایازه داشکل ستاسی دهریوه په کورکی جلا جلا جوړنه کړم چی تاسی یې په خپل کورکی یادوی، نودوی ورته وویل چی ولی نه. نونبی ﷺ وویل، چی دوی ته یې په هرکورکی جلاجلا شکلونه جوړکړه اودوی به په خپلو کورونو کی دایادول. بیانبی ﷺ وفرمایل: چی ددوی اولاد چی کله رالی نوهغوی یې ددی عبادتونه شروع کړه ماسوا دالله ﷻ څخه، نو وه اول هغه چی عبادت یې سوی دی ماسوا دالله ﷻ څخه (ود) دانوم دهغه بت دی چی دوی ورته (ود) وایه اوتقاضا ددی مخکنی عبارت داسوه چی وو هریوبت چی عبات به یې کیدی ددغه ډلو دخلګو څخه، اوداهم ذکرسوی دی چی څومره وخت تیریدی نودوی نور هم مضبوطی مجسمی ددی شکلونو جوړولی اوبیایې ددی عبادت شروع کی ماسوا دالله ﷻ څخه، او ددوی په دی عبادتونو کی ډیر مسلکونه دی چی هغه موږ په تفسیرونو کی ذکرکړی دی. ولله الحمد والمنة.

اودارنګه ثابت دی په صحیحینو کی درسول الله ﷺ څخه: کله چی درسول الله ﷺ خواته ذکر کوی ام سلمه اوام حبیبه دهغه کلیسا چی دوی لیدلی وه په حبشه کی، چی نوم یې ماریه وه اودوی دواړو ذکروکی دهغه دحُسن اودهغه دتصویرونو، نورسول الله ﷻ وویل چی داهغه خلګ دی چی په دی کی صالح سړی مړسی نو پرهغه لوړ دوی ځای دعبادت جوړوی اوددوی تصویران جوړوي اوپه دغه کلیسا کی یې لګوی، داډیر بدترین خلګ دی په نزد دالله ﷻ باندی (١)، اومقصود دادی چی کله فساد وغوړول سو په مځکه کی او دبتانو عبادتونه عام سوه، نو راولیږی الله ﷻ خپل بنده اوپیغمبر نوح ﷺ چی دعوت به یې کوی دالله ﷻ دعبادت طرف ته چی دهغه شریك نسته، اومنع کول به یې دنورو دعبادت څخه نو وو اول رسول دی چی الله ﷻ رالیږلی دی مزکی والاوو ته.

لکه څه رنګه چی داثابت سوی دی په صحیحینو کی دحدیث دابی حیان څخه دی نقل کوی دابی زرعه ابن عمروبن جریر څخه دی نقل کوی دابی هریره څخه دی وایی چی فرمایلی دی رسول الله ﷺ په حدیث دشفاعت کی نورابه سی دوی آدم ﷺ ته اوورته وبه وایی چی ته ابو البشریې دټولو انسانانو پلار یې، تاپیدا کړی دی الله ﷻ په خپل لاس باندی (یعنی په

---

(١). ددی حدیث تخریج بخاری کړی دی په کتاب الصلاة کی، باب هل تنبش قبور مشرکی الجاهلیة، ویتخذ مکانها مسجداً (١\ ٤٢٧) اواطراف ددی په (٤٣٤، ١٣٤١) اومسلم په کتاب المساجد ومواضع الصلاة کی ذکر کړی دی، باب النهی عن بناء المساجد علی القبور (١١\٥)، اوالنسایې په کتاب المساجد ومواضع الصلاة، باب النهی عن اتخاذ القبور مساجداً (٢\ ٧٠٣) کی راوړی دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



خپل قدرت سره)، اوپه تاکی یې خپل روح اچولی دی اوامریې کړی دی ملائکو ته دسجدی تاته اوته یې په جنت کی اوسولی یې، ایاته شفاعت نه کوی زموږ دپاره رب خپل ته ؟ ایاته نه ګوری چی موږ په کم حال کی یو اوموږ ته څه رارسیدلی دی؟ نودی به وایی چی نن ورځ الله ﷻ داسی په غضب کی دی چی نه مخکی هیڅکله داسی غصه سوی دی اونه به ددی څخه وروسته هیڅکله داسی غوصه سی، اوزه منع سوی وم دخوراك ددرختی څخه نوهغه حکم ماپوره نه کی. اووایی به نفسی نفسی یعنی نفس زما نفس زما، تاسی ولاړسی زما څخه ماسوا بل چاته، ولاړسی تاسی نوح ﷺ ته. نودوی به بیاراسی نوح ﷺ ته اوورته وبه وایی چی ای نوح ﷺ ته هغه سړی یې چی ته الله ﷻ اول پیغمبر لیږلی یې مزکی والوته اوتاته الله ﷻ شکر ګزاربنده ویلی دی، ایاته نه وینی چی داموږ په کم حال کی یو، ایاته به زموږ دپاره شفاعت ونه کړی رب العزت ته؟ نودی به وایی چی نن ورځ رب زما داسی غصه دی چی نه مخکی ددی څخه داسی غوصه سوی دی اونه به وروسته ددی څخه داسی غصه سی، اودی به هم وایی چی نفسی نفسی. اودارنګه یې ټول حدیث ذکر کړی دی لکه څه رنګه چی ذکر کړی دی بخاری په قصه دنوح ﷺ کی. پس کله چی ولیږی الله ﷻ نوح ﷺ ده دعوت ورکی خلګو ته دعبادت دالله ﷻ طرف ته اوخلګ به یې منع کول دعبادت دنورو څخه اودشرك څخه دالله ﷻ سره اودبتانو دعبادت څخه اودوی ته به یې امرکوی ددی خبری چی دوی دالله ﷻ معرفت وپیژنی اودهغه وحدانیت وپیژنی، اوددی خبری دعوت به یې کوی چی نسته اله ماسوا دهغه څخه اونسته رب ماسوا دهغه څخه ، لکه څه رنګه چی امرکړی دی الله ﷻ هغو رسولانو ته چی دده څخه وروسته دده په نسل کی راغلی دی، لکه څه رنګه چی الله ﷻ فرمایلی دی: وَجَعَلْنَا ذُرِّيَّتَهُ هُمُ الْبَاقِينَ (الصافات ۷۷) اوالله ﷻ فرمایلی دی: وَلَقَدْ أَرْسَلْنَا نُوحًا وَإِبْرَاهِيمَ وَجَعَلْنَا فِي ذُرِّيَّتِهِمَا النُّبُوَّةَ وَالْكِتَابَ (الحدید ۲۲) اودارنګه الله ﷻ فرمایلی دی: وَلَقَدْ بَعَثْنَا فِي كُلِّ أُمَّةٍ رَسُولًا أَنِ اعْبُدُوا اللهَ وَاجْتَنِبُوا الطَّاغُوتَ (سورة النحل ۳۲)، او دارنګه الله ﷻ فرمایلی دی: وَاسْأَلْ مَنْ أَرْسَلْنَا مِنْ قَبْلِكَ مِنْ رُسُلِنَا أَجَعَلْنَا مِنْ دُونِ الرَّحْمَنِ آلِهَةً يُعْبَدُونَ (سورة الزخرف \ ۴۵) اودارنګه الله ﷻ فرمایلی دی: وَمَا أَرْسَلْنَا مِنْ قَبْلِكَ مِنْ رَسُولٍ إِلَّا نُوحِي إِلَيْهِ أَنَّهُ لَا إِلَهَ إِلَّا أَنَا فَاعْبُدُونِ (سورة الانبیاء\ ۲۵) اوددی دوجی نوح ﷺ خپل قوم ته وویل: يَا قَوْمِ اعْبُدُوا اللهَ مَا لَكُمْ مِنْ إِلَهٍ غَيْرُهُ أَفَلَا تَتَّقُونَ (سورة المومنون\ ۲۳) اودارنګه الله ﷻ فرمایلی دی: يَا قَوْمِ اعْبُدُوا اللهَ مَا لَكُمْ مِنْ إِلَهٍ غَيْرُهُ أَفَلَا تَتَّقُونَ (سورة الاعراف \۲۵) اودارنګه الله ﷻ فرمایلی دی: قَالَ يَا قَوْمِ إِنِّي لَكُمْ نَذِيرٌ مُبِينٌ (۲) أَنِ اعْبُدُوا اللهَ وَاتَّقُوهُ وَأَطِيعُونِ (سورة نوح۲\۳) اودارنګه یې په بل ځای کی فرمایلی دی: وَقَدْ خَلَقَكُمْ أَطْوَارًا (سورة نوح ۱۴) نوددی څخه دا

(c) ketabton.com: The Digital Library



معلومه سوه چې ده ٔ دوی ته هرقسم دعوت ورکړی دی دشپې اوورځې، په پټه اوپه ښکاره، اوپه بیره ورکولو سره اوپه زیری ورکولو سره، اوپه دی طریقی کی یوه طریقه هم کامیابه نه سوه، بلکی دوی په خپلو ګمراهیانو کی نور هم سرکښه سوه اومشران ددوی به داویل: قَالَ الْمَلَأُ مِنْ قَوْمِهِ إِنَّا لَنَرَاكَ فِي ضَلَالٍ مُبِينٍ (سورة الاعراف \ ۶۰) یعنی مشران ددوی به نوح ﷺ ت ویله: إِنَّا لَنَرَاكَ فِي ضَلَالٍ مُبِينٍ یقینًا موږ وینو تا په ګمراهی ښکاره کی نوده ورته وویل چې: قَالَ يَا قَوْمِ لَيْسَ بِي ضَلَالَةٌ وَلَكِنِّي رَسُولٌ مِنْ رَبِّ الْعَالَمِينَ (سورة الاعراف\ ۶۱) یعنی زه نه یم په ګمراهی باندی هغه چې تاسی ګمان کوی، بلکی زه په هغه سیده لاریم دالله ﷻ طرف ته هغه الله ﷻ چې یوشی ته وایی چې سه نوسی: أُبَلِّغُكُمْ رِسَالَاتِ رَبِّي وَأَنْصَحُ لَكُمْ وَأَعْلَمُ مِنَ اللهِ مَا لَا تَعْلَمُونَ (سورة الاعراف \ ۶۲) اودا شان درسول دی چې دی به وی بلیغ اوفصیح اوناصح او پوه شخص دالله ﷻ په باری کی، اودوی کافرانو به ورته ویله چې څه به یې ورته ویل: مَا نَرَاكَ إِلَّا بَشَرًا مِثْلَنَا وَمَا نَرَاكَ اتَّبَعَكَ إِلَّا الَّذِينَ هُمْ أَرَاذِلُنَا بَادِيَ الرَّأْيِ وَمَا نَرَى لَكُمْ عَلَيْنَا مِنْ فَضْلٍ بَلْ نَظُنُّكُمْ كَاذِبِينَ (سورة هود\۲۷) دوی به تعجب کوی په دی خبری باندی چې رسول دی بشر وی، اوسپك به یې کتل هغو کسانو ته چې دده تابعداری یې کوله اوویل به یې چې داخو زموږ څخه کښته خلګ دی اودا ضعفاء خلګ دی. اوقول ددوی چې (بادی الرای) یعنی صرف ستا دعوت په اوریدو سره یې ایجابت وکی بغیر دکتو څخه اوبغیر دنظر څخه په دی کی. اوهم پرهغه خبروبه یې طعن (یعنی پیغور ورکوی) دکمو په سبب چې مدحه او ستاینه سوی وه د (صحابوو کرامو) ولی چې حق ښکاره سی نوپه هغه کی دسوچ کوی هیڅ ضرورت نه وی، بلکی څنګه چې ښکاره سی نواتباع کول یې واجب دی: ددی وجی څخه رسول الله ﷺ فرمایلی دی (په تعریف دابوبکر ﷺ کی) چې ماچاته هم دعوت داسلام نه دی ورکړی مګر دهغه به په زړه کی تردد اوشك وو بغیر دابوبکرﷺ څخه چې ده بغیر دڅه شك اوپښتنو څخه اسلام قبول کړی دی، اوهم په دی وجه دیوم الثقیفة په ورځ ددوی بیعت ډیرپه تلواری سره وسو بغیر دڅه فکر اوسوچ څخه، ولی چې افضلیت دده ښکاره وو او ظاهر وو په نورو صحابوو باندی، اوددی دوجی رسول الله ﷺ فرمایلی دی چې کله به یې دلیکل کولو اراده وکړه دپاره دمقررولو دخلافت دحقدارانو هغه لیکل به یې پریښوول، اوبیایې وفرمایل چې الله ﷻ اومومنان نول انکارکوی په ماسوا دابوبکرﷺ څخه، اوقول دکافرانو نوح ﷺ ته او دهغه تابعدارانوته : وَمَا نَرَى لَكُمْ عَلَيْنَا مِنْ فَضْلٍ یعنی نه دی ښکاره سوی ستاسی دپاره یوڅه خاص کار وروسته دایمان راوړلو څخه اونه ستاسی په موږ باندی څه فضل سته: بَلْ نَظُنُّكُمْ كَاذِبِينَ (۲۷) قَالَ يَا قَوْمِ أَرَأَيْتُمْ إِنْ كُنْتُ عَلَى بَيِّنَةٍ مِنْ رَبِّي

(c) ketabton.com: The Digital Library



وَآتَانِي رَحْمَةً مِنْ عِنْدِهِ فَعُمِّيَتْ عَلَيْكُمْ أَنُلْزِمُكُمُوهَا وَأَنْتُمْ لَهَا كَارِهُونَ بلکې تاسې موږ ته دروا غجن ښکاری، اوداخطاب دنوح ﷺ ډير دنرمی په اندازکی وو اونرمی به يې کوله په دعوت کی دحق طرف ته چې دوی دحق ارخ ته مایله سی لکه څه رنګه چې الله ﷻ فرمایلی دی: فَقُولَا لَهُ قَوْلًا لَيِّنًا لَعَلَّهُ يَتَذَكَّرُ أَوْ يَخْشَى (طه \ ۴۴) اودارنګه يې په بل ځای کی فرمایلی دی: ادْعُ إِلَى سَبِيلِ رَبِّكَ بِالْحِكْمَةِ وَالْمَوْعِظَةِ الْحَسَنَةِ وَجَادِلْهُمْ بِالَّتِي هِيَ أَحْسَنُ (سورة النحل \ ۱۲۵) اودی نوح ﷺ به دوی ته ویله چې: قَالَ يَا قَوْمِ أَرَأَيْتُمْ إِنْ كُنْتُ عَلَى بَيِّنَةٍ مِنْ رَبِّي وَآتَانِي رَحْمَةً مِنْ عِنْدِهِ (سورة هود \ ۲۸) یعنی دانبوت اورسالت: فَعُمِّيَتْ عَلَيْكُمْ أَنُلْزِمُكُمُوهَا وَأَنْتُمْ لَهَا كَارِهُونَ (سورة هود \۲۸) یعنی تاسی په دی حق باندی پوه نه سواست اوهدایت مو ځینی حاصل نه کی (اَنُلْزِمُكُمُوْهَا) (سورة هود \۲۸) یعنی آیازه تاسی مجبوره کوم پردی باندی : وَأَنْتُمْ لَهَا كَارِهُونَ (سورة هود \۲۸) یعنی زما په تاسی کی څه حیله نسته اوحال دادی چې تاسی بد ګڼونکی یاست ددی حق وَمَا أَسْأَلُكُمْ عَلَيْهِ مِنْ أَجْرٍ إِنْ أَجْرِيَ إِلَّا عَلَى رَبِّ الْعَالَمِينَ (سورة الشعراء \ ۱۰۹) یعنی زه ستاسی څخه ددی په بدله کی هیڅ څه نه غواړم بلکه زه به دالله ﷻ څخه ددی په بدل کی ثواب غواړم دهغه ذات څخه چې هغه ښه ورکونکی دی دهرچا څخه اوهغه به ماته ښه راکی ترهغه چې تاسی يې ماته راکوی.

اودارنګه قول دالله ﷻ: وَمَا أَنَا بِطَارِدِ الَّذِينَ آمَنُوا إِنَّهُمْ مُلَاقُو رَبِّهِمْ وَلَكِنِّي أَرَاكُمْ قَوْمًا تَجْهَلُونَ (سورة هود\ ۲۹) ګواکی چې دوی طلب وکی دده دلیری والی ددوی څخه، اودوی ورسره وعده وکړه اوپه دی خبره ټولو اتفاق وکی چې دی څه خبره اوڅه کار کوی نوموږ به دهغه څخه انکارکوو (اِنَّهُمْ مُلٰقُوْا رَبِّهِمْ) یعنی دوی يې وبیرول چې تاسی که انکار وکی اوحق مو شاته وغورزوی نوتاسی به دالله ﷻ خواته پیش کیږی. او ددی وجی څخه کله چې کفار دقریشو دنبی ﷺ څخه داوغوښتله چې دی دی دځان څخه سپك اوکمزوری خلګ لیری کی، لکه عمار اوصهیب اوبلال اوخباب اوداسی نورسوه، نوالله ﷻ منع کی دی ددی کار څخه، لکه څنګه چې موږ بیان کړه په سورة کهف کی اوپه سورة انعام کی: وَلَا أَقُولُ لَكُمْ عِنْدِي خَزَائِنُ اللهِ وَلَا أَعْلَمُ الْغَيْبَ وَلَا أَقُولُ إِنِّي مَلَكٌ (سورة هود \۳۱) یعنی ده وویل چې زه خو یورسول اوبنده دالله ﷻ یم زه نه پوهیږم مګرپه هغه چې الله ﷻ ماته راښوولی دی اوزه په ځان باندی قادرنه یم مګرپه هغه چې الله ﷻ پرقادر کړی یم اوخپل نفس ته دنفع اوضرر رسولو مالك هم نه یم مګر هغه چې الله ﷻ وغواړی: وَلَا أَقُولُ لِلَّذِينَ تَزْدَرِي أَعْيُنُكُمْ (سورة هود\ ۳۱) اوزه دانه وایم چې په دوی کی خیر نسته دالله ﷻ په نزد باندی په ورځ دقیامت کی، الله ښه

(c) ketabton.com: The Digital Library



پوهیږی ددوی په زړونو باندی اوجزابه ورلره ورکی ددوی دنیتونو مطابق که په نیت کی خیروو نوخیر اوکه په نیت کی شروو نوجزابه هم دشر ورکول کیږی.
لکه څه رنګه چی دوی ویلی دی په نورو ځایونو کی: قَالُوا أَنُؤْمِنُ لَكَ وَاتَّبَعَكَ الْأَرْذَلُونَ (۱۱۱) قَالَ وَمَا عِلْمِي بِمَا كَانُوا يَعْمَلُونَ (۱۱۲) إِنْ حِسَابُهُمْ إِلَّا عَلَى رَبِّي لَوْ تَشْعُرُونَ (۱۱۳) وَمَا أَنَا بِطَارِدِ الْمُؤْمِنِينَ (۱۱٤) إِنْ أَنَا إِلَّا نَذِيرٌ مُبِينٌ (سورة الشعراء ۱۱۱\۱۱۵) اودارنګه اوږده سوه زمانه ډیره ددوی په دی جنګونو کی لکه څه رنګه چی فرمایلی دی الله ﷻ : فَلَبِثَ فِيهِمْ أَلْفَ سَنَةٍ إِلَّا خَمْسِينَ عَامًا فَأَخَذَهُمُ الطُّوفَانُ وَهُمْ ظَالِمُونَ (سورة العنکبوت \ ۱۴) ددی ډیری مودی تیریدو سره بیا هم ایمان قبول نه کی مګر لږو خلګو ددوی څخه، اووه به چی هریو نوی نسل راتلی نوهغه ته به مشرانو داوصیت کوی چی دده په دی خبری دی ایمان نه راوړی اودده مخالفت دی کوی. او وو به پلار چی کله به یی زوی عاقل اوبالغ سو نووصیت به یې ورته کوی چی دنوح عليه السلام په دین باندی به ایمان نه راوړی ترڅو چی ژوندی یې، اودا ددوی کار وو چی انکار به یې کوی په خپله اونورو ته به یې هم دانکار کولو ترغیب ورکوی اومنع به یې کول داتباع دحق څخه، نوپه دی وجه نوح عليه السلام عرض وکی خپل رب ته: وَلَا يَلِدُوا إِلَّا فَاجِرًا كَفَّارًا (سورة نوح \ ۲۷) اوددی وجی څخه وویل ورته دی کافرانو: قَالُوا يَا نُوحُ قَدْ جَادَلْتَنَا فَأَكْثَرْتَ جِدَالَنَا فَأْتِنَا بِمَا تَعِدُنَا إِنْ كُنْتَ مِنَ الصَّادِقِينَ (۳۲) قَالَ إِنَّمَا يَأْتِيكُمْ بِهِ اللهُ إِنْ شَاءَ وَمَا أَنْتُمْ بِمُعْجِزِينَ (سورة هود ۳۲\ ۳۳) یعنی په هغه چی مادهغه ستاسی سره وعده کړیده په هغه باندی الله ﷻ قادردی، ولی چی هغه داسی ذات دی چی هغه هیڅ شی نه سی عاجزه کولی. بلکه هغه داسی ذات دی چی یوشی ته وایی چی سه نو پس هغه وسی، وَلَا يَنْفَعُكُمْ نُصْحِي إِنْ أَرَدْتُ أَنْ أَنْصَحَ لَكُمْ إِنْ كَانَ اللهُ يُرِيدُ أَنْ يُغْوِيَكُمْ هُوَ رَبُّكُمْ وَإِلَيْهِ تُرْجَعُونَ (سورة هود \۳۴) یعنی څوك چی الله ﷻ ګمراه کړیدی نوڅوك هم دانه سی کولی چی ده ته هدایت وکی الله هغه ذات دی چی چاته هدایت نصیب کوی اوچاته ګمراهی، اوهغه داسی ذات دی چی څه غواړی هغه کوی، اوهغه غالبه اوحکمتونو والا ذات دی، اوپوه دی په هغه چاچی هغه مستحق دهدایت دی اوپه هغه چاچی هغه مستحق دعقوبت دی، اوهغه ذات لره دی حکمت بالغه، وَأُوحِيَ إِلَى نُوحٍ أَنَّهُ لَنْ يُؤْمِنَ مِنْ قَوْمِكَ إِلَّا مَنْ قَدْ آمَنَ (سورة هود \ ۳۶) داتسلی ده دهغه خبرو څخه چی دهغه داړخه ده ته وسوی، فَلَا تَبْتَئِسْ بِمَا كَانُوا يَفْعَلُونَ (سورة هود \۳۶) او دا تعزیه ده نوح عليه السلام ته چی نور څوك ایمان نه راوړی ماسوا ددوی څخه چی کمو ایمان راوړی دی، اونه دی خفه کوی تا هغه چی وسو ولی چی کامیابی نژدی ده اودا خبربه حیران کی حیران کونکی:

(c) ketabton.com: The Digital Library



وَاصْنَعِ الْفُلْكَ بِأَعْيُنِنَا وَوَحْيِنَا وَلَا تُخَاطِبْنِي فِي الَّذِينَ ظَلَمُوا إِنَّهُمْ مُغْرَقُونَ (سورة هود ۳۷\) اودا ددی وجی څخه چی نوح ﷺ کله مایوسه سو دخپل قوم څخه چی دهغو نور اصلاح اوکامیابی نه کیدله، اودایې ولیده چی په دوی کی نورڅه خیرنسته، اودایې ولیده چی نور هغو ده ته هر قسم اذیت اوتکلیفونه رسول په هره طریقی سره په قول اوفعل دواړو سره اودده مخالفت یې کوی اوتکذیب یې کوی دده، نودعا وکړه ده په عذاب راوستلو په دوی باندی دالله ﷻ څخه، اوالله ﷻ دده دادعا قبوله کړه.

الله ﷻ فرمایلی دی : وَلَقَدْ نَادَانَا نُوحٌ فَلَنِعْمَ الْمُجِيبُونَ (۷۵) وَنَجَّيْنَاهُ وَأَهْلَهُ مِنَ الْكَرْبِ الْعَظِيمِ (سورة الصافات ۷۵\ ۷۶) اودارنګه یې په بل ځای کی فرمایلی دی: وَنُوحًا إِذْ نَادَى مِنْ قَبْلُ فَاسْتَجَبْنَا لَهُ فَنَجَّيْنَاهُ وَأَهْلَهُ مِنَ الْكَرْبِ الْعَظِيمِ (سورة الانبیاء ۷۶\) اودارنګه الله ﷻ فرمایلی دی: قَالَ رَبِّ إِنَّ قَوْمِي كَذَّبُونِ (۱۱۷) فَافْتَحْ بَيْنِي وَبَيْنَهُمْ فَتْحًا وَنَجِّنِي وَمَنْ مَعِيَ مِنَ الْمُؤْمِنِينَ (سورة الشعراء ۱۱۷\ ۱۱۸) اودارنګه الله ﷻ فرمایلی دی: فَدَعَا رَبَّهُ أَنِّي مَغْلُوبٌ فَانْتَصِرْ (سورة القمر ۱۰) اودارنګه الله ﷻ فرمایلی دی: قَالَ رَبِّ انْصُرْنِي بِمَا كَذَّبُونِ (۲۶) فَأَوْحَيْنَا إِلَيْهِ أَنِ اصْنَعِ الْفُلْكَ بِأَعْيُنِنَا وَوَحْيِنَا فَإِذَا جَاءَ أَمْرُنَا وَفَارَ التَّنُّورُ فَاسْلُكْ فِيهَا مِنْ كُلٍّ زَوْجَيْنِ اثْنَيْنِ وَأَهْلَكَ إِلَّا مَنْ سَبَقَ عَلَيْهِ الْقَوْلُ مِنْهُمْ وَلَا تُخَاطِبْنِي فِي الَّذِينَ ظَلَمُوا إِنَّهُمْ مُغْرَقُونَ (۲۷) فَإِذَا اسْتَوَيْتَ أَنْتَ وَمَنْ مَعَكَ عَلَى الْفُلْكِ فَقُلِ الْحَمْدُ لِلَّهِ الَّذِي نَجَّانَا مِنَ الْقَوْمِ الظَّالِمِينَ (۲۸) وَقُلْ رَبِّ أَنْزِلْنِي مُنْزَلًا مُبَارَكًا وَأَنْتَ خَيْرُ الْمُنْزِلِينَ (۲۹) إِنَّ فِي ذَلِكَ لَآيَاتٍ وَإِنْ كُنَّا لَمُبْتَلِينَ (۳۰) ثُمَّ أَنْشَأْنَا مِنْ بَعْدِهِمْ قَرْنًا آخَرِينَ (۳۱) فَأَرْسَلْنَا فِيهِمْ رَسُولًا مِنْهُمْ أَنِ اعْبُدُوا اللهَ مَا لَكُمْ مِنْ إِلَهٍ غَيْرُهُ أَفَلَا تَتَّقُونَ (۳۲) وَقَالَ الْمَلَأُ مِنْ قَوْمِهِ الَّذِينَ كَفَرُوا وَكَذَّبُوا بِلِقَاءِ الْآخِرَةِ وَأَتْرَفْنَاهُمْ فِي الْحَيَاةِ الدُّنْيَا مَا هَذَا إِلَّا بَشَرٌ مِثْلُكُمْ يَأْكُلُ مِمَّا تَأْكُلُونَ مِنْهُ وَيَشْرَبُ مِمَّا تَشْرَبُونَ (۳۳) وَلَئِنْ أَطَعْتُمْ بَشَرًا مِثْلَكُمْ إِنَّكُمْ إِذًا لَخَاسِرُونَ (۳٤) أَيَعِدُكُمْ أَنَّكُمْ إِذَا مِتُّمْ وَكُنْتُمْ تُرَابًا وَعِظَامًا أَنَّكُمْ مُخْرَجُونَ (۳۵) هَيْهَاتَ هَيْهَاتَ لِمَا تُوعَدُونَ (۳۶) إِنْ هِيَ إِلَّا حَيَاتُنَا الدُّنْيَا نَمُوتُ وَنَحْيَا وَمَا نَحْنُ بِمَبْعُوثِينَ (۳۷) إِنْ هُوَ إِلَّا رَجُلٌ افْتَرَى عَلَى اللهِ كَذِبًا وَمَا نَحْنُ لَهُ بِمُؤْمِنِينَ (۳۸) قَالَ رَبِّ انْصُرْنِي بِمَا كَذَّبُونِ (سورة المومنون ۲۶\۳۹) اودارنګه الله ﷻ فرمایلی دی: وَقَالَ نُوحٌ رَبِّ لَا تَذَرْ عَلَى الْأَرْضِ مِنَ الْكَافِرِينَ دَيَّارًا (۲۶) إِنَّكَ إِنْ تَذَرْهُمْ يُضِلُّوا عِبَادَكَ وَلَا يَلِدُوا إِلَّا فَاجِرًا كَفَّارًا (سورة نوح ۲۵\ ۲۷). پس راټول یې کړه ګناهونه ددوی اوکفر ددوی په دوی باندی اوفسق اوفجور ددوی په دوی باندی، نو وروسته الله ﷻ امر وکی ده ته چی کښتی جوړه کی، او داکښتی ډیره غټه وه، چی ددی مثال مخکی هم نه وو اوددی څخه وروسته هم نسته، اوالله

(c) ketabton.com: The Digital Library



ﷻ ورته وویل چی کله زما امر وسو اوزما غضب په دوی باندی نازل کیدی هغه غضب چی دمجرمانو څخه بیانه لیری کیږی نوبیادی دوی ته په دی کښتی کی ځای مه ورکوی او واپسی به دوی خلګوته نه کوی، دایې ورته ددی وجی څخه وویل چی دعذاب په وخت کی بیا کیدی سی چی دده په زړه کی نرم والی راسی، ولی چی په کتلو اوبیریدلو کی ډیر فرق وی. نوددی وجه څخه الله ﷻ فرمایلی دی: وَلَا تُخَاطِبْنِي فِي الَّذِينَ ظَلَمُوا إِنَّهُمْ مُغْرَقُونَ (سورة هود \۳۷) اودارنګه یې فرمایلی دی: وَيَصْنَعُ الْفُلْكَ وَكُلَّمَا مَرَّ عَلَيْهِ مَلَأٌ مِنْ قَوْمِهِ سَخِرُوا مِنْهُ (سورة هود \ ۳۸) یعنی دوی به استهزاء کوله ده نوح ؑ په خبره باندی چی نوح ؑ ورته دعذاب وینا کوله اودوی به داویل: قَالَ إِنْ تَسْخَرُوا مِنَّا فَإِنَّا نَسْخَرُ مِنْكُمْ كَمَا تَسْخَرُونَ (سورة هود \۳۸) یعنی موږ پناه غواړو ستاسی څخه اوتعجب کوو ستاسی په دی کفرکی پر همیشوالی باندی اوستاسی په دی ضد باندی چی داضد تقاضا دعذاب کوی په تاسی باندی: فَسَوْفَ تَعْلَمُونَ مَنْ يَأْتِيهِ عَذَابٌ يُخْزِيهِ وَيَحِلُّ عَلَيْهِ عَذَابٌ مُقِيمٌ (سورة هود\۳۹) او وو ددوی داکفر غلیظ په دی دنیاکی اواضد ددوی اوعناد ددوی په دی دنیاکی، اودارنګه ددوی داضد به په آخرت کی هم وی اوانکاربه کوی دراتګ دپیغمبر څخه دوی ته. لکه څه رنګه چی امام بخاری ذکرکړی دی په نقل کولو سره دموسیٰ بن اسماعیل څخه دی نقل کوی دعبد الواحد بن زیاد څخه دی نقل کوی داعمش څخه دی نقل کوی دابی صالح څخه دی نقل کوی دابی سعید څخه دی وایی چی فرمایلی دی رسول الله ﷺ: چی رابه سی نوح ؑ اوقوم دده په ورځ دقیامت کی، نووبه وایی الله ﷻ: ایاتا دوی ته دین رسولی دی اوبیان کړی دی تادوی ته؟ نونوح ؑ به وایی چی هو! ای ربه زما. نوبیابه دده قوم ته وایی چی ده تاسی ته دین در رسولی دی؟ نودوی به وایی چی نه: موږ ته خوبالکل پیغمبر نه دی راغلی، نووبه وایی نوح ؑ ته چی ستا دپاره شاهدی کونکی څوك سته؟ نودی به ورته وفرمایې چی محمد ﷺ اوامت دهغه، نودا امت دنبی ؑ به وایی چی موږ شاهدی ادا کوو چی ده ورته دین ورسولی دی.

اوداقول دالله ﷻ : وَكَذَلِكَ جَعَلْنَاكُمْ أُمَّةً وَسَطًا لِتَكُونُوا شُهَدَاءَ عَلَى النَّاسِ وَيَكُونَ الرَّسُولُ عَلَيْكُمْ شَهِيدًا (سورة البقره \۱۴۳) اودوسط څخه مراد عدل دی. پس دا امت به شاهدی اداکی دخپل نبی په قول باندی چی هغه ریشتینی دی، په دی خبره چی الله ﷻ نوح ؑ لیږلی وو په حق سره، اونازل کړی یې وو په ده باندی حق بیاده امر کړی وو په هغه باندی خلګوته، اودایې رسولی وو خپل امت ته په اکمله طریقه سره، اوهرڅه چی ددوی دپاره به په کی خیر وو نوهغه یې ورته هم بیان کړی دی اوامریې ورته کړی دی دهغه شی اوهر هغه کار چی

(c) ketabton.com: The Digital Library



ددوی به په کی نقصان وو نودهغه څخه یې منع کړی دی، اودا رنګه وو شان دټولو پیغمبرانو، تردی چی خپل قوم یې ددجال دفتنی څخه هم خبرکړی وو چی دهغه څخه ځان ساتی حالانکی چی دهغه په زمانه کی ددی دراوتلو هیڅ امکان نه وو بیاهم دده دشفقت او درحمت دوجی په خپل قوم باندی دا یې ورته ویلی وه.
لکه څنګه چی امام بخاری ویلی دی په نقل کولو سره دعبدان څخه دی نقل کوی دعبدالله څخه دی نقل کوی دیونس څخه دی نقل کوی دالزهری څخه دی نقل کوی دسالم څخه دی وایی چی ویلی دی ابن عمر: ولاړ سو رسول الله ﷺ دخلګو په مینځ کی نوداﷲ ثناء او صفات یې بیان کړه. بیایې ذکر ددجال وکی نو ویې ویل: چی زه تاسی بیروم دهغه څخه، او نسته داسی یوپیغمبر چی خپل قوم یې دهغه څخه نه وي بیرولی. اودارنګه بیره ورکړه نوح ؑ خپل قوم ته، لیکن زه تاسی ته دهغه په باره کی یوقول وایم چی هغه چاهم نه دی ویلی خپل امت ته: تاسی ته پته سته چی هغه (ړوند) دی یعنی یوه سترګه یې ده، اوالله ﷻ اعور نه دی (١) اوداحدیث په صحیحینو کی هم ذکردی دحدیث دشیبان بن عبدالرحمٰن څخه چی هغه یې نقل کوی دیحیٰی بن ابی کثیر څخه دی نقل کوی دابی سلمه بن عبدالرحمٰن څخه دی نقل کوی دابی هریره څخه دی وایی چی رسول الله ﷺ فرمایلی دی: ایازه تاسی خبرنه کړم ددجال په باره کی دداسی خبری څخه چی دامخکی یونبی هم خپل قوم ته نه ده کړی؟ دی (ړوند) دی اودی به راوړی دځان سره په مثال دجنت اودوږخ کم ته چی دی جنت وایی هغه به جهنم وی، اوزه تاسی ته بیره درکوم ددی څخه لکه څنګه چی بیره ورکړیده نوح ؑ خپل قوم ته دالفظ دبخاری دی. (٢)
اوبعضو سلفو داسی ویلی دی: کله چی قبوله کړه الله دده دعا نو امریې ورته وکی چی یوه درختنه اره کی چی دهغه څخه بیا داکښتی جوړه کی، نودایې وکرله اوبیایې ورته سل کاله انتظار وکی، بیایې په سل کاله کی نجاری پر وکړه، اوبعضو ویلی دی چی په څلوېښتو کالوکی. او ویلی دی محمد بن اسحاق دثوری څخه: اودا دساج لرګی درختنه وه چی دایوه مشهوره درختنه ده اوچا ویلی دی چی دا دچلغوزو درختنه وه اوداپه نص دتورات کی ذکر دی، اوثوری ویلی دی چی: ده ته امر وسو چی ددی اوږدوالی دی (٨٠) ګزه ، اوددی دننه ځای او دباندی اړخ په تار کولو باندی بندکی، او وګرزوی ددې سینه داسی چی اوبه شړی

---

(١). ددی حدیث تخریج امام بخاری کړی دی په کتاب احادیث الانبیاء کی، باب قول الله عزوجل، ولقد ارسلنا نوحا الی قومه) ٦\ ٣٣٣٧).
(٢). ددی حدیث تخریج کړی دی امام بخاری په کتاب احادیث الانبیاء کی، باب قول الله تعالی (ولقد ارسلنا نوحا الی قومه) ٦\ ٣٣٣٨) دطریقی دابی نعیم څخه. اومسلم په کتاب الفتن کی، باب ذکر الدجال (١٨\ ٢٢) دطریقی دمحمد بن رافع څخه.

(یعنی سینه دې یې ورجګه اوتیره کړې ترڅو اوبه په آسانی سره وڅیرلای سی) اوقتادة [1] ویلی دی چی وو ددی اوږدوالی (۳۰۰) ګزه اوپلن والی ددی (۵۰) ګزه اودی وایی چی دا قول په بناء دهغه دی چی مالیدلی دی په تورات کی.
اوحسن بصری ویلی دی چی ددی اوږدوالی (۶۰۰) ګزه وو اوپلن والی ددی (۳۰۰) ګزه وو اوابن عباس وایی چی ددی اوږدوالی (۱۲۰۰) ګزه وو اوپلن والی ددی شپیته ګزه وو، او بعضو ویلی دی چی اوږدوالی ددی (۲۰۰۰) وو اوپلن وایی یې (۱۰۰) ګزه وو اودوی ټولو ویلی دی چی لوړ والی ددی (۳۰) ګزه وو اودا دری چته وه هریو چت (۱۰) ګزه وو نو لاندنی چت دپاره دحیوانانو وو مینځنی چت دپاره دانسانانو وو اولوړ چت دپاره دمرغانو وو، او وه دروازه ددی په پلن والی کی.
دا رنګه الله ﷻ فرمایلی دی: قَالَ رَبِّ انْصُرْنِي بِمَا كَذَّبُونِ (۲۶) فَأَوْحَيْنَا إِلَيْهِ أَنِ اصْنَعِ الْفُلْكَ بِأَعْيُنِنَا وَوَحْيِنَا (سورة المومنون ۲۷\۲۲) یعنی زموږ امر دی تاته، اوپه کتلوسره زموږ ستا جوړولو ته، چی موږ تاته صحیح طریقه دجوړولو وښیو، فَإِذَا جَاءَ أَمْرُنَا وَفَارَ التَّنُّورُ فَاسْلُكْ فِيهَا مِنْ كُلٍّ زَوْجَيْنِ اثْنَيْنِ وَأَهْلَكَ إِلَّا مَنْ سَبَقَ عَلَيْهِ الْقَوْلُ مِنْهُمْ وَلَا تُخَاطِبْنِي فِي الَّذِينَ ظَلَمُوا إِنَّهُمْ مُغْرَقُونَ، (المومنون ۲۷\۲۲) نوپیش یې کی هغه لوی کار ده ته اوامریې وکی چی کله عذاب په دوی راځی نوته داټول حیوانات اومرغان اوهغه کسان چی ایمان یې راوړی دی هغه ټول ته په دی کښتی کی سپاره کړه ددی دپاره چی ددوی نسل پاته سی، اوداپې ورته هم وویل چی خپل کورنی هم دځان سره بار کړه مګرنه هغه چی په هغه باندی فیصله سوی وی. نو دوی بارکړه داټول په کښتۍ کی اوپه دی کافرانو باندی عذاب نازل سو، اودی ته یې امر کړی وو چی داکافران به بیادی کښتی ته نه راځی کله چی په دی باندی عذاب راکښته سی. لکه څه رکم چی موږ ددی بیان مخکی ذکرکی. اومراد په تنور سره په نیز دجمهورو باندی: مخ دمزکی مراد دی، یعنی راوتلی دا اوبه دمزکی دهر اړخ څخه تردی چی اوبه راوتلی دهغه تنورونو څخه چی هغه داور دپاره جوړسوی وه، اودابن عباس څخه نقل دی: چی داتنور یوه چینه ده په هندکی. اوشعبی ویلی دی چی داپه کوفه کی ده اوقتاده وایی چی داپه الجزیره کی ده. اوویلی دی علی بن ابی طالب تنور چاودلو دسپیدوته اوړنا ددی ته، یعنی ددی نور او ړنا ته یعنی په دی وخت کی ته دا ټول بار کړه په کښتۍ کی دهر یوه

---

[1]. داقتاده زوی ددعامه بن قتاده بن عزیز ابوالخطاب السدوسی البصری دی ، دی مفسر اوحافظ وو، اوړوند وو امام احمد ویلی دی چی قتاده احفظ داهل بصری دی او وو دده سره علم په مفرداتو دلغت باندی او ورسره وو علم دحدیثو دی وفات سوی دی په طاعون ناجوړی سره. اودی پیدا سوی دی په (۶۰) هجری باندی اووفات سوی دی په (۱۱۸) هجری باندی اوبعضو ویلی دی چی په (۱۱۷) هجری باندی وفات سوی دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



دجوړو څخه دوه دوه، اودا قول غریب دی یعنی په دی قول باندی اقوال دومره نسته.
اودارنګه قول دالله ﷻ : حَتَّى إِذَا جَاءَ أَمْرُنَا وَفَارَ التَّنُّورُ قُلْنَا احْمِلْ فِيهَا مِنْ كُلٍّ زَوْجَيْنِ اثْنَيْنِ وَأَهْلَكَ إِلَّا مَنْ سَبَقَ عَلَيْهِ الْقَوْلُ وَمَنْ آمَنَ وَمَا آمَنَ مَعَهُ إِلَّا قَلِيلٌ (سورة هود\۴۰) داوو امر ده ته چی کله عذاب نازلیدی په دوی باندی چی بارکړی دی دهری جوړی څخه دوه دوه. اوپه کتاب داهل کتابو کی داذکر سوی دی: چی ده ته امر وسو چی بار کړی دځان سره دهغو حیواناتو څخه چی دهغه غوښه دخوړلو وی (۷) جوړی. اودهغه چی دهغه غوښه نه خوړل کیږی دوی دوی جوړی یونر اوبل ماده.
اودا بدل مفهوم دی دقول دالله ﷻ څخه اوحال داچی زموږ کتاب حق دی اوپه دی کی (اثنین) ذکر سوی دی که چیری داموږ وګرځوو مفعول به نوبیا برابریږی. والله اعلم.
اوبعضو داذکر کړی دی په روایت کولو سره ددابن عباس څخه: چی اول دننه سویدی دی کښتی ته مرغان (در) مرغی چی دایو قسم مرغی ده اوپه حیواناتو کی آخر (خر) دننه سوی دی، اودننه سو ابلیس دی ته چی ننبتی وو دخره په غوږ پوری ابن حاتم ویلی دی په نقل کولو سره دابی څخه دی نقل کوی دعبدالله بن صالح څخه دی نقل دلیث څخه دی نقل کوی دهشام بن سعد څخه دی نقل کوی دزیدبن اسلم څخه دی نقل کوی دخپل پلار څخه دی نقل کوی درسول الله ﷺ څخه چی فرمایلی یې دی: کله چی داخل کړه نوح ﷺ کښتی ته دوی دوی جوړی، نوخپلو ملګرو ورته وویل چی: موږ به څنګه مطمئن سو؟ اویایې داسی وویل چی ته به څنګه مطمئن سی په باره دحیوان کی حالانکه زموږ سره زمری هم سته په دوی کی؟ نوالله ﷻ پردې زمری باندی تبه راوسته، نودا وه اوله تبه په مځکه کی چی الله ﷻ نازله کړه بیا دوی ګیله وکړه دموږك څخه چی داخو زموږ توله خوراکه خرابوی. نوالله ﷻ دی زمری ته وحی وکړی نوده پرنجی وکی نودهغه څخه پیشی راووتله نودا موږك پټ سو ددی پیشو څخه، داحدیث مرسل دی، اودارنګه قول دالله ﷻ : وَأَهْلَكَ إِلَّا مَنْ سَبَقَ عَلَيْهِ الْقَوْلُ (سورة هود \۴۰) یعنی چی دچا دعا قبوله سویده په باره دکافرانو کی اودچا نه ده قبوله سوی لکه دنوح ﷺ دعا دخپل زوی دپاره چی (یام) دی دی هم غرق سوپه هغه عذاب کی (وَمَنْ آمَنَ) (سورة هود\۴۰) یعنی بارکړه په دی کی هغه چی په تاباندی یې ایمان راوړی دی ستا دامت څخه. دارنګه الله ﷻ فرمایلی دی: وَمَا آمَنَ مَعَهُ إِلَّا قَلِيلٌ (هود \۴۰) یعنی په دی دومره موده کی ډیر لږو خلګو ایمان راوړی. سره ددومره تکلیفونو چی سهار اوماښام به یې دعوت کوی کله به یې بیره ورکوله دوی ته اوکله به یې زیری ورکوی کله به یې په نرمی سره دعوت کوی اوکله به یې تیزی کوله اوعلماوو اختلاف کړی دی په تعداد دخلګو کی چی دده سره په کښتی کی وه. نو ابن عباس ویلی دی چی (۸۰) سړی وه او ددوی سره

(c) ketabton.com: The Digital Library



ښځې هم وی، اوکعب الاحبار ویلی دی چې (۷۲) وه. اوچاویلی دی چې (۱۰) وه اوچاویلی دی چې نوح ﷺ وو اودده دری ځامن وه اودده دځامنو ښځې یې ورسره دښځې د(یام) کم چې انکار کړی وو، اوځان یې دنجات دلاری څخه واړوی، اوپه دی قول کی مخالفت دی دظاهر دآیت سره، بلکی دا آیت په دی باندی دلالت کوی چې دده سره دخپلی کورنی څخه ماسوا نور خلګ هم وه. لکه څنګه چې الله ﷻ فرمایلی دی: وَنَجِّنِي وَمَنْ مَعِيَ مِنَ الْمُؤْمِنِينَ (سورة الشعراء \۱۱۸). اوویل سوی دی چې دا (۷) وه. اوهرڅه چې ښځه دنوح ﷺ وه داوه مور دټولو بچیانو دنوح ﷺ، حام، سام، یافث، یام، اودی ته اهل کتاب (کنعان) وایی اودا هغه وو چې غرق سوی وو په طوفان کی اوبل عابر وو. پس دامړه سویدی مخکی دطوفان څخه اوبعضی وایی چې دامړه سوی دی په طوفان کی اوداوه دهغو څخه چې پرده باندی هم دقول تسبیق سوی دی دوجې دکفر دده څخه. اوپه نزد داهل کتابو کی دی په کښتی کی وو. نودوی وایی چې احتمال لری چې ده وروسته کفر کړی دی، یادی انتظار کړی وی دقیامت. اوظاهر قول اولنی دی: لَا تَذَرْ عَلَى الْأَرْضِ مِنَ الْكَافِرِينَ دَيَّارًا (سورة نوح \ ۲۶)، اودا رنګه الله ﷻ فرمایلی دی: فَإِذَا اسْتَوَيْتَ أَنْتَ وَمَنْ مَعَكَ عَلَى الْفُلْكِ فَقُلِ الْحَمْدُ لِلَّهِ الَّذِي نَجَّانَا مِنَ الْقَوْمِ الظَّالِمِينَ (۲۸) وَقُلْ رَبِّ أَنْزِلْنِي مُنْزَلًا مُبَارَكًا وَأَنْتَ خَيْرُ الْمُنْزِلِينَ (سورة المومنون ۲۸\ ۲۹) په دی آیت کی یې امر کړی دی درب په حمد کولو باندی اوشکر کولو باندی په دی خبره چې الله ﷻ ورته کښتی مسخره کړه اوده ته یې نجات ورکی اوفتح یې ورکړه په قوم دکافرانو باندی اوسترګی یې ورلره یخی کړی په هلاکت ده هغو کافرانو چې دده درسالت تکذیب یې کوی اوخلاف یې کوی لکه څه رنګه چې الله ﷻ فرمایلی دی: وَالَّذِي خَلَقَ الْأَزْوَاجَ كُلَّهَا وَجَعَلَ لَكُمْ مِنَ الْفُلْكِ وَالْأَنْعَامِ مَا تَرْكَبُونَ (۱۲) لِتَسْتَوُوا عَلَى ظُهُورِهِ ثُمَّ تَذْكُرُوا نِعْمَةَ رَبِّكُمْ إِذَا اسْتَوَيْتُمْ عَلَيْهِ وَتَقُولُوا سُبْحَانَ الَّذِي سَخَّرَ لَنَا هَذَا وَمَا كُنَّا لَهُ مُقْرِنِينَ (۱۳) وَإِنَّا إِلَى رَبِّنَا لَمُنْقَلِبُونَ (سورة الزخرف ۱۲\ ۱۴).

اودارنګه به ورته امرکیدی ددعاګانو په اول اول وختونو کی: چې دی وی په خیر اوبرکت کی اوچې وی دده عاقبت ښه اومحمود، لکه څه رنګه چې فرمایلی دی الله ﷻ خپل رسول الله ﷺ ته په وخت دهجرت کی: وَقُلْ رَبِّ أَدْخِلْنِي مُدْخَلَ صِدْقٍ وَأَخْرِجْنِي مُخْرَجَ صِدْقٍ وَاجْعَلْ لِي مِنْ لَدُنْكَ سُلْطَانًا نَصِيرًا (سورة الاسراء \۸۰) اوویلی دی نوح ﷺ په وخت دوصیت کی هغه خلګوته چې ورسره په کښتی کی وه: ارْكَبُوا فِيهَا بِسْمِ اللهِ مَجْرَاهَا وَمُرْسَاهَا إِنَّ رَبِّي لَغَفُورٌ رَحِيمٌ (سورة هود \ ۴۱) یعنی په نامه دالله ﷻ باندی دی ددی ګرځیدل اوانتهاء ددی، إِنَّ رَبِّي لَغَفُورٌ رَحِيمٌ یعنی هغه ذات دردناك عذاب ورکونکی دی سره ددی چې بخښونکی اومهربانه هم

(c) ketabton.com: The Digital Library



دی، چې نه لیری کیږی عذاب ددی دظالمانو څخه، لکه څنګه چې یې داعذاب راکښته کړی وو په مځکه والاوو باندی چې عبادت یې دغیرو کړی وو.
الله ﷻ فرمایلی دی: وَهِيَ تَجْرِي بِهِمْ فِي مَوْجٍ كَالْجِبَالِ (سورة هود \ ۴۲) اودا په دی طریقی سره چې الله ﷻ بارانونه پر راکښته کړه داسی بارانونه وه چې نه مخکی داسی باران سوی وو اونه به وروسته داسی باران وسی اوامر وسو مزکی ته چې دهراړخ څخه اوبه راوباسه نوراوتلی اوبه دهراړخ دمزکی څخه. لکه څه رنګه چې الله ﷻ فرمایلی دی: فَدَعَا رَبَّهُ أَنِّي مَغْلُوبٌ فَانْتَصِرْ (۱۰) فَفَتَحْنَا أَبْوَابَ السَّمَاءِ بِمَاءٍ مُنْهَمِرٍ (۱۱) وَفَجَّرْنَا الْأَرْضَ عُيُونًا فَالْتَقَى الْمَاءُ عَلَى أَمْرٍ قَدْ قُدِرَ (۱۲) وَحَمَلْنَاهُ عَلَى ذَاتِ أَلْوَاحٍ وَدُسُرٍ (سورة القمر ۱۰\۱۳) ددُسُر څخه مراد میخونه دی (تَجْرِي بِأَعْيُنِنَا) (سورة القمر۱۴) یعنی دازموږ په حفاظت باندی ګرځی اوزموږ په چوکیداری اوزموږ په مشاهدی سره ګرځی: جَزَاءً لِمَنْ كَانَ كُفِرَ (سورة القمر\۱۴) ابن جریر داذکر کړی دی چې داطوفان په میاشت د(آب) کی وو په حساب دقبطیانو (تاریخ الطبری (۱\ ۱۱۸) اودارنګه الله ﷻ فرمایلی دی: إِنَّا لَمَّا طَغَى الْمَاءُ حَمَلْنَاكُمْ فِي الْجَارِيَةِ (سورة الحاقه \۱۱) یعنی په کښتی کی: لِنَجْعَلَهَا لَكُمْ تَذْكِرَةً وَتَعِيَهَا أُذُنٌ وَاعِيَةٌ (سورة الحاقه \ ۱۲) ویلی دی یوی ډلی دمفسرینو: چې لوړی سوی وی اوبه هغه لوړ غر دمزکی ته (۱۵) ګزه. اوداقول په نزد داهل کتابوهم دی، اوچاویلی دی چې (۸۰) ګزه اوعامی سوی وی دا اوبه هرطرف ته چې یوه حصه ددنیا نه وه پاته مګر په هغه کی به اوبه وی اویوزنده سرهم په دی کی نه سو پاته نه غټه درخته نه کوچنی. ویلی دی امام مالك دزید بن اسلم څخه وه دهغه زمانی خلګ چې قبضی یې کړی وی په غرونو باندی اوغنډیو باندی. اوعبدالرحمٰن ویلی دی چې نه وه په مځکه کی یوه غونډی مګر په هغه باندی به قبضه سوی وه، دادواړه روایتونه نقل کړی دی ابن ابی حاتم.
وَنَادَى نُوحٌ ابْنَهُ وَكَانَ فِي مَعْزِلٍ يَا بُنَيَّ ارْكَبْ مَعَنَا وَلَا تَكُنْ مَعَ الْكَافِرِينَ (۴۲) قَالَ سَآوِي إِلَى جَبَلٍ يَعْصِمُنِي مِنَ الْمَاءِ قَالَ لَا عَاصِمَ الْيَوْمَ مِنْ أَمْرِ اللهِ إِلَّا مَنْ رَحِمَ وَحَالَ بَيْنَهُمَا الْمَوْجُ فَكَانَ مِنَ الْمُغْرَقِينَ (سورة هود ۴۲\ ۴۳). اودا زوی (یام) وو چې وروړ دحام اوسام اویافث وو، اوویل سوی دی چې نوم دده (کنعان) وو اوداوو کافر، اوکاربه یې کوی غیر صالح، اوده به خلاف کوی دخپل پلار سره په دین کی، نوهلاك سو دهغو سره چې هلاك سوه. اوپه تحقیق سره نجات پیداکی هغه کسانو چې غیر دنسب څخه وه ځکه چې ورسره په دین اومذهب کی موافق وه. وَقِيلَ يَا أَرْضُ ابْلَعِي مَاءَكِ وَيَا سَمَاءُ أَقْلِعِي وَغِيضَ الْمَاءُ وَقُضِيَ الْأَمْرُ وَاسْتَوَتْ عَلَى الْجُودِيِّ وَقِيلَ بُعْدًا لِلْقَوْمِ الظَّالِمِينَ (سورة هود\۴۴) یعنی کله چې فارغه سوه دمزکی والاوو څخه اوڅوك هم

(c) ketabton.com: The Digital Library



په کی پاته نه سو دهغو څخه چی عبادت به یې کوی دغیرالله، نوامروکی الله ﷻ مزکی ته چی خپل اوبه راکش کړی، اوامر یې وکی آسمان ته چی باران بندکړه (وَغِيْضَ اَلْمَآءُ) یعنی کمی سوی دهغه څخه چی ځومره وی د(وَقُضِيَ اَلاَمْرُ) یعنی واقع سو پرهغه چی ورته په مقدر کی لیکل سوی وو وَقِيلَ بُعْدًا لِلْقَوْمِ الظَّالِمِينَ یعنی مورړ به ورته په ژبه دقدرت داوایو چی لیری والی دی وی دوی لره درحمت اومغفرت څخه.

لکه څه رنګه چی الله ﷻ فرمایلی دی: فَكَذَّبُوهُ فَأَنْجَيْنَاهُ وَالَّذِينَ مَعَهُ فِي الْفُلْكِ وَأَغْرَقْنَا الَّذِينَ كَذَّبُوا بِآيَاتِنَا إِنَّهُمْ كَانُوا قَوْمًا عَمِينَ (سورة الاعراف \ ۶۴) اودارنګه الله ﷻ فرمایلی دی: فَكَذَّبُوهُ فَنَجَّيْنَاهُ وَمَنْ مَعَهُ فِي الْفُلْكِ وَجَعَلْنَاهُمْ خَلَائِفَ وَأَغْرَقْنَا الَّذِينَ كَذَّبُوا بِآيَاتِنَا فَانْظُرْ كَيْفَ كَانَ عَاقِبَةُ الْمُنْذَرِينَ (سورة یونس \ ۷۳) اودارنګه الله ﷻ فرمایلی دی: وَنَصَرْنَاهُ مِنَ الْقَوْمِ الَّذِينَ كَذَّبُوا بِآيَاتِنَا إِنَّهُمْ كَانُوا قَوْمَ سَوْءٍ فَأَغْرَقْنَاهُمْ أَجْمَعِينَ (سورة الانبیاء \ ۷۷) اودارنګه الله ﷻ فرمایلی دی: فَأَنْجَيْنَاهُ وَمَنْ مَعَهُ فِي الْفُلْكِ الْمَشْحُونِ (۱۱۹) ثُمَّ أَغْرَقْنَا بَعْدُ الْبَاقِينَ (۱۲۰) إِنَّ فِي ذَلِكَ لَآيَةً وَمَا كَانَ أَكْثَرُهُمْ مُؤْمِنِينَ (۱۲۱) وَإِنَّ رَبَّكَ لَهُوَ الْعَزِيزُ الرَّحِيمُ (سورة الشعراء ۱۱۹\ ۱۲۲) اودارنګه الله ﷻ فرمایلی دی: فَأَنْجَيْنَاهُ وَأَصْحَابَ السَّفِينَةِ وَجَعَلْنَاهَا آيَةً لِلْعَالَمِينَ (سورة العنکبوت \ ۱۵) اودارنګه الله ﷻ فرمایلی دی: ثُمَّ أَغْرَقْنَا الْآخَرِينَ (سورة الشعراء \ ۶۶) اودارنګه الله ﷻ فرمایلی دی: وَلَقَدْ تَرَكْنَاهَا آيَةً فَهَلْ مِنْ مُدَّكِرٍ (۱۵) فَكَيْفَ كَانَ عَذَابِي وَنُذُرِ (۱۶) وَلَقَدْ يَسَّرْنَا الْقُرْآنَ لِلذِّكْرِ فَهَلْ مِنْ مُدَّكِرٍ (سورة القمر ۱۵\ ۱۷) اودارنګه الله ﷻ فرمایلی دی: مِمَّا خَطِيئَاتِهِمْ أُغْرِقُوا فَأُدْخِلُوا نَارًا فَلَمْ يَجِدُوا لَهُمْ مِنْ دُونِ اللهِ أَنْصَارًا (۲۵) وَقَالَ نُوحٌ رَبِّ لَا تَذَرْ عَلَى الْأَرْضِ مِنَ الْكَافِرِينَ دَيَّارًا (۲۶) إِنَّكَ إِنْ تَذَرْهُمْ يُضِلُّوا عِبَادَكَ وَلَا يَلِدُوا إِلَّا فَاجِرًا كَفَّارًا (سورة نوح ۲۵\ ۲۷).

اوپه تحقیق سره قبوله کړه الله ﷻ دعاددده، نوپاته نه سو په مخ دمزکی کی یو اودارنګه روایت ذکرکړی دی دوو امامانو چی ابوجعفر بن جریر دی اوابو محمد بن ابی حاتم دی په تفسیرونو خپلو کی دطریقی دیعقوب بن محمد بن الزهری څخه چی دی نقل کوی دقائد چی مولی دعبدالله بن ابی رافع دی دی نقل کوی دابراهیم بن عبدالرحمٰن بن ابی ربیعه څخه چی ده ته خبر ورکړی دی ام المومنین عائشه چی دی ته خبر ورکړی دی نبی ﷺ چی فرمایلی یې دی: که چیری رحم کړی وی الله ﷻ په یوه سړی باندی دقوم دنوح ﷺ څخه نو رحم به یې کړی وی په مور دماشوم باندی ویلی دی رسول الله ﷺ چی نوح ﷺ په خپل قوم کی (۱۰۰۰) کاله تیرکړی دی مګر (۵۰) کاله کم اوشنی کړی یې دی (۱۰۰) کاله درختی، نوداغتی سوی اوخپری وری سوی هراړخ ته، بیایې پرېکړی دا اوکښتی یې ترینه جوړه کړه

(c) ketabton.com: The Digital Library



نودا کافران به په ده باندی تیریده اوټوقی اومسخری به یې کولی، او ورته ویل به یې چی داکښتی ګرزوی په وچه کو اودابه څه رنګه ګرزوی ؟ نونوح ﷺبه ورته ویله چی تاسی به وګوری چی داڅه رنګه ګرځی، کله چی دی فارغه سو او اوبه راووتلی دی نودیوه ماشوم مور وبیریدله په دی خپل زوی باندی او وه داچی ورسیده دریمی حصی دغره ته نوکله چی دی ته اوبه ور ورسیدلی نودا نوره هم لوړه ولاړه تردی چی دغره سرته وختله، نوبیاچی کله اوبه ددی ترپنډۍ پوری اورسیدلی نودی داماشوم په لاسونو کی لوړکی تردی چی داپه اوبوکی ډوبه سوه نودواړه په کی غرق سوه، که چیری په دوی کی الله ﷻ په چا باندی رحم کولی نوپه دی وخت کی به یې دماشوم په مور باندی رحم کړی وای (١) اوداحدیث غریب دی. اوددی روایت دکعب الاحبار څخه هم نقل سوی دی اودمجاهد څخه هم.

مقصود دا خبره ده چی دکافرانو څخه یوکور هم پاته نه سو په مخ دمزکی کی. نوڅه رنګه ګمان کوی بعضی مفسرین چی اعوج بن عنق دنوح ﷺ دزمانی څخه مخکی موجود وو تر زمانی دموسٰی ﷺ پوری. اوویل سوی دی چی دایوکافر اوسرکښه انسان وو اوویل سوی دی چی دادیوی ښځی څخه په زناسره پیداسوی وو، اوویل سوی دی چی دادومره اوږد وو چی دسمندر څخه به یې ماهیان نیول اوهغه به یې دنورپه شعاع په خوله خوړله اوده به نوح ﷺ ته ویله په دی حال کی چی دانوح ﷺ به په کښتی کی وو چی داستا څه قصه ده او استهزاء به یې ورپوری کوله. اودده په باره کی داهم ویل سوی دی چی دده اوږدوالی (۳۳۳۳) ګزه وو. نور داسی خرافات نقل سوی دی په تفسیرونو کی چی هغه مخالف دی دمعقول اومنقول دواړو. هرڅه چی معقول دی. نوبیا ولی هلاکوی الله ﷻ زوی دنوح ﷺ حالانکی پلار ددی دټول امت مشر وو اواهل ایمان وو، اونه یې هلاکوی اعوج بن عنق اوحال داچی داولد الزنا وو اوډیر ظالم وو اوباغی وو لکه څه رنګه چی ددی په باره کی په تفسیرونو کی ذکرسوی دی؟ اوڅنګه الله رحم نه کوی په مور دهغه ماشوم باندی اونه په هغه ماشوم باندی. اوپریښی وو دا ظالم اودا ضدی اوسخت کافر اودشیطان مرید لکه څنګه چی ورلره داصفات په تفسیرکی ذکرسوی دی ؟ اوهرڅه چی منقول دی نوالله ﷻ فرمایلی دی: ثُمَّ أَغْرَقْنَا الْآخَرِينَ (سورة الشعراء \ ۲۲)، اودارنګه یې فرمایلی دی: رَبِّ لَا تَذَرْ عَلَى الْأَرْضِ مِنَ الْكَافِرِينَ دَيَّارًا (سورة نوح \ ۲۲) بیا دهغه اوږدوالی چی دده دپاره ذکرسو دا مخالف دی دهغه حدیث څخه چی نبی ﷺ ذکر کړی دی: چی الله ﷻ آدم ﷺ پیداکړی دی په اوږدوالی د (۲۰) ګزو، نوبیا دهغه څخه وروسته دخلګوقدونه کمیدل تردی وخته پوری.

---

(١). ددی حدیث تخریج کړی دی حاکم په مستدرك کی (۲\ ۳۴۲) او ویلی دی چی داحدیث صحیح الاسناد دی او دواړو شیخینو ددی حدیث روایت نه دی کړی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



نوداقول دهغه شخص دی چی صادق اومصدوق دی اومعصوم دی چی دځان څخه خبری نه کوی: إِنْ هُوَ إِلاَّ وَحْيٌ يُوحَى (سورة النجم \۴) یقینًا هغه وو چی تراوسه پوری دخلګو قدونه کمیږی. اوهم دارنګه ترقیامته پوری به ددی خلګو قدونه کمیږی. اودا قول تقاضا ددی خبری کوی کوی چی دآدم ﷺ په نسل کی داسی څوك نه وو چی ددی څخه یې قد اوږد وو. نوڅه رنګه به پرینښوول کیږی داخبره کمه چی نبی ﷺ ذکر کړیده اوتګ به کیږی هغه ددروغو اقوالو طرف ته کم چی په تفسیرونو کی ذکرسوی دی.

اوکم چی اهل کتابو ذکرکړی دی هغه اهل کتابو چی بدل کړی دی قول دالله ﷻ هغه چی په دوی باندی نازل سوی وو اوپه هغه کی یې تحریف کړی وو اوځایونه یې ورته بدل کړی وه؟ نو وروسته ستاڅه ګمان دی دهغه شخص په باره کی چی ددی په اقوالو باندی دلیل نیسی اوداهغه درواغجن اوخائن خلګ دی اوپه دی سره دوی امانت نیسی چی په دوی باندی دالله ﷻ دطرفه لعنتونه دی ترقیامته پوری، اوزه ګمان نه کوم چی داخبر دعوج بن عناق نه دی مګر اختلاف دی دبعضو زنادقه وو دطرفه چی هغه دالله ﷻ او دپیغمبرانو دښمنان دی.

بیاذکر کوی الله ﷻ دنوح ﷺ سوال دخپل زوی دپاره په باره دغرقیدلو کی نودالله ﷻ څخه سوال کوی په دی اعتبار سره چی ځان پوه کی اوورته داخبره ښکاره سی نووایی چی: ای ربه زما تا زماسره وعده کړی وه چی زه به تا اوستا کورنی ساتم دطوفان څخه نوبیا ولی زما زوی هلاك اوغرق سو؟ نوجواب ورکول سو چی داستا داهل څخه نه دی په هغو کی چی مایې ستاسره دنجات وعده کړی وه. یعنی موږ تاته ویلی دی: وَأَهْلَكَ إِلَّا مَنْ سَبَقَ عَلَيْهِ الْقَوْلُ مِنْهُمْ (سورة المومنون \ ۲۷). نودی وو دهغه څخه چی پرده مخکی فیصله سوی وه چی دابه غرقیږی ددی وجی څخه چی ده ځان داهل ایمان والاوو څخه لیری ایستلی وو. نو دی غرق سو دخپل ډلی سره چی کافران وه اوباغیان وه.

بیا الله ﷻ فرمایلی دی: قِيلَ يَا نُوحُ اهْبِطْ بِسَلَامٍ مِنَّا وَبَرَكَاتٍ عَلَيْكَ وَعَلَى أُمَمٍ مِمَّنْ مَعَكَ وَأُمَمٌ سَنُمَتِّعُهُمْ ثُمَّ يَمَسُّهُمْ مِنَّا عَذَابٌ أَلِيمٌ (سورة هود\ ۴۸) دا امردی نوح ﷺ ته چی کله دمزکی دمخ څخه اوبه لیری سی اوګرځیدل پکښی کیږی نوبیا کښته سه دکښتی څخه هغه کښتی چی دډیر لوی سفر څخه وروسته د(جودی) غره پرملا باندی ودریده اودا مشهور غردی په الجزیره کی (بِسَلَمٍ مِنَّا وَبَرَكَتٍ) (سورة هود \ ۴۸) یعنی کښته سه دسلامتیا سره اودبرکت سره زموږ دطرف څخه په تاباندی او ستاپه امت باندی چی وروسته به پیداکیږی. ولی چی الله ﷻ نه وو ګرځولی دهغه مومنانو چی دنوح ﷺ سره وو دهیڅ یوه دپاره نسل مګر دنوح ﷺ دپاره. دوباره نسل بیا دنوح ﷺ څخه خپور سوی دی لکه څه رنګه چی الله ﷻ فرمایلی دی: وَجَعَلْنَا ذُرِّيَّتَهُ هُمُ الْبَاقِينَ (سورة الصافات \ ۷۷) نودا نن ورځ چی څومره نسلونه دی ددی

(c) ketabton.com: The Digital Library



ټول نسبت دنوح عليه السلام دری واړو ځامونو ته کیږی. حام. سام. یافث. چی دده اسم کنیه ابو الروم ده. ویلی دی امام احمد په نقل کولو سره دعبد الوهاب څخه دی نقل کوی دسعید څخه دی نقل کوی دقتاده څخه دی نقل کوی دحسن څخه دی نقل کوی دسمره څخه دی وایی چی فرمایلی دی رسول الله ﷺ: چی سام ابوالعرب دی. اوحام ابوالحبش دی. اویافث ابو الروم دی: (١) روایت ددی ذکرکړی دی امام ترمذی دبشربن معاذ العقدی څخه چی ده نقل کړی دی دیزید بن زریع څخه دی نقل کوی دسعید بن ابی عروبه څخه دی نقل کوی دقتاده څخه دی نقل کوی دحسن څخه دی نقل کوی دسمره څخه مرفوعًا هم په دی مخکنی طریقی سره.

اوویلی دی الشیخ ابوعمر بن عبدالبر: اودارروایت ذکرسوی دی دعمران بن حصین څخه چی دی وایی چی فرمایلی دی رسول الله ﷺ هم په دی طریقی سره په کم چی مخکی حدیث بیان سو. دی وایی چی دلته مراد دروم څخه هغه اولنی روم مراددی چی هغه یونان دی چی نسبت یې کیږی رومی بن لبطی بن یونان بن یافث بن نوح عليه السلام ته. بیایې روایت نقل کړی دی دحدیث داسماعیل بن عیاش څخه دی نقل کوی دیحیٰی بن سعید څخه دی نقل کوی دسعیدبن المسیب څخه چی دی وایې: دنوح عليه السلام دری ځامن وه: حام سام یافث: اوبیا ددی دری واړو څخه دری ځامن پیدا سوه: نودسام دری ځامن پیداسوه چی عرب. او فارس، او رومو وو. اودیافث هم دری ځامن پیداسوه چی. ترك. اوصقالبه اویاجوج اوماجوج وه، او دارنگه دحام هم دری ځامن پیداسوه چی. القبط اوسودان. اوبربر وه.

اودارنگه حافظ ابوبکر البزار ویلی دی په مسند خپل کی په نقل سره دابراهیم بن هانی څخه او داحمد بن حسین بن عباد ابو العباس څخه دادواړه نقل کوی دمحمد بن زیدبن سنان الرهاوی څخه دی نقل کوی دابی څخه دی نقل کوی دیحیٰی بن سعید څخه دی نقل کوی دسعیدبن المسیب څخه دی نقل کوی دابی هریره څخه دی وایی چی فرمایلی دی رسول الله ﷺ: چی نوح عليه السلام زیږولی وه حام سام اویافث نودسام دپاره پیداسو (عرب او فارس او روم) اوپه دی کی خیر سته اودیافث دپاره پیدا سو (الصقالبه اوترك اویاجوج او ماجوج) اوپه دی کی هیڅ خیرنسته. او پیدا سو دحام دپاره (القبط او سودان او بربر بیا دا

---

(١). ددی تخریج احمد کړی دی (۵ \ ۹) اوپه بل اسناد سره احمد نقل کوی دحسین څخه دی نقل کوی دشیبان څخه دی نقل کوی دقتاده څخه دی وایی چی نقل کړی دی حسن دسمره څخه دی وایی چی فرمایلی دی رسول الله ﷺ : چی سام ابوالعرب دی اوحام ابو الحبش دی. اویافث ابو الروم دی. اوترمذی په کتاب تفسیر القرآن کی ذکرکړی دی، باب سورة الصافات (۵ \ ۳۲۳۱) دطریقی دبشر بن معاذ العقدی څخه، اوپه کتاب المناقب کی، باب مناقب فصل العرب (۵\ ۳۹۳) اوابو عیسٰی ویلی دی چی داحدیث حسن اوصحیح دی اودایافث اوپافت. اویفت دی او حاکم په مستدرك کی (۲\ ۵۴۶) او ویلی یې دی چی داحدیث حسن صحیح دی اوالطبرانی (۷\ ۲۸۷۱)، اوضعیف گرځولی دی البانی په الجامع الصغیرکی (۱۴ ۳۲)، مگر دده وضعیف بللوته اعتبار نسته.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ویل (١) سوی دی چې موږ ته ددی علم نسته چې دا مرفوع دی اوکه نه مګر ددی وجې څخه، یواځې والې پرې کړې دی محمد بن یزید بن سنان الرهاوی دخپل پلار څخه اودده په باره کې علماوو کلام کړی دی اودده په حدیث کې یې احتمالات ذکر کړې دی. اوروایت ددی کړې دی دده څخه ماسوا یحیٰی بن سعید مرسل او ددی اسناد یې نه دی ذکر کړی، اودایې قول دسعید ګرځولی دی. نودی وایي چې زه وایم چې داهغه چې ذکر کړی دی ابوعمر، دا محفوظ دی دابوسعید څخه، اوداقول دده چې: او دارنګه روایت ددی سوی دی دوهب بن منبه څخه هم په دی طریقې سره اویزید بن سنان ابوفروه الرهاوی ضعیف دی، دده پرقول باندی اعتماد نه سی کیدی.
اودارنګه ویل سوی دی: چې دنوح ﷺ دپاره دادری ځامن نه دی سوی مګر دطوفان څخه وروسته سوی دی، اودده یوزوی پیدا سوی وو مخکې دطوفان څخه چې (کنعان) وو هغه چې غرق سو، اویوه (عابر) چې مړه سوی وه مخکې دطوفان څخه.
اوصحیح قول دادی چې دادری واړه ورسره په کښتې کې وه، دوی هم وه او ددوی ښځې هم وې اوموریې هم وه او داذکر سوی دی په نص دتورات کې. اوپه دی کې یې داهم ذکرکړی دی چې حام دخپل ښځې سره په کښتې کې جماع وکړه نونوح ﷺ ورته ښراوی وکړی چې ددی څخه دخلقت نطفه جوړه سی نوبیا ددی څخه (کنعان) پیداسو چې تور وو اودا نیکه دسوډان والا دی. اوچا ویلی دی چې ده ولیدی خپل پلار بیده اوحال داچې دهغه عورت ښکاره سوی وو نوده پټ نه کی او ورور ورلره پټ کی نو ددی وجې څخه ورلره نوح ﷺ دعا وکړه چې دده دانطفه دی متغیره سی، اوچې داسې زوی دی وسی چې تابعداروی دده دوروڼو. اوذکر کړی دی امام ابوجعفر بن جریر دطریقې څخه دعلی بن زید بن جدعان دی نقل کوی دیوسف بن مهران څخه دی نقل کوی دابن عباس څخه چې دی وایي: چې ویلی وه حواریون عیسیٰ بن مریم ته: که ته چیری راوښیې موږ ته داسې یوسړی چې هغه کښتې په خپله لیدلې وی چې موږ ته دهغه بیان وکی، نودی وایي چې روان سو ددوی سره تردی چې راله یوی زړی خاوری ته، نودهغه خاوری څخه یې یوموټې را واخیستې اوبیایې دوی ته وویل چې تاسې ته پته سته چې داڅه دی نوهغوی ورته وویل چې الله ته اودهغه رسول ته پته سته نودوی ورته وفرمایل چې داپنډۍ دحام بن نوح دی. نودی وایي چې ووهله عیسیٰ ﷺ دا خاوره په خپله امسا اوورته یې وفرمایل: چې پورته سه دالله ﷺ په امر باندی. نو

(١). اسناد ددی ضعیف دی هیثمی ویلی دی په المجمع کې (١١٩٣): روایت ددی نقل کړی دی البزار اوپه دی کې محمد بن یزید بن سنان الرهاوی دی چې دی نقل کړی دی دخپل پلار څخه. نومحمد ته ثقه ویلی دی ابن حبان، او ابو حام ویلی دی چې داصادق دی خوبیا یې هم ضعیف کړی دی اوضعیف ورته ویلی دی یحیٰی بن معین.

(c) ketabton.com: The Digital Library



داوو چې را ولاړسو اوویې څنډله خاوره دخپل سر څخه اودی وو بوډا سوی. نوعیسٰی علیه السلام ورته وویل: چې همداسې مړسوی وی؟ نوده ورته وویل چې نه لیکن زه چې مړسوی وم په دی حال کی چې زه ځوان وم، نوما ګمان داوکی چې داقیامت دی نوددی دوجی زه بوډاسوم نوده ورته وویل چې، موږ ته بیان وکړه په باره دکښتی دنوح علیه السلام کی. نوهغه ورته وویل چې دهغه اوږدوالی (۱۲۰۰) ګزه وو، اوپلن والی یې شپږ سوه ګزه وو، اودری چته پکښې وه یوچت هغه چې په هغه کی به حیوانان وو، اوبل چت هغه چې په هغه کی به انسانان وه اوبل چت هغه چې په هغه کی به مرغان وه. بیاکله چې دحیوان خوشیان زیات سوه نوامر وکی الله جل جلاله نوح علیه السلام ته چې دفیل لکی وپیچه نوکله چې یې دهغه لکی وپیچله نو دهغه څخه یو خنزیر اوبل ماده خنزیره پیدا سوه نودوی دواړو دخوشیانو په خوراك باندی شروع وکړه، اوکله چې واقع سو موږك چې کښتی یې سوری کوله نوالله جل جلاله امروکی نوح علیه السلام ته چې دزمری دسترګو په مینځ کی یوګزار ورکړه نوکله چې یې ګزار ورکی نودهغه څخه پشی پیداسوه نودا پشی په موږکانو پسی سوه. نوبیا ورته عیسٰی علیه السلام وفرمایل چې: څه رنګه نوح علیه السلام ته پته ولګیدله چې ټول ملکونه غرق سوی دی؟ نودوی ورته ویل چې یوکارغه به یې لیږی چې هغه به خبر راوړی نوهغه پیداکړه یوه مرداره نوپه هغه باندی کښېنسی نونوح علیه السلام ورته ښراوی وکړی نودهغه ورځی څخه دا دکورنیو سره مینه نه ساتی اولیری ورڅخه تښتی. بیاده ویل چې: بیایې ولیږله کوتره نو دزیتون پاڼه یې راوړله په خپله مشوکه کی اوانځر په خپلو پښوکی. نوپوه سو چې ټول ملکونه تباه سوی دی نوددی په غاړه کی یې یو شین امیل واچوی، اودعایې ورته وکړه چې په امن اوخوشحالی کی دی وی. نو ددی څخه وروسته یې کورونه جوړ کړه. نو وویله دوی چې ای پیغمبره دالله جل جلاله ایا داته زموږ سره یوځای نه بیایې چې زموږ کوروالاوو ته داقصه وکی اوموږ ته دغه شان قصی کوی. نو ده وفرمایل چې څه رنګه به ستاسی سره ولاړسی دا اوحال داچې دده دپاره رزق نسته نور. نوبیا ده ورته وویل چې ولاړسه په حکم دالله جل جلاله باندی. نودی واپس خاوره وګرځیدی. اودا اثر غریب دی. اودارنګه نقل کړی دی علماء بن احبر دعکرمه څخه دی نقل کوی دابن عباس څخه چې دی وایی: چې وه دنوح علیه السلام سره په کښتی کی (۸۰) سړی چې ورسره ښځی هم وی، اودوی په دی کښتی کی (۱۵۰) ورځی وه.

اوالله جل جلاله داکښتی متوجه کړه دمکی طرف ته نو راوګرځیده پرکعبې (۴۰) ورځی، اوبیایې دامتوجه کړه د (جودی) اړخ ته نوهلته داودریده نو ولیږی نوح علیه السلام کارغه مزکی ته چې دمزکی خبر ورلره راوړی چې څه رنګه حال دی: نودی کارغه ډیر وخت تیرکی نونوح علیه السلام کوتره ولیږله نودی راوړله پاڼه دزیتون اوخپلی پښی یې په خاوره کی ولړلی نونوح علیه السلام ته

(c) ketabton.com: The Digital Library



پته ولګیدله چې مځکه وچه ده اواوبه ختمې سوې دي نودي راکښته سو دجودي لاندي حصې ته اوهلته یې یوکلي جوړکی چې نوم یې ورلره (ثمانین) کښیښښووی. نو وو یوه ورځ چې ددوی په ژبه باندي (۸۰) قسمه ژبې ویل کیدې چې دهغه څخه یوه ژبه دعربی هم وه، او وه دوی چې دیوبل په خبره به نه پوهیده نو وو نوح ﷺ چې ددی څخه به یې تعبیر کوی او ویلي دي قتاده اوداسي نورو چې دوی ختلي وه کښتی ته په لسم درجب باندي نو دوی وه په کښتي کي (۱۵۰) ورځی اودا کښتي ولاړه وه په (جودي) کي یوه میاشت. او راووتل دوی دکښتي څخه په لسم دمحرم باندي.

اودارنګه روایت ذکرکړي دي ابن جریر مرفوعًا چې ددي قول سره موافق دی. اودوی په دی لسم دمحرم باندي روژه نیولي وه. اودارنګه ویلي دي امام احمد چه نقل کوی دابوجعفر څخه دي نقل کوی دعبد الصمد بن حبیب الازدي څخه چې دي نقل کوی دابي هریره څخه دي وایي چې تیرسو رسول الله ﷺ پرڅه خلګو دیهودو باندي اوحال داوو چې دوی دمحرم روژه نیولي وه یعنی دلسم دمحرم، نوپوښتنه یې ورڅخه وکړه چې دادڅه روژه ده؟ نودوی وویل چې داهغه ورځ ده چې په دی کی الله ﷻ موسٰی ﷺ اوبنی اسرائیل دغرقیدلو څخه بچ کړي دی، اوپه دی کی غرق سوی دی فرعون، اودا هغه ورځ ده چې په دی کی کښتي دریدلې ده په (جودي) باندي، نودا روژه نیولي ده نوح ﷺ او موسٰی ﷺ دپاره دشکر ادا کولو دالله ﷻ، نو وویل نبی ﷺ چې زه ډیر حقداریم دموسٰی دپاره اوزه ډیر حقداریم ددی روژي، نوامریې وکی خپل اصحابوته دروژي ددغه ورځي ([1]) اوویل چې چاپه تاسي کی نن ورځ روژه نیولي وی نوهغه دي پوره کی، اوهغه چاچې دماپښین ډوډی یې خوړلې وی نو هغه دي باقي ورځ پوره کی ([2]) اوددي حدیث په شان بل حدیث دی په صحیح کی په بل وجه سره، اودی غریب حدیث والا نوح ﷺ هم ذکر کړی دی.

اوهرڅه چې هغه دي چې ذکرکوی بعضي جاهلان داخبره چې دوی په دغه ورځ داني وړه کړه اودوی به دهغه فضول دانو څخه هم خوراك کوی اودوی په دغه ورځ په کمه ورځ چې دکښتي څخه راکښته کیدل نو اَثْمَد رانجه یې ولګول ددی دپاره چې نظریې تیز سی پس ددی څخه چې راکښته سوه دتیاری دکښتي څخه داټول ددروغو خرافات دي اوغلطي

---

([1]). تخریج ددی احمد کړی دی (۲\ ۳۵۹\ ۳۲) اوددی دپاره ډیر شواهد دی صحیح دهغه څخه یوابن عباس دی چې دی وایی چې رالي نبی ﷺ مدینی ته نوویې لیده یهودیان چې دمحرم په لسم به یې روژه نیوله: الحدیث، روایت ددی بخاری کړی دی (۲۰۰۴\ ۳۳۹۷\ ۳۹۴۳\ ۴۲۸\ ۴۷۳۸) اوحدیث دابي موسٰی چې ویلي دی: وه عاشوره چې یهودیانو به په کی اختر کوی نونبی ﷺ وویل چې تاسي په دی ورځی باندی روژه ونیسی. الحدیث، روایت ددی بخاری کړی دی (۲۰۰۵\ ۳۹۴۲).

([2]). تخریج ددی احمد کړی دی (۲\ ۳۵۹).

(c) ketabton.com: The Digital Library



خبری دی اوپه دی کی بعضی آثار دبنی اسرائیل والاوو څخه ذکردی چی هغه منقطع دی او په هغه باندی اعتماد نه سی کیدی اوهغه پسی اقتداهم نه سی کیدی.
اوویلی دی محمد بن اسحاق: کله چی الله ﷻ اراده وکړه چی کفایت ددی طوفان وکی نو مزکی ته یې سیلی راولیږله نومځکه یې وچه کړه اواوبه یې بندی کړی، نواوبه کمی سوی اوپرشا سوی، اوویې درول کښتی پر (جودی) باندی. په ګمان داهل تورات باندی. په (۷) میاشتی کی چی لس ورځی ورڅخه تیری سوی وی.
اوپه اولنی ورځ دلسمی میاشتی ښکاره سو سرونه دغرونو. بیاچی کله (۴۰) ورځی تیری سوی نوخلاصه کړه نوح ﷺ کړکی دکښتی هغه چی جوړه کړی یې وه په کی ، بیایې ولیږل کارغه چی په مځکه باندی څه سوی دی نودی واپس نه سو، نوبیایې کوتره ولیږله نودا بیرته راله اوځای یې نه کی پیدا چی پښی یې ایښی وای نونوح ﷺ لاس وراوږدکی اورا ویې نیوله اوکښتی ته یې دننه کړه، بیا (۷) ورځی تیری سوی بیایې ولیږل چی وګوری چی څه حال دی په مځکه کی، نودا بیرته راغله په ماښام کی او ددی په خوله کی دزیتون پاڼه وه، نوپوه سو نوح ﷺ چی اوبه کمی سوی بیایې (۷) ورځی وروسته ولیږله نودابیرته رانه له نونوح ﷺ ته پته ولګیده چی مځکه وچه سویده، بیاچی کله پوره سو کال په مینځ دطوفان کی اوپه هغه ورځ کی چی نوح ﷺ کوتره لیږلی وه نوداخل سو اولنی ورځ ددوهم کال، راښکاره سو مخ دمزکی اوراښکاره سوه ټول ځایونه اولیری کړی نوح ﷺ پردی دکښتی څخه. داهغه قول دی چی ذکرکړی دی دا ابن اسحاق په خپله اودا بعینه سیاق دتورات دی هغه چی په لاس داهل کتابو کی دی اوویلی دی ابن اسحاق: اوپه دوهمه میاشت کی ددوهم کال څخه په (۲۲) شپه کی الله ﷻ وفرمایل اوهغه چی ذکر کړی دی اهل کتابو چی الله ﷻ خبری کړی دی دنوح ﷺ سره په دی ویناسره چی: ووزه ته اوستا ښځه اوستا ځامن دخپلو ښځو سره دکښتی څخه، ددی دپاره چی تاسی واده وکی اوډیرسی نو دوی ټولو راوتل شروع کړه او وکړه نوح ﷺ ذبح دالله ﷻ دپاره اووایې خیسته دهر یوحلال حیوان څخه اودمرغیو حلالو څخه اوهغه یې ذبحه کړه دالله ﷻ درضامنتیا دپاره، اوالله ﷻ ورسره داوعده وکړه چی زه به دوباره په مزکی والاوو باندی داسی طوفان نه راولم اودخپل ددی خبری یاداښت ورکولو دپاره یې هغه (قوس) چی په وریځی کی وی هغه یاداښت ورکی، اودا هغه (قوس قزح) وی چی په دی سره دغرقیدلو څخه امان وی. بعضو داویلی دی چی داهغه قوس دی چی ډیروالی په کی نسته،یعنی داسی وریځ به نه راځی چی داولنی په شان طوفان راولی، اوبعضو داخبره کړیده چی داطوفان صرف دبابل په مځکه کی وو او نورو ځایونو ته نه دی رسیدلی. اوانکار کړی دی بعضی جاهلانو ددی څخه لکه فارس والا

(c) ketabton.com: The Digital Library



او هندوالا اودوی وایی چی نه یو موږ چی تراوسه پوری موږ بادشاهی کوو دآدم ﷺ دوخت څخه تراوسه پوری پرلپسی اوداخبره کړیده کمو زنادقوو چی اتباع دشیطان دی، او دا خرافات دی ددوی دځان دطرفه اوکفردی اوجهل دی ښکاره اودا تکذیب درب دآسمانونو اودمزکو دی. اوحال داچی داخبره ټولو پیغمبرانو په تواترسره نقل کړیده په هره زمانه کی چی داطوفان په ټوله دنیاکی واقع سوی دی، اوهیڅ څوك هم نه وو پاته سوی دکافرانو څخه دوجی دقبولتیا ددعا دنوح ﷺ څخه.

## ذکر دیو څو خبرو په باره دنوح عَلَيْهِ السَّلَامُ کی

دده په باره کی الله ﷻ فرمایلی دی: إِنَّهُ كَانَ عَبْدًا شَكُورًا (سورة الاسراء \۳). ویل سوی دی چی ده به دالله ﷻ حمد بیانوی په ډوډی اواوبو کی اوپه ټولو کارونو کی.

اودارنګه ویلی دی امام احمد په نقل کولو سره دابواسامه څخه دی نقل کوی دزکریابن زائده څخه دی نقل کوی دسعید بن ابی برده څخه دی نقل کوی دانس بن مالك څخه دی وایی چی ویلی دی رسول الله ﷺ: چی الله ﷻ راضی کیږی دخپل بنده څخه په دی باندی چی کله هغه وخوری څه خوراك بیا دالله ﷻ حمد ووایی اویا وچیښی اوبه نودالله ﷻ حمد ووایې. ([1]) اودارنګه روایت ددی ذکر کړی دی مسلم اوترمذی اونسایي دحدیث دابی اسامه څخه اوښکاره خبره داده چی داشکر هغه عبادت دی چی داتړون لری دعبادات قلبیه سره اوقولیه سره اوفعلیه سره، ولی چی شکروی ددی شیانو سره.

## روژه دنوح عَلَيْهِ السَّلَامُ

ابن ماجه ویلی دی په (باب صیام نوح ﷺ) کی په نقل کولو سره دسهل بن ابی سهل څخه دی نقل کوی دسعید بن مریم څخه دی نقل کوی دابن لهیعه څخه دی نقل کوی دابی جعفر بن ربیعه څخه دی نقل کوی دابی فردوس څخه دی وایی چی ما اوریدلی دی دعبد الله ابن عمر څخه چی رسول الله ﷺ فرمایلی دی: چی نوح ﷺ ټول کال روژه نیولی ده مګر دوه ورځی یې افطاری کوله چی هغه (وړوکی اختردی) (اوبل غټ اختردی) ([2]) اودارنګه روایت ذکر کړی دی ابن ماجه دطریقی دعبدالله بن لهیعه څخه په اسناد سره اوپه لفظ سره.

اوویلی دی الطبرانی په نقل کولو سره دابو الزنباع روح بن فرج څخه دی نقل کوی دعمر بن خالد الحرانی څخه دی نقل کوی دابن لهیعه څخه دی نقل کوی دابی قتاده څخه چی دی نقل کوی دیزید بن رباح ابی الفرس څخه، چی ده اوریدلی دی دعبدالله بن عمر څخه چی

---

([1]). ددی حدیث تخریج احمد کړی دی (۳\۱۱۷).

([2]). په سنن ابن ماجه کی په کتاب الصیام \ باب ماجاء فی صیام نوح ﷺ (۱\ ۱۷۱۴)، اوپه الزوائد کی: په اسناد ددی کی لهیعه دی اودی ضعیف دی. اوضعیف ګرځولی دی دا البانی په ضعیف الجامع الصغیر (۳۴۲۲) کی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



دی وایی چی فرمایلی دی رسول الله ﷺ: چی نوح علیه السلام به په دوام سره نیوله دټول کال روژه مګر دوی ورځی به یې نه نیوله چی کوچنی اختردی اوغټ اختردی، اوابراهیم علیه السلام به صرف دری ورځی روژه نیوله دهری میاشتی څخه اوباقی ټول کال به یې نه نیوله. (١)

## دنوح عَلَيْهِ السَّلَامُ حج

ویلی دی حافظ ابویعلی په نقل کولو سره دسفیان بن وکیع څخه دی نقل کوی دابی څخه دی نقل کوی دزمعه څخه اودازوی دابی صالح دی دی نقل کوی دسلمه بن دهوان څخه دی نقل کوی دعکرمه څخه دی نقل کوی دابن عباس څخه چی ده ویلی دی: حج وکی رسول الله ﷺ نوبیا کله چی رالی وادی عسفان ته نوویې فرمایل چی: ابوبکره داکمه وادی ده؟ نو ده ورته ویلی چی داوادی عسفان ده نوبیا رسول الله ﷺ وفرمایل چی داهغه ځای دی چی په دی باندی نوح علیه السلام اوهود علیه السلام اوابراهیم علیه السلام تیر سوی دی پراوښانو باندی چی ځوان اوښان وه اوددوی سره خره وه چی واګی ددوی دخرما دپاڼو څخه وی. اوپرتوګ ددوی ده چپنو څخه وو اوڅادری ددوی دشړیو څخه وی، اودوی لګیا وه چی حج به یې کوی دبیت العتیق چی خانه کعبه ده (٢) اوپه دی حدیث کی غرابت دی

## وصیت دنوح عَلَيْهِ السَّلَامُ خپل زوی ته

ویلی دی امام احمدپه نقل کولو سره دسلیمان بن حزب څخه دی نقل کوی دحماد بن زید څخه دی نقل کوی دصعقب بن زهیر څخه دی نقل کوی دزید بن اسلم څخه. حماد ویلی دی: چی زه داګمان کوم چی دی نقل کوی دعطاء بن یسار څخه دی نقل کوی دعبدالله بن عمر څخه دی وایی چی موږ وو درسول الله ﷺ سره نورالی یوسړی دکلی څخه چی پرهغه باندی یوه چوغه وه دسیجان چی په هغه باندی تنی وی چی ګنډل سوی وی په تار دوریښمو باندی نورسول الله ﷺ وفرمایل: چی بیشکه صاحب داستاسی ماته ورکړیده فارس بن فارس ته. یایې داسی وویل چی دا اراده لری دماتی ورکولو. اولوړ کړی دی ده هرشپونکی زوی دشپونکی لره. نودی وایی چی ونیوی رسول الله ﷺ دا سړی دغاړی څخه اوورته یې وویل چی: ایازه نه وینم په تاباندی داسی جامه چی ستاسره نه برابریږی؟ بیا یې وفرمایل چی: چی نبی دالله نوح علیه السلام کله چی دهغه دوفات وخت پوره سو نوخپل زوی ته یې وفرمایل چی: زه تاسی ته وصیت کوم ددوو شیانو اوتاسی منع کوم ددوو شیانو څخه: امر کوم تاسی ته دلااله الا الله که چیری ټوله آسمانونه اومزکی کښیوول سی په یوطرف کی او دا

---

(١). داضعیف دی هیثمی ویلی دی: راوی ددی طبرانی دی چی دایې ذکر کړی دی په الکبیر کی، اوپه دی سند کی ابوقنان هم دی، اودازه نه پیژنم (١٩٥\٣) اوضعیف ورته ویلی دی البانی په ضعیف دالجامع الصغیرکی (٣٤٢٥).

(٢). ددی تخریج کړی دی احمد، اوویلی دی هیثمی په المجمع کی (٢٢٠\٣)، اوروایت ددی کړی دی احمد اوپه دی کی زمعه بن صالح دی اوده په باره کی کلام دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



لااله الا الله په بل اړخ کی نودابه پر درنه اوراجح وی، اودا اووه واړه آسمانونه اومزکی دا یوه ګرد دائره ده چی دا راغونډ کړی دی لااله الا الله. اوپه سبحان الله وبحمده باندی صله رحمی دهریو شی دی اوپه دی سره رزق ورکول کیږی ټولو خلګو ته. اوزه تاسی منع کوم دشرك څخه دالله ﷻ سره اودکبر څخه نودی وایی چی ماوویل یا، وویل سوه: ای دالله رسوله داشرك خوموږ پیژنو مګرداکبرڅه دی؟ چی وی زموږ دیوه سړی دپاره ښائسته څپلی اودهغه دپاره ښکلی تسمی وی ایادی ته کبر ویل کیږی؟ نورسول الله ﷺ وفرمایل چی نه: نوبیا ورته وویل سوه چی دیوه شخص دپاره سپرلی وی چی هغه پر سپریږی ایادی ته کبر ویل کیږی نورسول الله ﷺ وفرمایل چی نه: بیاورته وویل سوه چی یوسړی ته ډیر خلګ راټولیږی اودهغه خواته ډیر خلګ ورځی نوایا دی ته کبر ویل کیږی؟ نورسول الله ﷺ وفرمایل چی نه: نوبیا ورته ماوویل یاورته وویل سوه چی ای دالله رسوله نوکبر څه ته وایې؟ نورسول الله ﷺ وفرمایل چی، حق ته ډیکه ورکول اوخلګوته په سپك نظرسره کتل، دی ته کبروایې. اوداپه اسناد صحیح سره ذکرسوی دی. اوروایت ددی کړی دی ابوالقاسم الطبرانی دحدیث دعبدالرحیم بن سلیمان څخه چی دی نقل کړی دی دمحمد بن اسحاق څخه ده نقل کړی دی دعمربن دینار څخه ده نقل کړی دی دعبدالله بن عمر څخه چی رسول الله ﷺ فرمایلی دی: چی وو په وصیت دنوح ؑ کی خپل زوی ته دوی خبری. یوداچی ورته ویلی یې وه چی ددوو شیانو څخه مومنع کوم اوبل داچی ددوو شیانو امردرته کوم: اودارنګه یې ټول حدیث بیان کړی دی.

اودارنګه روایت ددی کړی دی ابوبکر البزار دابراهیم بن سعید څخه چی دی نقل کوی دابی معاویه الضریر څخه دی نقل کوی دمحمد بن اسحاق څخه دی نقل کوی دعمر بن دینار څخه اودی نقل کوی دعبدالله بن عمر بن الخطاب څخه دی نقل کوی دنبی ؑ څخه هم په دی مخکی ذکرسوی طریقی سره (۱) اوښکاره خبره داده چی دانقل دی دعبدالله بن عمرو بن العاص څخه، لکه څنګه چی داخبره ذکر کړیده طبرانی. اوګمان کوی اهل کتاب چی نوح ؑ کله کښتی ته وختی. نوعمر دده (۶۰۰) کاله وو،

اوداموږ مخکی ذکرکی په قول دابن عباس کی، اودایې ورسره هم زیاته کړیده چی دهغه څخه وروسته یې بیانور (۳۵۰) کاله ژوند تیرکړی دی، اوپه دی قول ددوی کی نظردی، او بیاکه جمع په منځ ددی قول او دقرآن کی نه راځی نودا بیا صرف خطاء دی ولی چی قرآن دا ذکر کړی دی چی نوح ؑ په خپل قوم کی وروسته دبعثت څخه اومخکی دطوفان څخه

(۱). هیثمی ویلی دی په المجمع کی (۱۰\ ۸۴) راوی ددی البزاردی اوپه دی کی محمد بن اسحاق دی اودا مدلس دی اوثقه دی اوباقی سړی ددی روایت ټول صحیح دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



(۱۰۰۰) کاله تیرکړی دی مګر (۵۰) کاله کم. بیا الله ﷻ راولیږی په دوی باندی طوفان په دی حال کی چی دوی ظالمان وه. بیا الله ﷻ ته پته ده چی ده به بیاڅومره وخت نور زندګی تیره کړی وی. پس که چیری محفوظ وو هغه چی نقل سوی دی دابن عباس څخه چی دده عمر (۴۸۰) کاله وو چی دی پیغمبر سو اوده ژوند تیرکړی دی وروسته دطوفان څخه (۳۵۰) کاله . نوپه دی ترتیب سره به دده عمر (۱۷۸۰) کاله سی. اوهرڅه چی قبر دده دی: روایت ذکرکړی دی ابن جریر اوالازرقی دعبدالرحمٰن بن سابط څخه اودارنګه دنورو تابعینو څخه په مرسل طریقی سره چی دده قبر دمسجد الحرام سره دی اودا قوی قول دی اوثابت کړی دی بعضو متاخرینو چی داپه (بقاع) نوم کلی کی دی چی نن ورځ په (کرك نوح) سره مشهوره دی. او هلته یومسجد دی چی ددی وجی څخه جوړ سوی دی.

## قصه دهود عليه السلام

داهود بن شالخ بن ارفخشذ بن سام بن نوح عليه السلام دی. اوبعضو ویلی دی چی هود دعابر بن شالخ بن ارفخشذ بن سالم بن نوح عليه السلام دی. اوبعضو داویلی دی چی داهود بن عبدالله بن رباح الجارود بن عاد بن عوص بن ارم بن سام بن نوح عليه السلام دی. داذکر کړی دی ابن جریر.
او دی وو دهغه قبیلی څخه چی ورته به عاد بن سام بن نوح ویل کیدی. اودوی وه عرب چی اوسیده به په (احقاف) کی. اودا دشګو یوغردی. اوداوو په راسته اړخ دعمان او حضرت موت کی، په داسی ځکه چی دسمندرسره خواه ته وه چی ورته (الشحر) ویل کیده اوددی دوادی نوم (مغیث) وو. اودوی به ډیر په خیمو کی اوسیده داسی خیمی وی چی غټی ستنی به په کی ولاړی وی، لکه څه رنګه چی الله ﷻ فرمایلی دی: أَلَمْ تَرَ كَيْفَ فَعَلَ رَبُّكَ بِعَادٍ (٦) إِرَمَ ذَاتِ الْعِمَادِ (سورة الفجر ۷\۶) ددی عاد څخه اولنی عاد مراددی یعنی عاد ارم ورڅخه مراد دی. اوهرڅه چی دوهم عاددی نودهغه ذکربه په خپل ځای کی راسی.
اوهرڅه چی اولنی عاددی نوهغه عاد ارم دی: إِرَمَ ذَاتِ الْعِمَادِ (٧) الَّتِي لَمْ يُخْلَقْ مِثْلُهَا فِي الْبِلَادِ، (سورة الفجر ۸\۷). یعنی په مثل دقبیلی باندی. یاپه مثل دستنو باندی. اوصحیح اولنی دی کم چی موږ په تفسیر کی ذکر کړی دی.
اوچا داویلی دی په خپل ګمان سره چی (ارم) دایو ښاردی چی داڅرخی په ځکه کی، نو کله داپه شام کی وی اوکله په یمن کی وی اوکله په حجاز کی وی اوکله په نورو ځایونو کی وی. داداسی خبری دی چی په دی باندی هیڅ دلیل نسته دی.
اوپه صحیح دابن حبان کی ذکردی دابی ذر څخه په یواوږد حدیث کی چی هغه حدیث ذکر دی په باره دانبیاوو کی اوپه باره درسولانوکی په دی کی یې ویلی دی، چی ددی څخه څلور عرب دی: هوددی، اوصالح دی، اوشعیب دی، اوستا پیغمبر دی ای ابوذره یعنی

(c) ketabton.com: The Digital Library



درسول الله ﷺ ځان ته اشاره وه. اودا ویل سوی دی چی هود ﷷ اول هغه پیغمبردی چی په عربی ژبه کی یې خبری کړی دی، اوګمان کړی دی وهب بن منبه چی دده پلار اول شخص وو چی په عربی کی یې خبری کړی دی: اوبعضو داویلی دی چی نوح ﷷ اول په عربی کی خبری کړی دی، اوویل سوی دی چی آدم ﷷ اول په عربی کی خبری کړی دی اوداسی دنورو په ژبه کی هم ویل سوی دی. والله اعلم. اوویل کیده هغه عربانو ته چی مخکی داسماعیل ﷷ څخه وه (عرب العاربه)، او ددوی ډیری قبیلی وی: چی دهغه څخه عاد، ثمود، جرهم، طسم، جدیس، امیم، مدین، عملاق، جاسم، قطحان، بنو یقطن، اوداسی نوری قبیلی، اوهرڅه چی (عرب مستعربه) دی نودا اولاد داسماعیل ﷷ دی. او وو اسماعیل بن ابراهیم ﷷ اول هغه سړی چی په عربی کی یې خبری کړی وی هغه عربی چی فصیحه اوبلیغه عربی وه او وو دی چی اخیستی یې وو داکلام دعربی دجرهم قبیلی څخه چی دحرم خواته دهاجری بی بی خواته راغلی وه. ددی بیان په خپل ځای کی تفصیلاً راځی انشاء الله ﷻ، خوالله ﷻ داعربی ددی په ژبی باندی ښه فصیحه کړه. اودغه رکم په دی باندی به تلفظ کوی رسول الله ﷺ: نومقصد داچی دعاد څخه مراد دلته اولنی عاد دی. او دامخکی هغه خلګ وه چی دطوفان څخه وروسته یې دبتانو عبادت کړی دی، اوددی دری بتان وه: صمدا، صمود، هرا. دادری بوتان وه ددوی چی دوی به یې عبادت کوی. نورا ولیږی په دوی کی الله ﷻ ورور ددوی چی هود ﷷ دی نودوی ته یې دعوت ورکوی دالله ﷻ طرف ته. لکه څه رنګه چی الله ﷻ فرمایلی دی وروسته ترذکر دقوم دنوح ﷷ څخه ددوی ذکر دی او ددوی دکار چی دوی به څه کول.

الله ﷻ فرمایلی دی: وَإِلَى عَادٍ أَخَاهُمْ هُودًا قَالَ يَا قَوْمِ اعْبُدُوا اللهَ مَا لَكُمْ مِنْ إِلَهٍ غَيْرُهُ أَفَلَا تَتَّقُونَ (٦٥) قَالَ الْمَلَأُ الَّذِينَ كَفَرُوا مِنْ قَوْمِهِ إِنَّا لَنَرَاكَ فِي سَفَاهَةٍ وَإِنَّا لَنَظُنُّكَ مِنَ الْكَاذِبِينَ (٦٦) قَالَ يَا قَوْمِ لَيْسَ بِي سَفَاهَةٌ وَلَكِنِّي رَسُولٌ مِنْ رَبِّ الْعَالَمِينَ (٦٧) أُبَلِّغُكُمْ رِسَالَاتِ رَبِّي وَأَنَا لَكُمْ نَاصِحٌ أَمِينٌ (٦٨) أَوَعَجِبْتُمْ أَنْ جَاءَكُمْ ذِكْرٌ مِنْ رَبِّكُمْ عَلَى رَجُلٍ مِنْكُمْ لِيُنْذِرَكُمْ وَاذْكُرُوا إِذْ جَعَلَكُمْ خُلَفَاءَ مِنْ بَعْدِ قَوْمِ نُوحٍ وَزَادَكُمْ فِي الْخَلْقِ بَسْطَةً فَاذْكُرُوا آلَاءَ اللهِ لَعَلَّكُمْ تُفْلِحُونَ (٦٩) قَالُوا أَجِئْتَنَا لِنَعْبُدَ اللهَ وَحْدَهُ وَنَذَرَ مَا كَانَ يَعْبُدُ آبَاؤُنَا فَأْتِنَا بِمَا تَعِدُنَا إِنْ كُنْتَ مِنَ الصَّادِقِينَ (٧٠) قَالَ قَدْ وَقَعَ عَلَيْكُمْ مِنْ رَبِّكُمْ رِجْسٌ وَغَضَبٌ أَتُجَادِلُونَنِي فِي أَسْمَاءٍ سَمَّيْتُمُوهَا أَنْتُمْ وَآبَاؤُكُمْ مَا نَزَّلَ اللهُ بِهَا مِنْ سُلْطَانٍ فَانْتَظِرُوا إِنِّي مَعَكُمْ مِنَ الْمُنْتَظِرِينَ (٧١) فَأَنْجَيْنَاهُ وَالَّذِينَ مَعَهُ بِرَحْمَةٍ مِنَّا وَقَطَعْنَا دَابِرَ الَّذِينَ كَذَّبُوا بِآيَاتِنَا وَمَا كَانُوا مُؤْمِنِينَ (سورة الاعراف ۲۵\ ۷۲)، اوهم دارنګه الله ﷻ په بل ځای کی دنوح ﷷ دقصی څخه وروسته داسی فرمایلی دی: ثُمَّ أَنْشَأْنَا مِنْ بَعْدِهِمْ قَرْنًا آخَرِينَ (٣١) فَأَرْسَلْنَا فِيهِمْ رَسُولًا مِنْهُمْ أَنِ

(c) ketabton.com: The Digital Library



اعْبُدُوا اللہ مَا لَكُمْ مِنْ إِلَهٍ غَيْرُهُ أَفَلَا تَتَّقُونَ (٣٢) وَقَالَ الْمَلَأُ مِنْ قَوْمِهِ الَّذِينَ كَفَرُوا وَكَذَّبُوا بِلِقَاءِ الْآخِرَةِ وَأَتْرَفْنَاهُمْ فِي الْحَيَاةِ الدُّنْيَا مَا هَذَا إِلَّا بَشَرٌ مِثْلُكُمْ يَأْكُلُ مِمَّا تَأْكُلُونَ مِنْهُ وَيَشْرَبُ مِمَّا تَشْرَبُونَ (٣٣) وَلَئِنْ أَطَعْتُمْ بَشَرًا مِثْلَكُمْ إِنَّكُمْ إِذًا لَخَاسِرُونَ (٣٤) أَيَعِدُكُمْ أَنَّكُمْ إِذَا مِتُّمْ وَكُنْتُمْ تُرَابًا وَعِظَامًا أَنَّكُمْ مُخْرَجُونَ (٣٥) هَيْهَاتَ هَيْهَاتَ لِمَا تُوعَدُونَ (٣٦) إِنْ هِيَ إِلَّا حَيَاتُنَا الدُّنْيَا نَمُوتُ وَنَحْيَا وَمَا نَحْنُ بِمَبْعُوثِينَ (٣٧) إِنْ هُوَ إِلَّا رَجُلٌ افْتَرَى عَلَى اللہ كَذِبًا وَمَا نَحْنُ لَهُ بِمُؤْمِنِينَ (٣٨) قَالَ رَبِّ انْصُرْنِي بِمَا كَذَّبُون (٣٩) قَالَ عَمَّا قَلِيلٍ لَيُصْبِحُنَّ نَادِمِينَ (٤٠) فَأَخَذَتْهُمُ الصَّيْحَةُ بِالْحَقِّ فَجَعَلْنَاهُمْ غُثَاءً فَبُعْدًا لِلْقَوْمِ الظَّالِمِينَ (سورة المومنون ۳۱\ ۴۱).

اودارنګه الله ﷻ فرمايلی دی: فَأَمَّا عَادٌ فَاسْتَكْبَرُوا فِي الْأَرْضِ بِغَيْرِ الْحَقِّ وَقَالُوا مَنْ أَشَدُّ مِنَّا قُوَّةً أَوَلَمْ يَرَوْا أَنَّ اللہ الَّذِي خَلَقَهُمْ هُوَ أَشَدُّ مِنْهُمْ قُوَّةً وَكَانُوا بِآيَاتِنَا يَجْحَدُونَ (١٥) فَأَرْسَلْنَا عَلَيْهِمْ رِيحًا صَرْصَرًا فِي أَيَّامٍ نَحِسَاتٍ لِنُذِيقَهُمْ عَذَابَ الْخِزْيِ فِي الْحَيَاةِ الدُّنْيَا وَلَعَذَابُ الْآخِرَةِ أَخْزَى وَهُمْ لَا يُنْصَرُونَ (سورة فصلت ۱۵\ ۱۶) .

اودارنګه الله ﷻ فرمايلی دی: وَأَمَّا عَادٌ فَأُهْلِكُوا بِرِيحٍ صَرْصَرٍ عَاتِيَةٍ (٦) سَخَّرَهَا عَلَيْهِمْ سَبْعَ لَيَالٍ وَثَمَانِيَةَ أَيَّامٍ حُسُومًا فَتَرَى الْقَوْمَ فِيهَا صَرْعَى كَأَنَّهُمْ أَعْجَازُ نَخْلٍ خَاوِيَةٍ (٧) فَهَلْ تَرَى لَهُمْ مِنْ بَاقِيَةٍ (سورة الحاقه ۶\ ۸) اودارنګه الله ﷻ فرمايلی دی په سورة الفجر کی: أَلَمْ تَرَ كَيْفَ فَعَلَ رَبُّكَ بِعَادٍ (٦) إِرَمَ ذَاتِ الْعِمَادِ (٧) الَّتِي لَمْ يُخْلَقْ مِثْلُهَا فِي الْبِلَادِ (٨) وَثَمُودَ الَّذِينَ جَابُوا الصَّخْرَ بِالْوَادِ (٩) وَفِرْعَوْنَ ذِي الْأَوْتَادِ (١٠) الَّذِينَ طَغَوْا فِي الْبِلَادِ (١١) فَأَكْثَرُوا فِيهَا الْفَسَادَ (١٢) فَصَبَّ عَلَيْهِمْ رَبُّكَ سَوْطَ عَذَابٍ (١٣) إِنَّ رَبَّكَ لَبِالْمِرْصَادِ (سورة الفجر ۶\ ۱۴) اوپه دی ټولو آيتونو باندی موږ تفصيلی خبری کړی دی په تفسير کی په خپل خپل ځای کی اودارنګه ذکر دعاد په (سورة التوبه، ابراهيم، الفرقان، العنکبوت، ص، ق،) کی سوی دی. اودلته به اوس موږ ذکر دقصی وکو په مجموعی طريقی سره هغه چی اضافت يې سوی دی احاديثو ته. اومخکی داموږ ذکر کړه چی دامخکی هغه خلګ وه چی دطوفان څخه يې وروسته عبادت دبتانو کړی وو. اوداپه دی قول دالله ﷻ کی ذکردی: وَاذْكُرُوا إِذْ جَعَلَكُمْ خُلَفَاءَ مِنْ بَعْدِ قَوْمِ نُوحٍ وَزَادَكُمْ فِي الْخَلْقِ بَسْطَةً (سورة الاعراف\ ۶۹) يعنی دوی ګرزول سوی وه په اهل دخپل زمانی کی ډير کلك اومضبوط خلګ، اودارنګه الله ﷻ په سورة المومنون کی فرمايلی دی دی: ثُمَّ أَنْشَأْنَا مِنْ بَعْدِهِمْ قَرْنًا آخَرِينَ (سورة المومنون ۳۱) اودا قوم هود دی په صحيح قول سره، او بعضو داګمان کړی دی چی داثموديان مراد دی ددی قول څخه هغه استدلال کوی: فَأَخَذَتْهُمُ

(c) ketabton.com: The Digital Library



الصَّيْحَةُ بِالْحَقِّ فَجَعَلْنَاهُمْ غُثَاءً فَبُعْدًا لِلْقَوْمِ الظَّالِمِينَ (سورة المومنون ۴۱) اودوی وایی چی قوم دصالح علیه السلام په سیلی سره مړه سوی دی نوددی وجی ددی څخه مراد قوم ثمود دی ولی چی قوم ثمود ته الله جل جلاله صالح علیه السلام رالیږلی وو: وَأَمَّا عَادٌ فَأُهْلِكُوا بِرِيحٍ صَرْصَرٍ عَاتِيَةٍ (سورة الحاقه \۶) اوداچی ویلی دی دوی چی اجتماع راتلی سی په منځ د(چیغی) او (سیلی) کی پر دوی باندی یعنی دواړه پرراغلی دی لکه څه رنګه چی به داذکرکیږی په قصه داهل مدین والاوو کی وروسته ولی چی په هغوی باندی ډیر قسمونه دعذابونو یوځای سوی وه. بیاپه دی خبری کی اختلاف نسته چی عاد دثمود څخه مخکی تیر سوی دی، اومقصودی خبره داده چی قوم عاد داسی کافران وه چی دبتانو په عبادت کی سرکښه سوی وه نوالله جل جلاله دوی ته یوسړی راولیږی نودوی ته یې دعوت ورکوی دالله جل جلاله طرف ته نودوی دهغه تکذیب وکی او انکاریې وکی اوخلاف یې وکړه نوالله په داسی سخت عذاب سره ګرفتار کړه چی ډیر سخت عذاب وو. کله به یې چی دوی ته امر په عبادت دالله جل جلاله باندی کوی اورغبت یې ورکوی په طاعت دالله جل جلاله باندی نودوی به په جواب کی ورته ویل چی: قَالَ الْمَلَأُ الَّذِينَ كَفَرُوا مِنْ قَوْمِهِ إِنَّا لَنَرَاكَ فِي سَفَاهَةٍ وَإِنَّا لَنَظُنُّكَ مِنَ الْكَاذِبِينَ (سورة الاعراف \۶۶) یعنی دوی به ورته ویل چی داته کم اړخ ته موږ رابولی نودا خولیونتوب دی اوموږ ته ته لیونی ښکاری په نسبت سره زموږ خپل کار ته چی عبادت دبتانو دی ولی چی زموږ کامیابی اورزق ددی سره تړل سوی دی، اوسره ددی څخه ته دروغ وایی چی ته الله جل جلاله موږ ته رالیږلی یې دپیغمبری ددروغو دعوه کوی: قَالَ يَا قَوْمِ لَيْسَ بِي سَفَاهَةٌ وَلَكِنِّي رَسُولٌ مِنْ رَبِّ الْعَالَمِينَ (سورة الاعراف \ ۶۷) یعنی ده به ورته وویل چی داسی نه ده څنګه چی تاسی ګمان کوی بلکه: أُبَلِّغُكُمْ رِسَالَاتِ رَبِّي وَأَنَا لَكُمْ نَاصِحٌ أَمِينٌ (سورة الاعراف \ ۶۸) یعنی زه خوتاسی ته دالله جل جلاله دپیغام بیانولو دپاره راغلی یم. اودبلاغ معنٰی داده چی ددروغو څخه صفا اودکمی زیاتی څخه هم خالی وی. اودبلاغت سره مستلزم وی فصاحت اودکلام مختصر بیانول اوپه مینځ کی فضول خبری نه شاملول. اودی دبلاغت سره دامقصد هم وو چی نصیحت وکی خپل قوم ته اوحرص یې وو په هدایت دقوم خپل باندی اودخپل قوم څخه یې په بدل کی هیڅ نه غوښتله. بلکی خالص دالله جل جلاله درضا منتیا دپاره او ددوی داصلاح دپاره به یې دعوت کوی او ددی اجربه یې نه غوښتی مګر دهغه ذات څخه چی رالیږلی یې دی ولی چی خیر ددنیا اوآخرت دواړه دهغه په لاس کی دی اوهغه ته یې ټول کار راجع کیږی. نوددی وجی څخه یې ویلی دی: يَا قَوْمِ لَا أَسْأَلُكُمْ عَلَيْهِ أَجْرًا إِنْ أَجْرِيَ إِلَّا عَلَى الَّذِي فَطَرَنِي أَفَلَا تَعْقِلُونَ (سورة هود\ ۵۱) ایاستاسی دومره عقل اوتمیز نسته چی تاسی په دی باندی پوه سی چی زه تاسی

(c) ketabton.com: The Digital Library



رابولم هغه حق ارخ ته چی ښکاره ده اودانسان فطرت هم دادی چی په دی سره پیدا کیږی او هغه حق دین دی چی الله ﷻ په دی سره نوح ؑ هم رالیږلی وو اوهلاك کړی یې وه هغه خلګ چی ددی مخالفت یې کړی وو. اوزه چی تاسی رابولم دی حق ارخ ته اوستاسی څخه په بدله کی څه غواړم هم نه. بلکی ددی امید دهغه الله ﷻ څخه کوم چی مالك دګټی او نقصان دی، اوددی دوجی یوه (مومن) ویلی دی: اتَّبِعُوا مَنْ لَا يَسْأَلُكُمْ أَجْرًا وَهُمْ مُهْتَدُونَ (۲۱) وَمَا لِيَ لَا أَعْبُدُ الَّذِي فَطَرَنِي وَإِلَيْهِ تُرْجَعُونَ (سورة یٰس ۲۱\ ۲۲) اوورته وویل قوم هود چی: قَالُوا يَا هُودُ مَا جِئْتَنَا بِبَيِّنَةٍ وَمَا نَحْنُ بِتَارِكِي آلِهَتِنَا عَنْ قَوْلِكَ وَمَا نَحْنُ لَكَ بِمُؤْمِنِينَ (۵۳) إِنْ نَقُولُ إِلَّا اعْتَرَاكَ بَعْضُ آلِهَتِنَا بِسُوءٍ قَالَ إِنِّي أُشْهِدُ اللهَ وَاشْهَدُوا أَنِّي بَرِيءٌ مِمَّا تُشْرِكُونَ (سورة هود \۵۳\ ۵۴) دوی به ورته وویل چی تاداسی یوکار هم ونه کی چی نمونه وار کاروی چی ستاپه رښتنوالی دلالت وکی، اوموږ هم داسی خلګ نه یو چی دخپل بتانو عبادت پریږدو صرف ستاپه تشی وینا باندی پیغمبر دڅه دلیل څخه اوپیغمبر دڅه معجزی څخه، اوموږ داګمان کووچی ته لیونی یې په هغه څه کی چی ته ورته رابلل کوی، اوزموږ په نزد داسی معلومیږی چی زموږ دی خدایانو ته لیونی کړی یې ولی چی ته زموږ خدایانو ته په سپك نظر ګوری نوزموږ خدایان تاته غوصه سوه نوته یې لیونی کړی. اوخبره ددوی په دی قول کی ذکر سویده : إِنْ نَقُولُ إِلَّا اعْتَرَاكَ بَعْضُ آلِهَتِنَا بِسُوءٍ قَالَ إِنِّي أُشْهِدُ اللهَ وَاشْهَدُوا أَنِّي بَرِيءٌ مِمَّا تُشْرِكُونَ (٥٤) مِنْ دُونِهِ فَكِيدُونِي جَمِيعًا ثُمَّ لا تُنْظِرُونِ (سورة هود ۵۴\ ۵۵) نوداسی کارونه به دوی کوله اوبیابه یې هود ؑ ته لیونی ویل اوپه دی کی به یې نقصانات راپیدا کول اوخپل خدایان یې ورته ددی مسبب ګرځول چی دازموږ خدایانو داکار کړی دی.

اوهود ؑ به دوی ته بیابیا داخبره کوله چی دوی چاته نفع اوضررنه سی رسولی اودا خو جماد دی نه په دی کی روح سته اونه په کی څه طاقت. اوکه چیری داسی وی لکه څنګه چی تاسی ګمان کوی چی دانفع اوضرر رسوی اوفتح اوکامیابی ورکوی. نوزه بری یم ددی څخه نوجوړ کی تاسی زما دپاره تدبیرونه تاسی ټول په هغه طریقو سره په کم باندی چی ستاسی وس کیږی اوڅه رنګه چی تاسی ماته ضرر راکولی سی هم په هغه طریقه ضرر راکی، اوماته یوساعت وخت هم مه راکوی اودسترګی درپ هومره وخت هم مه راکوی. او زه پرواه نه ساتم په تاسی باندی اونه څه فکر کوم په تاسی باندی اونه زه ګورم تاسی ته: إِنِّي تَوَكَّلْتُ عَلَى اللهِ رَبِّي وَرَبِّكُمْ مَا مِنْ دَابَّةٍ إِلَّا هُوَ آخِذٌ بِنَاصِيَتِهَا إِنَّ رَبِّي عَلَى صِرَاطٍ مُسْتَقِيمٍ (سورة هود\ ۵۶) یعنی ده ویل دوی ته چی ماتوکل کړی دی په هغه ذات باندی چی هغه حقدار دتوکل دی اوماڅان مضبوط کړی دی په هغه ذات پوری چی هغه نه ضائع کوی هغه سړی

(c) ketabton.com: The Digital Library



چی په هغه پوری پناه ونیسی، اوزه تکیه نیسم دهغه ذات پوری، نوزه پرواه نه ساتم دهغه ثخه ماسوا دبل مخلوق، اونه په بل چاباندی توکل کوم اونه دبل چا عبادت کوم ماسوا دالله ﷻ ثخه. اوداخبره دهود ؑ ددوی دپاره غټ دلیل وو چی هود ؑ پیغمبر دی دالله ﷻ اودهغه بنده دی اودا دلیل وو په دی خبری باندی چی دوی په غلطه وه اوپه جهل اوپه باطله باندی وه ولی چی دوی ورته هیڅ قسم نقصان ونه رسوی اوهود ؑ ته هم ددی ثخه ثه بدی محسوس نه سوه، نودی خبری دلالت وکی په رښتیا والی دهغه چی ده بیانوله دوی ته، اوبطلان دهغه چی دوی کوی عبادت دبتانو. اوهم په دی استدلال کړی وو حضرت نوح ؑ : يَا قَوْمِ إِنْ كَانَ كَبُرَ عَلَيْكُمْ مَقَامِي وَتَذْكِيرِي بِآيَاتِ اللهِ فَعَلَى اللهِ تَوَكَّلْتُ فَأَجْمِعُوا أَمْرَكُمْ وَشُرَكَاءَكُمْ ثُمَّ لَا يَكُنْ أَمْرُكُمْ عَلَيْكُمْ غُمَّةً ثُمَّ اقْضُوا إِلَيَّ وَلَا تُنْظِرُونِ (سورة یونس\۷۱) اوهم دارنګه ویلی دی ابراهیم خلیل الله ؑ : وَلَا أَخَافُ مَا تُشْرِكُونَ بِهِ إِلَّا أَنْ يَشَاءَ رَبِّي شَيْئًا وَسِعَ رَبِّي كُلَّ شَيْءٍ عِلْمًا أَفَلَا تَتَذَكَّرُونَ (۸۰) وَكَيْفَ أَخَافُ مَا أَشْرَكْتُمْ وَلَا تَخَافُونَ أَنَّكُمْ أَشْرَكْتُمْ بِاللهِ مَا لَمْ يُنَزِّلْ بِهِ عَلَيْكُمْ سُلْطَانًا فَأَيُّ الْفَرِيقَيْنِ أَحَقُّ بِالْأَمْنِ إِنْ كُنْتُمْ تَعْلَمُونَ (۸۱) الَّذِينَ آمَنُوا وَلَمْ يَلْبِسُوا إِيمَانَهُمْ بِظُلْمٍ أُولَئِكَ لَهُمُ الْأَمْنُ وَهُمْ مُهْتَدُونَ (۸۲) وَتِلْكَ حُجَّتُنَا آتَيْنَاهَا إِبْرَاهِيمَ عَلَى قَوْمِهِ نَرْفَعُ دَرَجَاتٍ مَنْ نَشَاءُ إِنَّ رَبَّكَ حَكِيمٌ عَلِيمٌ (سورة الانعام ۸۰\ ۸۳)، وَقَالَ الْمَلَأُ مِنْ قَوْمِهِ الَّذِينَ كَفَرُوا وَكَذَّبُوا بِلِقَاءِ الْآخِرَةِ وَأَتْرَفْنَاهُمْ فِي الْحَيَاةِ الدُّنْيَا مَا هَذَا إِلَّا بَشَرٌ مِثْلُكُمْ يَأْكُلُ مِمَّا تَأْكُلُونَ مِنْهُ وَيَشْرَبُ مِمَّا تَشْرَبُونَ (۳۳) وَلَئِنْ أَطَعْتُمْ بَشَرًا مِثْلَكُمْ إِنَّكُمْ إِذًا لَخَاسِرُونَ (۳٤) أَيَعِدُكُمْ أَنَّكُمْ إِذَا مِتُّمْ وَكُنْتُمْ تُرَابًا وَعِظَامًا أَنَّكُمْ مُخْرَجُونَ (سورة المومنون ۳۳\ ۳۵) دوی به داخبره لیری ګڼله چی الله ﷻ یوبشر پیغمبر را ولیږی. او په دی خبری کی ډیر کافران ګډ سوی دی هغه کافران چی قدیم دی اودا اوسنی هم دی، لکه ثه رنګه چی الله ﷻ فرمایلی دی: أَكَانَ لِلنَّاسِ عَجَبًا أَنْ أَوْحَيْنَا إِلَى رَجُلٍ مِنْهُمْ أَنْ أَنْذِرِ النَّاسَ (سورة یونس \۲) اودارنګه الله ﷻ فرمایلی دی: وَمَا مَنَعَ النَّاسَ أَنْ يُؤْمِنُوا إِذْ جَاءَهُمُ الْهُدَى إِلَّا أَنْ قَالُوا أَبَعَثَ اللهُ بَشَرًا رَسُولًا (۹٤) قُلْ لَوْ كَانَ فِي الْأَرْضِ مَلَائِكَةٌ يَمْشُونَ مُطْمَئِنِّينَ لَنَزَّلْنَا عَلَيْهِمْ مِنَ السَّمَاءِ مَلَكًا رَسُولًا (سورة الاسراء ۹۴\ ۹۵) او ددی وجی ثخه ورته هود ؑ وفرمایل چی: أَوَعَجِبْتُمْ أَنْ جَاءَكُمْ ذِكْرٌ مِنْ رَبِّكُمْ عَلَى رَجُلٍ مِنْكُمْ لِيُنْذِرَكُمْ (سورة الاعراف\ ۶۳) یعنی داعجیبه خبره نه ده، ولی چی الله ﷻ ښه پوهیږی چی چیری خپل رسالت ولیږی. اودا قول دالله ﷻ : أَيَعِدُكُمْ أَنَّكُمْ إِذَا مِتُّمْ وَكُنْتُمْ تُرَابًا وَعِظَامًا أَنَّكُمْ مُخْرَجُونَ (۳۵) هَيْهَاتَ هَيْهَاتَ لِمَا تُوعَدُونَ (۳۶) إِنْ هِيَ إِلَّا حَيَاتُنَا الدُّنْيَا نَمُوتُ وَنَحْيَا وَمَا نَحْنُ بِمَبْعُوثِينَ (۳۷) إِنْ هُوَ إِلَّا رَجُلٌ افْتَرَى عَلَى اللهِ كَذِبًا وَمَا نَحْنُ لَهُ بِمُؤْمِنِينَ (۳۸) قَالَ رَبِّ انْصُرْنِي بِمَا كَذَّبُونِ (سورة المومنون ۳۵\۳۹) دوی به لیری ګڼل بیرته

(c) ketabton.com: The Digital Library



راتلل اومنکره سوی وه دبیرته راولاړیدو دقبر څخه چی یووار خاوره سی، هیهات هیهات، لیری ده لیری ده داخبره اودا وعده یعنی مطلب یې داوو چی دامکنه نه ده، إِنْ هِيَ إِلَّا حَيَاتُنَا الدُّنْيَا نَمُوتُ وَنَحْيَا وَمَا نَحْنُ بِمَبْعُوثِينَ یعنی مری به یوقوم اوژوندی کیږی به بل قوم، اوداعقیده ددهریانو ده. اوهرڅه چی عقیده ددوریه ده هغوی دا وایی چی هریو انسان راځی وروسته د(۳۰۰۰۰) کالو څخه. اوداټولی دروغ خبری دی چی دکافرانو عقیدی په منسلکی دی او داباطلی خبری دی چی په دی باندی هیڅ دلیل اوبرهان نسته مائل کیږی ددی اړخ ته عقل دهغو خلګو چی کافران دی داولاد دآدم ﷺ څخه چی هیڅ عقل په کی نسته اونه دهدایت لاره پیژنی، لکه څه رنګه چی الله ﷻ فرمایلی دی: وَلِتَصْغَى إِلَيْهِ أَفْئِدَةُ الَّذِينَ لَا يُؤْمِنُونَ بِالْآخِرَةِ وَلِيَرْضَوْهُ وَلِيَقْتَرِفُوا مَا هُمْ مُقْتَرِفُونَ (سورة الانعام \ ۱۱۳) اودارنګه الله ﷻ ورته په بل ځای کی خطاب کړی دی اوزورنه یې ورکړی ده: أَتَبْنُونَ بِكُلِّ رِيعٍ آيَةً تَعْبَثُونَ (۱۲۸) وَتَتَّخِذُونَ مَصَانِعَ لَعَلَّكُمْ تَخْلُدُونَ (سورة الشعراء ۱۲۸\۱۲۹) ورته فرمایلی یې دی چی تاسی جوړوی په لوړو ځایونوکی کوټی په شان دمحلونو، اوهسی یې جوړوی حالانکی ستاسی ورته ضرورت هم نسته. ولی چی دوی به په خیمو کی اوسیدل، لکه څه رنګه چی الله ﷻ فرمایلی دی: إِرَمَ ذَاتِ الْعِمَادِ (۷) الَّتِي لَمْ يُخْلَقْ مِثْلُهَا فِي الْبِلَادِ (۸) وَثَمُودَ الَّذِينَ جَابُوا الصَّخْرَ بِالْوَادِ (سورة الفجر ۷\ ۸) نودا عادِ ارم هغه خلګ وه چی جوړول به یې هغه ستنی چی په هغه باندی یې خیمی درولی. اوځیا داسی ویلی دی چی دا (ارم) یوکلی دی دسرو زرو اودسپینو زرو اوداګرځی په ټولو ځایونو کی کله په یوملك کی وی اوکله په بل ملك وی. اودا غلطه خبره ده په دی باندی څه دلیل نسته. اودا قول دالله ﷻ : وَتَتَّخِذُونَ مَصَانِعَ لَعَلَّكُمْ تَخْلُدُونَ، ویل سوی دی چی ددی څخه مراد قصرونه دی، اوبعضو ویلی دی چی ددی څخه دکوترو کوټنی مرادی دی، اوبعضو ویلی دی چی ددی څخه ځای داوبو مراددی دکم ځای څخه چی اوبه اخستل کیږی (لَعَلَّكُمْ تَخْلُدُونَ) یعنی په دی امید سره چی تاسی به په دی کورنو کی ډیر اوږد عمر تیروی وَإِذَا بَطَشْتُمْ بَطَشْتُمْ جَبَّارِينَ (۱۳۰) فَاتَّقُوا اللهَ وَأَطِيعُونِ (۱۳۱) وَاتَّقُوا الَّذِي أَمَدَّكُمْ بِمَا تَعْلَمُونَ (۱۳۲) أَمَدَّكُمْ بِأَنْعَامٍ وَبَنِينَ (۱۳۳) وَجَنَّاتٍ وَعُيُونٍ (۱۳٤) إِنِّي أَخَافُ عَلَيْكُمْ عَذَابَ يَوْمٍ عَظِيمٍ (سورة الشعراء ۱۳۰\ ۱۳۵) اودوی کافرانو ورته وویل چی: قَالُوا أَجِئْتَنَا لِنَعْبُدَ اللهَ وَحْدَهُ وَنَذَرَ مَا كَانَ يَعْبُدُ آبَاؤُنَا فَأْتِنَا بِمَا تَعِدُنَا إِنْ كُنْتَ مِنَ الصَّادِقِينَ (سورة الاعراف\۷۰) یعنی ورته یې وویل چی ته راغلی یې ددی دپاره چی موږ یواځی عبادت دالله ﷻ وکو اومخالفت وکو دهغه څه چی زموږ پلرونو کړی دی اوهغوی چی په کم دین باندی وه هغه پریږدو؟ نوته راوله هغه

(c) ketabton.com: The Digital Library



عذاب چی تاپې زموږ سره وعده کړیده، اوموږ ستا خلاف کوو اوستا خبره نه منو اوستا تکذیب کوو.

لکه څنګه چی ورته دوی ویلی وه: قَالُوا سَوَاءٌ عَلَيْنَا أَوَعَظْتَ أَمْ لَمْ تَكُنْ مِنَ الْوَاعِظِينَ (١٣٦) إِنْ هَذَا إِلَّا خُلُقُ الْأَوَّلِينَ (١٣٧) وَمَا نَحْنُ بِمُعَذَّبِينَ هرڅه چی په قرآئت دفتحی دخاء سره دی نو مراد به ددی څخه اختلاف دمخکی خلګو سی، یعنی داتاچی څه راوړی دی داتا دځان څخه جوړ کړی دی، اودا دمخکنیو کتابونو څخه را اخیستل دی. دارنګه تفسیر ددی کړی دی یوه سړی دصحابه وو څخه دتابعینو څخه.

اوهرڅه چی په ضمی دخاء اولام سره دی نومراد ددی څخه (دین) دی یعنی دادین چی موږ پر یو دادین زموږ دپلار اونیکه دین دی، اوموږ ددی څخه نه اوړو اونه په دی خپل دین کی څه بدل والی راولو، اوهمیشه به یوپه دی دین باندی کلك اومضبوط اودلته دواړه قرائتونه صحیح کیږی اولنی هم اودوهم اوپه دوهم کی دادی: وَمَا نَحْنُ بِمُعَذَّبِينَ .

اودارنګه الله ﷻ فرمایلی دی: قَالَ قَدْ وَقَعَ عَلَيْكُمْ مِنْ رَبِّكُمْ رِجْسٌ وَغَضَبٌ أَتُجَادِلُونَنِي فِي أَسْمَاءٍ سَمَّيْتُمُوهَا أَنْتُمْ وَآبَاؤُكُمْ مَا نَزَّلَ اللهُ بِهَا مِنْ سُلْطَانٍ فَانْتَظِرُوا إِنِّي مَعَكُمْ مِنَ الْمُنْتَظِرِينَ، (سورة الاعراف \٧١) یعنی تاسی مستحق سواست دعذاب په دی خبری سره، ایاتاسی عبادت دبتانو مقدم کوی په عبادت دالله ﷻ باندی هغه بتان چی تاسی په خپل لاسونو باندی جوړکړی دی او دخپل ځان څخه مو ورته دخدایانو نوم ورکړی دی؟ چی دانوم ورته تاسی اوستاسی پلرونو ایښی دی، چی نه دی نازل کړی دا الله ﷻ اونه یې په دی باندی څه دلیل نازل کړی دی، او کله چی تاسی پریښوی حق اومایل سواست باطل اړخ ته، اوتاسی ته برابره ده داخبره چی تاسی منع سی یامنع نه سی، نو وروسته انتظار کوی اوس دالله ﷻ دعذاب چی په تاسی باندی واقع کیدونکی دی، هغه عذاب چی بیانه ځی. اودارنګه الله ﷻ فرمایلی دی: قَالَ رَبِّ انْصُرْنِي بِمَا كَذَّبُونِ (٣٩) قَالَ عَمَّا قَلِيلٍ لَيُصْبِحُنَّ نَادِمِينَ (٤٠) فَأَخَذَتْهُمُ الصَّيْحَةُ بِالْحَقِّ فَجَعَلْنَاهُمْ غُثَاءً فَبُعْدًا لِلْقَوْمِ الظَّالِمِينَ، (سورة المؤمنون ٣٩\ ٤١) اودارنګه الله ﷻ فرمایلی دی: قَالُوا أَجِئْتَنَا لِتَأْفِكَنَا عَنْ آلِهَتِنَا فَأْتِنَا بِمَا تَعِدُنَا إِنْ كُنْتَ مِنَ الصَّادِقِينَ (٢٢) قَالَ إِنَّمَا الْعِلْمُ عِنْدَ اللهِ وَأُبَلِّغُكُمْ مَا أُرْسِلْتُ بِهِ وَلَكِنِّي أَرَاكُمْ قَوْمًا تَجْهَلُونَ (٢٣) فَلَمَّا رَأَوْهُ عَارِضًا مُسْتَقْبِلَ أَوْدِيَتِهِمْ قَالُوا هَذَا عَارِضٌ مُمْطِرُنَا بَلْ هُوَ مَا اسْتَعْجَلْتُمْ بِهِ رِيحٌ فِيهَا عَذَابٌ أَلِيمٌ (٢٤) تُدَمِّرُ كُلَّ شَيْءٍ بِأَمْرِ رَبِّهَا فَأَصْبَحُوا لَا يُرَى إِلَّا مَسَاكِنُهُمْ كَذَلِكَ نَجْزِي الْقَوْمَ الْمُجْرِمِينَ، (سورة الاحقاف ٢٢\ ٢٥) اودارنګه الله ﷻ ددی دهلاکت ذکرپه نورو ځایونوکی هم کړی دی. لکه داقول دالله ﷻ سو: فَأَنْجَيْنَاهُ وَالَّذِينَ مَعَهُ بِرَحْمَةٍ مِنَّا وَقَطَعْنَا دَابِرَ

(c) ketabton.com: The Digital Library



الَّذِينَ كَذَّبُوا بِآيَاتِنَا وَمَا كَانُوا مُؤْمِنِينَ (سورة الاعراف \ ۷۲) اودارنګه قول دالله ﷻ : وَلَمَّا جَاءَ أَمْرُنَا نَجَّيْنَا هُودًا وَالَّذِينَ آمَنُوا مَعَهُ بِرَحْمَةٍ مِنَّا وَنَجَّيْنَاهُمْ مِنْ عَذَابٍ غَلِيظٍ (۵۸) وَتِلْكَ عَادٌ جَحَدُوا بِآيَاتِ رَبِّهِمْ وَعَصَوْا رُسُلَهُ وَاتَّبَعُوا أَمْرَ كُلِّ جَبَّارٍ عَنِيدٍ (۵۹) وَأُتْبِعُوا فِي هَذِهِ الدُّنْيَا لَعْنَةً وَيَوْمَ الْقِيَامَةِ أَلَا إِنَّ عَادًا كَفَرُوا رَبَّهُمْ أَلَا بُعْدًا لِعَادٍ قَوْمِ هُودٍ، (سورة هود ۵۸ \ ۶۰) اولکه داقول دالله ﷻ سو: فَأَخَذَتْهُمُ الصَّيْحَةُ بِالْحَقِّ فَجَعَلْنَاهُمْ غُثَاءً فَبُعْدًا لِلْقَوْمِ الظَّالِمِينَ (سورة المومنون \ ۴۱) اودارنګه الله ﷻ فرمایلی دی: فَكَذَّبُوهُ فَأَهْلَكْنَاهُمْ إِنَّ فِي ذَلِكَ لَآيَةً وَمَا كَانَ أَكْثَرُهُمْ مُؤْمِنِينَ (۱۳۹) وَإِنَّ رَبَّكَ لَهُوَ الْعَزِيزُ الرَّحِيمُ (سورة الشعراء ۱۳۹\ ۱۴۰) اوهرڅه چی تفصیل ددی دهلاکت دی هغه الله ﷻ په دی آیت کی یې بیان کړی دی: فَلَمَّا رَأَوْهُ عَارِضًا مُسْتَقْبِلَ أَوْدِيَتِهِمْ قَالُوا هَذَا عَارِضٌ مُمْطِرُنَا بَلْ هُوَ مَا اسْتَعْجَلْتُمْ بِهِ رِيحٌ فِيهَا عَذَابٌ أَلِيمٌ (سورة الاحقاف \ ۲۴) داوو اول وخت دعذاب نوددی وجی څخه الله ﷻ فرمایلی دی: بَلْ هُوَ مَا اسْتَعْجَلْتُمْ بِهِ، یعنی دواقع کیدودعذاب څخه اوهغه داقول ددوی وو: فَأْتِنَا بِمَا تَعِدُنَا إِنْ كُنْتَ مِنَ الصَّادِقِينَ، اوذکر کړی دی مفسرینو په دی ځای کی هغه خبر چی بیان کړی دی امام محمد بن اسحاق بن یساردی وایی چی: کله چی دوی انکار وکی دکفر اړخ ته دالله ﷻ څخه، نوالله ﷻ په دوی باندی تردرو کالو پوری اوبه بندی کړی یعنی باران به نه کیدی، تردی چی تنګ کړه دوی دی باران نه کیدل، نوده ویلی دی چی: کله به چی دوی ته یوکار سخت سو نودوی به بیا دالله ﷻ څخه مطالبه کوله دفراخی اودابه یې غوښتی دالله ﷻ څخه په خانه کعبه کی. ولی چی داخانه کعبه ددوی په نزد مشهوره وه دیوشی طلب کولو دپاره، اوپه هغه ځای کی به عمالیق اوسیدی چی داسلسله دعملیق بن لاوذ بن سام بن نوح ﷺ دی، او وو ددوی مشر یوسړی چی نوم یې معاویه بن بکر وو او وه دده مور دقوم دعاد څخه اونوم یې (جلهذه بنت الخیبری) وه نودا راوی وایی چی: ولیږله دی عاد یووفد چی شامل وه په کی (۷۰) کسان خانه کعبی ته ددی دپاره چی دباران دپاره دعا وغواړی، نودوی تیرسوه په معاویه بن بکر باندی په مکه کی، نودوی دهغه خواته پاته سوه تریوی میاشتی پوری، چی شراب به یې څښل اودوی ته به دوو مینزو دمعاویه سندری ویلی، اودوی وه چی رسیدلی وه دوی ته په یوه میاشت کی بیاچی کله اوږد سو ددوی دا پاته کیدل ددی خواته، او ددوی په خپل قوم باندی ترس وسو، او ددوی څخه یې حیا وکړه چی دوی ته یې دواپسی نه سو ویلی نویو شعر یې برابرکی چی په هغه کی یې ورته دتللو په باره کی ویلی وه اودوو ډموته یې ویل چی دا ورته دسندری په انداز کی ووایی نوهغه ډمو ورته داپه انداز دسندری کی وویل. نوبیا دوی ته پته ولګیده چی دوی په څه کارپسی راغلی وه، نوبیا دوی دخانه کعبی اړخ ته روان سوه او دخپل قوم دپاره یې

(c) ketabton.com: The Digital Library



دعا وغوښتله، نودعا وکړه ددوی داعی چی قیل بن عنزه وو، اوبیایې وویل چی انشاء الله دری قسمه وریځی به راځی. سپینه وریځه. اوسره اوتوره. نوبیا دی ته اواز وسو دآسمان دطرف څخه چی داته دځان دپاره خوښوی اوکه دخپل قوم دپاره نوده وویل چی توره وریځ خوښوم ولی چی په هغه کی ډیری اوبه وی، بیاورته دآسمان څخه اواز وسو چی تاخوښه کړه هغه هوا اوهغه وریځ چی ډیره ده اوهلاکونکی ده چی پاته به نه سی دعاد څخه یو هم. اونه به پرېښوول کیږی پلار اونه زوی: سَخَّرَهَا عَلَيْهِمْ سَبْعَ لَيَالٍ وَثَمَانِيَةَ أَيَّامٍ حُسُومًا (سورة الحاقه \۷) یعنی ګرځول سوی وو په دوی باندی داسیلی (۷) ورځی پرلپسی. اوویل سوی دی چی اولنی ورځ په دی کی ورځ دجمعی وه، اوبعضو ویلی دی چی داورځ دچارشنبی وه فَتَرَى الْقَوْمَ فِيهَا صَرْعَى كَأَنَّهُمْ أَعْجَازُ نَخْلٍ خَاوِيَةٍ (سورة الحاقه \۷) مشابه یې ګرځولی دوی دتنو دخرما سره هغه تنی چی سرونه نه لری، اوداً ددی وجی څخه چی کله به پردوی باندی سیلی راله نوهریوه سړی به یې لوړوی اونسکور به یې غورزوی نوبدن به یې پاته کیدی بغیر دسر څخه، لکه څه رنګه چی الله ﷻ فرمایلی دی: إِنَّا أَرْسَلْنَا عَلَيْهِمْ رِيحًا صَرْصَرًا فِي يَوْمِ نَحْسٍ مُسْتَمِرٍّ (سورة القمر\۱۹) یعنی په ورځ سپیره کی، چی پرلپسی به وو عذاب په دوی باندی، تَنْزِعُ النَّاسَ كَأَنَّهُمْ أَعْجَازُ نَخْلٍ مُنْقَعِرٍ (سورة القمر\۲۰) اوبعضو ویلی دی چی داسپیره ورځ داورځ دچارشنبی وه اوبدفالی یې نیولی ده په دی سره نودوی په دی فال کی غلط سوی دی او خلاف یې کړی دی دقرآن څخه، ولی چی الله ﷻ په بل آیت کی فرمایلی دی: فَأَرْسَلْنَا عَلَيْهِمْ رِيحًا صَرْصَرًا فِي أَيَّامٍ نَحِسَاتٍ (سورة فصلت \ ۱۲) نوددی څخه دامعلومه سوه چی دا (۸) ورځی وی پرلپسی، که چیری وی داورځی په خپله باندی سپیری نودا ټولی ورځی به بیا سپیری وی، اودا قول نه دی ذکر کړی دی هیڅ چا، مګرددی څخه مرادورځی سپیری دی په دوی باندی، اودارنګه الله ﷻ فرمایلی دی: وَفِي عَادٍ إِذْ أَرْسَلْنَا عَلَيْهِمُ الرِّيحَ الْعَقِيمَ (سورة الذاریات\۴۱) یعنی هغه سیلی چی دخیر نتیجه نه ورکوی، ولی چی یواځی سیلی وریځ نه جوړیږی اودرختو ته هم فائده نه رسوی، بلکی داشنډوی چی په نتیجه کی یې خیرنه وی، نوددی وجی څخه یې فرمایلی دی: مَا تَذَرُ مِنْ شَيْءٍ أَتَتْ عَلَيْهِ إِلَّا جَعَلَتْهُ كَالرَّمِيمِ (سورة الذاریات \ ۴۲) یعنی داسی شی چی زوړوی اوختمیدونکی وی چی کاملاً فائده نه رسوی، اوداثابت سوی دی په صحیحینو کی دحدیث دشعبه څخه چی دانقل کړی دی دحکم څخه دی نقل کوی دمجاهد څخه دی نقل کوی دابن عباس څخه دی وایی چی ویلی دی رسول الله ﷺ: (چی زما مدد سوی دی په صبا هوا سره چی دمشرق طرف څخه الوځی اوعادیان هلاک سوی دی په دبور سیلی سره چی دمغرب طرف څخه الوځی).

(c) ketabton.com: The Digital Library



اوهرڅه چی داقول دالله ﷻ دی: وَاذْكُرْ أَخَا عَادٍ إِذْ أَنْذَرَ قَوْمَهُ بِالْأَحْقَافِ وَقَدْ خَلَتِ النُّذُرُ مِنْ بَيْنِ يَدَيْهِ وَمِنْ خَلْفِهِ أَلَّا تَعْبُدُوا إِلَّا اللهَ إِنِّي أَخَافُ عَلَيْكُمْ عَذَابَ يَوْمٍ عَظِيمٍ (سورة الاحقاف \ ۲۱) نوظاهره دامعلومه سوه چی دعاد څخه مراد دلته مخکی عادیان دی، ولی چی سیاق داتقاضا کوی چی داقوم دهود ﷺ دی، اودا احتمال هم لری چی ددی څخه مراد عاد ثانی وی، اوپه دی باندی دلالت کوی هغه احادیث چی موږ ذکرکړی دی اووروسته یې ذکرکوو کم چی دحدیث دعائشه رضي الله عنها څخه نقل دی. اوهرڅه چی داقول دالله ﷻ دی: فَلَمَّا رَأَوْهُ عَارِضًا مُسْتَقْبِلَ أَوْدِيَتِهِمْ قَالُوا هَذَا عَارِضٌ مُمْطِرُنَا (سورة الاحقاف \ ۲۴) کله چی عاد ولیده داوریځ چی په فضاکی جوړیده نودوی ګمان داوکی چی داوریځ دباران ده، اومینځ کی هغه وریځ دعذاب وه، دوی عقیده درحمت پر وکړه اوهغه ددوی دپاره اجل وو، اودوی دخیر طمه ترینه وکړه اوپه مینځ کی ورته شر ورکول سو، الله ﷻ فرمایلی دی: بَلْ هُوَ مَا اسْتَعْجَلْتُمْ بِهِ، (سورة الاحقاف \ ۲۴) یعنی دعذاب، بیایې ددی وضاحت کړی دی په دی قول سره: رِيحٌ فِيهَا عَذَابٌ أَلِيمٌ (سورة الاحقاف \ ۲۴) احتمال داکیدی سی چی دوی ته عذاب دهغه سیلی څخه رسیدلی وو کمه سیلی چی ډیره سخته وه اوډیره یخه وه، هغه سیلی چی په دوی باندی (۷) شپی مسلسل روانه وه سره د (۸) ورځو نو ددوی څخه یوتن هم پاته نسو، تردی چی په دوی پسی به داسیلی کورونو ته دننه کیدله اوغرونو ته ورپسی دننه کیدله اورا ایستل به یې اوهلاکول به یې دا عادیان، اوخراب یې کړه په دوی باندی کورونه ددوی چی مضبوط وه اوقصرونه ددوی چی ښائسته سوی وه، ولی چی دوی ځان ته غره سوی وه اودابه یې ویل چی څوك دی زموږ څخه زورور؟ نوالله ﷻ پر مسلط کی هغه شی چی ددوی څخه زورور وو، اوپه دوی باندی یې قادره کړه، اوهغه سیلی وه شنډه اوداحتمال هم لری چی داسیلی بالآخر وریځ وګرځیده نوهغه څه چی باقی پاته سوی وه نوهغوی داګمان وکی چی داوریځ درحمت ده دابه په موږ باندی را اوریږی نودهغه څخه ورلره الله ﷻ اور راپیداکی اوپه دوی باندی یې نازل کړه. لکه څه رنګه چی داذکر کړی دی یوغیر معروف شخص اودا وو په شان دهغه کم چی مدین اصحاب الضله ته رسیدلی وه، چی هغوی ته یخه سیلی اوعذاب دواړه یوځای سوی وه، سره دهغه چیغی څخه چی په سورة المومنون کی ذکرسوی دی. والله اعلم.

اونیولی دی ابن ابی حاتم په نقل کولو سره دابی څخه دی نقل کوی دمحمد بن یحیی بن الضریس څخه دی نقل کوی دابن فضیل څخه دی دمسلم څخه اودی نقل کوی دمجاهد څخه اودی نقل کوی دابن عمر څخه دی وایی چی فرمایلی دی رسول الله ﷺ: نه وو خلاص کړی الله ﷻ پرعادیانو باندی سیلی مګر دګوتمی هومره ځای یې خلاص کړی وو، نودا سیلی تیره سوه په دوی باندی نولوړ یې کړه دوی او ددوی چارپایان اوددوی مالونه ټول

(c) ketabton.com: The Digital Library



چې څه دمزکی اوآسمان په مینځ کی وه ددوی، بیاچی کله ولیده حاضرو خلګو دعادیانو شخه دانو کلو والا ورته خپل اموال او چارپایان پرېښوولهٔ (۱) اوددی ثخه صریح روایت دا دی چې مسلم ذکرکړی دی په خپل صحیح کی په نقل کولو سره دابوبکر الطاهری ثخه دی نقل کوی دابن وهب ثخه دی وایی چی ما اوریدلی دی دابن جریرثخه دی نقل کوی دعطاء بن ابی رباح ثخه دی نقل کوی دعائشه ؓ ثخه دی وایی چی وو رسول الله ﷺ کله به یې چې ولیده سیلی نوفرمایل به یې: چی یا الله زه ستا ثخه ددی دخیر سوال کوم اودهغه خیر چې په دی کی دی اودهغه خیر کم چی دی رالیږلی دی اوزه په تاسره پناه اخلم ددی دشر ثخه اودهغه شر ثخه چی دهغه دپاره را استول سویده اودارنګه یې ویلی دی چی کله به دآسمان رنګ بدل سو نودنبی ؑ رنګ مبارك به هم بدل سو اوکورته به ددنه کیدی او دباندی به وتی اومخ مبارك به یې راواړوی اوبیابه یې شاه کړه. بیابه چی کله باران وسو نودا تغیرات به ورڅخه لیری سوه نو عائشه ؓ ورڅخه پوښتنه وکړه چی داولی ای دالله رسوله نو ورته یې وفرمایل چی ای عائشی کیدای سی چی داپه شان دخبری دعاد سی چی هغو ویلی وه: فَلَمَّا رَأَوْهُ عَارِضًا مُّسْتَقْبِلَ أَوْدِيَتِهِمْ قَالُوا هَٰذَا عَارِضٌ مُّمْطِرُنَا (۲) (الاحقاف\ ۲۴)، اوراوی ددی ترمذی دی اوابن ماجه اونسایي دی، دحدیث ابن جریج ثخه، اودبلی طریقی ثخه ویلی دی امام احمد په نقل کولو سره دهارون بن معروف ثخه دی وایی چی موږ ته خبر راکړی دی عبدالله بن وهب دی وایی چی موږ ته خبر راکړی دی عمر اودا ابن الحارث دی چی ابا النضر نقل کوی دسلیمان بن یسار ثخه چی دی نقل کوی دعائشه ثخه چی دی فرمایلی دی، چی مانه دی لیدلی رسول الله ﷺ چی په ډکه خوله یې خندلی وی، او وو دی چی صرف تبسم به یې کوی اودا عائشه ؓ وایی چی: وو رسول الله ﷺ کله به یې چی ولیده وریځ درنه نوپه مخ مبارك کی به یې فرق راتلی نودی ورڅخه پوښتنه وکړه چی ای رسول الله داڅه وجه ده چی خلګ وریځ وګوری نوخوشحالی کوی ددی وجی چی باران کیږی، اوزه وینم تا چی ته کله وریځ وینی نوپه مخ مبارك کی موفرق راځی اوکراهیت محسوس کوی؟ نورسول الله ﷺ وفرمایل چی: ای عائشی زه بیریږم ددی خبری ثخه چی په دی کی عذاب وی یقیناً عذاب ورکول سوی دی عاد ته هم په دی سیلی او وریځی سره،

---

(۱). ددی حدیث تخریج کړی دی الطبرانی په الکبیر کی (۱۲\۱۳۵۵۳) او ویلی دی هیثمی په المجمع کی (۷\ ۱۱۳) راوی ددی طبرانی دی اوپه دی سندکی مسلم الملالی دی اودا ضعیف راوی دی.

(۲). ددی حدیث تخریج مسلم کړی دی: په کتاب الاستقاء، باب التعوذ عند رویة الریح والغیم والفرح بالمطر (۲\ ۱۹۲) اوترمذی په کتاب الدعوات کی، باب مایقول اذاحاجت الریح (۵\ ۳۴۴۹) اودارنګه ابوعیسیٰ دانقل کړی دی اوپه دی باب کی ابی بن کعب دی، اوداحدیث حسن دی اوابن ماجه په کتاب الدعاء ، باب مایدعوبه الرجل اذا راي السحاب والمطر (۲\۳۸۹۱).

(c) ketabton.com: The Digital Library



اوکله چې قوم عاد داوریځ ولیده نوویل یې چې داوریځ پرموږ باندی را اوریدونکې ده (١) نودا حدیث په شان دصریح دی په تغایر ددواړو قصوکی لکه څه رنګه چې دی ته اشاره کړیده موږ په تیرسوی بحث کې، نوبنا په دی قول سره مراد دهغه قصی څخه چې په سورة الاحقاف کې ذکر سویده عادِ ثانی یعنی دوهم عاد به ورڅخه مراد وی او دباقی قصو څخه چې ذکر سوی دی عاد اول به مراد وی.

اودارنګه روایت ددی ذکر کړی دی مسلم دهارون بن معروف څخه، اوتخریج ددی کړی دی امام بخاری اوابو داود دحدیث دابن وهب څخه. اومخکی ذکر کړی دی موږ حج دهود ؏ دنوح ؏ دحج سره. اوروایت نقل کړی دی امیر المومنین علی بن ابی طالب ﷡ چې ده ذکرکړی دی صفت دقبر دده چې داپه یمن کې دی، اونورو داویلی دی چې داپه دمشق کې دی اوپه جامع ددی دمشق کې یوه احاطه ده چې دوی ګمان دقبر دهود ؏ پر کوی. والله اعلم.

## قصه دصالح ؏ چې نبی دبنی ثمود دی

بنی ثمود یوه مشهوره قبیله ده، چې دوی ته ثمود ویل کیږی دا ددوی دنیکه نوم وو دی ورور دجدیس وو، اودا دواړه ځامن دعاثر بن ارم بن سام بن نوح ؏ دی.

اودا وه عرب اصل عرب چې عاربه ورته ویل کیږی اودوی دحجر په مقام کې اوسیدله چې داپه مینځ دحجاز اوتبوك کې دی، اوپه دوی باندی رسول الله ﷺ تیر سوی وو په دی حال چې نبی ؏ روان وو تبوك ته او دده سره مسلمانان وه.

اودوی وه وروسته دقوم عاد څخه، اودوی به هم دبتانو عبادت کوی. نوالله ﷻ په دوی کې یوسړی راولیږی چې هغه دالله دبنده اودهغه رسول وو: صالح بن عبید بن ماسح بن عبید ابن حادر بن ثمود بن عاثر بن ارم بن نوح ؏. نوده دعوت ورکوی دوی ته دالله ﷻ دعبادت طرف ته اودوی به یې منع کوله دعبادت دبتانو څخه اوشرك کولو څخه. نوځه خلګو په ده باندی ایمان راوړی اواکثریت کافران سوه اوانکار یې وکی هم په قول سره اوهم په فعل سره، اواراده یې وکړه دده دقتل، اودوی قتل کړه هغه اوښه چې دوی ته الله ﷻ معجزه رالیږلی وه. نوالله ﷻ ونیوله دوی په داسی عذاب چې دهغه څخه خلاصی نسته. لکه څه رنګه چې الله ﷻ فرمایلی دی: وَإِلَى ثَمُودَ أَخَاهُمْ صَالِحًا قَالَ يَا قَوْمِ اعْبُدُوا اللهَ مَا لَكُمْ مِنْ إِلَهٍ غَيْرُهُ قَدْ جَاءَتْكُمْ بَيِّنَةٌ مِنْ رَبِّكُمْ هَذِهِ نَاقَةُ اللهِ لَكُمْ آيَةً فَذَرُوهَا تَأْكُلْ فِي أَرْضِ اللهِ وَلَا تَمَسُّوهَا بِسُوءٍ فَيَأْخُذَكُمْ

---

(١). ددی حدیث تخریج احمد کړی دی (٢\ ٢٢) اوامام بخاری په کتاب التفسیر کې، سورة الاحقاف، باب (فلما رواه عارضا) الایه (٨\ ٤٨٢٩،٤٨٢٨)، اومسلم په کتاب الاستقاء کې، باب التعوذ عند روية الريح والغيم والفرح بالمطر (٢\ ١٩٢) او ابوداود په کتاب السنة، باب مايقول اذاهاجت الريح (١٤\ ٥٠٩٨).

(c) ketabton.com: The Digital Library



عَذَابٌ أَلِيمٌ (۷۳) وَاذْكُرُوا إِذْ جَعَلَكُمْ خُلَفَاءَ مِنْ بَعْدِ عَادٍ وَبَوَّأَكُمْ فِي الأَرْضِ تَتَّخِذُونَ مِنْ سُهُولِهَا قُصُورًا وَتَنْحِتُونَ الْجِبَالَ بُيُوتًا فَاذْكُرُوا آلَاءَ اللهِ وَلَا تَعْثَوْا فِي الْأَرْضِ مُفْسِدِينَ (۷٤) قَالَ الْمَلَأُ الَّذِينَ اسْتَكْبَرُوا مِنْ قَوْمِهِ لِلَّذِينَ اسْتُضْعِفُوا لِمَنْ آمَنَ مِنْهُمْ أَتَعْلَمُونَ أَنَّ صَالِحًا مُرْسَلٌ مِنْ رَبِّهِ قَالُوا إِنَّا بِمَا أُرْسِلَ بِهِ مُؤْمِنُونَ (۷٥) قَالَ الَّذِينَ اسْتَكْبَرُوا إِنَّا بِالَّذِي آمَنْتُمْ بِهِ كَافِرُونَ (۷٦) فَعَقَرُوا النَّاقَةَ وَعَتَوْا عَنْ أَمْرِ رَبِّهِمْ وَقَالُوا يَا صَالِحُ ائْتِنَا بِمَا تَعِدُنَا إِنْ كُنْتَ مِنَ الْمُرْسَلِينَ (۷۷) فَأَخَذَتْهُمُ الرَّجْفَةُ فَأَصْبَحُوا فِي دَارِهِمْ جَاثِمِينَ (۷۸) فَتَوَلَّى عَنْهُمْ وَقَالَ يَا قَوْمِ لَقَدْ أَبْلَغْتُكُمْ رِسَالَةَ رَبِّي وَنَصَحْتُ لَكُمْ وَلَكِنْ لَا تُحِبُّونَ النَّاصِحِينَ (سورة الاعراف ۷۳\ ۷۹) .

اودارنګه الله ﷻ فرمایلی دی: وَإِلَى ثَمُودَ أَخَاهُمْ صَالِحًا قَالَ يَا قَوْمِ اعْبُدُوا اللهَ مَا لَكُمْ مِنْ إِلَهٍ غَيْرُهُ هُوَ أَنْشَأَكُمْ مِنَ الْأَرْضِ وَاسْتَعْمَرَكُمْ فِيهَا فَاسْتَغْفِرُوهُ ثُمَّ تُوبُوا إِلَيْهِ إِنَّ رَبِّي قَرِيبٌ مُجِيبٌ (٦١) قَالُوا يَا صَالِحُ قَدْ كُنْتَ فِينَا مَرْجُوًّا قَبْلَ هَذَا أَتَنْهَانَا أَنْ نَعْبُدَ مَا يَعْبُدُ آبَاؤُنَا وَإِنَّنَا لَفِي شَكٍّ مِمَّا تَدْعُونَا إِلَيْهِ مُرِيبٍ (٦٢) قَالَ يَا قَوْمِ أَرَأَيْتُمْ إِنْ كُنْتُ عَلَى بَيِّنَةٍ مِنْ رَبِّي وَآتَانِي مِنْهُ رَحْمَةً فَمَنْ يَنْصُرُنِي مِنَ اللهِ إِنْ عَصَيْتُهُ فَمَا تَزِيدُونَنِي غَيْرَ تَخْسِيرٍ (٦٣) وَيَا قَوْمِ هَذِهِ نَاقَةُ اللهِ لَكُمْ آيَةً فَذَرُوهَا تَأْكُلْ فِي أَرْضِ اللهِ وَلَا تَمَسُّوهَا بِسُوءٍ فَيَأْخُذَكُمْ عَذَابٌ قَرِيبٌ (٦٤) فَعَقَرُوهَا فَقَالَ تَمَتَّعُوا فِي دَارِكُمْ ثَلَاثَةَ أَيَّامٍ ذَلِكَ وَعْدٌ غَيْرُ مَكْذُوبٍ (٦٥) فَلَمَّا جَاءَ أَمْرُنَا نَجَّيْنَا صَالِحًا وَالَّذِينَ آمَنُوا مَعَهُ بِرَحْمَةٍ مِنَّا وَمِنْ خِزْيِ يَوْمِئِذٍ إِنَّ رَبَّكَ هُوَ الْقَوِيُّ الْعَزِيزُ (٦٦) وَأَخَذَ الَّذِينَ ظَلَمُوا الصَّيْحَةُ فَأَصْبَحُوا فِي دِيَارِهِمْ جَاثِمِينَ (٦٧) كَأَنْ لَمْ يَغْنَوْا فِيهَا أَلَا إِنَّ ثَمُودَ كَفَرُوا رَبَّهُمْ أَلَا بُعْدًا لِثَمُودَ (سورة هود ۲۱\ ۲۸) .

اودارنګه الله ﷻ فرمایلی دی: كَذَّبَتْ ثَمُودُ الْمُرْسَلِينَ (١٤١) إِذْ قَالَ لَهُمْ أَخُوهُمْ صَالِحٌ أَلَا تَتَّقُونَ (١٤٢) إِنِّي لَكُمْ رَسُولٌ أَمِينٌ (١٤٣) فَاتَّقُوا اللهَ وَأَطِيعُونِ (١٤٤) وَمَا أَسْأَلُكُمْ عَلَيْهِ مِنْ أَجْرٍ إِنْ أَجْرِيَ إِلَّا عَلَى رَبِّ الْعَالَمِينَ (١٤٥) أَتُتْرَكُونَ فِي مَا هَاهُنَا آمِنِينَ (١٤٦) فِي جَنَّاتٍ وَعُيُونٍ (١٤٧) وَزُرُوعٍ وَنَخْلٍ طَلْعُهَا هَضِيمٌ (١٤٨) وَتَنْحِتُونَ مِنَ الْجِبَالِ بُيُوتًا فَارِهِينَ (١٤٩) فَاتَّقُوا اللهَ وَأَطِيعُونِ (١٥٠) وَلَا تُطِيعُوا أَمْرَ الْمُسْرِفِينَ (١٥١) الَّذِينَ يُفْسِدُونَ فِي الْأَرْضِ وَلَا يُصْلِحُونَ (١٥٢) قَالُوا إِنَّمَا أَنْتَ مِنَ الْمُسَحَّرِينَ (١٥٣) مَا أَنْتَ إِلَّا بَشَرٌ مِثْلُنَا فَأْتِ بِآيَةٍ إِنْ كُنْتَ مِنَ الصَّادِقِينَ (١٥٤) قَالَ هَذِهِ نَاقَةٌ لَهَا شِرْبٌ وَلَكُمْ شِرْبُ يَوْمٍ مَعْلُومٍ (١٥٥) وَلَا تَمَسُّوهَا بِسُوءٍ فَيَأْخُذَكُمْ عَذَابُ يَوْمٍ عَظِيمٍ (١٥٦) فَعَقَرُوهَا فَأَصْبَحُوا نَادِمِينَ (١٥٧) فَأَخَذَهُمُ الْعَذَابُ إِنَّ فِي ذَلِكَ لَآيَةً وَمَا كَانَ أَكْثَرُهُمْ مُؤْمِنِينَ (١٥٨) وَإِنَّ رَبَّكَ لَهُوَ الْعَزِيزُ الرَّحِيمُ (سورة الشعراء ۱۴۱\ ۱۵۹) .

(c) ketabton.com: The Digital Library



اودارنګه الله ﷻ فرمایلی دی: وَلَقَدْ أَرْسَلْنَا إِلَى ثَمُودَ أَخَاهُمْ صَالِحًا أَنِ اعْبُدُوا اللهَ فَإِذَا هُمْ فَرِيقَانِ يَخْتَصِمُونَ (٤٥) قَالَ يَا قَوْمِ لِمَ تَسْتَعْجِلُونَ بِالسَّيِّئَةِ قَبْلَ الْحَسَنَةِ لَوْلَا تَسْتَغْفِرُونَ اللهَ لَعَلَّكُمْ تُرْحَمُونَ (٤٦) قَالُوا اطَّيَّرْنَا بِكَ وَبِمَنْ مَعَكَ قَالَ طَائِرُكُمْ عِنْدَ اللهِ بَلْ أَنْتُمْ قَوْمٌ تُفْتَنُونَ (٤٧) وَكَانَ فِي الْمَدِينَةِ تِسْعَةُ رَهْطٍ يُفْسِدُونَ فِي الْأَرْضِ وَلَا يُصْلِحُونَ (٤٨) قَالُوا تَقَاسَمُوا بِاللهِ لَنُبَيِّتَنَّهُ وَأَهْلَهُ ثُمَّ لَنَقُولَنَّ لِوَلِيِّهِ مَا شَهِدْنَا مَهْلِكَ أَهْلِهِ وَإِنَّا لَصَادِقُونَ (٤٩) وَمَكَرُوا مَكْرًا وَمَكَرْنَا مَكْرًا وَهُمْ لَا يَشْعُرُونَ (٥٠) فَانْظُرْ كَيْفَ كَانَ عَاقِبَةُ مَكْرِهِمْ أَنَّا دَمَّرْنَاهُمْ وَقَوْمَهُمْ أَجْمَعِينَ (٥١) فَتِلْكَ بُيُوتُهُمْ خَاوِيَةً بِمَا ظَلَمُوا إِنَّ فِي ذَلِكَ لَآيَةً لِقَوْمٍ يَعْلَمُونَ (٥٢) وَأَنْجَيْنَا الَّذِينَ آمَنُوا وَكَانُوا يَتَّقُونَ (سورة النمل ۴۵\ ۵۳)

اوډیر داسی نور ځایونه دی په قرآن کریم کی چی دادواړه قومونه یې یوځای ذکرکړی دی (عاد ثمود) لکه څه رنګه چی په سورة براءة کی اوپه سورة ابراهیم کی اوالفرقان کی او سورة ص کی اوسورة ق کی اوالنجم کی اوالفجر کی. اوویل سوی دی چی ددی دواړو قومونو په باره کی اهل کتابو ته څه علم نسته اونه دهغوی په تورات کی ددی په باره کی څه ذکر سوی دی. لیکن په قرآن کی داذکر سوی دی چی موسٰی ؑ دوی ته ددی په باره کی خبر ورکړی دی. لکه څه رنګه چی الله ﷻ فرمایلی دی په سورة ابراهیم کی: وَقَالَ مُوسَى إِنْ تَكْفُرُوا أَنْتُمْ وَمَنْ فِي الْأَرْضِ جَمِيعًا فَإِنَّ اللهَ لَغَنِيٌّ حَمِيدٌ (٨) أَلَمْ يَأْتِكُمْ نَبَأُ الَّذِينَ مِنْ قَبْلِكُمْ قَوْمِ نُوحٍ وَعَادٍ وَثَمُودَ وَالَّذِينَ مِنْ بَعْدِهِمْ لا يَعْلَمُهُمْ إِلاَّ اللهُ جَاءَتْهُمْ رُسُلُهُمْ بِالْبَيِّنَاتِ (سورة ابراهیم ۸\ ۹) ددی څخه دامعلومه سوه چی دوی ته موسٰی ؑ ددی په باره کی خبر ورکړی وو، خوددی وجی چی دادواړه قومونه اهل عرب وه نو ددوی په یاداښت کی په صحیح طریقی سره پاته نه وه او ددوی څخه یې تاریخ هیرسو. که څه هم ددی دواړو قومونو قصه مشهوره وه دموسٰی ؑ په دور کی خو وروسته بیا ددوی څخه هیره سوه اوددی په باره کی موږ په تفسیرکی خبری کړی دی هغه ته رجوع وکی. ولله الحمد. اومقصود دلته بیان دقصی دصالح ؑ دی اودهغه دبچ کولو طریقه چی هغه څه رنګه الله ﷻ خوندی کی دعذاب څخه اودهغه قوم یې څه رنګه هلاك کی کمو چی دهغه مخالفت کړی وو.

اومخکی موږ داخبره ذکرکړه چی دوی عرب وه، اودوی وروسته دعاد څخه وه دوی ته نبی ددوی وفرمایل چی: وَإِلَى ثَمُودَ أَخَاهُمْ صَالِحًا قَالَ يَا قَوْمِ اعْبُدُوا اللهَ مَا لَكُمْ مِنْ إِلَهٍ غَيْرُهُ قَدْ جَاءَتْكُمْ بَيِّنَةٌ مِنْ رَبِّكُمْ هَذِهِ نَاقَةُ اللهِ لَكُمْ آيَةً فَذَرُوهَا تَأْكُلْ فِي أَرْضِ اللهِ وَلَا تَمَسُّوهَا بِسُوءٍ فَيَأْخُذَكُمْ عَذَابٌ أَلِيمٌ (٧٣) وَاذْكُرُوا إِذْ جَعَلَكُمْ خُلَفَاءَ مِنْ بَعْدِ عَادٍ وَبَوَّأَكُمْ فِي الْأَرْضِ تَتَّخِذُونَ مِنْ سُهُولِهَا قُصُورًا وَتَنْحِتُونَ الْجِبَالَ بُيُوتًا فَاذْكُرُوا آلَاءَ اللهِ وَلَا تَعْثَوْا فِي الْأَرْضِ مُفْسِدِينَ (سورة الاعراف ۷۳\ ۷۴) یعنی الله ﷻ

(c) ketabton.com: The Digital Library



تاسی یې خلفاء ګرځولی یاست وروسته دعاد څخه چی تاسی دهغه څخه عبرت واخلی او تاسی ته یې مځکه نرمه ګرځولی ده چی تاسی قصرونه په کی جوړوی: وَتَنْحِتُونَ الْجِبَالَ بُيُوتًا یعنی تاسی یې هوښیار ګرځولی یاست په جوړولو ددی کی اوپه برابرولو ددی کی. نو تاسی دالله ﷻ شکر وکاړی په عبادت دهغه باندی اوپه عمل صالح باندی اوپه شرك نه کولو باندی، اوتاسی ځانونه لیری ساتی دمخالفت دهغه دعبادت اوطاعت څخه، ولی چی ددی مخالفت عذاب ډیر سخت وی. اوددی وجی څخه یې ورته په دی قول سره وعظ او نصیحت کړی دی: فِي جَنَّاتٍ وَعُيُونٍ (١٤٧) وَزُرُوعٍ وَنَخْلٍ طَلْعُهَا هَضِيمٌ، (سورة الشعراء ۱۴۲\ ۱۴۸) یعنی تاسی به پریښول کیږی دلته په امن سره په دی میوو کی اوپه دی ښائسته باغونوکی: وَتَنْحِتُونَ مِنَ الْجِبَالِ بُيُوتًا فَارِهِينَ (١٤٩) فَاتَّقُوا اللهَ وَأَطِيعُونِ (١٥٠) وَلَا تُطِيعُوا أَمْرَ الْمُسْرِفِينَ (١٥١) الَّذِينَ يُفْسِدُونَ فِي الْأَرْضِ وَلَا يُصْلِحُونَ (سورة الشعراء ۱۴۹\ ۱۵۲). اودایې ورته هم ویلی دی: قَالَ يَا قَوْمِ اعْبُدُوا اللهَ مَا لَكُمْ مِنْ إِلَهٍ غَيْرُهُ هُوَ أَنْشَأَكُمْ مِنَ الْأَرْضِ وَاسْتَعْمَرَكُمْ فِيهَا (سورة هود\۲۱) یعنی هغه ذات دی چی تاسی یې پیداکړی یاست اوستاسی خلقت یې په مځکه کړی دی، اوتاسی یې ګرځولی یاست ددی جوړونکی اوتاسی ته یې درکړی دی ددی میوی اوکروندی، نوهغه خالق دی اورازق دی، هغه لائق اومستحق دعبادت دی اوغیر دهغه څخه هیڅ څوك مستحق دعبادت نه دی: فَاسْتَغْفِرُوهُ ثُمَّ تُوبُوا إِلَيْهِ (سورة هود\۲۱) یعنی تاسی لیری سی دهغه څخه چی تاسی یې عبادت کوی اوخاص دالله ﷻ طرف ته رجوع وکی، هغه ذات یې ستاسی څخه قبلوی اوتاسی ته بخښنه هم کوی: إِنَّ رَبِّي قَرِيبٌ مُجِيبٌ (سورة هود\۲۱)، قَالُوا يَا صَالِحُ قَدْ كُنْتَ فِينَا مَرْجُوًّا قَبْلَ هَذَا (سورة هود\ ۲۲) یعنی دوی ویل چی ستا څخه خوزموږ داطمع وه چی ته به عقل مندیې مخکی ددی خبری څخه، اوداستا دعوت چی یوائی عبادت دالله وکو اوهغه بتان چی زموږ پلار اونیکه یې عبادت کوی هغه ټول پریږدو اودهغه څخه واوړو، اوددی وجی څخه دوی وویل: أَتَنْهَانَا أَنْ نَعْبُدَ مَا يَعْبُدُ آبَاؤُنَا وَإِنَّنَا لَفِي شَكٍّ مِمَّا تَدْعُونَا إِلَيْهِ مُرِيبٍ (سورة هود \ ۲۲) قَالَ يَا قَوْمِ أَرَأَيْتُمْ إِنْ كُنْتُ عَلَى بَيِّنَةٍ مِنْ رَبِّي وَآتَانِي مِنْهُ رَحْمَةً فَمَنْ يَنْصُرُنِي مِنَ اللهِ إِنْ عَصَيْتُهُ فَمَا تَزِيدُونَنِي غَيْرَ تَخْسِيرٍ (سورة هود\۲۳) دا نرموالی دلهجی دصالح ؑ دی دوی ته اوپه ښه طریقی سره راتګ دی دوی ته او ددعوت ښه طریقه ده. یعنی ستاسی څه ګمان دی په باره دهغه قول کی چی زه یې تاسی ته کوم؟ او ستاسی به څه عذروی دالله ﷻ خواته په ورځ دقیامت باندی؟ اوتاسی به څوك خلاصوی دهغه دعذاب څخه اوحال دادی چی تاسی مامنع کوی ددی کارڅخه اوزما دعوت ته دبطلان په نظر ګوری ؟ اوزما دپاره دامکنه نه ده چی زه دالاره پریږدم ولی چی داپه ما

(c) ketabton.com: The Digital Library



باندی واجب دی، اوکه چیری زه داپریږدم نوپه تاسی کی یوهم داقدرت نه لری چی ما دالله ﷻ دعذاب څخه خلاص کی. نوزه به ترهغه دادعوت تاسی ته کوم ترڅوچی الله ﷻ زما او ستاسی ترمینځ فیصله ونکړی، او دوی ورته داهم ویلی دی: قَالُوا إِنَّمَا أَنْتَ مِنَ الْمُسَحَّرِينَ (سورة الشعراء\۱۵۳). یعنی په تاباندی جادو سوی دی اوته په خپلو خبرو باندی نه پوهیږی چی ته څه وایی اوکمی خبری کوی چی موږ دالله ﷻ عبادت په یوائی والی سره وکو اوهغه نور بتان چی زموږ پلار اونیکه یې عبادت کړی وو هغه ټول پریږدو. داقول دجمهورو دی، اودی وایی چی دمسحرین څخه مراد مسحورون دی یعنی په چاچی جادو سوی وی، اوبعضی وایی چی دمسحرین څخه مراد هغه دی چی دچا ځان ته جلا رایه وی.
لکه څه رنګه چی ویل سوی دی (انما انت بشرله سحر) یعنی ته داسی سړی یې چی ستا دپاره جلا رایه اوسوچ دی چی دنورو څخه مختلف وی. په دی کی اولنی قول راجح دی ددی قول دوجی څخه: مَا أَنْتَ إِلَّا بَشَرٌ مِثْلُنَا (سورة الشعراء \ ۱۵۴) اودا قول ددوی: فَأْتِ بِآيَةٍ إِنْ كُنْتَ مِنَ الصَّادِقِينَ (سورة الشعراء ۱۵۴) یعنی دوی دده څخه سوال وکی چی داسی یوه معجزه راوړی چی هغه دده پرصدق باندی دلالت وکی: قَالَ هَذِهِ نَاقَةٌ لَهَا شِرْبٌ وَلَكُمْ شِرْبُ يَوْمٍ مَعْلُومٍ (۱۵۵) وَلَا تَمَسُّوهَا بِسُوءٍ فَيَأْخُذَكُمْ عَذَابُ يَوْمٍ عَظِيمٍ (سورة الشعراء ۱۵۵\۱۵۶) اودارنګه یې ورته وویل: قَدْ جَاءَتْكُمْ بَيِّنَةٌ مِنْ رَبِّكُمْ هَذِهِ نَاقَةُ اللهِ لَكُمْ آيَةً فَذَرُوهَا تَأْكُلْ فِي أَرْضِ اللهِ وَلَا تَمَسُّوهَا بِسُوءٍ فَيَأْخُذَكُمْ عَذَابٌ أَلِيمٌ (سورة الاعراف \ ۷۳).
اودارنګه الله ﷻ فرمایلی دی: وَآتَيْنَا ثَمُودَ النَّاقَةَ مُبْصِرَةً فَظَلَمُوا بِهَا (سورة الاسراء \۵۹) اوذکر کړی دی مفسرینو چی یوه ورځ ثمودیان په خپل عبادت ګاه کی ناست وه چی صالح ؑ ورته رالی اودعوت یې ورته شروع کی نوهغوی ورته وویل چی ته موږ ته ددی ډبری څخه اوښه جوړه کړه نوموږ به ستاخبره ومنو اواشاره یې وکړه هغه ډبری ته چی ددی ډبری څخه.
اودهغه اوښی صفات یې ورته وښوول چی داسی اوښه وی اوداسی اوښه دی وی اودا یې ورته هم وویل چی دلسمی اوښه وی اواوږده وی، نوصالح ؑ ورته وویل چی که زه تاسی ته دغه اوښه پیدا کړم سره دهغو صفتونو چی تاسی ذکر کړه نوتاسی به بیا ایمان راوړی او زما تصدیق به کوی نوټولوپه جواب کی وویل چی هو! نو دټولو څخه یې لوظونه واخیستل اوبیا دخپل لمانځه په ځای کی ودریدی او الله تعالی ته یې لمونځ وکی اوبیا یې دعا وغوښتله دالله ﷻ څخه چی ددوی دا سوال پوره کړی، نو الله ﷻ امر وکی دې ډبری ته چی ددې څخه دی اوښه دلسمی جوړه سی په هغه شکل چی دوی غوښتی وه اوپه هغه صفتونو سره چی دوی غوښتی وه، نو کله چی دوی ولیدی دا عجیبه کار او دا دلیل چی دوی یې

(c) ketabton.com: The Digital Library



غوښتنه کړی وه نو ډېرو ایمان راوړی اولږ پکښی پرخپل کفر او ګمراهی باندی روان وه.
نو ددی دوجی الله ﷻ وفرمایل (فَظَلَمُواْ بِهَا) چی دوی انکار وکی اوظلم یې وکی په دی باندی اودحق تابعداری یې ونه کړه په سبب ددی اوښی باندی، اوهغه خلګو چی ایمان راوړی وو دهغه مشر جندع بن عمر وبن محلاه بن لبید بن جواس وو اودی وو دمشرانو ددوی څخه اودا مشرف سو په اسلام سره اودانورچی داسلام څخه یې ځان لیری کی ذؤاب بن عمر بن لبید وو او الحباب ددوی دبتانو مشر وو، اورباب بن صعر بن جلمس هم ددوی دبتانو مشر وو. او ددی وجی څخه ورته وفرمایل صالح ﷺ (هَٰذِهِ نَاقَةُ اللَّهِ) (سورة هود\ ۶۴) ددی اضافت کړی دی الله ﷻ دځان طرف ته دوجی دتعظیم او تشریف ددوی.
لکه قول په شان دبیت الله، عبدالله (لَكُمْ ءَايَةً) (سورة هود \ ۶۴) یعنی دادلیل دی په دی رښتینوالی ددی خبر کم چی ماتاسی ته راوړی دی: فَذَرُوهَا تَأْكُلْ فِي أَرْضِ اللَّهِ وَلَا تَمَسُّوهَا بِسُوءٍ فَيَأْخُذَكُمْ عَذَابٌ قَرِيبٌ (سورة هود \ ۶۴) نو ددوی سره یې په دی خبری باندی اتفاق وسو چی دابه پرمځکه باندی ګرځی چی کم ځای یې خوښ وی اودی ته به څوك ضررنه رسوی اویوه ورځ به دا اوبه چښی اوپه بله ورځ به داقوم نو دی قوم به ددوو ورځو اوبه ځان ته را اخیستلی ولی چی یوه ورځ به پکښی ددی نمبر وو. اودا ویل سوی دی چی دوی به ددی دشیدو څخه هغومره څکل چی په څومره به یې کفایت کیده، نوددی دوجی الله ﷻ فرمایلی دی: لَهَا شِرْبٌ وَلَكُمْ شِرْبُ يَوْمٍ مَعْلُومٍ (سورة الشعراء \ ۱۵۵) اودارنګه الله ﷻ فرمایلی دی: إِنَّا مُرْسِلُو النَّاقَةِ فِتْنَةً لَهُمْ (سورة القمر \ ۲۷) یعنی دایو امتحان دی په دوی باندی چی دوی ایمان راوړی اوکه نه؟ اوالله ﷻ ښه پوهیږی ددوی په کړو باندی (فَارْتَقِبْهُمْ) (سورة القمر \ ۲۷) یعنی ته انتظار کوه اوګوره چی ددوی سره څه کیږی (وَاصْطَبِرْ) (سورة القمر \ ۲۷) یعنی ته صبر وکه ددوی پردی تکلیفونو باندی داکم تکلیفونه چی تاته در رسوی وَنَبِّئْهُمْ أَنَّ الْمَاءَ قِسْمَةٌ بَيْنَهُمْ كُلُّ شِرْبٍ مُحْتَضَرٌ (سورة القمر \ ۲۸).
کله چی اوږده سوه په دوی باندی داخبره نو راجمع سوه ددوی علماء اواتفاق یې وکی ددی اوښی په ذبحه کولو باندی، چی ددی څخه په ارام سی اواوبه ورته پریمانه سی، اوشیطان ورته داکارښه ښکاره کی، الله ﷻ فرمایلی دی: فَعَقَرُوا النَّاقَةَ وَعَتَوْا عَنْ أَمْرِ رَبِّهِمْ وَقَالُوا يَا صَالِحُ ائْتِنَا بِمَا تَعِدُنَا إِنْ كُنْتَ مِنَ الْمُرْسَلِينَ (سورة الاعراف \ ۷۷) او ووهغه سړی ددوی څخه چی ددی په قتل باندی یې ابتداء وکړه رئیس ددوی: قدار بن سالف بن جندع، اودی وو سور اوژړ. اودی وو ارمونی دزنا څخه پیدا سوی وو اوپه کور دسالف کی پیدا سوی وو، اودی وو زوی دیوه سړی چی نوم یې صیبان وو او وو دده داکار په اتفاق دټولو، نوددی دوجی ددا

(c) ketabton.com: The Digital Library



کار نسبت کړی دی ټولو ده ته. اوذکر کړی دی ابن جریر اوداسی نورو مفسرینو: چی دوو ښځو دثمودیانو څخه چی دیوی نوم (صدوق) وه لور دالمحیا بن رهیر بن المختار او وه ډیر مالداره اوجائیداد والا، اودا وه په نکاح دیوه سړی کی چی هغه ایمان راوړی وو نودی ځان جلا کړه ددی سړی څخه اوبیایې ځان دخپل کاکا زوی ته وړاندی کی چی نوم یې (مصرع) وو اوورته یې وویل چی زه درسره واده کوم په دی شرط باندی چی دا اوښه ذبحه کړی. اوددی بلی ښځی نوم (عنیزه) وه لور دغنیم بن مجلز. اوددی اسم کنیه ام غنم وه اودا بوډی وه اوکافره وه، چی ددی څلوری وی دذواب بن عمر څخه چی دایو رئیس وو ددوی نودې واړندی کی خپل څلور واړه لورانی قداربن سالف ته په دی شرط سره چی دی دي هغه اوښه ذبحه کړی نوبیاچی دده کمه یوه انجلی په دی څلورو واړو کی خوښه سی نوهغه به ورلره ورکوی، نودی دواړو سړو اراده وکړه ددی دذبحه کولو اوپه خپل قوم کی یې پیل وکړه ددی خبری نو (۷) کسان ورسره نور هم ملګری سو اوټول (۹) کسان سوه.
لکه څنګه چی په دی قول دالله ﷻ کی ذکرسوی دی: وَكَانَ فِي الْمَدِينَةِ تِسْعَةُ رَهْطٍ يُفْسِدُونَ فِي الأَرْضِ وَلا يُصْلِحُونَ (سورة النمل \ ۴۸) اودی دواړو په نورو قبیلو کی هم داخبره خپره کړه نوټولو خلګو ورته ددی کار ترغیب ورکوی تردی چی دا اوښه یې مړه کړه اول مصرع په خپل غشی باندی وویشتله اوتر هغه وروسته ورپسی دوی ټولو منډی وهلی تردی چی قدار بن سالف پر رامخکی سو اودمری هډوکی یې ور ووهی نودا اوښه پرمخګه باندی پریوته اومړه سوه اوروایت ددی ذکر کړی دی عبد الرزاق دمعمر څخه چی دی وایی دهغه شخص څخه چی هغه دحسن څخه ده اوریدلی دی چی ده وویل: ای ربه زما! زما مور چیری ده؟ اوبیا هم په هغه ډبری کی دننه سوه اوپه هغه کی ورکه سوه.
اوبعضو داویلی دی چی دوی ورپسی وه تردی چی ذبحه یې کړه. الله ﷻ فرمایلی دی: فَنَادَوْا صَاحِبَهُمْ فَتَعَاطَى فَعَقَرَ (۲۹) فَكَيْفَ كَانَ عَذَابِي وَنُذُرِ (سورة القمر ۳۰\۲۹) اودارنګه الله ﷻ فرمایلی دی: إِذِ انْبَعَثَ أَشْقَاهَا (۱۲) فَقَالَ لَهُمْ رَسُولُ اللهِ نَاقَةَ اللهِ وَسُقْيَاهَا (سورة الشمس ۱۲\۱۳) یعنی ددی کار څخه منع سی: فَكَذَّبُوهُ فَعَقَرُوهَا فَدَمْدَمَ عَلَيْهِمْ رَبُّهُمْ بِذَنْبِهِمْ فَسَوَّاهَا (۱٤) وَلَا يَخَافُ عُقْبَاهَا (سورة الشمس ۱۴\ ۱۵) .
ویلی دی امام احمد په نقل کولو سره دعبدالله بن نمیر څخه دی نقل کوی دهشام څخه دی نقل کوی دابو عروه څخه دی نقل کوی دخپل پلار څخه دی نقل کوی دزمعه څخه دی وایی چی خطاب وکی رسول الله ﷺ نوذکریې وکی داوښی اودهغه سړی چی دایې ذبحه کړی وه نو ویې فرمایل (اِذِنْبَعَثَ اَشْقٰهَا) یعنی را ولاړیدی دی ته هغه بدبخته ددوی اومشر ددوی

(c) ketabton.com: The Digital Library



چې اطاعت به یې کیدی. لکه ابی زمعه سو (۱)، اوتخریج ددی کړی دی دواړو دحدیث دهشام څخه هم په دی طریقی سره. اودارنګه محمد بن اسحاق ویلی دی په نقل کولو سره دیزید بن محمد بن خشیم څخه دی نقل کوی دمحمد بن کعب څخه دی نقل کوی دمحمد بن خثیم بن یزید څخه دی نقل کوی دعمار بن یاسر څخه دی وایی چې فرمایلی دی رسول الله ﷺ: ایا زه تاسی ته خبرنه درکوم په باره دډیر بدبخته سړی کی؟ نوصحابوو وویل چې ولی نه ای دالله رسوله. نووی فرمایل چې، یو ددوی څخه احیمر ثمودی دی هغه چې اوښه یې ذبحه کړی وه اودوهم هغه چې تابه وهی ای علی ﷺ (۲) راوی ددی ابی حاتم دی.
اودارنګه الله ﷻ فرمایلی دی: فَعَقَرُوا النَّاقَةَ وَعَتَوْا عَنْ أَمْرِ رَبِّهِمْ وَقَالُوا يَا صَالِحُ ائْتِنَا بِمَا تَعِدُنَا إِنْ كُنْتَ مِنَ الْمُرْسَلِينَ (سورة الاعراف \ ۷۷) نودوی اظهار دکفروکی په دی وجهوسره، یوداچی خلاف یې وکی دالله ﷻ اودهغه دپیغمبرپه نافرمانی کولوسره اودهغه خبری په نه منلو سره اوپه ذبحه کولو سره داوښی چې هغه ورته الله ﷻ یوه معجزه رالیږلی وه، اوبل داچی دوی په ځان باندی دعذاب تیزی وکړه نودوی مستحق سوه دعذاب په دوو وجوهو سره یوداچی په دوی باندی شرط ایښوول سوی وو چې دی اوښی ته به ضررنه رسوی اودوهم داچی دوی په خپله دعذاب راتلل وغوښتل: اوبل داچی دوی تکذیب دپیغمبر وکی سره ددی چې هغه ورلره معجزه پیش کړه دخپل نبوت اودخپل صداقت، اودوی ته داپته وه چې دارښتنی نبی دی خودوی مجبوره کړی وو ددوی هغه کلك کفر اوګمراهی اوضد په لیری والی دحق څخه او دواقع کیدلو دعذاب څخه پردوی باندی. الله ﷻ فرمایلی: فَعَقَرُوهَا فَقَالَ تَمَتَّعُوا فِي

---

(۱). ددی حدیث تخریج امام احمد کړی دی (۴\ ۱۷) اوامام بخاری په کتاب التفسیرکی. سورة الشمس وضحاها (۸\ ۴۹۴۲) اومسلم په کتاب صفت الجنة کی. باب جهنم اعاذنا الله منها (۱۷\ ۱۸۷\ ۱۸۸) اوترمذی په کتاب تفسیر القرآن کی، باب سورة الشمس وضحاها (۵\ ۳۳۴۳) دطریقی دهارون بن اسحاق الهمدانی څخه دی نقل کوی دعبده څخه دی نقل کوی دهشام څخه، اوابو عیسٰی ویلی دی چې داحدیث حسن دی اوصحیح دی.
ددی حدیث تخریج احمد کړی دی (۴\ ۲۲۳) دطریقی دعلی بن بحر څخه دی نقل کوی دعیسٰی بن یونس څخه دی نقل کوی دمحمد بن اسحاق څخه دی نقل کوی دیزید بن محمد بن خیشم څخه دی نقل کوی دمحمد بن کعب القرظی څخه دی نقل کوی دمحمد بن خیشم المحاربی څخه دی نقل کوی دعماربن یاسر څخه هم په دی طریقی سره اوهیشمی ویلی دی په المجمع کی (۹\ ۱۳۶) راوی ددی احمددی اوامام الطبرانی دی اوحاکم ویلی دی په مستدرك کی (۳\ ۱۴۰\ ۱۴۱) داحدیث حسن صحیح دی په شرط دمسلم سره. اوموافقت ورسره کړی دی
(۲). ددی حدیث تخریج احمد کړی دی (۴\ ۲۲۳) دطریقی دعلی بن بحر څخه دی نقل کوی دعیسٰی بن یونس څخه دی نقل کوی دمحمد بن اسحاق څخه دی نقل کوی دیزید بن محمد بن خیثم څخه دی نقل کوی دمحمد بن کعب القرظی څخه دی نقل کوی دمحمد بن خیثم المحاربی څخه دی نقل کوی دعماربن یاسر څخه هم په دی طریقی سره اوهیثمی ویلی دی په المجمع کی (۹\ ۱۳۶) راوی ددی احمددی اوامام الطبرانی دی اوحاکم ویلی دی په مستدرك کی (۳\ ۱۴۰\ ۱۴۱) داحدیث حسن صحیح دی په شرط دمسلم سره. اوموافقت ورسره کړی دی امام ذهبیؒ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



دَارِكُمْ ثَلَاثَةَ أَيَّامٍ ذَلِكَ وَعْدٌ غَيْرُ مَكْذُوبٍ (سورة هود \ ۲۵) اودوی داخبره ذکر کړیده چی اول ذبحه کوونکی ددی اوښی قداربن سالف دی (لعنة الله علیه) نودوی زخمی کړه دا اوښه او بیایې دواړه مخکنی پښی ور ووهلی نوبیا دا پریوته په مځکه باندی بیادی نورو ورته را منډه کړه اوهر یوورته دخپل توری سره ورنژدی کیدی اوغوښی به یې ورڅخه پرېکولی تر دی چی ددی اوښی بچی راښکاره سو اوده ولیده چی دمور څخه یې غوښه پری کیدله نو دی وتښتیدی اودغره سرته وختی اودری واره یې چغه ووهل نوددی وجی ورته وویل صالح ﷺ : تَمَتَّعُوا فِي دَارِكُمْ ثَلَاثَةَ أَيَّامٍ یعنی ددی ورځی څخه ماسوا په کمه ورځ چی ورته ده داخبره وکړه، نودوی دده سره په دی وعدی کی هم دوکه وکړه پرضرر سرببیره یې قتل هم کړه او دمخکی څخه یې ددی دقتل اراده کړی وه: قَالُوا تَقَاسَمُوا بِاللَّهِ لَنُبَيِّتَنَّهُ وَأَهْلَهُ (سورة النمل \ ۴۸)، اودارنګه الله ﷻ فرمایلی دی: وَمَكَرُوا مَكْرًا وَمَكَرْنَا مَكْرًا وَهُمْ لَا يَشْعُرُونَ (۵۰) فَانْظُرْ كَيْفَ كَانَ عَاقِبَةُ مَكْرِهِمْ أَنَّا دَمَّرْنَاهُمْ وَقَوْمَهُمْ أَجْمَعِينَ (۵۱) فَتِلْكَ بُيُوتُهُمْ خَاوِيَةً بِمَا ظَلَمُوا إِنَّ فِي ذَلِكَ لَآيَةً لِقَوْمٍ يَعْلَمُونَ (۵۲) وَأَنْجَيْنَا الَّذِينَ آمَنُوا وَكَانُوا يَتَّقُونَ، (سورة النمل ۵۰\ ۵۳) اودارنګه په دوی باندی الله ﷻ دآسمان څخه کاڼی واورول اودوی یې ډیر په تیزی سره هلاك کړه ولی چی دوی دصالح ﷺ دقتل اراده هم کړی وه اوکله چی داثمودیان دپنجشنبی په ورځ سهار راولاړیده نوداورځ ددوی دپاره داجل وه کله چی ماښام سو نوټولوپه جمع سره دا اواز وکی چی یوه ورځ داجل تیره سوه اومخونه ددوی ژړ وه اوبیاچی کله په دوهم سهار راولاړیده په ورځ دجمعی باندی نومخونه ددوی سره وه دبیری دلاسه، بیاچی کله ماښام سو نواواز وکی دوی چی یوه ورځ داجل اونیته یې تیره سوه بیاچی کله دخالی په سهار راولاړیده نو ددوی مخونه تور ګرځیدلی وه بیاچی کله ماښام سو نوکرار وویل چی یوه ورځ بله دنیتی تیره سوه. بیاچی کله دوی دیك شنبی په سهار راولاړیده نودوی ناست وه اوددی خبری انتظار یې کوی چی عذاب به کله راځی اودکم اړخ څخه به راځی. اونه به پوهیده چی ددوی سره به څه معامله کول کیږی کله چی لمر راوختی نوپه دوی باندی یوه سیلی راله دلوړی څخه اوپه دوی باندی رپه ولګیده دکښته اړخ څخه نودټولو روحونه خولی ته راورسیده او حرکات سکنات هرڅه جام سوه اوازونه بندسوه اوحقائق راښکاره سوه، نوصبا کړه دوی په خپلو کورونو کی تش بدنونه یعنی بدن به پروت وو خوروح به په کی نه وو اوحرکت به یې نسوای کولی نومفسرینو داویلی دی چی ددوی څخه هیڅ څوك هم پاته نه سو مګر یوه مینځه چی نوم یې (کلبه) وه اودا ډیره سخته دښمنه وه دصالح ﷺ اودده سره یې ډیر بغض ساتی، نودی چی کله عذاب ولیدی نودا وتښتیده اودعربو یوی بلی ډلی ته ولاړه اوهغوی

(c) ketabton.com: The Digital Library



ته یې خبرورکی دخپل قوم دعذاب په باره کی نوهلته یې طلب داوبو وکی نواوبه یې چې وچښلی نومړه سوه. الله ﷻ فرمایلی دی (كَأَن لَّمۡ يَغۡنَوۡاْ فِيهَآ) (سورة هود \ ۶۸) یعنی دوی داسی ښکاریده لکه چې چیری هم دوی په عیش اوعشرت اودفراخی او دخوشحالی ژوند نه وی تیرکړی: أَلَا إِنَّ ثَمُودَ كَفَرُوا رَبَّهُمْ أَلَا بُعْدًا لِثَمُودَ (سورة هود\ ۶۸) یعنی اواز دوی ته وسو په ژبه دقدرت سره. اودارنګه ذکر کړیدی امام احمد په نقل کولو سره دعبد الرزاق څخه دی نقل کوی دمعمر څخه دی نقل کوی دعبدالله څخه دی نقل کوی دعثمان څخه دی نقل کوی دخیثم څخه دی نقل کوی دابی الزبیر څخه دی نقل کوی دجابر څخه دی وایی چې کله نبی ﷺ تیرسو په یوی ډېری باندی نوویې ویل چې تاسی دمعجزو سوال مه کوی ولی چې ددی معجزی سوال کړی وو قوم دصالح ﷺ یعنی داوښی. چې هغه ددی شی څخه پیدا سوی وه اوددی څخه راوتلی وه، نودهغه قوم دالله ﷻ دخبری انکار وکی اونافرمانی یې وکړه اوهغه اوښه یې ذبحه کړه، اودوی وه چې چښل به یې یوه ورځ خپلی اوبه اوپه بله ورځ به یې ددی اوښی شیدی چښلی نودوی دا اوښه ذبحه کړه نوالله ﷻ راونیول دوی په داسی عذاب سره چې پرمخ دمزکی ددوی څخه یوتن هم پاته نه سو مګر یوسړی پاته سوی ووچې هغه په حرم کی وو، نو وویل سوه چې ای دالله رسوله هغه څوك وو نونبی ﷺ وفرمایل چې هغه ابو رغال وو کله چې دی دحرم څخه راووتی نوده ته هم داعذاب ورورسیدی (۱) اوداحدیث یې په شرط دمسلم سره ذکر کړی دی اودا حدیث په کتب السنة کی نه دی ذکر سوی.

اودارنګه عبدالرزاق ویلی دی په نقل دمعمر څخه دی وایی چې ماته خبر راکړی دی اسماعیل بن امیه چې نبی ﷺ تیرسو په قبر دابو رغال باندی، نووی فرمایل: چې تاسی ته پته سته چې داڅوك دی؟ نودوی وویل چې الله ﷻ اودهغه رسول ته پته سته نونبی ﷺ وفرمایل چې داقبر دابی رغال دی، دایوسړی دی دقوم دثمود څخه، دی وو په حرم کی نو دحرم دوجی څخه دی دعذاب څخه بچ سو، نوکله چې دی دحرم څخه راووتی نوپه عذاب کی ګیرسو نوهلته بیا دفن سو، اودده سره دیوسرو زرو څانګه هم دفن سوه، نویو قوم رالی اوپه خپلو تورو سره یې دده تلاش وکی او دده قبر یې وکیندی او هغه دسروزرو څانګه یې ورڅخه را وایسته (۲) دانقل دی دعبد الرزاق څخه هغه نقل کوی دمعمر څخه هغه نقل کوی

---

(۱). ددی حدیث تخریج احمد کړی دی (۳\ ۲۹۶) اوهیثمی ویلی دی په المجمع کی (۷\ ۵۰) راوی ددی احمد دی او البزار دی اوطبرانی دانقل کړی دی په الاوسط کی اودارنګه یې نقل کړی دی په (۷\ ۳۸) اوحاکم په مستدرك کی (لکه\ ۳۲۰) اودایې ویلی دی چې داحدیث حسن صحیح دی اودواړو امامانو ددی تخریج نه دی کړی اوموافقت دده سره کړی دی امام الذهبی (۵\ ۵۶۷) اوپه دی باندی یې سکوت کړی دی اوذهبی داذکرکړی دی په شرط دمسلم باندی.

(۲). مصنف دعبدالرزاق (۲۰۹۸۹۱۱)

(c) ketabton.com: The Digital Library



دالزهری څخه: ابورغال ابوثقیف دی، اودا مرسل دی ددی وجی څخه.
اودارنګه بل روایت متصل ذکرسوی دی چی نقل کړی دی محمد بن اسحاق په سیرت کی داسماعیل بن امیه څخه دی نقل کوی دبجیربن ابی بجیر څخه، دی وایی چی ماوریدلی دی دعبدالله بن عمر څخه دی وایی چی ماوریدلی دی درسول الله ﷺ څخه کله چی موږ دطائف خوا ته ووتلو نوموږ تیر سو په یوقبر باندی، نورسول الله ﷺ وفرمایل چی: داقبر دابی رغال دی او دده اسم کنیه ثقیف دی.
اودی وو دقوم ثمود څخه او داجرم وو چی دی یې خلاص کړی وای دعذاب څخه نوکله چی دی راووتی ددی حرم څخه نوپه ده باندی داعذاب رالی کم چی دده په قوم باندی راغلی وو په دی ځای باندی اوبیا دفن سوی هم په دی ځای کی وو اودا یې هم ذکر کړیده چی دده سره دسرو زرو څانګه دفن سویده، که چیری تاسی هغه را وکیندی نوهغه څانګه به ورسره پیداکی. نوخلګو دهغه تلاش وکی نویې را وایسته دا څانګه (١) اودا قول دالله ﷻ : فَتَوَلَّى عَنْهُمْ وَقَالَ يَا قَوْمِ لَقَدْ أَبْلَغْتُكُمْ رِسَالَةَ رَبِّي وَنَصَحْتُ لَكُمْ وَلَكِنْ لَا تُحِبُّونَ النَّاصِحِينَ (سورة الاعراف ۷۹) داخبر دی په باره دصالح ﷷ کی، چی دی کله دخپل قوم څخه تلی نوهغوی ته یې دا وویل چی تاسی ته ما پوره دعوت درکی خوتاسی ونه منی: يَا قَوْمِ لَقَدْ أَبْلَغْتُكُمْ رِسَالَةَ رَبِّي وَنَصَحْتُ لَكُمْ یعنی ماخوتاسی ته هرممکن کوشش وکی چی تاسی دهدایت په لاره سی او زما داحرص وو چی تاسی په هدایت سی په قول زماهم اوپه نیت زماهم اوپه کار زماهم: وَلَكِنْ لَا تُحِبُّونَ النَّاصِحِينَ یعنی ستاسی زړونه داحق نه قبلوی اوستاسی فطرت دا دی چی حق نه خوښوی اونه حق غواړی نوددی دوجی وګرځیداست تاسی په دی دروند عذاب کی چه داستاسی سره متصل دی دهمیشه دپاره اونسته زما دپاره څه چاره چی زه ستاسی څخه دا عذاب لیری کم، اوکمه اندازه تبلیغ چی په ما باندی واجب دی هغه ماتاسی ته پوره کړی دی، لیکن الله ﷻ چی څه غواړی هغه کوی.
اوهمدارنګه خطاب کړی دی نبی ﷷ دبدر ځاهانو والا ته یعنی دبدرپه ځاه کی یې چی کم مشرکان وراچولی وه، نبی ﷷ دبدر په مقام کی دری شپی پاته سوه نوپه آخری شپه کی کله چی خپل سپرلی ته اوښتی نوخطاب یې وکی چی ای: دبدر ځاهانو والا تاسی وموندل هغه څه چی ستاسی سره یې رب وعده کړی وه حقه. اوبیایې ورته وویل چی ډیر بدقوم یاست تاسی دپیغمبر خپل دپاره، تاسی زه درواغجن وګڼلم اوخلګو زه رښتینی وګڼلم، او

---

(١). ددی حدیث تخریج ابوداود کړی دی په کتاب الخراج والامارت والفیئ کی، باب نبش القبور (۳۰۸۸\۳) او البیهقی په سنن الکبری کی کتاب الزکاة، باب مایوجد منه مدفونًا فی قبور اهل الجاهلیه (۱۵۶\۴) اوضعیف ګرځولی دی دا البانی په ضعیف الجامع الصغیر (۲۰۸۲) کی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



تاسی زه دکلی څخه وایستم اوخلگو ماته ځای راکی اوتاسی زماسره جنگونه کول اوخلگ زمانصرت کوی، نوډیر بدقوم یاست تاسی دخپل نبی دپاره نوعمر ورته وویل چی ای دالله رسوله ﷺ ته خطاب کوی داسی قوم ته چی هغه مردار سوی دی؟ نونبی ﷺ وفرمایل چی: زمادی قسم وی په هغه ذات باندی چی زما روح دهغه په لاس کی دی تاسی به دومره ښه نه اوری لکه دوی چی څومره ښه اوری، خودوی جواب نه سی ورکولی، (۱) اوداهم ویل سوی دی چی صالح علیه السلام نقل سو خانه کعبی ته اوهلته اوسیدی تردی چی وفات سو.

اودارنگه امام احمدویلی دی په نقل کولو سره دوکیع څخه دی نقل کوی دزمعه بن صالح څخه دی نقل کوی دسلمه بن وهرام څخه دی نقل کوی دعکرمه څخه دی نقل کوی دابن عباس څخه دی وایی چی کله نبی ﷺ تیریدی په وادی عسفان باندی په هغه وخت کی چی ده حج کوی نوویې فرمایل: ای ابوبکره داکمه وادی ده نوهغه ورته په جواب کی وویل چی داوادی عسفان دی. نوبیانبی ﷺ وفرمایل چی: یقیناً په دی وادی باندی تیرسوی دی هود اوصالح په اوښانو باندی داسی اوښان چی دهغه واگی دخرما دپوستکو څخه وی، ددوی اِزار (چی کښته ټوټه داحرام ده) دایې دچوغی څخه وو اوڅادرونه ددوی دوړی څخه وو چی دوی به تلبیه کوله اوحج به یې کوی دبیت الله شریفی ددی حدیث اسناد صحیح دی، اودا مخکی دنوح علیه السلام په قصی کی ذکر سویدی دروایت دطبرانی څخه اوپه هغه روایت کی نوح اوهود اوابراهیم علیهم السلام هم ذکر دی.

## بیان دتیریدلو دنبی ﷺ په وادی الحجر باندی پرمځکه دثمود په کال دتبوک باندی

ویلی دی امام احمد په نقل کولو سره دعبدالصمد څخه دی نقل کوی دصخر بن جویریه څخه دی نقل کوی دنافع څخه دی نقل کوی دابن عمر څخه دی وایی کله چی نبی ﷺ په تبوك کی دصحابوو سره راکښته سوه، نودوی داستراحت دپاره په حجر مقام کی کښته سوه نودوی ټولو اوبه وچښلی دهغه څاه څخه دکم څخه به چی ثمودیانو اوبه چښلی، او بیایې خمبیره جوړه کړه داوړو ته هم په دی اوبو سره اوکټوی یې باندی کړی په اور باندی. نو نبی ﷺ چی داولیدل نوویې فرمایل چی دادیگونه واړوی اودا خمبیره په اوښانو باندی وخوری، بیاددی ځای څخه ولاړه تردی چی دهغه چینی خواته ورسیده دکم څخه چی هغه اوښی چی معجزه وه دپاره دثمودیانو هغه اوبه چښلی وی، اودوی یې منعه کړه چی دوی دی په هغه قوم باندی نه ورځی کم ته چی عذاب ورکول سوی دی اوبیایې وفرمایل: چی زه

---

(۱). صحیح البخاری: کتاب الجنائز، باب ماجاء فی عذاب القبر (۳\ ۱۳۷۰) اوپه کتاب المغازی کی، باب قتل ابی جهل (۷\ ۳۹۸)، اوباب (۱۲) ۷\ ۲۲ ۴۰۲۲) اوالنسایې په کتاب الجنائز، باب ارواح المومنین وغیرهم (۴\ ۲۷۵) کی او احمد (۱۲\ ۱۳۱) دحدیث دابن عمر څخه اومسلم په کتاب الجنائز کی، باب المیت یعذب ببکاء اهله علیه (۲\ ۲۳۴) کی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



په تاسی باندی دهغه عذاب څخه بیره کوم چی داعذاب تاسی ته درونه رسیږی نوددی وجی څخه تاسی په دی ځایونو باندی مه ورځی (۱) اودارنګه احمدویلی دی په نقل کولو سره دعفان څخه دی نقل کوی دعبدالعزیز بن مسلم څخه دی نقل کوی دعبدالله بن دینار څخه دی نقل کوی دعبدالله بن عمر څخه دی وایی چی فرمایلی دی رسول الله ﷺ په دی حال کی چی نبی ؑ دحجر په مقام کی وو، تاسی مه داخلیږی په دی عذاب ورکول سوو باندی مګر په دی حال کی چی تاسی ژړا کونکی یاست. که چیری تاسی ژړاکونکی نه یاست نوبیامه داخلیږی دغه ځای ته ولی چی پرتاسی باندی داعذاب رانه سی کم عذاب چی په دوی باندی راغلی وو، (۲) ددی تخریج یې کړی دی په صحیحینو کی بغیر دیو وجی څخه. اوپه بعضو روایاتوکی دی کله چی نبی ؑ تیریدی نوویې ویل ددوی کورونو ته به نه داخلیږی مګر په حال دژړا باندی، اوپه بل روایت کی داسی ذکردی چی که تاسی ته ژړا نه درځی نودالله ﷻ دبیری څخه وژړای چی پرتاسی باندی داعذاب رانه سی کم چی په دی خلګو باندی راغلی وو.

اودارنګه امام احمد ویلی دی په نقل کولو سره دیزید بن هارون څخه دی نقل کوی دالمسعودی څخه دی نقل کوی داسماعیل بن اوسط څخه دی نقل کوی دمحمد بن ابی کبشه الانباری څخه دی نقل کوی دخپل پلار څخه اوده دپلار نوم عمربن سعددی اوداهم ویل سوی دی چی دده نوم عامر بن سعد ؓ دی، دی وایی چی کله چی وه غزوه دتبوك نو خلګو منډی وهلی داهل حجر خواته په تیزی سره نودا خبره رسول الله ﷺ ته راورسیده نو نبی ؑ په خلګو کی اواز وکی چی (دجمعی لمونځ حاضردی) نودی وایی چی زه رالم دنبی ؑ خواته اونبی ؑ خپل اوښ نیولی وو اوفرمایل یې: ولی تاسی په هغه قوم باندی داخلیږی چی په هغو باندی الله ﷻ عذاب نازل کړی دی، نوپه دی کی یوه سړی اواز وکی چی ای دالله رسوله موږ دهغه څخه تعجب کوو. نورسول الله ﷺ اوفرمایل چی: ایاتاسی ته زه خبرنه درکوم په ډیرتعجب کی اچونکی باندی؟ داسی سړی چی تاسی ته خبر درکوی دهغه شیانو په باره کی چی مخکی ستاسی څخه تیر سوی دی اودهغه په باره کی چی وروسته ستاسی څخه راروان دی، نوتاسی مستحکم سی اومضبوط سی، ولی چی الله ﷻ ستاسی په عذاب باندی پرواه نه ساتی اوداسی قوم به راسی چی دځان څخه به څه نه سی لیری کولی (۳) اوداهم ذکرسوی دی چی دقوم صالح عمرونه ډیر اوږده وه، نودوی وه چی

---

(۱). احمد (۲\۱۱۷).

(۲). احمد (۲\۷۴) اوبخاری په کتاب التفسیرکی، سورة الحجر، باب ولقدکذب اصحاب الحجر المرسلین) (۲\۴۷۰۲ ۸) اومسلم په کتاب الزهدکی، باب النهی عن الدخول علی اهل الحجر الامن دخل باکیاً (۸\ ۱۱۰).

(۳). احمد (۴\ ۲۳۱) دا اسناد حسن دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



کورونه به يې جوړول دختو څخه نودا کور به خرابيدی ديوسړی دمرګ څخه مخکې، نوبيا دوی کورونه جوړکړه په غرونو کی. اودايې هم ذکرکړی دی چی کله دوی غوښتنه وکړه دصالح ﷺ څخه داوښی، نوالله ﷻ دوی ته دااوښه دډبری څخه راوايسته اوامريې وکی په پيدائش ددی اودده په نس کی چی کم بچی وه اودوی يې وبيرول دالله ﷻ دعذاب څخه چی دی اوښی ته به ضررنه رسوی اودوی ته يې داخبر ورکی چی هم په دوی کی به يوسړی پيدا کيږی چی دا اوښه به مړه کوی، اوددی سړی صفات يې ورته وښوول چی دابه سور اوشين اوګلابی رنګه سړی وی. نودوی امر وکی ټولو قبيلو ته چی داسی ماشوم چی پيداسی نو هغه دی مړکی. نودوی وه په دی خبری باندی عمل کوونکی تردی چی يوه پيړی ختمه سوه اوبله پيړی شروع سوه نوپه دی بلی پيړی کی يورئيس اومشر ددوی دخپل زوی دپاره دبل رئيس اومشر لور وغوښتله کله چی ددوی دواړو واده وسو نو ددوی څخه په هغه صفاتو ماشوم پيداسو اوداقدربن سالف وو، نودی قبيلو والا داسړی نسوای وژلی دوجی دشرافت دده دپلار اومور، نوداغټيدی ډير ژر دابه په يوه هفته کی دومره غټيدی چی بل ماشوم به په يوه مياشت کی څومره غټيدی، تردی چی داپه خپله رئيس سو اوخلګو دده تابعداری شروع کړه. نودده په نفس کی ددی اوښی دقتلولو وسوسه جوړه سوه اودده سره په دی خبری کی (۸) کسان نورملګری سوه، اوداهغه (۹) کسان دی چی دصالح ﷺ دقتل اراده يې کړی وه، نوبياچی کله ده مړه کړه اوښه کله چی داخبر صالح ﷺ ته راورسيدی نودوی هم په ژړاسره راله اوصالح ﷺ ته يې وويل چی موږ ددی کار څخه نه يوخبر چی داچا کړی دی اوددی اوښی بچی دغره سرته وختی نوصالح ﷺ ورپسی ورلی هلته نو داوښی بچی ژړل اوبيايې دصالح ﷺ خوا ته مخ کی اودری واره يې چغه ووهل نوبيا صالح ﷺ داقولووايه: تَمَتَّعُوا فِي دَارِكُمْ ثَلَاثَةَ أَيَّامٍ ذَلِكَ وَعْدٌ غَيْرُ مَكْذُوبٍ (سورة هود \۶۵) اودوی ته يې داخبره وکړه چی صباته به تاسی ژړ اوبيا به په دوهمه ورځ ستاسی مخونه سره کيږی اوبيابه په دريمه ورځ ستاسی مخونه تورسی. نوبياچی کله څلورمه ورځ سوه نوسيلی ورته راله چی په هغه کی اواز وو، نورا ګيريې کړه دوی نوچی صباکيدی نودوی پراته وه په خپل کورونو کی مړه. اوددی په بعضو سياقاتوکی نظردی اومخالفت دی دظاهر دقرآن سره لکه څه رنګه چی مخکی موږ ذکر کړه.

## قصه دابراهيم الخليل عَلَيْهِ السَّلَامُ

دټولو څخه مخکی بيان دده دنسب: دی ابراهيم بن تاريخ (۲۵۰) بن ناحور (۱۴۸) بن ساروغ (۲۳۰) بن راغو (۲۳۹) بن فالغ (۴۳۹) بن عابر (۴۶۴) بن شالح (۴۳۳) بن ارفخشذ (۴۳۸) بن سام (۶۰۰) بن نوح ﷺ. داوو قول داهل کتابو په کتاب ددوی کی دده

(c) ketabton.com: The Digital Library



دعمر څخه دهریوه سره جلا جلا لیکل سوی دی اودنوح ؑ په عمر باندی مومخکی تفصیلی خبره کړیده نودوباره ذکر کولو ته ضرورت نسته. اوحکایت کړی دی حافظ ابن عساکر په تاریخ خپل کی په باره دابراهیم ؑ کی په نقل کولو سره داسحاق بن بشر الکاهلی څخه چی صاحب دکتاب (المبتدا) دی دی وایی چی نوم دابراهیم ؑ دمور (امیله) وه بیاده ذکر کړی دی په باره دولادت دده کی لوی بحث.
اوویلی دی الکلبی: چی نوم یې (بونا) بنت کربتان بن کرثی وه دی دقبیلی څخه دبنی ارفخشذ بن سام بن نوح ؑ وو، اوروایت ذکرکړی دی ابن عساکر په بلی طریقی سره دعکرمه څخه چی دی وایې: وو دابراهیم ؑ اسم کنیه (ابو الضیفان) ویل سوی دی چی کله عمر دتارخ (۷۵) کاله وو نودده زوی ابراهیم ؑ پیداسو اونور ځامن یې هم پیداسوه چی ناحور اوهاران دی، اودهاران یوزوی پیداسو چی (لوط) ؑ دی. اوویل سوی دی چی ابراهیم ؑ په دوی کی مینځنی وو، اوهاران وفات سوی وو دپلار په ژوندون کی په هغه مځکه کی چی په کمه کی پیدا سوی وو، اوهغه مځکه د(کلدانیین) وه چی مراد ورڅخه مځکه دبابل ده اوداخبره صحیحه ده اومشهوره ده په نزد داهل تواریخو اوصحیح ګرځولی دی دا حافظ ابن عساکر، وروسته ددی څخه چی ددی روایت یې ذکر کړی دی دطریقی دهشام بن عمار څخه ده نقل کړی دی دالولید څخه دی نقل کوی دسعید بن عبدالعزیز څخه دی نقل کوی دمکحول څخه دی نقل کوی دابن عباس څخه دی وایی چی: پیداسوی دی ابراهیم ؑ په دمشق کی په یوکلی کی چی نوم یې (برزه) وو په یوغرکی چی نوم یې (قاسیون) وو بیایې ویلی دی چی صحیح دادی چی دی پیداسوی دی په بابل کی، اوددی ځای نسبت ورته ځکه سوی دی چی ده هلته لمونځ کړی دی کله چی دی راتلی دلوط ؑ خواته نودوی ویلی دی چی ابراهیم ؑ واده وکی د (ساره) سره اوناحور واده وکی د(ملکا) سره دالور دهاران وو یعنی دخپل ورور لوریې وکړه. دوی وایی چی داساره وچه وه ددی بچی به نه پیدا کیدی. نودوی وایی چی تارخ دخپل زوی سره اودزوی دښځی سره اودخپل نمسی لوط سره دکلدانیین څخه ووتی اوکنعانیین ته ولاړه نودحران په مقام کی تارخ وفات سو اودده عمر (۲۵۰) کاله وو اوداخبره په دی باندی دلالت کوی چی دتاریخ په حران مقام کی بچی نه وو سوی، بلکی دده بچی ټول په کلدانیین کی پیداسوی وو اودا مځکه دبابل وه. بیادوی ولاړه دکنعانیین څخه چی دامځکه دبیت المقدس وه حران ته چی دامځکه دکلدانیین وه په هغه زمانه کی، اودامځکه دالجزیره اوشام هم وه. اودوی به عبادت د(۷) ستورو کوی، اوچاچی آباده کړی وه مځکه ددمشق هغوی هم پردی دین باندی وه چی مخ به یې دقطب شمالی خوا ته کوی اود (۷) ستورو عبادت به یې کوی په مختلفو

(c) ketabton.com: The Digital Library



اقوالو اوافعالو سره. اوددی وجی څخه ددمشق پر (۷) دروازو چی قدیمی دروازی وی پر هغه نښانی ددی (۷) ستورو وی، اودارنګه وو اهل حران چی عبادت به یې دستورو کوی اودبتانو اودارنګه پرمخ دمزکی باندی چی څومره خلګ وه ټول کافران وه، ماسوا دابراهیم خلیل الله څخه اودده دښځی څخه اودلوط ﷺ څخه. او وو ابراهیم ﷺ چی دده په واسطه الله ﷻ ددی کفر ازاله وکړه، اودده په سریې ګمراهی باطله کړه. ولی چی الله ﷻ ده ته په وړوکوالی کی هوښیاری ورکړی وه اوبیا وروسته پیغمبر سو اوالله دی خپل خلیل جوړکی، لکه څه رنګه چی الله ﷻ فرمایلی دی: وَلَقَدْ آتَيْنَا إِبْرَاهِيمَ رُشْدَهُ مِنْ قَبْلُ وَكُنَّا بِهِ عَالِمِينَ (سورة الانبیاء \ ۵۱).

اودارنګه الله ﷻ فرمایلی دی: وَإِبْرَاهِيمَ إِذْ قَالَ لِقَوْمِهِ اعْبُدُوا اللهَ وَاتَّقُوهُ ذَلِكُمْ خَيْرٌ لَكُمْ إِنْ كُنْتُمْ تَعْلَمُونَ (۱٦) إِنَّمَا تَعْبُدُونَ مِنْ دُونِ اللهِ أَوْثَانًا وَتَخْلُقُونَ إِفْكًا إِنَّ الَّذِينَ تَعْبُدُونَ مِنْ دُونِ اللهِ لَا يَمْلِكُونَ لَكُمْ رِزْقًا فَابْتَغُوا عِنْدَ اللهِ الرِّزْقَ وَاعْبُدُوهُ وَاشْكُرُوا لَهُ إِلَيْهِ تُرْجَعُونَ (۱۷) وَإِنْ تُكَذِّبُوا فَقَدْ كَذَّبَ أُمَمٌ مِنْ قَبْلِكُمْ وَمَا عَلَى الرَّسُولِ إِلَّا الْبَلَاغُ الْمُبِينُ (۱۸) أَوَلَمْ يَرَوْا كَيْفَ يُبْدِئُ اللهُ الْخَلْقَ ثُمَّ يُعِيدُهُ إِنَّ ذَلِكَ عَلَى اللهِ يَسِيرٌ (۱۹) قُلْ سِيرُوا فِي الْأَرْضِ فَانْظُرُوا كَيْفَ بَدَأَ الْخَلْقَ ثُمَّ اللهُ يُنْشِئُ النَّشْأَةَ الْآخِرَةَ إِنَّ اللهَ عَلَى كُلِّ شَيْءٍ قَدِيرٌ (۲۰) يُعَذِّبُ مَنْ يَشَاءُ وَيَرْحَمُ مَنْ يَشَاءُ وَإِلَيْهِ تُقْلَبُونَ (۲۱) وَمَا أَنْتُمْ بِمُعْجِزِينَ فِي الْأَرْضِ وَلَا فِي السَّمَاءِ وَمَا لَكُمْ مِنْ دُونِ اللهِ مِنْ وَلِيٍّ وَلَا نَصِيرٍ (۲۲) وَالَّذِينَ كَفَرُوا بِآيَاتِ اللهِ وَلِقَائِهِ أُولَئِكَ يَئِسُوا مِنْ رَحْمَتِي وَأُولَئِكَ لَهُمْ عَذَابٌ أَلِيمٌ (۲۳) فَمَا كَانَ جَوَابَ قَوْمِهِ إِلَّا أَنْ قَالُوا اقْتُلُوهُ أَوْ حَرِّقُوهُ فَأَنْجَاهُ اللهُ مِنَ النَّارِ إِنَّ فِي ذَلِكَ لَآيَاتٍ لِقَوْمٍ يُؤْمِنُونَ (۲٤) وَقَالَ إِنَّمَا اتَّخَذْتُمْ مِنْ دُونِ اللهِ أَوْثَانًا مَوَدَّةَ بَيْنِكُمْ فِي الْحَيَاةِ الدُّنْيَا ثُمَّ يَوْمَ الْقِيَامَةِ يَكْفُرُ بَعْضُكُمْ بِبَعْضٍ وَيَلْعَنُ بَعْضُكُمْ بَعْضًا وَمَأْوَاكُمُ النَّارُ وَمَا لَكُمْ مِنْ نَاصِرِينَ (۲۵) فَآمَنَ لَهُ لُوطٌ وَقَالَ إِنِّي مُهَاجِرٌ إِلَى رَبِّي إِنَّهُ هُوَ الْعَزِيزُ الْحَكِيمُ (۲٦) وَوَهَبْنَا لَهُ إِسْحَاقَ وَيَعْقُوبَ وَجَعَلْنَا فِي ذُرِّيَّتِهِ النُّبُوَّةَ وَالْكِتَابَ وَآتَيْنَاهُ أَجْرَهُ فِي الدُّنْيَا وَإِنَّهُ فِي الْآخِرَةِ لَمِنَ الصَّالِحِينَ (سورة العنکبوت ۱٦ \ ۲۷) بیاذکر کوی الله ﷻ مناظره دده دخپل پلار سره او دخپل قوم سره دابه موږ ذکر کوو انشاء الله تعالی، اوورکړی وو ده مخکی دعوت خپل پلارته، او وو دده پلار چی عبادت به یې کوی دبتانو، اودی ډیر حقداره وو ترخلګو چی نصیحت ورته وسی په اخلاص سره، لکه څه رنګه چی الله ﷻ فرمایلی دی: وَاذْكُرْ فِي الْكِتَابِ إِبْرَاهِيمَ إِنَّهُ كَانَ صِدِّيقًا نَبِيًّا (٤۱) إِذْ قَالَ لِأَبِيهِ يَا أَبَتِ لِمَ تَعْبُدُ مَا لَا يَسْمَعُ وَلَا يُبْصِرُ وَلَا يُغْنِي عَنْكَ شَيْئًا (٤۲) يَا أَبَتِ إِنِّي قَدْ جَاءَنِي مِنَ الْعِلْمِ مَا لَمْ يَأْتِكَ فَاتَّبِعْنِي أَهْدِكَ صِرَاطًا سَوِيًّا (٤۳) يَا أَبَتِ لَا تَعْبُدِ الشَّيْطَانَ إِنَّ الشَّيْطَانَ كَانَ لِلرَّحْمَنِ عَصِيًّا (٤٤) يَا أَبَتِ إِنِّي أَخَافُ أَنْ يَمَسَّكَ عَذَابٌ مِنَ الرَّحْمَنِ فَتَكُونَ لِلشَّيْطَانِ

(c) ketabton.com: The Digital Library



وَلِيًّا (٤٥) قَالَ أَرَاغِبٌ أَنْتَ عَنْ آلِهَتِي يَا إِبْرَاهِيمُ لَئِنْ لَمْ تَنْتَهِ لَأَرْجُمَنَّكَ وَاهْجُرْنِي مَلِيًّا (٤٦) قَالَ سَلَامٌ عَلَيْكَ سَأَسْتَغْفِرُ لَكَ رَبِّي إِنَّهُ كَانَ بِي حَفِيًّا (٤٧) وَأَعْتَزِلُكُمْ وَمَا تَدْعُونَ مِنْ دُونِ اللهِ وَأَدْعُو رَبِّي عَسَى أَلَّا أَكُونَ بِدُعَاءِ رَبِّي شَقِيًّا (سورة مريم ۴۱\ ۴۸) نوذکر کړه الله ﷻ هغه څه چی دده اودده دپلار په منځ کی وه دمحاوری څخه اودجګړی څخه اوډیر په ښه طریقی سره اوپه نرم لهجی سره یې خپل پلار ته دعوت ورکړی دی دحق طرف ته، اوبیان یې کی ورته بطلان دهغه چی دی پر وو چی هغه عبادت دبتانو وو هغه بتان چی اوریدل نسی کولی اولیدل نسی کولی اودخپل ځای څخه ښوریدی نه سی، نودداسی شی څخه به څوك څه رنګه فائده حاصله کړی اوڅنګه به دده څخه درزق اوکامیابی طمع کیدی سی ؟ بیایې ورته خبرورکی په باره دهغه علم او هدایت کی چی ورلره الله ﷻ ورکړی دی که څه هم دخپل پلار څخه وړوکی وو په عمرکی: يَا أَبَتِ إِنِّي قَدْ جَاءَنِي مِنَ الْعِلْمِ مَا لَمْ يَأْتِكَ فَاتَّبِعْنِي أَهْدِكَ صِرَاطًا سَوِيًّا (سورة مريم \ ۴۳) یعنی نیك اوواضح ښکاره اوخالص علم چی راکشوونکی دی دخیر خوا ته اوپه دی سره به ستا دنیا اوآخرت دواړه ښه سی. نوکله چی ورته ده دانصیحت وکی نوپلاریې دده څخه اعراض وکی اودایې ونه منله اوچپه یې ابراهیم عليه السلام ته تهدید ورکوی: أَرَاغِبٌ أَنْتَ عَنْ آلِهَتِي يَا إِبْرَاهِيمُ لَئِنْ لَمْ تَنْتَهِ لَأَرْجُمَنَّكَ (سورة مريم \ ۴۲) تهدیدیې ورلره ورکی هم قولاً اوهم فعلاً (وَاهْجُرْنِي مَلِيًّا) (سورة مريم \ ۴۲) یعنی ما پریږده اوزما څخه لیری سه. نوددی خبری سره یې ابراهیم عليه السلام وویل (سَلَامٌ عَلَيْكَ) (سورة مريم \ ۴۷) یعنی زما دطرف څخه دی په تاسلامتیاوی اوزما دخوا څخه به تاته هیڅ ضررنه در رسیږی. اودایې ورته هم زیاته کړه: سَأَسْتَغْفِرُ لَكَ رَبِّي إِنَّهُ كَانَ بِي حَفِيًّا (سورة مريم \ ۴۷) ابن عباس او غیر دهغه څخه بعضو داویلی دی یعنی رب زماپه ماباندی لطیف اومهربانه دی، په دی خبره چی ماته یې هدایت کړی دی دخپل عبادت اوپه اخلاص دهغه ذات دپاره نوددی دوجی یې ویلی دی: وَأَعْتَزِلُكُمْ وَمَا تَدْعُونَ مِنْ دُونِ اللهِ وَأَدْعُو رَبِّي عَسَى أَلَّا أَكُونَ بِدُعَاءِ رَبِّي شَقِيًّا (سورة مريم \ ۴۸) اواستغفار غوښتی دی ابراهیم عليه السلام خپلا پلار ته لکه څنګه چی یې وعده کړی وه دخپل پلار سره ددی خبری په دعاګانو خپلو کی. بیاچی کله ده ته داخبره معلومه سوه چی دی دښمن دالله ﷻ دی نوبیایې ځان بیزاره کی ددی کار څخه. لکه څه رنګه چی الله ﷻ فرمایلی دی: وَمَا كَانَ اسْتِغْفَارُ إِبْرَاهِيمَ لِأَبِيهِ إِلَّا عَنْ مَوْعِدَةٍ وَعَدَهَا إِيَّاهُ فَلَمَّا تَبَيَّنَ لَهُ أَنَّهُ عَدُوٌّ لِلَّهِ تَبَرَّأَ مِنْهُ إِنَّ إِبْرَاهِيمَ لَأَوَّاهٌ حَلِيمٌ (سورة التوبه \ ۱۱۴). امام بخاری ویلی دی په نقل کولو سره داسماعیل بن عبدالله څخه اودی نقل کوی دخپل ورور څخه چی نوم یې عبدالحمید دی دی نقل کوی دابن ابی ذئب

(c) ketabton.com: The Digital Library



څخه دی نقل کوی دسعید المقبری څخه اودی نقل کوی دابی هریره څخه دی وایی چی فرمایلی دی رسول الله ﷺ: ملاقات به وکی ابراهیم ؈ دخپل پلار آزر سره په ورځ دقیامت کی چی په مخ دده باندی به توروالی اودوړه وی، نوابراهیم ؈ به ورته ووایې: ای ربه زما. تازماسره وعده کړی وه چی ته به ما نه شرمنده کوی نوتردی غټه شرمندګی څه ده چی زماپلار زماڅخه لیری دی ؟ نوالله ﷻ به ورته وفرمایې چی: ماحرام کړی دی جنت په کافرانو باندی، بیابه ورته وویل سی چی ای ابراهیمه ستا دپښنو لاندی څه دی نودی چی کله وګوری نواورته به وغورځول سی (۱) همدارنګه روایت ددی سوی دی په قصه دابراهیم ؈ کی په جلا طریقی سره. اوویلی یې دی په تفسیرکی: ویلی دی ابراهیم بن طهمان دابن ابی ذئب څخه دی نقل کوی دسعید المقبری څخه دی نقل کوی دخپل پلار څخه دی نقل کوی دابی هریره څخه. اوهمدارنګه روایت ذکرکړی دی النسایې داحمد بن حفص بن عبد الله څخه دی نقل کوی دخپل پلار څخه چی دی بیانقل کوی داباهیم بن طهمان څخه، اودا رنګه روایت یې کړی دی البزار دحدیث دحمادبن سلمه څخه دی نقل کوی دایوب څخه چی دی نقل کوی دمحمد بن سیرین څخه دی نقل دابی هریره څخه دی نقل کوی درسول الله ﷺ څخه هم په دی ذکرسوی طریقی سره، اوپه سیاق ددی کی غرابت دی،
اودارنګه روایت ددی دحدیث دقتاده څخه هم سوی دی چی هغه نقل کړی دی دعقبه بن عبد الغفار څخه اوهغه دابی سعید څخه اودی دنبی ؈ څخه هم په دی ذکرسوی طریقی سره اودارنګه الله ﷻ فرمایلی دی: وَإِذْ قَالَ إِبْرَاهِيمُ لِأَبِيهِ آزَرَ أَتَتَّخِذُ أَصْنَامًا آلِهَةً إِنِّي أَرَاكَ وَقَوْمَكَ فِي ضَلَالٍ مُبِينٍ (سورة الانعام \ ۷۴) داآیت پردی باندی دلالت کوی چی دابراهیم ؈ دپلار نوم آزردی اوجمهور وایی چی دده نسب والا ابن عباس دی اودی وایی چی دده دپلار نوم (تارح) دی اواهل کتاب وایی چی دده دپلار نوم (تارخ) دی په خاء سره اوبعضو داویلی دی چی دا دده لقب دی ولی چی ده به دیوبت عبادت کوی چی دهغه نوم آزر وو.
اوابن جریر ویلی دی: چی ښه خبره داده چی دده دپلار نوم آزردی اوکیدی سی چی دده دپاره دادوه نور نومونه هم وه یاداسی چی دایویې نوم وو اودابل یې لقب ووو اودا کمه خبره یې چی کړیده په دی کی احتمال سته.
بیا الله ﷻ فرمایلی دی: وَكَذَلِكَ نُرِي إِبْرَاهِيمَ مَلَكُوتَ السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضِ وَلِيَكُونَ مِنَ الْمُوقِنِينَ (۷۵) فَلَمَّا جَنَّ عَلَيْهِ اللَّيْلُ رَأَى كَوْكَبًا قَالَ هَذَا رَبِّي فَلَمَّا أَفَلَ قَالَ لَا أُحِبُّ الْآفِلِينَ (۷۶) فَلَمَّا رَأَى الْقَمَرَ

---

(۱). په صحیح البخاری کتاب الاحادیث کی باب قول الله تعالی (واتخذ الله ابراهیم خلیلا) (۲\ ۳۳۵۰) اوپه کتاب التفسیر کی، سورة الشعراء، باب قول الله ﷻ ولاتخزنی یوم یبعثون (۸\ ۴۷۶۸، ۴۷۶۹).

(c) ketabton.com: The Digital Library



بَازِغًا قَالَ هَذَا رَبِّي فَلَمَّا أَفَلَ قَالَ لَئِنْ لَمْ يَهْدِنِي رَبِّي لَأَكُونَنَّ مِنَ الْقَوْمِ الضَّالِّينَ (۷۷) فَلَمَّا رَأَى الشَّمْسَ بَازِغَةً قَالَ هَذَا رَبِّي هَذَا أَكْبَرُ فَلَمَّا أَفَلَتْ قَالَ يَا قَوْمِ إِنِّي بَرِيءٌ مِمَّا تُشْرِكُونَ (۷۸) إِنِّي وَجَّهْتُ وَجْهِيَ لِلَّذِي فَطَرَ السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضَ حَنِيفًا وَمَا أَنَا مِنَ الْمُشْرِكِينَ (۷۹) وَحَاجَّهُ قَوْمُهُ قَالَ أَتُحَاجُّونِّي فِي اللهِ وَقَدْ هَدَانِ وَلَا أَخَافُ مَا تُشْرِكُونَ بِهِ إِلَّا أَنْ يَشَاءَ رَبِّي شَيْئًا وَسِعَ رَبِّي كُلَّ شَيْءٍ عِلْمًا أَفَلَا تَتَذَكَّرُونَ (۸۰) وَكَيْفَ أَخَافُ مَا أَشْرَكْتُمْ وَلَا تَخَافُونَ أَنَّكُمْ أَشْرَكْتُمْ بِاللهِ مَا لَمْ يُنَزِّلْ بِهِ عَلَيْكُمْ سُلْطَانًا فَأَيُّ الْفَرِيقَيْنِ أَحَقُّ بِالْأَمْنِ إِنْ كُنْتُمْ تَعْلَمُونَ (۸۱) الَّذِينَ آمَنُوا وَلَمْ يَلْبِسُوا إِيمَانَهُمْ بِظُلْمٍ أُولَئِكَ لَهُمُ الْأَمْنُ وَهُمْ مُهْتَدُونَ (۸۲) وَتِلْكَ حُجَّتُنَا آتَيْنَاهَا إِبْرَاهِيمَ عَلَى قَوْمِهِ نَرْفَعُ دَرَجَاتٍ مَنْ نَشَاءُ إِنَّ رَبَّكَ حَكِيمٌ عَلِيمٌ (سورة الانعام ۷۵\ ۸۳) اودامقام دده دمناظری دی دخپل قوم سره. اوبیان ددی خبری دی چی دا ستوری چی رڼا ورکونکی دی دالائق دالوهیت نه دی اونه ددی لائق دی چی ددی دالله ﷻ سره یوځای عبادت وسی ، ولی چی دامخلوق دی اومسخردی اوجوړسوی دی کله راوځی اوکله پټیږی، نوورك سی ددی عالم څخه اودالله ﷻ څخه ددی عالم هیڅ یوشی نه سی پټیدلی اونه ورڅخه څه ورکیږی، بلکی هغه ذات دائم اوقائم دی، نسته لائق دعبادت بغیر دهغه نه بل څوك اونسته بل رب اوپالونکی ماسوا دهغه څخه. نوده ته یې اول دستورو دصلاحیت نه لرلو په باره کی ویناوکړه، نوده ورته وویل چی داخو ستوری دی دهغه څخه لړلوړه سپوږمی ده چی هغه ددی څخه هم ډیره رڼاکوی اوتردی ښایسته هم ده، بیادهغه څخه لوړ لمر دی چی هغه ددی دواړو څخه ډیره رڼاکوی، نودایې ورته بیان کړه چی داټول مخلوق دی اومسخردی اومربی دی اومقدردی تریوی اندازی پوری به چلیږی، لکه څنګه چی الله ﷻ فرمایلی دی: وَمِنْ آيَاتِهِ اللَّيْلُ وَالنَّهَارُ وَالشَّمْسُ وَالْقَمَرُ لَا تَسْجُدُوا لِلشَّمْسِ وَلَا لِلْقَمَرِ وَاسْجُدُوا لِلَّهِ الَّذِي خَلَقَهُنَّ إِنْ كُنْتُمْ إِيَّاهُ تَعْبُدُونَ (سورة فصلت \ ۳۷) اوددی دوجی الله ﷻ فرمایلی دی: فَلَمَّا رَأَى الشَّمْسَ بَازِغَةً (سورة الانعام \ ۷۸) یعنی راکښته کونکی: قَالَ هَذَا رَبِّي هَذَا أَكْبَرُ فَلَمَّا أَفَلَتْ قَالَ يَا قَوْمِ إِنِّي بَرِيءٌ مِمَّا تُشْرِكُونَ (۷۸) إِنِّي وَجَّهْتُ وَجْهِيَ لِلَّذِي فَطَرَ السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضَ حَنِيفًا وَمَا أَنَا مِنَ الْمُشْرِكِينَ (۷۹) وَحَاجَّهُ قَوْمُهُ قَالَ أَتُحَاجُّونِّي فِي اللهِ وَقَدْ هَدَانِ وَلَا أَخَافُ مَا تُشْرِكُونَ بِهِ إِلَّا أَنْ يَشَاءَ رَبِّي شَيْئًا (سورة الانعام ۷۸\ ۸۰) یعنی زه څه باك نه ساتم ستاسی په دی خدایانو باندی دکمو چی تاسی عبادت کوی بغیر دالله څخه، ولی چی دانفع اونقصان نه سی رسولی اونه څه اوری اونه څه شی دده په عقل کی راځی، بلکی داهم مسخردی په شان دستورو بلکه داهم جوړسوی دی اوکیندل سوی دی په لاسونوسره اوددی څخه ښکاره دامعلومیږی چی دابیان ددی صرف دستورو په باره کی دی اهل حران والاوو ته، ولی چی

دوی به دستورو عبادت کوی، اودلته یې بل قول ذکر کړی دی چی ده دابیان په هغه وخت کی کړی وو کله چی دی دکلی څخه ووتی اودی وړوکی وو، لکه څه رنګه چی داقول ذکر کړی دی ابن اسحاق اوداسی نورو، اودا ورنژدی دی اسرائیلیاتو ته اوپه دی باندی اعتماد نه سی کیدلی، او لازماً چی بیا دحق مخالفت په کی وی. اوهرڅه چی بابل والاوو نوهغو به دبتانو عبادت کوی، اودا هغه خلګ وه چی دده سره یې مناظره کړی وه په باره دعبادت دبتانو کی اوبتان یې ورلره مات کړی وه اودهغه سپك والی یې کړی وو اوبطلان یې ورلره ذکرکړی وه.

لکه څه رنګه چی الله ﷻ فرمایلی دی: وَقَالَ إِنَّمَا اتَّخَذْتُمْ مِنْ دُونِ اللهِ أَوْثَانًا مَوَدَّةَ بَيْنِكُمْ فِي الْحَيَاةِ الدُّنْيَا ثُمَّ يَوْمَ الْقِيَامَةِ يَكْفُرُ بَعْضُكُمْ بِبَعْضٍ وَيَلْعَنُ بَعْضُكُمْ بَعْضًا وَمَأْوَاكُمُ النَّارُ وَمَا لَكُمْ مِنْ نَاصِرِينَ (سورة العنکبوت\ ۲۵) لکه څه رنګه چی الله ﷻ فرمایلی دی: وَلَقَدْ آتَيْنَا إِبْرَاهِيمَ رُشْدَهُ مِنْ قَبْلُ وَكُنَّا بِهِ عَالِمِينَ (۵۱) إِذْ قَالَ لِأَبِيهِ وَقَوْمِهِ مَا هَذِهِ التَّمَاثِيلُ الَّتِي أَنْتُمْ لَهَا عَاكِفُونَ (۵۲) قَالُوا وَجَدْنَا آبَاءَنَا لَهَا عَابِدِينَ (۵۳) قَالَ لَقَدْ كُنْتُمْ أَنْتُمْ وَآبَاؤُكُمْ فِي ضَلَالٍ مُبِينٍ (۵۴) قَالُوا أَجِئْتَنَا بِالْحَقِّ أَمْ أَنْتَ مِنَ اللَّاعِبِينَ (۵۵) قَالَ بَلْ رَبُّكُمْ رَبُّ السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضِ الَّذِي فَطَرَهُنَّ وَأَنَا عَلَى ذَلِكُمْ مِنَ الشَّاهِدِينَ (۵۶) وَتَاللهِ لَأَكِيدَنَّ أَصْنَامَكُمْ بَعْدَ أَنْ تُوَلُّوا مُدْبِرِينَ (۵۷) فَجَعَلَهُمْ جُذَاذًا إِلَّا كَبِيرًا لَهُمْ لَعَلَّهُمْ إِلَيْهِ يَرْجِعُونَ (۵۸) قَالُوا مَنْ فَعَلَ هَذَا بِآلِهَتِنَا إِنَّهُ لَمِنَ الظَّالِمِينَ (۵۹) قَالُوا سَمِعْنَا فَتًى يَذْكُرُهُمْ يُقَالُ لَهُ إِبْرَاهِيمُ (۶۰) قَالُوا فَأْتُوا بِهِ عَلَى أَعْيُنِ النَّاسِ لَعَلَّهُمْ يَشْهَدُونَ (۶۱) قَالُوا أَأَنْتَ فَعَلْتَ هَذَا بِآلِهَتِنَا يَا إِبْرَاهِيمُ (۶۲) قَالَ بَلْ فَعَلَهُ كَبِيرُهُمْ هَذَا فَاسْأَلُوهُمْ إِنْ كَانُوا يَنْطِقُونَ (۶۳) فَرَجَعُوا إِلَى أَنْفُسِهِمْ فَقَالُوا إِنَّكُمْ أَنْتُمُ الظَّالِمُونَ (۶۴) ثُمَّ نُكِسُوا عَلَى رُءُوسِهِمْ لَقَدْ عَلِمْتَ مَا هَؤُلَاءِ يَنْطِقُونَ (۶۵) قَالَ أَفَتَعْبُدُونَ مِنْ دُونِ اللهِ مَا لَا يَنْفَعُكُمْ شَيْئًا وَلَا يَضُرُّكُمْ (۶۶) أُفٍّ لَكُمْ وَلِمَا تَعْبُدُونَ مِنْ دُونِ اللهِ أَفَلَا تَعْقِلُونَ (۶۷) قَالُوا حَرِّقُوهُ وَانْصُرُوا آلِهَتَكُمْ إِنْ كُنْتُمْ فَاعِلِينَ (۶۸) قُلْنَا يَا نَارُ كُونِي بَرْدًا وَسَلَامًا عَلَى إِبْرَاهِيمَ (۶۹) وَأَرَادُوا بِهِ كَيْدًا فَجَعَلْنَاهُمُ الْأَخْسَرِينَ (سورة الانبیاء ۵۱\۷۰).

اودارنګه الله ﷻ فرمایلی دی: وَاتْلُ عَلَيْهِمْ نَبَأَ إِبْرَاهِيمَ (۶۹) إِذْ قَالَ لِأَبِيهِ وَقَوْمِهِ مَا تَعْبُدُونَ (۷۰) قَالُوا نَعْبُدُ أَصْنَامًا فَنَظَلُّ لَهَا عَاكِفِينَ (۷۱) قَالَ هَلْ يَسْمَعُونَكُمْ إِذْ تَدْعُونَ (۷۲) أَوْ يَنْفَعُونَكُمْ أَوْ يَضُرُّونَ (۷۳) قَالُوا بَلْ وَجَدْنَا آبَاءَنَا كَذَلِكَ يَفْعَلُونَ (۷۴) قَالَ أَفَرَأَيْتُمْ مَا كُنْتُمْ تَعْبُدُونَ (۷۵) أَنْتُمْ وَآبَاؤُكُمُ الْأَقْدَمُونَ (۷۶) فَإِنَّهُمْ عَدُوٌّ لِي إِلَّا رَبَّ الْعَالَمِينَ (۷۷) الَّذِي خَلَقَنِي فَهُوَ يَهْدِينِ (۷۸) وَالَّذِي هُوَ يُطْعِمُنِي وَيَسْقِينِ (۷۹) وَإِذَا مَرِضْتُ فَهُوَ يَشْفِينِ (۸۰) وَالَّذِي يُمِيتُنِي ثُمَّ يُحْيِينِ (۸۱) وَالَّذِي أَطْمَعُ أَنْ يَغْفِرَ لِي

(c) ketabton.com: The Digital Library



خَطِيئَتِي يَوْمَ الدِّينِ (۸۲) رَبِّ هَبْ لِي حُكْمًا وَأَلْحِقْنِي بِالصَّالِحِينَ (سورة الشعراء ۶۹\ ۷۳).
اودارنګه الله ﷻ په بل سورة کی فرمایلی دی: وَإِنَّ مِنْ شِيعَتِهِ لَإِبْرَاهِيمَ (۸۳) إِذْ جَاءَ رَبَّهُ بِقَلْبٍ سَلِيمٍ (۸٤) إِذْ قَالَ لِأَبِيهِ وَقَوْمِهِ مَاذَا تَعْبُدُونَ (۸۵) أَئِفْكًا آلِهَةً دُونَ اللهِ تُرِيدُونَ (۸٦) فَمَا ظَنُّكُمْ بِرَبِّ الْعَالَمِينَ (۸۷) فَنَظَرَ نَظْرَةً فِي النُّجُومِ (۸۸) فَقَالَ إِنِّي سَقِيمٌ (۸۹) فَتَوَلَّوْا عَنْهُ مُدْبِرِينَ (۹۰) فَرَاغَ إِلَى آلِهَتِهِمْ فَقَالَ أَلَا تَأْكُلُونَ (۹۱) مَا لَكُمْ لَا تَنْطِقُونَ (۹۲) فَرَاغَ عَلَيْهِمْ ضَرْبًا بِالْيَمِينِ (۹۳) فَأَقْبَلُوا إِلَيْهِ يَزِفُّونَ (۹٤) قَالَ أَتَعْبُدُونَ مَا تَنْحِتُونَ (۹۵) وَاللهُ خَلَقَكُمْ وَمَا تَعْمَلُونَ (۹٦) قَالُوا ابْنُوا لَهُ بُنْيَانًا فَأَلْقُوهُ فِي الْجَحِيمِ (۹۷) فَأَرَادُوا بِهِ كَيْدًا فَجَعَلْنَاهُمُ الْأَسْفَلِينَ (سورة الصافات ۸۳\ ۹۸) .
اوس دلته الله ﷻ دابراهیم ؑ انکار بیان کی اوداهم بیانوی چی ده خپل قوم ته انکار وکی دعبادت دبتانو اوڅه رنګه یې ورته په سپك نظر باندی وکتله اونقصانات یې ورلره بیان کړه، نو ویې ویل: مَا هَذِهِ التَّمَاثِيلُ الَّتِي أَنْتُمْ لَهَا عَاكِفُونَ (سورة الانبیاء ۵۳). اونه وو ددوی سره دلیل مګر دابه یې ویله چی زموږ پلار نیکه په دی دین باندی وه اوهغوی هم ددی بتانو عبادت کوی: قَالُوا وَجَدْنَا آبَاءَنَا لَهَا عَابِدِينَ (سورة الانبیاء \ ۵۴) لکه څه رنګه چی الله ﷻ فرمایلی دی: إِذْ قَالَ لِأَبِيهِ وَقَوْمِهِ مَاذَا تَعْبُدُونَ (۸۵) أَئِفْكًا آلِهَةً دُونَ اللهِ تُرِيدُونَ (۸٦) فَمَا ظَنُّكُمْ بِرَبِّ الْعَالَمِينَ (سورة الصافات ۸۵\ ۸۷) قتاده ویلی دی: نو ستاسی څه خیال دی چی ستاسی سره به څه کوی په ورځ دقیامت کی چی تاسی دالله سره ووینی اوحال داچی تاسی عبادت دنورو کړی دی؟ اودایې ورته هم وویل: قَالَ هَلْ يَسْمَعُونَكُمْ إِذْ تَدْعُونَ (۷۲) أَوْ يَنْفَعُونَكُمْ أَوْ يَضُرُّونَ (۷۳) قَالُوا بَلْ وَجَدْنَا آبَاءَنَا كَذَلِكَ يَفْعَلُونَ (سورة الشعراء ۷۲\ ۷۴) دوی ورته تسلیم سوه چی دانه نفع رسوی چاته اونه ضرر رسوی اونه څه اوری اونه څه وینی، مګر دوی ته په دی کارباندی باعث کوونکی اقتدا ددوی وه په خپلو پلرونو اونیکه ګانو په سی چی جاهلان وه. نوددی وجی ورته دوی وویل چی: قَالَ أَفَرَأَيْتُمْ مَا كُنْتُمْ تَعْبُدُونَ (۷۵) أَنْتُمْ وَآبَاؤُكُمُ الْأَقْدَمُونَ (سورة الشعراء ۷۵\ ۷۷) اودا دلیل قاطع دی دوی لره په بطلان ددوی دکار باندی اوده ورځخه ځان لیری کی اونقصانات یې ورته پکښی راوسته، نوکله چی دی بتانو ضرر رسولای نوده ته به یې ضرر رسولی وای، اوکه اثریې کولی نوپه ده باندی به یې څه اثرکړی وای: قَالُوا أَجِئْتَنَا بِالْحَقِّ أَمْ أَنْتَ مِنَ اللَّاعِبِينَ (سورة الانبیاء \۵۵) اودوی ورته وویل چی: داته چی کمی خبری کوی زموږ دآلهه وو په باره کی اونقصانات ورلره بیانوی اوپه سپك نظر ورته ګوری آیادا ته په حق اورشتیاسره کوی اوکه ته هیسی ټوقی اومسخری کوی؟ قَالَ بَلْ رَبُّكُمْ رَبُّ السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضِ الَّذِي فَطَرَهُنَّ وَأَنَا عَلَى ذَلِكُمْ مِنَ الشَّاهِدِينَ (سورة الانبیاء \

(c) ketabton.com: The Digital Library



۵۶) دوی ورته وویل چې زه داپه رښتیا وایم اوپه حق سره یې وایم. یقینا ستاسی رب الله دی هغه ذات چې دهغه څخه ماسوا بل ذات نسته اوبل الله نسته هغه ستاسی رب دی او رب دټولو شیانو دی، هغه جوړونکی دآسمانونو اودمزکو دی، پیدا کوونکی دی ددی په داسی شان سره چې داسی پیداکونکی بل نسته نودهغه ذات مستحق دعبادت دی اویك او تنها دی هیڅ شریك ورلره نسته، اوزه په دی باندی شاهد یم.
اوداقول دده: وَتَاللَّهِ لَأَكِيدَنَّ أَصْنَامَكُمْ بَعْدَ أَنْ تُوَلُّوا مُدْبِرِينَ (سورة الانبیاء \ ۵۷) یعنی ده قسم واخستی چې دی به چم جوړوی ددی بتانو دماتولو دپاره وروسته دتلو ددوی څخه خپل عید ګاه ته. ویل سوی دی چې دایې دځان سره په زړه کی پټ وویل اوابن مسعود ویلی دی: بعضو په کی داخبره ددی واوریده. او وه ددوی په هرکال کی یواختر چې دوی به دښار منځ ته ووتل، نوپلار ورته وویل چې راځه نوده وویل چې زه ناجوړی یم. لکه څه رنګه چې الله ﷻ فرمایلی دی: فَنَظَرَ نَظْرَةً فِي النُّجُومِ (۸۸) فَقَالَ إِنِّي سَقِيمٌ (سورة الصافات ۸۸\ ۸۹) ده مخکی والی وکی ورته په خپل کلام کی چې دی خپل مقصود ته ورسیږی چې هغه سپك والی دبتانو دی اونصرت دالله ﷻ ددین دی اوباطلول دهغه عبادت دی چې دوی یې کوی چې عبادت دبتانو وو اوددی اهانت کول یعنی سپك والی کول په داسی طریقی چې دوی ته علم وسی چې دالاره باطله ده. نوکله چې دوی ووته خپل عیدګاه ته، اودی پاته سوه په خپل کلی کی: فَرَاغَ إِلَى آلِهَتِهِمْ (سورة الصافات \ ۹۱) یعنی دی ورلره ورلی په منډه اوپه پټه نوپیدایې کړل داپه یوغټ ځای کی، او ددوی مخ ته هر قسم خوراکونه پراته وه ددی دپاره چې په دی سره ورته نژدیکت وسی نوده ورته وویل په سپك والی سره چې آیاتاسی نه خوری: فَقَالَ أَلَا تَأْكُلُونَ (۹۱) مَا لَكُمْ لَا تَنْطِقُونَ (۹۲) فَرَاغَ عَلَيْهِمْ ضَرْبًا بِالْيَمِينِ (سورة الصافات ۹۱\ ۹۳) ولی چې دی قوی هم وو اوتیز هم وو اودرد هم وو نومات یې کړه په هغه اوسپنه چې دده په لاس کی وه لکه څه رنګه چې الله ﷻ فرمایلی دی (فَجَعَلَهُمْ جُذَاذًا) (سورة الانبیاء \ ۵۸) ویې ګرځول داټول نیمګړی اوټول یې مات کړه: فَجَعَلَهُمْ جُذَاذًا إِلَّا كَبِيرًا لَهُمْ لَعَلَّهُمْ إِلَيْهِ يَرْجِعُونَ (سورة الانبیاء \ ۵۸) ویل سوی دی چې ده هغه اوسپنه ددی غټ بت په لاس کی کښیښووله ددی دپاره چې هغوی دا ووایی چې دی غټ ته غیرت ورغلی دی په دی خبره باندی چې دده سره ددی واړو بتانو عبادت ولی کول کیږی پس کله چې دوی بیرته راله داختر څخه اووی لیدل هغه څه چې ددوی په معبودانو باندی سوی وه: قَالُوا مَنْ فَعَلَ هَذَا بِآلِهَتِنَا إِنَّهُ لَمِنَ الظَّالِمِينَ (سورة الانبیاء\۵۹) او په دی کارکی ددوی دپاره ښکاره دلیل وو که چیری دوی پوهیده، اوهغه داچې کم کار ددوی په خدایانوباندی سوی وو، که چیری

(c) ketabton.com: The Digital Library



داآلهه وی نودوی به دځان څخه مدافعت کړی وای دوی داخبره وکړه چی زموږ په دی خدایانو باندی دا چاکړی دی داخبره یې دډیری ناپوهی اودجهالت دوجی څخه وکړه: قَالُوا سَمِعْنَا فَتًى يَذْكُرُهُمْ يُقَالُ لَهُ إِبْرَاهِيمُ (سورة الانبیاء \ ۶۰) یعنی دده نوم یې ځکه واخیستی چی دی به ورلره نقصانات ذکرکول اوعیبونه به یې ورلره بیانول، نودا وو چی دلته پاته سوی وه اوده مات کړی دی. اوبناء په قول دابن مسعود سره، دوی ذکر دابرهیم ﷺ وکی ددی وجی څخه چی هغه ویلی وه: وَتَاللهِ لَأَكِيدَنَّ أَصْنَامَكُمْ بَعْدَ أَنْ تُوَلُّوا مُدْبِرِينَ (سورة الانبیاء \ ۵۷) قَالُوا فَأْتُوابِهِ عَلَى أَعْيُنِ النَّاسِ لَعَلَّهُمْ يَشْهَدُونَ (سورة الانبیاء ۶۱) یعنی په غټ میدان کی دشاهدانو سره دی راوستل سی چی داشاهدان دی شاهدی ورکی چی ده داخبره کړیده، او ددی دپاره چی ددی قصاص تعیین وکی چی بدل ورڅخه ددی واخلو. اوداوو غټ مقصد دابراهیم ﷺ چی داټول خلګ یومیدان ته راټول سی. نوچی قائم کړی په ټولو باندی حجت دبطلان دعبادت دبتانو. لکه څنګه چی موسٰی ﷺ فرعون ته ویلی وه: مَوْعِدُكُمْ يَوْمُ الزِّينَةِ وَأَنْ يُحْشَرَ النَّاسُ ضُحًى قَالُوا أَأَنْتَ فَعَلْتَ هَذَا بِآلِهَتِنَا يَا إِبْرَاهِيمُ (۶۲) قَالَ بَلْ فَعَلَهُ كَبِيرُهُمْ هَذَا (سورة طه\ ۵۹) نوکله چی ټول راټول سوه اوابراهیم ﷺ یې راوستی لکه څنګه چی دوی ویلی وه: ویل سوی دی چی معنٰی ددی داسی ده: زه دی غټ ددوی باعث کړی وم پرماتولو ددوی باندی، اودوی ته یې وړاندی والی کړی دی په دی قول کی: فَاسْأَلُوهُمْ إِنْ كَانُوا يَنْطِقُونَ (سورة الانبیاء \۶۳).

اوداخبره یې دوی ته ځکه وکړه چی دوی ته داپته ولګیږی چی دابتان خبری نه سی کولی، نودوی به اعتراف وکی چی داهم جماددی په شان دنورو جماداتو: فَرَجَعُوا إِلَى أَنْفُسِهِمْ فَقَالُوا إِنَّكُمْ أَنْتُمُ الظَّالِمُونَ (سورة الانبیاء \ ۶۴) یعنی دوی راله خپل ځان ته په ملامتیا سره نو ویې ویل چی: تاسی په خپله ظالمان یاست. یعنی دامو پرینښی وه اوددی دحفاظت دپاره مو ثوك مقررکړی نه وو: ثُمَّ نُكِسُوا عَلَى رُءُوسِهِمْ (سورة الانبیاء \ ۶۵).

السدی ویلی دی: چی دوی راله فتنی ته نوپه دی معنٰی سره به داسی سی (اِنَّكُمْ اَنْتُمُ الظّٰلِمُوْنَ) یعنی تاسی ظالمان یاست ددی په عبادت کی. اوقتاده ویلی دی چی: داقوم په حیرت کی واقع سو اوابراهیم ﷺ ته یې وویل چی ای ابراهیمه تاته خوداعلم سوی دی چی دوی خبری نه سی کولی نوبیاته زموږ څخه داپوښتنه ولی کوی چی موږ دده څخه دا پوښتنه وکړو؟ نوپه دی وخت کی ورته ابراهیم خلیل الله وویل: أَفَتَعْبُدُونَ مِنْ دُونِ اللهِ مَا لَا يَنْفَعُكُمْ شَيْئًا وَلَا يَضُرُّكُمْ (٦٦) أُفٍّ لَكُمْ وَلِمَا تَعْبُدُونَ مِنْ دُونِ اللهِ أَفَلَا تَعْقِلُونَ (سورة الانبیاء ۶۶\ ۶۷) لکه څنګه چی الله ﷻ فرمایلی دی: فَاَقْبَلُوْٓا اِلَيْهِ يَزِفُّوْنَ (سورة الصافات \ ۹۴).

(c) ketabton.com: The Digital Library



مجاهد ویلي دي چې دوی ورته منډې وهلې نوابراهیم ؑ ورته وویل چې: أَتَعْبُدُونَ مَا يَنْحِتُونَ (سورة الصافات \ ۹۵) یعنې تاسې څه رنګه عبادت کوی دهغه بتانو چې تاسې په خپل لاسونو هغه جوړکړې دي دکاڼو څخه اودلرګو څخه اوتاسې يې په خپل شکل اوصورت جوړوی چې څه رنګه ستاسې خوښه وی هغه شان يې جوړوی: وَاللَّهُ خَلَقَكُمْ وَمَا تَعْمَلُونَ (سورة الصافات \ ۹۶)، دلته (ما) مصدریه ده په معنٰی دالذی سره دی نومقتضٰی دکلام دا سوه چې تاسې په خپله مخلوق یاست، اودابتان هم مخلوق دی نوڅه رنګه یومخلوق دبل مخلوق عبادت کوی؟ نوعبادت ستاسې دوی ته داښه نه دی دعبادت ددوی څخه تاسې ته، اوداباطله ده، نودابل هم باطله ده، ولې چې عبادت نه صحیح کیږی مګر خالق ته صرف چې دهغه هیڅ قسم شریك نسته: قَالُوا ابْنُوا لَهُ بُنْيَانًا فَأَلْقُوهُ فِي الْجَحِيمِ (۹۷) فَأَرَادُوا بِهِ كَيْدًا فَجَعَلْنَاهُمُ الْأَسْفَلِينَ (سورة الصافات ۹۷\ ۹۸) دوی واوښته دجنګ څخه او دمناظرې څخه ولې چې پاته راله په خبروکې، او ددوی سره څه حجت اودلیل پاته نه سو اونه څه شبهې چې دوی استعمال کړی وی دپاره دکامیابۍ خپلې، نوپاته راوسته دوی الله ﷻ، اوخپله کلمه يې په دوی باندې وړاندې او لوړه کړه لکه څنګه چې الله ﷻ فرمایلي دی: قَالُوا حَرِّقُوهُ وَانْصُرُوا آلِهَتَكُمْ إِنْ كُنْتُمْ فَاعِلِينَ (۶۸) قُلْنَا يَا نَارُ كُونِي بَرْدًا وَسَلَامًا عَلَى إِبْرَاهِيمَ (۶۹) وَأَرَادُوا بِهِ كَيْدًا فَجَعَلْنَاهُمُ الْأَخْسَرِينَ (سورة الانبیاء ۶۸ \ ۷۰) اودوی شروع سوه چې لرګی به يې راټولول چې دکم ځای څخه به ورته ورکول کیده، نودوی وه څه وخت چې دالرګی به يې راټولول تردې چې ددوی څخه به یوه ښځه ناجوړه سوه نوهغې به نذرکوی چې که زه روغه سومه نوزه به یوه ګیډۍ لرګی بارکم دابراهیم ؑ دسوزلو دپاره نوبیا دوی یوه اوږده ستنه جوړه کړه اوپه هغه کې يې داخشاك کښېښوولې اواور يې ورته ورکی نودا اور دومره زیات سو چې دومره اورچا مخکې نه وو لیدلی، بیايې کښېښووی ابراهیم ؑ په خله دمنجنیق کې چې داجوړکړې وو داکرادو څخه یوسړی چې نوم يې (هیزن) وو اودا اول هغه سړی وو چې منجنیق (توپ) يې جوړکړې وو، نوپر ده باندې الله ﷻ مځکه وچوله اودی کښته روان دی ترقیامته پورې. بیايې دی راونیوی چې تړل به يې اوده به ویل: لااله الا انت سبحانك رب العالمین، لك الحمد ولك الملك، لاشريك لك. نوبیاچې يې کله ابراهیم ؑ دتوپ په خوله کې کښېنوی تړل سوی بیايې وویشتی اورته اوده به ویل حسبنا الله ونعم الوکیل، لکه څه رنګه چې ددې روایت ذکرکړې دی بخاری (۱) دابن عباس څخه چې دی وایي چې ابراهیم

(۱). صحیح البخاری: کتاب التفسیرکی، سورة آل عمران، باب (الذین قال لهم الناس ان الناس قدجمعوا لکم) الایة (۸\ ۴۵۶۳).

(c) ketabton.com: The Digital Library



ﷺ ویلی وه. حسبنا الله ونعم الوکیل، داویلی وه ابراهیم ﷺ په هغه وخت کی کله چی اور ته وغورځول سو، اوداویلی دی محمد ﷺ په هغه وخت کی کله چی ورته خلګو داوویل: الَّذِينَ قَالَ لَهُمُ النَّاسُ إِنَّ النَّاسَ قَدْ جَمَعُوا لَكُمْ فَاخْشَوْهُمْ فَزَادَهُمْ إِيمَانًا وَقَالُوا حَسْبُنَا اللهُ وَنِعْمَ الْوَكِيلُ (۱۷۳) فَانْقَلَبُوا بِنِعْمَةٍ مِنَ اللهِ وَفَضْلٍ لَمْ يَمْسَسْهُمْ سُوءٌ وَاتَّبَعُوا رِضْوَانَ اللهِ وَاللهُ ذُو فَضْلٍ عَظِيمٍ (سورة آل عمران ۱۷۳\ ۱۷۴) اوابو یعلی ویلی دی په نقل کولوسره دابوهشام الرفاعی څخه دی نقل کوی داسحاق بن سلیمان څخه دی نقل کوی دابی جعفر الرازی څخه دی نقل کوی دعاصم بن ابی النجود څخه دی نقل کوی دابی صالح څخه دی نقل کوی دابی هریره څخه دی وایی چی ویلی دی رسول الله ﷺ : کله چی ابراهیم ﷺ اورته وغورځول سونوهغه داوویل. ای ربه زماته په آسمان کی یواځی یې اوځه په مځکه کی یواځی ستاعبادت کوم ([1]) ویلی دی علی بن ابی طالب: یعنی داسی اور چی ابراهیمﷺ ته ضرر ونه رسوی، او ویلی دی ابو العباس اوابو العالیه: که چیری الله ﷻ دانه وی فرمایلی: قُلْنَا يَا نَارُ كُونِي بَرْدًا وَسَلَامًا عَلَى إِبْرَاهِيمَ نوابراهیم ﷺ ته به ضرر رسولی وای یخ والی داور.

اوکعب الاحبار ویلی دی: په دغه ورځ مزکی والو داور څخه فائده نه سوه اخستلی اوبل شی به یې نه سوزی ماسوا دلرګی څخه: روایت ذکرسوی دی چی جبریل ﷺ دده سره وو اودده خولی به یې وچولی اوده ته داور څخه هیڅ قسم تکلیف نه دی رسیدلی ماسوا ددې څخه اوالسدی ویلی دی: دده سره ملائکه دسایی هم وه، اوابراهیم ﷺ په دی اورکی دننه په شنه باغچه کی پروت وو، اوخلګو ورته کتل خوور رسیدی نه سوه، ښه کلمه هغه چی ویلی ده پلار دابراهیم ﷺپه هغه وخت کی چی خپل زوی یې په داسی حال کی ولیدی: ډیرښه رب دی ستا ای ابراهیمه. اودارنګه ابن عساکر روایت ذکرکړی دی دعکرمه څخه، چی مور دابراهیم ﷺ وکتله خپل زوی ته نو اوازیې ورپسی وکی: ای زویه زما: زه غواړم چی ستا خواته درسم نوخپل الله ته ووایه چی زماڅخه داکم اور چی ستا پرشاوخوا دی دا لیری کی چی زه درسم، نوده ورته وویل چی ښه نوداهم ورله اور ورته هیڅ ونه ویل، نوکله ورله نوخپل زوی یې مچ کی اوغاړه یې پر راوګرځول اوبیا بیرته ورڅخه راله. اودمنهال بن عمر څخه نقل دی چی دی وایې: خبر ورکول سوی دابراهیمؑ څخه چی ده (۴۰) ورځی تیری

---

([1]). حلیة الاولیاء (۱\ ۱۹) اوهیثمی ویلی دی په المجمع کی (۸\ ۲۰۲) راوی ددی البزاردی، اوپه دی روایت کی عاصم بن عمر بن حفص بن عاصم بن عمر بن الخطاب ذکردی، اوده ته ابن حبان ثقه ویلی دی. اودایې ویلی دی چی داخطا کیږی اوکله مخالفت هم کوی اوجمهورو ورته ضعیف ویلی دی اوابن حجر ویلی دی په التقریب کی (۳۰۲۸) عاصم بن عمر بن حفص بن عاصم بن عمربن الخطاب العمری اوابو عمر المدنی دادواړه ضعیف دی دقرن سابع څخه، اودی ورور دابو عبیدالله العمری دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



کړی دی یا (۵۰) ورځی تیری کړی دی په دی اورکی، اودی ابراهیم ﷺ ویلی دی چی زما دا (۴۰) یا(۵۰) ورځی ژوندپه اورکی داسی ښی ورځی وی چی ماداسی ورځی په خپل زندګی کی نه دی تیری کړی اوزه داغواړم چی زماټوله زندګی دی داسی ارامه وی لکه څه رنګه چی په اور کی وه. دالله ﷻ رحمتونه اودرودونه دی وی پرده باندی. نودوی داغوښتل چی کامیاب سی خو الله ﷻ ذلیله اورسواکړه الله ﷻ فرمایلی دی: وَأَرَادُوا بِهِ كَيْدًا فَجَعَلْنَاهُمُ الْأَخْسَرِينَ (سورة الانبیاء \ ۷۰) اوپه بل آیت کی (اَلْاَسْفَلِیْنَ) توری دی، (سورة الصافات \ ۹۸) نوپه دی دنیاکی هم خوار اوذلیله سوه اوپه آخرت کی ددوی دپاره داسی اوردی چی هغه اور ددوی دپاره یخ اوسلامتیا والانه دی، بلکی هغه اورداسی دی لکه څه رنګه چی الله ﷻ فرمایلی دی: إِنَّهَا سَاءَتْ مُسْتَقَرًّا وَمُقَامًا (سورة الفرقان\ ۶۶) امام بخاری ویلی دی په نقل کولو سره دعبید الله بن موسیٰ څخه دی نقل کوی دابن اسلام څخه دی وایی چی موږ ته خبراکړی دی ابن جریر دی نقل کوی دعبد الحمید بن جبیر څخه دی نقل کوی دسعید بن المسیب څخه دی نقل کوی دام شریك څخه دی وایی چی رسول الله ﷺ امر وکی په قتل دکربوړی باندی، ولی چی ده دابراهیم ﷺ اور پوه کی ([1]) اوراوی ددی مسلم هم دی دحدیث دابن جریج څخه اوتخریج ددی نسايي هم کړی دی اوابن ماجه هم کړی دی دحدیث دسفیان بن عیینه څخه اودوی دواړو دعبد الحمید بن جبیربن شبیه څخه هم په دی روایت سره نقل کړی دی. اواحمد ویلی دی ([2]) په نقل کولو سره دمحمد بن بکر څخه دی نقل کوی دابن جریج څخه دی وایی چی ماته خبر راکړی دی عبدالله بن عبدالرحمٰن بن ابی امیه، چی نافع مولی دابن عمر ته خبر ورکړی دی عائشه دا وایی چی فرمایلی دی رسول الله ﷺ: تاسی مړکی کربوړی ولی چی دی به اور پف کوی په ابراهیم ﷺ باندی، نودی وایی چی وه عائشه رضي الله عنها چی داکربوړی به یې مړکوی. اوویلی دی احمد په نقل کولو سره داسماعیل څخه دی نقل کوی دایوب څخه دی دنافع څخه، چی یوه ښځه داخله سوه په عائشه رضي الله عنها باندی نوده ولیده دده په کورکی یوه لیندی زوړنده سوی وه نو پوښتنه یې وکړه چی په دی باندی څه کوی نوعائشی رضي الله عنها ورته وفرمایل چی په دی باندی موږ کربوړی مړکوو، ولی چی رسول الله ﷺ موږ ته داخبره بیان کړیده چی ابراهیم ﷺ کله اور ته غورزول سوی وو نو نه وو پرمخ دمزکی باندی داسی یوځوان مګر هغه به ددی اور

---

([1]). صحیح البخاری: کتاب احادیث الانبیاء کی، باب قول الله تعالی (واتخذ الله ابراهیم خلیلا) (۶\ ۳۳۵۹) او مسلم په کتاب السلام کی ، باب استحباب قتل الوزغ (۱۴\ ۲۳۶) اوالنسايي په کتاب مناسك الحج کی، باب قتل الوزغ (۵\ ۲۸۸۵) اوابن ماجه په کتاب الصیدکی، باب قتل الوزغ (۲\ ۳۲۲۸).
([2]). احمد (۶\ ۲۰۰).

(c) ketabton.com: The Digital Library



دبندولو کوشش کوی، اوکربوړی به دا اور نورهم تیزوی اوپف کوی به یې، نوموړ ته امر وکی رسول الله ﷺ ددی دوژلو (۱) یواځی والی کړی دی احمد په دی باندی ددی دواړو وجوهو څخه. اوویلی دی امام احمد په نقل کولو سره دعفان څخه دی نقل کوی دنافع څخه دی نقل کوی دثمامه چی مولاته ده دفاکه بن مغیره، دی ویلی دی چی: زه داخله سوم په کور دعائشه رض کی نوما ولیده یوه لیندی چی ځړیده په کور ددوی کی، نوما وویله چی ای ام المؤمنین، په دې لیندۍ څه کوی، نوهغې راته وویل چی دا دکربوړو دمړه کولو دپاره ده ولی چی رسول الله ﷺ موږ ته داخبره بیان کړیده چی: کله ابراهیم علیه السلام اورته وغورځول سو نونه وو په مخ دمزکی باندی یوحیوان هم مگر هغه به دا اوربندوی غیر دکربوړی څخه چی هغه به دا اور پوکوی چی تیزسی، نوموړ ته امروکی رسول الله ﷺ دده په وژلو باندی. (۲)

## مناظره دابراهیم علیه السلام دباداشاه دوقت سره

دارنگه الله جل جلاله فرمایلی دی: أَلَمْ تَرَ إِلَى الَّذِي حَاجَّ إِبْرَاهِيمَ فِي رَبِّهِ أَنْ آتَاهُ اللهُ الْمُلْكَ إِذْ قَالَ إِبْرَاهِيمُ رَبِّيَ الَّذِي يُحْيِي وَيُمِيتُ قَالَ أَنَا أُحْيِي وَأُمِيتُ قَالَ إِبْرَاهِيمُ فَإِنَّ اللهَ يَأْتِي بِالشَّمْسِ مِنَ الْمَشْرِقِ فَأْتِ بِهَا مِنَ الْمَغْرِبِ فَبُهِتَ الَّذِي كَفَرَ وَاللهُ لَا يَهْدِي الْقَوْمَ الظَّالِمِينَ (سورة البقرة\ ۲۵۸) دلته الله جل جلاله ذکر دمناظری دابراهیم علیه السلام کوی دهغه ظالم بادشاه سره چی ځان ته یې دعوه دالوهیت کړی وه، نوابراهیم علیه السلام دده دادعوه باطله کړه په خپل دلیل سره، اوبیان یې کی دده داجهالت او ناپوهی، اوخپل دلیل یې پرقائم کی، مفسرینو اوداسی نورو علماوو چی انساب والا دی ویلی دی: اودا بادشاه بادشاه دبابل وو.

اونوم دده نمرود بن کنعان بن کوش بن سام بن نوح علیه السلام وو. داقول مجاهدکړی دی. اونورو داویلی دی چی نمرود بن فالح بن عابر بن صالح بن ارفخشذ بن سام بن نوح علیه السلام، مجاهد اونورو داویلی دی: اودی وو یوبادشاه دبادشاهانو ددنیا څخه، ولی چی په دی ټوله دنیا باندی څلورو کسانو بادشاهی کړیده: په دی کی دوه مسلمانان وه اودوه کافران وه، هرڅه چی دوه مسلمانان وه (ذوالقرنین، سلیمان) وه اوهرڅه چی دوه کافران وه هغه (نمرود، بختنصر) وو، اوداپې هم ذکرکړی دی چی نمرود (۴۰۰) کاله بادشاهی کړیده، اودی په دی خپلی بادشاهی کی ډیر باغی سوی وو اوډیر ظالم هم وو، اوددنیا ژوند ته یې ډیر ښه والی ورکړی وو. اوکله چی ده ته ابراهیم علیه السلام دعوت ورکی دالله جل جلاله طرف ته نوده انکار وکی ولی چی ده دنیاته ډیر ترجیح ورکړی وه اوډیر اوږده اوږده امیدونه یې ساتلی وه نوده دابراهیم علیه السلام سره په دی خبری کی جنگ اوجگړه شروع کړه، اوځان ته یې درب دعوه کوله.

---

(۱). احمد (۲\ ۲۱۷).

(۲). (۲\ ۸۳) ابن ماجه: کتاب الصید، باب قتل الوزغ (۲\ ۳۲۳۱).

(c) ketabton.com: The Digital Library



نوکله چی ورته ابراهیم ﷺ وفرمایل: رَبِّيَ الَّذِي يُحْيِي وَيُمِيتُ قَالَ أَنَا أُحْيِي وَأُمِيتُ قتاده او السدی اومحمد ابن اسحاق ویلی دی چی ده داخبره په هغه وخت کی وکړه کله چی نمرود دوه کسان راوسته اویویې ورڅخه مړکی اوبل یې پریښووی نودا داسی سو لکه چی یویې ژوندی کی اوبل یې مړکی.
اودابراهیم ﷺ داسی مرادنه وو په کمی طریقی چی ده داکار وکی بلکی په نوی پیدا کولو سره اونوی وجود ورکولو سره یې مراد وو اوابراهیم ﷺ ددی آیت څخه ځکه استدلال وکی چی دامړه کول اوژوندی کول اوداهوا اوبارانونه اولمر راخیژول اوداهرڅه مسخر کول خو یو جوړونکی اوخالق غواړی نودا آیت پردی باندی دلالت کوی چی په خارج کی ددی دپاره فاعل سته چی هغه الله ﷻ دی اوپیدائش ددی حیوان وو په خارج کی دایومنظر دی اومړ کول ددی هم یو منظردی اودلیل دی په وجود دخالق باندی چی هغه الله ﷻ دی نوددی دوجی ابراهیم ﷺ داوفرمایل: رَبِّيَ الَّذِي يُحْيِي وَيُمِيتُ نوقول ددی جاهل بادشاه: قَالَ أَنَا أُحْيِي وَأُمِيتُ که چیری مراد ددی قول ددی بادشاه څخه دا سی چی په خارج کی داڅه مناظر او مشاهد دی ددی خالق زه یم نوده کبروکی اودا دده ضد اوعناد دی اوکه چیری دایې په مقابل دهغه کی ویلی یې کم چی مخکی دقتاده اوالسدی اومحمدبن اسحاق په قول کی تیرسوه نوده دابراهیم ﷺ جواب ورنه کی اوپاته رالی دهغه په مقابل کی اوددی څخه بغیر ابراهیم ﷺ ده ته بله خبره هم وکړه ددی دپاره چی دده سره څه دلیل پاته نه سی په دعوه دالوهیت کی نوابراهیم ﷺ ورته وویل چی: فَإِنَّ اللهَ يَأْتِي بِالشَّمْسِ مِنَ الْمَشْرِقِ فَأْتِ بِهَا مِنَ الْمَغْرِبِ یعنی دالمر چی مسخر دی هره ورځ راخیژی اوبیا لویږی دمشرق څخه راوځی اوپه مغرب کی کښته کیږی نوهغه ذات دی چی دایې مسخرکړی دی اوپه دی باندی قادری دی اوهغه ذات دی چی په هرڅه باندی قدرت لری اودهرشی پیداکونکی دی، نوکه ته چیری یې په هغه شان چی ته یې دعوه کوی چی ته مړه کول اوژوندی کول کوی نودا دمغرب لخوا څخه راخیژوه که ته په دی باندی قادریې، اوکه تا دا کار ونه کی نوداته چی څه وایی دا دروغ دی اوباطل دی او ددی خبری تاته هم پته سته اوټولو خلګو ته پته سته چی ته دانه سی کولی اونه په دی باندی قادریې، بلکی ته ددی څخه هم عاجزه یې چی یومچ پیداکی یاپه هغه باندی طاقت ولری، نوابراهیم ﷺ ورته بیان کړه دهغه دعوه اودا دعوه یې ور باطله کړه اوهغه لاره اومسلك یې هم باطل ور وګرځوی دقوم په مخ کی، نوددی سره داسی یوه خبره هم پاته نه سوه چی دابراهیم ﷺ جواب یې ورکړی وای بلکه چپ پاته سو اوخبری منقطع اونیمګړی پاته سوی اوددی وجی څخه الله ﷻ فرمایلی دی: فَبُهِتَ الَّذِي كَفَرَ وَاللهُ لَا يَهْدِي الْقَوْمَ الظَّالِمِينَ (سورة البقره \ ۲۵۸).

(c) ketabton.com: The Digital Library



اوذکرکړی دی السدی چې دابراهیم ﷺ اودنمرود دامناظره دهغه ورځ شخه وه کله چې ابراهیم ﷺ داور څخه راووتی، اوپه دغه ورځ یې خلګ نه وه راټول کړی، نووه ددوی په مینځ کی دامناظره. اودارنګه روایت ذکرکړی دی عبدالرزاق دمعمر څخه دی نقل کوی دزید بن اسلم څخه، دی وایی چې دنمرود سره خوراکه وه چې پرخلګو باندی یې بیشله نو دخلګو ډلی به راتلی اوخوراکه به یې وړله تردی چې ابراهیم ﷺ ورته په یوی ډلی کی رالی نوده ته یې خوراکه ورنه کړه اوپه هغه دوران یې ورسره مناظره وکړه نوابراهیم ﷺ بیرته کورته راروان سو اوورسره هیڅ هم نه وه نوپه لاره کی یې دخاورو څخه دواړی بوری ډکی کړی اودایې وویل چې په دی به خپل کور والا مشغول کړم اوکورته رالی اوباریې کښیښنووی اوبیده سو نودده ښځه ساره راله اودایوه بوری یې خلاصه کړه نودښو خوراکونو څخه ډکه وه نودهغه څخه یې ورلره خوراکه پخه کړه کله چې ابراهیم ﷺ راکښینستی نو دوی داخوراك برابر کړی وو نوده پوښتنه ورڅخه وکړه چې دامو دکم ځای څخه کړه، نو ښځی ورته وویل چې داهغه دی چې تاراوړی وه، نوده ته پته ولګیده چې دا دالله ﷻ دخوا څخه دوی ته رزق ورکول سوی دی. زید ابن اسلم ویلی دی: اوولیږله الله ﷻ دی ظالم بادشاه ته یوه فرشته چې په الله ﷻ باندی ایمان راوړی نوده ورته انکار وکی، بیایې ورته په دوهم وار وویل نوبیایې انکاروکی بیایې ورته په دریم وار وویل نوبیایې هم انکار وکی اودایې وویل چې ته خپل ډلی راټولی کړه اوزه به خپل ډلی راټولی کړم. نونمرود راټول کی خپل لښکر دلمرخاته په وخت کی، نوالله ﷻ ورته دغوماشو یوه ډله راولیږله په دی اندازی چې دلمر سترګه یې هم ونه لیدله، اوالله داپر مسلط کړه نو ددوی څخه یې داغوښی داسی وخوړی چې صرف هډوکی یې پاته سوی اوددی څخه یوه ددی بادشاه په پوزه کی دننه سوه اودده په دماغوکی دامچ (۴۰۰) کاله پاته سو الله ﷻ ورته ددی مچ په ذریعه عذاب ورکی. نو داوو چې خپل سربه یې وهی په ډانګو باندی په دی دومره موده کی تردی چې الله ﷻ په دی سره هلاك کی.

## هجرت دابراهیم ﷺ شام ته اوداخلیدل دده دمصر کورونو ته او اوسیدل دده په مځکه دبیت المقدس کی

الله ﷻ فرمایلی دی: فَآمَنَ لَهُ لُوطٌ وَقَالَ إِنِّي مُهَاجِرٌ إِلَى رَبِّي إِنَّهُ هُوَ الْعَزِيزُ الْحَكِيمُ (۲٦) وَوَهَبْنَا لَهُ إِسْحَاقَ وَيَعْقُوبَ وَجَعَلْنَا فِي ذُرِّيَّتِهِ النُّبُوَّةَ وَالْكِتَابَ وَآتَيْنَاهُ أَجْرَهُ فِي الدُّنْيَا وَإِنَّهُ فِي الْآخِرَةِ لَمِنَ الصَّالِحِينَ (سورة العنکبوت ۲۲\۲۷). اودارنګه الله ﷻ فرمایلی دی: وَنَجَّيْنَاهُ وَلُوطًا إِلَى الْأَرْضِ الَّتِي بَارَكْنَا فِيهَا لِلْعَالَمِينَ (۷۱) وَوَهَبْنَا لَهُ إِسْحَاقَ وَيَعْقُوبَ نَافِلَةً وَكُلًّا جَعَلْنَا صَالِحِينَ (۷۲) وَجَعَلْنَاهُمْ أَئِمَّةً يَهْدُونَ بِأَمْرِنَا وَأَوْحَيْنَا إِلَيْهِمْ فِعْلَ الْخَيْرَاتِ وَإِقَامَ الصَّلَاةِ وَإِيتَاءَ الزَّكَاةِ وَكَانُوا لَنَا عَابِدِينَ (سورة الانبیاء۷۱\ ۷۳)

(c) ketabton.com: The Digital Library



کله یې چې دخپل قوم سره دالله ﷻ دپاره جګړه وکړه، نوپه هجرت باندې ووتې ددوی دخوا څخه، اووه دده ښځه وچه چې بچې به یې نه پیدا کیدې، اونه وو دده دپاره دبچیانو څخه یوهم بلکې ددې سره وراره دده وو لوط ؑ، ورکې الله ﷻ ده ته ددې څخه وروسته صالح اولاد، اودده په خاندان کې یې نبوت وګرزوې، نودده څخه وروسته چې څومره پیغمبران راغلې دې هغه دده په نسل کې دې، اوهریو کتاب چې نازل سوې دې دآسمان څخه نوهغه دده په نسل کې نازل سوې دې نوواحد مشرهم دده دنسل څخه وو مدام دالله ﷻ دخوا څخه په ده باندې یوفضل اوکرم وو کله چې ده هجرت وکې اوخپل قوم اوخپلوان یې پرېښوولە، اوهجرت یې وکې داسې ځای ته چې هلته دالله ﷻ دعبادت کولو تمکن وو اوخلګو ته دعوت هم کیدې سو.

اوهغه ځکه چې دې یې قصد دهجرت کړې وو ځکه دشام وه، اودا هغه ځکه ده چې ددې په باره کې الله ﷻ فرمایلې دې: إِلَى الْأَرْضِ الَّتِي بَارَكْنَا فِيهَا لِلْعَالَمِينَ (سورة الانبياء \ ۷۱) داقول دقتاده اوابو العالیه اوابی بن کعب دې، اوروایت کړې دې عوفی دابن عباس څخه چې داقول دالله ﷻ : إِلَى الْأَرْضِ الَّتِي بَارَكْنَا فِيهَا لِلْعَالَمِينَ ددې څخه مراد ځکه دمکې ده، ولې چې په دې باندې داقول دالله ﷻ دلالت کوې: إِنَّ أَوَّلَ بَيْتٍ وُضِعَ لِلنَّاسِ لَلَّذِي بِبَكَّةَ مُبَارَكًا وَهُدًى لِلْعَالَمِينَ (سورة آل عمران \ ۹۲) اوکعب الاحبار وایې چې ځکه د (حران) مراددە، اومخکې موږبیان کړه هغه چې نقل سوې وو داهل کتابو څخه: چې دې راوتلې وو دمزکې دبابل څخه دې وو اودده وراره وو اودده ورور وو ناحور اودده ښځه وه اودده دورور ښځه وه (ملکا) اودوې کښېنته سوه په حران علاقې باندې، نومړ سو پلار دده په دغه علاقه کې.

اوالسدی ویلې دې ولاړې ابراهیم اولوط دشام خوا ته، نو یوځای سو ابراهیم ؑ دسارا سره اودا دحران دباشاه لوروه اودوې ته یې ددوی ددین په باره کې خبرې وکړې نوهغه ورته داخپله لور ورکړه په دې شرط چې په دې کې به څه تغیرنه راولې.

داروایت نقل دې دابن جریر څخه اوپه دې قول کې غرابت دې اومشهوره خبره داده چې دا دده داکا لوروه چې هاران نوم یې وو چې دهغه نسبت حران ته کیدې سی اوچا داویلې دې چې دا دده دورور لوروه خور دلوط ؑ چې هاران دې، لکه څه رنګه چې داقول نقل کړې دې السهیلی دالقتیبی څخه اودالنقاش څخه، نوده داخبره ډیره بعیده کړیده اوبلا علمه یې دا خبره کړیده اوچا داویلې دې چې ده واده دخپل دورور دلور سره کړې وو که داچیرې جائز وې نوددوې سره پردې خبرې باندې دلیل نسته، اوکه چیرې داکار جائز وې نوبیاهم دانبیاوو دپاره دومره تجاوز نه دې ثابت لکه داقول چې دربانیینو دیهودو څخه نقل دې.

اوبعضو داذکر کړې دې چې دې کله شام ته رالې نوالله ﷻ ورته وحی وکړې چې زه داځکه

(c) ketabton.com: The Digital Library



ګرځوم ستا څخه وروسته ستا دنسل دپاره خلف چی هغوی په کی اوسیږی نوابراهیم ﷺ
ذبحه وکړه دالله ﷻ دشکر اداکولو دپاره، اوپه بیت المقدس کی یې مشرقی قبه (ګنبد)
جوړه کړه اوبیا دهغه ځای څخه ولاړی یمن ته، نوهلته ډیر قحطی اوخشکی وه نوبیامصرته
اوبیایې قصه دسارا اودبادشاه ذکر کړیده چی ابراهیم ﷺ ورته وویل چی ته ده ته ووایه
چی ته زماخور یې. اوبیایې دبادشاه خدمت ذکرکړی دی چی ددوی یې څه رنګه خدمت
کړی دی اوبیادوی ووتله په طرف د(تیمن) یعنی دبیت المقدس خوا ته، اوددوی سره
مالونه اوغلامان اوسپرلی وی، اوامام بخاری ویلی دی په نقل کولو سره دمحمد بن
محبوب څخه دی نقل کوی دحماد بن زید څخه دی نقل کوی دایوب څخه دی دمحمد څخه
اودی دابی هریره څخه چی ده ویلی دی: چی ابراهیم ﷺ دروغ نه دی ویلی مګر په دری
ځایونوکی: دوه یې دالله ﷻ درضا دپاره ویلی دی یودا (اِنِّی سَقِیۡمٌ) (سورة الصافات \ ۸۹)
اوبل دا (بَلۡ فَعَلَهُ، کَبِیۡرُهُمۡ هٰذَا) (سورة الانبیاء \ ۲۳) اوبل داچی یوه ورځ دی وو اودده ښځه
ساره وه دوی په مخ دیوظالم بادشاه ورله اوددی بادشاه داقانون وو چی دچاښځه چی به
ښایسته وه نوهغه به یې ورڅخه اخستله اودچاسره به چی خور یالور یامور وه نوهغه ته به
یې څه نه ویل نودی بادشاه ته چا خبرورکی چی دلته یوسړی راغلی دی اودهغه سره یوه
ښځه ده چی ډیره ښائسته ده نودی بادشاه ابراهیم ﷺ راوغوښتی اوپوښتنه یې ورڅخه
وکړه چی دادرسره څوك ده نوده ورته وفرمایل چی په دی دنیاکی ما اوتا دواړه مومنان یو
اوبل مومن نسته که چیری ستا څخه پوښتنه وسوه نوته ورته ووایه چی دازما ورور دی
اوما دروا‌غجن نه کړی نودی بادشاه چی ورته لاس اوږد کی نودلاس څخه یې الله ﷻ طاقت
واخستی نوده وفرمایل ساره ته چی ماته دعا وغواړه دالله ﷻ څخه چی زما دالاس جوړکی
نوزه تاته بیاڅه ضررنه رسوم. بیایې په دوهم وار بیالاس وراوږدکی نوبیایې الله ﷻ دلاس
څخه طاقت واخستی، نوده ساره ته بیا وویل چی ته دالله ﷻ څخه ماته دعا وغواړه چی زما
لاس جوړکی نوزه به تاته هیڅ ضررنه رسوم، نودی بیا الله ﷻ ته دعا وکړه اودده لاس
جوړسو، بیایې په دریم وار بیالاس وراوږدکی نوبیا ورسره هم هغه چم وسو نوساره ورته
بیا دعاوکړه نودی جوړسو، نوبیایې خپل چوکیداران راوغوښتل اوورته یې وویل چی دا
تاسی ماته چشی راوستلی دی داخو انسان نه دی بلکی داخو شیطان دی نودی ته یې په
خدمت کی ورکړه هاجره. نوداچی کله ابراهیم ﷺ ته راله نوهغه په لمانځه ولاړ وو نوپه
اشاره سره یې ورڅخه پوښتنه وکړه چی څه وسوه؟ نودی ورته وویل چی الله ﷻ اراده
دکافرانو وګرځول واپس هم دهغو په غاړو کی، او ورته یې وویل چی داهاجره یې ماته په
خدمت کی راکړه، نوابوهریره وویل چی: داستاسی مور ده ای بنو ماء السماء یعنی عرب

(c) ketabton.com: The Digital Library



ورځخه مراد دی (۱) یواځې والی کړی دی په دی سره امام بخاری په دی اعتبار سره موقوفًا اودارنګه روایت ذکرکړی دی الحافظ ابوبکر البزار دعمر بن علی الفلاس څخه دی نقل کوی دعبدالوهاب الثقفی څخه دی نقل کوی دهشام بن حسان څخه دی نقل کوی دمحمد بن سیرین څخه دی نقل کوی دابی هریره څخه دی دنبی ﷺ څخه چی فرمایلی یې دی: چی ابراهیم ؑ بالکل دروغ نه دی ویلی مګردری واره، داټول یې دالله ﷻ دپاره ویلی دی، یودا (اِنِّي سَقِيمٌ) اوبل دا (بَلْ فَعَلَهُ، كَبِيْرُهُمْ هَذَا)، اوبل دا چی دی روان وو په مځکه دیوظالم بادشاه کی چی یوکورته وردننه سو، نودی چاهغه ظالم بادشاه ته خبرورکی چی دلته یوسړی راغلی دی اوډېره ښائسته ښځه ورسره ده نودی بادشاه ورپسی خپل چوکیداران راولیږل نودوی راله اوهغه کوروالوته یې وویل چی دلته ستاسی په کورکی دوه کسان راغلی دی نوابراهیم ؑ یې بوتلی اودی بادشاه ورځخه داپوښتنه وکړه چی دا ستاسره څوك ده نوده وویل چی هغه می خورده. نوبیاچی دی خپلی ښځی ته رالی نوورته یې وویل چی دی ظالم زما څخه ستاپه باره کی پوښتنه وکړه چی داڅوك ده نوماورته وویل چی دازما خورده اویقینًا دلته زما اوستا څخه ماسوا بل مسلمان نسته، اوته زما خوریې او ما دروا‌غجن نه کړی دده خواته. نوددی ساره پسی دابادشاه کسان ولیږله اودایې راوستله، نودی بادشاه چی ورته لاس اوږد کی نودلاس څخه یې الله ﷻ طاقت واخستی، نودی وویل ساری ته چی ماته دعا وغواړه دالله ﷻ څخه چی زما دالاس جوړ کړی نوزه تاته بیاڅه ضرر نه رسوم. بیایې په دوهم وار بیالاس وراوږد کی نوبیایې الله ﷻ دلاس څخه طاقت واخستی، نوده ساره ته بیا وویل چی ته دالله ﷻ څخه ماته دعاوغواړه چی زمالاس جوړ کی نوزه به تاته هیڅ ضررنه رسوم، نوده بیا الله ﷻ ته دعا وکړه اودده لاس جوړ سو، بیایې په دریم وار بیالاس وراوږدکی نوبیا ورسره هم هغه چم وسو نوساره ورته بیا دعا وکړه نو دی جوړ سو، نوبیایې خپل یوادنۍ سړی ته وویل چی داتاماته څه راوستلی ده داخو انسان نه دی بلکی داخو شیطان دی نودایې وایستله اوپه خدمت کی یې ورته هاجره ورکړه. نو داچی کله راله ابراهیم ؑ ته راله نوهغه په لمانځه ولاړ وو نوکله یې چی دامحسوس کړه چی داراله نوپه اشاره سره یې ورځخه پوښتنه وکړه چی څه وسوه؟ نودی ورته وویل چی الله ﷻ کافی سو زما دپاره دکافرانو څخه، اوورته یې وویل چی داهاجره یې ماته په خدمت کی راکړه (۲) اوددی تخریج یې دحدیث دهشام څخه هم کړی دی. بیا البزار ویلی دی چی

---

(۱). صحیح البخاری کتاب الاحادیث، باب قول الله تعالی (واتخذالله ابراهیم خلیلا) ۲\ ۳۳۵۸.
(۲). صحیح البخاری: کتاب الانبیاء، باب قول الله تعالی (واتخذالله ابراهیم خلیلا) (۲\ ۳۳۵۷)، اومسلم په کتاب الفضائل، باب فضائل ابراهیم الخلیل ؑ (۱۵\۱۲۳)، اوترمذی په کتاب التفسیرکی، سورة الانبیاء (۵\ ۳۱۶۶) اوده ویلی دی چی داپه بل روایت سره هم ذکرسوی دی په بل اعتبار سره دابی هریره څخه. اوابوعیسیٰ ویلی دی: =

(c) ketabton.com: The Digital Library



ددی پته نسته چی ددی اسناد چاکړی دی محمدچی هغه نقل کړی دی دابی هریره څخه مګر دهشام څخه سوی. اوروایت ددی سوی دی غیرموقوف. اودارنګه ویلی دی امام احمد په نقل کولو سره دعلی بن حفص څخه دی نقل کوی دورقاء څخه چی دده نوم ابوعمر الیشکری دی دی نقل کوی دابی الزناد څخه دی داعراج څخه اودی نقل کوی دابی هریره رضی‌الله‌عنه څخه دی وایی چی فرمایلی دی رسول الله ﷺ چی ابراهیم علیه‌السلام دروغ نه دی ویلی مګر په درو ځایونو کی: دوه یې دالله جل‌جلاله درضا دپاره ویلی دی یودا (اِنِّی سَقِیۡمٌ) (سورة الصافات \ ۸۹) اوبل دا: بَلۡ فَعَلَهُ كَبِيۡرُهُمۡ هٰذَا، (سورة الانبیاء \ ۲۳). اوبل داچی یوه ورځ دی وو او دده ښځه ساره وه دوی په مخ دیوظالم بادشاه ورله اوددا بادشاه داقانون وو چی دچاښځه چی به ښائسته وه نوهغه به یې ورڅخه اخسته اودچاسره به چی خور یالور یامور وه نوهغه ته به یې څه نه ویل نودی بادشاه ته چا خبرورکی چی دلته یوسړی راغلی دی اودهغه سره یوه ښځه ده چی ډیره ښائسته ده نودی بادشاه ابراهیم علیه‌السلام راوغوښتی اوپوښتنه یې ورڅخه وکړه چی دا درسره څوك ده نوده ورته وویل چی دامی خورده.

اوبیا دا ابراهیم علیه‌السلام دسارا خواته رالی اوورته یې وویل چی په دی دنیاکی زه اوته دواړه مومنان یو اوبل مومن نسته که چیری ستا څخه پوښتنه وسوه نوته ورته ووایه چی دازما وروردی اوما درواغجن نه کړی. نوکله چی داداخله سوه ددی خواته نواودس یې وکی او لمونځ یې شروع کی اوبیایې دادعا وویله چی ای ربه زما تاته ښه پته ده چی ماپه تاباندی ایمان راوړی دی اوستا درسول تابعداری می کړیده اوخپل عورت می ساتلی دی دغلط ځایونو څخه صرف خپل خاوند ته، نوته په ماباندی کافران مه مسلط کوی نوددی په پښو باندی پردی واچول سو اودهغه دپښو څخه طاقت وایستل سو.

ابو الزناد ویلی دی په نقل کولو سره دابوسلمه بن عبدالرحمٰن څخه چی هغه نقل کوی دابی هریره څخه چی دی ساره ویلی دی ای ربه زماکه چیری دی مړسی نودا خلګ به وایی چی دی ښځی وژلی دی نودی وایی چی بیرته یې ولیږله دا، نوداسی یې بیان کړی دی په دریم اوڅلورم وار باندی چی تاسی ماته نه دی رالیږلی مګرشیطان، دابوزی ابراهیم ته اوهاجره ورلره ورکی. نودی وایی چی دابیرته راله دابراهیم علیه‌السلام خواته اوابراهیم علیه‌السلام ته یې وویل چی زما څخه الله جل‌جلاله دکافرانو مکر لیری کی اوماته یې یوه مینځه په خدمت کی راکړه (۱)

په دی اعتبارسره امام احمد یوائی والی پرکړی دی اوداپه شرط دصحیح سره اودارنګه روایت ددی کړی دی بخاری دابی الیمان څخه دی نقل کوی دشعیب بن ابی حمزه څخه دی

---

= چی داحدیث حسن صحیح دی اوابوداود په کتاب الطلاق کی، باب فی الرجل یقول لامراته، یااختی (۲\ ۲۲۱۲).

(۱). احمد (۲\ ۴۰۳) صحیح البخاری (۲\ ۳۳۵۸) من ابی هریرة رضی‌الله‌عنه .

(c) ketabton.com: The Digital Library



نقل کوی دابی سعید څخه دی وایی چی فرمایلی دی رسول الله ﷺ هم په دی طریقی سره خوددی څخه لږ مختصردی، اوویلی دی ابن ابی حاتم په نقل کولو سره دسفیان څخه دی دعلی بن زید بن جدعان څخه اودی نقل کوی دابی نضره څخه دی نقل کوی دابی سعید څخه دی وایی چی فرمایلی دی رسول الله ﷺ: په دری کلمو کی ابراهیم علیه السلام دروغ ویلی دی یوهم ددی دپاره جائزنه وو مګر دالله جل جلاله ددین دپاره یې ویلی دی، یودا: اِنّیْ سَقِیْمٌ، او بل دا: بَلْ فَعَلَهُ کَبِیْرُهُمْ هٰذَا، چی دی دیو ظالم بادشاه په کلی باندی تیریدی نوهغه چی کله دده دښځی اخستلو کوشش کوی نوده ورته وفرمایل چی دامی خورده (۱) نوقول دده په حدیث کی چی (دامی خورده) نومراد دینی خورده اوداقول یې چی (په مخ دمزکی باندی بغیر زما اوستا څخه نور مومنان نسته) یعنی جوړه دمومنانو نسته بغیر زموږ څخه اودا په دی طریقی سره ځکه متعین سوی دی چی لوط علیه السلام هم وو اوهغه هم پیغمبر وو. او وو ابراهیم علیه السلام دهغه را ایسی چی خپل ښځه یې لیږلی وه دبادشاه خواته په لمانځه یې شروع کړی وه تربیرته راتلو پوری ددی دپاره چی الله جل جلاله دده اهل دبدکاری څخه وساتی او دکافرانو دمکر څخه یې ازاده کړی، اوهم داسی کاردده ښځی هم کړی وو. کله به چی ورته دابادشاه په غلطه اراده راولاړیدی نودابه ولاړیده اواودس به یې وکی اوپه لمانځه به دریدله، اودالله جل جلاله څخه به یې دعا غوښتل هغه دعاچی موږ مخکی ذکرکړه. نوددی وجی څخه الله جل جلاله فرمایلی دی: وَاسْتَعِینُوا بِالصَّبْرِ وَالصَّلَاةِ (سورة البقره \ ۴۵) نو پس حفاظت وکی ددی الله جل جلاله اوبچ یې کړه ددی بادشاه څخه اوددی عفت اوعصمت یې وساتی دخپل حبیب اوخلیل ابراهیم علیه السلام دپاره. اوبعضو علماوو داقول کړی دی چی دری ښځی نبیانی تیری سوی دی (ساره، دموسٰی علیه السلام مور، مریم) اوجمهورو ویلی دی چی داصدیقات دی اوددی څخه الله جل جلاله ډیر رضامنددی، اومالیدلی دی په بعضو آثارو کی چی الله جل جلاله ددوی ترمنځ هغه حجاب لیری کړی وو کله چی دا ددی ابراهیم علیه السلام دخوا څخه ووته اوترڅو چی بیرته راتله اوده کتله دی خپلی ښځی لره په دی حال کی چی هغه دبادشاه سره وه اودایې هم لیدله چی الله جل جلاله یې څه رنګه عصمت خلاص کړی دی، داددی دپاره چی دده په زړه کی اطمینان وی اوقرار وی په دی خبری باندی چی بادشاه ورته څه نه دی ویلی، ولی چی دده ورسره ډیر زیات محبت وو اوډیره ورته ګرانه وه، دوجی ددی ددین داری اوخپلولی او حسن څخه چی ښکاره وو، ولی چی داخبره سوی وه ددی په باره کی چی دحوا څخه وروسته

(۱). ابن کثیر ویلی دی چی ددی په اسناد کی علی بن زید بن عبدالله بن زهیربن عبدالله بن جدعان التیمی البصری دی چی په اصل کی حجازی دی اودی معروف دی په علی بن رید بن جدعان باندی چی نسبت دده پلار اونیکه ته کیږی اودی ضعیف دی دځلورمی طبقی څخه دی اودی وفات سوی دی په (۳۱) کال باندی اوبعضو داویلی دی چی ددی څخه مخکی مړدی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ددی په شان ښائسته ښځه بله نه وه.
اوبعضو تواریخو والا داخبره ذکرکړیده چي دضحاك په نامه داظالم بادشاه دفرعون ورور وو کم چي په مصر کی وو اوده به کارکوی دخپل ورور دپاره په دی ځای کی اوبعضو دا ویلی دی چی دده نوم سنان بن علوان بن عویج بن عملاق بن لاوذ بن سام بن نوح عليه السلام وو.
اوابن هشام داویلی دی یعنی کم سړی چی دوی یې اراده کړی وه هغه عمربن امرء القیس بن مایلون بن سبا، اودی وو په مصر کی دانقل کړی دی سهیلی.
بیا ابراهیم عليه السلام دمصر څخه رالی یمن ته، اودا هغه مقدسه مځکه وه چی دوی په کی اوسیدله، اووه ددوی سره مالونه اوغلامان اوسامان هرڅه وو، او ددوی سره ملګری سوه هاجره القبطیه المصریه. بیا لوط عليه السلام جلاسو سره دخپلو مالونو په امر دابراهیم عليه السلام باندی اوولاړی دغور مزکی ته چی مشهور په غور زغرسره دی، نودسدوم په نامه علاقه کی کښته سو اودا غټ کلی وو اوه ددوی علاقی خلګ ډیر بدبخته اوضرری او فاسدان، اوامر وکی الله جل جلاله ابراهیم عليه السلام ته چی دی دی وګوری چار چاپیره مشرق ته او مغرب اوشمال اوجنوب ته، اوپه دی خبره یې ورلره زیری ورکی چی داټوله مځکه ستادپاره ده، اوستادنسل دپاره ده ترقیامته پوری، اوزه به ستانسل زیاتومه تردی چی وبه ګرځی په شان دخاوری دمزکی دومره به یې ډیرکړمه. اوداتائید دخبری درسول الله صلی الله علیه وسلم کوی چی هغه داقول دی: الله جل جلاله زمادپاره دامځکه دزاویې په شکل وګرځوله نومادډی مشرق اومغرب دواړه خواوی ولیدلی. اوزما امت به رسیږی هغه اندازی ته داکمه اندازه چی ماولیدله (١).
نوویل سوی دی چی یوه ډله دظالمانو په لوط عليه السلام باندی تسلط وکی اودهغه څخه یې ټول مالونه واخیسته اوپسونه اوبزی یې ورڅخه هم واخستی نوکله چی داخبره ابراهیم عليه السلام ته ورسیده نودی پسی رالی اوددی ابراهیم عليه السلام سره (۳۱۸) کسان وو نوپناه وغوښتله لوط عليه السلام په دوی باندی نوخپل مالونه یې بیرته واخسته، اوډیر خلګ یې مړه کړه هغه چی دښمنان دالله جل جلاله اودهغه درسول وو اودوی ته یې ماته ورکړه تردی چی ورسیده شمال خوا ددمشق ته اوداګمان سوی دی چی مقام ابراهیم ته ځکه مقام ابراهیم ویل سوی دی چی دلته دابراهیم عليه السلام لښکر ولاړ وو. بیا دی بیرته رالی خپل کلی ته په داسی حال کی چی دی کامیاب وو اوتائید دده سوی وو، اودده بیره به لیده بادشاهان دبیت المقدس په داسی حال کی چی ددوی عزت اواکرام کونکی وو اوپه دی خپل کلی کی بیاپاته سو.

## پیدائش داسماعیل عليه السلام دبی بی هاجری څخه

اهل کتابو ویلی دی: چی ابراهیم عليه السلام سوال کړی وو دالله جل جلاله څخه دښه کورنی اودښه نسل،

(١). صحیح مسلم: کتاب الفتن (۱۳۱۱۸).

(c) ketabton.com: The Digital Library



نوالله ﷻ ورته زیری ورکی، اوابراهیم ﷺ چی کله (۲۰) کاله په بیت المقدس کی تیرکړه نوساره ورته وویل چی الله ﷻ زه دبچو څخه محرومه کړی یمه، نوزه ددی امت خواته ورزمه کیدی سی چی الله ﷻ راته دلته زوی راکی. کله چی ابراهیم ﷺ ته داهاجره بی بی هبه سوه نوده ورسره جماع وکړه نوهغې ورڅخه حمل واخستی. نودوی وایی چی کله دی ورڅخه حمل واخستی نوپرساره باندی به لوړه لوړه کیده، نوساره ته پردی باندی غیرت ورلی نو شکایت یې وکی ابراهیم ﷺ ته نوابراهیم ﷺ ورته وویل چی څه په کوی هغه په وکړه، نو هاجره وبیریده او وتښتیده اودیوی چینی خواته ورله. نوده ته وویله یوی ملائکی دملائکو څخه، ته مه بیریږه ولی چی الله ﷻ به ددی ماشوم څخه ډیر خیرخپروی اودې ته یې امر وکی په واپسی باندی اودا زیری یې ورلره ورکی چی دابه هلك وی اودده نوم به اسماعیل وی، اودی به دټولو خلګو مشر وی اودټولو خلګو لاسونه به پرده باندی وی. نو دی دالله ﷻ شکر وکی په دی کار باندی اودا زیری ددی پرنبی ﷺ باندی سمون خوری او برابریږی ولی چی په محمد ﷺ باندی الله ﷻ دعربو نوم لوړکی، اودوی مالکان سوه دټولی دنیاهم په مشرق اوهم په مغرب، اودوی ته الله ﷻ علم نافع ورکی اوعمل صالح یې ورکی داسی چی مخکنی یوه امت ته هم داسی نه وو ورکول سوی، اودانه وو مګر په شرف دنبی ﷺ په نورو انبیائو باندی، اودوجی دبرکت درسالت دده اوکمال دده په هغه څه چی ده راوړی دی دالله ﷻ دطرفه اودوجی دعام بعثت دده ټولو خلګوته.

اوکله چی هاجره راله نواسماعیل ﷺ ورڅخه پیداسو. دوی وایی چی دی پیداسو په دی حال کی چی عمر دابراهیم ﷺ (۸۶) کاله وو.

اوکله چی اسماعیل ﷺ پیداسو نوالله ﷻ زیری ورکی ابراهیم ﷺ ته داسحاق دساره څخه چی ددی څخه به داپیدا کیږی، نودی الله ﷻ ته په سجده پریوتی، اودی هاجری ته یې وویل چی ستادعاپه باره داسماعیل کی قبوله سوه اودهغه څخه به ډیر خیرخپریږی اونسل به یې ډیروی اودده څخه به دولس عظیم شخصیات پیداکیږی، اودی ګرځول سوی دی دیو لوی قوم پیشوا اومشر اودا ددی امت دپاره هم زیری دی اودا دولس عظیم شخصیات خلفاء الراشدین دی چی دوی ته زیری ورکول سوی دی په حدیث دعبدالملك بن عمیر کی چی دی نقل کوی دجابر بن سمره څخه دی دنبی ﷺ څخه نقل کوی چی فرمایلی دی: چی دولس امیران به وی. اوبیایې یوه کلمه وویله چی په هغه باندی زه پوه نه سوم، نوماپوښتنه وکړه دابی څخه: چی څه یې ویله؟ نوهغه راته وویل چی ویې فرمایل چی داټول به دقریش څخه وی. نو(۴) ددی څخه: ابوبکر اوعمر اوعثمان اوعلی ﷺ دی، اوددی څخه عمر بن عبد العزیز دی اوددوی څخه بعضی بنی عباس دی. اودلته هغه دولس امامان نه دی مراد

(c) ketabton.com: The Digital Library



کم چې دروافضو دی چې هغوی اول امام علی رضي الله عنه ګڼي اوآخرنی امام یې په سرداب چې دسامرا یوه علاقه ده هلته یې دوی انتظار کوی چې هغه به په آخری وخت کې راوزی هغه دی اودا ددوی په ګمان سره محمدبن الحسن العسکری دی، نوپه دوی کې بغیر دعلی رضي الله عنه څخه اودده دزوی څخه چې حسن دی ددوی دواړو څخه بغیر په دی نورو کې هیڅ نفع نسته کله چې یې خپل خلافت معاویه رضي الله عنه ته وسپاری اودمسلمانانو ترمینځ یې اور دجنګ ختم کی، اوداباقی چې څه دی نوددی هیڅ داسی واقعه یاکار نسته چې په هغه کې دمسلمانانو خیر وی یاڅه فائده وی. اوهرڅه چې هغه امام ددوی چې په سامراکې یې دوی انتظارکوی نودهغه هیڅ حقیقت نسته داهسی غلطی ده ددوی په نفسونو کې اوهسی عبث بی فائدی خبره ده. اومقصودی خبره داده چې کله دبی بی هاجری زوی اسماعیل علیه السلام وسو نوساري ته به ډیر غیرت ورتلی په دی باندی، اودابراهیم علیه السلام څخه به یې دامطالبه کوله چې ددی دمخ څخه دی ځان پناه کړی نودی ولاړی اودځان سره یې هاجره اوخپل زوی اسماعیل روان کړه دمکی خوا ته، اوویل سوی دی چې دده دازوی په دی وخت کې تی رودونکی وو کله یې چې هلته پرېښووله اوشا یې کړه ورته نوهاجره راولاړه سوه اوپه ابراهیم علیه السلام پوری ومښتله چې ای ابراهیمه ته چیری ځی؟ چې موږ دلته پرېږدی اوزموږ سره دومره څه نسته چې زموږ کافی سی؟ نوابراهیم علیه السلام ورته جواب ورنه کی، نوبیاچې ورته دی دادوباره وویل نوبیایې جواب ورنه کی نودې ورته وویل چې آیاتاته الله جل جلاله ددی خبری امرکړی دی؟ نوابراهیم علیه السلام وویل چې هو! نوبیادی ورته وویل چې الله جل جلاله به موږ نه ضایع کی.
اوذکرکړی دی الشیخ ابومحمد بن ابی زید په کتاب (النوادر) کی: چې ساره غصه سوه هاجری ته اوداقسم یې وکی چې ددی به دری اندامونه پرې کم نوابراهیم علیه السلام ورته وویل چې په غوږ کې یې سری وکړه اوغوږوالی په ورپه غوږکه نوستا قسم به مات سی.

**بیان دهجرت دابراهیم اواسماعیل اوبی بی هاجره علیهم السلام مکی ته اوجوړول دخانه کعبی**

امام بخاری وایی په نقل کولو سره دعبدالله بن محمد څخه چې دا ابوبکر بن شیبه دی دی نقل کوی دعبدالرزاق څخه دی نقل کوی دمعمر څخه دی نقل کوی دایوب السختیانی څخه اودکثیر بن کثیر بن المطلب بن ابی وداعه څخه یوپه بل باندی زیاتوی چې دوی نقل کوی دسعید بن جبیر څخه دی نقل کوی دابن عباس څخه چې ده ویلی دی: اول هغه ښځه چې ځان ته یې جلاځای اخستی دی هغه مورد اسماعیل علیه السلام ده اودی داځای ځکه اخستی وو په یوازی والی سره چې دساره څخه خلاصه سی، بیا راوستله دا ابراهیم علیه السلام اوددی سره خپل زوی اسماعیل علیه السلام هم وو اودی لا شیدی رودونکی ماشوم وو، تردی چې دایې پرېښووله دخانه کعبی سره دزمزم سره په لوړه حصه دجماعت کې اوپه دغه ورځ په مکه

(c) ketabton.com: The Digital Library



کی نه څوك وو اونه په کی اوبه وی، اودا دواړه یې هلته پریښوولېه اودخرما یوه ګیډۍ یې ورسره هم کښیښوله اویوه ډولچه وه چی په هغه کی اوبه وی نوبیا واپس روان سو ابراهیم ؑ تریو ځای پوری چی ددی ښځه هاجره ورپسی هم روانه وه، نوبیایې ورته وویل چی ای ابراهیمه ته چیری ځی اوموږ دلته په دی دښته کی پریږدی چی نه په کی انسانان سته اونه په کی څه بل شی؟ نودایې ورته بار بار وویل خوابراهیم ؑ به ورته نه کتله، نوبیایې ورته وویل: چی تاته الله ﷻ ددی کار امرکړی دی؟ نوابراهیم ؑ به ورته نه کتله، نوبیایې ورته وویل: چی تاته الله ﷻ ددی کار امرکړی دی؟ نوابراهیم ؑ ورته وفرمایل چی: هو: نوبیا دې وویل چی بیابه موږ الله ﷻ نه ضایع کوی. اوبیا داراله نو ولاړی ابراهیم ؑ تردی چی (ثنیه) ته ورسیدی چی ددوی څخه پناه سوه نوبیایې مخ راواړوی اولاسونه یې لوړکړه او دا دعایې وکړه: رَبَّنَا إِنِّي أَسْكَنتُ مِنْ ذُرِّيَّتِي بِوَادٍ غَيْرِ ذِي زَرْعٍ عِنْدَ بَيْتِكَ الْمُحَرَّمِ رَبَّنَا لِيُقِيمُوا الصَّلَاةَ فَاجْعَلْ أَفْئِدَةً مِنَ النَّاسِ تَهْوِي إِلَيْهِمْ وَارْزُقْهُمْ مِنَ الثَّمَرَاتِ لَعَلَّهُمْ يَشْكُرُونَ (سورة ابراهیم \ **۳۷**) اود اسماعیل ؑ مور راله چی خپل بچی ته یې شیدی ورکولی اوددغو اوبوڅخه به یې چښلی تردی چی دااوبه ختمی سوی اودا اوددی زوی دواړه تږی سوه، نودا ماشوم وګرځیدی چی پښی یې وهلی اوړیدی راوړیدی، نودا ورڅخه لیری ولاړه ددی وجی چی دده داحال ونه وینی، نودی پیداکی صفا نژدی ځای، نوبیاتله چی په دی دښته کی ګرځیدله چی څوك سته اوکه نه، نوهیڅ څوك یې پیدانه کی نودصفا غونډۍ څخه راکښته سوه اوبیا ددی دښتی مینځ ته راورسیده اوبیایې منډۍ وهلی په تیزی سره تردی چی داوادی یې ختمه کړه بیا مروان ته راله نوهلته یې وکتله چی څوك سته اوکه نه، نوهلته هم څوك نه وو نوهمداسی یې (۷) چکرونه ووهل خوڅوك یې پیدانه کی.

ابن عباس ویلی دی چی نبی ﷺ فرمایلی دی نوددی وجی څخه داخلګ په دغه ځای کی دا (۷) چکرونه وهی نوداچی کله په مروه کی وه نو اواز ورته وسو اودا ورته واورول سوه چی ستاسره دلته یوامداد سته نودی ولیدله یوه ملایکه دزمزم دځای سره نودی دا اوبه لټولی په خپل وزری سره تردی چی اوبه راښکاره سوی، نودا راله چی دا اوبه یې ذخیره کولی او په لاس سره یې اوبه راختستی داسی، اودی به دواړه لاسونه داوبو څخه ډکول اوخپله ډولچه به یې ډکوله اودا اوبه به زیاتیدی کله به چی ورڅخه دی لپه ډکوله. ابن عباس ویلی دی چی نبی ﷺ فرمایلی دی: رحم دی وکړی الله ﷻ پرمور داسماعیل باندی که چیری دا زمزم یې هم داسی پریښوولی اولپی یې ورڅخه نه وی ډکی کړی نونن ورځ به دایوه ښایسته چینه وای نودی وچښلی ددی اوبو څخه اوخپل زوی ته یې هم ددی څخه اوبه ورکړی. اوبیا ورته ملایکی وویل: چی ته مه بیریږه دضایع کیدلو څخه چی ته به ضایع سی

(c) ketabton.com: The Digital Library



ولی چی دلته دالله ﷻ کوردی چی داماشوم اودده پلار به یې جوړوی، اوالله ﷻ ددی اهل نه ضایع کوی او وه داخانه کعبه دمزکی څخه لوړه په لږ اندازی سره، چی پر دی به سیلاب راتلی اوغاړی به یې ورڅخه وړلی نودوی وه هم داسی چی په دی باندی تیریده یوه ډله دجرهم قبیلی اویاڅه اهل دجرهم قبیلی وه چی دوی راروان وه دکداء دلاری څخه، نودوی راکښته سوی وه په هغه کښته ځای دمکی کی نودوی ولیدله یوه مرغی نودوی وویل چی دامرغی ددی اوبو په سی ګرځی اوموږ هم په دی پسی رالو اوپه دی وادی کی بالکل اوبه نسته. نودوی ولیږل یوخادم یادوه خادمان په هغه اوبو پسی اوراله اودوی ته یې داوبو خبرورکی چی دلته اوبه سته نوټول په دی اوبو پسی ورله اوداراوی وایی چی دامور داسماعیل ؑ ددی اوبو خواته وه، نودوی ورته وویل چی ته به موږ ته اجازه وکړی چی موږ ستاسره دلته پاته سو؟ نودی ورته وویل چی: هو خوستاسی زموږ سره په اوبوکی څه حق نسته. عبدالله ابن عباس ویلی دی چی نبی ؑ فرمایلی دی: چی دوی یوځای سوه دام اسماعیل سره اودی هم الفت او ډیروالی خوښوی، نودوی ټول دلته نازل سوه اوخپل اهل یې هم دلته راوغوښتی تردی چی ډیر کورونه جوړسوه په هغه ځای کی اودا ماشوم ځوان سو اوعربی یې ازده کړه ددی خلګو څخه، اودوی په تعجب کی سوه ددی ماشوم څخه کله چی دی ځوان سو نوکله چی دی غټ سو نوده ته یې واده وکی، اوبیا مور دده وفات سوه، اوبیا رالی ابراهیم ؑ وروسته دواده داسماعیل ؑ څخه نوډیر تلاش یې وکی خو اسماعیل ؑ یې پیدانه کی، نوبیایې دده دښځی څخه داپوښتنه وکړه چی څه سو نودی ورته وویل چی: دباندی وتلی دی موږ ته دڅه خوراك دپاره بندوبست کوی. بیایې ددی څخه دژوند په باره کی پوښتنه وکړه چی ستاسی ژوند څه رنګه تیریږی، نودی ورته وویل چی موږ انسانان یو اوموږ ډیرپه تکلیف اوپه سختی کی یو اوشکایتونه یې ورته وکړه. نو دی ابراهیم ؑ ورته وویل چی: کله دی خاوند رالی نوورته ووایه چی دروازه دی بدله کړه، کله چی اسماعیل ؑ رالی نوڅه یې محسوس کړه نوپوښتنه یې وکړه چی آیاڅوك راغلی وو؟ نودی ښځی ورته وویل چی هو راغلی وو یوبوډا چی داسی او داسی وو اوستا په باره کی یې پوښتنه وکړه نوماورته خبرورکی، اوزما څخه یې پوښتنه وکړه چی ستاسی ژوند څنګه تیریږی؟ نوما ورته وویل چی په ډیر سختی اوپه تکلیفونو سره. نوده ورته وویل چی تاته یې څه وصیت کړی دی. نودې ورته وویل چی: هو، ماته یې دا امرکړی وو چی تاته دهغه سلام وسپارم، اوتاته یې داوینا وکړه چی خپله دروازه بدله کړه. نوده ورته وویل چی هغه زما پلار وو اوماته یې امرکړی دی چی زه ستا څخه جلاسم نوبیرته ولاړه سه خپل کورته اودی ته یې طلاق ورکی او ددوی څخه یې بله ښځه وکړه، اوبیا دده څخه ابراهیم

(c) ketabton.com: The Digital Library



ﷺ تر ډیره وخته پوری لیری وو تردی چی ډیروخت بعد بیارالی نواسماعیل ﷺ په کور کی نه وو، نوددی دښځی څخه یې پوښتنه وکړه چی څه سو نوهغې ورته وویل چی څه کار او روزګارته وتلی دی. نوبیایې ورته وویل چی ستاسی ژوند څه رنګه دی؟ نودی ورته وویل چی موږ په ډیره فراخی اوخوشحالی کی یو، اوداللّٰه ﷻ حمد اوثناء یې بیان کړه. نو بیایې ورځخه پوښتنه وکړه چی ستاسی خوراك څه شی دی نودی ورته وویل چی غوښه، نو بیایې ورته وویل چی ستاسی چښاك څه شی دی نودی ورته وویل چی : اوبه، نوابراهیم ﷺ وویل چی ای اللّٰه دوی لره برکت واچوی په غوښه اواوبو ددوی کی، نبی ﷺ فرمایلی دی: اونه وو ددوی دپاره په دغه ورځ باندی یوه دانه دخوراك، اوکه ددوی سره څه دانه هم وای نوپه هغه کی به یې ورلره دعا کړی وای. نودی وایی چی په مکه کی دادوه شیان هیڅکله نه ختمیږی. نوده ورته وویل چی: کله دی خاوند کورته رالی نوزما سلام پر وایه اوورته ووایه چی خپل دروازه مضبوطه وساته، نوکله چی اسماعیل ﷺ کورته رالی نو پوښتنه یې وکړه چی آیاڅوك راغلی وو دلته، نودی ورته وویل چی: هو، یوبوډا سړی راغلی وو چی ښائسته حسن اوصورت والاوو، اودهغه صفتونه یې بیان کړه، نو زما څخه یې ستاپه باره کی پوښتنه وکړه نوماورته خبرورکی، بیایې زما څخه پوښتنه وکړه چی ستاسی ژوند څه رنګه دی نوماورته وویل چی موږ بالکل په خیرسره یو. نوده پوښتنه وکړه چی آیاتاته یې څه وصیت کړی دی؟ نودی ورته وویل چی: هو اول یې درته سلام ووایه اودا امر یې درته وکی چی دخپل دروازی درشل مضبوط وساته. نوده وویل چی دامی پلار وو اودروازه ته یې اوماته یې امرکړی دی چی زه تا وساتم دځان سره بیایې دارنګه ډیر وخت ددوی څخه لیری تیر کی، بیا رالی اودا اسماعیل ﷺ دزمزم خواته وو نوکله یې چی یوبل ولیده نوداسی یې سره ولیده لکه څه رنګه چی پلار دزوی سره ولیده اوزوی دپلار سره بیایې وویل. ای اسماعیله ماته اللّٰه ﷻ امر کړی په یوکار باندی. نوده ورته وویل چی وکړه هغه چی اللّٰه ﷻ درته ویلی دی، نوده ورته وویل چی ته به زماسره په دی کی مدد وکی؟ نودی اسماعیل ﷺ ورته وویل چی زه به ستا مدد کوم. نوده وویل چی ماته اللّٰه ﷻ امرکړی دی چی زه دلته یوکور جوړ کړم اواشاره یې وکړه هغه لوړ ځای ته. نودی وایی چی: په دغه وخت کی دوی لوړ کړه بنیادونه دخانه کعبی نواسماعیل ﷺ به ډبری راوړلی او ابراهیم ﷺ به کور جوړوی تردی چی لوړه یې کړه دهغه بناء اوراوړل سو حجر اسود او ابراهیم ﷺ دا ایښوولی اواسماعیل ﷺ مدد ورسره کوی اودوی دواړو داویل: رَبَّنَا تَقَبَّلْ مِنَّا إِنَّكَ أَنْتَ السَّمِيعُ الْعَلِيمُ (سورة البقرة \ ۱۲۷) دی وایې: چی دوی دواړو داکور جوړوی تردی چی ددی پرشا وخوا راوګرځیده اودواړو داویله: رَبَّنَا تَقَبَّلْ مِنَّا إِنَّكَ أَنْتَ السَّمِيعُ الْعَلِيمُ (سورة

البقره \ ۱۲۷) ([1]) اوبیایې ویلی دی په نقل کولو سره دعبدالله بن محمد څخه دی نقل کوی دسعید بن جبیر څخه دی نقل کوی دابن عباس څخه چی دی وایې: کله چی وو په مینځ دابراهیم کی اودهغه دکوروالاوو کی څه چی وه، نودا راوته داسماعیل اودهغه دمورسره او ددوی سره بوکه داوبو وه چی په هغه کی اوبه وی، اودارنګه یې بیان کړی دی ټول حدیث ([2]) اوداحدیث دکلام دابن عباس څخه دی اودموشح څخه دی په مرفوع کولو دبعضو سره. اوګواکی کی چی دا ابن عباس داسرائیلی خرافاتو څخه را اخیستی وی. اوپه دی کی داهم ذکردی چی په هغه وخت کی اسماعیل ﷺ شیدی رودونکی ماشوم وو. اوپه نزد داهل تورات والاوو دی: چی ابراهیم ﷺ ته الله ﷻ امروکی چی خپل زوی اسماعیل ﷺ سنت کی او دهرچا سره چی څه غلامان اوسی ټول دی سنت کی نوټول یې سنت کړه اودا وروسته ترتیریدلو د (۹۹) کالو دعمر دابراهیم ﷺ څخه، نوو داسماعیل ﷺ عمر په دی وخت کی (۱۳) کاله، اودا یومثال وو دالله ﷻ ددوی په اهل کی، نوددی څخه داپته لګیږی چی داکار دی کړی دی په امرِ وجوبی سره. اوددی وجی څخه دعلماوو صحیح اقوال دی چی دوی واجب کړی دی داپه هریوه سړی باندی لکه څنګه چی دامقرر دی پرخپل ځای.

اودارنګه داثابت سویدی په حدیث دبخاری کی چی نقل کوی دی دقتیبه بن سعد څخه دی نقل کوی دمغیره بن عبدالرحمٰن القرشی څخه دی نقل کوی دابی الزناد څخه دی داعرج څخه اودی نقل کوی دابی هریره څخه دی وایی چی نبی ﷺ فرمایلی دی چی ابراهیم ﷺ سنت کړی وو په (۸۰) کلنی کی په قدوم علاقه کی. په دی اسناد کی ددی تابعداری کړیده عبدالرحمٰن بن اسحاق دابی الزناد څخه او ددوی تابع دی عجلان چی دی نقل کوی دابی هریره څخه، اوراوی ددی عمر بن ابی سلمه دی چی دی نقل کوی دابی هریره څخه، اودا رنګه روایت ذکر کړی دی مسلم دقتیبه څخه چی په بعضو الفاظو کی فرق سره کوی: سنت کړی وو ابراهیم ﷺ په (۸۰) کلنی په قدوم کی ([3]) اوداقدوم هغه اله ده چی په دی باندی یې سنت کړی دی. اودالفظ منافی نه دی چی داد(۸۰) کالو څخه لوړ وو. لکه څه رنګه چی په حدیث دابی هریره رضی الله عنه کی داذکر سوی دی چی رسول الله ﷺ فرمایلی دی چی ابراهیمؑ سنت کړی وو په (۱۲۰) کلنی کی، اوددی څخه وروسته (۸۰) کاله یې نور تیر کړی دی ([4])

---

([1]). صحیح البخاری : کتاب احادیث الانبیاء باب یزفون (۲\ ۳۳۶۴).

([2]). صحیح البخاری: کتاب احادیث الانبیاء باب یزفون (۲\ ۳۳۶۵).

([3]). صحیح البخاری: کتاب الانبیاء کی باب قول الله تعالی (واتخذ الله ابراهیم خلیلا) (۲\ ۳۳۵۶) اوپه بله طریقه سره په کتاب الاستئذان کی، باب الختان بعد الکبر ونتف الابط (۶۲۹۷\۱۱) اواحمد (۱\ ۳۴۷) دطریقی دعبد الرازق څخه.

([4]). صحیح البخاری: کتاب الانبیاء کی، باب یزفون (۲\ ۳۳۶۵).

(c) ketabton.com: The Digital Library



روایت ددی ابن حبان کړی دی. اوپه دی سیاقات کی ذکر دحلالولو اسماعیل ﷺ نه دی ذکر اوداپه مقدمات دابراهیم ﷺ کی نه دی ذکر مگر دری واره یوپه هغه ځای کی چی هاجره وفات سوی وه اودی واده کړی وو، اوبل داچی دی یې په وړوکوالی کی څه رنګه پرینبی وو. لکه څه رنګه چی داذکر سوی دی مخکی. تردی چی اسماعیل ﷺ واده وکی تر هغه وخت پوری ابراهیم ﷺ دده دحال څخه نه دی خبرسوی چی دوی په کم حال کی دی، اوداهم ذکرسوی دی چی ده ته به مځکه اوړده کیدله، اوداهم ویل سوی دی چی دی به پر براق باندی ددوی خواته ورتلی، نوده به څه رنګه ددوی دحال څخه خبر نه اخستی په دی وخت دضرورت اوشدت حاجت کی؟ اوګواکی چی دابعضی سیاقات چی ذکرسو دا داسرائیلی خرافاتو څخه دی اوپه دی کی دحلالولو قصه نه ده ذکرسوی چی داحلالول پرچا باندی سوی دی، مشهور اواصح قول دادی چی داحلالیدل پراسماعیل ﷺ باندی وه لکه څه رنګه چی په سورة الصافات کی ذکرسوی دی.

## امتحان دحلالیدو داسماعیل عَلَیْهِ السَّلَام

الله ﷻ په قرآن کریم کی فرمایلی دی: وَقَالَ إِنِّي ذَاهِبٌ إِلَى رَبِّي سَيَهْدِينِ (۹۹) رَبِّ هَبْ لِي مِنَ الصَّالِحِينَ (۱۰۰) فَبَشَّرْنَاهُ بِغُلَامٍ حَلِيمٍ (۱۰۱) فَلَمَّا بَلَغَ مَعَهُ السَّعْيَ قَالَ يَا بُنَيَّ إِنِّي أَرَى فِي الْمَنَامِ أَنِّي أَذْبَحُكَ فَانْظُرْ مَاذَا تَرَى قَالَ يَا أَبَتِ افْعَلْ مَا تُؤْمَرُ سَتَجِدُنِي إِنْ شَاءَ اللهُ مِنَ الصَّابِرِينَ (۱۰۲) فَلَمَّا أَسْلَمَا وَتَلَّهُ لِلْجَبِينِ (۱۰۳) وَنَادَيْنَاهُ أَنْ يَا إِبْرَاهِيمُ (۱۰۴) قَدْ صَدَّقْتَ الرُّؤْيَا إِنَّا كَذَلِكَ نَجْزِي الْمُحْسِنِينَ (۱۰۵) إِنَّ هَذَا لَهُوَ الْبَلَاءُ الْمُبِينُ (۱۰۶) وَفَدَيْنَاهُ بِذِبْحٍ عَظِيمٍ (۱۰۷) وَتَرَكْنَا عَلَيْهِ فِي الْآخِرِينَ (۱۰۸) سَلَامٌ عَلَى إِبْرَاهِيمَ (۱۰۹) كَذَلِكَ نَجْزِي الْمُحْسِنِينَ (۱۱۰) إِنَّهُ مِنْ عِبَادِنَا الْمُؤْمِنِينَ (۱۱۱) وَبَشَّرْنَاهُ بِإِسْحَاقَ نَبِيًّا مِنَ الصَّالِحِينَ (۱۱۲) وَبَارَكْنَا عَلَيْهِ وَعَلَى إِسْحَاقَ وَمِنْ ذُرِّيَّتِهِمَا مُحْسِنٌ وَظَالِمٌ لِنَفْسِهِ مُبِينٌ (سورة الصافات ۹۹\ ۱۱۳) ذکرکړه الله ﷻ دابراهیم ﷺ په باره کی چی کله ده هجرت وکی دخپل کلی څخه، نوده سوال وکی درب خپل څخه چی ده ته یوولد صالح ورکی، نوالله ﷻ ورته زیری ورکی په یوهوښیار ماشوم باندی، چی هغه اسماعیل ﷺ دی، ولی چی دا اول هغه سړی دی چی دده دپاره پیداسوی دی په (۸۶) کلنی کی اوپه دی کی دهیڅ چا اختلاف نسته چی داپه هغه عمر دابراهیم ﷺ کی پیداسوی دی، اودی دده اول زوی او اول ځوان وو. اوداقول دالله ﷻ (فَلَمَّا بَلَغَ مَعَهُ السَّعْيَ) (سورة الصافات \ ۱۰۲) یعنی داځوان سو اودخپل پلار په شان په مصالح کی یې کوشښونه کول. مجاهد ویلی دی (فَلَمَّا بَلَغَ مَعَهُ السَّعْيَ) یعنی ځوان سو اوولاړی په کار باندی اخته سو لکه څنګه چی یې پلار کول. نو همدارنګه ابراهیم ﷺ خوب ولیدی چی ده ته امروسو چی دا اسماعیل ﷺ حلال کړه، اوپه

(c) ketabton.com: The Digital Library



حدیث کی دابن عباس څخه مرفوعًاذکردی چی: خوب دانبیاوو عَلَیهِمُ السَّلاَمُ وحی وی (۱) داذکر کړی دی عبیدبن عمیر هم. اودا امتحان وو دالله ﷻ دطرفه چی داخپل ګران زوی دالله ﷻ دپاره ذبحه کوی اوکه نه اودی اوس برابر سو په عمرکی، اواول یې ورته دا امرکړی وو چی دی او دده موردا سی ځای ته بوځه چی هغه شړ اودښته وی اوشنه پکښی نه وی نوپه هغه کی ده دالله ﷻ امر پوره کی اومکی ته یې بوتلی اوپه هغه ځای کی یې پریښووی اوپه الله ﷻ باندی یې توکل وکی اوپه هغه باندی یې وسپاره نوالله ﷻ دوی دواړو ته په دغه شړ ځای کی فراخی ورکړه اورزق یې ورلره ورکی دداسی ځایونو څخه چی ددوی په ګمان کی هم نه وو، وروسته ددی ټولو اوامرو څخه الله ﷻ ورته امر دحلالولو ددی وکی نوده په دی کی هم انکار ونه کی اودالله ﷻ په امر پوره کولو کی یې تیزی وکړه. اوبیایې داخبره خپل زوی ته وکړه ددی دپاره چی په ده باندی داخبره سپکه سی اوزړه یې اطمینان په وکی داسی نه چی په زوره اوپه قهر سره دی حلال کړی: قَالَ يَا بُنَيَّ إِنِّي أَرَى فِي الْمَنَامِ أَنِّي أَذْبَحُكَ فَانْظُرْ مَاذَا تَرَى (سورة الصافات \ ۱۰۲)، قَالَ يَا أَبَتِ افْعَلْ مَا تُؤْمَرُ سَتَجِدُنِي إِنْ شَاءَ اللهُ مِنَ الصَّابِرِينَ، نوورته وویل اسماعیل عَلَیهِ السَّلاَمُ څه امرچی تاته سوی دی هغه پوره کړه اوته به ماپیدا کی دصبر کوونکو څخه اوداوو جواب ددوی دزوی داسماعیل عَلَیهِ السَّلاَمُ داسی جواب چی دتابعداری وو اودالله ﷻ داطاعت مطابق وو. الله ﷻ فرمایلی دی: فَلَمَّا أَسْلَمَا وَتَلَّهُ لِلْجَبِينِ (سورة الصافات \ ۱۰۳) ویل سوی دی چی: اسلما، دادواړه تسلیم سوه دالله ﷻ امرته. او داویل سوی دی چی دلته تاخیر اوتقدیم دی یعنی تله للجبین، پرمخی یې راوغوځوی. او ویل سوی دی چی دی یې دښتې لخوا څخه حلالوی ددی وجی څخه چی دی یې ونه وینی داقول دابن عباس دی اودمجاهد دی اودسعید بن جبیردی اودقتاده اودضحاك دی او بعضی وایی چی ددی نورو حیواناتوپه شان یې حلال کی چی تندی یې دمزکی سره لګیدلی وو. اوچا ویلی دی چی (اسلما) ابراهیم عَلَیهِ السَّلاَمُ تکبیر وکی اواسماعیل عَلَیهِ السَّلاَمُ کلمه دتشهد ویله السدی ویلی دی: چی چاړه یې دده پرمری باندی وګرځوله خوکاریې نه کوی. نوپه دغه وخت کی ورته دالله ﷻ دخوا څخه اواز وسو چی (أَن يَّآ اِبْرٰهِيْمُ قَدْ صَدَّقْتَ اَلرُّؤْيَآ) (سورة الصافات ۱۰۴\ ۱۰۵) یعنی حاصل سو ستا دتابعداری اودطاعت امتحان، اوستا راتګ دالله ﷻ دامر دپوره کولو خوا ته او خپل زوی دی قربانی ته ورکی، لکه څنګه چی دی ځان

---

(۱). صحیح البخاری: کتاب الوضوء کی، باب التخفیف فی الوضوء (۱\ ۱۳۸)، اوپه کتاب الاذان کی، باب وضوء الصبیان (۲\ ۸۵۹) اوالطبرانی په الکبیر کی (۱۲\ ۱۲۳۰۲) اوهیثمی په المجمع کی (۲\ ۱۷۲) اوروایت ددی طبرانی کړی دی دابن عباس څخه چی هغه دخپل استاذ څخه چی عبدالله بن محمد بن ابی مریم دی اودی ضعیف دی اوباقی ټول صحیح دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ورته واړندی کړی وو، اولکه ځنګه چی دی خپل مالونه خپاره کړی دی دمیلمنو دپاره، نو ددی وجی څخه الله ﷻ وفرمایل: إِنَّ هَذَا لَهُوَ الْبَلَاءُ الْمُبِينُ (سورة الصافات \ ۱۰۲) یعنی دا امتحان دی ښکاره اوواضح. اوداقول دالله ﷻ : وَفَدَيْنَاهُ بِذِبْحٍ عَظِيمٍ (سورة الصافات \ ۱۰۷) یعنی په فدیه کی ورکی موږ ده ته په مقابل دزوی دده کی یونر پسه چی سپین وو اوښکرو والاوو اوتړل سوی وو په اغزی داری درختی پوری دثبیر په نامه غرکی چی داپه مکه کی یو غردی اودا دجمهورو قول دی اومشهور قول دی نوری ویلی دی په نقل کولو سره دعبد الله بن عثمان بن خیثم څخه دی نقل کوی دسعید بن جبیر څخه داوو په جنت کی (۴۰) کاله چی بیا راکښته سو ثبیر غرته، اوپر دی باندی سره وړی وه اودابن عباس څخه نقل دی چی راکښته سو دوی ته یوپسه دثبیر غر څخه چی دهغه غټی سترګی وی اوښکرونه یې هم وه اواواز یې هم کوی نوهغه یې حلال کی، اوعبید بن عمیر ویلی دی چی دایې په هغه مقام کی حلال کی. اوپه بل روایت کی دابن عباس څخه نقل دی چی دا دوعلا څخه راغلی وو اوبعضو داویلی دی چی دادتیس څخه راغلی وو چی نوم ددی جریر وو، نوداقول به یا صحیح وی یابه غلط وی پته نه لګیږی. اوبیا غالبه داده چی کیدی سی چی دا اکثره نقل سوی وی داسرائیلی خرافاتو څخه. اوپه قرآن کی صرف اکتفاء سویده په ذکر دامتحان باندی، اودا ذکرسوی دی چی دزوی په بدله کی ورته الله ﷻ فدیه دبل شی ورکړه، اوذکر سوی دی په حدیث کی چی دا پسه وو.

امام احمد ویلی دی دسفیان څخه چی ده نقل کړی دی دمنصور څخه اودی دخپل اکا څخه چی مسافع دی اودی دصفیه بن شیبه څخه ده ویلی دی چی ماته رسول الله ﷺ فرمایلی دی: چی مالیدلی دی دپسه ښکرونه چی زه کورته دننه سوم نوزما څخه هیرسو چی زه تاته وایم چی دالیری کړه ولی چی په کورکی هغه شی نه دی پکارکم چی دانسان لمونځ خرابوی (۱) سفیان ویلی دی چی داښکرونه ترهغه وخته پوری ددوی په کورکی پراته وه ترکم چی یې دا کور وسوزی. اودارنګه دابن عباس څخه نقل دی چی دی وایی چی داسردپسه زوړند وو په میزاب رحمت پوری ترهغه وخته پوری چی وچ سو اوختم سو. اودا دلیل دی په دی خبری باندی چی ذبیحه اسماعیل علیه السلام دی نه بل څوك، ولی چی همدی په مکه کی هغه وخت وسیدی اواسحاق نه وو په مکه کی.

اوهمدا دقرآن څخه ظاهر معلومیږی، بلکه داپر نص دی چی ذبیحه دلته اسماعیل علیه السلام دی، ولی چی دلته الله ﷻ اوله قصه ذبیحه ذکر کړیده اوبیایې وروسته ویلی دی: وَبَشَّرْنَاهُ بِإِسْحَاقَ نَبِيًّا مِنَ الصَّالِحِينَ (سورة الصافات \ ۱۱۲)، اومستند خبره ده چی داسحاق په باره کی کم

(۱). احمد (۴\ ۶۸. ۵\ ۳۸۰).

(c) ketabton.com: The Digital Library



اقوال سوی دی هغه اسرائیلیات دی اوددوی په کتاب کی وروسته ډیر تحریفونه سوی دی. اوددوی په کتاب کی داسی راغلی دی چی ابراهیم ؑ ته امرسوی وو چی خپل وحید زوی ذبحه کړه اوپه بله نسخه کی داسی ذکردی چی اسحاق ذبحه کړه نودا ذکر دلفظ داسحاق دادروغ دی اوپه بله نسخه کی یې ورته ویلی دی چی خپل ځوان ذبحه کړه، نو ددی ځخه هم داپته لګیږی چی دابراهیم ؑ وحید اوځوان زوی اسماعیل ؑ وو او اسحاق په هغه وخت کی ورکوتی وو، اودا اسحاق دوی ځکه ذکر کړی دی دوجی دحسد ددوی دعربو سره و ولی چی اسماعیل ؑ ابو العرب دی کم چی په حجاز کی اوسیږی چی یودهغه ځخه رسول الله ﷺ دی. اواسحاق ؑ دیعقوب ؑ پلاردی. اودا اسرائیل دی. چی ددوی نسبت ورته کیږی، نودوی دا اراده وکړه چی داشرف په دی باندی جاری کی، نو دالله ﷻ په کلام کی یې تحریف وکی اوزیادت یې په کی وکی نودوی دومره جاهلان دی چی په دی خبره باندی هم نه پوهیږی چی فضیلت دالله ﷻ په لاس کی دی هغه چی یې چاته غواړی نوهغه ته یې ورکوی، اودسلفو ځخه هم بعضو داخبره کړیده چی دا اسحاق ؑ وو، اودا خبره دوی نقل کړیده دکعب الاحبار ځخه یاداهل کتابو ځخه اوپه دی کی دنبی ؑ ځخه ځه حدیث هم ثابت نه دی چی دهغه دوجی داموږ ومنو، اوده ظاهر قرآن کریم ځخه دانه معلومیږی بلکی دمفهوم ځخه اودعلاقی ځخه یې دامعلومیږی چی اسماعیل ؑ مراددی، اوځه ښه استدلال کړی دی ابن کعب القرظی په دی خبره باندی چی دا اسماعیل ؑ دی او اسحاق ؑ نه دی په دی قول دالله ﷻ سره: فَبَشَّرْنَاهَا بِإِسْحَاقَ وَمِنْ وَرَاءِ إِسْحَاقَ يَعْقُوبَ (سورة هود\۷۱) نوځه رنګه زیری ورکوی اسحاق ته چی دهغه ځخه وروسته یعقوب پیدا کیږی.
اوبیا امرکوی په حلالولودده باندی اودی وړوکی دی اومخکی ددی ځخه چی یعقوب پیدا سوی وو؟ نوداسی نه سی کیدلی، ولی چی ددی تناقض راځی دهغه زیری سره کم یې چی مخکی ورکړی دی. والله اعلم. اوپه دی استدلال دده باندی سهیلی اعتراض کړی دی چی (فَبَشَّرْنٰهَا بِاِسْحٰقَ) داجمله تامه ده، اوداقول: فَبَشَّرْنَاهَا بِإِسْحَاقَ دابله جمله ده چی دزیری په ځای کی نه راځی ده ویلی دی چی داپه عربی کی جائزنه دی چی دا مجرور وی اودده سره دوباره حرف جرنه وی راغلی نوداسی جائزنه دی چی ویل کیږی مررت بزید اوبیا ددی ځخه وروسته عمر ویل کیږی، تردی چی ددی ځخه وروسته بعمر وویل سی. اوده ویلی دی چی په دی قول کی: وَمِنْ وَرَاءِ إِسْحَاقَ يَعْقُوبَ دامنصوب دی په فعل مضمرسره چی تقدیر دعبارت داسی جوړیږی: اوموږ هبه کړی دی اسحاق ؑ ته یعقوب ؑ اوپه دی کی کم چی ده ذکر کړی دی نظردی اوشبهه ده په کی. اوترجیح یې دی خبری ته ورکړیده چی ددی ځخه مراد اسحاق دی اواسماعیل ؑ نه دی مراد، اوحجت یې نیولی دی په دی قول سره (فَلَمَّا بَلَغَ

(c) ketabton.com: The Digital Library



مَعَهُ اَلسَّعْیَ (سورة الصافات \ ۱۰۲) ده ویلی دی چی اسماعیل علیه السلام نه وو ددوی سره په حال دوړوکوالی کی په غر دمکی کی نوده ورسره څنګه سعی وکړه ؟ اوپه دی قول کی هم نظر اوشبهه ده، ولی چی دانقل سوی دی چی ابراهیم علیه السلام به اکثره په براق باندی تلی مکی ته، چی خبربه یې اخستی دخپل زوی اوبیرته به تلی. والله اعلم.

نودهغه چا څخه چی حکایت یې کړی دی چی دااسحاق دی هغه: کعب الاحباردی، اوروایت ذکرسوی دی دعمر څخه اودعباس څخه اودعلی او ابن مسعود اومسروق اوعکرمه رضي الله عنهم اوسعید بن جبیر اومجاهد اوعطاء اوالشعبی اومقاتل اوعبید بن عمیر اوابی میسره اوزید بن اسلم اوعبدالله بن شفیق اوالزهری اوقاسم اوابن ابی برده اومکحول اوعثمان بن حاضر اوالسدی اوحسن اوقتاده اوابی الهذیل اوابن سابط رضي الله عنهم څخه، اودا اختیار دابن جریردی، اودا ددوی څخه دوه روایتونه نقل دی چی دی نقل کوی دابن عباس څخه، خولیکن صحیح روایت ددی او داکثرو دادی چی دا اسماعیل مراددی، اومجاهد اوسعید اوالشعبی اویوسف بن مهران اوعطاء اویوبل غیر معروف چی دابن عباس څخه یې نقل کړی دی داټول وایی چی اسماعیل مراد دی.

اوابن جریر ویلی دی په نقل کولو سره دیونس څخه دی نقل کوی دابن وهب څخه اودی دعمر بن قیس څخه اودی دعطاء بن رباح څخه اودی دابن عباس څخه چی ده ویلی دی: چی په فدیه ورکول سوی اسماعیل دی اویهودیان داګمان کوی چی اسحاق دی اودوی دا دروغ وایی (۱) اودارنګه عبدالله بن امام احمد نقل کوی دخپل پلار څخه چی هغه ویلی دی چی دا اسماعیل مراد دی. اوابن ابی حاتم ویلی دی: چی ماپوښتنه وکړه دحاتم څخه، او روایت یې نقل کړی دعلی څخه اودابن عمر څخه اودابی هریره څخه، اودابی طفیل څخه او دسعید بن کعب څخه اودابی جعفر محمد بن علی څخه اودابی صالح څخه چی دوی ټولو ویلی دی: چی ذبیحه اسماعیل علیه السلام دی اوددی حکایت کړی دی البغوی هم دالربیع بن انس څخه او دالکلبی څخه اودابی عمرو العلاء څخه. ماویلی دی: چی روایت ذکرسوی دی دمعاویه څخه، اودده څخه داذکر سوی دی چی یوسړی نبی علیه السلام ته رالی: اوورته یې وویل چی ای ځویه ددوو ذبیحینو. نورسول الله صلی الله علیه وسلم وخندل، (۲) اوهم په دی قول باندی ټګ کړی دی عمر بن عبد العزیز اومحمدبن اسحاق بن یسار اوحسن بصری به داویله چی په دی کی هیڅ شك نسته، اودارنګه ویلی دی محمد بن اسحاق دبریده څخه چی دی نقل کوی

---

(۱). تاریخ الطبری (۱\ ۱۲۱) راوی ددی حاکم دی چی ذکر کړی یې دی په مستدرك کی (۲\۵۵۵) اوپه دی باندی یې سکوت اختیار کړی دی.

(۲). راوی ددی حاکم دی په المستدرك کی (۲\ ۵۵۴) اوپه دی باندی یې هم سکوت کړی دی. اودارنګه روایت ددی ذکر کړی دی ابن جریر په التاریخ کی (۱\ ۲۵۸).

(c) ketabton.com: The Digital Library



دسفیان بن فروه الاسلمی څخه اودی نقل کوی دمحمد بن کعب څخه، چی ده دوی ته دا خبره کړی وه چی ده داخبره دعمر بن عبد العزیز څخه کړی وه اودی خلیفه وو کله چی دی وو په شام کی دده سره یعنی استدلال دده په دی قول باندی وروسته دعصمت څخه: فَبَشَّرْنَاهَا بِإِسْحَاقَ وَمِنْ وَرَاءِ إِسْحَاقَ يَعْقُوبَ (سورة هود \ ۷۱) نوعمر ورته وویل چی: په دی خبره کی ما تراوسه پوری نظرنه دی کړی اوماته هم داسی ښکاری لکه څه رنګه چی یې ته وایې. اوبیا یې په یوسړی پسی یوسړی ولیږی چی هغه دده سره په شام کی وو اویهودی وو نونوی مسلمان سوی وو او دا ددوی دعالمانو څخه وو، نودده څخه یې پوښتنه وکړه چی: کم زوی دابراهیم ﷺ ذبیحه وو؟ نوده وویل چی زمادی په الله ﷻ باندی قسم وی چی اسماعیل ﷺ دی اویهودو ته ددی خبری علم سته خوهغوی یې دحسد دوجی نه منی چی ددوی دعربو سره حسد دی اودا فضیلت اوشرف دصبر دوی نه غواړی چی دادی ددوی دپاره ثابت سی نودوی ددی څخه انکار کوی اوداګمان ساتی چی اسحاق ﷺ دی ولی چی اسحاق ﷺ ددوی پلار دی. اودامسئله موږ ذکر کړیده په خپل تفسیرکی سره داحادیثو او آثارو. ولله الحمد.

## پیدائش داسحاق عَلَيْهِ السَّلَامُ

الله ﷻ دده په باره کی فرمایلی دی: وَبَشَّرْنَاهُ بِإِسْحَاقَ نَبِيًّا مِنَ الصَّالِحِينَ (۱۱۲) وَبَارَكْنَا عَلَيْهِ وَعَلَى إِسْحَاقَ وَمِنْ ذُرِّيَّتِهِمَا مُحْسِنٌ وَظَالِمٌ لِنَفْسِهِ مُبِينٌ (سورة الصافات ۱۱۲\ ۱۱۳) اودا زیری دملایکی دخواه سوی وو ابراهیم ﷺ اوساره ته کله چی داملایکی په دوی باندی تیریدلی اودقوم دلوط ؑ علاقی ته تللی، ددی دپاره چی دهغوی کورونه تباه کړی اوددوی هلاك کړی دوجی دفسق اوفجور ددوی څخه، ددی بیان به په خپل ځای کی راځی ان شاء الله تعالی.

الله ﷻ فرمایلی دی: وَلَقَدْ جَاءَتْ رُسُلُنَا إِبْرَاهِيمَ بِالْبُشْرَى قَالُوا سَلَامًا قَالَ سَلَامٌ فَمَا لَبِثَ أَنْ جَاءَ بِعِجْلٍ حَنِيذٍ (۶۹) فَلَمَّا رَأَى أَيْدِيَهُمْ لَا تَصِلُ إِلَيْهِ نَكِرَهُمْ وَأَوْجَسَ مِنْهُمْ خِيفَةً قَالُوا لَا تَخَفْ إِنَّا أُرْسِلْنَا إِلَى قَوْمِ لُوطٍ (۷۰) وَامْرَأَتُهُ قَائِمَةٌ فَضَحِكَتْ فَبَشَّرْنَاهَا بِإِسْحَاقَ وَمِنْ وَرَاءِ إِسْحَاقَ يَعْقُوبَ (۷۱) قَالَتْ يَا وَيْلَتَى أَأَلِدُ وَأَنَا عَجُوزٌ وَهَذَا بَعْلِي شَيْخًا إِنَّ هَذَا لَشَيْءٌ عَجِيبٌ (۷۲) قَالُوا أَتَعْجَبِينَ مِنْ أَمْرِ اللَّهِ رَحْمَةُ اللَّهِ وَبَرَكَاتُهُ عَلَيْكُمْ أَهْلَ الْبَيْتِ إِنَّهُ حَمِيدٌ مَجِيدٌ (سورة هود ۶۹\ ۷۳). اودارنګه الله ﷻ فرمایلی دی: وَنَبِّئْهُمْ عَنْ ضَيْفِ إِبْرَاهِيمَ (۵۱) إِذْ دَخَلُوا عَلَيْهِ فَقَالُوا سَلَامًا قَالَ إِنَّا مِنْكُمْ وَجِلُونَ (۵۲) قَالُوا لَا تَوْجَلْ إِنَّا نُبَشِّرُكَ بِغُلَامٍ عَلِيمٍ (۵۳) قَالَ أَبَشَّرْتُمُونِي عَلَى أَنْ مَسَّنِيَ الْكِبَرُ فَبِمَ تُبَشِّرُونَ (۵۴) قَالُوا بَشَّرْنَاكَ بِالْحَقِّ فَلَا تَكُنْ مِنَ الْقَانِطِينَ (۵۵) قَالَ وَمَنْ يَقْنَطُ مِنْ رَحْمَةِ رَبِّهِ إِلَّا الضَّالُّونَ (سورة الحجر ۵۱\ ۵۶).

(c) ketabton.com: The Digital Library



اودارنگه الله ﷻ فرمایلی دی: هَلْ أَتَاكَ حَدِيثُ ضَيْفِ إِبْرَاهِيمَ الْمُكْرَمِينَ (٢٤) إِذْ دَخَلُوا عَلَيْهِ فَقَالُوا سَلَامًا قَالَ سَلَامٌ قَوْمٌ مُنْكَرُونَ (٢٥) فَرَاغَ إِلَى أَهْلِهِ فَجَاءَ بِعِجْلٍ سَمِينٍ (٢٦) فَقَرَّبَهُ إِلَيْهِمْ قَالَ أَلَا تَأْكُلُونَ (٢٧) فَأَوْجَسَ مِنْهُمْ خِيفَةً قَالُوا لَا تَخَفْ وَبَشَّرُوهُ بِغُلَامٍ عَلِيمٍ (٢٨) فَأَقْبَلَتِ امْرَأَتُهُ فِي صَرَّةٍ فَصَكَّتْ وَجْهَهَا وَقَالَتْ عَجُوزٌ عَقِيمٌ (٢٩) قَالُوا كَذَلِكَ قَالَ رَبُّكِ إِنَّهُ هُوَ الْحَكِيمُ الْعَلِيمُ (سورة الذاریات ۲۴\ ۳۰) الله ﷻ بیان کوی ددی ملائکو. اودادری وه جبریلؑ اومیکائیلؑ اواسرافیلؑ، دوی چی کله راله دابراهیم ؑ کورته نودوی گمان دمیلمنو پر وکی، نودی ورسره معامله دمیلمنو وکړه اودوی ته یې یو گیلگی حلال کی چی ښه چاغ وو اوښه مال وو دده دمالونو څخه، نوکله یې چی دا ورنژدی کی دوی ته نودوی لاسونه نه ورکښته کړه. اودا ددی وجی څخه چی دملائکو خوراك ته ضرورت نسته نوابراهیم ؑ ته ددوی څخه بیره محسوسه سوه: وَأَوْجَسَ مِنْهُمْ خِيفَةً قَالُوالَاتَخَفْ إِنَّا أُرْسِلْنَا إِلَى قَوْمِ لُوطٍ (سورة هود\ ۷۰) یعنی موږ ددوی دهلاکت دپاره رالیږل سوی یو. نودوی په دغه وخت ساره ته زیری ورکی. اودا ولاړه وه دمیلمنو سرته لکه څه رنگه چی داعادت په عربو کی وو نوکله چی دی وخندل په دی زیری باندی نو الله ﷻ ورته وفرمایل: فَبَشَّرْنَاهَا بِإِسْحَاقَ وَمِنْ وَرَاءِ إِسْحَاقَ يَعْقُوبَ (سورة هود\ ۷۱) یعنی زیری ورکی فرشتو دی ته په دی خبره سره: فَأَقْبَلَتِ امْرَأَتُهُ فِي صَرَّةٍ (سورة الذاریات \ ۲۹) (فَصَكَّتْ وَجْهَهَا) (سورة الذاریات \ ۲۹) یعنی داسی ډول یې وکی لکه څنگه چی یې ښځی دتعجب په وخت کی کوی: يَا وَيْلَتَى أَأَلِدُ وَأَنَا عَجُوزٌ وَهَذَا بَعْلِي شَيْخًا (سورة هود \ ۲۷) یعنی څه رنگه به زه وزیږوم بچی اوحال داچی زه خوبوډی یم اودازما خاوند بوډادی ؟ نوداحیرانه سوه دی خبری ته چی په دی عمرکی اوپه دی حال کی داسی خبره واقعی دتعجب خبره ده. نوددی وجی څخه فرشتو ورته وویل چی: إِنَّ هَذَا لَشَيْءٌ عَجِيبٌ (٧٢) قَالُوا أَتَعْجَبِينَ مِنْ أَمْرِ اللهِ رَحْمَةُ اللهِ وَبَرَكَاتُهُ عَلَيْكُمْ أَهْلَ الْبَيْتِ إِنَّهُ حَمِيدٌ مَجِيدٌ (سورة هود ۸۲\ ۷۳).

اودارنگه تعجب وکی ابراهیم ؑ په زیری ورکولو سره لوړ پربل زیری ساره ته اودپاره دمضبوطیدو دزړه دساره اودپاره دخوشحالولو دساره: قَالَ أَبَشَّرْتُمُونِي عَلَى أَنْ مَسَّنِيَ الْكِبَرُ فَبِمَ تُبَشِّرُونَ (٥٤) قَالُوا بَشَّرْنَاكَ بِالْحَقِّ فَلَا تَكُنْ مِنَ الْقَانِطِينَ (سورة الحجر ۵۴\ ۵۵) په تاکید سره یې بیان کړه ورته داخبره اوقراری یې ورلره ورکی په دی باندی، نوددواړو زیری یې ورکی (بِغُلَمٍ عَلِيمٍ) (سورة الحجر \ ۵۳) اوداغلام علیم اسحاق ؑ دی ورور داسماعیل ؑ اودا رنگه الله دده صفت کړی دی په وعدو سره دصدق اوپه صبر سره، اودارنگه یې په بل آیت کی ذکرکړی دی: فَبَشَّرْنَاهَا بِإِسْحَاقَ وَمِنْ وَرَاءِ إِسْحَاقَ يَعْقُوبَ اودا هغه دی چی په دی سره

(c) ketabton.com: The Digital Library



استدلال کړی دی محمدبن کعب القرضی اوغیر دده څخه په دی باندی چی ذبیحه اسماعیل علیه السلام دی، ولی چی داسحاق علیه السلام ذبح کول جائز نه دی وروسته دزیری څخه په وجود دده باندی اوپه وجود دده دزوی باندی. اوپه نزد داهل کتابو دوی ته ابراهیم علیه السلام یو سورسوی ګیلګی اودمکی ډوډی اوغوړی اوشیدی راوړی وی اودوی هغه خوړلی دی. نودا قول محض غلط دی اودایې ویلی دی چی ده کتل چی دوی خوراك کوی اودا ډوډی به په هواکی ختمیدله. اوپه نزد ددوی الله جل جلاله ابراهیم علیه السلام ته وفرمایل: هرڅه چی سارادده ستاښځه نو ددی نوم سارا نه ده بلکی ساره ده اوزه تاته په دی کی برکت اچوم اوددی څخه تاته بچی درکوم، اوپه دی زوی کی به دی هم برکت اچوم نوددی به ډلی ډلی نسلونه ګرځی اوددی نسل به اکثره بادشاهان وی اوغټ خلګ به وی، نوابراهیم علیه السلام پرسجده پریوتی. اووی خندله اودځان سره یې داوویل: آیاد (۱۰۰) کالو څخه وروسته به زما دابچی پیدا کیږی؟ اویایې داسی وویل چی داساره به بچی راوړی اودهغې عمر (۹۰) کالو ته رسیدلی دی. اوداقول دالله جل جلاله : فَبَشَّرْنَاهَا بِإِسْحَاقَ وَمِنْ وَرَاءِ إِسْحَاقَ يَعْقُوبَ (سورة هود\ ۷۱) دادلیل دی په دی خبری باندی چی دا اوریدل چی ددی زوی اسحاق به پیداکیږی، اوبیابه دهغه څخه وروسته یعقوب پیداکیږی. یعنی دادواړه به پیداکیږی دده په ژوندون کی ددی دپاره چی ددی سترګی په یخی سی، اوذکر کول دیعقوب په ټول نسل داسحاق علیه السلام کی دادلالت کوی په خصوصیت دده باندی اوفائدی دده باندی اوددی تعین یې ځکه وکی چی اسحاق علیه السلام او دهغه مور دواړه به خوشحالی کوی دده په پیدائش باندی لکه څنګه چی دده مور په پیدائش دزوی باندی خوشحالی کړی وه.

اودارنګه الله جل جلاله فرمایلی دی: وَوَهَبْنَا لَهُ إِسْحَاقَ وَيَعْقُوبَ كُلًّا هَدَيْنَا وَنُوحًا هَدَيْنَا (سورة الانعام \ ۸۴). اودارنګه الله جل جلاله فرمایلی دی: فَلَمَّا اعْتَزَلَهُمْ وَمَايَعْبُدُونَ مِنْ دُونِ اللهِ وَهَبْنَا لَهُ إِسْحَاقَ وَيَعْقُوبَ (سورة مریم\۴۹) اوداخبره به انشاء الله تعالی قوی اواصح وی چی‌مراد ددی څخه اسماعیل علیه السلام دی، اوددی تائید دهغه حدیث څخه هم ثابتیږی چی روایت یې کړی دی سلیمان بن مهران الاعمش دابراهیم بن یزید التیمی څخه دی نقل کوی دخپل پلار څخه دی نقل کوی دابی ذر څخه دی وایی چی ماویل: ای رسول الله صلی الله علیه وسلم اول جمات کم یوجوړ سوی دی؟ نو نبی علیه السلام وفرمایل چی: مسجد الحرام: نوبیا ورڅخه ماپوښتنه وکړه چی بیا وروسته کم جمات جوړ سویدی نونبی علیه السلام وفرمایل چی: مسجد الاقصیٰ: نوبیا ورڅخه ماپوښتنه وکړه چی ددی دواړو په مینځ کی څومره وخت فرق دی، نونبی علیه السلام وفرمایل چی: (۴۰) کاله نو بیا ورڅخه ماپوښتنه وکړه چی وروسته کم مسجد جوړ سوپدی؟ نونبی علیه السلام وفرمایل چی بیاچی په کم ځای کی لمونځ درته رالی اوکوی یې نوهم هلته لمونځ کوه دغه ځای ستا

(c) ketabton.com: The Digital Library



دپاره مسجد دی ([1]) اوپه نزد داهل کتابو، یعقوب عليه السلام مخکنی هغه سړی دی چی مسجد الاقصٰی یې جوړکړی وو، اودا مسجد دایلیا دی په بیت المقدس کی الله جل جلاله دی ورلره شرافت ورکړی. نووینا په دی قول سره جوړول دیعقوب عليه السلام مسجد الاقصٰی لره داوروسته دی ترجوړولو دابراهیم عليه السلام اواسماعیل عليه السلام مسجد الحرام لره په موده د(۴۰) کالو سره. اوجوړول ددی وو وروسته دپیدائش داسحاق عليه السلام ښخه، ولی چی ابراهیم عليه السلام چی کله دعا وکړه، نوده په خپله دعا کی وویل لکه څه رنګه چی الله جل جلاله فرمایلی دی: وَإِذْ قَالَ إِبْرَاهِيمُ رَبِّ اجْعَلْ هَذَا الْبَلَدَ آمِنًا وَاجْنُبْنِي وَبَنِيَّ أَنْ نَعْبُدَ الْأَصْنَامَ (۳۵) رَبِّ إِنَّهُنَّ أَضْلَلْنَ كَثِيرًا مِنَ النَّاسِ فَمَنْ تَبِعَنِي فَإِنَّهُ مِنِّي وَمَنْ عَصَانِي فَإِنَّكَ غَفُورٌ رَحِيمٌ (۳۶) رَبَّنَا إِنِّي أَسْكَنْتُ مِنْ ذُرِّيَّتِي بِوَادٍ غَيْرِ ذِي زَرْعٍ عِنْدَ بَيْتِكَ الْمُحَرَّمِ رَبَّنَا لِيُقِيمُوا الصَّلَاةَ فَاجْعَلْ أَفْئِدَةً مِنَ النَّاسِ تَهْوِي إِلَيْهِمْ وَارْزُقْهُمْ مِنَ الثَّمَرَاتِ لَعَلَّهُمْ يَشْكُرُونَ (۳۷) رَبَّنَا إِنَّكَ تَعْلَمُ مَا نُخْفِي وَمَا نُعْلِنُ وَمَا يَخْفَى عَلَى اللهِ مِنْ شَيْءٍ فِي الْأَرْضِ وَلَا فِي السَّمَاءِ (۳۸) الْحَمْدُ لِلَّهِ الَّذِي وَهَبَ لِي عَلَى الْكِبَرِ إِسْمَاعِيلَ وَإِسْحَاقَ إِنَّ رَبِّي لَسَمِيعُ الدُّعَاءِ (۳۹) رَبِّ اجْعَلْنِي مُقِيمَ الصَّلَاةِ وَمِنْ ذُرِّيَّتِي رَبَّنَا وَتَقَبَّلْ دُعَاءِ (٤٠) رَبَّنَا اغْفِرْ لِي وَلِوَالِدَيَّ وَلِلْمُؤْمِنِينَ يَوْمَ يَقُومُ الْحِسَابُ (سورة ابراهیم ۳۵\ ۴۱) اوهغه چی ذکردی په حدیث کی چی سلیمان بن داود عليه السلام کله یې چی جوړوی بیت المقدس نودالله جل جلاله ښخه یې دری سوالونه وکړه په دی قول سره: رَبِّ اغْفِرْ لِي وَهَبْ لِي مُلْكًا لا يَنْبَغِي لِأَحَدٍ مِنْ بَعْدِي إِنَّكَ أَنْتَ الْوَهَّابُ (سورة ص \ ۳۵) اوداموږ دده په قیصی کی ذکر کوو. نومراد ددی ښخه به تجدید اونوی کول ددی دعمارت وی لکه څنګه چی مخکی ذکرسوه چی ددی دواړو ترمینځ (۴۰) کاله تیرسوی دی، اوداچاهم نه دی ویلی چی دسلیمان عليه السلام اودابراهیم عليه السلام په منځ کی (۴۰) کاله تیرسوی دی، دابن حبان ښخه چی په هغه په خپل تقاسیم کی داویلی دی. اودا قول موافق نه دی.

## بیان دجوړولو دخانه کعبی

په قرآن کریم کی الله جل جلاله فرمایلی دی: وَإِذْ بَوَّأْنَا لِإِبْرَاهِيمَ مَكَانَ الْبَيْتِ أَنْ لَا تُشْرِكْ بِي شَيْئًا وَطَهِّرْ بَيْتِيَ لِلطَّائِفِينَ وَالْقَائِمِينَ وَالرُّكَّعِ السُّجُودِ (۲۶) وَأَذِّنْ فِي النَّاسِ بِالْحَجِّ يَأْتُوكَ رِجَالًا وَعَلَى كُلِّ ضَامِرٍ يَأْتِينَ مِنْ كُلِّ فَجٍّ عَمِيقٍ (سورة الحج ۲۲\ ۲۷) اودارنګه الله جل جلاله فرمایلی دی: إِنَّ أَوَّلَ بَيْتٍ وُضِعَ لِلنَّاسِ لَلَّذِي بِبَكَّةَ مُبَارَكًا وَهُدًى لِلْعَالَمِينَ (۹۶) فِيهِ آيَاتٌ بَيِّنَاتٌ مَقَامُ إِبْرَاهِيمَ وَمَنْ دَخَلَهُ كَانَ آمِنًا وَلِلَّهِ

---

([1]). صحیح البخاری: کتاب الانبیاء کی باب (۱۰) (۲\ ۳۳۶۶) اوباب (ووهبنا لداود سلیمان نعم العبدانه اواب) (۲\ ۳۴۲۵) اومسلم په کتاب المساجد ومواضع الصلاة کی (۵\ ۲) اوالنسایي په کتاب المساجد کی، باب ذکر ای مسجد وضع اولاً (۲\ ۲۸۹) اوابن ماجه په کتاب المساجد والجماعات کی، باب ای مسجد وضع اولاً (۱\ ۷۵۳).

(c) ketabton.com: The Digital Library



عَلَى النَّاسِ حِجُّ الْبَيْتِ مَنِ اسْتَطَاعَ إِلَيْهِ سَبِيلًا وَمَنْ كَفَرَ فَإِنَّ اللهَ غَنِيٌّ عَنِ الْعَالَمِينَ (سورة آل عمران ۹۶\ ۹۷) اودارنګه الله ﷻ فرمایلی دی: وَإِذِ ابْتَلَى إِبْرَاهِيمَ رَبُّهُ بِكَلِمَاتٍ فَأَتَمَّهُنَّ قَالَ إِنِّي جَاعِلُكَ لِلنَّاسِ إِمَامًا قَالَ وَمِنْ ذُرِّيَّتِي قَالَ لَا يَنَالُ عَهْدِي الظَّالِمِينَ (۱۲٤) وَإِذْ جَعَلْنَا الْبَيْتَ مَثَابَةً لِلنَّاسِ وَأَمْنًا وَاتَّخِذُوا مِنْ مَقَامِ إِبْرَاهِيمَ مُصَلًّى وَعَهِدْنَا إِلَى إِبْرَاهِيمَ وَإِسْمَاعِيلَ أَنْ طَهِّرَا بَيْتِيَ لِلطَّائِفِينَ وَالْعَاكِفِينَ وَالرُّكَّعِ السُّجُودِ (۱۲٥) وَإِذْ قَالَ إِبْرَاهِيمُ رَبِّ اجْعَلْ هَذَا بَلَدًا آمِنًا وَارْزُقْ أَهْلَهُ مِنَ الثَّمَرَاتِ مَنْ آمَنَ مِنْهُمْ بِاللهِ وَالْيَوْمِ الْآخِرِ قَالَ وَمَنْ كَفَرَ فَأُمَتِّعُهُ قَلِيلًا ثُمَّ أَضْطَرُّهُ إِلَى عَذَابِ النَّارِ وَبِئْسَ الْمَصِيرُ (۱۲٦) وَإِذْ يَرْفَعُ إِبْرَاهِيمُ الْقَوَاعِدَ مِنَ الْبَيْتِ وَإِسْمَاعِيلُ رَبَّنَا تَقَبَّلْ مِنَّا إِنَّكَ أَنْتَ السَّمِيعُ الْعَلِيمُ (۱۲۷) رَبَّنَا وَاجْعَلْنَا مُسْلِمَيْنِ لَكَ وَمِنْ ذُرِّيَّتِنَا أُمَّةً مُسْلِمَةً لَكَ وَأَرِنَا مَنَاسِكَنَا وَتُبْ عَلَيْنَا إِنَّكَ أَنْتَ التَّوَّابُ الرَّحِيمُ (۱۲۸) رَبَّنَا وَابْعَثْ فِيهِمْ رَسُولًا مِنْهُمْ يَتْلُو عَلَيْهِمْ آيَاتِكَ وَيُعَلِّمُهُمُ الْكِتَابَ وَالْحِكْمَةَ وَيُزَكِّيهِمْ إِنَّكَ أَنْتَ الْعَزِيزُ الْحَكِيمُ (سورة البقره ۱۲۴\ ۱۲۹) .

ذکرکوی الله ﷻ دلته دخپل بنده اورسول اوخلیل چی امام دی دپرهیزګارانو اوپلار دی دانبیاوو ابراهیم ؑ چی ده جوړه کړه خانه کعبه چی دااولنی مسجد دی چی جوړسوی دی دعام خلګو دپاره، چی داخلګ په دی کی دالله ﷻ عبادت وکی، اوالله ﷻ دځان دپاره مکان جوړ کی چی الله ﷻ ته څوك قربت حاصلوی نودی ځای ته دی ځان رسوی اوخلګو ته یې بلنه وکړه دی ځای ته چی دلته دی راټولیږی، اودارنګه موږ روایت نقل کړی دی دامیر المومنین علی بن ابی طالب څخه اوداسی نورو څخه چی الله ﷻ ده ته درابلنی دعوت ورکړی دی په وحی سره، اوداموهم ذکرکړی دی چی دابالکل دبیت المعمور په سیده کی جوړ سوی دی په دی حیثیت سره چی که دابیت المعمو راولویږی نوپه دی باندی به دلوړه څخه راولویږی. اوهم دارنګه داوو واړو آسمانونو عبادت ګاهانی ددی په سیده کی دی، لکه څنګه چی بعضو سلفو داخبره کړیده: چی په هرآسمان کی یوعبادت خانه ده دهغو مخلوقاتو دپاره چی هغوی په کی دالله ﷻ عبادت کوی اوهغه په شان دکعبه ده لکه څه رنګه چی دمزکی والاوو دپاره ده. نوامر وکی الله ﷻ ابراهیم ؑ ته چی یوکور دی په مځکه کی هم داسی جوړکی چی په هغه کی مزکی والا عبادت کوی اوالله ﷻ ورته هغه برابر ځای هم وروښووی کم چی دهغه ورځی څخه متعین وو چی دکمی ورځی څخه آسمان اومځکه پیداسوی دی، لکه څنګه چی داثابت سوی دی په صحیحینو کی: چی داځای حرم ګرځولی دی الله ﷻ دهغه ورځی را ایسی چی په کمه ورځ یې داآسمانونه اومزکی پیداکړی نودا مځکه حرامه ده په حرمت دالله ﷻ سره ترورځی دقیامته پوری اودانه دی ثابت دنبی ؑ څخه چی خانه کعبه مځکی دابراهیم ؑ څخه وو اوکه نه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



(۱) اوبعضو تمسك کړی دی په دی قول باندی (مَكَانَ الْبَيْتِ) نوداپه دی خبره باندی دلالت نه کوی چی دامځکی وو بلکی داپه علم دالله کی دمځکی څخه ثابت وو، اوتعظیم ددی ځای دانبیاوو سره وو دوخت دآدم ﷺ څخه تروخت دابراهیم ﷺ پوری. اومځکی موږ دا خبره ذکرکړیده چی آدم ﷺ په دی ځای باندی یوګنبده جوړه کړی وه، اوملائکی ده ته ویلی وه: چی موږ: طواف کړی دی (۴۰) ورځی خولیکن داټولی خبری داسرائیلی روایاتو څخه نقل دی اومځکی موداویلی دی چی ددی خبری تصدیق نه سی کیدی اونه ورته دروغ ویل کیږی نوپه دی باندی دلیل نه نیول کیږی، مګر هغه چی هغه ته حق مردود ویلی دی نوهغه ردول کیږی.

اودارنګه الله ﷻ فرمایلی دی: إِنَّ أَوَّلَ بَيْتٍ وُضِعَ لِلنَّاسِ لَلَّذِي بِبَكَّةَ مُبَارَكًا وَهُدًى لِلْعَالَمِينَ (سورة آل عمران \ ۹۶) یعنی اول هغه کور چی وضع سوی دی دپاره دبرکت اوهدایت دخلګو په بکه کی دامحل دکعبی دی، (فِيهِ ءَايَتٌ بَيِّنَتٌ) (سورة آل عمران \ ۹۷) یعنی چی بنادده ابراهیم الخلیل کړی دی چی پلار دپیغمبر انو دی اودامام دپرهیز ګارانودی، هغه چی په ده پوری اقتداء کول کیږی اودده په سنت پوری تمسك کیږی. نوددی وجی څخه ویل سوی دی (مَقَامُ إِبْرٰهِيْمَ) (سورة آل عمران \ ۹۷) یعنی هغه ډبره چی په هغه باندی به ابراهیم ﷺ دریدی اوخانه کعبه به یې جوړوله کله چی دده ترقامت خانه کعبه لوړه سوه نوزوی ورلره داډبره کښیښوولـه چی هغه ترنن ورځ پوری سته. لکه څنګه چی داذکر سوی دی په حدیث دابن عباس کی چی اوږد حدیث دی. اوداډبره په خانه کعبی پوری پیوسته وه دهغه وخت څخه تر خلافت پوری دعمربن الخطاب نوده ورڅخه دابیا لږ رالیری کړه، ددی دپاره چی تکلیف نه وی طواف کونکو ته دوجی دهغه خلګو څخه چی هغه ددی خواته لمونځ کوی اوداکار عمربن الخطاب په خپله خوښه کړی دی، ولی چی ده به په اکثرو کارونو کی دالله ﷻ سره موافقت کوی، یوددی څخه داقول دی دده رسول الله ﷺ ته چی که موږ ددی ابراهیم ﷺ ددی ځای څخه مصلی یعنی ځای دلمونځ جوړکو نوښه به وی، نوپه دغه وخت کی الله ﷻ دا آیت نازل کی: وَاتَّخِذُوا مِنْ مَقَامِ إِبْرَاهِيمَ مُصَلًّى (۲) (سورة البقره \ ۱۲۵) اواثار دپښو دابراهیم ﷺ باقی وه تراول وخت داسلام پوری. یعنی دده دپښو پل په دی ډبره کی جوړ سوی وو بغیر دچپلکو څخه هم داسی. نوددی وجی څخه الله ﷻ فرمایلی دی: وَإِذْ يَرْفَعُ إِبْرَاهِيمُ الْقَوَاعِدَ مِنَ الْبَيْتِ وَإِسْمَاعِيلُ (سورة البقره \ ۱۲۷) یعنی په حال کی ددی دجوړولو:

(۱). صحیح البخاری: کتاب جزاء الصید، باب لایحل القتال بمکه (۴\ ۱۸۳۴) اومسلم په کتاب الحج کی باب تحریم مکه وتحریم صیدها وخلاها وشجرها ولقتطها (۹\ ۱۲۳) دحدیث دابن عباس څخه.

(۲). صحیح البخاری، کتاب التفسیر، سورة البقرة، باب قوله: وَاتَّخِذُوامِنْ مَقَامِ إِبْرَاهِيمَ مُصَلًّى، ۸\۴۴۸۳ او احمد ۱\۲۴.

(c) ketabton.com: The Digital Library



رَبَّنَا تَقَبَّلْ مِنَّا إِنَّكَ أَنْتَ السَّمِيعُ الْعَلِيمُ (سورة البقره \ ۱۲۷) نودا دواړه په مقصد داخلاص او اطاعت دالله ﷻ سره اخته وه اودوی دواړه دالله ﷻ څخه داسوال کوی چی سمیع اوعلیم ذات دی چی ددوی څخه داعمل قبول کی: رَبَّنَا وَاجْعَلْنَا مُسْلِمَيْنِ لَكَ وَمِنْ ذُرِّيَّتِنَا أُمَّةً مُسْلِمَةً لَكَ وَأَرِنَا مَنَاسِكَنَا وَتُبْ عَلَيْنَا إِنَّكَ أَنْتَ التَّوَّابُ الرَّحِيمُ (سورة البقرة \ ۱۲۸) مقصدی خبره داده چی ابراهیم ؑ جوړکی اشرف جماعت په اشرف ځای، په داسی ځای کی چی هیڅ قسم درختی بوټی نسته، اودعایې وکړه ددوی داهل دپاره دبرکت، اوددی چی دوی ته ورکوی په رزق کی میوی دهرځای څخه سره ددی چی اوبه اودرختی اومیوی نسته، اودا دعایې هم وکړه چی داځای دی دامن اوفراخی اوګرځی.

نوالله ﷻ فرمایلی دی: أَوَلَمْ يَرَوْا أَنَّا جَعَلْنَا حَرَمًا آمِنًا وَيُتَخَطَّفُ النَّاسُ مِنْ حَوْلِهِمْ (سورة العنکبوت \ ۶۷) اودارنګه الله ﷻ فرمایلی دی: أَوَلَمْ نُمَكِّنْ لَهُمْ حَرَمًا آمِنًا يُجْبَى إِلَيْهِ ثَمَرَاتُ كُلِّ شَيْءٍ رِزْقًا مِنْ لَدُنَّا (سورة القصص \ ۵۷) اودالله ﷻ څخه یې داسوال وکی چی په دوی کی دی رسول راولیږی هم ددوی څخه، یعنی ددوی دجنس څخه، اوددوی په ژبه باندی چی بلیغه او فصیحه عربی وایې. ددوی دپاره یې دواړه قسمه دعا وکړه هم ددنیا دپاره اوهم دآخرت دپاره. اودارنګه الله ﷻ دده دادعا قبوله کړه اوپه دوی کی یې هم ددوی دجنس څخه پیغمبر راولیږی اوپه ده باندی یې نبوت اورسالت دواړه ختم کړه اوپوره دین یې په کامله طریقی سره ورکی چی ددی څخه مخکی یوقوم ته هم داسی نه وو ورکول سوی، اوعام یې کی ددوی دعوت ټولی مزکی والاته سره ددی چی ژبی اوجنسونه مختلف وه، په ټولو ځایونوکی چی پروچه دی اوپرلنده دی ټولوته ترقیامت دورځی پوری، اودا وو دده دخصائصو څخه په منځ دټولو انبیاوو کی، په شرافت دده په خپل نفس کی اوپه پوره والی دهغه څه چی ده ته ورکول سوی وو درسالت څخه، اوپه شرافت دځای دده باندی اوپه شرافت دفصاحت دده باندی وو اوپه کمال دشفقت دده پرخپل امت باندی، اوپه مهربانی اولطف دده باندی نوددی وجی څخه ابراهیم ؑ مستحق ددی وګرزیدی چی په لوړو درجو دآسمان کی واوسول سی اومقام ورکول سی چی ده دمزکی والاوو دپاره کعبه جوړه کړه په مقابل دبیت المعمور کی چی کعبه ده داووم آسمان والاوو چی یوه ملایکه ورباندی یووار طواف وکی نوهغه ته دوباره ترقیامته لمبر نه ورکول کیږی دطواف اوهره ورځ هلته (۷۰۰۰) ملایکی طواف کوی، اوصفت اوکیفیت دجوړولو دخانه کعبی موږ په تفسیرونو کی ذکرکړی دی، اوهغه چی څه اثار اواخبار ذکرسوی دی په دی باره کی، نوڅوك چی غواړی نومراجعه دی ورته وکی. نوددی وجی څخه السدی ویلی دی: کله چی امر وکی الله

(c) ketabton.com: The Digital Library



ابراهیم علیه السلام ته او اسماعیل علیه السلام ته چې دا کور جوړکې نوده ته پته نه وه چې دا په کم ځای کې جوړکې، تردې چې ولیږله الله جل جلاله هوا چه نوم یې (الخجوج وو) دوی ته چې ددې دوه وزره وه اویو سرېې وو په شکل دمار باندې نودوی ته یې جارو کړې هغه ځای دخانه کعبې چې داول څخه یې تاسیس سوی وو، نودوی شروع سوه چې کیندل یې بنیادونه اوبنیادونه یې کښیښوول، اوداپه هغه وخت کې کله چې الله جل جلاله وفرمایل: وَإِذْ بَوَّأْنَا لِإِبْرَاهِيمَ مَكَانَ الْبَيْتِ (سورة الحج \ ۲۶) نوکله چې دوی هغه بنیادونه پوره کړه اورکن ته راورسیده نوابراهیم علیه السلام اسماعیل علیه السلام ته وویل چې ای ځویه یوه ښه ډبره راوړه چې دلته یې کښېږدم. نوده ورته وویل چې ای پلاره زما زه ستړی یم نوپه دی خبره باندې دی ولاړې. نوجبریل دهند څخه حجر اسود راوړی، اوداوو په شان دیاقوتو سپینو اودا آدم علیه السلام دځان سره دجنت څخه را کښته کړی وو نودا دخلګو دګناهونو دوجې توره سوه، نواسماعیل علیه السلام ورته ډبره راوړله نودا حجر اسود یې ولیدی په رکن کې نوپلار ته یې وویل چې: ای زماپلاره دادرته چا راوړی ؟ نوورته یې وویل چې: داهغه چاراوړی چې ستا څخه ډیر چابك دی. نوداخانه کعبه یې جوړولوه اودا دعایې کوله: رَبَّنَا تَقَبَّلْ مِنَّا إِنَّكَ أَنْتَ السَّمِيعُ الْعَلِيمُ (سورة البقره \ ۱۲۷).

اوذکر کړی دی ابن ابی حاتم چې دایې دپنځو غرونو څخه جوړه کړې وه، اوذو القرنین چې دټولی مزکې بادشاه وو پر دوی باندې تیریدی اودوی دواړوداخانه کعبه جوړوله نوپوښتنه یې ورڅخه وکړه چې تاسې ته چا امرکړی دی ددې په جوړولو باندې نوده ابراهیم علیه السلام ورته وویل چې موږ ته الله جل جلاله امرکړی دی ددې په جوړولو باندې، نودې ذوالقرنین ورته وویل چې ستاسره څه ثبوت دی په دی خبره باندې نوده ورته پنځه پسونه په ګواهی کې پیش کړه نوبیایې خبره ومنله اوتصدیق یې ددوی وکې. اوازرقی داویلی دی چې: دی ذو القرنین ددې ابراهیم علیه السلام سره په دی ځای کې طواف کوی. اوداکعبه په جوړولو دابراهیم علیه السلام سره ډیره اوږده وه اوبیا قریشو داکوچنې کړه دشمال دخوا څخه کم چې دشام خوا ته نژدې وه په هغه صورت چې په کم باندې نن ورځ ده. اوپه صحیحینو کې دحدیث دمالك څخه چې نقل یې کړی دی دابن شهاب څخه دی نقل کوی دسالم څخه چې خبر ورکړی دی عبدالله بن محمد بن ابی بکر دابن عمر څخه چې هغه نقل کوی دعائشه رضی الله عنها څخه چې رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلی دی: ایاته نه وینې چې ستاقوم چې کله کعبه جوړوله نودابراهیم علیه السلام دبنیادونو څخه یې کمه کړی وه ؟ نوما وویل چې ای دالله رسوله صلی الله علیه وسلم: ته نه غواړې چې دابیرته په هغه شکل باندې دوباره جوړه کړې؟ نونبی صلی الله علیه وسلم وفرمایل چې: که چیری ستا دقوم په باره دکفر کې خبری نه وای نومابه اوس په هغه شکل جوړه کړې وای، اوپه بل روایت کې داسې ذکر دی چې که چیری ستا دقوم وینانه وای په باره دکفر کې یا دجاهلیت کې نومابه دکعبې

(c) ketabton.com: The Digital Library



خزانه خلګو ته په خیرات کی ورکړی وای اوددی دروازه به می په مځکه کی جوړه کړی وای، اوحجر اسود به می په کی ایښی وی. (۱)
اودارنګه بناء ددی سوی ده دابن الزبیر په ورځوکی په هغه شکل چی ورته نبی ﷺ اشاره کړی وه هغه چی ورته خبر ورکړی وو خاله دده عائشه رضي الله عنها ددی شکل، کله چی دی شهید کی الحجاج په کال (۳۷) باندی نوعبد الملك ته یې داولیکله ددی په باره کی چی داکار یې دځان څخه دی کړی، نوامریې وکی په بیرته راتلو په هغه شکل باندی چی په کم شکل باندی اول وه نوهغه دیوال چی دشام خوا ته وو هغه یې مات کی او دهغه ډبری یې کعبی ته دننه کړی اوحجرِ اسود یې دباندی را وایستی اوددی دروازه یې بیالوړه کړه کم چی شرقی خوا ته وه اوکمه دروازه چی مغرب خوا ته وه هغه یې لیری کړه لکه څه رنګه چی ترنن ورځی پوری ده، بیاچی کله دوی ته داخبره ورسیده چی داابن الزبیر دعائشی رضي الله عنها په خبره باندی کړیده کله چی ورلره هغې خبر ورکی نودوی بیا پښیمانه سوه په هغه کارچی یې وکی، اوافسوس یې وکی چی په هغه شکل یې پریښی وای، بیاچی کله دالمهدی بن المنصور دور وو نومالك بن انس ورته مشوره ورکړه چی دا واپس جوړه کی په هغه شکل اوصورت په کم شکل اوصورت چی ابن الزبیر جوړه کړی وه. نو ده وویل چی زه بیریږم چی ددی څخه بادشاهان لوبه جوړه نه کړی، یعنی کله به چی کم یو بادشاه راځی نوهغه یې چی په کم شکل غواړی نوپه هم هغه شکل به یې جوړوی، نوخبره پر هغه ځای پاته سوه چی پر کم باندی نن خانه کعبه ده. یعنی دهغه دجاهلیت شکل یې پاته سو.

## ثناء دالله ﷻ او درسول الله ﷺ په ابراهیم عليه السلام باندی

الله ﷻ فرمایلی دی: وَإِذِ ابْتَلَى إِبْرَاهِيمَ رَبُّهُ بِكَلِمَاتٍ فَأَتَمَّهُنَّ قَالَ إِنِّي جَاعِلُكَ لِلنَّاسِ إِمَامًا قَالَ وَمِنْ ذُرِّيَّتِي قَالَ لَا يَنَالُ عَهْدِي الظَّالِمِينَ (سورة البقره \ ۱۲۴) کله چی ده پوره کړه هغه چی الله ﷻ ورته امرپه کړی وو دهغو ټولو تکالیفو څخه، نووی ګرځول دی امام دخلګو دپاره چی دده په لاره باندی ټول خلګ اقتداء کوی اودده پیروی به کوی. اوده سوال وکی دالله ﷻ څخه چی دا امامتیا دی په سبب دده باندی متصل اوباقی دی وی دده په نسل کی، نودا سوال ورلره الله ﷻ قبول کی اودا امامتیایې دده په نسل کی باقی پاته کړه، اوخاص یې کړه دده په نسل پوری علماء هغه چی عاملین دی.

(۱). صحیح البخاری: کتاب التفسیر، سورة البقره، باب قول الله تعالی (واذ یرفع ابراهیم القواعد من البیت) (۸\ ۴۴۸۴) اومسلم په کتاب الحج کی، باب مقض الکعبه وبنائها (۹\ ۸۸). اومالك په موطاکی کتاب الحج، باب ماجاء فی بناء الکعبه (۱\ ۱۰۴) اواحمد (۲\ ۱۱۳، ۱۷۷) ، اوالنسایې کتاب المناسك . باب بناء الکعبه (۵\ ۲۹۰۰) اوالترمذی کتاب الحج، باب ماجاء فی کسر الکعبه (۳\ ۸۷۵).

(c) ketabton.com: The Digital Library



لکه څه رنګه چې الله ﷻ فرمایلي دي: وَوَهَبْنَا لَهُ إِسْحَاقَ وَيَعْقُوبَ وَجَعَلْنَا فِي ذُرِّيَّتِهِ النُّبُوَّةَ وَالْكِتَابَ وَآتَيْنَاهُ أَجْرَهُ فِي الدُّنْيَا وَإِنَّهُ فِي الْآخِرَةِ لَمِنَ الصَّالِحِينَ (سورة العنكبوت \ ۲۷) اودارنګه الله ﷻ فرمایلي دي: وَوَهَبْنَا لَهُ إِسْحَاقَ وَيَعْقُوبَ كُلًّا هَدَيْنَا وَنُوحًا هَدَيْنَا مِنْ قَبْلُ وَمِنْ ذُرِّيَّتِهِ دَاوُودَ وَسُلَيْمَانَ وَأَيُّوبَ وَيُوسُفَ وَمُوسَى وَهَارُونَ وَكَذَلِكَ نَجْزِي الْمُحْسِنِينَ (٨٤) وَزَكَرِيَّا وَيَحْيَى وَعِيسَى وَإِلْيَاسَ كُلٌّ مِنَ الصَّالِحِينَ (٨٥) وَإِسْمَاعِيلَ وَالْيَسَعَ وَيُونُسَ وَلُوطًا وَكُلًّا فَضَّلْنَا عَلَى الْعَالَمِينَ (٨٦) وَمِنْ آبَائِهِمْ وَذُرِّيَّاتِهِمْ وَإِخْوَانِهِمْ وَاجْتَبَيْنَاهُمْ وَهَدَيْنَاهُمْ إِلَى صِرَاطٍ مُسْتَقِيمٍ (سورة الانعام ۸۴\ ۸۷) نوپس ضمير په دې قول دالله ﷻ کې (وَمِنْ ذُرِّيَّتِهِ) دا راجع دی ابراهیم عليه السلام ته بناء پرقول مشهور، اولوط ؑ ته که څه هم دی دده دنسل څخه نه دی اوغالبًا داخل سوی دی اوچا دا احتمال ذکرکړی دی چې داضمیر راجع دی نوح عليه السلام ته لکه څنګه چې داموږ بیان کړی ده دهغه په قصه کې. والله اعلم. اودارنګه الله ﷻ فرمایلي دي: وَلَقَدْ أَرْسَلْنَا نُوحًا وَإِبْرَاهِيمَ وَجَعَلْنَا فِي ذُرِّيَّتِهِمَا النُّبُوَّةَ وَالْكِتَابَ (سورة الحديد\۲۶) نوهریو کتاب وروسته دنوح عليه السلام څخه دده په نسل کې پیغمبر ته نازل سوی دی نودا دده یوخصوصیت دی چې دده څخه جلاکیدی نه سی. اوداددی وجې څخه چې دده دوه ځامن سوی وه دخپل ملا څخه اودواړه هلکان وه: اسماعیل دهاجرې څخه، اواسحاق دساره څخه، اوددی څخه بیایعقوب عليه السلام پیداسوی دی چې هغه اسرائیل وو چې هغه ته دهغه دټول قوم نسبت کیږي، نوپه ده کې نبوت وو اوډیر سو داسی حد ته ورسیدی چې تعدادیې دشمار څخه زیات دی صرف هغه ذات ته یې پته سته کم چې رالیږلی دی اورسالت یې ورکړی دی تردې چې ختم سوی دی په عیسیٰ ابن مریم ؑ باندی دبنی اسرائیل څخه. اوهرڅه چې اسماعیل عليه السلام دی نو داوو دعربو څخه په اختلاف دقبیلو سره، لکه څه رنګه چې به داوروسته ذکرکوو انشاء الله تعالی، اونسته په نسل دده کی نبی اورسول ماسوا دهغه څخه چې په هغه باندی نبوت ختم سوی دی اوفخر دبنو آدم دی چې محمد رسول الله ﷺ بن عبدالله بن عبدالمطلب بن هاشم القرشی، المکی اوبیا المدنی دی دالله ﷻ درود اورحمت دی وی په ده باندی، نودده په شجره کی ماسوا دده څخه بل پیغمبر نسته . اودا داسی سرداردی چی مخکنیو اوآخرنیو دده غبطه کړی ده. اوڅه رنګه چې په صحیح مسلم کی ثابت دی چې نبی عليه السلام فرمایلي دي: چی زه به ودریږم په داسی ځای باندی چې دهغه ځای رغبت به هریو کوی تردی چی ابراهیم عليه السلام هم، نوداخبره دنبی ﷺ دلالت کوی پردی باندی چی ابراهیم عليه السلام افضل المخلوقات دی وروسته دنبی ﷺ څخه په نزد دمخلوقاتو، په دی دنیاکی هم اوپه آخرت کی هم.

او دارنګه روایت ذکر کړی دی بخاری چې نقل کوی دعثمان بن ابی شیبه څخه دی دجریر

(c) ketabton.com: The Digital Library



څخه اودی دمنصور څخه اودی دمنهال څخه اودی دسعید بن جبیر څخه اودی دابن عباس څخه دی وایی چی وو رسول الله ﷺ چی تعوذ یې کوی په حسن اوحسین باندی اودایې فرمایل چی ستاسی په پلار باندی اسماعیل اواسحاق تعوذ کړی دی: اعوذ بکلمات الله التامه، من کل شیطان وهامة، ومن کل عین لامة (¹)

اوروایت کړی دی اهل السنن دحدیث دمنصور څخه هم په دی قول سره.

وَإِذْ قَالَ إِبْرَاهِيمُ رَبِّ أَرِنِي كَيْفَ تُحْيِي الْمَوْتَى قَالَ أَوَلَمْ تُؤْمِنْ قَالَ بَلَى وَلَكِنْ لِيَطْمَئِنَّ قَلْبِي قَالَ فَخُذْ أَرْبَعَةً مِنَ الطَّيْرِ فَصُرْهُنَّ إِلَيْكَ ثُمَّ اجْعَلْ عَلَى كُلِّ جَبَلٍ مِنْهُنَّ جُزْءًا ثُمَّ ادْعُهُنَّ يَأْتِينَكَ سَعْيًا وَاعْلَمْ أَنَّ اللهَ عَزِيزٌ حَكِيمٌ سورة البقره\ ۲۶۰) ذکرکړی دی مفسیرینو ددی سوال دپاره ډیر اسباب موږ یې دلته مختصر ذکرکوو اوپه تفسیر کی موپه پوره طریقی سره وضاحت کړی دی حاصله خبره داده چی الله ﷻ ددی دسوال اجابت وکی، اوده ته یې امروکی چی څلور مرغی راونیسه او ټیری کړه هغه اوټوټی یې کړه او ددوی ټول اندامونه دیوبل سره ګډ وډکړه اوبیا ددی هره ټوټه پر جلاجلا غرباندی کښیښږده، اوبیاورته ته دالله ﷻ په امرسره اواز وکړه نودابه تاته راسی، نوکله چی ده داکاروکی اوبیایې ورته اواز وکی ورته راله اوهره ټوټه خپل خپل ځای ته ورله اوپه خپل ځای کی راله اومرغی ورڅخه جوړه سوه، اوده کتل دالله ﷻ هغه قدرت ته چی یوشی ته ووایی چی سه نوبیا سوی وی، نودامرغی ده ته په الوتلو سره رالی چی ده ته ښه ښکاره سی داخبره. اوبعضو داویلی دی چی ده ته امرسوی وو چی دهریو سر دځان سره په لاس کی ونیسه نوهره مرغی به ده ته راتله اوخپل سربه ورسره یوځای کیدی اوبیابه الوته. اوابراهیم ؑ دالله ﷻ په قدرت باندی یقین وو چی هغه مړه کول اوژوندی کول کوی خودا ده خوښوله چی داپه خپل سترګو سره وګوری اودعلم یقین څخه عین الیقین ته خبره ورسیږی. نوالله ﷻ دده داسوال قبول کی اوده ته یې هغه کار وروښووی.

اودارنګه الله ﷻ فرمایلی دی: يَا أَهْلَ الْكِتَابِ لِمَ تُحَاجُّونَ فِي إِبْرَاهِيمَ وَمَا أُنْزِلَتِ التَّوْرَاةُ وَالْإِنْجِيلُ إِلَّا مِنْ بَعْدِهِ أَفَلَا تَعْقِلُونَ (٦٥) هَا أَنْتُمْ هَؤُلَاءِ حَاجَجْتُمْ فِيمَا لَكُمْ بِهِ عِلْمٌ فَلِمَ تُحَاجُّونَ فِيمَا لَيْسَ لَكُمْ بِهِ عِلْمٌ وَاللهُ يَعْلَمُ وَأَنْتُمْ لَا تَعْلَمُونَ (٦٦) مَا كَانَ إِبْرَاهِيمُ يَهُودِيًّا وَلَا نَصْرَانِيًّا وَلَكِنْ كَانَ حَنِيفًا مُسْلِمًا وَمَا كَانَ مِنَ الْمُشْرِكِينَ (٦٧) إِنَّ أَوْلَى النَّاسِ بِإِبْرَاهِيمَ لَلَّذِينَ اتَّبَعُوهُ وَهَذَا النَّبِيُّ وَالَّذِينَ آمَنُوا وَاللهُ وَلِيُّ الْمُؤْمِنِينَ (سورة آل عمران ۲۵\ ۲۸) الله ﷻ دیهودو اودنصارٰی هغه خبره ردوی چی دوی

---

(¹). صحیح البخاری: کتاب احادیث الانبیاء، باب ۱. (۲\ ۳۳۷۱) ، اوترمذی په کتاب الطب کی، باب. ۱۸ (۴\ ۲۰۲) اوابوداود په کتاب السنه کی، باب القرآن (۴\ ۴۷۳۷) اوابن ماجه په کتاب الطب کی، باب ماعوذ النبی ﷺ وما عوذبه (۲\ ۳۵۲۵) .

(c) ketabton.com: The Digital Library



وایی چی ابراهیم ﷺ ددوی په دین باندی دی نوالله ﷻ ددوی څخه بری کی او ددوی جهالت اوکم عقلی یې بیان کړه په دی قول کی: وَمَا أُنْزِلَتِ التَّوْرَاةُ وَالْإِنْجِيلُ إِلَّا مِنْ بَعْدِهِ (سورة آل عمران \ ۲۵) یعنی ځنګه به ستاسی په دین باندی وی اوحال دادی چی تاسی ته دهغه ددین څخه وروسته دین درکول سوی دی؟ نوددی وجی څخه یې فرمایلی دی (اَفَلاَ تَعْقِلُوْنَ) (سورة آل عمران \ ۲۵) تردی چی فرمایلی یې دی: مَا كَانَ إِبْرَاهِيمُ يَهُودِيًّا وَلَا نَصْرَانِيًّا وَلَكِنْ كَانَ حَنِيفًا مُسْلِمًا وَمَا كَانَ مِنَ الْمُشْرِكِينَ (سورة آل عمران \ ۲۷) نودایې ورته بیان کړه چی هغه دالله ﷻ په مخلص ددین باندی وو، اودا قصد کول دی داخلاص طرف ته اوپه قصداً اړول دحق دی باطل ته نوابراهیم ﷺ ددی کار مخالف وو اوداکار دیهودو اودنصارٰی او دمشریکینو خوی دی.

لکه څه رنګه چی الله ﷻ فرمایلی دی: وَمَنْ يَرْغَبُ عَنْ مِلَّةِ إِبْرَاهِيمَ إِلَّا مَنْ سَفِهَ نَفْسَهُ وَلَقَدِ اصْطَفَيْنَاهُ فِي الدُّنْيَا وَإِنَّهُ فِي الْآخِرَةِ لَمِنَ الصَّالِحِينَ (۱۳۰) إِذْ قَالَ لَهُ رَبُّهُ أَسْلِمْ قَالَ أَسْلَمْتُ لِرَبِّ الْعَالَمِينَ (۱۳۱) وَوَصَّى بِهَا إِبْرَاهِيمُ بَنِيهِ وَيَعْقُوبُ يَا بَنِيَّ إِنَّ اللهَ اصْطَفَى لَكُمُ الدِّينَ فَلَا تَمُوتُنَّ إِلَّا وَأَنْتُمْ مُسْلِمُونَ (۱۳۲) أَمْ كُنْتُمْ شُهَدَاءَ إِذْ حَضَرَ يَعْقُوبَ الْمَوْتُ إِذْ قَالَ لِبَنِيهِ مَا تَعْبُدُونَ مِنْ بَعْدِي قَالُوا نَعْبُدُ إِلَهَكَ وَإِلَهَ آبَائِكَ إِبْرَاهِيمَ وَإِسْمَاعِيلَ وَإِسْحَاقَ إِلَهًا وَاحِدًا وَنَحْنُ لَهُ مُسْلِمُونَ (۱۳۳) تِلْكَ أُمَّةٌ قَدْ خَلَتْ لَهَا مَا كَسَبَتْ وَلَكُمْ مَا كَسَبْتُمْ وَلَا تُسْأَلُونَ عَمَّا كَانُوا يَعْمَلُونَ (۱۳٤) وَقَالُوا كُونُوا هُودًا أَوْ نَصَارَى تَهْتَدُوا قُلْ بَلْ مِلَّةَ إِبْرَاهِيمَ حَنِيفًا وَمَا كَانَ مِنَ الْمُشْرِكِينَ (۱۳۵) قُولُوا آمَنَّا بِاللهِ وَمَا أُنْزِلَ إِلَيْنَا وَمَا أُنْزِلَ إِلَى إِبْرَاهِيمَ وَإِسْمَاعِيلَ وَإِسْحَاقَ وَيَعْقُوبَ وَالْأَسْبَاطِ وَمَا أُوتِيَ مُوسَى وَعِيسَى وَمَا أُوتِيَ النَّبِيُّونَ مِنْ رَبِّهِمْ لَا نُفَرِّقُ بَيْنَ أَحَدٍ مِنْهُمْ وَنَحْنُ لَهُ مُسْلِمُونَ (۱۳٦) فَإِنْ آمَنُوا بِمِثْلِ مَا آمَنْتُمْ بِهِ فَقَدِ اهْتَدَوْا وَإِنْ تَوَلَّوْا فَإِنَّمَا هُمْ فِي شِقَاقٍ فَسَيَكْفِيكَهُمُ اللهُ وَهُوَ السَّمِيعُ الْعَلِيمُ (۱۳۷) صِبْغَةَ اللهِ وَمَنْ أَحْسَنُ مِنَ اللهِ صِبْغَةً وَنَحْنُ لَهُ عَابِدُونَ (۱۳۸) قُلْ أَتُحَاجُّونَنَا فِي اللهِ وَهُوَ رَبُّنَا وَرَبُّكُمْ وَلَنَا أَعْمَالُنَا وَلَكُمْ أَعْمَالُكُمْ وَنَحْنُ لَهُ مُخْلِصُونَ (۱۳۹) أَمْ تَقُولُونَ إِنَّ إِبْرَاهِيمَ وَإِسْمَاعِيلَ وَإِسْحَاقَ وَيَعْقُوبَ وَالْأَسْبَاطَ كَانُوا هُودًا أَوْ نَصَارَى قُلْ أَأَنْتُمْ أَعْلَمُ أَمِ اللهُ وَمَنْ أَظْلَمُ مِمَّنْ كَتَمَ شَهَادَةً عِنْدَهُ مِنَ اللهِ وَمَا اللهُ بِغَافِلٍ عَمَّا تَعْمَلُونَ (۱٤۰) تِلْكَ أُمَّةٌ قَدْ خَلَتْ لَهَا مَا كَسَبَتْ وَلَكُمْ مَا كَسَبْتُمْ وَلَا تُسْأَلُونَ عَمَّا كَانُوا يَعْمَلُونَ (سورة البقرة ۱۳۰\۱۴۱) نوپاکی بیان کړه الله ﷻ دخپل خلیل چی دانه یهودی دی اونه نصرانی دی، بلکی دایې بیان کړه چی داخالص مسلمان دی اودمشرکانو څخه نه دی.

نوددی وجی څخه الله ﷻ فرمایلی دی: إِنَّ أَوْلَى النَّاسِ بِإِبْرَاهِيمَ لَلَّذِينَ اتَّبَعُوهُ (سورة آل عمران \ ۲۸) یعنی ددی تابعداران هغه خلګ وه چی دده په زمانه کی وه اوچاچی دده په دین پوری ځان

(c) ketabton.com: The Digital Library



پیوست ساتلی دی دده څخه وروسته (وَهٰذَا النَّبِیُّ) (سورة آل عمران\ ۶۸) یعنی محمد ﷺ مراد دی، ولی چې الله ﷻ ده ته هم دابراهیم ؑ په شان خالص دین ورکړی دی، اوالله ﷻ ورلره پوره دین ورکړی دی، لکه څه رنګه چې الله ﷻ فرمایلی دی: إِنَّ إِبْرَاهِيمَ كَانَ أُمَّةً قَانِتًا لِلَّهِ حَنِيفًا وَلَمْ يَكُ مِنَ الْمُشْرِكِينَ (۱۲۰) شَاكِرًا لِأَنْعُمِهِ اجْتَبَاهُ وَهَدَاهُ إِلَى صِرَاطٍ مُسْتَقِيمٍ (۱۲۱) وَآتَيْنَاهُ فِي الدُّنْيَا حَسَنَةً وَإِنَّهُ فِي الْآخِرَةِ لَمِنَ الصَّالِحِينَ (۱۲۲) ثُمَّ أَوْحَيْنَا إِلَيْكَ أَنِ اتَّبِعْ مِلَّةَ إِبْرَاهِيمَ حَنِيفًا وَمَا كَانَ مِنَ الْمُشْرِكِينَ (سورة النحل، ۱۲۰\ ۱۲۳) .

اودارنګه بخاری نقل کړی دی روایت دابراهیم بن موسی څخه اودی دهشام څخه اودی نقل کوی دمعمر څخه اودی دایوب څخه اودی دعکرمه څخه اودی دابن عباس څخه چې رسول الله ﷺ کله تصویرونه په کورکی ولیدل نوکورته نه دننه کیدی تردی چې امربه یې وکی نو تصویرات به یې وران کړه نوبیابه دننه سو (¹) اوداقول دالله ﷻ (أُمَّةً) یعنی امام وو هدایت کونکی اوداعی دخیر طرف ته، چې اقتدا کول کیږی دده په دی کی (قَانِتًا لِّلَّهِ) یعنی په خشوع سره الله ﷻ ته په هرحال کی اوپه حرکاتو اوسکناتو کی (حَنِيفًا) یعنی مخلص په بصیرت سره (وَلَمْ يَكُ مِنَ الْمُشْرِكِينَ (۱۲۰) شَاكِرًا لِأَنْعُمِهِ) یعنی شکر کونکی دی دخپل رب په خوله سره اوپه زړه سره اوپه عملونو سره (اَجْتَبٰهُ) یعنی اختیار کړی یې دی دی خپل ځان ته اودخپل رسالت دپاره اودی یې خپل خلیل ګرځولی دی. اوجمع کړی یې دی ده ته دواړه خیرونه هم ددنیا اوهم دآخرت.

الله ﷻ فرمایلی دی: وَمَنْ أَحْسَنُ دِينًا مِمَّنْ أَسْلَمَ وَجْهَهُ لِلَّهِ وَهُوَ مُحْسِنٌ وَاتَّبَعَ مِلَّةَ إِبْرَاهِيمَ حَنِيفًا وَاتَّخَذَ اللَّهُ إِبْرَاهِيمَ خَلِيلًا (سورة النساء\۱۲۵) رغبت ورکوی الله ﷻ په تابعداری دابراهیم ؑ ولی چې دی پرنیك اوخالص دین باندی وو، اوده پوره والی کړی وو په هغه ټولو خبرو چې ورته الله ﷻ فرمایلی وی، نوالله ﷻ دده تعریف وکی په دی سره (وَاِبْرٰهِيْمَ الَّذِی وَفّٰی) (سورة النجم ۳۷). نوددی وجی څخه الله ﷻ دی خپل خلیل مقرکی. اوخلیل ویل کیږی انتهایې محبوب ته. اودارنګه دامرتبه نبی ؑ هم حاصله کړیده لکه څنګه چې په صحیحینو کی حدیث نقل دی دجندب البجلی څخه اودعبد الله بن عمر څخه اودابن مسعود څخه چې دی نقل کوی درسول الله ﷺ څخه چې فرمایلی یې دی: ای خلګو! یقینًا زه ګرځولی یم الله ﷻ خلیل دخپل ځان دپاره. اودارنګه په خپل آخرنی خطبه کی یې فرمایلی دی: ای خلګوکه چیری دمزکی والاوو څخه خلیل نیول کیدی نومابه ځان ته ابوبکر رضی الله عنه خلیل نیولی وای خو لیکن صاحب ستاسی (چې دنبی ؑ ځان مراد وو) خلیل دی دالله ﷻ ددی دواړو

(¹). صحیح البخاری: کتاب الحج، باب من کبر فی نواحی الکعبة (۳\ ۱۲۰۱).

(c) ketabton.com: The Digital Library



تخریج (۱) یې دحدیث دابی سعید ؓ څخه کړی دی. اودارنګه ثابت سوی دی دحدیث دعبد الله بن الزبیر څخه اودابن عباس څخه اودابن مسعود څخه.
اودارنګه روایت ذکرکوی بخاری په نقل کولو سره دسلیمان بن حرب څخه دی نقل کوی دشعبه څخه دی دحبیب بن ابی ثابت څخه دی دسعید بن جبیر څخه دی دعمر بن میمون څخه دی وایی چی کله چی معاذ یمن ته رالی نودوی ته یې دسهارلمونځ ورکی نودایې وویل (واتخذ الله ابراهیم خلیلا) نوددی قوم یوه سړی ویل چی دابراهیم ؑ دمور سترګی یخی سوی، (۲) اوابن مردویه ویلی دی په نقل کولو سره دعبدالرحیم بن محمدبن مسلم څخه دی نقل کوی داسماعیل بن احمد بن اسید څخه دی دابراهیم بن یعقوب الجوزجانی څخه په مکه کی دی نقل کوی دعبدالله الحنفی څخه دی دزمعه بن صالح څخه دی دسلمه بن وهرام څخه دی دعکرمه څخه اودی دابن عباس څخه چی دی وایی ناست وو څه صحابه درسول الله ﷺ چی درسول الله انتظار یې کوی، نوراووتی تردی چی نژدی سو دوی ته نو دایې واوریده چی دوی تذکری کولی چی بعضو ددوی څخه داویله: دتعجب خبره ده چی الله ﷻ ابراهیم ؑ ځان ته خلیل نیولی دی، اوبعضو په کی داویله چی څه عجیبه خبره ده چی موسٰی ؑ دالله ﷻ سره خبری کړی دی اوکلیم الله دی. اوبعضو په کی داویله چی عیسٰی ؑ دالله کلمه ده اودهغه روح دی. اوبعضو داویله چی الله ﷻ خوښ کړی دی آدم ؑ، نونبی ؑ راووتی اوسلام یې وکی اوبیایې داوویل: ما واوریدی ستاسی خبری او ستاسی تعجب: یقیناً الله ﷻ ګرځولی دی ابراهیم ؑ خلیل اودا صحیح خبره ده اودموسٰی سره یې خبری کړی دی اوداهم صحیح خبره ده اوعیسٰی دالله ﷻ کلمه اوروح دی اوداهم صحیح خبره ده، بیشکه زه دالله ﷻ حبیب یم اوبیاهم تاسی فخرنه کوی، اوبیشکه زه اول شفاعت کوونکی یم اوبیاهم تاسی فخرنه کوی، اوبیشکه زه اول سړی یم چی زه به دجنت دروازه خلاصوم نوالله ﷻ به هغه خلاصه کړی نوموږ ټول به هغه ته دننه کیږو اوزموږ سره به قاریان دمومنانو وی، اوزه عزتمند داولنیو اودآخرنیو هغه یم ترقیامته پوری اوبیاهم تاسی فخرنه کوی (۳) په دی حدیث کی غرابت دی په دی اعتبارسره اوپه نورو اعتبارونو سره ددی شواهد یردی. اودارنګه روایت ذکرکړی دی حاکم په مستدرك کی دحدیث دقتاده

---

(۱). صحیح البخاری: کتاب مناقب الانصار، باب هجرت رسول الله ﷺ واصحابه (۷\ ۳۹۰۴) اومسلم په کتاب فضائل الصحابه کی، باب فضائل ابوبکرؓ (۱۵\۱۵۰) دحدیث دابی سعید الخدری څخه، اوابن ماجه په، المقدمه کی، باب فی فضائل اصحاب الرسول الله ﷺ (۱\ ۹۳) دحدیث دابی الاحوص څخه چی نقل یې کړی دی دعبد الله څخه.
(۲). صحیح البخاری: کتاب المغازی، باب بعث ابی موسٰی ومعاذ الی الیمن قبل حجت الوداع (۷\ ۴۳۴۸).
(۳). الترمذی: کتاب المناقب، باب فضل النبی ﷺ (۵\ ۳۶۱۲) اودارنګه ابوعیسٰی هم بیان کړی دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ثخه چی دی یې نقل کوی دعکرمه ثخه اودی دابن عباس ثخه دی وایی چی: آیا تاسی انکارکوی دخلیل والی ثخه دابراهیم ﷺ اودکلام دموسیٰ ثخه اودلیدلو دمحمد ﷺ ثخه؟ (¹) اودارنګه ویلی دی ابن ابی حاتم په نقل کولوسره دابی ثخه دی نقل کوی دمحمد بن خالد السلمی ثخه دی دالولید ثخه اودی داسحاق بن یسار ثخه دی وایی چی: کله چی الله ﷻ ابراهیم ﷺ خپل خلیل وګرځوی نوده ته یې په زړه کی بیره ورواچوله نودده دسینی اواز به دلیری ثخه اوریدل کیدی لکه څه رنګه چی دمرغی دسینی اواز په هوا کی اوریدل کیږی.

اودارنګه ویلی دی عبید بن عمیر: وو ابراهیم ﷺ چی خلګ به یې میلمه کوله نویوه ورځ ووتی نوڅوك نه وو چی میلمه کړی یې وای، نورالی خپل کورته نویو سړی یې په خپل کور کی ولاړ ولیدی، نوورته ویې ویل چی ای دالله بنده، ته چا رادننه کړی یې زماکورته بغیر داجازی زما ثخه رالی ؟ نودی سړی ورته وویل چی زه رادننه سوی یم په اجازه درب زما باندی. نوبیایې ورڅخه پوښتنه وکړه چی ته څوك یې؟ نوده ورته وویل چی زه ملك الموت یم، زه الله ﷻ رالیږلی یم خپل یوبنده ته دبندګانو ثخه، ستادی زیری مبارك سی چی هغه سړی الله ﷻ خلیل جوړ کړی دی دڅان دپاره. نوده ویله چی هغه څوك دی؟ زمادی قسم وی په الله ﷻ باندی چی ته داسړی ماته راوښیه که داپه هغه ګوټ ددنیاکی وی نوزه به یې راولم، اوزه به دهغه سره یم یوڅای تردی چی زموږ جدایې راولی مرګ. نوده ورته وویل چی هغه بنده ته یې. نودی ابراهیم ﷺ وویل چی زه یم؟ نوهغه ورته وویل چی هو. نوبیایې ورڅخه پوښتنه وکړه. چی زه الله ﷻ په کم کارباندی خلیل ګرځولی یم هغه ورته وویل په دی خبره چی ته یې خلګو ته ورکوی اودهغو ثخه طلب نه کوی راوی ددی ابن ابی حاتم دی. اودارنګه الله ﷻ په ډیرو ځایونو کی دده ثناء اومدحه ذکر کړیده، نوبعضو ویلی دی چی په (۳۵) ځایونو کی داثناء اومدحه دده ذکرده، چی (۱۵) ددی ثخه په سورة البقره کی ذکردی اودی یودهغه پنځو اولو العزم ثخه دی چی په قرآن کی ذکردی په مابین دټولو انبیاوو کی چی هغه په دوو آیتونو کی چی سورة الاحزاب اوسورة الشوریٰ دی په دی کی ذکردی، اوهغه داقول دالله ﷻ دی: وَإِذْ أَخَذْنَا مِنَ النَّبِيِّينَ مِيثَاقَهُمْ وَمِنْكَ وَمِنْ نُوحٍ وَإِبْرَاهِيمَ وَمُوسَى وَعِيسَى ابْنِ مَرْيَمَ وَأَخَذْنَا مِنْهُمْ مِيثَاقًا غَلِيظًا (سورة الاحزاب\۷) اودارنګه الله ﷻ فرمایلی دی: شَرَعَ لَكُمْ مِنَ الدِّينِ مَا وَصَّى بِهِ نُوحًا وَالَّذِي أَوْحَيْنَا إِلَيْكَ وَمَا وَصَّيْنَا بِهِ إِبْرَاهِيمَ وَمُوسَى وَعِيسَى أَنْ أَقِيمُوا الدِّينَ وَلَا تَتَفَرَّقُوا فِيهِ (سورة الشوریٰ\۱۳) بیادی اشرف اواولوالعزم دی پس درسول الله

(¹). الحاکم فی المستدرك (۲\ ۴۲۹) اوویلی یې دی چی داحدیث حسن دی اوصحیح دی په شرط دبخاری سره.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ﷺ څخه. اوداهغه سړی دی چې نبی ﷺ په اوم آسمان کی ورسره لیدلی وه په دی حال کی چې مخ یې دبیت المعمور خواته ګرځول سوی وو هغه بیت المعمور چې دورځی (۷۰۰۰۰) ملائکی طواف پر کوی اوبیا ورته دوباره لمبر نه ورکول کیږی. اوهغه چې ذکرسوی دی په حدیث دشریك بن ابی نمیر کی چې نقل کړی یې دی دانس څخه په حدیث داسراء کی چې ابراهیم ﷺ په شپږم آسمان کی دی اوموسیٰ ﷺ په اووم آسمان کی دی، نوپه دی (۱) شریك باندی تنقید سوی دی په باره ددی حدیث کی. اواولنی صحیح وو اودارنګه احمدویلی دی په نقل کولو سره دمحمدبن بشر څخه دی نقل کوی دمحمدبن عمر څخه اودی دابو سلمه څخه دی دابی هریره څخه دی وایی چې فرمایلی دی رسول الله ﷺ: کریم چې زوی دکریم دی اوبیازوی دکریم دی اوبیازوی دکریم دی هغه، یوسف بن یعقوب بن اسحاق بن ابراهیم ﷺ دی. یواځی والی کړی دی په دی سره احمد (۲) اوبیا هغه چې دلالت کوی په فضیلت دموسیٰ ﷺ پرابراهیم ﷺ باندی په هغه حدیث کی هم معلومیږی چې ویل سوی دی: او دری کسان وروسته سوی دی آخرته داسی ورځی ته چې دهغه به ټول رغبت کوی تردی چې ابراهیم ﷺ هم (۳) راوی ددی مسلم دی دحدیث دابی کعب رضی الله عنه څخه اوداهغه مقام محموددی چې نبی ﷺ ورڅخه خبر ورکړی دی په دی قول سره: زه سردار دبنو آدم یم ترقیامته پوری اوتاسی هیڅ فخرنه کوی. (۴)

اوبیایې ذکرکی طلب دشفاعت دخلګو دآدم ﷺ څخه اوبیا دنوح ﷺ څخه اوبیا دابراهیم ﷺ څخه اوبیا دموسیٰ ﷺ څخه اوبیا دعیسیٰ ﷺ څخه، نوهریوه به ورڅخه ځان په منع کی تردی چې رابه سی محمد ﷺ ته نووایی به چې زه ددې دپاره یم، زه ددې دپاره یم. اودا رنګه یې ټول حدیث بیان کړی دی.

اودارنګه بخاری روایت ذکرکړی دی په نقل کولو سره دعلی بن عبدالله څخه دی دیحییٰ بن سعید څخه دی دعبیدالله څخه دی دسعید څخه اودی دابی هریره څخه دی وایی چې وویل سوه ای رسول الله څوك ډیره ښه سړی دی اوډیر اکرام والا دی؟ نورسول الله ﷺ وویل ډیر اکرام والا اوښه سړی ددوی څخه متقی ددوی دی یعنی پرهیزګار ددوی، نودوی وویل چې موږ ددی پوښتنه نه ده کړی. نونبی ﷺ ورته وفرمایل چې اکرم اوښه سړی یوسف ﷺ دی چې زوی دنبی دی اوبیازوی دنبی اوبیا زوی دابراهیم ﷺ دی. نودوی ورته وویل چې ددی په باره کی پوښتنه نه کوو نونبی ﷺ ورته وفرمایل چې دعربو په باره کی رانه پوښتنه

---

(۱). مسلم، کتاب الایمان، باب الاسرآء برسول الله ﷺ ۲۱۷\۲. (۲). احمد ۳۳۲\۲. (۳). مخکی ذکرسویدی.

(۴). مسلم، کتاب الفضآئل، باب فضل نسب النبی ﷺ ۳۷\۱۵ دحدیث دابی هریرة رضی الله عنه څخه، اوترمذی په کتاب تفسیر القرآن کی، باب ومن سورة بنی اسرآئیل ۳۱۴۸\۵، ۳۲۱۵ اوابن ماجه په کتاب الزهدکی، باب ذکر الشفاعة ۴۳۰۸\۲ اواحمد ۲\۳ دحدیث دابی سعید څخه، اواحمد ۲۸۱\۱ دحدیث دابن عباس څخه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



کوی؟ نو دوی ورته وویل چی هو. نونبی ﷺ وفرمایل چی ښه ددوی په جاهلیت کی هغه ښه دی په اسلام کی کله چی پوهیږی. (۱) اودارنګه روایت کړی دی ددی بخاری په بل ځای هم. اومسلم اونسایې دطریقی دیحیٰی بن سعید القطان څخه چی دی یې نقل کوی دعبید الله څخه (چی دی ابن عمرو العمری دی) هم په دی الفاظو سره.

اوبیا ویلی دی امام بخاری چی ویلی دی معتمر دعبیدالله څخه چی دی نقل کوی دسعید څخه اودی دابی هریره څخه اودی دنبی ﷺ څخه. ماویلی دی چی اسنادیې ددی کړی دی په بل ځای کی دحدیث ددوی دواړو څخه اودحدیث دعبیده بن سلمان څخه. اونسایې دحدیث دمحمد بن بشر څخه اودوی څلورو واړو دانقل کړی دی دعبیدالله بن عمر څخه چی دی یې نقل کوی دسعید څخه اودی یې دابی هریره رضی الله عنه څخه اودی دنبی ﷺ څخه اوددوی پلرونه یې په کی نه دی ذکرکړی. اودارنګه امام بخاری ویلی دی په نقل کولو سره داسحاق بن منصور څخه دی دمحمد بن عمر څخه اودی دابوسلمه څخه اودی دابی هریره څخه دی وایی چی رسول الله ﷺ فرمایلی دی: چی عزتمند زوی دعزتمند اوبیاهم زوی دعزتمند اوبیا زوی دابراهیم ﷺ یوسف بن یعقوب بن اسحاق بن ابراهیم دی، په دی باندی یې یواځی والی کړی دی دطریقی دعبدالرحمٰن بن عبدالله بن دینار څخه چی دی نقل کوی دخپل پلار څخه چی هغه بیانقل کوی دابن عمر څخه هم په دی الفاظو سره (۲) هرڅه چی هغه حدیث دی چی امام احمد یې روایت کړی دی په نقل کولو سره دیحیٰی څخه اودی نقل کوی دسفیان څخه اودی دمغیره بن النعمان څخه اودی دسعید بن جبیر څخه اودی دابن عباس څخه اودی دنبی ﷺ څخه چی فرمایلی یې دی: دټولو خلګو حشر به لڅ کیږی، نو اول هغه سړی چی هغه ته به جامه ورواچول سی هغه به ابراهیم ﷺ وی بیایې داآیت ووایه: كَمَا بَدَأْنَا أَوَّلَ خَلْقٍ نُّعِيدُهُ، نوتخریج ددی یې کړی دی په صحیحینو کی دحدیث دسفیان الثوری څخه اوشعبه بن الحجاج څخه اودا دواړه دمغیره بن النعمان څخه اودی دسعید بن جبیر څخه اودی دابن عباس څخه هم په دی الفاظو سره. اودافضیلت معینه تقاضا دافضلیت دنسبت نه کوی چی مخکی څوک ښه وی نو وروسته به هم وی داهغه فضیلت دی چی الله تعالی په خپل قدرتِ کامله سره چی چاته وغواړی ورکوی یې، لکه څرنګه چی یې فضیلت ورکړیدی نبی ﷺ ته اوداسی فضیلت یې ورلره ورکړی دی چی مخکنی اوآخرنی ټول یې غبطه کوی.

---

(۱). صحیح البخاری کتاب الانبیآء، باب قول الله تعالی (واتخذ الله ابراهیم خلیلا) ۳۳۵۳\۲ اوباب (ام کنتم شهدآء اذ حضر یعقوب الموت) ۷۴۳۳\۲ اوباب قول الله تعالی (لقد کان فی یوسف واخوته ایات للسآئلین) ۳۳۸۳\۲ اوپه کتاب المناقب کی باب: ۱، ۳۴۹۰\۲، کتاب الفضآئل، باب فضآئل یوسف ۱۳۴\۱۵.

(۲). مخکی بیان سوی دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



اوهرڅه چی هغه احادیث دی چی امام احمد ذکرکړی دی په نقل کولو سره دوکیع څخه او دابونعیم څخه دی نقل کوی دسفیان څخه چی دا الثوری دی دی نقل کوی دمختار بن فلفل څخه اودی دانس بن مالك څخه دی وایی چی نبی ﷺ ته یوسړی رالی اوورته یې وویل چی: ای په خلګو کی ښه نونبی ﷺ ورته وفرمایل چی هغه ابراهیم ﷺ دی (١) نوددی روایت کړی دی مسلم دحدیث دالثوری څخه اودعبدالله بن ادریس څخه، اودعلی بن مشهر څخه اودمحمد بن فضیل څخه اودی څلور واړو دمختار بن فلفل څخه اوداپه وجه دعاجزی یې ویلی دی یعنی پرخپل پلار باندی ځان ته فضیلت نه ورکوی لکه څنګه چی یې فرمایلی دی چی تاسی ماله په انبیاوو باندی فضیلت مه راکوی: اوبیایې وویل چی: تاسی ماله فضیلت مه راکوی په موسیٰ ﷺ باندی، ولی چی ټول خلګ به بیهوښه وی نوځه به اولنی سړی یم چی په هوښ کی به راځم، نوزه به پیداکم موسیٰ ﷺ چی هغه به نیولی وی یوه ستنه دعرش نوماته پته نسته چی دابیهوښه سوی دی اوکه ده ته بدله ورکول سویده دطور په غر کی؟ (٢) اودامنافی نه دی دهغه سره چی په تورات کی ثابت دی چه فرمایلی یې دی: زه به سردار دبنو آدمو یم په ورځ دقیامت کی.

اودارنګه حدیث دابی بن کعب په صحیح مسلم کی: او وروسته به سی دری کسان داسی مقام ته چی دهغه به هریو رغبت کوی تردی چی ابراهیم ﷺ هم. اوهرڅه چی وو ابراهیم ﷺ ښه دپیغمبرانو اواولی العزم وو وروسته دمحمد ﷺ څخه، نوامر وسو لمونځ کونکو ته چی په لمانځه کی په تشهد کی داوایې، کم چی ثابت سوی دی په حدیث دکعب بن عجره کی اوداسی نوروکی، دی وایی چی صحابه وو به وایی چی پرتا باندی خو دسلام اودرود طریقه موږ ته معلومه ده خوپه ابراهیم ﷺ باندی به څه رنګه سلامتیا وایو اودرود وایو؟ نونبی ﷺ وفرمایل: تاسی وایاست: اللهم صل علی محمد وعلی آل محمد کما صلیت علی ابراهیم وعلی آل ابراهیم وبارك علی محمد وعلی آل محمد کمابارکت علی ابراهیم وعلی آل ابراهیم، انك حمید مجید، (٣) اودارنګه الله ﷻ فرمایلی دی ﴿وَاِبْرٰهِیمَ الَّذِی وَفّٰی﴾ (سورة النجم \ ۳۷) . دوی ویلی دی چی ده پوره والی کړی دی په هغه ټولو ویناګانو درب دده باندی اوبرابر کړی یې دی هغه ټول خصلتونه اوشعبی دایمان، اوده به انکارنه کوی په

---

(١). احمد (۳\۱۷۸) مسلم: کتاب الفضائل، باب فضائل ابراهیم ﷺ (۵\ ۱۲۱، ۱۲۲).

(٢). صحیح البخاری: کتاب الخصومات، باب مایذکر فی الاشخاص والملازمه والخصومة بین المسلم والیهودی (۵\ ۲۴۱۱) اواطراف ددی په (۳۴۰۸، ۳۴۱ ، ۳۴۷۲ ، ۴۸۱۳ ، ۵۰۲۲ ، ۶۵۱۷، ۶۵۱۸، ۷۴۲۸ ، ۷۴۷۲) او مسلم کتاب الفضائل، باب فضائل موسیٰ ﷺ (۱۵\ ۱۳۲) اواحمد (۳\ ۴۱).

(٣). صحیح البخاری کتاب الانبیاء، باب (۱۰) (۶\۳۳۷۰) اواطراف ددی په (۴۵۹۷، ۶۳۵۷)، اومسلم: کتاب الصلاة، باب الصلاة علی النبی ﷺ ۱۲۲\۱۴، اواحمد ۲۴۱\۴.

(c) ketabton.com: The Digital Library



کوچنی کاردرب خپل باندی، اودده څخه به کوچنی کارنه هریدی په غټو کارونو سره. عبد الرزاق ویلی دی چی موږ ته خبراکړی دی معمر دطاوس څخه چی هغه نقل کوی دخپل پلار څخه چی هغه دابن عباس څخه په دی قول دالله ﷻ کی: وَإِذِ ابْتَلَى إِبْرَاهِيمَ رَبُّهُ بِكَلِمَاتٍ فَأَتَمَّهُنَّ (سورة البقره \ ۱۲۴). دی وایی چی الله ﷻ په ده باندی امتحان کړی دی په پاکوالی سره: پنځه په بدن کی اوپنځه په سرکی. بریت کوچنی کول. اوغرغره کول، اومسواك وهل، اوپزه کی اوبه اچول، اومسح دسرکول، اودتخر څخه وریښته لیری کول، اوپری مینځل هغه اثرات دمیتیازو په اوبوسره، (۱) راوی ددی ابن ابی حاتم دی اوروایت نقل سوی دی دسعید بن المسیب څخه اودمجاهد څخه اودالشعبی څخه اودالنخعی څخه اودابی صالح څخه اودابی الجلد څخه هم په دی طریقی سره اوهم په دی الفاظو سره. ماویلی دی چی په صحیحینو کی دابی هریره رضی الله عنه څخه روایت نقل دی چی نبی علیه السلام فرمایلی دی: فطرت دانسان تقاضا دپنځو شیانو کوی: سنت کول، اوداوسپنی په ذریعه ویښته لیری کول دتخر څخه اودناف دکښته څخه، اوبریتونه کوچنی کول، اونوکان پرې کول، اودتخرڅخه وریښته ایستل. (۲)

اوپه صحیح مسلم کی اواهل السنن والانقل کوی دحدیث دوکیع څخه چی دی یې نقل کوی دزکریا څخه اودی دابی زائده څخه دی دمصعب بن شیبه العبدری المکی الحجبی څخه دی دطلق بن حبیب العنزی څخه دی دعبدالله بن الزبیر څخه دی دعائشه رضی الله عنها څخه دی وایی چی فرمایلی دی رسول الله ﷺ: دانسان فطرت دلسو شیانو تقاضا کوی سنت کول، اوداوسپنی په ذریعه وریښته لیری کول دتخر څخه اودناف دکښته څخه، او بریتونه کوچنی کول، اونوکان کاټ کول، اودتخر څخه وریښته ایستل، اودګوتو بندونه پریمنځل، اوپزی ته اوبه اچول، اومسواك کول، اوږیره پریښوول، اواستنجاء کول. (۳)

او وروسته به دده دعمر په باره کی ذکر کیږی اودده دسنت په باره کی به هم خبره کیږی. نو دا ټولی خبری بالجمله دلالت کوی په مدحه دده باندی (وَإِبْرٰهِيْمَ الَّذِي وَفّٰى).

## محل دده په جنت کی

حافظ ابوالبزار ویلی دی په نقل کولو سره داحمد بن سنان القطار الواسطی څخه اودمحمد

---

(۱). حاکم په مستدرك کی (۲\ ۲۶۶) اودایې ویلی دی چی داحدیث حسن دی په شرط دشیخینو سره.

(۲). صحیح البخاری: کتاب اللباس، باب تقلیم الاظافر (۱۰ \ ۵۷۷۹) اومسلم په کتاب الطهارة کی، باب خصال الفطره (۳\ ۱۲۲) اوترمذی په کتاب الادب کی، باب ماجاء فی تقلیم الاظفار (۵\ ۲۷۵۶)

(۳). مسلم: کتاب الطهاره، باب خصال الفطره (۳\ ۱۴۷) اوترمذی په کتاب الادب، باب ماجاء فی تقلیم الاظافر (۵\ ۲۷۵۷) ابوداود: کتاب الطهاره، باب السواك من الفطر (۱\ ۱۴) اوالنسایي: کتاب الزینه من السنن، باب الفطره (۸\ ۵۰۵۵) ابن ماجه: کتاب الطهاره، باب الفطره (۱\ ۲۹۳) اواحمد (۶\ ۱۳۷).

(c) ketabton.com: The Digital Library



بن موسٰی القطان څخه دوی دواړه نقل کوی دیزید بن هارون څخه دی دحماد بن سلمه څخه دی دسماك څخه اودی دعکرمه څخه اودی دابی هریره څخه دی وایی چی رسول الله ﷺ فرمایلی دی : یقینًا په جنت کی یوقصردی. ګمان کوم چی دلؤلؤ (ملغلرو) څخه دی. چی په هغه کی بیره نسته اونه تکلیف سته چی داتیار کړی دی الله ﷻ دابراهیم ﷺ دپاره. (۱)
البزار ویلی په نقل کولو سره داحمد بن جمیل المروزی څخه دی نقل کوی دالنضر بن شمیل څخه اودی دحماد بن سلمه څخه اودی دسماك څخه اودی دعکرمه څخه اودی دابی هریره ﷺ څخه چی دی نقل کوی درسول الله ﷺ څخه هم په دی الفاظو سره. اوبیایې دا ویلی دی چی موږ ته داعلم نسته چی داچا نقل کړی دی دحماد بن سلمه څخه اواسناد یې کړی دی یزید بن هارون ته اوالنضر بن شمیل ته اودی نورو ته په روایت موقوف سره ما وویل که چیری داعلت په کی نه وای نودابه په شرط دصحیح وای. اوددی تخریج یې نه دی کړی.

## اوصاف دابراهیم ﷺ

امام احمد ویلی دی په نقل کولو سره دیونس اوحجین څخه دوی دواړه نقل کوی داللیث څخه دی دابی الزبیر څخه اودی دجابر څخه اودی نقل کوی درسول الله ﷺ څخه چی فرمایلی یې دی: عرض به وسی پیغمبرانو ته، اودارنګه احمد ویلی په نقل کولو سره داسود بن عامر څخه دی داسرائیل څخه دی دعثمان څخه یعنی ابن المغیره دی دمجاهد څخه دی دابن عباس څخه دی وایی چی فرمایلی دی رسول الله ﷺ: ماولیدی عیسٰی ﷺ اوموسٰی ﷺ اوابراهیم ﷺ، نوهرڅه چی عیسٰی ﷺ دی نوهغه خلاصی سینی والادی او برداره دی، اوڅه چی موسٰی ﷺ دی نوهغه غټ بدن والا دی. نوصحابه وو ورته وفرمایل چی ابراهیم ﷺ څه رنګه وو نو ویې ویل چی تاسی خپل صاحب ته وګوری. یعنی دنبی ﷺ ځان مراد وو.
اودارنګه بخاری فرمایلی دی په نقل کولو سره دبیان بن عمر څخه دی نقل کوی دالنضر څخه دی دابن عیون څخه اودی دمجاهد څخه چی ده اوربدلی دی دابن عباس څخه، اوذکر یې دوی ته وکی ددجال چی دهغه دسترګو په مینځ کی کافر لیکل سوی دی اویا (ك، ف، ر) لیکل سوی ده نودی وایی چی مانه دی اوریدلی، خولیکن نبی ﷺ دایې ویلی دی: هر څه چی ابراهیم ﷺ دی نو تاسی وګوری خپل صاحب ته. اوراوی دی بخاری دی اومسلم دی دمحمد بن المثنی څخه دی نقل کوی دابن ابی عدی څخه اودی دعبدالله بن عوف څخه

(۱). راوی ددی البزار دی اوطبرانی دی چی دایې په الاوسط کی ذکرکړی دی هم په دی طریقی سره. اوالفاظ دطبرانی جلادی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



هم په دی الفاظو سره. اوهم دارنګه روایت ددی کړی دی بخاری په کتاب الحج کی اوپه کتاب اللباس کی اومسلم، ټولو دمحمد بن المثنی څخه هغه چی دی یې نقل کوی دابن عدی څخه اودی دعبدالله بن عون څخه هم په دی الفاظو سره.

**وفات دابراهیم ﷺ او هغه اقوال چی دده دعمر په باره کی ویل سوی دی**

ابن جریر په تاریخ کی خپل کی ویلی دی (۱) چی پیدائش دده په زمانه دنمرود کی سوی وو، داهغه دی چی دده په باره کی ویل سوی دی چی داضحاك بادشاه دی چی مشهور بادشاه دی، چی ویل سوی دی چی ده (۱۰۰۰) کاله بادشاهی کړیده، اودا انتهایې ظالم اوجابرسړی وو. اوبعضو ویلی دی چی دی داولاد دبنی راسب څخه دی هغه چی نوح ﷺ ورته لیږل سوی وو، اودی په دغه وخت کی ددنیا بادشاه وو اوداهم ذکرسوی دی چی دده په وخت کی یوستوری راښکاره سوی وو چی دلمر اوسپوږمی رڼا یې پټه کړی وه، نو حیران کړه دی کار ددی زمانی خلګ، اونمرود وبیریدی، نورا ټول یې کړه نجومیان او کاهنان اوپوښتنه یې ورڅخه وکړه ددی په باره کی، نودوی ورته وویل چی ستاپه قوم کی به یوماشوم پیداکیږی چی ستا بادشاهی به دهغه په لاس ختمیږی نوده امروکی سړو ته چی دخپل ښځو څخه منع سی اوماشومان به یې مړه کول ددغه وخت راسی، نووسو ولادت دابراهیم ﷺ په دغه وخت کی، نوالله ﷻ وساتی ددوی دمکر څخه، اودده څوان جوړ سو تکړه څوان وو تردی چی وسو هغه کارچی ورته مخکی خبر ورکول سوی وو. او وو دده پیدائش په سوس علاقه کی اوچاویلی دی چی په بابل کی، اوچاویلی دی په اسود کی چی یو طرف دی دکوثی. اومخکی تیرسو دابن عباس څخه چی دی پیداسوی دی په برزه کی چی یوښاردی دمشق. نوکله چی الله ﷻ دده په لاس باندی نمرود هلاك کی نوبیا دی ولاړی حران ته، اوبیا دشام مزکی ته اواقامت یې اختیارکی په ایلیاکی لکه څه رنګه چی موږ مخکی داذکر کړه. اودوه څامن یې پیداسوه چی اسماعیل اواسحاق عَلَيْهِمَا السَّلَامُ وه اومړه سویده ساره ددی څخه مخکی په حبرون علاقه کی هغه چی په مځکه دکنعان کی دی او دده عمر (۱۲۷) کاله وو په قول داهل کتابو سره. نوددې په مرګ باندی ابراهیم ﷺ ډیر زیات خفه سو. او واخسته دیوسړی څخه مځکه په (۴۰۰) میثقاله باندی په (حیث) مقام کی اوهلته یې ساره دفن کړه اوبیا ابراهیم ﷺ دخپل زوی دپاره جرګه وکړه اوهغه ته یې واده وکی د(رفقا) لور دبتویل بن ناحور بن تارح، اوخپل مولایې ورپسی واستوی اودایې په اوښ باندی راوستله. اودوی ویلی دی چی بیا ابراهیم ﷺ بل واده وکی د(قنطورا) سره نو ددی څخه یې پیداسوه (زمران، یقشان، مادان، مدین، شیاق، شوح) اودا ټول اولاد

(۱). تاریخ الطبری (۱\۱۸۷).

(c) ketabton.com: The Digital Library



دقنطورا وه، ویل سوی دی چی دی ناڅاپه یودم مړ سوی دی، اوهم دارنګه داود اوسلیمان عَلَیهِمُ السَّلام هم. اوهغه چی ذکرکړی دی اهل کتابو اوداسی نورو. دوی ویلی دی چی دی اول ناجوړی سوی دی اوبیا وروسته مړسوی دی اوپه (۱۷۵) کلنی کی وفات سوی دی. اوویل سوی دی په (۹۰) کلنی کی وفات سوی دی اودفن سوی دی په مغارات کی په کم ځای کی چی یې ساره دفن کړی وه په حبرون علاقه کی، اودی دفن کړی دی ځامنو دده اسماعیل او اسحاق، اوبعضو داویلی دی چی دده عمر (۲۰۰) کاله وو لکه څه رنګه چی داقول ابن الکلبی کړی دی. نوویلی دی ابن حبان ابوحاتم په صحیح خپل کی چی موږ ته خبرراکړی دی المفضل بن محمد الجندی په مکه کی دی نقل کوی دعلی بن زیاد الخلعی څخه دی دابو قره څخه اودی دابن جریج څخه اودی دیحیٰی بن سعید څخه اودی دسعید بن المسیب څخه اودی دابی هریره څخه دی وایی چی نبی ﷺ فرمایلی دی: سنت سوی دی ابراهیم ﷺ په قدوم کی چی عمر یې (۱۲۰) کاله وو اووددی سنت څخه یې وروسته (۸۰) کاله نور ژوند تیرکړی دی (۱) اودارنګه ددی روایت ذکر کړی دی الحافظ ابن عساکر دطریقی دعکرمه بن ابراهیم څخه اودجعفر بن عون العمری څخه دی نقل کوی دیحیٰی بن سعید څخه اودی دسعید څخه اودی دابی هریره څخه موقوفًا.

اودارنګه محمدبن اسماعیل الحسانی الواسطی ویلی دی: زیادت یې کړی دی په تفسیر دوکیع کی په باره دهغه کی چی دده په زیادات کی ذکرکړی دی په نقل کولوسره دابو معاویه څخه دی نقل کوی دیحیٰی بن سعید څخه اودی دسعیدبن المسیب څخه اودی دابی هریره څخه دی وایی چی: ووابراهیم ﷺ اول هغه سړی چی پرتوګ یې اغوستی دی اواول هغه سړی چی دوریښتانو په منځ کی یې لاره اړولی وه او اول سړی چی په چاړه سره یې وریښته لیری کړی دی، اواول هغه سړی چی په قدوم کی یې سنت کړی دی، اودی د(۱۲۰) کالو وو، اواول چی میلمانه یې جوړکړه، اواول هغه سړی چی بوډاسوی وو. هم دارنګه روایت یې ذکرکړی دی موقوف، اودامشابه دی دمرفوع سره، خلاف ثابت دی دابن حبان دپاره. والله اعلم. اودارنګه ویلی دی مالك دیحیٰی بن سعید بن المسیب څخه چی دی وایې: وو ابراهیم ﷺ اول هغه سړی چی دمیلمسیتا رواج یې جوړکی اواول هغه چی بریتونه یې کوچنی کړی وه، اواول هغه سړی چی بوډاوالی یې ولیدی اواول هغه چی سنت یې کړی وو نوده ویل چی: ای ربه زما داڅه دی؟ نوالله ﷻ ورته وویل چی داوقاردی، نوده وویل ای الله زیات کړی دازما دپاره وقار (۲) اونورو ورسره دازیات کړی دی چی اول هغه

(۱). مخکی ددی بیان تیر سوی دی.
(۲). موطاء امام مالك: کتاب صفت النبی ﷺ، باب ماجاء فی السنت فی الفطرت (۱۲\۴).

(c) ketabton.com: The Digital Library



شخص وو چی بریتونه یې کوچنی کړی دی اوپرتوګ یې اچولی دی. نوقبر دده اوقبر دده دزوی چی اسحاق دی اویعقوب دی په مربعه کی دی کم چی سلیمان بن داود ﷺ جوړکړی دی په حبرون علاقه کی، اودانن ورځ دخلیل په نامه باندی مشهوره دی. اوداخبره په تواتر سره نقل ده چی یوامت یې دبل امت څخه نقل کړی دی اویوه پیړی یې دبلی پیړی څخه نقل کړی دی دزمانی دبنی اسرائیل څخه تردی زمانی پوری، چی دده قبرپه مربعه کی دی په حقیقت کی اوهرڅه چی دتعیین په باره کی دی نودنبی ﷺ څخه هیڅ روایت نقل نه دی.
نوپکار دی چی دهغه ځای احترام دی وسی ددی وجی څخه چی دلته دابراهیم خلیل الله قبر دی اوپه دی په مځکه کی څه خراب کارونه سی په دی بیری سره چی دلته چیری قبر دابراهیم خلیل الله نه وی اودهغه دځامنو قبرونه نه وی. اودارنګه ابن عساکر روایت ذکر کړی دی په سندسره وهب بن منبه ته دی وایی چی دابراهیم ﷺ په قبرباندی یوشعر پیدا سوی دی (الهی جهولا امله. یموت من جاء اجله).

### اولادونه دابراهیم عَلَیْہِ السَّلَام

اول زوی دابراهیم ﷺ دهاجری څخه سوی وو چی نوم یې اسماعیل دی اوبیا دوهم اسحاق ﷺ دساره څخه اودهغه څخه وروسته ابراهیم ﷺ واده وکی دقنطورا سره چی لور دیقطن الکنعانیه وه نو ددی څخه یې شپږ بچی پیداسوه: مدین، زمران، سرج، یقشان، نشق، او دشپږم نوم یې نه دی ذکرکړی. بیایې ددی څخه وروسته دحجون سره واده وکی چی لور دامین وه، نوددی څخه یې پنځه بچی پیدا سوه: کیسان، سورج، امیم، لوطان، نافس، همدارنګه ذکرکړی دی ابوالقاسم السهیلی په خپل کتاب (التعریف والاعلام) کی.

### قصه دلوط ﷺ

واقعه دلوط ﷺ په ژوند دابراهیم ﷺ کی واقع سویده، اوهغه چی دده پرقوم باندی کم سخت عذاب نازل سوی وو. اودا لوط بن هاران بن تارح چی آزردی دهغه اولاددی دابراهیم ﷺ وراره دی، ولی چی ابراهیم اوهاران اوناحور دا دری کوچنی ورونه دی لکه څنګه چی داخبره موږ مخکی ذکر کړیده، اوویل سویدی چی داهاران هغه سړی دی چی حران علاقه یې جوړه کړیده، اوداخبره ضعیفه ده دوجی دمخالفت ددی دهغه څه سره چی داهل کتابو سره دی. اودا لوط ﷺ دخپل اکا څخه جلاسوی وو په امر دهغه سره اونازل سوی وو سدوم علاقی ته چی مځکه دغور زغروه اوداخاص مرکز وو ددغو علاقو اوپه دوی کی ډیر نااهله خلګ ظالمان اوکافران اوبدخویه خلګ اوسیدله اوډیر بدکردار والاوه، چی دوی به خلګو ته لاری نیولی اوپه خپلوکی به یې په بدکاری باندی راتګ کوی اومنع به یې نه کول دبدکاری څخه چاچی به کوله اوډیر بددی هغه چی دوی یې کوی، اودوی نوی فاحشه او

(c) ketabton.com: The Digital Library



ګناه راوستلی وه چې مخکې چانه وه کړې دبنوآدم څخه، اوهغه داچې نارینه وو ته به یې راتګ کوی، اوهغه زنانی چې ورلره الله ﷻ ورکړی وی هغه یې هم داسې پریښې صرف نیکانو خلګو ته نودوی ته دعوت ورکی لوط ﷺ دالله ﷻ دعبادت طرف ته چې دهغه په یواځې والی سره عبادت وکی اوشریك ورلره مه نیسی، اودوی یې منع کړه ددی بدکاري څخه اودهغه کارڅخه چې مخکې چاپه بنو آدم کې کړی نه وو، نودوی ډیروخت هم داسې په خپلو ګمراهیو کې تیرکی اوپه خپله بې دینې کې، اودوی روان وه په خپل کفر کې اوپه خپل فسق اوفجورکی، نوالله ﷻ داسې عذاب پر نازل کی چې هغه واپس کیدونکی نه وو اوداسې یې تس اونس کړه چې عبرت وګرزیدی دوروستنیو خلګو دپاره. نوددی وجې څخه الله ﷻ ددوی قصه په قرآن کریم کې په مختلف ځایونو کې ذکرکوی.

نوالله ﷻ فرمایلی دی: وَلُوطًا إِذْ قَالَ لِقَوْمِهِ أَتَأْتُونَ الْفَاحِشَةَ مَا سَبَقَكُمْ بِهَا مِنْ أَحَدٍ مِنَ الْعَالَمِينَ (۸۰) إِنَّكُمْ لَتَأْتُونَ الرِّجَالَ شَهْوَةً مِنْ دُونِ النِّسَاءِ بَلْ أَنْتُمْ قَوْمٌ مُسْرِفُونَ (۸۱) وَمَا كَانَ جَوَابَ قَوْمِهِ إِلَّا أَنْ قَالُوا أَخْرِجُوهُمْ مِنْ قَرْيَتِكُمْ إِنَّهُمْ أُنَاسٌ يَتَطَهَّرُونَ (۸۲) فَأَنْجَيْنَاهُ وَأَهْلَهُ إِلَّا امْرَأَتَهُ كَانَتْ مِنَ الْغَابِرِينَ (۸۳) وَأَمْطَرْنَا عَلَيْهِمْ مَطَرًا فَانْظُرْ كَيْفَ كَانَ عَاقِبَةُ الْمُجْرِمِينَ (سورة الاعراف۸۰\ ۸۴).

اودارنګه الله ﷻ فرمایلی دی: وَلَقَدْ جَاءَتْ رُسُلُنَا إِبْرَاهِيمَ بِالْبُشْرَى قَالُوا سَلَامًا قَالَ سَلَامٌ فَمَا لَبِثَ أَنْ جَاءَ بِعِجْلٍ حَنِيذٍ (۶۹) فَلَمَّا رَأَى أَيْدِيَهُمْ لَا تَصِلُ إِلَيْهِ نَكِرَهُمْ وَأَوْجَسَ مِنْهُمْ خِيفَةً قَالُوا لَا تَخَفْ إِنَّا أُرْسِلْنَا إِلَى قَوْمِ لُوطٍ (۷۰) وَامْرَأَتُهُ قَائِمَةٌ فَضَحِكَتْ فَبَشَّرْنَاهَا بِإِسْحَاقَ وَمِنْ وَرَاءِ إِسْحَاقَ يَعْقُوبَ (۷۱) قَالَتْ يَا وَيْلَتَى أَأَلِدُ وَأَنَا عَجُوزٌ وَهَذَا بَعْلِي شَيْخًا إِنَّ هَذَا لَشَيْءٌ عَجِيبٌ (۷۲) قَالُوا أَتَعْجَبِينَ مِنْ أَمْرِ اللهِ رَحْمَةُ اللهِ وَبَرَكَاتُهُ عَلَيْكُمْ أَهْلَ الْبَيْتِ إِنَّهُ حَمِيدٌ مَجِيدٌ (۷۳) فَلَمَّا ذَهَبَ عَنْ إِبْرَاهِيمَ الرَّوْعُ وَجَاءَتْهُ الْبُشْرَى يُجَادِلُنَا فِي قَوْمِ لُوطٍ (۷٤) إِنَّ إِبْرَاهِيمَ لَحَلِيمٌ أَوَّاهٌ مُنِيبٌ (۷۵) يَا إِبْرَاهِيمُ أَعْرِضْ عَنْ هَذَا إِنَّهُ قَدْ جَاءَ أَمْرُ رَبِّكَ وَإِنَّهُمْ آتِيهِمْ عَذَابٌ غَيْرُ مَرْدُودٍ (۷۶) وَلَمَّا جَاءَتْ رُسُلُنَا لُوطًا سِيءَ بِهِمْ وَضَاقَ بِهِمْ ذَرْعًا وَقَالَ هَذَا يَوْمٌ عَصِيبٌ (۷۷) وَجَاءَهُ قَوْمُهُ يُهْرَعُونَ إِلَيْهِ وَمِنْ قَبْلُ كَانُوا يَعْمَلُونَ السَّيِّئَاتِ قَالَ يَا قَوْمِ هَؤُلَاءِ بَنَاتِي هُنَّ أَطْهَرُ لَكُمْ فَاتَّقُوا اللهَ وَلَا تُخْزُونِ فِي ضَيْفِي أَلَيْسَ مِنْكُمْ رَجُلٌ رَشِيدٌ (۷۸) قَالُوا لَقَدْ عَلِمْتَ مَا لَنَا فِي بَنَاتِكَ مِنْ حَقٍّ وَإِنَّكَ لَتَعْلَمُ مَا نُرِيدُ (۷۹) قَالَ لَوْ أَنَّ لِي بِكُمْ قُوَّةً أَوْ آوِي إِلَى رُكْنٍ شَدِيدٍ (۸۰) قَالُوا يَا لُوطُ إِنَّا رُسُلُ رَبِّكَ لَنْ يَصِلُوا إِلَيْكَ فَأَسْرِ بِأَهْلِكَ بِقِطْعٍ مِنَ اللَّيْلِ وَلَا يَلْتَفِتْ مِنْكُمْ أَحَدٌ إِلَّا امْرَأَتَكَ إِنَّهُ مُصِيبُهَا مَا أَصَابَهُمْ إِنَّ مَوْعِدَهُمُ الصُّبْحُ أَلَيْسَ الصُّبْحُ بِقَرِيبٍ (۸۱) فَلَمَّا جَاءَ أَمْرُنَا جَعَلْنَا عَالِيَهَا سَافِلَهَا وَأَمْطَرْنَا عَلَيْهَا حِجَارَةً مِنْ سِجِّيلٍ مَنْضُودٍ (۸۲) مُسَوَّمَةً عِنْدَ رَبِّكَ وَمَا هِيَ مِنَ الظَّالِمِينَ بِبَعِيدٍ (سورة هود ۶۹\ ۸۳).

(c) ketabton.com: The Digital Library



اودارنګه الله ﷻ فرمايلى دى: وَنَبِّئْهُمْ عَنْ ضَيْفِ إِبْرَاهِيمَ (٥١) إِذْ دَخَلُوا عَلَيْهِ فَقَالُوا سَلَامًا قَالَ إِنَّا مِنْكُمْ وَجِلُونَ (٥٢) قَالُوا لَا تَوْجَلْ إِنَّا نُبَشِّرُكَ بِغُلَامٍ عَلِيمٍ (٥٣) قَالَ أَبَشَّرْتُمُونِي عَلَى أَنْ مَسَّنِيَ الْكِبَرُ فَبِمَ تُبَشِّرُونَ (٥٤) قَالُوا بَشَّرْنَاكَ بِالْحَقِّ فَلَا تَكُنْ مِنَ الْقَانِطِينَ (٥٥) قَالَ وَمَنْ يَقْنَطُ مِنْ رَحْمَةِ رَبِّهِ إِلَّا الضَّالُّونَ (٥٦) قَالَ فَمَا خَطْبُكُمْ أَيُّهَا الْمُرْسَلُونَ (٥٧) قَالُوا إِنَّا أُرْسِلْنَا إِلَى قَوْمٍ مُجْرِمِينَ (٥٨) إِلَّا آلَ لُوطٍ إِنَّا لَمُنَجُّوهُمْ أَجْمَعِينَ (٥٩) إِلَّا امْرَأَتَهُ قَدَّرْنَا إِنَّهَا لَمِنَ الْغَابِرِينَ (٦٠) فَلَمَّا جَاءَ آلَ لُوطٍ الْمُرْسَلُونَ (٦١) قَالَ إِنَّكُمْ قَوْمٌ مُنْكَرُونَ (٦٢) قَالُوا بَلْ جِئْنَاكَ بِمَا كَانُوا فِيهِ يَمْتَرُونَ (٦٣) وَأَتَيْنَاكَ بِالْحَقِّ وَإِنَّا لَصَادِقُونَ (٦٤) فَأَسْرِ بِأَهْلِكَ بِقِطْعٍ مِنَ اللَّيْلِ وَاتَّبِعْ أَدْبَارَهُمْ وَلَا يَلْتَفِتْ مِنْكُمْ أَحَدٌ وَامْضُوا حَيْثُ تُؤْمَرُونَ (٦٥) وَقَضَيْنَا إِلَيْهِ ذَلِكَ الْأَمْرَ أَنَّ دَابِرَ هَؤُلَاءِ مَقْطُوعٌ مُصْبِحِينَ (٦٦) وَجَاءَ أَهْلُ الْمَدِينَةِ يَسْتَبْشِرُونَ (٦٧) قَالَ إِنَّ هَؤُلَاءِ ضَيْفِي فَلَا تَفْضَحُونِ (٦٨) وَاتَّقُوا اللهَ وَلَا تُخْزُونِ (٦٩) قَالُوا أَوَلَمْ نَنْهَكَ عَنِ الْعَالَمِينَ (٧٠) قَالَ هَؤُلَاءِ بَنَاتِي إِنْ كُنْتُمْ فَاعِلِينَ (٧١) لَعَمْرُكَ إِنَّهُمْ لَفِي سَكْرَتِهِمْ يَعْمَهُونَ (٧٢) فَأَخَذَتْهُمُ الصَّيْحَةُ مُشْرِقِينَ (٧٣) فَجَعَلْنَا عَالِيَهَا سَافِلَهَا وَأَمْطَرْنَا عَلَيْهِمْ حِجَارَةً مِنْ سِجِّيلٍ (٧٤) إِنَّ فِي ذَلِكَ لَآيَاتٍ لِلْمُتَوَسِّمِينَ (٧٥) وَإِنَّهَا لَبِسَبِيلٍ مُقِيمٍ (٧٦) إِنَّ فِي ذَلِكَ لَآيَةً لِلْمُؤْمِنِينَ (سورة الحجر ۵۱\ ۷۷) .

اودارنګه الله ﷻ فرمايلى دى: كَذَّبَتْ قَوْمُ لُوطٍ الْمُرْسَلِينَ (١٦٠) إِذْ قَالَ لَهُمْ أَخُوهُمْ لُوطٌ أَلَا تَتَّقُونَ (١٦١) إِنِّي لَكُمْ رَسُولٌ أَمِينٌ (١٦٢) فَاتَّقُوا اللهَ وَأَطِيعُونِ (١٦٣) وَمَا أَسْأَلُكُمْ عَلَيْهِ مِنْ أَجْرٍ إِنْ أَجْرِيَ إِلَّا عَلَى رَبِّ الْعَالَمِينَ (١٦٤) أَتَأْتُونَ الذُّكْرَانَ مِنَ الْعَالَمِينَ (١٦٥) وَتَذَرُونَ مَا خَلَقَ لَكُمْ رَبُّكُمْ مِنْ أَزْوَاجِكُمْ بَلْ أَنْتُمْ قَوْمٌ عَادُونَ (١٦٦) قَالُوا لَئِنْ لَمْ تَنْتَهِ يَا لُوطُ لَتَكُونَنَّ مِنَ الْمُخْرَجِينَ (١٦٧) قَالَ إِنِّي لِعَمَلِكُمْ مِنَ الْقَالِينَ (١٦٨) رَبِّ نَجِّنِي وَأَهْلِي مِمَّا يَعْمَلُونَ (١٦٩) فَنَجَّيْنَاهُ وَأَهْلَهُ أَجْمَعِينَ (١٧٠) إِلَّا عَجُوزًا فِي الْغَابِرِينَ (١٧١) ثُمَّ دَمَّرْنَا الْآخَرِينَ (١٧٢) وَأَمْطَرْنَا عَلَيْهِمْ مَطَرًا فَسَاءَ مَطَرُ الْمُنْذَرِينَ (١٧٣) إِنَّ فِي ذَلِكَ لَآيَةً وَمَا كَانَ أَكْثَرُهُمْ مُؤْمِنِينَ (١٧٤) وَإِنَّ رَبَّكَ لَهُوَ الْعَزِيزُ الرَّحِيمُ (سورة الشعراء ۱۲۰\ ۱۷۵) . اودارنګه الله ﷻ فرمايلى دى: وَلُوطًا إِذْ قَالَ لِقَوْمِهِ أَتَأْتُونَ الْفَاحِشَةَ وَأَنْتُمْ تُبْصِرُونَ (٥٤) أَئِنَّكُمْ لَتَأْتُونَ الرِّجَالَ شَهْوَةً مِنْ دُونِ النِّسَاءِ بَلْ أَنْتُمْ قَوْمٌ تَجْهَلُونَ (٥٥) فَمَا كَانَ جَوَابَ قَوْمِهِ إِلَّا أَنْ قَالُوا أَخْرِجُوا آلَ لُوطٍ مِنْ قَرْيَتِكُمْ إِنَّهُمْ أُنَاسٌ يَتَطَهَّرُونَ (٥٦) فَأَنْجَيْنَاهُ وَأَهْلَهُ إِلَّا امْرَأَتَهُ قَدَّرْنَاهَا مِنَ الْغَابِرِينَ (٥٧) وَأَمْطَرْنَا عَلَيْهِمْ مَطَرًا فَسَاءَ مَطَرُ الْمُنْذَرِينَ (سورة النمل ۵۴\ ۵۸) .

او دارنګه الله ﷻ فرمايلى دى: وَلُوطًا إِذْ قَالَ لِقَوْمِهِ إِنَّكُمْ لَتَأْتُونَ الْفَاحِشَةَ مَا سَبَقَكُمْ بِهَا مِنْ أَحَدٍ مِنَ

(c) ketabton.com: The Digital Library



الْعَالَمِينَ (٢٨) أَئِنَّكُمْ لَتَأْتُونَ الرِّجَالَ وَتَقْطَعُونَ السَّبِيلَ وَتَأْتُونَ فِي نَادِيكُمُ الْمُنْكَرَ فَمَا كَانَ جَوَابَ قَوْمِهِ إِلَّا أَنْ قَالُوا ائْتِنَا بِعَذَابِ اللهِ إِنْ كُنْتَ مِنَ الصَّادِقِينَ (٢٩) قَالَ رَبِّ انْصُرْنِي عَلَى الْقَوْمِ الْمُفْسِدِينَ (٣٠) وَلَمَّا جَاءَتْ رُسُلُنَا إِبْرَاهِيمَ بِالْبُشْرَى قَالُوا إِنَّا مُهْلِكُو أَهْلِ هَذِهِ الْقَرْيَةِ إِنَّ أَهْلَهَا كَانُوا ظَالِمِينَ (٣١) قَالَ إِنَّ فِيهَا لُوطًا قَالُوا نَحْنُ أَعْلَمُ بِمَنْ فِيهَا لَنُنَجِّيَنَّهُ وَأَهْلَهُ إِلَّا امْرَأَتَهُ كَانَتْ مِنَ الْغَابِرِينَ (٣٢) وَلَمَّا أَنْ جَاءَتْ رُسُلُنَا لُوطًا سِيءَ بِهِمْ وَضَاقَ بِهِمْ ذَرْعًا وَقَالُوا لَا تَخَفْ وَلَا تَحْزَنْ إِنَّا مُنَجُّوكَ وَأَهْلَكَ إِلَّا امْرَأَتَكَ كَانَتْ مِنَ الْغَابِرِينَ (٣٣) إِنَّا مُنْزِلُونَ عَلَى أَهْلِ هَذِهِ الْقَرْيَةِ رِجْزًا مِنَ السَّمَاءِ بِمَا كَانُوا يَفْسُقُونَ (٣٤) وَلَقَدْ تَرَكْنَا مِنْهَا آيَةً بَيِّنَةً لِقَوْمٍ يَعْقِلُونَ (سورة العنکبوت ۲۸\ ۳۵).

اودارنګه الله ﷻ فرمایلی دی: وَإِنَّ لُوطًا لَمِنَ الْمُرْسَلِينَ (١٣٣) إِذْ نَجَّيْنَاهُ وَأَهْلَهُ أَجْمَعِينَ (١٣٤) إِلَّا عَجُوزًا فِي الْغَابِرِينَ (١٣٥) ثُمَّ دَمَّرْنَا الْآخَرِينَ (١٣٦) وَإِنَّكُمْ لَتَمُرُّونَ عَلَيْهِمْ مُصْبِحِينَ (١٣٧) وَبِاللَّيْلِ أَفَلَا تَعْقِلُونَ (سورة الصافات ۱۳۳\ ۱۳۸) .

اودارنګه الله ﷻ فرمایلی دی: قَالَ فَمَا خَطْبُكُمْ أَيُّهَا الْمُرْسَلُونَ (٣١) قَالُوا إِنَّا أُرْسِلْنَا إِلَى قَوْمٍ مُجْرِمِينَ (٣٢) لِنُرْسِلَ عَلَيْهِمْ حِجَارَةً مِنْ طِينٍ (٣٣) مُسَوَّمَةً عِنْدَ رَبِّكَ لِلْمُسْرِفِينَ (٣٤) فَأَخْرَجْنَا مَنْ كَانَ فِيهَا مِنَ الْمُؤْمِنِينَ (٣٥) فَمَا وَجَدْنَا فِيهَا غَيْرَ بَيْتٍ مِنَ الْمُسْلِمِينَ (٣٦) وَتَرَكْنَا فِيهَا آيَةً لِلَّذِينَ يَخَافُونَ الْعَذَابَ الْأَلِيمَ (سورة الذاريات ۳۱\ ۳۷) .

اودارنګه الله ﷻ فرمایلی دی: كَذَّبَتْ قَوْمُ لُوطٍ بِالنُّذُرِ (٣٣) إِنَّا أَرْسَلْنَا عَلَيْهِمْ حَاصِبًا إِلَّا آلَ لُوطٍ نَجَّيْنَاهُمْ بِسَحَرٍ (٣٤) نِعْمَةً مِنْ عِنْدِنَا كَذَلِكَ نَجْزِي مَنْ شَكَرَ (٣٥) وَلَقَدْ أَنْذَرَهُمْ بَطْشَتَنَا فَتَمَارَوْا بِالنُّذُرِ (٣٦) وَلَقَدْ رَاوَدُوهُ عَنْ ضَيْفِهِ فَطَمَسْنَا أَعْيُنَهُمْ فَذُوقُوا عَذَابِي وَنُذُرِ (٣٧) وَلَقَدْ صَبَّحَهُمْ بُكْرَةً عَذَابٌ مُسْتَقِرٌّ (٣٨) فَذُوقُوا عَذَابِي وَنُذُرِ (٣٩) وَلَقَدْ يَسَّرْنَا الْقُرْآنَ لِلذِّكْرِ فَهَلْ مِنْ مُدَّكِرٍ (سورة القمر ۳۳\ ۴۰)،

اودارنګه موږپه دی قصه کی بحث کړی دی په خپل خپل ځایونو کی په تفسیرخپل کی. اودلته مقصود دا دی چی ده کم امرپیش کی اوالله ﷻ څنګه عذاب نازل کی په دوی باندی. اوداپه دی طریقی سره چی کله لوط ﷷ دوی ته دعوت ورکی وعبادت دالله ته چی واحد ذات دی اوشریك ورلره نسته، اودوی یې منعه کړه دهغه زیاتی څخه چی دوی کوی، نودوی داخبره دلوط ﷷ ونه منله تردی چی یوسړی هم داخبره ونه منله، اوهغه څه بدیې چی کوله هغه یې پری نه ښوده، بلکی روان وو په دی خپل حال کی، او وانوښتی دخپل ګمراهی اوبدی څخه اودا کوشش به دوی کوی چی داپیغمبردخپل کلی څخه څنګه وباسی. اوددوی جواب به داوو کله به چی دوی ته څه خبره وسوه نوپه ناپوهی اوجهالت سره به یې داویله: أَخْرِجُوا آلَ لُوطٍ مِنْ قَرْيَتِكُمْ إِنَّهُمْ أُنَاسٌ يَتَطَهَّرُونَ (سورة النمل \ ۵۲) نودوی وګرزوی

(c) ketabton.com: The Digital Library



مقام دمدحی مقام دذم اودبدی چی دوی تقاضا دایستلو دده کوله. اودوی داکارنه کوی مگر دضد دوجی اودعناد دوجی اودجهالت دوجی، نوپاکی بیان کړه الله تعالی دده اوداهل دده مگر دښځی پاکی الله تعالی ورلره بیان نکړه اودوی یې ددې ځای ځخه په امن کی وایسته اودا نور بدبخته یې پکښی دهمیشه دپاره پاته کړه، نوکله چی الله ﷻ په دوی باندی گرمی راوسته نوپه دوی باندی داسی لگیدله لکه اورچی چا پر لگولی وی. اواوبه ددوی مالگیجنی سوی. اوددوی داجواب نه وو مگر ددی وجی چی دوی یې منعه کول دبد کاری ځخه اودفاحشی ځخه داسی بدکاری چی مخکی دهیچا دلاسه هم داکارنه دی سوی، نوددی وجی ځخه الله ﷻ داسی عذاب ورکی چی دوروستنیو دپاره عبرت سو، اوسره ددی چی کوچنی عذابونه پرمقرر وه بیاهم دوی خلگو ته لاری پرې کولی اوخیانتونه به یې کول، اوخپل دگپ شپ ځای ته به راټولیدل چی هلته به یې بدکارونه اوبدی خبری کولی تردی چی ویل سوی دی چی دوی به په خپلو مجلسونه کی بادونه دآواز سره (گوزونه) اچول او دیوبل ځخه به یې حیانه کوله که څه هم ددوی ځخه یوغټ کار وسی اودوی په شرمیږی نه، اودوی به غوږ نه ایښووی نصیحت کونکی ته مثال ددوی دحیوان وو چی په عقل کی به یې خبره نه راتله اونه به یې دومره شعور وو چی ښه اوبد وپیژنی اوحق اوباطل وپیژنی. اوتوبه گار کیدل نه دهغه ځخه چی کول یې اونه پښیمانه کیده په هغه څه چی مخکی ورځخه سوی وو اونه یې دمستقبل په باره کی سوچ کوی چی په مستقبل کی به څه کیږی، نوالله ﷻ په کلك عذاب سره گرفتار کړه. اودوی به ویله لوط ﷺ ته دا: ائْتِنَا بِعَذَابِ اللَّهِ إِنْ كُنْتَ مِنَ الصَّادِقِينَ (سورة العنكبوت \ ۲۹). نودوی طلب دهغه عذاب وکی چی لوط ﷺ به په هغه سره بیره ورکوله دوی ته، نوپه دی وخت کی دعاوکړه لوط ﷺ دعذاب په دوی باندی، اودنصرت خپل په دوی باندی. نوالله ﷻ ته غیرت ورلی دده په دعاباندی، اوپه غضب کی سو دده دغضب دوجی، اودده دعایې قبوله کړه اوطلب یې ورلره منظور کی نو الله ﷻ خپل ملائکی ورولیږلی، نوهغه ملائکی په ابراهیم ﷺ باندی تیری سو اوهغه ته یې زیری ورکی دزوی، اوخبریې کړه چی دوی دځه کار دپاره راغلی دی اودوی په یو کارپه سی رااستول سوی دی: قَالَ فَمَا خَطْبُكُمْ أَيُّهَا الْمُرْسَلُونَ (۳۱) قَالُوا إِنَّا أُرْسِلْنَا إِلَى قَوْمٍ مُجْرِمِينَ (۳۲) لِنُرْسِلَ عَلَيْهِمْ حِجَارَةً مِنْ طِينٍ (۳۳) مُسَوَّمَةً عِنْدَ رَبِّكَ لِلْمُسْرِفِينَ (سورة الذایات ۳۱\ ۳۴) اودارنگه الله ﷻ فرمایلی دی: وَلَمَّا جَاءَتْ رُسُلُنَا إِبْرَاهِيمَ بِالْبُشْرَى قَالُوا إِنَّا مُهْلِكُو أَهْلِ هَذِهِ الْقَرْيَةِ إِنَّ أَهْلَهَا كَانُوا ظَالِمِينَ (۳۱) قَالَ إِنَّ فِيهَا لُوطًا قَالُوا نَحْنُ أَعْلَمُ بِمَنْ فِيهَا لَنُنَجِّيَنَّهُ وَأَهْلَهُ إِلَّا امْرَأَتَهُ كَانَتْ مِنَ الْغَابِرِينَ (سورة العنكبوت ۳۱\ ۳۲) اودارنگه الله ﷻ فرمایلی دی: فَلَمَّا ذَهَبَ عَنْ إِبْرَاهِيمَ

(c) ketabton.com: The Digital Library



الرَّوْعُ وَجَاءَتْهُ الْبُشْرَى يُجَادِلُنَا فِي قَوْمِ لُوطٍ (سورة هود \ ۷۴) اودارنګه الله ﷻ فرمایلی دی: إِنَّ إِبْرَاهِيمَ لَحَلِيمٌ أَوَّاهٌ مُنِيبٌ (۷۵) يَا إِبْرَاهِيمُ أَعْرِضْ عَنْ هَذَا إِنَّهُ قَدْ جَاءَ أَمْرُ رَبِّكَ وَإِنَّهُمْ آتِيهِمْ عَذَابٌ غَيْرُ مَرْدُودٍ (سورة هود ۷۵\ ۷۴) یعنی ددی خبری څخه تیرسه اوپه بل څه کی بحث کوه ولی چی دافیصله سویده، اوپه دوی باندی عذاب واجب سوی دی اوهلاکت پر واجب سوی دی: إِنَّهُ قَدْ جَاءَ أَمْرُ رَبِّكَ یعنی په دوی باندی فیصله سویده دعذاب اودانه ده بیرته تلونکی. وَإِنَّهُمْ آتِيهِمْ عَذَابٌ غَيْرُ مَرْدُودٍ، اودارنګه ذکرکړی دی السدی اوسعید بن جبیر اوقتاده اومحمد بن اسحاق: چی ابراهیم عليه السلام وویله: تاسی تباه کوی هغه کلی چی په هغه کی (۳۰۰) مومنان دی. نودوی وویل چی نه. نوبیا ابراهیم عليه السلام وویل چی (۲۰۰) مومنان دی؟ نودوی وویل چی نه نوبیایې وویل چی (۴۰) مومنان؟ نودوی ورته وویل چی نه. نوبیاده وویل چی (۱۴) مومنان دی؟ نودوی ورته وویل چی نه. نوابن اسحاق وایی تردی چی ورته وویل چی تاسی خوبه په کی یومومن لیدلی وی؟ نودوی وویل چی نه: قَالَ إِنَّ فِيهَا لُوطًا قَالُوا نَحْنُ أَعْلَمُ بِمَنْ فِيهَا، اوپه نزد داهل کتابو باندی ده ویلی دی: ای ربه زماته داهلاکوی کله اوپه دی کی (۵۰) کسان صالحان دی؟ نوالله ﷻ وفرمایل چی زه دوی نه هلاکوم کله چی په دوی کی ۵۰ صالحان وی خو دا نسته پکښی، نوبیا ۱۰ ته راکښته سو نوالله ﷻ ورته وفرمایل چی زه دوی نه هلاکوم کله چی په دوی کی (۱۰)صالحان وی خوداپه کی نسته.

الله ﷻ فرمایلی دی: وَلَمَّا جَاءَتْ رُسُلُنَا لُوطًا سِيءَ بِهِمْ وَضَاقَ بِهِمْ ذَرْعًا وَقَالَ هَذَا يَوْمٌ عَصِيبٌ (سورة هود \ ۷۷) مفسرینو ویلی دی کله چی داملایکی جلاسوی دابراهیم عليه السلام څخه یعنی (جبرایل، اومیکائل، اواسرافیل) نودوی رارون سوه تردی چی راورسیده سدوم ته، په شکلونو دښائستو هلکانو کی، دپاره دامتحان دالله ﷻ په قوم لوط باندی اودپاره ددی چی حجت پرقائم سی نودوی میلمانه سوه دلوط عليه السلام په کورکی دلمر پریوتو څخه وروسته ددی وجی څخه چی هغه خلګ یې ونه وینی نوبیابه ددوی اهانت اوبی عزتی وکی. اودوی داګمان وکی چی دوی انسانان دی: سِيءَ بِهِمْ وَضَاقَ بِهِمْ ذَرْعًا وَقَالَ هَذَا يَوْمٌ عَصِيبٌ، ابن عباس اومجاهد اوقتاده اومحمد بن اسحاق ویلی دی چی داډیر سخت امتحان وو اوده ته پته وه چی ددوی څخه مدافعت کول کیږی دشپی، اوددوی سره یې داشرط ولګوی چی دبل چا سره به نه میلمانه کیږی، خولیکن ده ولیدل چی ددوی څخه پټیدل نه کیږی. اوقتاده ویلی دی چی دوی باندی رانازل سوه په هغه مځکه کی چی ده په کی کارکوی. نودوی یې میلمانه کړه ولی چی حیاء ورله چی دوی ته یې انکار نسو کولی نو ددوی مخ ته روان سو، اوورته شروع سوه چی ددی کلی څخه ووزی اوبل کلی ته ولاړسی اوورته یې وویل څه چی

(c) ketabton.com: The Digital Library



يې وويل: زمادی قسم وی په الله ﷻ باندی چی په مخ دمزکی کی ددوی څخه خبيث او بدکاره خلګ نسته. نوبيايې لږ مزل وکی، اوبيايې ورته داخبره څلور واره وکړه اوويلی دی چی دوی ته ويل سوی وه چی ترهغه پوری به يې نه هلاکوی ترڅوچی په دوی باندی شاهدی نه وی کړی نبی ددوی السدی ويلی دی داملايکی دابراهيم ﷺ دخواڅخه راووتلی اوروانی سوی دلوط ﷺ دکلی خوا ته، نودوی کلی ته ماپښين رالی، نوکله چی دوی سدوم نهرته راورسيدی نوهلته دلوط ﷺ يوه لور ولاړه وه چی خپل کورته يې اوبه وړلی، اودلوط ﷺ دوی لوڼی وی چی دمشری نوم (ريثا) وه او دکشري نامه (زغرتا) وه. نودوی ورته وويل چی آيادلته کم کورسته؟ نودې ورته وويل چی هو سته، تاسی دلته ودريږی تر هغه پوری چی زه درته دوباره راسم. دايې ورته ځکه وويل چی په دوی باندی وبيريده دخپل قوم څخه، نودارالېه خپل پلار ته اوورته ويې ويل: ای پلاره. تاغواړی څه ځوانان په دروازه دښارکی، مانه دی ليدلی مخونه ديوقوم چی دهغوی څخه ښه وه، نورانه ولی هغوی ستاقوم نوبی عزتی به ورلره وکی. اودی خپل قوم منع کړی وو چی دچا ميلمستيا به نه کوی اوورته يې وويل چی ته زموږ څخه ليری سه موږ به ميلمستيا ورکوو. نودوی يې را وسته کورته اوهيڅ څوك په خبرنه سو بغير دخپل کوروالاوو څخه، نودده ښځه راووته او قوم يې خبرکی. اودايې وويل چی په کور دلوط ﷺ کی داسی هلکان دی چی داسی مخونه ما تراوسه دچاهم نه دی ليدلی. نورالی قوم ده ته چی چيغی يې وهلی.

اوداقول دالله ﷻ : وَمِنْ قَبْلُ كَانُوا يَعْمَلُونَ السَّيِّئَاتِ (سورة هود\ ۷۸) يعنی ددی څخه ماسوا او مخکی ددوی دومره ګناهونه دی غټ غټ اوډير، قَالَ يَا قَوْمِ هَؤُلَاءِ بَنَاتِي هُنَّ أَطْهَرُ لَكُمْ (سورة هود \ ۷۸) يعنی دوی ته يې پيش قدمی وکړه چی دازما لور ده داپه نکاح سره واخلی ځان ته داستاسی دپاره ډيره لائقه اومناسبه ده، اودايې ورته ځکه وويل چی يونبی دخپل امت دپاره په منزله دپلار وی، لکه څه رنګه چی په حديث کی ذکرسوی دی. اولکه څه رنګه چی الله ﷻ فرمايلی دی: النَّبِيُّ أَوْلَى بِالْمُؤْمِنِينَ مِنْ أَنْفُسِهِمْ وَأَزْوَاجُهُ أُمَّهَاتُهُمْ (سورة الاحزاب \۶) اودا هغه قول دی چی په دی سره نص کړی دی مجاهد اوسعيد بن جبير اوالربيع بن انس او قتاده اوالسدی اومحمد بن اسحاق چی داصواب دی يعنی راجح دی. اوبل قول داهل کتابو دی چی هغه خطا قول دی چی دوی ويلی دی چی دادوی ملايکی وی اودوی ډير وخت دده سره تير کړی وو. اودارنګه اهل کتابو په دی خپل قول کی ډير زياتی کړی دی. چی مناسب نه دی دملائکو سره. اوداقول دالله ﷻ : فَاتَّقُوا اللهَ وَلَا تُخْزُونِ فِي ضَيْفِي أَلَيْسَ مِنْكُمْ رَجُلٌ رَشِيدٌ (سورة هود\۷۸) دوی يې منع کړه دهغه فاحش څخه چی دوی غوښتله نودا شاهدی سوه په دی خبره باندی چی په دوی کی صحيح اوپرهيزګاره سړی نه وو، بلکی ټول

(c) ketabton.com: The Digital Library



لیونی اوکم عقلان وه. نودوی جواب ورکی لوط ﷺ ته په دی خبری سره: لَقَدْ عَلِمْتَ مَا لَنَا فِي بَنَاتِكَ مِنْ حَقٍّ وَإِنَّكَ لَتَعْلَمُ مَا نُرِيدُ یعنی دوی ورته وویل چی تاته پته ده چی موږ څه غواړو اوزموږ څه مقصددی، نودوی داخبره وکړه خپل پیغمبرته، اوبیره یې نه کوله دالله ﷻ څخه اودهغه دعذاب څخه چی دردناك عذاب دی. نوددی وجی څخه ورته لوط ﷺ وفرمایل چی: لَوْ أَنَّ لِي بِكُمْ قُوَّةً أَوْ آوِي إِلَى رُكْنٍ شَدِيدٍ (سورة هود \ ۸۰) لوط ﷺ داوویل چی که زما دومره وس اوطاقت وای په تاسی باندی اویا ماتاسی منع کولی سوای نومابه تاسی ته هغه عذاب درکړی وای دکم چی تاسی مستحق ګرځیدلی یاست. اوالزهری ویلی دی په نقل کولو سره دسعید بن المسیب څخه اودابی سلمه څخه چی دوی دواړه نقل کوی دابی هریره رضي الله عنه څخه مرفوعًا: موږ ډیر لائق یوپه شك سره دابراهیم څخه، اورحم دی وکی الله ﷻ په لوط ﷺ باندی چی طلب یې دقوت کوی په دوی باندی، اوکه چیری بندیدل په جیل کی نه وای نویوسف ﷺ به په جیل کی نه بندیوان کیدی اودهریوه دعابه قبوله سوی وای، (۱)

اودارنګه ویلی دی محمد بن عمربن علقمه دابی سلمه څخه اودی دابی هریره څخه: چی رسول الله ﷺ فرمایلی دی: رحم دی وکی الله ﷻ په لوط ﷺ باندی، که چیری ده ته یې ورکړی وای هغه طاقت چی ده یې سوال کړی وای، نوهیڅکله به هم الله ﷻ په بل قوم کی پیغمبرنه وای رالیږلی مګرهم دده په قوم کی به یې رالیږلی، (۲) دارنګه الله ﷻ فرمایلی دی: وَجَاءَ أَهْلُ الْمَدِينَةِ يَسْتَبْشِرُونَ (٦٧) قَالَ إِنَّ هَؤُلَاءِ ضَيْفِي فَلَا تَفْضَحُونِ (٦٨) وَاتَّقُوا اللَّهَ وَلَا تُخْزُونِ (٦٩) قَالُوا أَوَلَمْ نَنْهَكَ عَنِ الْعَالَمِينَ (٧٠) قَالَ هَؤُلَاءِ بَنَاتِي إِنْ كُنْتُمْ فَاعِلِينَ (سورة الحجر ۲۷\ ۷۱). نوامریې وکی دوی ته چی دخپل ښځو سره دی نژدیکت وکی اوددی کارڅخه دی ځان واړوی بیاهم دوی نه منع کیده، بلکی څومره به یې چی منع کول نوهغومره به دوی حریص کیده په دی میلمنو پسی، اودوی نه پوهیده چی په دوی باندی الله ﷻ دعذاب فیصله کړی ده اودوی په خپله ددی خپل عذاب خوا ته ورروان وه، اوصبا ورځ ددوی دهلاکت وه. نو ددی وجی الله ﷻ دخپل نبی محمد ﷺ په ژوند باندی قسم وکی اووی فرمایل: لَعَمْرُكَ إِنَّهُمْ لَفِي سَكْرَتِهِمْ يَعْمَهُونَ (سورة الحجر\ ۷۲) اودارنګه الله ﷻ فرمایلی دی: وَلَقَدْ أَنْذَرَهُمْ

---

(۱). صحیح البخاری کتاب الانبیاء، باب قول الله عزوجل (ونبئهم عن ضیف ابراهیم) (۲\ ۳۳۷۲) اواطراف ددی په (۳۳۷۵. ۳۳۸۷. ۴۵۳۷. ۴۶۴۹. ۲۹۹۲) اومسلم په کتاب الایمان کی \ باب زیادت طمانینه القلب بتظاهر الادله (۲\ ۱۸۳) اواحمد (۲\ ۳۲۲).

(۲). الترمذی په کتاب التفسیر باب ومن سورة یوسف (۵\ ۳۱۱۲) ابوعیسیٰ ویلی دی چی داحدیث حسن صحیح دی اواحمد (۲\ ۳۳۲، ۳۸۴) اوالبانی ویلی دی په صحیح الادب المفرد کی (۴۷۲) داحسن صحیح دی: وګوره: دده صحیح (۴\ ۱۲۱۷).

(c) ketabton.com: The Digital Library



بَطْشَتَنَا فَتَمَارَوْا بِالنُّذُرِ (۳٦) وَلَقَدْ رَاوَدُوهُ عَنْ ضَيْفِهِ فَطَمَسْنَا أَعْيُنَهُمْ فَذُوقُوا عَذَابِي وَنُذُرِ (۳۷) وَلَقَدْ صَبَّحَهُمْ بُكْرَةً عَذَابٌ مُسْتَقِرٌّ (سورة القمر ۳۲\ ۳۸) ذکرکړې دی مفسرينو داخبره چی لوط ﷺ به داخپل قوم منع کوی اومدافعت به یې کوی په بندی دروازی سره، اوهغوی داکوشش کوی چی دی دروازه خلاصه کی، تردی چی ددواړو خواوو څخه ښه زور وچلیدی تردی چی لوط ﷺ وفرمایل: لَوْ أَنَّ لِي بِكُمْ قُوَّةً أَوْ آوِي إِلَى رُكْنٍ شَدِيدٍ (سورة هود \ ۸۰) نومابه پرتاسی باندی عذاب نازل کړی وای. نودی ملائکو ورته وویل چی: يَا لُوطُ إِنَّا رُسُلُ رَبِّكَ لَنْ يَصِلُوا إِلَيْكَ (سورة هود \ ۸۱) اوداییې هم ذکرکړې دی چی جبریل راووتی په دوی په سی اوپه خپل وزر یې ددوی مخونه وهل نوددوی سترګی ړندی سوی: تردی چی ویل سوی دی چی ددوی داسترګی مکمل ختمی سوی اوهیڅ ورڅخه پاته نه سوی. نوراله دوی اولوط ﷺ ته یې وعده ورکړه دصبا ورځ چی زموږ اوستا درك به معلوم سی. الله ﷻ فرمایلی دی: وَلَقَدْ رَاوَدُوهُ عَنْ ضَيْفِهِ فَطَمَسْنَا أَعْيُنَهُمْ فَذُوقُوا عَذَابِي وَنُذُرِ (۳۷) وَلَقَدْ صَبَّحَهُمْ بُكْرَةً عَذَابٌ مُسْتَقِرٌّ (سورة القمر ۳۷ \ ۳۸) نوپه دغه وخت کی دی فرشتو لوط ﷺ ته امروکی چی دشپی په آخرنی وخت کی ددی ځای څخه دخپل اهل سره ووزی: وَلَا يَلْتَفِتْ مِنْكُمْ أَحَدٌ (سورة هود \ ۸۱) یعنی دعذاب په اواز اوریدو باندی به په تاسی کی یوهم شاته نه ګوری کله چی په دوی باندی عذاب نازلیږی.

اوداقول دالله ﷻ : إِلَّا امْرَأَتَكَ (سورة هود\ ۸۱) په قرآئت دنصب سره: احتمال لری چی دا مستثنٰی وی ددی قول دالله ﷻ څخه (فَأَسْرِ بِأَهْلِكَ (سورة هود\۸۱) ګواکی چی ده ته خطاب دی چی خپل ښځه به دځان سره نه بیایې، اودا احتمال هم کیدی سی چی ددی څخه ماخوذ وی: وَلَا يَلْتَفِتْ مِنْكُمْ أَحَدٌ إِلَّا امْرَأَتَكَ (سورة هود \ ۸۱) یعنی دابه ترشا وګوری نوپرتاسی به هم داعذاب نازل سی. اوداقرآئت په رفع سره دی اودا احتمال قوی هم دی، خولیکن اولنی په معنٰی کی ډیرښکاره دی. والله اعلم. اوالسهیلی ویلی دی دلوط ﷺ دښځی نوم (والهه) وه نوهرکله چی لوط ﷺ دخپل کورنی سره ووتی نوددوی سره یوسړی هم ددوی دقوم څخه نه وو اوبعضو داویلی دی چی ښځه ورسره وتلی وه. نوکله چی دوی ووتله اودباندی سوه ددی کلی څخه لمر راوختی نونازل سو پردوی باندی عذاب په امرالله ﷻ سره، داسی عذاب پرنازل سو چی دهغه څخه خلاصیدل اسان نه وو.

اوپه نزد داهل کتابو: فرشتو دوی ته امروکی چی دغره سرته وخیژی اوددوی څخه یې غوښتنه وکړه چی ولاړسی دوی یوبل کلی ته. نودوی ورته وویل چی ولاړسی اوموږ به ستاسی انتظار کووکله چی تاسی هلته ورسیدلاست نوبیابه موږپه دوی باندی عذاب نازل

(c) ketabton.com: The Digital Library



کو. نودوی ذکرکړی دی چی دوی لیری کلی ته ولاړه چی دهغه کلی نوم (صوعر) وو چی خلګ ورته غورزغر وایی نوکله چی لمر راوختی نوپه دوی باندی عذاب راکښته سو. الله ﷻ فرمایلی دی: فَلَمَّا جَاءَ أَمْرُنَا جَعَلْنَا عَالِيَهَا سَافِلَهَا وَأَمْطَرْنَا عَلَيْهَا حِجَارَةً مِنْ سِجِّيلٍ مَنْضُودٍ (۸۲) مُسَوَّمَةً عِنْدَ رَبِّكَ وَمَا هِيَ مِنَ الظَّالِمِينَ بِبَعِيدٍ (سورة هود ۸۲\ ۸۳) اوجبریل ﷺ داټول حیوانات په خپل ورزر سره لوړ دآسمان طرف ته وخیژول تردی چی ملائکو په آسمان کی دچرګو کړکړی اودسپی اوازونه اوریدل نوبیایی پرادبله خوا را ایله کړه مطلب داچی دامځکه یې پر چپه کړه. نواول هغه خلګ چی ددی ځخه وغورځول سو هغه ددوی شریفان خلګ وه: مُسَوَّمَةً عِنْدَ رَبِّكَ وَمَا هِيَ مِنَ الظَّالِمِينَ بِبَعِيدٍ (سورة هود\ ۸۳) اوسجیل فارسی لفظ دی معرب دی اوهغه قوی ته ویل کیږی چی پوخ سوی وی (مَنْضُودٍ) (سورة هود \ ۸۳) یعنی یودبل په سی راروان وه پرلپسی (مُسَوَّمَةً) (الذاریات \ ۳۴) یعنی غټ غټ ولیکل سو په هریوکاڼی باندی نوم دهغه شخص چی په هغه پسی رالیږل کیدی دهغه کاڼی نوهغه به یې بالکل ذری ذری کی.

لکه څه رنګه چی الله ﷻ فرمایلی دی: مُسَوَّمَةً عِنْدَ رَبِّكَ لِلْمُسْرِفِينَ (الذاریات \ ۳۴) اولکه څنګه چی یې فرمایلی دی: وَأَمْطَرْنَا عَلَيْهِمْ مَطَرًا فَسَاءَ مَطَرُ الْمُنْذَرِينَ (سورة الشعراء \ ۱۷۳)، وَالْمُؤْتَفِكَةَ أَهْوَىٰ (۵۳) فَغَشَّاهَا مَا غَشَّىٰ (٥٤) فَبِأَيِّ آلَاءِ رَبِّكَ تَتَمَارَىٰ (سورة النجم ۵۳\ ۵۵) یعنی اړول ددی چپه لوړه حصه ددی لاندی کول اولاندی حصه ددی لوړه کول اوپه دوی باندی یې دکاڼو باران وکی چی پرلپسی وو، اوپه هرکاڼی به دهغه سړی نوم موجود وو اولیکل سوی وو دچادپاره به چی هغه رالیږل کیدی اوهرکاڼی به په خپل سړی باندی راغورځیدی په حاضرینو کی اوهغه چی مسافر وو اودکلی څخه دباندی وو پرهغوی به په هغه ځایونو کی راولویدی چی په کم ځای کی هغوی په هغه وخت کی وه اوویل سوی دی چی دلوط ﷺ ښځه ورسره وتلی وه ددی کلی څخه. خودی چی کله اواز واوریدی اودکلی رالویدل یې ولیده نوپه شایې وکتل اودالله ﷻ دامر مخالفت یې وکی نوپه دی باندی هم یوکاڼی را ولویدی اودایې ځیره کړه نودی خلاف کړی وو مخکی هم اواوس یې هم خلاف وکی. اودا هغه وه چی په میلمنو یې خلګ خبرکړی وه په خپل قوم کی. لکه څنګه چی الله ﷻ فرمایلی دی: ضَرَبَ اللَّهُ مَثَلًا لِلَّذِينَ كَفَرُوا امْرَأَةَ نُوحٍ وَامْرَأَةَ لُوطٍ كَانَتَا تَحْتَ عَبْدَيْنِ مِنْ عِبَادِنَا صَالِحَيْنِ فَخَانَتَاهُمَا فَلَمْ يُغْنِيَا عَنْهُمَا مِنَ اللَّهِ شَيْئًا وَقِيلَ ادْخُلَا النَّارَ مَعَ الدَّاخِلِينَ (التحریم \ ۱۰) دوی دواړو خیانت کړی وو دخپل خاوندسره په نه منلوددین کی. اودلته دامرادنه دی چی دوی فاحشی وی هیځکله داسی نه ده. ولی چی الله ﷻ هیڅ پیغمبرته داسی ښځه نه ورکوی چی هغه

(c) ketabton.com: The Digital Library



بدکاره اوفاحشه وی لکه څنګه چی ابن عباس ویلی دی چی هیڅ کله باغی سوی نه ده دپیغمبر ښځه. اوچاچی ددی خلاف خبره وکړه نودابه دده ډیره غټه غلطی وی. الله ﷻ په قصه د(افك) کی یعنی هغه بهتان چی په عائشه رضي الله عنها باندی تړل سوی وو، کله چی نازل سو براءت دام المومنین چی لور دابوبکر الصدیق وه ښځه درسول الله ﷺ ده، کله چی دی ته وویل افك والا هغه چی ویلی یې وه نوالله ﷻ مومنانو ته زجر اوزورګیرنه ورکړه او ویې بیرول دهغه څه باره کی چی څه یې ویلی وه: إِذْ تَلَقَّوْنَهُ بِأَلْسِنَتِكُمْ وَتَقُولُونَ بِأَفْوَاهِكُمْ مَا لَيْسَ لَكُمْ بِهِ عِلْمٌ وَتَحْسَبُونَهُ هَيِّنًا وَهُوَ عِنْدَ اللهِ عَظِيمٌ (۱۵) وَلَوْلَا إِذْ سَمِعْتُمُوهُ قُلْتُمْ مَا يَكُونُ لَنَا أَنْ نَتَكَلَّمَ بِهَذَا سُبْحَانَكَ هَذَا بُهْتَانٌ عَظِيمٌ (سورة النور ۱۵\۱۶) یعنی پاکی دی وی ستادپاره چی وی دی ستا ښځه په دی صفت سره. اوقول دالله ﷻ په دی ځای کی: وَمَا هِيَ مِنَ الظَّالِمِينَ بِبَعِيدٍ (سورة هود ۸۳\) یعنی داسزا لیری نه ده، په دې باندی تصریح کړیده امام شافعی اواحمد بن حنبل او دارنګه ډیر علماء دامت.

اودارنګه یې حجت نیولی دی په هغه روایت سره چی امام احمد ذکرکړی دی اواهل السنن هم ذکرکړی دی دحدیث دعمربن ابی عمر څخه چی دی نقل کوی دعکرمه څخه اودی دابن عباس څخه، چی رسول الله ﷺ فرمایلی دی: ځوك چی تاسی پیداکی دهغه چا څخه چی ددوی سره مشابهت کوی اوددوی په شان کارکوی. نوددی وجی څخه بعضو علماوو داقول کړی دی چی ددی کار والا سړی به رجم کول کیږی که څه هم واده یې نه وی کړی یایې واده کړی وی. اوپه دی چی کاریې کوی په شان دقوم لوط نوفاعل اومفعول دواړه قتل کی. [1]

اوامام ابو حنیفه رحمه الله علیه داقول کړی دی چی اللائط به دغره دسر څخه راغورځول کیږی او دلوړی خوا څخه به کاڼی پر راویشتل کیږی لکه څنګه چی دقوم لوط سره سوی دی.

وَمَا هِيَ مِنَ الظَّالِمِينَ بِبَعِيدٍ اوګرځولی دی الله ﷻ هغه ځای ددوی یووړوکی سمندر چی دهغه داوبو څخه ځوك فائده نه سی اخستلی. اونه دهغه مزکی څخه ځوك فائده اخستی سی کم چی یې خواته ده. نووګرځیده داعبرت اومثال اووعظ اونښانه دالله ﷻ په قدرت باندی او دهغه په عظمت باندی اودهغه په عزت باندی په انتقام اخستلو کی دهغو څخه چی دالله ﷻ اودهغه دپیغمبر تکذیب کوی اومخالفت کوی اوپه خپلو خواهشاتو پسی روان وی، او دا دلیل دی په رحمت دالله ﷻ باندی په خپلو نیکو بندګانو باندی په نجات ورکولو سره دوی ته ددغه عذاب څخه اودهلاکت څخه اورا ایستل دوی دتیارې څخه دڼا خوا ته.

---

[1]. الترمذی: کتاب الحدود، باب ماجافی حد الوطی (۱۴۵۶\۴) دحدیث دعمربن ابی عمر څخه اودطریقی دعاصم بن عمر څخه چی دی یې نقل کوی دسهل څخه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



لکه څه رنګه چې الله ﷻ فرمایلي دي: إِنَّ فِي ذَلِكَ لَآيَةً وَمَا كَانَ أَكْثَرُهُمْ مُؤْمِنِينَ (۸) وَإِنَّ رَبَّكَ لَهُوَ الْعَزِيزُ الرَّحِيمُ (سورة الشعراء ۸\ ۹) اودارنګه الله ﷻ فرمایلي دي: فَأَخَذَتْهُمُ الصَّيْحَةُ مُشْرِقِينَ (۷۳) فَجَعَلْنَا عَالِيَهَا سَافِلَهَا وَأَمْطَرْنَا عَلَيْهِمْ حِجَارَةً مِنْ سِجِّيلٍ (۷٤) إِنَّ فِي ذَلِكَ لَآيَاتٍ لِلْمُتَوَسِّمِينَ (۷۵) وَإِنَّهَا لَبِسَبِيلٍ مُقِيمٍ (۷٦) إِنَّ فِي ذَلِكَ لَآيَةً لِلْمُؤْمِنِينَ (سورة الحجر ۷۳\ ۷۷) یعنی په سترګو دفراست سره چې ورته وکتل سی نوپته لګیږي چې څنګه بدل کړی دی الله ﷻ دغه خلګ اوددی مځکه اوکلی؟ اوڅنګه یې آبادکړی دی وروسته دخرابیدلو ددی څخه؟ لکه څنګه چې روایت ذکرکړی دی ترمذی مرفوعًا: تاسی وبیریږی دفراست دمومن څخه ولی چې دی کتل کوی په نور دالله ﷻ سره (۱) اوبیایې ووایه: إِنَّ فِي ذَلِكَ لَآيَاتٍ لِلْمُتَوَسِّمِينَ اودا قول: وَإِنَّهَا لَبِسَبِيلٍ مُقِيمٍ یعنی په داسی لاری باندی چې نن ورځی پوری قائمه ده.

لکه څه رنګه چې الله ﷻ فرمایلي دي: وَإِنَّكُمْ لَتَمُرُّونَ عَلَيْهِمْ مُصْبِحِينَ (۱۳۷) وَبِاللَّيْلِ أَفَلَا تَعْقِلُونَ (سورة الصافات ۱۳۷\ ۱۳۸) اودارنګه الله ﷻ فرمایلي دي: وَلَقَدْ تَرَكْنَا مِنْهَا آيَةً بَيِّنَةً لِقَوْمٍ يَعْقِلُونَ (سورة العنکبوت \ ۳۵) اودارنګه الله ﷻ فرمایلي دي: فَأَخْرَجْنَا مَنْ كَانَ فِيهَا مِنَ الْمُؤْمِنِينَ (۳۵) فَمَا وَجَدْنَا فِيهَا غَيْرَ بَيْتٍ مِنَ الْمُسْلِمِينَ (۳٦) وَتَرَكْنَا فِيهَا آيَةً لِلَّذِينَ يَخَافُونَ الْعَذَابَ الْأَلِيمَ (سورة الذاریات ۳۵\ ۳۷) یعنی موږ ددوی څخه پریښوولو یوه نښانه اوپند دهغه خلګو دپاره چې دآخرت څخه بیره کوی اودالله ﷻ څخه بیره کوی اوخپل درب دبیری څخه خپل نفس منع کوی دګناهونو څخه، اوځان دمحارمو دالله ﷻ څخه ساتی اودکار څخه دقوم دلوط ﷺ ځان ساتی، ددی وجی څخه چې هغه حدیث پرثابت نه سی: څوك چې ځان دکم قوم سره مشابه کوی نوهغه به دهغوی څخه وی لکه په یوشعر کی ذکرسوی دی چې (تاسی که بعینه دلوط ﷺ قوم نه یاست نوهغه هم ستاسی څخه لیری نه دی) نو پوهیدونکی ددی شعر بیره کوی دخپل رب څخه، اوراتګ کوی په هغه څه چې الله ﷻ یې امرکوی، اودنبی ﷺ ارشاد وی، اوراتګ کوی هغه زنانو ته چې الله ﷻ دوی لره پیدا کړی دی اوځان ساتی داتباع دشیطان څخه، ولی چې بیا پرده باندی هم دهغه عذاب حق کیږی، اوداخلیږی لاندی تردی قول دالله ﷻ : مُسَوَّمَةً عِنْدَ رَبِّكَ وَمَا هِيَ مِنَ الظَّالِمِينَ بِبَعِيدٍ (سورة هود\ ۸۳).

* * *

(۱). الترمذی کتاب التفسیر، سورة الحجر (۵\ ۳۱۲۷) ابوعیسیٰ ویلی دی چې داحدیث غریب دی موږ داپیژنو صرف هم په دی اعتبار سره اونور اعتبارات اووجوهی ورلره نسته اودارنګه روایت ذکر سوی دی دبعضو اهل علم والاوو څخه اوپه الحلیه کی (۱۰\ ۲۸۱) دحدیث دابی سعید څخه اوالطبرانی په الکبیر کی (۸\ ۷٤۹۷) ذکرکړی دی اوویلی دی الهیثمی په المجمع کی (۱۰\ ۲۲۸) چې راوی ددی طبرانی دی اواسناد ددی حسن دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## قصه دمدین قوم دشعیب ﵇

ددوی په باره کی الله ﷻ فرمایي: وَإِلَى مَدْيَنَ أَخَاهُمْ شُعَيْبًا قَالَ يَا قَوْمِ اعْبُدُوا اللهَ مَا لَكُمْ مِنْ إِلَهٍ غَيْرُهُ قَدْ جَاءَتْكُمْ بَيِّنَةٌ مِنْ رَبِّكُمْ فَأَوْفُوا الْكَيْلَ وَالْمِيزَانَ وَلَا تَبْخَسُوا النَّاسَ أَشْيَاءَهُمْ وَلَا تُفْسِدُوا فِي الْأَرْضِ بَعْدَ إِصْلَاحِهَا ذَلِكُمْ خَيْرٌ لَكُمْ إِنْ كُنْتُمْ مُؤْمِنِينَ (۸۵) وَلَا تَقْعُدُوا بِكُلِّ صِرَاطٍ تُوعِدُونَ وَتَصُدُّونَ عَنْ سَبِيلِ اللهِ مَنْ آمَنَ بِهِ وَتَبْغُونَهَا عِوَجًا وَاذْكُرُوا إِذْ كُنْتُمْ قَلِيلًا فَكَثَّرَكُمْ وَانْظُرُوا كَيْفَ كَانَ عَاقِبَةُ الْمُفْسِدِينَ (۸۶) وَإِنْ كَانَ طَائِفَةٌ مِنْكُمْ آمَنُوا بِالَّذِي أُرْسِلْتُ بِهِ وَطَائِفَةٌ لَمْ يُؤْمِنُوا فَاصْبِرُوا حَتَّى يَحْكُمَ اللهُ بَيْنَنَا وَهُوَ خَيْرُ الْحَاكِمِينَ (۸۷) قَالَ الْمَلَأُ الَّذِينَ اسْتَكْبَرُوا مِنْ قَوْمِهِ لَنُخْرِجَنَّكَ يَا شُعَيْبُ وَالَّذِينَ آمَنُوا مَعَكَ مِنْ قَرْيَتِنَا أَوْ لَتَعُودُنَّ فِي مِلَّتِنَا قَالَ أَوَلَوْ كُنَّا كَارِهِينَ (۸۸) قَدِ افْتَرَيْنَا عَلَى اللهِ كَذِبًا إِنْ عُدْنَا فِي مِلَّتِكُمْ بَعْدَ إِذْ نَجَّانَا اللهُ مِنْهَا وَمَا يَكُونُ لَنَا أَنْ نَعُودَ فِيهَا إِلَّا أَنْ يَشَاءَ اللهُ رَبُّنَا وَسِعَ رَبُّنَا كُلَّ شَيْءٍ عِلْمًا عَلَى اللهِ تَوَكَّلْنَا رَبَّنَا افْتَحْ بَيْنَنَا وَبَيْنَ قَوْمِنَا بِالْحَقِّ وَأَنْتَ خَيْرُ الْفَاتِحِينَ (۸۹) وَقَالَ الْمَلَأُ الَّذِينَ كَفَرُوا مِنْ قَوْمِهِ لَئِنِ اتَّبَعْتُمْ شُعَيْبًا إِنَّكُمْ إِذًا لَخَاسِرُونَ (۹۰) فَأَخَذَتْهُمُ الرَّجْفَةُ فَأَصْبَحُوا فِي دَارِهِمْ جَاثِمِينَ (۹۱) الَّذِينَ كَذَّبُوا شُعَيْبًا كَأَنْ لَمْ يَغْنَوْا فِيهَا الَّذِينَ كَذَّبُوا شُعَيْبًا كَانُوا هُمُ الْخَاسِرِينَ (۹۲) فَتَوَلَّى عَنْهُمْ وَقَالَ يَا قَوْمِ لَقَدْ أَبْلَغْتُكُمْ رِسَالَاتِ رَبِّي وَنَصَحْتُ لَكُمْ فَكَيْفَ آسَى عَلَى قَوْمٍ كَافِرِينَ (سورة الاعراف **۸۵\ ۹۳**)

اودارنګه الله ﷻ فرمایلی دی: وَإِلَى مَدْيَنَ أَخَاهُمْ شُعَيْبًا قَالَ يَا قَوْمِ اعْبُدُوا اللهَ مَا لَكُمْ مِنْ إِلَهٍ غَيْرُهُ وَلَا تَنْقُصُوا الْمِكْيَالَ وَالْمِيزَانَ إِنِّي أَرَاكُمْ بِخَيْرٍ وَإِنِّي أَخَافُ عَلَيْكُمْ عَذَابَ يَوْمٍ مُحِيطٍ (۸٤) وَيَا قَوْمِ أَوْفُوا الْمِكْيَالَ وَالْمِيزَانَ بِالْقِسْطِ وَلَا تَبْخَسُوا النَّاسَ أَشْيَاءَهُمْ وَلَا تَعْثَوْا فِي الْأَرْضِ مُفْسِدِينَ (۸۵) بَقِيَّةُ اللهِ خَيْرٌ لَكُمْ إِنْ كُنْتُمْ مُؤْمِنِينَ وَمَا أَنَا عَلَيْكُمْ بِحَفِيظٍ (۸۶) قَالُوا يَا شُعَيْبُ أَصَلَاتُكَ تَأْمُرُكَ أَنْ نَتْرُكَ مَا يَعْبُدُ آبَاؤُنَا أَوْ أَنْ نَفْعَلَ فِي أَمْوَالِنَا مَا نَشَاءُ إِنَّكَ لَأَنْتَ الْحَلِيمُ الرَّشِيدُ (۸۷) قَالَ يَا قَوْمِ أَرَأَيْتُمْ إِنْ كُنْتُ عَلَى بَيِّنَةٍ مِنْ رَبِّي وَرَزَقَنِي مِنْهُ رِزْقًا حَسَنًا وَمَا أُرِيدُ أَنْ أُخَالِفَكُمْ إِلَى مَا أَنْهَاكُمْ عَنْهُ إِنْ أُرِيدُ إِلَّا الْإِصْلَاحَ مَا اسْتَطَعْتُ وَمَا تَوْفِيقِي إِلَّا بِاللهِ عَلَيْهِ تَوَكَّلْتُ وَإِلَيْهِ أُنِيبُ (۸۸) وَيَا قَوْمِ لَا يَجْرِمَنَّكُمْ شِقَاقِي أَنْ يُصِيبَكُمْ مِثْلُ مَا أَصَابَ قَوْمَ نُوحٍ أَوْ قَوْمَ هُودٍ أَوْ قَوْمَ صَالِحٍ وَمَا قَوْمُ لُوطٍ مِنْكُمْ بِبَعِيدٍ (۸۹) وَاسْتَغْفِرُوا رَبَّكُمْ ثُمَّ تُوبُوا إِلَيْهِ إِنَّ رَبِّي رَحِيمٌ وَدُودٌ (۹۰) قَالُوا يَا شُعَيْبُ مَا نَفْقَهُ كَثِيرًا مِمَّا تَقُولُ وَإِنَّا لَنَرَاكَ فِينَا ضَعِيفًا وَلَوْلَا رَهْطُكَ لَرَجَمْنَاكَ وَمَا أَنْتَ عَلَيْنَا بِعَزِيزٍ (۹۱) قَالَ يَا قَوْمِ أَرَهْطِي أَعَزُّ عَلَيْكُمْ مِنَ اللهِ وَاتَّخَذْتُمُوهُ وَرَاءَكُمْ ظِهْرِيًّا إِنَّ رَبِّي بِمَا تَعْمَلُونَ مُحِيطٌ (۹۲) وَيَا قَوْمِ اعْمَلُوا عَلَى مَكَانَتِكُمْ إِنِّي عَامِلٌ سَوْفَ تَعْلَمُونَ مَنْ يَأْتِيهِ عَذَابٌ يُخْزِيهِ وَمَنْ هُوَ كَاذِبٌ وَارْتَقِبُوا إِنِّي مَعَكُمْ رَقِيبٌ (۹۳) وَلَمَّا جَاءَ أَمْرُنَا نَجَّيْنَا شُعَيْبًا وَالَّذِينَ آمَنُوا

(c) ketabton.com: The Digital Library



مَعَهُ بِرَحْمَةٍ مِنَّا وَأَخَذَتِ الَّذِينَ ظَلَمُوا الصَّيْحَةُ فَأَصْبَحُوا فِي دِيَارِهِمْ جَاثِمِينَ (٩٤) كَأَنْ لَمْ يَغْنَوْا فِيهَا أَلَا بُعْدًا لِمَدْيَنَ كَمَا بَعِدَتْ ثَمُودُ. (سورة هود ۸۴\۹۵)

اودارنګه الله ﷻ فرمایلی دی: وَإِنْ كَانَ أَصْحَابُ الْأَيْكَةِ لَظَالِمِينَ (٧٨) فَانْتَقَمْنَا مِنْهُمْ وَإِنَّهُمَا لَبِإِمَامٍ مُبِينٍ (سورة الحجر ۷۸\ ۷۹) .

اودارنګه الله ﷻ په سورة الشعراء کی فرمایلی دی: كَذَّبَ أَصْحَابُ الأَيْكَةِ الْمُرْسَلِينَ (١٧٦) إِذْ قَالَ لَهُمْ شُعَيْبٌ أَلا تَتَّقُونَ (١٧٧) إِنِّي لَكُمْ رَسُولٌ أَمِينٌ (١٧٨) فَاتَّقُوا اللهَ وَأَطِيعُونِ (١٧٩) وَمَا أَسْأَلُكُمْ عَلَيْهِ مِنْ أَجْرٍ إِنْ أَجْرِيَ إِلَّا عَلَى رَبِّ الْعَالَمِينَ (١٨٠) أَوْفُوا الْكَيْلَ وَلَا تَكُونُوا مِنَ الْمُخْسِرِينَ (١٨١) وَزِنُوا بِالْقِسْطَاسِ الْمُسْتَقِيمِ (١٨٢) وَلَا تَبْخَسُوا النَّاسَ أَشْيَاءَهُمْ وَلَا تَعْثَوْا فِي الْأَرْضِ مُفْسِدِينَ (١٨٣) وَاتَّقُوا الَّذِي خَلَقَكُمْ وَالْجِبِلَّةَ الْأَوَّلِينَ (١٨٤) قَالُوا إِنَّمَا أَنْتَ مِنَ الْمُسَحَّرِينَ (١٨٥) وَمَا أَنْتَ إِلَّا بَشَرٌ مِثْلُنَا وَإِنْ نَظُنُّكَ لَمِنَ الْكَاذِبِينَ (١٨٦) فَأَسْقِطْ عَلَيْنَا كِسَفًا مِنَ السَّمَاءِ إِنْ كُنْتَ مِنَ الصَّادِقِينَ (١٨٧) قَالَ رَبِّي أَعْلَمُ بِمَا تَعْمَلُونَ (١٨٨) فَكَذَّبُوهُ فَأَخَذَهُمْ عَذَابُ يَوْمِ الظُّلَّةِ إِنَّهُ كَانَ عَذَابَ يَوْمٍ عَظِيمٍ (١٨٩) إِنَّ فِي ذَلِكَ لَآيَةً وَمَا كَانَ أَكْثَرُهُمْ مُؤْمِنِينَ (١٩٠) وَإِنَّ رَبَّكَ لَهُوَ الْعَزِيزُ الرَّحِيمُ (سورة الشعراء ۱۷۶\ ۱۹۱).

اهل مدین عرب قوم وه چی اوسیدله په خپل کلی کی چی (مدین) نوم یې وو هغه مځکه چی دمعان سره نژدی وه په اطرافو دشام کی. هغه چی نژدی دی دحجاز سره په څنګ دسمندر دلوط ؑ. او وو ددوی لیری والی دنژدی والی سره. اومدین یوه قبیله وه چی دا ځای په دوی مشهور سوی وو،

اودوی اولاد دمدین بن مدیان بن ابراهیم ؑ وه. اوشعیب ؑ ددوی نبی وو چی دی زوی دمیکیل بن یشجن وو، ابن اسحاق ویلی دی. ده ته په سریانی ژبه کی (یترون) ویل کیږی اوپه دی کی شبهه ده. اوبعضو داویلی دی چی شعیب بن یشخر بن لاوی بن یعقوب دی، اوبعضو داویلی دی چی شعیب بن ویب بن عیفابن مدین بن ابراهیم ؑ دی، اوویل سوی دی چی شعیب بن صیفور بن عیفا بن ثابت بن مدین بن ابراهیم ؑ دی. اودارنګه نور اقوال هم دده په نسب کی ذکر سویدی.

اوابن عساکرویلی دی: چی ویل سوی دی چی انا دده، اویا مور دده، لور دلوط ؑ ده. او دی دهغو کسانو څخه وو چی په ابراهیم ؑ باندی یې ایمان راوړی وو اودهغه سره یې هجرت کړی وو اودهغه سره دمشق ته ننوتلی وو. دوهب بن منبه څخه نقل دی چی دوی ویلی دی. ده اوملغم دواړو په ابراهیم ؑ باندی ایمان راوړی وو په هغه ورځ باندی چی

(c) ketabton.com: The Digital Library



ابراهيم ﷷ په اور کی اچول سوی وو، اودده سره يې هجرت کوی وو شام ته نوده ته يې په نکاح باندی دواړی لوڼی دلوط ﷷ ورکړی. اودا ابن قتيبه ذکرکړی دی. اوپه دی قول دده کی شبهه ده. اودارنګه دابو عمر بن عبدالبر په (استيعاب) کی په ترجمه دسلمه بن سعد العنزی کی دی چی په نبی ﷷ باندی يې په عنزه مقام کی ايمان راوړی دی نوددی وجی څخه ورته نسبت دعنزه کيږی، نودی وايې: ښه ځای اوکلی عنزه دی ولی چی دلته دشعيب ﷷ نصرت سوی دی اودموسٰی ﷷ نصرت په کی هم سوی وو: نوکه داروايت صحيح وی نوپته لګيږی چی داشعيب ﷷ دموسٰی ﷷ خسردی اودی دقبيلی دعربوڅخه دی چی ورته عنزه ويل کيږی، ولی چی دوی وه ددی څخه وروسته په ډيری مودی سره. اوپه حديث دابو ذرکی هغه چی ذکردی په صحيح ابن حبان کی په ذکر دانبياوو اورسولانو کی چی دی وايې: څلور ددوی څخه په عربوکی دی چی هغه: شعيب: هود، صالح، اوستانبی عليهم السلام دی ای ابو ذره ([1]) اوبعضو سلفو شعيب ﷷ ته (خطيب الانبياء) ويلی دی. دده دفصاحت او بلاغت دوجی اودارنګه ابن اسحاق فرمايلی دی په نقل کولو سره دبشربن جوبير څخه او دمقتل څخه اوداابن عباس څخه دی وايی چی رسول الله ﷺ به کله ذکر دشعيب کوی نو ورته به يې خطيب الانبياء ويل. ([2])

او وو اهل مدين والا چی ځوزان به يې غورځول په لاره کی اولاروی به يې تنګول، او عبادت به يې کوی (ايکه) دايو بوټی دی چی ډيرګڼ دی اوپرشا وخوا يې نورډير بوټی وی، اودوی په معامله کی يعنی رانيولو اوخرڅولو کی ډير بدبخته وه چی دخلګو څخه به يې په دوکه بازی سره اوپه ناپ اوتول کی په کمی سره پيسی وهلی، دخلګو څخه به يې پيسی زياتی اخستلی اوشيان به يې کم ورکول. نوالله ﷻ دوی ته شعيب ﷷ په طور پيغمبر راوليږی چی هم ددوی دقوم څخه وو نودوی ته يې دعوت ورکی داالله ﷻ خوا ته اودهغه دعبادت خواته چی دهغه عبادت وکی په يوازی والی سره اوشريك ورته نه ګرزوی، اودوی يې منع کول ددی کارونو څخه چی بدکارونه وه اونامناسب کارونه وه، نوبعضو په دی کی ايمان راوړی اوډيرو اظهار دکفر وکی، تردی چی الله ﷻ خپل عذاب پرمسلط کی، اوهغه ذات بادشاه دهرڅه دی اوحميد ذات دی لکه څنګه چی الله ﷻ فرمايلی دی: وَإِلَى مَدْيَنَ أَخَاهُمْ شُعَيْبًا قَالَ يَا قَوْمِ اعْبُدُوا اللهَ مَا لَكُمْ مِنْ إِلَهٍ غَيْرُهُ قَدْ جَاءَتْكُمْ بَيِّنَةٌ مِنْ رَبِّكُمْ (سورة الاعراف \ ۸۵) يعنی دلالت اوښکاره حجت، اودليل چی قاطع دليل دی په رښتنوالی دده باندی اوپه دی باندی چی الله ﷻ دارسول مقررکړی دی په دوی کی، اوهغه معجزی چی الله ﷻ دده په

([1]). داضعيف دی راوی ددی ابن حبان دی (۱\ ۹۴) (۲\ ۲۰۷۹).

([2]). حاکم فی المستدرك (۲\ ۸۲۵) اوسکوت اختيارکړی دی الذهبی پردی باندی. اوتاريخ الطبری (۱\ ۲۲۹).

(c) ketabton.com: The Digital Library



لاس سره ښکاره کړی دی هغه موږ ته نه دی رانقل سوی تفصیلاً. که څه هم داپه الفاظو کی اجمالاً داخلیږی: فَأَوْفُوا الْكَيْلَ وَالْمِيزَانَ وَلَا تَبْخَسُوا النَّاسَ أَشْيَاءَهُمْ وَلَا تُفْسِدُوا فِي الْأَرْضِ بَعْدَ إِصْلَاحِهَا (سورة الاعراف ۸۵) امر یې وکی دوی ته په عدل باندی اودوی یې منع کړه دظلم څخه اووعده یې ورکړه په خلاف کولو ددی باندی.

ذَلِكُمْ خَيْرٌ لَكُمْ إِنْ كُنْتُمْ مُؤْمِنِينَ (۸۵) وَلَا تَقْعُدُوا بِكُلِّ صِرَاطٍ (سورة الاعراف ۸۵\ ۸۶) یعنی په لاره کی (تُوعِدُونَ) یعنی تاسی وعده ورکوی خلکو ته چې پیسی به ورڅخه اخلی اودارنګه یې تاسی بیروی په لاره کی. السدی ویلی دی په تفسیر خپل کی دصحابه وو څخه: وَلَا تَقْعُدُوا بِكُلِّ صِرَاطٍ تُوعِدُونَ (سورة الاعراف\۸۵) یعنی دوی به دلاروی څخه لسمه حصه دمال دهغه اخستله.

اواسحاق بن بشر ویلی دی په نقل کولو سره دجویبر څخه دی نقل کوی دالضحاك څخه دی دابن عباس څخه دی وایی چې: دوی ډیر باغیان خلګ وه چې په لاره کی به کښېنسته، او دخلګو څخه به یې په زوره پیسی اخستلې، اودوی اول خلګ وه چې داسنت یې ایجاد کی. وَتَصُدُّونَ عَنْ سَبِيلِ اللَّهِ مَنْ آمَنَ بِهِ وَتَبْغُونَهَا عِوَجًا (سورة الاعراف \۸۶) منع یې کړه دوی دشکولو دلاری څخه. وَاذْكُرُوا إِذْ كُنْتُمْ قَلِيلًا فَكَثَّرَكُمْ وَانْظُرُوا كَيْفَ كَانَ عَاقِبَةُ الْمُفْسِدِينَ (سورة الاعراف \ ۸۶) دوی ته یې یادانښت وکی په نعمت دالله ﷻ سره اودوی ته یې تحذیر ورکی دعذاب دالله ﷻ هغه که چیری دوی خلاف وکی دهغه څه چې دوی ته ویل کیږی اودوی ته دهغه امر کیږی. لکه څنګه چې الله ﷻ فرمایلی دی په بلی قصی کی: وَلَا تَنْقُصُوا الْمِكْيَالَ وَالْمِيزَانَ إِنِّي أَرَاكُمْ بِخَيْرٍ وَإِنِّي أَخَافُ عَلَيْكُمْ عَذَابَ يَوْمٍ مُحِيطٍ (سورة هود\۸۴) یعنی تاسی دهمیشه دپاره په دی لاری باندی تګ مه کوی نوالله ﷻ به هغه څه چې تاسی ته یې درکړی دی نو دهغه څخه به برکت وباسی، اوتاسی به غریبان کی اوهغه مالداری به ستاسی څخه لیری کړی کم چې ستاسی سره ده. اودا تاسی راکشوی دآخرت دعذاب خوا ته، اودچاچی دغه ګناه اودا بله ګناه دواړه یوځای سی، نودابه واقع سی په ډیرغټ تاوان کی. نواول یې دوی منعه کړه دهغه کارونو څخه کم چې دوی کول اوبیایې تحذیر ورکی دوی ته دعذاب دالله ﷻ څخه، په دی دنیاکی اوپه آخرت کی ولی چې دآخرت عذاب بیاډیر دردناکه وی، اودوی ورسره ضدشروع کی په سخت ضد سره وروسته تردی بیان دشعیب ؑ : وَيَا قَوْمِ أَوْفُوا الْمِكْيَالَ وَالْمِيزَانَ بِالْقِسْطِ وَلَا تَبْخَسُوا النَّاسَ أَشْيَاءَهُمْ وَلَا تَعْثَوْا فِي الْأَرْضِ مُفْسِدِينَ (۸۵) بَقِيَّةُ اللَّهِ خَيْرٌ لَكُمْ إِنْ كُنْتُمْ مُؤْمِنِينَ وَمَا أَنَا عَلَيْكُمْ بِحَفِيظٍ (سورة هود ۸۵\ ۸۶). ابن عباس اوحسن بصری ویلی دی: بَقِيَّةُ اللَّهِ خَيْرٌ لَكُمْ یعنی رزق دالله ﷻ ستاسی دپاره ډیره ښه ددی څخه چې تاسی شکول کوی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



اوابن جریر ویلی دی. هغه چی زیات پاته کیږی تاسی ته وروسته ترناپ اوتول ترهغه ښه دی ستاسی دپاره هغه چی کم الله ﷻ ستاسی په تقدیر کی لیکلی وی.

اودارنګه نقل دی داروایت دابن عباس څخه اودحسن څخه، اوداشبیه دی ددی قول دالله ﷻ سره: قُلْ لَا يَسْتَوِي الْخَبِيثُ وَالطَّيِّبُ وَلَوْ أَعْجَبَكَ كَثْرَةُ الْخَبِيثِ (سورة المائده \ ۱۰۰) یعنی هغه لږ حلال مال ستاسی دپاره ډیرښه دی دهغه ډیرو حرامو څخه هرڅه چی حلال دی په هغه کی برکت سته اوپه حرامو کی برکت نسته که څه هم ډیردی، يَمْحَقُ اللهُ الرِّبَا وَيُرْبِي الصَّدَقَاتِ (سورة البقره\۲۷۶). وقال رسول الله ﷺ: سود که څه هم ډیرښکاری خولږ وی ([1]) راوی ددی احمددی.

اودا رکم الله ﷻ رسول الله ﷺ فرمایلی دی: خرڅونکی اواخستونکی دواړو ته اختیار سته ترهغه پوری چی جلاسوی نه وی که چیری دوی ریشتیا وایی اوصفا بیان وکی نودوی ته به په دی کی برکت واچول سی اوکه دوی څه خبره پټه کړه اودروغ یې وویل نوهغه برکت به ورڅخه ختم سی ([2]) اومقصودی خبره داده چی ګټه حلاله برکتی وی که څه هم کمه وی اوحرام که څه هم ډیر وی خوبرکت پکښی نه وی نوددی وجی څخه نبی دالله ﷻ شعیب ﷺ وفرمایل: بَقِيَّةُ اللهِ خَيْرٌ لَكُمْ إِنْ كُنْتُمْ مُؤْمِنِينَ، اوداقول دالله ﷻ : وَمَا أَنَا عَلَيْكُمْ بِحَفِيظٍ (هود\۸۶) یعنی داڅه چی زه تاسی ته وایم داتایو دالله ﷻ درضادپاره وکی اوزه نه یم ستاسی حفاظت کونکی بلکی هغه ذات دی. قَالُوا يَا شُعَيْبُ أَصَلَاتُكَ تَأْمُرُكَ أَنْ نَتْرُكَ مَا يَعْبُدُ آبَاؤُنَا أَوْ أَنْ نَفْعَلَ فِي أَمْوَالِنَا مَا نَشَاءُ إِنَّكَ لَأَنْتَ الْحَلِيمُ الرَّشِيدُ (سورة هود\ ۸۷) دوی ورته وویل دمسخری په طور سره اواستهزاء سره: دالمونځ ستا تاته داامر کوی چی موږ پریږدو هغه څه چی زموږ پلرونو اونیکه ګانو دهغه عبادت کوی؟ اوموږ معامله ونه کړو مګرپه هغه شکل چی ته یې غواړی اوته په راضی یی اوپریږدو هغه معامله چی زموږ په کی فائده ده اوموږ ښه په خوشحاله کیږو؟ إِنَّكَ لَأَنْتَ الْحَلِيمُ الرَّشِيدُ .

ابن عباس اومهیمون بن مهران اوابن جریج اوزید بن اسلم اوابن جریر ویلی دی: داویلی دی دښمنانو دالله ﷻ شعیب ﷺ ته په طور داستهزاء اومسخرو په ده پوری.

---

([1]). ابن ماجه: کتاب التجارات، باب التغلیظ فی الربا (۲\۲۲۷۹) دحدیث دابن مسعودڅخه په دی لفظ سره: نسته څوك چی خپله پیسه زیاته کړی په رباسره یعنی سود مردار دی نودهغه واپسی به لږو ته کیږی. اوپه زوائدو کی ذکر دی اسناد ددی صحیح دی اوسړی ددی ټول ثقه دی.

([2]). صحیح البخاری: کتاب البیوع، باب البیعان بالخیار مالم یفترقا (۱۴\۲۱۱۰) دحدیث دحکیم بن حزام څخه، مسلم کتاب البیع، باب ثبوت خیارالمجلس فی البیع (۱۰\ ۱۷۶) دحدیث دحکیم بن حزان څخه، اوترمذی په کتاب البیوع کی باب ماجاء فی البیعین بالخیار مالم یتفرقا (۳\ ۱۲۴۶).

(c) ketabton.com: The Digital Library



قَالَ يَا قَوْمِ أَرَأَيْتُمْ إِنْ كُنْتُ عَلَى بَيِّنَةٍ مِنْ رَبِّي وَرَزَقَنِي مِنْهُ رِزْقًا حَسَنًا وَمَا أُرِيدُ أَنْ أُخَالِفَكُمْ إِلَى مَا أَنْهَاكُمْ عَنْهُ إِنْ أُرِيدُ إِلَّا الْإِصْلَاحَ مَا اسْتَطَعْتُ وَمَا تَوْفِيقِي إِلَّا بِاللهِ عَلَيْهِ تَوَكَّلْتُ وَإِلَيْهِ أُنِيبُ (سورة هود\ ۸۸) دا دده نرموالی دخبرو دی ددوی سره اومهربانی ده دده پردوی په واضحه طریقه سره. ده وویل دوی ته: إِنْ كُنْتُ عَلَى بَيِّنَةٍ، یعنی پرښکاره امر دالله ﷻ دطرفه اوهغه زه رالیږلی یم تاسی ته، وَرَزَقَنِي مِنْهُ رِزْقًا حَسَنًا یعنی نبوت اورسالت، یعنی عام یې کی په تاسی باندی ددی معرفت، نوزما به په تاسی کی څه حیله کیدی سی؟

اودارنګه نوح ﷺ هم خپل قوم ته فرمایلی دی وه. اوداقول دده: وَمَا أُرِيدُ أَنْ أُخَالِفَكُمْ إِلَى مَا أَنْهَاكُمْ یعنی زه تاسی ته امرنه کوم دیوکار چی زه په کی ستاسی څخه مخالفت کوم بلکی چی دکم کار څخه تاسی منع کوم دهغه نه په خپله هم منع کیږم اواول به ورڅخه زه منعه کیږم. دی ته ویل کیږی صفت محموده چی ډیرښه صفت دی اولوړ صفت دی، اوددی په ضد کی صفت ذمیمه دی یعنی بدصفتونه لکه څه رنګه چی داپه علماوو دبنی اسرائیلو کی دی اودهغه په جاهلو خطیبانو کی دی. الله ﷻ فرمایلی دی: أَتَأْمُرُونَ النَّاسَ بِالْبِرِّ وَتَنْسَوْنَ أَنْفُسَكُمْ وَأَنْتُمْ تَتْلُونَ الْكِتَابَ أَفَلَا تَعْقِلُونَ (سورة البقره \ ۴۴)

اودارنګه ددی سره موږ ذکرکړی دی هغه قول درسول الله ﷺ چی فرمایلی دی: رابه وستل سی په ورځ دقیامت یوسړی نووبه وغورځول سی په جهنم کی نودی به وڅرخول سی داسی چی دده کولمی به دخیټی څخه راولویږی نوپرده به تاویږی داسی لکه څنګه چی خر پر میچن تاویږی، نوراټول به سی جهنمیان ټول اوورته وبه وایی چی: ای فلانکیه. ولی په تا څه سوی دی؟ آیاته نه وی چی تابه امرکوی په نیکی سره اومنع به دی کوله دبدی څخه؟ نودی به وایی چی ولی نه، خومابه منع کوله دبدی څخه اوپه خپله به می نه کول، اوامربه می کوی په نیکیو باندی اوپه خپله به می نه کول (۱) اوداصفت مخالف دی دانبیاوو څخه، پس هرڅه چی هغه سرداران دی اوعقلمند علماء دی، هغه چی بیره کوی دالله ﷻ څخه په غیب سره، نودهغوی حال به داسی وی لکه څه رنګه چی شعیب ﷺ ویلی دی: وَمَا أُرِيدُ أَنْ أُخَالِفَكُمْ إِلَى مَا أَنْهَاكُمْ عَنْهُ إِنْ أُرِيدُ إِلَّا الْإِصْلَاحَ مَا اسْتَطَعْتُ (سورة هود \ ۸۸) یعنی زما اراده نه وی په هرامر زماکی مګر اصلاح دکارونو اودخبرو ستاسی (وَمَا تَوْفِيقِي) یعنی په ټولو احوالو کی: إِلَّا بِاللهِ عَلَيْهِ تَوَكَّلْتُ وَإِلَيْهِ أُنِيبُ یعنی په هغه باندی می توکل دی اوهغه زمادټولو کارونو جوړونکی دی اوهغه ذات ته زما واپسی ده اوزمادهر کار هغه ته واپسی ده مقام دترغیب

---

(۱). صحیح البخاری: کتاب بدء الخلق باب صفت النار وانهامخلوقة (۲\۳۲۶۷) اواطراف ددی په (۷۰۹۸) اومسلم په کتاب الزهدکی، باب عقوبت من امر بالمعروف ولایفعله (۱۸\۱۱۸) اواحمد (۵\ ۲۰. ۳۰۷. ۲۰۲، ۲۰۵).

(c) ketabton.com: The Digital Library



دی. اوبیایې نقل وکی یوقسم ترهیب ته نوویې فرمایل: وَيَا قَوْمِ لَا يَجْرِمَنَّكُمْ شِقَاقِي أَنْ يُصِيبَكُمْ مِثْلُ مَا أَصَابَ قَوْمَ نُوحٍ أَوْ قَوْمَ هُودٍ أَوْ قَوْمَ صَالِحٍ وَمَا قَوْمُ لُوطٍ مِنْكُمْ بِبَعِيدٍ (سورة هود \ ۸۹). یعنی تاسی ته به دابغض اوکینه هیڅ فائده درنه کړی مګر داچی دالله ﷻ عذاب به په ځان باندی حلال کړی، په شان دمخکنیو قومونو، لکه قوم دصالح، هود، اونوح، سو هغوی هم خلاف وکی دپیغمبرانو نوپه ځانونو یې دالله ﷻ عذاب حلال وګرزوی. اوداقول دده: وَمَا قَوْمُ لُوطٍ مِنْكُمْ بِبَعِيدٍ ویل سوی دی چی ددی څخه مراد زمانه ده یعنی قوم لوط ستاسی څخه دومره مخکی نه دی تیرسوی چی تاسی ته دهغه دهلاکت خبره نه بې رارسیدلی بلکی ضرور به تاسی اوریدلی وی دهغوی په باره کی. اوویل سوی دی چی مراد ددی څخه لیری والی دزمانی نه دی بلکی لیری والی دمکان مراددی، یعنی داقوم لوط ستاسی څخه دومره لیری نه دی. اوویل سوی دی چی مراد ددی څخه کارونه اواقوال یعنی خبری ددوی دی، نو مطلب داسو چی تاسی اوقوم لوط په کارونوکی اوپه خبروکی سره دومره لیری نه یاست. اوجمع والی ددی اقوالو په مینځ کی ممکن دی، ولی چی دوی نه دهغه څخه لیری نه وه نه په مکان کی اونه په زمان کی اونه په صفاتو کی. اوبیاده راوستی ترهیب په ترغیب باندی نو ویې ویل: وَاسْتَغْفِرُوا رَبَّكُمْ ثُمَّ تُوبُوا إِلَيْهِ إِنَّ رَبِّي رَحِيمٌ وَدُودٌ (سورة هود\۹۰) یعنی تاسی لیری ووځئ دهغه څخه چی تاسی په کی یاست اوتوبه وکاږی خپل رب ته هغه ذات چی بخښونکی اومهربانه دی اومحبت کونکی دی، لکه چاچی توبه وکښل الله ﷻ ته نوهغه یې وبخښی اودمور څخه ډیر زیات پرمهربانه سی، (وَدُودٌ) اودی هغه محبت کونکی دی که څه هم چی وروسته دتوبی څخه وی، اوکه څه هم وروسته دغټو ګناهونو څخه وی.

قَالُوا يَا شُعَيْبُ مَا نَفْقَهُ كَثِيرًا مِمَّا تَقُولُ وَإِنَّا لَنَرَاكَ فِينَا ضَعِيفًا (سورة هود\ ۹۱) روایت ذکرسوی دی دابن عباس اوسعید بن جبیر اوثوری څخه چی دوی ویلی دی: وو داشعیب ؑ په سترګو ړوند. اودارنګه په حدیث کی نقل سوی دی مرفوعًا: ده ژړلی دی په محبت دالله ﷻ کی تردی چی سترګی یې ړندی سوی وی، نوورکی الله ﷻ ده ته نظردده، اوورته یې وویل چی ای شعیبه ته ژاړی ددی وجی چی ته داور څخه بیریږی؟ یاستا ډیرشوق کیږی جنت ته؟ نوده په جواب کی وویل بلکی زه ژاړم ستادمحبت دوجی نوکله چی زه تاووینم نوبیامی څه پروا نسته چی په ماباندی څه کول کیږی، نووحی ورته وسوی: چی مبارکی دی وی تالره دلیدلو زماسره، نوددی وجی څخه می ستاپه خدمت کی موسیٰ بن عمران ولګوی چی هغه زماکلیم دی یعنی زماسره یې خبری کړی دی. راوی ددی الواحدی دی چی نقل کوی دمحمد بن علی الکوفی څخه دی دعلی بن الحسن بن بندار څخه دی دعبدالله محمد بن اسحاق الرملی

(c) ketabton.com: The Digital Library



ثخه اودی دهشام بن عمار ثخه اودی داسماعیل بن عباس ثخه (۱) دی یحیٰی بن سعید ثخه دی دشداد بن اوس ثخه دی دنبی ﷺ ثخه هم په دی طریقی سره اوپه دی کی ډیر غرابت دی، اودی ته خطیب البغدادی ضعیف ویلی دی. اودا قول ددوی: وَلَوْلَا رَهْطُكَ لَرَجَمْنَاكَ وَمَا أَنْتَ عَلَيْنَا بِعَزِيزٍ (سورة هود\۹۱) دی دوجی دکفر ددوی ثخه چی انتهاء ته په کی رسیدلی وه اودوجی دعناد ثخه چی ډیر سخت ضداو عنادیې وو، ورته به یې ویل چی ستا دخاندان خطرنه وای نوموږ به ته رجم کړی وای، اولکه ثه رنګه چی ورته ویلی دی دوی: مَا نَفْقَهُ كَثِيرًا مِمَّا تَقُولُ (سورة هود\ ۹۱) دوی به ورته وویل چی موږ ستاپه ډیرو خبرو باندی نه پوهیږو، ولی چی موږ ددی طلب نه کوو اوزموږ ورته اراده نسته اونه موورته همت سته. اوداپه شان دقول دکفارو دقریشو وو چی رسول الله ﷺ ته به یې فرمایل: وَقَالُوا قُلُوبُنَا فِي أَكِنَّةٍ مِمَّا تَدْعُونَا إِلَيْهِ وَفِي آذَانِنَا وَقْرٌ وَمِنْ بَيْنِنَا وَبَيْنِكَ حِجَابٌ فَاعْمَلْ إِنَّنَا عَامِلُونَ (سورة فصلت \ ۵) اوداقول ددوی: وَإِنَّا لَنَرَاكَ فِينَا ضَعِيفًا (سورة هود\۹۱) یعنی پریښوول سوی او کمزوری (وَلَوْلاَ رَهْطُكَ) یعنی قبیله ستا اوخاندان ستا: لَرَجَمْنَاكَ وَمَا أَنْتَ عَلَيْنَا بِعَزِيزٍ، نوموږ به ته رجم کړی وای: قَالَ يَا قَوْمِ أَرَهْطِي أَعَزُّ عَلَيْكُمْ مِنَ اللهِ (سورة هود\۹۲) یعنی تاسی زما دقبیلی اوخاندان ثخه بیریږی اوزما رعایت کوی اودهغه الله دعذاب ثخه نه بیریږی؟ اوزما رعایت نه کوی ددی لحاظ ثخه چی زه پیغمبر یم؟ نووګرځیدی قوم زماپه تاسی باندی ګران اوعزتمند دالله ﷻ ثخه: وَاتَّخَذْتُمُوهُ وَرَاءَكُمْ ظِهْرِيًّا (سورة هود \ ۹۲) یعنی هغه ذات خبردار دی اوپوه دی په هغه ثه چی تاسی یې کوی اوراګیرونکی دی هغه لره، اوتاسی ته به سزا درکوی په هغه ورځ چی هغه ته به بیرته واپس کیږی. وَيَا قَوْمِ اعْمَلُوا عَلَى مَكَانَتِكُمْ إِنِّي عَامِلٌ سَوْفَ تَعْلَمُونَ مَنْ يَأْتِيهِ عَذَابٌ يُخْزِيهِ وَمَنْ هُوَ كَاذِبٌ وَارْتَقِبُوا إِنِّي مَعَكُمْ رَقِيبٌ (سورة هود\ ۹۳) داامر یوه سخته وعده ده اوتاکید دی دوی ته دعذاب اودوی ته تاکیددی ددی خبری چی په دی خپلو کړو باندی دی روان اوسی اوداخپله طریقه راونیسی، ژردی چی دوی ته به پته ولګیږی چی چاره دی کور دآخرت اوچاره دی هلاکت: مَنْ يَأْتِيهِ عَذَابٌ يُخْزِيهِ (سورة هود\ ۹۳) یعنی په دی ژوند ددنیاکی (وَيَحِلُّ عَلَيْهِ عَذَابٌ مُقِيمٌ) یعنی په آخرت کی (وَمَنْ هُوَ

---

(۱). دا اسماعیل بن عیاش دی، ابوحاتم ویلی دی: وو اسماعیل بن عیاش دکلکو اومضبوطو حافظانو ثخه په یادولو دحدیث کی نوکله چی غټ سو نوپه حفظ کی یې تغیررالی، دایې نقل کړی دی داوزاعی ثخه اوده دالزهری ثخه ده دسعید بن المسیب ثخه ده دعمربن الخطاب ثخه. اودارنګه روایت کړی دی دیحیٰی بن سعید الانصاری ثخه ده دانس بن مالك ثخه. اوداهل شام ثخه دی، ددی پیدائش په کال (۱۰۲) کی سوی دی، اووفات یې سوی دی په کال (۱۸۱) هجری کی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



كَذِبٌ) اوڅوك دروا غجن دی په موږ دواړو کی په باره دهغه څه کی چی خبردرکول سوی دی اوزیری درکول سوی اوبیره درکول سویده: وَارْتَقِبُوا إِنِّي مَعَكُمْ رَقِيبٌ داپه شان ددی قول دی: وَإِنْ كَانَ طَائِفَةٌ مِنْكُمْ آمَنُوا بِالَّذِي أُرْسِلْتُ بِهِ وَطَائِفَةٌ لَمْ يُؤْمِنُوا فَاصْبِرُوا حَتَّى يَحْكُمَ اللهُ بَيْنَنَا وَهُوَ خَيْرُ الْحَاكِمِينَ (سورة الاعراف \ ۸۷) قَالَ الْمَلَأُ الَّذِينَ اسْتَكْبَرُوا مِنْ قَوْمِهِ لَنُخْرِجَنَّكَ يَا شُعَيْبُ وَالَّذِينَ آمَنُوا مَعَكَ مِنْ قَرْيَتِنَا أَوْ لَتَعُودُنَّ فِي مِلَّتِنَا قَالَ أَوَلَوْ كُنَّا كَارِهِينَ (۸۸) قَدِ افْتَرَيْنَا عَلَى اللهِ كَذِبًا إِنْ عُدْنَا فِي مِلَّتِكُمْ بَعْدَ إِذْ نَجَّانَا اللهُ مِنْهَا وَمَا يَكُونُ لَنَا أَنْ نَعُودَ فِيهَا إِلَّا أَنْ يَشَاءَ اللهُ رَبُّنَا وَسِعَ رَبُّنَا كُلَّ شَيْءٍ عِلْمًا عَلَى اللهِ تَوَكَّلْنَا رَبَّنَا افْتَحْ بَيْنَنَا وَبَيْنَ قَوْمِنَا بِالْحَقِّ وَأَنْتَ خَيْرُ الْفَاتِحِينَ (سورة الاعراف ۸۸\ ۸۹) دوی اراده وکړه دځانونو سره چی داڅه کسان چی په شعیب ﷺ باندی یې ایمان راوړی دی دوی به بیرته خپل دین ته راواړوو، نوشعیب ﷺ ددوی سره په جګړه سو، اوورته یې وویل آیا چی موږ نه غواړو نوبیاهم یعنی په زوره باندی، اودوی تاسی ته نه راځی په اختیار ددوی سره، مګر که دوی راځی نوپه زور ستاسی باندی اودوجی دبیری ستاسی څخه، اودا ددی وجی څخه چی یوزړه ته یووار ایمان ورکښته سی نوبیا دهغه څخه نه راوځی اونه څوك بیا دهغه څخه راځی قَدِ افْتَرَيْنَا عَلَى اللهِ كَذِبًا إِنْ عُدْنَا فِي مِلَّتِكُمْ بَعْدَ إِذْ نَجَّانَا اللهُ مِنْهَا وَمَا يَكُونُ لَنَا أَنْ نَعُودَ فِيهَا إِلَّا أَنْ يَشَاءَ اللهُ رَبُّنَا وَسِعَ رَبُّنَا كُلَّ شَيْءٍ عِلْمًا عَلَى اللهِ تَوَكَّلْنَا (سورة الاعراف \ ۸۹) یعنی هغه زموږ دپاره کافی دی اوهغه زموږ خلاصونکی دی اوهغه ته زموږ ورتګ دی په هریوه کارکی، اوبیایې طلب دفتحی وکی په خپل قوم باندی، نوکامیاب کړه الله ﷻ دوی په هغه کافرانو باندی اودوی ته یې په تیزی سره هغه عذاب ورکی دکم چی دوی مستحق وو: رَبَّنَا افْتَحْ بَيْنَنَا وَبَيْنَ قَوْمِنَا بِالْحَقِّ وَأَنْتَ خَيْرُ الْفَاتِحِينَ یعنی ته ښه حاکم یې. نوده دعا وغوښتله دالله ﷻ څخه، اوالله ﷻ دنبی دعاکله هم نه ردوی په باره دنصرت کی په قوم کافرانو باندی: وَقَالَ الْمَلَأُ الَّذِينَ كَفَرُوا مِنْ قَوْمِهِ لَئِنِ اتَّبَعْتُمْ شُعَيْبًا إِنَّكُمْ إِذًا لَخَاسِرُونَ (سورة الاعراف\۹۰) اودارنګه الله ﷻ فرمایلی دی: فَأَخَذَتْهُمُ الرَّجْفَةُ فَأَصْبَحُوافِي دَارِهِمْ جَاثِمِينَ، ذکرسوی دی په سورة الاعراف کی چی دوی هلاك سوی دی په ښوریدلو دمزکی سره یعنی مځکه پر ښورول سوی وه، او زلزله پرواستل سوی وه چی سخته زلزله وه چی ددوی څخه یې ساګانی وایستلی اوتش بدنونه پاته سوه، اوددوی حیوان دمزکی لکه دکاڼو وچ کلك سو نه په کی روح وو اونه په کی حرکت.

اودارنګه الله ﷻ په دوی باندی مختلف اقسام عذابونه راتول کړی وه، داددی وجی څخه چی کله دوی داکارونه شروع کړه اوپه انتهاء کی ورته ورسیده، نوالله ﷻ په دوی باندی داسی زلزله راوسته چی ټول حرکات یې ورجام کړه، اوداسی لوړه چیغه یې پررا وایسته

(c) ketabton.com: The Digital Library



چی هغه ټولی چیغی یې په ختمی کړی اوداسی سایه یې پرراولیږل چی دهغه څخه یې داور شغلی وربا ندی را واورول سوی چی دوی ورته دغونډیو اودرختو څخه راټول سوی وه. خو لیکن الله ﷻ په هرسورة کی چی څنګه دهغه ځای سره مناسب وی ذکریې کړی دی ددوی قصی، لکه څنګه چی دوی وعده ورکړی وه رسول دالله ﷻ شعیب ؑ ته دا ایستلو دده دکلی څخه اویا دده واپسی هغه دین ته کم چی ددی خلګو وو. نوالله ﷻ وفرمایل: فَأَخَذَتْهُمُ الرَّجْفَةُ فَأَصْبَحُوا فِي دَارِهِمْ جَاثِمِينَ (سورة الاعراف \ ۹۱) نودوی چی کمه وعده شعیب ؑ ته ورکړی وه نوهغه پردوی باندی چپه سوه. اوهرڅه چی په سورة هود کی ذکردی: نوهلته یې ویلی دی چی دوی هلاك سوی دی په چغی سره نوکله چی دوی سهار کی نودوی پراته وه تش بدنونه چی روح په کی نه وو، ولی چی دوی خپل نبی ته په استهزاء سره اوپه مسخرو داویلی وه: أَصَلَاتُكَ تَأْمُرُكَ أَنْ نَتْرُكَ مَا يَعْبُدُ آبَاؤُنَا أَوْ أَنْ نَفْعَلَ فِي أَمْوَالِنَا مَا نَشَاءُ إِنَّكَ لَأَنْتَ الْحَلِيمُ الرَّشِيدُ (سورة هود\ ۸۷) نومناسب داوو چی چیغه یې ذکرکړه ولی چی داپه شان دزجروو دهغه خبری څخه چی دوی کوله خپل نبی شعیب ؑ ته، نوراله پردوی باندی داسی چیغه چی دوی یې چپه کړه اوداسی زلزله چی دهرڅه څخه یې حرکت ختم کی. اوهرڅه چی په سورة الشعراء کی دی نوپه دی کی یې داسی ذکرکړی دی چی پردوی باندی عذاب راغلی دی دسایې، اودا وو جواب دهغه څخه چی دوی یې طلب کړی وو، اودانژدی والی وو هغه ته چی دوی ورته رغبت کوی، دوی ویلی وه: قَالُوا إِنَّمَا أَنْتَ مِنَ الْمُسَحَّرِينَ (۱۸۵) وَمَا أَنْتَ إِلَّا بَشَرٌ مِثْلُنَا وَإِنْ نَظُنُّكَ لَمِنَ الْكَاذِبِينَ (۱۸۶) فَأَسْقِطْ عَلَيْنَا كِسَفًا مِنَ السَّمَاءِ إِنْ كُنْتَ مِنَ الصَّادِقِينَ (۱۸۷) قَالَ رَبِّي أَعْلَمُ بِمَا تَعْمَلُونَ (سورة الشعراء ۱۸۵\ ۱۸۸). الله ﷻ فرمایلی دی اوهغه اوریدونکی اوکتونکی ذات دی: فَكَذَّبُوهُ فَأَخَذَهُمْ عَذَابُ يَوْمِ الظُّلَّةِ إِنَّهُ كَانَ عَذَابَ يَوْمٍ عَظِيمٍ (سورة الشعراء \۱۸۹) اوبعضو داګمان کړی دی لکه قتاده سو اوداسی نورو: چی اصحاب الایکه جلا امت وو دمدین څخه، نودا قول ددوی ضعیف دی. اودوی دی خبری ته مائل کړی دی دی دوو قولونو یودا: كَذَّبَ أَصْحَابُ الْأَيْكَةِ الْمُرْسَلِينَ (۱۷۶) إِذْ قَالَ لَهُمْ شُعَيْبٌ (سورة الشعراء ۱۷۶\ ۱۷۷) اودلته یې ورته د: اَخُوْهُمْ ټکی نه دی ذکرکړی وروریې ورته نه دی ویلی. لکه څه رنګه چی یې بل ځای فرمایلی دی: وَاِلٰی مَدْیَنَ اَخَاهُمْ شُعَیْبًا (سورة الاعراف\۸۵، هود\۸۴، العنکبوت \۳۶) اودوهم داچی: په یوځای کی یې ورته عذاب دیوم الظله ویلی دی، اوپه بل ځای کی یې الرجفه یعنی زلزله او الصیحه یعنی چیغه ویلی دی چی په دی سره عذاب ورکول سوی دی. جواب داولنی: ورور یې ورته ځکه نه دی ویلی په دی آیت کی: كَذَّبَ أَصْحَابُ الْأَيْكَةِ الْمُرْسَلِينَ ، ولی چی ددوی دا صفت وو چی دوی به عبادت

(c) ketabton.com: The Digital Library



دایکه درختی کوی، نوددی وجی وروروِلی ورسره مناسب نه وه.
اوکله چې یې نسبت دقبیلې وکې نوبیایې وروروِلی ذکرکړه ولې چې دقبیلې په صورت کې دایې ورور وو. اودافرق کول ډیر باریك دی اوعظیم فرق دی. اوهرڅه چې ددوی جګړه ده په دی خبری باندی چې یوم الظله یې ویلی ده، نوکه دا دلیل وی پردی خبری باندی چې دا جلا امت وو نوبیا خو ددی څخه داهم معلومیږی چې الرجفه اوالصیحه والاهم دوی جلا جلا قبیلې وی، اوداچاهم نه دی ویلی چې داهم دوه نور امتونه وه. اوهرڅه چې هغه حدیث دی چې حافظ ابن عساکر ذکرکړی دی په ترجمه اوتعریف دشعیب ﷺ کې دطریقی دمحمد بن عثمان بن ابی شیبه څخه دی نقل کوی دخپل پلار څخه اودی دمعاویه بن هشام څخه دی دهشام بن سعید څخه دی دشقیق بن ابی هلال څخه دی دابی ربیعه بن یوسف څخه دی دعبدالله بن عمر څخه مرفوعًا: یقینًا قوم مدین اواصحاب الایکه دواړه جلاجلا امتونه دی چې دی دواړو ته الله ﷻ شعیب ﷺ پیغمبر را استولی وو. نوپه دی حدیث کې غرابت دی، اوددی په ټولو سریوکې کلام دی. اوداشبهه هم پکې سته چې داکلام دعبدالله بن عبدعمر خپل وی، یادهغه څخه چې ورته رسیدلی وو په ورځ دیرموك کې هغه دوه اقوال دی دبنی اسرائیلو، اوالله ﷻ ښه پوهیږی. اوبیا دارنګه الله ﷻ ذکرکړی دی داصحاب الایکه والاوو دپاره هغه صفت چې په ناپ اوتول کې کمی کول دی چې داصفت یې داهل مدین دپاره هم ذکرکړی وو، نوداخبره په دی باندی دلالت کوی چې دوی دواړه یوقوم دی اودواړه یوامت دی، خوپه ډیر اقسامو دعذابونو باندی هلاك سوی دی. اوذکرکړی دی په هرځای کې هغه عذابونه چې ده هغه ځای سره مناسب وی.
اوداقول دالله ﷻ : فَأَخَذَهُمْ عَذَابُ يَوْمِ الظُّلَّةِ إِنَّهُ كَانَ عَذَابَ يَوْمٍ عَظِيمٍ (سورة الشعراء ۱۸۹) ذکر سوی دی چې الله ﷻ ددوی څخه (۷) ورځی مسلسل هواء بنده کړی وه اوسخته ګرمی یې پر راکښته کړی وه، نودوی ته به نه درختی یوه فائده ورکوله اونه سایی، نودوی وتښتیده ددی خپل ځای څخه اوبل ځای ته ولاړه، نوپه دوی باندی وریځ راغله اودوی ټول دهغه لاندی راټول سوه ددی دپاره چې ددی وریځی څخه فائده واخلی اولږ ارام وکی. نوکله چې دوی ددی وریځی لاندی راټول سوه نوالله ﷻ دلوړی څخه عذاب پر رانازل کې په شکل داور نوداور شغلی پر را واورول سوی اومځکه په زلزله سوه وربانډی، اودآسمان څخه وربانډی چیغی ووهل سوی، نوددوی څخه یې روحونه وایستل، اوتش بدنونه پاته سوه، فَأَصْبَحُوا فِي دَارِهِمْ جَاثِمِينَ (۹۱) الَّذِينَ كَذَّبُوا شُعَيْبًا كَأَنْ لَمْ يَغْنَوْا فِيهَا الَّذِينَ كَذَّبُوا شُعَيْبًا كَانُوا هُمُ الْخَاسِرِينَ (سورة الاعراف ۹۱\۹۲) اونجات ورکی الله ﷻ شعیب ﷺ ته اوهغو کسانوته چې ایمان یې راوړی وو، لکه څه رنګه چې الله ﷻ فرمایلی دی: وَلَمَّا جَاءَ أَمْرُنَا نَجَّيْنَا شُعَيْبًا وَالَّذِينَ

(c) ketabton.com: The Digital Library



آمَنُوا مَعَهُ بِرَحْمَةٍ مِنَّا وَأَخَذَتِ الَّذِينَ ظَلَمُوا الصَّيْحَةُ فَأَصْبَحُوا فِي دِيَارِهِمْ جَاثِمِينَ (٩٤) كَأَنْ لَمْ يَغْنَوْا فِيهَا أَلَا بُعْدًا لِمَدْيَنَ كَمَا بَعِدَتْ ثَمُودُ (سورة هود ۹۴\ ۹۵) اودارنګه الله جلاله فرمایلي دي: وَقَالَ الْمَلَأُ الَّذِينَ كَفَرُوا مِنْ قَوْمِهِ لَئِنِ اتَّبَعْتُمْ شُعَيْبًا إِنَّكُمْ إِذًا لَخَاسِرُونَ (٩٠) فَأَخَذَتْهُمُ الرَّجْفَةُ فَأَصْبَحُوا فِي دَارِهِمْ جَاثِمِينَ (٩١) الَّذِينَ كَذَّبُوا شُعَيْبًا كَأَنْ لَمْ يَغْنَوْا فِيهَا الَّذِينَ كَذَّبُوا شُعَيْبًا كَانُوا هُمُ الْخَاسِرِينَ (سورة الاعراف ۹۰\ ۹۲) اوبیا دارنګه الله جلاله دخپل نبي په باره کی خبرورکوی چی ده بیره ورکړه دوی ته اودوی يې منع کړه په رټلو سره اوزیری ورکولو سره اوپه بیره ورکولو سره، نوالله جلاله فرمایلي دي: فَتَوَلَّى عَنْهُمْ وَقَالَ يَا قَوْمِ لَقَدْ أَبْلَغْتُكُمْ رِسَالَاتِ رَبِّي وَنَصَحْتُ لَكُمْ فَكَيْفَ آسَى عَلَى قَوْمٍ كَافِرِينَ (سورة الاعراف \ ۹۳) یعنی اعراف یې وکی ددوی څخه اومخ یې ورڅخه وګرزوی وروسته دهلاکت ددوی اودایې ورته وویل: ای قومه زما یقیناً ماتاسی ته دالله راکړی رسالت اوپیغام راورسوی اوتاسی ته می نصیحت وکی. یعنی ما اداکی هغه څه چی پرما باندی واجب وه دتبلیغ څخه اودکامل نصیحت څخه، اوماحرص وکی ستاسی په هدایت باندی په هرهغه طریقی سره چی زماپه وس کی وه، بیاهم تاسی ته زمانصیحت فائده درنه کړه، ولی چی الله جلاله هغه سړی ته هدایت نه کوی چی څوك ګمراهی خوښوی، اونه وو ددوی دپاره څوك مددګار اوزه په تاسی باندی نه خفه کیږم وروسته ددی څخه، ولی چی تاسی به زمانصیحت نه قبلوی، اوتاسی به بیره نه کوله دورځی دقیامت څخه. نو ددی وجی څخه یې ورته ویلی دی (فَكَيْفَ ءَاسَىٰ) یعنی څه رنګه خفګان وکم (عَلَىٰ قَوْمٍ كَافِرِينَ) یعنی نه قبلوی حق اونه دی خوا ته ګوری نودالله جلاله عذاب یې پرځان باندی واقع کی، اودارنګه ذکرکړی دی الحافظ ابن عساکر په تاریخ خپل کی دابن عباس څخه: چی شعیب علیه السلام وروسته دیوسف علیه السلام څخه وو. اودوهب بن منبه څخه دانقل دی چی شعیب علیه السلام په مکه کی وفات سوی دی دهغه مومنانو سره چی دده سره یوځای وو، اوقبرونه ددوی په مغرب خوا دکعبی کی دی په منځ ددار الندوة اودارِ بنی سهم کی.

## نسل دابراهیم علیه السلام

قصه ددوی مخکی دنوح علیه السلام سره یوځای ذکرسویده اوهغه څه چی په دوی باندی تیرسوی دی هغه هم موږ بیان کړه.

اوهغه موهم ذکرکړه کم حالات چی دده په زمانه کی دلوط علیه السلام دواقعی تیر سوی وه نودا رنګه مودقصی دلوط علیه السلام څخه وروسته قصه دمدین اواصحاب الایکه ذکرکړه نوموږ هم دقرآن کریم په طرز باندی ذکرکړه. اوس موږ شروع کووپه بیان دنسل دابراهیم علیه السلام تفصیلا ولی چی الله جلاله دده په نسل کی نبوت اورسالت ګرځولی دی، نوهرنبی چی دده څخه وروسته راغلی دی هغه دده په اولاد کی دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## قصه داسماعیل ﷺ

او وه دابراهیم ﷺ دپاره ډیر ځامن لکه څه رنګه چي موږ ذکرکړي دی، لیکن په دی کی مشهور دغه دوه دی چي اسماعیل اواسحاق دی چي دوی دواړه لوی اوافضل پیغمبران وو په دوی دواړو کی افضل اوښه اسماعیل ﷺ دی هغه چي ځان یې قربانی ته وړاندی کړی وو. اسماعیل زوی دابراهیم ﷺ دی دهاجری قبطیې څخه. اوبعضو داویلی دی چي ذبیحه اسحاق ﷺ دی، اودانقل دی داسرائیلیاتو څخه دهغه اسرائیلو څخه چي په تورات کی یې تبدیلی کړیده. ددوی دکتاب په نص کی دالیکل سوی دی چي اسماعیل ﷺ پیداسوی وو په هغه وخت کی چي دابراهیم ﷺ عمر (۸۶) کاله وو اواسحاق ﷺ پیداسوی وو کله چي دابراهیم ﷺ عمرد (۱۰۰) څخه لوړ وو، نودلته داخبره ښکاره ده چي ځوان زوی دده اسماعیل ﷺ وو نوهم دغه ذبیحه هم وه.

الله ﷻ فرمایلی دی: فَبَشَّرْنَاهُ بِغُلَامٍ حَلِيمٍ (۱۰۱) فَلَمَّا بَلَغَ مَعَهُ السَّعْيَ قَالَ يَا بُنَيَّ إِنِّي أَرَى فِي الْمَنَامِ أَنِّي أَذْبَحُكَ فَانْظُرْ مَاذَا تَرَى قَالَ يَا أَبَتِ افْعَلْ مَا تُؤْمَرُ سَتَجِدُنِي إِنْ شَاءَ اللهُ مِنَ الصَّابِرِينَ (سورة الصافات (۱۰۱\ ۱۰۲) یعنی ده اطاعت دخپل پلاروکی په هغه څه کی چي ورته امرسوی وو اوداوعده یې وکړه چي صبر به کوی نوپوره والی یې وکی په دی خپلی خبری باندی او صبریې وکی. اودارنګه الله ﷻ فرمایلی دی: وَاذْكُرْ فِي الْكِتَابِ إِسْمَاعِيلَ إِنَّهُ كَانَ صَادِقَ الْوَعْدِ وَكَانَ رَسُولًا نَبِيًّا (۵٤) وَكَانَ يَأْمُرُ أَهْلَهُ بِالصَّلَاةِ وَالزَّكَاةِ وَكَانَ عِنْدَ رَبِّهِ مَرْضِيًّا (سورة مریم **۵۴\ ۵۵**).

اودارنګه الله ﷻ فرمایلی دی: وَاذْكُرْ عِبَادَنَا إِبْرَاهِيمَ وَإِسْحَاقَ وَيَعْقُوبَ أُولِي الْأَيْدِي وَالْأَبْصَارِ (٤٥) إِنَّا أَخْلَصْنَاهُمْ بِخَالِصَةٍ ذِكْرَى الدَّارِ (٤٦) وَإِنَّهُمْ عِنْدَنَا لَمِنَ الْمُصْطَفَيْنَ الْأَخْيَارِ (٤٧) وَاذْكُرْ إِسْمَاعِيلَ وَالْيَسَعَ وَذَا الْكِفْلِ وَكُلٌّ مِنَ الْأَخْيَارِ (سورة ص **۴۵\ ۴۸**).

اودارنګه الله ﷻ فرمایلی دی: وَإِسْمَاعِيلَ وَإِدْرِيسَ وَذَا الْكِفْلِ كُلٌّ مِنَ الصَّابِرِينَ (۸۵) وَأَدْخَلْنَاهُمْ فِي رَحْمَتِنَا إِنَّهُمْ مِنَ الصَّالِحِينَ (سورة الانبياء **۸۵\ ۸۶**).

اودارنګه الله ﷻ فرمایلی دی: إِنَّا أَوْحَيْنَا إِلَيْكَ كَمَا أَوْحَيْنَا إِلَى نُوحٍ وَالنَّبِيِّينَ مِنْ بَعْدِهِ وَأَوْحَيْنَا إِلَى إِبْرَاهِيمَ وَإِسْمَاعِيلَ وَإِسْحَاقَ وَيَعْقُوبَ وَالْأَسْبَاطِ (سورة النساء \ **۱۶۳**) .

اودارنګه الله ﷻ فرمایلی دی: قُولُوا آمَنَّا بِاللهِ وَمَا أُنْزِلَ إِلَيْنَا وَمَا أُنْزِلَ إِلَى إِبْرَاهِيمَ وَإِسْمَاعِيلَ وَإِسْحَاقَ وَيَعْقُوبَ وَالْأَسْبَاطِ (سورة البقره \ **۱۳۶**).

ساودارنګه الله ﷻ فرمایلی دی: أَمْ تَقُولُونَ إِنَّ إِبْرَاهِيمَ وَإِسْمَاعِيلَ وَإِسْحَاقَ وَيَعْقُوبَ وَالْأَسْبَاطَ كَانُوا هُودًا أَوْ نَصَارَى قُلْ أَأَنْتُمْ أَعْلَمُ أَمِ اللهُ (سورة البقره \ **۱۴۰**) .

(c) ketabton.com: The Digital Library



بیان کړه الله ﷻ دده ښه صفتونه اودی یې پیغمبر وګرزوی، اوبیان یې کړه دده پاکی دهغه ثخه کم چی ورته دی کافرانو منسوب کړی وو، اوامریې کړی دی مومنانو ته چی په هغه ثه چی په ده باندی نازل سوی دی په هغه باندی ایمان راوړی. اوعلماء النسب داخبره ذکر کړیده چی دا اولنی شخص وو چی داس سپرلی یې کړیده، اوآس مخکی دده دسپرلی ثخه وحشي وو نوده په کی انست پیداکی، اودارنګه سعید بن یحیٰی الاموی ویلی دی په مغازیه کی په نقل کولو سره دیوشیخ ثخه چی دقریشو ثخه وو ده نقل کړی دی دعبد الملك بن عبدالعزیز ثخه دی دعبدالله بن عمر ثخه، چی رسول الله ﷺ فرمایلی دی: تاسی واخلی سپرلی اوهغه عادت کړی ولی چی داستاسی دپلار اسماعیل ؑ میراث دی. او وه داعرب مخکی وحشیان نوده ورلره دعوت ورکی په خپل دعوت سره نودوی ورلره جواب ورکی. اودی اولنی سړی دی چی په فصیحه عربی کی یې خبری کړی دی، او وه په مکه کی چی جرهم اوعمالقه اواهلِ یمن والا وه داهغه امتونه وه چی دابراهیم ؑ ثخه مخکی وه. اموی ویلی دی په نقل کولو سره دعلی بن المغیره ثخه دی نقل کوی دابوعبیده ثخه دی دمالك ثخه دی دمحمد بن الحسین ثخه دی دخپل پلار ثخه دی دنبی ؑ ثخه چی فرمایلی یی دی: اول هغه سړی چی په عربی باندی یې شروع کړیده هغه اسماعیل ؑ دی، اودی د(۱۴) کالو وو (۱) اودامورِ مخکی ذکرکړه چی ده واده کړی وو کله چی دی ځوان سو دعمالقه وو ثخه، اوبیاورته پلار امرکړی وو چی ددی ثخه جلاسی. اموی ویلی دی: داعماره بنت سعد بن اسامه بن اکیل العمالیقی وه. اوبیا دهغه ثخه وروسته یې دبلی ښځی سره واده وکی نوپلار ورته امروکی چی پردی باندی دی خیال وکی اودادی نه پریږدی، اودا السیده بنت مضاض بن عمر الجرهمی وه، اوویل سوی دی چی دا دریمه ښځه دده وه. اوددی ثخه یې (۱۲) بچی پیداسوه اوداټول هلکان وه اوپه دوی باندی نومونه ایښی وه محمدبن اسحاق اوهغوی دا دی: نابت، قیذر، ازیل، میشی، مسمع، ماش، دوصا، اورر، بطور، نبش، طیما، قیذما.

اوهمدارنګه ذکرکړی دی اهل کتابو په خپل کتاب کی چی دا دولس عظیم سړیان وه. او وو اسماعیل ؑ پیغمبر ددغو خلګو کم چی دده خواته اوسیدله اوهغه چی پرشا وخوا وه، دقبیلی دجرهم اوعمالیقه اواهل یمن والاو دپاره. اوکله چی ده ته مرګ رالی نوده وصیت وکی خپل وروړته چی اسحاق ؑ دی اودخپل ورور وریره یې ورکړه چی (نسمه) نوم یې وه، نوددې ثخه یې د(الروم) په نامه زوی پیداسو. اوپه بل قول سره دده د (یونان) په نامه

---

(۱). الدیلمی: مسند الفردوس (۱\ ۹۵) دابن عباس ثخه، اوالشیرازی په القاب کی دعلی ثخه همدارنګه المتقی الهندی ویلی دی په کنز العمال کی (۱۱\۳۲۳۰۹) اودارنګه المناوی په فیض القدیر کی ویلی دی (۳\ ۹۲).

(c) ketabton.com: The Digital Library



زوی سوی وو اوچاویلی دی چی په اولاد د (العیص) کی الاسبان هم سته، په دی باندی توقف کړی دی ابن جریر.
اودفن سو په الحجر مقام کی دخپل مور څنګ ته، اودده عمر (۱۳۷) کاله وو. اوروایت ذکر کړی دی عمربن عبدالعزیز چی ده ویلی دی: شکایت وکی اسماعیل ﷺ خپل رب ته دګرمی دمکی څخه، نوالله ﷻ ورته وحی وکړی چی زه به تاته یوه کړکی دجنت خلاصه کم په هغه ځای کی چی ته دفن کیږی دهغه هوابه په تاباندی لګیږی تورځی دقیامته پوری.
اوعرب دحجاز دټولو نسبت دده دوو ځامنو ته کیږی چی (نابت ، اوقیذر) دی.

**اسحاق ﷺ**

دده پیدائش سوی وو په دی حال کی چی دده دپلار عمر (۱۰۰) کاله وو، وروسته دورور خپل اسماعیل ﷺ څخه او وو عمر دساره چی کله ورته دازیری ورکول سو (۹۰) کاله الله ﷻ فرمایلی دی: وَبَشَّرْنَاهُ بِإِسْحَاقَ نَبِيًّا مِنَ الصَّالِحِينَ (۱۱۲) وَبَارَكْنَا عَلَيْهِ وَعَلَى إِسْحَاقَ وَمِنْ ذُرِّيَّتِهِمَا مُحْسِنٌ وَظَالِمٌ لِنَفْسِهِ مُبِينٌ (سورة الصافات ۱۱۲\ ۱۱۳) اوذکر کړی دی الله ﷻ په مختلفو آیتونوکی دده صفتونه.
اومخکی مورږ ذکرکړی دی په حدیث دابی هریره ﷺ کی چی دی نقل کوی درسول الله ﷺ څخه چی فرمایلی یې دی: کریم زوی دکریم اوبیازوی دکریم یوسف بن اسحاق بن ابراهیم ﷺ دی. اوذکر کړی دی اهل کتابو داخبره چی اسحاق ﷺ کله واده وکی د(رفقا) سره چی لور دبتوایل ده په ژوندون دپلار کی نودده عمر (۴۰) کاله وو. اوداوچه وه نوده ورته دالله ﷻ څخه دعاوکړه نودی حمل واخستی، نووسو ددی دوه زامن جوړه چی دیوه نوم (عیصو) وو اودبل نوم (العیص) وو اودی داهل الروم پلار دی اودوهم (یعقوب) دی هغه چی ورته دبنی اسرائیل نسبت کیږی.
اوویل سوی دی چی اسحاقؑ ته دیعقوبؑ څخه عیصو ډیرګران وو، اومور ددی ته یعقوبؑ ډیرګران وو، ولی چی مور اکثره کشر اولاد خوښوی اوورته ګران وی اودی وړوکی اولاد ددی وو. نوکله چی دااسحاق ﷺ ضعیفه سو نوډوډی اوخوراکی ته یې زړه وسو نوالعیص ته یې وویل چی ښکار وکی اوڅه راوړی چی دی ورته بیادعا وکی اودبرکت دعاورته هم وکی. اودا العیص ښکاری وو، نودی ووتی، نوبیاامروکی رفقا یعقوبؑ ته چی دوه ګیلګی دی حلال کړی بغیر دخپلو مالونو څخه، اوددی څخه دی داسی خوراکه جوړه کړی لکه څنګه چی پلار ددوی یې غواړی، اوداورته راوړی مخکی دراتګ دورور څخه ددی دپاره چی ده ته دعاوکی، نومور یې ورته کپړی دالعیص واچولی. نوکله چی ده داخوراکه پلارته پخه کړه، نوپلار ورڅخه پوښتنه وکړه چی ته څوك یې نوده ورته وویل چی ستازوی، نوبیا

(c) ketabton.com: The Digital Library



ورته پلار وویل هرڅه چې اواز دی نواواز دیعقوب دی اوکپړی دالعیص دی. هرکله چې یې ډوډی وخوړله اوفارغه سو نودعایې ورته وکړه چې الله ﷻ دی ستا داولاد رزق هم ډیرکی اوستا اولاددی هم ډیرکی. نوکله چې دی راووتی دخپل پلار لخوا څخه نورالی دده ورور چې العیص دی دخپل پلار خواته اوهغه څه چې پلار یې غوښتی وو هغه یې هم راوړه، نو ور نژدی یې کړه، نودی پلارورته وویل چې داڅه دی ای ځویه زما؟ نوده ورته وویل چې دا هغه څه دی چې ستاورته زړه سوی وو، نوورته یې وویل چې ایاتا ماته یوساعت مخکی دا راوړی نه وه چې ماوخوړل اودعامی درته هم وکړه؟ نوده وویل؟ نه زما دی په الله ﷻ باندی قسم وی، نوده ته پته ولګیده چې هغه دده ورور وو اوپر ده باندی مخکی سوی دی، نودده په نفس کی هغه ته خړه راغله اوده داهم ذکرکړی دی. چې ده خپل ورورته وعده ورکړه چې کله ددوی مور اوپلار مړه سی نودی به بیاوژنی، اوده سوال وکی دخپل پلار څخه نوپلار ورلره نوری دعاګانی وکړی. نوکله چې مور ددوی واوریده هغه څه چې دی العیص یعقوب ته وویل اووعده یې ورسره وکړه دقتل نویعقوب ته مور امروکی چې دخپل ورور لابان خوا ته دی ولاړسی چې په حران کی دی، اوترڅه وخته پوری دی دهغه سره اوسیږی ترڅو پوری چې دده دورور غصه ختمه سی اودا امریې ورته هم وکی چې دهغه دلوښو یوی سره واده وکی، اوداخبره دی خپل خاوند اسحاق ﷺ ته وکړه اودایې ورته وویل چې ده ته امروکی په دی خبری باندی اووصیت ورته وکی اودعاورته وکی، نوده دغه رکم کاروکی. نو ووتی اوجلا سو یعقوب ﷺ ددوی څخه، نوپرده باندی ماښام سو په داسی یوځای کی چې هلته یې خوب وکی ، اویوه ډبره یې راواخیسته اوسرته یې کښیښووله اوبیده سو نوپه خوب کی یې ولیده یوه زینه (پایه) چې دمزکی څخه دآسمان خوا ته ختلی وه چې په هغه باندی ملایکی آسمان ته ختلی اوکښته کیدلی، اوالله ﷻ ده ته خطاب کوی چې: زه به په تاسی کی برکت اچوم اوستا نسل به زیاتوم، نوکله چې دی دخوب څخه راولاړیدی نوډیر خوشحاله سو، اوداانذریې وکی چې که په خیر سره خپل خاندان ته راسی نوپه دغه ځای کی به عبادت ګاه جوړوم، اوهرڅه چې الله ﷻ راکوی په هغه کی به عشر صدقه کوم، اوبیا یې دغه ډبری ته تکیه ولګوله اوپه دی ډبری باندی یې غوړی ولګول ددی دپاره چې پته ورته ولګیږی ددی ځای اوددی ځای نوم یې (بیت ایل) کښیښووی یعنی بیت الله دالله ﷻ کور اودا ځای دبیت المقدس دی چې نن ورځ مشهوره دی په هغه نوم سره دا اول یعقوب ﷺ جوړکړی دی، دابحث به وروسته ذکرکیږی. ویل سوی دی چې کله یعقوب ﷺ دخپل ورور خواته دحران علاقی ته رالی نودده دوی لوڼی وی چې دمشری نوم (لیا) وه اودکشری نوم (راحیل) وه اوداکشره ډیره ښائسته اوښه هم وه، نوددی خبره یې ورسره ومنله په دی

(c) ketabton.com: The Digital Library



شرط باندی چی (۷) کاله به دده مالونه څروی اوساتی. نوکله چی دده پرماما لابان باندی تیره سوه نوډوډی یې وکړه اوخلګو ته یې دعوت ورکی، اوده ته یې واده کړه خپله مشره لور (لیا) اودا دسترګو څخه کمزوری وه اودشکل څخه هم بدرنګه وه. نوکله چی سهار سو نوده خپل ماما ته وویل چی تاخو زماسره غداری وکړه اودوکه دی راسره وکړه؟ ولی چی ما ستاسره وعده ددی کشری کړی وه چی راحیل ده. نوده ورته وویل چی دازموږ په قانون کی نسته چی موږ وړه ورکو اومشره په کور ناسته وی، نوکه ستا دابله خوښه وی نو(۷) کالو نورکار وکه نودابله به بیا درکړم. نوده (۷) کاله نورکار وکی اودابله یې هم په نکاح کړه، اودا ددوی په هغه ملت کی جائز وه بیا وروسته په تورات کی دامنسوخ سو. اودا یواځی دلیل کافی دی په نسخ ددی باندی، ولی چی دیعقوب ﷺ په زمانه کی خودا جائز وو اوداکار دیعقوب ﷺ دلیل دی ددی په جواز باندی. اوپه هبه کی ورکړه لابان هری یوې لورته یوه یوه مینځه نو (لیا) ته یې یوه مینځه ورکړه چی نوم یې (زلفی) وه اوراحیل ته یې (بلهی) ورکړه نولیا الله ﷻ کمزوری کړه ددی وجی چی ددی اولاد سوی وو، نواول هغه چی دیعقوب ﷺ اولاد سوی وو هغه (روبیل) وو دی دلیا څخه پیدا سوی وو اوبیا دده څخه وروسته شمعون، اوبیا یهوذا، نوپه دی وخت کی غیرت ورلی راحیل ته اودده اولاد نه کیدی، نودی په هبه کی ورکړه یعقوب ﷺ ته خپله مینځه نویعقوب ﷺ ورسره جماع وکړه، نوددی څخه یې یوزوی پیداسو چی نوم یې (دان) وو اوبیایې بل زوی پیداسو چی نوم یې (نیفتالی) وو، نوپه هغه وخت کی لیا هم خپله مینځه یعقوب ﷺ ته هبه کړه نوددی هم دیعقوب ﷺ څخه دوه ځامن پیداسوه چی دیونوم (جاد) وو اودبل (اشیر) وو نوبیا لیا حمل واخستی اویوزوی یې پیداسو چی نوم یې (ایساخر) وو اوبیایې حمل واخستی او شپږم زوی یې پیداسو چی دهغه نوم (زابلون) وو اوبیایې په اوم وار باندی لور پیدا سوه چی نوم یې (دینار) وه نوددی دیعقوب ﷺ څخه (۷) اولاده پیداسوه. بیا دعا وکړه راحیل الله ﷻ ته اوسوال یې ورڅخه وکی چی دی ته اولاد ورکی، نودې ته الله ﷻ یوزوی ورکی چی عظیم الشان هستی وه اوپه حسن کی هم کامل حسن والا وو چی نوم یې (یوسف) وو. داټول په دی حال کی پیداسوه چی دوی په حران کی وه، اوده خپل ماما ته څاروی څروله اوشپږ کاله ورته نورپاته وه، نوددی شل کاله پوره سوه دهغوی سره په حران کی، بیاده طلب وکی دخپل ماما څخه دتلو خپل کور اواهل ته، نوتره ورته وویل چی ستادوجی زماپه مالونو کی ډیر برکت اچول سوی دی نوته وغواړه زما څخه څه چی غواړی. نوده ورته وویل په دی کال کی چی ستا دمال کم حمل وی نوهغه به ماته راکړی نوکله چی نژدی سو یعقوب ﷺ د(ساعیر) مزکی ته نوملاقات وکی دده سره ملائکو اوزیری یې ورلره ورکی په بیرته

(c) ketabton.com: The Digital Library



راتلو باندی اوځه کسان ولیږل یعقوب ؑ خپل وروړته چی هغه نرم سی اوتواضع په کی راسی. نوداخلګ راله اویعقوب ؑ ته یې وویل چی العیص تاته (۴۰۰) کسان تیارکړی دی ستا دجنګ دپاره چی تاقتل کړی. نویعقوب ؑ وبیریدی دهغه خبری څخه، نوده دعا وغوښتله دالله ﷻ څخه اوعاجزی یې ورته وکړه اوتضرع یې ورته وکړه، اورامخ ته یې کړه هغه وعده چی یې ورسره کړی وه اوهغه عهد چی یې ورسره کړی وو. اودا سوال یې وکی چی دخپل وروړ دشر څخه یې وساتی، اوده برابره کړه دخپل وروړ دپاره غټه هدیه اوتحفه چی (۲۰۰) پسونه وه اوداسی نوردېر حیوانان وه دبزو څخه اوغوایو څخه اواوښانو څخه اوسرلیو څخه اوخرونه وغیره وغیره، اوامریې وکی هریوه غلام ته چی داهر قسم جلا جلا وروړی نوکله چی اول قسم دیوه غلام سره وروړسیدی نوالعیص ورڅخه پوښتنه وکړه چی دا دچادی اوته څوك یې، نودی غلام ورته وویل چی داستا دوروړ یعقوب ؑ دی اوتاته یې هدیه کړی ده اوددی څخه وروسته دوه نور هم دی چی هغه یې هم تاته هدیه کړی دی. اویعقوب ؑ دخپلی ښځی سره وروسته پاته سو اودوی ورځی وروسته ورلی چی ده شپی به یې مزل کوی اودورځی به یې دمه کول. بهرحال کله چی یعقوب ؑ ولیدی خپل وروړ العیص نو(۷) واره یې ورته سجده وکړه اودده وروړ سره (۴۰۰) کسان وه، اودا سجده ددوی په خیر راغلی وه په هغه زمانه کی اودا ددوی دپاره جائزوو، لکه څنګه چی سجده کړی وه ملائکو آدم ؑ ته، اولکه څنګه چی سجده کړی وه دیوسف مور اوپلار یې یوسف ؑ ته. نوکله چی العیص دی ولیدی نوځان ته یې راټینګ کی اوپر تندی یې ښکل کی او په ژړاسو، اولوړکی العیص سر نو ویې لیده ښځی اوماشومان. نوورته یې وویل چی دا دکم ځای څخه سوه ستا دپاره؟ نوورته یې وویل چی داهغه څه دی چی الله ﷻ ستا وروړته هبه کړی دی. نونژدی سوی دادوی مینځی دی العیص ته اوسجده یې ورته وکړه.

اودارنګه بیا لیا ورته نژدی سوه سره دبچو خپلو اوسجدی یې وکړی اوبیا ورته راحیل دخپلو بچو سره نژدی سوه اوسجدی یې ورته وکړی. اوعرض یې ورته وکی چی دده هدیې قبولی کی نوهغه قبولی کړی، اوراالی العیص او ددوی مخ ته راروان وو اودوی ورپسی شاته راروان سوه اوددوی سره هغه څاروی اوهر څه وه چی دوی قصد کونکی وه (ساعیر) غره لره نوکله چی ددوی تیریده په ساحور باندی نوهلته یې هغه ته کور جوړکی، اوبیاتیر سو په اورشلیم باندی چی کلی دشخیم وو نوهلته کښته سو، اووایې خیسته هلته یو کښت دشخیم بن جمور څخه په سلو اوښانو باندی، نوهلته یې خیمی ولیګولی اوبیایې هلته یو مذبح یعنی ځای دحلالیدو جوړکی نو (ایل) نوم یې ورته کښیښووی چی دارب دی داسرائیل اوامر ورته وکی الله ﷻ په جوړولو ددی باندی، اوهغه بیت المقدس دی نن ورځ،

(c) ketabton.com: The Digital Library



هغه چې بنا ورلره سلیمان ؑ نوی کړه. اودا هغه ځای دډېری وو چې یعقوب ؑ اینښی وو دپاره دمعلومولو دهغه ځای، لکه څه رنګه چې داموږ مخکی ذکر کړه.
اوبیا راحیل بل حمل واخستی نودهغه څخه (بنیامین) پیداسو نودده دپیدائش دوجی دی ته ډېرتکلیف ورسیدی تردی چې دامړه سوه نویعقوب ؑ دا پټه کړه په (افراث) کی اوهغه بیت اللحم دی نن ورځ، اوددی په قبر باندی یعقوب ؑ یوکاڼی اینښی وو چې هغه ترنن ورځ پوری سته، نو وو اولاد دیعقوب ؑ دوولس نارینه (رویبل، شمعون، لاوی، یهوذا، ایساخر، زابلون، یوسف، بنیامین، دان، نفتالی، جاد، اشیر) اورالی یعقوب خپل پلار اسحاق ؑ ته نودهغه سره یوځای اوسیدی په حبرون کی چې هغه مځکه دکنعان ده په کم ځای کی چې به ابراهیم ؑ اوسیدی، بیا ناجوړی سو اسحاق ؑ اووفات سو په عمر د(۱۸۰) کالو کی اوپټ کی دی خپلو ځامنو، العیص اویعقوب دخپل پلار سره یوځای په مغارات کی هغه چې اخستی وو لکه څه رنګه چې داموږ مخکی ذکرکړی دی.

## ذکر دهغه څه چې واقع سوی دی په ژوندون داسرائیل ؑ کی دعجیبو کارونو څخه

یودهغه څخه: قصه دیوسف بن راحیل ؑ ده. یقینا نازل کړی دی الله ﷻ دده په شان کی ډیر آیتونه په قرآن کریم کی، ددی دپاره چې سوچ اوفکر وسی په دی کی اودده دقصی څخه نصیحت واخستل سی. اعوذ بالله من الشیطان الرجیم، بسم الله الرحمٰن الرحیم، الرٰ تِلْكَ آيَاتُ الْكِتَابِ الْمُبِينِ (۱) إِنَّا أَنْزَلْنَاهُ قُرْآنًا عَرَبِيًّا لَعَلَّكُمْ تَعْقِلُونَ (۲) نَحْنُ نَقُصُّ عَلَيْكَ أَحْسَنَ الْقَصَصِ بِمَا أَوْحَيْنَا إِلَيْكَ هَذَا الْقُرْآنَ وَإِنْ كُنْتَ مِنْ قَبْلِهِ لَمِنَ الْغَافِلِينَ (سورة یوسف ۱\ ۳).
الله ﷻ په دی ځای کی اول دخپل کتاب چې په نبی ؑ باندی یې نازل کړیدی دی دهغه مدح کوي اوتعظیم یې بیانوی چې داسی کتاب موورباندی په عربی ژبه کی نازل کړی دی اوهر عاقل اوهوښیار سړی په پوهیږی.
اودا اشرف کتاب دی هغه چې دآسمان څخه نازل سوی دی، اودایې نازل کړی دی په لاس داشرف الملائك جبریل ؑ باندی چې په ملائکو کی یې لوړ مقام دی. نوددی څخه یې وروسته داوویل چې: نَحْنُ نَقُصُّ عَلَيْكَ أَحْسَنَ الْقَصَصِ بِمَا أَوْحَيْنَا إِلَيْكَ هَذَا الْقُرْآنَ وَإِنْ كُنْتَ مِنْ قَبْلِهِ لَمِنَ الْغَافِلِينَ (سورة یوسف \ ۳) یعنی په هغه کتاب کی کم چې تاته موږ نازل کړی دی.
اولکه څنګه چې الله ﷻ فرمایلی دی: وَكَذَلِكَ أَوْحَيْنَا إِلَيْكَ رُوحًا مِنْ أَمْرِنَا مَا كُنْتَ تَدْرِي مَا الْكِتَابُ وَلَا الْإِيمَانُ وَلَكِنْ جَعَلْنَاهُ نُورًا نَهْدِي بِهِ مَنْ نَشَاءُ مِنْ عِبَادِنَا وَإِنَّكَ لَتَهْدِي إِلَى صِرَاطٍ مُسْتَقِيمٍ (۵۲) صِرَاطِ اللهِ الَّذِي لَهُ مَا فِي السَّمَاوَاتِ وَمَا فِي الْأَرْضِ أَلَا إِلَى اللهِ تَصِيرُ الْأُمُورُ (سورة الشورىٰ ۵۲\ ۵۳). اودارنګه الله ﷻ فرمایلی دی: كَذَلِكَ نَقُصُّ عَلَيْكَ مِنْ أَنْبَاءِ مَا قَدْ سَبَقَ وَقَدْ آتَيْنَاكَ مِنْ

(c) ketabton.com: The Digital Library



لَدُنَّا ذِكْرًا (٩٩) مَنْ أَعْرَضَ عَنْهُ فَإِنَّهُ يَحْمِلُ يَوْمَ الْقِيَامَةِ وِزْرًا (١٠٠) خَالِدِينَ فِيهِ وَسَاءَ لَهُمْ يَوْمَ الْقِيَامَةِ حِمْلًا (سورة طه ۹۹\ ۱۰۱) یعنی هغه څوك چي اعراض کوی ددی قرآن څخه اوتابعداری کو دنورو شیانو نوهغه ته به هم داوعده رسیږی. لکه څه رنګه چي ویل سوی دی په حدیث کی چي ذکرسوی دی په ترمذی کی دعمر بن الخطاب ﷺ څخه مرفوعًا اوموقوفًا: چاچي طلب دهدایت وکی په بل چاباندی ماسوا دالله ﷻ څخه نوهغه په ګمراهی باندی دی. (۱)

اودارنګه ویلی دی امام احمد په نقل کولو سره دسریج بن النعمان څخه دی دهشیم څخه دی دمجالد څخه دی دالشعبی څخه دی دجابر څخه: چي عمربن الخطاب رالی رسول الله ﷺ ته چي ده ته څه خبری دیهودیانو رسیدلی وی، نوده داوویلی دنبی ﷺ خواته نونبی ﷺ ته درد ورلی اووی فرمایل چي: تاسی یقین کوی په دی باندی؟ زمادی قسم وی په هغه ذات باندی چي زما روح دهغه په قبضه کی دی، چي تاسی دهغوی څخه پوښتنه مه کوی دیوشی که هغوی تاسی ته حق وایی نوتاسی ورلره تکذیب کوی اوچي درته باطل وایی نو دهغه تصدیق کوی، اوزما دی قسم وی په هغه ذات باندی چي زماروح دهغه په قبضه کی دی که چیری موسیٰ ﷺ اوس ژوندی وای نوهغه به هم زماپه دین باندی وای (۲) اسناد ددي صحیح دی، او ددي روایت احمد کړیدی په بلی وجهی سره هم دعمر ؓ څخه په هغه کی یې دا هم ویلی دی چي: اوزما دی قسم وی په هغه ذات باندی چي زما ژوند دهغه په لاس کی دی که موسیٰ ﷺ په دې وخت کی راسی اوتاسی دهغه تابعداری وکی نوهم به تاسی ګمراه یاست، تاسی زما حصه یاست دامت څخه اوزه ستاسی دحصې نبی یم. (۳)

اودارنګه ددی حدیث طریقې په اول دسورة یوسف کی ذکرسوی دی. اوپه بعضو کی دی: چي رسول الله ﷺ خطاب وکی خلګو ته نوپه خپلی خطبی کی یې وفرمایل: ای خلګو: ماته جوامع الکلم راکول سوی دی یعنی لنډی خبری چي اوږد مطلب یې وی، اوماته خبره مختصره کول کیږی په اختصارسره، اوماتاسی ته داقرآن سپین اوپاك راوړی دی نوتاسی په دی کی بدلون ونه کړی اودوکه دی نه کړی تاسی دوکه کونکی. نوبیایې امر وکی په هغه صحیفی باندی نوهغه یې خرابه کړه اوختمه یې کړه.

إِذْ قَالَ يُوسُفُ لِأَبِيهِ يَا أَبَتِ إِنِّي رَأَيْتُ أَحَدَ عَشَرَ كَوْكَبًا وَالشَّمْسَ وَالْقَمَرَ رَأَيْتُهُمْ لِي سَاجِدِينَ (٤) قَالَ يَا بُنَيَّ لَا تَقْصُصْ رُؤْيَاكَ عَلَى إِخْوَتِكَ فَيَكِيدُوا لَكَ كَيْدًا إِنَّ الشَّيْطَانَ لِلْإِنْسَانِ عَدُوٌّ مُبِينٌ (٥) وَكَذَلِكَ يَجْتَبِيكَ رَبُّكَ

---

(۱). الترمذی: کتاب فضائل القرآن، باب ماجاء فی فضل القرآن (۵\ ۲۹۰۶) اوضعیف ګرځولی دی دا البانی په ضعیف سنن الترمذی کی (۵۵۴).

(۲). احمد (۳\ ۱۰).

(۳). ابویعلی اوابن المنذر اوابن ابی حاتم اوالعقیلی په الضعفاء کی، اوسعید بن منصور په السنن ونصر المقدسی کی. هم دارنګه المتقی الهندی په کنز العمال کی (۱\ ۱۲۲۵).

(c) ketabton.com: The Digital Library



وَيُعَلِّمُكَ مِنْ تَأْوِيلِ الْأَحَادِيثِ وَيُتِمُّ نِعْمَتَهُ عَلَيْكَ وَعَلَى آلِ يَعْقُوبَ كَمَا أَتَمَّهَا عَلَى أَبَوَيْكَ مِنْ قَبْلُ إِبْرَاهِيمَ وَإِسْحَاقَ إِنَّ رَبَّكَ عَلِيمٌ حَكِيمٌ (سورة یوسف ۶\۱۲) اومخکی مورږ داذکرکی چی دیعقوب ﷷ دپاره دولس ځامن وه اودبنی اسرائیلو نسبت هم دوی ته کیږی اوو په دوی کی اشرف او اجل یوسف ﷷ وو. اواکثره علماوو داخبره کړیده چی دده څخه ماسواپه کی پیغمبر بل نه وو. اوهغه نورو ورونړوته یې وحی هم نه ده سوی اوهغه چی څه ښکاره دی ددوی دقول او فعل څخه په دی قصی کی نوهغه هم پردی باندی دلالت کوی لکه داکم چی علماوو ویلی دی. اوهغه چاچی ددوی په نبوت باندی یې دلیل پیش کړی دی هغه دلیل دا آیت دی: قُلْ آمَنَّا بِاللهِ وَمَا أُنْزِلَ عَلَيْنَا وَمَا أُنْزِلَ عَلَى إِبْرَاهِيمَ وَإِسْمَاعِيلَ وَإِسْحَاقَ وَيَعْقُوبَ وَالْأَسْبَاطِ (سورة آل عمران \ ۸۴) نودوی داګمان کړی دی چی دوی الاسباط دی. نودا دلیل ددوی قوی نه دی، ولی چی په الاسباط سره قبیلی دبنی اسرائیلو مراد دی اوهغه انبیاء چی په دوی کی وه او وحی پرنازلیدله هغه مراددی. اوالله ﷻ ته ددی خبری علم سته. اوهغه چی تائید کوی په نبوت ددوی باندی په مینځ دده دورونوکی نوهغه دی دی چی دده څخه ماسوا په ورونړو دده کی هیڅ آیت اوقول نه دی ذکرسوی اوداقول هم دلالت پرکوی چی کم قول نقل کړی دی احمد دعبد الصمد څخه اودی دعبدالرحمٰن څخه اودی دعبدالله بن دینار څخه دی دخپل پلار څخه نقل کوی اودی دابن عمر څخه نقل کوی اودی درسول الله ﷺ څخه چی فرمایلی دی: کریم زوی دکریم اوبیا زوی دکریم اوبیا زوی دکریم یوسف بن یعقوب بن اسحاق بن ابراهیم ﷷ دی. کریم په معنٰی دمهربان اوعزتمند سره دی. یواځی والی کړی دی امام بخاری په دی باندی، نوددی روایت نقل کړی دی دعبدالله بن محمد څخه اوده دعبدالصمد بن عبدالروارث څخه هم په دی الفاظو سره. اووددی ټول وجوهات اوطرف په قصه دابراهیم ﷷ کی ذکرسویدی.

ویلی دی مفسرینو اوداسی نورو: ولیدی یوسف ﷷ خوب مخکی دبالغ کیدو څخه چی یوولس ستوری یې ولیده، اودا اشاره وه هغونورو ورونړوته، اولمراوسپوږمی اودااشاره وه مور اوپلار ته چی دوی ته ټول ورته سجده کړی وه، کله چی دی ولاړیدی نوداقصه یې پلارته ذکرکړه، نوپلار ته یې پته ولګیده چی دی به خپل منزل چی لوړ منزل دی هغه ته به رسیږی په دنیاکی هم اوپه آخرت کی هم، په داسی شان سره چی په دی کی به ورته پلار اومور او ورته ټول سجده کوی، نودی زوی ته یې امروکی چی داخبره دی پټه وساتی دځان سره اودا قصه دی خپلو ورونړوته نه کوی ددی وجی څخه چی ورسره حسد ونه کړی اوڅه مکر اوچل دده دختمولو دپاره جوړنه کړی. اوودادلالت کوی په هغه څه باندی چی موږ مخکی ذکرکړی دی. اووددی وجی څخه په بعضو اثارو کی داذکر سوی دی: چی تاسی خپل حاجتونه په پټه

(c) ketabton.com: The Digital Library



پوره کوی اوهغه پټ ساتی، ولی چی دهرنعمت پسی حسد ګروی [۱] اوداهل کتابو څخه دانقل دی چی ده داقصه خپلو وروڼو ته وکړه اوپلار ته یې هم وکړه اوداخبره ددوی غلطه ده، وَكَذَٰلِكَ يَجْتَبِيكَ رَبُّكَ یعنی څه رنګه چی یې تاته داخوب ښوولی دی، نوکه ته داپټ وساتی (يَجْتَبِيكَ رَبُّكَ) نوتابه خاص کړی په مهربانی باندی اوپه رحمت باندی، وَيُعَلِّمُكَ مِنْ تَأْوِيلِ الْأَحَادِيثِ، اوتاته دخوبونو راایستلو تعبیر وښیو اوداسی نور علم به درته وښیې چی نورو ته به نه وی ازده (وَيُتِمُّ نِعْمَتَهُ عَلَيْكَ) یعنی په وحی کولو سره تاته (وَعَلَىٰ آلِ يَعْقُوبَ) یعنی ستاپه سبب باندی، اوحاصل به کړی ستاپه وجه باندی دنیوی اواخروی دواړه خبرونه كَمَا أَتَمَّهَا عَلَىٰ أَبَوَيْكَ مِنْ قَبْلُ إِبْرَاهِيمَ وَإِسْحَاقَ یعنی څه رنګه چی یې دانعمت پوره کړی دی ستا پلرونو ته ورکول سوی دی چی یعقوب اواسحاق اوابراهیم ؑ دی: إِنَّ رَبَّكَ عَلِيمٌ حَكِيمٌ اولکه څنګه چی الله ﷻ فرمایلی دی: اَللّٰهُ اَعْلَمُ حَيْثُ يَجْعَلُ رِسَالَتَهُ (سورة الانعام\۱۲۴) نو ددی وجی څخه رسول الله ﷻ فرمایلی دی کله چی ورڅخه پوښتنه وسوه چی کم سړی ډیر عزتمند دی؟ نووې فرمایل چی: یوسف نبی دالله چی دی زوی دانبیاوو دی. اودارنګه روایت ذکرکړی دی ابن جریر اوابن ابی حاتم په تفسیرونو خپل کی، اوابویعلی اوالبزار په مسندونو خپل کی دحدیث دالحکم بن ظهیر څخه. اوده ته ضعیف ویلی دی ائمه وو. دی نقل کوی دالسدی څخه اودی دعبدالرحمٰن بن باسط څخه اودی دجابر څخه دی وایی چی رالی رسول الله ﷺ ته یویهودی چی نوم یې بستانه الیهودی وو، نووې ویل چی: ای محمد ماخبرکه دهغه ستورو څخه چی یوسف ؑ لیدلی وو چی سجدی یې کړی وه ده ته؟ نوپټه خوله سو نبی ؑ اوڅه جواب یې ورنه کی، نوراکښته کړل جبریل ؑ نومونه ددی ستورو نونبی ؑ په ده پسی یوسړی ولیږی اوورته یې وفرمایل چی آیاته ایمان راوړی که زه تاته دا وښایم؟ نودی یهودی ورته وویل چی هو. نوورته یې وویل چی هغه (جریان، الطارق، الذیال، ذو الکفل، قابس، وثاب، عمودان، الفلیق، المصبح، الضروح، ذوالفرع، الضیاء، النور،) دی، نویهودی وویل، یقینًا دادهغو نومونه دی. اوپه نزد دابو یعلی باندی: کله چی ده قصه وکړه خپل پلار ته نوهغه وویل چی داګډوډ کاردی الله ﷻ به داراټولوی، اولمر دده پلار دی اوسپوږمی دده مورده. [۲] لَقَدْ كَانَ فِي يُوسُفَ وَإِخْوَتِهِ آيَاتٌ لِلسَّائِلِينَ (۷) إِذْ قَالُوا لَيُوسُفُ وَأَخُوهُ أَحَبُّ إِلَىٰ أَبِينَا مِنَّا وَنَحْنُ عُصْبَةٌ إِنَّ أَبَانَا لَفِي ضَلَالٍ مُبِينٍ (۸) اقْتُلُوا يُوسُفَ أَوِ اطْرَحُوهُ أَرْضًا يَخْلُ

---

[۱]. داحدیث طبرانی ذکر کړیدی.

[۲]. الحاکم فی المستدرك (۴\ ۹۲) اوویلی یې دی چی داحدیث حسن صحیح دی په شرط دمسلم باندی. اودارنګه البیهقی په دلآئل النبوة کی، جامع ابواب اسئلة الیهود وغیرهم، باب مطالب اسمآء النجوم التی سجدت لیوسف ۲۷۷\۲ اودارنګه السیوطی ویلی دی په الدر المنثور کی ۴۹۸\۴.

(c) ketabton.com: The Digital Library



لَكُمْ وَجْهُ أَبِيكُمْ وَتَكُونُوا مِنْ بَعْدِهِ قَوْمًا صَالِحِينَ (۹) قَالَ قَائِلٌ مِنْهُمْ لَا تَقْتُلُوا يُوسُفَ وَأَلْقُوهُ فِي غَيَابَةِ الْجُبِّ يَلْتَقِطْهُ بَعْضُ السَّيَّارَةِ إِنْ كُنْتُمْ فَاعِلِينَ (سورة یوسف ۷\۱۰) بیانوی الله ﷻ هغه څه چی په دی قصی کی دی دحکمتونو څخه، اوهغه دلالتونه اونصیحتونه اوواقعی، اوبیایې ذکر کړی دی حسد اوکینه دده دورونو دیوسف ؑ سره په دی خبری باندی چی پلار دهغه سره مینه اومحبت ډیرکوی اودده سکه ورور چی بنیامین دی ددوی سره به یې په نسبت دهغه نورو ډیره مینه کوله، اودانور ورنوه یوه ډله وه نودوی وویل چی موږ ډیر حقدار یو په مینه کولو سره ددی دواړو څخه، إِنَّ أَبَانَا لَفِي ضَلَالٍ مُبِينٍ یعنی په مخکی کولو ددوی دمحبت په موږ باندی. بیادوی مشوره وکړه په خپل مینځ کی په قتلولو دیوسف باندی اویالیری کولو دده داسی مزکی ته چی بیرته رانه سی، ددی دپاره چی دپلار مخ یې دوی ته راواوړی او ددوی سره محبت شروع کی، اودوی توبه وکاړی ددی څخه وروسته. کله چی دوی په دی کار باندی موافق سو (قَالَ قَائِلٌ مِّنْهُمْ) نوددوی څخه یوه وویل، مجاهد وایی چی داشمعون وو، اوالسدی ویلی دی چی دایهودا وو، اوقتاده اومحمد بن اسحاق ویلی دی چی دامشر ددوی روبیل وو: لَا تَقْتُلُوا يُوسُفَ وَأَلْقُوهُ فِي غَيَابَةِ الْجُبِّ يَلْتَقِطْهُ بَعْضُ السَّيَّارَةِ، تاسی دی مه وژنی بلکی په څاه کی یې واچوی نوبعضی مسافرین به یې دځان سره بوزی (اِنْ كُنْتُمْ فٰعِلِيْنَ) که چیری تاسی داکار ضرور کوی. نودوی په دی خبره باندی فیصله وکړه، نوددی څخه وروسته: قَالُوا يَا أَبَانَا مَا لَكَ لَا تَأْمَنَّا عَلَى يُوسُفَ وَإِنَّا لَهُ لَنَاصِحُونَ (۱۱) أَرْسِلْهُ مَعَنَا غَدًا يَرْتَعْ وَيَلْعَبْ وَإِنَّا لَهُ لَحَافِظُونَ (۱۲) قَالَ إِنِّي لَيَحْزُنُنِي أَنْ تَذْهَبُوا بِهِ وَأَخَافُ أَنْ يَأْكُلَهُ الذِّئْبُ وَأَنْتُمْ عَنْهُ غَافِلُونَ (۱۳) قَالُوا لَئِنْ أَكَلَهُ الذِّئْبُ وَنَحْنُ عُصْبَةٌ إِنَّا إِذًا لَخَاسِرُونَ (سورة یوسف۱۱\۱۴) اودخپل پلار څخه یې غوښتنه وکړه چی دی ددوی سره ولاړسی چی لوبی وکی اووګرځی چکرونه ووهی.

اوالله ﷻ ته علم وو چی دوی په زړه کی ورته څه ساتلی وو. نوپلار ورته جواب ورکی چی: ای زمابچو په ماباندی ګرانه وی دده څخه ماسوا ساعت تیرول که څه هم نیمه ورځ هم وی، اوسره ددی زه پر بیریږم چی تاسی به په خپلو لوبو کی مشغول یاست اودی به درنه شرمښ وخوری، اوداماشوم دی دځان څخه مدافعت نه سی کولی. قَالُوا لَئِنْ أَكَلَهُ الذِّئْبُ وَنَحْنُ عُصْبَةٌ إِنَّا إِذًا لَخَاسِرُونَ، یعنی که شرمښ راسی اودی وخوری زموږ دمینځ څخه نوبیا خو به موږ تاوانیان یواوعاجزان به یو اوهالکان به یو. اوپه نزد داهل کتابو باندی، دی یې ورسره ولیږی اوپه خپله وریسی سو ترڅه حده پوری اوبیا رالی اودا خبره هم ددوی غلطه ده.

فَلَمَّا ذَهَبُوا بِهِ وَأَجْمَعُوا أَنْ يَجْعَلُوهُ فِي غَيَابَةِ الْجُبِّ وَأَوْحَيْنَا إِلَيْهِ لَتُنَبِّئَنَّهُمْ بِأَمْرِهِمْ هَذَا وَهُمْ لَا يَشْعُرُونَ (۱۵) وَجَاءُوا أَبَاهُمْ عِشَاءً يَبْكُونَ (۱۶) قَالُوا يَا أَبَانَا إِنَّا ذَهَبْنَا نَسْتَبِقُ وَتَرَكْنَا يُوسُفَ عِنْدَ مَتَاعِنَا فَأَكَلَهُ

(c) ketabton.com: The Digital Library



الذِّئْبُ وَمَا أَنْتَ بِمُؤْمِنٍ لَنَا وَلَوْ كُنَّا صَادِقِينَ (۱۷) وَجَاءُوا عَلَى قَمِيصِهِ بِدَمٍ كَذِبٍ قَالَ بَلْ سَوَّلَتْ لَكُمْ أَنْفُسُكُمْ أَمْرًا فَصَبْرٌ جَمِيلٌ وَاللهُ الْمُسْتَعَانُ عَلَى مَا تَصِفُونَ (سورة یوسف ۱۸\۱۵) نودی ترهغه په پلار پوری مبنتی وو تردی چی ورسره یې ویې لیږی نودوی وه چی کله دپلار دسترګو څخه پناه سوه، نوشروع سوه چی ورته یې ښکنځل کول اوسپکی به یې ورته کولی په قول اوفعل دواړو طریقو سره، اودوی راټول سوه چی دی څاه ته وغورزوی، نوکله یې چی دی وروغورځوی په دی کی نوالله ﷻ ورته وحی وکړی، چی لازمه ده ستا دپاره چی ته به وځی ددی سختی څخه فراخی ته، اوته به خبر ورکوی دی خپل ورو ته په داسی حال کی چی ته به په دوی کی عزتمند یې، اودوی به تاته محتاجه وی اوستا څخه به بیریږی، (وَهُمْ لاَ يَشْعُرُونَ) مجاهد ویلی دی چی دوی پوه نه سوه په دی وحی دالله ﷻ باندی ده ته. اوابن عباس و یلی دی (وَهُمْ لاَ يَشْعُرُونَ) یعنی په خبرولو ستا دوی لره ددی کار څخه په دی حال کی چی دوی به نه پوهیږی، هم دارنګه قول ابن جریر هم کړی دی. نوکله چی یې په څاه کی واچوی اوولاړی نودده قمیص یې راواخیستی اوپه وینو کی یې ککړ کی، اوخپل پلار ته راله دماخوستن په وخت کی اوحال داوو چی دوی ټولو ژړل. نوددی وجی څخه بعضو سلفو ویلی دی چی: تادی دوکه نه کړی هره ژړا ولی چی اکثره ظالم وی چی دمظلوم په شکل ژاړی. اوبیایې دلته ژړا ددی ورونو دیوسف ذکر کړیده نوچی ماښام راله دوی خپل پلار ته په ژړا اوخپل عذر یې بیانوی: قَالُوا يَا أَبَانَا إِنَّا ذَهَبْنَا نَسْتَبِقُ وَتَرَكْنَا يُوسُفَ عِنْدَ مَتَاعِنَا یعنی دخپلو جامو سره (فَأَكَلَهُ الذِّئْبُ) یعنی زموږ په نیست والی کی کله چی موږ دمنډی مقابله کوله. اوداقول ددوی: وَمَا أَنْتَ بِمُؤْمِنٍ لَنَا وَلَوْ كُنَّا صَادِقِينَ یعنی ته به زموږ داخبره نه منی داکم چی موږ تاته وکړه په باره دخوړلو دشرمښ کی، که څه هم موږ رشتینی یو. وَجَاءُوا عَلَى قَمِيصِهِ بِدَمٍ كَذِبٍ یعنی ددروغو وینه چی په خپله یې په دی قمیص باندی لګولی وه، ولی چی دوی یوه مرغی ونیوله اودهغه وینه یې دده په قمیص باندی واچوله، ددی دوجی چی پلار ته دا وایی چی شرمښ خوړلی دی. اوددوی څخه داهیر سوه چی داقمیص یې څیره کړی وای، لکه څه رنګه چی په عربی کی متل دی چی آفت ددروغو هیریدل دی دهغه نوکله چی دایعقوب ﷺ ولیدی نوورته پته ولګیده چی دا درواغ دی نوبیایې هم دوی ته وویل: قَالَ بَلْ سَوَّلَتْ لَكُمْ أَنْفُسُكُمْ أَمْرًا فَصَبْرٌ جَمِيلٌ وَاللهُ الْمُسْتَعَانُ عَلَى مَا تَصِفُونَ، اوپه نزد داهل کتابو باندی روبیل ورته دامشوره ورکړی وه چی دی به په څاه کی واچوی په دی حیثت سره چی دوی ته پته ونه لګیږی اوڅوك به یې راواخلی اوپلار ته به یې راولی نودوی په غفلت کی سوه اودی یې خرڅ کی پریوی قافلی باندی. نوکله چی په سهار باندی روبیل رالی چی یوسف راوباسی نو وی کتله چی یوسف نسته، نوچیغه یې ووهله او دهغه کپړی

(c) ketabton.com: The Digital Library



یې خیری کړی اودیوه سرلی په وینه کی یې رنګ کړی نوکله چی پوه سو یعقوب نوکپړی یې خیری کړی اویوتور پرتوګ یې واغوستی اوخفه کښېنستی چی په خپل زوی پسی یې خفګان کوی. اودا دوجی ددی څخه چی ددوی په تعبیر کی خطایې راله اوالله ﷻ وفرمایل:
وَجَاءَتْ سَيَّارَةٌ فَأَرْسَلُوا وَارِدَهُمْ فَأَدْلَى دَلْوَهُ قَالَ يَا بُشْرَى هَذَا غُلَامٌ وَأَسَرُّوهُ بِضَاعَةً وَاللهُ عَلِيمٌ بِمَا يَعْمَلُونَ (۱۹) وَشَرَوْهُ بِثَمَنٍ بَخْسٍ دَرَاهِمَ مَعْدُودَةٍ وَكَانُوا فِيهِ مِنَ الزَّاهِدِينَ (۲۰) وَقَالَ الَّذِي اشْتَرَاهُ مِنْ مِصْرَ لِامْرَأَتِهِ أَكْرِمِي مَثْوَاهُ عَسَى أَنْ يَنْفَعَنَا أَوْ نَتَّخِذَهُ وَلَدًا وَكَذَلِكَ مَكَّنَّا لِيُوسُفَ فِي الْأَرْضِ وَلِنُعَلِّمَهُ مِنْ تَأْوِيلِ الْأَحَادِيثِ وَاللهُ غَالِبٌ عَلَى أَمْرِهِ وَلَكِنَّ أَكْثَرَ النَّاسِ لَا يَعْلَمُونَ (۲۱) وَلَمَّا بَلَغَ أَشُدَّهُ آتَيْنَاهُ حُكْمًا وَعِلْمًا وَكَذَلِكَ نَجْزِي الْمُحْسِنِينَ (۲۲) وَرَاوَدَتْهُ الَّتِي هُوَ فِي بَيْتِهَا عَنْ نَفْسِهِ وَغَلَّقَتِ الْأَبْوَابَ وَقَالَتْ هَيْتَ لَكَ قَالَ مَعَاذَ اللهِ إِنَّهُ رَبِّي أَحْسَنَ مَثْوَايَ إِنَّهُ لَا يُفْلِحُ الظَّالِمُونَ، (سورة یوسف ۱۹\۲۳).
په دی اٰیاتونو کی الله ﷻ خبرورکوی دیوسف ؑ څخه په هغه وخت کی چی دی په سلواغه کی پروت وو، چی دی کښېنستی چی انتظار یې کوی دالله ﷻ دمهربانی اودهغه دفراخی، نوراله مسافران.
اهل کتاب وایی چی دوی دمصرخوا ته روان وه نودوی ولیږله څه کسان چی ددی ځاه څخه اوبه راوړی نوکله چی یوسړی ددی څخه سلواغه ډکوله نویوسف ؑ په دی سلواغی پوری مښتی وو. نوکله چی هغه سړی دایوسف ؑ ولیدی نو ویې ویل (قَالَ يٰبُشْرٰى) ای زیری والاوو: هَذَا غُلَامٌ وَأَسَرُّوهُ بِضَاعَةً، یعنی دایی دځان سره وویل چی څوك پوښتنه کوی نوموږ به ورته وایو چی داماشوم زموږ سره په سامان کی شماردی (وَاللهُ عَلِيمٌ بِمَا يَعْمَلُونَ) یعنی هغه ذات پوه دی په هغه څه چی ورونو ورسره وکړه، اوپه هغه څه هم عالم دی چی دوی دځان سره په سامان کی شمارکی. سره ددی یې دده حالات بدل نکړه ولی چی دالله ﷻ په دی کی حکمت وو اودده عظمت په کی وو اورحمت په کی وو داهل مصروالاوو دپاره هغه څه چی الله ﷻ به کوی په لاس ددی ماشوم باندی، چی داماشوم به داخلیږی دی مصرته په شان دقیدی اوبیابه دهغه ځای بادشاه کیږی اودده دوجی به دغو خلګو ته الله ﷻ دینی او دنیاوی فائدی ورکوی په داسی اندازی سره چی څه حدبه یې نه وی اوڅه صفت به یې هم څوك نه سی کولی. اوکله چی داورونه دده پوه سوه چی دی قافلی والا دایوسف راوایستی نوورته یې وویل چی دازموږ ماشوم دی زموږ څخه پاته سوی دی نوپه دوی باندی یې خرڅ کی په لږو پیسو باندی: وَشَرَوْهُ بِثَمَنٍ بَخْسٍ دَرَاهِمَ مَعْدُودَةٍ وَكَانُوا فِيهِ مِنَ الزَّاهِدِينَ، ابن مسعود اوابن عباس اونوف البکالی اوالسدی اوقتاده اوعطیه العوفی ویلی دی چی: دی یې خرڅ کی په شلو درهمو باندی اودوه دوه درهمه یې په خپلوکی تقسیم کړه اومجاهد ویلی دی

(c) ketabton.com: The Digital Library



چی په (۲۲) درهمو باندی یې خرڅ کړی دی. اوعکرمه اومحمد بن اسحاق ویلی دی چی په (۴۰) درهمو باندی یې خرڅ کړی دی. والله تعالی اعلم، وَقَالَ الَّذِي اشْتَرَاهُ مِنْ مِصْرَ لِامْرَأَتِهِ أَكْرِمِي مَثْوَاهُ عَسَى أَنْ يَنْفَعَنَا أَوْ نَتَّخِذَهُ وَلَدًا، اودا یولوی احسان وو دطرفه دالله ﷻ ځخه په ده باندی اواحسان دهغه وو په ده باندی چی دی یې اهل کی دباشاه دکور اوده ته یې دنیوی اواخروی دواړی فائدی ورکړی، اودوی داویلی دی چی دی چا اخستی وو هغه دمصر وزیر وو اودی یې وروسته وزیر دخزانی، جوړیږی چی خزانی بیاده ته وسپارل سوی. اسحاق ویلی دی چی دده نوم قطفیر بن روحیب وو اوویلی یې دی چی دی دمصر وزیروو اوبادشاه دمصر په هغه ورځو کی الریان بن الولید وو، چی دی دعمالیقه وو ځخه وو.

اودایې ویلی دی چی ددی وزیر دښځی نوم (راعیل) وه بنت رماییل اونورو داسی ویلی دی چی نوم ددی (زلیخا) وه اوظاهره داده چی دی ددی لقب وو، اوبعضو داویلی دی چی نوم یې (فکا) وه بنت ینوس، راوی ددی الثعلبی دی دهشام الرفاعی ځخه.

اوویلی دی ابن اسحاق په نقل کولو سره دمحمد بن السائب ځخه دی دابی صالح ځخه او دی داابن عباس ځخه. او وو نوم دهغه سړی چی دی یې ورځخه په مصرکی اخستی وو مالك بن زعر بن نویت بن مدیان بن ابراهیم ؑ وو.

اوابن اسحاق وویل دابی عبیده ځخه اوده داابن مسعود ځخه ویلی دی چی هوښیار خلګ دری وه: وزیر دمصر کله چی یې وویل خپلی ښځی ته چی دده اکرام اوعزت وکی اودوهم هغه ښځه چی دموسیٰ ؑ په باره کی یې خپل پلار ته ویلی وه چی داپه خدمت سره ونیسه اودریم ابوبکر ؓ کله یې چی عمر بن الخطاب خلیفه کی. اوبیایې ویلی دی: واخستی دی عزیز دمصر په (۲۰) دینارو باندی، اوویلی یې دی چی په یوه تول مشك باندی، اوویل سوی دی چی په یوه تول وریښمو باندی یې واخیستی. والله تعالی اعلم.

اوداقول دالله ﷻ : وَكَذَلِكَ مَكَّنَّا لِيُوسُفَ فِي الْأَرْضِ یعنی دافیصله موږ وکړه چی دده به عزت کوی عزیز مصر اودهغه ښځه اوده ته موږ ځای ورکی په مځکه دمصرکی: وَلِنُعَلِّمَهُ مِنْ تَأْوِيلِ الْأَحَادِيثِ یعنی پوه په راایستلو دتعبیر دخوبونو: وَاللَّهُ غَالِبٌ عَلَى أَمْرِهِ یعنی کله چی الله ﷻ دځه اراده وکړه نوهغه ته اسباب دداسی ځای ځخه برابروی چی دبنده په عقل کی نه وی، نوددی وجی الله ﷻ فرمایلی دی: وَلَكِنَّ أَكْثَرَ النَّاسِ لَا يَعْلَمُونَ (۲۱) وَلَمَّا بَلَغَ أَشُدَّهُ آتَيْنَاهُ حُكْمًا وَعِلْمًا وَكَذَلِكَ نَجْزِي الْمُحْسِنِينَ نودا آیت دلالت کوی په دی خبری باندی چی په ده باندی دا ټول کارونه مځکی دعمر دنبوت ځخه سوی دی چی هغه عمر (۴۰) کاله دی چی په دی عمر کی الله ﷻ خپل بندګانو ته نبوت ورکړی دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



اوبیاپه دی عمر دنبوت کی اختلاف دی چی عمر دنبوت څومره وی: نومالك بن الربیعه او زید بن اسلم اوالشعبی ویلی دی چی حلم دی یعنی په وخت دحلم کی الله ﷻ نبوت ورکوی. اوسعید بن جبیر ویلی دی چی په (۱۸) کلنی کی، اوالضحاك ویلی دی په (۲۰) کلنی کی اوعکرمه ویلی دی چی په (۲۵) کلنی کی اوالسدی ویلی دی په (۳۰) کلنی کی اوابن عباس اوقتاده اومجاهدویلی دی په (۳۳) کلنی کی. اوحسن ویلی دی په (۴۰) کلنی کی، اودده په دی قول باندی دلیل هم سته کم چی الله ﷻ فرمایلی دی: حَتَّى إِذَا بَلَغَ أَشُدَّهُ وَبَلَغَ أَرْبَعِينَ سَنَةً (سورة الاحقاف \۱۵).

وَرَاوَدَتْهُ الَّتِي هُوَ فِي بَيْتِهَا عَنْ نَفْسِهِ وَغَلَّقَتِ الْأَبْوَابَ وَقَالَتْ هَيْتَ لَكَ قَالَ مَعَاذَ اللهِ إِنَّهُ رَبِّي أَحْسَنَ مَثْوَايَ إِنَّهُ لَا يُفْلِحُ الظَّالِمُونَ (۲۳) وَلَقَدْ هَمَّتْ بِهِ وَهَمَّ بِهَا لَوْلَا أَنْ رَأَى بُرْهَانَ رَبِّهِ كَذَلِكَ لِنَصْرِفَ عَنْهُ السُّوءَ وَالْفَحْشَاءَ إِنَّهُ مِنْ عِبَادِنَا الْمُخْلَصِينَ (۲٤) وَاسْتَبَقَا الْبَابَ وَقَدَّتْ قَمِيصَهُ مِنْ دُبُرٍ وَأَلْفَيَا سَيِّدَهَا لَدَى الْبَابِ قَالَتْ مَا جَزَاءُ مَنْ أَرَادَ بِأَهْلِكَ سُوءًا إِلَّا أَنْ يُسْجَنَ أَوْ عَذَابٌ أَلِيمٌ (۲٥) قَالَ هِيَ رَاوَدَتْنِي عَنْ نَفْسِي وَشَهِدَ شَاهِدٌ مِنْ أَهْلِهَا إِنْ كَانَ قَمِيصُهُ قُدَّ مِنْ قُبُلٍ فَصَدَقَتْ وَهُوَ مِنَ الْكَاذِبِينَ (۲٦) وَإِنْ كَانَ قَمِيصُهُ قُدَّ مِنْ دُبُرٍ فَكَذَبَتْ وَهُوَ مِنَ الصَّادِقِينَ (۲۷) فَلَمَّا رَأَى قَمِيصَهُ قُدَّ مِنْ دُبُرٍ قَالَ إِنَّهُ مِنْ كَيْدِكُنَّ إِنَّ كَيْدَكُنَّ عَظِيمٌ (۲۸) يُوسُفُ أَعْرِضْ عَنْ هَذَا وَاسْتَغْفِرِي لِذَنْبِكِ إِنَّكِ كُنْتِ مِنَ الْخَاطِئِينَ (سورة یوسف ۲۹\۲۳) دلته ذکرکوی الله ﷻ هغه چی ښځه دعزیز مصر ده ته نژدی والی کوی اودده څخه یې طلب کړی وو دزنا اوداسی طلب یې ورڅخه کړی وو چی داورسره برابره نه وه، اودا صاحب دمال اوجمال وه. اودمنصب اوځوانی والا وه.

اوهغه بیان هم الله ﷻ کړی دی چی دی څه رنګه دروازی بندی کړی اودراتلو یې ورته وویل اودی اغوستی وی ښایسته جامې اوځان یې ورته سنګارکړی وو اوسره ددی چی دوزیر ښځه هم وه. ابن اسحاق ویلی دی چی داوه خورزه دبادشاه چی الریان وه.

اودارنګه یوسف ﷺ هم ښائسته هلك وو اوځوان وو مګر داچی پیغمبر وو، نو وساتی الله ﷻ دی دهغه فحش کار څخه اودمکر دهغه ښځی څخه، نودی سردار دهغه (۷) کسانو دی کم چی به دالله ﷻ دعرش ترسایی لاندی ولاړوی چی په هغه ورځ به بله سایه نه وی ماسوا دهغه سایی څخه، نومقصودی خبره داده چی دی ورته دعوت وکی ددی کار دپاره اوحرص یې وو په سخت حرص سره، نویوسف ﷺ ورته وفرمایل: مَعَاذَ اللهِ إِنَّهُ رَبِّي أَحْسَنَ مَثْوَايَ یعنی دښځی خاوند یې مراد وو چی هغه زما تربیه کړیده اوزما سیددی اوزما عزت اواکرام یې کړی دی، إِنَّهُ لَا يُفْلِحُ الظَّالِمُونَ مخکی موږ خبره کړیده په دی قول دالله ﷻ کی: وَلَقَدْ هَمَّتْ بِهِ وَهَمَّ بِهَا لَوْلَا أَنْ رَأَى بُرْهَانَ رَبِّهِ یعنی پرده باندی یې ځان غالب کړی وو مګر که دالله ﷻ مدد نه

(c) ketabton.com: The Digital Library



وای. نوددی څخه دامعلومه سوه چې الله ﷻ دده دعصمت حفاظت وکی، اودی یې پاك وساتی دبدو کارونو څخه، نوددی وجی څخه الله ﷻ فرمایلی دی: كَذَٰلِكَ لِنَصْرِفَ عَنْهُ السُّوءَ وَالْفَحْشَاءَ إِنَّهُ مِنْ عِبَادِنَا الْمُخْلَصِينَ، اوموږ دده حفاظت وکی ددی وجی څخه چې دی وو زموږ دصالحینو بندګانو څخه. (وَاسْتَبَقَا الْبَابَ) اووتښتیدی ددی څخه په خوا ددروازی چې ددی څخه ځان خلاص کی نودا ورپسی هم ورله (وَأَلْفَيَا) یعنی پیدایې کی (سَيِّدَهَا) سید خپل (لَدَا الْبَابِ) ددروازی خواته نوخبره یې ورته بدله کړه اومخکی والی یې وکی ورته: قَالَتْ مَا جَزَاءُ مَنْ أَرَادَ بِأَهْلِكَ سُوءًا إِلَّا أَنْ يُسْجَنَ أَوْ عَذَابٌ أَلِيمٌ، تهمت یې ولګوی په یوسف ﷺ باندی اوحال داوو چې داپه خپله متهمه وه په دی خبره باندی. نوددی وجی څخه یوسف ﷺ وویل: هِيَ رَاوَدَتْنِي عَنْ نَفْسِي، نودی محتاج سو چې ووایی حق په وخت دحاجت کی: وَشَهِدَ شَاهِدٌ مِنْ أَهْلِهَا، ویل سوی دی چې داکوچنی ماشوم وو په زانګوکی. داقول دابن عباس دی. اوروایت ذکرسوی دی دابی هریره څخه اودهلال بن یساف څخه اودحسن البصری څخه اودسعید بن جبیر اوالضحاك څخه اومختار کړی دی دا ابن جریر، اوپه دی کی یې دوه مرفوع حدیثونه ذکرکړی دی دابن عباس څخه اودانور یې موقوف کړی دی اوچاویلی دی چې داسړی وو داقول دابن عباس اودعکرمه اومجاهد اوالحسن اوقتاده اوالسدی اومحمد بن اسحاق اوزید بن اسلم دی. نو وویل د: إِنْ كَانَ قَمِيصُهُ قُدَّ مِنْ قُبُلٍ فَصَدَقَتْ وَهُوَ مِنَ الْكَاذِبِينَ، ولی چې ده به ورته وړاندی کیدل کړی وی نوهغې به دځان څخه منع کړی وی نودیوسف ﷺ دکالو دمخ خوا به څیری سوی وی، وَإِنْ كَانَ قَمِيصُهُ قُدَّ مِنْ دُبُرٍ فَكَذَبَتْ وَهُوَ مِنَ الصَّادِقِينَ، اویابه ورته دی ښځی وړاندی والی کړی وی نودی به ورڅخه تښتیدلی وی نودشا څخه به دی ښځی وار پرکړی وی نوبیا دا یوسف ﷺ ریشتینی دی او داښځه دروغجنه ده. نوددی وجی څخه الله ﷻ وفرمایل: فَلَمَّا رَأَى قَمِيصَهُ قُدَّ مِنْ دُبُرٍ قَالَ إِنَّهُ مِنْ كَيْدِكُنَّ إِنَّ كَيْدَكُنَّ عَظِيمٌ، یعنی تاورته دامکر جوړکړی وو اوتاورته وړاندی والی کړی دی اوبیا دی وروسته تهمت پر ولګوی: يُوسُفُ أَعْرِضْ عَنْ هَٰذَا، یعنی داچاته مه وایه اوداخبره پټه که ولی چې دداسی خبری پټول ښه دی دښکاره کولو څخه اوامریې وکی دی ښځی ته چې دخپلی ګناه څخه توبه وکاږی، ولی چې بنده کله توبه وکاږی الله ﷻ ته نوالله ﷻ دهغه بنده توبه قبلوی.

اواهل مصر که څه هم عبادت یې دبتانو کوی خوداپته ورته وه چې بخښونکی دګناهونو او په هغه سره نیونکی یواځی الله ﷻ دی. نوددی وجی څخه ورته خپل خاوند وویل اوعذر

(c) ketabton.com: The Digital Library



يې ورته وکی دی ښځی ددی چی دی صبر نسوای کولی په داسی حال کی، مګر دانوره پاکدامنه وه خودلته ورڅخه صبر ونه سو نوددی وجی څخه يې ورته ويلی دی: وَاسْتَغْفِرِي لِذَنْبِكِ إِنَّكِ كُنْتِ مِنَ الْخَاطِئِينَ (یوسف \ ۲۹).

اودارنګه الله ﷻ فرمايلی دی: وَقَالَ نِسْوَةٌ فِي الْمَدِينَةِ امْرَأَةُ الْعَزِيزِ تُرَاوِدُ فَتَاهَا عَنْ نَفْسِهِ قَدْ شَغَفَهَا حُبًّا إِنَّا لَنَرَاهَا فِي ضَلَالٍ مُبِينٍ (۳۰) فَلَمَّا سَمِعَتْ بِمَكْرِهِنَّ أَرْسَلَتْ إِلَيْهِنَّ وَأَعْتَدَتْ لَهُنَّ مُتَّكَأً وَآتَتْ كُلَّ وَاحِدَةٍ مِنْهُنَّ سِكِّينًا وَقَالَتِ اخْرُجْ عَلَيْهِنَّ فَلَمَّا رَأَيْنَهُ أَكْبَرْنَهُ وَقَطَّعْنَ أَيْدِيَهُنَّ وَقُلْنَ حَاشَ لِلَّهِ مَا هَذَا بَشَرًا إِنْ هَذَا إِلَّا مَلَكٌ كَرِيمٌ (۳۱) قَالَتْ فَذَلِكُنَّ الَّذِي لُمْتُنَّنِي فِيهِ وَلَقَدْ رَاوَدْتُهُ عَنْ نَفْسِهِ فَاسْتَعْصَمَ وَلَئِنْ لَمْ يَفْعَلْ مَا آمُرُهُ لَيُسْجَنَنَّ وَلَيَكُونَنْ مِنَ الصَّاغِرِينَ (۳۲) قَالَ رَبِّ السِّجْنُ أَحَبُّ إِلَيَّ مِمَّا يَدْعُونَنِي إِلَيْهِ وَإِلَّا تَصْرِفْ عَنِّي كَيْدَهُنَّ أَصْبُ إِلَيْهِنَّ وَأَكُنْ مِنَ الْجَاهِلِينَ (۳۳) فَاسْتَجَابَ لَهُ رَبُّهُ فَصَرَفَ عَنْهُ كَيْدَهُنَّ إِنَّهُ هُوَ السَّمِيعُ الْعَلِيمُ، (سورة یوسف۳۰\ ۳۴) دلته ذکرکړی دی الله ﷻ هغه خبری چی دکليو زنانه وو به کولی، هغه چی دغتو خلګو ښځی وی اولونی وی چی طعن به يې کوی په دی باندی چی دوزير ښځی خپل غلام ته په دی کارسره دعوت ورکړی دی، اوددی عيب به يې بيانوی، اودابه يې هم ويله چی دغلام سره دومره مينه کوی چی داددی سره لائق اومناسب نه دی. نوددی وجی څخه به يې ورته ويله: إِنَّا لَنَرَاهَا فِي ضَلَالٍ مُبِينٍ، يعنی په اينبولو ديوشی کی بغير دخپل محل څخه، فَلَمَّا سَمِعَتْ بِمَكْرِهِنَّ، يعنی کله چی دې دهغوی هغه عيب دانی واوريده چی دوی به ويله چی دخپل غلام سره مينه کوی اودهغه په عشق کی غرقه ده نو دی دخپل عذر ښوولو دپاره هغوی ته يوپروګرام جوړکی اوټول يې ورته راټول کړه اوهری يوی ته يې چاړه ورکړه اوداسی شيان يې په مخ کی ورته کښيښوول چی هغه په چاړه باندی پری کيږی اويوسف ؑ يې هم تيار کړی وو اوښائسته کپړی يې وراغوستی وی او بيايې ورته امروکی چی پردوی باندی دی راووزی. نوکله چی دی راووتی نودی دومره ښائسته وه چی دخوارلسم سپوږمی ده ته نسوه رسيدلی: فَلَمَّا رَأَيْنَهُ أَكْبَرْنَهُ، نوکله چی دوی دی ولیدی نوددوی داګمان نه وو چی په بنی آدم کی به داسی ښائست وی اودده په حسن کی ډوبی سوی تردی چی ځانونه ورڅخه هيرسوه اوخپل لاسونه يې پری کړی خوپه زخمونو باندی پوه نه سوی: وَقُلْنَ حَاشَ لِلَّهِ مَا هَذَا بَشَرًا إِنْ هَذَا إِلَّا مَلَكٌ كَرِيمٌ، په حديث داسراء کی ذکر سوی دی چی رسول الله ﷺ فرمايلی دی چی زه تيرسوم په يوسف ؑ باندی نوهغه ته الله ﷻ دآدم ؑ نيم حسن ورکړی وو (۱) دی دآدم ؑ دحسن په نيمی برخی باندی ځکه وو چی

(۱). مسلم: کتاب اليمان \ باب الاسراء برسول الله ﷺ (۱\ ۲۲۳)، اواحمد (۳\ ۱۴۸) دحديث دانس څخه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



آدم ﷺ الله ﷻ په خپل لاس باندی جوړکړی وو اوخپل روح یې په کی اچولی وو نوهغه وو په نهایت ښایسته شکل باندی نوددی وجی څخه به جنت ته جنتیان دننه کیږی په اوږدوالی اوپه حسن دآدم ﷺ باندی. اویوسف ﷺ په نیم حسن دآدم ﷺ باندی وو.
اونه وه ددوی په مینځ کی نورداسی ښایسته ځوك، لکه څه رنګه چی دحوا څخه وروسته په حسن کی ځوك نه وو ترساره پوری نو همدارنګه دوی هم وه. ابن مسعود ویلی دی چی: وو مخ دیوسف ﷺ په شان دبریښنا دآسمان، اوکله به چی ده ته کمه ښځه راتله دځه ضرورت دپاره نوده به ورڅخه مخ پټوی. اونورو داویلی دی چی دی به اکثره په برقعه کی ګرځیدی ددی دپاره چی ځوك یې ونه وینی. نوپه دی کارسره عذر ددی ښځی دوزیر هم پوره سو اودوی ته هم ښکاره سوه خبره اوهغه هرڅه ددوی په مینځ کی تیرسوه دپرې کیدو دلاسونو څخه اوهغه چی دوی دده دمینی په اثرهم اخته اومدهوشه هم سوه دده په کتلو سره. قَالَتْ فَذَلِكُنَّ الَّذِي لُمْتُنَّنِي فِيهِ، اوبیایې دلته مدح کوی دیوسف ﷺ چی داهغه دی چی دده په باره کی تاسی ما ملامتوی، وَلَقَدْ رَاوَدْتُهُ عَنْ نَفْسِهِ فَاسْتَعْصَمَ یعنی دی منع سو اوکاریې ونه کی، وَلَئِنْ لَمْ يَفْعَلْ مَا آمُرُهُ لَيُسْجَنَنَّ وَلَيَكُونَنْ مِنَ الصَّاغِرِينَ اووی باقی ښځی چی ده ته به یې ویل چی ددی خپلی سیدی خبره ومنی، نوده انکار وکی په سخت انکار سره، اوځان یې یوې خواته کی ددی کار څخه ولی چی دی په سلسله دانبیاوکی دی اوبیایې دعاوغوښتله درب څخه: رَبِّ السِّجْنُ أَحَبُّ إِلَيَّ مِمَّا يَدْعُونَنِي إِلَيْهِ وَإِلَّا تَصْرِفْ عَنِّي كَيْدَهُنَّ أَصْبُ إِلَيْهِنَّ وَأَكُنْ مِنَ الْجَاهِلِينَ، یعنی وې ویل چی ای الله که تازه ځان ته پریښووم نوزما په ځان باندی څه وس نسته اوزه ضعیف یم اوعاجزه یم، اودخپل نفس مالك نه یم په نفع رسولو کی اودضرر څخه په ځان خلاصولو کی. نوډیرضعیفه یم مګر داچی ته می قوی کی اوزما دعصمت حفاظت وکی، اوماوساته په خپل قوت اوحفاظت سره.
نوددی وجی څخه الله ﷻ فرمایلی دی: فَاسْتَجَابَ لَهُ رَبُّهُ فَصَرَفَ عَنْهُ كَيْدَهُنَّ إِنَّهُ هُوَ السَّمِيعُ الْعَلِيمُ (۳٤) ثُمَّ بَدَا لَهُمْ مِنْ بَعْدِ مَا رَأَوُا الْآيَاتِ لَيَسْجُنُنَّهُ حَتَّى حِينٍ (۳۵) وَدَخَلَ مَعَهُ السِّجْنَ فَتَيَانِ قَالَ أَحَدُهُمَا إِنِّي أَرَانِي أَعْصِرُ خَمْرًا وَقَالَ الْآخَرُ إِنِّي أَرَانِي أَحْمِلُ فَوْقَ رَأْسِي خُبْزًا تَأْكُلُ الطَّيْرُ مِنْهُ نَبِّئْنَا بِتَأْوِيلِهِ إِنَّا نَرَاكَ مِنَ الْمُحْسِنِينَ (۳٦) قَالَ لَا يَأْتِيكُمَا طَعَامٌ تُرْزَقَانِهِ إِلَّا نَبَّأْتُكُمَا بِتَأْوِيلِهِ قَبْلَ أَنْ يَأْتِيَكُمَا ذَلِكُمَا مِمَّا عَلَّمَنِي رَبِّي إِنِّي تَرَكْتُ مِلَّةَ قَوْمٍ لَا يُؤْمِنُونَ بِاللَّهِ وَهُمْ بِالْآخِرَةِ هُمْ كَافِرُونَ (۳۷) وَاتَّبَعْتُ مِلَّةَ آبَائِي إِبْرَاهِيمَ وَإِسْحَاقَ وَيَعْقُوبَ مَا كَانَ لَنَا أَنْ نُشْرِكَ بِاللَّهِ مِنْ شَيْءٍ ذَلِكَ مِنْ فَضْلِ اللَّهِ عَلَيْنَا وَعَلَى النَّاسِ وَلَكِنَّ أَكْثَرَ النَّاسِ لَا يَشْكُرُونَ (۳۸) يَا صَاحِبَيِ السِّجْنِ أَأَرْبَابٌ مُتَفَرِّقُونَ خَيْرٌ أَمِ اللَّهُ الْوَاحِدُ الْقَهَّارُ (۳۹) مَا تَعْبُدُونَ

(c) ketabton.com: The Digital Library



مِنْ دُونِهِ إِلَّا أَسْمَاءً سَمَّيْتُمُوهَا أَنْتُمْ وَآبَاؤُكُمْ مَا أَنْزَلَ اللهُ بِهَا مِنْ سُلْطَانٍ إِنِ الْحُكْمُ إِلَّا لِلَّهِ أَمَرَ أَلَّا تَعْبُدُوا إِلَّا إِيَّاهُ ذَلِكَ الدِّينُ الْقَيِّمُ وَلَكِنَّ أَكْثَرَ النَّاسِ لَا يَعْلَمُونَ (٤٠) يَا صَاحِبَيِ السِّجْنِ أَمَّا أَحَدُكُمَا فَيَسْقِي رَبَّهُ خَمْرًا وَأَمَّا الْآخَرُ فَيُصْلَبُ فَتَأْكُلُ الطَّيْرُ مِنْ رَأْسِهِ قُضِيَ الْأَمْرُ الَّذِي فِيهِ تَسْتَفْتِيَانِ ، سورة یوسف (۴۱\۳۴) ذکرکوی الله ﷻ دلته هغه رایې چې ددی عزیز مصر اودهغه دښځی وی چې دا یوسف ﷺ ترڅه وخته پوری په جیل کی بندکی، اوخلګو ته دابښکاره کی چې داکاردی یوسفؑ کړی دی اوده اول ښځی ته پیش قدمی کړیده، نوچې ددی خلګو داخبری کمی سی دده په باره کی، اوداالله ﷻ شکروکاړی په دی باندی، نوددی وجی څخه چې داخبره پټه کی اوددی څخه یې واړوی نویوسف ﷺ یې په زیاتی سره بندکی اوظلم یې ورسره وکی، او وه دا دهغه څه څخه چې الله ﷻ ورلره په تقدیرکی لیکلی وه، خوپه دی طریقی سره یې دده دعصمت حفاظت وکی ولی چې دی ددوی دمعاشری څخه لیری وو اوددی ځای څخه بعضو صوفیانو دلیل نیولی دی چې دعصمت دخلاصون داطریقه ده چې لیری سی دخلګو څخه اوهیڅ څوك ونه وینی. الله ﷻ فرمایلی دی دی: وَدَخَلَ مَعَهُ السِّجْنَ فَتَيَانِ اوویل سوی دی په دی دوو ځوانانو کی یودباچا ساقی وو چې هغه ته به یې اوبه ورکولی چې نوم یې (نبوا) وو اوبل ډوډی والاوو چې ډوډی به یې پخوله چې نوم یې (مجلث) وو اودوی هم په څه کارونو متهم سوی وه نوقیدیان سوی وه. نوکله چې دوی ولیدی یوسف ﷺ نودوی په تعجب کی سوه دده دانداز اودخاموشی څخه اودطریقی څخه، اودده دقول اوفعل څخه، اودده دډیرو عبادتونو اواحسان څخه دخلګو سره، نوهریوه ددوی دواړو څخه یو یوخوب ولیدی خپل مناسب. نومفسرینو ویلی دی: چې دوی دواړو په یوه شپه کی خوب ولیدی.

هرڅه چې ساقی وو نوده ولیدی په خوب کی چې دری دستی وی دانګورو چې هغه پاڼی وکړی اوبیایې غونچې ونیولی اوبیایې انګور پاخه سوه اوهغه یې وچوڼل اودهغه شربت یې په بادشاه باندی وچښل، اودی ډوډی والا وکتل په خوب کی چې دده په سرباندی دری ډوډی دی اومرغان راځی اودده دسر څخه ډوډی خوری نودوی دافیصله راوړله دده خواته او دده څخه یې طلب دتعبیر وکی اودایې ورته وویل چې: إِنَّا نَرَاكَ مِنَ الْمُحْسِنِينَ، نوده ورته مخکی دتعبیر څخه دا وویل چې زه خبریم په دی باندی هم: قَالَ لَا يَأْتِيكُمَا طَعَامٌ تُرْزَقَانِهِ إِلَّا نَبَّأْتُكُمَا بِتَأْوِيلِهِ قَبْلَ أَنْ يَأْتِيَكُمَا، چې تاسی ته به کم خوراك درکول کیږی اوهغه به خواړه وی اوکه تروه، لکه څه رنګه چې عیسیٰ ﷺ فرمایلی وه: وَأُنَبِّئُكُمْ بِمَا تَأْكُلُونَ وَمَا تَدَّخِرُونَ فِي بُيُوتِكُمْ (سورة آل عمران\۴۹) اودایې ورته هم وویل چې داتعلیم دالله ﷻ دی چې ماته یې راکړی دی ولی چې زه مومن یم اوموحدیم دالله ﷻ اوپه ملت دابراهیم ﷺ باندی یم، مَا كَانَ

(c) ketabton.com: The Digital Library



لَنَا أَنْ نُشْرِكَ بِاللهِ مِنْ شَيْءٍ ذَلِكَ مِنْ فَضْلِ اللهِ عَلَيْنَا، یعنی په دی باندی چی موږ ته یې هدایت کړی دی (وَعَلَى النَّاسِ) یعنی موږ ته امرسوی دی په دی خبری باندی چی موږ امروکو خلګو ته اودعوت ورکو خلګو ته په دی خبری باندی چی هغوی عبادت دالله ﷻ وکی اوهغوی ته دهدایت اورشد لاره وښیو اوداپه خپله په فطرت دانسان کی پراته وه چی هغه دی عبادت دالله ﷻ وکی اودهغه اطاعت دی وکی: وَلَكِنَّ أَكْثَرَ النَّاسِ لَا يَشْكُرُونَ، اوبیایې دوی ته دعوت ورکی دتوحید خواته اوورته یې بیان کړه بدی دهغه څه چی دالله ﷻ څخه یې ماسوا عبادت کول کیږی اوسپك یې کی عبادت دبتانو په نظر ددوی کی اودایې ورته وویل: يَا صَاحِبَيِ السِّجْنِ أَأَرْبَابٌ مُتَفَرِّقُونَ خَيْرٌ أَمِ اللهُ الْوَاحِدُ الْقَهَّارُ (۳۹) مَا تَعْبُدُونَ مِنْ دُونِهِ إِلَّا أَسْمَاءً سَمَّيْتُمُوهَا أَنْتُمْ وَآبَاؤُكُمْ مَا أَنْزَلَ اللهُ بِهَا مِنْ سُلْطَانٍ إِنِ الْحُكْمُ إِلَّا لِلهِ (سورة یوسف ۳۹\۴۱) یعنی متصرف په کارونو دبندګانو کی صرف یوالله دی، هغه چی هدایت کوی چاته چی غواړی اوګمراه کوی ثوك چی غواړی، او ؤ دعوت دوی دواړوته په دی انداز کی کمالِ دعوت ولی چی ددوی نفسونه دده خواته متوجه وه چی دی به اوس زموږ په باره کی څه وایې، نودا مناسب وه چی دوی ته په هغه وخت کی دعوت ورکی ولی چی په هغه وخت کی ورته دعوت فائده ورکوی دهغه څه څخه زیات چی دکم دوی پوښتنه کړی وه، بیاچی کله شروع سو دوی ته په باره دهغه څه کی چی دوی یې پوښتنه کړی وه نوورته یې وویل: يَا صَاحِبَيِ السِّجْنِ أَمَّا أَحَدُكُمَا فَيَسْقِي رَبَّهُ خَمْرًا، دابیان هغه ساقی ته وو، وَأَمَّا الْآخَرُ فَيُصْلَبُ فَتَأْكُلُ الطَّيْرُ مِنْ رَأْسِهِ دابیان هغه ډوډی والاته وو، قُضِيَ الْأَمْرُ الَّذِي فِيهِ تَسْتَفْتِيَانِ یعنی فیصله وسوه په باره دهغه څه کی چی تاسی یې پوښتنه وکړه په حتمی فیصلی سره، اوواجب یې کړه ددی کیدل په هرحال چی وی، نوددی وجی څخه په حدیث کی ذکرسوی دی: خوب پیش کول داسی سړی ته چی هغه یې تعبیر نسی راوستی که هغه ته وویل سی اوهغه یې تعبیر وکی نوهغه شان واقع کیږی.
اودارنګه روایت نقل سوی دی دمجاهد اودابن مسعود اودعبدالرحمٰن بن زیدبن اسلم څخه چی دوی ویلی دی: دوی هیڅ څه نه وو لیدلی، نوده ورته وویل چی فیصله وسوه په باره دهغه څه کی چی تاسی یې فتویٰ غوښتله. وَقَالَ لِلَّذِي ظَنَّ أَنَّهُ نَاجٍ مِنْهُمَا اذْكُرْنِي عِنْدَ رَبِّكَ فَأَنْسَاهُ الشَّيْطَانُ ذِكْرَ رَبِّهِ فَلَبِثَ فِي السِّجْنِ بِضْعَ سِنِينَ (سورة یوسف \ ۴۲) خبر ورکوی الله ﷻ په دی آیت کی دیوسف ﷺ څخه چی ده هغه یوه خلاصیدونکی ته وویل چی ساقی وو (اُذْكُرْنِي عِنْدَ رَبِّكَ) یعنی ذکرکړه زما امر دبادشاه خواته چی زه په جیل کی هسی بی ګناه پروت یم.
اودا دلیل دی پردی خبره باندی چی سعی به کوی په اسبابو کی اودانافی نه دی دتوکل سره په رب باندی. اودا قول: فَأَنْسَاهُ الشَّيْطَانُ ذِكْرَ رَبِّهِ، یعنی هیر کی ددی ساقی څخه شیطان

(c) ketabton.com: The Digital Library



هغه وصیت چې ورته یوسف ﷺ کړی وو.
داقول کړی دی مجاهد اومحمد بن اسحاق اوداسی بل هم. اودا قول راجح هم دی، اودا په نص داهل کتابو کی هم سته. (فَلَبِثَ) یوسف تیرکړه: فِي السِّجْنِ بِضْعَ سِنِينَ، البضع. ویل کیږی په مابین ددرو اولسو کی هرعدد ته، اوویل سوی دی چې تر(۷) پوری اوویل سوی دی چې ترپنځو پوری بضع دی، اوویل سوی دی چې دلسو څخه کم ته البضع ویل کیږی، ددی قول حکایة الثعلبی کړی دی. اومنع کړی دی فراء استعمال دالبضع په ماسوا دلسو کی اوکم ددی ته نیف ویل کیږی اوالله ﷻ فرمایلی دی: فَلَبِثَ فِي السِّجْنِ بِضْعَ سِنِينَ، اوبیایې فرمایلی دی (فِی بِضْعِ سِنِیْنَ) اودا رد دی ددی قول. الفراء ویلی دی چې: ویل کیږی بضعة وعشر، بضعة وعشرون. دارنګه تربضعة وتسعون پوری اودانه ویل کیږی چې بضعة ومائة اوبضعة والف، اوددی سره خلاف کړی دی الجوهری. اوپه صحیح کی دی: الایمان بضع وستون شعبة: یعنی: ایمان څه باندی شپیته شعبې دی. اوپه بل روایت کی. بعضة وسبعون شعبه دی. (۱) اوچاویلی دی چې په فَأَنْسَاهُ الشَّيْطَانُ ذِكْرَ رَبِّهِ، کی ضمیر یوسف ته راجع دی. اودا غلطه خبره ده، که څه هم ددی روایت نقل سوی وی دابن عباس څخه اودعکرمه څخه.
اوهغه حدیث چې دابن جریر څخه نقل سوی دی په دی ځای کی هغه دټولو وجوهو څخه ضعیف دی. ددی په اسناد باندی یواځی والی کړی دی ابراهیم بن یزید المکی الخوری او دا متروك ګرځول سوی دی.
هرڅه چې هغه قول دی چې دابن حبان څخه نقل سوی دی په ذکر دهغه وحی سره چې یوسف ﷺ په هغه سره قید سوی وو: دی وایی چې ماته خبرراکړی دی الفضل بن الحباب الجمحی دی نقل کوی دمسدد بن مسرهد څخه دی دخالد بن عبدالله څخه اودی دمحمد بن عمر څخه دی دابی سلمه څخه اودی دابی هریره څخه دی وایی چې فرمایلی دی رسول الله ﷺ: رحم دی وکی الله ﷻ په یوسف ﷺ باندی که چیری ده داکلمه نه وای ویلی: اذْكُرْنِي عِنْدَ رَبِّكَ نوده به نه وای پاته سوی په جیل کی اودی به نه وی پاته سوی په جیل کی، اورحم دی وکی الله ﷻ په لوط ﷺ باندی که چیری دی مدد نه وی غوښتی په باره دهلاکت دقوم کی دمضبوط سړی، په هغه وخت کی کله چې ده خپل قوم ته وویل: لَوْ أَنَّ لِي بِكُمْ قُوَّةً أَوْ آوِي إِلَى رُكْنٍ شَدِيدٍ (سورة هود\۸۰) نو ویې فرمایل چې لیږلی به وی الله ﷻ هرنبی دده په قوم کی (۲)

(۱). تخریج ددی بخاری کړی دی په کتاب الایمان کی\ باب امور الایمان (۹\۱) اومسلم په کتاب الایمان کی\ باب الحیاء شعبة من الایمان (۲\۲) اونسایې په کتاب الایمان کی\ باب ذکرشعب الایمان (۸\ ۵۰۱۹) اوالترمذی په کتاب الایمان کی\ باب ماجاء فی استکمال الایمان وزیادته ونقصانه (۵\ ۲۲۱۴).
(۲). ابن حبان (۱۷۴۷) اوالبانی دابن‌کثیرپه خبری پوری تعلیق‌کړی دی چې داضعیف دی په روایت دابن حبان‌کی =

(c) ketabton.com: The Digital Library



ولی چی دده حدیث منکردی ددی وجی څخه اودمحمد بن عمر بن علقمه دپاره ډیر اقوال دی چی هغه یوازی والی پرکړی دی اوپه هغه کی نکارت دی اودا لفظ دده دمنکرو څخه دی اوپه دی کی پرغلطی باندی هغه حدیث دلیل دی کم چی په صحیحینو کی ذکردی .

وَقَالَ الْمَلِكُ إِنِّي أَرَى سَبْعَ بَقَرَاتٍ سِمَانٍ يَأْكُلُهُنَّ سَبْعٌ عِجَافٌ وَسَبْعَ سُنْبُلَاتٍ خُضْرٍ وَأُخَرَ يَابِسَاتٍ يَا أَيُّهَا الْمَلَأُ أَفْتُونِي فِي رُؤْيَايَ إِنْ كُنْتُمْ لِلرُّؤْيَا تَعْبُرُونَ (٤٣) قَالُوا أَضْغَاثُ أَحْلَامٍ وَمَا نَحْنُ بِتَأْوِيلِ الْأَحْلَامِ بِعَالِمِينَ (٤٤) وَقَالَ الَّذِي نَجَا مِنْهُمَا وَادَّكَرَ بَعْدَ أُمَّةٍ أَنَا أُنَبِّئُكُمْ بِتَأْوِيلِهِ فَأَرْسِلُونِ (٤٥) يُوسُفُ أَيُّهَا الصِّدِّيقُ أَفْتِنَا فِي سَبْعِ بَقَرَاتٍ سِمَانٍ يَأْكُلُهُنَّ سَبْعٌ عِجَافٌ وَسَبْعِ سُنْبُلَاتٍ خُضْرٍ وَأُخَرَ يَابِسَاتٍ لَعَلِّي أَرْجِعُ إِلَى النَّاسِ لَعَلَّهُمْ يَعْلَمُونَ (٤٦) قَالَ تَزْرَعُونَ سَبْعَ سِنِينَ دَأَبًا فَمَا حَصَدْتُمْ فَذَرُوهُ فِي سُنْبُلِهِ إِلَّا قَلِيلًا مِمَّا تَأْكُلُونَ (٤٧) ثُمَّ يَأْتِي مِنْ بَعْدِ ذَلِكَ سَبْعٌ شِدَادٌ يَأْكُلْنَ مَا قَدَّمْتُمْ لَهُنَّ إِلَّا قَلِيلًا مِمَّا تُحْصِنُونَ (٤٨) ثُمَّ يَأْتِي مِنْ بَعْدِ ذَلِكَ عَامٌ فِيهِ يُغَاثُ النَّاسُ وَفِيهِ يَعْصِرُونَ (سورة یوسف (۴۳\ ۴۹).

داټول بیان داسبابو دخلاصیدو دی دیوسف ﷺ دجیل څخه په اکرام اوعزت سره، اوداپه دغه رکم سره چی بادشاه دمصر چی الریان وو هغه خوب ولیدی. اهل کتاب وایی داخوب یې په داسی حال کی لیدلی وو چی دی دنهرپه غاړه کی بیده وو، اوده ولیده چی راووته غوایان چی چاغ وه اوددی نهر څخه راووته، اوهغه به ګرځیده دی ته مخامخ په چمنونو کی بیاراووته (۷) غوایان چی خوار وه ددغه نهر څخه نودهغوی سره یوځای ګرځیده اوبیایې دا (۷) سره چاغ غوایان وخوړل، نودی ناڅاپه راولاړ سو په دغه وخت کی. اوبیا بیده سو وی لیدل بیا (۷) دانی شنی په یوه لاس کی، او(۷) وچی دانی په بل لاس کی، نودا اوچی رالی دا لانده یې وخوړل، نودی بیازر راولاړ سو. په بیری سره. نوکله چی ده دابیان کړه خپل قوم ته نوهیڅ څوك په کی نه وو چی ددی یې ښه تعبیر را ایستلی وای، (قَالُوٓا۟ أَضْغَٰثُ أَحْلَٰمٍ) بلکی ټولو به داویله چی هسی بی فائدی خوب دی. کیدی سی چی ددی تعبیر نه وی او زموږ سره ددی علم نسته نوددی وجی څخه دوی وویل: وَمَا نَحْنُ بِتَأْوِيلِ الْأَحْلَامِ بِعَالِمِينَ نوپه دغه وخت کی هغه ساقی ته دیوسف ﷺ هغه وصیت یادسو په داسی وخت کی چی ټول خلګ عاجزه سوه اودالله ﷻ هم په دی کی لوی حکمت وو: وَقَالَ الَّذِي نَجَا مِنْهُمَا وَادَّكَرَ یعنی په یادښت کی یې رالی (بَعْدَ أُمَّةٍ) یعنی څه موده بعد اوهغه موده بضع سنین دی. او بعضو داسی ویلی دی لکه ابن عباس سو اوعکرمه سو اوالضحاك سو (وَٱذَّكَرَ بَعْدَ أُمَّةٍ)

---

= دوجی دالفضل بن الحباب څخه ولی چی په ده کی لږڅه کلام وو، اوویلی دی چی انصراف دده دنکارت محمدبن عمر ته کیږی ولی چی ده ددی روایت کړی دی دمحمد بن بشر څخه هم په دی الفاظو سره اوابن بشر ثقه دی او حافظ دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



یعنی یادیږ سو دهیریدو څخه وروسته. اومجاهدیږ په سکون دمیم سره وایی نودهغه هم دا معنی جوړیږی چی وروسته دهیریدلو څخه نوده وویل خپل مالك ته اوخپل قوم ته: أَنَا أُنَبِّئُكُمْ بِتَأْوِيلِهِ فَأَرْسِلُونِ، یعنی تاسی ماولیږی دیوسف ﷺ خواته نوورته رالی اوورته یږ وویل: يُوسُفُ أَيُّهَا الصِّدِّيقُ أَفْتِنَا فِي سَبْعِ بَقَرَاتٍ سِمَانٍ يَأْكُلُهُنَّ سَبْعٌ عِجَافٌ وَسَبْعِ سُنْبُلَاتٍ خُضْرٍ وَأُخَرَ يَابِسَاتٍ لَعَلِّي أَرْجِعُ إِلَى النَّاسِ لَعَلَّهُمْ يَعْلَمُونَ، اوپه نزد داهل کتابو: چی بادشاه ته چی کله هغه ساقی خبرورکی په باره دیوسف ﷺ کی، نوده وغوښتی دی خپل دربارته، اوقصه یږ ورته وکړه دهغه څه چی لیدلی وه، نوده ورته تعبیر وکی. اودا غلط قول دی.

اوصحیح قول هغه دی کم چی الله ﷻ په قرآن کی ذکرکړی دی چی ددی په جواب کی یږ تیزی ونکړه اوتعبیر یږ ورته په ښه طریقی سره ورکی. چی اول به اووه کاله فراخی وی اوبیابه ورپسی اوه کاله دخوشك سالی وی: ثُمَّ يَأْتِي مِنْ بَعْدِ ذَلِكَ عَامٌ فِيهِ يُغَاثُ النَّاسُ، یعنی راځی به پکښی بارانونه اوفراخی (وَفِيهِ يَعْصِرُونَ) یعنی په دی‌کی به خلګ شربتونه دمیوو څخه باسی. نوتعبیر یږ ورته ددی وکی اوپه خیرباندی یږ ورته دلالت وکی. اوورته یږ دا هم ارشاد وکی چی پردوی باندی به دوه قسمه حالات راځی دخوشحالی اودسختی، او طریقه یږ ورته وښووله چی دوی به په دی اولنی فراخی کی ذخیره جوړوی ځان ته چی بیا یږ په دی قحط سالی کی وخوری اوددی اولنی فصل دانی دی به په دی اوږو خپلو کی کښیږدی تربل فصله پوری، اودا ددی پرکمال باندی اوددی پرعلم باندی دلالت کوی.

وَقَالَ الْمَلِكُ ائْتُونِي بِهِ فَلَمَّا جَاءَهُ الرَّسُولُ قَالَ ارْجِعْ إِلَى رَبِّكَ فَاسْأَلْهُ مَا بَالُ النِّسْوَةِ اللَّاتِي قَطَّعْنَ أَيْدِيَهُنَّ إِنَّ رَبِّي بِكَيْدِهِنَّ عَلِيمٌ (۵۰) قَالَ مَا خَطْبُكُنَّ إِذْ رَاوَدْتُنَّ يُوسُفَ عَنْ نَفْسِهِ قُلْنَ حَاشَ لِلَّهِ مَا عَلِمْنَا عَلَيْهِ مِنْ سُوءٍ قَالَتِ امْرَأَةُ الْعَزِيزِ الْآنَ حَصْحَصَ الْحَقُّ أَنَا رَاوَدْتُهُ عَنْ نَفْسِهِ وَإِنَّهُ لَمِنَ الصَّادِقِينَ (۵۱) ذَلِكَ لِيَعْلَمَ أَنِّي لَمْ أَخُنْهُ بِالْغَيْبِ وَأَنَّ اللهَ لَا يَهْدِي كَيْدَ الْخَائِنِينَ (۵۲) وَمَا أُبَرِّئُ نَفْسِي إِنَّ النَّفْسَ لَأَمَّارَةٌ بِالسُّوءِ إِلَّا مَا رَحِمَ رَبِّي إِنَّ رَبِّي غَفُورٌ رَحِيمٌ، (سورة یوسف ۵۳\۵۰) کله چی بادشاه پوه سو دده په عقلمندی باندی اودده په کمال علم باندی، نوغوښتنه یږ وکړه چی دی دي دږ دربارته راوستل سی، ددی دپاره چی دی دده دخاصوکسانو څخه یوسړی سی. نوکله چی ورته یوسړی رالی دبادشاه دکسانو څخه نوده ورته داوویل چی دابه زما دپاره ښه وی چی ماددی ځای څخه وباسی تردی چی ښکاره نه سی داخبره چی زه دلته بی ګناه قیدسوی یم اوددی خبری څخه بری سی چی دی ښځی پردی باندی بهتان لګولی دی. قَالَ ارْجِعْ إِلَى رَبِّكَ، یعنی بادشاه ته: فَاسْأَلْهُ مَا بَالُ النِّسْوَةِ اللَّاتِي قَطَّعْنَ أَيْدِيَهُنَّ إِنَّ رَبِّي بِكَيْدِهِنَّ عَلِيمٌ، ویل سوی دی چی ددی معنی داسی ده، یقیناً زما مالك په دی خبری باندی خبرداردی چی زه ددی کار څخه پاك یم، نوورته امر

(c) ketabton.com: The Digital Library



وکی چی دهغو ښځو څخه داپوښتنه وکړی چی زه څنګه سړی یم: قُلْنَ حَاشَ لِلَّهِ مَا عَلِمْنَا عَلَيْهِ مِنْ سُوءٍ، نوپه دغه وخت کی وویل: قَالَتِ امْرَأَةُ الْعَزِيزِ چی زلیخاده، الْآنَ حَصْحَصَ الْحَقُّ، یعنی ښکاره سو حق اوواضح سو اوداهم پکاردی چی دحق تابعداری وسی: أَنَا رَاوَدْتُهُ عَنْ نَفْسِهِ وَإِنَّهُ لَمِنَ الصَّادِقِينَ، یعنی ماورته مخکی والی کړی وو اودی په خپل قول کی رشتینی دی، ذَٰلِكَ لِيَعْلَمَ أَنِّي لَمْ أَخُنْهُ بِالْغَيْبِ وَأَنَّ اللَّهَ لَا يَهْدِي كَيْدَ الْخَائِنِينَ ویلي دی چی داکلام دیوسف ؑ دی، یعنی ده طلب دتحقیق وکی ددی وجی څخه چی دی بادشاه ته پته ولګیږی چی زه دده سره په غیبوکی خیانت نه کوم. اوویل سوی دی چی داقول دزلیخادی، یعنی اعتراف یې ددی وجی څخه وکی چی ددی خاوند ته پته ولګیږی چی ورسره په غیبو کی خیانت نه کوم، اومراد ددی فعل دفحشاء نه وو بلکی خطایې ځینی سویده. اوددی قول تائید کړل سوی دی داکثرو علماوو څخه اودمتاخرینو څخه. اودا دابن حاتم اوابن جریر څخه نه دی نقل مګر اولنی قول ورڅخه نقل سوی دی. وَمَا أُبَرِّئُ نَفْسِي إِنَّ النَّفْسَ لَأَمَّارَةٌ بِالسُّوءِ إِلَّا مَا رَحِمَ رَبِّي إِنَّ رَبِّي غَفُورٌ رَحِيمٌ، ویل سوی دی چی داکلام دیوسف ؑ دی اوداهم ویل سوی دی چی داکلام دزلیخادی داهم تفریع ده پراولنی قول باندی اوظاهره پکی داده چی داکلام دزلیخا دی. والله ﷻ اعلم. وَقَالَ الْمَلِكُ ائْتُونِي بِهِ أَسْتَخْلِصْهُ لِنَفْسِي فَلَمَّا كَلَّمَهُ قَالَ إِنَّكَ الْيَوْمَ لَدَيْنَا مَكِينٌ أَمِينٌ (٥٤) قَالَ اجْعَلْنِي عَلَى خَزَائِنِ الْأَرْضِ إِنِّي حَفِيظٌ عَلِيمٌ (٥٥) وَكَذَلِكَ مَكَّنَّا لِيُوسُفَ فِي الْأَرْضِ يَتَبَوَّأُ مِنْهَا حَيْثُ يَشَاءُ نُصِيبُ بِرَحْمَتِنَا مَنْ نَشَاءُ وَلَا نُضِيعُ أَجْرَ الْمُحْسِنِينَ (٥٦) وَلَأَجْرُ الْآخِرَةِ خَيْرٌ لِلَّذِينَ آمَنُوا وَكَانُوا يَتَّقُونَ (سورة یوسف ۵۴\ ۵۷) کله چی ښکاره سوه بادشاه ته دده پاکدامنی دهغه څخه چی دوی ورپسی تړلی وو: وَقَالَ الْمَلِكُ ائْتُونِي بِهِ أَسْتَخْلِصْهُ لِنَفْسِي، یعنی ګرځوم تا دخپل خاص کسانو څخه، اودغښو خلګو څخه په خپل ملك کی، نوکله چی یې دده خبری واوریدلی اودده حال ورته بیان سو: قَالَ إِنَّكَ الْيَوْمَ لَدَيْنَا مَكِينٌ أَمِينٌ، یعنی خاوند دځای او امانت. قَالَ اجْعَلْنِي عَلَى خَزَائِنِ الْأَرْضِ إِنِّي حَفِيظٌ عَلِيمٌ، داطلب وکی ددی خبری چی دی دی دخزانو مالك وګرځول سی، ولی چی دی وینی هغه حال چی پرخلګو باندی راځی اوپه دی کی داسی کاروکی چی الله ﷻ په راضی کړی، اوده خبرورکی بادشاه ته چی زه یې حفاظت کولی سم اوامانت یې دځان سره ساتلی سم. اودا دلیل دی په دی خبری باندی چی یوسړی په ځان کی دیوکار کولو صلاحیت لری یادامارت صلاحیت لری نوهغه یې طلب کولی سی.

اوپه نزد داهل کتابو: فرعون ده ته ډیره لویه رتبه ورکړه، اوپر ټولی مزکی باندی یې مشر کی، اوخپل تاج یې پرسر باندی ورکښیښووی اودوریښمو کپړی یې ورواغوستلی اوخپل

(c) ketabton.com: The Digital Library



دوهم سړی یې مقرر کی، اوورته یې داوویل چی ته په دی هرڅه باندی مسلط سوی یې او دایې ورته وویل چی زه ترتالوی نه یم اولوړ نه یم مګر دکرسی په لحاظ باندی. اودایې ویلی دی چی په دغه وخت کی یوسف ﷺ دديرشو (۳۰) کالو وو، اوده ته یې ښه منصب والا اوعظیم الشانه ښځه ورکړه، اوحکایت کړیدی الثعلبی چی ده قطفیر باچا لیری کی دمنصب څخه اودهغه منصب یې یوسف ﷺ ته ورکی. اوویل سوی دی کله چی قطفیر مړسو نودده ښځه یې یوسف ﷺ ته په نکاح باندی ورکړه چی زلیخاوه اوپه هغه وخت کی زلیخا پیغله وه، داددی وجی څخه چی ددی خاوند به ښځوته راتګ نه کوی، نودیوسف ﷺ ددی څخه دوه بچی پیدا سوه چی یو (افرایم) اوبل (منسا) وو اودایې ویلی دی چی وعده یې ورسره وکړه دمصر دباشاهی وروسته ددی څخه، اوده په دوی کی داسی معامله وکړه چی ټول خلګ ورڅخه خوشحاله وه اوداهم ذکرسوی دی چی په کمه ورځ دی پربادشاه باندی داخل سو نوهغه دده سره په (۷۰) ژبوکی خبری وکړی نوده ورلره جوابونه ورکړه نو هغه دده پوهی ته حیران سو چی په دی عمر کی دومره پوه دی.

الله ﷻ فرمایلی دی: وَكَذَلِكَ مَكَّنَّا لِيُوسُفَ فِي الْأَرْضِ يَتَبَوَّأُ مِنْهَا حَيْثُ يَشَاءُ، یعنی وروسته دسختی څخه اودقید اوحصر څخه، وګرځیده دده دپاره ټوله مځکه دمصر هواره چی په کم ځای کی یې خوښه وای په هغه ځای کی ګرځیدلی سوای، يَتَبَوَّأُ مِنْهَاحَيْثُ يَشَاءُ، یعنی کم ځای ته چی ورځی نوپه هغه ځای کی یې ډیرعزت اواکرام کیږی: نُصِيبُ بِرَحْمَتِنَا مَنْ نَشَاءُ وَلَا نُضِيعُ أَجْرَ الْمُحْسِنِينَ، دابدله ده دالله ﷻ دطرفه خپل بنده مومن ته په دی دنیا کی سره ددی چی په آخرت کی یې ورلره هم زخیره کړی وی، نوددی وجی څخه یې ویلی دی: وَلَأَجْرُ الْآخِرَةِ خَيْرٌ لِلَّذِينَ آمَنُوا وَكَانُوا يَتَّقُونَ، اوداویل سوی دی چی قطیفر خاوند دزلیخا کله چی وفات سو نو دهغه ښځه یې یوسف ﷺ ته ورکړه اودهغه منصب یې هم ده ته وسپاری نودی وزیر وو. او محمد بن اسحاق ویلی دی چی بادشاه دمصر الریان بن الولید خپله بادشاهی ده ته پریښوولهٔ: وَجَاءَ إِخْوَةُ يُوسُفَ فَدَخَلُوا عَلَيْهِ فَعَرَفَهُمْ وَهُمْ لَهُ مُنْكِرُونَ (۵۸) وَلَمَّا جَهَّزَهُمْ بِجَهَازِهِمْ قَالَ ائْتُونِي بِأَخٍ لَكُمْ مِنْ أَبِيكُمْ أَلَا تَرَوْنَ أَنِّي أُوفِي الْكَيْلَ وَأَنَا خَيْرُ الْمُنْزِلِينَ (۵۹) فَإِنْ لَمْ تَأْتُونِي بِهِ فَلَا كَيْلَ لَكُمْ عِنْدِي وَلَا تَقْرَبُونِ (۶۰) قَالُوا سَنُرَاوِدُ عَنْهُ أَبَاهُ وَإِنَّا لَفَاعِلُونَ (۶۱) وَقَالَ لِفِتْيَانِهِ اجْعَلُوا بِضَاعَتَهُمْ فِي رِحَالِهِمْ لَعَلَّهُمْ يَعْرِفُونَهَا إِذَا انْقَلَبُوا إِلَى أَهْلِهِمْ لَعَلَّهُمْ يَرْجِعُونَ (سورة یوسف ۵۸\۶۲) دلته خبر ورکوی الله ﷻ دراتلو دورونو دیوسف څخه مصرته دغلی دپاره. اوداپه هغه وخت کی کله چی کلونه دقحط سالی راغلی وه. اوپه دغه وخت کی یوسف ﷺ حاکم وو په مصر کی نو کله چی دوی داخل سوه پر یوسف ﷺ باندی نوهغه وپیژندله اودوی ونه پیژندله. ولی چی

(c) ketabton.com: The Digital Library



ددوی په زړه کی بیادانه دی راغلی چی یوسف ﷺ باندی به څه سوی وی. اوپه نزد داهل کتابو کله چی دوی دده خواته راله نودوی ورته په سجده سوه نویوسف ﷺ وپیژنده او هغوی نه پیژندی. اودایې وغوښته چی دوی دی ونه پیژني، نودوی ته یې وویل چی تاسی جاسوسان یاست، تاسی راغلی یاست زموږ ملك ته ددی دپاره چی زموږ دملك خبر یوسی، نودوی ورته وویل چی پناهی دی وی په الله ﷻ باندی زموږ موږنه یوراغلی مګرددی دپاره چی خپل اهل اوعیال ته غله اودانه یو سو دوجی دهغه مصیبت دقحط سالی څخه، اوموږ دیوه پلار ځامن یو دبنی کنعان څخه، اوموږ دولس ورونه یو چی یوزموږ څخه غیب سوی دی، اوزموږ کوچنی ورور دپلار سره دی. نوده ورته وویل چی خامخا به زه ستاسی په باره کی ځان خبروم، اودوی یې دځان سره دری ورځی بندیان کړی وه، اوشمعون یې ځینی پاته کی ددی وجی چی هغه کشر ورور ورته راولی. نوددی په بعضو خبرو کی شك دی. الله ﷻ فرمایلی دی: وَلَمَّا جَهَّزَهُمْ بِجَهَازِهِمْ نوکله یې چی دوی ته غله ورکړه هریوه ته خپله حصه او زیاته یې ورلره ورنه کړه: قَالَ ائْتُونِي بِأَخٍ لَكُمْ مِنْ أَبِيكُمْ، اودوی وه چی دحال پوښتنه یې ددوی څخه کړی وه چی دوی څوکسان دی؟ نودوی ورته ویلی وه چی دولس کسان، نو زموږ څخه یو تللی دی اوکوچنی ورور په کورکی دی. نوده ورته ویلی وه چی بل کال ته راځی نوهغه هم دځان سره راولی. أَلَا تَرَوْنَ أَنِّي أُوفِي الْكَيْلَ وَأَنَا خَيْرُ الْمُنْزِلِينَ، یعنی تاسی ونه لیده چی ما ستاسی سره څنګه سلوك اوانصاف وکی نورغبت یې ورلره ورکی چی کال ته دی هغه هم دځان سره راولی اوبیایې ترغیب ورکی که هغه یې رانه وستی: فَإِنْ لَمْ تَأْتُونِي بِهِ فَلَا كَيْلَ لَكُمْ عِنْدِي وَلَا تَقْرَبُونِ، نوزه به بیاتاسی ته غله هم نه درکوم اورانژدی کیدو ته به موهم نه پریږدم قَالُوا سَنُرَاوِدُ عَنْهُ أَبَاهُ یعنی موږبه پوره کوشش وکو په راوستلو دهغه دځان سره (وَإِنَّا لَفَاعِلُونَ) یعنی موږ په دی کارباندی قادر یو. اوبیایې خپل کسانو ته امروکی چی دوی ته خپل سپرلی اوغله ورکی په داسی حال کی چی دوی ته درك هم نه وو: وَقَالَ لِفِتْيَانِهِ اجْعَلُوا بِضَاعَتَهُمْ فِي رِحَالِهِمْ لَعَلَّهُمْ يَعْرِفُونَهَا إِذَا انْقَلَبُوا إِلَى أَهْلِهِمْ لَعَلَّهُمْ يَرْجِعُونَ، ویل سوی دی چی داسی غله یې ورلره پکښی کښیښوولہ چی دوی یې په کتوسره بیرته راوړی اواختلاف کړی دی مفسرینو په بضاعه یعنی په توښو ددوی کی چی دایې څه ورلره ورکړی وه.

فَلَمَّا رَجَعُوا إِلَى أَبِيهِمْ قَالُوا يَا أَبَانَا مُنِعَ مِنَّا الْكَيْلُ فَأَرْسِلْ مَعَنَا أَخَانَا نَكْتَلْ وَإِنَّا لَهُ لَحَافِظُونَ (٦٣) قَالَ هَلْ آمَنُكُمْ عَلَيْهِ إِلَّا كَمَا أَمِنْتُكُمْ عَلَى أَخِيهِ مِنْ قَبْلُ فَاللهُ خَيْرٌ حَافِظًا وَهُوَ أَرْحَمُ الرَّاحِمِينَ (٦٤) وَلَمَّا فَتَحُوا مَتَاعَهُمْ وَجَدُوا بِضَاعَتَهُمْ رُدَّتْ إِلَيْهِمْ قَالُوا يَا أَبَانَا مَا نَبْغِي هَذِهِ بِضَاعَتُنَا رُدَّتْ إِلَيْنَا وَنَمِيرُ أَهْلَنَا وَنَحْفَظُ أَخَانَا وَنَزْدَادُ كَيْلَ بَعِيرٍ ذَلِكَ كَيْلٌ يَسِيرٌ (٦٥) قَالَ لَنْ أُرْسِلَهُ مَعَكُمْ حَتَّى تُؤْتُونِ مَوْثِقًا مِنَ اللهِ لَتَأْتُنَّنِي بِهِ إِلَّا

(c) ketabton.com: The Digital Library



أَنْ يُحَاطَ بِكُمْ فَلَمَّا آتَوْهُ مَوْثِقَهُمْ قَالَ اللهُ عَلَى مَا نَقُولُ وَكِيلٌ (٦٦) وَقَالَ يَا بَنِيَّ لَا تَدْخُلُوا مِنْ بَابٍ وَاحِدٍ وَادْخُلُوا مِنْ أَبْوَابٍ مُتَفَرِّقَةٍ وَمَا أُغْنِي عَنْكُمْ مِنَ اللهِ مِنْ شَيْءٍ إِنِ الْحُكْمُ إِلَّا لِلَّهِ عَلَيْهِ تَوَكَّلْتُ وَعَلَيْهِ فَلْيَتَوَكَّلِ الْمُتَوَكِّلُونَ (٦٧) وَلَمَّا دَخَلُوا مِنْ حَيْثُ أَمَرَهُمْ أَبُوهُمْ مَا كَانَ يُغْنِي عَنْهُمْ مِنَ اللهِ مِنْ شَيْءٍ إِلَّا حَاجَةً فِي نَفْسِ يَعْقُوبَ قَضَاهَا وَإِنَّهُ لَذُو عِلْمٍ لِمَا عَلَّمْنَاهُ وَلَكِنَّ أَكْثَرَ النَّاسِ لَا يَعْلَمُونَ، (سورة یوسف ۲۳\ ۲۸). ذکرکوی الله ﷻ په دی ځای کی هغه کار چی وروسته ددوی دبیرته راتلو څخه او ددوی ددی قول څخه وپلار خپل ته چی (مُنِعَ مِنّا الْكَيْلُ) یعنی وروسته ددی کال څخه که چیری ته زموږ سره زموږ داورور ونه لیږی نوزموږ څخه به غله منع سی، اوکه ته دی زموږ سره ولیږی نوزموږ څخه به غله نه منع کیږی، وَلَمَّا فَتَحُوا مَتَاعَهُمْ وَجَدُوا بِضَاعَتَهُمْ رُدَّتْ إِلَيْهِمْ قَالُوا يَا أَبَانَا مَا نَبْغِي، یعنی موږڅه غواړو اوحال داچی موږ ته غله راکول سویده ؟ (وَنَمِيرُ أَهْلَنَا) اوموږ به خپل اهل ته اوکورنی ته ددی کال برخه ورکو اوهغه څه به ورکو چی ددوی ددی کال کارپه کیږی: وَنَحْفَظُ أَخَانَا وَنَزْدَادُ، اوموږ به دخپل ورور حفاظت هم وکو نوددی په سبب باندی به (كَيْلَ بَعِيرٍ) یوه توښه داوښی زیاته واخلو. الله ﷻ فرمایلی دی (ذَٰلِكَ كَيْلٌ يَسِيرٌ) یعنی په مقابله دده کی چی دده دابل زوی هم ولاړسی. او وو یعقوب ﵇ ته داډیر ګران ولی چی په ده کی به یې دیوسف ﵇ هغه بوی محسوسوی، اودده په وجه به یې زړه صبروی نودوی ته یې وویل: چی دابه هیڅکله ونه لیږم ستاسی سره لَنْ أُرْسِلَهُ مَعَكُمْ حَتَّى تُؤْتُونِ مَوْثِقًا مِنَ اللهِ لَتَأْتُنَّنِي بِهِ إِلَّا أَنْ يُحَاطَ بِكُمْ، تردی چی تاسی ماته وعده راکی ددی خبری چی دی به ماته راولی مګرنه په هغه صورت کی چی تاسی ټول ګیرسی نوبیا خیردی، فَلَمَّا آتَوْهُ مَوْثِقَهُمْ قَالَ اللهُ عَلَى مَا نَقُولُ وَكِيلٌ، نوپه تاکید سره یې ددوی څخه وعده نامه واخسته اوزوی یې ورسره ولیږی، اوکه چیری دده دقوم حاجت نه وای غلی ته نوبه یې هیڅ کله خپل زوی ددوی سره نه وای لیږلی، لیکن په تقدیرونو کی دالله ﷻ حکمتونه وی، اوبیایې دوی ته امروکی چی دوی ټول دی دیوی دروازی څخه نه دننه کیږی بلکی دمختلفو دروازو څخه دی دننه سی. داددی وجی څخه چی ویلی یې دی چی دوی دنظره نه سی ولی چی دوی ټول په حسن کی ډیر منل سوی وه. داقول دابن عباس اومجاهد اودقتاده اوالسدی دی. اوداهم ویل سوی دی چی دایې ورته ځکه وویل چی دوی جلاجلا دننه سی ددی دپاره چی دیوسف ﵇ په باره کی ورته کیدای سی چی څوك معلومات ورکی. ابراهیم النخعی ویلی دی چی اولنی قول ښه دی. اوددی وجی څخه یې ویلی دی: وَمَا أُغْنِي عَنْكُمْ مِنَ اللهِ مِنْ شَيْءٍ، اودارنګه الله ﷻ فرمایلی دی: وَلَمَّا دَخَلُوا مِنْ حَيْثُ أَمَرَهُمْ أَبُوهُمْ مَا كَانَ يُغْنِي عَنْهُمْ مِنَ اللهِ مِنْ شَيْءٍ إِلَّا حَاجَةً

(c) ketabton.com: The Digital Library



فِي نَفْسِ يَعْقُوبَ قَضَاهَا وَإِنَّهُ لَذُو عِلْمٍ لِمَا عَلَّمْنَاهُ وَلَكِنَّ أَكْثَرَ النَّاسِ لَا يَعْلَمُونَ، په نزد داهل کتابو باندی. دیعقوب ؑ دی بادشاه ته څه تحفی دبادامو اودغوزیانو اودشاتو اوداسی نورو شیانو ورولیږله.

وَلَمَّا دَخَلُوا عَلَى يُوسُفَ آوَى إِلَيْهِ أَخَاهُ قَالَ إِنِّي أَنَا أَخُوكَ فَلَا تَبْتَئِسْ بِمَا كَانُوا يَعْمَلُونَ (۶۹) فَلَمَّا جَهَّزَهُمْ بِجَهَازِهِمْ جَعَلَ السِّقَايَةَ فِي رَحْلِ أَخِيهِ ثُمَّ أَذَّنَ مُؤَذِّنٌ أَيَّتُهَا الْعِيرُ إِنَّكُمْ لَسَارِقُونَ (۷۰) قَالُوا وَأَقْبَلُوا عَلَيْهِمْ مَاذَا تَفْقِدُونَ (۷۱) قَالُوا نَفْقِدُ صُوَاعَ الْمَلِكِ وَلِمَنْ جَاءَ بِهِ حِمْلُ بَعِيرٍ وَأَنَا بِهِ زَعِيمٌ (۷۲) قَالُوا تَاللهِ لَقَدْ عَلِمْتُمْ مَا جِئْنَا لِنُفْسِدَ فِي الْأَرْضِ وَمَا كُنَّا سَارِقِينَ (۷۳) قَالُوا فَمَا جَزَاؤُهُ إِنْ كُنْتُمْ كَاذِبِينَ (۷٤) قَالُوا جَزَاؤُهُ مَنْ وُجِدَ فِي رَحْلِهِ فَهُوَ جَزَاؤُهُ كَذَلِكَ نَجْزِي الظَّالِمِينَ (۷۵) فَبَدَأَ بِأَوْعِيَتِهِمْ قَبْلَ وِعَاءِ أَخِيهِ ثُمَّ اسْتَخْرَجَهَا مِنْ وِعَاءِ أَخِيهِ كَذَلِكَ كِدْنَا لِيُوسُفَ مَا كَانَ لِيَأْخُذَ أَخَاهُ فِي دِينِ الْمَلِكِ إِلَّا أَنْ يَشَاءَ اللهُ نَرْفَعُ دَرَجَاتٍ مَنْ نَشَاءُ وَفَوْقَ كُلِّ ذِي عِلْمٍ عَلِيمٌ (۷۶) قَالُوا إِنْ يَسْرِقْ فَقَدْ سَرَقَ أَخٌ لَهُ مِنْ قَبْلُ فَأَسَرَّهَا يُوسُفُ فِي نَفْسِهِ وَلَمْ يُبْدِهَا لَهُمْ قَالَ أَنْتُمْ شَرٌّ مَكَانًا وَاللهُ أَعْلَمُ بِمَا تَصِفُونَ (۷۷) قَالُوا يَا أَيُّهَا الْعَزِيزُ إِنَّ لَهُ أَبًا شَيْخًا كَبِيرًا فَخُذْ أَحَدَنَا مَكَانَهُ إِنَّا نَرَاكَ مِنَ الْمُحْسِنِينَ (۷۸) قَالَ مَعَاذَ اللهِ أَنْ نَأْخُذَ إِلَّا مَنْ وَجَدْنَا مَتَاعَنَا عِنْدَهُ إِنَّا إِذًا لَظَالِمُونَ، (سورة یوسف ۲۹\۷۹). دلته الله ﷻ بیان دهغه څه کړی دی چی کله دوی بنیامین دیوسف ؑ خواته راوستی اودی یوسف ؑ دی بنیامین ته دځان سره ځای ورکی اوورته یې پټ داخبر ورکی چی داستا سکه ورور دی. اوورته یې بیان کړه هغه ټوله قصه چی دوی ورسره کړی وه په کم حال کی. بیاده چل جوړکی په پاته کولو دده کی ددوی څخه. نوامریې وکی خپلو کسانوته چی ددوی سامانونه دوی ته په اوښانو باندی برابرکی. اوهغه لوښی چی یوسف ؑ به پکښی اوبه چښلی اوخلګو ته به یې په کی غلی ورکولی نوهغه یې دخپل ورور په توښی کی کښیښوی، بیایې دوی ته داخبره ورسوله چی دوی دالوښی پټ کړی دی دبادشاه څخه، اوددوی سره یې وعده وکړه په بیرته راکولو ددی لوښی کی یوتوښه زیاته، اوداخبره ورته یواواز کونکی وکړه. نودوی راوګرځیده اودایې وویل: قَالُوا تَاللهِ لَقَدْ عَلِمْتُمْ مَا جِئْنَا لِنُفْسِدَ فِي الْأَرْضِ وَمَا كُنَّا سَارِقِينَ، دوی وویل چی تاسی ته پته ده زموږ په باره کی دهغه خبری چی تاسی یې په موږ پسی تړی. قَالُوا فَمَا جَزَاؤُهُ إِنْ كُنْتُمْ كَاذِبِينَ (۷٤) قَالُوا جَزَاؤُهُ مَنْ وُجِدَ فِي رَحْلِهِ فَهُوَ جَزَاؤُهُ كَذَلِكَ نَجْزِي الظَّالِمِينَ، اودا وو ددوی شریعت چی چابه غلا وکړه نوهم هغه غل به یې به بدله کی ورکوی هغه سړی ته چی دچا څخه به غلاسوی وو. نوددی وجی څخه دوی وویل: كَذَلِكَ نَجْزِي الظَّالِمِينَ، اودارنګه الله ﷻ فرمایلی دی: فَبَدَأَ بِأَوْعِيَتِهِمْ قَبْلَ وِعَاءِ أَخِيهِ ثُمَّ اسْتَخْرَجَهَامِنْ وِعَاءِ أَخِيهِ، ددی وجی څخه چی ددوی

(c) ketabton.com: The Digital Library



پرده باندی داخیال رانه سی چی دوی دده سره څه چل کوی، اوبیا الله ﷻ فرمایلی دی: كَذٰلِكَ كِدْنَا لِيُوسُفَ، دایې ورته ددی وجی څخه وویل که داسی یې ورته نه وای ویلی نو دیوسف سره به بله طریقه دراګرځولو نه وای، اودده داحق نه وو چی دی یې په زیاتی سره راګرځولو وای. إِلَّا أَنْ يَشَاءَ اللهُ نَرْفَعُ دَرَجَاتٍ مَنْ نَشَاءُ، یعنی په علم کی: وَفَوْقَ كُلِّ ذِي عِلْمٍ عَلِيمٌ اوداپه دی وجی چی یوسف ؑ ددی څخه ډیر پوه وو، اوداڅه چی ده کوله نودایې په امر دالله ﷻ باندی کوله، ولی چی په دی کارباندی وروسته یوعظیم مصلحت جوړیږی، هغه داچی دده قوم اوپلار اومور ټول به مصرته راځی اوښه عزت اواکرام به یې کیږی. نوکله یې چی دخپل ورور دبار څخه اودتوښی څخه دهغه لوښی راوایستی چی بنیامین دی: قَالُوا إِنْ يَسْرِقْ فَقَدْ سَرَقَ أَخٌ لَهُ مِنْ قَبْلُ، مراد ددوی ورڅخه یوسف ؑ وو، ویل سوی دی چی ده دخپل مور دخوا دنیکه څخه بوت پټ کړی وو اوبیایې هغه مات کړی وو. اوویل سوی دی چی ده به په غلاسره دکور څخه ډوډی ایستله اوپه فقیرانو باندی به یې تقسیموله. اونور اقوال په کی هم سته. نوددی وجی څخه دوی داوویل: قَالُوا إِنْ يَسْرِقْ فَقَدْ سَرَقَ أَخٌ لَهُ مِنْ قَبْلُ فَأَسَرَّهَا يُوسُفُ فِي نَفْسِهِ، اوداکلمه دلیری والی ده: قَالَ أَنْتُمْ شَرٌّ مَكَانًا وَاللهُ أَعْلَمُ بِمَا تَصِفُونَ، دا جواب یې یاپه پټه ورکړی دی یاپه ښکاره، نوپه دوی باندی دننه سو په نرمی اوپه مهربانی سره اودایې یوسف ؑ ته وویل: قَالُوا يَا أَيُّهَا الْعَزِيزُ إِنَّ لَهُ أَبًا شَيْخًا كَبِيرًا فَخُذْ أَحَدَنَا مَكَانَهُ إِنَّا نَرَاكَ مِنَ الْمُحْسِنِينَ، یعنی دده یوبوډا پلار دی زموږ څخه یوسړی راوګرځوه کړه دده پرځای باندی، نویوسف ؑ ورته وویل چی دازموږ په قانون کی نسته چی موږ متهم سړی پریږدو اوغیر متهم سړی بندکړو اوموږ ته دااجازه نسته. اوپه نزد داهل کتابو باندی چی یوسف ؑ په دغه وخت کی ورته دځان تعریف اووپیژندنه وکړه چی زه یوسف یم اوتاسی می وروڼه یاست. اوداخبره هم ددوی په دغه ځای کی غلطه ده اودوی نه دی پوه سوی.

فَلَمَّا اسْتَيْئَسُوا مِنْهُ خَلَصُوا نَجِيًّا قَالَ كَبِيرُهُمْ أَلَمْ تَعْلَمُوا أَنَّ أَبَاكُمْ قَدْ أَخَذَ عَلَيْكُمْ مَوْثِقًا مِنَ اللهِ وَمِنْ قَبْلُ مَا فَرَّطْتُمْ فِي يُوسُفَ فَلَنْ أَبْرَحَ الْأَرْضَ حَتَّى يَأْذَنَ لِي أَبِي أَوْ يَحْكُمَ اللهُ لِي وَهُوَ خَيْرُ الْحَاكِمِينَ (۸۰) ارْجِعُوا إِلَى أَبِيكُمْ فَقُولُوا يَا أَبَانَا إِنَّ ابْنَكَ سَرَقَ وَمَا شَهِدْنَا إِلَّا بِمَا عَلِمْنَا وَمَا كُنَّا لِلْغَيْبِ حَافِظِينَ (۸۱) وَاسْأَلِ الْقَرْيَةَ الَّتِي كُنَّا فِيهَا وَالْعِيرَ الَّتِي أَقْبَلْنَا فِيهَا وَإِنَّا لَصَادِقُونَ (۸۲) قَالَ بَلْ سَوَّلَتْ لَكُمْ أَنْفُسُكُمْ أَمْرًا فَصَبْرٌ جَمِيلٌ عَسَى اللهُ أَنْ يَأْتِيَنِي بِهِمْ جَمِيعًا إِنَّهُ هُوَ الْعَلِيمُ الْحَكِيمُ (۸۳) وَتَوَلَّى عَنْهُمْ وَقَالَ يَا أَسَفَى عَلَى يُوسُفَ وَابْيَضَّتْ عَيْنَاهُ مِنَ الْحُزْنِ فَهُوَ كَظِيمٌ (۸٤) قَالُوا تَاللهِ تَفْتَأُ تَذْكُرُ يُوسُفَ حَتَّى تَكُونَ حَرَضًا أَوْ تَكُونَ مِنَ الْهَالِكِينَ (۸۵) قَالَ إِنَّمَا أَشْكُو بَثِّي وَحُزْنِي إِلَى اللهِ وَأَعْلَمُ مِنَ اللهِ مَا لَا تَعْلَمُونَ (۸٦) يَا بَنِيَّ

(c) ketabton.com: The Digital Library



اذْهَبُوا فَتَحَسَّسُوا مِنْ يُوسُفَ وَأَخِيهِ وَلَا تَيْئَسُوا مِنْ رَوْحِ الله إِنَّهُ لَا يَيْئَسُ مِنْ رَوْحِ الله إِلَّا الْقَوْمُ الْكَافِرُونَ، (سورة يوسف ۸۰\ ۸۷) ذکرکوی الله ﷻ ددوی هغه نا امیدی چی ددی بنیامین په خلاصولو کی یې ښکاره کړه اوپه خپل مینځ کی اخته سوه چی خبری یې کولی چی اوس څه وکو نو مشر ددوی چی روبیل دی هغه وویل: أَلَمْ تَعْلَمُوا أَنَّ أَبَاكُمْ قَدْ أَخَذَ عَلَيْكُمْ مَوْثِقًا مِنَ الله چی تاسی به ټول ماته راځی اودا کشربه هم راولی مګرپه دی صورت کی چی ټول پاته سی اوټول ګیر سی. نوتاسی خلاف وکی دوعدی دپلار اودهغه په حکم کی موکوتاهی راوستله، نوزماپه مخ کی څه پاته نه دی چی زه دپلار خواته ورسم اوهغه ته مخ ښکاره کم: فَلَنْ أَبْرَحَ الْأَرْضَ یعنی ترهغه وخته پوری به زه په دی ځای کی پروت یم: حَتَّى يَأْذَنَ لِي أَبِي، په وتلو باندی، أَوْ يَحْكُمَ الله لِي، په دی باندی چی زماورور ماته راکی په څه طریقه باندی، وَهُوَ خَيْرُ الْحَاكِمِينَ (۸۰) ارْجِعُوا إِلَى أَبِيكُمْ فَقُولُوا يَا أَبَانَا إِنَّ ابْنَكَ سَرَقَ، یعنی خبرورکی په دی کار باندی کم چی تاسی په خپلو سترګو ولیدی ښکاره، وَمَا شَهِدْنَا إِلَّابِمَا عَلِمْنَا وَمَا كُنَّا لِلْغَيْبِ حَافِظِينَ (۸۱) وَاسْأَلِ الْقَرْيَةَ الَّتِي كُنَّا فِيهَا وَالْعِيرَ الَّتِي أَقْبَلْنَا فِيهَا، یعنی داهغه خبردی چی ته موږ خبرکړی په دی سره، اودده دغه خبره چی غلایې کړیده داپه مصر کی مشهوره سویده اوهرچاته ددی خبری علم سته: وَإِنَّا لَصَادِقُونَ (۸۲) قَالَ بَلْ سَوَّلَتْ لَكُمْ أَنْفُسُكُمْ أَمْرًا فَصَبْرٌ جَمِيلٌ، یعنی کم کارچی تاسی ذکرکی همدارنګه نه دی ولی چی هغه غلانه کوی اونه دهغه خوی اواخلاق داسی دی، بلکه: بَلْ سَوَّلَتْ لَكُمْ أَنْفُسُكُمْ أَمْرًا فَصَبْرٌ جَمِيلٌ ابن اسحاق اوداسی نورو ویلی دی کله چی دوی زیاتی کړی وو په باره دیوسف ؑ کی نوددی وجی څخه ورته پلار داسی وویل. اوداخبره اهل السلف هم کړی ده: ولی چی دبدی سزا بده وی وروسته دبدی څخه اوبیایې داوویل: عَسَى الله أَنْ يَأْتِيَنِي بِهِمْ جَمِيعًا، یعنی یوسف اوبنیامین اوروبیل (اِنَّهُ هُوَ الْعَلِيْمُ) یعنی زماپه دی حال باندی (اَلْحَكِيْمُ) یعنی په خپلو کارونو کی اوپه قدرت کی، اودهغه ذات دپاره دی حکمت بالغه اوحجت قائم په داسی کارونوکی. (وَتَوَلّٰی عَنْهُمْ) یعنی مخ یې واړوی ددوی څخه: وَقَالَ يَاأَسَفٰى عَلٰى يُوسُفَ، ذکریې کی خفګان خپل پرزوی باندیهغه زوړغم یې راښکاره کی، اوداقول: وَابْيَضَّتْ عَيْنَاهُ مِنَ الْحُزْنِ، یعنی دډیرو ژړاګانودوجی (فَهُوَ كَظِيْمٌ) اودی دغصی څخه ډك وو دوجی دغم څخه اودوجی دافسوس څخه په یوسف ؑ باندی. کله یې چی ځامنو دده دالیری والی اوغم اوخفګان ولیدی نوورته یې وویل (قَالُوْا) دوی ورته په طریقه دنرمی اوشفقت اومهربانی سره وویل: تَالله تَفْتَأُتَذْكُرُ يُوسُفَ حَتَّى تَكُونَ حَرَضًاأَوْتَكُونَ مِنَ الْهَالِكِينَ دوی ورته وویل چی هغه ته دومره یادوی په هروخت کی تردی چی ته به یاضعیف سی اویا

(c) ketabton.com: The Digital Library



به دپښو اولاسونو څخه پاته سی، نوکه ته په ځان باندی مهربانی وکړی اوشفقت وکړی نودابه تاته ښه وی: قَالَ إِنَّمَا أَشْكُو بَثِّي وَحُزْنِي إِلَى اللهِ وَأَعْلَمُ مِنَ اللهِ مَالَا تَعْلَمُونَ، دی خپل ځامونو ته وایی چی زه دخپل غم اوخفگان شکایت الله ﷻ ته کوم تاسی ته یې نه کوم اوزه دالله ﷻ څخه ډیر امیدلرم چی تاسی یې ورڅخه نه لری. اوزه په دی هم دالله ﷻ څخه امید واریم چی دهغه دخوب مطابق زه اوتاسی به ورته سجده کوو. نوددی وجی څخه یې ویلی دی: وَأَعْلَمُ مِنَ اللهِ مَالَا تَعْلَمُونَ، نوبیایې دوی ته وویل چی تاسی ووځی تاسی ولاړسی اودیوسف ﷺ اودهغه دورور په باره کی معلومات وکی: يَا بَنِيَّ اذْهَبُوا فَتَحَسَّسُوا مِنْ يُوسُفَ وَأَخِيهِ وَلَا تَيْئَسُوا مِنْ رَوْحِ اللهِ إِنَّهُ لَا يَيْئَسُ مِنْ رَوْحِ اللهِ إِلَّا الْقَوْمُ الْكَافِرُونَ، یعنی تاسی مه ناامیده کیږی دخوشحالی څخه چی وروسته دغم نه وی اودفراخی څخه چی وروسته دتنگوالی اودسختی څخه وی، مگر قوم دکافرانوته چی په هغوی باندی وروسته دغم څخه خوشحالی نه راځی.
فَلَمَّا دَخَلُوا عَلَيْهِ قَالُوا يَا أَيُّهَا الْعَزِيزُ مَسَّنَا وَأَهْلَنَا الضُّرُّ وَجِئْنَا بِبِضَاعَةٍ مُزْجَاةٍ فَأَوْفِ لَنَا الْكَيْلَ وَتَصَدَّقْ عَلَيْنَا إِنَّ اللهَ يَجْزِي الْمُتَصَدِّقِينَ (۸۸) قَالَ هَلْ عَلِمْتُمْ مَا فَعَلْتُمْ بِيُوسُفَ وَأَخِيهِ إِذْ أَنْتُمْ جَاهِلُونَ (۸۹) قَالُوا أَئِنَّكَ لَأَنْتَ يُوسُفُ قَالَ أَنَا يُوسُفُ وَهَذَا أَخِي قَدْ مَنَّ اللهُ عَلَيْنَا إِنَّهُ مَنْ يَتَّقِ وَيَصْبِرْ فَإِنَّ اللهَ لَا يُضِيعُ أَجْرَ الْمُحْسِنِينَ (۹۰) قَالُوا تَاللهِ لَقَدْ آثَرَكَ اللهُ عَلَيْنَا وَإِنْ كُنَّا لَخَاطِئِينَ (۹۱) قَالَ لَا تَثْرِيبَ عَلَيْكُمُ الْيَوْمَ يَغْفِرُ اللهُ لَكُمْ وَهُوَ أَرْحَمُ الرَّاحِمِينَ (۹۲) اذْهَبُوا بِقَمِيصِي هَذَا فَأَلْقُوهُ عَلَى وَجْهِ أَبِي يَأْتِ بَصِيرًا وَأْتُونِي بِأَهْلِكُمْ أَجْمَعِينَ (سورة يوسف ۸۸\ ۹۳) خبر ورکړی دی الله ﷻ په دی آیتونوکی دورونو دیوسف ﷺ ده٘ ته، او دراتګ څخه ددوی هغه مصرته چی دوی ته ددوی ورور ورکړی او څه غله ورلره هم ورکی: فَلَمَّا دَخَلُوا عَلَيْهِ قَالُوا يَا أَيُّهَا الْعَزِيزُ مَسَّنَا وَأَهْلَنَا الضُّرُّ، یعنی دسختی څخه اودلوږی څخه اودوجی دډیرو افرادو څخه چی زموږ په کورکی افراد ډیردی: وَجِئْنَا بِبِضَاعَةٍ مُزْجَاةٍ یعنی خرابی وی اودایې ورته وویل چی دازموږ څخه ځوك نه قبلوی په خپل قوم کی مگر داچی ته تجاوز وکی موږ ته ددی څخه. ویل سوی دی چی داڅه اشرفی وی بیکاره، او چاویلی دی چی لږ وی. اوچاویلی دی چی دصنوبر ددرختی دانی وی اوداسی نور اقوال هم په کی ذکردی. اودابن عباسؓ څخه نقل دی هغه وایی چی دابوریانی وی اورسیانی وی. او داسی نورشیان وه. فَأَوْفِ لَنَا الْكَيْلَ وَتَصَدَّقْ عَلَيْنَا إِنَّ اللهَ يَجْزِي الْمُتَصَدِّقِينَ، ویل سوی دی په دی قول خپل باندی، دا دالسدی قول دی. اوویل سوی دی په بیرته راتلو دورور زموږ، داقول دابن جریج دی، اوسفیان بن عیینه ویلی وی: حرام ګرځول سوی دی صدقی په نبی ﷺ باندی اوپه دی آیت سره یې پاکی بیان سویده. روایت ددی ابن جریر نقل کړی دی. نوکله

(c) ketabton.com: The Digital Library



چې ده ولیده چې دوی په کم حال کې دي اوددوی سره نه دي پاته مګر هغه بیکاره مال، نو بیایې ځان وروپيژندی اوپر دوی باندې يې مهرباني وکړه اوهغه حال يې ورته بيان کی چې تاسي څه کړي وه په يوسف ﷺ باندي: قَالَ هَلْ عَلِمْتُمْ مَا فَعَلْتُمْ بِيُوسُفَ وَأَخِيهِ إِذْ أَنْتُمْ جَاهِلُونَ (۸۹) قَالُوا، دوی په تعجب سره وويل اوبيايې په تکرارسره پوښتنه وکړه چې ته هغه يوسف يې: أَئِنَّكَ لَأَنْتَ يُوسُفُ اياته يوسف يې: قَالَ أَنَا يُوسُفُ وَهَٰذَا أَخِي، يعنی زه يوسف يم اودامي ورور دی هغه يوسف چې تاسي ورسره څه کړي وه تاسي ته پته ده اودورور په باره کې يې ورته دچم جوړولوپه باره کې هم وويل چې دی مي په يوچل باندي ستاسي څخه راګرځوی (قَدْ مَنَّ اللَّهُ عَلَيْنَا) يعني په احسان کولو سره په موږ باندي اوپه ځای راکولو سره موږ ته، اودا ددې وجې څخه چې موږ صبر وکی په هغه څه باندي چې موږ ته ستاسي دخوا څخه را رسيدلي وه. اوپه اطاعت کولو زموږ خپل پلارلره اودهغه محبت چې په موږ باندي وو دشفقت اودمهرباني. نوددې وجو څخه الله ﷻ په موږ باندي فضل اوکرم وکی: فَإِنَّ اللَّهَ لَا يُضِيعُ أَجْرَ الْمُحْسِنِينَ (۹۰) قَالُوا تَاللَّهِ لَقَدْ آثَرَكَ اللَّهُ عَلَيْنَا، يعني تاته يې فضيلت درکړي دی پرموږ باندي اوتاته يې هغه څه درکړي دي چې هغه يې موږته نه دي راکړي: وَإِنْ كُنَّا لَخَاطِئِينَ، يعني په هغه څه کې چې تاته موږ درسولي دی، اوموږ ستاسره يوځای يو: قَالَ لَا تَثْرِيبَ عَلَيْكُمُ الْيَوْمَ يعني زه به بدنه وايم تاسي ته په هغه څه چې تاسي کړي دي زماسره دنن ورځې څخه وروسته. اوبيايې ورته داقول هم زيات کی چې: يَغْفِرُاللَّهُ لَكُمْ وَهُوَ أَرْحَمُ الرَّاحِمِينَ اوبعضووقف کړی دی په دی باندي اوداسي يې ويلي دي: قَالَ لَا تَثْرِيبَ عَلَيْكُمْ، اوبيايې ددې قول څخه شروع کړيده: الْيَوْمَ يَغْفِرُ اللَّهُ لَكُمْ نوداقول ضعيف دی اومخکني قول صحيح دی. نوبيا ددې څخه يې وروسته خپل قميص دوی ته ورکی چې دايوسي اودپلار په سترګو باندي يې واچوی نودهغه نظر به سم سي، په حکم دالله ﷻ باندي. اوبيايې ورته امروکی چې دوی دې ټول اهل خپل مصرته راولي، په خيرت سره اوپه سلامتيا سره. اودوی راټول سوه وروسته دډېری اوږدی جدايي څخه، په پوره راټوليدلو سره.

وَلَمَّا فَصَلَتِ الْعِيرُ قَالَ أَبُوهُمْ إِنِّي لَأَجِدُ رِيحَ يُوسُفَ لَوْلَا أَنْ تُفَنِّدُونِ (۹٤) قَالُوا تَاللَّهِ إِنَّكَ لَفِي ضَلَالِكَ الْقَدِيمِ (۹۵) فَلَمَّا أَنْ جَاءَ الْبَشِيرُ أَلْقَاهُ عَلَى وَجْهِهِ فَارْتَدَّ بَصِيرًا قَالَ أَلَمْ أَقُلْ لَكُمْ إِنِّي أَعْلَمُ مِنَ اللَّهِ مَا لَا تَعْلَمُونَ (۹٦) قَالُوا يَا أَبَانَا اسْتَغْفِرْ لَنَا ذُنُوبَنَا إِنَّا كُنَّا خَاطِئِينَ (۹۷) قَالَ سَوْفَ أَسْتَغْفِرُ لَكُمْ رَبِّي إِنَّهُ هُوَ الْغَفُورُ الرَّحِيمُ (۹۸) فَلَمَّا دَخَلُوا عَلَى يُوسُفَ آوَى إِلَيْهِ أَبَوَيْهِ وَقَالَ ادْخُلُوا مِصْرَ إِنْ شَاءَ اللَّهُ آمِنِينَ (سورة يوسف ۱۹۴\ ۹۹) عبدالرزاق ويلي دي چې ماته خبر راکړی دی اسرائيل ده نقل کړی

(c) ketabton.com: The Digital Library



دی دابی سنان څخه اوده دعبدالله بن ابی الهذیل څخه دی وایی چی ما اوریدلی دی دابن عباس څخه چی ویلی یې دی: (وَلَمَّا فَصَلَتِ الْعِيرُ) دی وایی کله چی دوی راجلا سوه دخپل توښو سره نوهوا راله اودیوسف ﷺ قمیص یې ددی توښی څخه پورته کی او دیعقوب ﷺ خواته یې راوړی: قَالَ أَبُوهُمْ إِنِّي لَأَجِدُ رِيحَ يُوسُفَ لَوْلَا أَنْ تُفَنِّدُونِ نوده پیداکی اومحسوس یې کی هغه بوی دیوسف ﷺ په فاصلی ددرو ورځو باندی. اوهمدارنګه الثوری اوشعبه اوداسی نورو هم ویلی دی. حسن بصری اوجریج المکی ویلی دی: ددی په منځ کی (۸۰) میله مزل وو. اوداقول دده (لَوْلَآ اَنْ تُفَنِّدُوْنِ) یعنی داسی ونه وایاست تاسی چی داخوتا دبوډا والی دوجی وویله چی ذهن دی کارنه کوی. الفند. بوډاوالی ته وایې. ابن عباس او قتاده اومجاهد اوسعید بن جبیر دا وایې: (اَنْ تُفَنِّدُوْنِ) تاسی داونه وایاست چی کم عقلی خبری کوی: قَالُوا تَاللهِ إِنَّكَ لَفِي ضَلَالِكَ الْقَدِيمِ یعنی داکلمه یې ورته په غصه کی وویل چی ته په هغه زړو خیالاتوکی اوس هم ګرځی. الله ﷻ فرمایلی دی: فَلَمَّا أَنْ جَاءَ الْبَشِيرُ أَلْقَاهُ عَلَى وَجْهِهِ فَارْتَدَّ بَصِيرًا، یعنی په تش قمیص اچولو باندی دده دسترګو نظر سم سو اوړوندوالی ورڅخه زائل سو. نوخپلو ځامنو ته یې وویل چی تاسی ته مانه وه ویلی چی زه دالله ﷻ څخه هغه امید لرم کم چی تاسی یې نه لری هغه امید داوو چی ژرترژره به الله ﷻ موږیول یوځای کی اوماته به خوشحالی راکول سی. نودهغه څخه وروسته دوی پلارته وویل چی: قَالُوا يَا أَبَانَا اسْتَغْفِرْ لَنَا ذُنُوبَنَا إِنَّا كُنَّا خَاطِئِينَ، دوی طلب وکی دخپل پلار څخه چی دوی ته بخښنه وکی دهغه کار چی کم ددوی څخه سوی دی. نوپلار ورلره جواب ورکی په دی الفاظو سره: سَوْفَ أَسْتَغْفِرُ لَكُمْ رَبِّي إِنَّهُ هُوَ الْغَفُورُ الرَّحِيمُ، ابن مسعود اوابراهیم اوعمر بن قیس اوابن جریج اوداسی نورو ویلی دی: دوی یې وروسته کړه دسهار وخت ته.

ابن جریر ویلی دی په نقل کولو سره دابوالسائب څخه اودی دابن ادریس څخه دی وایی چی ما اوریدلی دی دعبدالرحمن بن اسحاق څخه دی نقل کوی دمحارب بن دثار څخه ده ویلی دی چی عمر ﷺ جماعت ته راتلی نودیوه انسان څخه یې داواوریدل چی داسی دعا یې کوله: یا الله تاماته دعوت کړی ووی نوما یې اجابت وکی، اوماته دی امرکړی وو نوما پوره والی وکی، نوداوخت دسهاردی نوماته مغفرت وکی. دی وایی چی کله یې دا اواز ته غوږ کنبیښووی نودا دعبدالله بن مسعود دکور څخه راتلی، نوبیایې دعبدالله څخه دا پوښتنه وکړه ددغه په باره کی نوویې ویله: ولی چی یعقوب ﷺ خپل اولاد سهار وخت ته وروسته کړی وو په دی قول سره: سَوْفَ أَسْتَغْفِرُ لَكُمْ رَبِّي، اودارنګه الله ﷻ فرمایلی دی: وَالْمُسْتَغْفِرِيْنَ بِالاَسْحَارِ، اودارنګه ثابت سوی دی درسول الله ﷺ څخه په صحیحینو کی

(c) ketabton.com: The Digital Library



چې فرمایلي یې دي: راکښته کیږي رب زموږ هرسهار آسمان ددنیا ته نووایي چې: آیاسته ثوك غوښتونکی چې زه یې ورلره وکم؟ آیاسته ثوك چې توبه وکاږي چې زه دهغه توبه قبوله کړم؟ آیاسته ثوك دبخښنې طلب کونکی چې زه ورته بخښنه وکړم، (۱) اوپه بل حدیث کې داسې ذکردي چې یعقوب ﷺ خپل ځامن دجمعې ورځې ته وروسته کړه.

ابن جریر ویلي دي په نقل کولو سره دالمثنٰی څخه دي وایي چې موږ ته بیان کړی دی سلیمان بن عبدالرحمٰن ابوایوب الدمشقي دی نقل کوی دالولید څخه اودی دابن جریج څخه اودی دعطاء څخه اودی دعکرمه څخه اودی دابن عباس څخه دی نقل کوی درسول الله ﷺ څخه: سَوْفَ أَسْتَغْفِرُ لَكُمْ رَبِّي، په ورځ دجمعې کې، اودا دقول څخه دورور زما یعقوب ﷺ خپلو بچو ته دی اوپه دی حدیث کې غرابت دی دیوې وجهې څخه، اوپه مرفوع والی ددی کې نظردی. اواشبه قول دادی چې دانقل دی دابن عباس څخه موقوفًا.

فَلَمَّا دَخَلُوا عَلَى يُوسُفَ آوَى إِلَيْهِ أَبَوَيْهِ وَقَالَ ادْخُلُوا مِصْرَ إِنْ شَاءَ اللهُ آمِنِينَ (۹۹) وَرَفَعَ أَبَوَيْهِ عَلَى الْعَرْشِ وَخَرُّوا لَهُ سُجَّدًا وَقَالَ يَا أَبَتِ هَذَا تَأْوِيلُ رُؤْيَايَ مِنْ قَبْلُ قَدْ جَعَلَهَا رَبِّي حَقًّا وَقَدْ أَحْسَنَ بِي إِذْ أَخْرَجَنِي مِنَ السِّجْنِ وَجَاءَ بِكُمْ مِنَ الْبَدْوِ مِنْ بَعْدِ أَنْ نَزَغَ الشَّيْطَانُ بَيْنِي وَبَيْنَ إِخْوَتِي إِنَّ رَبِّي لَطِيفٌ لِمَا يَشَاءُ إِنَّهُ هُوَ الْعَلِيمُ الْحَكِيمُ (۱۰۰) رَبِّ قَدْ آتَيْتَنِي مِنَ الْمُلْكِ وَعَلَّمْتَنِي مِنْ تَأْوِيلِ الْأَحَادِيثِ فَاطِرَ السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضِ أَنْتَ وَلِيِّي فِي الدُّنْيَا وَالْآخِرَةِ تَوَفَّنِي مُسْلِمًا وَأَلْحِقْنِي بِالصَّالِحِينَ (سورة یوسف ۱۰۱\۹۹) اوداخبردی دحال راټولیدلو ددوی وروسته دیواوږدی جدایې څخه، چې ویل سوی دی (۸۰) کاله جدایې تیره سوی وه. اوبعضو ویلي دي چې (۸۳) کاله تیر سوی وه، دا دواړه روایتونه دحسن څخه نقل دی اوچاویلي دي چې (۸۵) کاله تیرسوی دی. داقول دقتاده دی. اومحمد بن اسحاق ویلي دي ذکرسوی دی چې دی دده څخه (۱۸) کاله غیب سوی وو اواهل کتاب والا وایي چې (۴۰) کاله غیب سوی وو. اوظاهر دسیاق دقصې څخه دامعلومیږي چې تحدید دمودې په کې نسته بلکې متفرق ذکرسوی دی، کله چې دی ته پیشګی وکړه زلیخانو دی د (۱۷) کالو وو، نوبیاده (۷) کاله په جیل کې تیرکړه اوبیایې (۷) کاله دفراخې تیرکړه اودی خزانه دار وو اوبیایې (۷) کاله تیرکړه په مینځ ددی خلګو کې، اوراله ورته دده په اولنی کال باندی چې غله یې وړه دده څخه اوپه دوهم کال ورسره بنیامین هم وو اوپه دریم کال یې ورته ځان وښووی چې زه یوسف یم اوامریې دوی ته وکی

(۱). صحیح البخاري: کتاب التهجد، باب الدعاء والصلوٰة آخر اللیل (۱۱۴۵:۳) مسلم: کتاب صلات المسافرین وقصرها، باب الترغیب فی الدعاء والذکرفی آخر اللیل والاجابت فیه (۲\ ۳۲) اوترمذی په کتاب الصلاة کی، باب ماجاء فی نزول الرب الی سماء الدنیا کل لیلة (۲\ ۴۴۲) اوابو داود په کتاب السنة کی، باب ماجاء: فی ساعات اللیل الجهمیه (۴\ ۴۷۳۳).

(c) ketabton.com: The Digital Library



چې ټول راولې مصرته، نوټول راله: فَلَمَّا دَخَلُوا عَلَى يُوسُفَ آوَى إِلَيْهِ أَبَوَيْهِ، یعنی داپلار اومور ورسره یوځای سوه ماسوا دورونو څخه، ویل سوی دی چې په دی کی تقدیم اوتاخیر دی یعنی اول ورسره یوځای سو اوبیایې ورته وویل: ادْخُلُوا مِصْرَ إِنْ شَاءَ اللهُ آمِنِينَ، اوپه نزد داهل کتاب باندی کله چې یعقوب ﷺ دجاشر مزکی ته ورسیدی. اودامځکه دابلیس ده. نورالی یوسف ﷺ دی ته په دغه ځای کی اوولیږی یعقوب ﷺ خپل زوی یهوذا دځان څخه مخکی چې هغه ته زیری ورکی دراتلو، اوددوی په نزد داهم ذکردی چې بادشاه دوی ته راووتی ددوی دخیر مقدم دپاره اودغه ځای یې دوی ته ورکی دپاره اوسیدلو اودپاره دآبادولو.

اودارنګه ذکرکړی دی یوی ډلی دمفسرینو چې: کله دایعقوب ﷺ راشوه سو مزکی دمصر ته نویوسف ﷺ ورته راووتی اودده سره ډیر لښکر وو دپاره دخدمت دیوسف ﷺ اودپاره داکرام اوتعظیم دیعقوب ﷺ اوده دعا وکړه بادشاه ته نوالله ﷻ دده دراتګ په سبب باندی هغه نور کالونه دقحط ددوی څخه لیری کړه په برکت ددوی باندی. والله اعلم. اوټول خلګ مجموعه چې دیعقوب ﷺ سره راوتلی وو دده اولادونه اولمسیان ټول (۶۳) کسان وه دا قول دابن اسحاق دی، اوموسٰی بن عبیده دمحمد بن کعب څخه نقل کړی دی چې ده دعبد الله بن شداد څخه نقل کړی دی دی وایی چې (۸۳) کسان وه، اوابو اسحاق دمسروق څخه ویلی دی چې (۳۹۰) کسان وه. دوی وایی چې وتلی وه دوی دموسٰی سره په حال ددی کی چې دوی زیات وه د (۲۰۰۰) کسانو څخه چې مقاتلین وه. اوپه نص داهل کتابوکی (۷۰) کسان ذکردی. الله ﷻ فرمایلی دی: وَرَفَعَ أَبَوَيْهِ عَلَى الْعَرْشِ ویل سوی دی چې مور دده مړه وه لکه څنګه چې داقول دعلماوو داهل التورات وه.

اوبعضی مفسرینو ویلی دی چې: دا دوباره راژوندی کړی وه الله ﷻ. اونورو داویلی وه چې دادده خاله وه اوخاله پرځای دموروی. اوابن جری اوداسی نورو ویلی دی: ظاهر دقرآن پر دی باندی دلالت کوی چې مور دده تردغه ورځی پوری ژوندیې وه. اودوی دواړه یې دځان سره لوړکړه کټ ته یعنی دځان سره یې پرتخت باندی کښینول. (وَخَرُّوا لَهُ سُجَّدًا) اوداټول ورته په سجده سوه یعنی دامور اوپلار اویوولس ورونه، دپاره دتعظیم اواکرام اودا ددوی په نزد باندی جائز وه، اوداسجده په نورو امتونو کی هم جائزوه تردی چې زموږ په ملت کی داحرامه سوه: وَقَالَ يَا أَبَتِ هَٰذَا تَأْوِيلُ رُؤْيَايَ مِنْ قَبْلُ، یعنی داتعبیر دهغه خوب ووچې مالیدلی وو اوتاراته ویله وه چې داپټ وساته اوخپلو ورونو ته یې مه بیانوه. اوزماسره دی وعده وکړه دهغه څه چې وعده دی راسره وکړه: قَدْ جَعَلَهَا رَبِّي حَقًّا وَقَدْ أَحْسَنَ بِي إِذْ أَخْرَجَنِي مِنَ السِّجْنِ یعنی وروسته دغم اودتنګ دستی څخه زه وګرځول سم حاکم په مصر چې یوه کلمه وایم نو هغه نافذه سی پرټولو باندی: وَجَاءَ بِكُمْ مِنَ الْبَدْوِ یعنی دکلیو څخه، ولی چې دوی په علاقو

(c) ketabton.com: The Digital Library



دعربوکی اوسیده اوهغه تش کلی وه: مِنْ بَعْدِ أَنْ نَزَغَ الشَّيْطَانُ بَيْنِي وَبَيْنَ إِخْوَتِي یعنی هغه کار چی مخکی تفصیلاً ذکرسو. اوبیایې وویل: إِنَّ رَبِّي لَطِيفٌ لِمَا يَشَاءُ یعنی داسی ذات دی چی یوکار وغواړی نوهغه ته داسی اسباب تیار کړی دداسی ځایونو څخه چی هلته دبنده ګمان نه وی اوالله ﷻ یې اسانوی اوپه خپل قدرت کامله سره یې اداکوی (اِنَّهُ هُوَ الْعَلِيْمُ) یعنی په ټولو امورو باندی (اَلْحَكِيْمُ) په خپل خلق کی اوپه خپل قدرت اوشریعت کی. اوپه نزد داهل کتابو باندی: یوسف ؑ ددوی چی کم خوراکه وه هغه یې خرڅه کړه اوددوی ټول مالونه چی کم په خزانه کی پراته وه سپین زر اوسره زر ټول یې خرڅ کړه تردی چی ددوی نفسونه یې هم خرڅ کړه نودوی غلامان سوه، نووه به دوی چی دخپلو میوو پنځمه حصه به یې بادشاه ته ورکوله نودارواج پاته سو په اهل مصرکی وروسته ددی څخه. داقول داهل کتابو دی. بیاچی کله یوسف ؑ ته پته ولګیده چی په دی باندی نعمت پوره سو. اودده هغه هره حصه یوځای سوه، نوده ته پته ولګیده چی په دی کورکی یعنی کور ددنیا مراددی په دی کی قراری نسته، اودهرتمام والی څخه وروسته نقصان دهغه وی، نوپه دغه وخت کی په الله ﷻ باندی یې ثناء وویل، او اعتراف یې وکی دهغه په نعمتونو باندی اودهغه په احسان باندی، نودالله ﷻ څخه یې سوال وکی چی دی وفات کی اودی ملحق کی په خپل نیکانو بندګانو پوری، اوهمدارنګه لکه څنګه چی په دعاکی ویل کیږی. اللهم احیینا مسلمین وتوفنا مسلمین، یعنی یاالله ته موږ مسلمانان ژوندی کړی اومسلمانان مومړه کړه (۱) اواحتمال لری چی ده داسوال کړی وی په هغه وخت کی کله چی ورلره ملائکی رالی او روح یې ورڅخه واخستی، لکه څه رنګه چی داسی سوال رسول الله ﷺ کړی دی په وخت دوفات کی، لکه څنګه چی یې فرمایلی وه: اللهم فی الرفیق الاعلی دری (۲) واره اوبیاددی څخه وروسته وفات سو، اودا احتمال هم کیدی سی چی ده مرګ غوښتی وی دالله څخه په صحت کی اوپه روغوالی دبدن کی، اوداجائز وو په ملت ددوی کی اوښه وو، لکه څنګه چی ابن عباس نقل کړی دی دی وایی چی: یونبی هم دمرګ سوال نه دی کړی مخکی دیوسف ؑ څخه. هرڅه چی زموږ په شریعت کی دی نوممانعت راغلی دی دطلب دمرګ څخه مګر په فتنوکی، لکه څه رنګه چی په حدیث دمعاذ کی چی ددعاګانو په باره کی احمد نقل

---

(۱). دایوجزء دی ددی حدیث څخه (استوو حتی اثنی علی ربی) احمد (۳\ ۴۲۴) دحدیث دعبدالله الزرقی څخه، او الطبرانی په الکبیر کی (۵\ ۴۵۴۹) اوهیثمی ذکرکړی دی په المجمع کی (۲\۱۲۱) راویان ددی احمددی اوالبزار دی، اوپه الحلیه کی (۱۰\ ۱۲۷) اوحاکم په مستدرك کی (۱\ ۵۰۲) اوویلی دی چی داحدیث حسن صحیح دی.

(۲). تخریج دی بخاری کړی دی په کتاب المغازی کی، باب مرض رسول الله ﷺ (۷\ ۴۴۳۲) دحدیث دعائشی څخه. اومسلم په کتاب الفضائل، باب فی فضل عائشه رضی الله عنها (۱۵\ ۲۰۹) اوالترمذی په کتاب الدعوات کی، باب (۷۷)، (۵\ ۳۴۹۲).

(c) ketabton.com: The Digital Library



کړی دی: واذا اردت بقوم فتنةً فتوفنا الیك غیر مفتونین. اوپه بل حدیث کی: ابن آدم، الموت خیر لك من الفتنه، اومریم ویلی دی: اوعلی بن ابی طالب رضي الله عنه هم طلب دمرګ کړی دی په هغه وخت کی کله چی فتنی ډیری سوی اوقتلونه ډیرسوه اوخبری اتری ډیری سوی، اوامام بخاری هم طلب دمرګ کړی دی کله چی حالات ډیر پرسخت سوه. اوهرڅه چی په وخت دغم کی اوتنګوالی کی هغه روایت چی په بخاری کی ذکردی دحدیث دانس بن مالك څخه دی وایی چی فرمایلی دی رسول الله ﷺ: ستاسی څخه دی یوسړی هم دمرګ سوال نه کوی دوجی دهغه مصیبت څخه چی په ده باندی نازل سوی وی. که چیری دی محسن سړی وی نوده هه به په دی ذریعی زیادت داحساناتوکول کیږی اوکه خطاکاروی نوپه دې سره به ورلره سزا اوبدله ورکول کیږی خولیکن دی دی داسی وایی ای الله ته ماژوندی وساتی که چیری زما دپاره ژوند ښه وی اوته مامړ کړی که چی زما دپاره مرګ ښه وی اوبهتروی. (۱)

اومرادپه ضررسره دلته هغه دی چی خاص وی دانسان په بدن پوری دناجوړی څخه اوداسی نورو شیانو څخه، په دین کی نه دی مراد. اوظاهره خبره دا ده چی نبی الله یوسف عليه السلام به دا سوال یاددی وجی څخه کړی وی چی مرګ به ورته حاضرسوی وو یابه یې په بل نیت باندی کړی وو. اوذکرکړی دی ابن اسحاق داهل کتابو څخه چی یعقوب عليه السلام دیوسف عليه السلام سره په مصرکی (۱۷) کاله پاته سو، اوبیاوفات سو، اوداوصیت یې کړی وو خپل زوی یوسف عليه السلام ته چی دی دی دفن سی دخپل پلار اونیکه سره یوځای چی اسحاق اوابراهیم عليهما السلام دی.

السدی ویلی دی چی دی یې شام ته یووړی اوهلته یې په مغارات کی دهغو سره یوځای دفن کی، په نزد داهل کتابو باندی عمر دیعقوب عليه السلام دهغه ورځی راسی چی مصرته داخل سوی وو (۱۳۰) کاله وو، او ددوی په نزد باندی هغه په مصرکی (۱۷) کاله پاته سوی دی، نوددی وجی څخه دوی ویلی دی چی دده ټول عمر (۱۴۰) کاله وو اودا ددوی دکتاب عبارت دی اودا غلط دی داپه نسخه کی غلطی ده یا پکښی دوی کمی اوزیاتی کړیدی.

اودارنګه الله جل جلاله په خپل کتاب کی فرمایي: أَمْ كُنتُمْ شُهَدَاءَ إِذْ حَضَرَ يَعْقُوبَ الْمَوْتُ إِذْ قَالَ لِبَنِيهِ مَا تَعْبُدُونَ مِن بَعْدِي قَالُوا نَعْبُدُ إِلَٰهَكَ وَإِلَٰهَ آبَائِكَ إِبْرَاهِيمَ وَإِسْمَاعِيلَ وَإِسْحَاقَ إِلَٰهًا وَاحِدًا وَنَحْنُ لَهُ مُسْلِمُونَ، دلته یعقوب عليه السلام خپل بچیانوته وصیت کوی داخلاص اوداطاعت دالله په هغه طریقی سره پرکمه چی ټول انبیاء تیرسوی دی. اواهل کتابو داویلی دی چی ده خپل یوه یوه زوی ته جلاجلا وصیت کړی دی اودوی ته یې ددوی دکارونو خبر ورکی، اوزیری یې ورکی

(۱). تخریج ددی بخاری کړی دی په کتاب الدعوات کی، باب الدعاء بالموت والحیات (۱۱\۲۳۵۰) اومسلم په کتاب الذکر والدعاء کی، باب کراهیة تمنی الدعوات لضرر نزل به (۷\۱۷) اوالنسایي په کتاب الجنائز، باب تمنی الموت (۴\۱۲۸۰) اوابوداود په کتاب الجنائز، باب کراهیت التمنی الموت (۳\۳۱۰۹).

(c) ketabton.com: The Digital Library



یهوذاته چې دده په نسل کې به یوسړی پیداکیږي چې هغه به ډیر عظیم الشان والاوی او دهغه به ډیر خلګ اوقومونه تابعداري کوي، اوهغه عیسٰی علیه السلام دی. والله اعلم.
اوداییې ذکرکړی دی چې کله یعقوب وفات سو نواهل مصرپه هغه باندی (۷۰) ورځې ژړا وکړه، اوامروکی یوسفؑ طبیبانو ته چې په ده باندی دی خوشبویاني ولویږي چې خراب نه سی، اودارنګه یې (۴۰) ورځې وځنډوی اوبیا اجازه واخسته یوسف علیه السلام دبادشاه څخه چې دخپل پلار سره ولاړسي چې دغه پټ کړي دخپل اهل سره یوځای، نوووتي یوسفؑ اودهغه سره مشران دمصر وه اوروان سو تردې چې مغارات ته ورسیدی هغه چې ابراهیم علیه السلام اخستی وو اوبیا دوی راله خپل ځای ته اودوی بیاپاته سوه په مصر کې اوبیایوسف علیه السلام ته مرګ حاضرسو نوده وصیت وکی چې دی دی دمصرڅخه وایستل سی کله چې دوی په خپله ووزی اودفن دی سی دخپلو پلرونو سره په مغارات کې نودی یې په تابوت کې واچوی او خوشبویاني یې پرولګولی اوپه مصرکی یې ښخ کی تردی چې موسٰی علیه السلام رالی اوبیایې دهغه ځای څخه وایستی اوپه مغارات کې ښخ کی. دوی ویلی دی چې دی د(۱۲۰) کالو وو کله چې دی وفات سو، اومبارك بن فضاله وایي دحسن څخه دی چې کله په څاه کې وغورځول سو نودی د (۱۷) کالو وو ،اوبیا دپلار څخه (۸۰) کاله غیب وو، اودهغه څخه یې وروسته (۳۳) کاله ژوند تیرکړی دی اودی وفات سوپه داسی حال کې چې دی د(۱۲۰) کالو وو. اوبعضو داویلی دی چې ده وصیت وکی خپل ورور یهوذا ته. والله تعالٰی اعلم.

## قصه دایوب علیه السلام

ابن اسحاق ویلی دی: دی وو دروم دعلاقی. اودی ایوب بن موص بن رازح بن العیص بن اسحاق بن ابراهیم الخلیل علیه السلام وو.
اوداسی نورو دده دنسب په باره کې داسی ویلی دی: ایوب بن موص بن رعویل بن العیص بن اسحاق بن یعقوب، اوداسی نور اقوال هم سته دده په نسب کې. اوابن عساکر ویلی دی چې مور دده دلوط علیه السلام لوروه، اوویل سوی دی چې دده پلار دهغه کسانو څخه وو چې په ابراهیم علیه السلام باندی یې ایمان راوړی په هغه ورځ چې ابراهیم علیه السلام ورته غورځول سوی وو. او مشهور اولني نسب دی، ولی چې دی داولاد دابراهیم علیه السلام څخه دی، لکه څه رنګه چې داپه دی قول دالله جل جلاله کی ذکردی: وَمِنْ ذُرِّيَّتِهِ دَاوُودَ وَسُلَيْمَانَ وَأَيُّوبَ وَيُوسُفَ وَمُوسَى وَهَارُونَ، الآیة په دی کې صحیح قول دا دی چې ضمیر راجع دی ابراهیم علیه السلام ته نه نوح علیه السلام ته.
اودی دهغو انبیاوو څخه دی چې دده په باره کې نص ذکرسوی دی دوحی په سورة النساء کې: إِنَّا أَوْحَيْنَا إِلَيْكَ كَمَا أَوْحَيْنَا إِلَى نُوحٍ وَالنَّبِيِّينَ مِنْ بَعْدِهِ وَأَوْحَيْنَا إِلَى إِبْرَاهِيمَ وَإِسْمَاعِيلَ وَإِسْحَاقَ وَيَعْقُوبَ وَالْأَسْبَاطِ وَعِيسَى وَأَيُّوبَ (سورة النساء \ ۱۲۳) پس صحیح خبره داده چې دی په اولاد

(c) ketabton.com: The Digital Library



دالعیص کی راځی اودده دښځی نوم (لیا) وه چی لور دیعقوب وه اوبعضو داویلی دی چی دده دښځی نوم (رحمت بنت افرائیم) اوویل سوی دی چی دده نوم (لیل بنت منیسا بن یعقوب) وه. اوداقول مشهوردی نوددی وجی څخه مودادلته ذکرکی اوبیادده څخه وروسته ذکردبنی اسرائیلو کوو اوهغه په دی باندی عطف کوو انشاء الله ﷻ .

الله ﷻ فرمایلی دی: وَأَيُّوبَ إِذْ نَادَى رَبَّهُ أَنِّي مَسَّنِيَ الضُّرُّ وَأَنْتَ أَرْحَمُ الرَّاحِمِينَ (۸۳) فَاسْتَجَبْنَا لَهُ فَكَشَفْنَا مَا بِهِ مِنْ ضُرٍّ وَآتَيْنَاهُ أَهْلَهُ وَمِثْلَهُمْ مَعَهُمْ رَحْمَةً مِنْ عِنْدِنَا وَذِكْرَى لِلْعَابِدِينَ (سورة الانبیاء ۸۳\ ۸۴). اودارنګه الله ﷻ فرمایلی دی: وَاذْكُرْ عَبْدَنَا أَيُّوبَ إِذْ نَادَى رَبَّهُ أَنِّي مَسَّنِيَ الشَّيْطَانُ بِنُصْبٍ وَعَذَابٍ (٤١) ارْكُضْ بِرِجْلِكَ هَذَا مُغْتَسَلٌ بَارِدٌ وَشَرَابٌ (٤٢) وَوَهَبْنَا لَهُ أَهْلَهُ وَمِثْلَهُمْ مَعَهُمْ رَحْمَةً مِنَّا وَذِكْرَى لِأُولِي الْأَلْبَابِ (٤٣) وَخُذْ بِيَدِكَ ضِغْثًا فَاضْرِبْ بِهِ وَلَا تَحْنَثْ إِنَّا وَجَدْنَاهُ صَابِرًا نِعْمَ الْعَبْدُ إِنَّهُ أَوَّابٌ (سورة ص ۴۱\ ۴۴).

اوروایت ذکرکړی دی ابن عساکر دکلبی څخه چی ده ویلی دی چی اول پیغمبر چی الله ﷻ رالیږلی دی ادریس ؑ دی اوبیا، نوح، اوبیا ابراهیم، اوبیا اسماعیل، اوبیا اسحاق، او بیا یعقوب، اوبیا یوسف، اوبیا لوط، اوبیا هود، اوبیا صالح، اوبیا موسی اوهارون، اوبیا الیاس، اوبیا الیسع، اوبیا عرفی بن سویلخ بن افرائیم بن یوسف بن یعقوب، اوبیا یونس بن متیٰ چی داولاد دیعقوب څخه دی، اوبیا ایوب بن زراح بن آموص بن لیفرز بن العیص بن اسحاق بن ابراهیم علیهم السلام .

اوپه بعضی ترتیب ددی کی نظر اوشبهه ده ولی چی دامشهوره ده چی هودؑ اوصالحؑ دنوح ؑ څخه وروسته دی اوچاویلی دی چی ابراهیم. والله اعلم، علماء دتفسیرونو اودتواریخو داویلی دی: وو ایوب ؑ ډیرپیسه دار سړی اومالونه ورسره هم ډیر وه دهر قسم نوعی څخه اوډیری مزکی ورسره وی دثنیی مزکی څخه ترحوران مزکی پوری ټوله مځکه دده وه. اوحکایت کړی دی ابن عساکر چی دده مځکه هم ډیره وه اواهل اواولاد یې هم ډیر وه. نو الله ﷻ ورڅخه داهرڅه واخیسته اوسلب یې کړه ورڅخه، اودده په بدن کی ډیری ناجوړی پیداسوی، اودده په بدن کی روغه حصه نه وه ماسوا دزړه څخه اوژبی څخه، چی په دی سره به یې ذکر دالله ﷻ کوی. اوده په دی ټولو حالاتو کی صبرکوونکی وو، اوذکرکوونکی وو دالله ﷻ په سهار اوماښام کی. اودده ناجوړی دومره اوږده سوه چی خلګو ورسره ناسته پرېښوولی اودخپل کلی څخه یې وایستی اودباندی یې یوبل ځای ته بوتلی اوهلته یې پرېښوول، اوخلګو ورسره انقطاع وکړه، اویوسړی هم بل نه وو چی دده سره یې څه کلام ساتی ماسوا دښځی دده څخه، چی دی ښځی به حق ورادا کوی اوخدمت به یې ورته کوی، ولی چی داښځی به دده هغه زاړه احسانات یادول اودده شفقت به یې یادوی ددې سره. نودا

(c) ketabton.com: The Digital Library



وه چې دده به یې مددکوی په قضایې حاجت کې اودده په نورو کارونوکې هم. نوددوی حال دومره خراب سو چې دی ښځې به یې دنورو کره په مزدوری باندی کارکوی اوروزی به یې تیروله، اوصبربه یې کوی دده سره په هغه حال کې چې بچیان ورځخه هم واخستل سوه او مالونه ورځخه هم واخستل سوه. اوهغه چې ددی خاوند ته رسیدلی دی دناجوړیو ځخه او، هغه چې دوی ته تنګدستی ورسیده وروسته دمالداری ځخه اودخلګو خدمت ته پاته سو وروسته دنعمت ځخه اوسعادت ځخه.

اوثابت سوی دی په حدیث کې درسول الله ﷺ ځخه چې فرمایلی یې دی: چې په ډیرسخت مصیبت کې راګیریدونکی انبیاء دی، اوبیا ورپه سی صالحان دی اوبیا ورپسی ددوی په شان چې ځوك وی (۱) اوبیایې وفرمایل چې پرانسان باندی دهغه ددین په اندازی هومره مصیبتونه راځی، دچاپه دین کې چې ډیر مضبوط والی وی نوهغومره مصیبتونه زیات پر راځی. اودا ناجوړیانو زیات نکړی ایوب عليه السلام مګر صبر اوحمد دالله جل جلاله چې دابه یې نورهم زیات کوی اودایوب عليه السلام صبر خلګ په ضرب المثل کې یعنی دمتل په طور دامثال خلګ ورکوی چې په دومره ناجوړیو کې دالله جل جلاله شکر کول دهرچا کارنه دی. اودارنګه روایت ذکرکړی دی وهب بن منبه اوداسی نورو علماوو دبنی اسرائیلو ځخه په قصه دایوب عليه السلام کې داوږدو خبرو ځخه، چې دده ځخه مال څه رنګه ولاړی اوبیایې اولاد څه رنګه ولاړی، او بیا داناجوړی څه رنګه ده ته ورسیده. اوبیاده ته الله جل جلاله خبرورکې په باره دصحت دده کې.

اودمجاهد ځخه نقل دی چې ایوب عليه السلام اولنی هغه سړی وو چې ده ته ناجوړی رسیدلی وه.

اودارنګه اختلاف کړی په موده دده دناجوړی کې: نوبعضو داویلی دی چې (۳۰) کاله ناجوړی یې تیره کړیده چې نه زیاته وه اونه کمه وه. اوانس رضي الله عنه ویلی دی چې (۷) کاله، په دی ناجوړی کې پروت وو تردی چې الله جل جلاله ورته شفا ورکړه. اوحمید ویلی دی چې په دی ناجوړی کې یې (۱۸) کاله تیرکړی دی، السدی ویلی دی چې دده ځخه غوښه ولویده تردی چې صرف هډوکی اودماغ یې پاته سوی وو اودده ښځې به ترده لاندی کانی اچول، نوکله چې داناجوړی پراوږده سوه نوښځې ورته وویل چې ای ایوبه عليه السلام که ته چیری رب ته دعا وکی نوستا ځخه به داناجوړی لیری کې اوپر موږ باندی به فراخی راولی، نوده وویل چې ما (۷۰) کاله په صحیح اوسالم وجود سره تیرکړی دی نودابه دالله جل جلاله دپاره لږوی چې زه (۷۰) کاله ورلره صبروکم. نودې به ورته بیا داخبره دوباره نه کوله اودی به یې خدمت کوی

---

(۱). صحیح الترمذی: کتاب الزهد، باب ماجاء فی الصبر علی البلاء (۴\ ۲۳۹۸) ابوعیسیٰ ویلی دی چې داحدیث حسن صحیح دی. اوحاکم ذکرکړی دی په مستدرك خپل کې (۱۳\ ۳۴۳) اوصحیح یې ورته ویلی دی، اواحمد په (۱\ ۱۷۲. ۱۷۴. ۱۸۰ ۱۸۵) دحدیث دسعد بن ابی وقاص ځخه. اوالطبرانی په الکبیر کې (۲۴\ ۲۲۲) دحدیث دابی عبیده بن حذیفه ځخه دی دخپل خاله ځخه چې فاطمه ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library



اومزدوری به یې کوله دخلګو اوایوب ؈ ته به یې دډوډۍ بندوبست کوی. بیاخلګوپه دی باندی مزدوری هم نه کوله چی ورته پته ولګیده چی دا دایوب ښځه ده، ددی بیری ځخه چی دوی ته داناجوړی چیری ونه رسیږی ددی دوجی نوکله چی دی ولیده چی څوك هم په دی باندی خدمت نه کوی نوخپل څه کالی یې خرځ کړه اوپه هغه باندی یې ښه ډیر طعام واخستی، اودده خواته راله نوده قسم ورته وکی چی زه به دې خوراك ته لاس هم ورنه وړم تردی چی ته ماته داونه وایی چی دادی دکمه کی؟ نودې ورته وویل چی خدمت می وکی دخلګو تردی چی خلګ په ما خبر سوه چی دا دایوب ؈ ښځه ده نوبیا یې کار نه راکوی اوبیا می خپله لوپټه هم خرځه کړه دډوډۍ دپاره، نوکله یې چی سرلځ سو اونور هیڅ نه وه نوبیایې وویل: أَنِّي مَسَّنِيَ الضُّرُّ وَأَنْتَ أَرْحَمُ الرَّاحِمِينَ.

اوابن ابی حاتم ویلی دی په نقل کولوسره دابی ځخه دی دابی سلمه ځخه دی دجریربن جازم ځخه اودی دعبدالله بن عمیر ځخه دی وایی چی: دایوب دوه وړونه وه، نوکله چی دده خوا ته راله نوورته نژدی کیدی نسوای نودلیری ځخه ورسره ودریده نوهغه یوبل ته وایی که چیری الله ﷻ ته دایوب ځخه څه دخیر علم وای نوپرده باندی به یې داناجوړیانی نه وای راوستلی نوایوب ؈ ته ددوی دخبری ځخه ډیر تکلیف ورسیدی اوبیایې دا دعا وکړه: یا الله که چیری تاته داپته وی چی مایوه شپه هم په ډکه خیټه خوراك نه وی کړی اوماته پته وی دلوږی په باره کی نوزما تصدیق وکی، نوتصدیق دده وسو داسمان ځخه اودوی دواړو واوریدی.

اودارنګه دابن ابی حاتم اوابن جریر ځخه نقل دی چی دوی نقل کوی دیونس بن عبدالاعلی ځخه دی دوهب ځخه اودی دنافع بن زید ځخه اودی دعقیل ځخه اودی دالزهری ځخه اودی دانس بن مالك ځخه اودی درسول الله ﷺ ځخه چی فرمایلی یی دی: یقیناً نبی الله ایوب ؈ وخت تیرکړی دی په ناجوړی خپله کی (۱۸) کاله، نودی پریښووی نیژدو اولیرو ټولو مګر دوه وروڼه دده چی خاص وروڼه دده وه. چی دده خواته به سهار اوماښام راتله، نوپه دوی کی یودی بل ته وویل: تاته پته سته چی ایوب داسی ګناه کړیده چی په دی دنیاکی داسی ګناه هیڅ چانه ده کړی تراوسه پوری، نودی بل ورته وویل هغه څه رکم؟ نوده ورته وویل چی ته نه ګوری چی د(۱۸) کالو راایسی پروت دی په دی ناجوړی کی اوالله ﷻ رحم نه پر کوی نودغه سړی چی ورته رالی نودایې ورته وویل چی هغه بل داسی خبره کوی، نو ایوب ؈ وفرمایل چی زه نه پوهیږم چی تاسی څه وایاست؟ غیر ددی ځخه چی دوو کسانو به دالله ﷻ نوم په جنګ کی واخیستی نوهغه به می منع کول ددې کار ځخه چی دالله ﷻ نوم دی دحق ځخه ماسوا په بل څه کی وانه خلی.

* * *

(c) ketabton.com: The Digital Library



اوذکرکړی یې دی چی: دی به قضایې حاجت ته وتی نوحاجت به یې پوره کی نوبیابه ښځی دلاس څخه ونیوی اوبیرته به یې راوستی، نویوه ورځ داورڅخه وروسته پاته سوه اولړ یې ناوخته کی نوالله ﷻ ورته وحی وکړی چی: ارْكُضْ بِرِجْلِكَ هٰذَا مُغْتَسَلٌ بَارِدٌ وَشَرَابٌ، (سورة ص ۴۲\) نوکله چی دا راله نوویې لیده چی الله ﷻ دده څخه هغه ناجوړی لیری کړی وه، اوپه هغه شکل باندی وو په کم باندی چی مخکی وو دناجوړی څخه نوکله چی دی ولیدی نو ورته یې وویل ای الله ﷻ دی برکت واچوی په تاکی: آیا مانه وو لیدلی دانبی دالله ﷻ چی په ناجوړی باندی ګرفتار وو؟ نوپه الله ﷻ می دی قسم وی چی مانه دی لیدلی ستا غوندی سړی په سړوکی کله چی صحیح وی یعنی ناجوړی درپکی نه وه. نودی ایوب ﷺ ورته وویل چی هم هغه ایوب یم.

اوابن ابی حاتم ویلی دی په نقل کولوسر هغه دابی څخه دی نقل کوی دموسیٰ بن اسماعیل څخه دی دحماد څخه دی دعلی بن زید څخه دی دیو سف بن مهران څخه دی دابن عباس څخه دی وایی چی ده ته الله ﷻ دجنت کپړی ورواغوستلی، نودی یوغاړی ته کښېنستی، نوکله چی دده ښځه راله نودی یې ونه پیژندی نوورته یې وویل ای بنده دالله، چیری ولاړی هغه ناجوړی چی دلته پروت وو؟ نوده ورته وویل چی کیدی سی هغه سپویا یاشرمښانو وړی وی، اوتریو ساعت پوری یې خبری ورسره کولی. نوورته ویې ویل چی مړه نه سی، زه ایوب یم، نودې ورته وویل چی ته په ماپوری مسخری کوی ای بنده دالله ؟ نوده ورته بیا وویل، چی مړه نه سی زه ایوب یم ماته الله ﷻ بیرته خپل بدن راکی. ابن عباس داسی ویلی دی: اوورکړه ده ته الله ﷻ خپل مالونه اواولاد اوهغه قوم اوغلامان چی دده وه. وهب بن منبه ویلی دی: وحی وکړی الله ﷻ ده ته چی مادرکی تاته ستا اولاد اوستا مالونه اوددوی په شان چی څه نوردی. نوته ولمبیږی په دی اوبوباندی نوپه دی کی ستا دپاره شفاده، اوته دخپلو خپلوانو څخه صدقه ورکړه، اودهغو دپاره استغفار طلب کړه، ولی چی هغوی زما نافرمانی کړیده ستاپه لحاظ سره. راوی ددی ابن ابی حاتم دی. اودارنګه ویلی دی ابن ابی حاتم په نقل کولو سره دابوزرعه څخه دی نقل کوی دعمر بن مرزوق څخه دی دهمام څخه اودی دقتاده څخه اودی دالنضربن انس څخه اودی دبشیر بن نهیك څخه اودی دابی هریره څخه دی دنبی ﷺ څخه چی فرمایلی یې دی: کله چی ایوب ﷺ ته الله ﷻ شفاء ورکړه نو دسروزرو باران یې پروکی چی دسروزرو تږی به پر راټوئیدلی نوده به را واخیستل اوپه کپړوکی به یې لګول، نوالله ﷻ ورته وفرمایل چی ته نه مړیږی ای ایوبه، نوده وویل چی ستاپه رحمت باندی به څوك مړیږی ای الله. (۱) اوهمدارنګه روایت ددی امام احمد هم کړی

(۱). الحاکم فی المستدرك (۲\ ۵۸۲) اوویلی یې دی چی داحدیث حسن صحیح دی په شرط دمسلم باندی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



دی دابی داود الطیالسی څخه اودعبد الصمد څخه چی دی دهمام څخه نقل کوی دی دقتاده څخه هم په دی الفاظو سره. اوامام احمدویلی دی په نقل کولو سره دسفیان څخه چی دی نقل کوی دابی الزناد څخه دی داعرج څخه دی دابی هریره څخه: ولیږلی یوسرې ایوب ﷤ ته دسروزرو ګینې نواخته سو ایوب ﷤ چی دایې لګول په کپړو خپلوکی، نو ورته وویل سوه چی ای ایوبه داکافی نه دی داکم چی موږ تالره درکړه؟ نوده وویل چی ای ربه زما څوك استغناء کوی ستا درحمت څخه؟ اودا موقوف روایت دی. اوددی روایت ذکر سوی دی دابی هریره څخه مرفوعًا. (١)

اوامام احمد ویلی دی په نقل کولو سره دعبدالرزاق څخه دی دمعمر څخه اودی دهمام بن منبه څخه اودی دابی هریره څخه دی وایی چی فرمایلی دی رسول الله ﷺ: وو ایوب ﷤ چی لمبیدی لڅ، نورالی ده ته یوسخی سرې چی ورسره سره زروه، نواخته سو ایوب ﷤ چی دایې په کالوکی لګول. نوالله ﷻ ورته دلوړ څخه اواز وکی چی: ای ایوبه زه تامالدار کوم په دغه څه سره چی تاته یې درکوم. نوده ورته وویل چی هیڅ شك نسته په دی خبره کی، خوزما هم استغناء نسته ستا درحمت څخه. (٢) راوی ددی امام بخاری هم دی دحدیث دعبد الرزاق څخه هم په دی الفاظو سره.

اوداقول د(أُرْكُضْ بِرِجْلِكَ) یعنی ووهه مځکه په پښی خپلی باندی نوده وکړه هغه چی ورته امرسوی وو په هغه باندی، نورا وټوکوله الله ﷻ ده ته داوبو چینه دمزکی څخه اوورته یې امر وکی چی په دی کی دی ولمبیږی اوددی څخه دی اوبه وڅښی نولیری کړه الله دده څخه هغه ناجوړی چی په ده باندی لګیدلی وه اوهغه ظاهر اوباطن دواړه خواوی دبدن یې ورلره ورکړی اوپوره صحت مند اوکامل اوښائسته یې ورلره ورکړی تردی چی مالونه اواولاد یې ورلره هم ورکړه، اودسرو زرو باران یې هم پروکی، اودده بچیان یې دده خلیفګان وګرځوله، لکه څه رنګه چی الله ﷻ فرمایلی دی (وَمِثْلَهُمْ مَّعَهُمْ) نوویل سوی دی چی ده ته الله ﷻ دخپل قوم سره بیاژوند ورکی، اوداهم ویل سوی دی چی دی ته یې اجرونه هم ورکړه او ددوی اولاد چی دده څخه وروسته راغلی وو هغوی ته یې هم ددی اجر ورکی اودآخرت دپاره یې هم ددوی اجر اونیکیانی پاته کړی. اوداقول (رَحْمَةً مِّنْ عِنْدِنَا) یعنی دالیری کول دسختی اوناجوړی دده څخه، دازموږ دخواه رحمت اواحسان دی پرده باندی: وَذِكْرٰى لِلْعَابِدِينَ، یعنی دانصیحت دی دهغه چادپاره چی په داسی ناجوړیانو باندی ګرفتاروی اویا

---

(١). احمد (٢\٢٤٣).

(٢). احمد (٢\٣١٤). صحیح البخاری: کتاب الغسل، باب من اغتسل عریانا (١\٢٧٩) اواطراف ددی په (٣٣٩١، ٧٤٩٣) کی دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



داولادو په ضائع کیدلو باندی گرفتاروی، نوددوی دپاره یومثال پروت دی په ژوند دنبی دالله ﷻ ایوب ﷺ کی چی ده په دومره تکلیف کی څه رنگه صبرکړی دی اوڅه رنگه یې دالله ﷻ څخه امید ساتلی دی، تردی چی هغه سختی یې ورلره په اسانی باندی اوپه خوشحالی باندی بدله کړه اوچا داویلی دی چی ددی څخه دایوب ﷺ دښځی دنوم پته لگیږی چی نوم یې (رحمة) وو. نودا خبره ډیره لیری ده الضحاك ویلی دی چی الله ﷻ ورلره ځوانی ورکړه اوزیاته یې کړه ورلره تردی چی دده (۲۶) زامن پیداسوه. اوددی څخه وروسته ایوب ﷺ (۷۰) کاله زندگی تیره کړه په مځکه دروم باندی په دین دابراهیم خلیل ﷺ باندی اوبیایې وروسته دده دین بدل کی اوداقول: وَخُذْ بِيَدِكَ ضِغْثًافَاضْرِبْ بِهِ وَلَا تَحْنَثْ إِنَّا وَجَدْنَاهُ صَابِرًا نِعْمَ الْعَبْدُ إِنَّهُ أَوَّابٌ، دارخصت دی دالله ﷻ دخواه ده ته، په باره دهغه څه کی چی ده قسم کړی وو چی خپله ښځه به سل درې وهی. نوویل سوی دی چی ده قسم کړی وو دوجی دخرڅولو دده دښځی دخپلو کوڅیو، اوویل سوی دی چی ددی وجی څخه چی دده ښځی ته شیطان ځان دطبیب په شکل جوړکړی وو اودی ایوب ﷺ ته داویلی وه نوبیایې قسم واخستی چی زه به تا (۱۰۰) درې وهمه، نوکله چی ورته الله ﷻ عافیت ورکی نودا فتوٰی یې ورلره ورکړه چی داتول یوځای کړه اوپه دی باندی دی یې یووار ووهه، نوپه دی سره به یې قسم پوره سی. نوددی وجی څخه ورلره الله ﷻ رخصت بیان کړی دی په ورپسی آیت کی په دی قول سره: إِنَّاوَجَدْنَاهُ صَابِرًا نِعْمَ الْعَبْدُ إِنَّهُ أَوَّابٌ، اودارنگه استعمال کړی دی ډیرو فقهاوو رخصت په باب دنذرونوکی اوپه باب دقسمونوکی، اودومره توسیع یې پکښی کړیده چی بهانی په کی جوړی کړی دی دپاره ددی چی دقسم څخه په خلاص سی. اودا رنگه ابن جریر اوداسی نورو علماوو دتاریخ داذکر کړی دی: چی ایوب ﷺ کله چی وفات سو نوعمریې (۹۳) کاله وو، اوویل سوی دی چی ددی څخه یې ډیر عمروو. اودارنگه لیث ذکرکړی دی دمجاهد څخه: چی په ورځ دقیامت کی به الله ﷻ بحث کوی دسلیمان ﷺ سره په باره دمالدارانوکی، اودیوسف ﷺ سره په باره دمریانوکی، اودایوب ﷺ سره په باره دناجوړیانو اوتکلیفونو والاکی. راوی ددی ابن عساکردی. اوده وصیت کړی دی خپل زوی (حومل) ته اودده پرکارونو باندی وروسته دده څخه زوی دده (بشر) قائم وو، اودی هغه دی چی ډیر خلگ داگمان پر کوی چی دی ذوالکفل ﷺ دی: والله اعلم. اووفات سوی دی دده دازوی په دی حال کی چی دی نبی وو او وو دده عمر (۷۵) کاله نودلته قصه دذی الکفل ذکر کوو، ولی چی بعضو داویلی دی چی دازوی دایوب ﷺ وو.

## بیان دقصی دذی الکفل ﷺ

هغه چی بعضی گمان دزوی دایوب ﷺ پرکوی الله ﷻ فرمایلی دی وروسته دقصی دایوب

(c) ketabton.com: The Digital Library



علیه السلام څخه: وَإِسْمَاعِيلَ وَإِدْرِيسَ وَذَا الْكِفْلِ كُلٌّ مِنَ الصَّابِرِينَ (٨٥) وَأَدْخَلْنَاهُمْ فِي رَحْمَتِنَا إِنَّهُمْ مِنَ الصَّالِحِينَ، (سورة الانبیاء ۸۲\۸۵). اودارنګه یې په بل ځای کی فرمایلی دی: وَاذْكُرْ عِبَادَنَا إِبْرَاهِيمَ وَإِسْحَاقَ وَيَعْقُوبَ أُولِي الْأَيْدِي وَالْأَبْصَارِ (٤٥) إِنَّا أَخْلَصْنَاهُمْ بِخَالِصَةٍ ذِكْرَى الدَّارِ (٤٦) وَإِنَّهُمْ عِنْدَنَا لَمِنَ الْمُصْطَفَيْنَ الْأَخْيَارِ (٤٧) وَاذْكُرْ إِسْمَاعِيلَ وَالْيَسَعَ وَذَا الْكِفْلِ وَكُلٌّ مِنَ الْأَخْيَارِ، (سورة ص ۴۵\ ۴۸). نوښکاره داخبره ده چی داهم دی نبیاوو څخه ووکم چی سادات دی اوبعضو دا ویلی دی چی دی نبی نه وو بلکی یونیك سړی وو. اودی وو چی دخپل قوم دبچو کفالت به یې کوی، اوددوی په مینځ کی به یې دعدل فیصلی اوکارونه کول نوددی وجی څخه ورته ذی الکفل ویل کیږی. اوروایت ذکرکړی دی ابن جریر اوابن ابی حاتم دطریقی دداود بن ابی الهند څخه دی دمجاهد څخه چی دی وایې: کله چی غټ سو الیسعؑ نوویې ویل: که چیری زه خلیفه وګرځوم یوسړی په خلګو باندی خلیفه اوبیا وګورم چی دوی څه رنګه کار کوی؟ نوخلګ یې راټول کړه اوورته یې وویل چی ستاسی څخه به څوك زما خلیفه توب قبول کړی په دی شرطونو سره: چی دورځی به روژه نیسی، اودشپی به لمونځونه اوقیام اللیل کوی، اوغصه به نه کوی؟ نویوسړی ولاړ سو اووی ویل چی، زه، نوده ورته وویل چی ته دورځی روژه نیسی، نوده وویل هو، اوبیایې ورته وویل، چی ته دشپی قیام اللیل کوی نوده وویل چی هو، اوبیایې ورته وویل چی ته غصه نه کوی نوده ورته وویل چی نه. نودی وایی چی، وریې کی ده ته خلافت، اوبیایې په دوهمه ورځ بیادغه رکم وویل نوټول چپ سوه اوهیڅ چا ږغ ونه کی، اوهغه سړی راولاړ سو. نوبیایې خلیفه کی. نودی وایی چی: وګرځیدی ابلیس چی ویل یې یوشیطان ورلی په وخت دقیلوله (چی دماپښین دخوب وخت وی) کی، اوداسړی به دشپی نه بیدیدی اونه به دورځی بیدیدی مګرپه دغه وخت کی. نو دروازه یې وروټکوله: نوده وویل چی څوك یې؟ نودی شیطان وویل زه بوډاسړی یم اوفقیر اومظلوم یم. نودی راولاړ سو اودروازه یې خلاصه کړه نودی شروع سو چی قصه یې ورته کوله، اوویل یې چی زما اوزما دقوم په منځ کی جګړه ده، اوهغوی زماسره وکړه چی څه یې کوله اواوږده یې کړه قصه تردی چی داوخت دقیلولی ختم سو نوده ورته وویل چی کله دفیصلو وخت وی نوپه هغه وخت کی راسه، نوکله چی دفیصلو وخت سو نودی یې ډیر ولټوی خوپیدایې نه کی دغه بوډا، بیاپه دوهمه ورځ بیا رالی نودی ذی الکفل ورته وویل چی تاته خوپرون ماویلی وه چی دفیصلی په وخت کی راسه نوته ولی رانه لی، نوده ورته وویل چی زما قوم دومره خبیث قوم دی چی هغوی ته پته ولګیږی چی ته ناست یې نوماته وایی چی تاته ستاحق درکوو اوچی ته ولاړی نوبیا دخپلی خبری څخه واوړی، نوپرده باندی یې دنن ورځ قیلوله هم خرابه کړه اوخوب ته یې پرینه ښووی نوده ورته بیا وویل چی

(c) ketabton.com: The Digital Library



دفیصلی په وخت کی راسه نودی بیانه رالی نوپه صبا باندی بیادی دخوب په وخت کی رالی نودده دراتګ څخه مخکی ذی الکفل خپل کور والاته امر کړی وو چی دننه راتلو ته به ثوك نه پریږدی، نوکله چی دی بیارالی نوکور والا ورته وویل چی شاته سه نوده ورته وویل چی ماته یې داوخت ښوولی دی چی په دی وخت کی راسه نوبیاهم کوروالا پری نه ښووی نودی دیوه سری څخه دی کمری ته دننه سو اوددننه خوا څخه یې دروازه وټکوله نو دی چی راولاړ سو نوګوری چی دروازه بنده ده اودی په کمره کی دننه دی، نوپوه سو چی دا شیطان دی نوورته ویې ویل چی آیا دالله ﷻ دښمن یې نوده وورته وویل چی هو! زه متعین سوی یم ددې دپاره چی تازما کار پرخپل ذمی باندی واخستی زه په څه طریقی باندی تا غصه (قهرجن) کړم. نوددی وجی څخه ده ته ذی الکفل (خاوند دذمی) ویل کیږی، ولی چی دده کار یې پرخپله ذمه اخستی وو اوبیایې پوره کوی.

اوهمدارنګه ابن ابی حاتم دابن عباس څخه روایت نقل کړی دی همداسی روایت اوهمدا رنګه روایت ذکرکړی دی عبدالله بن الحارث اومحمد بن قیس اوابن حجیره الاکبر اوداسی نورو سلفو هم داروایت ذکرکړی دی، اوهمدارنګه روایت نقل کړی دی ابن ابی حاتم دابی څخه دی دابو الجماهر څخه دی دسعید بن بشیر څخه دی دقتاده څخه دی دکنانه بن الاخنس څخه اودی دابوموسیٰ الاشعری څخه اودی پرمنبر باندی ولاړوو اودایې ویله. نه وو ذی الکفل پیغمبر بلکی دی یونیك سړی وو چی هره ورځ به یې (۱۰۰) نفلونه کوله، نو ددی وجی څخه ورته ذوالکفل ویل کیږی. اوروایت ذکرکړی دی ابن جریر دطریقی دعبد الرزاق څخه چی ده نقل کړی دی دمعمر څخه اوده دقتاده څخه دی وایی چی ابوموسیٰ الاشعری ویلی دی: همداسی یې روایت ذکرکړی دی منقطع، اوهرڅه چی هغه حدیث دی چی ذکرکړی دی امام احمد په نقل کولو سره داسباط بن محمد څخه دی دالاعمش څخه دی دعبدالله بن عبدالله څخه اودی دسعید څخه چی مولی دطلحه دی دی دابی عمر څخه دی وایی چی ما آوریدلی دی درسول الله ﷺ څخه یوحدیث چی نه می دی اوریدلی مګر یو یادوه واره اوهمداسی یې شمار وکی تراوو پوری، یعنی دومره واره به می اوریدلی وی خولیکن کیدی سی چی ددی څخه می زیات آوریدلی وی چی فرمایلی یې دی، ذوالکفل یوسړی وو په بنی اسرائیلو کی چی په خپلی ګناه باندی یې پروا نه وه اودهغه څخه به یې توبه نه کښله نوده ته راله یوه ښځه نوده ورلره (۶۰) دیناره ورکړه په دی شرط باندی چی دا به ورسره زناکوی، نوکله چی داسړی ددی ښځی په هغه ځای باندی کښېنستی په کم ځای کی چی ورلره سړی کښېنی نودی ښځی وژړل نوده ورته وویل چی ولی زه دی نسوم خوښ؟ نودی ښځی ورته وویل چی نه بلکه دادا سی کاردی چی مخکی ما هیڅکله نه دی کړی، خو

(c) ketabton.com: The Digital Library



اوس زه دمجبوری څخه داکار کوم، نودی سړی ورته وویل چې ته داکار کوی اومخکی تا هیځکله نه دی کړی. نوداسړی ورڅخه جلاسو اوورته یې وویل چې ځه ولاړه سه اودا دینار هم ستاسوه، اوبیانبی ﷺ وفرمایل چې بیاکله دی ذی الکفل ګناه نه ده کړی، نوکله چې دی مړسو په شپه کی نوسهار دده په دروازه باندی لیکل سوی وه چې الکفل ته الله ﷻ مغفرت کړی اوبخښلی یې دی (١) اوراوی ددی ترمذی دی دحدیث داعمش څخه هم په دی الفاظو سره اودایې ویلی دی چې داحسن دی اوذکرکړی دی داروایت بعضو نوموقوف کړی یې داپر علی بن عمر باندی، ولی چې په دی حدیث کی ډیر غرابت دی اودده په اسناد کی شبهه ده. اوکه چیری داحدیث محفوظ وی نوپه دی کی الکفل ذکرسوی دی نه ذو الکفل بغیر داضافت څخه اودا یوبل سړی دی نه هغه چې په قرآن کریم کی ذکرسوی دی.

## بیان دهغو امتونو چې په عام طور سره هلاک سوی دی

اوداټول مخکی دنازلیدلو دتورات څخه سوی دی په دی دلیل دقول دالله ﷻ سره: وَلَقَدْ آتَيْنَا مُوسَى الْكِتَابَ مِنْ بَعْدِ مَا أَهْلَكْنَا الْقُرُونَ الْأُولى، (سورة القصص\٤٣) لکه څه رنګه چې روایت کړی دی ابن ابی حامت اوابن جریر اوالبزار دحدیث دعوفی الاعرابی څخه چې ده نقل کړی دابی نضره څخه دی دابی سعید الخدری څخه دی وایی چې نه دی هلاك کړی الله ﷻ یو قوم هم وروسته دنازلیدلو دتورات څخه په عام طورسره مګر یوکلی والا چې دهغو څخه بیزوګیان جوړسوی وه. ته نه ګوری دی قول دالله ﷻ ته: وَلَقَدْ آتَيْنَا مُوسَى الْكِتَابَ مِنْ بَعْدِ مَا أَهْلَكْنَا الْقُرُونَ الْأُولى، اومرفوع ویلی دی دیته البزار، اودا اشبه خبره ده نوداخبره پردی باندی دلالت کوی چې په عمومی طورسره امتونه ټول دتورات نازلیدو څخه مخکی هلاك سوی دی. نو یو دهغوی څخه دی:

## اصحاب الرس

الله ﷻ فرمایلی دی: وَعَادًا وَثَمُودَ وَأَصْحَابَ الرَّسِّ وَقُرُونًا بَيْنَ ذَلِكَ كَثِيرًا (٣٨) وَكُلًّا ضَرَبْنَا لَهُ الْأَمْثَالَ وَكُلًّا تَبَّرْنَا تَتْبِيرًا (سورة الفرقان ١٢\١٤) اودارنګه الله ﷻ فرمایلی دی: كَذَّبَتْ قَبْلَهُمْ قَوْمُ نُوحٍ وَأَصْحَابُ الرَّسِّ وَثَمُودُ (١٢) وَعَادٌ وَفِرْعَوْنُ وَإِخْوَانُ لُوطٍ (١٣) وَأَصْحَابُ الْأَيْكَةِ وَقَوْمُ تُبَّعٍ كُلٌّ كَذَّبَ الرُّسُلَ فَحَقَّ وَعِيدِ، اوددی آیتونو څخه پته لګیږی چې دوی هلاك سوی دی اوکورونه یې هم وران سوی دی، ابن جریر ویلی دی چې دوی اصحاب الاخدود وه کم چې په سورة البروج کی ذکردی، ولی چې دوی په نزد دابن اسحاق باندی مخکی دمسیح څخه تیرسوی دی. اوپه دی کی نظردی.

---

(١). ضعیف الترمذی: کتاب صفت القیامت والقائق \ باب (٤٨) (١٤\ ٢٤٩٢) اواحمد (١٢\ ٢٣) اوحاکم (١٤\ ٢٥٤).

(c) ketabton.com: The Digital Library



اوروایت ذکرکړی دی ابن جریر دابن عباس څخه چی دوی یوکلی والاوه دقوم دثمود څخه. اودارنګه الحافظ ذکرکړی دی په الکبیر کی یعنی ابوالقاسم بن عساکر په اول دتاریخ کی، په وخت دجوړیدو ددمشق کی، دتاریخ دابی القاسم عبدالله بن عبدالله بن جراد اوداسی نورو څخه. چی دا اصحاب الرس یوقوم وه چی دوی ته الله ﷻ پیغمبر ولیږی چی نوم یې (حنظله بن صفوان) وو، نودوی ددی پیغمبر تکذیب وکی اودی یې قتل کی، نودوی وګرځیده عادبن عوص بن ارم بن سام بن نوح اوزوی دالرس وو. نودوی نازل سو په احقاف کی، نوهلاك کړه الله ﷻ دا اصحاب الرس اودوی خپاره سوه په یمن کی اودوی نیست اونا بود سوه په ټوله مځکه کی تردی چی جبرون بن سعدبن عاد بن عوص بن ارم بن سام نوح پکښی دمشق ته ولاړی اوهلته یې ښار جوړکی، اونوم یې پر کښیښنووی (جبرون)، اودا عادِ ارم دی چی خاوندان داوږدو اوږدو قدونو وه، اونه سته ددوی ښبانی دستنو په نورو ځایونو کی مګرچی په شام کی څومره دی، نودوی ته یې ولیږی هودﷺ یعنی دا عاد ته چی په احقاف کی وه نودوی دده تکذیب وکی، نوالله ﷻ هلاك کړه نوداهم داتقاضا کوی چی دوی دعاد څخه هم مخکی دی په موده دډیری زمانی سره. (۱)

اوروایت ذکرکړی دی ابن ابی حاتم دابی بکربن ابی عاصم څخه چی دی دخپل پلار څخه او دی دشبیب بن بشر څخه اودی دعکرمه څخه اودی دابن عباس څخه دی وایی چی: الرس: دا یوکلی دی په آذربیجان کی. اوالثوری ویلی دی دعکرمه څخه چی: الرس دا څاه درسو دی چی دوی په دی کی نبی غورزولی وو اوپه هغه کی یې دفن کړی دی.

ابن جریج اوعکرمه ویلی دی چی الرس: دا اصحاب یٰس دی. اوقتاده ویلی دی چی دوی دیمامه کلی خلګ وه. ماویلی دی که چیری اصحاب الرس، اصحاب یٰس وه نودوی هم په عام عذاب باندی هلاك سوی دی.

لکه څه رنګه چی الله ﷻ فرمایلی دی: إِنْ كَانَتْ إِلَّا صَيْحَةً وَاحِدَةً فَإِذَا هُمْ خَامِدُونَ، اوددی قصه به وروسته بیانیږی که څه هم بل څوك وی، خودی هم په عام عذاب باندی هلاك سوی دی. اوبنا برهر تقدیر دامنافی دی دقول دابن جریر سره. اودارنګه ابوبکرمحمد بن النقاش ویلی دی: چی ددی اصحاب الرس یوڅاه وو چی دهغه څخه به دوی خپل ضرورتونه پوره کول او دهغه په واسطه به یې خپل کښتونه اوبه کول اوباغونه به یې اوبه کول، اوددوی یوبادشاه وو چی ډیر عادل وو اوخوش اخلاق وو، کله چی داباشاه مړسو نودوی ډیرزیات دغم اظهار پروکی، نوچی یوڅو ورځی تیری سوی نودوی ته شیطان دهغه بادشاه په شکل رالی اودوی ته یې وویل چی: زه خومړسوی نه یم زه خوستاسی څخه هسی یوڅو ورځی لیری تللی وم

---

(۱). تاریخ عساکر (۱۱\۱۵).

(c) ketabton.com: The Digital Library



ددی دپاره چی ستاسی حالات وګورم په خپل نیستوالی کی، نودوی سخت خوشحاله سوه، اودا شیطان امروکی چی ددی اوددوی په منځ کی پرده ولګول سی اودوی ته یې داخبر ورکی چی زه به هیڅ کله نه مړکیږم اوهمیشه به ژوندی یم، نواکثرو کسانو دده تصدیق وکی، اودده په فتنه کی اخته سوه اودده عبادت یې کوی.
نوالله ﷻ دوی ته پیغمبر ولیږی نودوی ته یې خبر ورکی چی داشیطان دی اوستاسی سره دپردی څخه اخواته خبری کوی، اودوی یې منعه کړه دده دعبادت څخه، اودوی ته یې امر وکی په عبادت دالله ﷻ باندی. السهیلی ویلی دی چی ده ته په خوب کی وحی کیدلی، او دده نوم (حنظله بن صفوان) وو. نودوی ورسره دښمنی وکړه اوقتل یې کی اوپه څاه کی یې واچوی نودوی تږی سوه، اودرختی یې وچی سوی اومیوی یې خرابی سوی، اوکورونه یې وران سوه اودانسانیت دژوند څخه واوښته دوحشت ژوندته، اوددوی په ځایونو کی به بیا جنات اوحیوانان اوسیده. اوهغه چی ذکر کړی دی ابن جریر دمحمد بن حمید څخه چی ده نقل کړی دی دسلمه څخه اودی داسحاق څخه اودی دمحمد بن کعب القرظی څخه دی وایی چی فرمایلی دی رسول الله ﷺ یقیناً اول به جنت ته یوتور سړی دننه کیږی، اودا ددی وجی څخه چی الله ﷻ یوکلی والاته یوپیغمبر لیږلی وو نوپه هغه باندی هیڅ چا ایمان نه وو راوړی ماسوا دهغه تور سړی څخه، بیادهغه کلی والاوو دی پیغمبرته کنده وکښه او دی یې په هغه کنده کی وغورزوی او دلوړی خوا څخه یې ډبری پر واورولی، نونبی ؑ وفرمایل چی: نوبیا دغه سړی وو چی تلی به اوخاشی به یې ټولولی اوهغه به یې خرڅولی اوپه هغو پیسو باندی به یې خوراکه اخستله اودی نبی ته به یې راوړله اوتر هغه ډبره به یې ددی کندی څخه ورایستله اوده ته به یې ورکوله، اوبیابه بیرته راتلی. نودی په دغه ترتیب سره وو تر ډیر وخته پوری، نویوه ورځ دی ولاړی چی خاشی اولرګی برابر کړی نو خاشی یې برابری کی اوهغه یې وتړلی، نوکله چی یې رالوړکړل نوستړی والی یې محسوس کی نوپر اړخ پریوتی، نوالله ﷻ ورباندی خوب غالبه کی تردی چی (۷) کاله بیده پاته سو. بیادی راولاړسو اوستومانی یې وایستله اوپردی بل اړخ باندی پریوتی نوبیا الله ﷻ خوب پرغالب کی نوبیا تر (۷) کالو پوری بیده پاته سو. اوبیا راولاړ سو اوغوټه یې راپورته کړه اودده داګمان وو چی دی بیده نه وو مګرڅه حصه دورځ یانیمه ورځ، نورالی اوداخاشی یې خرڅی کړی اوخوراکه یې واخسته اوهغه کندی ته ورلی نونبی پکښی نه وو، ولی چی دی قوم را ایستلی وو اوایمان یې په راوړی وو اودده تصدیق یې کړی وو، نونبی ؑ فرمایلی دی چی دهغه نبی ددی تورسړی په باره کی پوښتنی کولی نوخلکو به ورته ویل چی موږ ته پته نسته تردی چی دغه نبی وفات سو نوپه هغه وخت کی داتور سړی دخوبه راولاړ سو. نو

(c) ketabton.com: The Digital Library



بیا رسول الله ﷺ وفرمایل چې دغه تورسړی به اول جنت ته دننه کیږی (۱) داحدیث مرسل دی اوپه مثل ددی کی نظردی، اوکیدای سی چې ده دامختصر کړی وی دکلام دمحمد بن کعب القرظی څخه، والله اعلم. بیا ردکړی دی پردی باندی ابن جریر په خپله، اوویلی یې دی چې ددی حمل کول پراصحاب الرس باندی نه صحیح کیږی کم چې په قرآن کی ذکردی. دی وایی چې الله ﷻ خبر ورکړی دی داصحاب الرس څخه چې دوی یې هلاك کړی دی او دلته دوی په نبی باندی ایمان راوړی دی. اوبیا چا داویلی دی چې دوی اصحاب الاخدود دی اوداقول ضعیف دی، اوبل داچې دوی ته وعده ورکول سویده دآخرت دعذاب که چیری دوی توبه ونه کاږی. اوپه دنیاکی ددوی هلاکت نه دی ذکر سوی.

## قصه د قوم د یٰس

دوی اصحاب القریه (دکلی خاوندان) دی اصحاب یس.

الله ﷻ فرمایلی دی: وَاضْرِبْ لَهُمْ مَثَلًا أَصْحَابَ الْقَرْيَةِ إِذْ جَاءَهَا الْمُرْسَلُونَ (١٣) إِذْ أَرْسَلْنَا إِلَيْهِمُ اثْنَيْنِ فَكَذَّبُوهُمَا فَعَزَّزْنَا بِثَالِثٍ فَقَالُوا إِنَّا إِلَيْكُمْ مُرْسَلُونَ (١٤) قَالُوا مَا أَنْتُمْ إِلَّا بَشَرٌ مِثْلُنَا وَمَا أَنْزَلَ الرَّحْمَنُ مِنْ شَيْءٍ إِنْ أَنْتُمْ إِلَّا تَكْذِبُونَ (١٥) قَالُوا رَبُّنَا يَعْلَمُ إِنَّا إِلَيْكُمْ لَمُرْسَلُونَ (١٦) وَمَا عَلَيْنَا إِلَّا الْبَلَاغُ الْمُبِينُ (١٧) قَالُوا إِنَّا تَطَيَّرْنَا بِكُمْ لَئِنْ لَمْ تَنْتَهُوا لَنَرْجُمَنَّكُمْ وَلَيَمَسَّنَّكُمْ مِنَّا عَذَابٌ أَلِيمٌ (١٨) قَالُوا طَائِرُكُمْ مَعَكُمْ أَئِنْ ذُكِّرْتُمْ بَلْ أَنْتُمْ قَوْمٌ مُسْرِفُونَ (١٩) وَجَاءَ مِنْ أَقْصَى الْمَدِينَةِ رَجُلٌ يَسْعَى قَالَ يَا قَوْمِ اتَّبِعُوا الْمُرْسَلِينَ (٢٠) اتَّبِعُوا مَنْ لَا يَسْأَلُكُمْ أَجْرًا وَهُمْ مُهْتَدُونَ (٢١) وَمَا لِيَ لَا أَعْبُدُ الَّذِي فَطَرَنِي وَإِلَيْهِ تُرْجَعُونَ (٢٢) أَأَتَّخِذُ مِنْ دُونِهِ آلِهَةً إِنْ يُرِدْنِ الرَّحْمَنُ بِضُرٍّ لَا تُغْنِ عَنِّي شَفَاعَتُهُمْ شَيْئًا وَلَا يُنْقِذُونِ (٢٣) إِنِّي إِذًا لَفِي ضَلَالٍ مُبِينٍ (٢٤) إِنِّي آمَنْتُ بِرَبِّكُمْ فَاسْمَعُونِ (٢٥) قِيلَ ادْخُلِ الْجَنَّةَ قَالَ يَا لَيْتَ قَوْمِي يَعْلَمُونَ (٢٦) بِمَا غَفَرَ لِي رَبِّي وَجَعَلَنِي مِنَ الْمُكْرَمِينَ (٢٧) وَمَا أَنْزَلْنَا عَلَى قَوْمِهِ مِنْ بَعْدِهِ مِنْ جُنْدٍ مِنَ السَّمَاءِ وَمَا كُنَّا مُنْزِلِينَ (٢٨) إِنْ كَانَتْ إِلَّا صَيْحَةً وَاحِدَةً فَإِذَا هُمْ خَامِدُونَ. (سورة یس ۱۳\ ۲۹).

دامشهوره سویده دډیرو سلفو څخه چې داکلی د (انطاکیه) دی. راوی ددی ابن اسحاق دی دایې نقل کړی دی دابن عباس څخه اودکعب الاحبار څخه اودوهب بن منبه څخه، اوهمدا رنګه روایت ددی نقل سوی دی دبریده بن الخصیب څخه اودعکرمه څخه اودقتاده څخه اودالزهری څخه اودی یې دنورو څخه. ابن اسحاق ویلی دی: چې ددی یوبادشاه وو چې انطخیس بن انخطیس وو، اوده به دبتانو عبادت کوی. نودوی ته الله ﷻ درې رسولان ولیږله چې (صادق، مصدوق، شلوم) وه، نودوی دهغو تکذیب وکی، اوداظاهره ده چې دوی

---

(۱). ددی تخریج ابن اسحاق کړی دی اوابن جریر دمحمد بن کعب القرظی څخه نقل کړی دی. اوهمدارنګه ویلی دی السیوطی په الدر المنثور کی (۲\ ۲۵۷).

(c) ketabton.com: The Digital Library



دالله ﷻ دخواه رسولان وه، اوګمان کړی دی قتاده چی دوی رسولان دمسیح ﷺ وه.
اوهمدارنګه ابن جریر ویلی دی دوهب څخه دی دابن سلیمان څخه دی دشعیب الجبایی څخه: چی دمخکنی رسولانو نومونه (شمعون. یوحنا، بولس) اوهغه کلی (انطاکیه) وو. اودا قول ضعیف دی. ولی چی انطاکیه والاته کله چی الله ﷻ رسولان ولیږل دری پیغمبران نو اول ښارو والا هغه وه چی په مسیح باندی یې ایمان راوړی وو. اواهل دهغه کلی چی په قرآن کی ذکرسوی دی نوهلاك سوی دی. لکه څنګه چی یې په آخرددی قصی کی ذکرکړی دی وروسته دوژلو دخپل پیغمبر څخه: إِنْ كَانَتْ إِلَّا صَيْحَةً وَاحِدَةً فَإِذَا هُمْ خَامِدُونَ، خو لیکن اولنی دری پیغمبران چی کم ذکرسوه هغه لیږل سوی دی انطاکیه والاوته نودوی دده تکذیب وکی نوالله هلاك کړه، بیاچی کله دوباره ددوی ابادی وسوه نوبیا ورته مسیح راولیږل سو نوپه هغه باندی دوی بیا ایمان راوړی وو. والله اعلم.
هرڅه چی داخبره چی ددی قصی څخه چی په قرآن کریم کی ذکرسویده ددی څخه اصحاب المسیح مرادوی نودا ضعیفه خبره ده. او دظاهر سیاق دقرآن څخه داپته لګیږی چی دوی رسولان دالله ﷻ دخوا څخه هغه قوم ته وه ماسوا دمسیح څخه. الله ﷻ فرمایلی دی (وَاضْرِبْ لَهُمْ مَّثَلاً) یعنی خپل قوم ته ای محمد ﷺ (اَصْحٰبَ الْقَرْيَةِ) یعنی ددغه ښار والاو : إِذْ جَاءَهَا الْمُرْسَلُونَ (۱۳) إِذْ أَرْسَلْنَا إِلَيْهِمُ اثْنَيْنِ فَكَذَّبُوهُمَا فَعَزَّزْنَا بِثَالِثٍ، یعنی دوی داخبره پر رد کړه چی تاسی هم دهغو نورو دوو په شان انسانان یاست، اودوی داخبره لیری ګڼله چی الله ﷻ انسان هم پیغمبرکوی اوخلګو ته یې لیږی، نودی پیغمبرانو ورته وویل چی الله ﷻ ته داپته سته چی موږ دهغه دخوا پیغمبران یو که څه هم تاسی زموږ تصدیق نه کوی، اوکه چیری موږ دروغ ویله نوالله ﷻ به موږ ته عذاب راکړی وی اوتاسی په دی خبری سره مستحق دعذاب ګرځی: وَمَا عَلَيْنَا إِلَّا الْبَلَاغُ الْمُبِينُ یعنی په موږ باندی دومره لازم دی چی موږ تاسی ته دالله پیغام راورسوو، اوباقی هدایت دالله ﷻ په لاس کی دی چی چالره هدایت ورکوی اوڅوك ګمراه کوی (قَالُوْا اِنَّا تَطَيَّرْنَا بِكُمْ) یعنی موږ بدفالی نیولی ده په هغه څه سره چی تا زموږ دپاره راوړی دی اوموږ ته یې بیانوی: لَئِنْ لَمْ تَنْتَهُوا لَنَرْجُمَنَّكُمْ، یعنی موږ به تا وترټو په ویناسره اوپه وهلو سره: وَلَيَمَسَّنَّكُمْ مِنَّا عَذَابٌ أَلِيمٌ یعنی دوی به ورته وعده دقتل ورکړه اودایې ورته وویل چی زموږ دخوابه ستاسی سپکاوی وسی که چیری تاسی دغه کار پرینه ښووی (قَالُوْا طٰٓئِرُكُمْ مَّعَكُمْ) دابد فالی رد سویده پرتاسی باندی (اَئِنْ ذُكِّرْتُمْ) یعنی په سبب ددی چی زه تاسی ته دآخرت یادانښت کوم تاسی ماته وعده دقتل راکوی او زمادسپکاوی اراده کوی: بَلْ أَنْتُمْ قَوْمٌ مُسْرِفُونَ یعنی تاسی حق قبلونکی نه یاست اونه ورته ستاسی اراده سته چی قبول یې کړی. داقول دابن جریر دی خو اولنی قول ښه دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



اوداقول دالله ﷻ: وَجَاءَ مِنْ أَقْصَى الْمَدِينَةِ رَجُلٌ يَسْعَى، يعنی دنصرت درسول دپاره او دښکاره کولو دايمان دپاره په هغو رسولانو باندی: قَالَ يَا قَوْمِ اتَّبِعُوا الْمُرْسَلِينَ (۲۰) اتَّبِعُوا مَنْ لَا يَسْأَلُكُمْ أَجْرًا وَهُمْ مُهْتَدُونَ، يعنی تاسی ته دعوت درکوی دحق خواته بغيردځه نفعی ځخه اوبغير دځه پيسو ځخه. بيياده په خپله دوی ته دعوت شروع کی اوورته يې وويل چی عبادت وکی دهغه الله ﷻ په وحدت سره اوشريك ورلره مه جوړوی، اودوی يې منع کړه دعبادت دغيرو ځخه چی په هغه کی نه ددنيا نفع سته اونه دآخرت نفع سته: إِنِّي إِذًا لَفِي ضَلَالٍ مُبِينٍ، يعنی که ما پريښووی عبادت دالله ﷻ اودبل چاعبادت می شروع کی. بيايې دپيغمبرانو خوا ته مخ کی اودايې ورته وويل: إِنِّي آمَنْتُ بِرَبِّكُمْ فَاسْمَعُونِ، ويل سوی دی: چی واوری زماداخبره اوپه دی باندی شاهدی وکی دالله ﷻ خواته زما دپاره، اوچا ويلی دی معنی ددی داسی ده: واوری ای زما قوم والاو چی ماښکاره ايمان راوړی دی په دی پيغمبرانو باندی نوپه دغه وخت کی يې داسړی مړکی. اوچا ويلی دی چی دی يې په وهلو باندی وژلی دی. اوچا ويلی دی چی پرده باندی يې يوه حمله وکړه دوی ټولو اومړ يې کی. اوحکايت کړی دی ابن اسحاق دابن مسعود ځخه دی وايی چی په خپلو کسانو باندی يې دده سره بدفعلی وکړه تر دی چی دده کولمی راووتی. اودارنګه روايت ذکرسوی دی دالثوری ځخه چی ده نقل کړی دی دابن ابی مجلز ځخه چی ددې سړی نوم (حبيب بن مری) وو اوبيايې ويلی دی، چی دی نجار وو، اوويل سوی دی چی دی موچی وو، اوويل سوی دی چی دی دوبی وو، او ويل سوی دی چی دی بنا وو، او ويل سوی دی چی ده به عبادت کوی په يوغار کی په دغه ځای کی. والله اعلم.

اوداابن عباسؓ ځخه نقل دی چی پرده باندی ډير ژر دجذام ناجوړی لګيدلی وه، اوده به ډيری صدقی ورکولی نودی مړکی دخپل قوم خلګو، نوددی وجی ځخه الله ﷻ فرمايلی دی (قِيلَ ادْخُلِ الْجَنَّةَ) يعنی کله چی دی ووژی قوم دده نوالله ﷻ ورته وويل چی دننه سه جنت ته، نوکله چی دی دجنت خوشحاليانی اومنظری وکتلی نو وې ويل: قَالَ يَا لَيْتَ قَوْمِي يَعْلَمُونَ (۲۶) بِمَا غَفَرَ لِي رَبِّي وَجَعَلَنِي مِنَ الْمُكْرَمِينَ، يعنی چی ايمان يې راوړی وای په هغه ځه چی ما ايمان په راوړی دی نودوی ته به هم حاصل سوی وای هغه ځه چی ماته حاصل سوی دی، ابن عباس ويلی دی چی ده نصيحت کړی وو خپل قوم ته په ژوندکی په دی قول سره: قَالَ يَا قَوْمِ اتَّبِعُوا الْمُرْسَلِينَ، اودمرګ ځخه وروسته په دی قول سره: قَالَ يَا لَيْتَ قَوْمِي يَعْلَمُونَ (۲۶) بِمَا غَفَرَ لِي رَبِّي وَجَعَلَنِي مِنَ الْمُكْرَمِينَ، راوی ددی ابن ابی حاتم دی. اودارنګه قتاده ويلی دی چی مومن دی دبل مومن سره نه يوځای کيږی مګرهغه ته به نصيحت کوی اودوکه به ورسره نه

(c) ketabton.com: The Digital Library



کوی، ولی چې مومن ته الله ﷻ ډیر عزت اوکرامت ورکړی دی. قتاده ویلی دی چې الله ﷻ په دوی باندی بیاځه پرواه ونه ساتله وروسته دقتل دده څخه: إِنْ كَانَتْ إِلَّا صَيْحَةً وَاحِدَةً فَإِذَا هُمْ خَامِدُونَ، اوداقول دالله ﷻ: وَمَا أَنْزَلْنَا عَلَى قَوْمِهِ مِنْ بَعْدِهِ مِنْ جُنْدٍ مِنَ السَّمَاءِ وَمَا كُنَّا مُنْزِلِينَ یعنی پر دوی باندی مونورحجت قائم نکی مګر داچې انتقام موورڅخه واخستی په رالیږلو دلښکر سره دآسمان څخه پر دوی باندی.

اوابن اسحاق اوقتاده اوابن مسعود وایی چې دلښکر څخه مراد بل رسالت دی یعنی دوی ته موږ بل رسول راونه لیږی دآسمان څخه. ابن جریر وایی چې اولنی معنٰی ښه ده. ماویلی دی چې ښه نه بلکی قوی معنٰی ده. نوددی وجی څخه یې ویلی دی (وَمَا كُنَّا مُنْزِلِيْنَ) یعنی موږ ته حاجت پاته نه سو چې موږ ددوی څخه انتقام واخلو وروسته ددی څخه چې دوی زموږ دنبی تکذیب وکی اوزموږ اولیاء یې قتل کړه: إِنْ كَانَتْ إِلَّا صَيْحَةً وَاحِدَةً فَإِذَاهُمْ خَامِدُونَ، مفسرینو ویلی دی: چې الله ﷻ دوی ته جبریل ولیږی اوپر دوی باندی یې یوه چیغه ووهل نودوی ټول چپ اوخاموش پراته وه، ولی چې دوی هلاك سوه دوجی دتکذیب کولو دخپل پیغمبر هغه چې الله ﷻ دوی ته ورلیږلی وو، اوانطاکیه والاوپه مسیحؑ باندی ایمان راوړی دی اودهغه نصرت یې کړی دی. نوددی وجی څخه ویل کیږی چې انطاکیه اول کلی دی چې دوی په مسیح باندی ایمان راوړی دی. هرڅه چې هغه حدیث دی چې نقل کړی دی الطبرانی دحدیث دحسین الاشقر څخه. ([1])

دسفیان بن عتبه څخه دی دابن ابی نجیح څخه دی دمجاهد څخه دی دابن عباس څخه دی دنبی ﷺ څخه چې فرمایلی یې دی، مخکی کیدونکی دری دی اول مخکی کیدونکی موسٰی ؑ ته یوشع بن نون دی، اومخکی کیدونکی عیسٰی ؑ ته صاحبِ یٰسٓ دی، او مخکی کیدونکی محمد ﷺ ته علی بن ابی طالب دی ([2]) داحدیث ثابت نه دی، ولی چې په دی کی حسین دی اودی دهغه زیاتی کوونکو اوغلو والا شیعګانو څخه دی، اوپه دی روایت باندی یې یواځی والی کړی دی اودی ضعیف دی دهری وجی څخه. والله اعلم.

## قصه د یونس ؑ

الله ﷻ فرمایلی دی: فَلَوْلَا كَانَتْ قَرْيَةٌ آمَنَتْ فَنَفَعَهَا إِيمَانُهَا إِلَّا قَوْمَ يُونُسَ لَمَّا آمَنُوا كَشَفْنَا عَنْهُمْ عَذَابَ الْخِزْيِ فِي الْحَيَاةِ الدُّنْيَا وَمَتَّعْنَاهُمْ إِلَى حِينٍ (سورة یونس\۹۸) مفسرینو ویلی دی چې الله

---

([1]). الحسین بن الحسن الاشقر الفزازی. الکوفی، دی وفات دی په کال (۲۰۸) هجری کی، تقریب التهذیب دابن حجر العسقلانی، ترجمة رقم = (۱۳۱۸).

([2]). ضعیف الطبرانی کبیر (۱۱۵۲۱۱)، هیثمی ویلی دی په المجمع کی (۹\ ۱۰۲) راوی ددی طبرانی دی اوپه دی کی حسین بن حسن الاشقردی ده ته ابن حبان ثقه ویلی دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ﷻ یونس ؑ د(نینوی) دکلی خلګو ته لیږلی وو چی دا دالموصل خواته دی، نودوی تکذیب دده وکی اودخپل کفر خوا ته یې ترجیح ورکړه اوهمیشه والی یې وکی په خپل کفر باندی اوپر خپل ضدباندی کلك ولاړوه، نوکله چی دوی ډیر اوږدوالی وکی په دی خپل کفرکی نودی ددوی دمینځ څخه راووتی، اودوی ته یې وعده ورکړه چی په دوی باندی به عذاب نازلیږی ددرو ورځو څخه وروسته ابن مسعود اومجاهد اوسعید بن جبیر اوقتاده ویلی دی. کله چی دی ددوی دمنځ څخه ووتی، اودوی ته یې خبر ورکی چی پردوی باندی به عذاب نازلیږی نوالله ﷻ ددوی په زړونوکی انابت اورجوع واچوله اودتوبی خوا ته مائله سوه اوپه خپلو کړو باندی پښیمانه سوه نودوی ټولو سوال اوزاری وکړه دی خپل نبی ته او ټولو ورته عاجزی ښکاره کړه اوځانونه یې ورته مسکینان کړه سړو اوښځو اوځوانانو او سپین ږیرو اوکوشنیانو ټولو ورته ژړا شروع کړه تردی چی ټولو حیوانانو هم اوازونه شروع کړه. نوالله ﷻ ددوی څخه عذاب لیری کی اوداعذاب پردوی باندی تیرسو په شان دتوری شپی. نوددی وجی څخه الله ﷻ فرمایلی دی: فَلَوْلَا كَانَتْ قَرْيَةٌ آمَنَتْ فَنَفَعَهَا إِيمَانُهَا یعنی په تیرو سوو کلوکی که یوه هم ایمان راوړی وای نوهغه ته به هغه ایمان فائده ورکړی وای، نوداپر دی خبری باندی دلالت کوی چی مخکی داسی کلی نه دی تیرسوی چی ایمان یې راوړی وی، بلکی الله ﷻ فرمایلی دی: فَلَوْلَا كَانَتْ قَرْيَةٌ آمَنَتْ فَنَفَعَهَا إِيمَانُهَا یعنی چی ایمان راوړی وی ټولو، اودارنګه اختلاف کړی دی مفسرینو: چی آیادوی ته دغه ایمان په آخرت کی فائده ورکوی اوکه نه، چی دوی دعذاب څخه خلاص کی لکه څه رنګه چی یې په دنیاکی دعذاب څخه خلاص کړی وه؟ بنا پردوو قولو. یوخوداچی هو دوی ته به فائده ورکوی اوداظاهره ده دسیاق دآیت څخه، لکه څه رنګه چی الله ﷻ فرمایلی دی (لَمَّآ ءَامَنُواْ) اودارنګه یې فرمایلی دی: وَأَرْسَلْنَاهُ إِلَى مِئَةِ أَلْفٍ أَوْ يَزِيدُونَ (۱٤۷) فَآمَنُوا فَمَتَّعْنَاهُمْ إِلَى حِينٍ، اودامتاع الی حین نه دی مګر داچی دغه ایمان به خلاصونکی وی ددوی په آخرت کی، والله اعلم.

اودوی (۱۰۱۰۰) زر کسان وه. اواختلاف سوی دی ددی څخه په زیادت کی نومکحول ویلی دی چی (۱۰۰۰۰) کسان وه اوابن عباس ویلی دی چی (۳۰۰۰۰) کسان وه. اوسعید بن جبیر ویلی دی چی (۷۰۰۰۰) زره کسان وه. اوپه دی کی هم اختلاف سوی دی چی دی ددی دوتلو څخه مخکی ورلیږل سوی دی اوکه وروسته ؟ اویادوی دواړه په یووخت کی سوی دی؟ داپه دری قولونو سره دی چی په تفسیرونو کی ذکرسوی دی. اومقصود دا دی چی دی کله په غصی سره دخپل قوم خواته ولاړی، نودی کښېنستی په یوه کښتی کی نودا کښتی پردوی باندی درنه سوه اوموجونه پر ډیرسوه اونژدی وه چی غرقه سوی وای بناپه هغه قول سره چی په تفسیرونو کی ذکردی: نودوی مشوره وکړه په خپل مینځ کی چی قرعه

(c) ketabton.com: The Digital Library



اندازی (هسکه\ پچه) وکړی نوچی دچانوم راوختی نو هغه به دکښتی څخه ځان غورزوی اوبوته. نوکله چی دوی قرعه وکړه نودیونس ﷺ نوم راوختی نودوی ده ته اجازه ورنه کړه چی دی ځان وغورزوی. نودوی بیاپه دوهم وار باندی قرعه اندازی وکړه نوبیا دده نوم را وختی، نوده خپلی کپړی وکاږلی اوځان یې برابروی چی اوبو ته ورولویږی، نودوی بیاپړی نه ښووی. په دریم وار بیادده نوم راوختی نوده ځان اوبو ته ورایله کی، ولی چی الله ﷻ څه غواړی هغه کوی. الله ﷻ فرمایلی دی: وَإِنَّ يُونُسَ لَمِنَ الْمُرْسَلِينَ (۱۳۹) إِذْ أَبَقَ إِلَى الْفُلْكِ الْمَشْحُونِ (۱۴۰) فَسَاهَمَ فَكَانَ مِنَ الْمُدْحَضِينَ (۱۴۱) فَالْتَقَمَهُ الْحُوتُ وَهُوَ مُلِيمٌ (سورة ص: ۱۳۹ \ ۱۴۲) نوکله چی دی په اوبو کی وو نودی تیر کی ماهی چی غټ ماهی وو، اوویل سوی دی چی دا ماهی بل ماهی وخوړی اوتیر یې کی. دوی ویلی دی: کله چی دی دماهی خیټی ته ورسیدی نوده گمان وکی چی مړسومه اوکله یې چی ځان وښوروی نوبیایې اندازه وسوه چی ژوندی دی، نودی په سجده پریوتی الله ته. اوداییې وویل چی ای ربه زما تاته ماسجده گاه وگرځوله داسی ځای چی په داسی ځای کی تاته چاسجده نه ده کړی. اواختلاف سوی دی په موده دتیرولو دده په خیټه دماهی کی نومجالد دالشعبی څخه نقل کړی دی: چی ماپښین یې تیرکړی وو اوماخستن یې راوایستی، اوقتاده ویلی دی: دری ورځی یې تیری کړی دی، اوجعفر الصادق ویلی دی چی: اووه ورځی یې تیری کړی دی. اوسعید بن ابی الحسن اوابو مالك ویلی دی چی: (۴۰) ورځی یې تیرکړی دی. اوالله ته صحیح علم دی چی څوورځی یې تیری کړی دی. نومقصود داچی داماهی به په سمندرکی گرځیدی را گرځیدی اوددی تسبیح اوذکر کول دالله ﷻ دا یونس ﷺ اوریدی. لکه څه رنگه چی ددی قصی څخه خبر ورکړی دی الله ﷻ په خپل کتاب کی: وَذَا النُّونِ إِذْ ذَهَبَ مُغَاضِبًا، یعنی خپل اهل اوکور والاته: فَظَنَّ أَنْ لَنْ نَقْدِرَ عَلَيْهِ فَنَادَى فِي الظُّلُمَاتِ أَنْ لَا إِلَهَ إِلَّا أَنْتَ سُبْحَانَكَ إِنِّي كُنْتُ مِنَ الظَّالِمِينَ (۸۷) فَاسْتَجَبْنَا لَهُ وَنَجَّيْنَاهُ مِنَ الْغَمِّ وَكَذَلِكَ نُنْجِي الْمُؤْمِنِينَ، فَظَنَّ أَنْ لَنْ نَقْدِرَ عَلَيْهِ یعنی تنگوالی پرده باندی. ویل سوی دی چی عام تقدیر مراددی: فَنَادَى فِي الظُّلُمَاتِ ابن مسعود رضی الله عنه اوابن عباس اوعمربن میمون اوسعید بن جبیر اومحمد بن کعب اوالحسن اوقتاده او الضحاك دوی ټولو ویلی دی: په تیاره دسمندرکی اوپه تیاره دنس دماهی کی اوپه تیاره دشپی کی. اوسالم بن ابی الجعد ویلی دی: دی ماهی تیرکی اوهغه ماهی بل ماهی تیرکی نودری تیاری یوځای سوی یوه تیاره دیوه ماهی اوبله دبل ماهی اوبله دسمندر تیاره: فَلَوْلَا أَنَّهُ كَانَ مِنَ الْمُسَبِّحِينَ (۱۴۳) لَلَبِثَ فِي بَطْنِهِ إِلَى يَوْمِ يُبْعَثُونَ، معنى ددی داده که چیری ده په هغه ځای کی دالله ﷻ تسبیح نه وای کړی نودی به ترقیامته پوری په دغه ځای کی پروت وای،

(c) ketabton.com: The Digital Library



دا معنی نقل کړل سویده دسعیدبن جبیر څخه په یو دوو روایتونو سره. اوویل سوی دی چی ددی معنی داسی ده (فَلَوْلَا أَنَّهُ كَانَ) یعنی مخکی دتیرولو دماهی څخه (مِنَ الْمُسَبِّحِينَ) یعنی داطاعت کونکو څخه اودلمونځ کونکو څخه. داروایت ذکرکړی دی الضحاك اوابن قیس اوابن عباس اوابو العالیه اووهب بن منبه اوحسن بصری اوقتاده اوسعید بن جبیر او السدی اوداسی نورو. اوپردی باندی دلالت کوی هغه روایت داحمد چی نقل کړی یې دی دابن عباس څخه چی رسول الله ﷺ فرمایلی دی، ته یادلره الله نوالله به تایاد لری. ته الله یاد ساته نوته به یې پیداکی په خپل مخ کی. ته الله یادکړه په خوشحالی کی الله به تایاد کړی په غم اوخفګان کی. (۱)
اوروایت نقل کړی دی ابن جریر په تفسیر خپل کی اوالبزار په مسند خپل کی دحدیث دمحمد بن اسحاق څخه په هغه روایت سره چی نقل کړی دی عبدالله بن رافع دمولی دسلمه څخه دی وایی چی ما آوریدلی دی دابوهریره څخه چی ویلی یې دی: فرمایلی دی رسول الله ﷺ: کله چی الله ﷻ وغوښته چی دی دماهی په نس کی واچوی نوماهی ته یې امروکی چی داواخله اوتیریې کړه خودده څخه به غوښه نه شکوی اونه به هډوکی ورماتوی. نوکله چی دی دسمندر آخری حصی ته ورسیدی نودی یونس ﷺ ته احساس وسو نوده وویل چی دا څه وو نوپوه سوچی الله ﷻ دی ماهی ته وحی وکړی. داتسبیح دحیوانانو داوبو وو. نو ویلی یې دی چی تسبیح وکی، اودی دماهی په خیټه کی وو نوملائکو دده تسبیح واوری. نو وویل چی ای ربه موږ اورو یو ضعیف آواز په عجیبه مځکه کی، نورب العزت وفرمایل چی دازما بنده یونس ﷺ دی زما نافرمانی یې وکړه نوما دماهی په خیټه کی بندکی. نودی فرشتو وویل هغه نیك بنده چی تاته به یې هره ورځ نیك اعمال راختل؟ نورب العزت وفرمایل چی، هو، نودوی سفارش ورلره وکی الله ﷻ ته، نورب العزت دی ماهی ته امروکی چی دایوغاړی دسمندرته راوکاږه. لکه څنګه چی الله ﷻ فرمایلی دی: فَنَبَذْنَاهُ بِالْعَرَاءِ وَهُوَ سَقِيمٌ، دالفظ دابن جریر دی لفظًا اومتناً دواړه دخپل قول دی. بیاویلی دی البزار: موږ ته پته نسته دهغه په باره کی چی دابل چا په بلی وجی سره بیان کړی وی.
اوابن حاتم ویلی دی په تفسیرخپل کی په نقل کولو سره دابوعبد الله احمد بن عبدالرحمٰن څخه دی دخپل اکا څخه چی ابوصخردی دی وایی چی یزید الرقاشی ویلی دی چی ما اوریدلی دی دانس بن مالك څخه اودا پته نسته راته چی داحدیث مرفوع کړی دی انس رسول الله ﷺ ته اوکه نه ؟ رسول الله ﷺ فرمایلی دی : یونس ﷺ په خیټه دماهی کی دا

(۱). احمد (۱\ ۲۹۳، ۳۰۳، ۳۰۷) اوالترمذی: کتاب صفت القیامه والرقائق والورع ، باب (۵۹) (۴\ ۲۵۱) ابو عیسیٰ ویلی دی چی داحدیث حسن صحیح دی، اوحاکم په خپل مستدرك کی (۳\ ۵۴۲).

(c) ketabton.com: The Digital Library



دعاکوله: اللهم لااله الاانت سبحانك انی کنت من الظالمین. نودادعا قبوله سوه لاندی دعرش څخه، نو وویل فرشتو چی عجیبه اواز دی دعجیبه ځای څخه. نورب العزت وویل چی آیا تاسی دانه پیژنی؟ نودوی وویل چی نه ای ربه داڅوك دی؟ نورب العزت وفرمایل چی دازمابنده یونس ؑ دی. نودوی وویل چی ستابنده یونس هغه چی راتله تراوسه پوری دهغه نیك اعمال چی قبلیدله؟ نودوی وویل ای ربه آیاته رحم نه کوی په دی باندی چی ددی مصیبت څخه یې خلاص کړی؟ نورب العزت وویل چی ولی نه، نوامریې وکی ماهی ته نوپه یوځوا دسمندرکی یې راوایستی. (۱)

اوراوی ددی ابن جریرهم دی دیونس څخه چی ده نقل کړی دی دابن وهب څخه هم په دی الفاظو سره. ابوهریره ﷺ ویلی دی: اوبرابرکی الله ﷻ ده ته یووحشی پسه چی واښه به یې خوړل اوده لره به یې شیدی ورکولی هرسهار اوماښام. الله ﷻ فرمایلی دی (فَنَبَذْنَهُ) یعنی وغورځوی دی موږ (بِالْعَرَآءِ) داهغه ځای دغریبی دی چی هیڅ پکښی نه وی ددرختو اوبوټو څخه (وَهُوَسَقِیْمٌ) یعنی دبدن څخه کمزوری سوی وو. ابن مسعود ویلی دی چی دی په شان دچیچی دقارغه وو کله چی بالکل ښې نه وی پر، اوابن عباس اوالسدی ویلی دی چی دی په شان دنوی پیدا سوی چیچی وو چی بالکل څه نه وی پر: وَأَنْبَتْنَا عَلَيْهِ شَجَرَةً مِنْ يَقْطِينٍ ابن مسعود اوابن عباس اوسعید بن جبیر اومجاهد اوعکرمه اووهب بن منبه اوهلال بن یساف اوعبدالله بن طاوس اوالسدی اوالضحاك اوعطاء الخراسانی چی دا: کدو دی، بعضی علماوو داویلی دی چی په راشنه کولو دکدو کی دټولو علماوو اتفاق دی، په دی کی ډیری خوبیانی دی، یوداچی ددی پاڼه نرمه وی اوسایه یې زیاته وی، اومچان ورلره نه راځی، او ددی میوه داول دراټوکیدلو څخه ترآخره پوری چی ختمیدو والاوی خوړل کیږی، او اومه اوپخه په دواړو طریقو سره خوړل کیږی. اودماغ قوی کوی.

اومخکی تیرسو کلام په باره دمسخر کولو دالله ﷻ کی ده ته دمیږی چی سهار اوماښام به یې ده ته شیدی ورکولی. داټول دالله ﷻ رحمت اواحسان وو پرده باندی. نوددی وجی څخه الله ﷻ فرمایلی دی: فَاسْتَجَبْنَا لَهُ وَنَجَّيْنَاهُ مِنَ الْغَمِّ یعنی دمصیبت څخه اودتنګوالی څخه چی دی په کی ګرفتاروو: وَكَذَٰلِكَ نُنجِي الْمُؤْمِنِينَ یعنی دازموږ کاردی دهرهغه چاډپاره چی موږ څخه طلب وکی په دعاسره ابن جریر ویلی دی په نقل کولو سره دعمران بن بکار الکلاعی څخه دی دیحیٰی بن صالح څخه دی دابویحیٰی بن عبدالرحمٰن څخه دی دبشر بن منصور څخه دی دعلی بن زید څخه دی دسعید بن المسیب څخه دی وایی چی ما آوریدلی دی

---

(۱). ابن ابی حاتم. اوابن ابی الدنیا په الفروج کی اوابن مر دویه. همدارنګه ویلی دی السیوطی په الدر المنثورکی (۵\ ۲۲۸) اوتفسیر ابن کثیر کی (۳\ ۱۹۲).

(c) ketabton.com: The Digital Library



دسعدبن مالك څخه اودا ابن ابو وقاص دی دی وایی چی ما اوریدلی دی درسول الله ﷺ
څخه چی فرمایلی یې دی: نوم دالله هغه چی دعاپه کړیده یونس ﷺ چاچی دعاوکړه په هغه
دعاسره نوقبلیږی به اوڅوك چی څه په غواړی نوورکول کیږی به، دا دعا دیونس ﷺ ده.
نودی وایی چی ما وویله ای رسول الله ﷺ داخاص ده دپاره دیونس ﷺ اوکه زموږ دپاره
هم نونبی ﷺ وفرمایل چی ستاسی دپاره عام ده اودهغه دپاره خاص ده آیا تانه دی
اوریدلی قول دالله ﷻ: فَنَادٰى فِي الظُّلُمَاتِ أَنْ لَا إِلٰهَ إِلَّا أَنْتَ سُبْحَانَكَ إِنِّي كُنْتُ مِنَ الظَّالِمِينَ (۸۷)
فَاسْتَجَبْنَا لَهُ وَنَجَّيْنَاهُ مِنَ الْغَمِّ وَكَذٰلِكَ نُنْجِي الْمُؤْمِنِينَ نوداشرط دی دطرفه دالله دهغه چا دپاره چی
دعاکوی. امام احمد ویلی دی په نقل کولوسره داسماعیل بن عمیر څخه دی دیونس بن ابی
اسحاق څخه دی دابراهیم بن محمد بن سعد څخه دی دخپل پلار څخه چی محمد دی اودی
دسعد څخه، دی وایی چی زه تیرسوم په عثمان بن عفان باندی چی هغه په جماعت کی
ناست وو نوماسلام پرواچوی نوسترګی یې زماخوا ته وګرځولی نوجواب یې رانه کی، نوزه
رالم عمر ته نوما ورته وویل چی: آیاپه اسلام کی څه نوی تبدیل سویدی؟ نوراته یې وویل
چی نه اوولی داپوښتنه کوی؟ نوماورته وویل چی زه په عثمان بن عفان باندی په جماعت
کی تیرسوم اوسلام می پرواچوی خوجواب یې رانه کی نوعمر ﷺ په عثمان ﷺ پسی یو
سړی واستوی نورالی نوورته یې وویل چی څه شی منع کړی ته چی دده سلام دی وانه
خستی؟ نوعثمان ﷺ وویل چی ماخو داسی نه دی کړی. نوسعد وویل چی ماورته وویل
چی هم داسی دی کړی دی، نوهغه هم قسم واخستی اوماهم قسم واخستی. نودی وایی چی
بیا وروسته عثمان ته ورپه یاد سوه نوبیایې وویل چی هو! داسی سوی دی، اواستغفار یې
وکی الله ته، اوبیایې ماته وویل چی ته په ماباندی تیرسوی اومادځان سره یوه کلمه اړوله
چی دنبی ﷺ څخه می اوریدلی وه، اوزمادی قسم وی په الله ﷻ باندی کله چی زه دغه
کلمه ووایم اوراياد یې کم نوزماپه سترګو باندی پردی راکښته سی اوزماپه زړه باندی هم
پردی راکښته سی. نوسعد وایی چی زه تاسی ته خبر درکوم چی اول دعاموږ ته رسول الله
ﷺ وښووله چی یواعرابی رالی نونبی ﷺ دهغه سره روان سو اوزه ورپسی وم نوما وویله
چی نبی ﷺ به شاته وګوری نوزه به ورڅخه دهغه دعا پوښتنه وکړم نودا اعرابی زما څخه
مخکی سو نوما پښه کلکه ووهل نونبی ﷺ مخ مبارك راواړوی اووی وویل چی څوك دی
نوما ورته وویل چی زه یم، نوماورته وویل چی هغه دعاتاسی موږ ته ذکرنه کی نوبیایې
وفرمایل چی، هو هغه دعا دیونس ﷺ وه چی دماهی په خیتی کی یې کړی وو: لَا إِلٰهَ إِلَّا أَنْتَ
سُبْحَانَكَ إِنِّي كُنْتُ مِنَ الظَّالِمِينَ نوپه دی سره چی هرمومن دعاوکی نوهغه به خامخا قبلیږی.
راوی ددی ترمذی دی اونسایې دحدیث دابراهیم بن محمدبن سعدڅخه هم په دی الفاظوسره.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## فضیلت دیونس علیه السلام

الله جل جلاله فرمایلی دی: وَإِنَّ يُونُسَ لَمِنَ الْمُرْسَلِينَ، (سورة الصافات\۱۳۹) اوددی ذکر کړی دی الله جل جلاله په هغو انبیاووکی کم چی په دی دوو سورتونوکی ذکرسوی دی (سورة الانعام، سورة النساء)، امام احمد نقل کوی دوکیع څخه دی دسفیان څخه دی دالاعمش څخه دی دابی وائل څخه دی دعبدالله څخه دی وایی چی رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلی دی: نه دی پکار یو بنده ته داچی وایی چی زه ښه یم دیونس بن متی څخه.

دارنگه روایت داسی بخاری هم ذکرکړی دی دحدیث دسفیان الثوری څخه. اوامام بخاری ویلی دی په نقل کولوسره دحفص بن عمر څخه دی نقل کوی دشعبه بن قتاده څخه دی دابی العالیه څخه دی دابن عباس څخه دی دنبی علیه السلام څخه چی فرمایلی دی: نه دی پکار یوسړی ته چی هغه دی ووایی چی زه ښه یم دیونس علیه السلام څخه، اودده نسب یې بیا بیان کړی دی.

اوراوی ددی احمد هم دی اومسلم هم دی اوابو داود هم دی دحدیث دشعبه څخه. اودارنگه روایت ذکرکړی دی احمد په نقل کولو سره دعفان څخه دی دحماد بن سلمه څخه دی دعلی بن ابی زیدڅخه دی دیونس بن مهران څخه اودی دابن عباس څخه چی رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلی دی: نه دی پکار یوه سړی لره داچی هغه ووایی چی زه ښه یم دیونس بن متٰی څخه. اوپه بخاری کی اوپه مسلم کی دحدیث دعبدالله بن الفضل څخه روایت کوی چی ده نقل کړی دی دعبدالرحمٰن بن هرمز الاعرج څخه دی دابی هریره څخه په قصه دهغه مسلمان کی چی یهودی ته یې څاپیړه ورکړی وه په دغه وخت کی کله چی ده وویل: نه دی هغه چی په ټول عالم کی ښه دی مگر موسٰی علیه السلام.

امام بخاری ددی روایت په آخرکی ویلی دی: اوزه نه وایم چی یوسړی هم دیونس بن متٰی څخه ښه دی. یعنی نه دی پکار چاته هم چی ځان ته ښه ووایی پر یونس بن متٰی علیه السلام باندی. اوپه بل قول کی: نه دی پکار چاته هم چی ما ښه کی پریونس بن متٰی باندی، لکه څه رنگه چی په بعضو احادیثوکی ذکرسوی دی: تاسی مامه ښه کوی پریونس بن متٰی باندی. اودا دوجی دعاجزی څخه دی چی ځان ته پر بل باندی فضیلت نه ورکوی.

## قصه دموسٰی علیه السلام

داموسٰی بن عمران بن قاهث بن عازر بن لاوی بن یعقوب بن اسحاق بن ابراهیم علیه السلام دی الله جل جلاله فرمایلی دی: وَاذْكُرْ فِي الْكِتَابِ مُوسَى إِنَّهُ كَانَ مُخْلَصًا وَكَانَ رَسُولًا نَبِيًّا (۵۱) وَنَادَيْنَاهُ مِنْ جَانِبِ الطُّورِ الْأَيْمَنِ وَقَرَّبْنَاهُ نَجِيًّا (۵۲) وَوَهَبْنَا لَهُ مِنْ رَحْمَتِنَا أَخَاهُ هَارُونَ نَبِيًّا (سورة مریم ۵۱\ ۵۳)

اودارنگه رب العزت په قرآن کریم کی په مختلفو ځایونو کی دی ذکر کړیدی. اودده قصه یې په بی شمارو ځایونوکی ذکرکړی ده. اوپر دی باندی موږ تفصیلی بحث کړی دی په

(c) ketabton.com: The Digital Library



تفسیرونو کی. اودلته ورڅخه مختصر غوندی بحث ذکرکوو اوهغه احادیث چی نقل سوی دی دده په باره کی اونور اثار اواسرائیلی خبری هم. الله ﷻ فرمایلی دی: طسٓمٓ (۱) تِلْكَ آيَاتُ الْكِتَابِ الْمُبِينِ (۲) نَتْلُوا عَلَيْكَ مِنْ نَبَإِ مُوسَى وَفِرْعَوْنَ بِالْحَقِّ لِقَوْمٍ يُؤْمِنُونَ ذکرکوی الله ﷻ اول مختصره قصه اوبیاییې اوږدوی، نوذکر کړی دی خپل نبی ته چی ده ته خبرورکول کیږی په باره دموسٰی ؑ اوفرعون کی یعنی په صدق سره هغه ته چی ده ته غوږ ایږدی اوددی مشاهده کوی: إِنَّ فِرْعَوْنَ عَلَا فِي الْأَرْضِ وَجَعَلَ أَهْلَهَا شِيَعًا، یعنی جباریت اوظلم اوزیاتی یې وکی په مځکه کی، اواعراض یې وکی دطاعت دخپل رب څخه. اوخلګ یې ډلی ډلی واړول، چی څه ډلی به کمزوری وی چی هغه بنی اسرائیل دی چی دیعقوب ؑ اولاد دی، اودوی ښه خلګ دمزکی وه. اوظلم یې هم په دوی باندی مسلط کی چی بچیان یې ورلره حلالول چی ډیر بیغیرته کاردی: يُذَبِّحُ أَبْنَاءَهُمْ وَيَسْتَحْيِي نِسَاءَهُمْ إِنَّهُ كَانَ مِنَ الْمُفْسِدِينَ اوده دا کار ددی وجی څخه شروع کړی وو چی په دی بنی اسرائیلوکی یوه خبره ډیره مشهوره وه هغه داچی ابراهیم ؑ کله په مصر باندی تیریدی نوهغه ظالم بادشاه دساره عزت پایمال کوی نوپه دغه وخت کی ابراهیم ؑ ویلی وه چی په بنی اسرائیلو کی به یوسړی پیداکیږی چی دهغه په لاس باندی به الله ﷻ دمصر بادشاه ته شکست ورکوی اوبادشاهی به ورلره ختموی. نوداخبره قبطیانوپه خپل مینځ کی وکړه، نوفرعون لعین ته داخبره ورسیده نودا خبره ده خپلو مشرانو چی دده سره په دربار کی ناست وه هغوی ته یې وکړه نودهغه څخه وروسته یې داکار شروع کی، ددی بیری څخه چی په بنی اسرائیلوکی داماشوم پیدانه سی اوپر دوی باندی غالب نه سی. خو دقدرت دفیصلو څخه خلاصیدل نسته.

اوذکر کړی دی السدی دابی صالح څخه اودابی مالك څخه چی دوی یې نقل کوی دابن عباس څخه اودی دمره څخه اودی دابن مسعود څخه اوداسی دڅه صحابه وو څخه: چی فرعون په خوب کی ولیده چی دبیت المقدس لخوا څخه اور راروان وو اودده مانی یې وسوزله اوټول قبطیان یې هم تباه کړه اوبنی اسرائیلو ته یې هیڅ ضرر ورنه کی، نوکله چی دی راولاړیدی نوپه بیره سو ددی خوب څخه، نوفال والا اوجادوګران ټول یې راټول کړه، او ددی خبری پوښتنه یې ورڅخه وکړه، نودوی ورته وویل چی داماشوم به پیداکیږی په دی بنی اسرائیلوکی اودده په لاس باندی به ستاهلاکت وی، نوددی وجی څخه الله ﷻ فرمایلی دی: وَنُرِيدُ أَنْ نَمُنَّ عَلَى الَّذِينَ اسْتُضْعِفُوا فِي الْأَرْضِ اودوی بنی اسرائیل وه: وَنَجْعَلَهُمْ أَئِمَّةً وَنَجْعَلَهُمُ الْوَارِثِينَ یعنی هغه خلګ چی دوی ته به دمصر ملك ورکول کیږی اوبادشاهی به دوی ته پاته کیږی: وَنُمَكِّنَ لَهُمْ فِي الْأَرْضِ وَنُرِيَ فِرْعَوْنَ وَهَامَانَ وَجُنُودَهُمَا مِنْهُمْ مَا كَانُوا يَحْذَرُونَ یعنی هغه کمزری به طاقتور کی اوطاقتور به کمزوری کی اوداټول هرڅه دبنی اسرائیل دپاره ذکرسوی وه،

(c) ketabton.com: The Digital Library



لکه څه رنګه چې الله ﷻ فرمایلي دي: وَأَوْرَثْنَا الْقَوْمَ الَّذِينَ كَانُوا يُسْتَضْعَفُونَ مَشَارِقَ الْأَرْضِ وَمَغَارِبَهَا الَّتِي بَارَكْنَا فِيهَا وَتَمَّتْ كَلِمَةُ رَبِّكَ الْحُسْنَى عَلَى بَنِي إِسْرَائِيلَ بِمَا صَبَرُوا، (سورة الاعراف \ ۱۳۷) اودارنګه الله ﷻ فرمایلي دي: فَأَخْرَجْنَاهُمْ مِنْ جَنَّاتٍ وَعُيُونٍ (۵۷) وَكُنُوزٍ وَمَقَامٍ كَرِيمٍ (۵۸) كَذَلِكَ وَأَوْرَثْنَاهَا بَنِي إِسْرَائِيلَ (سورة الشعراء ۵۷\ ۵۹) اوددې تفصیل به په خپل ځای کې راسي ان شاء الله. مقصودې خبره دا ده چې فرعون خپل مکمل کوشش وکې چې موسٰی پیدانه سي اودده دپاره یې ډلې جوړې کړې چې په بني اسرائیل باندې ګرځې اوډښځو حملونه دې ګورې چې کله یې زیږوې، اوپه کم وخت کې به چې پیدا کیدې نوپه هغه وخت کې به یې وژې.

اوپه نزد داهل کتابو باندې: چې ده به امر کوې په وژلو دځوانانو باندې ددې دپاره چې دده داقوم پر دوې باندې غالب نه سي، اوپه دې خبرې کې نظردې اوشبهه ده، بلکې باطله ده، بلکې ده به امرکوې په مړکولو دماشومانو باندې وروسته دپیدائش دموسٰی علیه السلام څخه.

لکه څه رنګه چې رب العزت فرمایلي دي: فَلَمَّا جَاءَهُمْ بِالْحَقِّ مِنْ عِنْدِنَا قَالُوا اقْتُلُوا أَبْنَاءَ الَّذِينَ آمَنُوا مَعَهُ وَاسْتَحْيُوا نِسَاءَهُمْ، نوددې وجې څخه بني اسرائیل والا موسٰی علیه السلام ته وویل: أُوذِينَا مِنْ قَبْلِ أَنْ تَأْتِيَنَا وَمِنْ بَعْدِ مَا جِئْتَنَا (سورة الاعراف \ ۱۲۹) نو پس صحیح خبره داده چې فرعون اول دځوانانو دقتلولو امرکړې وو اوبیا وروسته دموسٰی دپیدا کیدو دبیرې څخه یې ماشومان مړه کول، خوبیاهم قدرت ورته داخبره کړیده اودابه پرراځې سره ددې چې دې هره حربه استعمالوې خودهغه ذات څخه تیښته نسته. اوقدرت دې فرعون ته دا وایې چې دهغه ماشوم چې دده په وجه نوربې شماره ماشومان ووژل سوه ددې ماشوم تربیه نه کیږې مګر همداستا په کورکې به کیږې اودابه نه غټیږې مګر همداستا په ډوډې باندې به غټیږې او ستاپه روزې باندې به غټیږې اوبیابه ستاهلاکت هم دده په لاس باندې وې دوجې دمخالفت دهغه څخه چې تاته یې دې بیانوې دښکاره حق څخه، اوهغه ذات قوې ذات دې اوداسې ذات دې چې رجوع نه وې مګرهم ده ته وې. اوداسې یوبل دمفسرینو څخه داویلي دي: چې قبطیانو شکایت وکې فرعون ته دکمې دبني اسرائیلو ولې چې دوې کم سي نوهغه کارونه چې دوې کوله نوهغه به بیا مجبوراً قبطیانو کوله. نوفرعون اعلان وکې چې یوکال دې ماشومان نه وژل کیږې اوپه بل کال باندې دې وژل کیږې نوپه هغه کال باندې چې معافي وه نوپه هغه کال باندې هارون علیه السلام پیدا سوې وو اوپه هغه کال باندې چې قتل وو نوموسٰی علیه السلام پیداسوې وو نوکله چې مور دده حمل واخستی نوځومره به چې داحمل زیږیدوته نژدې کیدې نودومره به داحمل تنګیدې یعنې چاته به پته نه لګیدله چې ددې حمل دې، نوکله

(c) ketabton.com: The Digital Library



یې چې دی وزیرېوی نوالهام ورته وسو چې ده ته تابوت جوړکی، نوتابوت یې ورلره جوړکی اوپه هغه کی یې کښیښووی اوپه سمندرکی یې پریښووی، اودرسی سریې دځان خوا ته ونیوی، نوکله به چې دوی ولاړه نوبیابه یې راوایستی. (١)

الله ﷻ فرمایلی دی: وَأَوْحَيْنَا إِلَى أُمِّ مُوسَى أَنْ أَرْضِعِيهِ فَإِذَا خِفْتِ عَلَيْهِ فَأَلْقِيهِ فِي الْيَمِّ وَلَا تَخَافِي وَلَا تَحْزَنِي إِنَّا رَادُّوهُ إِلَيْكِ وَجَاعِلُوهُ مِنَ الْمُرْسَلِينَ (٧) فَالْتَقَطَهُ آلُ فِرْعَوْنَ لِيَكُونَ لَهُمْ عَدُوًّا وَحَزَنًا إِنَّ فِرْعَوْنَ وَهَامَانَ وَجُنُودَهُمَا كَانُوا خَاطِئِينَ (٨) وَقَالَتِ امْرَأَةُ فِرْعَوْنَ قُرَّةُ عَيْنٍ لِي وَلَكَ لَا تَقْتُلُوهُ عَسَى أَنْ يَنْفَعَنَا أَوْ نَتَّخِذَهُ وَلَدًا وَهُمْ لَا يَشْعُرُونَ. (سورة القصص ٧\٩) داوحی دالهام وی لکه څه رنګه چې الله ﷻ فرمایلی دی: وَأَوْحَى رَبُّكَ إِلَى النَّحْلِ أَنِ اتَّخِذِي مِنَ الْجِبَالِ بُيُوتًا وَمِنَ الشَّجَرِ وَمِمَّا يَعْرِشُونَ (٦٨) ثُمَّ كُلِي مِنْ كُلِّ الثَّمَرَاتِ فَاسْلُكِي سُبُلَ رَبِّكِ ذُلُلًا يَخْرُجُ مِنْ بُطُونِهَا شَرَابٌ مُخْتَلِفٌ أَلْوَانُهُ فِيهِ شِفَاءٌ لِلنَّاسِ إِنَّ فِي ذَلِكَ لَآيَةً لِقَوْمٍ يَتَفَكَّرُونَ (سورة النحل ٢٨\ ٢٩) اودا وحی دنبوت نه دی لکه څه رنګه چې بعضو ویلی دی لکه ابن حزم سو اوداسی نور، بلکی صحیح مخکنی قول دی کم چې ددی څخه مخکی ذکرسو، داقول دابو الحسن الاشعری دی.

السهیلی ویلی دی: چې دموسٰی دمور نوم (ایارخا) وه اوویل سوی دی چې (ایاذخت) وه مقصود دادی چې دی ته دالار ښوونه سوی وه، اودې ته داوویل سوه چې خفه کیږه مه اومه غم کوه، ولی چې دی ولاړسی نوالله ﷻ یې تاته راوپس کوی، اوالله به دی نبی ګرزوی چې دالله ﷻ کلمه به لوړوی په دنیاکی، او وه داچې څه امر به ورته کیدی نوهغه به یې پوره کوی. نویوه ورځ دی داموسٰی علیه السلام په دی سمندرکی یوې خواته کښیښووی اودی ورڅخه هیرسو چې داوتړی دی روان سو په دریاءِ نیل کی تردی چې دفرعون پرکوربانډی هم تیرسو فَالْتَقَطَهُ الُ فِرْعَوْنَ، الله ﷻ فرمایلی دی: لِيَكُونَ لَهُمْ عَدُوًّا وَحَزَنًا، بعضو ویلی دی چې دالام دتعقیب دی، یعنی دافرعون راولاړیدی داغستو دپاره چې دی دده دپاره دغم اودخفګان سبب جوړسی: إِنَّ فِرْعَوْنَ وَهَامَانَ داوزیر دفرعون وو (وَجُنُودَهُمَا) یعنی تابعداران دده (كَانُوا خَطِئِينَ) یعنی دوی وه په خلاف دصحیح لاری نودوی مستحق سوه ددی عذاب اودتاوان.

مفسرینو داسی ذکرکړی دی چې یوی مینځی دی پیداکی په اوبوکی چې په تابوت کی بند وو، نودوی داخلاص کی تردی چې دایې دفرعون دښځی خواته کښیښووی چې (آسیه) وه دالوردمزاحم بن عبیدبن الریان وه هغه چې دیوسف علیه السلام په دورکی دمصرفرعون وو. اوویل سوی دی چې دا دبنی اسرائیلو څخه وه چې په نسب دموسٰی علیه السلام کی شریکه وه. اوددی مدحه به په قصه دمریم علیه السلام کی راسی. اودا دواړی به دقیامت په ورځ دنبی علیه السلام ښځی وی.

(١). تاریخ الطبری (١\ ٢٣٣).

(c) ketabton.com: The Digital Library



کله چې دې داتابوت خلاص کی نو دموسیٰ ﷺ په مخ کی یې دنبوت نور ولیدی، اوددی ډیر خوښ سو نوفرعون ته یې وویل چې دابه زموږ دسترګو یخ والی سی یعنی موږ به یې ځان ته زوی کو کیدی سی چې موږته یې څه نفعه اوفائده راورسیږی، هرڅه چې دی آسیه ته فائده ورڅخه ورسیده هغه داچې په دنیا کی یې ایمان پر راوړی اوپه آخرت کی به جنت ددی مقام وی اودنبی ﷺ بی بی به هم وی (وَهُمْ لاَ يَشْعُرُونَ) اودوی ته داعلم نه وو چې الله ﷻ به ددی ماشوم په لاس باندی کمی کارنامې کوی.

دارنګه الله ﷻ فرمایلی دی: وَأَصْبَحَ فُؤَادُ أُمِّ مُوسَى فَارِغًا إِنْ كَادَتْ لَتُبْدِي بِهِ لَوْلَا أَنْ رَبَطْنَا عَلَى قَلْبِهَا لِتَكُونَ مِنَ الْمُؤْمِنِينَ (۱۰) وَقَالَتْ لِأُخْتِهِ قُصِّيهِ فَبَصُرَتْ بِهِ عَنْ جُنُبٍ وَهُمْ لَا يَشْعُرُونَ (۱۱) وَحَرَّمْنَا عَلَيْهِ الْمَرَاضِعَ مِنْ قَبْلُ فَقَالَتْ هَلْ أَدُلُّكُمْ عَلَى أَهْلِ بَيْتٍ يَكْفُلُونَهُ لَكُمْ وَهُمْ لَهُ نَاصِحُونَ (۱۲) فَرَدَدْنَاهُ إِلَى أُمِّهِ كَيْ تَقَرَّ عَيْنُهَا وَلَا تَحْزَنَ وَلِتَعْلَمَ أَنَّ وَعْدَ اللَّهِ حَقٌّ وَلَكِنَّ أَكْثَرَهُمْ لَا يَعْلَمُونَ (سورة القصص ۱۰\۱۳) ابن عباس اوعکرمه اوالضحاك اوقتاده اومجاهد اوابو عبیده اوسعید بن جبیر اوداسی نورو ویلی دی چې: دده دمور ددنیا دنورو امورو څخه بالکل ذهن پرې سوی وو مګر هم دی موسیٰ ته: إِنْ كَادَتْ لَتُبْدِي بِهِ، یعنی داورتله اوپه ښکاره طور سره یې ورڅخه دا ماشوم غوښتی: لَوْلَا أَنْ رَبَطْنَا عَلَى قَلْبِهَا، که چیری موږ ددې زړه نه وای مضبوط کړی اودې ته موصبرنه وای ورکړی: لِتَكُونَ مِنَ الْمُؤْمِنِينَ (۱۰) وَقَالَتْ لِأُخْتِهِ، اودا ددې مشره لور وه (قُصِّيهِ) یعنی ورپسی سه اوماته یې خبر راوړه: فَبَصُرَتْ بِهِ عَنْ جُنُبٍ وَهُمْ لَا يَشْعُرُونَ، اوداپه دی طور سره چې کله موسیٰ ﷺ ددوی په کورکی تم سو اوپاته سو نودوی داکوشش کوی چې ده ته هرهغه غذا ورکی چې دی یې خوری خوده هیڅ نه خوړله نوبیایې دی بازار ته وایستی چې وګوری چې دی دچا تی روی نو دهیڅ چاتی یې نه رودی. لکه څه رنګه چې الله ﷻ فرمایلی دی: وَحَرَّمْنَا عَلَيْهِ الْمَرَاضِعَ مِنْ قَبْلُ نوپه دغه وختکی دخورسترګی پرده باندی ولګیدلی نودوی ته یې وویل چې یوکور والا درته وښیم چې هغه ته یې ویسی، نودې چې کله داخبره وکړه نودوی ورته مخامخ سوه اوورته یې وویل چې څه شی مجبوره کړی یې په دی باندی چې ته پرده باندی دومره شفقت کوی اوموږته لارښونه کوی نودې ورته په جواب کی وویل چې ددې دپاره چې بادشاه خوشحاله سی نودوی روان سوه ددی موسیٰ ﷺ مور خواته په داسی حال کی چې دوی ته داپته نه وه چې دایې مورده نوکله یې چې دې ته ورکی نوددی څخه یې شیدی رودلی، نودوی ټول خوشحاله سوه، اویوزیری ورکونکی رالی آسیی یې ته اودا خوشخبری یې ورکړه، نودده مور یې راوغوښته خپل محل ته اوورته یې وویل چې ددی ماشوم دلته حفاظت کوه نودی انکاروکی اووی ویل چې دازما سره ولیږه زموږ

(c) ketabton.com: The Digital Library



کورته زه به یې هلته ښه پرورش وکم، نوبیرته یې دځان سره راوستی کورته، اودی آسیې ورلره تنخوا اوکپړی اوداسی نور سامانونه مقرر کړه دهری میاشتی دپاره. الله ﷻ فرمایلی دی: فَرَدَدْنَاهُ إِلَى أُمِّهِ كَيْ تَقَرَّ عَيْنُهَا وَلَا تَحْزَنَ وَلِتَعْلَمَ أَنَّ وَعْدَ اللَّهِ حَقٌّ، یعنی څه رنګه چی مووږسره وعده کړی وه دبیرته راتلو دې ته نوهغه شان وعده موپوره کړه ورلره، اوداښکاره دلیل دی په زیری درسالت دده باندی: وَلَكِنَّ أَكْثَرَهُمْ لَا يَعْلَمُونَ، اودابل احسان دی دالله ﷻ دخوا څخه په موسٰی ؑ باندی اودده په مورباندی. لکه څه رنګه چی یې فرمایلی دی: وَلَقَدْ مَنَنَّا عَلَيْكَ مَرَّةً أُخْرَى (۳۷) إِذْ أَوْحَيْنَا إِلَى أُمِّكَ مَا يُوحَى (۳۸) أَنِ اقْذِفِيهِ فِي التَّابُوتِ فَاقْذِفِيهِ فِي الْيَمِّ فَلْيُلْقِهِ الْيَمُّ بِالسَّاحِلِ يَأْخُذْهُ عَدُوٌّ لِي وَعَدُوٌّ لَهُ وَأَلْقَيْتُ عَلَيْكَ مَحَبَّةً مِنِّي، یعنی دا احسان دی چی چابه ده ته کتله نو ورسره به یې محبت کوی اوهرچاته ګران وو: وَلِتُصْنَعَ عَلَى عَيْنِي، قتاده اوداسی نورو ویلی دی: یعنی ته ښه خوراك کوی اوښه کپړی اچوی اوښه اوسیږی داهرڅه زمادخوا څخه دی ولی چی مور تاته په تقدیر کی غټ کار درسپارلی دی چی هغه دبل په تقدیر کی نسته: إِذْ تَمْشِي أُخْتُكَ فَتَقُولُ هَلْ أَدُلُّكُمْ عَلَى مَنْ يَكْفُلُهُ فَرَجَعْنَاكَ إِلَى أُمِّكَ كَيْ تَقَرَّ عَيْنُهَا وَلَا تَحْزَنَ وَقَتَلْتَ نَفْسًا فَنَجَّيْنَاكَ مِنَ الْغَمِّ وَفَتَنَّاكَ فُتُونًا، ددی فتنی احادیث به په خپل ځای کی بیانوو. کله چی الله ﷻ په ده باندی خپل احسان ذکرکی نواوس بیان دده دبلوغت اولویې والی کوی، اوداهغه عمروی چی په دی کی انسان برابرسی دجسم دلحاظ څخه هم اودعقل لحاظ څخه هم، او اکثرو ویلی دی چی داعمر د(۴۰) کالو دی، ورکی الله ﷻ ده ته حکمت اوعلم، اونبوت او رسالت هغه چی ورته دمخکی څخه زیری ورکول سوی وو. اوبیایې شروع وکړه په بیان دسبب دوتلو دده دمصر څخه اوسبب دتلو مدین ته. الله ﷻ فرمایلی دی: وَدَخَلَ الْمَدِينَةَ عَلَى حِينِ غَفْلَةٍ مِنْ أَهْلِهَا ابن عباس اوسعید بن جبیر اوعکرمه اوقتاده اوالسدی ویلی دی: دا وخت دنیمی ورځی وو یعنی نیمه ورځ تیره سوی وه، اوداابن څخه روایت دی چی: داوخت ددوو ماسخوتنو په مینځ کی وو، فَوَجَدَ فِيهَا رَجُلَيْنِ يَقْتَتِلَانِ یعنی یوبل یې وهل (هَٰذَا مِنْ شِيعَتِهِ) یعنی اسرائیلی وو (وَهَٰذَا مِنْ عَدُوِّهِ) اودابل قبطی وو: فَاسْتَغَاثَهُ الَّذِي مِنْ شِيعَتِهِ عَلَى الَّذِي مِنْ عَدُوِّهِ او وو دموسٰی ؑ ډیررعب ولی چی دی متبنی زوی وو دفرعون، او وو دبنی اسرائیلو دپاره یوقسم عزت ولی چی اسرائیلی دده په کورکی لوی سوی وو اوددوی سرونه دده په وجه لوړی سوی وه، نوکله چی دی اسرائیلی ددی موسٰی ؑ څخه مدد وغوښتی نو موسٰی ؑ دی قبطی ته مخ راواړوی (فَوَكَزَهُ،) مجاهد ویلی دی چی په دی مټ دلاس یې یو ګزار ورکی، اوقتاده ویلی دی، په هغه امسایې ګزار ورکی کمه چی ورسره په لاس کی وه

(c) ketabton.com: The Digital Library



(فَقَضٰی عَلَیْهِ) نومړسو ددی دوجی، او وو دغه قبطی کافر اومشرك په الله ﷻ باندی، او موسٰی دده دقتل اراده نه وه کړی بلکی دده دوهلو اراده یې وه، اوده ته یې زورنه ورکول په دی وهلو باندی. اوسره ددی یې داویله چی: قَالَ هٰذَا مِنْ عَمَلِ الشَّیْطَانِ إِنَّهُ عَدُوٌّ مُضِلٌّ مُبِینٌ. الله ﷻ فرمایلی دی: فَأَصْبَحَ فِي الْمَدِينَةِ خَائِفًا يَتَرَقَّبُ فَإِذَا الَّذِي اسْتَنْصَرَهُ بِالْأَمْسِ يَسْتَصْرِخُهُ قَالَ لَهُ مُوسَى إِنَّكَ لَغَوِيٌّ مُبِينٌ (۱۸) فَلَمَّا أَنْ أَرَادَ أَنْ يَبْطِشَ بِالَّذِي هُوَ عَدُوٌّ لَهُمَا قَالَ يَا مُوسَى أَتُرِيدُ أَنْ تَقْتُلَنِي كَمَا قَتَلْتَ نَفْسًا بِالْأَمْسِ إِنْ تُرِيدُ إِلَّا أَنْ تَكُونَ جَبَّارًا فِي الْأَرْضِ وَمَا تُرِيدُ أَنْ تَكُونَ مِنَ الْمُصْلِحِينَ (۱۹) وَجَاءَ رَجُلٌ مِنْ أَقْصَى الْمَدِينَةِ يَسْعَى قَالَ يَا مُوسَى إِنَّ الْمَلَأَ يَأْتَمِرُونَ بِكَ لِيَقْتُلُوكَ فَاخْرُجْ إِنِّي لَكَ مِنَ النَّاصِحِينَ (۲۰) فَخَرَجَ مِنْهَا خَائِفًا يَتَرَقَّبُ قَالَ رَبِّ نَجِّنِي مِنَ الْقَوْمِ الظَّالِمِينَ، (سورة القصص ۱۸\ ۲۱) خبر ورکوی الله ﷻ چی موسٰیؑ په مصر کی نور بیریدونکی سو دفرعون څخه اودهغه دلښکر څخه دوجی ددی څخه چی هغه ته خبرونه رسیږی ددی خبری چی داقتل ماکړی دی، نوددوی به هغه ګمان وی چی دوی مضبوط سوه دغه ګمان به یې پوخ سی اوقتل عام به شروع کړی نوددی وجی څخه په بیری سره به ګرځیدی په مصرکی نوپه دغه دوران کی دغه اسرائیلی چی موسٰی ؑ ورلره مدد کړی وو ده ورپسی بیااواز وکی دمدد دپاره، نوموسٰی ؑ وترټی په دی جګړو باندی اوورته یې وویل (اِنَّكَ لَغَوِیٌّ مُبِیْنٌ) نوبیا چی اراده وکړه موسٰی ؑ ددی قبطی دوهلو اودی قبطی ته چی یې مخ ورواړوی: قَالَ یَا مُوسٰی أَتُرِیدُ أَنْ تَقْتُلَنِي كَمَا قَتَلْتَ نَفْسًا بِالْأَمْسِ إِنْ تُرِيدُ إِلَّا أَنْ تَكُونَ جَبَّارًا فِي الْأَرْضِ وَمَا تُرِيدُ أَنْ تَكُونَ مِنَ الْمُصْلِحِينَ بعضو داویلی دی چی دا داسرائیلی قول دی چی داخبریې ورکی دهغه کار چی پرون سوی وو، اوداموسٰی ؑ چی څنګه په دی قبطی پسی راروان سو نودی اسرائیلی داګمان وکی چی دی په ده سی راروان دی نوددی وجی څخه یې داوویل، ولی چی ددې څخه یې مخکی ترټلی وو په دی قول سره (اِنَّكَ لَغَوِیٌّ مُبِیْنٌ) نوده وویل موسٰی ؑ ته هغه څه چی یې ورته وویل، اوخبره یې ورته ښکاره کړه هغه چی څه پرون سوی وه. نوداقبطی ولاړی اوفرعون ته یې خبرورکی په باره دموسٰی ؑ کی چی ده هغه قتل کړی دی اوداکلام اکثرو نه دی ذکر کړی. اودا احتمال هم لری چی داقائل قبطی وی، اوکله چی ده ولیدی چی موسٰی ؑ دده خواته مخ ته راځی نوده دمخکنیو خبرو څخه اوددی حالاتو څخه اندازه واخسته چی هغه پرونی قتل ده کړی دی. خومقصودی خبره داده چی فرعون ته خبره ورسیده چی موسٰی قاتل دی دهغه پرونی سړی نودی فرعون په موسٰی ؑ پسی څه کسان ولیږل چی دی راولی دربار ته نوددی کسانو څخه یوبل سړی دی موسٰی ؑ ته مخکی سو: وَجَاءَ رَجُلٌ مِنْ أَقْصَى الْمَدِينَةِ يَسْعٰى، اودایې ورته وویل: قَالَ يَا مُوسٰى إِنَّ الْمَلَأَ يَأْتَمِرُونَ بِكَ لِيَقْتُلُوكَ فَاخْرُجْ إِنِّي لَكَ

(c) ketabton.com: The Digital Library



مِنَ النَّاصِحِينَ، یعنی په هغه څه کی چی زه یې درته وایم. الله ﷻ فرمایلی دی: فَخَرَجَ مِنْهَا خَائِفًا يَتَرَقَّبُ، یعنی ووتی دمصر څخه په تیزی سره چی نه ورته لاره معلومه وه اونه یې څه ځای پیژندی، اوداییې ویله: فَخَرَجَ مِنْهَا خَائِفًا يَتَرَقَّبُ قَالَ رَبِّ نَجِّنِي مِنَ الْقَوْمِ الظَّالِمِينَ (۲۱) وَلَمَّا تَوَجَّهَ تِلْقَاءَ مَدْيَنَ قَالَ عَسَى رَبِّي أَنْ يَهْدِيَنِي سَوَاءَ السَّبِيلِ (۲۲) وَلَمَّا وَرَدَ مَاءَ مَدْيَنَ وَجَدَ عَلَيْهِ أُمَّةً مِنَ النَّاسِ يَسْقُونَ وَوَجَدَ مِنْ دُونِهِمُ امْرَأَتَيْنِ تَذُودَانِ قَالَ مَا خَطْبُكُمَا قَالَتَا لَا نَسْقِي حَتَّى يُصْدِرَ الرِّعَاءُ وَأَبُونَا شَيْخٌ كَبِيرٌ (۲۳) فَسَقَى لَهُمَا ثُمَّ تَوَلَّى إِلَى الظِّلِّ فَقَالَ رَبِّ إِنِّي لِمَا أَنْزَلْتَ إِلَيَّ مِنْ خَيْرٍ فَقِيرٌ (سورة القصص ۲۱\۲۴) په دی ځای کی خبر ورکوی الله ﷻ دوتلو دده دمصر څخه په بیړی سره چی چیری کم سړی یې دفرعون دقوم څخه ګیرنه کی، اوده ته داپته نه وه چی کم خواته روان دی، اودا ددی وجی څخه چی دی مخکی دمصر څخه کله بهرنه وو وتلی: وَلَمَّا تَوَجَّهَ تِلْقَاءَ مَدْيَنَ یعنی متوجه سو دمدین خواته: قَالَ عَسٰى رَبِّي أَنْ يَهْدِيَنِي سَوَاءَ السَّبِيلِ یعنی امیددی چی دالاره رسیدلی وی منزل مقصود ته: وَلَمَّا وَرَدَ مَاءَ مَدْيَنَ، اوداوو یوڅاه چی دوی به اوبه ورڅخه چښلی، اودامدین هغه کلی وو چی الله ﷻ په کی اصحاب الایکه هلاك کړی وه، چی دشعیب ؑ قوم دی، او وو ددوی هلاکت دموسٰی ؑ دراتګ څخه مخکی په یوقول دعلماوو سره. اوکله چی دی رالی ددی اوبو خوا ته: وَجَدَ عَلَيْهِ أُمَّةً مِنَ النَّاسِ يَسْقُونَ وَوَجَدَ مِنْ دُونِهِمُ امْرَأَتَيْنِ تَذُودَانِ، یعنی خپل پسونه به یې ورڅخه لیری کول ددی وجی څخه چی ددا نوروپه پسوکی ګډونه سی اوپه نزد داهل کتابو باندی داوی لونی دشعیب ؑ، اوداخبره ددوی هم غلطه ده، اواحتمال هم لری چی وی، خوپه دغه ځای کی دوې وی، اوجمع ددی دواړو په مینځ کی مانع نه ده، مګر ظاهره داده چی ددی دوو څخه ماسوا نورنه وه په دغه ځای کی: قَالَ مَا خَطْبُكُمَا قَالَتَا لَا نَسْقِي حَتَّى يُصْدِرَ الرِّعَاءُ وَأَبُونَا شَيْخٌ كَبِيرٌ یعنی موږ قدرت نه لرو په چښلو داوباندی وروسته دتیریدلو ددی خلګو څخه دوجی دکمزوری زموږ څخه. اوکله چی دوی خپل پسونه اوبزی اوبه کړی نودهغه څخه چی کمی زیاتی اوبه پاته وی په هغه باندی موږ خپل پسونه اوبه کوو، اودی خلګوبه چی کله اوبه وچښلی اوخپل پسونه به یې اوبه کړل نوپرهغه څاه باندی به یې ډبره کښیښووله چی چابه نسوای لیری کولی، نوپه دغه ورځ باندی موسٰی ؑ لوړه کړه دغه ډبره په یواځی باندی اودوی ته یې اوبه ورکړی او ددوی پسونه یې هم اوبه کړه، اوبیاییې دغه ډبره دوباره پردغه څاه باندی کښیښووله اوراله اودیوې درختی لاندی سایې ته کښیننته امیر المؤمنین وایی چی داډبره به دلسو کسانو څخه کمو کسانو نسوای لوړولی. بیادوی راله دیوې درختی سایې ته چی درخته دکیکروه، او روایت کړی دی ابن جریر دابن مسعود څخه چی ده ولیدل دغه درخته چی ښوریدله او

(c) ketabton.com: The Digital Library



شنه وه: فَقَالَ رَبِّ إِنِّي لِمَا أَنزَلْتَ إِلَيَّ مِنْ خَيْرٍ فَقِيرٌ دی وایی دغو ښځوته.
الله ﷻ فرمایلی دی: فَجَاءَتْهُ إِحْدَاهُمَا تَمْشِي عَلَى اسْتِحْيَاءٍ قَالَتْ إِنَّ أَبِي يَدْعُوكَ لِيَجْزِيَكَ أَجْرَ مَا سَقَيْتَ لَنَا فَلَمَّا جَاءَهُ وَقَصَّ عَلَيْهِ الْقَصَصَ قَالَ لَا تَخَفْ نَجَوْتَ مِنَ الْقَوْمِ الظَّالِمِينَ (۲۵) قَالَتْ إِحْدَاهُمَا يَا أَبَتِ اسْتَأْجِرْهُ إِنَّ خَيْرَ مَنِ اسْتَأْجَرْتَ الْقَوِيُّ الْأَمِينُ (۲۶) قَالَ إِنِّي أُرِيدُ أَنْ أُنكِحَكَ إِحْدَى ابْنَتَيَّ هَاتَيْنِ عَلَى أَن تَأْجُرَنِي ثَمَانِيَ حِجَجٍ فَإِنْ أَتْمَمْتَ عَشْرًا فَمِنْ عِندِكَ وَمَا أُرِيدُ أَنْ أَشُقَّ عَلَيْكَ سَتَجِدُنِي إِن شَاءَ اللهُ مِنَ الصَّالِحِينَ (۲۷) قَالَ ذَلِكَ بَيْنِي وَبَيْنَكَ أَيَّمَا الْأَجَلَيْنِ قَضَيْتُ فَلَا عُدْوَانَ عَلَيَّ وَاللهُ عَلَى مَا نَقُولُ وَكِيلٌ (سورة القصص ۲۷\۲۵) کله چې کښېنستی موسیٰ ؑ ددغه درختی سایې ته اودایې وویل: فَقَالَ رَبِّ إِنِّي لِمَا أَنزَلْتَ إِلَيَّ مِنْ خَيْرٍ فَقِيرٌ، نودی انجونو داخبره دده اوریدلی وه، نودی دواړو خپل پلار ته داخبره وکړه نویوې ته امروکی پلار یې چې ورسی اودغه سړی راولی: فَجَاءَتْهُ إِحْدَاهُمَا تَمْشِي عَلَى اسْتِحْيَاءٍ، یعنی تګ دازادو به یې کوی یعنی په پخوا زمانی کی به دمینځو اودازادو ښځو په تګ اوپه لباس کی فرق وو: قَالَتْ إِنَّ أَبِي يَدْعُوكَ لِيَجْزِيَكَ أَجْرَ مَا سَقَيْتَ لَنَا داخبره یې ورته څکه ښکاره وکړه چې په زړه کی یې څه شك رانه سی، اودایې دپوره والی دحیا نښه وه اوډذهانت نښه یې وه: فَلَمَّا جَاءَهُ وَقَصَّ عَلَيْهِ الْقَصَصَ یعنی دخپل واقعی څخه یې خبرکی (قَالَ) یعنی دغه بوډا شعیب ؑ ورڅخه مراد دی: لَا تَخَفْ نَجَوْتَ مِنَ الْقَوْمِ الظَّالِمِينَ یعنی ته وتلی یې دهغو دسلطنت څخه اودهغو ددولت څخه اوپه دی کی اختلاف دی چې داڅوك وو؟ بعضی وایی چې داشعیب ؑ وو اودی دخپل قوم دهلاکت څخه وروسته ډیره موده پاته سویدی. اوداقول مشهور دی اواصح دی اوپه دی باندی قول کړی دی حسن بصری اومالك بن انس. اوبعضو داویلی دی چې داشعیب وو خوشعیب ؑ نه وو بلکی دی ددی اوبو مشر وو اوبعضو داویلی دی چې دایوسړی وو چې یثرون نوم یې وو. اوپه نزد داهل کتابو باندی داعالم دمدین وو اومشر ددوی وو، کله چې دی موسیٰ ؑ خپل قصه دی شعیب ؑ ته وکړه نوشعیب ؑ ورته دنجات پیدا کولو زیری ورکی، نوپه دغه وخت کی ورته دده یوی لور وویل (یٰاَبَتِ اسْتَئْجِرْهُ) یعنی دخپلو پسو اوبزو دپاره، اوبیایې ورته دده مدحه وکړه چې داډیر قوی دی اوامانت ګردی، نوپلار ورڅخه پوښتنه وکړه چې تاته څه رنګه پته ولګیده چې دی طاقتور دی؟ نودې ورته وویل چې ده په یواځی هغه ډبره لوړه کړه چې هغه ډبره نسی لوړولی مګرلس کسان، اوامین په دی دی، چې زه کله دده سره راروانوم نوزه دده څخه مخکی سوم، نوده راته وویل چې زما څخه شاته سه، که ما لاره غلطه کړه نوماته مخکی ته کاڼی وله نوماته به علم وسی دلاری. ابن مسعود وایې:

(c) ketabton.com: The Digital Library



دری کسان ډیر هوښیاران دی: یوصاحب دیوسف ﷺ کله یې چې خپل ښځی ته وویل (اَکْرِمِیْ مَثْوٰهُ) اوصاحب دموسیٰ ﷺ کله یې چې وویل: یَا أَبَتِ اسْتَأْجِرْهُ إِنَّ خَيْرَ مَنِ اسْتَأْجَرْتَ الْقَوِيُّ الْأَمِينُ، اوابوبکر کله یې چې خلیفه مقرروی عمر بن الخطاب: قَالَ إِنِّي أُرِيدُ أَنْ أُنْكِحَكَ إِحْدَى ابْنَتَيَّ هَاتَيْنِ عَلَى أَنْ تَأْجُرَنِي ثَمَانِيَ حِجَجٍ فَإِنْ أَتْمَمْتَ عَشْرًا فَمِنْ عِنْدِكَ وَمَا أُرِيدُ أَنْ أَشُقَّ عَلَيْكَ سَتَجِدُنِي إِنْ شَاءَ اللهُ مِنَ الصَّالِحِينَ، اوپه دی سره استدلال نیولی دی یوجماعت داصحابو دابی حنیفه څخه، په صحت ددی باندی چې په بیعه کی دوه شیان وی اوپه دواړو کی یوخوښ کړی اووایې خلی داجائز ده اوداسی نور اقوال یې هم سته، داپه دی قول سره: إِحْدَى ابْنَتَيَّ هَاتَيْنِ، په دی استدلال کی نظردی، ولی چې دامراوضه ده اوهغه معاقده ده. اوبیا الله ﷻ فرمایلی دی: ذَٰلِكَ بَيْنِي وَبَيْنَكَ أَيَّمَا الْأَجَلَيْنِ قَضَيْتُ فَلَا عُدْوَانَ عَلَيَّ وَاللهُ عَلَى مَا نَقُولُ وَكِيلٌ، ویل سوی دی چې موسیٰ ؑ خپل خسرته داوویل چې، خبره به ستا دقول موافق وی چې کم ماتیر کړه په دی کلونو کی یعنی یا اووه کاله یالس کاله نودابه زماخوښه وی، اوالله ﷻ زموږ په وینا باندی شاهد دی اوهغه وکیل دی پر موږ باندی، اوسره ددی موسیٰ ﷺ کم تیر نکړه بلکی هم هغه لس کاله یې تیرکړه. امام بخاری ویلی دی په نقل کولو سره دمحمد بن عبد الرحمٰن څخه دی دسعید بن سلیمان څخه دی دمروان بن شجاع څخه دی دسالم بن الافطس څخه دی دسعید بن جبیر څخه، دی وایی چې زما څخه پوښتنه وکړه یویهودی داهل الحیره چې: موسیٰ ﷺ کمه نیټه پوره کړی وه؟ نوما ورته وویل چې ماته پته نسته تردی چې زه ورسم دعربو علماوو ته اودهغوی څخه پوښتنه وکړم، نوما پوښتنه وکړه دابن عباس ؓ څخه نو ویې ویل چې: هغه ډیره اوښه یعنی لس کاله. ولی چې دالله ﷻ رسولان چې کله خبره وکی نوهغه بیاپوره کوی (۱) په دی حدیث باندی یواځی والی کړی دی بخاری په دی اعتبار سره، اودارنګه ددی روایت کړی دی النسایې په حدیث دفنونو کی.

اودارنګه ددی روایت نقل کړی دی سنید دحجاج څخه دی دابن جریج څخه دی دمجاهد څخه: چې رسول الله ﷺ پوښتنه وکړه دجبرایل څخه اوجبرایل پوښتنه وکړه داسرافیل څخه اواسرافیل پوښتنه وکړه دالله ﷻ څخه: نوجواب یې ورکی چې هغه ډیر وفادار وخت یې ورسره تیرکړی دی، اوهمداسی بل روایت نقل کړی دی ابن ابی حاتم اوالبزار دحدیث دعوید بن ابی عمران الجونی څخه اودی ضعیف دی، ده نقل کړی دخپل پلار څخه ده نقل کړی دی دعبدالله بن الصامت څخه ده دابی ذر څخه، چې درسول الله ﷺ څخه پوښتنه وسوه چې موسیٰ ﷺ کمه نیټه دشعیب ﷺ تیره کړی وه؟ نونبی ﷺ وفرمایل چې هغه ډیره

(۱). صحیح البخاری، کتاب الشهادات، باب من امر بانجاز الوعد ۱۲۸۴\۵.

(c) ketabton.com: The Digital Library



او وفاداره نیته. اوویل سوی دی چی چابه ورڅخه پوښتنه وکړه چی دکمی یوه سره یې واده کړی وو، نووې فرمایل چی دکشری سره.
اودارنګه ددې روایت ذکرکړی دی ابن ابی حاتم اوالبزار دطریقی دعبدالله بن لهیعه څخه چی دی نقل کوی دحارث بن یزیدالحضرمی څخه دی دعلی بن رباح څخه دی دعتبه بن الندر څخه چی رسول الله ﷺ فرمایلی دی، چی موسیٰ علیه السلام ځان په کرایه ورکی دپاره دحفاظت دعفت اودپاره دډوډی. نوکله یې چی پوره کړه نیته وویل سوه چی کمه نیته یې پوره کړی وه نونبی علیه السلام وفرمایل چی هغه ډیره وفاداره نوکله چی دی دشعیب علیه السلام څخه جلا کیدی نودی ښځی ورته وویل چی ددې پلاره څخه حیوانان وغواړی ددی دپاره چی خپله ورځی په تیروی، نودوی ته یې ورکړه دټولو حیوانانو څخه یو یورنګ په دغه کال باندی او وه دده پسونه اوبزې توری ښائسته.
دارنګه روایت نقل دی دابن جریر څخه په نقل کولو سره دمحمد بن المثنیٰ څخه دی دمعاذ بن هشام څخه دی دابی څخه دی دقتاده څخه دی دانس بن مالك څخه دی وایی چی: کله چی نیته دموسیٰ علیه السلام پوره سوه نودوی طلب وکی دشعیب علیه السلام څخه چی ده ته به ورکوی په دی کال باندی دهغه پسه بچیان چی ددغه رنګ څخه یې رنګ بدل وی، نوشعیب علیه السلام ورسره داخبره ومنله، نوموسیٰ علیه السلام په اوبوکی دی پسوته رسی ورواچوله نودا پسونه وبیریدل نودټولو بچیان په برګ رنګ کی پیداسوه مګر دیوه پسه، نوددی ټولو بچیان یې دځان سره وی وړل. دا اسناد ښه دی ولی چی ددی سړی ټول ثقه دی، والله اعلم.
اومخکی ذکرسو چی دیعقوب علیه السلام ماما چی لابان وو دی یعقوب علیه السلام ته یې وعده کړی وو هرهغه پسه چی په برګ رنګ کی وو. نوهغه هم داکار کړی وو کم چی موسیٰ علیه السلام وکی.
الله جل جلاله فرمایلی دی: فَلَمَّا قَضَى مُوسَى الْأَجَلَ وَسَارَ بِأَهْلِهِ آنَسَ مِنْ جَانِبِ الطُّورِ نَارًا قَالَ لِأَهْلِهِ امْكُثُوا إِنِّي آنَسْتُ نَارًا لَعَلِّي آتِيكُمْ مِنْهَا بِخَبَرٍ أَوْ جَذْوَةٍ مِنَ النَّارِ لَعَلَّكُمْ تَصْطَلُونَ (۲۹) فَلَمَّا أَتَاهَا نُودِيَ مِنْ شَاطِئِ الْوَادِ الْأَيْمَنِ فِي الْبُقْعَةِ الْمُبَارَكَةِ مِنَ الشَّجَرَةِ أَنْ يَا مُوسَى إِنِّي أَنَا اللهُ رَبُّ الْعَالَمِينَ (۳۰) وَأَنْ أَلْقِ عَصَاكَ فَلَمَّا رَآهَا تَهْتَزُّ كَأَنَّهَا جَانٌّ وَلَّى مُدْبِرًا وَلَمْ يُعَقِّبْ يَا مُوسَى أَقْبِلْ وَلَا تَخَفْ إِنَّكَ مِنَ الْآمِنِينَ (۳۱) اسْلُكْ يَدَكَ فِي جَيْبِكَ تَخْرُجْ بَيْضَاءَ مِنْ غَيْرِ سُوءٍ وَاضْمُمْ إِلَيْكَ جَنَاحَكَ مِنَ الرَّهْبِ فَذَانِكَ بُرْهَانَانِ مِنْ رَبِّكَ إِلَى فِرْعَوْنَ وَمَلَئِهِ إِنَّهُمْ كَانُوا قَوْمًا فَاسِقِينَ، (سورة القصص ۲۹\ ۳۲) مخکی دابیان سوه چی موسی علیه السلام خپله وعده اونیته پوره کړی وه، کم چی ددی قول څخه معلومیږی: فَلَمَّا قَضَى مُوسَى الْأَجَلَ، دمجاهدڅخه نقل دی چی ده لس کاله تیرکړی وه وروسته ددی څخه دی بیا ولاړی، اوداقول (وَسَارَ بِأَهْلِهِ) یعنی دخپل خسر لخوا هغه په دی ارادی باندی چی ووینی

(c) ketabton.com: The Digital Library



دخپل اهل سره په پټه طریقه، اودده سره خپل حیوانان هم وه. دوی وایې چې په دوی باندې شپه راله اوددوی څخه لاره غلطه سوه نواخته سوه چې دشمع څخه به یې کار اخستی نو هغه هم کارنه کوی، نوپه دې حال کې ده ولیدی یواور چې شغلې یې وهلې دطور خوا ته او دا دمغرب خوا ته یوغروو دده دراسته لاس څخه: قَالَ لِأَهْلِهِ امْكُثُوا إِنِّي آنَسْتُ نَارًا، اوداپته نسته چې دا دده څخه ماسوا بل چا ولیدی اوکه صرف ده ته ښکاره سوی وو، ولې چې دا اور په حقیقت کې نور وو اودده کتل هرچاته نه دی میسر: لَعَلِّي آتِيكُمْ مِنْهَا بِخَبَرٍ، یعنی ددې خوا څخه به ماته داعلم وسی چې لاره کمې خواته ده: أَوْ جَذْوَةٍ مِنَ النَّارِ لَعَلَّكُمْ تَصْطَلُونَ نوددې څخه داپته لګیږي چې ددوی څخه لاره غلطه سوی وه په داسې شپه کې چې تیاره هم وه او یخ هم وو، دده قول دده څخه چې په بل سورة ذکردی: وَهَلْ أَتَاكَ حَدِيثُ مُوسَى (۹) إِذْ رَأَى نَارًا فَقَالَ لِأَهْلِهِ امْكُثُوا إِنِّي آنَسْتُ نَارًا لَعَلِّي آتِيكُمْ مِنْهَا بِقَبَسٍ أَوْ أَجِدُ عَلَى النَّارِ هُدًى، نوداهم په دې باندې دلالت کوی چې ددوی څخه لاره غلطه سوې وه اوپه دغه شپه تیاره هم وه. اودا ټول یې په سورة النمل کې راټول کړی دی په دې قول کې: إِذْ قَالَ مُوسَى لِأَهْلِهِ إِنِّي آنَسْتُ نَارًا سَآتِيكُمْ مِنْهَا بِخَبَرٍ أَوْ آتِيكُمْ بِشِهَابٍ قَبَسٍ لَعَلَّكُمْ تَصْطَلُونَ، اوده راوړی ددې ځای څخه خبرکم خبر یې چې راوړی اوهدایت یې پیداکی اوکم هدایت اونوریې دهغه ځای څخه حاصل کی اوکم نور؟ الله ﷻ فرمایلی دی: فَلَمَّا أَتَاهَا نُودِيَ مِنْ شَاطِئِ الْوَادِ الْأَيْمَنِ فِي الْبُقْعَةِ الْمُبَارَكَةِ مِنَ الشَّجَرَةِ أَنْ يَا مُوسَى إِنِّي أَنَا اللهُ رَبُّ الْعَالَمِينَ اوپه سورة النمل کې یې ویلی دی: فَلَمَّا جَاءَهَا نُودِيَ أَنْ بُورِكَ مَنْ فِي النَّارِ وَمَنْ حَوْلَهَا وَسُبْحَانَ اللهِ رَبِّ الْعَالَمِينَ، یعنی پاکی ده دهغه ذات دپاره چې هغه څه غواړی هغه کوی اوحکم په هغه څه کوی کم چې غواړی: يَا مُوسَى إِنَّهُ أَنَا اللهُ الْعَزِيزُ الْحَكِيمُ (سورة النمل\۹) دارنګه الله ﷻ فرمایلی دی: يَا مُوسَى إِنَّهُ أَنَا اللهُ الْعَزِيزُ الْحَكِيمُ (سورة النمل\۹)، فَلَمَّا أَتَاهَا نُودِيَ يَا مُوسٰى (۱۱) إِنِّي أَنَا رَبُّكَ فَاخْلَعْ نَعْلَيْكَ إِنَّكَ بِالْوَادِ الْمُقَدَّسِ طُوًى (۱۲) وَأَنَا اخْتَرْتُكَ فَاسْتَمِعْ لِمَا يُوحٰى (۱۳) إِنَّنِي أَنَا اللهُ لَا إِلَهَ إِلَّا أَنَا فَاعْبُدْنِي وَأَقِمِ الصَّلَاةَ لِذِكْرِي (۱٤) إِنَّ السَّاعَةَ آتِيَةٌ أَكَادُ أُخْفِيهَا لِتُجْزَى كُلُّ نَفْسٍ بِمَا تَسْعٰى (۱۵) فَلَا يَصُدَّنَّكَ عَنْهَا مَنْ لَا يُؤْمِنُ بِهَا وَاتَّبَعَ هَوَاهُ فَتَرْدٰى (سورة طه ۱۱\۱۶) ویلی دی یوه سړی غیر دمفسرینو څخه: کله چې قصد وکی موسٰی ﷺ دغه اورته نوکله چې وررسیدی، نوویې لیدی چې داشغلې لمبې وهی په درخته دځوزانو کی چې شنه وه، نوددا اور ډیری شغلې وی اودا درخته ډیره شنه وه نودی حیران ورته ودریدی په تعجب کې، اووه دا درخته په یوخوا ددې غره کې، لکه څنګه چې الله ﷻ فرمایلی دی: وَمَا كُنْتَ بِجَانِبِ الْغَرْبِيِّ إِذْ قَضَيْنَا إِلَى مُوسَى الْأَمْرَ وَمَا كُنْتَ مِنَ الشَّاهِدِينَ، او وو

(c) ketabton.com: The Digital Library



موسیٰ ﷺ په یووادی کی چی نوم یې طوی وو نودده مخ دقبلی خوا ته وو، اودا درخته دده راسته خوا ته وه، نوالله ﷻ ورته اواز وکی چی چپلکی وکاږه ولی چی دی په مقدس مقام دطوٰی کی ولاړ وو. اوبیا ورته الله ﷻ خطاب وکی په دی قول سره: إِنِّي أَنَا اللهُ رَبُّ الْعٰلَمِیْنَ، إِنَّنِي أَنَا اللهُ لَا إِلٰهَ إِلَّا أَنَا فَاعْبُدْنِي وَأَقِمِ الصَّلَاةَ لِذِكْرِي، یعنی زه خالق اورب دټول عالم یم، هغه رب چی لائق دعبادت ماسوا زما څخه بل څوك نه دی اونه څوك زما څخه ماسوا دعبادت دپاره ټاکل سوی دی، اوبیایې ورته داخبر ورکی چی دا دنیا دپاته کیدو ځای نه دی بلکه دپاته کیدو اودقراری ځای جنت دی هغه قیامت چی دهغه راتګ حق دی: لِتُجْزٰی كُلُّ نَفْسٍ بِمَا تَسْعٰی، یعنی جزا ورکول کیږی هرنفس ته دهغه دعمل.

بیا الله ﷻ ورته وفرمایل چی: وَمَا تِلْكَ بِیَمِینِكَ یَا مُوسٰی، یعنی داستاپه لاس کی څه دی: قَالَ هِيَ عَصَايَ أَتَوَكَّأُ عَلَیْهَا وَأَهُشُّ بِهَا عَلٰی غَنَمِي وَلِيَ فِیهَا مَآرِبُ أُخْرٰی، ده وویل چی زمالکړه ده اوپه دی سره زه خپل پسونه څروم اوپه دی کی زما نوری فائدی هم سته: قَالَ أَلْقِهَا یَا مُوسٰی (۱۹) فَأَلْقَاهَا فَإِذَا هِيَ حَیَّةٌ تَسْعٰی، اودا یوداسی کاروو چی عادت ددی تقاضانه کوله، اوداپه وینا دهغه ذات سره وسو چی یوشی ته وایی چی سه نوپس وسی. اوپه نزد داهل کتابو باندی ده دالله ﷻ څخه سوال وکی چی ده ته داسی یودلیل اونښه وښایاست چی دی یې اهل مصرته پیش کی په هغه وخت کی چی هغوی دده تکذیب وکی، نوالله ﷻ ده ته وویل چی داستا سره په لاس کی څه دی، نوده ورته وویل چی لکړه ده نورب العزت ورته وفرمایل چی دا وغورزوه نوکله یې چی دا وغورزوله نوددی څخه لوی اژدها جوړسو نوموسیٰ دشا پرخوا وتښتیدی، نوالله ﷻ ورته امروکی چی دا دی ونیسی، نوکله چی ورته ده لاس واچوی نو بیرته لکړه ورڅخه جوړه سوه.

اودارنګه الله ﷻ په بل آیت کی فرمایلی دی: وَأَلْقِ عَصَاكَ فَلَمَّا رَآهَا تَهْتَزُّ كَأَنَّهَا جَانٌّ وَلّٰی مُدْبِرًا وَلَمْ یُعَقِّبْ یعنی کله چی ده لکړه وغورزوله نوددی څخه ډیره غټه اژدها جوړه سوه چی زامی یې ښورولی اوپه تیزی سره به ښوریدی، نوکله چی موسیٰ داولیدی نوپه شاه باندی یې منډه کړه، ولی چی دانسان فطرت اوطبیعت ددی څخه بیره کوی نوالله ﷻ ورته خطاب وکی په دی وینا سره: یَا مُوسٰی أَقْبِلْ وَلَا تَخَفْ إِنَّكَ مِنَ الْآمِنِینَ، نوکله چی رالی نوالله ﷻ ورته امروکی: قَالَ خُذْهَا وَلَاتَخَفْ سَنُعِیدُهَا سِیرَتَهَا الْأُولٰی، ویل سوی دی چی دی په ډیرهیبت کی سو، نوده اول دآخری حصی څخه ونیوی اوبیایې دمینځ څخه ونیوی تردی چی ختم سو. اوپه نزد داهل کتابو باندی ترغوړ یې ونیوی، نوکله یې چی ورته لاس کی نوبیرته خپل شکل ته ور واوښتی چی لکړه وه، بیایې ورته امروکی چی خپل لاس په جیب کی دننه کی، اوبیایې

(c) ketabton.com: The Digital Library



ورته امروکی چی لاس راوباسه نوګوری چی لاس یې بریښی دسپوږمی په شان، نوددی وجی څخه یې فرمایلی دی: اسْلُكْ يَدَكَ فِي جَيْبِكَ تَخْرُجْ بَيْضَاءَ مِنْ غَيْرِ سُوءٍ وَاضْمُمْ إِلَيْكَ جَنَاحَكَ مِنَ الرَّهْبِ، ویل سوی دی چی ددی معنٰی داسی ده چی کله ته وبیریږی نولاس دی په زړه باندی کښیږده نوتاته به سکون در ورسیږی. داکار که څه هم په هغه پوری خاص دی بیاهم دبرکت دپاره که څوك داکوی نوجائزدی ولی چی په دی کی اقتداء ده په ده پسی، اوپه سورة النمل کی یې فرمایلی دی: وَأَدْخِلْ يَدَكَ فِي جَيْبِكَ تَخْرُجْ بَيْضَاءَ مِنْ غَيْرِ سُوءٍ فِي تِسْعِ آيَاتٍ إِلَى فِرْعَوْنَ وَقَوْمِهِ إِنَّهُمْ كَانُوا قَوْمًا فَاسِقِينَ یعنی دالاس اولکړه، دوی دواړه ستادپاره مضبوط دلائل دی دی دواړو ته اشاره سویده په دی قول کی هم: فَذَانِكَ بُرْهَانَانِ مِنْ رَبِّكَ إِلَى فِرْعَوْنَ وَمَلَئِهِ إِنَّهُمْ كَانُوا قَوْمًا فَاسِقِينَ، اوسره ددی څخه اوه آیتونه اونښی نوری هم دی. نوداټول (۹) استدلالات سوه هغه چی ذکرسوی دی په دی قول دالله ﷻ کی: وَلَقَدْ آتَيْنَا مُوسَى تِسْعَ آيَاتٍ بَيِّنَاتٍ فَاسْأَلْ بَنِي إِسْرَائِيلَ إِذْ جَاءَهُمْ فَقَالَ لَهُ فِرْعَوْنُ إِنِّي لَأَظُنُّكَ يَا مُوسَى مَسْحُورًا (۱۰۱) قَالَ لَقَدْ عَلِمْتَ مَا أَنْزَلَ هَؤُلَاءِ إِلَّا رَبُّ السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضِ بَصَائِرَ وَإِنِّي لَأَظُنُّكَ يَا فِرْعَوْنُ مَثْبُورًا (سورة الاسراء ۱۰۱\۱۰۲) اوداپه دی قول دالله ﷻ کی په تفصیل سره ذکرسوی دی، اوددی په باره کی به په خپل ځای کی کلام بیانیږی. دلته مقصودی خبره داده چی کله امروکی الله ﷻ موسٰی عليه السلام دتلو دفرعون خواته نوده وویل: قَالَ رَبِّ إِنِّي قَتَلْتُ مِنْهُمْ نَفْسًا فَأَخَافُ أَنْ يَقْتُلُونِ (۳۳) وَأَخِي هَارُونُ هُوَ أَفْصَحُ مِنِّي لِسَانًا فَأَرْسِلْهُ مَعِيَ رِدْءًا يُصَدِّقُنِي إِنِّي أَخَافُ أَنْ يُكَذِّبُونِ (۳۴) قَالَ سَنَشُدُّ عَضُدَكَ بِأَخِيكَ وَنَجْعَلُ لَكُمَا سُلْطَانًا فَلَا يَصِلُونَ إِلَيْكُمَا بِآيَاتِنَا أَنْتُمَا وَمَنِ اتَّبَعَكُمَا الْغَالِبُونَ (سورة القصص ۳۲\۳۳) په دی آیتونو کی رب العزت خبر ورکوی دوینا دموسٰی عليه السلام هغه کله چی ورته الله ﷻ امر وکی چی فرعون دخواته ورسه، نوده خپل عذربیان کی په دی قول سره: قَالَ رَبِّ إِنِّي قَتَلْتُ مِنْهُمْ نَفْسًا فَأَخَافُ أَنْ يَقْتُلُونِ (۳۳) وَأَخِي هَارُونُ هُوَ أَفْصَحُ مِنِّي لِسَانًا فَأَرْسِلْهُ مَعِيَ رِدْءًا يُصَدِّقُنِي إِنِّي أَخَافُ أَنْ يُكَذِّبُونِ، یعنی هغه زماسره مددکونکی وګرزوی اوزما دپاره یې وزیرکی چی زما مدد کوی په اداء کولو درسالت ستاکی، ولی چی هغه زما څخه په خبره بیانولوکی ډیر فصیح دی اوپه تبلیغ کی هم زما څخه ښه دی. نوالله ﷻ ورلره جواب ورکی په دی قول سره: قَالَ سَنَشُدُّ عَضُدَكَ بِأَخِيكَ وَنَجْعَلُ لَكُمَا سُلْطَانًا فَلَا يَصِلُونَ إِلَيْكُمَا بِآيَاتِنَا أَنْتُمَا وَمَنِ اتَّبَعَكُمَا الْغَالِبُونَ، یعنی تاسی ته به هیڅ تکلیف ونه رسوی دوی په سبب ددلیل زموږ باندی: أَنْتُمَا وَمَنِ اتَّبَعَكُمَا الْغَالِبُونَ، اوپه سورة طٰه کی یې ورته ویلی دی: اذْهَبْ إِلَى فِرْعَوْنَ إِنَّهُ طَغَى (۲۴) قَالَ رَبِّ اشْرَحْ

(c) ketabton.com: The Digital Library



لِي صَدْرِي (۲۵) وَيَسِّرْ لِي أَمْرِي (۲۶) وَاحْلُلْ عُقْدَةً مِّنْ لِسَانِي (۲۷) يَفْقَهُوا قَوْلِي، ویل سوی دی: چی دده په ژبه کی فرق وو چی په سبب دهغه سکروټی چی فرعون ورلره په ژبه ایښی وه، په هغه وخت کی کله چی یې دفرعون ږیری ته لاس کی نوهغه ته داپته ولګیده چی دی به هم دده قتل سبب وی نوآسیه ورته وویل چی داماشوم دی نه پوهیږی بیایې ورته مخ ته خرما اوسکروټی کښیښوولی دپاره دامتحان نوچی کله ده خرماته لاس کی نوفرعون دده لاس وراوړدکی سکروټی ده نوهغه ده په ژبه باندی کښیښووله نودهغه سره یې په ژبه کی فرق راغلی وو، نوددی وجی ورته فرعون ویلی دی په هغه وخت کی کله چی ده بیان او تبلیغ کوی دوی ته (ولا یکاد یبین) ولی چی موسیٰ ؑ به دوی ته دزړه خبره په وضاحت سره نسوای کولی. بیاموسیٰ ؑ وویل: وَاجْعَلْ لِي وَزِيرًا مِنْ أَهْلِي (۲۹) هَارُونَ أَخِي (۳۰) اشْدُدْ بِهِ أَزْرِي (۳۱) وَأَشْرِكْهُ فِي أَمْرِي (۳۲) كَيْ نُسَبِّحَكَ كَثِيرًا (۳۳) وَنَذْكُرَكَ كَثِيرًا (۳٤) إِنَّكَ كُنْتَ بِنَا بَصِيرًا (۳۵) قَالَ قَدْ أُوتِيتَ سُؤْلَكَ يَا مُوسَى (سورة طه ۲۹\ ۳۶) الله ﷻ ورته په جواب کی وویل چی تاته درکول سو هرهغه څه چی تاوغوښتی، اوهارون ؑ یې ورسره په طور دامداد یوځای کی چی دده زړه په ډاډه وی. الله ﷻ فرمایلی دی: وَإِذْ نَادَى رَبُّكَ مُوسَى أَنِ ائْتِ الْقَوْمَ الظَّالِمِينَ (۱۰) قَوْمَ فِرْعَوْنَ أَلَا يَتَّقُونَ (۱۱) قَالَ رَبِّ إِنِّي أَخَافُ أَنْ يُكَذِّبُونِ (۱۲) وَيَضِيقُ صَدْرِي وَلَا يَنْطَلِقُ لِسَانِي فَأَرْسِلْ إِلَى هَارُونَ (۱۳) وَلَهُمْ عَلَيَّ ذَنْبٌ فَأَخَافُ أَنْ يَقْتُلُونِ (۱٤) قَالَ كَلَّا فَاذْهَبَا بِآيَاتِنَا إِنَّا مَعَكُمْ مُسْتَمِعُونَ (۱۵) فَأْتِيَا فِرْعَوْنَ فَقُولَا إِنَّا رَسُولُ رَبِّ الْعَالَمِينَ (۱۶) أَنْ أَرْسِلْ مَعَنَا بَنِي إِسْرَائِيلَ (۱۷) قَالَ أَلَمْ نُرَبِّكَ فِينَا وَلِيدًا وَلَبِثْتَ فِينَا مِنْ عُمُرِكَ سِنِينَ (۱۸) وَفَعَلْتَ فَعْلَتَكَ الَّتِي فَعَلْتَ وَأَنْتَ مِنَ الْكَافِرِينَ، (سورة الشعراء ۱۰\۱۹) تقدیر دکلام داسی دی: نودوی راله اوهغه څه چی امرورته کړی وو رب ددوی چی فرعون ته وایی نوهغه یې هم دی فرعون ته وویل اودا یې ورته هم وویل چی بنی اسرائیل پریږدی چی خپل عبادت وکی اوهرځای چی غواړی نو هم په هغه ځای کی دی دالله ﷻ عبادت وکی اوداظلم اوستم دی نور نکوی په دوی باندی. نوفرعون تکبر ښکاره کی په خپل نفس کی اوموسیٰ ؑ ته یې په نظر دسپکاوی باندی وکتل اودایې ورته وویل: قَالَ أَلَمْ نُرَبِّكَ فِينَا وَلِيدًا وَلَبِثْتَ فِينَا مِنْ عُمُرِكَ سِنِينَ یعنی ته هغه سړی نه یې چی موږ په خپل کورکی لوی کړی یې اوتربیه درلره موږ درکړیده؟ اوپه تاباندی موږ احسان وکی څه موده اوتاته مونعمتونه درکړه څه موده؟ اودا دلالت کوی په دی باندی چی داهغه فرعون وو چی په ده پسی یې کسان لیږلی وه اودی ورڅخه تللی وو اوپه نزد داهل کتابو باندی داهغه نه وو بلکه دابل فرعون وو، اوهغه فرعون چی موسیٰ ورڅخه تښتیدلی نوهغه فرعون بیامړ سوی وو په منځ دغه وخت کی چی موسیٰ په مدین کی وو. اودا قول:

(c) ketabton.com: The Digital Library



وَفَعَلْتَ فَعْلَتَكَ الَّتِي فَعَلْتَ وَأَنْتَ مِنَ الْكَافِرِينَ یعنی تا ووژی قبطی، اوزموږ څخه وتښتیدی او زموږ دنعمتونو څخه دی غلطه فائده واخیسته: قَالَ فَعَلْتُهَا إِذًا وَأَنَا مِنَ الضَّالِّينَ یعنی مخکی دوحی څخه اودرسالت لیدو څخه ماته ماداکار کړی دی. اوبیا فرعون ته په جواب ورکولو اخته سو په مقابل دهغه څه کی چی ده ورته تربیه ورکړه په دی قول سره: وَتِلْكَ نِعْمَةٌ تَمُنُّهَا عَلَيَّ أَنْ عَبَّدْتَ بَنِي إِسْرَائِيلَ، یعنی ته دا احسان پرما باندی خپل ښکاره کوی چی تازما تربیه کړیده اوزه یوسړی یم دبنی اسرائیلو څخه اوهغوی دی دهرڅه څخه محرومه کړی دی.

قَالَ فِرْعَوْنُ وَمَا رَبُّ الْعَالَمِينَ (۲۳) قَالَ رَبُّ السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضِ وَمَا بَيْنَهُمَا إِنْ كُنْتُمْ مُوقِنِينَ (۲٤) قَالَ لِمَنْ حَوْلَهُ أَلَا تَسْتَمِعُونَ (۲۵) قَالَ رَبُّكُمْ وَرَبُّ آبَائِكُمُ الْأَوَّلِينَ (۲٦) قَالَ إِنَّ رَسُولَكُمُ الَّذِي أُرْسِلَ إِلَيْكُمْ لَمَجْنُونٌ (۲۷) قَالَ رَبُّ الْمَشْرِقِ وَالْمَغْرِبِ وَمَا بَيْنَهُمَا إِنْ كُنْتُمْ تَعْقِلُونَ، دلته الله ﷻ بیان دمناظری دموسیٰ ؑ اودفرعون کړی دی چی موسیٰ ؑ ورته دلائل پیش کوی په ذات دالله ﷻ باندی اودی په مقابله دهغه کی وایې: فَحَشَرَ فَنَادَىٰ (۲۳) فَقَالَ أَنَا رَبُّكُمُ الْأَعْلَىٰ، وَقَالَ فِرْعَوْنُ يَا أَيُّهَا الْمَلَأُ مَا عَلِمْتُ لَكُمْ مِنْ إِلَٰهٍ غَيْرِي، اوده په دی خپل قول کی ضدی دی ولی چی ده ته ښه پته وه چی خالق حقیقی الله ﷻ دی اودی یوبنده دهغه دی، لکه څنګه چی الله ﷻ فرمایلی دی: وَجَحَدُوا بِهَا وَاسْتَيْقَنَتْهَا أَنْفُسُهُمْ ظُلْمًا وَعُلُوًّا فَانْظُرْ كَيْفَ كَانَ عَاقِبَةُ الْمُفْسِدِينَ، دایې دوجی دانکار درسالت دده څخه وویل، اودایې ښکاره کول چی دی الله ﷻ پیغمبرنه دی رالیږلی: (وَمَارَبُّ الْعٰلَمِيْنَ) ولی چی دوی ورته ویلی وه: اِنَّا رَسُوْلُ رَبِّ الْعٰلَمِيْنَ، ګواکی چی دی ورته وایی چی هغه رب څوك دی چی تاسی یې راوستلی یاست: رَبُّ السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضِ وَمَا بَيْنَهُمَا إِنْ كُنْتُمْ مُوقِنِينَ یعنی رب العالمین هغه ذات دی چی پیداکړی دی ده آسمانونه اومزکی او هغه څه چی ددی په مینځ کی دی. فرعون خپل شاوخوا سالارانو ته په طریقی داستهزاء سره وویل چی تاسی آوری نه دده داخبری. موسیٰ ؑ بیا ورته وویل چی هغه ذات ستاسی رب دی اوستاسی دپلرونو رب دی اودا دوه مقامونه په دی آیت کی ذکردی: سَنُرِيهِمْ آيَاتِنَا فِي الْآفَاقِ وَفِي أَنْفُسِهِمْ حَتَّىٰ يَتَبَيَّنَ لَهُمْ أَنَّهُ الْحَقُّ، اوسره ددی بیانونو اوتبلیغونو دافرعون دخپل ضلالت څخه اوګمراهی څخه ونه بیریدی اوپه خپل کفر اوطغیان باندی قائم وو: قَالَ إِنَّ رَسُولَكُمُ الَّذِي أُرْسِلَ إِلَيْكُمْ لَمَجْنُونٌ (۲۷) قَالَ رَبُّ الْمَشْرِقِ وَالْمَغْرِبِ وَمَا بَيْنَهُمَا إِنْ كُنْتُمْ تَعْقِلُونَ، یعنی ده ورته بیاهم خپل بیان جاری وساتی اوورته یې وویل چی دالمر اوسپوږمی اودا ستوری اوشپه اوورځ داټول دهغه ذات په قدرت سره چلیږی. نوکله چی ده په فرعون باندی خپل دلائل پیش کړه اودهغه سره دجواب الفاظ پاته نه سوه نوبیایې دخپل سلطنت څخه

(c) ketabton.com: The Digital Library



کار واخستی اوورته یې وویل: قَالَ لَئِنِ اتَّخَذْتَ إِلَهًا غَيْرِي لَأَجْعَلَنَّكَ مِنَ الْمَسْجُونِينَ (۲۹) قَالَ أَوَلَوْ جِئْتُكَ بِشَيْءٍ مُبِينٍ (۳۰) قَالَ فَأْتِ بِهِ إِنْ كُنْتَ مِنَ الصَّادِقِينَ (۳۱) فَأَلْقَى عَصَاهُ فَإِذَا هِيَ ثُعْبَانٌ مُبِينٌ (۳۲) وَنَزَعَ يَدَهُ فَإِذَا هِيَ بَيْضَاءُ لِلنَّاظِرِينَ، اوداهغه دوی نښانی وی چی الله ﷻ په دی سره دده نصرت کړی وو، اوداسی دلائل اونښانی وی چی سترګو مخکی نه وی لیدلی اوعقلونه ورته ټول حیران پاته سوه، ولی چی داډیر عجیبه اوخوفناك منظر وو، نوفرعون چی کله دا اژدها ولیدی نودستونه پر ولګیده چی دورځی به یې (۴۰) واره قضایې حاجت ادا کوی او همدارنګه کله یې چی جیب ته لاس کی نوپه را ایستلو سره ورځخه داسی رڼا راختله لکه چی دده په لاس کی سپوږمی پرته وی، اوبیایې بیرته لاس جیب ته یووړی اوهغه رڼا ولاړه. سره ددی نښو بیاهم فرعون دخپل ضد ځخه تیرنه سو اوځه نفع ورته ددی سره حاصله نه سوه، بلکی دایې وویل چی داټول سحردی، اواراده یې وکړه دده دمقابلی په سحر سره، نووی لیږل خپل کسان اوخپاره یې کړه چی ده لره ټول ساحران راټول کړه. لکه ځه رنګه چی ددی بیان په قرآن کی ذکرسوی دی اوموږ په تفسیر کی ددی وضاحت کړی دی. الله ﷻ په سورة طٰه کی فرمایې: فَلَبِثْتَ سِنِينَ فِي أَهْلِ مَدْيَنَ ثُمَّ جِئْتَ عَلَى قَدَرٍ يَا مُوسَىٰ (٤٠) وَاصْطَنَعْتُكَ لِنَفْسِي (٤١) اذْهَبْ أَنْتَ وَأَخُوكَ بِآيَاتِي وَلَا تَنِيَا فِي ذِكْرِي (٤٢) اذْهَبَا إِلَىٰ فِرْعَوْنَ إِنَّهُ طَغَىٰ (٤٣) فَقُولَا لَهُ قَوْلًا لَيِّنًا لَعَلَّهُ يَتَذَكَّرُ أَوْ يَخْشَىٰ (٤٤) قَالَا رَبَّنَا إِنَّنَا نَخَافُ أَنْ يَفْرُطَ عَلَيْنَا أَوْ أَنْ يَطْغَىٰ (٤٥) قَالَ لَا تَخَافَا إِنَّنِي مَعَكُمَا أَسْمَعُ وَأَرَىٰ، بیان کوی الله ﷻ دهغه ځه چی دموسٰی ؑ سره یې خبری کړی وی په هغه شپه کی په کمه شپه چی یې ورته وحی کړی وی، اونبوت یې ورته ورکړی وو، اوخبری یې ورسره کړی وی: چی زما تاته خیال وو په هغه وخت کی چی ته دفرعون په کور کی وی، اوته زما دحفاظت لاندی وی، اوبیامی ته دمصر دمزکی ځخه وایستی او دمدین مزکی ته می ولیږلی، نوهلته دی ځوکاله تیرکړه اوبیا رالی زماپه قدرت سره، اوته ماځان لره خوښ کړی یې دپاره درسالت اودپاره دکلام: اذْهَبْ أَنْتَ وَأَخُوكَ بِآيَاتِي وَلَا تَنِيَا فِي ذِكْرِي یعنی تاسی زیاتی مه کوی اوپه ښه طریقه ورته نصیحت وکی. اوالله ﷻ فرمایلی دی: يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا إِذَا لَقِيتُمْ فِئَةً فَاثْبُتُوا وَاذْكُرُوا اللهَ كَثِيرًا لَعَلَّكُمْ تُفْلِحُونَ (سورة الانفال \ ۴۵) بیا الله ﷻ فرمایلی دی: اذْهَبَا إِلَىٰ فِرْعَوْنَ إِنَّهُ طَغَىٰ (٤٣) فَقُولَا لَهُ قَوْلًا لَيِّنًا لَعَلَّهُ يَتَذَكَّرُ أَوْ يَخْشَىٰ، اودا بیان درحمت اوشفقت دالله ﷻ دی په خپل بنده باندی، سره ددی چی علم دالله وو په کفر دده باندی اوپه ظلم دده باندی، بیایې هم ده ته خپل خوښ کړی بندګان راولیږل اوورته یې دخیرخواهی بیان وکی اودوی ته یې امرهم کړی ووچی دفرعون سره په نرمی اوپه ښه طریقه سره خبره وکی. لکه ځه رنګه چی الله ﷻ خپل نبی ؑ ته فرمایلی دی: ادْعُ إِلَىٰ سَبِيلِ رَبِّكَ

(c) ketabton.com: The Digital Library



بِالْحِكْمَةِ وَالْمَوْعِظَةِ الْحَسَنَةِ وَجَادِلْهُمْ بِالَّتِي هِيَ أَحْسَنُ (سورة النحل \ ۱۲۵) اودارنګه یې په بل ځای کی فرمایلی دی: وَلَا تُجَادِلُوا أَهْلَ الْكِتَابِ إِلَّا بِالَّتِي هِيَ أَحْسَنُ إِلَّا الَّذِينَ ظَلَمُوا مِنْهُمْ (سورة العنکبوت \۴۶) حسن بصری ویلی دی: یعنی په دی انداز ورته وایاست: چی ستادپاره رب سته اوستا دپاره بیرته تله سته ددی دنیا څخه اوستامخ ته اور اوجنت پروت دی: قَالَا رَبَّنَا إِنَّنَا نَخَافُ أَنْ يَفْرُطَ عَلَيْنَا أَوْ أَنْ يَطْغَىٰ، اودایې ددی وجی څخه وویل چی فرعون ډیرجبار اوظالم وو نودوی وویل چی موږ ته ضررونه رسوی. نوربُ العزت ورته وفرمایل: قَالَ لَا تَخَافَا إِنَّنِي مَعَكُمَا أَسْمَعُ وَأَرَىٰ یعنی زه وینم هغه څه چی ستاسی سره به کیږی اوزه به ستاسی سره یم، فَأْتِيَاهُ فَقُولَا إِنَّا رَسُولَا رَبِّكَ فَأَرْسِلْ مَعَنَا بَنِي إِسْرَائِيلَ وَلَا تُعَذِّبْهُمْ قَدْ جِئْنَاكَ بِآيَةٍ مِنْ رَبِّكَ وَالسَّلَامُ عَلَىٰ مَنِ اتَّبَعَ الْهُدَىٰ (٤٧) إِنَّا قَدْ أُوحِيَ إِلَيْنَا أَنَّ الْعَذَابَ عَلَىٰ مَنْ كَذَّبَ وَتَوَلَّىٰ، دلته ذکر کوی الله ﷻ خپل امردوی ته چی دوی ته یې فرمایلی دی چی تاسی ولاړسی فرعون ته، اودا دعوت ورته ورکی چی دالله ﷻ په یواځی والی سره عبادت وکی اوبنی اسرائیل دی پریږدی اوازار دی نه ورکوی: وَالسَّلَامُ عَلَىٰ مَنِ اتَّبَعَ الْهُدَىٰ، اودا قید ډیر عظیم دی اوبلیغ دی، اوبیایې ورته دعذاب تهدید ورکی اوبیره یې ورکړه ددی خبری څخه چی چازموږ تکذیب وکی نودهغه دپاره به عذاب وی: إِنَّا قَدْ أُوحِيَ إِلَيْنَا أَنَّ الْعَذَابَ عَلَىٰ مَنْ كَذَّبَ وَتَوَلَّىٰ، یعنی حق ته یې دروغ وویل اوعمل کوونکی ورباندی نه سو. اوالسدی ذکرکړی چی کله دی دمدین څخه رالی نو کورته چی دننه سو نوخپل مور او ورور یې ولیدل چی ماختنی ډوډی یې خوړله نو ددوی سره کښینستی اوډوډی یې ورسره وخوړله. اوبیایې هارون علیه السلام ته وویل چی الله ﷻ ماته او تاته امرکړی دی په دعوت اوتبلیغ سره فرعون ته، نوته زماسره ودریږه. نودوی دواړه ولاړه اودفرعون دروازی ته ورله نودروازه یې بنده وه نوموسیٰ علیه السلام دی چوکیدارانو ته وویل چی فرعون ته ووایه چی رسول الله په دروازه کی ولاړدی. نودوی اخته سوه چی په ده پوری یې مسخری اوټوکی شروع کړی اوبعضو داویلی دی چی ده ته یې دننوتلو اجازه ورنه کړه مګر ډیروخت وروسته اومحمدبن اسحاق ویلی دی چی دوی ته دوه کاله وروسته اجازه ورکول سوه، ولی چی هیڅ خوك نه وو چی ددوی دپاره یې اجازه غوښتی وای. اوویل سوی دی چی موسیٰ علیه السلام دروازی ته رالی نودروازه یې په خپل لکړه سره وټکوله، نوفرعون ته په دی سره درد ورلی اوامریې وکی چی دی دده مخ ته حاضرکی، نودوی دواړه دده مخ ته ودریده اودعوت یې ورلره ورکی په هغه طریقه سره په کمه چی ورته امر سوی وو.

اوپه نزد داهل کتابو باندی: موسیٰ علیه السلام ته الله ﷻ وفرمایل چی هارون علیه السلام به ستاپه لاره کی انتظار کوی اوستاسره به وینی، اودا امریې ورته وکی چی دبنی اسرائیل علماء دځان

(c) ketabton.com: The Digital Library



سره که اودفرعون خواته دی بوځی او هغه نبنی ورته وښیی چی الله ﷻ ورته ورکړی وی اودایې ورته وویل چی زه به دهغه زړه نرم کړم نوپه تاسی پسی به ډلی نه درلیږی، اوزما اکثره نبنی اوعجائب په مځکه دمصرکی دی اووحی وکړی الله ﷻ هارونؑ ته چی موسٰی ته لاری ته راووزی دحورب غرخواته، نوکله چی یې ورسره ولیده نوورته یې خبرورکی په باره دهغه څه کی چی ورته امرسوی وو. نوکله چی داخل سو مصرته نوعلماء یې راټول کړه او فرعون ته ورله، اودعوت یې چی ورلره ورکی نودا فرعون وویل چی څوك دی الله هغه خوزه نه پیژنم اونه بنی اسرائیل ستاسره پریږدم. الله ﷻ خبر ورکوی دفرعون څخه: قَالَ فَمَنْ رَبُّكُمَا يَا مُوسٰى (٤٩) قَالَ رَبُّنَا الَّذِي أَعْطَى كُلَّ شَيْءٍ خَلْقَهُ ثُمَّ هَدٰى (٥٠) قَالَ فَمَا بَالُ الْقُرُونِ الْأُولَى (٥١) قَالَ عِلْمُهَا عِنْدَ رَبِّي فِي كِتَابٍ لَا يَضِلُّ رَبِّي وَلَا يَنْسَى (٥٢) الَّذِي جَعَلَ لَكُمُ الْأَرْضَ مَهْدًا وَسَلَكَ لَكُمْ فِيهَا سُبُلًا وَأَنْزَلَ مِنَ السَّمَاءِ مَاءً فَأَخْرَجْنَا بِهِ أَزْوَاجًا مِنْ نَبَاتٍ شَتَّى (٥٣) كُلُوا وَارْعَوْا أَنْعَامَكُمْ إِنَّ فِي ذَلِكَ لَآيَاتٍ لِأُولِي النُّهَى (٥٤) مِنْهَا خَلَقْنَاكُمْ وَفِيهَا نُعِيدُكُمْ وَمِنْهَا نُخْرِجُكُمْ تَارَةً أُخْرٰى، (سورة طه ۴۹\ 55) الله ﷻ خبر ورکوی دفرعون دانکار څخه په دی قول دفرعون سره: قَالَ فَمَنْ رَبُّكُمَا يَا مُوسٰى (٤٩) قَالَ رَبُّنَا الَّذِي أَعْطَى كُلَّ شَيْءٍ خَلْقَهُ ثُمَّ هَدٰى، نودی موسٰی علیه السلام ورلره جواب ورکی چی هغه ذات دی چی زموږ پیدائش یې کړی دی اوموږته رزق راکوی اوموږ ته یې هدایت هم کړی دی اوپه هرڅه باندی قادر دی لکه څه رکم چی په دی قول کی ذکرسوی دی: سَبِّحِ اسْمَ رَبِّكَ الْأَعْلٰى (١) الَّذِي خَلَقَ فَسَوّٰى (٢) وَالَّذِي قَدَّرَ فَهَدٰى (سورة الاعلی ۱\ ۳)، قَالَ فَمَا بَالُ الْقُرُونِ الْأُولٰى، داسوال فرعون ځینی وکی چی که ستارب خالق اوپیدا کونکی دهرڅه وی نو دی مځکنی خلګو ولی عبادت دنورو کړی دی ایادغه خلګ هم ستاپه دی هدایت باندی وه اوکه نه وه اودهغوی اوس څه حال دی ؟ قَالَ عِلْمُهَا عِنْدَ رَبِّي فِي كِتَابٍ لَا يَضِلُّ رَبِّي وَلَا يَنْسٰى یعنی هغوی که څه هم عبادت کړی دی دنورو خوستا دپاره په هغو کی څه دلیل نسته، اودا کار دهغوی زما دوینا مخالفت نه کوی ولی چی هغوی په جهالت کی وه ستاپه شان او هغوی چی څه کړی دی هغه الله ﷻ په لوح محفوظ کی ساتلی دی اوهغوی ته به دخپلو کړو سزا ورکول سی اوهغه ذات دچاسره ظلم اوزیاتی نه کوی، ولی چی دهغه سره دهر انسان اعمال لیکل سوی دی. بیایې ورته ذکرکی قدرت دالله ﷻ په پیدا کولو دخلګوکی اودهغه قدرت پرهر څه باندی، لکه څه رکم چی یې په دی قول دالله ﷻ کی بیان سوی دی: كُلُوا وَارْعَوْا أَنْعَامَكُمْ إِنَّ فِي ذَلِكَ لَآيَاتٍ لِأُولِي النُّهٰى یعنی دخاوندانودعقلونو والاوو دپاره داغته نښنه ده. اولکه څه رکم چی الله ﷻ فرمایلی دی: يَا أَيُّهَا النَّاسُ اعْبُدُوا رَبَّكُمُ الَّذِي خَلَقَكُمْ وَالَّذِينَ مِنْ

(c) ketabton.com: The Digital Library



قَبْلِكُمْ لَعَلَّكُمْ تَتَّقُونَ (۲۱) الَّذِي جَعَلَ لَكُمُ الْأَرْضَ فِرَاشًا وَالسَّمَاءَ بِنَاءً وَأَنْزَلَ مِنَ السَّمَاءِ مَاءً فَأَخْرَجَ بِهِ مِنَ الثَّمَرَاتِ رِزْقًا لَكُمْ فَلَا تَجْعَلُوا لِلَّهِ أَنْدَادًا وَأَنْتُمْ تَعْلَمُونَ (سورة البقره۲۱\۲۲) اوکله یې چې ورته ذکرکړه راژوندی کیدل دمزکی په باران سره، اوددی مزکی په ښوریدلو سره اوپه دی کی دبوټو راټوکیدل اوشنه کیدل داهرڅه یې ورته ذکرکړه اودایې ورته هم وویل چې: مِنْهَا خَلَقْنَاكُمْ وَفِيهَا نُعِيدُكُمْ وَمِنْهَا نُخْرِجُكُمْ تَارَةً أُخْرٰى، لکه څه رکم چې یې فرمایلی دی: وَلَهُ الْمَثَلُ الْأَعْلَى فِي السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضِ وَهُوَالْعَزِيزُ الْحَكِيمُ (سورة الروم\۲۷) اوپه بل ځای کی یې فرمایلی دی: وَلَقَدْ أَرَيْنَاهُ آيَاتِنَا كُلَّهَا فَكَذَّبَ وَأَبٰى (۵۶) قَالَ أَجِئْتَنَا لِتُخْرِجَنَا مِنْ أَرْضِنَا بِسِحْرِكَ يَا مُوسٰى (۵۷) فَلَنَأْتِيَنَّكَ بِسِحْرٍ مِثْلِهِ فَاجْعَلْ بَيْنَنَا وَبَيْنَكَ مَوْعِدًا لَا نُخْلِفُهُ نَحْنُ وَلَا أَنْتَ مَكَانًا سُوًى (۵۸) قَالَ مَوْعِدُكُمْ يَوْمُ الزِّينَةِ وَأَنْ يُحْشَرَ النَّاسُ ضُحًى (سورة طه ۵۲\ ۵۹).

دلته الله ﷻ خبرورکوی دجهالت دفرعون څخه اودهغه دعقل دکمی څخه اودالله ﷻ دآیتونو دانکار کولو اوکبر اوغرور کولو څخه، اودقول یې موسٰی ﷷ ته: چې داتا څه راوړی دی داسحردی، اوموږ ستاسره په دی سحر کی مقابله کوو. اوبیایې دموسٰی ﷷ څخه طلب دمتعین کولو دیوی نیټی وغوښتی چې ورسره مقابله وکی. اوداوو دغټو مقصدونو دموسٰی څخه: چې دالله ﷻ ورکړی نښانی په عام میدان ټول خلګو ته وښیې نوددی وجی څخه یې ویلی دی: مَوْعِدُكُمْ يَوْمُ الزِّينَةِ، اوداوه ورځ ددوی داختر دورځو څخه اوداځای ددوی دراټولیدلو ځای وو: وَأَنْ يُحْشَرَ النَّاسُ ضُحًى، یعنی داول دورځی دشروع کیدو څخه په مخ دتیزیدلو دشعاع دلمر کی نوحق به ډیر ښه ښکاره سی، اوده طلب ځینی ونه کی دشپی چی شپه دی وی. الله ﷻ فرمایلی دی: فَتَوَلّٰى فِرْعَوْنُ فَجَمَعَ كَيْدَهُ ثُمَّ أَتٰى (۶۰) قَالَ لَهُمْ مُوسَى وَيْلَكُمْ لَا تَفْتَرُوا عَلَى اللهِ كَذِبًا فَيُسْحِتَكُمْ بِعَذَابٍ وَقَدْ خَابَ مَنِ افْتَرٰى (۶۱) فَتَنَازَعُوا أَمْرَهُمْ بَيْنَهُمْ وَأَسَرُّوا النَّجْوٰى (۶۲) قَالُوا إِنْ هٰذَانِ لَسَاحِرَانِ يُرِيدَانِ أَنْ يُخْرِجَاكُمْ مِنْ أَرْضِكُمْ بِسِحْرِهِمَا وَيَذْهَبَا بِطَرِيقَتِكُمُ الْمُثْلٰى (۶۳) فَأَجْمِعُوا كَيْدَكُمْ ثُمَّ ائْتُوا صَفًّا وَقَدْ أَفْلَحَ الْيَوْمَ مَنِ اسْتَعْلٰى (سورة طه، ۶۰\ ۶۴) دلته خبر ورکوی الله ﷻ دفرعون څخه چې هغه ولاړی اودټولو ځایونو څخه یې جادوګران راټول کړه، اوپه دغه وخت کی مصر دجادوګری دکسب څخه ډك وو، چې دهرچابه جادو زده وو اوهرچابه دخپل فن اظهار کوی، نوداټول یې راټول کړه، ویل سوی دی چې دوی (۸۰۰۰۰) جادوګران وه. اوابی امامه ویلی دی چې (۱۹۰۰۰) جادوګران وه، اومحمدبن اسحاق ویلی دی چې (۱۵۰۰۰) وه السدی ویلی دی چې څه باندی (۳۰۰۰۰) وه، اوچا ویلی دی چې دا(۴۰) ماشومان وه دبنی اسرائیلو څخه چې دوی ته فرعون امر کړی وو چې عرفاء مقام ته

(c) ketabton.com: The Digital Library



ولاړسی اوهلته دی جادوګری ازده کړی. نوددی وجی څخه ویل سوی دی: وَمَا أَكْرَهْتَنَا عَلَيْهِ مِنَ السِّحْرِ اوپه دی قول دده کی نظردی اوحاضرسو فرعون دخپل سالارانو سره هغه ځای ته اوامرېي وکی دغو ساحرانوته چی دوی هم حاضرسی، نودوی راووتل اووی ویل: لَعَلَّنَا نَتَّبِعُ السَّحَرَةَ إِنْ كَانُوا هُمُ الْغَالِبِينَ، اوموسٰی ﷺ دوی ته رامخکی سوه اوورته یې نصیحت وکی چی داکاردی نه کوی اودحق سره دی مقابله ونه کړی په دی قول سره: وَيْلَكُمْ لَا تَفْتَرُوا عَلَى اللَّهِ كَذِبًا فَيُسْحِتَكُمْ بِعَذَابٍ وَقَدْ خَابَ مَنِ افْتَرَى (٦١) فَتَنَازَعُوا أَمْرَهُمْ بَيْنَهُمْ، ویل سوی دی چی دوی په خپل مینځ کی سره په جنګ سوه، اوچا ویلی دی چی دادموسٰی ﷺ قول دی اودساحر قول نه دی، اوداهم ویل سوی دی چی داقول دساحر یعنی دجادوګر دی. اودوی په خپلو کی وویل: قَالُوا إِنْ هَذَانِ لَسَاحِرَانِ يُرِيدَانِ أَنْ يُخْرِجَاكُمْ مِنْ أَرْضِكُمْ بِسِحْرِهِمَا، دوی داوویل چی دا دواړه ورونه دی دوی دواړه غواړی چی په خپل جادو سره تاسی دخپلی مزکی څخه وباسی اومراد ددوی داوو چی داخلګ ورته راټول سی اودده بادشاه ومنی اودده څخه مخالفت وکی: فَأَجْمِعُوا كَيْدَكُمْ ثُمَّ ائْتُوا صَفًّا وَقَدْ أَفْلَحَ الْيَوْمَ مَنِ اسْتَعْلَى، اودوی داټول کړه هغه څه چی ددوی سره وه دفریب اوددوکی اسباب، ولی چی دوی ته فرعون دنعمت ورکولو ویلی وه په بدل ددی کارکی. اوالله ﷻ فرمایلی دی: قَالُوا يَا مُوسَى إِمَّا أَنْ تُلْقِيَ وَإِمَّا أَنْ نَكُونَ أَوَّلَ مَنْ أَلْقَى (٦٥) قَالَ بَلْ أَلْقُوا فَإِذَا حِبَالُهُمْ وَعِصِيُّهُمْ يُخَيَّلُ إِلَيْهِ مِنْ سِحْرِهِمْ أَنَّهَا تَسْعَى (٦٦) فَأَوْجَسَ فِي نَفْسِهِ خِيفَةً مُوسَى (٦٧) قُلْنَا لَا تَخَفْ إِنَّكَ أَنْتَ الْأَعْلَى (٦٨) وَأَلْقِ مَا فِي يَمِينِكَ تَلْقَفْ مَا صَنَعُوا إِنَّمَا صَنَعُوا كَيْدُ سَاحِرٍ وَلَا يُفْلِحُ السَّاحِرُ حَيْثُ أَتَى، (سورة طه ۲۵\ ۲۹) کله چی دوی په یوه لین اوقطار کی ودریده اوموسٰی اوهارون ﷺ دواړه په بل لین کی ودریده دوی ته مخامخ. نودوی ورته وویل چی یابه ته مخکی خپل اسباب پیش کوی یاموږ، نوموسٰی ﷺ ورته وویل چی تاسی اول خپل اسباب استعمال کی، اودوی دامساګانو څخه اوتارو څخه کار اخیستی وو چی دی په وبیروی. نوپه دغه وخت باندی خلګ وبیریده کله یې چی داتارونه ولیدله چی ښوری اوحرکت کوی اودوی دځانونو سره دا وویل: بِعِزَّةِ فِرْعَوْنَ إِنَّا لَنَحْنُ الْغَالِبُونَ، الله ﷻ فرمایلی دی: قَالَ أَلْقُوا فَلَمَّا أَلْقَوْا سَحَرُوا أَعْيُنَ النَّاسِ وَاسْتَرْهَبُوهُمْ وَجَاءُوا بِسِحْرٍ عَظِيمٍ، (الاعراف \۱۱۶) اوالله ﷻ فرمایلی دی: فَإِذَا حِبَالُهُمْ وَعِصِيُّهُمْ يُخَيَّلُ إِلَيْهِ مِنْ سِحْرِهِمْ أَنَّهَا تَسْعَى، یعنی ده په خپل نفس کی پرخلګو باندی بیره محسوسه کړه چی دی خلګوته ددی وجی څخه تکلیف ونه رسیږی. اوده ته الله ﷻ امروکی: قُلْنَا لَا تَخَفْ إِنَّكَ أَنْتَ الْأَعْلَى (٦٨) وَأَلْقِ مَا فِي يَمِينِكَ تَلْقَفْ مَا صَنَعُوا إِنَّمَا صَنَعُوا كَيْدُ سَاحِرٍ وَلَا يُفْلِحُ السَّاحِرُ حَيْثُ أَتَى، نوپه دغه وخت کی موسٰی ﷺ خپله

(c) ketabton.com: The Digital Library



لکړه ورایله کړه اودایې وویل: فَلَمَّا أَلْقَوْا قَالَ مُوسَى مَا جِئْتُمْ بِهِ السِّحْرُ إِنَّ اللهَ سَيُبْطِلُهُ إِنَّ اللهَ لَا يُصْلِحُ عَمَلَ الْمُفْسِدِينَ (۸۱) وَيُحِقُّ اللهُ الْحَقَّ بِكَلِمَاتِهِ وَلَوْ كَرِهَ الْمُجْرِمُونَ. (یونس ۸۲\۸۱) اوالله ﷻ فرمایلی دی: وَأَوْحَيْنَا إِلَى مُوسَى أَنْ أَلْقِ عَصَاكَ فَإِذَا هِيَ تَلْقَفُ مَا يَأْفِكُونَ (۱۱۷) فَوَقَعَ الْحَقُّ وَبَطَلَ مَا كَانُوا يَعْمَلُونَ (۱۱۸) فَغُلِبُوا هُنَالِكَ وَانْقَلَبُوا صَاغِرِينَ (۱۱۹) وَأُلْقِيَ السَّحَرَةُ سَاجِدِينَ (۱۲۰) قَالُوا آمَنَّا بِرَبِّ الْعَالَمِينَ (۱۲۱) رَبِّ مُوسَى وَهَارُونَ. (سورة الاعراف ۱۱۷\۱۲۲) په دغه وخت کی کله چی دا موسیٰ ﷺ خپله لکړه راوایستله نوددی څخه داسی صورت جوړسو چی دوی مخکی نه وو لیدلی تردی چی دی جادوګرانو ته پته ولګیده چی دادروغ نه دی اونه جادودی اوپوه سوه چی داحق دی اوصحیح نښه ده دطرفه دالله ﷻ دده په نبوت باندی نوپه هغه وخت کی یې دخپل ایمان اظهاروکی اوپه سجده باندی پریوته اودفرعون دسزا څخه بیریده اودایې وویل: قَالُوا آمَنَّا بِرَبِّ الْعَالَمِينَ، لکه څه رکم چی الله ﷻ فرمایلی دی: فَأُلْقِيَ السَّحَرَةُ سُجَّدًا قَالُوا آمَنَّا بِرَبِّ هَارُونَ وَمُوسَى (۷۰) قَالَ آمَنْتُمْ لَهُ قَبْلَ أَنْ آذَنَ لَكُمْ إِنَّهُ لَكَبِيرُكُمُ الَّذِي عَلَّمَكُمُ السِّحْرَ فَلَأُقَطِّعَنَّ أَيْدِيَكُمْ وَأَرْجُلَكُمْ مِنْ خِلَافٍ وَلَأُصَلِّبَنَّكُمْ فِي جُذُوعِ النَّخْلِ وَلَتَعْلَمُنَّ أَيُّنَا أَشَدُّ عَذَابًا وَأَبْقَى (۷۱) قَالُوا لَنْ نُؤْثِرَكَ عَلَى مَا جَاءَنَا مِنَ الْبَيِّنَاتِ وَالَّذِي فَطَرَنَا فَاقْضِ مَا أَنْتَ قَاضٍ إِنَّمَا تَقْضِي هَذِهِ الْحَيَاةَ الدُّنْيَا (۷۲) إِنَّا آمَنَّا بِرَبِّنَا لِيَغْفِرَ لَنَا خَطَايَانَا وَمَا أَكْرَهْتَنَا عَلَيْهِ مِنَ السِّحْرِ وَاللهُ خَيْرٌ وَأَبْقَى (۷۳) إِنَّهُ مَنْ يَأْتِ رَبَّهُ مُجْرِمًا فَإِنَّ لَهُ جَهَنَّمَ لَا يَمُوتُ فِيهَا وَلَا يَحْيَا (۷٤) وَمَنْ يَأْتِهِ مُؤْمِنًا قَدْ عَمِلَ الصَّالِحَاتِ فَأُولَئِكَ لَهُمُ الدَّرَجَاتُ الْعُلَا (۷۵) جَنَّاتُ عَدْنٍ تَجْرِي مِنْ تَحْتِهَا الْأَنْهَارُ خَالِدِينَ فِيهَا وَذَلِكَ جَزَاءُ مَنْ تَزَكَّى. (سورة طه ۷۰\۷۶) سعید بن جبیر اوعکرمه اوقاسم وایې چی کله دوی په سجده باندی پریوته نودوی ته په جنت کی خپل محلونه ښکاره سوه چی دوی ته تیار سوی وه، نو ددوی زړونه وسوه چی دی ته ورسی اوژر ورسی او دفرعون تهدید اودسزا څخه ددوی بیره ونه سوه. اوفرعون چی کله ددوی داسجده ولیده نودایې وویل: قَالَ آمَنْتُمْ لَهُ قَبْلَ أَنْ آذَنَ لَكُمْ یعنی تاسی زماسره مشوره ونه کړه اوسمدستی موایمان راوړی، نودوی ته یې وویل: إِنَّهُ لَكَبِيرُكُمُ الَّذِي عَلَّمَكُمُ السِّحْرَ، دی ستاسی مشردی چی تاسی ته یې سحر اوجادو ښوولی دی اوپه بل آیت کی یې فرمایلی دی: إِنَّ هَذَا لَمَكْرٌ مَكَرْتُمُوهُ فِي الْمَدِينَةِ لِتُخْرِجُوا مِنْهَا أَهْلَهَا فَسَوْفَ تَعْلَمُونَ، اودا دده خبره ده چی بهتان یې لګولی دی پردوی باندی، ولی چی دا خوماشوم ته هم معلومه ده چی داټول جادوګران دده دقوم نه وه اوموسیٰ یې مخکی نه وو لیدلی اونه یې پیژندی، نوڅه رکم یې تعلیم ورکی؟ اوبیا ده په خپله داساحران راټول کړی

(c) ketabton.com: The Digital Library



وه اوپه خپله یې ورته دعوت ورکړی وو، اوپه خپله یې راټول کړی وه دمصر څخه اوبیاهم بهتان کوی په موسیٰ ﷺ باندی چی داستاسی مکر اوفریب دی.
دارکم الله ﷻ فرمایلی دی: قَالَ لَئِنِ اتَّخَذْتَ إِلَهًا غَيْرِي لَأَجْعَلَنَّكَ مِنَ الْمَسْجُونِينَ (۲۹) قَالَ أَوَلَوْ جِئْتُكَ بِشَيْءٍ مُبِينٍ (۳۰) قَالَ فَأْتِ بِهِ إِنْ كُنْتَ مِنَ الصَّادِقِينَ (۳۱) فَأَلْقَى عَصَاهُ فَإِذَا هِيَ ثُعْبَانٌ مُبِينٌ (۳۲) وَنَزَعَ يَدَهُ فَإِذَا هِيَ بَيْضَاءُ لِلنَّاظِرِينَ (۳۳) قَالَ لِلْمَلَإِ حَوْلَهُ إِنَّ هَذَا لَسَاحِرٌ عَلِيمٌ (۳٤) يُرِيدُ أَنْ يُخْرِجَكُمْ مِنْ أَرْضِكُمْ بِسِحْرِهِ فَمَاذَا تَأْمُرُونَ (۳۵) قَالُوا أَرْجِهْ وَأَخَاهُ وَابْعَثْ فِي الْمَدَائِنِ حَاشِرِينَ (۳٦) يَأْتُوكَ بِكُلِّ سَحَّارٍ عَلِيمٍ (۳۷) فَجُمِعَ السَّحَرَةُ لِمِيقَاتِ يَوْمٍ مَعْلُومٍ (۳۸) وَقِيلَ لِلنَّاسِ هَلْ أَنْتُمْ مُجْتَمِعُونَ (۳۹) لَعَلَّنَا نَتَّبِعُ السَّحَرَةَ إِنْ كَانُوا هُمُ الْغَالِبِينَ (٤۰) فَلَمَّا جَاءَ السَّحَرَةُ قَالُوا لِفِرْعَوْنَ أَئِنَّ لَنَا لَأَجْرًا إِنْ كُنَّا نَحْنُ الْغَالِبِينَ (٤۱) قَالَ نَعَمْ وَإِنَّكُمْ إِذًا لَمِنَ الْمُقَرَّبِينَ (٤۲) قَالَ لَهُمْ مُوسَى أَلْقُوا مَا أَنْتُمْ مُلْقُونَ (٤۳) فَأَلْقَوْا حِبَالَهُمْ وَعِصِيَّهُمْ وَقَالُوا بِعِزَّةِ فِرْعَوْنَ إِنَّا لَنَحْنُ الْغَالِبُونَ، مقصود داخبره ده چی فرعون تکذیب وکی دالله ﷻ په خپلو خبرو سره اودکفر انتهاء ته ورسیدی په دی قول کی: إِنَّهُ لَكَبِيرُكُمُ الَّذِي عَلَّمَكُمُ السِّحْرَ، اوپه دی قول کی: إِنَّ هَذَا لَمَكْرٌ مَكَرْتُمُوهُ فِي الْمَدِينَةِ لِتُخْرِجُوا مِنْهَا أَهْلَهَا فَسَوْفَ تَعْلَمُونَ، اوداقول دده: لَأُقَطِّعَنَّ أَيْدِيَكُمْ وَأَرْجُلَكُمْ مِنْ خِلَافٍ، یعنی پرېکول دراسته لاس اودچپه پښی یاددی په چپه صورت کی: وَلَأُصَلِّبَنَّكُمْ أَجْمَعِينَ یعنی داکار ددی دپاره کوم چی صبابل سړی دده په ملت کی دده تابعداری ونه کړی اودایوه ننبه پاته سی په دوی کی.
اوددی وجی څخه یې ویلی دی: وَلَأُصَلِّبَنَّكُمْ فِي جُذُوعِ النَّخْلِ، یعنی دخرماپه ښاخلو اوتنو کی اودوی ورته په جواب کی وایې: قَالُوا لَنْ نُؤْثِرَكَ عَلَى مَا جَاءَنَا مِنَ الْبَيِّنَاتِ، یعنی موږهغه څه چی زموږ په زړونو کی دی په هغه باندی تاته ترجیح اونه والی نه درکوو اونه په هغه څه چی ده راوړی دی دښکاره دلائلو څخه: فَاقْضِ مَا أَنْتَ قَاضٍ، یعنی ته وکړه هغه څه چی ستاپه قدرت کی وی: إِنَّمَا تَقْضِي هَذِهِ الْحَيَاةَ الدُّنْيَا، یعنی ته خوبه صرف په دی دنیاکی په موږ باندی فیصله وکی اوکله چی موږستا دخواڅخه ولاړسو دآخرت طرف ته نوصحیح فیصله کونکی هغه ذات دی چی هغه به زموږ فیصله کوی: إِنَّا آمَنَّا بِرَبِّنَا لِيَغْفِرَ لَنَا خَطَايَانَا وَمَا أَكْرَهْتَنَا عَلَيْهِ مِنَ السِّحْرِ وَاللَّهُ خَيْرٌ وَأَبْقَى، یعنی ددغه ذات جزا اوبدله ښه ده زموږ دپاره دهغه څه څخه چی ته یې موږ لره راکوی، اودوام داره ده ددغه ذات بدله چی فناورلره نسته. اوپه بل آیت کی یې داسی ویلی دی: قَالُوا لَا ضَيْرَ إِنَّا إِلَى رَبِّنَا مُنْقَلِبُونَ (۵۰) إِنَّا نَطْمَعُ أَنْ يَغْفِرَ لَنَا رَبُّنَا خَطَايَانَا أَنْ كُنَّا أَوَّلَ الْمُؤْمِنِينَ، یعنی هغه ګناهونه چی موږکړی دی: أَنْ كُنَّا أَوَّلَ الْمُؤْمِنِينَ، چی موږ سو اول مومنان

(c) ketabton.com: The Digital Library



دقبطیانو څخه په موسیٰ اوهارون علیهما السلام باندی، اوپه بل ځای کی یې داسی ورته ویلی دی: وَمَا تَنْقِمُ مِنَّا إِلَّا أَنْ آمَنَّا بِآيَاتِ رَبِّنَا لَمَّا جَاءَتْنَا، یعنی ستاسره زموږ دسزا نورڅه ثبوت نسته مګر داچی موږ ایمان راوړی دی په موسیٰ ؑ باندی، اوتابعداری مودحق کړیده: رَبَّنَا أَفْرِغْ عَلَيْنَا صَبْرًا، یعنی ته موږ مضبوط کړی په ایمان باندی په وخت دسزاکی چی دافرعون یې موږ ته راکوی (وَتَوَفَّنَا مُسْلِمِينَ). اودوی ورته داهم ویلی وه دپاره دبیری ورکولو دآخرت څخه اودعذاب څخه: إِنَّهُ مَنْ يَأْتِ رَبَّهُ مُجْرِمًا فَإِنَّ لَهُ جَهَنَّمَ لَا يَمُوتُ فِيهَا وَلَا يَحْيَا، نودوی ورته وویل چی خیال کوه چی ته ددوی څخه نه سی، خوبیاهم دی ددوی څخه وو: وَمَنْ يَأْتِهِ مُؤْمِنًا قَدْ عَمِلَ الصَّالِحَاتِ فَأُولَئِكَ لَهُمُ الدَّرَجَاتُ الْعُلَى، یعنی لوړ منزلونه اومحلونه: جَنَّاتُ عَدْنٍ تَجْرِي مِنْ تَحْتِهَا الْأَنْهَارُ خَالِدِينَ فِيهَا وَذَلِكَ جَزَاءُ مَنْ تَزَكَّى، نوته حرص وکه پردی خبره باندی چی ته ددوی څخه نسی، خوحکم دالله ﷻ داوو چی دافرعون ددوږخ والاو څخه وو، اوده ته به په سختی سره ویل کیږی: ذُقْ إِنَّكَ أَنْتَ الْعَزِيزُ الْكَرِيمُ، ظاهر دسیاق دآیت څخه دامعلومیږی چی موسیٰ اوهارون علیه السلام ته یې هم تکلیف ورکړی دی فرعون. عبدالله بن عباس اوعبیدبن عمیر ویلی دی: په سهاروخت کی دوی جادوګران وه اوپه مابنام کی شهیدان سوه. دا آیت ددوی دخبری تائیدکوی: رَبَّنَا أَفْرِغْ عَلَيْنَا صَبْرًا وَتَوَفَّنَا مُسْلِمِينَ، اوکله چی واقع سوغالبه کیدل دموسیٰ علیه السلام پرهغه ساحرانو باندی اوبیاهغوی ایمان راوړی، خوسره ددی دفرعون په کفرکی څه فرق رانغی الله ﷻ فرمایلی دی: وَقَالَ الْمَلَأُ مِنْ قَوْمِ فِرْعَوْنَ أَتَذَرُ مُوسَى وَقَوْمَهُ لِيُفْسِدُوا فِي الْأَرْضِ وَيَذَرَكَ وَآلِهَتَكَ قَالَ سَنُقَتِّلُ أَبْنَاءَهُمْ وَنَسْتَحْيِي نِسَاءَهُمْ وَإِنَّا فَوْقَهُمْ قَاهِرُونَ (۱۲۷) قَالَ مُوسَى لِقَوْمِهِ اسْتَعِينُوا بِاللَّهِ وَاصْبِرُوا إِنَّ الْأَرْضَ لِلَّهِ يُورِثُهَا مَنْ يَشَاءُ مِنْ عِبَادِهِ وَالْعَاقِبَةُ لِلْمُتَّقِينَ (۱۲۸) قَالُوا أُوذِينَا مِنْ قَبْلِ أَنْ تَأْتِيَنَا وَمِنْ بَعْدِ مَا جِئْتَنَا قَالَ عَسَى رَبُّكُمْ أَنْ يُهْلِكَ عَدُوَّكُمْ وَيَسْتَخْلِفَكُمْ فِي الْأَرْضِ فَيَنْظُرَ كَيْفَ تَعْمَلُونَ، (سورة الاعراف ۱۲۷\۱۲۹) دلته الله خبرورکوی په باره دمشرانو دقوم دفرعون کی چی فرعون ته یې دموسیٰ ؑ په باره کی بدویله سره ددی چی موسیٰ علیه السلام دوی ته ښکاره دلائل پیش کړه خودی کافرانو به ورته ویله چی آیاته موسیٰ همداسی پریږدی چی هغه تاته اوستا آلهه وو ته بدوایې اودغه شان دهغه قوم هم تاته اوستا آلهه وو ته بدوایې اوته ورته هیڅ نه وایې. نودی فرعون داخبره وکړه چی: قَالَ سَنُقَتِّلُ أَبْنَاءَهُمْ وَنَسْتَحْيِي نِسَاءَهُمْ، دا ددی دپاره چی دوی ډیرنه سی: وَإِنَّا فَوْقَهُمْ قَاهِرُونَ، اوموږ پردوی باندی غالبه یو: قَالَ مُوسَى لِقَوْمِهِ اسْتَعِينُوا بِاللَّهِ وَاصْبِرُوا، یعنی کله چی دوی اهتمام وکی تاسی ته په تکلیف درکولو باندی نو تاسی مدد وغواړی دالله ﷻ څخه اوصبروکی: إِنَّ الْأَرْضَ لِلَّهِ يُورِثُهَا مَنْ يَشَاءُ مِنْ عِبَادِهِ وَالْعَاقِبَةُ

(c) ketabton.com: The Digital Library



لِلْمُتَّقِينَ، یعنی تاسی سی پرهیزګاران نوستاسی به عاقبت اوانجام ښه وی، لکه څنګه چی الله ﷻ په بل آیت کی فرمایلی دی: ) وَقَالَ مُوسَى يَا قَوْمِ إِنْ كُنتُمْ آمَنتُمْ بِاللهِ فَعَلَيْهِ تَوَكَّلُوا إِنْ كُنتُمْ مُسْلِمِينَ (٨٤) فَقَالُوا عَلَى اللهِ تَوَكَّلْنَا رَبَّنَا لَا تَجْعَلْنَا فِتْنَةً لِلْقَوْمِ الظَّالِمِينَ (٨٥) وَنَجِّنَا بِرَحْمَتِكَ مِنَ الْقَوْمِ الْكَافِرِينَ، دوی په جواب کی ورته وویل چی ستا دراتګ څخه مخکی هم موږ ته ډیرضرر او تکلیفونه رارسیدلی دی. نوموسٰی ﷺ په دغه وخت کی ورته وویل: قَالَ عَسَى رَبُّكُمْ أَنْ يُهْلِكَ عَدُوَّكُمْ وَيَسْتَخْلِفَكُمْ فِي الْأَرْضِ فَيَنْظُرَ كَيْفَ تَعْمَلُونَ، ده ورته وویل چی دالله ﷻ څخه امید دی چی هغوی هلاك کړی اوتاسی دهغوی پرځای خلیفه کړی. اوالله ﷻ فرمایلی دی: وَلَقَدْ أَرْسَلْنَا مُوسَى بِآيَاتِنَا وَسُلْطَانٍ مُبِينٍ (٢٣) إِلَى فِرْعَوْنَ وَهَامَانَ وَقَارُونَ فَقَالُوا سَاحِرٌ كَذَّابٌ (سورة غافر ۲۳\ ۲۴) اودافرعون بادشاه وو اوهامان یې وزیر وو، اوقارون اسرائیلی وو دموسٰی ﷺ دقوم څخه، مګر داچی دی په مذهب دفرعون اودهغه دقوم باندی وو، اودی ډیر مالدار سړی وو، دده قصه به وروسته بیانیږی ان شاء الله ﷻ : فَلَمَّا جَاءَهُمْ بِالْحَقِّ مِنْ عِنْدِنَا قَالُوا اقْتُلُوا أَبْنَاءَ الَّذِينَ آمَنُوا مَعَهُ وَاسْتَحْيُوا نِسَاءَهُمْ وَمَا كَيْدُ الْكَافِرِينَ إِلَّا فِي ضَلَالٍ، اوداقتل دځوانانو وروسته دپیدائش دموسٰی ﷺ څخه وو اودایې ددی دوجی کوی چی ددوی نسل ډیرنسی اوپه موږ باندی غالبه نه سی، خوبیاده ته داکار هیڅ فائده ورنه کړه: وَقَالَ فِرْعَوْنُ ذَرُونِي أَقْتُلْ مُوسَى وَلْيَدْعُ رَبَّهُ إِنِّي أَخَافُ أَنْ يُبَدِّلَ دِينَكُمْ أَوْ أَنْ يُظْهِرَ فِي الْأَرْضِ الْفَسَادَ، فرعون پرخپل قوم باندی دموسٰی ؑ څخه وبیریدی چی داقوم زماڅخه وانه وړی. وَقَالَ مُوسَى إِنِّي عُذْتُ بِرَبِّي وَرَبِّكُمْ مِنْ كُلِّ مُتَكَبِّرٍ لَا يُؤْمِنُ بِيَوْمِ الْحِسَابِ، اوموسٰی ؑ وویل چی ماپناه غوښتی ده دالله ﷻ څخه ددی خبری څخه چی ماته فرعون اودهغه قوم څه ضرر راورسوی اوقول د: (مِنْ كُلِّ مُتَكَبِّرٍ) یعنی کبرکونکی اودالله دعذاب څخه ناترسه، نوددی وجی څخه یې ویلی دی: مِنْ كُلِّ مُتَكَبِّرٍ لَا يُؤْمِنُ بِيَوْمِ الْحِسَابِ، دارکم الله ﷻ فرمایلی دی: وَقَالَ رَجُلٌ مُؤْمِنٌ مِنْ آلِ فِرْعَوْنَ يَكْتُمُ إِيمَانَهُ أَتَقْتُلُونَ رَجُلًا أَنْ يَقُولَ رَبِّيَ اللهُ أَتَقْتُلُونَ رَجُلًا أَنْ يَقُولَ رَبِّيَ اللهُ وَقَدْ جَاءَكُمْ بِالْبَيِّنَاتِ مِنْ رَبِّكُمْ وَإِنْ يَكُ كَاذِبًا فَعَلَيْهِ كَذِبُهُ وَإِنْ يَكُ صَادِقًا يُصِبْكُمْ بَعْضُ الَّذِي يَعِدُكُمْ إِنَّ اللهَ لَا يَهْدِي مَنْ هُوَ مُسْرِفٌ كَذَّابٌ (٢٨) يَا قَوْمِ لَكُمُ الْمُلْكُ الْيَوْمَ ظَاهِرِينَ فِي الْأَرْضِ فَمَنْ يَنْصُرُنَا مِنْ بَأْسِ اللهِ إِنْ جَاءَنَا قَالَ فِرْعَوْنُ مَا أُرِيكُمْ إِلَّا مَا أَرَى وَمَا أَهْدِيكُمْ إِلَّا سَبِيلَ الرَّشَادِ (سورة غافر۲۸\۲۹) دایو سړی وو چی دفرعون داکا ځوی وو اودخپل قوم دبیری یې ایمان پټ ساتلی وو، بعضو داویلی دی چی دی اسرائیلی وو خودا قول دسیاق څخه لیری دی، ابن جریج اوابن عباس ویلی دی چی په موسٰی ﷺ باندی په

(c) ketabton.com: The Digital Library



قبطیانوکی بغیر ددی سړی څخه بل چا ایمان نه دی راوړی، اوهغه چی موسٰی ﷺ ته یې دفرعون خبر رارسولی وو هغه دفرعون سړی وو. راوی ددی ابن ابی حاتم دی، اوصاحب ددارِقطنی ویلی دی چی دده نوم شمعان دی. اوپه تاریخ طبری کی دده نوم (خیر) ذکرسوی دی، والله اعلم. خومقصود داخبره ده چی دی سړی خپل ایمان پټ ساتلی وو، نوکله چی فرعون دموسٰی ﷺ دقتل وینا وکړه اودخپلو سالارانو سره یې مشوره پروکړه نودا مومن سړی پرموسٰی ﷺ باندی وبیریدی اودوی ته یې په نرمی سره داوویل چی تاسی داسی سړی مړکوی چی هغه وایې چی زمارب الله دی. همدارکم په حدیث کی ثابت دی چی رسول الله ﷺ فرمایلی دی چی ښه جهاد دادی چی دظالم بادشاه مخ ته دحق خبره وکی. اودا مقام ددی سړی دپاره ثابت دی په دی ځای کی، ولی چی فرعون ډیر ظالم اوجابر بادشاه وو چی انصاف بالکل پکښی نه وو، اوده چی داکمه خبره دفرعون خواته وکړه نوددې څخه ښکاره معلومیدله چی دی دموسٰی ﷺ پرطرف بیان کوی نوپه دغه وخت کی ده دخپل ایمان اظهار وکی. ده وویل: أَتَقْتُلُونَ رَجُلًا أَنْ يَقُولَ رَبِّيَ اللهُ یعنی ددی وجی څخه تاسی هغه مړکوی چی هغه وایې چی زمارب الله دی داکار په مقابل دده کی نه دی پکار، وَقَدْ جَاءَكُمْ بِالْبَيِّنَاتِ مِنْ رَبِّكُمْ، یعنی داسی نښانی یې تاسی ته وښوولی چی دادنه منلو برابر وی، نوکه تاسی دا پریږدی نودابه تاسی ته ښه وی ولی چی: وَإِنْ يَكُ كَاذِبًا فَعَلَيْهِ كَذِبُهُ که چیری دی دروغ وایې نودځان دپاره به بدکوی اوتاسی ته څه ضرر نسی دررسولی، وَإِنْ يَكُ صَادِقًا يُصِبْكُمْ بَعْضُ الَّذِي يَعِدُكُمْ اوکه رښتینی وی نوتاسی ته به دوررسیږی هغه څه چی دی یې ستاسی سره وعده کوی. اودابیان دده په داسی حال کی دپوره عقلمندی کاردی اودا ډیر لوړ مقام دی، اودده داقول: يَا قَوْمِ لَكُمُ الْمُلْكُ الْيَوْمَ ظَاهِرِينَ فِي الْأَرْضِ، یعنی دوی یې منع کول چی په دی بادشاه پسی تګ ونه کړی ولی چی دوی به هم ددی بادشاه سره هلاك سی. اوهمدارکم ددی فرعون قوم په شك کی ووتردی چی الله ﷻ بادشاهان ورلره هلاك کړه اوباقی پاته سوی قوم یې دسمندر غاړوته ولیږی اوهغه قصرونه اونعمتونه ورڅخه الله ﷻ ټول لیری کړه، نوددی وجی څخه هغه مومن سړی خپل قوم ته وویل چی: يَا قَوْمِ لَكُمُ الْمُلْكُ الْيَوْمَ ظَاهِرِينَ فِي الْأَرْضِ یعنی نن ورځ تاسی لره ښکاره بادشاهی اونعمتونه ددنیادی: فَمَنْ يَنْصُرُنَا مِنْ بَأْسِ اللهِ إِنْ جَاءَنَا یعنی په دی حال کی چی تاسی ښه طاقتور اوډیر یاست خودالله ﷻ دطاقت څخه خلاصون نسته (قَالَ فِرْعَوْنُ) یعنی په جواب ددی ټولو خبروکی: مَا أُرِيكُمْ إِلَّا مَا أَرٰى یعنی زه نه وایم تاسی ته مګر هغه چی څه زماپه نزد ښه دی: وَمَا أَهْدِيكُمْ إِلَّا سَبِيلَ الرَّشَادِ، اوفرعون په دی دواړو قولونو خپلوکی دروغ وویل، ولی چی ده په خپل نفس کی دامنل چی دی موسٰی ﷺ

(c) ketabton.com: The Digital Library



چی څه راوړیدی هغه حق دی اودالله ﷻ دخوا څخه دی، خودا اختلاف به یې دضد دوجی څخه کوی. الله ﷻ خبر ورکوی دموسٰی ؑ څخه: قَالَ لَقَدْ عَلِمْتَ مَا أَنْزَلَ هَؤُلَاءِ إِلاَّ رَبُّ السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضِ بَصَائِرَ وَإِنِّي لَأَظُنُّكَ يَا فِرْعَوْنُ مَثْبُورًا (۱۰۲) فَأَرَادَ أَنْ يَسْتَفِزَّهُمْ مِنَ الْأَرْضِ فَأَغْرَقْنَاهُ وَمَنْ مَعَهُ جَمِيعًا (۱۰۳) وَقُلْنَا مِنْ بَعْدِهِ لِبَنِي إِسْرَائِيلَ اسْكُنُوا الْأَرْضَ فَإِذَا جَاءَ وَعْدُ الْآخِرَةِ جِئْنَا بِكُمْ لَفِيفًا، نوده دایمان راوړلو په باره کی بالکل هیڅ قسم اظهار ونه کی، بلکی اول یې دبتانو عبادت کوی اوبیایې وروسته خپل قوم ته داوویل چی هم دده تابعداری کوی او دموسٰی ؑ تکذیب کوی، نوالله ﷻ داسی تباه کړه چی دهمیشه دپاره عبرت پاته سو. الله ﷻ فرمایلی دی: وَنَادَى فِرْعَوْنُ فِي قَوْمِهِ قَالَ يَا قَوْمِ أَلَيْسَ لِي مُلْكُ مِصْرَ وَهَذِهِ الْأَنْهَارُ تَجْرِي مِنْ تَحْتِي أَفَلَا تُبْصِرُونَ (۵۱) أَمْ أَنَا خَيْرٌ مِنْ هَذَا الَّذِي هُوَ مَهِينٌ وَلَا يَكَادُ يُبِينُ (۵۲) فَلَوْلَا أُلْقِيَ عَلَيْهِ أَسْوِرَةٌ مِنْ ذَهَبٍ أَوْ جَاءَ مَعَهُ الْمَلَائِكَةُ مُقْتَرِنِينَ (۵۳) فَاسْتَخَفَّ قَوْمَهُ فَأَطَاعُوهُ إِنَّهُمْ كَانُوا قَوْمًا فَاسِقِينَ (۵٤) فَلَمَّا آسَفُونَا انْتَقَمْنَا مِنْهُمْ فَأَغْرَقْنَاهُمْ أَجْمَعِينَ (۵۵) فَجَعَلْنَاهُمْ سَلَفًا وَمَثَلًا لِلْآخِرِينَ (سورة الزخرف ۵۱\۵۶) اوداركم الله ﷻ فرمایلی دی: فَأَرَاهُ الْآيَةَ الْكُبْرَى (۲۰) فَكَذَّبَ وَعَصَى (۲۱) ثُمَّ أَدْبَرَ يَسْعَى (۲۲) فَحَشَرَ فَنَادَى (۲۳) فَقَالَ أَنَا رَبُّكُمُ الْأَعْلَى (۲٤) فَأَخَذَهُ اللهُ نَكَالَ الْآخِرَةِ وَالْأُولَى (۲۵) إِنَّ فِي ذَلِكَ لَعِبْرَةً لِمَنْ يَخْشَى، (سورة النازعات۲۰\۲۶) مقصود دلته بیان ددروغو دفرعون وو چی خپل قوم ته یې وویل چی زه تاسی ته دهدایت لاره ښیم الله ﷻ فرمایلی دی: وَقَالَ الَّذِي آمَنَ يَا قَوْمِ إِنِّي أَخَافُ عَلَيْكُمْ مِثْلَ يَوْمِ الْأَحْزَابِ (۳۰) مِثْلَ دَأْبِ قَوْمِ نُوحٍ وَعَادٍ وَثَمُودَ وَالَّذِينَ مِنْ بَعْدِهِمْ وَمَا اللهُ يُرِيدُ ظُلْمًا لِلْعِبَادِ (۳۱) وَيَا قَوْمِ إِنِّي أَخَافُ عَلَيْكُمْ يَوْمَ التَّنَادِ (۳۲) يَوْمَ تُوَلُّونَ مُدْبِرِينَ مَا لَكُمْ مِنَ اللهِ مِنْ عَاصِمٍ وَمَنْ يُضْلِلِ اللهُ فَمَا لَهُ مِنْ هَادٍ (۳۳) وَلَقَدْ جَاءَكُمْ يُوسُفُ مِنْ قَبْلُ بِالْبَيِّنَاتِ فَمَا زِلْتُمْ فِي شَكٍّ مِمَّا جَاءَكُمْ بِهِ حَتَّى إِذَا هَلَكَ قُلْتُمْ لَنْ يَبْعَثَ اللهُ مِنْ بَعْدِهِ رَسُولًا كَذَلِكَ يُضِلُّ اللهُ مَنْ هُوَ مُسْرِفٌ مُرْتَابٌ (۳٤) الَّذِينَ يُجَادِلُونَ فِي آيَاتِ اللهِ بِغَيْرِ سُلْطَانٍ أَتَاهُمْ كَبُرَ مَقْتًا عِنْدَ اللهِ وَعِنْدَ الَّذِينَ آمَنُوا كَذَلِكَ يَطْبَعُ اللهُ عَلَى كُلِّ قَلْبِ مُتَكَبِّرٍ جَبَّارٍ، (سورة غافر ۳۰\ ۳۴) دلته بیره ورکوی داومومن سړی خپل قوم ته ددی خبری څخه چی دخپل رسول خلاف دی نه کوی کنې هغه عذاب به پر نازل سی کم عذاب چی په قوم نوح اوقوم ثمود اوهود اوصالح اوداسی نورو قومونو نازل سوی وو، چی دالله ﷻ په عذاب باندی ګرفتار سوی دی، ولی چی الله ﷻ په هغوی باندی خپل حجت قائم کړی وو اوبیایې عذاب پرنازل کی. نوده خپل قوم منع کی چی دهغو په شان عذاب وربandi نازل نه سی. الله ﷻ فرمایلی دی: يَقُولُ الْإِنْسَانُ يَوْمَئِذٍ أَيْنَ الْمَفَرُّ (۱۰) كَلَّا لَا وَزَرَ (۱۱)

(c) ketabton.com: The Digital Library



إِلَى رَبِّكَ يَوْمَئِذٍ الْمُسْتَقَرُّ (سورة القیامه ۱۰\۱۲) اودارکم الله ﷻ فرمایلی دی: يَا مَعْشَرَ الْجِنِّ وَالْإِنسِ إِنِ اسْتَطَعْتُمْ أَنْ تَنفُذُوا مِنْ أَقْطَارِ السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضِ فَانفُذُوا لَا تَنفُذُونَ إِلَّا بِسُلْطَانٍ (۳۳) فَبِأَيِّ آلَاءِ رَبِّكُمَا تُكَذِّبَانِ (۳٤) يُرْسَلُ عَلَيْكُمَا شُوَاظٌ مِنْ نَارٍ وَنُحَاسٌ فَلَا تَنتَصِرَانِ (۳۵) فَبِأَيِّ آلَاءِ رَبِّكُمَا تُكَذِّبَانِ، (سورة الرحمٰن ۳۳\ ۳۴) دیوم التناد څخه مراد ورځ دتیښتنی ده یعنی هغه ورځ چی ټول په کی تیښته کوی، اوداحتمال هم لری چی ورځ دعذاب مرادوی خوددواړو معنٰی یوه ده. فَلَمَّا أَحَسُّوا بَأْسَنَا إِذَا هُمْ مِنْهَا يَرْكُضُونَ (۱۲) لَا تَرْكُضُوا وَارْجِعُوا إِلَى مَا أُتْرِفْتُمْ فِيهِ وَمَسَاكِنِكُمْ لَعَلَّكُمْ تُسْأَلُونَ (سورة الانبیاء ۱۲\ ۱۳) اوبیایې دوی ته دیوسف ؑ قصه وکړه چی هغه په مصرکی وو اودهغه احسان یې دخلګوسره هم ورته بیان کی، اودمصر دخلګو بیان یې ورته هم وکی. نوددی وجی څخه یې ورته وویل: فَمَا زِلْتُمْ فِي شَكٍّ مِمَّا جَاءَكُمْ بِهِ حَتَّى إِذَا هَلَكَ قُلْتُمْ لَنْ يَبْعَثَ اللهُ مِنْ بَعْدِهِ رَسُولًا یعنی تاسی تکذیب وکی سره ددی، نوددی وجی څخه یې ویلی دی: كَذَٰلِكَ يُضِلُّ اللهُ مَنْ هُوَ مُسْرِفٌ مُرْتَابٌ، یعنی همداسی وی سزا دهغه سړی چی دحق خلاف کوی بغیر دڅه دلیل څخه نوپه داسی زړونو باندی الله ﷻ مهرونه وهی نوحق طرف ته نه راځی اونه یې قبلوی. الله ﷻ فرمایې: وَقَالَ فِرْعَوْنُ يَا هَامَانُ ابْنِ لِي صَرْحًا لَعَلِّي أَبْلُغُ الْأَسْبَابَ (۳٦) أَسْبَابَ السَّمَاوَاتِ فَأَطَّلِعَ إِلَى إِلَٰهِ مُوسَى وَإِنِّي لَأَظُنُّهُ كَاذِبًا وَكَذَٰلِكَ زُيِّنَ لِفِرْعَوْنَ سُوءُ عَمَلِهِ وَصُدَّ عَنِ السَّبِيلِ وَمَا كَيْدُ فِرْعَوْنَ إِلَّا فِي تَبَابٍ (سورة غافر ۳۲\ ۳۷) فرعون درواغجن کی موسٰی ؑ اودایې ښکاره کول خپل قوم ته چی زما څخه ماسوابل اله نسته اوزه اله یم نودایې وویل: مَا عَلِمْتُ لَكُمْ مِنْ إِلَٰهٍ غَيْرِي فَأَوْقِدْ لِي يَا هَامَانُ عَلَى الطِّينِ فَاجْعَلْ لِي صَرْحًا لَعَلِّي أَطَّلِعُ إِلَى إِلَٰهِ مُوسَى وَإِنِّي لَأَظُنُّهُ مِنَ الْكَاذِبِينَ، اودلته یې داسی ویلی دی: لَعَلِّي أَبْلُغُ الْأَسْبَابَ (۳٦) أَسْبَابَ السَّمَاوَاتِ، یعنی زه به دآسمان خواته وخیژم: فَأَطَّلِعَ إِلَى إِلَٰهِ مُوسَى وَإِنِّي لَأَظُنُّهُ كَاذِبًا، دلته دوه احتمالات جوړیږی یوداچی دعالَم دپاره بل رب نسته ماسوا زما څخه یاداچی دموسٰی ؑ رسالت یې دروغ ګڼی چی دی رسول نه دی، خواولنی ظاهردی دمعنٰی دلحاظ څخه، ولی چی دی منکر وو دبل رب څخه په دی قول سره: فَأَطَّلِعَ إِلَى إِلَٰهِ مُوسٰى یعنی په دی خبری سره چی بل رب سته که نسته اودادوهمه معنٰی لفظ ته نژدی ده نومعنٰی به داسی جوړیږی چی زه لوړ خیژم نو پوښتنه کوم درب څخه چی ده دی رسول یې رالیږلی دی اوکه نه. اودفرعون مقصدهم داوو چی داخلګ دده درسالت څخه منکرسی اودده خبره ونه منی. الله ﷻ فرمایلی دی: وَكَذَٰلِكَ زُيِّنَ لِفِرْعَوْنَ سُوءُ عَمَلِهِ وَصُدَّ عَنِ السَّبِيلِ ابن عباس اومجاهد ویلی دی چی: نه دی دده دامکرمګر خساره اوتاوان دی یعنی باطل دی، یعنی ده ته په کی څه فائده نسته، ولی چی انسان دانه

(c) ketabton.com: The Digital Library



سی کولی چی آسمان ته وخیژی، اول خوخوك دې نژدی آسمان ته نسی ختلی بیاکه وخیژی نولوړ چی سماء العلی دی هغه ته به څه رکم وخیژی اوبیا دهغه څخه لوړ دومره مزل دی چی چاته دهغه په باره کی علم نسته مگر یوالله ﷻ ته علم سته چی څومره فاصله ده یو دمفسرینو څخه داذکر کوی چی داقصر چی هامان جوړکړی وو دومره لوړ وو چی ددی څخه لوړ بل قصرنه وو اودا دپخو خښتو څخه جوړوو ددی وجی څخه یې ویلی دی: فَأَوْقِدْ لِي يَا هَامَانُ عَلَى الطِّينِ فَاجْعَلْ لِي صَرْحًا، اوپه نزد داهل کتابوباندی: هغوی وایې چی دابنی اسرائیل مسخرسوی وه په لوشلو دشیدو باندی اوددوی په هرڅه باندی دقبطیانو مشری وه تردی چی ددوی په اوبو باندی اوپه خوراکونو باندی هم نودوی به په خپل هرڅه کی هغوی ته معینه اوټاکل سوی حصه ورکوله اوکه یې نه ورکوله نوډېر تکلیفونه به یې بیا دوی ته ورکول اوډېره بیعزتی به یې ددوی کوله، نوددی وجی څخه بنی اسرائیلو موسٰی ؑ ته وویل چی: قَالُوا أُوذِينَامِنْ قَبْلِ أَنْ تَأْتِيَنَا وَمِنْ بَعْدِ مَاجِئْتَنَا قَالَ عَسٰى رَبُّكُمْ أَنْ يُهْلِكَ عَدُوَّكُمْ وَيَسْتَخْلِفَكُمْ فِي الْأَرْضِ فَيَنْظُرَ كَيْفَ تَعْمَلُونَ، نودی موسٰی ؑ دوی ته وعده ورکړه چی دغه قبطیان به ستاسی په قبضه کی راځی اودغه وعده یې پوره کړه نوداهم په نبوت دده باندی دلالت کوی، بیاموړ راځو نصیحت دهغه مومن بنده ته چی خپل قوم ته یې نصیحت کړی وو: وَقَالَ الَّذِي آمَنَ يَا قَوْمِ اتَّبِعُونِ أَهْدِكُمْ سَبِيلَ الرَّشَادِ (۳۸) يَا قَوْمِ إِنَّمَا هَذِهِ الْحَيَاةُ الدُّنْيَا مَتَاعٌ وَإِنَّ الْآخِرَةَ هِيَ دَارُ الْقَرَارِ (۳۹) مَنْ عَمِلَ سَيِّئَةً فَلَا يُجْزَى إِلَّا مِثْلَهَا وَمَنْ عَمِلَ صَالِحًا مِنْ ذَكَرٍ أَوْ أُنْثَى وَهُوَ مُؤْمِنٌ فَأُولَئِكَ يَدْخُلُونَ الْجَنَّةَ يُرْزَقُونَ فِيهَا بِغَيْرِ حِسَابٍ (سورة غافر ۳۸\۴۰) ده دعوت ورکوی چی دوی تابعداری وکړی دنبی دالله چی موسٰی ؑ دی اوپه هغه دی ایمان راوړی اودوی ته یې ترغیب ورکی دثواب خوا ته چی دالله ﷻ سره ځان ته ثواب ذخیره کړی اونیك اعمال وکی چی دآخرت کور ځان ته په اباد کړی هغه کورچی په هغه کی بیامړه کیدل اوناجوړی کیدل اودرزق ختمیدل نسته، اوبیایې ورته بطلان دهغه څه شروع کی چی دوی کوله بیره یې ورلره ورکړه دعذاب دالله ﷻ څخه دهغه لاری چی پرکم دوی روان وه، نو وې ویل: وَيَا قَوْمِ مَا لِي أَدْعُوكُمْ إِلَى النَّجَاةِ وَتَدْعُونَنِي إِلَى النَّارِ (٤١) تَدْعُونَنِي لِأَكْفُرَ بِاللهِ وَأُشْرِكَ بِهِ مَا لَيْسَ لِي بِهِ عِلْمٌ وَأَنَا أَدْعُوكُمْ إِلَى الْعَزِيزِ الْغَفَّارِ (٤٢) لَا جَرَمَ أَنَّمَا تَدْعُونَنِي إِلَيْهِ لَيْسَ لَهُ دَعْوَةٌ فِي الدُّنْيَا وَلَا فِي الْآخِرَةِ وَأَنَّ مَرَدَّنَا إِلَى اللهِ وَأَنَّ الْمُسْرِفِينَ هُمْ أَصْحَابُ النَّارِ (٤٣) فَسَتَذْكُرُونَ مَا أَقُولُ لَكُمْ وَأُفَوِّضُ أَمْرِي إِلَى اللهِ إِنَّ اللهَ بَصِيرٌ بِالْعِبَادِ (٤٤) فَوَقَاهُ اللهُ سَيِّئَاتِ مَا مَكَرُوا وَحَاقَ بِآلِ فِرْعَوْنَ سُوءُ الْعَذَابِ (٤٥) النَّارُ يُعْرَضُونَ عَلَيْهَا غُدُوًّا وَعَشِيًّا وَيَوْمَ تَقُومُ السَّاعَةُ أَدْخِلُوا آلَ فِرْعَوْنَ أَشَدَّ الْعَذَابِ، (سورة غافر ۴۱\۴۶) ده ورلره

(c) ketabton.com: The Digital Library



دعوت دالله ﷻ خواته ورکوی اوهغوی ورلره دعوت دفرعون خوا ته ورکوی چی دفرعون لعین عبادت وکو نوده ورته په طریقی دانکارسره وویل چی ای زماقومه داولی، زه تاسی رابولم دالله ﷻ خوا ته اودنجات خوا ته اوتاسی مارابولی دجهنم خوا ته اودګمراهی خواته. بیایې دوی ته بطلان دهغه څه وکی چی دوی یې عبادت کوی ماسوا دالله ﷻ څخه چی بتان وه اوداسی نوری طریقی اوعبادتونه دشرك وه، نو وې ویل: لَا جَرَمَ أَنَّمَا تَدْعُونَنِي إِلَيْهِ لَيْسَ لَهُ دَعْوَةٌ فِي الدُّنْيَا وَلَا فِي الْآخِرَةِ وَأَنَّ مَرَدَّنَا إِلَى اللهِ وَأَنَّ الْمُسْرِفِينَ هُمْ أَصْحَابُ النَّارِ، یعنی ته په دی دنیاکی دڅان څه اختیار نه لری نوپه آخرت کی به ته څه اختیار دڅان ولری؟ اوهرڅه چی الله ﷻ دی هغه خالق دهرڅه دی څه چی په آسمان کی دی اوڅه چی په مزکه کی دی اوهغه پیدا کونکی دی اوهغه مړکونکی دی اوهغه ته زموږ ورتګ دی، اوبیایې دوی ته وعده ورکړه چی چاطاعت دالله ﷻ وکی نوهغه به په جنت کی وی اوچاچی نافرمانی وکړه هغه به جهنم ته ځی په دی قول سره: فَسَتَذْكُرُونَ مَا أَقُولُ لَكُمْ وَأُفَوِّضُ أَمْرِي إِلَى اللهِ إِنَّ اللهَ بَصِيرٌ بِالْعِبَادِ، الله ﷻ فرمایلی دی: فَوَقَاهُ اللهُ سَيِّئَاتِ مَا مَكَرُوا نو دی وساتی الله ﷻ دهغه مکرونو څخه چی دوی ورلره جوړ کړی وه ددی دپاره چی دی ددی حق لاری څخه راواوړی اودکفر لاره وربلندی اختیار کی: وَحَاقَ بِآلِ فِرْعَوْنَ سُوءُ الْعَذَابِ (٤٥) النَّارُ يُعْرَضُونَ عَلَيْهَا غُدُوًّا وَعَشِيًّا، یعنی ددوی روحونه جهنم ته پیش کیږی هرسهار اوماښام: وَيَوْمَ تَقُومُ السَّاعَةُ أَدْخِلُوا آلَ فِرْعَوْنَ أَشَدَّ الْعَذَابِ اوپه دی باره کی موږ خبری کړی دی په تفسیرکی چی دا آیت دلالت کوی په عذاب قبرباندی، خومقصودی خبره داده چی الله ﷻ دوی نه هلاکوی تردی چی حجت پرقائم کړی، اورسولان ورلره ولیږی اوددوی څخه حجت واخلی په دی رسولانو سره په زیری اوبیره ورکولوسره، لکه څه رکم چی الله ﷻ فرمایلی دی: وَلَقَدْ أَخَذْنَا آلَ فِرْعَوْنَ بِالسِّنِينَ وَنَقْصٍ مِنَ الثَّمَرَاتِ لَعَلَّهُمْ يَذَّكَّرُونَ (١٣٠) فَإِذَا جَاءَتْهُمُ الْحَسَنَةُ قَالُوا لَنَا هَذِهِ وَإِنْ تُصِبْهُمْ سَيِّئَةٌ يَطَّيَّرُوا بِمُوسَى وَمَنْ مَعَهُ أَلَا إِنَّمَا طَائِرُهُمْ عِنْدَ اللهِ وَلَكِنَّ أَكْثَرَهُمْ لَا يَعْلَمُونَ (١٣١) وَقَالُوا مَهْمَا تَأْتِنَا بِهِ مِنْ آيَةٍ لِتَسْحَرَنَا بِهَا فَمَا نَحْنُ لَكَ بِمُؤْمِنِينَ (١٣٢) فَأَرْسَلْنَا عَلَيْهِمُ الطُّوفَانَ وَالْجَرَادَ وَالْقُمَّلَ وَالضَّفَادِعَ وَالدَّمَ آيَاتٍ مُفَصَّلَاتٍ فَاسْتَكْبَرُوا وَكَانُوا قَوْمًا مُجْرِمِينَ، دلته خبر ورکوی الله ﷻ په باره ددوی کی چی په فرعون اودهغه په قوم باندی الله ﷻ خشك سالی اوقحطی راوسته میوی اوخوراکی یې ټولی وچی سوی، داکار ددوی سره څکه وسو چی دوی دالله ﷻ یادانښت خوونه کی دوی نورهم په خپل کفر کی مضبوط سوه اونورهم ضدیان سوه، نوکله به چی فراخی راله نودهغه نسبت به یې څان ته کوی اوکله به چی څه تنګدستی اومصیبت پررالی نودهغه نسبت به یې دوی ته کوی چی داستاسی دوجی څخه موږته راورسیدی، اوکه څه خیربه وو نوڅان ته به یې دعوه

کوله چې دازموږ دخپل لاس کاردی. الله ﷻ دوی ته خطاب وکی چې داټول کارونه دالله ﷻ په قدرت سره کیږی اوستاسی په کی هیڅ قسم اختیار نسته، اودایې موسیٰ ﷺ ته وویل چې ته ځومره خپل جادوموږته ښکاره کړی نوموږ بیاهم په تاباندی ایمان نه راوړو. اوهمدا رکم خبریې ورکړی دی ددوی څخه په دی قول کی: إِنَّ الَّذِينَ حَقَّتْ عَلَيْهِمْ كَلِمَةُ رَبِّكَ لَا يُؤْمِنُونَ (۹۶) وَلَوْ جَاءَتْهُمْ كُلُّ آيَةٍ حَتَّى يَرَوُا الْعَذَابَ الْأَلِيمَ، (سورة الاعراف \ ۱۳۳) الله ﷻ فرمایلی دی: فَأَرْسَلْنَا عَلَيْهِمُ الطُّوفَانَ وَالْجَرَادَ وَالْقُمَّلَ وَالضَّفَادِعَ وَالدَّمَ آيَاتٍ مُفَصَّلَاتٍ فَاسْتَكْبَرُوا وَكَانُوا قَوْمًا مُجْرِمِينَ، هرڅه چې طوفان دی نوابن عباس وایې چې داډیر بارانونه مراددی چې ټولی میوی یې خرابولی (یعنی داسی بارانونه وه چې بی وخته اوریدل نوڅه میوی چې پخی سوی وی نوهغه ټولی یې خرابی کړی). سعید بن جبیر اوالضحاك اوقتاده اوالسدی اوابن عباس وایې چې: ډیر مرګونه مراددی (یعنی په دوی کی مړی ډیر سوه چې په هرکورکی به ډیر کیده) اومجاهد ویلی دی چې طاعون مراددی. اوروایت ذکرکړی دی ابن جریر دیحییٰ بن یمان څخه دی دمنهال بن خلیفه څخه نقل کوی اودی دالحجاج څخه اودی دحکم بن میناء څخه اودی دعائشی رضي الله عنها څخه دانقل کوی درسول الله ﷺ څخه چې فرمایلی دی: طوفان ویل کیږی مرګ ته ([1]) اوهرڅه چې ملخان دی هغه خو مشهوره دی (هغه داچې په دوی باندی ملخان وسلط سوی وه چې ددوی فصلونه یې تباه کړی وه) اودارکم نقل سوی دی دابوداود څخه چې دی نقل کوی دابی عثمان څخه دی دسلمان الفارسی څخه دی وایې چې پوښتنه وسوه درسول الله ﷺ څخه په باره دملخانو کی نووی فرمایل چې دا دالله ﷻ لوی لښکردی چې نه یې خورم اونه ورته حرام وایم ([2]) یعنی زه یې په خپله هم نه خورم اونه ورته حرام وایم چې ددی خوراك حرام دی، بلکی چې څوك یې غواړی نوددی خوراك کولی سی) اوددی خوراك نبی ﷺ دوجی دطبیعت نه منلو څخه نه دی کړی، لکه څه رکم چې یې سمساره اواوږه اوادرك اوداسی نورشیان نه خوړل، اودلیل دجواز دخوراك یې هغه حدیث دی چې ثابت سوی دی په صحیحینو کی دعبدالله بن ابی اوفی ؓ څخه دی وایې چې موږ اوه ۷ غزاګانی دنبی ﷺ سره کړی دی چې موږ به پکښی ملخان خوړل، اوپردې روایت او داسی نورو روایتو باندی موږ په تفسیر کی بحث کړیدی.

---

([1]). داموضوعی دی. تخریج ددی ابن جریراوابن ابی حاتم اوابن مردویه کړی دی. همدارکم المتقی الهندی ذکرکوی داپه کنزل العمال کی (۲\ ۸۹۲). اوالبانی په ضعیف الجامع الصغیرکی (۶۲۲۰) موضوعی ورته ویلی دی.

([2]). داضعیف دی ددی تخریج ابوداود کړی دی په کتاب الاطعمه کی، باب في اکل الجراد (۳\ ۳۸۱۳) اوابن ماجه په کتاب الصیدکی، باب صید الجنان والجراد (۲\ ۳۲۱۹) اوالبیهقی په الکبریٰ کی (۹\ ۱۸۹۹۲) اوالبانی په ضعیفو کی ذکرکړی دی (۴\ ۱۵۳۳).

(c) ketabton.com: The Digital Library



مقصود داخبره ده چی داملخان الله ﷻ پرمسلط کړه نوهغه شنه اومیوی اوبوټی یې ټول ورختم کړه. اوهرڅه چی سپړی دی نوداهم مشهوره دی، ابن مجاهدویلی دی چی دا (القمل) کوچنی کوچنی تور حیوانان دی لکه دشپړی په شان. اوهرڅه چی چنګاښان دی هغه هم مشهوره دی دایې ورلره ډیرکړه تردی چی ددوی په کتغو کی اوپه اوبوکی به پراته وه. اوهرڅه چی وینه ده نوالله ﷻ ورلره دنیل سمندر اوبه په شان دوینو ګرځولی وی نواوبه به یې ورڅخه نسوای څښلی، خوبنی اسرائیل ته ددی مصیبتونو څخه یوهم نه وو رسیدلی. دا ټول هم دلیلونه وه په تصدیق درسالت دموسیٰ ﷺ باندی. محمدبن اسحاق ویلی دی چی دافرعون ته چی کله داټول مصیبتونه ورورسیده اوبله چاره یې نه وه نوموسیٰ ﷺ ته رالی اوورته یې وویل: قَالُوا يَا مُوسَى ادْعُ لَنَا رَبَّكَ بِمَا عَهِدَ عِنْدَكَ لَئِنْ كَشَفْتَ عَنَّا الرِّجْزَ لَنُؤْمِنَنَّ لَكَ وَلَنُرْسِلَنَّ مَعَكَ بَنِي إِسْرَائِيلَ، نودعا وکړه موسیٰ ﷺ چی ددوی څخه داتکلیف اومصیبت لیری سی نوالله ﷻ ددوی څخه دامصیبت لیری کی. نوکله به چی دوی په یوکارکی وعده خلافی وکړه نوالله به بیا ملخان پرمسلط کړه نو درختی بوټی اومیوی به یې ورختمی کړی تردی چی ددروازو میخونه به یې هم وخوړل اوکورونه به یې راولویده. نوبیابه یې هغه شان وویل چی دالله ﷻ څخه دعا وغواړه زموږ دپاره چی زموږ څخه داتکلیف لیری کی نوموږ به په تاباندی ایمان راوړو، نوکله به چی ورڅخه لیری سو داتکلیف نوبیابه یې هغه خپل کارونه شروع کړه، نوالله ﷻ امر وکی موسیٰ ﷺ ته چی دشګو دغه غونډۍ په لکړه باندی وواهه نوده چی کله په ووهله نودهغه څخه دشپږو غټ لښکر روان سو ددوی خوا ته اوددوی په اوبو او خوراکونو کی اوپه هرڅه کی ورګډ سوه تردی چی دشپی خوب ته به یې هم نه پریښووله نوکله چی دوی تنګ سوه ددی څخه نوبیا راله موسیٰ ﷺ ته اوورته یې وویل چی ته دعا وغواړه زموږ دپاره دخپل رب څخه چی موږ څخه دامصیبت لیری سی، نوددوی څخه چی مصیبت لیری سو نوبیابه یې هغه خپل کارونه شروع کړه اوهغه وعده به یې نه پوره کوله چی دموسیٰ ﷺ سره به یې کوله، نوبیا الله ﷻ چنګاښان پرمسلط کړه تردی چی ددوی په خوراك کی اوپه اوبوکی اوپه بړستنوکی اوپه هرڅه کی به دا چنګاښان وه، نوکله چی ددی څخه تنګ سوه نوبیابه راله موسیٰ ﷺ ته اوورته به یې وویل هغه شان چی مخکی به یې ویله نوبیا ورڅخه الله ﷻ هغه تکلیف لیری کی نوبیایې هغه خپل کارونه شروع کړه نوبیا الله ﷻ وینه پرمسلطه کړه چی په اوبو کی به ورته وینه ښکاره کیده چی تازه سره وینه به وه اوداركم په نهرونو کی اوپه څاهانو کی اوپه هرڅه کی ورته داسی وینه ښکاره کیده اوکله به یې چی داوبو څخه یوغړپ وکی نودهغه څخه به ورته وینه جوړه سوه. اوچاویلی دی چی دلته دوینی څخه مراد دهغه دپزی ګندګی مراده ده، دارروایت دابن ابی

(c) ketabton.com: The Digital Library



حاتم دی. الله ﷻ فرمایلی دی: وَلَمَّا وَقَعَ عَلَيْهِمُ الرِّجْزُ قَالُوا يَا مُوسَى ادْعُ لَنَا رَبَّكَ بِمَا عَهِدَ عِنْدَكَ لَئِنْ كَشَفْتَ عَنَّا الرِّجْزَ لَنُؤْمِنَنَّ لَكَ وَلَنُرْسِلَنَّ مَعَكَ بَنِي إِسْرَائِيلَ (۱۳٤) فَلَمَّا كَشَفْنَا عَنْهُمُ الرِّجْزَ إِلَى أَجَلٍ هُمْ بَالِغُوهُ إِذَا هُمْ يَنْكُثُونَ (۱۳۵) فَانْتَقَمْنَا مِنْهُمْ فَأَغْرَقْنَاهُمْ فِي الْيَمِّ بِأَنَّهُمْ كَذَّبُوا بِآيَاتِنَا وَكَانُوا عَنْهَا غَافِلِينَ. (سورة الاعراف ۱۳۴\ ۱۳۶) دلته الله ﷻ ذکر دکفر ددوی کوی چی کله به په دوی باندی الله ﷻ یوعذاب مسلط کی نودوی به موسٰی ﷺ ته ورله اوکله به چی ورڅخه الله ﷻ هغه عذاب بوتلی نودوی به وعده خلافی وکړه اوبیرته به یې خپل کارونه شروع کړه، اوپه هروار به یې داوویل: لَئِنْ كَشَفْتَ عَنَّا الرِّجْزَ لَنُؤْمِنَنَّ لَكَ وَلَنُرْسِلَنَّ مَعَكَ بَنِي إِسْرَائِيلَ یعنی که تاموږ ته دعاوکړه اوزموږ څخه دی داتکلیف لیری کی نوموږ به ستاسره بنی اسرائیل پرېږدو چی ستاسره ولاړسی، خوچی ددوی څخه داتکلیف لیری سو نودوی به بیاهغه کار شروع کی کم به یې چی کوی دمخکی څخه، خوالله ﷻ به دوی ته مهلت ورکوی اووروسته والی به یې کوی ددوی په عذاب ورکولوکی، اوبیایې هلاك کړه وروسته دقائمولو دحجت په دوی باندی اوداسی عذاب یې ورکی چی دوروستنیو دپاره عبرت وګرځیدی.

الله ﷻ په سورة حٰمٓ کی فرمایلی دی: وَلَقَدْ أَرْسَلْنَا مُوسَى بِآيَاتِنَا إِلَى فِرْعَوْنَ وَمَلَئِهِ فَقَالَ إِنِّي رَسُولُ رَبِّ الْعَالَمِينَ (٤٦) فَلَمَّا جَاءَهُمْ بِآيَاتِنَا إِذَا هُمْ مِنْهَا يَضْحَكُونَ (٤٧) وَمَا نُرِيهِمْ مِنْ آيَةٍ إِلَّا هِيَ أَكْبَرُ مِنْ أُخْتِهَا وَأَخَذْنَاهُمْ بِالْعَذَابِ لَعَلَّهُمْ يَرْجِعُونَ (٤٨) وَقَالُوا يَا أَيُّهَا السَّاحِرُ ادْعُ لَنَا رَبَّكَ بِمَا عَهِدَ عِنْدَكَ إِنَّنَا لَمُهْتَدُونَ (٤٩) فَلَمَّا كَشَفْنَا عَنْهُمُ الْعَذَابَ إِذَا هُمْ يَنْكُثُونَ (٥٠) وَنَادَى فِرْعَوْنُ فِي قَوْمِهِ قَالَ يَا قَوْمِ أَلَيْسَ لِي مُلْكُ مِصْرَ وَهَذِهِ الْأَنْهَارُ تَجْرِي مِنْ تَحْتِي أَفَلَا تُبْصِرُونَ (٥١) أَمْ أَنَا خَيْرٌ مِنْ هَذَا الَّذِي هُوَ مَهِينٌ وَلَا يَكَادُ يُبِينُ (٥٢) فَلَوْلَا أُلْقِيَ عَلَيْهِ أَسْوِرَةٌ مِنْ ذَهَبٍ أَوْ جَاءَ مَعَهُ الْمَلَائِكَةُ مُقْتَرِنِينَ (٥٣) فَاسْتَخَفَّ قَوْمَهُ فَأَطَاعُوهُ إِنَّهُمْ كَانُوا قَوْمًا فَاسِقِينَ (٥٤) فَلَمَّا آسَفُونَا انْتَقَمْنَا مِنْهُمْ فَأَغْرَقْنَاهُمْ أَجْمَعِينَ (٥٥) فَجَعَلْنَاهُمْ سَلَفًا وَمَثَلًا لِلْآخِرِينَ (سورة الزخرف ۴۶\ ۵۶) دلته بیان کوی الله ﷻ دموسٰی ﷺ چی دی یې فرعون ته لیږلی وو چی هغه ایمان راوړی اودده سره یې ډیر دلائل اومعجزی ولیږلی، خو هغه به ورپوری خنداکوله اودحق څخه به یې اعراض کوی اودالله ﷻ دلاری څخه به یې ځان لیری ساتی نوالله ﷻ داسی عذابونه پرمسلط کړه چی یوپه بل پسی وه: وَأَخَذْنَاهُمْ بِالْعَذَابِ لَعَلَّهُمْ يَرْجِعُونَ (٤٨) وَقَالُوا يَا أَيُّهَا السَّاحِرُ ادْعُ لَنَا رَبَّكَ بِمَا عَهِدَ عِنْدَكَ إِنَّنَا لَمُهْتَدُونَ ددوی په زمانه کی لفظ دساحرعیبی اونقصانی لفظ نه وو ولی چی دوی به خپل عالم ته ساحروایه، نوددی وجی څخه یې ورته خطاب کړی دی چی په ده باندی یې دایقین وو چی داعالم دی اوبزرګ دی، نودوی به ورته عاجزی ښکاره کړه نوموسٰی ﷺ به دوی ته دعا وکړه نوکله به چی دوی

(c) ketabton.com: The Digital Library



دمصیبت څخه خلاص سوه نوبیابه ولاړه خپل کارته. اوبیا الله ﷻ خبرورکوی دفرعون دکبر څخه اودهغه دغرور څخه چی څه رکم دده بادشاهي وه اوڅرنګه دده ملك وو اودده کلي وو، اوده به په خپل نفس کی ځان ته ښه وایه اوپه موسٰی ﷺ کی به یې نقصانات بیانول چی دده ژبه مښلي اوصحیح خبری نه سی کولی، اوددی څخه وروسته الله ﷻ تورات نازل کی اوبیا هم فرعون دده نقصانات بیانول چی دده په لاس کی بنګړی نسته دسرو زرو اونه په ده باندی څه ښایست اوسینګار سته، داشیان اوداحلیه دښځووی خوفرعون ته الله دومره عقل نه وو ورکړی چی داسوچ یې کړی وی چی دالباس دښځودی اوپه دی باندی فخر کول پکار نه دی، اوداقول دده: أَوْ جَاءَ مَعَهُ الْمَلَائِكَةُ مُقْتَرِنِينَ، هرڅه چی ملائکی دی نوهغو ته ضرورت نسته، اوکه مراد داوی چی ملائکی دده دتعظیم اولوی والی دپاره راغلي وای نوملائکی ماسوا دموسٰی ﷺ څخه نورو ته هم ډیری دی لکه څه رکم چی په حدیث کی ذکرسوی دی: چی ملائکی خپل وزرونه دطالب العلم دپاره خپروی نودوی دموسٰی ﷺ اکرام اوتعظیم په کم شان اوشوکت سره کوی چی دیوطالب العلم څخه دهغه درجه لوړه ده، اوکه مراد داوی چی دغه ملائکی دده دپاره شاهدی اداکی چی دی واقعی دالله ﷻ دخوا څخه پیغمبردی نو ده ته هم ضرورت نسته ولی چی الله ﷻ ده لره داسی معجزی ورکړی وی چی عقلونه ورته حیران کیده اوداکافی دی دهغه چاد پاره چی هغه قصدکوی دحق اوڅوك چی حق نه مني نو هغه ځان هسی په زوره په ړندوکی شماری، اوالله ﷻ ددوی پرزړونو باندی مهرونه لګولی دی چی دهغه دوجی څخه دوی په شك کی پراته دی لکه څنګه چی حال دی دفرعون لعین. الله ﷻ فرمایلی دی: فَاسْتَخَفَّ قَوْمَهُ فَأَطَاعُوهُ، یعنی ددوی عقلونه سپك وه نودفرعون تابعداری یې وکړه اوده ته یې رب وویل ولی چی ددوی قوم فاسقان وه لکه څه رکم چی الله ﷻ فرمایلی دی: إِنَّهُمْ كَانُوا قَوْمًا فَاسِقِينَ (٥٤) فَلَمَّا آسَفُونَا یعنی کله چی یې موږ غصه کړو نوموږ ورڅخه بدل واخستی اوداسی عذاب موورکی چی داعبرت وګرځیدی دوروسته نسلونو دپاره. لکه څه رکم چی الله ﷻ فرمایلی دی: فَلَمَّا جَاءَهُمْ مُوسَى بِآيَاتِنَا بَيِّنَاتٍ قَالُوا مَا هَذَا إِلَّا سِحْرٌ مُفْتَرًى وَمَا سَمِعْنَا بِهَذَا فِي آبَائِنَا الْأَوَّلِينَ (٣٦) وَقَالَ مُوسَى رَبِّي أَعْلَمُ بِمَنْ جَاءَ بِالْهُدَى مِنْ عِنْدِهِ وَمَنْ تَكُونُ لَهُ عَاقِبَةُ الدَّارِ إِنَّهُ لَا يُفْلِحُ الظَّالِمُونَ (٣٧) وَقَالَ فِرْعَوْنُ يَا أَيُّهَا الْمَلَأُ مَا عَلِمْتُ لَكُمْ مِنْ إِلَهٍ غَيْرِي فَأَوْقِدْ لِي يَا هَامَانُ عَلَى الطِّينِ فَاجْعَلْ لِي صَرْحًا لَعَلِّي أَطَّلِعُ إِلَى إِلَهِ مُوسَى وَإِنِّي لَأَظُنُّهُ مِنَ الْكَاذِبِينَ (٣٨) وَاسْتَكْبَرَ هُوَ وَجُنُودُهُ فِي الْأَرْضِ بِغَيْرِ الْحَقِّ وَظَنُّوا أَنَّهُمْ إِلَيْنَا لَا يُرْجَعُونَ (٣٩) فَأَخَذْنَاهُ وَجُنُودَهُ فَنَبَذْنَاهُمْ فِي الْيَمِّ فَانْظُرْ كَيْفَ كَانَ عَاقِبَةُ الظَّالِمِينَ (٤٠) وَجَعَلْنَاهُمْ أَئِمَّةً يَدْعُونَ إِلَى النَّارِ وَيَوْمَ الْقِيَامَةِ لَا يُنْصَرُونَ (٤١) وَأَتْبَعْنَاهُمْ فِي هَذِهِ الدُّنْيَا لَعْنَةً وَيَوْمَ الْقِيَامَةِ هُمْ مِنَ الْمَقْبُوحِينَ (سورة القصص ۳۶\ ۴۲).

(c) ketabton.com: The Digital Library



دلته خبر ورکوی الله ﷻ دنافرمانی دفرعون څخه اودهغه دقوم څخه چې کله دوی په دی خپل کفر کی کلك سوه اودفرعون تابعداری دې قوم وکړه نودالله ﷻ غضب نازل سو پردوی باندی، نوددوی څخه یې بدل واخستی په سخته بدله اخستو سره چې ددوی څخه یوکور هم پاته نه سو اوټول اور ته دننه سوه، اوپه دی دنیاکی یې هم بدی بیانیږی اوپه هغه جهان کی هم ډیر بدی ددوی دورتګ ځای.

## هلاکت دفرعون او دهغه دلښکر

کله چې دی قبطیانوپه خپل کفرکی اوږدوالی اختیارکی اودفرعون تابعداری یې وکړه او دخپل رسول اونبی مخالفت یې وکی نوالله ﷻ حجتونه پرقائم کړه اوداسی معجزی یې ورته راولیږلی چې دعادت مخالفی وی اوعقلونه ورته حیران سوی وی، خو ددوی څخه ایمان رانه وړی مګرلږ چې هغه دری کسان وه یوه ښځه دفرعون اودوهم هغه سړی چې موسٰی ﷺ ته یې خبرورکړی وو چې فرعون دی قتل کوی اوتښته ددی ځای څخه اودریم هغه سړی چې اوس لږ مخکی دهغه بیان تیرسو چې فرعون ته یې وویل چې ته هغه سړی مړکوی چې هغه وایې چې زمارب الله دی، ابن عباس وایې چې داکسان ماسوا دجادوګرانو څخه دی ولی چې جادوګران ټول قبطیان وه، اوداهم ویل سوی دی چې دفرعون دقوم څخه یوی ډلی هم ایمان راوړی دی، اوټولو جادوګرانو هم ایمان راوړی وو اوبنی اسرائیلو هم ټولو ایمان راوړی وو اوپه دی خبری باندی دلالت کوی داقول دالله ﷻ: فَمَا آمَنَ لِمُوسَىٰ إِلَّا ذُرِّيَّةٌ مِنْ قَوْمِهِ عَلَىٰ خَوْفٍ مِنْ فِرْعَوْنَ وَمَلَئِهِمْ أَنْ يَفْتِنَهُمْ وَإِنَّ فِرْعَوْنَ لَعَالٍ فِي الْأَرْضِ وَإِنَّهُ لَمِنَ الْمُسْرِفِينَ (سورة یونس \ ۸۳) پس ضمیرپه دی قول کی: إِلَّا ذُرِّيَّةٌ مِنْ قَوْمِهِ داراجع دی فرعون ته ولی چې سیاق پردی باندی دلالت کوی، اوویل سوی دی چې داموسٰی ﷺ ته راجع دی خوداخبره دسیاق څخه لیری ده: وَإِنَّ فِرْعَوْنَ لَعَالٍ فِي الْأَرْضِ،یعنی دتکبرکونکوڅخه دی اوظالم دی: وَإِنَّهُ لَمِنَ الْمُسْرِفِينَ یعنی په ټولو کارونوکی خوالله ﷻ دده هغه دخراب عادت اوتکبروټی دهمیشه دپاره لیری کی. نوپه دغه وخت کی موسٰی ﷺ وویل: يَا قَوْمِ إِنْ كُنْتُمْ آمَنْتُمْ بِاللَّهِ فَعَلَيْهِ تَوَكَّلُوا إِنْ كُنْتُمْ مُسْلِمِينَ (۸٤) فَقَالُوا عَلَى اللَّهِ تَوَكَّلْنَا رَبَّنَا لَا تَجْعَلْنَا فِتْنَةً لِلْقَوْمِ الظَّالِمِينَ (۸۵) وَنَجِّنَا بِرَحْمَتِكَ مِنَ الْقَوْمِ الْكَافِرِينَ، ده خپلو اسرائیلیانوته امروکی په استعانت اومددغوښتلو سره دالله ﷻ څخه او هغه ته دفریادکولو، نودوی دموسٰی ﷺ په امر باندی اتمام وکی نوالله ﷻ دوی ته دفراخی لاره خلاصه کړه: وَأَوْحَيْنَا إِلَىٰ مُوسَىٰ وَأَخِيهِ أَنْ تَبَوَّآ لِقَوْمِكُمَا بِمِصْرَ بُيُوتًا وَاجْعَلُوا بُيُوتَكُمْ قِبْلَةً وَأَقِيمُوا الصَّلَاةَ وَبَشِّرِ الْمُؤْمِنِينَ، وحی وکړی الله ﷻ دی موسٰی اوهارون عَلَيْهِمَا السَّلَامُ ته چې دوی دخپل قوم دپاره جلاکورونه ونیسی دقبطیانو څخه، ددی وجی چې کله دوی ته الله ﷻ امروکی نو

(c) ketabton.com: The Digital Library



دوی بیاددغه ځای څخه تګ وکی اوولاړسی اوددی وجی چی دوی دیوبل کورونه وپیژنی. اوداقول: وَاجْعَلُوا بُیُوتَكُمْ قِبْلَةً ویل سوی دی چی جماعت مراددی، اوویل سوی دی چی ځای دډیرو لمنځونو. داقول دمجاهد اودابو مالك اودابراهیم النخعی اودالربیع اودالضحاك او دزید بن اسلم اودده دزوی عبدالرحمٰن اودداسی نورودی، نومعنٰی به ددی داسی سی چی دوی مدد وغواړی په باره دهغه څه کی چی دوی په کی دی دتکلیفونو څخه اودمصیبتونو څخه اودداسی نورو غمونو څخه په ډیرو لمونځونو سره، لکه څنګه چی الله ﷻ فرمایلی دی: وَاسْتَعِينُواْ بِالصَّبْرِ وَالصَّلٰوةِ، اوپه رسول الله ﷺ باندی به چی کله څه غم اوتکلیف نازل سو نوپرلمانځه به ودریدی، اوداهم ویل سوی دی چی دوی په دی باندی قادرنه وه چی ښکاره عبادت یې کولی نودوی ته امروسو چی په کورونو کی لمونځونه وکی، سعید بن جبیر ویلی دی: وَاجْعَلُوا بُیُوتَكُمْ قِبْلَةً، یعنی یوبل ته مخامخ. الله ﷻ فرمایلی دی: وَقَالَ مُوسَى رَبَّنَا إِنَّكَ آتَيْتَ فِرْعَوْنَ وَمَلَأَهُ زِينَةً وَأَمْوَالًا فِي الْحَيَاةِ الدُّنْيَا رَبَّنَا لِيُضِلُّوا عَنْ سَبِيلِكَ رَبَّنَا اطْمِسْ عَلَى أَمْوَالِهِمْ وَاشْدُدْ عَلَى قُلُوبِهِمْ فَلَا يُؤْمِنُوا حَتَّى يَرَوُا الْعَذَابَ الْأَلِيمَ (۸۸) قَالَ قَدْ أُجِيبَتْ دَعْوَتُكُمَا فَاسْتَقِيمَا وَلَا تَتَّبِعَانِّ سَبِيلَ الَّذِينَ لَا يَعْلَمُونَ، (سورة یونس ۸۸\ ۸۹) دا دعا ده دموسٰی علیه السلام په باره دهلاکت دفرعون کی چی موسٰی علیه السلام دالله ﷻ څخه دا دعا وغوښته چی فرعون هلاك کړی ولی چی دی دخپلو باطلو کارونو څخه نه اوړیدی اودحق تابعداری یې نه کوله اودحق خلاف یې کوی اوضدیې کوی اوتکبریې کوی نوموسٰی علیه السلام وفرمایل چی ای ربه زماکه ته چیری دی فرعون اودی قبطیانو ته مالونه اوښائست اوجائیدادونه اوداسی نور نعمتونه ورکړی نوداڅه جاهلان چی دی دوی به وایې چی دوی پر حق دی نوځکه دوی ته نعمتونه ورکول کیږی اوداخلګ به ددوی په مالونو باندی دوکه کیږی اوحق به پریږدی اودباطل خوا ته به روانیږی: رَبَّنَا اطْمِسْ عَلَى أَمْوَالِهِمْ، ابن عباس ویلی دی: داطمس څخه مراد هلاك کول دی یعنی دوی هلاك کړه ابو العالیه اوالضحاك اوالربیع بن انس ویلی دی چی: دوی وګرځوه کاڼی چی غوړول سوی وی، قتاده وایې چی موږ ته رارسیدلی دی چی ددوی پوڼدی کاڼی سوی وه، اومحمدبن کعب ویلی دی چی ددوی دنشی اسباب کاڼی ګرځول سوی وه، اوداهم ویل سوی دی چی ددوی مالونه ټول کاڼی ګرځول سوی وه، داقول دابن عبد العزیز دی، عمر بن عبدالعزیز خپل یوغلام ته وویل چی هغه صندوق راوړی نوکله یې چی خلاص کی نوهرڅه په کی کاڼی سوی وو چی په هغه کی هګی وی چی کاڼی ورڅخه جوړ سوی وو. راوی ددی ابن ابی حاتم دی. اودا قول دده: وَاشْدُدْ عَلَى قُلُوبِهِمْ فَلَا يُؤْمِنُوا حَتَّى يَرَوُا الْعَذَابَ الْأَلِيمَ، ابن عباس ویلی دی چی ددوی پرزړونو باندی مهرونه ولګوه. اودا دعا

(c) ketabton.com: The Digital Library



دغضب دالله ﷻ ده دخپل دین دپاره. نوالله ﷻ دده دا دعا قبوله کړه، لکه څه رکم چی یې نوح علیه السلام لره قبوله کړې وه چی هغه ویلی وه: رَبِّ لَاتَذَرْ عَلَى الْأَرْضِ مِنَ الْكَافِرِينَ دَيَّارًا (۲۶) إِنَّكَ إِنْ تَذَرْهُمْ يُضِلُّوا عِبَادَكَ وَلَا يَلِدُوا إِلَّافَاجِرًا كَفَّارًا، نوپه دغه وخت کی الله ﷻ په جواب ددی دعا کی ورته خطاب وکی کله چی ده دعاوکړه په باره دهلاکت دفرعون کی اوهارونؑ آمین پر وویل نودا دعا داسی سوه لکه چی دوو کسانو کړی وی نوالله ﷻ ورته وفرمایل: قَالَ قَدْ أُجِيبَتْ دَعْوَتُكُمَا فَاسْتَقِيمَا وَلَا تَتَّبِعَانِّ سَبِيلَ الَّذِينَ لَا يَعْلَمُونَ، مفسرینو ویلی دی چی بنی اسرائیلو طلب وکی دفرعون څخه چی دوی دخپل اختر کولو دپاره خپل عیدگاه ته ووزی نوفرعون ورلره اجازه ورکړه که څه هم دهغه زړه نه غوښته. خودوی دوتلو دپاره تیاری کړی وه، خو دفرعون اودهغه دلښکر دهلاکیدو ځای هم ددوی داخپله علاقه وه، اودوی ووته ددی وجی څخه چی دفرعون څخه خلاص سی، اوامروکی الله ﷻ دوی ته په هغه څه کی چی اهل کتاب یې ذکرکوی. چی دوی یو څنګ ته سی دقبطیانو څخه اوبیایې دوی ته امر وکی چی دشپې ووزی نودوی ووتله اوروان سوه په شپه کی دشام خوا ته، نوکله چی فرعون ددوی په تګ باندی خبرسو نوډیرسخت درد ورلی اوپه دوی پسی راووتی اوخپل لښکریې راټول کی چی په دوی پسی ورسی. الله ﷻ فرمایلی دی: وَأَوْحَيْنَا إِلَى مُوسَى أَنْ أَسْرِ بِعِبَادِي إِنَّكُمْ مُتَّبَعُونَ (۵۲) فَأَرْسَلَ فِرْعَوْنُ فِي الْمَدَائِنِ حَاشِرِينَ (۵۳) إِنَّ هَؤُلَاءِ لَشِرْذِمَةٌ قَلِيلُونَ (۵٤) وَإِنَّهُمْ لَنَا لَغَائِظُونَ (۵۵) وَإِنَّا لَجَمِيعٌ حَاذِرُونَ (۵٦) فَأَخْرَجْنَاهُمْ مِنْ جَنَّاتٍ وَعُيُونٍ (۵۷) وَكُنُوزٍ وَمَقَامٍ كَرِيمٍ (۵۸) كَذَلِكَ وَأَوْرَثْنَاهَا بَنِي إِسْرَائِيلَ (۵۹) فَأَتْبَعُوهُمْ مُشْرِقِينَ (٦٠) فَلَمَّا تَرَاءَى الْجَمْعَانِ قَالَ أَصْحَابُ مُوسَى إِنَّا لَمُدْرَكُونَ (٦١) قَالَ كَلَّا إِنَّ مَعِيَ رَبِّي سَيَهْدِينِ (٦٢) فَأَوْحَيْنَا إِلَى مُوسَى أَنِ اضْرِبْ بِعَصَاكَ الْبَحْرَ فَانْفَلَقَ فَكَانَ كُلُّ فِرْقٍ كَالطَّوْدِ الْعَظِيمِ (٦٣) وَأَزْلَفْنَا ثَمَّ الْآخَرِينَ (٦٤) وَأَنْجَيْنَا مُوسَى وَمَنْ مَعَهُ أَجْمَعِينَ (٦٥) ثُمَّ أَغْرَقْنَا الْآخَرِينَ (٦٦) إِنَّ فِي ذَلِكَ لَآيَةً وَمَا كَانَ أَكْثَرُهُمْ مُؤْمِنِينَ (٦٧) وَإِنَّ رَبَّكَ لَهُوَ الْعَزِيزُ الرَّحِيمُ (سورة الشعراء ۲۸\۵۲) علماء دتفسیرونو ویلی دی چی کله فرعون ووتی په دی بنی اسرائیلو پسی نودده سره داسی ډیرلښکر وو لکه دشګو دغونډۍ په شان تردی چی ویل سوی دی چی ددوی په خیال باندی (۱۰۰۰۰۰) کسان وه اواکثره په تورو آسونو وه او ویل سوی دی چی بنی اسرائیل (۲۰۰۰) کسان وو بغیر دهغه ډلی دفرعون دقوم څخه چی دموسٰی علیه السلام سره وتلی وه. اوویل سوی دی چی ددوی په وتلو اوبیادیعقوب علیه السلام کلی ته په ننوتلوکی (۴۲۲) کاله تیرسوی وه په حساب شمسی سره. خومقصود داخبره ده چی فرعون اودهغه لښکر پیداکړه بنی اسرائیل دسهارپه وخت کی چی دلمر راختلو وخت وو، نوکله چی دوی دواړو ډلو یوبل ولیده سره او نژدی سوه سره نودا بنی اسرائیل وبیریده او

(c) ketabton.com: The Digital Library



دتیښتی لاره نه وه ولی چی مخ ته سمندر وو اودواړو غاړوته غرونه وه، نوپه دغه وخت کی دموسٰی ﷺ ملګرو وویل (اِنَّا لَمُدْرَکُوْنَ) اودايې ددی وجی څخه وویل چی نور بله لاره دتښتی نه وه. نودوی شکایت وکی موسٰی ﷺ ته، نوموسٰی ﷺ ورته وفرمایل: کَلَّا اِنَّ مَعِيَ رَبِّي سَيَهْدِينِ نودی په مینځ کی وو اورا مخکی سو نوکله يې چی سمندرته وکتل نوتیزی څپی يې وهلی اودده سره دده ورور هارون ﷺ اویوشع بن نونؑ چی دده ذکر به وروسته راځی چی دابیاوروسته دموسٰی ﷺ څخه پیغمبر مقررسوی دی، اودارکم ټول بنی اسرائیل هم ولاړوه اوهغه مومن بنده هم ووچی دسمندرخواته به نژدی کیدی چی واوړی خونه کیدله تردی چی فرعون دوی ته نورهم رانژدی سو اودټولو روحونه مری ته رارسیدلی وه نوپه دغه وخت کی الله ﷻ امروکی موسٰی ﷺ ته چی په دی خپل لکړی باندی داسمندر ووهه: أَنِ اضْرِبْ بِعَصَاكَ الْبَحْرَ، نوکله چی يې دی ووهی نوورته يې وویل چی وچوه په حکم دالله ﷻ باندی ای ابو خالده یعنی دااسم کنیه يې هغه سمندرته واخستی، والله اعلم.
الله ﷻ فرمایلی دی: فَأَوْحَيْنَا إِلَى مُوسَى أَنِ اضْرِبْ بِعَصَاكَ الْبَحْرَ فَانْفَلَقَ فَكَانَ كُلُّ فِرْقٍ كَالطَّوْدِ الْعَظِيمِ، اوویل سوی دی چی دا دولس ځایه جلاجلاسوی وو دهری یوی ډلی دپاره جلاجلا لاری وی چی په هغه باندی تیریدله، تردی چی داهم ویل سوی دی چی دده په مینځونوکی کړکی هم لګیدلی وی چی یوبل به په کی خپل ملګری لیدل، خودا خبره صحیح نه ده ولی چی اوبه په خپله صفادی چی هرڅه په کی ښکاری اوهمدا رکم اوبه دغرونو هم ولاړی وی په شان دغرونوپه حکم دالله ﷻ باندی، اوالله ﷻ الدبور چی مشرقی هواده دی ته امروکی چی ددی سمندپرهغو لارو باندی ولګیږی چی هغه ددی بنی اسرائیلو دپاره ایستل سوی وه چی دا اوچ سی نوهغه لاری داسی وچی سوی چی آس به په کی نه ښویدی. الله ﷻ فرمایلی دی: وَلَقَدْ أَوْحَيْنَا إِلَى مُوسَى أَنْ أَسْرِ بِعِبَادِي فَاضْرِبْ لَهُمْ طَرِيقًا فِي الْبَحْرِ يَبَسًا لَا تَخَافُ دَرَكًا وَلَا تَخْشَى (۷۷) فَأَتْبَعَهُمْ فِرْعَوْنُ بِجُنُودِهِ فَغَشِيَهُمْ مِنَ الْيَمِّ مَا غَشِيَهُمْ (۷۸) وَأَضَلَّ فِرْعَوْنُ قَوْمَهُ وَمَا هَدٰى، مقصود داخبره ده چی کله الله ﷻ دوی ته لاری په سمندرکی خلاصی کړی نوامروسو موسٰی ﷺ ته چی بنی اسرائیل دځان سره وباسه نودوی ووتل په دی سمندرکی په تیزی سره اوپه خوشحالی سره نوکله چی ددوی هغه آخرنی سړی ووتی نوفرعون دخپل لښکرسره راورسیدی نوموسٰی ﷺ داغوښتی چی داسمندر بیرته ووهی چی بندسی خوالله ﷻ ورته امروکی چی هم پردی حال يې پریږده، لکه څه رکم چی الله ﷻ فرمایلی دی: وَلَقَدْ فَتَنَّا قَبْلَهُمْ قَوْمَ فِرْعَوْنَ وَجَاءَهُمْ رَسُولٌ كَرِيمٌ (۱۷) أَنْ أَدُّوا إِلَيَّ عِبَادَ اللهِ إِنِّي لَكُمْ رَسُولٌ أَمِينٌ (۱۸) وَأَنْ لَا تَعْلُوا عَلَى اللهِ إِنِّي آتِيكُمْ بِسُلْطَانٍ مُبِينٍ (۱۹) وَإِنِّي عُذْتُ بِرَبِّي وَرَبِّكُمْ أَنْ تَرْجُمُونِ (۲۰) وَإِنْ لَمْ تُؤْمِنُوا لِي

(c) ketabton.com: The Digital Library



فَاعْتَزِلُونِ (۲۱) فَدَعَا رَبَّهُ أَنَّ هَؤُلَاءِ قَوْمٌ مُجْرِمُونَ (۲۲) فَأَسْرِ بِعِبَادِي لَيْلًا إِنَّكُمْ مُتَّبَعُونَ (۲۳) وَاتْرُكِ الْبَحْرَ رَهْوًا إِنَّهُمْ جُنْدٌ مُغْرَقُونَ (۲٤) كَمْ تَرَكُوا مِنْ جَنَّاتٍ وَعُيُونٍ (۲۵) وَزُرُوعٍ وَمَقَامٍ كَرِيمٍ (۲٦) وَنَعْمَةٍ كَانُوا فِيهَا فَاكِهِينَ (۲۷) كَذَلِكَ وَأَوْرَثْنَاهَا قَوْمًا آخَرِينَ (۲۸) فَمَا بَكَتْ عَلَيْهِمُ السَّمَاءُ وَالْأَرْضُ وَمَا كَانُوا مُنْظَرِينَ (۲۹) وَلَقَدْ نَجَّيْنَا بَنِي إِسْرَائِيلَ مِنَ الْعَذَابِ الْمُهِينِ (۳۰) مِنْ فِرْعَوْنَ إِنَّهُ كَانَ عَالِيًا مِنَ الْمُسْرِفِينَ (۳۱) وَلَقَدِ اخْتَرْنَاهُمْ عَلَى عِلْمٍ عَلَى الْعَالَمِينَ (۳۲) وَآتَيْنَاهُمْ مِنَ الْآيَاتِ مَا فِيهِ بَلَاءٌ مُبِينٌ، (سورة الدخان ۱۷\ ۳۳) نوداقول دالله ﷻ: وَاتْرُكِ الْبَحْرَ رَهْوًا، یعنی په دی خپل حال باندی یې پریږده، اوددې خپل صفت څخه یې مه بدلوه، داقول دمجاهد اودعکرمه اودالربیع او دالضحاك اودقتاده اودکعب الاحبار اودسماك بن حزب اوعبدالرحمٰن بن زید بن اسلم دی، نوکله چی ده پردی حال پرېښووی اوفرعون ورته راورسیدی نوحیران سو دی منظرته، اودا ورته پته ولګیده چی داهغه ذات چی لوړ پرعرش باندی دی هغه کړی دی اودخپل ځان سره پښیمانه سو، خولیکن خپل لښکرته یې خپله بهادری ښکاره کوله اوورته یې داویله چی وګوری زمادپاره داسمندرڅه رکم خلاص سو، اودځان سره یې داسوچ کوی چی دی سمندر ته دننه سی په دی بنی اسرائیلو په سی اوکه نه نوکله به ورمخکی سو نوبیابه بیرته رالی همداسی ورتلی اوبیرته راتلی. نودی وایې چی جبرایل ﵇ دوی ته راښکاره سو په شان دشاه سوار چی پروچی اسپی باندی ناست وو اودفرعون پریوې خوا په تیزی سره تیرسو او دسیند څخه هغه خوا ته ووتی نوکله چی فرعون داولیده نودی هم وردننه سو اودده لښکر هم وردننه سو تردی چی ټول ننوتله، چی څنګه اولنی سړی ددوی څخه دهغه خوا څخه وتلو والاوو، نوپه دغه وخت کی الله ﷻ امروکی موسٰی ﵇ ته چی داسمندر وواهه په لکړه سره، نوکله چی ده وواهه نوالله ﷻ داسمند پرراوستی اوټول یې په کی راګیر کړه اوټول یې په کی هلاك کړه نوددوی څخه یوسړی هم بچ پاته نه سو. الله ﷻ فرمایلی دی: وَأَنْجَيْنَا مُوسَى وَمَنْ مَعَهُ أَجْمَعِينَ (٦۵) ثُمَّ أَغْرَقْنَا الْآخَرِينَ (٦٦) إِنَّ فِي ذَلِكَ لَآيَةً وَمَا كَانَ أَكْثَرُهُمْ مُؤْمِنِينَ (٦۷) وَإِنَّ رَبَّكَ لَهُوَ الْعَزِيزُ الرَّحِيمُ یعنی ددوی په بچ کولوکی اودهغوی په هلاکولوکی دالله ﷻ ډیره غټه نښانه ده اودادلیل دی پرریښتنوالی دموسٰی ﵇ باندی. اوداركم الله ﷻ فرمایلی دی: وَجَاوَزْنَا بِبَنِي إِسْرَائِيلَ الْبَحْرَ فَأَتْبَعَهُمْ فِرْعَوْنُ وَجُنُودُهُ بَغْيًا وَعَدْوًا حَتَّى إِذَا أَدْرَكَهُ الْغَرَقُ قَالَ آمَنْتُ أَنَّهُ لَا إِلَهَ إِلَّا الَّذِي آمَنَتْ بِهِ بَنُو إِسْرَائِيلَ وَأَنَا مِنَ الْمُسْلِمِينَ (۹۰) آلْآنَ وَقَدْ عَصَيْتَ قَبْلُ وَكُنْتَ مِنَ الْمُفْسِدِينَ (۹۱) فَالْيَوْمَ نُنَجِّيكَ بِبَدَنِكَ لِتَكُونَ لِمَنْ خَلْفَكَ آيَةً وَإِنَّ كَثِيرًا مِنَ النَّاسِ عَنْ آيَاتِنَا لَغَافِلُونَ، دلته خبر ورکوی الله ﷻ دکیفیت دغرقیدلو دفرعون څخه چی دی څه رکم غرق سو، کله چی دی الله ﷻ دخپل لښکر سره په سمندرکی راګیرکی، نوددی سمندر څپو کله دی لوړوی اوکله یې

(c) ketabton.com: The Digital Library



غوټه کوی، اوبنی اسرائیلو ورته کتل چی په دوی باندی داکم عذاب مسلط سوی دی، دا ددی وجی چی دبنی اسرائیلو زړونه یخ سی دده په دی حال سره. نوکله چی فرعون هلاکت ته نژدی سو اودمرګ منظورته پیش سو نوده په دغه وخت کی یې توبه وکښله اوایمان یې راوړی خوپه دغه وخت کی ده ته دده دغه ایمان راوړلو څه فائده نه ورکوله، لکه څه رکم چی الله ﷻ فرمایلی دی: إِنَّ الَّذِينَ حَقَّتْ عَلَيْهِمْ كَلِمَةُ رَبِّكَ لَا يُؤْمِنُونَ (٩٦) وَلَوْ جَاءَتْهُمْ كُلُّ آيَةٍ حَتَّى يَرَوُا الْعَذَابَ الْأَلِيمَ، (سورة یونس ۹۶\ ۹۷) اوالله ﷻ فرمایلی دی: فَلَمَّا رَأَوْا بَأْسَنَا قَالُوا آمَنَّا بِاللَّهِ وَحْدَهُ وَكَفَرْنَا بِمَا كُنَّا بِهِ مُشْرِكِينَ (٨٤) فَلَمْ يَكُ يَنْفَعُهُمْ إِيمَانُهُمْ لَمَّا رَأَوْا بَأْسَنَا سُنَّةَ اللَّهِ الَّتِي قَدْ خَلَتْ فِي عِبَادِهِ وَخَسِرَ هُنَالِكَ الْكَافِرُونَ (سورة غافر ۸۴\ ۸۵). اوهمدغه رکم موسی علیه السلام دالله ﷻ څخه دعا غوښتی وه چی دوی ته دی دایمان توفیق ورنه کول سی تردی چی دردناک عذاب وګوری. نوالله ﷻ ورته په جواب کی ویلی وه چی: قَدْ أُجِيبَتْ دَعْوَتُكُمَا، ستاسی دعا قبوله سوه. اوددی حدیث څخه چی روایت یې کړی دی امام احمد دسلیمان بن حرب څخه دی دحماد بن سلمه څخه دی دعلی بن زید څخه دی دیوسف بن مهران څخه دی دابن عباس څخه دی وایې چی فرمایلی دی رسول الله ﷺ: کله چی فرعون وویل: آمَنْتُ أَنَّهُ لاَ إِلَهَ إِلا الَّذِي آمَنَتْ بِهِ بَنُو إِسْرَائِيلَ، نوجبریل ماته وویل چی: که تازه لیدلی وای نوما را اخیستی وه دسمندر څخه توره خټه اودفرعون په خوله کی می واچوله، ددی بیری څخه چی هسی نه چی دالله ﷻ رحمت ورته راسی اودعذاب څخه خلاص سی (١) اوابن ابی حاتم ویلی دی په نقل کولو سره دابوسعید الاشجعی څخه دی نقل کوی دابوخالد الاحمر څخه دی دعمر بن عبدالله بن یعلی الثقفی څخه اودی دسعید بن جبیر څخه اودی دابن عباس څخه دی وایې چی: کله فرعون غرقیدی نواشاره یې وکړه په ګوتی سره اواواز یې لوړکی: آمَنْتُ أَنَّهُ لا إِلَهَ إِلا الَّذِي آمَنَتْ بِهِ بَنُو إِسْرَائِيلَ، نو وې ویل: چی جبریل وبیریدی چی دالله ﷻ رحمت ورته مخکی والی ونه کړی، نوراوی څغلول په خپل وزر سره توره خټه اودی فرعون ته یې په خوله کی ورکړه. همدارکم راوی ددی ابن جریر هم دی دحدیث دابی خالد څخه هم په دی الفاظو سره. اودارکم ددی روایت ذکرکړی دی ابن جریر دطریقی دکثیر بن زاذان څخه چی دامعروف نه دی، اودابی حازم څخه چی دی نقل کوی دابی هریره رضی الله عنه څخه دی وایې چی فرمایلی دی رسول الله ﷺ: ماته جبریل ویلی دی چی، ای محمده (ﷺ) که تازه لیدلی وای چی مابه توره خټه را اخیستله اوفرعون ته به می په خوله کی ورکوله، ددی بیری څخه چی

---

(١). تخریج ددی احمدکړی دی (۱\۳۰۹) اوالترمذی په کتاب التفسیرکی، باب ومن سورة یونس (۵\۳۱۰۷) او الطبرانی په الکبیر کی (۱۲\ ۱۲۹۳۲).

(c) ketabton.com: The Digital Library



دالله ﷻ رحمت باندی ونه سی. اوپه بعضو روایاتو کی داسی ذکرسوی دی چی جبریل ویله چی زمادردچاته دومره نه دی سوی چی څومره فرعون ته سوی دی په دی قول دده سره چی: (انا ربکم الاعلی) اومابه دده په خوله کی ختړه اچوله په هغه وخت کی چی ده ایمان راوړی. اودا قول دالله ﷻ: آلآنَ وَقَدْ عَصَيْتَ قَبْلُ وَكُنْتَ مِنَ الْمُفْسِدِينَ، دااستفهام انکاری دی، اودانص دی پردی باندی چی الله ﷻ ته دده ایمان قبول نه وو ولی که دی دنیاته راسی نودی به بیا هغه خپل کارونه اوتکبر اوغرور کوی، لکه څه رکم چی الله ﷻ خبر ورکوی دکافرانو څخه چی اور ووینی نووایې به: يَا لَيْتَنَا نُرَدُّ وَلَانُكَذِّبَ بِآيَاتِ رَبِّنَا وَنَكُونَ مِنَ الْمُؤْمِنِينَ، چی کاشکی موږ ولاړ سو اوعبادت دالله ﷻ وکو اومومنان سو. الله ﷻ فرمایې: بَلْ بَدَا لَهُمْ مَا كَانُوا يُخْفُونَ مِنْ قَبْلُ وَلَوْ رُدُّوا لَعَادُوا لِمَا نُهُوا عَنْهُ وَإِنَّهُمْ لَكَاذِبُونَ اوداقول دالله ﷻ: فَالْيَوْمَ نُنَجِّيكَ بِبَدَنِكَ لِتَكُونَ لِمَنْ خَلْفَكَ آيَةً، ابن عباس ویلی دی چی بعضو بنی اسرائیلو داشك وکی چی فرعون نه دی هلاك سوی، نوامر وکی الله ﷻ سمندرته چی دی لوړکه داوبو پرسر، اوچاویلی دی چی داوبو سر ته یې راښکاره کی، خوصحیح دا ده چی دی یې لوړ راوغوزوی اوپر ده باندی هغه خپلی دبادشاهی کپړی وی چی ټولو ته داپته ولګیږی چی داهلاك سوی دی، اوټولو ته دالله ﷻ دقدرت اندازه معلومه سی. نوددی وجی څخه الله ﷻ وفرمایل: فَالْيَوْمَ نُنَجِّيكَ بِبَدَنِكَ، یعنی ستابدن دهغه لباس سره چی ته په پیژندل کیږی موږ به یې ساتو (لِتَكُونَ) چی ته سی (لِمَنْ خَلْفَكَ) یعنی چی ته سی دبنی اسرائیلو دپاره نښانه یعنی ستادهلاکت به دادلیل سی خلګو ته په باره کی دقدرت دالله ﷻ اوخاص کر بنی اسرائیلو ته، یا دا احتمال هم سته چی ستا بدن موږ محفوظ کی ددې دپاره چی وروسته بنی اسرآئیلوته ستا دهلاکت خبر ورسیږی اوتا په خپلو سترګو باندی ووینی اویقین وکړی په قدرت دالله ﷻ باندی اودده هلاکت سره دلښکر په لسم دمحرم باندی وو چی عاشوراء ورته ویل کیږی، لکه څه رکم چی امام بخاری په خپل صحیح کی نقل کړی دی دمحمد بن بشار څخه دی دغندر څخه دی دشعبه څخه دی دابی بشر څخه دی دسعید بن جبیر څخه اودی دابن عباس څخه دی وایې چی: رالی نبی ﷺ مدینی ته اویهودیانو دعاشوری روژه ونیوله، نوپوښتنه یې وکړه چی داولی تاسی روژه نیسی په دی ورځ باندی؟ نودوی وویل چی په دی ورځ باندی الله ﷻ موسٰی ﷺ ته پرفرعون باندی غلبه ورکړیده، نورسول الله ﷺ خپلو صحابه وو ته وویل چی تاسی ډیرحقدار یاست دموسٰی ﷺ په باره کی ددوی څخه نوتاسی هم روژه ونیسی. (۱)

---

(۱). داصحیح دی تخریج ددی بخاری کړی دی په کتاب التفسیرکی، سورة یوسف، باب (وجاوزنا ببنی اسرائیل البحر) (۸/ ۴۶۸۰).

## بیان په باره کی دبنی اسرائیلو وروسته دهلاکت دفرعون څخه

فَانْتَقَمْنَا مِنْهُمْ فَأَغْرَقْنَاهُمْ فِي الْيَمِّ بِأَنَّهُمْ كَذَّبُوا بِآيَاتِنَا وَكَانُوا عَنْهَا غَافِلِينَ (۱۳۶) وَأَوْرَثْنَا الْقَوْمَ الَّذِينَ كَانُوا يُسْتَضْعَفُونَ مَشَارِقَ الْأَرْضِ وَمَغَارِبَهَا الَّتِي بَارَكْنَا فِيهَا وَتَمَّتْ كَلِمَةُ رَبِّكَ الْحُسْنَى عَلَى بَنِي إِسْرَائِيلَ بِمَا صَبَرُوا وَدَمَّرْنَا مَا كَانَ يَصْنَعُ فِرْعَوْنُ وَقَوْمُهُ وَمَا كَانُوا يَعْرِشُونَ (۱۳۷) وَجَاوَزْنَا بِبَنِي إِسْرَائِيلَ الْبَحْرَ فَأَتَوْا عَلَى قَوْمٍ يَعْكُفُونَ عَلَى أَصْنَامٍ لَهُمْ قَالُوا يَا مُوسَى اجْعَلْ لَنَا إِلَهًا كَمَا لَهُمْ آلِهَةٌ قَالَ إِنَّكُمْ قَوْمٌ تَجْهَلُونَ (۱۳۸) إِنَّ هَؤُلَاءِ مُتَبَّرٌ مَا هُمْ فِيهِ وَبَاطِلٌ مَا كَانُوا يَعْمَلُونَ (۱۳۹) قَالَ أَغَيْرَ اللهِ أَبْغِيكُمْ إِلَهًا وَهُوَ فَضَّلَكُمْ عَلَى الْعَالَمِينَ (۱٤۰) وَإِذْ أَنْجَيْنَاكُمْ مِنْ آلِ فِرْعَوْنَ يَسُومُونَكُمْ سُوءَ الْعَذَابِ يُقَتِّلُونَ أَبْنَاءَكُمْ وَيَسْتَحْيُونَ نِسَاءَكُمْ وَفِي ذَلِكُمْ بَلَاءٌ مِنْ رَبِّكُمْ عَظِيمٌ (سورة القصص \ ۵) اوپه بل ځای کی یې داسی فرمایلی یې دی: وَنُرِيدُ أَنْ نَمُنَّ عَلَى الَّذِينَ اسْتُضْعِفُوا فِي الْأَرْضِ وَنَجْعَلَهُمْ أَئِمَّةً وَنَجْعَلَهُمُ الْوَارِثِينَ، اوپه بل ځای کی یې داسی فرمایلی دی: وَأَوْرَثْنَا الْقَوْمَ الَّذِينَ كَانُوا يُسْتَضْعَفُونَ مَشَارِقَ الْأَرْضِ وَمَغَارِبَهَا الَّتِي بَارَكْنَا فِيهَا وَتَمَّتْ كَلِمَةُ رَبِّكَ الْحُسْنَى عَلَى بَنِي إِسْرَائِيلَ بِمَا صَبَرُوا وَدَمَّرْنَا مَا كَانَ يَصْنَعُ فِرْعَوْنُ وَقَوْمُهُ وَمَا كَانُوا يَعْرِشُونَ، یعنی داټول یې هلاك کړه اوهغه عزت یې ددوی څخه ختم کی، اوټول لښکر اوسالاران اونور داسی نژدی خلګ دفرعون داټول یې هلاك کړه، اوپه مصرکی پاته نه سوه مګر عام خلګ چی زمینداران وه اوغریبان اوبی وسه وه، اوذکر کړی دی ابن عبدالحکم په تاریخ دمصر کی چی ددغه زمانی څخه په مصر کی دښځو تسلط رالی ولی چی هغه مشران دقوم هلاك سوه اودهغوی ښځی پاته سوی دغو ښځو دعام خلګو سره ودونه وکړه نوپه سړو باندی یې تسلط وکی، نوترنن ورځی پوری په مصر کی دښځو تسلط دی په سړوباندی. اوپه نزد داهل کتابو باندی داسی ذکرسوی دی: کله چی بنی اسرائیلوته الله ﷻ امروکی په وتلو سره دمصر څخه نودغه میاشت الله ﷻ ددوی دپاره اولنی میاشت ددغه کال وګرځوله، اودوی ته امروکی الله ﷻ چی هریودی یوپسه حلال کړی اودچاچی وس نه وی نوهغه دی دخپل همسایه سره شریك سی، اوهریودی دخپل پسه وینه دکور پردروازې باندی ومږی، ددی وجی چی داددوی دکورونو نښانی سی، اودا پسه به نه پخوی بلکه دابه کبابوی، دده سر اوخپته او ټول شیان به ورلره کبابوی، اوددی څخه به هیڅ څه نه پریږدی، شروع ددی داولنی میاشت دڅوارلسمی ورځی څخه سوی وه اوپه موسم دپسرلی کی، نوکله یې چی داوخوړل نوخپلی ملاګانی یې وتړلی اوخپلی موزی یې په پښوکړی اوخپلی لکړی یې په لاس کی واخستی، اوددی پسه څخه هریوه په ولاړی خوراك وکی په تیزی سره، اوڅه چی ددی څخه زیاته پاته سوه ماخستن ته نوهغه یې وسوزل، داددوی دپاره اخترمقررسو ددغه وخت څخه ترهغه وخته پوری چی تورات وو کله

(c) ketabton.com: The Digital Library



چې تورات منسوخ سو نوداهم منسوخ سو. اهل کتاب وایې چې: په دغه شپه باندې الله ﷻ دقبطیانو ټول ځوانان اوښه ښه مالونه هلاك کړه اومړه یې کړه، ددې دپاره چې دوی په دې مړو باندې مشغول سې، اوبنې اسرائیل دمصر څخه په نیمایې دورځ کې ووتل په داسې حال کې چې قبطیانو په خپلو مړو باندې بیره کوله، چې په دوی کې یوکورهم داسې نه وو چې په هغه کې مړی نه وو سوی، نوکله چې موسیٰ ﷺ ته وحې وسوې نودې دخپل قوم سره په تیزۍ ووتې اوروان سو دشام خوا ته، اودځان سره یې خوراك واخستې اوخپل سامانونه یې دځان سره په ځادرونو کې واخستل، اودوی ډېر سامانونه دقبطیانو څخه په کرایه اوپه اجرت سره رااخستې وه، نودوی ووته چې ددوی تعداد (۲۰۰۰) کسان وو ماسوا دبچو ددوی څخه، اودوی په مصر کې (۴۳۰) کاله تیرکړې وه، دا ددوی دکتاب عبارت دی. اودا کال ددوی په نزد باندې کال دفسخ یعنې دختم والی کال دی، اوددوی اخترهم دفسخ په نوم باندې وو، او ددوی دپاره بل اختر نوی والی دکال دی، اوددوی اختر هم دفسخ په نوم باندې وو، اودا اختر ددوی په اول دکال باندې وو، نوهمدارکم ددوی درې اختره په کال کې وه، چې دا ددوی په کتاب کې ذکردي، اوکله چې دوی دمصر څخه ووته نودیوسف ﷺ تابوت یې هم دځان سره یو وړی، اودوی په لاره دبحر یوسف باندې ووتل اودوی دورځې مزلونه کول چې ددوی مخ ته به وریځ وه چې په هغه کې به دڼاستنې ولاړې وې، اودشپې به یې چې مزل کوی نوپه تیاره کې به ورته داور ستنې لګیدلې وې، نودوی په هغه لاره دسمندرخواته ورسیدل اوهلته پاته سوه نوپه دغه وخت کې ددوی پرخوافرعون رالې دخپل لښکرسره، اودوی دسمندر په غاړه کې پراته وه، نودبنې اسرائیل څخه ډېر کسان وبیریده، تردې چې یوه په کې داوویل چې په مصرکې دسختې سره مرګ ښه وو ددې څخه چې په دې شله کې مړه سو، نوموسیٰ ﷺ دغه سړی ته وویل چې تاسې مه بیریږی ولې چې فرعون به ددې ځای څخه روغ مصرته ولاړنه سې. دوی وایې چې امروکې الله ﷻ په دغه وخت کې موسیٰ ﷺ ته چې په لکړه سره دغه سمندر ووهې، اوتقسیم یې کې چې بنې اسرائیل په کې تیرسې. نواوبه ددواړو خواوو څخه ددوی ودریدې لکه دغرونو په شکل اوددې مینځ وچ سو، ولې چې الله ﷻ دجنوب دخوا څخه ګرمه هوا پرولګوله نووچ سو، نوبنې اسرائیل تر ووتله اوفرعون دخپل لښکرسره ورپسې سو نوکله چې بنې اسرائیل ټول ووتله اودفرعون لښکر مینځ ته سو نوموسیٰ ﷺ ته الله ﷻ امروکې چې داسمند بیرته په لکړه ووهه نوبیایې سمندر وواهې نوفرعون دخپل لښکرسره په کې غرق سو. په نزد د اهلِ کتابو باندې داهرڅه دشپې سوې دې اوبیا داسمندر دوی ته په صبا یې وخت کې خلاص سوې دې،خودا غلطه ده. دوی وایې چې کله الله ﷻ فرعون اودهغه لښکر تباه کې

(c) ketabton.com: The Digital Library



اوغرق یې کی نوپه دغه وخت کی موسیٰ علیه السلام اوبنی اسرائیلو تسبیحات شروع کړه اودایې وویل چی: موږ تسبیح وایو دهغه پاك ذات، چی دفرعون په سریې خپل قهر نازل کی. او خپل اسونه یې په داسی سمندر باندی تیرکړه چی هغه منع کوونکی وو، اوداډیر اوږده تسبیحات دی. اودوی وایې: چی دهارون خور یو دف (طنبل) راواخستی اوهغه یې وواهی اونوری ښځی ورپسی سوی اوټولی ښځی یوځای سوی، اوپه خوږ اواز سره یې داویله: پاکی ده دهغه ذات دپاره چی قهاردی، هغه ذات چی ظالمان یې ټول په سمندرکی غرق کړه. اوهمدارکم په کتاب داهل کتابو کی ماویلی دی. اودلته دوی ویلی دی چی ددی هارون دخور نوم مریم النبیه ده، اوهمداسی نقل کړی دی محمدبن کعب القریظی دی وایې چی دامریم بنت عمران وه داخور دموسیٰ اوهارون علیه السلام وه، اوددی دموسیٰ علیه السلام سره دپلار نوم اودورور نوم سره یوشان دی نوددی وجی څخه یې ویلی دی چی دایې خورده، ولی چی دوی وه لکه څه رکم چی رسول الله صلی الله علیه وسلم ویلی دی مغیره بن شعبه ته په هغه وخت کی کله چی دده څخه اهل نجران والاوو پوښتنه وکړه په باره داخت هارون کی یعنی دهارونؑ دخور په باره کی چی ددی څه نوم دی، نوده پوښتنه وکړه دنبی صلی الله علیه وسلم څخه نونبی علیه السلام ورته په جواب کی وویل، دایې ورته ځکه وویل چی انبیاوو خوندی دانبیاوو په نامه سره یادیدلی سی. راوی ددی مسلم دی. اوداقول ددوی چی (النبیه) نودایې ورته ددی وجی څخه ویلی دی لکه څه رکم چی دباچا ښځه وی نوهغه ته ملکه ویل کیږی اودامیر ښځی ته امیره ویل کیږی، نودا استعاری دی نودنبی خورته نبیه ویل کیږی، دانه چی داپه حقیقت کی نبی وو بلکی دا استعاره ده، اووهل دتبلی په دغه ورځ باندی نودا دلیل دی ددوی پرغټ اختر باندی په دغه ورځ، اودا دزنانو دپاره جائزدی، دلیل په دی باندی حدیث دهغو دوو مینځو دی چی دعائشه رضی الله عنها سره وی اوطبلی یې وهلی په ورځ دمنی کی، اورسول الله صلی الله علیه وسلم منع کولی نومخ مبارك یې واړوی ددیوال خوا ته نوپه دغه وخت کی ابوبکر رضی الله عنه رالی نودا یې وترټلی چی دنبی علیه السلام په کورکی دشیطان میخونه ټك وهی نونبی علیه السلام وفرمایل چی پریږده ای ابوبکره دهرقوم دپاره خپل اختروی اودازموږ اختردی (۱) اودوی ذکرکړی دی چی دوی کله ولاړه دسمندر وخواته نودشام خواته روان سوه نوپه لاره کی یې دری ورځی مزل وکی اواوبه یې نه کړی پیدا نوډیرو په کی خبری وکړی چی څه یې ویل نودوی پیداکړی اوبه خو تروی وی چی څښل یې نه کیده، نوامروکی الله جل جلاله موسیٰ علیه السلام ته چی یولرګی راواخلی او ددی اوبوپه مینځ کی کښیږدی نویولرګی یې ددی په مینځ کی کښیښوی نوهغه اوبه خوږی

(۱). تخریج ددی بخاری کړی دی په کتاب العیدین کی، باب سنت العیدین لاهل الاسلام (۲\ ۹۵۲) اومسلم په کتاب صلات العیدین، باب الرخصت فی اللعب یوم العید (۲\ ۱۸۲).

(c) ketabton.com: The Digital Library



سوی، اوالله ﷻ دوی ته په دغه ځای کی ډیرفرائض اوسنن وښوول، اوډیر وصیتونه یې ورته وکړل. اودارکم الله ﷻ په خپل کتاب کی فرمایلی دی: وَجَاوَزْنَا بِبَنِي إِسْرَائِيلَ الْبَحْرَ فَأَتَوْا عَلَى قَوْمٍ يَعْكُفُونَ عَلَى أَصْنَامٍ لَهُمْ قَالُوا يَا مُوسَى اجْعَلْ لَنَا إِلَهًا كَمَا لَهُمْ آلِهَةٌ قَالَ إِنَّكُمْ قَوْمٌ تَجْهَلُونَ (۱۳۸) إِنَّ هَؤُلَاءِ مُتَبَّرٌ مَاهُمْ فِيهِ وَبَاطِلٌ مَا كَانُوا يَعْمَلُونَ (سورة الاعراف ۱۳۸\ ۱۳۹) دی جاهلانو موسٰی علیه السلام ته وویل سره ددی چی دوی ته الله ﷻ په ریښتنوالی درسالت دده باندی داسی دلائل پیش کړه چی هغه حیرانونکی وو بیاهم دوی وویل چی زموږ دپاره یوشی مقررکړه چی موږ ورلره عبادت وکو، اودایې په هغه وخت کی وویل کله چی دوی په یوقوم باندی تیریده چی هغوی دبتانو عبادت کوی چی دغوایې په شکلونو باندی جوړوه نودوی چی کله ددوی دغه عبادت ولیدی نودوی داسوچ وکی چی کیدی سی چی دا دوی ته څه نفع او ضرر رسوی نودوی بیاخپل نبی موسٰی علیه السلام ته داوویل چی ته هم زموږ دپاره څه شی جوړ کړه چی موږ یې عبادت وکو، نوموسٰی علیه السلام دوی ته وویل چی تاسی جاهلان یاست او ستاسی سره عقل نسته اوتاسی په هدایت باندی نه یاست: إِنَّ هَؤُلَاءِ مُتَبَّرٌ مَا هُمْ فِيهِ وَبَاطِلٌ مَا كَانُوا يَعْمَلُونَ، اوبیایې ذکرکی دوی ته دالله ﷻ نعمتونه په تفصیل سره اودایې ورته وویل چی دوی الله ﷻ خوښ کړی دی په خپل زمانی کی په اعتبار دعلم اوپوهی سره، اوهغه رسول چی ددوی په مینځ کی دی ددوی سره یې ځومره ښه وکړه چی دوی یې دفرعون ظالم څخه خلاص کړه اونجات یې ورکی، اوبیایې دوی ته دفرعون دهلاکت اودوی دهغه میراثیان کړل ددی ذکریې دوی ته وکی، اودایې ورته بیان کړه چی دعبادت لائق ماسوا دالله ﷻ څخه بل څوك نسته اونه دچا دپاره عبادت ماسوا دهغه څخه پکاردی، ولی چی هغه یك تنهادی دهغه شریك نسته اوهغه خالق دمزکو اوآسمانونودی، اوټولو بنی اسرائیلو داسوال نه وو کړی بلکی دلته ضمیر راجع دی جنس ته اوجنس لږ اوډیر دواړوته شاملیږی، لکه په دی قول دالله ﷻ کی: وَيَوْمَ نُسَيِّرُ الْجِبَالَ وَتَرَى الْأَرْضَ بَارِزَةً وَحَشَرْنَاهُمْ فَلَمْ نُغَادِرْ مِنْهُمْ أَحَدًا (۴۷) وَعُرِضُوا عَلَى رَبِّكَ صَفًّا لَقَدْ جِئْتُمُونَا كَمَا خَلَقْنَاكُمْ أَوَّلَ مَرَّةٍ بَلْ زَعَمْتُمْ أَلَّنْ نَجْعَلَ لَكُمْ مَوْعِدًا (سورة الکهف ۴۷\ ۴۸) اوامام احمد ویلی دی په نقل کولو سره دعبدالرزاق څخه دی نقل کوی دمعمر څخه دی نقل کوی دالزهری څخه دی نقل کوی دابن ابی سنان الدیلی څخه دی دابی واقد اللیثی څخه، دی وایې چی موږ ووتلو درسول الله ﷺ سره دحنین خوا ته نوموږ تیرسو پریوی درختی باندی چی زوړندونکی درخته وه نوموږ وویل رسول الله ﷺ ته چی موږ ته اجازه راکړه چی موږ ددی درختی څخه زړوندکی درخته جوړه کړو چی خپل سامان په کی زوړندوو لکه څه رکم چی به کفارو ددی څخه جوړول اوبیابه ورته شاوخوا پریوتل، نونبی علیه السلام وفرمایل: الله اکبر، داهم هغه رکم قول دی لکه څه رکم چی بنی اسرائیلوخپل نبی

(c) ketabton.com: The Digital Library



ته ویلی وو: اجْعَلْ لَنَا إِلَهًا كَمَا لَهُمْ آلِهَةٌ، تاسی یادوی هغه کارونه چی هغه ستاسی څخه مخکی تیرسوی خلکو کړی دی (۱) اوروایت ددی ذکرکړی دی النسایي دمحمد بن رافع څخه دی نقل کوی دعبدالرزاق څخه هم په دی الفاظو سره، اوهمدارکم ترمذی دسعید بن عبد الرحمٰن المخزومی څخه دی دسفیان بن عیینه څخه دی دالزهری څخه، اوبیایې ویلی دی داحسن صحیح دی، اودارکم روایت ذکرکړی دی ابن جریر دحدیث دمحمد بن اسحاق څخه اودمعمر څخه اودعقیل څخه اودالزهری څخه دی دسنان بن ابی سنان څخه اودی دابی واقد اللیثی څخه، چی دوی ووتل درسول الله ﷺ سره دمکی څخه حنین خوا ته، نو دی وایې چی وه دکافرانو دپاره یوه درخته چی دهغه څخه به ګیر چاپیره کښېنسته، او خپلی اسلحی به یې په هغه کی ایږدلی، چی هغه درختی ته به (ذات انواط) ویل کیده نو دوی وایې چی موږ تیریدو په یوی درختی باندی چی هغه ډیره شنه وو نوموږ رسول الله ﷺ ته وویل چی دازموږ دپاره ذات انواط یعنی دایږدلو والا ونه ګرځوو لکه څه رکم چی دکافرانو دپاره وه. نونبی ﷺ وفرمایل: تاسی داسی خبره وکړه لکه څه رکم چی بنی اسرائیلو موسیٰ ﷺ ته کړی وو: اجْعَلْ لَنَا إِلَهًا كَمَا لَهُمْ آلِهَةٌ قَالَ إِنَّكُمْ قَوْمٌ تَجْهَلُونَ (۱۳۸) إِنَّ هَؤُلَاءِ مُتَبَّرٌ مَا هُمْ فِيهِ وَبَاطِلٌ مَا كَانُوا يَعْمَلُونَ خومقصود داچی کله موسیٰ ﷺ جلاسو دمصر څخه اودبیت المقدس خوا ته روان سو نوپه هغه ځای کی یې ډیربد ظالمان قومونه ولیده. نوامروکی موسیٰ ﷺ په قتل کولو ددوی سره او ددوی په ایستلو سره ددی بیت المقدس څخه، ولی چی داځای الله ﷻ موسیٰ ﷺ ته تیار کړی وو اودابراهیم خلیل الله په خوله یې ورسره وعده کړیده چی داځای به هم دده دپاره وی، لکه څه رکم چی الله ﷻ فرمایلی دی: وَإِذْ قَالَ مُوسَى لِقَوْمِهِ يَا قَوْمِ اذْكُرُوا نِعْمَةَ اللهِ عَلَيْكُمْ إِذْ جَعَلَ فِيكُمْ أَنْبِيَاءَ وَجَعَلَكُمْ مُلُوكًا وَآتَاكُمْ مَا لَمْ يُؤْتِ أَحَدًا مِنَ الْعَالَمِينَ (۲۰) يَا قَوْمِ ادْخُلُوا الْأَرْضَ الْمُقَدَّسَةَ الَّتِي كَتَبَ اللهُ لَكُمْ وَلَا تَرْتَدُّوا عَلَى أَدْبَارِكُمْ فَتَنْقَلِبُوا خَاسِرِينَ (۲۱) قَالُوا يَا مُوسَى إِنَّ فِيهَا قَوْمًا جَبَّارِينَ وَإِنَّا لَنْ نَدْخُلَهَا حَتَّى يَخْرُجُوا مِنْهَا فَإِنْ يَخْرُجُوا مِنْهَا فَإِنَّا دَاخِلُونَ (۲۲) قَالَ رَجُلَانِ مِنَ الَّذِينَ يَخَافُونَ أَنْعَمَ اللهُ عَلَيْهِمَا ادْخُلُوا عَلَيْهِمُ الْبَابَ فَإِذَا دَخَلْتُمُوهُ فَإِنَّكُمْ غَالِبُونَ وَعَلَى اللهِ فَتَوَكَّلُوا إِنْ كُنْتُمْ مُؤْمِنِينَ (۲۳) قَالُوا يَا مُوسَى إِنَّا لَنْ نَدْخُلَهَا أَبَدًا مَا دَامُوا فِيهَا فَاذْهَبْ أَنْتَ وَرَبُّكَ فَقَاتِلَا إِنَّا هَاهُنَا قَاعِدُونَ (۲٤) قَالَ رَبِّ إِنِّي لَا أَمْلِكُ إِلَّا نَفْسِي وَأَخِي فَافْرُقْ بَيْنَنَا وَبَيْنَ الْقَوْمِ الْفَاسِقِينَ (سورة المائده ۲۰\۲۵) دلته ذکرکوی موسیٰ ﷺ دالله ﷻ نعمتونه خپل قوم ته چی الله ﷻ پر دوی باندی دنیوی اواخروی دواړه احسانات اوانعامات

---

(۱). تخریج ددی احمدکړی دی (۵\۲۱۸) اوالترمذی په کتاب الفتن کی، باب ماجاء: لترکبن سنن من کان قبلکم ۱۴ ۲۱۸۰) اوابوعیسیٰ ویلی دی داحدیث حسن صحیح دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



کړې دی. اودوی ته یې امروکی چې جهاد وکی په لاره دالله ﷻ کی اوداالله ﷻ دښمنان قتل کی نو وی ویل: يَا قَوْمِ ادْخُلُوا الْأَرْضَ الْمُقَدَّسَةَ الَّتِي كَتَبَ اللهُ لَكُمْ وَلَا تَرْتَدُّوا عَلَى أَدْبَارِكُمْ یعنی په شاه کیږی به نه اوددښمنانوڅخه به کراریږی نه: فَتَنْقَلِبُوا خَاسِرِينَ یعنی دډېری څخه به وروسته تاوان وکی اودکمال څخه به وروسته نقصانی سی که چیری موجهاد پریښووی: قَالُوا يَا مُوسَى إِنَّ فِيهَا قَوْمًا جَبَّارِينَ یعنی ظالمان اوضدیان قوم پکښی دی: وَإِنَّا لَنْ نَدْخُلَهَا حَتَّى يَخْرُجُوا مِنْهَا فَإِنْ يَخْرُجُوا مِنْهَا فَإِنَّا دَاخِلُونَ دوی وبیریده ددغو ظالمانو څخه اودوی په خپلو سترګو باندی دفرعون هلاکت ولیدی اوهغه ددوی څخه ډیر ظالم وو، اودی دلیل ګرزوی ددوی په ملامتیا باندی اودلته بعضی مفسرینو ډیره غلو کړیده چې دوی دشکلونو څخه ډیرغټ وو نوددی وجی څخه دوی ورڅخه وبیریده، خوداخبره غلطه ده، اوبعضوپکی داخبره هم کړیده چې دوی دومره غټ وو چې ددوی څخه یوسړی رالی اوددی بنی اسرائیلو څخه یې دولس کسه په یواځی بوتله اوخپل بادشاه ته یې پیش کړه نوهغه ورڅخه داپوښتنه وکړه چې تاسی څوك یاست نودوی ورته وویل چې موږ بنی اسرائیل یو نودی بادشاه ورلره انګور ورکوه چې یویو انګور دیوه یوه سړی دپاره کافی کیدی، نوداخبره غلطه ده اوتش خرافات دی. اوبعضو داذکر کړی دی چې عوج بن عنق ددوی ظالمانو دخوا څخه راووتی چې دابنی اسرائیل مړه کړی اودده اوږدوالی (۳۳۳۳) ګزه وو، همداسی قول کړی دی بغوی هم، اودا صحیح نه دی، ولی چې موږ مخکی په قول درسول الله ﷺ کی ذکر کړی وو چې فرمایلی دی: یقینًا الله ﷻ پیداکړی دی آدم ؑ اودهغه اوږدوالی (۲۰) ګزه وو، نودهغه څخه په دی خوا دخلګو قدونه اوعمرونه کمیږی تردی وختنه پوری. نودوی وایې چې داعوج بن عنق دیوغر سرته وختی اودهغه ځای څخه یې ډبری راواخستی اودموسٰی ؑ په لښکر باندی یې راایله کړه، نومرغی راله اوداډبره یې ونیول اوماته یې کړی تردی چې داټولی ډبری یې دعوج غاړی ته واچولی دامیل په شکل باندی، نوبیاموسٰی ؑ په ده پسی ورټوپ کړه او دده ترپونډی پوری وروختی اودی یې مړه کی، داروایت نقل سوی دی دنوف البکالی څخه اوابن جریرنقل کړی دی دابن عباس څخه اوداصحیح قول نه دی ولی چې دااسرائیلی اقوال دی اودااکثره غلط وی، اوداټول هغه خبری دی کم چې بنی اسرائیل دځان څخه جوړی کړی دی، ولی چې ددوی سره ددروغوخبرو دومره زیاتی سوی دی چې دصحیح اوباطل فرق په کی نه کیږی. اوکه چیری داصحیح وی نوبنی اسرائیل خوځان معذوره ګڼلی وو دجنګونو څخه اوحال داچې الله ﷻ دوی ته ترټنه ورکړیده په پریښوولو دجهاد باندی. اودوی ته امر په جهاد سره وسو اومخکی والی دجهاد خوا ته دوو کسانو کړی وو اودوی یې دحجامت څخه هم منع کړی وه چې هغه دوه کسان. یوشع بن نون، اوکالب بن یوفنا دی، داقول دابن

(c) ketabton.com: The Digital Library



عباس اودمجاهد اودالسدی اودعکرمه اودالربیع بن انس دی: قَالَ رَجُلَانِ مِنَ الَّذِينَ يَخَافُونَ أَنْعَمَ اللهُ عَلَيْهِمَا ادْخُلُوا عَلَيْهِمُ الْبَابَ فَإِذَا دَخَلْتُمُوهُ فَإِنَّكُمْ غَالِبُونَ وَعَلَى اللهِ فَتَوَكَّلُوا إِنْ كُنْتُمْ مُؤْمِنِينَ یعنی هغه کسان چی دالله ﷻ څخه بیره کوی اوپه دوی باندی الله ﷻ انعام کړی دی داسلام اودایمان اودطاعت اودشجاعت څخه: ادْخُلُوا عَلَيْهِمُ الْبَابَ فَإِذَا دَخَلْتُمُوهُ فَإِنَّكُمْ غَالِبُونَ وَعَلَى اللهِ فَتَوَكَّلُوا إِنْ كُنْتُمْ مُؤْمِنِينَ یعنی کله چی تاسی پرهغه ذات باندی توکل وکی اودهغه څخه مو مدد وغوښتی نوهغه ذات ستاسی مدد اونصرت کوی پرقوم کافرانو باندی: قَالُوا يَا مُوسَى إِنَّا لَنْ نَدْخُلَهَا أَبَدًا مَا دَامُوا فِيهَا فَاذْهَبْ أَنْتَ وَرَبُّكَ فَقَاتِلَا إِنَّا هَاهُنَا قَاعِدُونَ، نوکونوالی ددوی دوی دجهاد څخه پاته کړه، اوویل سوی دی چی کله یوشع اوکالب داخبره واوریده نودغصی دلاسه یې خپلی کپړی وشلولی اوموسٰی اوهارون دواړه الله ﷻ ته په سجده باندی پریوته ددی وجی څخه چی په دوی باندی دالله ﷻ عذاب واقع نه سی: قَالَ رَبِّ إِنِّي لَا أَمْلِكُ إِلَّا نَفْسِي وَأَخِي فَافْرُقْ بَيْنَنَا وَبَيْنَ الْقَوْمِ الْفَاسِقِينَ ابن عباس وایې چی ددی څخه دموسٰی ﷺ مراد دا دی چی ای الله زموږ اوددوی په منځ کی فیصله وکی: قَالَ فَإِنَّهَا مُحَرَّمَةٌ عَلَيْهِمْ أَرْبَعِينَ سَنَةً يَتِيهُونَ فِي الْأَرْضِ فَلَا تَأْسَ عَلَى الْقَوْمِ الْفَاسِقِينَ یعنی دا ددوی دعقوبت بیان دی چی الله ﷻ دوی ته مهلت ورکی ترڅلویښتو ورځو چی دومره ورځی دی دوی وګرځی اوددی څخه وروسته به هلاکیږی، نوهمداسی وسوه چی څلویښت ورځی تیری سوی نوددوی څخه یوهم نه ووپاته مګرځامن ددوی پاته وه اویوشع اوکالب هم پاته سوی وه. لیکن دبدر په ورځ باندی اصحابو درسول الله ﷺ داسی نه وه ویلی لکه څه رکم چی قوم موسٰی ﷺ ته ویلی دی. بلکی دی صحابه وو یوبل ته زیری ورکوی ددی جهادپه باره کی اونبی ﷺ ته یې تردی پوری وویل چی: که تاسی موږ سمندرته غورځول غواړی نوموږ به نه وروسته کیږو، ولی چی موږبه په جنګ کی دصبر څخه کاراخلو، کیدی سی چی الله ﷻ تاسی ته زموږ په ذریعه داسی کار وښیی چی ستاسی دسترګو یخوالی په وسی. اوامام احمد روایت ذکرکړی دی په نقل کولو سره دوکیع څخه دی دسفیان څخه دی دمخارق بن عبدالله څخه دی دطارق بن شهاب څخه چی دی وایې چی مقداد دا ویله رسول الله ﷺ ته په ورځ دبدرکی: ای رسوله دالله ﷻ موږتاته داسی نه وایولکه څه رکم چی موسٰی ﷺ ته بنی اسرائیلو ویلی وه: فَاذْهَبْ أَنْتَ وَرَبُّكَ فَقَاتِلَا إِنَّا هَاهُنَا قَاعِدُونَ، لیکن موږ به داوایو چی ته اوستارب دی ولاړسی اوجنګ دی وکی اوموږ هم ستاسی سره یو (۱) اودا اسناد جیددی په دی اعتبار سره اوددی په بلی

---

(۱). احمد (۴\۳۱۴).

(c) ketabton.com: The Digital Library



طریقی سره بل روایت دی: چی امام احمد یې نقل کوی داسود بن عامر څخه دی داسرائیل څخه دی دمخارق څخه دی دطارق بن شهاب څخه، دی وایې چی ویلی دی عبدالله بن مسعود رضی الله عنه چی زه یوځای سوم دمقداد سره په یوسفر کی، اودازما دپاره ډیره ښه خبره وو چی زه دده سره ملګری وم دی ورلی رسول الله ﷺ ته چی نبی علیه السلام مشرکینو ته بیان کوی او ده ورته وویل: زمادی قسم وی په الله جل جلاله باندی ای رسوله دالله چی موږ به تاسی ته داسی نه وایو لکه څه رکم چی موسیٰ علیه السلام ته دهغه قوم ویلی دی: فَاذْهَبْ أَنْتَ وَرَبُّكَ فَقَاتِلَا إِنَّا هَاهُنَا قَاعِدُونَ لیکن موږبه جنګ کوو ستا درسته خوا څخه اوستا دچپه خوا څخه اوستا دمخ خوا څخه اوستا دشاه دخوا څخه. نودی وایې چی ماولیدی رسول الله ﷺ چی مخ مبارك یې ډیر خوشحالی څخه وبریښیدی اوپه دی خبره ډیر خوشحاله سو (۱) راوی ددی بخاری دی په کتاب التفسیرکی، اوپه المغازی کی دمخارق څخه هم په دی الفاظوسره. اودارکم حافظ ابوبکر بن المردویه ویلی دی په نقل کولو سره دعلی بن الحسین بن علی څخه دی دابو حاتم الرازی څخه، دی دمحمد بن عبدالله الانصاری څخه دی دحمید څخه دی دانس څخه دی وایې چی کله رسول الله ﷺ بدرته روان وو نومشوره یې غوښتله دخلګو څخه نو حضرت عمررضی الله عنه ورلره مشوره ورکړه، اوبیادوی ټولو مشوره ورکړه تردی چی انصارو دا ویل چی زموږ دی قسم وی په هغه ذات باندی چی موږبه نه وایو هغه څه چی موسیٰ علیه السلام ته دهغه قوم ویلی وه: فَاذْهَبْ أَنْتَ وَرَبُّكَ فَقَاتِلَا إِنَّا هَاهُنَا قَاعِدُونَ، بلکی موږبه ستاسره یوپه هر ځای کی چی موتاسی غواړی.

## بیان دهغه واقعاتو چی په تیه کی واقع سوی وی

اول خودوی انکار وکی دجهاد څخه اودقتل دظالمانو څخه، چی په سبب ددی بیا الله جل جلاله دوی ته په علاقه دتیه کی سزا ورکړیده، اودا حکم یې پر وکی چی دوی به ددی ځای څخه نه وزی ترڅلویښتو کالوپوری، خومادااقصه په کتاب داهل کتابو کی نه ده لیدله چی دوی دقتال څخه اودجهاد څخه اعراض کړی وو، مګر داذکر دی چی موسیٰ علیه السلام یوشعؑ تیار کی دپاره دقتال دیوی ډلی دکافرانوسره، اوموسیٰ اوهارون علیهما السلام اوخورددوی دیوی غونډی پرسرکښېښسته،نوموسیٰ علیه السلام چی به څومره لکړه پورته کوله نوهغومره به یوشعؑ ته کامیابی اوغلبه پرهغې بلی ډلی باندی رسیده، نوپه دی کی دیوشع علیه السلام ډله کامیابه سوه پردی کافرانو باندی، اودوی داهم ذکر کړی دی چی (یثرون) چی دموسیٰ علیه السلام خسر وو هغه ته دا خبره ورسیده چی دی غالب سوی دی پرفرعون باندی نودی هم رالی اوپه موسیٰ علیه السلام باندی

(۱). تخریج ددی امام احمد کړی دی (۱\۳۹۰) اوبخاری په کتاب التفسیرکی، سورة المائده، باب(فاذهب انت وربك فقاتلا) (۸\۴۶۰۹) اوپه کتاب المغازی کی، باب قول الله تعالی (اذیستغیثون ربکم) (۷\۳۹۵۲).

(c) ketabton.com: The Digital Library



یې ایمان راوړی، اودده سره خپله لور (صفورا) هم وه چې دموسٰی علیه السلام ښځه ده، اودواړه ځامن ورسره هم وه چې جرشون اوعازر وو، نودده مخ ته موسٰی علیه السلام راووتی اودده یې ډیر اکرام وکی، اوده ته دبنی اسرائیلو علماء ټول راټول سوه اودده ډیر تعظیم یې وکی. اودایې هم ذکرکړیدی چې ده دبنی اسرائیلو جګړې ولیدی نوموسٰی علیه السلام ته یې مشوره ورکړه چې پردوی باندی نیکان خلګ مشران مقررکی ددی دپاره چې دوی خیانت ونه کی اودایې ورته وویل چې دهروزر کسانو پرسریو سړی فیصله کن مقررکړه اودهرسلو کسانو پرسر جلا فیصله کن سړی مقرر کړه اودهرو پنځوسو کسانو پرسر باندی یومقرر کړه تردی چې دهرلسو کسانو په سرباندی هم یوه فیصله کونکی مقررکړه، نوکه دوی ته په فیصله کی څه مشکل پیښیدی نوتاته به راځی نوموسٰی علیه السلام ددوی خبره ومنله اودغه کارېې وکی، اوویل سوی دی چې دوی سیناء مقام ته چې دالبریه خواته دی په دریم میاشت باندی داخل سوی وه وروسته دوتلو دمصر څخه ولی چې دوی په اول کال باندی دپسرلی په موسم کی وتلی وه، اوتیه مقام ته په موسم دګرمی کی داخل سوی وه، والله اعلم. اودوی وایې چې دابنی اسرائیل دطور سیناء خواته نازل سوه، اوموسٰی علیه السلام دغه غره ته ورلی اودرب العزت سره یې خبری وکړی، اوالله جل جلاله ده ته داامر وکی چې بنی اسرائیلو ته امر وکی چې دالله جل جلاله نعمتونه دی دځان سره یادکړی، چې الله جل جلاله دوی لره نجات ورکړی دی دفرعون څخه او دهغه دظلم څخه، اودوی یې په کمی طریقی سره دهغه څخه خلاص کړه، اودا امرېې ورته هم وکی چې دی بنی اسرائیلو ته امروکی چې دوی غسل وکی اوخپلی کپړی پاکی کړی او ددغه غره ګیرچاپیره ټول راټول سی اودی غرته دی یوهم نه ورنژدی کیږی ترڅوچې حکم نه وی سوی تردی چې خپل حیوان هم ددی غرخواته نه پریږدی اوکم یوچې دی غره ته نژدی سو نوقتل کیږی به، نوبنی اسرائیلو داخبره ومنله اوغسل یې وکی اوکپړی یې صفاکړی او کښینستل، نوکله چې دریمه ورځ سوه نوپه دی غره باندی ډیره درنه وریځ راله چې په دی کی اوازونه اوبیرونکی شکلونه وه اوبرېښناوه نودوی وبیریدل، نودوی ټول راووتل اوددی غره خواته ولاړوه، نوددی غره څخه دود ختل شروع سوه چې ددی دود په مینځ کی ړناوه اوداغر په زلزله سو اووښوریدی تردی چې ښه مضبوط وښوریدی، اوپه دغه وخت کی موسٰی علیه السلام ددغه غر په مینځ کی ولاړ وو اودالله جل جلاله سره یې خبری کولی. اوبیا امروکی الله جل جلاله موسٰی علیه السلام ته چې ددی غره څخه کښته سی اوبنی اسرائیلو ته امروکی چې ددی غر خواته رانژدی سی اودالله جل جلاله وصیت واوری، اوددوی مشرانو ته چې ددوی علماء وو هغو ته هم امروسو چې دی غرته نژدی سی بلکی غره ته دی وخیژی. داعبارت دی ددوی دکتاب اودامنسوخ سوی دی. نوموسٰی علیه السلام وویل چې ای ربه زماهغوی نه سی راختلی، اوماهغوی منع کړی دی دراختلو څخه، نوبیاورته امر وکی الله جل جلاله چې ولاړ سه اوخپل ورور هارون ؑ دځان

(c) ketabton.com: The Digital Library



سره راوله، نوموسٰی ﷺ دغه رکم وکړه چی څه رکم ورته امرسوی وو، اوالله ﷻ ورسره خبری وکړی، نوپه دغه وخت کی یې ورته دیوڅو خبرو امروکی اوددوی په نزد داهم دوی وایې چی بنی اسرائیل دالله ﷻ اواز اوریدلی دی، خودوی پوه نه سوه بیاوروسته موسٰی ﷺ پوه کړه، اودوی موسٰیؑ ته وویل چی ته موږ ته هغه څه چی تاته رب العزت امر په کړی دی هغه موږ ته بیان کړه موږ بیریږو چی موږ مړه نه سو، نوموسٰی ﷺ بیان ورته وکی چی هغه لس کلمی دی عبادت دالله ﷻ په یواځی والی سره کول، اوددروغو دقسم څخه ځان ساتل، او امریې وکی په حفاظت کولو دورځی دخالی یعنی دغه ورځ دعبادت دپاره فارغولو باندی اودزنا څخه یې منع کړه، دارکم دغلا څخه، دارکم دمور اوپلار داطاعت امریې ورته وکی،دارکم ددروغودشاهدی څخه،اودبل سړی دښځی سره دشهوت استعمالولو څخه یې منع کړه اوداسی نور. دارکم دسلفو څخه ډیرو خلکو داویلی دی چی دغه لس شیان په دی دوو اٰیتونو کی ذکردی: قُلْ تَعَالَوْا أَتْلُ مَا حَرَّمَ رَبُّكُمْ عَلَيْكُمْ أَلاَّ تُشْرِكُوا بِهِ شَيْئًا وَبِالْوَالِدَيْنِ إِحْسَانًا وَلَا تَقْتُلُوا أَوْلَادَكُمْ مِنْ إِمْلَاقٍ نَحْنُ نَرْزُقُكُمْ وَإِيَّاهُمْ وَلَا تَقْرَبُوا الْفَوَاحِشَ مَا ظَهَرَ مِنْهَا وَمَا بَطَنَ وَلَا تَقْتُلُوا النَّفْسَ الَّتِي حَرَّمَ اللهُ إِلَّا بِالْحَقِّ ذَلِكُمْ وَصَّاكُمْ بِهِ لَعَلَّكُمْ تَعْقِلُونَ (۱۵۱) وَلَا تَقْرَبُوا مَالَ الْيَتِيمِ إِلَّا بِالَّتِي هِيَ أَحْسَنُ حَتَّى يَبْلُغَ أَشُدَّهُ وَأَوْفُوا الْكَيْلَ وَالْمِيزَانَ بِالْقِسْطِ لَا نُكَلِّفُ نَفْسًا إِلَّا وُسْعَهَا وَإِذَا قُلْتُمْ فَاعْدِلُوا وَلَوْ كَانَ ذَا قُرْبَى وَبِعَهْدِ اللهِ أَوْفُوا ذَلِكُمْ وَصَّاكُمْ بِهِ لَعَلَّكُمْ تَذَكَّرُونَ (۱۵۲) وَأَنَّ هَذَا صِرَاطِي مُسْتَقِيمًا فَاتَّبِعُوهُ وَلَا تَتَّبِعُوا السُّبُلَ فَتَفَرَّقَ بِكُمْ عَنْ سَبِيلِهِ ذَلِكُمْ وَصَّاكُمْ بِهِ لَعَلَّكُمْ تَتَّقُونَ، (سورة الانعام (۱۵۱\ ۱۵۳) ددی لسوکلمو څخه یې وروسته دوی ته نور ډیر وصیتونه کړی اودا رکم نور احکام یې ورته ښوولی دی، نودوی عمل وکی ترڅه وخته پوری په دغه احکامو باندی اوبیایې وروسته ورڅخه شاه کړه اوددی خلاف کارونه یې شروع کړه، اوبیایې په دی کی تبدیلیانی اوتحریفونه وکړه، اوبیایې دهغه څخه وروسته ټول منسوخ کړه اوختم یې کړه. اوالله ﷻ فرمایلی دی: يَا بَنِي إِسْرَائِيلَ قَدْ أَنْجَيْنَاكُمْ مِنْ عَدُوِّكُمْ وَوَاعَدْنَاكُمْ جَانِبَ الطُّورِ الْأَيْمَنَ وَنَزَّلْنَا عَلَيْكُمُ الْمَنَّ وَالسَّلْوَى (۸۰) كُلُوا مِنْ طَيِّبَاتِ مَا رَزَقْنَاكُمْ وَلَا تَطْغَوْا فِيهِ فَيَحِلَّ عَلَيْكُمْ غَضَبِي وَمَنْ يَحْلِلْ عَلَيْهِ غَضَبِي فَقَدْ هَوَى (۸۱) وَإِنِّي لَغَفَّارٌ لِمَنْ تَابَ وَآمَنَ وَعَمِلَ صَالِحًا ثُمَّ اهْتَدَى (سورة طه ۸۰\ ۸۲) دلته الله ﷻ ذکرکړی دی خپل احسان اومنت په دوی باندی چی دوی ته یې ډیر نعمتونه ورکړه اودوی یې دفرعون ظالم څخه وساتل، اودوی یې دخپل نبی سره دطور خوا ته بوتلل اودوی ته یې لوی لوی احکام اومصلحتونه وښوول چی ددوی ددنیا او دآخرت دواړو فائدی په کی وی اودوی ته الله ﷻ په داسی مزکه کی خوارکونه ورکړه دی په حال دسفر اوحضرکی چی پرهغه مزکه باندی به دشین ګیاه بالکل درك نه وو، اوکله به

(c) ketabton.com: The Digital Library



چی موسم دگرمی وو نوپه دوی باندی به الله ﷻ داسی وریځ راوستل چی په دوی باندی به
گرمی هیڅ اثرنه کوی. لکه څه رکم چی الله ﷻ فرمایلی دی: وَالَّذِينَ كَفَرُوا وَكَذَّبُوا بِآيَاتِنَا أُولَئِكَ
أَصْحَابُ النَّارِ هُمْ فِيهَا خَالِدُونَ (٣٩) يَا بَنِي إِسْرَائِيلَ اذْكُرُوا نِعْمَتِيَ الَّتِي أَنْعَمْتُ عَلَيْكُمْ وَأَوْفُوا بِعَهْدِي
أُوفِ بِعَهْدِكُمْ وَإِيَّايَ فَارْهَبُونِ (٤٠) وَآمِنُوا بِمَا أَنْزَلْتُ مُصَدِّقًا لِمَا مَعَكُمْ وَلَا تَكُونُوا أَوَّلَ كَافِرٍ بِهِ وَلَا
تَشْتَرُوا بِآيَاتِي ثَمَنًا قَلِيلًا وَإِيَّايَ فَاتَّقُونِ، (سورة البقره ۳۹\۴۱) تردی چی فرمایلی یې دی: وَإِذْ
نَجَّيْنَاكُمْ مِنْ آلِ فِرْعَوْنَ يَسُومُونَكُمْ سُوءَ الْعَذَابِ يُذَبِّحُونَ أَبْنَاءَكُمْ وَيَسْتَحْيُونَ نِسَاءَكُمْ وَفِي ذَلِكُمْ بَلَاءٌ
مِنْ رَبِّكُمْ عَظِيمٌ (٤٩) وَإِذْ فَرَقْنَا بِكُمُ الْبَحْرَ فَأَنْجَيْنَاكُمْ وَأَغْرَقْنَا آلَ فِرْعَوْنَ وَأَنْتُمْ تَنْظُرُونَ (٥٠) وَإِذْ
وَاعَدْنَا مُوسَى أَرْبَعِينَ لَيْلَةً ثُمَّ اتَّخَذْتُمُ الْعِجْلَ مِنْ بَعْدِهِ وَأَنْتُمْ ظَالِمُونَ (٥١) ثُمَّ عَفَوْنَا عَنْكُمْ مِنْ بَعْدِ ذَلِكَ
لَعَلَّكُمْ تَشْكُرُونَ (٥٢) وَإِذْ آتَيْنَا مُوسَى الْكِتَابَ وَالْفُرْقَانَ لَعَلَّكُمْ تَهْتَدُونَ (٥٣) وَإِذْ قَالَ مُوسَى لِقَوْمِهِ يَا
قَوْمِ إِنَّكُمْ ظَلَمْتُمْ أَنْفُسَكُمْ بِاتِّخَاذِكُمُ الْعِجْلَ فَتُوبُوا إِلَى بَارِئِكُمْ فَاقْتُلُوا أَنْفُسَكُمْ ذَلِكُمْ خَيْرٌ لَكُمْ عِنْدَ
بَارِئِكُمْ فَتَابَ عَلَيْكُمْ إِنَّهُ هُوَ التَّوَّابُ الرَّحِيمُ (٥٤) وَإِذْ قُلْتُمْ يَا مُوسَى لَنْ نُؤْمِنَ لَكَ حَتَّى نَرَى اللهَ جَهْرَةً
فَأَخَذَتْكُمُ الصَّاعِقَةُ وَأَنْتُمْ تَنْظُرُونَ (٥٥) ثُمَّ بَعَثْنَاكُمْ مِنْ بَعْدِ مَوْتِكُمْ لَعَلَّكُمْ تَشْكُرُونَ (٥٦) وَظَلَّلْنَا عَلَيْكُمُ
الْغَمَامَ وَأَنْزَلْنَا عَلَيْكُمُ الْمَنَّ وَالسَّلْوَى كُلُوا مِنْ طَيِّبَاتِ مَا رَزَقْنَاكُمْ وَمَا ظَلَمُونَا وَلَكِنْ كَانُوا أَنْفُسَهُمْ
يَظْلِمُونَ، (سورة البقره ۴۹\ ۵۷) تردی چی فرمایلی یې دی: وَإِذِ اسْتَسْقَى مُوسَى لِقَوْمِهِ فَقُلْنَا اضْرِبْ
بِعَصَاكَ الْحَجَرَ فَانْفَجَرَتْ مِنْهُ اثْنَتَا عَشْرَةَ عَيْنًا قَدْ عَلِمَ كُلُّ أُنَاسٍ مَشْرَبَهُمْ كُلُوا وَاشْرَبُوا مِنْ رِزْقِ اللهِ وَلَا
تَعْثَوْا فِي الْأَرْضِ مُفْسِدِينَ (٦٠) وَإِذْ قُلْتُمْ يَا مُوسَى لَنْ نَصْبِرَ عَلَى طَعَامٍ وَاحِدٍ فَادْعُ لَنَا رَبَّكَ يُخْرِجْ لَنَا
مِمَّا تُنْبِتُ الْأَرْضُ مِنْ بَقْلِهَا وَقِثَّائِهَا وَفُومِهَا وَعَدَسِهَا وَبَصَلِهَا قَالَ أَتَسْتَبْدِلُونَ الَّذِي هُوَ أَدْنَى بِالَّذِي هُوَ خَيْرٌ
اهْبِطُوا مِصْرًا فَإِنَّ لَكُمْ مَا سَأَلْتُمْ وَضُرِبَتْ عَلَيْهِمُ الذِّلَّةُ وَالْمَسْكَنَةُ وَبَاءُوا بِغَضَبٍ مِنَ اللهِ ذَلِكَ بِأَنَّهُمْ كَانُوا
يَكْفُرُونَ بِآيَاتِ اللهِ وَيَقْتُلُونَ النَّبِيِّينَ بِغَيْرِ الْحَقِّ ذَلِكَ بِمَا عَصَوْا وَكَانُوا يَعْتَدُونَ، (سورة البقره۲۰\۲۱)
نودلته الله ﷻ دوی ته ذکرکړه خپل انعامات په دوی باندی چی هغه ورکول دمړزانو وو
دوی ته اوورکول دخوړو شیانو وه دوی ته، دمن اوسلوٰی دوه خوراکونه به یې دوی ته
ورکول بغیر دڅه تکلیف څخه اونه به ورپسی دوی کړیدل بلکی دوی ته به من چه یوخوړ
شی دی دابه یې ورلره سهاروختی ورکول اوسلوٰی به یې ورلره دشپی په ډوډی کی ورکول،
اودوی ته به یې اوبه ورکولی دډبرو څخه،موسیٰ عليه السلام به ډبری ته لښته ورکړه نودهغه څخه به
اوبه روانی سوی، اودالله ﷻ دخوا څخه دوی ته غټ نعمتونه وه. نوبیاپه دوی کی اکثره
کسانو ناشکری وکړه اوپه دی نعمتونو کی تبدیلی یې وغوښتله په هغه سره کم څه چی
مزکه راټوکوی چی بادرنگ اواوړه اوپیاز اودال اوداسی نور شیان سوه دایی وغوښتل چی

(c) ketabton.com: The Digital Library



دادی موږته راکول سی نوموسٰی علیه السلام ته ددوی په دی خبری اومطالبی باندی درد ورلی او دوی ته یې وویل: قَالَ أَتَسْتَبْدِلُونَ الَّذِي هُوَ أَدْنَى بِالَّذِي هُوَ خَيْرٌ اهْبِطُوا مِصْرًا فَإِنَّ لَكُمْ مَا سَأَلْتُمْ یعنی چی تاسی ددی ښار څخه کښته سی دهغه نورو ښارونو خواته نوتاسی ته به درکول سی هغه سپك خوراکونه چی تاسی یې په بدل ددی خوراکونو کی غواړی خوزه ستاسی دپاره دهغه سوال نه کوم،اونه تاسی ته ددغه کارامرکوم. نوداکم صفات چی ددوی ذکرسوه نوداپه دی باندی دلالت کوی چی دوی دڅه څخه منع سوی وه دهغه څخه منع نه سوه. لکه څه رکم چی الله جل جلاله فرمایلی دی: وَلَا تَطْغَوْا فِيهِ فَيَحِلَّ عَلَيْكُمْ غَضَبِي وَمَنْ يَحْلِلْ عَلَيْهِ غَضَبِي فَقَدْ هَوٰى، یعنی په دوی باندی دالله جل جلاله عذاب حق سو نودوی یې خوار اوذلیله کړه، خوالله جل جلاله چاته چی توبه وکاږی اوالله جل جلاله ته انابت اورجوع وکړی نوهغه ته داوعده ورکوی چی زه توبه قبلوم: وَإِنِّي لَغَفَّارٌ لِمَنْ تَابَ وَآمَنَ وَعَمِلَ صَالِحًا ثُمَّ اهْتَدٰى.

## غوښتنه دلیدلو دموسٰی علیه السلام الله جل جلاله لره

په قرآن کریم کی الله جل جلاله فرمایلی دی: وَوَاعَدْنَا مُوسَى ثَلَاثِينَ لَيْلَةً وَأَتْمَمْنَاهَا بِعَشْرٍ فَتَمَّ مِيقَاتُ رَبِّهِ أَرْبَعِينَ لَيْلَةً وَقَالَ مُوسَى لِأَخِيهِ هَارُونَ اخْلُفْنِي فِي قَوْمِي وَأَصْلِحْ وَلَا تَتَّبِعْ سَبِيلَ الْمُفْسِدِينَ (۱٤۲) وَلَمَّا جَاءَ مُوسَى لِمِيقَاتِنَا وَكَلَّمَهُ رَبُّهُ قَالَ رَبِّ أَرِنِي أَنْظُرْ إِلَيْكَ قَالَ لَنْ تَرَانِي وَلَكِنِ انْظُرْ إِلَى الْجَبَلِ فَإِنِ اسْتَقَرَّ مَكَانَهُ فَسَوْفَ تَرَانِي فَلَمَّا تَجَلَّى رَبُّهُ لِلْجَبَلِ جَعَلَهُ دَكًّا وَخَرَّ مُوسَى صَعِقًا فَلَمَّا أَفَاقَ قَالَ سُبْحَانَكَ تُبْتُ إِلَيْكَ وَأَنَا أَوَّلُ الْمُؤْمِنِينَ (۱٤۳) قَالَ يَا مُوسَى إِنِّي اصْطَفَيْتُكَ عَلَى النَّاسِ بِرِسَالَاتِي وَبِكَلَامِي فَخُذْ مَا آتَيْتُكَ وَكُنْ مِنَ الشَّاكِرِينَ (۱٤٤) وَكَتَبْنَا لَهُ فِي الْأَلْوَاحِ مِنْ كُلِّ شَيْءٍ مَوْعِظَةً وَتَفْصِيلًا لِكُلِّ شَيْءٍ فَخُذْهَا بِقُوَّةٍ وَأْمُرْ قَوْمَكَ يَأْخُذُوا بِأَحْسَنِهَا سَأُرِيكُمْ دَارَ الْفَاسِقِينَ (۱٤٥) سَأَصْرِفُ عَنْ آيَاتِيَ الَّذِينَ يَتَكَبَّرُونَ فِي الْأَرْضِ بِغَيْرِ الْحَقِّ وَإِنْ يَرَوْا كُلَّ آيَةٍ لَا يُؤْمِنُوا بِهَا وَإِنْ يَرَوْا سَبِيلَ الرُّشْدِ لَا يَتَّخِذُوهُ سَبِيلًا وَإِنْ يَرَوْا سَبِيلَ الْغَيِّ يَتَّخِذُوهُ سَبِيلًا ذَلِكَ بِأَنَّهُمْ كَذَّبُوا بِآيَاتِنَا وَكَانُوا عَنْهَا غَافِلِينَ (۱٤٦) وَالَّذِينَ كَذَّبُوا بِآيَاتِنَا وَلِقَاءِ الْآخِرَةِ حَبِطَتْ أَعْمَالُهُمْ هَلْ يُجْزَوْنَ إِلَّا مَا كَانُوا يَعْمَلُونَ، (سورة الاعراف ۱۴۲\ ۱۴۷) یوی ډلی دسلفو ویلی دی چی دادیرش ورځی دذی القعدی وی اولس ورځی دذی الحجه وی نوهم په دی ترتیب سره څلویښت ورځی دده دملاقات پوره سوی وی.نوپه دی حساب سره داملاقات په ورځ دغښ اختر باندی پوره سو اوهم دارکم الله جل جلاله محمد صلی الله علیه وسلم ته هم په ورځ دغښ اختر خپل دین پوره کړی دی. مقصودی خبره داده چی کله موسٰی علیه السلام میقات درب ته تلی نودا روژه وه په دی څلویښتو ورځو کی دریش ورځی دده روژه وه اوبیایې دیوی درختی څخه لږ شان خوراك وکی ددی دپاره چی دخولی څخه یې هغه بوی دکراهت زائل سی اوبیاورته الله

(c) ketabton.com: The Digital Library



ﷻ امروکی چې دالس ورځې نوری هم پوره کړه نوپه هغه کی یې هم روژه نیولی وه، کله چې دی ولاړی میقات ته نوپه خپل ځای باندی یې خپل ورور اووزیر هارون ؑ قائم مقام کی الله ﷻ فرمایلی دی: وَلَمَّا جَاءَ مُوسَى لِمِيقَاتِنَا یعنی په هغه وخت کی چې ورته دتلو حکم وسو (وَكَلَّمَهُ رَبُّهُ) یعنی الله ﷻ ورسره خبری وکړی دپردی دشاه څخه، نودی یې ځان ته نژدی کی اوورسره یې خبری وکړی اودامنصب دفضیلت دی اودشرافت دی، کله چې ورسره الله ﷻ خطاب وکی نومطالبه یې ترینه وکړه چې داپرده لیری کی نوالله ﷻ ورته وفرمایل چې ته به مضبوط پاته نسې په وخت دراښکاره کیدلو دهغه ذات باندی نودایې ورته وفرمایل: قَالَ لَنْ تَرَانِي وَلَكِنِ انْظُرْ إِلَى الْجَبَلِ فَإِنِ اسْتَقَرَّ مَكَانَهُ فَسَوْفَ تَرَانِي، نوالله ﷻ ورته وویل چې ای موسیٰ ؑ زه نه یم لیدلی یوژوندی مګر هغه مړسوی دی اونه وچ ځای مګرچې هیره سوی دی ابن عباس ویلی دی په دی قول دالله ﷻ کی: لاَ تُدْرِكُهُ الْاَبْصَارُ، داهغه نوردی دهغه ذات چې څه شی ته راښکاره سی نوهغه شی نسی ورته ټینګیدای. نوددی وجی څخه ورته الله ﷻ فرمایلی دی: فَلَمَّا تَجَلَّى رَبُّهُ لِلْجَبَلِ جَعَلَهُ دَكًّا وَخَرَّ مُوسَى صَعِقًا فَلَمَّا أَفَاقَ قَالَ سُبْحَانَكَ تُبْتُ إِلَيْكَ وَأَنَا أَوَّلُ الْمُؤْمِنِينَ، کله چې الله ﷻ هغه غره ته خپل تجلي وکړه اوخپل نوریې ورته ښکاره کی نودغه غر زری زری سو اوبالکل هیره سو اوموسیٰ ؑ بې هوښه سو. مجاهد ددی آیت په باره کی ویلی دی: وَلَكِنِ انْظُرْ إِلَى الْجَبَلِ فَإِنِ اسْتَقَرَّ مَكَانَهُ فَسَوْفَ تَرَانِي، یعنی دامخلوق ستا څخه غټ دی اوستا څخه مضبوط مخلوق دی که داچیری پاته سو اوقراریې ونیوی پرخپل ځای باندی نوته به هم ما ووینې، نوکله چې الله ﷻ دغه غره ته خپل تجلی وکړه نودغه غر زری زری اوټینګ نه سو دالله ﷻ نورته. السدی اوعکرمه دابن عباس څخه نقل کوی چې الله ﷻ ورته صرف دیوګوتی په اندازه باندی ځان وښووی نودا زری زری سو، اوداهم ویل سوی دی چې دخاوری په شان سو (وَخَرَّ مُوسٰى صَعِقًا) یعنی دابیره پر زیاته سوه، قتاده ویلی دی چې په شان دمړی سو، خواولنی قول صحیح دی ولی چې وروسته ورسره داذکر سوی دی (فَلَمَّآ اَفَاقَ) ولی چې بیرته په هوښ کی راتلل داوروسته دبې هوښی څخه وی او دمرګ څخه وروسته رابیداره کیدل نه وی، (قَالَ سُبْحٰنَكَ) دالله ﷻ پاکی یې بیان کړه (تُبْتُ اِلَيْكَ) یعنی ددی څخه وروسته به دلیدلو سوال نه کوم: وَأَنَا أَوَّلُ الْمُؤْمِنِينَ، ولی چې ستا ذات چانه وی لیدلی مګر نتیجه یې مرګ وی. اوپه صحیحینو کی دطریقی دعمر بن یحیٰی بن عمار بن ابی حین المازنی الانصاری څخه نقل دی دی نقل کوی دخپل پلار څخه دی دابی سعیدالخدری څخه چې رسول الله ﷺ فرمایلی دی: تاسی ماته ښه والی مه راکوی په نورو پیغمبرانو باندی، ولی چې دقیامت په ورځ به ټول خلګ بې هوښه سی نوزه به اول سړی یم

(c) ketabton.com: The Digital Library



چې په هوښ کې به سم، نوموسٰی ﷺ به ووینم چې دعرش دیوی ستنی سره به ولاړوی، نو ماته پته نسته چې دازما څخه مخکې په هوښ کې راغلی دی اوکه ده ته بدله ورکول سوی ده په بې هوښی دطور سره؟ اولفظ دبخاری داسی دی: اوپه قصه دهغه یهودی کې داسی ذکردی کله یې چې یهودی ته چاپیړه ورکړه په وخت ددی خبری کله چې یې وویل چې الله ﷻ ښه والی ورکړی دی موسٰی ﷺ ته پرټولو انسانانو باندی. نونبی ﷺ وفرمایل چې تاسی ماته ښه والی مه راکوی په انبیاوو باندی. اوپه صحیحینو کې دطریقی دالزهری څخه نقل دی چې دی نقل کوی دابی سلمه څخه اودی دعبدالرحمٰن الاعرج څخه دی دابی هریره څخه دی دنبی ﷺ څخه هم په دی الفاظو سره، خوداپه کې زیات دی: تاسی ماته ښه والی مه راکوی پرموسٰی ﷺ باندی. اوهم داسی یې ټول حدیث ذکرکړی دی، داپه وجه دعاجزی دنبی ﷺ نه دی، بعضو داویلی دی چې داځکه نبی ﷺ ویلی دی چې صحابه وو ته یې خبر ورکوی چې فضیلت ورکول ستاسی کارنه بلکې دی دالله ﷻ کار دی چې چاته په چاباندی فضیلت ورکوی. اوبعضو داویلی دی چې داخبره نبی ﷺ په هغه وخت کې کړې وه چې کله ورته دخپلی مرتبې پته نه وه، اوبیا وروسته داقول نسخه سوی دی، اوپه دی کې هیڅ شك نسته چې نبی ﷺ داولنیو اوآخرنیو ټولوڅخه ښه دی، اوددوی امت هم دنورو امتونو څخه ښه دی لکه څه رکم چې الله ﷻ فرمایلی دی (كُنْتُمْ خَيْرَ أُمَّةٍ أُخْرِجَتْ لِلنَّاسِ) اودوی ته دادرجه نه ده ورکول سوی مګر ددی نبی دوجې. اوپه تورات کې ددوی دمقام تعریف او ذکر سوی دی چې دده به داسی مقام وی چې اولنی اوآخرنی به یې ټول ارمان کوی، تردی چې اولو العزم چې نوح اوابراهیم موسٰی اوعیسٰی عَلَيْهِمُ السَّلَامُ دی ټول به یې ارمان کوی، او قول دنبی ﷺ چې زه به اولنی سړی یم چې په هوښ کې به سم نوزه به وینم موسٰی ﷺ چې نیولی به یې وی دعرش یوه ستنه، نوماته پته نسته چې دی زما څخه مخکې په هوښ کې راغلی دی اوکه ده لره بدله ورکول سویده په بې هوښی دطورسره؟ دادلیل دی په دی خبری باندی چې دقیامت په ورځ به ټول خلګ بې هوښه سی مخکې ددی څخه چې الله ﷻ ددوی په منځ کې حساب اوکتاب شروع کې نودوی به دبیری دلاسه بې هوښه سی،نواول په هوښ کې راتګ به دمحمدرسول الله ﷺ وی،نونبی ﷺ به موسٰی ﷺ وینی چې دعرش په ستنی پوری نښتی دی نووبه فرمایی چې دازما څخه مخکې په هوښ کې راغلی دی اوکه ده لره بدله ورکول سویده په هغه بې هوښی دطور سره؟ یابه دده بې هوښی سپکه وه، ولې چې ده ته په دنیاکې درنه بې هوښی ورکول سوی وه، اوپه دی حیثیت سره داغټ شرف دی دموسٰی ﷺ دپاره، خودانه لازمیږی په فضیلت دده ٔ باندی پرنبی ﷺ، اودا قول دالله ﷻ: قَالَ يَا مُوسَى إِنِّي اصْطَفَيْتُكَ عَلَى النَّاسِ بِرِسَالَاتِي وَبِكَلَامِي، یعنی په هغه زمانه کې، نه دهغه څخه

(c) ketabton.com: The Digital Library



په مخکنی زمانه کی، ولی چی ابراهیم خلیل الله ترده افضل وو لکه څه رکم چی دهغه بیان دابراهیم ﷺ په قصه کی ذکرسو، اونه وروسته دخپل زمانی څخه، ولی چی محمد ﷺ دده څخه ښه دی لکه څه رکم چی دده شرافت په شپه داسراء کی ذکر سویدی، اوددی څخه هم دمحمد ﷺ افضلیت معلومیږی چی نبی ﷺ فرمایلی دی: زه به پرداسی مقام باندی درول کیږم چی دهغه ارمان به یوسړی کوی تردی چی ابراهیم ﷺ هم. اوداقول دالله ﷻ: فَخُذْ مَا آتَيْتُكَ وَكُنْ مِنَ الشَّاكِرِينَ، یعنی ته واخله هغه چی موږ تاته درکړی دی درسالت څخه اوپه دی باندی شکر وکاږه اوددی څخه زیات مه غواړه. اوداقول دالله ﷻ: وَكَتَبْنَا لَهُ فِي الْأَلْوَاحِ مِنْ كُلِّ شَيْءٍ مَوْعِظَةً وَتَفْصِيلًا لِكُلِّ شَيْءٍ، اودهغه الواح یعنی کتابچی دجوهر څخه وی چی ګران وو، په صحیح کی داسی ذکردی: چی الله ﷻ تورات په خپله ورته‌لیکلی دی اوپه دی کی دګناهونو څخه دبچ کیدو نصیحتونه دی، اوتفصیل په باره دحلال اوحرام کی چی ددوی ورته حاجت وو داپه کی هم ذکروو. (فَخُذْهَا بِقُوَّةٍ) یعنی په صدق سره اوپه پوخ نیت اوعزم سره: وَأْمُرْ قَوْمَكَ يَأْخُذُوا بِأَحْسَنِهَا، اوخپل قوم ته امروکه چی داپر ښه ځایونو باندی کښیږدی یعنی په خپل ځایونوکی یې اداکی: سَأُرِيكُمْ دَارَ الْفَاسِقِينَ، یعنی تاسی به سزا دهغه کسانو چی زما داطاعت څخه ځان لیری باسی دهغه سزابه ووینی: سَأَصْرِفُ عَنْ آيَاتِيَ، یعنی دده په پوهی باندی چی زما ددی ایتونو څخه مراد څه دی اوددی تقاضا څه ده: الَّذِينَ يَتَكَبَّرُونَ فِي الْأَرْضِ بِغَيْرِ الْحَقِّ وَإِنْ يَرَوْا كُلَّ آيَةٍ لَا يُؤْمِنُوا بِهَا، یعنی که دوی ته هرقسم دلائل ونبیې نودوی به بیاهم ایمان رانه وړی، وَإِنْ يَرَوْا سَبِيلَ الرُّشْدِ لَا يَتَّخِذُوهُ سَبِيلًا، دهدایت لاره یې ورته وښوول نودوی یې تابعداری نه کوی: وَإِنْ يَرَوْا سَبِيلَ الْغَيِّ يَتَّخِذُوهُ سَبِيلًا ذَٰلِكَ بِأَنَّهُمْ كَذَّبُوا بِآيَاتِنَا وَكَانُوا عَنْهَا غَافِلِينَ یعنی دوی موږ دهغه دلاری دخوا څخه ورسره کړو نودوی بیا زموږ دایتونو تکذیب کوی، اوعمل نه په کوی: وَالَّذِينَ كَذَّبُوا بِآيَاتِنَا وَلِقَاءِ الْآخِرَةِ حَبِطَتْ أَعْمَالُهُمْ هَلْ يُجْزَوْنَ إِلَّا مَا كَانُوا يَعْمَلُونَ اوهغوکسانو چی تکذیب یې وکی زموږ دایتونو دهغه به دغه ذکرسوی سزاوی.

### قصه ددوی دعبادت ډکیلکی په نیستوالی دموسٰی ﷺ کی

الله ﷻ فرمایلی دی: وَمَا أَعْجَلَكَ عَنْ قَوْمِكَ يَا مُوسَى (۸۳) قَالَ هُمْ أُولَاءِ عَلَى أَثَرِي وَعَجِلْتُ إِلَيْكَ رَبِّ لِتَرْضَى (۸٤) قَالَ فَإِنَّا قَدْ فَتَنَّا قَوْمَكَ مِنْ بَعْدِكَ وَأَضَلَّهُمُ السَّامِرِيُّ (۸۵) فَرَجَعَ مُوسَى إِلَى قَوْمِهِ غَضْبَانَ أَسِفًا قَالَ يَا قَوْمِ أَلَمْ يَعِدْكُمْ رَبُّكُمْ وَعْدًا حَسَنًا أَفَطَالَ عَلَيْكُمُ الْعَهْدُ أَمْ أَرَدْتُمْ أَنْ يَحِلَّ عَلَيْكُمْ غَضَبٌ مِنْ رَبِّكُمْ فَأَخْلَفْتُمْ مَوْعِدِي (۸٦) قَالُوا مَا أَخْلَفْنَا مَوْعِدَكَ بِمَلْكِنَا وَلَكِنَّا حُمِّلْنَا أَوْزَارًا مِنْ زِينَةِ الْقَوْمِ فَقَذَفْنَاهَا فَكَذَلِكَ أَلْقَى السَّامِرِيُّ (۸۷) فَأَخْرَجَ لَهُمْ عِجْلًا جَسَدًا لَهُ خُوَارٌ فَقَالُوا هَذَا إِلَهُكُمْ وَإِلَهُ مُوسَى فَنَسِيَ، دلته

(c) ketabton.com: The Digital Library



ذکرکوی الله ﷻ هغه قصه دبنی اسرائیلو چی وروسته دتګ دموسٰی څخه میقات درب ته واقع سوه، چی په دوی کی یوسړی وو چی هارون ؑ ورته سامری وایه نوده څه سره زر یو ځای کړه اودهغه څخه یې ګلیګۍ جوړکی چی هغه به آواز کوی اوپه دی کی یې دننه دجبریل ؑ دآس دپښنو خاوره اچولی وه نودی به آواز کوی. دا دقتاده قول وو.
اوبعضو داویلی دی چی سیلی به راله نودده په خوله کی به دننه سوه اودشا څخه به یې ووته دغوایې په شان آوازبه یې کوی نودوی به ورته خوشحالیدل اواتنونه به یې ورته کول: یعنی دموسٰیؑ څخه رب دلته زموږ خواته پاته سوی دی اوهغه وریسی هلته ګرځی، پاك دی الله ﷻ دهغه څه څخه چی دوی یې ورته بیانوی، اودا ددوی عقل وو چی دیوحیوان او ځناور څخه یې الله ﷻ اورب جوړ کړی وو: أَفَلَا يَرَوْنَ أَلَّا يَرْجِعُ إِلَيْهِمْ قَوْلًا وَلَا يَمْلِكُ لَهُمْ ضَرًّا وَلَا نَفْعًا، دوی دی خبری ته سوچ نه کوی چی دوی ته دبیرته راتلو جواب نه ورکوی اونه ورته نفع اونقصان رسوی، اودایې ورته هم وفرمایل: أَلَمْ يَرَوْا أَنَّهُ لَا يُكَلِّمُهُمْ وَلَا يَهْدِيهِمْ سَبِيلًا اتَّخَذُوهُ وَكَانُوا ظَالِمِينَ، نودلته یې ذکرکړه چی داحیوان نه ضرر رسولی سی اونه فائده رسولی سی او نه خبری کولی سی اونه دهدایت خوا ته بلنه کولی سی، دوی ونیوی دی په عبادت سره په داسی حال کی چی دا ظالمان وه دخپلو ځانونو دپاره، اودوی دځانونو سره په دی باندی پوه وه چی دوی پرباطله دی خودجهالت اوګمراهی دوجی یې داکارکوی: وَلَمَّا سُقِطَ فِي أَيْدِيهِمْ، یعنی کله چی پښیمانه سو په خپل کارباندی: وَرَأَوْا أَنَّهُمْ قَدْ ضَلُّوا قَالُوا لَئِنْ لَمْ يَرْحَمْنَا رَبُّنَا وَيَغْفِرْ لَنَا لَنَكُونَنَّ مِنَ الْخَاسِرِينَ، اوکله چی موسٰی ؑ رالی بیرته دوی ته نوویې لیدی دا کار ددوی چی عبادت دګیلګی یې کوی نودغه تختی چی ورسری وی دایې ماتی کړی، داپه نزد داهل کتابو باندی. اوالله ﷻ ورته ددی په بدل کی نور ورکی، خوپه قرآن کریم کی داسی ددی په باره کی څه نه دی ذکر، مګر داچی ده وغورځول په دغه وخت کی کله چی ده دا انداز دخپل قوم ولیدی. اوپه نزد داهل کتابو باندی دا دوې تختی وی، خوظاهر دقرآن څخه داسی معلومیږی چی داډیری وی، په موسٰی ؑ باندی صرف خبری اثر ونه کی تردی چی رالی اومعاینه یې کړه په سترګو سره، لکه څه رکم چی په حدیث کی ذکر سوی دی چی نقل یې کوی امام احمد اوابن حبان اوابن عباس دوی ویلی دی چی فرمایلی دی رسول الله ﷺ: بیان دبل چا په شان دخپله لیدلو یا دمعاینی نه دی (۱) بیاموسٰی ؑ دوی ته رالی او

(۱). احمد (۱\ ۲۱۵)، والحاکم فی المستدرك (۲\ ۳۲۱) اوویلی یې دی چی داحدیث حسن اوصحیح دی په شرط دشیخینو باندی، اوالهیثمی په المجمع کی ذکرکړی دی (۱\ ۱۵۳) راوی ددی الطبرانی دی په الاوسط کی =

(c) ketabton.com: The Digital Library



ترټنه یې ورکړه دوی ته اوبدی ردی یې دوی ته وویلی، نودوی ورته عذرونه پیش کړه، او بیایې خپل وررورته مخ کی اوورته یې وویل: قَالَ يَا هَارُونُ مَامَنَعَكَ إِذْ رَأَيْتَهُمْ ضَلُّوا(۹۲) أَلَّا تَتَّبِعَنِ یعنی تاولی ماته خبرنه راکوی ددوی په باره کی چی تالیده چی دوی داکار کوی. نوهغه ورته په جواب کی وویل: إِنِّي خَشِيتُ أَنْ تَقُولَ فَرَّقْتَ بَيْنَ بَنِي إِسْرَائِيلَ وَلَمْ تَرْقُبْ قَوْلِي، یعنی تابه ویله چی هغوی دی پریښوولـه اوته ورڅخه رالی اوحال داوو چی تازه په دوی کی خلیفه او نائب گرځولی وم: قَالَ رَبِّ اغْفِرْ لِي وَلِأَخِي وَأَدْخِلْنَا فِي رَحْمَتِكَ وَأَنْتَ أَرْحَمُ الرَّاحِمِينَ، او وو هارون ﷵ چی دوی یې منع کړی وه په سخت منع کولو سره خودوی نه منع کیده اودوی ته یې زیاته ترټنه ورکړی وه خودوی بیاهم داکار کوی.

الله ﷻ فرمایلی دی: وَلَقَدْ قَالَ لَهُمْ هَارُونُ مِنْ قَبْلُ يَا قَوْمِ إِنَّمَا فُتِنْتُمْ بِهِ، یعنی داګلیګی تاسی ته الله ﷻ په طور دامتحان رالیږلی دی چی ستاسی امتحان په وکی: وَإِنَّ رَبَّكُمُ الرَّحْمَٰنُ یعنی ستاسی رب هغه رحمٰن ذات دی نه داګلیګی (فَاتَّبِعُونِي) یعنی په هغه څه کی چی زه یې تاسی ته وایم په هغه کی زماتابعداری وکی: وَأَطِيعُوا أَمْرِي (۹۰) قَالُوا لَنْ نَبْرَحَ عَلَيْهِ عَاكِفِينَ حَتَّىٰ يَرْجِعَ إِلَيْنَا مُوسَىٰ، دوی قسم واخستی چی په دغه طریقه به دوی روان وی تردی چی موسٰی ﷵ رالی (وَكَفَىٰ بِاللَّهِ شَهِيدًا) ده وترټله اومنع یې کړه خوبیا هم دوی دده خبره ونه منله اودده اطاعت یې ونه کی. بیاموسٰی ﷵ سامری ته مخ کی: قَالَ فَمَا خَطْبُكَ يَاسَامِرِيُّ، یعنی تالره څه باعث وو پردی کارباندی؟ قَالَ بَصُرْتُ بِمَا لَمْ يَبْصُرُوا بِهِ فَقَبَضْتُ قَبْضَةً مِنْ أَثَرِ الرَّسُولِ، یعنی دقدم دجبریل څخه. اوبعضو داویلی دی چی ده لیدلی وو جبریل ﷵ اوڅنګه به چی به ده په کم ځای باندی پښه کښیښووله هغه ځای به شین سو اوښکلابه په کی راله، نوکله چی ده دهغه خاوره په هغه ګیلګی کی واچولی نوده اوازونه شروع کړه. نوددی وجی څخه یې وویل: فَنَبَذْتُهَا وَكَذَٰلِكَ سَوَّلَتْ لِي نَفْسِي (۹۶) قَالَ فَاذْهَبْ فَإِنَّ لَكَ فِي الْحَيَاةِ أَنْ تَقُولَ لَا مِسَاسَ، دا دعا (ښرا) وه پرده باندی چی دی به خلګوته وایې چی ګوتی مه راوړی، اودا دده دپاره سزاوه په دی دنیاکی، اوبیایې وعده ورکړه دآخرت چی په آخرت کی به یې هم سزا وی په دی قول سره: وَإِنَّ لَكَ مَوْعِدًا لَنْ تُخْلَفَهُ، اوداسی هم ویل سوی دی (لن نخلفه): وَانْظُرْ إِلَىٰ إِلَٰهِكَ الَّذِي ظَلْتَ عَلَيْهِ عَاكِفًا لَنُحَرِّقَنَّهُ ثُمَّ لَنَنْسِفَنَّهُ فِي الْيَمِّ نَسْفًا، ویل سوی دی چی موسٰی ﷵ ددی ګلیګی خواته ورنژدی سو اودایې وسوزی، چاویلی دی چی په اورسره یې وسوزی، لکه څه

= دحدیث دانس څخه اوددی ټول سړی ثقه دی اوصحیح ګرځولی دی البانی په مشکوة المصابیح کی (۳\ ۵۸۳۸) دحدیث دابن عباس څخه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



رکم چې داقول دقتاده دی اوبعضو نور شیان ذکرکړی دی، اوبیایې سمندرته واچوی، اوبیا یې امروکی بنی اسرائیلوته چې دده څخه اوبه وڅښی، نوچاچې دده عبادت کوی نودهغوی په شونډو پوری ددغه ګیلګی هیره ومښته.
اوبعضو ویلی دی چې رنګونه یې ژړسوه، اوبیاموسیٰ ﷺ دوی ته خبرورکی چې ستاسی رب هغه یوذات دی چې ترعرش لوړ دی اوشریك ورلره نسته په دی قول سره: إِنَّمَا إِلَهُكُمُ اللهُ الَّذِي لَا إِلَهَ إِلَّا هُوَ وَسِعَ كُلَّ شَيْءٍ عِلْمًا، اوالله ﷻ فرمایلی دی: إِنَّ الَّذِينَ اتَّخَذُوا الْعِجْلَ سَيَنَالُهُمْ غَضَبٌ مِنْ رَبِّهِمْ وَذِلَّةٌ فِي الْحَيَاةِ الدُّنْيَا وَكَذَلِكَ نَجْزِي الْمُفْتَرِينَ، اوهمدارکم واقع سوه لکه څه رکم چې یې فرمایلی دی: وَكَذَلِكَ نَجْزِي الْمُفْتَرِينَ، اودا قول مضبوط اوباقی پاته سوی دی تر قیامته پوری دبدعتیانو دپاره. بیا الله ﷻ خبر ورکړی دی دخپل حلم څخه اودخپل رحمت څخه په خلګو باندی، اوخپل احسان دخپل بنده سره په قبلولو دتوبه کی وروسته دګناه څخه، نووی فرمایل: وَالَّذِينَ عَمِلُوا السَّيِّئَاتِ ثُمَّ تَابُوا مِنْ بَعْدِهَا وَآمَنُوا إِنَّ رَبَّكَ مِنْ بَعْدِهَا لَغَفُورٌ رَحِيمٌ لیکن الله ﷻ دګیلګی دعبادت کونکی توبه نه قبلوی مګر په قتل سره، لکه څه رکم چې الله ﷻ فرمایلی دی: وَإِذْ قَالَ مُوسَى لِقَوْمِهِ يَا قَوْمِ إِنَّكُمْ ظَلَمْتُمْ أَنْفُسَكُمْ بِاتِّخَاذِكُمُ الْعِجْلَ فَتُوبُوا إِلَى بَارِئِكُمْ فَاقْتُلُوا أَنْفُسَكُمْ ذَلِكُمْ خَيْرٌ لَكُمْ عِنْدَ بَارِئِكُمْ فَتَابَ عَلَيْكُمْ إِنَّهُ هُوَ التَّوَّابُ الرَّحِيمُ، (سورة البقره\ ۵۴). نوویل سوی دی چې یوه ورځ هغه کسان چې عبادت یې نه وو کړی دګیلګی داراووته اوخپلی توری ورسره په لاس کی وی نوالله ﷻ په دوی باندی مچان مسلط کړه ددی وجی څخه چې یوبل په کی ونه پیژنی، اوبیادوی مائله سوه هغه کسانو ته چې هغوی دګیلګی عبادت کړی وو نوهغوی یې قتل کړه، نوویل سوی دی چې دوی په یوه سهارکی (۷۰۰۰۰) کسان قتل کړی وه.
بیا الله ﷻ فرمایلی دی: وَلَمَّا سَكَتَ عَنْ مُوسَى الْغَضَبُ أَخَذَ الْأَلْوَاحَ وَفِي نُسْخَتِهَا هُدًى وَرَحْمَةٌ لِلَّذِينَ هُمْ لِرَبِّهِمْ يَرْهَبُونَ، بعضو ددوی استدلال نیولی دی په دی قول سره (وَفِي نُسْخَتِهَا) دوی وایې چې داقول دلالت کوی په دی خبری باندی چې داماتی سوی دی، اوپه دی استدلال کی شبهه ده، والله اعلم،
اودارکم ذکرکړی دی ابن عباس داپه حدیث دفتون کی چې وروسته به بیانیږی: چې ددوی دګیلګی دعبادت دااثر په دوی کی دهغه وخت څخه ولویدی کله چې دوی دسمندر څخه را تیرسوه، ولی چې دوی کله راووته نودوی وویل: قَالُوا يَا مُوسَى اجْعَلْ لَنَا إِلَهًا كَمَا لَهُمْ آلِهَةٌ، اوهمدارکم په نزد داهل کتابوهم دی، ولی چې ددوی عبادت دګیلګی مخکی دراتګ ددوی څخه وو بیت المقدس ته. اوهم دارکم کله چې امروسو په قتل دهغه کسانوچې هغوی

(c) ketabton.com: The Digital Library



عبادت دګیلګی کړی وو نوپه یوه سهارکی ددوی څخه (۳۰۰۰) کسان قتل سوه، اوبیا ولاړی موسیٰ ﷺ چی ددوی دپاره بخښنه طلب کړی نودوی ته بخښنه وسوه په دی شرط باندی چی دوی به بیت المقدس ته داخلیږی. الله ﷻ فرمایلی دی: وَاخْتَارَ مُوسَى قَوْمَهُ سَبْعِينَ رَجُلًا لِمِيقَاتِنَا فَلَمَّا أَخَذَتْهُمُ الرَّجْفَةُ قَالَ رَبِّ لَوْ شِئْتَ أَهْلَكْتَهُمْ مِنْ قَبْلُ وَإِيَّايَ أَتُهْلِكُنَا بِمَا فَعَلَ السُّفَهَاءُ مِنَّا إِنْ هِيَ إِلَّا فِتْنَتُكَ تُضِلُّ بِهَا مَنْ تَشَاءُ وَتَهْدِي مَنْ تَشَاءُ أَنْتَ وَلِيُّنَا فَاغْفِرْ لَنَا وَارْحَمْنَا وَأَنْتَ خَيْرُ الْغَافِرِينَ (۱۵۵) وَاكْتُبْ لَنَا فِي هَذِهِ الدُّنْيَا حَسَنَةً وَفِي الْآخِرَةِ إِنَّا هُدْنَا إِلَيْكَ قَالَ عَذَابِي أُصِيبُ بِهِ مَنْ أَشَاءُ وَرَحْمَتِي وَسِعَتْ كُلَّ شَيْءٍ فَسَأَكْتُبُهَا لِلَّذِينَ يَتَّقُونَ وَيُؤْتُونَ الزَّكَاةَ وَالَّذِينَ هُمْ بِآيَاتِنَا يُؤْمِنُونَ (۱۵۶) الَّذِينَ يَتَّبِعُونَ الرَّسُولَ النَّبِيَّ الْأُمِّيَّ الَّذِي يَجِدُونَهُ مَكْتُوبًا عِنْدَهُمْ فِي التَّوْرَاةِ وَالْإِنْجِيلِ يَأْمُرُهُمْ بِالْمَعْرُوفِ وَيَنْهَاهُمْ عَنِ الْمُنْكَرِ وَيُحِلُّ لَهُمُ الطَّيِّبَاتِ وَيُحَرِّمُ عَلَيْهِمُ الْخَبَائِثَ وَيَضَعُ عَنْهُمْ إِصْرَهُمْ وَالْأَغْلَالَ الَّتِي كَانَتْ عَلَيْهِمْ فَالَّذِينَ آمَنُوا بِهِ وَعَزَّرُوهُ وَنَصَرُوهُ وَاتَّبَعُوا النُّورَ الَّذِي أُنْزِلَ مَعَهُ أُولَئِكَ هُمُ الْمُفْلِحُونَ، (سورة الاعراف ۱۵۵\ ۱۵۷) السدی اوابن عباس اوداسی نورو ویلی دی چی دوی (۷۰) کسان وه، چی په دوی کی علماء دبنی اسرائیل وه اوموسیٰ اوهارون اویوشع اوناذاب اوابیهو اوداسی نوروه، دوی ولاړه دموسیٰ ﷺ سره چی هغه کسانو لره استغفار وغواړی کمو چی دګیلګی عبادت کړی دی. اودوی ته امرسوی وو چی دوی ولمبیږی اوخوشبویې ولګوی، نوکله چی دوی غره ته نژدی سوه نودوی ولیده وریځ درنه چی په هغه کی ړناوه نو موسیٰ ﷺ غره ته وختی، نوویل سوی دی چی دی بنی اسرائیلو دالله ﷻ خبری اوریدلی دی، اوپه دی قول کی ورسره ډیرو مفسرینو هم اتفاق کړی دی اوپه دی باندی یې دلیل پیش کړی دی داقول دالله ﷻ: وَقَدْ كَانَ فَرِيقٌ مِنْهُمْ يَسْمَعُونَ كَلَامَ اللهِ ثُمَّ يُحَرِّفُونَهُ مِنْ بَعْدِ مَا عَقَلُوهُ وَهُمْ يَعْلَمُونَ، (سورة البقره \ ۷۵) اودالازمه نه ده په دی قول دالله ﷻ: فَأَجِرْهُ حَتَّى يَسْمَعَ كَلَامَ اللهِ (سورة التوبه \ ۶) دوی اوریدلی دی دموسیٰ ﷺ څخه.

اودوی داهم ویلی دی چی دی اویا ۷۰ کسانو الله ﷻ لیدلی دی، خودا خبره غلطه ده، ولی چی دوی کله سوال دلیدلو کړی وو نوپه دوی باندی بیره راغلی وه، لکه څه رکم چی الله ﷻ فرمایلی دی: وَإِذْ قُلْتُمْ يَا مُوسَى لَنْ نُؤْمِنَ لَكَ حَتَّى نَرَى اللهَ جَهْرَةً فَأَخَذَتْكُمُ الصَّاعِقَةُ وَأَنْتُمْ تَنْظُرُونَ (۵۵) ثُمَّ بَعَثْنَاكُمْ مِنْ بَعْدِ مَوْتِكُمْ لَعَلَّكُمْ تَشْكُرُونَ، (سورة البقره ۵۵\۵۶) اودلته یې داسی ویلی دی: فَلَمَّا أَخَذَتْهُمُ الرَّجْفَةُ قَالَ رَبِّ لَوْ شِئْتَ أَهْلَكْتَهُمْ مِنْ قَبْلُ وَإِيَّايَ، محمد بن اسحاق وایې چی: منتخب کړه موسیٰ ﷺ دخپل قوم څخه (۷۰) کسان، چی هغه په کی ښه خلګ وه اوورته یې وویل چی تاسی ولاړسی اوتوبه وکاږی الله ﷻ ته اودخپل قوم دپاره هم دمغفرت دعا

(c) ketabton.com: The Digital Library



وغواړی چی الله دوی ته هم معافی وکی، روژه ونیسی اوخپلی کپړی پاکی کړی، نودوی یې دطور خواته ټول بوتله په وخت دملاقات درب سره، اودابه نه راتله بغیر داجازت دالله ﷻ څخه اوبغیر دهغه دمطالبی څخه، نوالله ﷻ ورته داوفرمایل چی (۷۰) کسان راوله چی زماخبری واوری، نوده دغه اویا کسان دځان سره بوتله، نوکله چی غره ته نژدی سو موسیٰ ﵇ نوپه دی غره کی دوریځو ستنی ودریدلی تردی چی داغرپه کی ټول پټ سو، نوموسیٰ ﵇ په دی وریځی کی دننه سو، اوخپل قوم ته یې وویل چی رانژدی سی، او وو موسیٰ ﵇ چی کله به ورسره الله ﷻ خبری کولی نودده پر تندی باندی به داسی رڼاوه چی چابه ورته کتلی نه سوای، نوددوی په مینځ کی پرده ولګول سوه، اوداقوم هم رانژدی سو ده ته نوکله چی دوی هم په دی وریځی کی دننه سوه نوپرسجدی باندی پریوته، نودوی واوریدی دالله ﷻ اوازچی موسیٰ ﵇ سره یې خبری کولی چی الله ﷻ به ده ته امرکوی دبعضو شیانو اودبعضو شیانو څخه به یې منع کوی، نوکله چی فارغه سو موسیٰ ﵇ اووریځ لیری سوه نودوی موسیٰ ﵇ ته وویل: يَا مُوسَىٰ لَنْ نُؤْمِنَ لَكَ حَتَّىٰ نَرَى اللهَ جَهْرَةً، چی موږ په تاباندی ایمان نه راوړو ترڅو چی موږ الله ﷻ ښکاره ونه وینو، نوپه دغه وخت کی الله ﷻ دلوړی څخه تندر پرراکښته کړه اودټولو څخه روحونه ووتله اومړه سوه، نوموسیٰ ﵇ شروع سو چی ویل یې: رَبِّ لَوْ شِئْتَ أَهْلَكْتَهُمْ مِنْ قَبْلُ وَإِيَّايَ أَتُهْلِكُنَا بِمَا فَعَلَ السُّفَهَاءُ مِنَّا، یعنی ته موږ مه نیسی په هغه څه باندی چی داکم عقلان یې کوی ولی چی موږ ددوی څخه بری یو دهغه وخت را ایسی چی دوی دګیلګی عبادت کړی وو.

اوابن عباس اومجاهد اوقتاده ویلی دی چی پردوی باندی زلزله اوبیره راله نو دهغه سره مړه سوه ولی چی دوی خپل قوم دعبادت دګیلګی څخه نه منع کول، اوداقول چی (اِنْ هِيَ اِلاَّ فِتْنَتُكَ) یعنی داستا امتحان دی، داقول ابن عباس اوسعید بن جبیر اوابو العالیه او الربیع بن انس اوداسی یوبل ذکرکړی دی، یعنی داهغه کاردی چی تاپه خپله اندازه کړی دی اوپه تقدیرکی مولیکل سوی دی، موسیٰ ؑ وفرمایل په مخاطب کیدو سره الله ﷻ ته: او پیدادی کی ګیلګی ددوی دامتحان دپاره چی ددوی ایمانونه په وګوری چی په څومره اندازه کی دی لکه څه رکم چی دوی ته هارون ﵇ ویلی وه: وَلَقَدْ قَالَ لَهُمْ هَارُونُ مِنْ قَبْلُ يَا قَوْمِ إِنَّمَا فُتِنْتُمْ بِهِ، یعنی ستاسی امتحان اوازمیښت په دی باندی سوی دی اوددی وجی څخه یې ویلی دی: تُضِلُّ بِهَا مَنْ تَشَاءُ وَتَهْدِي مَنْ تَشَاءُ، یعنی چالره چی وغواړی نوهغه په امتحان او ازمیښت سره ګمراه کوی اوچالره چی وغواړی نوهغه لره هدایت ورکوی، ستا دپاره حکم دی چی ممانعت ورلره نسته اونه ورلره بیرته تلل سته، کله چی ته حکم وکی نوبیا فیصله هم کوی: فَاغْفِرْ لَنَا وَارْحَمْنَا وَأَنْتَ خَيْرُ الْغَافِرِينَ (۱۵۵) وَاكْتُبْ لَنَا فِي هَٰذِهِ الدُّنْيَا حَسَنَةً وَفِي الْآخِرَةِ

(c) ketabton.com: The Digital Library



إِنَّا هُدْنَا إِلَيْكَ، یعنی موږ تاته توبه وکاړل اوتاته مورجوع وکړه داقول دابن عباس دی او دمجاهد دی اودقتاده اوداالضحاك اودالسدی دی اوداپه لغت کی هم داسی دی: قَالَ عَذَابِي أُصِيبُ بِهِ مَنْ أَشَاءُ وَرَحْمَتِي وَسِعَتْ كُلَّ شَيْءٍ، یعنی الله ﷻ فرمایي زه عذاب ورکوم چاته چی وغواړم اومغفرت ورکوم چاته چی وغواړم، اورحمت زماپراخه دی هرچاته. اوپه صحیحینو کی درسول الله ﷺ څخه نقل دی فرمایلی یې دی: کله چی الله ﷻ فارغه سو دپیدائش دآسمانونو اودمزکو څخه نولیکل یې وکړه چی هغه پرعرش لوړ ایښوول سوی وه: چی زما رحمت غالبه دی زما پرغضب باندی (١).

فَسَأَكْتُبُهَا لِلَّذِينَ يَتَّقُونَ وَيُؤْتُونَ الزَّكَاةَ وَالَّذِينَ هُمْ بِآيَاتِنَا يُؤْمِنُونَ، یعنی داهغه چاته چی پردی صفاتو باندی وی: الَّذِينَ يَتَّبِعُونَ الرَّسُولَ النَّبِيَّ الْأُمِّيَّ، اوداذکر دمحمد ﷺ اودهغه دامت دی موسیٰ علیه السلام ته، اوددی وضاحت په تفسیرکی ذکر سوی دی هلته دی رجوع وسی. قتاده ویلی دی: موسیٰ علیه السلام به وایې الله ﷻ ته چی زه په الواحو کی وینم داسی یوامت چی هغه به ښه امت وی چی دخلګو دپاره به راایستل سوی وی چی امر به کوی په نیکیو باندی اومنع کول به کوی دبدو څخه، نودی به وایې چی ای ربه زما دازما امت وګرځوی نوالله ﷻ به ورته وفرمایې چی دا دمحمد ﷺ امت دی. دی به بیا وایې چی ای ربه زما زه وینم دوی چی دا آخری امت دی اواول به جنت ته داخلیږی، ای ربه زما دازما امت وګرځوی، نوالله ﷻ به ورته وفرمایې چی دا دمحمد ﷺ امت دی، بیابه وفرمایې چی ای ربه زما زه دوی وینم چی ددوی به خپل کتاب په سینه کی پروت وی اومخکی ددوی څخه چی څومره قومونه او امتونه تیرسوی دی هغوی به په کتلو سره ویل اوکله به چی ورڅخه واخستل سو نوبیابه نه پوهیده، ای ربه زما دازما امت وګرځوی، نوالله ﷻ به ورته وفرمایې چی دا دمحمد ﷺ امت دی.دی به بیاوایې چی ای ربه زما زه وینم دوی چی دوی به په اولنی اوآخرنی کتابونو باندی ایمان راوړی اوهغه درواغجن ړوند به هم مړ کوی، ای ربه زما دازما امت وګرځوی، نوالله ﷻ به ورته وفرمایې چی دا دمحمد ﷺ امت دی، بیابه دی وایې چی ای ربه زما زه وینم دوی چی دوی خپلی صدقی په خپلو نسونو باندی خوری اومخکی امتونو به چی کله صدقه ورکوله نوالله ﷻ به اور پرمسلط کی نوهغه به یې وخوړل اوکه به اور بیرته ولاړی نو حیوانانو اومرغانوبه بیاخوړل، ای ربه زما دازما امت وګرځوی، نوالله ﷻ به ورته جواب ورکی چی دا دمحمد ﷺ امت دی. بیابه دی وایې چی ای ربه زما زه وینم دوی چی دوی یو

---

(١). صحیح البخاری: کتاب بدء الخلق، باب ماجاء فی قول الله تعالی: (وَهوالذی یبدء الخلق ثم یعیده) (۶/۳۱۹۴) اواطراف ددی په (۷۵۵۴،۷۴۰۴،۷۴۱۲،۷۴۵۳،۷۵۵۳) اومسلم په کتاب التوبه کی، باب سعة رحمة الله تعالی وانها تغلب غضبه (۱۷/ ۸۲).

(c) ketabton.com: The Digital Library



عمل یووار وکی نوبیایې نه کوی نودوی ته لس اجرونه دهغه یوه عمل ورکول کیږی تر (۷۰۰) چنده پوری، ای ربه زما دازما امت وګرځوی نوالله ﷻ به ورته وفرمایې چی دا دمحمد ﷺ امت دی. دی به بیاوایې چی ای ربه زما دوی داسی امتیان دی چی دوی لره شفاعت ورکول سوی دی اوددوی هم شفاعت سوی دی، نودا زما امت وګرځی، نوالله ﷻ به ورته وفرمایې چی دا دمحمد ﷺ امت دی. قتاده وایې چی: موږ ته داذکر کړل سوی دی چی موسٰی ﵇ دغه الواح لیری کړی اودایې وویل چی ای الله ﷻ مادمحمد ﷺ امتی کړی. اودا رکم ډیروخلګو نوراقوال ذکرکړی دی چی دهغه دپاره هیڅ اصل نسته اوموږ دلته هغه څه ذکرکوو چی موږ ته اسان وی دحدیثونو اودآثارو څخه.

حافظ ابوحاتم بن محمد بن حاتم بن حبان ویلی دی په صحیح خپل کی: ذکرکول دسوال دموسٰی ﵇ په باره دادنی جنتی کی اواعلی منزل دجنت کی، موږ ته خبر راکړی دی عمر بن سعید الطایې په بلخ کی چی دی نقل کوی دحامد بن یحیٰی البلخی څخه دی دسفیان څخه دی دمطرف بن طریف اودعبد الملك بن ابجر څخه چی دی وایې چی ما اوریدلی دی دالمغیرة بن شعبه څخه چی ده پرمنبر باندی دنبی ﵇ څخه نقل کوی چی فرمایلی دی نبی ﵇: چی موسٰی ﵇ پوښتنه وکړه دخپل رب څخه: چی کم جنتی ادنٰی رتبی والا دی؟ نو ورته وویل سوه، چی هغه سړی چی کله جنتیان جنت ته دننه سی نوده ته به بیا وویل سی چی جنت ته دننه سه نودی به ووایې چی ټول جنتیان خپلو خپلو ځایونه ته ولاړه اوټول ځایونه یې قبضه کړه؟ نوده ته به وویل سی چی آیاته په دی باندی راضی کیږی چی تاته دومره جنت درکولکه څومره چی دیوه بادشاه محل وی په دنیاکی؟ نودی به ووایې چی هو، نوورته وبه ویل سی چی داستا دپاره جنت سو، نودی به ووایې چی زه په دی باندی راضی یم ای ربه زما، اوسره ددی تالره هغه څه هم په دی کی سته چی ستازړه یې غواړی اوستا سترګی په یخیږی. نودی به بیاسوال وکی دالله ﷻ څخه چی کم جنتی اعلٰی مرتبی والادی؟ نوورته وبه فرمایی چی هغه داسی جنت دی چی ماپه خپله جوړ کړی دی اومهرپر وهل سوی دی چی نه داسی سترګه سته چی هغه یې لیدلی وی اونه داسی غوږونه سته چی هغه یې اوریدلی وی اونه داسی زړه سته. (۱) اومصداق ددی په دی قول دالله ﷻ کی ذکردی: فَلا تَعْلَمُ نَفْسٌ مَا أُخْفِيَ لَهُمْ مِنْ قُرَّةِ أَعْيُنٍ جَزَاءً بِمَا كَانُوا يَعْمَلُونَ، (سورة السجده \ ۱۷) اوابن حبان ویلی دی په ذکرکولو دسوال دموسٰی ﵇ کی په باره داوو شیانو کی: دی نقل کوی دعبد الله بن محمد ابن مسلم څخه په بیت المقدس کی دی نقل کوی دحرمله بن یحیٰی څخه دی

---

(۱). مسلم: کتاب الایمان، باب ادنٰی اهل الجنت منزلاً (۴۲،۴۵\۳) اوالترمذی: په کتاب التفسیر کی، باب ومن سورة السجده (۳۱۹۸\۵).

دابن وهب څخه دی وایې چی ماته خبر راکړی دی عمربن الحارث چی ده ته خبر ورکړی دی ابن حجیره دی نقل کوی دابی هریره رضی الله عنه څخه دی دنبی ﷺ څخه چی فرمایلی یې دی: پوښتنه وکړه موسٰی علیه السلام درب العزت څخه په باره دشپږوشیانوکی ګواکی چی داشپږ شیان خاص دده دپاره وه اودا اوم دده خوښ نه وه. نوده وویل چی ای ربه څوك ډیر متقی دی ستاپه بندګانوکی؟ نوالله جل جلاله ورته وفرمایل چی هغه سړی چی ذکرکوی اوهیرول نه کوی. نوبیایې پوښتنه وکړه چی څوك ډیر په هدایت باندی دی؟ نوورته یې وفرمایل چی څوك چی دهدایت په لاره باندی وی اودهغه تابعداری کوی. نوبیایې پوښتنه وکړه چی څوك ډیر ښه حاکم دی؟ نوجواب یې ورکی چی هغه سړی چی خلګوته هغه فیصلی ورکوی کم چی ځان ته یې ورکوی. نوبیایې پوښتنه وکړه چی څوك ډیرپوه اوعالم دی؟ نوورته یې وفرمایل چی هغه عالم چی په خپل علم باندی نه مړیږی، چی خلګ راټولوی خپل علم ته، نوبیاده پوښتنه وکړه چی څوك ډیر عزتمند دی؟ نوورته یې وفرمایل چی هغه سړی چی په تقدیر یقین ساتی اوطلب دمغفرت کوی. نوبیایې پوښتنه وکړه چی کم سړی ډیر مالداردی؟ نو ورته یې جواب ورکی چی هغه سړی چی څه ورلره ورکول سی په هغه باندی راضی سی. نو بیایې وویل چی کم سړی زیات غریب دی؟ نوورته یې وفرمایل چی خاوند دنقصان. (۱)

اورسول الله ﷺ فرمایلی دی چی: مالداری ښکاره مالداری نه ده بلکی مالداری چی ده دا مالداری دنفس ده، که چیری الله جل جلاله دیوبنده خیر وغواړی نودهغه نفس مالداره کړی اودده زړه هم مالداره کړی، اوکله چی الله جل جلاله دیوبنده شر وغواړی نودهغه غریبی دسترګوپه مینځ کی ولیکی، (۲) ابن حبان وایې چی صاحب دنقصان څخه مراد دادی چی په حالاتو کی یې نقصان وی. اودارکم ددې روایت کړی دی ابن جریرپه خپل تاریخ کی په نقل کولو سره دابن حمید څخه دی دیعقوب التمیمی څخه دی دهارون بن هبیره څخه دی دخپل پلار څخه او دی دابن عباس څخه دی وایې چی سوال وکی موسٰی علیه السلام دالله جل جلاله څخه.

اودارکم یې ټول حدیث بیان کړی دی، اوپه دی کی یې داهم ویلی دی چی ای ربه کم بنده ستا ډیر پوه اوعالم دی؟ نوالله جل جلاله ورته په جواب کی وفرمایل، هغه سړی کم چی خلګ خپل علم ته رابولی په داسی طریقی سره چی دده سره یوه کلمه دهدایت وی نودی خلګ

---

(۱). تخریج ددی ابن حبان کړی دی په کتاب العلم کی، باب فیمن لایشبع العلم ویجمع العلم (۸۲\۱) اوداحدیث حسن دی وګوری صحیح دابن حبان (۲۲۱۷) اوالهندی په کنز العمال کی (۱۵\ ۴۳۵۴۹).

(۲). داڅه حصه دمخکنی حدیث ده اوددی بعضی روایت ذکرکړی دی امام بخاری په کتاب الرقاق کی، باب الغنی غنی النفس (۱۱\۶۴۴۶) اومسلم په کتاب الزکاة کی، باب لیس الغنی عن کثرت العرض (۷\۱۴۰) اوالترمذی په کتاب الزهدکی، باب ماجاء ان الغنی غنی النفس (۴\ ۲۳۷۳) اوابن ماجه په کتاب الزهدکی، باب القناعه (۲\ ۴۱۳۷) اواحمد (۲\ ۲۴۳، ۲۶۱).

(c) ketabton.com: The Digital Library



دهدایت پرخوا راوبولی اوکه دده سره یوه خبره دبدکارڅخه دمحفوظ کیدووی نودی خلګ دبدوکارونو څخه په وساتی نوبیاده وویل چی ای ربه زما ایازما څخه ماسوابل ښه عالم پر مزکه باندی سته؟ نوالله ﷻ ورته وفرمایل چی هو، خضر ؑ دی. نوبیایې طلب دلاری وکی دهغه طرف ته چی ورسره ووینی، (۱) دده داقصه به بیا وروسته بیانوو. اوابن حبان ویله په ذکرکولو دسوال دموسٰی ؑ کی چی ده سوال کړی وو دالله ﷻ څخه چی ده ته یودعاوښیې اویو ذکر وښیې. دی نقل کوی دابن سلمه څخه دی دحرمله بن یحیٰی څخه دی دابن وهب څخه دی وایې چی ماته خبر راکړی دی عمربن الحارث چی دراج ده ته خبر ورکړی دی دابی الهیثم څخه دی نقل کوی دابی سعد څخه دی دنبی ؑ څخه چی فرمایلی یې دی: موسٰی ؑ دالله ﷻ څخه غوښتنه وکړه چی ای ربه ماته داسی ذکر یاداسی دعا راوښیه چی زه په هغه سره تا یادوم اوستا څخه طلب ددعا په کوم نوالله ﷻ ورته وفرمایل چی، لااله الا الله وایه نوده وویل چی ای ربه داخوټول وایې نوبیا ورته الله ﷻ وفرمایل چی، لااله الاالله وایه نوده وویل چی ای ربه داخو ټول وایې نوبیا ورته الله ﷻ وفرمایل چی: لااله الاالله وایه. نو بیا ده وویل چی زه دځان دپاره خاص ذکرغواړم نوالله ﷻ ورته وفرمایل چی ای موسٰی که ته داټوله دنیاسره داسمانونو په یوخوا دتلی کی کښیږدی اودالااله الا الله په بل خوا کی کښیږدی نودابه تردرنه وی (۲) اوداپه شان دهغه حدیث دی چی ذکر سوی دی په سنتوکی چی نبی ؑ فرمایلی دی: ښه دعا دورځی دعرفی ده اوښه هغه چی ماویلی دی اونورو انبیاوو ویلی دی هغه: لا اله الاالله وحده لاشریك له، له الملك وله الحمد وهوعلی کل شی قدیر، (۳) اوابن ابی حاتم ویلی دی په تفسیر دایت کرسی کی: په نقل کولو سره داحمد بن القاسم بن عطیه څخه دی نقل کوی داحمد بن عبدالرحمٰن الدسکی څخه دی دابی څخه دی نقل کوی دخپل پلار څخه دی داشعث بن اسحاق څخه دی دجعفر بن ابی المغیرة څخه دی دسعیدبن جبیر څخه دی دابن عباس څخه: چی بنی اسرائیلو موسٰی ؑ ته ویلی وه چی آیا ستارب بیدیږی؟ نوهغوی ورته وویل چی: دخدای څخه وبیریږی. نوالله ﷻ ورته دلوړی څخه اواز وکی چی ای موسٰی دوی ستا څخه داپوښتنه وکړه چی ستارب بیدیږی، نوته په لاسونوکی دوی چیښنی ونیسه اودشپی ودریږه، نوموسٰی ؑ وکړه هغه څه چی ورته رب العزت ویلی وه نوموسٰی ؑ ودریدی دشپی تردی چی آخری حصه دشپی سوه نودده دلاس

---

(۱). تاریخ ابن جریر (۱\۲۲۳).

(۲). ذکره ابن حبان فی کتاب الذکر، باب فضل التهلیل والتسبیح والتحمید (۲\۲۳۲۴).

(۳). اخرجه الامام مالك في الموطاء کتاب الحج، باب جامع الحج (۱\۲۴۲) ابن عبد البر ویلی دی چی دامام مالك خلاف نسته په ارسالوالی ددی کی، والترمذی فی کتاب الدعوات، باب فی عدیوم عرفة (۵\۳۵۸) او ویلی یې دی چی داحدیث غریب دی په دی اعتبار سره.

(c) ketabton.com: The Digital Library



 څخه هغه چیښی راولویدی اوماتی سوی نوالله ﷻ ورته وفرمایل چی ای موسیٰ که زه چیری بیده کیدم نودامزکه اوآسمان به هم داسی ټوټی سوی وای لکه څه رکم چی داچیښی ټوټی سوی. نودی وایي چی الله ﷻ نازل کی په خپل نبی ﷺ باندی آیت کرسی. اوابن جریر ویلی دی په نقل کولو سره داسحاق بن ابی اسرائیل څخه دی نقل کوی دهشام بن یوسف څخه دی نقل کوی دامیه بن شبل بن الحکم بن ابان څخه دی دعکرمه څخه دی دابوهریره رضی الله عنه څخه دی وایي چی ما اوریدلی دی درسول الله ﷺ څخه چی حکایت یي کوی دموسیٰ علیه السلام څخه په منبر باندی، نووی فرمایل: واقع سو په نفس دموسیٰ علیه السلام کی داخبره چی آیا الله ﷻ به خوب کوی اوکه نه؟ نوالله ﷻ ورته دوی ملائکی راولیږلی اوورسره یي دچیښی دوه لوښی هم راولیږل. نودا دوه لوښی دچیښی یي موسیٰ علیه السلام ته ورکړی اوورته یي امروکی ددی په حفاظت باندی. نوویلی یي دی، چی داموسیٰ علیه السلام ته خوب ورلی اودا دواړه لاسونه یي ښوریدل نودا لوښی به لویدوته نژدی وه چی دی به رابیدار سو او دیوبل سره به یي ونیول تردی چی ښه پوخ بیده سو نودادواړه لوښی ورڅخه ولویده اوټوټی ټوټی سوه، نو نبی علیه السلام فرمایلی دی، چی الله ﷻ دامثال وګرځوی دموسیٰ علیه السلام دپاره: چی که الله ﷻ بیده سی نودا آسمانونه اومزکی به دغه رکم ټوټی ټوټی سی. په دی حدیث کی غرابت دی، خو اشبه دا ده چی داموقوف سی، اوداهم کیدی سی چی ددې روایت اصل اسرائیلی وی.

اوالله ﷻ فرمایلی دی: وَإِذْ أَخَذْنَا مِيثَاقَكُمْ وَرَفَعْنَا فَوْقَكُمُ الطُّورَ خُذُوا مَا آتَيْنَاكُمْ بِقُوَّةٍ وَاذْكُرُوا مَا فِيهِ لَعَلَّكُمْ تَتَّقُونَ (٦٣) ثُمَّ تَوَلَّيْتُمْ مِنْ بَعْدِ ذَلِكَ فَلَوْلَا فَضْلُ اللهِ عَلَيْكُمْ وَرَحْمَتُهُ لَكُنْتُمْ مِنَ الْخَاسِرِينَ، (سورة الاعراف\۱۷۱) اودارنګه الله ﷻ فرمایلی دی: وَإِذْ نَتَقْنَا الْجَبَلَ فَوْقَهُمْ كَأَنَّهُ ظُلَّةٌ وَظَنُّوا أَنَّهُ وَاقِعٌ بِهِمْ خُذُوا مَا آتَيْنَاكُمْ بِقُوَّةٍ وَاذْكُرُوا مَا فِيهِ لَعَلَّكُمْ تَتَّقُونَ، دارکم ابن عباس اوداسی یوبل سړی دسلفو څخه ویلی دی: کله چی موسیٰ علیه السلام دوی ته الواح راوړه اوپه هغه کی تورات لیکل سوی وو نودوی ته یي امروکی ددې په قبلولو باندی په کلکی ارادی سره اوپه پوخ نیت سره، نودوی وویل چی ته موږ ته دار اښکاره کړه موږ به یي وګوروکه چیری په دی کی دننه چی څه ذکرسوی دی هغه اسانه وه نوموږ به یي قبول کړو. نوموسیٰ علیه السلام ورته وویل چی هرڅه په کی وی نوتاسی به یي قبلوی، نودوی داخبره بیا تکراروله اوبیایي کوله، نوالله ﷻ ملائکوته امروکی چی په دوی باندی غر رالوړ کړی ددوی پر سرونو باندی نودا داسی سوه لکه سایه پردوی باندی، اودوی ته وویل سوه که چیری تاسی دانه قبلوی دهغه څه سره چی په دی کی دی نوداغربه پرتاسی باندی راوغورځول سی نودوی داقبول کی اودوی ته دسجدی امروسو نودوی سجده وکړه، نودوی کتل دغه غره ته په ورین تندی سره، نودا طریقه پاته سوه په بنی اسرائیلوکی ترننه ورځ پوری چی دوی وایي، نسته غټه سجده دهغه

(c) ketabton.com: The Digital Library



سجدی څخه چی دهغه په سبب زمونږ څخه عذاب لیری سوی دی. اوداركم سنید بن داود دحجاج بن محمد څخه نقل کوی دی دابی بکر بن عبدالله څخه نقل کوی چی دی وایې: کله یې چی دابیرته کښیښووی نوپه سردمزکی باندی داسی بوتې اوداسی کاڼی نه وو پاته چی هغه نه وی ښوریدلی، اونه وو په مخ دمزکی باندی یویهودی چی غټ وو اوکه کوچنی مګر تورات به یې وایه اوتورات ته یې سرکښته کی. الله ﷻ فرمایلی دی: ثُمَّ تَوَلَّيْتُمْ مِنْ بَعْدِ ذٰلِكَ، یعنی وروسته دلیدلو ددی غټې مشاهدی څخه تاسی مات کړه هغه خپل لوظونه اووعدی: فَلَوْلَا فَضْلُ اللهِ عَلَيْكُمْ وَرَحْمَتُهُ، چی تاسی ته یې رسولان درراولیږل اوکتاب یې پرتاسی باندی نازل کی (لَكُنْتُمْ مِّنَ الْخٰسِرِيْنَ).

## قصه دغوا دبنی اسرآئیلو

الله ﷻ فرمایلی دی: وَإِذْ قَالَ مُوسَى لِقَوْمِهِ إِنَّ اللهَ يَأْمُرُكُمْ أَنْ تَذْبَحُوا بَقَرَةً قَالُوا أَتَتَّخِذُنَا هُزُوًا قَالَ أَعُوذُ بِاللهِ أَنْ أَكُونَ مِنَ الْجَاهِلِينَ (٦٧) قَالُوا ادْعُ لَنَا رَبَّكَ يُبَيِّنْ لَنَا مَا هِيَ قَالَ إِنَّهُ يَقُولُ إِنَّهَا بَقَرَةٌ لَا فَارِضٌ وَلَا بِكْرٌ عَوَانٌ بَيْنَ ذَلِكَ فَافْعَلُوا مَا تُؤْمَرُونَ (٦٨) قَالُوا ادْعُ لَنَا رَبَّكَ يُبَيِّنْ لَنَا مَا لَوْنُهَا قَالَ إِنَّهُ يَقُولُ إِنَّهَا بَقَرَةٌ صَفْرَاءُ فَاقِعٌ لَوْنُهَا تَسُرُّ النَّاظِرِينَ (٦٩) قَالُوا ادْعُ لَنَا رَبَّكَ يُبَيِّنْ لَنَا مَا هِيَ إِنَّ الْبَقَرَ تَشَابَهَ عَلَيْنَا وَإِنَّا إِنْ شَاءَ اللهُ لَمُهْتَدُونَ (٧٠) قَالَ إِنَّهُ يَقُولُ إِنَّهَا بَقَرَةٌ لَا ذَلُولٌ تُثِيرُ الْأَرْضَ وَلَا تَسْقِي الْحَرْثَ مُسَلَّمَةٌ لَا شِيَةَ فِيهَا قَالُوا الْآنَ جِئْتَ بِالْحَقِّ فَذَبَحُوهَا وَمَا كَادُوا يَفْعَلُونَ (٧١) وَإِذْ قَتَلْتُمْ نَفْسًا فَادَّارَأْتُمْ فِيهَا وَاللهُ مُخْرِجٌ مَا كُنْتُمْ تَكْتُمُونَ (٧٢) فَقُلْنَا اضْرِبُوهُ بِبَعْضِهَا كَذَلِكَ يُحْيِي اللهُ الْمَوْتَى وَيُرِيكُمْ آيَاتِهِ لَعَلَّكُمْ تَعْقِلُونَ، (سورة البقره ۶۷\۷۳)

ابن عباس اوعبیده السلمانی اوابو العالیه اومجاهد اوالسدی اوداسی یوبل سړی دسلفو څخه ویلی دی چی په بنی اسرائیلوکی یوسړی وو چی هغه ډیرمالدار وو اودده یوڅو وریرونه وه چی دده مرګ یې غوښته ددی وجی چی دده مال ورته په میراث کی پاته سی، نودایو راولاړ سو اودشپې یې دی مړکی اوپه لاره کی یې وغورځوی اوکله چی سهار سو نوخلګ ورته راټول سوه نودا یودده دوریرونو څخه په ژړاسو اوچیغی یې وهلی نودخلګو په مینځ کی جګړه جوړه سوه، نویو سړی ورته رالی اوورته یې وویل چی ولی جګړه کوی، اوولی دنبی خواته نه ورځی نودوی چی کله دموسٰی ؑ خواته ورله نوهغه طلب وکی په باره دداسی سړی کی چی هغه دامرګ لیدلی وی په خپلو سترګو باندی نویوسړی هم داسی نه وو چی هغه داقتل لیدلی وی نودی ولاړی اودالله ﷻ څخه یې پوښتنه وکړه دده قتل په باره کی نوالله ﷻ ورته امروکی چی دوی دی یوه غوا حلاله کړی نوکله چی دی رالی خپل قوم ته نودوی ته یې وویل چی الله ﷻ فرمایې: إِنَّ اللهَ يَأْمُرُكُمْ أَنْ تَذْبَحُوا بَقَرَةً قَالُوا أَتَتَّخِذُنَا هُزُوًا

(c) ketabton.com: The Digital Library



چې تاسې غوا حلاله کې، نو دوی موسیٰ علیه السلام ته وویل چې موږ درڅخه دقاتل په باره کې پوښتنه کوو اوته موږته دغوا دحلالوواېي. نوموسیٰ علیه السلام دوی ته وویل: قَالَ أَعُوذُ بِاللهِ أَنْ أَكُونَ مِنَ الْجَاهِلِينَ، یعنی زه پناه غواړم په ذات دالله باندې ددې څخه چې دجاهلانو څخه سم یعنی دروغ وواېم، مادالله جل جلاله څخه دقتل په باره کې پوښتنه وکړه اوالله جل جلاله راته امروکی چې دوی ته ووایه چې غوا حلاله کې.
ابن عباس اومجاهد اوعکرمه اودانور دوی واېي: که دوی عامه غوا رانیولې وای اوهغه یې حلاله کړې وای نوقبوله به وای، لیکن دوی په ځان باندې سخته کړه نوالله جل جلاله هم پر سخته کړه، اوددې تفسیر موږ په تفسیرونو کې ذکر کړیدی، نودوی پوښتنه وکړه درنګ په باره کې اودعمر په باره کې چې څومره عمرېي وي، خومقصود داچې دوی ته امرسوی وو دحلالولو په باره کې چې درمیانه غوادې حلاله کړې چې نه ډیره غټه وي اونه ډیره خواره وي اونه یې عمر ډیروی اونه یې عمرکم وي چې کوچنې وي، داقول دمجاهد اوابن عباس اوعکرمه اوابو العالیه اوالحسن اودقتاده دی بیادوی په ځان باندې سخته کړه نوالله جل جلاله هم پرسخته کړه چې دوی پوښتنه وکړه چې رنګ به یې څه رکم به وي، نوجواب ورکول سو چې ژړ وي خوچې بریښ والاوې یعنې بریښوالې په کې وي اوسوروالی ته نژدې وي، چې کتونکو ته ښه ښکارې، اودا ډیرښه رنګ یې وي اوغوره رنګ وي، بیادوی په ځان باندې سخته کړه: قَالُوا ادْعُ لَنَا رَبَّكَ يُبَيِّنْ لَنَا مَاهِيَ إِنَّ الْبَقَرَ تَشَابَهَ عَلَيْنَا وَإِنَّا إِنْ شَاءَ اللهُ لَمُهْتَدُونَ، په مرفوع حدیث کې ذکردي چې روایت یې کړی دی ابن ابی حاتم اوابن مردویه: که چیرې بنی اسرائیلو انشاء الله نه وای ویلی نوهیځکله به ورته الله جل جلاله دانه وای ورکړې. (١)
قَالَ إِنَّهُ يَقُولُ إِنَّهَا بَقَرَةٌ لَا ذَلُولٌ تُثِيرُ الْأَرْضَ وَلَا تَسْقِي الْحَرْثَ مُسَلَّمَةٌ لَا شِيَةَ فِيهَا قَالُوا الْآنَ جِئْتَ بِالْحَقِّ فَذَبَحُوهَا وَمَا كَادُوا يَفْعَلُونَ، اودا صفات دمخکنی صفاتو څخه ګران صفات دي اوتنګ صفات دي، چې داغوابه داسې وي چې دی به کښت نه وي اړولی اونه به یې مزکې ته اوبه ورکړې وي (یعنی هرهلډبه یې نه وي چلولی)، داقول دابو العالیه اودقتاده دی اودا قول (لَا شِيَةَ فِيهَا) یعنی په دی کی به داسی رنګ نه وي چې ددې درنګ مخالف به وي، اودابه دعیبو څخه سالمه وي یعنې عیبجنه به نه وي. کله چې داصفات دوی ته بیان سوه نودوی وویل موسیٰ علیه السلام ته: قَالُوا الْآنَ جِئْتَ بِالْحَقِّ، او ویل سوی دی چې دوی داغوانه کړه پیدا مګر دیوه سړی سره چې هغه ته دا دپلار څخه پاته وه نودوی ورڅخه داوغوښتله نودغه سړی ورته

---

(١). ابن کثیر ویلی دی (١١١\١) په خپل تفسیرکی: داحدیث غریب دی په دی اعتبار سره اواحس احوال ددی به دا وایې چې دابی هریره رضی الله عنه کلام سی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



انکاروکی نودوی پیسی ورزیاتی کړی نوبیا یې ورکړه، لکه څه رکم چې السدی وایې چې ددی په وزن سره زریې ورلره ورکړه نوبیایې غوا ورکړه، تردی چې لس واره یې ددی په وزن سره زر ورکړه، بیاموسیٰ ﷺ دوی ته امروکی چې داحلاله کی: فَذَبَحُوهَا وَمَا كَادُوا يَفْعَلُونَ یعنی دوی حلاله کړه خوبیاهم ددوی په زړه کی شك وو، نوبیا موسیٰ ﷺ دوی ته امر وکی چې ددی غواپه غوښه دامړی ووهی، بعضو ویلی دی چې په هډوکی باندی یې ووهی، نو الله ﷻ دامړی راژوندی کی، نوموسیٰ ﷺ ورڅخه پوښتنه وکړه چې ته چاقتل کړی یې؟ نوده ورته په جواب کی وویل چې خپل وراره، نوبیابیرته دامړی وګرځیدی لکه څه رکم چې وو. الله ﷻ فرمایلی دی: كَذَٰلِكَ يُحْيِي اللهُ الْمَوْتَىٰ وَيُرِيكُمْ آيَاتِهِ لَعَلَّكُمْ تَعْقِلُونَ، یعنی څه رکم چې تاسی دالله ﷻ امر وکتی ددی مړی په باره کی چې دی یې بیرته راژوندی کی نوهمدا امر دټولو مړو په باره کی دی.

## قصه دموسیٰ ﷺ او دخضر ﷺ

الله ﷻ فرمایلی دی: وَإِذْ قَالَ مُوسَىٰ لِفَتَاهُ لَا أَبْرَحُ حَتَّىٰ أَبْلُغَ مَجْمَعَ الْبَحْرَيْنِ أَوْ أَمْضِيَ حُقُبًا (٦٠) فَلَمَّا بَلَغَا مَجْمَعَ بَيْنِهِمَا نَسِيَا حُوتَهُمَا فَاتَّخَذَ سَبِيلَهُ فِي الْبَحْرِ سَرَبًا (٦١) فَلَمَّا جَاوَزَا قَالَ لِفَتَاهُ آتِنَا غَدَاءَنَا لَقَدْ لَقِينَا مِنْ سَفَرِنَا هَٰذَا نَصَبًا (٦٢) قَالَ أَرَأَيْتَ إِذْ أَوَيْنَا إِلَى الصَّخْرَةِ فَإِنِّي نَسِيتُ الْحُوتَ وَمَا أَنْسَانِيهُ إِلَّا الشَّيْطَانُ أَنْ أَذْكُرَهُ وَاتَّخَذَ سَبِيلَهُ فِي الْبَحْرِ عَجَبًا (٦٣) قَالَ ذَٰلِكَ مَا كُنَّا نَبْغِ فَارْتَدَّا عَلَىٰ آثَارِهِمَا قَصَصًا (٦٤) فَوَجَدَا عَبْدًا مِنْ عِبَادِنَا آتَيْنَاهُ رَحْمَةً مِنْ عِنْدِنَا وَعَلَّمْنَاهُ مِنْ لَدُنَّا عِلْمًا، بعضو اهل کتابو داویلی دی چې دموسیٰ څخه هم داموسیٰ ﷺ نه دی مراد بلکی موسیٰ بن منسا بن یوسف بن یعقوب بن اسحاق بن ابراهیم ﷺ مراددی دی ولاړی دخضر ﷺ خواته خودا قول صحیح نه دی چې داموسیٰ ؑ دی بلکه کم چې دقرآن څخه ثابت دی هغه همدا موسیٰ بن عمران مراددی چې دبنی اسرایلو پیغمبردی، ابن عباس نقل کوی دابی بن کعب څخه چې دی درسول الله ﷺ څخه نقل کوی چې رسول الله ﷺ فرمایلی دی: چې موسیٰ ﷺ یوه ورځ په خطبه کی ولاړیدی او وی فرمایل چې څوك ډیر پوه دی، نویوسړی وویل چې زه، نوالله ﷻ دهغه بد وویل ولی چې دهغه سره علم نه وو، بیاالله ﷻ موسیٰ ﷺ ته وفرمایل چې زما یوبنده دی په مجمع بحرین کی چې هغه ستا څخه ډیر پوه دی. نوموسیٰ ﷺ وویل چې ای ربه زمازه به دهغه سره څه رکم وینم؟ نوالله ﷻ ورته وفرمایل چې ته به دځان سره ماهیان واخلی اوبیابه روان سی نوپه کم ځای کی چې تادغه ماهیان ورك کړه نوهغه به په هم هغه ځای کی وی (یعنی موسیٰ ﷺ دځان سره ماهیان اخستی وه نوځکه ورته الله ﷻ وفرمایل چې ته په کم ځای کی داماهیان ورك کړی نوپه هغه ځای کی به دغه سړی موجود وی) نوده دځان سره

(c) ketabton.com: The Digital Library



ماهیان راواخستی اوتوښه یې کړه، اودوی ووتل اودسمندر په غاړه روان سوه، نودی بیده وو تردی چی دی راولاړ سو اوروان سو اوماهیان ورځخه هیر سوه اودده سره یوشع بن نون هم وو تردی چی دماپښین وخت سو نودوی وږی سوه نوموسٰی ﷺ وویل یوشع ﷺ ته: قَالَ لِفَتَاهُ آتِنَا غَدَاءَنَا لَقَدْ لَقِينَا مِنْ سَفَرِنَا هَذَا نَصَبًا، اوموسٰی ﷺ هغه ځای پیدانه کی تردی چی دهغه ځای څخه تیرسوه نودی موسٰی ﷺ دی یوشع ته وفرمایل: أَرَأَيْتَ إِذْ أَوَيْنَا إِلَى الصَّخْرَةِ فَإِنِّي نَسِيتُ الْحُوتَ وَمَا أَنْسَانِيهُ إِلَّا الشَّيْطَانُ أَنْ أَذْكُرَهُ وَاتَّخَذَ سَبِيلَهُ فِي الْبَحْرِ عَجَبًا نوموسٰی ﷺ وفرمایل: ذَلِكَ مَا كُنَّا نَبْغِ فَارْتَدَّا عَلَى آثَارِهِمَا قَصَصًا چی داهغه مقصودی ځای دی چی موږ غوښتی نودوی راولاړ سوه په خپل قدمونو باندی، نوچی ګوری یوسړی دی چی ښکلی کپړی یې اغوستی دی نوموسٰی ﷺ سلام پر واچوی، نوخضرؑ ورته وویل چی ته څوك یې ستادپاره دی سلامتیاوی په دی مزکه باندی؟ نوموسٰی وویل چی زه موسٰی یم. نوخضر ورته وویل چی موسٰی دبنی اسرائیلو (یعنی هغه موسٰی چی بنی اسرائیلو ته پیغمبر راغلی دی) ؟ نوده ورته وویل چی هو، زه راغلی یم تاته چی ته ماته څه وښیې: قَالَ إِنَّكَ لَنْ تَسْتَطِيعَ مَعِيَ صَبْرًا، یعنی ده ورته وویل چی: ای موسٰی زماسره چی کم علم دی چی ماته الله ﷻ ښوولی دی په هغه باندی ته نه پوهیږی اوستاسره چی کم علم دی چی الله ﷻ درکړی دی په هغه باندی زه نه پوهیږم، نوموسٰی ﷺ ورته وویل: سَتَجِدُنِي إِنْ شَاءَ اللهُ صَابِرًا وَلَا أَعْصِي لَكَ أَمْرًا، نوخضر ﷺ ورته وویل چی: فَإِنِ اتَّبَعْتَنِي فَلَا تَسْأَلْنِي عَنْ شَيْءٍ حَتَّى أُحْدِثَ لَكَ مِنْهُ ذِكْرًا (۷۰) فَانْطَلَقَا، دوی دواړه روان سوه په غاړه دسمندر باندی، نوپه دوی باندی یوه کښتی تیریدله نودوی ورته وویل چی موږ هم دځان سره بوځه نوکله چی یې دوی دځان سره پورته کړه نو خضر ﷺ ددغه کښتی څخه مخکنی تختی ماتی کړی نوموسٰی ﷺ ورته وویل چی دی خلګو خوموږ دځان سره په مفته کی لوړکړو اوتا ددوی دکښتی څخه هرڅه لیری کړه اودا دی خرابه کړه ددی دپاره چی داخلګ غرق کړی: قَالَ أَخَرَقْتَهَا لِتُغْرِقَ أَهْلَهَا لَقَدْ جِئْتَ شَيْئًا إِمْرًا (۷۱) قَالَ أَلَمْ أَقُلْ إِنَّكَ لَنْ تَسْتَطِيعَ مَعِيَ صَبْرًا (۷۲) قَالَ لَا تُؤَاخِذْنِي بِمَا نَسِيتُ وَلَا تُرْهِقْنِي مِنْ أَمْرِي عُسْرًا نوخضر ﷺ بیاورته وویل چی ماتاته نه وه ویلی چی ته زماسره صبرنه سی کولی.

اورسول الله ﷺ فرمایلی دی چی دا اولنی ورڅخه په هیره کی وو. اوفرمایلی یې دی چی یوه مرغی راله اوددی کښتی پریوی څوکی باندی کښېنسته او دسمندر څخه یې اوبه وچښلی نوخضر ﷺ دی موسٰی ﷺ ته وویل چی زما اوستا علم په مقابل دعلم دالله کی داسی دی لکه څومره اوبه چی دی مرغی ددی سمندر څخه واخستی. بیادوی کښته سوه

(c) ketabton.com: The Digital Library



دکښتی څخه، په دی دوران کی چی دوی روان وو دسمندر په غاړه باندی، نوخضر ﷺ ناڅاپه یوماشوم ولیدی چی بازی یې کولی، نوخضرﷺ دده سرپه لاس کی واخستی اوپرې یې کی نودا ماشوم یې مړکی، نوموسٰی ﷺ ورته وفرمایل چی: أَقَتَلْتَ نَفْسًا زَكِيَّةً بِغَيْرِ نَفْسٍ لَقَدْ جِئْتَ شَيْئًا نُكْرًا (۷٤) قَالَ أَلَمْ أَقُلْ لَكَ إِنَّكَ لَنْ تَسْتَطِيعَ مَعِيَ صَبْرًا اوپه دی وار ورته موسٰی سختی وکړه اوورته یې وویل: إِنْ سَأَلْتُكَ عَنْ شَيْءٍ بَعْدَهَا فَلَا تُصَاحِبْنِي قَدْ بَلَغْتَ مِنْ لَدُنِّي عُذْرًا، یعنی دی موسٰی ﷺ خضر ﷺ ته وفرمایل) که ددی څخه وروسته درڅخه ماپوښتنه وکړه نوبیا زماسره ملګرتیا مه کوه ولی چی ته دمعذرت درجی ته ورسیدی زما دخواڅخه: فَانْطَلَقَا حَتَّى إِذَا أَتَيَا أَهْلَ قَرْيَةٍ اسْتَطْعَمَا أَهْلَهَا فَأَبَوْا أَنْ يُضَيِّفُوهُمَا فَوَجَدَا فِيهَا جِدَارًا يُرِيدُ أَنْ يَنْقَضَّ فَأَقَامَهُ تردی چی دوی یوکلی ته ورله اودمیلمستیا طلب یې ورڅخه وکی نوهغوی ورنکړه، اوهلته یې یودیوال ودروی نوموسٰیﷺ ورته وویل چی دوی خوداسی قوم دی چی زموږ میلمستیایې هم ونه کړه اونه یې موږ ته ډوډی راکړه اوبیایې ورته وویل: لَوْ شِئْتَ لَاتَّخَذْتَ عَلَيْهِ أَجْرًا (۷۷) قَالَ هَذَا فِرَاقُ بَيْنِي وَبَيْنِكَ سَأُنَبِّئُكَ نوبیا ورته خضر ﷺ ټوله واقعه بیان کړه چی داکارونه دوی ولی وکړه تردی قول پوری: ذَلِكَ تَأْوِيلُ مَا لَمْ تَسْطِعْ عَلَيْهِ صَبْرًا، سعید بن جبیر ویلی دی چی ابن عباس به داسی ویل: اوددوی مخ ته یوبادشاه وو چی په زوره به یې کښتی اخستلی کمه کښتی چی به ښه وه. اوداسی به یې ویل چی: هرڅه چی هغه ماشوم وو نودهغه مور اوپلار دواړه مومنان وه اوداماشوم کافر وو (۱) اوبیادغه رکم امام بخاری ویلی دی په نقل کولو سره دقتیبه څخه چی دی نقل کوی دسفیان بن عیینه څخه اوهم په دی طریقی سره اوهم په داسی اسناد سره. اوپه هغه روایت کی داهم ذکردی چی: ووتی موسٰی ﷺ اودهغه سره ځوان ملګری یوشع بن نون ﷺ وو اودځان سره یې ماهی را واخستی، تردی چی دډبری خواته ورسیده اوهلته موسٰی ﷺ بیده سو. سفیان ویلی دی چی په حدیث کی دعمر څخه بل چاویلی دی: چی ددی ډبری سره یوه چینه وو چی نوم یې (الخیات) وو،چی ددی چینی داسی اوبه دی چی په چاباندی ولګیږی نوهغه راژوندی سی، نودغه اوبه پردغه ماهی باندی ولګیدی نودی هم راژوندی سو، نودی وایې چی دی وښوریدی اوددی توښی څخه یې ځان اوبوته وغورځوی،نوکله چی موسٰی ﷺ راویښ سو نوویې ویل: قَالَ لِفَتَاهُ آتِنَا غَدَاءَنَا لَقَدْ لَقِينَا اوحدیث یې ذکرکړی دی. اودایې هم ویلی دی چی: یوه مرغی دکښتی پریوی څوکی باندی کښېنسته اوپه مشوکی سره یې اوبه راواخستی، نوخضر ﷺ وویل موسٰی ﷺ ته چی زما اوستا علم په مقابله دعلم دالله ﷻ کی دومره دی

(۱). صحیح البخاری: کتاب التفسیر، سورة الکهف، باب (واذقال موسٰی لفتاه) الأية (۲\۱ ۳۷۲۵) .

(c) ketabton.com: The Digital Library



لکه څومره اوبه چې مرغی په خپل مشوکه کې واخستی (۱) اوهم داسی یې ټول حدیث کې ذکر کړی دی. اوامام بخاری فرمایلی دی په نقل کولوسره دابراهیم بن موسیٰ څخه دی نقل کوی دهشام بن یوسف څخه دی دابن جریج څخه دی دیعلی بن مسلم اوعمرو بن دینار څخه اودی دسعید بن جبیر څخه دوی وایې چې سعید بن جبیرویلی دی چې زه دابن عباس سره په کور دهغه کې وم چې ابن عباس وویله چې زماڅخه پوښتنی وکړی: نوما ورته وویل چې ای ابن عباسه. په کوفه کې یوسړی دی چې هغه قاضی دی اونوف نوم یې دی، هغه داګمان کوی اوداوایې چې په بنی اسرائیلوکې موسیٰ نسته. هرڅه چې عمر دی نوهغه راته وویل چې دی دروغ وایې اودی دښمن دی دالله ﷻ، اوهرڅه چې ابویعلی دی نوهغه راته وویل چې ابن عباس ویلی دی په نقل کولوسره دابی بن کعب څخه دی وایې چې فرمایلی دی رسول الله ﷺ: موسیٰ رسول دالله ﷻ دی، اوبیایې وفرمایل چې ده یوه ورځ خلګو ته بیان وکی تردی چې ټولو خلګو وژړل اودټولو زړونه نرم سوه، نویو سړی ورته رالی اوورته یې وویل چې ای موسیٰ ؑ آیاستا څخه بل پوه اوزیات علم والاسته نوده ورته وویل چې نه، نوپه دی خبری باندی ورلره الله ﷻ جزا ورکړه اوورته یې وویل چې ستا څخه ماسوا زمابل یوبنده داسی سته چې ستا څخه ډیر پوه اوعلم والادی په مجمع البحرین کې نوده وویل چې ای الله زه به څه رکم دهغه سرهووینم، نوالله ﷻ ورته وویل چې کله ستا څخه جلاسی ماهی (یعنی مخکې چې څه رکم موږ واقعه بیان کړه).

داقول دعمر وو، اوابو یعلی ورته ویلی دی. چې موسیٰ ؑ ته وویل سوه چې یومړ ماهۍ واخله په کم ځای کې چې په هغه کې روح بیرته راسی نوپه هغه ځای کې به ستاسره خضر ؑ ووینی. نودوی راواخستی ماهۍ اودځان سره یې توښه کې اوروان سو اودخپل ځوان ملګری ته یې وویل (چې یوشع بن نون ؑ وو) چې زه تاته نور تکلیف نه درکوم مګر داچې ته ماته خبرراکړی چې په کم ځای کې زموږ څخه ماهۍ جلا سوی دی، نوهغه ورته وویل چې ماته تکلیف نه دی راکول سوی، نوداهغه قول دالله ﷻ دی چې ذکرکړی یې دی (وَاِذْقَالَ مُوْسٰی لِفَتٰهُ) دغه ځوان یوشع بن نون دی، نوویل سوی دی چې دوی په سایه دیودرختی کې وه چې ماهۍ په ښوریدو سو اوموسیٰ ؑ بیده وو نودی یوشع بن نون موسیٰ ؑ راویښ نه کی تردی چې موسیٰ ؑ راولاړسو نودیوشع بن نون څخه خبره هیره سوی وه چې دی خبر کړی اوماهۍ ښوریدی تردی چې سمندرته یې ځان ورسوی. نوبیایې وروسته خبرکی نوبیا دوی راله اوخضر ؑ یې پیداکی، چې ده یوه ټوټه پښوته اینبی وه اویوه ټوټه یې سرته اینبی وه، نوموسیٰ ؑ سلام پر وکی اوهغه ورته مخ راښکاره کی اوورته یې وفرمایل چې

---

(۱). تخریج ددی بخاری کړی دی په کتاب التفسیرکې، (سورة الکهف، باب (فلماجاوزا قال لفتاه) الأیة (۴۷۲۲\۲).

(c) ketabton.com: The Digital Library



آیاستاسی په مزکه باندی سلام سته؟ ته څوك یې؟ نوده ورته وفرمایل چی زه موسیٰ یم. نو هغه ورته وفرمایل چی موسیٰ دبنی اسرائیلو؟ نوده ورته وفرمایل چی هو، نوهغه ورته وویل چی څه کاردی دی دلته. نوده ورته وویل چی زه راغلی یم تاته چی ستا څخه څه زده کړم، نوهغه ورته وویل چی داستا دپاره کافی نه دی چی ستاسره تورات دی، اووحی درته راځی؟ اوبیایې ورته وویل چی ای موسی: زمادی قسم وی په الله ﷻ باندی چی زماسره داسی علم دی چی هغه ته نه سی یادولی اوستاسره چی کم علم دی هغه زه نه سم یادولی، نویوې مرغی دسمندر څخه په خپلی مشوکی کی اوبه واخستی. نوخضر ﷺ موسیٰ ﷺ ته وفرمایل چی زما اوستا علم په مقابل دعلم دالله ﷻ کی داسی دی لکه دی مرغی چی څومره اوبه ددی سمندر څخه واخستی: حَتَّى إِذَا رَكِبَا فِي السَّفِينَةِ، دوی پیداکړه یوه کوچنی کښتی چی دغه کښتی والا دیو ساحل څخه بل ساحل ته کسان بیوله، نوپه دغه کښتی کی کسان ناست وه نوداخضر ﷺ یې وپیژندی نودوی وویل چی دده څخه پیسی نه اخلو او مفت یې دځان سره‌کی‌کله چی دی په کښتی کی دموسیٰ ﷺ سره کښېنستی نوده دکښتی څخه څه لرګی لیری کی (قَالَ) موسیٰ ﷺ ورته وفرمایل: أَخَرَقْتَهَا لِتُغْرِقَ أَهْلَهَا لَقَدْ جِئْتَ شَيْئًا إِمْرًا، مجاهد ویلی دی چی: منکر کاردی وکی: قَالَ أَلَمْ أَقُلْ إِنَّكَ لَنْ تَسْتَطِيعَ مَعِيَ صَبْرًا، وه اوله پوښتنه دده په هیری سره اودوهمه په شرط سره اودریمه په قصد سره: قَالَ لَا تُؤَاخِذْنِي بِمَا نَسِيتُ وَلَا تُرْهِقْنِي مِنْ أَمْرِي عُسْرًا (۷۳) فَانْطَلَقَا حَتَّى إِذَا لَقِيَا غُلَامًا فَقَتَلَهُ ابویعلی اوسعید دواړه وایې چی: دی خضر ﷺ ولیده څه ماشومان چی لوبی یې کولی نوپه دی کی یې یوکافر ماشوم راونیوی اوهغه یې په یوخوا باندی پرې باسی اوچاړه ورسره وه نومړیې کی، نوموسیٰ ﷺ ورته وویل: أَقَتَلْتَ نَفْسًا زَكِيَّةً بِغَيْرِ نَفْسٍ یعنی یوسړی دی داسی مړکی چی هغه هیڅ غلط کارنه وو کړی. نودوی دواړه روان سوه نویو دیوال یې ولیدی: فَوَجَدَا فِيهَا جِدَارًا يُرِيدُ أَنْ يَنْقَضَّ فَأَقَامَهُ، سعید ویلی دی چی دادیوال یې په لاس باندی جوړکی په داسی طریقی سره، لاس یې لوړ کی اوسیده یې کی نودیوال جوړسو.

اوابو یعلی وایې چی زه ګمان کوم چی ابوسعید داسی ویلی دی چی لاس یې داسی سیده کی نودیوال جوړسو: قَالَ لَوْ شِئْتَ لَاتَّخَذْتَ عَلَيْهِ أَجْرًا یعنی که چیری تاته په دی کارباندی څه اجر درکول کیدی نوتابه کړی وای هسی بی فائدی کاردی وکی (وَكَانَ وَرَآءَ هُمْ) اوداپه قول دابن عباس: ددوی مخ ته یوبادشاه وو چی نوم یې (هدد بن بدد) ذکرسوی دی غیر دسعید څخه، اوددوی په نزد باندی هغه هلك چی دوی مړکړی وو دهغه نوم (جیسور) وو: مَلِكٌ يَأْخُذُ كُلَّ سَفِينَةٍ غَصْبًا خضر ﷺ موسیٰ ﷺ ته وویل چی داکښتی ماځکه عیبجنه کړی وه ولی چی

(c) ketabton.com: The Digital Library



دغه بادشاه به ښه کښتی دخلګو څخه اخسته، اوکمه کښتی چی به خرابه وو نوبادشاه به پرېښنووله، کله چی دوی ددغه بادشاه دخوا څخه تیر سوه نوبیرته یې کښتی جوړه کړه. بعضو داویلی دی چی داکښتی یې په چیښنو سره جوړه کړه اوڅوك وایې چی په تارکولو سره یې روغه کړه. فَكَانَ أَبَوَاهُ مُؤْمِنَيْنِ، ددی هلك مور اوپلار دواړه مسلمانان وه اوداهلك کافر وو: فَخَشِينَا أَنْ يُرْهِقَهُمَا طُغْيَانًا وَكُفْرًا، یعنی ددوی دوالدینو داخواهش وو چی دی ددوی په طریقه اوپه دین باندی وې: د فَأَرَدْنَا أَنْ يُبْدِلَهُمَا رَبُّهُمَا خَيْرًا مِنْهُ زَكَاةً، داجواب یې ددی قول ورکی: أَقَتَلْتَ نَفْسًا زَكِيَّةً بِغَيْرِ نَفْسٍ، وَأَقْرَبَ رُحْمًا یعنی دهغوی په ده باندی رحم ډیر وو ددی څخه چی زه یې قتل کړم. هرڅه چی داود بن ابی عاصم دی هغه وایې چی دا انجلی وه.
اودارکم روایت ذکرکړی دی عبدالرزاق دمعمر څخه دی دسعید بن جبیر څخه دی دابن عباس څخه دی وایې چی: خطبه ورکوله یوه ورځ موسٰی ﷷ نووی ویل چی دالله ﷻ په باره کی ترما څوك ښه عالم نسته، نوالله ﷻ ده ته امروکی په لیدلو ددی خضر ﷷ سره، نوبیا یې هم داسی قول ذکر کړی دی لکه څه رکم چی مخکی بیان سو.
اوهمدارکم روایت ذکرکوی محمدبن اسحاق دحسن بن عماره څخه دی نقل کوی دالحکم بن عیینه څخه دی دسعید بن جبیر څخه اودی دابن عباس څخه اودی دابی بن کعب څخه اودی درسول الله ﷺ څخه هم په داسی طریقی سره په کمه طریقه چی مخکی بیان سو. او روایت ددی کړی دی العوفی موقوفًا.
اوالزهری ویلی دی دعبیدالله بن عبدالله بن عتبه بن مسعود څخه دی نقل کوی دابن عباس څخه دی وایې چی: بحث وکی ده اوالحربن قیس بن حصن الفزاری په صاحب دموسٰی ﷷ کی، نوابن عباس وویل چی داخضر ﷷ وو، نوپه دغه وخت کی ابن بن کعب تیریدی نوابن عباس ورته اواز وکی اوورته یې وویل چی موږ بحث کړی دی په صاحب دموسٰی ﷷ کی هغه چی دالله ﷻ څخه یې دهغه دملاقات سوال کړی وو نوآیاتا درسول الله ﷺ څخه ددی په باره کی څه اوریدلی دی؟ نوده ورته وویل چی، هو، اوبیایې دارکم ټول حدیث بیان کړی دی. اوموږ طریقی دحدیثونو بیان کړی دی په تفسیر دسورة کهف کی هلته رجوع وکی.
اودا قول: وَأَمَّا الْجِدَارُ فَكَانَ لِغُلَامَيْنِ يَتِيمَيْنِ فِي الْمَدِينَةِ السهیلی ویلی دی چی دا دواړه یتیمان (اصرم اوصریم) وه چی ځامن دکاشح وه: وَكَانَ تَحْتَهُ كَنْزٌ لَهُمَا ویل سوی دی چی داسره زر وه، داقول دعکرمه دی. اوداهم ویل سوی دی چی داعلم وو، داقول دابن عباس دی، خو مناسب قول دادی چی داڅه الواح یعنی ټوټی وی دسرو زرو چی علم پرلیکل سوی وو.
البزار ویلی دی په نقل کولوسره دابراهیم بن سعید الجوهری څخه دی نقل کوی دبشربن المنذر څخه دی نقل کوی دالحارث بن عبدالله الیحصبی څخه دی نقل کوی دعیاش بن عباس

الغساني څخه دی دابن حجیره څخه دی دابی ذرڅخه چې مرفوع یې ذکرکړی دی دی وایې: هغه خزانه چې الله ﷻ یې په قرآن کی ذکرکړیدی هغه دسروزرو یوڅو ټوټې وی چې په هغه باندی دالیکل سوی وه، زه تعجب کوم په هغه سړی باندی چې تقدیر منی اوبیاهم ګیلی کوی، اوزه تعجب کوم په هغه سړی باندی چې اور یادوی اوبیاهم خندا کوی، اوزه تعجب کوم هغه سړی ته چې مرګ یادوی اوبیاهم غفلت کوی؟ لا اله الاالله محمد الرسول الله. (١)

اوهمدارکم روایت ذکرسوی دی دحسن بصری څخه اودعمر څخه چې مولی دغفره دی او دجعفر الصادق څخه هم په دی طریقی سره په کمه طریقه چې مخکی بیان سو. اودا قول (وَكَانَ اَبُوْهُمَا صٰلِحًا) ویل سوی دی چې دادده اووم پلار مراددی یعنی اووم نیکه دده مسلمان وو اوبعضو ویلی دی چې لسم پلار یې مراد دی، خوپه هرتقدیر سره دامعلومیږی چې دده په نسب کی صالح سړی وو. اودا قول (رَحْمَةً مِّنْ رَّبِّكَ) دادلیل دی پردی خبره باندی چې دی نبی وو، اوده یو کارهم دځان څخه نه دی کړی، بلکی داټول یې دالله ﷻ په امرسره کړه دی نودی نبی وو، ویل سوی دی چې دارسول وو اوداهم ویل سوی دی چې داولی وو، اوداخبره ډیره کمزوری ده چې چاویلی دی چې داملایکه وه.

اوداهم ډیره کمزوری خبره ده چې چاویلی دی چې دی دفرعون ځوی وو، اوداهم ویل سوی دی چې دضحاك ځوی وو هغه سړی چې په ټوله دنیایې (١٠٠٠) کاله بادشاهی کړی وه.

ابن جریر ویلی دی: اوداهغه قول دی چې په دی باندی جمهور داهل کتاب متفق دی چې داپه زمانی د (افریدون) کی وو اوویل سوی دی چې داپه مقدم کسانو دذی القرنین کی وه، چې ویل سوی دی چې دی افریدون وه. اوذو الفردوس هغه وو چې په زمانه دابراهیم ﷺ کی وو، اوداګمان سوی دی پرده باندی چې ده داب حیات څخه اوبه چښلی نودی دهمیشه دپاره ژوندی پاته سوی دی، اوهغه ترنن ورځ پوری باقی پاته دی، اوویل سوی دی چې دی دهغه کسانو څخه دیوه سړی زوی دی کمو چې په ابراهیم ﷺ باندی ایمان راوړی دی، او دده سره یې هجرت کړی وو دبابل علاقی څخه.

اوویل سوی دی چې دده نوم ملکان وو، اوداهم ویل سوی دی چې ارمیابن حلقیادی، او ویل سوی دی چې دی نبی وو په زمانی دسباسب بن بهراسب کی. ابن جریر ویلی دی چې وه په منځ دافریدون اوسباسب کی اوږده زمانه چې داهل علم والو څخه څوك ددی انتساب نه سی معلومولی دی دابن جریر قول دی: اوصحیح دی ده چې دی په زمانه دافریدون کی وو، اوژوندی وو تردی چې دموسٰی ﷺ زمانی ته پاته سوی وو. او وو پیغمبر دموسٰی ﷺ

---

(١). ددی اخراج ابن ابی حاتم اوابن مردویه اوالبزارکړی دی. هم دارکم السیوطی ذکرکړی دی په الدر منثور کی (۵\۴۲۱) اوالهیثمی په المجمع کی (۷\۵۳)، اوروای ددی البزار دی دبشربن المنذر څخه چې هغه نقل کړی دی دالحارث بن عبدالله المصیبی څخه، اودی زه نه پیژنم اوباقی سړی ددی ټول ثقه دی اومعتمد دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



په زمانی د(منوشهر) کی هغه چی په ځامنو دابرج بن افریدون کی راځی چی دایو بادشاه دبادشاهانو دفارس څخه وو، اوداډیر عادل اوانصافدار باشاه وو. اودا اول هغه سړی وو چی کندی یې کښلی وی، اودا اول سړی وو چی په هرکلی کی یې زمینداران مقررکړی وو، اودده باشاهی (۱۵۰) کاله وه. اوویل سوی دی چی داپه اولاد داسحاق بن ابراهیم ﷺ کی راځی. الله ﷻ فرمایلی دی: وَإِذْ أَخَذَ اللهُ مِيثَاقَ النَّبِيِّينَ لَمَا آتَيْتُكُمْ مِنْ كِتَابٍ وَحِكْمَةٍ ثُمَّ جَاءَكُمْ رَسُولٌ مُصَدِّقٌ لِمَا مَعَكُمْ لَتُؤْمِنُنَّ بِهِ وَلَتَنْصُرُنَّهُ قَالَ أَأَقْرَرْتُمْ وَأَخَذْتُمْ عَلَى ذَلِكُمْ إِصْرِي قَالُوا أَقْرَرْنَا قَالَ فَاشْهَدُوا وَأَنَا مَعَكُمْ مِنَ الشَّاهِدِينَ، (سورة آل عمران \۸۱) نوالله ﷻ دټولو خلکو څخه داوعده واخسته چی دوی به ایمان راوړی په هرهغه نبی باندی چی وروسته دبل نبی څخه راځی، او دهغه په ایمان باندی ځان لازم کول، اوداوعده یې دمحمد ﷺ دپاره هم اخستی ده ولی چی دی خاتم الانبیاء دی، نوداحق دی په هرنبی باندی چی هغه دنبی ﷺ تردور پوری پاته سوی وی چی هغه په نبی ﷺ باندی ایمان راوړی اودده مددوکی. نوکه خضر ﷺ ژوندی وای دنبی ﷺ په زمانه کی نولازم وو چی هغه به ایمان راوړای په نبی ﷺ باندی، اودی به وو په هغه ډله کی چی دبدر په مقام کی وو، ولی چی هلته دملایکو مشر جبریل ﷺ اومشران دملایکو ټول ولاړ وه خوداخبره قاصره ده چی خضر ﷺ نبی وو، اوڅوك وایې چی رسول وو، یاداچی ملایکه وه. نوکه هریو ددی څخه وی نودملایکو مشر جبریل ﷺ دی، اوموسیٰ ﷺ دخضر ﷺ څخه ښه دی اوکه دمحمد ﷺ په زمانه کی وای نودده تابعداری به یې کولی نوڅه رکم به سی خضر ﷺ ولی لکه څه رکم چی ډیر خلګ داخبره کوی؟ نوښه خبره داده چی داپه عام بعثت کی شمار سی چی لکه عام خلګ څه رکم پیداسوی دی هم دارکم دا خضر ﷺ هم وو، اودا خبره چی په حدیث کی نقل سویده چی داخضر ﷺ دنبی ﷺ سره په یوځای کی لیدل سوی وو نودا ضعیف دی که څه هم حاکم یې روایت کړی دی، خواسناد ددی ضعیف دی، اوموږ به ددی خضر ﷺ دپاره جلا بحث ذکر کوو ان شاء الله تعالیٰ

## حديث الفتون

ذکرکړی دی امام ابوعبد الرحمٰن النسایي په تفسیرخپل کی دسنن څخه، په دی قول دالله ﷻ کی: وَقَتَلْتَ نَفْسًا فَنَجَّيْنَاكَ مِنَ الْغَمِّ وَفَتَنَّاكَ فُتُونًا، (سورة طه\۴۰) حدیث دفتونو (یعنی هغه مصیبتونه اوازمیښتونه چی په موسیٰ ﷺ باندی سوی دی دپیدائش څخه ترپیغمبری پوری) عبدالله بن محمد نقل کوی دیزید بن هارون څخه دی نقل کوی داصبغ بن زید څخه دی نقل کوی دقاسم بن ایوب څخه دی نقل کوی دسعید بن جبیر څخه دی وایې چی ما پوښتنه وکړه دعبدالله بن عباس څخه ددی قول دالله ﷻ څخه چی موسیٰ ﷺ ته یې فرمایلی دی (وَفَتَنَّكَ فُتُونًا) نوما ورڅخه پوښتنه دفتونو وکړه چی هغه څه دی؟ نوماته یې وویل چی

(c) ketabton.com: The Digital Library



اى جبيره دورځى بياراسه، اوداډير اوږد حديث دى. نودى وايي چى كله صباح سو نوزه ولاړم ابن عباس ته چى زه دهغه څخه هغه وعده پوره كړم چى زماسره يې كړى وه دابراهيم عليه السلام سره چى الله جل جلاله به دده په اولاد كى انبياء ګرځوى، نوبعضو په كى داخبره وكړه چى، بنى اسرائيل انتظار دهغه سړى كوى چى دوى په كى شك كوى چى داپيغمبر به هم دده داولاد څخه وى اودوى داګمان كوى چى دايوسف بن يعقوب عليه السلام دى، كله چى هغه مړسو نو دوى وويل چى داسى نه وه وعده دابراهيم عليه السلام نوفرعون وويل چى تاسى څه ركم واياست چى څه وكو؟ نودوى ټولو دا امروكى چى څه خلګ وليږى اوورسره چړى هم وى اودبنى اسرائيلوپه كورونو باندى دى وګرځى اوكم نرماشوم چى پيدا كيږى نوهغه دى مړكى. نودوى دغه كارشروع كى. تردى چى دوى وليده چى غټان دبنى اسرائيلو په خپلو اجلونو باندى مړه كيږى اوماشومان حلاليږى نودوى وويل چى هسى نه چى دابنى اسرائيل ټول ختم سى نوهغه كارونه اوخدمتونه چى دوى كوله نوهغه به بيرته دوى ته پاته سى، نو بيايې فيصله وكړه چى يوكال يې پريږدى اويوكال يې حلالوى نودا ماشومان به راغټيږى په ځاى دغټانو باندى چى هغوى مرى، اودوى به ډيرهم نه وى چى په موږباندى غالب سى، نوممل واخستى مور دموسٰى عليه السلام هارون په هغه كال باندى چى قتلونه معاف وه، نودده پيدائش يې ښكاره كى. نوپه بل كال باندى موسٰى عليه السلام پيداسو چى په هغه كال باندى به ماشومان حلاليدل. نودده دمورپه زړه كى غم اوخفګان پيداسو، اودا دفتونو څخه دى اى ابن جبيره، نوداغم دده دمور په زړه كى دننه سو چى ددى سره څه وكى. نوالله جل جلاله ورته وحى وكړه چى: وَلَا تَخَافِي وَلَا تَحْزَنِي إِنَّارَادُّوهُ إِلَيْكِ وَجَاعِلُوهُ مِنَ الْمُرْسَلِينَ، نوده ته يې امروكى چى كله داحمل وزيږى نوداپه تابوت كى كښيږده اوپه اوبو كى يې پريږده. نوكله چى دى پيداسو نوهغې دغه ركم كارورسره وكى دكم چى ورته امرسوى وو. نوكله چى ورڅخه داځوى ليرى سو نوشيطان ورته رالى او وسوسه يې ورواچوله چى څه چل مى دځوى سره وكى،كه چيرى زمامخ ته حلال سوى واى نوښه به واى چى په خپلو لاسونو خوبه مى دفن كړى وى داراته ډيره ښه وو ددى څخه چى دسمندر دماهيانو خوراك مى كى. نودى اوبو داموسٰى عليه السلام ورسوى هغه ځاى ته دخړوبه كيدلو دمينځو دښځى دفرعون، نوكله چى دوى داتابوت وليدى نودوى راواخستى، اودوى وغوښته چى داخلاص كړى خوبيايې وويل چى دامال دى اوكه موږ داخلاص كړو نو دفرعون ښځه يعنى ددوى سيده به داګمان په موږ باندى كوى چى داتاسى په روغه طريقه ماته نه دى راوړى، نودوى دايووړى دفرعون دښځى خوا ته اوهغې ته يې داوسپارى نوكله چى دى داتابوت خلاص كى نوپه دى كى يوماشوم وو، نوالله جل جلاله دى ته ددى ماشوم محبت په زړه كى ورواچوى داسى محبت چى دبل چاپه زړه كى

(c) ketabton.com: The Digital Library



نه دی اچول سوی: وَأَصۡبَحَ فُؤَادُ أُمِّ مُوسَىٰ فَارِغًا، دهرڅه څخه یاد دموسیٰ ﷺ ته نوکله چی هغه
خلګو چی ماشومان به یې حلالول اوهغو داخبره واوریده نوخپلی چړی یې راوړلی چی دا
حلال کړی، نوداهم دفتونو څخه دی ای ابن جبیره، نودی ښځی دفرعون ورته وویل چی (قُرَّةُ
عَيۡنٖ لِّي وَلَكَ) نوفرعون ورته وویل چی هرڅه چی دی به ستاد پاره وی اوزما ورته هیڅ حاجت
نسته. رسول الله ﷺ فرمایلی دی که چیری فرعون دا اقرار کړی وای چی دی به زما دپاره
هم دسترګو یخوالی سی نوالله ﷻ به ورته دده په واسطه هدایت ورکړی وای، خوالله ﷻ
دده په واسطی دفرعون ښځی ته هدایت ورکی اوفرعون ته یې هدایت ورنه کی نوده ولیږی
داماشوم هریوی ښځی ته چی ددی مینځی وی نوهریوې ورلره دتی ورکولو کوشش وکی
خودی موسیٰ ﷺ به دهیچا څخه هم تی نه رودی، نوددی فرعون ښځه پر وبیریده چی دا
ماشوم ضائع نه سی چی دشیدو څخه ځان منع کوی اودچا څخه هم شیدی نه رودی نودابه
مړسی. نوامریې وکی په وتلو سره بازارته چی په بازارکی داماشوم وګرزوی اوده ته شیدی
وګوری چی ده ته شیدی ورکړی نودی کسانو دی بازارته یووړی خوهلته هم دی موسیٰ ﷺ
دچا څخه شیدی نه رودلی، اودموسیٰ ﷺ مورحیرانه اوغمجنه وه، نوخپلی لورته یې وویل
چی په دی خپل ورور پسی ورسی اووګوری چی دده څه یادسته اوکه غیب دی؟ آیا ژوندی
دی اوکه دسمندر حیوان خوړلی دی؟ اودی هغه وعده چی الله ﷻ ورسری کړی وو هغه یې
هیره کړه (فَبَصُرَتۡ بِهِۦ) یعنی دخورسترګی پرولګیدی: عَن جُنُبٖ وَهُمۡ لَا يَشۡعُرُونَ: الجنب: ویل
کیږی هغه نظرته چی انسان یوشی ته دلیری څخه وګوری اوهغه ته یې شا وی یعنی سیده
ورته نه ګوری، نودا ډیره خوشحاله سوه کله یې چی ولیدی ډیری ښځی چی ورته راټولی
سوی وی اووی ویل: هَلۡ أَدُلُّكُمۡ عَلَىٰٓ أَهۡلِ بَيۡتٖ يَكۡفُلُونَهُۥ لَكُمۡ وَهُمۡ لَهُۥ نَٰصِحُونَ، نودوی داخور
دموسیٰ ﷺ راونیول اوورته یې وویل چی ته ولی په ده باندی شفقت کوی اوولی مورړ ته
لار ښیې؟ ایاته داپیژنی؟ تردی چی دوی شك مندسوه ددی په دی خبرو کی، اودا دفتونو
څخه دی ای ابن جبیره، نوده ورته وویل چی داځکه زه تاسی ته وایم چی زه دبادشاه په
خوشحالی باندی خوشحالیږم اوداماشوم دبادشاه دکورنی دی اوزه غواړم چی دده څخه
بادشاه ته څه منفعت اوفائده ورسیږی. نودایې ولیږله اوداراله خپل مور ته یې خبر راوړی،
نوموریې راله څنګه چی یې داماشوم په غیږه کی کښیښووی اوسینه یې په خوله کی ورکړه
نودی ماشوم شیدی رودل شروع کړه تردی چی دواړه مخونه یې فراخه سوه، نویو زیری
ورکونکی ورله دفرعون دښځی خواته چی زیری ورکی چی موړ دی ماشوم ته دا پیداکړه،
نو دی ښځی دفرعون ورپسی څه کسان وروليږل اودایې راوسته. نوکله چی دې ولیده چی
دا ماشوم ددی څخه شیدی رودی نودی ته یې وویل چی ته دلته زموږسره اوسه اوزموږ

(c) ketabton.com: The Digital Library



بچي ته شيدي ورکوه، ولی چي زه دهيڅ شي سره دومره محبت نه کوم لکه ځومره چي ددی ماشوم سره کوم، نودموسیٰ علیه السلام مور وويل چي زه داکار نسم کولی ولی چي ماته په کورکی کارونه وی اوماشوم راته په کورکی پروت دی هغه به راڅخه ضائع سی که چيری ستاخوښه وی نودازما سره وليږه زه به دده په خدمت کی کوتاهي نه کوم، ولی چي زه کور اوبچي پرېښوونکی يم، نوپه هغه وخت کی دی دالله جل جلاله کړی وعده رايادە کړه، نوداسخته سوه په ښځی دفرعون باندی، خودايقين يې وو چي الله جل جلاله به خپله وعده پوره کوی، نودی راوستی داموسیٰ دځان سره کورته په دغه ورځ باندی اوالله جل جلاله دی وساتی دهرقسم افاتو څخه ولی چي پرده باندی يې فيصله دغټ کارکړی وه، اودی يې منع کړی وو دهغه ظلم څخه چي دده پرقوم باندی به کيدل اودهغه جادو څخه چي دده په قوم باندی به کيدی. او ددغه ورځی راايسی په بنی اسرائيلو باندی هم ظلم اوستم کم سو ولی چي په دوی کی دفرعون متبنی وو چي دهغه ښځی ځان ته اسرائيلی ځوی کړی وو. کله چي داموسیٰ علیه السلام غټ سو وويل ښځی دفرعون دموسیٰ علیه السلام مورته: ماته وښيه ځوی زما نودی ورلره يوه ورځ په نيټه ورکړه چي په هغه ورځ به دی تالره کورته درځی، نوښځی دفرعون وويل خپل خزانچيانو ته اوخپلو نوکرانوته اوخپلو محافظينو ته چي ټول به ده ته په دی ورځ باندی عطيی اوتحفی ورکوی اودده به اکرام وکی، اودايې هم وويل چي زه ګورم چي تاسی ده لره څه تحفی ورکوی اوزه به په تاسی باندی يوامين مقرووم چي ستاسی اکرام وګوری چي تاسی دده څه رکم اکرام کوی. نوکله چي دی داکرام اوعزت سره دخپل کور څخه ووتی او دفرعون کورته ورلی. اودفرعون دښځی خواته ورلی نوهغو هم عزت اواکرام ورلره وکی اوډيره خوشحاله سوه دده په ليدو سره، اوبيادی ښځی دفرعون وويل چي زه به دی دفرعون خواته بوزم چي هغه يې هم اکرام اوعزت وکی. نوکله چي دفرعون خواته ورلی نودهغه په غيږکی يې کښېنوی، نوموسیٰ علیه السلام ږيره ورڅخه وکښل اومزکی ته يې وغورځوی، نوپه دغه وخت کی دده سالارانو وويل چي آياته نه وينی هغه څه چي وعده يې ورکړی الله جل جلاله ابراهيم علیه السلام ته؟ دوی داګمان وکی چي دی به هم دی ليری کوی اودده په ځای باندی به قبضه کوی، نودی فرعون په هغه حلالوونکو پسی کسان وليږل چي راسی اوداماشوم حلال کړی، اودا دفتونو څخه دی ای ابن جبيره، نوراله ښځه فرعون ته په منډه، اوورته يې وويل چي په تا باندی څه سويدی چي داغلام تاماته هبه کړی دی اوبيايې حلالوی؟ نودی فرعون ورته وويل چي آياته نه ګوری چي دی پرما باندی ځان لوی ګڼی اوپرما لوړ راخيژی؟ نودی ښځی دفرعون ته وويل چي څه نښانه کښېږده زما اوستاپه مينځ کی چي حق وپيژندل سی چي ته په حقه يې اوکه زه په حقه يم، راوړه دوی سکروټی اودوی ملغلری، او دا دواړه يې دده خواته ورنژدی کړی که چيری ده فرق کولی سوای دملغلرو اودسکرو نو پته به

(c) ketabton.com: The Digital Library



ولګیږی چی دی عقلمندی اوپوهیږی اوکه چیری یې فرق نه سوای کولی نومعلوم به سی چی دافرق نه سی کولی دسکرو اودملغلرو، نوکله یې چی دده خواته کښیښوولی نوده سکروته خوله وروړه نودی ښځی دفرعون ورټوپ کړه اودسکرو څخه یې لیری کی ددی بیری دوجی چی ځان ونه سوزی، نوپه دغه وخت کی یې ورته وویل چی ته نه وینی چی دی تمیز نسی کولای ؟ نوالله ﷻ دهغه مکر څخه وساتی کم چی ورلره دوی تیارکړی وو، اوالله ﷻ پوره کونکی دی دخپلی وعدی. کله چی دی لوی سو اودسړو څخه وګرځیدی، نونه به وو یوفرعونی چی داسرائیلی سره به یې جنګ کوی یابه یې پرهغه باندی ظلم کوی نوده به ورڅخه خلاصوی اوخلګ به یې منع کول په هره طریقه دمنع کیدلو سره، دغه رکم یوه ورځ موسٰی ﷺ روان وو چی دیواسرائیلی اوفرعونی په خپلوکی جګړه وه. نودی اسرائیلی مدد وغوښتی دموسٰی څخه په مقابل دفرعونی کی، نوموسٰی ﷺ ته درد ورلی اودا فرعونی ووهی اومړیې کی اودوی نه وه لیدلی مګریو الله اوهغه اسرائیلی کم چی یې ساتلی وو، نوموسٰی ﷺ وویل په دغه وخت کی چی فرعوني يې مړکی: قَالَ هٰذَا مِنْ عَمَلِ الشَّيْطَانِ إِنَّهُ عَدُوٌّ مُضِلٌّ مُبِينٌ، اوبیايې وویل: قَالَ رَبِّ إِنِّي ظَلَمْتُ نَفْسِي فَاغْفِرْ لِي فَغَفَرَ لَهُ إِنَّهُ هُوَ الْغَفُورُ الرَّحِيمُ (۱٦) قَالَ رَبِّ بِمَا أَنْعَمْتَ عَلَيَّ فَلَنْ أَكُونَ ظَهِيرًا لِلْمُجْرِمِينَ (۱۷) فَأَصْبَحَ فِي الْمَدِينَةِ خَائِفًا يَتَرَقَّبُ، نوفرعون خبر کړل سو چی په اسرائیلوکی یوه سړی مړی وکی زموږ څخه نوموږته خپل حق واخله اوهغوی ته رخصت مه ورکوه اومعافی مه ورکوه، که څه هم بادشاه سره ددی چی دقوم ښه سړی وی دانه سی کولی چی څوك بی ګناه اوبی ثبوته مړکی، نودی فرعون وویل چی ماته خبراکړه دهغه سړی په باره کی چی هغه داقتل کړی دی نوزه به تاسی سه ستاسی حق واخلم. نوپه دغه دوران کی دوی ګرځیده اوڅوك شاهد یې نسوای پیدا کولی، نوپه صبا باندی موسٰی ﷺ ګوری چی هم هغه اسرائیلی دبل فرعونی سره لګیادی جنګ کوی، نوبیا دغه اسرائیلی طلب دمدد وکی دموسٰی ﷺ څخه په باره دهغه فرعونی کی، نوموسٰی ﷺ پښیمانه سو په هغه کار باندی اوغصه سو اسرائیلی ته او وی ویل چی څه یې وویل اورا مخ ته سو ورته په درد سره لکه څه رکم چی پرون ورځ دردیدلی وو په دی فرعونی پسی نودا اسرائیلی وبیریدی وروسته ددی قول دموسٰی ﷺ څخه چی ورته یې وویل: إِنَّكَ لَغَوِيٌّ مُبِينٌ، نودبیری دوجی څخه یې داخیال رالی چی دی په ده پسی راروان دی نوورته یې وویل: يَا مُوسَى أَتُرِيدُ أَنْ تَقْتُلَنِي كَمَا قَتَلْتَ نَفْسًا بِالْأَمْسِ، اودا خبره یې ورته ددی وجی څخه وکړه چی دی بیریدی چی دی په ده پسی راروان دی اوحال داوو چی دی په فرعونی پسی روان وو چی هغه مړکی. اودا فرعونی ورلی دفرعون خواته اوورته یې داخبره ورسوله چی هغه پرونی قتل موسٰی ﷺ کړی وو. نوفرعون هغه حلالوونکی کسان ورولیږل دموسٰی ﷺ

(c) ketabton.com: The Digital Library



پسې چې حلال يې کړي، نوراويې ليږل مشران سالاران دفرعون چې په هغه خپل هيئت باندې روان وه اوموسىٰ عليه السلام يې لټوي، نوپه دغه حال کې يوسړي رالې په لنډه لاره موسىٰ عليه السلام ته اوخبريې ورکې چې ستا دقتل دپاره خلګ راوتلي دي. نودا دفتونو څخه دي اى ابن جبيره، نووتې موسىٰ عليه السلام دمدين خوا ته چې ددې څخه يې مخکې هيڅکله مصيبتونه نه وه ليدلي اونه ده ته دلارې علم وو چې دالاره کمې خوا ته تللې ده مګر داچې دالله جل جلاله څخه يې اميد ساتې دخير اونيک ګمان يې په زړه کې وو، ولې چې ده په هغه وخت کې ويلي دي: عَسٰى رَبِّي أَنْ يَهْدِيَنِي سَوَاءَ السَّبِيلِ (۲۲) وَلَمَّا وَرَدَ مَاءَ مَدْيَنَ وَجَدَ عَلَيْهِ أُمَّةً مِنَ النَّاسِ يَسْقُونَ وَوَجَدَ مِنْ دُونِهِمُ امْرَأَتَيْنِ تَذُودَانِ، يعنې ددې وجې څخه يې داخپلې بزې اوپسونه بند کړې وه. نوموسىٰ عليه السلام دوى ته وويل چې (مَاخَطْبُكُمَا) تاسې ته څه تکليف دى آيادې خلکو منع کړې ياست؟ نودوى دواړو ورته وويل چې زموږ وس اوطاقت نسته چې موږ ددې قوم سره يو ځاى خپل حيوانان اوبه کړو ليکن داچې ددوى څخه ځومره فضول اوبه پاته سې نوپه هغه باندې موږ خپل پسونه اوبوو. نودې موسىٰ عليه السلام دوى ته اوبه ورکړې چې دوى هم اوبه سې اوپسونه يې هم اوبه کړه اودوى بيرته ولاړه، اوموسىٰ عليه السلام هم ولاړى اوديوې درختې لاندې سايې ته کښېنستې، اووې فرمايل: رَبِّ إِنِّي لِمَا أَنْزَلْتَ إِلَيَّ مِنْ خَيْرٍ فَقِيرٌ، اوپلار يې حيران سو ددوى وختې راتګ ته اودوى ته يې وويل چې نن څه رکم وختې رالاست نودوى دواړو ورته دموسىٰ عليه السلام خبرورکې چې هغه ورسره دامدد وکې، نودې يوى ته پلار وويل چې ورسه اودا موسىٰ عليه السلام راوله، نوداولاړه اوموسىٰ عليه السلام يې راوستې. نوکله چې ورسره ددې انجونو پلار خبرې وکړې نوورته يې وويل: لَا تَخَفْ نَجَوْتَ مِنَ الْقَوْمِ الظَّالِمِينَ، نسته فرعون لره په دې ځاى کې سلطنت اونه څه کارلرې هغه دلته اونه يوموږ دهغه په مملکت کې، نوپه دې دواړوکې يوى وويل: يَاأَبَتِ اسْتَأْجِرْهُ إِنَّ خَيْرَمَنِ اسْتَأْجَرْتَ الْقَوِيُّ الْأَمِينُ، نوده لره غيرت ورلې ددې انجلې په خبره باندې اوورته يې وويل چې تاته څه پته ولګيده چې داقوى سړى دى اودده امانت دارې دڅه څخه تامعلومه کړه؟ نودې لور خپل پلارته وويل چې مانه دې ليدلې په سولاغه لوړولو کې دده څخه مضبوط سړى، اوهرڅه چې امانت دارى دده نودا ده چې ده ماته وکتل کله چې زه دده خواته ورلم نوڅنګه چې ورته پته ولګيده چې زه زنانه يم نوسريې ټيټ کې تردې چې ماورته ستاخبر ورسوى، اوبيايې ماته وويل چې زما څخه شاته راځه اوماته لاره ښيه، نوده داکار نه دې کړى مګردامانت دارى ښه يې ده، نوپلار يې ددې خبرې تصديق وکې اوخوشحاله سو، اودغه ګمان يې پر وکې چې دهغه لور ورته بيان کې. نوددې انجلې پلار ورته وويل آياستا خوښه ده داخبره اوته په راضي يې چې: أَنْ أُنْكِحَكَ إِحْدَى ابْنَتَيَّ هَاتَيْنِ عَلَى أَنْ تَأْجُرَنِي ثَمَانِيَ حِجَجٍ فَإِنْ أَتْمَمْتَ عَشْرًا فَمِنْ عِنْدِكَ وَمَا أُرِيدُ أَنْ أَشُقَّ عَلَيْكَ

(c) ketabton.com: The Digital Library



سَتَجِدُنِي إِنْ شَاءَ اللهُ مِنَ الصَّالِحِينَ، نوده ورسره داخبره ومنله، نواته کاله پرده باندی واجب وه اودوه کاله دده اختیاروو، نوالله ﷻ په ده باندی لس کاله پوره کړه. سعید ویلی دی چی زماسره یوسړی دنصرانیانو ولیدل چی هغه عالم دهغوی وو نوزما څخه یې پوښتنه وکړه چی: آیا تاته پته سته چی موسیٰ ﷺ کمه نیټه اووعده پوره کړی وه؟ ماورته وویل چی نه ماته پته نسته، اوحال داوو چی په دغه ورځ ماته ددی خبری علم نه وو. نوما دابن عباس ؓ سره ولیده نوماورته داخبره وکړه نوهغه راته په جواب کی وویل، تاته پته نسته چی اته کاله په نبی دالله یعنی په موسیٰ ﷺ باندی واجب وه اوتاته پته ده چی نبی دالله ﷻ کله هم په یوه شی کی نقصان اوکمی نه راولی؟ اوتاته پته سته چی الله ﷻ په موسیٰ ﷺ باندی هغه موده پوره کوله کم چی دموسیٰ ﷺ په اختیارکی وه. پس ده لس کاله تیرکړی دی. نوما ولیده ددغه نصرانی سره اوخبر می ورکی، نوماته یې وویل چی داخبر تاته چی چا درکړی دی هغه ستا څخه ډیر پوه دی په دی باره کی، نوماورته وویل چی بالکل په دی کی هیڅ شك نسته چی هغه زما څخه په دی اعتبار ښه دی. نوکله چی موسیٰ ﷺ روان سو نو مختلفی واقعاتی داور اولکړی اودلاس په مینځ دسفرکی رالی دکمو څخه چی ته خبریې اوپه قرآن کی ذکرسوی دی. نوده شکایت وکی الله ﷻ ته دغه قتل په باره کی چی ده کړی وو اودهغه دبیری شکایت یې وکی اودخپل دژبی شکایت یې وکی چی فصاحت په کی دومره نه وو، ولی چی دده په ژبه کی فرق وو چی دهغه دوجی دی به په ډیرو خبرو کی بندیدی، اودالله ﷻ څخه یې داسوال وکی چی دده وروره‌ارون ﷺ ورسره په طور دمددګار ولیږی، چی دده په ځای به خبری کوی هغه څه چی دده په کی فصاحت نه وو نوالله ﷻ ورلره داسوال هم قبول کی اوهارون ﷺ یې ورسره ملګری کی، اووحی وکړی الله ﷻ هارون ﷺ ته چی دده سره دی ووینی نوموسیٰ ﷺ دهارون ﷺ سره ولیدل تردی چی دوی دواړه فرعون ته مخامخ سوه، اودهغه دروازی ته ولاړ وه په داسی حال کی چی دوی ته اجازه نه وه ورکول سوی دننوتلو، بیا وروسته دوی ته اجازه ورکول سوه نودوی دواړو وویل (انا رسولا ربك) نودی فرعون ورته وویل (فمن ربکما) نوده ورته خبر ورکوی په هغه څه چی تا ته په قرآن کی ذکرسوی دی، نودی فرعون ورته وویل چی موږ داغواړو چی ته په الله ﷻ باندی ایمان راوړی اوبنی اسرائیل زموږ سره پریږدی، نوده انکاروکی او وی ویل: بِآيَةٍ فَأْتِ بِهَا إِنْ كُنْتَ مِنَ الصَّادِقِينَ (۱۰۶) فَأَلْقَى عَصَاهُ فَإِذَا هِيَ، یعنی داسی اژدها ورڅخه جوړه سوه چی خوله یې خلاصه کړی وه اودفرعون خواته روانه وه، نوکله چی فرعون داولیده نودخپل تخت څخه یې ټوپ کړه اودموسیٰ ﷺ څخه یې طلب دمدد وکی چی دا ورڅخه لیری کړی نوموسیٰ ﷺ داورڅخه لیری کړه اوبیایې خپل لاس راوایستی دجیب څخه نوټولو ولیدی

(c) ketabton.com: The Digital Library



چې برېښېدې اوډېره تیزه رڼاپه کې وه، اوبیایې لاس په جیب کې دننه کې نوبیرته په هغه خپل حال کې سو. نوپه دغه وخت کې ورته سالارانو اشاره وکړه اووې ویل: قَالُوا إِنْ هَذَانِ لَسَاحِرَانِ يُرِيدَانِ أَنْ يُخْرِجَاكُمْ مِنْ أَرْضِكُمْ بِسِحْرِهِمَا وَيَذْهَبَا بِطَرِيقَتِكُمُ الْمُثْلَى (سورة طه \ ۶۳) یعنی هغه ملك چې دوی په کې اوسیدله، اودوی انکار وکی موسیٰ ﷺ ته دورکولو دیوشی چې هغه یې طلب کوی، اودې سالارانو ورته وویله چې ته راټول کړه جادوګران اومداریان ولی چې داستاپه مزکه کې ډېردی، ددی دپاره چې ددوی پردی جادو باندی ستاجادو کامیابه سی. نودی فرعون هرښارته خلګ ولیږل چې جادوګران راټول کی، نوکله چې داجادوګران راټول سوه نوپوښتنه یې وکړه دفرعون څخه چې دوی په څه سره جادو کوی نو جواب ورته ورکول سو چې په مارانو سره. نودوی وویل چې نسته په مزکه باندی هیڅ څوك چې هغه په مارانو یاپه لکړو یاپه رسیو باندی جادوکوی مګر هم داموږ یو نوزموږ دپاره به څه بدله وی چې موږ کامیاب سو؟ نوورته یې وویل چې تاسی به زماپه نژدی کسانوکی شمارل کیږی اوزما خاص کسان به یاست، اوزه تاسی ته جوړوم هغه څه چې تاسی یې غواړی، نو نیټه یې ورسره کښېښووله: يَوْمُ الزِّينَةِ وَأَنْ يُحْشَرَ النَّاسُ ضُحًى، سعیدوایی چې ماته ابن عباس ویلی دی چې یوم الزینة هغه ورځ ده چې الله ﷻ حق دموسیٰ ﷺ ښکاره کړی وو په فرعون باندی اودساحرانو یوه عاشوراء وه، کله چې دوی راټول سوه په میدان کی نوبعضو خلګو بعضو ته وویل چې ځی چې ځو اوددی کارتماشه ووینو: لَعَلَّنَا نَتَّبِعُ السَّحَرَةَ إِنْ كَانُوا هُمُ الْغَالِبِينَ مراد ددوی په دی قول سره موسیٰ اوهارون ﷺ وه په طور داستهزاء یې داخبره کوله، نو دوی وویل چې ای موسیٰ، دایې په هغه وخت کی ورته وویل چې دوی خپل اسباب پوره تیار کړی وه: لَعَلَّنَا نَتَّبِعُ السَّحَرَةَ إِنْ كَانُوا هُمُ الْغَالِبِينَ، نودی موسیٰ ﷺ ورته وویل چې اول یې تاسی وغورزوی خپل اسباب کم چې تاسی تیار کړی دی: فَأَلْقَوْا حِبَالَهُمْ وَعِصِيَّهُمْ وَقَالُوا بِعِزَّةِ فِرْعَوْنَ إِنَّا لَنَحْنُ الْغَالِبُونَ، موسیٰ ﷺ په خپل نفس کی لږبیره محسوس کړه، الله ﷻ ورته وحی وکړی چې (اَنْ اَلْقِ عَصَاكَ) کله چې ده خپله لکړه وغورزوله نودهغه څخه غټ اژدها جوړسو نودالکړه پسی سوه په دی رسیوپسی چې خوړل یې اوټول لکړی اوتناونه یې وخوړل تردی چې یوهم پاته نه سو. کله چې جادوګرانوته پته ولګیده: نووی ویل چې که داجادو وای نودا زموږ جادوبه یې نه وای ختم کړی، لیکن دا امردی دالله ﷻ دطرفه، موږ ایمان راوړی دی په رب دموسیٰ ﷺ باندی اوپه هغه څه چې موسیٰ ﷺ دځان سره راوړی دی، اوموږ توبه ګار کیږو الله ﷻ ته چې موږ ته الله ﷻ معافی وکی. نوماته کړه الله ﷻ دفرعون ملا اودده دسالارانو اوحق یې ښکاره کی: وَبَطَلَ مَاكَانُوا يَعْمَلُونَ (۱۱۸) فَغُلِبُوا هُنَالِكَ وَانْقَلَبُوا

(c) ketabton.com: The Digital Library



صَاغِرِينَ: اودفرعون ښځه وه چی دعایې غوښته دالله ﷻ دنصرت اومدد دموسیٰ ؑ سره پر فرعون باندی اودهغه پر ډلی باندی، اوددی غم اوخفګان په موسیٰ ﷺ باندی وو، کله چی اوږده کړه فرعون خپل ضلالت اوګمراهی اودخپلی وعدی څخه یې خلاف ورزی وکړه، اودا یې وویل چی آیا ستارب کولی سی چی ددی کار څخه ماسوابل کار وکی نوالله ﷻ هر قسم عذابونه پرراوسته چی چنګښی وې اوسپږی اووینی اوملخان اوداسی نورشیان یې ورته په طور دعذاب باندی مقرر کړی وه. ددی هرمشکل اوعذاب څخه به یې موسیٰ ﷺ ته ګیله کوله اوهغه به ورته دعا غوښتله نوالله ﷻ به ورڅخه هغه عذاب لیری کی بیابه یې خلاف کوی دخپلی خبری، تردی چی موسیٰ ﷺ ته الله ﷻ امروکی په وتلو سره ددی ځای څخه سره دخپل قوم، نودخپل قوم سره دشپی ووتل، کله چی صبا سو نوفرعون ولیدی چی دوی وتلی دی، نوپه هرخوا یې خلګ ولیږل اوپه خپله دغټ لښکر سره ووتی اوالله ﷻ سمندر ته وحی وکړی: چی کله زمابنده موسیٰ ﷺ تاووهی نوته دوولس لاری سه، ددی دپاره چی موسیٰ ﷺ اودهغه قوم تیرسی هغه بلی خوا ته، اوبیا راټول سه پرفرعون اودهغه په لښکر باندی. نودموسیٰ ﷺ څخه هیرسوه دسمندر وهل په لکړه کله چی دسمندر خواته ورسیده اودده په زړه کی دابیره وه چی که زه داچیری ووهم اودا غافل وی نو دالله ﷻ معصیت اونافرمانی به وسی. کله چی هغه نورهم رانژدی سوه نودوی وویل: فَلَمَّا تَرَاءَى الْجَمْعَانِ قَالَ أَصْحَابُ مُوسَى إِنَّا لَمُدْرَكُونَ، وکړه هغه څه چی امردرته کوی په هغه باندی رب ستاولی چی ستارب دروغ نه وایې نودی موسیٰ ﷺ وویل چی ماته امرکړی وو رب زماچی ته کله دسمندر خواته ورسیږی نوسمندر ووهه نودابه دوولس ځایه جلاسی تردی چی تاسی تیرسی، اوبیایې ددی څخه وروسته رایاده کړه لکړه نوده ووهی سمندر په هغه وخت کی کله چی دوی ته اول سړی دلښکر دفرعون څخه راورسیدی اونژدی سو، نوسمندر وچاودی اوموسیٰ ﷺ اودده قوم په کی تیرسوه، دوی ټول دسمندر څخه ووتل اوفرعون اودهغه لښکر ټول دی سمندرته دننه سوه، نوداسمندر پرراټول سو، نوکله چی دوی تیرسوه نو دموسیٰ ﷺ ملګرو وویل چی موږ په دی خبره باندی بیریږو چی فرعون به نه وی مړسوی اوموږ دانه منو چی فرعون به مړسوی وی، نوموسیٰ ﷺ دعا وغوښته دالله ﷻ څخه چی دفرعون بدن دوی ته وښیې چی ددوی یقین راسی چی هغه مړدی، نوالله ﷻ ورلره بدن دباندی راوایستی تردی چی ددوی یقین وسو چی دامړسوی دی، بیادوی تیرسوه پریو قوم باندی چی هغوی عبادت دبتانو کوی: قَالُوا يَا مُوسَى اجْعَلْ لَنَا إِلَهًا كَمَا لَهُمْ آلِهَةٌ قَالَ إِنَّكُمْ قَوْمٌ تَجْهَلُونَ (۱۳۸) إِنَّ هَؤُلَاءِ مُتَبَّرٌ مَا هُمْ فِيهِ وَبَاطِلٌ مَا كَانُوا يَعْمَلُونَ، تاسی ولیدل دعبرت کارونه او وامو وریدل هغه څه چی داوریدلو لائق وه، اوداهم تیرسوه، تردی چی موسیٰ ﷺ روان وو

(c) ketabton.com: The Digital Library



دالله ﷻ ملاقات ته اوخپل قوم ته یې وویل چې دهارون علیه السلام تابعداري وکی، اودوی ته یې نیټه ددیرشو ورځوورکړې وه چې په دی کی به دی بیرته راځی، اوده په دی دیرشو ورځو کی دشپې اوورځې روژه نیولې وه، نوده بده وګڼله چې ده دالله ﷻ سره خبری کولی اودده دخلی څخه دلوږی بوی ځی، نوڅه خوراك یې وکی دمزکی څخه چې دده دخلی خوند ورسره بدل سی، نوکله چې دی الله ﷻ ته رالی نوالله ﷻ ورته وفرمایل چې ولې دی افطار وکی؟ یعنی روژه دی ولې ماته کړه. اوحال داوو چې الله ﷻ دهرڅه څخه خبروو. اوورته یې وفرمایل چې ای موسیٰ علیه السلام تاته پته نسته چې دروژه دارسړی دخولی بدبوی زماپه نزد باندی دمشکو دبوی څخه ښه دی، بیرته ولاړسه اولس ورځی نوری ونیسه اوماته راسه، نو وکړه موسیٰ علیه السلام هغه څه چې ورته امرسوی وو. نوکله چې قوم ولیدی چې موسیٰ علیه السلام بیرته رالی نوپه دوی کی بدی راله، اوهارون علیه السلام دوی ته خطاب وکی اودوی ته یې وویل چې تاسی ته پته ده چې تاسی دمصر څخه راغلی یاست اوستاسی سره دفرعونیانو ډیر سامانونه اوامانتونه دی اوداهم تاسی ته پته ده چې موږ بیرته مصرته نه ځو اودغه سامانونه اوامانتونه زموږ دپاره جائزنه دی، نوټولو ته یې امروکی چې داټول سامانونه او امانتونه راټول کی اوددی دپاره یې یوکنده جوړه کی اوپه هغه کی یې ټول راجمع کړه او اوریې ورباندی ولګوی اوټول یې وسوزل، اودایې وویل چې دانه زموږ دپاره دی اونه دهغو دپاره دی. او وو سامری دیوقوم څخه وو چې هغوی به عبادت دغوایې کوی، چې دوی ګاونډیان وه دبنی اسرائیل خواته، خودبنی اسرائیلو څخه نه وه نودی دموسیٰ علیه السلام سره یوځای وتلی وو کله چې موسیٰ علیه السلام دمصر څخه روان سو نودی ورسره هم روان سو، نوده دجبریل علیه السلام دپښو خاوری راواخستی اوهغه یې دځان سره وساتلی نوهارون علیه السلام ورته وویل چې داڅه دی داوغورځوه نوده وویل چې نه! دادهغه سړی دقدمونو خاوره ده دکم په واسطې چې تاسی دسمندر څخه راتیرسوی یاست بیادی سامری هارون علیه السلام ته وویل چې دابه زه هله غورځوم چې ته دعاوکړې دی خاوری ته چې ددی څخه داسی شی جوړسی چې زه یې غواړم نوهارون علیه السلام ورلره دعاوکړه نوده وغوښتل چې ددی څخه ګیلګی جوړسی نو ده هرقسم وسپنه اوسره زر راټول کړه نوالله ﷻ ورڅخه ګیلګی جوړکی چې په کی روح نه وو، ابن عباس وایې چې روح په کی نه وو زمادی قسم وی په الله ﷻ باندی، خوداسی به وو چې دده په خوله کی به هواء دننه کیده اودشا دخوا څخه به راوتل نواواز به یې کوی، نوبنی اسرائیل دوی ډلی سوه یوی ډلی ویل چې داڅه دی ای سامری آیا تاته پته سته؟ نو سامری ورته وویل چې داستاسی رب دی، خودموسیٰ علیه السلام څخه لاره غلطه سویده. اوبلی ډلی وویل چې موږ نه ددی تصدیق کوو اونه یې تکذیب کوو تردی چې موږ ته موسیٰ علیه السلام

(c) ketabton.com: The Digital Library



راسی، که چیری دازموږ رب وو نوپه کتلو سره به یې موږ تابعداری وکو اوکه دازموږ رب نه وو نوموږ دموسیٰ ؑ اتباع کوو. اوبلی ډلی وویل چی دادشیطان کاردی دانه دی زموږ رب اونه موږپه دی باندی یقین کوو اویوی ډلی په کی تصدیق دسامری وکی چی داصحیح خبره ده چی دازموږ رب دی، هارون ؑ وویل: یَاقَوْمِ إِنَّمَا فُتِنْتُمْ بِهِ وَإِنَّ رَبَّكُمُ الرَّحْمَنُ، (سورة طه \۹۰) دانه دی رب ستاسی بلکی ستاسی رب هغه ذات دی چی رحمٰن ذات دی نودوی وویل چی څه چل وسو په موسیٰ ؑ باندی چی زموږ سره یې وعده وکړه ددیرشو ورځو او بیایې خلاف وکی دخپلی خبری؟ داڅلویښت ورځی هم تیری سوی نوهغه کم عقلانو وویل چی موسیٰ ؑ غلط سوی دی چی خپل رب لټوی، کله چی موسی ؑ دخپل رب سره ولیدل اوخبری یې ورسره وکړی اوڅه چی یې ورته وویل هغه یې ورته وویل: اوبیا خپل قوم ته رالی: وَلَمَّا رَجَعَ مُوسَىٰ إِلَىٰ قَوْمِهِ غَضْبَانَ أَسِفًا، اوورته یې وویل چی تاسی څه اوریدلی دی دهغه څه څخه چی په قرآن کریم کی دی: وَأَخَذَ بِرَأْسِ أَخِيهِ يَجُرُّهُ إِلَيْهِ، اوهغه څه تږتی چی ورسره وی چی تورات پر لیکل سوی وو هغه یې ددرد څخه وغورزولی، اوسامری ته یې مخ راواړوی اوورته یې وویل چی تاداکارولی وکی؟ نودی سامری ورته وویل چی ما دجبریل ؑ دپښی خاوره راواخیسته، اوپه ګل کی می واچول اوداخبره په مااندی رڼده سوه نومایې عبادت شروع کی: فَنَبَذْتُهَا وَكَذَٰلِكَ سَوَّلَتْ لِي نَفْسِي (۹۶) قَالَ فَاذْهَبْ فَإِنَّ لَكَ فِي الْحَيَاةِ أَنْ تَقُولَ لَا مِسَاسَ وَإِنَّ لَكَ مَوْعِدًا لَنْ تُخْلَفَهُ وَانْظُرْ إِلَىٰ إِلَٰهِكَ الَّذِي ظَلْتَ عَلَيْهِ عَاكِفًا لَنُحَرِّقَنَّهُ ثُمَّ لَنَنْسِفَنَّهُ فِي الْيَمِّ نَسْفًا، نوبنی اسرائیلو وویل چی داخو فتنه وه اوهغه کسانو چی دهارون ؑ خبره یې منلی وه هغه ډیر خوشحاله سوه اوهغه کسانو چی دګیلګی عبادت یې کړی وو هغوی موسیٰ ؑ ته راټول سوه اووی ویل چی خپل رب ته زموږ دپاره دعاوغواړه چی لاره دتوبی خلاصه کړی چی موږ توبه وکاږو، نوموسیٰ ؑ دخپل قوم څخه اویا کسان خوښ کړه هغه کسان چی دګیلګی په عبادت کی شریك سوی نه وه اودځان سره یې بوتله ملاقات درب العزت ته چی دوی لره معافی وغواړی. نوحیا وکړه نبی دالله ﷻ څخه په کړی کار دخپل قوم باندی نو وې ویل: رَبِّ لَوْ شِئْتَ أَهْلَكْتَهُمْ مِنْ قَبْلُ وَإِيَّايَ أَتُهْلِكُنَا بِمَا فَعَلَ السُّفَهَاءُ مِنَّا اوپه دوی کی داسی کسان وه چی دګیلګی محبت یې زړه ته کښنته سوی وو نوددی وجی څخه پر مزکه ومښته، نووی فرمایل: وَرَحْمَتِي وَسِعَتْ كُلَّ شَيْءٍ فَسَأَكْتُبُهَا لِلَّذِينَ يَتَّقُونَ وَيُؤْتُونَ الزَّكَاةَ وَالَّذِينَ هُمْ بِآيَاتِنَا يُؤْمِنُونَ (۱۵۶) الَّذِينَ يَتَّبِعُونَ الرَّسُولَ النَّبِيَّ الْأُمِّيَّ الَّذِي يَجِدُونَهُ مَكْتُوبًا عِنْدَهُمْ فِي التَّوْرَاةِ وَالْإِنْجِيلِ، (سورة الاعراف ۱۲۶\ ۱۲۷) نووی ویل: ای ربه زمازه راغلی یم تاته دخپل قوم دپاره مغفرت غواړم، همداسی ددوی داکارهم تیرسو اوبیاپه کی دقاتل اومقتول

(c) ketabton.com: The Digital Library



قصه مینځ ته سوه اوپه هغه کی دوی دالله ﷻ څخه دخپل مشکل پوښتنه وکړه نوالله ﷻ
دوی ته په حلالولو دغوا باندی امروکی نودوی وکړه څه چی به ورته الله ﷻ امرکوی، تردی
چی الله ﷻ قاتل اومقتول دواړوته بخښنه وکړه بیاموسٰی ﷺ دخپل قوم سره دبیت المقدس
خوا ته متوجه سوه، اوهغه ټوټی چی تورات پرلیکل سوی وو هغه یې رالوړی کړی وروسته
ددرد سړیدلو څخه، اودوی ته امروسو دوظائفو چی داوواياست نوپر دوی باندی داګرانه
سوه نودوی انکاروکی چی موږ دانه سو ویلی نوالله ﷻ غر پر رالوړ کی په شان دسایې نو
دوی خپل کتابونه په راسته لاسونوکی ونیول اوپه چپه سترګه یې غره ته کتل، اودومره
دوی ته ورنژدی سو چی دوی وبیریده چی دابه اوس راباندی راولویږی اوبیادوی روان
سوه دمقدسی مزکی خوا ته نودوی په لاره کی داسی قوم ولیدی چی ډیرظالمان وه اوډیری
اوږدی اوغټی تنی یې وی، نودوی وویل: قَالُوا يَا مُوسَى إِنَّ فِيهَا قَوْمًا جَبَّارِينَ وَإِنَّا لَنْ نَدْخُلَهَا حَتَّى
يَخْرُجُوا مِنْهَا فَإِنْ يَخْرُجُوا مِنْهَا فَإِنَّا دَاخِلُونَ، یعنی په دی کی ډیر طاقتور خلګ دی اوزموږ په
دوی باندی طاقت نسته اوموږ دی علاقی ته نه دننه کیږو تردی چی دوی ورڅخه راووځی:
قَالَ رَجُلَانِ مِنَ الَّذِينَ يَخَافُونَ، ویل سوی دی یزید ته چی هم داسی ویل سوی دی؟ نوهغوی
وویل چی هو، دادوه کسان دهغه ظالمانو دقوم څخه وه، چی دوی په موسٰی ﷺ باندی
ایمان راوړی وو اودوی ته دباندی راوتلی وو،نودوی وویل موسٰی ﷺ ته چی موږته دخپل
قوم پته سته تاسی دهغوی دغټ والی دجسمونو څخه بیریږی اوحال دادی چی دهغو سره
زړونه نسته اوډیر بیریدونکی قوم دی، نوتاسی په هغه باندی چی څه رکم داخل سی نو
تاسی به کامیاب اوغالبه سی پرهغوباندی اوبعضوویلی دی چی دادوه کسان دقوم دموسٰی
ﷺ څخه وه. نو وویل هغه کسانوچی بیریده دبنی اسرائیلو څخه: قَالُوا يَا مُوسَى إِنَّا لَنْ نَدْخُلَهَا
أَبَدًا مَا دَامُوا فِيهَا فَاذْهَبْ أَنْتَ وَرَبُّكَ فَقَاتِلَا إِنَّا هَاهُنَا قَاعِدُونَ، (سورة المائده \ ۲۴) نوموسٰی ﷺ
یې په دی خبری باندی غصه کی نوپه دوی باندی یې دغضب دعاوکړه اوفاسقان یې ورته
وویل اوددی څخه یې مخکی په دوی باندی دعاوکړه اوحال داوو چی دوی مخکی هم څو
څو واره داسی ګناهونه اونافرمانیانی وکړی، نوپردوی باندی الله ﷻ حرام کړه هرڅه تر
څلویښتو کالو پوری چی دوی په مزکه کی داسی ژوندتیروی چی یوه ورځ به یې دبلی ورځ
څخه سخته وه بیاپه دوی باندی الله ﷻ په مقام دتیهه کی وریځ راوسته اوپه دوی باندی
یې خواږه خوراکونه اومرغونی نازل کړه اوداسی کپړی یې ورواغوستی چی نه به
خیرینیدلی اونه به ورستیدلی،اوددوی خواته یوه ډبره وه چی موسٰی ﷺ ته الله ﷻ امروکی
چی دا وواهه په لکړه نودهغه څخه ورته الله ﷻ اوبه روانی کړی چی هغه دولس چینی وی،
په هرخواکی دری دری چینی روانی وی، اوهری یوی ډلی ته دخپل ځان چینه معلومه وه،

(c) ketabton.com: The Digital Library



نوکله چې دوی دهغه ځای څخه تله نوهغه چینه چې دوی ورڅخه اوبه چښلې هغه په هغه خپل ځای کې وه په کم ځای کې چې مخکې وه. (۱)

## جوړول دقبة الزمان

اهل کتاب وایې چې: الله ﷻ امروکې موسیٰ ﷺ ته په جوړولو دقبې (ګنبد) باندې دیوقسم لرګی څخه چې شمشاز ورته ویل کیږی اودڅرمنو دڅارپایانو څخه اودوریښتانو دپسونو څخه، اوددې په ښائسته کولو سره په وریښمو باندې اوپه سرو زرو باندې اوپه سپینو زرو په داسې طریقو سره چې داهل کتابو په نزد ذکرسوی دی اوپه هغه کې لس سایې وی چې دهریوې اوږدوالی (۲۸) لویشتی وو اوپلنوالی یې (۴) لویشتی وو اوددې څلور دروازې وې اوطنابونه یې وو چې په وریښمو ښائسته سوی وه زنځیر چې رنګ سوی وو اوددې په هریوه کوټه کې دوی دروازې وې اونورې هم ډیرې دروازې وې، اودوی به تابوت هم ددې شمشاز لرګی څخه جوړوی چې اوږدوالی به یې دوه نیم ګزه اوپلن والی یې دوه ګزه اولوړ والی یې یونیم ګز وو، اودابه ښائسته سوی وو دباندې اودننه په سروزرو باندې اوڅلور حلقې به یې وې په څلورو کونجیانوکې دسروزرو څخه اودارکم ددوی دسترخوانونه او لوښې اومنارې اوداسې نور شیان داټول به ددوی دسرو زرو اووریښمو اودسپینو زرو وه چې داپه (بصلیال) کې جوړسوی وه. اوددې قبې بنیاد په اوله ورځ ددوی دکال باندې ایښوول سوی وو چې هغه موسم دپسرلی وو اونصب کې دوی تابوت دشهادت هم په دغه ورځ باندې، اوداهغه دی چې په قرآن کریم کې ذکرسوی دی: إِنَّ آيَةَ مُلْكِهِ أَنْ يَأْتِيَكُمُ التَّابُوتُ فِيهِ سَكِينَةٌ مِنْ رَبِّكُمْ وَبَقِيَّةٌ مِمَّا تَرَكَ آلُ مُوسَى وَآلُ هَارُونَ تَحْمِلُهُ الْمَلَائِكَةُ إِنَّ فِي ذَٰلِكَ لَآيَةً لَكُمْ إِنْ كُنْتُمْ مُؤْمِنِينَ، اودوی دالنډ ایت په خپلو کتابونوکې ډیر اوږدکړی دی، اوپه دوی کې ددوی احکام اوشریعتونه اوصفت دقربانی ددوی اودهغه کیفیت ذکردی، اوداپه کې هم ذکردی چې داقبة الزمان ددوی دعبادت ګیلګی دهغه څخه مخکې موجود وو چې دامخکې ددې څخه سوی وو چې دوی بیت المقدس ته راسې، اوداوو ددوی دپاره په شان دکعبې چې دوی به په کې عبادتونه اولمنځونه کول، اوددې په ذریعه به یې قربت حاصلوی اوموسیٰ ﷺ به چې کله ددوی خواته په دغه ځای کې راننوتی نودوی ټول به ورته مخ ته دریده اوپه دغه وخت کې به دوریځې ستنې راکښته کیدلې نودوی ټول به په سجده باندې ورته پریوتل اوموسیٰ ﷺ به ددې وریځې په ستنو کې دالله ﷻ سره خبرې کولې چې داپه شکل

(۱). دا الهیثمی ذکرکړی دی په المجمع کې (۷\ ۲۲) مرفوع کړی دی ابن عباس داحدیث رسول الله ﷺ ته اوزما په نزد ددې تصدیق یې هم کړی دی چې معاویه داحدیث دابن عباس څخه اوریدلی دی اوبیایې منکره کړی دی په هغه باندې.

(c) ketabton.com: The Digital Library



دنور باندی وو، هغه ستنی دوریځی، چی الله ﷻ به ده ته امرکوی اومنع به یې فرمایل دبعضو شیانو څخه، اودی به دتابوت خواته ولاړ وو دخاموشی په حالت کی (دا داسی تابوت وو چی په دی کی دبنی اسرائیلو لوظونه پراته وه اوعهدنامی ددوی وی). نوکله به چی خطاب پوره سو نوبیابه موسی ؑ دوی ته دالله ﷻ اوامر اونواهی بیانول اوکله چی به دوی دڅه په باره کی فیصله کوله اوددوی سره به څه نه وه دفیصلی دپاره چی کم طرف ته فیصله وکی نوقبة الزمان ته به راله اوهلته به دتابوت سره ودریده په خاموشی سره نو دحکم فیصله به ورلره وسوه، اوداکار ددوی دپاره په هغه زمانه کی جائز وو او ددوی شریعت هم داوو، مراد استعمال دسروزرو او دوریښمو دی یعنی دا ددوی دپاره په دغه زمانه کی استعمالول جائز وه چی خپل عبادتګاهانی اودلمونځونو ځایونه په دی شیانو سره ښائسته کړی، هرڅه چی زموږ دپاره دی په شریعت کی نوداشی جائز نه دی، بلکی موږ منع سوی یو دښائسته کولو دجماعتونو څخه، ددی وجی چی لمونځ کونکی په دی سره مشغول نه سی دخپل لمونځ څخه، لکه څه رکم چی عمر ؓ ویلی دی کله چی دنبی ؑ په جماعت کی پراخوالی کیدی، نوهغه کسانو ته چی یې ددی ابادی سپارلی وه هغوی ته یې وویل چی داسی یې جوړ کړه چی دخلګو ضرورت په پوره کیږی اولمونځ په کی اداء کوی، اوخبردار چی سور یاژړ یې نه کړی، کنې خلګ به په فتنه کی واچوی، اوابن عباس ویلی دی: تاسی دامه ښائسته کوی دیهودو اودنصارٰی دعبادتګاهانو په شان. نودا دوجی دعزت اوداکرام نه دی، ولی چی دا امت دمخکنی امت سره مشابه نه دی، ولی چی الله ﷻ ددی امت ټول کارونه اوغټ مقصدونه په لمانځه کی راټول کړی دی چی په دی لمانځه کی الله ﷻ ته متوجه سی اودالله ﷻ څخه طلب دخپلو حاجتونو وکی، اولیری ساتی په لمانځه کی خپل فکر اوخیالات دنورو خواوو څخه چی هغه غیر مقصودی کارونه دی اوخیالات دی. اوداقبة الزمان ددی بنی اسرائیلو سره په مقام تیهه کی وه، چی دوی به ددی خوا ته لمونځونه کول اودا ددوی قبله وه اوددوی کعبه وه، اوددوی امام موسٰی کلیم الله وو او ورپسی هارون ؑ وو، کله چی هارون ؑ وفات سو نودده بچیانوته دهغه دپلار کار وسپارل سو، اوهغوی په دغه کار باندی روان دی ترنن ورځه پوری. اودنبوت په پایه باندی وروسته دموسٰی ؑ څخه یوشع بن نون ؑ قائم سو، اودا هغه سړی دی چی دابنی اسرائیل یې بیت المقدس ته داخل کړی وه. مقصود داچی کله ددوی په بیت المقدس باندی قبضه مضبوطه سوه نودوی هغه قبه په بیت المقدس کی په یوی ډبری باندی ولګوله اوبیابه یې هغه ته عبادت کوی اودهغه خوا ته به یې لمونځونه کوله، نوددی وجی دټولو انبیاوو قبله وروسته ددغه زمانی څخه هم داوه، اونبی ؑ هم دغه خوا ته مخکی دهجرت

(c) ketabton.com: The Digital Library



ثخه لمونځ کوی اودلمانځه امرورته وسو چی دبیت المقدس خوا ته لمونځ کوی نولمونځ یې وکی دغه خوا ته (۱۲) میاشتی. اوویل سوی دی چی (۱۷) میاشتی یې دبیت المقدس خوا ته لمونځونه کړی دی. بیا وروسته دهغه ثخه قبله بدله سوه دخانه کعبی خوا ته چی هغه قبله دابراهیم ﷺ وه، دکعبی خواته تحویل او اوښتل په شعبان کی سوی وه په دوهم کال باندی دمازدیګردلمانځه په وخت کی. اوویل سوی دی چی دماپښین دلمانځه په وخت کی، لکه څه رکم چی موږ ددی ذکرپه تفسیر کی ددی قول دالله ﷻ سره کړی دی: سَيَقُولُ السُّفَهَاءُ مِنَ النَّاسِ مَا وَلَّاهُمْ عَنْ قِبْلَتِهِمُ الَّتِي كَانُوا عَلَيْهَا قُلْ لِلَّهِ الْمَشْرِقُ وَالْمَغْرِبُ يَهْدِي مَنْ يَشَاءُ إِلَى صِرَاطٍ مُسْتَقِيمٍ (١٤٢) وَكَذَلِكَ جَعَلْنَاكُمْ أُمَّةً وَسَطًا لِتَكُونُوا شُهَدَاءَ عَلَى النَّاسِ وَيَكُونَ الرَّسُولُ عَلَيْكُمْ شَهِيدًا وَمَا جَعَلْنَا الْقِبْلَةَ الَّتِي كُنْتَ عَلَيْهَا إِلَّا لِنَعْلَمَ مَنْ يَتَّبِعُ الرَّسُولَ مِمَّنْ يَنْقَلِبُ عَلَى عَقِبَيْهِ وَإِنْ كَانَتْ لَكَبِيرَةً إِلَّا عَلَى الَّذِينَ هَدَى اللَّهُ وَمَا كَانَ اللَّهُ لِيُضِيعَ إِيمَانَكُمْ إِنَّ اللَّهَ بِالنَّاسِ لَرَءُوفٌ رَحِيمٌ (١٤٣) قَدْ نَرَى تَقَلُّبَ وَجْهِكَ فِي السَّمَاءِ فَلَنُوَلِّيَنَّكَ قِبْلَةً تَرْضَاهَا فَوَلِّ وَجْهَكَ شَطْرَ الْمَسْجِدِ الْحَرَامِ (سورة البقره ۱۴۲\۱۴۴).

## قصه دقارون دموسٰی ﷺ سره

په قرآن کریم کی الله ﷻ فرمایلی دی: إِنَّ قَارُونَ كَانَ مِنْ قَوْمِ مُوسَى فَبَغَى عَلَيْهِمْ وَآتَيْنَاهُ مِنَ الْكُنُوزِ مَا إِنَّ مَفَاتِحَهُ لَتَنُوءُ بِالْعُصْبَةِ أُولِي الْقُوَّةِ إِذْ قَالَ لَهُ قَوْمُهُ لَا تَفْرَحْ إِنَّ اللَّهَ لَا يُحِبُّ الْفَرِحِينَ (٧٦) وَابْتَغِ فِيمَا آتَاكَ اللَّهُ الدَّارَ الْآخِرَةَ وَلَا تَنْسَ نَصِيبَكَ مِنَ الدُّنْيَا وَأَحْسِنْ كَمَا أَحْسَنَ اللَّهُ إِلَيْكَ وَلَا تَبْغِ الْفَسَادَ فِي الْأَرْضِ إِنَّ اللَّهَ لَا يُحِبُّ الْمُفْسِدِينَ (٧٧) قَالَ إِنَّمَا أُوتِيتُهُ عَلَى عِلْمٍ عِنْدِي أَوَلَمْ يَعْلَمْ أَنَّ اللَّهَ قَدْ أَهْلَكَ مِنْ قَبْلِهِ مِنَ الْقُرُونِ مَنْ هُوَ أَشَدُّ مِنْهُ قُوَّةً وَأَكْثَرُ جَمْعًا وَلَا يُسْأَلُ عَنْ ذُنُوبِهِمُ الْمُجْرِمُونَ (٧٨) فَخَرَجَ عَلَى قَوْمِهِ فِي زِينَتِهِ قَالَ الَّذِينَ يُرِيدُونَ الْحَيَاةَ الدُّنْيَا يَا لَيْتَ لَنَا مِثْلَ مَا أُوتِيَ قَارُونُ إِنَّهُ لَذُو حَظٍّ عَظِيمٍ (٧٩) وَقَالَ الَّذِينَ أُوتُوا الْعِلْمَ وَيْلَكُمْ ثَوَابُ اللَّهِ خَيْرٌ لِمَنْ آمَنَ وَعَمِلَ صَالِحًا وَلَا يُلَقَّاهَا إِلَّا الصَّابِرُونَ (٨٠) فَخَسَفْنَا بِهِ وَبِدَارِهِ الْأَرْضَ فَمَا كَانَ لَهُ مِنْ فِئَةٍ يَنْصُرُونَهُ مِنْ دُونِ اللَّهِ وَمَا كَانَ مِنَ الْمُنْتَصِرِينَ (٨١) وَأَصْبَحَ الَّذِينَ تَمَنَّوْا مَكَانَهُ بِالْأَمْسِ يَقُولُونَ وَيْكَأَنَّ اللَّهَ يَبْسُطُ الرِّزْقَ لِمَنْ يَشَاءُ مِنْ عِبَادِهِ وَيَقْدِرُ لَوْلَا أَنْ مَنَّ اللَّهُ عَلَيْنَا لَخَسَفَ بِنَا وَيْكَأَنَّهُ لَا يُفْلِحُ الْكَافِرُونَ (٨٢) تِلْكَ الدَّارُ الْآخِرَةُ نَجْعَلُهَا لِلَّذِينَ لَا يُرِيدُونَ عُلُوًّا فِي الْأَرْضِ وَلَا فَسَادًا وَالْعَاقِبَةُ لِلْمُتَّقِينَ (سورة القصص ۸۳\۷۶) .

اعمش نقل کوی دمنهال بن عمر ثخه دی دسعیدبن جبیر دی دابن عباس ثخه دی وایې چی ویل سوی دی چی قارون دموسٰی ﷺ داکازوی وو، همداسی ویلی دی ابراهیم النخعی

(c) ketabton.com: The Digital Library



اوعبدالله بن الحارث بن نوفل اوسماك بن حرب اوقتاده اومالك بن دینار اوابن جریج او ثقال زیاته کړیده داخبره چې داقارون بن یصهب بن قاهث دی اوموسیٰ ﷺ بن عمران بن قاهث دی. ابن جریر وایې چې: داقول داکثرو علماوو دی چې دی دموسی ﷺ داکا زوی وو، اورد کړی یې دی قول دابن اسحاق چې دی دموسیٰ ﷺ اکاوو. قتاده ویلی دی چې ده ته به منور ویل کیدی ولی چې ده به تورات په ښه اواز سره وایه، خوده منافقت وکی په شان دسامری، نودی هلاك کی دده ظلم اوکثرت دمال اودولت. شهر بن حوشب ویلی دی چې په خپلو کپړوکی یې یوه لویشت زیاتوالی کړی وو ددی دپاره چې دخپل قوم څخه ځان جلاکی په لوړ والی سره. اوالله ﷻ دده دمال ډیروالی په قرآن کی ذکرکړی دی، تردی چې دده دخزانی چابیانی به یوه مضبوط سړی نه سوای وړی، اوچا ویلی دی چې داچابیانی دڅرمنو څخه جوړی سوی وی چې هغه به یې په (۲۰) خرو باندی بارولی. والله اعلم.
اوپه خپل قوم کی ورته خلګو نصیحتونه وکړه په دی قول سره ﴿لَاتَفْرَحْ﴾ یعنی ته خوشحالی مه کوه په دی باندی اوځان په نورو باندی لوړ مه ګڼه اوفخر مه په کوه: إِنَّ اللهَ لَا يُحِبُّ الْفَرِحِينَ (۷٦) وَابْتَغِ فِيمَا آتَاكَ اللهُ الدَّارَ الْآخِرَةَ، دوی به ورته وویل چې ته خپل همت په دی کار باندی کوه چې ستادآخرت کور ښه سی اودالله ﷻ ثواب درته حاصل سی، ولی چې هغه ښه دی ددی دنیا څخه اوباقی پاته کیدونکی دی، اوددې سره: وَلَا تَنْسَ نَصِيبَكَ مِنَ الدُّنْيَا، یعنی خرڅوه یې په ځان باندی اوفائده اخله ددغه مال څخه چې الله ﷻ تاله حلال ګرځولی دی: وَأَحْسِنْ كَمَا أَحْسَنَ اللهُ إِلَيْكَ، یعنی ته دخلګو سره احسان کوه لکه څه رکم چې ستاسره خالق ددغوخلګوکړی دی: وَلَا تَبْغِ الْفَسَادَ فِي الْأَرْضِ، اوته بدی مه کوه ددوی سره اوفسادمه کوه په مزکه کی، نوته به ددوی سره مقابله کوی په ضد دهغه څه چې تاته امرپه کول کیږی، نوالله ﷻ به ستا څخه هرڅه واخلی کم چې یې درکړی دی: إِنَّ اللهَ لَا يُحِبُّ الْمُفْسِدِينَ، نودده جواب خپل قوم ته نه وو مګر داچې وی ویل: إِنَّمَا أُوتِيتُهُ عَلَى عِلْمٍ عِنْدِي، یعنی ده ویل چې زه محتاج نه یم ستاسی نصیحت اوریدو ته ولی چې دازما دخپل محنت ذریعه وه چې ماته دارا کول سوی دی، اودا ماته الله ﷻ زما علم دوجی راکړی دی اوزه ددی مستحق وم، اوکه چیری زه الله ﷻ ته ګران نه وای اودازما حق نه کیدی نوبیابه یې داماته نه راکولی. الله ﷻ دده په رد کی وفرمایل: أَوَلَمْ يَعْلَمْ أَنَّ اللهَ قَدْ أَهْلَكَ مِنْ قَبْلِهِ مِنَ الْقُرُونِ مَنْ هُوَ أَشَدُّ مِنْهُ قُوَّةً وَأَكْثَرُ جَمْعًا وَلَا يُسْأَلُ عَنْ ذُنُوبِهِمُ الْمُجْرِمُونَ، یعنی موږ هلاك کړی دی مخکی ددی قارون څخه داسی امتونه چې ددی څخه مالداره وه اودده څخه مضبوط وه په سبب دهغوی دګناهونو اونافرمانیانو نوکه چیری دده داوینا صحیح وای نومخکی به موږ چاته سزانه وای ورکړی: وَمَا أَمْوَالُكُمْ وَلَا

(c) ketabton.com: The Digital Library



أَوْلَادُكُمْ بِالَّتِي تُقَرِّبُكُمْ عِنْدَنَا زُلْفَى إِلَّامَنْ آمَنَ وَعَمِلَ صَالِحًا، نودارد دلیل دی په صحت دمعنٰی هغه چی مورږ وکړه په دی قول دالله ﷻ کی: أَيَحْسَبُونَ أَنَّمَا نُمِدُّهُمْ بِهِ مِنْ مَالٍ وَبَنِينَ (۵۵) نُسَارِعُ لَهُمْ فِي الْخَيْرَاتِ بَل لَا يَشْعُرُونَ، اوهرڅه چی هغه معنٰی ده چی چاکړیده چی دده دکیمیاء جوړولو طریقی زده وی اوبعضو ویلی دی چی دده اسم اعظم زده ووچی ده به په هرڅه کی استعمالوی اوپه ټولو پیسو کی یې استعمالوی نوداخبره صحیح نه ده. ولی چی دابنا نه دی پرحقیقت، اوهرڅه چی داسم اعظم خبره ده نودکافر دعا په اسم اعظم سره نه قبلیږی، اوقارون کافر وو په باطن کی اوپه ظاهر کی منافق وو اومورږ داخبره په تفسیرکی واضح کړی ده. الله ﷻ فرمایې: فَخَرَجَ عَلَى قَوْمِهِ فِي زِينَتِهِ، ذکرکړی دی اکثرو مفسرینو چی دی را ووتی په ښائسته شکل کی، په ښه لباس کی چی ورسره کسان اوخادمان اوسپرلی وی. نو کله چی ولیده دی هغه کسانو چی ژوند ددنیا ورته ښه ښکاری چی کاشکی زمورږ سره هم داسی مال اودولت وی اوارمان یې وکی دداسی مقام اوحسد یې وکی دهغه څه چی دده سره وو اوده اغوستی وه، کله چی ددوی داخبره علماوو اوصحیح عقل والاوو کسانو واوریدل نووی ویل دغو کسانو ته: وَيْلَكُمْ ثَوَابُ اللهِ خَيْرٌ لِمَنْ آمَنَ وَعَمِلَ صَالِحًا وَلَا يُلَقَّاهَا إِلَّا الصَّابِرُونَ، یعنی ثواب اواجر هغه چی الله ﷻ یې ورکوی په آخرت کی هغه ښه دی دده دښائست څخه اودده ددولت څخه. الله ﷻ فرمایې: وَلَا يُلَقَّاهَا إِلَّا الصَّابِرُونَ، یعنی دانصیحت فائده نه ورکوی په دغه وخت کی چی ددنیا ښائست اوډول راښکاره سوی وی مګر هغه کسانوته چی الله ﷻ ورته هدایت کړی وی اوزړه یې مضبوط ورساتلی وی، اودحق په اصل مراد باندی یې رسولی وی. او عقل کامل یې ورلره ورکړی وی په وخت دراښکاره کیدلو دشهواتوکی. الله ﷻ فرمایې: فَخَسَفْنَا بِهِ وَبِدَارِهِ الْأَرْضَ فَمَا كَانَ لَهُ مِنْ فِئَةٍ يَنْصُرُونَهُ مِنْ دُونِ اللهِ وَمَا كَانَ مِنَ الْمُنْتَصِرِينَ، کله چی ذکرکړه الله ﷻ دده راوتل په ډول اوپه ښائست کی خپل قوم ته اوپه فخر سره په خپل قوم باندی نووی ویل: فَخَسَفْنَا بِهِ وَبِدَارِهِ الْأَرْضَ، یعنی مورږ پرده او دده پرقصرونو باندی مزکه خیری کړه. لکه څه رکم چی په بخاری کی حدیث ذکر سوی دی دزهری څخه چی دی نقل کوی دسالم څخه دی دخپل پلار څخه اودی دنبی ﷺ څخه چی فرمایلی یې دی: چی یوسړی وو چی خپل پرتوګ یې پرمځکه راکشوی په ځان په سی تر دی چی الله ﷻ مزکه ورباندی خیری کړی نودی پکښی دننه روان وی ترقیامته دورځی پوری (۱) بیا روایت ذکرکړی دی امام بخاری دحدیث دجریر بن اسلم څخه چی ده نقل کړی

(۱). تخریج ددی بخاری کړی دی په کتاب احادیث الانبیاء کی، باب (۵۴) (۳۴۸۵) اواطراف ددی په (۵۷۹۰) کی ذکردی. اومسلم په کتاب اللباس والزینةکی، باب تحریم التبختر فی المشی مع اعجاب بثیابه (۲۳\۱۴). =

(c) ketabton.com: The Digital Library



دی دسالم څخه دی نقل کوی دابی هریره رضی الله عنه څخه دی نقل کوی دنبی علیه السلام څخه هم په دی طریقی سره. اودارکم ذکرکړی دی داروایت ابن عباس اوالسدی: چی قارون یوی بدکاری ښځی ته پیسی ورکړی وی چی دادخلګو په منځ کی موسیٰ علیه السلام ته ووایې: چی تازما سره داسی داسی کارکړی دی، نوویل سوی دی چی دی ښځی هم داسی ورته وویل دخلګو په منځ کی. نوموسیٰ علیه السلام ددغه تهمت څخه بیره وکړه اوژر یې دوه رکعته لمونځ وکی، بیاراللی دغی ښځی ته اوقسم یې ورکی چی په دی خبره باندی چا اماده کړی یې، اوچاپه دی کار پسی رالیږلی یې، نودغی ښځی وویل چی ماته قارون ددی کار ویلی وه اوماته یې پیسی ددی خبری راکړی دی، نوبیا دغه ښځی توبه وکاږل اومعافی یې وغوښته. نوپه دغه وخت کی موسیٰ علیه السلام په سجده باندی پریوتی، اودالله جل جلاله څخه یې دعا طلب کړه په قارون باندی، نوالله جل جلاله ورته وحی وکړه چی مامزکی ته ویلی دی چی هغه ستا تابعداری وکی اوستا اطاعت وکی، نوموسیٰ علیه السلام دهغه مزکی ته امر وکی چی دی اودده قصر دننه کړه اودننه یې کړه په ځان کی، نودغه کارورسره وسو اوویل سوی دی چی قارون په خپل زینت اوښائست اوسپرلی سره قوم ته راووتی اودموسیٰ علیه السلام یومجلس ته ورلی چی په هغه ځای کی ده خلګو ته دآخرت یادابښت ورکوی نوکله چی دی رالی نوډیرو خلګو مخونه دموسیٰ علیه السلام څخه دده خواته راواړول، نوموسیٰ علیه السلام دی راوغوښتی اوورته یې وویل چی داکاردی ولی کړی دی؟ نووی ویل چی: ای موسیٰ که ته زما څخه ښه یې په نبوت سره نوزه هم ستا څخه ښه یم په مال اودولت سره، اوکه ته غواړی نوموږ دواړه به دباندی ووزو اوزه به په تاپسی دالله جل جلاله څخه دعا وکړم اوته به په ماپسی. نودوی دواړه ووتل نوموسیٰ علیه السلام ورته وویل چی: ته اول دعاکوی اوکه زه یې وکم، نوقارون وویل چی زه یې اول کوم قارون دالله جل جلاله څخه دموسیٰ علیه السلام دهلاکت دعا وغوښتله خوالله جل جلاله ورته قبوله نه کړه، نوموسیٰ علیه السلام وویل چی زه اوس دعا وکم نوقارون ورته وویل چی هو، نوموسیٰ علیه السلام وویل ای رب العزت نن ورځ مزکی ته امر وکړه چی زما اطاعت وکړی، نوالله جل جلاله ورته وحی وکړی چی مادغه رکم کار وکی یعنی مزکه می ستا تابعداره کړه. نوموسیٰ علیه السلام وفرمایل، ای مزکی ته یې دځان سره واخله. نودی یې راونیوی دځان سره صرف دقدمونو څخه، نوبیایې وفرمایل چی ای مزکی واخله دی دځان سره، نودپونډیو څخه یې راونیوی، اوهمداسی یې لږلږ دننه کوی، نوموسیٰ علیه السلام وفرمایل چی اوس یې هغه خزانی اومالونه اوقصرونه دننه کړه نو دهرڅه سره یې په مزکه دننه کی تردی چی مزکه برابره سوه. اودارکم روایات ذکرسوی دی، قتاده ویلی دی، چی دی هره ورځ یویو وار مزکه نور ننباسی، تر اوومی مزکی پوری، اوډیرو مفسرینو

---

= اوالترمذی په کتاب صفة القیامة والرقاق والورع، باب ۴۷، (۲۳۹۱\۴).

(c) ketabton.com: The Digital Library



دلته اسرائیلی اقوال پیش کړی دی، خوهغه موږ نه ذکرکوو ولی چې ضرورت ورته نسته.
اوداقول دالله ﷻ: فَمَا كَانَ لَهُ مِنْ فِئَةٍ يَنْصُرُونَهُ مِنْ دُونِ اللهِ وَمَا كَانَ مِنَ الْمُنْتَصِرِينَ، نه وو دده دپاره څوك مددکونکی اونه څوك خلاصونکی ماسوا دالله ﷻ څخه، اوکله چې په ده باندی مزکه وڅیرل سوه نوهغه کسان چې دده دمرتبی ارمان یې په پرونی ورځی کی کوی نوهغوی هم خوشحاله سوه اودالله ﷻ شکریې اداکی، هغه ذات چې دهرڅه تدبیر دهغه په لاس کی دی، نوددی وجی دوی وویل: لَوْلَا أَنْ مَنَّ اللهُ عَلَيْنَا لَخَسَفَ بِنَا وَيْكَأَنَّهُ لَا يُفْلِحُ الْكَافِرُونَ ، اوپه لفظ د(وَيْكَأَنَّهُ) باندی موږ په تفسیرکی خبری کړی دی په وضاحت سره، اوقتاده ویلی دی چې ددی لفظ مطلب دادی چې ایاته نه ګوری. اودا قول دهغه په اعتبارسره ښه دی اوغوره دی.
بیاخبر ورکړی دی الله ﷻ چې (اَلدَّارُ الاٰخِرَةُ) هغه کور دقراری دی اوهغه کوردی چې څوك ددی ارمان کوی نوالله ﷻ وایې چې زه یې ورلره ورکوم. اوعزت به یې کول کیږی چاچی ددی دحرمت خیال وساتی اوداکور تیار سویدی دهغه چادپاره: لِلَّذِينَ لَا يُرِيدُونَ عُلُوًّافِي الْأَرْضِ وَلَا فَسَادًا، نوځان لوړګڼل داکبردی اوفخر نورو ته په سپك نظر سره کتل دی اوفساد اوبد عملی ده اوګناهونه دی. اوزیاتی کول، دچامال بغیر دحقه اخستل دی نوچاچی ددی کارونو څخه ځان وساتی نودهغه دپاره الله ﷻ په آخرت کی کور تیار کړی دی. اوبیا الله ﷻ وفرمایل (وَالْعٰقِبَةُ لِلْمُتَّقِينَ) اوقصه ددی قارون داوه مخکی دوتلو ددوی دمصر څخه، ولی چې دادذی قول څخه معلومیږی: فَخَسَفْنَابِهِ وَبِدَارِهِ الْأَرْضَ، ولی چې دلفظ څخه ددار، چې په معنی سره دکوردی ښکاره معنی یې آبادی ده، اوکیدی سی چې دتیه په ځای کی داسی سوی وی، نوبیابه دکور څخه خیمی مرادسی ولی چې دوی په مقام دتیه کی مسافر وه اوپه سفرکی څوك قصر نه جوړوی. اودارکم الله ﷻ دقارون بدی په نورو ځایونو دقرآن کریم هم بیان کړیده، لکه څه رکم چې الله ﷻ فرمایلی دی: وَلَقَدْ أَرْسَلْنَا مُوسَى بِآيَاتِنَا وَسُلْطَانٍ مُبِينٍ (۲۳) إِلَى فِرْعَوْنَ وَهَامَانَ وَقَارُونَ فَقَالُوا سَاحِرٌ كَذَّابٌ (سورة غافر ۲۳\ ۲۴). اودارکم الله ﷻ په سورة العنکبوت کی فرمایلی دی وروسته ترذکر دعاد اوثمود څخه: وَقَارُونَ وَفِرْعَوْنَ وَهَامَانَ وَلَقَدْ جَاءَهُمْ مُوسَى بِالْبَيِّنَاتِ فَاسْتَكْبَرُوا فِي الْأَرْضِ وَمَا كَانُوا سَابِقِينَ (۳۹) فَكُلًّا أَخَذْنَا بِذَنْبِهِ فَمِنْهُمْ مَنْ أَرْسَلْنَا عَلَيْهِ حَاصِبًا وَمِنْهُمْ مَنْ أَخَذَتْهُ الصَّيْحَةُ وَمِنْهُمْ مَنْ خَسَفْنَا بِهِ الْأَرْضَ وَمِنْهُمْ مَنْ أَغْرَقْنَا وَمَا كَانَ اللهُ لِيَظْلِمَهُمْ وَلَكِنْ كَانُوا أَنْفُسَهُمْ يَظْلِمُونَ،(سورة العنکبوت ۳۹\۴۰) نوهغه سړی چې پر هغه باندی مزکه څیری سویده هغه قارون دی، اوهغه چې غرق سوی دی هغه فرعون اوهامان اودهغه لښکردی. اودارکم ویلی دی امام احمد په نقل کولو سره دعبدالرحمٰن څخه دی نقل کوی دسعید څخه دی نقل کوی دکعب بن علقمه څخه دی نقل کوی دعیسٰی بن هلال الصدفی

(c) ketabton.com: The Digital Library



څخه اودی نقل کوی دعبدالله بن عمر څخه اوده دنبی ﷺ څخه چی نبی ﷺ یوه ورځ دلمانځه ذکرکوی نوفرمایل یې: څوك چی محافظت کوی دلمونځونو نودهغه دپاره به دلیل اونور اونجات وی دقیامت په ورځ باندی، اوچی څوك یې حفاظت نه کوی نودهغه دپاره به نه دلیل وی اونه نور اونجات، اودقیامت په ورځ به دفرعون اوهامان اوابی ابن خلف سره وی (۱) یواځی والی کړی دی په دې باندی امام احمد.

## بیان دفضیلت دموسٰی علیه السلام او بیان دهغه دوفات

الله ﷻ فرمایلی دی: وَاذْكُرْ فِي الْكِتَابِ مُوسَى إِنَّهُ كَانَ مُخْلَصًا وَكَانَ رَسُولًا نَبِيًّا (۵۱) وَنَادَيْنَاهُ مِنْ جَانِبِ الطُّورِ الْأَيْمَنِ وَقَرَّبْنَاهُ نَجِيًّا (۵۲) وَوَهَبْنَا لَهُ مِنْ رَحْمَتِنَا أَخَاهُ هَارُونَ نَبِيًّا، (سورة مریم۵۱\ ۵۳).

اودارکم مخکی روایت ذکرسوی دی درسول الله ﷺ څخه چی فرمایلی یی دی چی تاسی ماته فضیلت مه راکوی په موسٰی ﷺ باندی، ولی چی دقیامت په ورځ به ټول خلګ بی هوښه کیږی نوزه به اولنی سړی یم چی په هوښ کی به سم نوزه به وینم چی موسٰی ﷺ ولاړ وی دیوی ستنی دعرش سره، نوماته پته نسته چی دی زما څخه مخکی په هوښ کی راغلی دی اوکه ده ته بدله ورکول سویده په بی هوښی دطور سره ؟ اومخکی موږ داخبره ذکرکړه چی دانبی ﷺ ویلی دی دوجی څخه دتواضع اوعاجزی ، کنې دی ﷺ خاتم الانبیاء دی اوسرداردبنی آدمو دی په دی دنیا کی هم اوپه آخرت کی هم، اوداخبره قاطعه ده چی په دی کی هیڅ قسم شك اوشبه نسته. اوالله ﷻ فرمایلی دی: إِنَّا أَوْحَيْنَا إِلَيْكَ كَمَا أَوْحَيْنَا إِلَى نُوحٍ وَالنَّبِيِّينَ مِنْ بَعْدِهِ وَأَوْحَيْنَا إِلَى إِبْرَاهِيمَ وَإِسْمَاعِيلَ وَإِسْحَاقَ وَيَعْقُوبَ وَالْأَسْبَاطِ (سورة النساء \ ۱۲۳) تردی قول دالله ﷻ پوری: وَرُسُلًا قَدْ قَصَصْنَاهُمْ عَلَيْكَ مِنْ قَبْلُ وَرُسُلًا لَمْ نَقْصُصْهُمْ عَلَيْكَ وَكَلَّمَ اللَّهُ مُوسَى تَكْلِيمًا، (سورة النساء\۱۲۴) ویلی دی امام عبدالله البخاری په نقل کولو سره داسحاق بن ابراهیم بن روح بن عباده څخه دی نقل کوی دعوف څخه دی نقل کوی دحسن اومحمد اوخلاص څخه دی دابی هریره څخه دی وایې چی فرمایلی دی رسول الله ﷺ: یقینًا موسٰی ﷺ وو ډیر حیاناك اوپردی والاسړی دی تردی چی دده دبدن یوه حصه هم چانه وه لیدلی، نوده تنګ کړه بنی اسرائیل په ډیرو تنګولو سره، نودوی به ویل چی پرده باندی برګی مرض لګیدلی دی نوددی وجی څخه یې خپل بدن چاته نه ښوی یا سوزاك پرلګیدلی دی یا یوبله ناجوړی پرلګیدلی ده نوددی وجی څخه دی ځان پټوی. اوالله ﷻ داوغوښتله چی دموسٰی ﷺ څخه ددوی داګمان لیری کی، نویوه ورځ دی یواځی لمبیدی په خالی ځای کی

---

(۱). احمد (۱۲۹\۲) اوراوی ددی الطبرانی دی په الاوسط کی (ح ۱۷۸۸) اوالهیثمی په المجمع کی (۲۹۲۰\۱) راوی ددی احمد اوالطبرانی دی په الکبیر اوپه الاوسط کی، اوسړی داحمد ټول ثقه دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



اوخپلی کپړی یې پریوی ډبری باندی کښېښوولی راروان سو چی راوایې خلی، کاڼی دده کپړی دده څخه لیری کړی نوموسیٰ ؈ خپله لکړه راواخسته اوپه دغه کاڼی پسی سو او وی ویل چی کپړی زما راکه ای کاڼی، چی کپړی زما راکه ای کاڼی، تردی چی ورسیدی یوی ډلی دبنی اسرائیلو ته نوهغوی ولیده ده اودی یې هم ولیدی چی څومره په ښه صورت الله ﷻ دی پیداکړی دی، نوپاکی وکړه الله ﷻ دده دهغه خبرو څخه چی دوی کولی، نوهغه کاڼی ودریدی په خپل لکړی ګزارونه ورکول اوزما دی قسم وی په هغه ذات باندی چی پر هغه کاڼی باندی هغه اثرات اوس هم سته دهغه لکړی چی موسیٰ ؈ ګزارونه ورلره ورکول نودری یاڅلور یاپنځه ګزارونه یې ورکړه نوددی وجی څخه الله ﷻ فرمایلی دی: (۱) یَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا لَا تَكُونُوا كَالَّذِينَ آذَوْا مُوسَى فَبَرَّأَهُ اللهُ مِمَّا قَالُوا وَكَانَ عِنْدَ اللهِ وَجِيهًا، اودارکم ددې روایت ذکرکړی دی امام احمد دحدیث دعبدالله بن شفیق څخه اودهمام بن منبه څخه هم په داسی طریقی سره. اوداپه صحیحینو کی دحدیث دعبدالرزاق څخه دی چی ده نقل کړی دی دمعمر څخه اوده نقل کړی دی دهمام څخه هم په دی طریقی سره. اوراوی ددی مسلم هم دی دحدیث دعبدالله بن شقیق العقیلی څخه هم په دی طریقی سره بعضو سلفو ویلی دی چی دده هوښیارتیا داوه چی ده دخپل ورور دپاره شفاعت وکی دالله ﷻ په نزد، اوداطلب یې وکی چی دی دده سره وزیرسی نوالله ﷻ دده داسوال قبول کی اودی یې ورلره وزیر کی او نبی یې هم کی، لکه څه رکم چی الله ﷻ فرمایلی دی: وَوَهَبْنَا لَهُ مِنْ رَحْمَتِنَا أَخَاهُ هَارُونَ نَبِيًّا اوبیا بخاری ویلی دی په نقل کولو سره دابو الولید څخه دی نقل کوی دشعبه څخه دی داعمش څخه دی وایې چی ما اوریدلی دی دابو وائل څخه اوده اوریدلی دی دعبدالله څخه، دی وایې چی تقسیم وکی رسول الله ﷺ په تقسیم کولو سره، نویوه سړی وویل، دا داسی تقسیم ووچی په دی سره دالله ﷻ رضانه وه مراد،نوزه رالم رسول الله ﷺ ته اوداخبره می ورته وکړه، نودرد ورلی اوبیایې وفرمایل: رحم دی وکړی الله ﷻ په موسیٰ ؈ باندی چی هغه ددی څخه ډیر زیات تنګ سوی وو خوصبریې کړی دی . (۲) اودارکم ددی روایت ذکرکړی دی مسلم په بلی طریقی سره دسلیمان بن مهران بن الاعمش څخه امام احمد ویلی دی په نقل کولو سره داحمد بن حجاج څخه دی وایې چی ما اوریدلی دی داسرائیل بن یونس څخه دی نقل کوی دالولید بن ابی هاشم څخه چی مولی دی دهمدان دی نقل کوی

---

(۱). صحیح البخاری: کتاب التفسیر، سورة الاحزاب، باب (لاتکونوا کالذین اٰذوا موسیٰ ) (۴۷۹۹\۸) اومسلم په کتاب الحیض کی، باب جواز الاغتسال عریانا فی الخلوت (۱۴\ ۳۲، ۳۳) اواحمد (۲\ ۵۱۵)

(۲). تخریج ددی بخاری کړی دی په کتاب فرض الخمس کی، باب ماکان النبی ﷺ یعطی المولفة قلوبهم (۶\ ۳۱۰۵) او اطراف ددی په (۳۴۰۵، ۴۳۳۵، ۶۰۵۹، ۶۱۰۰، ۶۲۹۱، ۶۳۳۶) اومسلم په کتاب الزکات کی، باب اعطاء المولفه قلوبهم (۷\ ۱۵۸).

(c) ketabton.com: The Digital Library



دزید بن ابی زائد څخه دی دعبدالله بن مسعود څخه دی وایې چې رسول الله ﷺ فرمایلی دی خپل صحابه وو ته چې ماته دی یوسړی ستاسی څخه دبل خبره نه رارسوی، ولی چې زه داخوښوم چې زه تاسی ته راوزم اوزماسینه سمه وی. دی وایې چې راوړل سو رسول الله ﷺ ته څه مال نوهغه تقسیم کی، نودی وایې چې زه تیرسوم په دوو کسانو باندی چې هغه یوبل ته ویله: زمادی قسم وی په الله ﷻ باندی چې په دی تقسیم سره محمد ﷺ نه دآخرت څه اراده وو اونه په کی دالله ﷻ درضا څه اراده وه. نوزه ولاړم تردی چې ماهر څه واوریده، نوبیازه رالم رسول الله ﷺ ته اوورته وویل می چې ای رسوله دالله ﷻ تاسی موږ ته ویلی وه چې ماته دی ستاسی یوسړی دبل سړی خبره نه راوړی خوزه تیرسوم په فلانی اوپه فلانی صحابی باندی، اوهغوی داسی اوداسی ویل، نودنبی ﷺ مخ مبارك سورسو اودا خبره پردره نه سوه اوسخته سوه، نوبیایې وفرمایل: چې پریږده ما دهغوی څخه ولی چې موسٰی علیه السلام ددی څخه ډیرتنګ سوی دی خوهغه صبر کړی وو. (۱)

اوهمدارکم ددی روایت کړی دی ترمذی اوابوداود دطریقی دابن عبدالله څخه چې هغه نقل کړی دی داسرائیل بن یونس څخه اوده نقل کړی دی دالسدی څخه اوده دالولید څخه هم په دی الفاظو سره. اوترمذی ویلی دی چې داپه دی اعتبار سره غریب حدیث دی. اوداثابت سوی دی په صحیحینو کی په حدیث داسراء کی: چې رسول الله ﷻ تیرسو په قبر دموسٰی علیه السلام باندی اوهغه ولاړ وو اولمونځ یې کوی په خپل قبرکی، (۲) اوروایت ددی کړی دی مسلم هم دانس څخه. اوپه صحیحینو کی دروایت دقتاده څخه چې نقل کوی دانس بن مالك څخه دی نقل کوی دمالك بن صعصعه څخه اودی نقل کوی دنبی علیه السلام څخه دی وایې چې: نبی علیه السلام تیرسو په موسٰی علیه السلام باندی په شپه داسراء کی په شپږم آسمان کی، نوجبرایل ورته وویل چې داموسٰی علیه السلام دی، نونبی علیه السلام سلام پر واچوی. نوفرمایلی دی چې: ماسلام واچوی په هغه باندی اوورته می وویل چې، خبردی وی نبی صالح ته او ورور صالح ته، نو کله چې زه دهغه څخه راجلاسوم نوهغه په ژړاسو نوپوښتنه ورڅخه وسوه چې ولی ژاړی ؟ نووی فرمایل په دی خبری باندی ژاړم چې زما څخه وروسته به دده دامت یوغلام رازی او زما دامت اکثره کسان به دڅان سره جنت ته دننه کوی (۳) اودایې ذکرکړی دی چې ابراهیم

(۱). داضعیف دی تخریج ددی احمد کړی دی (۱\ ۳۹۲) اوالترمذی په کتاب المناقب کی، باب فضل ازواج النبی ﷺ (۵\ ۳۸۹۲) اوویلی دی چې په دی حدیث کی غرابت دی په دا اعتبار سره. اوابوداود په کتاب الادب. باب فی رفع الحدیث من المجلس کی (۴\ ۴۸۶۰) اوضعیف ګرځولی دی دا البانی په ضعیف دترمذی کی (۸۱۷).
(۲). تخریج ددی مسلم کړی دی په کتاب الایمان کی، باب ذکر المسیح علیه السلام (۱\ ۳۸).
(۳).تخریج ددی بخاری کړی دی په کتاب بدء الخلق، باب ذکر الملائکه (۲\ ۳۲۰۷) اومسلم په کتاب الایمان کی، باب الاسراء برسول الله ﷺ (۲\ ۲۲۳).

(c) ketabton.com: The Digital Library



ﷺ په اوم آسمان کی وو، اوداقول محفوظ دی. اوهغه څه چی ذکرسوی دی په حدیث دشریك بن ابی نمره کی چی نقل یې کوی دانس څخه چی ابراهیم ﷺ په شپږم آسمان کی دی اوموسٰی ﷺ په اوم آسمان کی دی، په تفصیل دکلام دالله ﷻ کی. نوذکر کړی دی غیر دحفاظو څخه یوبل سړی چی راجح اوقوی خبره داده چی: موسٰی ﷺ په شپږم آسمان کی دی اوابراهیم ﷺ په اوم آسمان کی دی، اودده دبغل بیت المعمور خوا ته دی، هغه بیت المعمور چی هره ورځ (۷۰۰۰۰) ملائکی طواف ته ورځی اوبیا بیرته نه سی ورته راتلی په دوهم وار باندی. اوټول روایات په دی باندی متفق دی چی کله الله ﷻ نبی ﷺ ته لمونځونه ورکړه نودی په موسٰی ﷺ باندی تیرسوی دی، اوده به ورته ویله چی بیرته راسه اوالله ﷻ ته ووایه چی داکم کړی، ولی چی ستا څخه مخکی مادبنی اسرائیلو ښه معالجه اوعلاج کړی دی، اوستا امت په کتلو سره اوپه اوریدلو سره ډیر کمزوری دی اوزړونه یې هم ډیر کمزوری دی، نوهم داسی دموسٰی اومحمد ﷺ په مینځ کی داخبری روانی وی تردی چی پنځه لمونځونوته خبره راورسیده اوداباقی پاته سوه په شپه اوورځ کی. اوالله ﷻ فرمایلی دی چی (۵۵) لمونځونه وه یعنی په دوچندسره، نوالله ﷻ دی ددی اجر ورکی محمد ﷺ ته اوموسٰی ﷺ ته چی دایې په دی امت باندی اسانه کړه. اودارکم بخاری ویلی دی په نقل کولو سره دمسدد څخه دی نقل کوی دحصین بن نمیر څخه دی نقل کوی دحصین بن عبدالرحمٰن څخه دی دسعید بن جبیر څخه اودی دابن عباس څخه دی وایې چی راووتی په موږ باندی رسول الله ﷺ یوه ورځ نو وی فرمایل چی زه په امتونو باندی پیش سوم نوماولیدی توروالی ډیر چی افق یې ټول بندکړی وو، نوماته وویل سوه چی داموسٰی ﷺ دی په خپل قوم کی (۱) اودارکم ذکردموسٰی ﷺ الله ﷻ په قرآن کی ډیرځایونه کی کړی دی، اوپرده باندی یې ثناء کړیده اودده قصه یې په خپل کتاب کی بیان کړیده. اودده دکتاب ذکر دمحمد ﷺ دکتاب سره سوی دی، لکه څه رکم چی الله ﷻ په سورة البقره کی فرمایلی دی: وَلَمَّا جَاءَهُمْ رَسُولٌ مِنْ عِنْدِ اللهِ مُصَدِّقٌ لِمَا مَعَهُمْ نَبَذَ فَرِيقٌ مِنَ الَّذِينَ أُوتُوا الْكِتَابَ كِتَابَ اللهِ وَرَاءَ ظُهُورِهِمْ كَأَنَّهُمْ لَا يَعْلَمُونَ، اودارنګه الله ﷻ فرمایلی دی: الٓمٓ (۱) اللهُ لَا إِلَهَ إِلَّا هُوَ الْحَيُّ الْقَيُّومُ (۲) نَزَّلَ عَلَيْكَ الْكِتَابَ بِالْحَقِّ مُصَدِّقًا لِمَا بَيْنَ يَدَيْهِ وَأَنْزَلَ التَّوْرَاةَ وَالْإِنْجِيلَ (۳) مِنْ قَبْلُ هُدًى لِلنَّاسِ وَأَنْزَلَ الْفُرْقَانَ إِنَّ الَّذِينَ كَفَرُوا بِآيَاتِ اللهِ لَهُمْ عَذَابٌ شَدِيدٌ وَاللهُ عَزِيزٌ ذُو انْتِقَامٍ (سورة ال عمران ۱\۴) اوالله ﷻ په سورة الانعام کی فرمایلی دی: وَمَا قَدَرُوا اللهَ حَقَّ قَدْرِهِ إِذْ قَالُوا مَا أَنْزَلَ

(۱). تخریج ددی امام بخاری کړی دی په کتاب الطب کی، باب من لم یرق (۱۰\ ۵۷۵۲). اومسلم په کتاب الایمان کی، باب الدلیل علی دخول طوائف من المسلمین الجنه بغیر حساب، ولاعذاب (۳\۹۳، ۹۴).

(c) ketabton.com: The Digital Library



اللهُ عَلَى بَشَرٍ مِنْ شَيْءٍ قُلْ مَنْ أَنْزَلَ الْكِتَابَ الَّذِي جَاءَ بِهِ مُوسَى نُورًا وَهُدًى لِلنَّاسِ تَجْعَلُونَهُ قَرَاطِيسَ تُبْدُونَهَا وَتُخْفُونَ كَثِيرًا وَعُلِّمْتُمْ مَا لَمْ تَعْلَمُوا أَنْتُمْ وَلَا آبَاؤُكُمْ قُلِ اللهُ ثُمَّ ذَرْهُمْ فِي خَوْضِهِمْ يَلْعَبُونَ (٩١) وَهَذَا كِتَابٌ أَنْزَلْنَاهُ مُبَارَكٌ مُصَدِّقُ الَّذِي بَيْنَ يَدَيْهِ وَلِتُنْذِرَ أُمَّ الْقُرَى وَمَنْ حَوْلَهَا وَالَّذِينَ يُؤْمِنُونَ بِالْآخِرَةِ يُؤْمِنُونَ بِهِ وَهُمْ عَلَى صَلَاتِهِمْ يُحَافِظُونَ (سورة الانعام ۹۱\ ۹۲) نوالله ﷻ ثناء بیان کړه دتورات اوبیایې مدحه وکړه دقرآن کریم، اوددې په آخرکی الله ﷻ فرمایلی دی: ثُمَّ آتَيْنَا مُوسَى الْكِتَابَ تَمَامًا عَلَى الَّذِي أَحْسَنَ وَتَفْصِيلًا لِكُلِّ شَيْءٍ وَهُدًى وَرَحْمَةً لَعَلَّهُمْ بِلِقَاءِ رَبِّهِمْ يُؤْمِنُونَ (١٥٤) وَهَذَا كِتَابٌ أَنْزَلْنَاهُ مُبَارَكٌ فَاتَّبِعُوهُ وَاتَّقُوا لَعَلَّكُمْ تُرْحَمُونَ (١٥٥) أَنْ تَقُولُوا إِنَّمَا أُنْزِلَ الْكِتَابُ عَلَى طَائِفَتَيْنِ مِنْ قَبْلِنَا وَإِنْ كُنَّا عَنْ دِرَاسَتِهِمْ لَغَافِلِينَ (سورة الانعام ۱۵۴\ ۱۵۵) اودارکم الله ﷻ فرمایلی دی: إِنَّا أَنْزَلْنَا التَّوْرَاةَ فِيهَا هُدًى وَنُورٌ يَحْكُمُ بِهَا النَّبِيُّونَ الَّذِينَ أَسْلَمُوا لِلَّذِينَ هَادُوا وَالرَّبَّانِيُّونَ وَالْأَحْبَارُ بِمَا اسْتُحْفِظُوا مِنْ كِتَابِ اللهِ وَكَانُوا عَلَيْهِ شُهَدَاءَ فَلَا تَخْشَوُا النَّاسَ وَاخْشَوْنِ وَلَا تَشْتَرُوا بِآيَاتِي ثَمَنًا قَلِيلًا وَمَنْ لَمْ يَحْكُمْ بِمَا أَنْزَلَ اللهُ فَأُولَئِكَ هُمُ الْكَافِرُونَ (سورة المائده ۴۴) تردی چی فرمایلی دی: وَلْيَحْكُمْ أَهْلُ الْإِنْجِيلِ بِمَا أَنْزَلَ اللهُ فِيهِ وَمَنْ لَمْ يَحْكُمْ بِمَا أَنْزَلَ اللهُ فَأُولَئِكَ هُمُ الْفَاسِقُونَ (٤٧) وَأَنْزَلْنَا إِلَيْكَ الْكِتَابَ بِالْحَقِّ مُصَدِّقًا لِمَا بَيْنَ يَدَيْهِ مِنَ الْكِتَابِ وَمُهَيْمِنًا (سورة المائده ۴۷\ ۴۸).

نوقرآن کریم یې حاکم کی په نورو ټولو کتابونو باندی، اوددی نورو کتابونو دپاره یې تصدیق وکړځوی اوپه دی کی یې هغه ټول واقعات ذکرکړه کم چی مخکی تیرسوی دی، ولی چی اهل کتابو دهغه څه حفاظت وکی چی وربلندی نازل سوی وه صرف په لاسونو کی اودایې نه سوکولی چی دهغه حفاظت یې په زړونوکی کړی وای اودتحریف اوتغیر څخه یې ساتلی وای، نوددی وجی څخه نوری ډیری خبری په کی دننه سوی اوتغیرات اوتبدیلات په کی راله دوجی دنه حفاظت کولو څخه، نوددی وجی څخه ددوی په کتابونوکی ډیری غلطیانی پیداکیږی چی دنبی ﷺ په باره کی دی چی دهغه نه څه حدسته اونه ورلره څه صفت سته، اودارکم الله ﷻ فرمایلی دی: وَلَقَدْ آتَيْنَا مُوسَى وَهَارُونَ الْفُرْقَانَ وَضِيَاءً وَذِكْرًا لِلْمُتَّقِينَ (٤٨) الَّذِينَ يَخْشَوْنَ رَبَّهُمْ بِالْغَيْبِ وَهُمْ مِنَ السَّاعَةِ مُشْفِقُونَ (٤٩) وَهَذَا ذِكْرٌ مُبَارَكٌ أَنْزَلْنَاهُ أَفَأَنْتُمْ لَهُ مُنْكِرُونَ (سورة الانبیاء ۴۸\ ۵۰) اودارکم الله ﷻ فرمایلی دی دی: فَلَمَّا جَاءَهُمُ الْحَقُّ مِنْ عِنْدِنَا قَالُوا لَوْلَا أُوتِيَ مِثْلَ مَا أُوتِيَ مُوسَى أَوَلَمْ يَكْفُرُوا بِمَا أُوتِيَ مُوسَى مِنْ قَبْلُ قَالُوا سِحْرَانِ تَظَاهَرَا وَقَالُوا إِنَّا بِكُلٍّ كَافِرُونَ (٤٨) قُلْ فَأْتُوا بِكِتَابٍ مِنْ عِنْدِ اللهِ هُوَ أَهْدَى مِنْهُمَا أَتَّبِعْهُ إِنْ كُنْتُمْ صَادِقِينَ (سورة القصص ۴۸\ ۴۹) نوثناء بیان کړه الله ﷻ پراهل کتابوباندی اوپه رسولانو باندی. اوپریانو

(c) ketabton.com: The Digital Library



خپل قوم ته ویلی وه: إِنَّا سَمِعْنَا كِتَابًا أُنْزِلَ مِنْ بَعْدِ مُوسَى (سورة الاحقاف \ ۳۰) اوورقه بن نوفل ویلی وه کله چی په نبی ﷺ باندی اول وار دوحی علامه نازله سوه اوداپر وویل سوه: اقْرَأْ بِاسْمِ رَبِّكَ الَّذِي خَلَقَ (۱) خَلَقَ الْإِنْسَانَ مِنْ عَلَقٍ (۲) اقْرَأْ وَرَبُّكَ الْأَكْرَمُ (۳) الَّذِي عَلَّمَ بِالْقَلَمِ (٤) عَلَّمَ الْإِنْسَانَ مَا لَمْ يَعْلَمْ (سورة العلق ۱\ ۵) نودی ورقه بن نوفل وویل، پاکی ده هغه ذات لره، دا هغه کاردی چی دموسیٰ ﷺ سره سوی وو. او بالجمله دموسیٰ ﷺ شریعت عظیم شریعت وو، اوودده امت ډیر لوی امت وو، اوپه هغه کی ډیر علماء اوانبیاء وه، اونیك بندګان او زاهدان اوبادشاهان اوامراء وه. لیکن دوی داسی وو خوبیا بدل سوه لکه څه رکم چی ددوی شریعت منسوخ سو نودوی څخه هم بیزوګان اوخنزیران جوړسوه، اوپه دوی باندی ډیری لویی خبری اوقیصی تیری سوی دی چی دهغه بیانول ډیر وخت غواړی، نوپه دی سره به اکتفاء کول کیږی.

## حج دموسیٰ ﷺ

ذکرکړی دی احمد روایت په نقل کولو سره دهشیم بن داود بن ابی هند څخه دی نقل کوی دابی العالیه څخه دی دابن عباس څخه چی رسول الله ﷺ په یوی غونډی دازرق باندی وو نوپوښتنه یې وکړه چی داکمه وادی ده: نوصحابوو ورته جواب ورکی چی غونډی دازرق ده، نونبی ﷺ وفرمایل: چی ګواکی زه موسیٰ ﷺ وینم اوهغه دغونډی څخه راکښته کیدونکی دی، اوهغه اواز کونکی دی دالله ﷻ طرف ته په تلبیه کولو سره، تردی چی را ورسیدی هرشاء غونډی ته، نوپوښتنه یې وکړه چی داکمه وادی ده: نوصحابوو ورته جواب ورکی چی غونډی دهرشاء ده، نونبی ﷺ وفرمایل چی ګواکی زه وینم یونس بن متی ﷺ چی هغه پرسور اوښ باندی ناست دی، اوپه هغه باندی دوړی یوه چوغه ده، چی واګی داوښ دهغه دپاڼو دخرماوو څخه دی، اوهغه تلبیه کوی (۱) همدارکم ددی تخریج مسلم کړی دی دحدیث دداود بن ابی هند څخه هم په دی الفاظو سره. اودارکم روایت نقل کړی دی ابن عباس مرفوعًا: چی موسیٰ په سور غوایې باندی حج کړی دی. په دی حدیث کی ډیر غرابت دی. اوهمدارکم امام احمد نقل کوی دمحمد بن ابی عدی څخه دی دابن عون څخه دی دمجاهد څخه دی وایې چی موږ وو دابن عباس خواته نوتذکره وسوه ددجال، او وویل سوه چی دوی دهغه ددواړو سترګو په مینځ کی (ك ف ر) لیکل سوی دی، نوده پوښتنه وکړه چی دوی څه وایې، نوورته وویل سوه چی دوی وایې چی ددجال ددواړو سترګو په مینځ کی (ك ف ر) لیکل سوی دی، نوابن عباس وایې چی: ماخودا خبره نه ده اوریدلی. دا

(۱). احمد(۱\ ۲۱۲، ۲۱۵) مسلم: کتاب الایمان، باب الاسراء برسول الله ﷺ (۲\ ۲۲۸) اوابن ماجه په کتاب المناسك کی ، باب الحج علی الرحل (۲\ ۲۸۹۱).

(c) ketabton.com: The Digital Library



خبره یې وکړه اودایې هم وویل: هرڅه چې ابراهیم ؑ دی نوتاسی وګوری دی خپل صاحب ته (یعنی دنبی ؑ خپل ځان مراد وو) اوهرڅه چې موسٰی ؑ دی نوهغه داسی سړی دی چې دسر وریښته یې پیچلی دی اوپه داسی اوښ باندی ناست دی چې دهغه واګی دخرما دپوټکو څخه دی، ګویا چې زه ورته ګورم، اوهغه تیرسو دوادی څخه په داسی حال کی چې تلبیه یې کوله. بیا همداسی بل روایت امام احمد کړی دی داسود څخه چې هغه نقل کوی داسرائیل څخه دی نقل کوی دعثمان بن المغیره څخه دی دمجاهد څخه اودی دابن عباس څخه دی وایې چې فرمایلی دی رسول الله ﷺ: ماولیدی عیسٰی بن مریم اوموسٰی او ابراهیم: هرڅه چې عیسٰی ؑ دی نوسور برابر اوپلنی سینی والا سړی دی، اوهرڅه چې موسٰی ؑ دی نوهغه پیچلو وریښتو والا اوغټ بدن والاسړی دی، نودی صحابوو ورڅخه پوښتنه وکړه چې ابراهیم ؑ څه رکم دی؟ نونبی ؑ وفرمایل چې دی خپل صاحب ته وګوری همداسی دی (یعنی دنبی ؑ خپل وجود مبارك مراد وو).

اوهمدارکم په بل روایت کی امام احمد فرمایلی دی په نقل کولوسره دیونس څخه دی نقل کوی دشسبان څخه دی نقل کوی دقتاده څخه چې هغه نقل کوی دابی العالیه څخه اودی دابن عباس څخه دی وایې چې رسول الله ﷺ فرمایلی دی: ماولیده په هغه شپه کی چې زه پورته سوم آسمان ته موسٰی بن عمران ؑ چې هغه اوږد قدوالا او پیچلو وریښتو والاوو، ګویا چې دشنوئه قبیلی والاوی (یعنی داسی ښکاریدی چې دشنوئه دقبیلی سره تعلق لری اوددغه قبیلی والاوی)،اوهرڅه چې عیسٰی ؑ وو نوهغه درمیانه سړی وو اوپه رنګ کی سوروالی اوسپین والی ته مائل وو اوسیده وریښتو والاوو (یعنی وریښتیان یې پیچلی نه وه). ([1])

## بیان دوفات دموسٰی ؑ

امام بخاری په صحیح خپل کی ویلی دی په باره دوفات دموسٰی ؑ کی: په نقل کولو سره دیحیٰی بن موسٰی څخه دی نقل کوی دعبد الرزاق څخه دی وایې چې موږ ته خبرراکړی دی معمر بن طاوس چې دی نقل کوی دخپل پلار څخه دی نقل کوی دابی هریره ؓ څخه دی فرمایې چې: راولیږل سوه ملك الموت (یعنی دمرګ فرښته) موسٰی ؑ ته، نوکله چې دا راله نوموسٰی ؑ چپلاخه ورلره ورکړه نودی بیرته رالی الله ﷻ ته اوالله ﷻ ته یې وفرمایل: چې تازه ولیږلم داسی سړی او بنده ته چې هغه مرګ نه غواړی، نورب العزت ورته وفرمایل چې ورسه اوورته ووایه چې خپل لاس پرملا دغوایې باندی کښیږدی، نودده دپاره به وی ژوند په اندازه دهغه هومره چې څومره دده دلاس لاندی وریښته راسی دهر وریښته په

---

([1]). احمد (۲\ ۲۸۲) مسلم: کتاب الایمان، باب الاسراء برسول الله ﷺ (۲\ ۲۳۲).

(c) ketabton.com: The Digital Library



مقابل کی ژوند دیوکال. نوموسیٰ ﷺ وفرمایل چی دهغه څخه وروسته به څه وی؟ نوالله ﷻ ورته وفرمایل چی مرګ، نوده وفرمایل چی نواوس ښه دی (یعنی چی ددومره ژوند څخه وروسته بیاهم مرګ وی نواوس رالره مرګ ښه دی) نو فرمایلی دی چی: ده سوال وکی دالله ﷻ څخه چی دی دبیت المقدس مزکی ته نژدی کی په اندازه دویشتلو دکاڼی باندی، ابو هریره ﷺ فرمایې چی رسول الله ﷺ فرمایلی دی: چی که زه په دغه ځای کی وای نوتاسی ته به ما دهغه قبر ښوولی وای چی دلاری دخوا څخه دی اویوې سری غونډۍ ته نژدی دی (¹) اوهمدارکم نقل کړی دی امام احمد دحسن څخه دی نقل کوی دابو یونس څخه (یعنی سلیم ابن جبیر مراددی) دی نقل کوی دابی هریره څخه: امام احمد داحدیث مرفوع کړی نه دی، دی وایې چی: رالی ملك الموت موسیٰ ﷺ ته اوورته یې وویل چی دالله ﷻ ایجابت وکی (یعنی مرګ ته غاړه کښېږده)، نوموسیٰ ﷺ ورلره چپلاخه ورکړه په سترګه باندی نوسترګه یې راووتل، نودی رالی الله ﷻ ته اوورته یې وفرمایل چی، تاخو زه داسی بنده ته ولیږم چی هغه مرګ نه خوښوی، اودایې هم وویل چی زماسترګه یې وایستله په چپلاخی سره. نو دی وایې چی الله ﷻ بیرته سترګی ورکړی دده: اوورته یې وویل چی زندګی غواړی؟ نوکه زندګی یې غوښتله نودغوایې پرملا باندی دی لاس کښېږدی چی څومره ویښته دلاس لاندی راسی نودیو ویښته په مقابل کی یوکال زندګی به درکول سی. نوده پوښتنه وکړه چی دهغه څخه وروسته به څه وی؟ نوورته وویل سوه چی مرګ، نوده وویل چی اوس راته ښه دی (²) یواځی والی کړی دی په دی باندی امام احمد. اوپه دی باره کی ډیری خبری سوی دی چی موسیٰ ﷺ ده ته چپلاخه ولی ورکړه، بعضی وایې چی دی په خپل شکل کی نه وو راغلی لکه څه رکم چی جبرائیل ﷺ دیوصحرایی په شکل باندی راتلی نوهمدارکم دی هم په بل شکل کی راغلی وو نودی موسیٰ ﷺ ونه پیژندی، اوځوك وایې چی دی دده کورته بی اجازی دننه سوی وو نوددی وجی څخه یې ووهی اوبعضی وایې چی ده دډیرو کارونو امید اوطمع کړی وه چی بیت المقدس ته به وزی اودتیه مقام څخه به وزی. خوالله ﷻ دده په تقدیر کی مرګ لیکلی وو په مقام دتیه کی وروسته دوفات دهارون ﷺ څخه، اوبعضو کسانو داویلی دی چی موسیٰ ﷺ دابنی اسرائیل دالتیه مقام څخه وایسته اوبیت المقدس ته یې داخل کړی دی. خودا خبره خلاف ده دهغه قول چی جمهور اهل کتاب په هغه باندی دی اواکثره دمسلمانانو هم کړی ده. اوهغه قول چی دده په وفات باندی دلالت کوی په مقام دتیه کی هغه دی چی ده سوال وکی دالله ﷻ څخه چی: ای

---

(¹). تخریج ددی امام بخاری کړی دی په کتاب الانبیاء کی، باب وفاة موسیٰ (۶\ ۳۴۰۱) اومسلم په کتاب الفضائل کی، باب من فضائل موسیٰ (۱۵\۱۲۸).
(²). تخریج ددی امام احمد کړی دی (۲\ ۳۵۱).

(c) ketabton.com: The Digital Library



زماربه مانژدی کړه مقدسی مزکی ته په اندازه دویشتلو دیوکانړی، که چیری موسیٰ ؑ دغه مقدسی مزکی ته دننه سوی وای نوبیا به یې داسوال نه کوی. لیکن کله چی وو دی دخپل قوم سره په التیه مقام کی اوده ته مرګ رالی نوده داخوښه کړه چی مقدسی مزکی ته نژدی سی ولی چی دهغه مزکی خوا ته دی هجرت کړی وو. اوامام احمد ویلی دی په نقل کولو سره دعفان څخه چی دی نقل کوی دحماد څخه دی دثابت څخه اودسلیمان التیمی څخه چی دی نقل کوی دانس بن مالك څخه چی رسول الله ﷺ فرمایلی دی: کله چی زه روان سوم په شپه دمعراج باندی نوما ولیدی موسیٰ ؑ دسری غونډۍ سره چی ولاړ وو او لمونځ یې کوی په خپل قبرکی (۱) اوددی حدیث روایت مسلم کړی دی دحدیث دحماد بن سلمه څخه هم په دی الفاظو سره. السدی نقل کوی دابی مالك څخه اودابی صالح څخه اودابن عباس څخه اودمره څخه چی دی نقل کوی دابن مسعود څخه اودی نقل کوی دیوی ډلی دصحابوو څخه دوی وایې: بیاچی کله الله ﷻ وحی وکړی موسیٰ ؑ ته ددی خبری چی زه هارون ؑ وفات کوم نوهغه راوله غره ته نوموسیٰ ؑ اوهارون ؑ روان سوه ددغه غره خواته، نویودم دوی ولیده یوه درخته چی مخکی یې داسی درخته نه وه لیدلی، اودوی ولیدی یوکور چی جوړ سوی وو، اوپه دی کی یوکټ وو چی شړۍ پرغوړول سوی وه، اوپه دی کی یوه ښکلی خوشبویی هم وه، نوکله چی وکتی هارون ؑ دغه کور اودهغه کټ نوپه تعجب کی سو اودایې خوښ وګڼل چی په دی کی بیده سی نوموسیٰ ؑ ته یې وفرمایل چی: ای موسیٰ زه داخوښوم چی زه په دی کی بیده سم، نوموسیٰ ؑ ورته وفرمایل چی بیده سه، نوده وویل چی زه بیرېږم چی هسی نه چی ددی کور مالك راسی نوغصه به سی ماته، نوموسیٰ ؑ ورته وویل چی ته مه بیرېږه زه ستاحفاظت کوم دمالك ددی کور څخه اوته بیده سه. نودی هارون ؑ ورته وفرمایل چی‌ته هم راسره بیده سه‌که چیری مالك دکور رالی نودواړو ته به غصه سی هم ماته اوهم تاته. کله چی دواړه بیده سوه نوهارون ؑ ته مرګ رالی، کله چی ده محسوس کی مرګ نوموسیٰ ؑ ته یې وفرمایل: ای موسیٰ تازما سره دوکه وکړه، نوکله چی دده څخه روح واخستل سو نوهغه کور لوړ سو، اوهغه درخته هم ولاړه، اوهغه کټ هم آسمان ته لوړ سو. کله چی موسیٰ ؑ خپل قوم ته رالی اوهارون ؑ ورسره نه وو نوبنو اسرائیلو وویل چی: موسیٰ ؑ خپل ورور قتل کی اوحسد یې ورسره وکی ددی وجی چی بنی اسرائیلو ته هغه ګران اومحبوب وو، او وو هارون ؑ ددوی دپاره ډیر نرم اوډیر نرمی به یې ددوی سره کوله په مقابل دموسیٰ ؑ کی چی هغه به دومره دنرمی اظهار نه کوی دوی ته. کله چی ده ته داخبره ورسیده اودوی داخبری ډیری

---

(۱). تخریج ددی امام احمد کړی دی (۱۳\۲۴۸) اومسلم په کتاب الفضائل کی، باب فضائل موسیٰ (۱۵\۱۳۳).

(c) ketabton.com: The Digital Library



کړی نوموسیٰ علیه السلام ولاړ سو اودوه رکعته لمونځ یې وکی، اوبیایې دعاوکړه الله جل جلاله ته نوالله جل جلاله هغه کتې رانازل کی تردی چی ولیدی داکتې هغه څه چی په منځ دمزکی اوآسمان کی دی (یعنی ټولو داولیدی اوتصدیق ددی خبری وسو چی داموسیٰ علیه السلام نه دی وژلی اومخکی موږ داخبره ذکرکړه چی دموسیٰ علیه السلام سره یوسړی هم نه وو وتلی دتیه دمقام څخه ماسوا دیوشع بن نون علیه السلام څخه اودکالب بن یوفنا چی خاوند دمریم دی اوداخور دموسیٰ علیه السلام او هارون علیه السلام ده، دا دواړه هغه کسان دی چی بنی اسرائیلوته یې دوتلو امرکړی دی دجهاد خوا ته. اووهب بن منبه وایې چی موسیٰ علیه السلام دملایکو په یوی ډلی باندی تیریدی چی دی ملایکو قبر کښی نوده ورڅخه وپوښته چی داقبر چاته کاږی؟ نودوی جواب ورکی چی دا دیوبنده دپاره دی چی هغه مهربانه بنده دی، اوکه ته غواړی چی ته دغه بنده سی نوپه دی قبر کی پریوزه، اوپه دی کی اوږد وغزیږه اودخپل رب طرف ته متوجه سه. اوساه واخله په اسانه ساه اخستلو سره. نودوی دغه رکم وکړه لکه څه رکم چی ورته وویل سوه نوبیا وفات سو، اوبیا ملائکو لمونځ پروکی اوبیایې په قبرکی پټ کی. داهل کتابو څخه نقل دی چی دا موسیٰ علیه السلام وفات سو اوعمر یې (۱۲۰) کاله وو.

## نبوت دیوشع بن نون علیه السلام

دی ملګری دموسیٰ علیه السلام دی دده نسب یوشع بن نون بن افرئیم بن یوسف بن یعقوب بن اسحاق بن ابراهیم دی، اواهل کتاب وایې چی دایوشع علیه السلام دهود علیه السلام داکاځوی دی. اوالله جل جلاله دده نوم په قرآن کریم کی ښکاره نه دی ذکر کړی مګر داچی دخضر علیه السلام په قصه کی اشارتًا ذکرسوی دی په دی قول کی (واذقال موسیٰ لفتاه) (فلما جاوزا قال لفتاه) اومخکی موږ داخبره هم ذکرکړه چی په صحیحینو کی داثابته سویده دروایت دابی بن کعب رضی الله عنه څخه چی نبی علیه السلام فرمایلی دی چی دایوشع بن نون دی. اودده په نبوت باندی داهل کتابو، بلکی یوه ډله ددوی څخه چی په نامه دسامریه ده دوی وایې چی دموسیٰ علیه السلام څخه وروسته بل نبی نسته غیر دیوشع بن نون څخه، ولی چی دده په نبوت باندی په تورات کی صراحتًا ددې ذکر سوی دی، اوهرڅه چی هغه قول دی چی حکایت یې کړی دی ابن جریر اوداسی نورو مفسرینو دمحمد بن اسحاق څخه دی وایې چی: یوشع علیه السلام ته نبوت دموسیٰ علیه السلام په آخری عمرکی ورکول سوی وو، نوموسیٰ علیه السلام به، دیوشع بن نون علیه السلام سره لیدل اوپوښتنه به یې ځینی کول چی څه ورته رب العزت فرمایلی دی، تردی چی ورته یې وفرمایل: ای موسیٰ کلیم الله تاته چی کله وحی کیدلی نوتاخو ماته کله دوحی خبری نه وی کړی. نوموسیٰ علیه السلام دهغه څخه وروسته ژوند بد وګڼی اومرګ یې خوښ کی. نوپه دی قول کی نظر اوشبهه ده. ولی چی موسیٰ علیه السلام ته دالله جل جلاله په نزد عزتمند اومکرم وو. نوداهغه قول دی چی محمدبن

(c) ketabton.com: The Digital Library



اسحاق ذکرکړی دی، که چیری ده داقول داهل کتابو دکتاب څخه رانقل کړی وی نوپه تورات کی داسی ذکردی چی موسٰی ؑ ته تروفات پوری وحی کیدلی کله به چی دی په څه مسئله کی بندسو اوڅه وحی ته به یې حاجت سو نوالله ﷻ به ورته وحی وکړی، لکه څه رکم چی مخکی موږ داخبره ذکرکړه چی موسٰی ؑ اوهارون ؑ ته الله ﷻ وفرمایل چی بنی اسرائیل په یوڅو ډلو باندی تقسیم کی اوپه هریوی ډلی باندی دولس مشران مقرر کی اودی دټولو مشرسی اوددوی چی په څه خبره کی مشکل پیدا کیږی نوموسٰی ؑ ته دی رجوع کوی، اوهم دغه کار دوی په مقام تیه کی هم کړی وو کله چی دوی قتال اوجنګ کوی دهغه ظالمانو سره چی اوږدی اوږدی تنی یې وی، اوداکار دوی په هغه وخت کی کړی وو کله چی دوی هغه څلویښت کاله پوره کړه، اوده ته ددی کار امر سوی وو چی دا امید کوی چی داکاربه دده په زمانه کی کیږی خوبیا داکار دده په زمانه کی ونه سو بلکی دیوشع بن نون ؑ په زمانه کی وسو. لکه څه رکم چی نبی ؑ دروم غزٰی ته ووتی کله چی تبوك ته نبی ؑ ورسیدی په نهم کال باندی تردی چی په لسم کال باندی نبی ؑ فریضه دحج اداء کړه اوبیایې داسامه ؓ په امارت کی لښکر تیارکی اوشام ته یې ولیږی، نوهم دغه رکم موسٰی ؑ ته هم الله ﷻ امر کړی وو چی لښکر برابر کی دبنی اسرائیلو څخه اوپه هغه کی مشران وټاکی، لکه څه رکم چی الله ﷻ فرمایلی دی: وَلَقَدْ أَخَذَ اللهُ مِيثَاقَ بَنِي إِسْرَائِيلَ وَبَعَثْنَا مِنْهُمُ اثْنَيْ عَشَرَ نَقِيبًا وَقَالَ اللهُ إِنِّي مَعَكُمْ لَئِنْ أَقَمْتُمُ الصَّلَاةَ وَآتَيْتُمُ الزَّكَاةَ وَآمَنْتُمْ بِرُسُلِي وَعَزَّرْتُمُوهُمْ وَأَقْرَضْتُمُ اللهَ قَرْضًا حَسَنًا لَأُكَفِّرَنَّ عَنْكُمْ سَيِّئَاتِكُمْ وَلَأُدْخِلَنَّكُمْ جَنَّاتٍ تَجْرِي مِنْ تَحْتِهَا الْأَنْهَارُ فَمَنْ كَفَرَ بَعْدَ ذَلِكَ مِنْكُمْ فَقَدْ ضَلَّ سَوَاءَ السَّبِيلِ، (سورة المائده \ ۱۲) موسٰی ؑ دوی ته وفرمایل چی: که تاسی ددی کار څخه خلاف ونه کی اوپه دی امرباندی موپوره والی وکی نودابه ستاسی دپاره کفاره سی دهغه څه څخه چی پرتاسی باندی واقع سوی دی دسزا څخه یعنی هغه سزاچی په تاسی باندی ستاسی دکارونو دوجی ټاکل سویده نوهغه به تاسی ته معاف سی که چیری تاسی اطاعت زما ددی حکم وکی، لکه څنګه چی الله ﷻ فرمایلی دی په باره دهغه صحرایانوکی چی پاته سوی وه دغزوه حدیبیه څخه: قُلْ لِلْمُخَلَّفِينَ مِنَ الْأَعْرَابِ سَتُدْعَوْنَ إِلَى قَوْمٍ أُولِي بَأْسٍ شَدِيدٍ تُقَاتِلُونَهُمْ أَوْ يُسْلِمُونَ فَإِنْ تُطِيعُوا يُؤْتِكُمُ اللهُ أَجْرًا حَسَنًا وَإِنْ تَتَوَلَّوْا كَمَا تَوَلَّيْتُمْ مِنْ قَبْلُ يُعَذِّبْكُمْ عَذَابًا أَلِيمًا (سورة الفتح \ ۱۶). اوهمدارکم فرمایلی دی الله ﷻ بنی اسرائیلو ته: بیا الله ﷻ ددوی بدی بیان کړه په وران کارونو ددوی اوپه ماتولو دلوظونو ددوی لکه څنګه چی یې دنصاراو بدی بیان کړی ده په خلاف کولو سره په خپلو دینونو کی اوددی خبری وضاحت موږ کړی دی په خپلو تفسیرونو کی. مقصودی خبره دلته دا ده چی

(c) ketabton.com: The Digital Library



الله ﷻ امروکی موسیٰ ؑ ته چی ددغه بنی اسرائیلو نومونه ولیکی کم چی دجنګ دپاره تیاردی اواسلحه به دځان سره باروی اوپه دوی باندی دمشران ټاکلو حکم ورته الله ﷻ وکی، نوپه دی کی اوله ډله دروبیل وه چی دی ځوی دیعقوب ؑ وو، اوددی لښکر تعداد اوشمیر (۴۲۵۰۰) کسان وو اوددوی امیرالیصور بن شدیثور وو. دوهمه ډله دشمعون ډله وه، اوددې تعداد (۵۹۳۰۰) کسان وه، اوددوی امیر شلومیئیل بن هوریشدار وو. دریمه ډله دیهوذاوه، اوددی تعداد (۷۴۲۰۰) کسان وه، اوددوی امیر نخشون بن عمینا ذاب وو. څلورمه ډله دایساخر وه اوددوی تعداد (۵۴۴۰۰) کسان وه، اوددوی امیر نشائیل بن صوعروو، پنځمه ډله دیوسف ؑ وه، اوددوی تعداد (۴۰۰۵۰) کسان وه، اوددوی امیر یوشع بن نون وو. شپږمه ډله دمیشاوه، اوددوی تعداد (۳۱۱۰۰) کسان وه، اوددوی امیر جمائیل بن فدهصور وو، اومه ډله دبنیامین وه، اوددوی تعداد (۳۵۴۰۰) کسان وه، او ددوی امیر ولیدی بن جدعون وو، اتمه ډله دحاد وه، اوددوی تعداد (۴۴۲۵۰) کسان وه، اوددوی امیر الیاساف بن رعوئیل وو. نهمه ډله داشیروه، اوددوی تعداد (۴۰۵۰۰) کسان وه، اوددوی امیر فجعیل بن عکرن وو. لسمه ډله ددان وه، اوددوی تعداد (۲۳۷۰۰) کسان وه، اوددوی امیر اخیعزر بن عمشداری وو. یوولسمه ډله دنفالتی وه، اوددوی تعداد (۵۳۴۰۰) کسان وه، اوددوی امیر حیلون وو. داعبارت داهل کتابو په کتاب کی ذکر سوی دی، والله اعلم. اوبنی لاوی په دوی کی نه وو، ولی چی موسیٰ ؑ ته الله ﷻ امر کړی وو چی دی په کی شمار نه کړی، ولی چی دوی محافظین ګرځول سوی وو په حفاظت دقبی (یعنی قبة الزمان باندی) چی دوی به دهغه حفاظت کوی، اوداډله دموسیٰ اوهارون ؑ وه، اوددوی تعداد (۲۲۰۰۰) وه، اوددوی په خپل منځ کی ډلی وی چی دهری یوی ډلی څخه به یوسړی وو چی ددی قبی چوکیداری به یې کوله. اومجموع دهغو کسانو چی په جنګ کی شریك وه ماسوا دبنی لاوی څخه (پنځه لکه یواویا زره شپږسوه شپږ پنځوس) کسان وه، مقصودی خبره دا ده چی دبنی اسرائیلو دهغه کسانو څخه چی انکاریې کړی وو دجنګ څخه دهغوی څخه یوسړی هم نه وو پاته. ثوری وایې په نقل کولو سره دابی سعید الخدری څخه دی نقل کوی دعکرمه څخه دی دابن عباس څخه تردی چی ویلی دی ابن عباس اونورو علماوو دسلفو چی: وفات سوی دی موسیٰ ؑ اوهارون ؑ دواړه په مقام تیه کی. ابن اسحاق وایې چی بیت المقدس موسیٰ ؑ ازادکړی دی اوهرڅه چی یوشع ؑ وو لښکر دهغه په مشری کی وو. چی دهغه په باره کی الله ﷻ په قرآن کریم کی فرمایلی دی: وَاتْلُ عَلَيْهِمْ نَبَأَ الَّذِي آتَيْنَاهُ آيَاتِنَا فَانسَلَخَ مِنْهَا فَأَتْبَعَهُ الشَّيْطَانُ فَكَانَ مِنَ الْغَاوِينَ (۱۷۵) وَلَوْ شِئْنَا لَرَفَعْنَاهُ بِهَا وَلَكِنَّهُ أَخْلَدَ إِلَى الْأَرْضِ وَاتَّبَعَ هَوَاهُ فَمَثَلُهُ كَمَثَلِ الْكَلْبِ إِنْ تَحْمِلْ عَلَيْهِ يَلْهَثْ أَوْ تَتْرُكْهُ يَلْهَثْ

(c) ketabton.com: The Digital Library



ذَلِكَ مَثَلُ الْقَوْمِ الَّذِينَ كَذَّبُوا بِآيَاتِنَا فَاقْصُصِ الْقَصَصَ لَعَلَّهُمْ يَتَفَكَّرُونَ (۱۷۶) سَاءَ مَثَلًا الْقَوْمُ الَّذِينَ كَذَّبُوا بِآيَاتِنَا وَأَنْفُسَهُمْ كَانُوا يَظْلِمُونَ، دده قصه موږ په تفسیر کی ذکرکړی ده، چی ده به خلګو ته اسم اعظم ښووی، اودده څخه قوم غوښتنه وکړه په باره دموسٰی ؑ کی اودهغه دقوم کی چی هغوی ته خبری وکړی نوده منع کی داخپل قوم ددی کار څخه نوقوم مجبوره کی نوپه خپل خره باندی سپور سو اوروان سو دبنی اسرائیلو دمورچو خوا ته، کله چی دی روان وو نوخربه ورته په لاره کی کښېنستی نوده به ووهی تردی چی بیابه روان سو، لږ مزل به یې چی نور وکی نوبیابه خر کښېنستی نو په دی وار باندی یې ډیر سخت وهل ورکړه نوداخر ورته وویل چی ای بلعام ته چیرته روان یی؟ اٰیاته نه وینی ملائکی چی مامنع کوی دتلو څخه په دغه خوا باندی اٰیا ته ځی ددی دپاره چی ته ښراوی وکی دالله ﷻ نبی ته او مومنانو ته؟ نوبیاهم دی ددی خپل کار څخه منع نه سو اوروان سو تردی چی ورسیده دیو غره سرته چی نوم یې حسبان وو اودهغه ځای څخه یې ولیدی دموسٰی ؑ لښکر اوبنی اسرائیل نوشروع سو اوخبری یې کولی نودده ژبی چپه کار شروع کی (یعنی ده غوښته چی ښروی وکړی خوژبی یې دده اطاعت نه کوی) بلکی چپه ده خپل قوم ته ښراوی شروع کړی، نوخپل قوم ملامت کی چی داخوته موږ ته ښراوی کوی نوده ورته خپل عذربیان کی چی دا ښراوی دده په ژبه نه رازی بلکی چپه کیږی، تردی چی دده ژبه راولویده دده په سینه باندی، نوده خپل قوم ته وویل چی زما څخه خودنیا اواٰخرت دواړه ولاړه. اوهیڅ څه راته پاته نه سوه. بیاده امروکی خپل قوم ته چی خپلی ښځی ښایسته کړی او ددوی سره څه سامان یوځای کړی اودموسٰی ؑ لښکرته یې ولیږی چی په هغوی باندی دغه سامانونه خرڅ کړی اوهغوی په فتنه کی واقع کړی اودهغوی سره زنا وکی، ولی چی دهغوی څخه یو سړی هم زناوکی نوهغه ستاسی دپاره کافی ده، نودوی دغه کاروکی اوخپلی ښځی یې ولیږلی نوددوی څخه یوه ښځه چی نوم یې (کسبتی) وو هغه تیره سوه په یومشر دبنی اسرائیلو باندی چی نوم یې (زمری بن شلوم) وو ویل سوی دی چی دی مشروو دډلی دشمعون بن یعقوب ؑ نوداښځه په دی مشرباندی دده خیمی ته دننه سوه نوکله چی ورسره ده خلوت اویواځی والی اختیار کی نوالله ﷻ دوی ته طاعون ناجوړی ورولیږل. کله چی داخبره (فنحاص) ته ورسیده چی داځوی دالعیزار بن هارون ؑ دی، نوده واخسته خپله توره چی دوسپنی جوړه وه اوددی سړی خیمی ته دننه سو اودواړه یې برابرکړه اوبیا خلګو ته دباندی راووتی اوخپله توره ورسره وه اودآسمان خواته یې داتوره لوړه کړه او وی ویل: ای الله موږ به دغه رکم کار کوو دهغه چاسره چی ستا نافرمانی کوی، نوالله ﷻ ددوی څخه دطاعون ناجوړی لیری کړه، نوتعداد ددغه کسانو (۷۰۰۰۰) کسان وو چی په طاعون

(c) ketabton.com: The Digital Library



سره مړه سوی وه، اوچاویلی دی چی (۲۰۰۰۰) کسان مړه سوی دی، اودافنحاص ځوان ځوی دالعیزار بن هارون ﷺ وو، نوددی وجی څخه بنی اسرائیل ورکوی یوه حلاله دپاره دبچیانو دفنحاص، اوددوی دپاره وی هرنربچی ددوی دمالونوڅخه (یعنی ددوی دحیوانانو چی کم نربچی وو هغه دفنحاص دبچیانو دپاره وقف وی هغوی ته به ورکول کیږی)، داقصه چی ابن اسحاق ذکرکړیده داصحیح قصه ده، خوکیدی سی چی داهغه اولنی کورونه دبیت المقدس وی چی موسٰی ﷺ ورته داخل سوی وو. اوبیا وروسته وفات سوی وو. والله اعلم. اوداهم کیدی سی چی دابله قصه وی چی واقع سویده په دوران دسفر کی ددوی دتیه مقام څخه، ولی چی په دی کی دحسبان غرذکر سوی دی اودا دبیت المقدس څخه ډیرلیری دی، اوکیدی سی چی دا دموسٰی ﷺ لښکرسره واقع سوی وی په کمو باندی چی یوشع بن نون امیر مقرر سوی وو. په هرتقدیر سره مقصود داچی هارون ﷺ په تیه مقام کی دموسٰی ﷺ څخه دوه کاله مخکی وفات سوی دی اودهغه څخه وروسته موسٰی ﷺ هم په تیه کی وفات سویدی داقول دجمهورو علماوو دی، اوداخبره موږ مخکی هم ذکرکړه، اوددوی غوښتنه کړی وه دربِ العزت څخه چی دی نژدی کړی مقدسی مزکی ته نودده دغه غوښتنه پوره سوی وه. نوهغه سړی چی دابنی اسرائیل یې دتیه څخه روان کړی وه اودبیت المقدس په خوایې روان کړی وه هغه یوشع بن نون وو اوهم ده په اخره کی بیت المقدس ته دننه کړی وه، نودده په باره کی تاریخ داسی بیان کوی چی ده په بنی اسرائیلو باندی داردن سین پرې کړی وو اودهغه مخ یې اریحا خواته اړولی وو اوداډیره ښه اوسرسبزه او لوړو کورو والا ځای وو اوددوی کسان اواهل هم ډیر وه تردی چی دوی دغه خلګ محاصره کړه (یعنی دی بنی اسرائیلو محاصره وکړه دهغه ظالمانو ترشپږو میاشتو پوری). بیایوه ورځ دوی را وڅرخیده په دوی باندی اوحمله یې پروکړه اودوی په یوه تکبیرسره ورله نوهغه څه شکلونه اوتصویرونه چی په کښی وه هغه یې خراب کړه اوڅه مالِ غنیمت چی پکښی وو هغه یې را ټول کی اوددوی څخه یې (۱۲۰۰۰) سړی اوزنانی مړی کړی، اوډیر بادشاهان یې وشړل، اوویل سوی دی چی یوشع بن نون ﷺ پر (۳۱) بادشاهانو باندی کامیابی حاصله کړیده دبادشاهانو دشام دعلاقی څخه. اوذکرسوی دی چی ددوی محاصره ختمه سوی وه په ورځ دجمعی دمازدیګر په وخت کی، کله چی لمر پریوتی یاپریوتلو ته نژدی وو نودی یوشع ورته وویل (یعنی دی لمرته یې وویل) چی ته هم مامورېې یعنی ته هم دالله ﷻ په امر باندی ګرځی اوزه هم ماموره یم یعنی ماته هم امرسوی دی دجهاد اوقتال ددی خلګو سره، بیایې دعاوکړه چی ای ربه العزته دالمر ودروی نوالله ﷻ لمر ودروی تردی چی دوی فتح کی دغه ملك، اوالله ﷻ سپوږمی ته هم امرکړی وو، نوهغه هم ولاړه وو اونه راوتله، اودا تقاضا کوی چی داڅوارلسمه شپه وه دمخکی میاشت څخه اوداقصه دلمر په حدیث کی ذکر سویده چی

(c) ketabton.com: The Digital Library



موږ به يې وروسته بيانوو اوهرڅه چې قصه دسپوږمی ده هغه په کتاب داهل کتابو کې ذکر ده اوپه حديث کې نه ده ذکرسوې، اودامنافي دحديث نه ده بلکې په دې کې زيادت دی چې دهغه څخه فائده اخستی سی نوموږ به ددې نه تصديق کوو اونه به ورته دروغ وايو: امام احمد نقل کوی داسودبن عامرڅخه دی نقل کوی دابوبکر څخه دی دهشام څخه اودی دابن سيرين څخه اودی دابوهريره څخه دی وايې چې فرمايلي دي رسول الله ﷺ: لمرنه دی درول سی مګر ديوه سړی دپاره چې هغه يوشع بن نون عليه السلام دی داپه هغه شپوکې کله چې دی روان وو بيت المقدس ته. (۱) داحديث په دې باندې دلالت کوی چې بيت المقدس يوشع بن نون عليه السلام فتح کړی دی، نه موسیٰ عليه السلام، اودا په خصوصيت ديوشع بن نون عليه السلام باندې هم دلالت کوی. نوداحديث په ضعف دهغه بل روايت باندې دلالت کوی کم چې دعلي بن ابي طالب په باره کې ذکرسوی دی چې هغه ته لمر راوګرځول سو تردې چې هغه په کې لمونځ وکی اوبيا لمر پريوتی، اوهمداركم بل روايت امام احمد ذكركړی دی په نقل كولو سره دعبد الرزاق څخه دی نقل کوی دمعمر څخه دی نقل کوی دهمام څخه دی دابی هريره څخه دی وايې چې فرمايلي دي رسول الله ﷺ غزا وکړه يوه نبي دانبياوو دالله جل جلاله څخه نو خپل قوم ته يې وفرمايل چې په ماپسې دی نه راځي هغه سړی چې هغه مالك وي ديوې ښځې او اراده يې کړې وي دجوړولو دکور اوهغه سړی دی هم په ماپسی نه راځي کم چې کور شروع کړی دی اوچت يې ورلره نه دی برابر کړی اوهغه سړی هم چې دچا حيوان حمل اخستی وي اوهغه يې په انتظاروی. نبي عليه السلام وفرمايل: چې ده غزاکوله اويوکلي ته نژدې سو وروسته ترادا كولو دمازيګر دلمانځه څخه، نوبيايې لمر ته وويل چې ته هم مامورېې اوزه هم مامور يم، بيايې دالله جل جلاله څخه غوښتنه وكړه چې دالمر ودروی، نوالله جل جلاله لمر ودروی تردې چې دوی فتح کې دغه کلی، نبي عليه السلام فرمايې چې دوی راټول کې مال دغنيمت، اوبيايې ورته پيش کې اوهغه اور پرشروع کې اوټول يې وخوړی، نوددی څخه داهم معلومه سوه چې مخکنی قومونو ته دمال غنيمت استعمال جائز نه وو، اوالله جل جلاله زموږ عاجزی وليدل نوددی وجی يې زموږ امت ته جائز کی استعمال دغنيمتنو (۲) يواځې والي کړی دی احمد په دې روايت باندې په دې اعتبار سره، اوداركم روايت چې ذكر كړی دی البزار دطريقي دمبارك بن فضاله څخه چې دی نقل کوی دعبيدالله بن سعيد المقبری څخه دی نقل کوی دابی هريره څخه دی دنبي عليه السلام څخه هم په دې طريقي سره. مقصودې خبره داده چې کله چې دوی دننه سوه دغه ښار ته نودوی ته امرسوی وو چې دوی دسجدې په حالت کې دننه سی (يعنی

---

(۱). داصحيح روايت دی، تخريج ددی احمد کړی دی (۱\ ۳۲۵)

(۲). تخريج ددی احمد کړی دی (۲\۳۱۸). اوهم ددی وجه څخه مسلم هم نقل کړی دی په کتاب الجهاد کی، باب تحليل الغنائم لهذه الاية خاصة (۱۲\۵۱، ۵۲).

(c) ketabton.com: The Digital Library



درکوع په حالت کی اودالله ﷻ په شکر اداء کولو سره دی ښار ته دننه سی). همداسی چی کله نبی ﷺ داخل سو مکی ته په هغه ورځ چی یې فتح کړه، داخل سو په طریقی دتواضع اوعاجزی سره اوپه اداء کولو دشکر دالله ﷻ سره، اوبیاچی کله نبی ﷺ داخل سو خانه کعبی ته نوغسل یې وکی اواته رکعته لمونځ یې وکی اودالمونځ دشکرانی وو چی الله ﷻ دوی ته کامیابی ورکړه، دابنا برقول مشهور. ویل سوی دی چی دالمونځ دځاښت وو. او هرڅه چی بنی اسرائیل دی هغوی خلاف وکی دهغه څخه چی ورته امرسوی وو، دوی ته امر سوی وو چی دننوتلو په وخت کی (حطة) لفظ وایې اودوی ټوقه ورڅخه جوړه کړه اودابه یې ویل (حنطة فی شعیر) یعنی دغنمو دانه په اوربشو کی، اوبعضی وایې چی دوی به داسی ویل (حبه فی شعیر) یعنی دانه ده په اوربشه کی. حاصل داچی دوی بدل کی هغه امر چی دوی ته سوی وو اوبل څه یې ورڅخه جوړکړه اواستهزاء یې شروع کړه، لکه څه رکم چی الله ﷻ ددی بیان په دی قول خپل کی کړی دی: وَإِذْ قِيلَ لَهُمُ اسْكُنُوا هَذِهِ الْقَرْيَةَ وَكُلُوا مِنْهَا حَيْثُ شِئْتُمْ وَقُولُوا حِطَّةٌ وَادْخُلُوا الْبَابَ سُجَّدًا نَغْفِرْ لَكُمْ خَطِيئَاتِكُمْ سَنَزِيدُ الْمُحْسِنِينَ (۱۶۱) فَبَدَّلَ الَّذِينَ ظَلَمُوا مِنْهُمْ قَوْلًا غَيْرَ الَّذِي قِيلَ لَهُمْ فَأَرْسَلْنَا عَلَيْهِمْ رِجْزًا مِنَ السَّمَاءِ بِمَا كَانُوا يَظْلِمُونَ. (سورة الاعراف ۱۶۱\ ۱۶۲) اوپه بل ځای کی ورته الله ﷻ مخاطب سوی دی په دی قول سره: وَإِذْ قُلْنَا ادْخُلُوا هَذِهِ الْقَرْيَةَ فَكُلُوا مِنْهَا حَيْثُ شِئْتُمْ رَغَدًا وَادْخُلُوا الْبَابَ سُجَّدًا وَقُولُوا حِطَّةٌ نَغْفِرْ لَكُمْ خَطَايَاكُمْ وَسَنَزِيدُ الْمُحْسِنِينَ (۵۸) فَبَدَّلَ الَّذِينَ ظَلَمُوا قَوْلًا غَيْرَ الَّذِي قِيلَ لَهُمْ فَأَنْزَلْنَا عَلَى الَّذِينَ ظَلَمُوا رِجْزًا مِنَ السَّمَاءِ بِمَا كَانُوا يَفْسُ (سورة البقره ۵۸\ ۵۹). امام ثوری نقل کوی دمنهال بن عمر څخه دی نقل کوی دسعید بن جبیر څخه دی دابن عباس څخه په باره ددی آیت کی: وَادْخُلُوا الْبَابَ سُجَّدًا یعنی دوی درکوع په حالت کی دننه سوی وه ددی قول راوی حاکم اوابن جریر اوابن ابی حاتم دی، اوهم دارکم روایت ذکرکړی دی په نقل کولو سره دابن عباس څخه او همدارکم روایت ذکرکوی ثوری دابن اسحاق څخه دی دبراء څخه. مجاهد اوضحاك او السدی وایې چی: الباب (یعنی دروازه) دحطة مراد ده دبیت المقدس خوا ته ددننه کیدو دروازه ده. ابن مسعود وایې چی دوی سرونه سیده نیولی وه په خلاف دهغه چی دوی ته الله ﷻ امر کړی وو، اوداقول دابن عباس دقوم سره منافی نه دی چی هغه ویلی دی چی دوی په ټوکو سره اوپه مسخرو سره ننتولی وه، اوداقول (وَقولوا حِطَّةٌ) یعنی تاسی داخل سی په داسی حال کی چی تاسی استغفار کوی. بخاری ویلی دی چی: امر سوی وو بنی اسرائیل ته چی: وَادْخُلُوا الْبَابَ سُجَّدًا وَقُولُوا حِطَّةٌ نَغْفِرْ لَكُمْ خَطَايَاكُمْ، یعنی دوی ته امر داستغفار سوی وو اودوی دهغه خلاف وکی اوپه ټوقو ټکالو سره اوپه مسخرو سره دننه

سو اودحطة په ځای باندی يې حنطة فی شعير ويل. (١) نو وروسته الله ﷻ ته امرکړی وو چی بيت المقدس ته په عاجزی اودسجدی په حالت کی دننه سی اودالله ﷻ شکر اداکی نو دوی مسخری شروع کړی اواستهزاء يې کوله نوالله ﷻ په دوی باندی طاعون ناجوړی په طور دعذاب باندی راوليږله لکه څه رکم چی داثابت دی درسول الله ﷺ څخه چی په يوحديث کی يې فرمايلی دی چی دايوقسم درد دی چی په دی سره عذاب ورکول سو بعضو امتونو ته (٢) اوپه بل روايت کی داسامه بن زيد څخه اودخزيمه بن ثابت څخه نقل دی دی وايې چی رسول الله ﷺ فرمايلی دی: طاعون يوقسم عذاب دی چی په دی سره بعضی امتونوته عذاب ورکول سو. بياچی کله دوی مکمله قبضه وکړه په بيت المقدس باندی نودوی په کی پاته سوه اوپه دوی کی دالله ﷻ نبی يوشع ؑ وو چی ددوی په مينځونو کی به يې فيصلی کولی اودوی ته به يې دالله ﷻ احکام اوامر ښووی تردی چی الله ﷻ وفات کی اودده عمر (١٢٧) کاله وو، نودموسیٰ ؑ دوفات څخه وروسته يې (٢٧) کاله ژوند تير کړی دی.

## قصه دخضر ؑ او الياس ؑ

هرڅه چی خضر ؑ دی: دده په باره کی مخکی دموسیٰ ؑ په قصه کی څه ناڅه ذکرسوی دی چی موسیٰ ؑ دالله ﷻ څخه طلب وکی دده سره دليدلو په باره کی اوددی واقعه په سورة کهف کی په تفصيل سره ذکرسويده اومونږ په تفسير کی ددی ښه وضاحت کړی دی اوذکرمو دهغه حديث هم کړی دی کم چی په دې باندی دلالت کوی چی داخضر ؑ دی اودده خواته موسیٰ ؑ هغه موسیٰ چی دبنی اسرائيلو پيغمبر وو اوتورات پر نازل سوی وو هغه موسیٰ ؑ دده خواته ورغلی وو.
اختلاف سوی دی دده په نسب کی اودده په نوم کی اودده په نبوت کی اودده په ژوند کی چی داژوندی دی ترنن ورځی پوری په ډيرو اقوالو سره، چی دده ذکربه مونږ دلته کوو انشاء الله تعالیٰ. حافظ ابن عساکر وايې چی دی دآدم ؑ خپل بچی دی چی دهغه دملا څخه پيدا دی، بيايې ددی روايت کړی دی دطريقی ددارقطنی څخه په نقل کولو سره دمحمد بن الفتح څخه دی نقل کوی دالعباس بن عبدالله الرومی څخه دی درواد بن الجراح څخه دی دمقاتل بن سليمان څخه دی دضحاك څخه اودی دابن عباس څخه دی وايې چی دی دآدم

---

(١). صحيح البخاری: کتاب التفسير، سورة البقره، باب (واذقلنا ادخلو هذه القريه) (٨\ ٤٤٧٩) اومسلم: کتاب التفسير (١٥٢\١٨). اواحمد (٣١٨\٢) الترمذی: کتاب التفسير، باب ومن سورة البقره (٢٠٥٦\٥).
(٢). صحيح البخاری: کتاب الحيل، باب مايکره من الاختيال فی الفرار من الطاعون (٢٩٧٤\١٢) اومسلم په کتاب السلام کی، باب الطاعون والطير والکهانه ونحوها (٢٠٦\١٤). اواحمد (٢٠٩\٥) اوالطبرانی په الکبيرکی (١١\ ٢٧٤، ٢٧٥، ٢٧٦، ٣٨٤) اومالك په موطاء کی ذکرکړی دی په کتاب الجامع، باب ماجاء فی الطاعون (١٢\ ح٢٣).

(c) ketabton.com: The Digital Library



ﷺ دخپلی ملا څخه پیدادی اودده اجل لیری سوی دی ترهغه ورځی پوری چی دی ددجال تکذیب وکی. خودا منقطع روایت دی اوپه دی کی غرابت دی. اوابو حاتم وایې چی ما اوریدلی دی دخپلو استاذانو څخه چی دهغوی څخه یوابو عبیده دی اوداسی نور هغوی وایې چی: په بنی آدمو کی اوږد عمر والا سړی خضر ﷺ دی، اودده نوم خضرون بن قابیل بن آدم ﷺ دی. اوویل سوی دی چی آدم ﷺ دعاکړی وه هغه سړی ته چی څوك دده په دفنولو کی مخکی سی کله چی دنوح ﷺ په قوم باندی طوفان راتلی نودهغوی دی (یعنی دآدم ﷺ جسد) دځان سره لوړ کی اوکله چی یې دی بیرته مزکی ته راکښته کی نونور خلگ وبیریده اودی یې نه سو پټولی ولی چی په مزکه کی کی ډیرزیات وحشت وو تردی چی خضر ﷺ دی پټ کی نوالله ﷻ خپله وعده پوره کړه اوده لره یې اوږد عمر ورکی. ابن قتیبه ذکرکړی دی په المعارف کی په نقل کولو سره دوهب بن منبه څخه چی: نوم دخضر ﷺ (بلیا) دی.

اودده نسب یې داسی بیان کړی دی چی دابلیا بن ملکان بن فالغ بن عابر بن شالخ بن ارفخشد بن سام بن نوح ﷺ دی. اواسماعیل بن اویس ویلی دی چی دده نوم: المعمر بن مالك بن عبدالله بن نصربن الازد دی. همدارکم بل یوه سړی ویلی دی چی دی: خضرون بن عمياييل بن اليفزبن العيص بن اسحاق بن ابراهیم الخلیل ﷺ دی. اوویل سوی دی چی دی ارمیابن حلقیادی. او ویل سوی دی چی دی ځوی دفرعون وو هغه فرعون چی الله ﷻ ورلره موسیٰ ﷺ پیغمبر را استولی وو، خوداخبره ضعیفه ده اوپه دی قول کی غرابت دی.

ابن الجوزی ویلی دی چی دی ځوی دمالك او ورور دالیاس ﷺ دی. هم داقول السدی هم ذکرکړی دی. او ویل سوی دی چی دی په سردارانو دذی القرنین کی شمار سړی وو.

اوویل سوی دی چی دی زوی دیوه سړی وو دهغه کسانو څخه چی په ابراهیم ﷺ باندی یې ایمان راوړی وو. اوویل سوی دی چی دی نبی وو په زمانه دبشتاسب بن بهر اسب کی ابن جریر ویلی دی چی دی راروان وو په زمانه دافریدون یعنی اثفیان کی تردی چی موسیٰ ﷺ ورسره ولیده اودا قول صحیح دی.

اودارکم روایت ذکرکړی دی حافظ ابن عساکر په نقل کولو سره دسعید بن المسیب څخه دی وایې چی دخضر ﷺ مور دروم وه او پلار یې دفارس وو. اویو قول په دی باندی هم دلالت کوی چی دی دبنی اسرائیلو څخه دی. بخاری ویلی دی په نقل کولو سره دمحمد بن سعید الاصبهانی څخه دی نقل دابن المبارك څخه دی نقل کوی دمعمر څخه دی نقل کوی دهمام څخه دی دابی هریره رضی الله عنه څخه اودی دنبی ﷺ څخه چی فرمایلی یې دی: یقیناً نومولی سوی دی خضر ﷺ په خضر سره ولی چی دی ناست وو په سپینه مزکه باندی او

(c) ketabton.com: The Digital Library



دشاه څخه به یې شینکي بوټي ښوریدی. (۱) خطابي ویلي دي چې دې نومولي سوی دی په خضر سره ددی وجې څخه چې دده اخلاق ډیرښه وه اوهمیشه به فراخه تندی سره ګرزیدی اودا دمخکنی حدیث سره منافي نه دی. اودارکم راوی دی حافظ بن عساکر ددی حدیث دطریقې څخه داسماعیل بن حفص بن عمر الابلي چې دی نقل کوی دعثمان څخه اودابو جزی څخه اودهمام بن یحیٰی څخه دی نقل کوی دقتاده څخه دی نقل کوی دعبدالله بن الحارث بن نوفل څخه، اودی نقل کوی دابن عباس څخه دی دنبي ﷺ څخه چې نبي ﷺ فرمایلي دي: یقیناً نومول سوی دی خضر ﷺ په خضر سره ددی وجې څخه چې ده لمونځ کړی وو په یوه صفا اووچې مزکې باندې نوهغه ځای شین سو (یعنی شنه بوټي پر را وختل). داحدیث په دی اعتبار سره غریب دی. دارکم قصه نقل کوی دالثوری څخه دی دمنصور څخه اودی دمجاهد څخه دی وایې چې: خضر ﷺ په دی نوم باندې ځکه نومول سوی دی چې کله به ده لمونځ کوی نوددی شاوخوا درخته به شنه کیده اومخکې ذکرسوی وه چې کله موسٰی ﷺ اویوشع بن نون ﷺ دواړه دده خواته راله نودی دسمندر غاړی ته په شین ځای کې ولاړ وو، اوده یوه کپړه په ځان باندې اچولې وه چې په یوخوا باندې یې سر پټ کړی وو اوپه بل خوا سره یې پښې پټې کړی وی، نوموسٰی ﷺ سلام پروکی نوخضر ﷺ مخ خلاص کې اوجواب یې ورکی، اوورته یې وفرمایل چې: آیاته دی مزکې ته په خیر سره رالې؟ اوته څوك یې نوده ورته جواب ورکی چې زه موسٰی یم. نوخضر ﷺ ورته وفرمایل چې آیا دبني اسرائیلو پیغمبریې؟ نوده ورته وفرمایل چې هو. اودسیاق ددی قصې څخه دامعلومیږی چې دی پیغمبروو اوداپه یوڅو اعتباراتو سره معلومیږی یوداقول دالله ﷻ: فَوَجَدَا عَبْدًا مِنْ عِبَادِنَا آتَيْنَاهُ رَحْمَةً مِنْ عِنْدِنَا وَعَلَّمْنَاهُ مِنْ لَدُنَّا عِلْمًا، بل داقول دالله ﷻ: قَالَ لَهُ مُوسَى هَلْ أَتَّبِعُكَ عَلَى أَنْ تُعَلِّمَنِ مِمَّا عُلِّمْتَ رُشْدًا (٦٦) قَالَ إِنَّكَ لَنْ تَسْتَطِيعَ مَعِيَ صَبْرًا (٦٧) وَكَيْفَ تَصْبِرُ عَلَى مَا لَمْ تُحِطْ بِهِ خُبْرًا (٦٨) قَالَ سَتَجِدُنِي إِنْ شَاءَ اللهُ صَابِرًا وَلَا أَعْصِي لَكَ أَمْرًا (٦٩) قَالَ فَإِنِ اتَّبَعْتَنِي فَلَا تَسْأَلْنِي عَنْ شَيْءٍ حَتَّى أُحْدِثَ لَكَ مِنْهُ ذِكْرًا (سورة الكهف ۷۰\۲۲) که چیری دی نبي نه وای اوولی وای نوپه دی طریقې سره به یې نه وای مخاطب کړی، اوپه موسٰی ﷺ باندې به یې داسې ردنه وی کړی، بلکې موسٰی ﷺ دده په باره کې سوال کړی وو دالله ﷻ څخه چې دده صحبت اختیار کې اودده څخه هغه علم ازده کې کم چې الله ﷻ ده لره ورکی اودده معصومیت هم بیان سوی دی په دی کې، ولې که چیری دی نبي نه وای او معصوم نه وای نوموسٰی ﷺ چې یوعظیم نبي اومعصوم دی دی دیوولې څخه چې غیر

---

(۱). صحیح البخاری: کتاب احادیث الانبیاء، باب حدیث الخضر مع موسٰی ﷺ. (۲\۲۰۲۳۴).

(c) ketabton.com: The Digital Library



معصوم دی څه رکم طلب دعلم کوی، اوحال داچی موسٰی ﷺ ورپسی ځومره وګرځیدی اوتفتیش یې ورپسی وکی، بیاداچی ده ورسره کله ولیده نواکرام اوتعظیم یې ورله وکی، اوپه هغه پسی روان سو هغه به چی چیری تلی نوموسٰی ﷺ به ورپسی وو، نوداټولی خبری په دی باندی دلالت کوی چی دی نبی دی اوبل داچی ده ته به وحی کیدل لکه څه رکم چی موسٰی ﷺ ته وحی کیدلی، اودی مختص وو په داسی امورو باندی اوپه داسی اسرارو دنبوت باندی چی په هغه باندی موسٰی ﷺ هم نه پوهیدی، اوحال داچی موسٰی ﷺ کلیم الله وو اودبنی اسرائیلو پیغمبروو. اوهم په دی قوم باندی دلیل نیولی دی الرمانی چی خضر ﷺ نبی دی. دریم اعتبار داچی: ده یوماشوم مړکی اوداکار ده نه وو کړی مګر په وحی سره دطرفه دالله ﷻ څخه.
اودامستقل دلیل دی په نبوت دده باندی اوپه عصمت دده باندی، ولی چی ولی الله ته دا اجازه نه وی چی قتل وکی په محض خپل خیال سره (یعنی په زړه کی یې دچاپه باره کی څه خدشه راسی نوهغه قتل کی نوداولیاء الله دپاره داجائزنه دی). ولی چی دده زړه واجب العصمت نه وی، کله په کی خطایې هم کیدی سی اوهرڅه چی انبیاء دی نوهغوی واجب العصمت دی، ولی چی ده داماشوم قتل کی نودا ددی وجی څخه چی دی دخپل پلارپه دین باندی پاته سی اوکفر اختیارنه کړی نودادمصلحت دوجی څخه قتل سوی دی. نوداښکاره دلیل دی په نبوت دده باندی څلورم اعتبار داچی کله دی ددغه کارونو وضاحت موسٰی ﷺ ته کوی نوپه آخره کی یې ورته وفرمایل چی: رَحْمَةً مِنْ رَبِّكَ وَمَا فَعَلْتُهُ عَنْ أَمْرِي یعنی داکار ماپه خپل خوښه نه دی کړی بلکی دالله ﷻ دطرفه ماته امر اووحی سوی وی په دی باره کی). نوداټول اقوال چی په قرآن کریم کی ذکردی په قصه دده کی نوداټول دلالت کوی په نبوت دده باندی.
اوهرڅه چی داقول دی چی دی فرشته وو نودا خبره صحیح نه ده اوډیره کمزوری خبره ده.
دده په ژوندی والی کی هم اختلاف دی چی آیادی ترنن ورځی پوری ژوندی دی اوکه نه؟
جمهور علماء داوایې چی دی ترنن ورځی پوری ژوندی دی، اودوی په دلیل کی هغه دعا دآدم ﷺ ذکرکوی چی آدم ﷺ دعاکړی وه چی الله ﷻ دی هغه سړی ته اوږدعمر ورکی کم چی زماپه پټولو کی مخکی والی وکی نوده مخکی والی کړی وو په دفنولو دآدم ﷺ کی وروسته دختمیدلو دطوفان څخه، اوویل سوی دی چی ده دهغه چینی څخه اوبه څښلی وی په کم سره چی دهمیشوالی ژوند ورکول کیږی لکه څه رکم چی داموږمخکی بیان کړی دی.
اودارکم نوری خبری یې هم ذکرکړی دی په باره دژوندون دده کی ترنن ورځی پوری. اودا وصیت دده وو موسٰی ﷺ ته په هغه وخت کی کله چی ده ورته داوویل: قَالَ هَٰذَا فِرَاقُ بَيْنِي

(c) ketabton.com: The Digital Library



وَبَيْنِكَ سَأُنَبِّئُكَ بِتَأْوِيلِ مَا لَمْ تَسْتَطِعْ عَلَيْهِ صَبْرًا دده دوصیت په باره کی ډیراقوال او اثار ذکرسوی دی چی اکثره منقطع دی (دمنقطع مطلب دادی چی په مینځ کی اکثر راویان نه دی ذکر سوی)، بیهقی نقل کوی دابو سعید بن ابی عمر څخه دی نقل کوی دابو عبدالله الصفار څخه دی نقل کوی دابوبکر بن ابی الدنیا څخه دی نقل کوی داسحاق بن اسماعیل څخه دی نقل کوی دجریر څخه اودی دابو عبدالله الملطی څخه دی وايې چی: کله موسٰی ﷺ دخضر ﷺ څخه جلاکیدی نوموسٰی ﷺ خضر ﷺ ته وویل چی ماته وصیت وکی، نوخضر ﷺ ورته وفرمایل چی: ته نفع رسونکی سه اودځان څخه ضرری مه جوړوه چی خلګو ته دی ضرر ورسیږی، اوته په فراخ تندی سره ګرځه اودرد ناك کیږه مه، دبی هوده خبرو څخه ځان ساته اوبغیر دحاجت څخه مه ګرځه. اوپه بل روایت کی يې دازیات کړی دی چی: ته مه خانده مګر دتعجب اوحیرانتیا دوجی. بشر بن حارث الحافی وايې چی: موسٰی ﷺ خضر ﷺ ته وویل چی ماته وصیت وکه نوهغه ورته وویل چی دالله ﷻ اطاعت په ځان باندی اسانه که. اودده په باره کی مرفوع حدیث وارد سوی دی چی هغه نقل کړی دی ابن عساکر دطریقی دزکریا بن یحیٰی الوقاد څخه (چی دامشهوره دی په کذاب سره یعنی دځان څخه حدیثونه بیانوی اوپه هغه کی دروغ ذکرکوی) دی وايې چی ویل کیدی په عبدالله بن وهب باندی داقول اوما اوریدی، اوثوری ویلی دی، همداسی مجالد هم ویلی دی، دارکم ابو الوداك ویلی دی، دارکم ابوسعید الخدری ویلی دی، دارکم عمر بن الخطاب ویلی دی، چی رسول الله ﷺ فرمایلی دی: ویلی دی زما ورور موسٰی ﷺ، ای زماربه، اودارکم يې دموسٰی ﷺ الفاظ ذکرکړه. نورالی ده ته خضر ﷺ په داسی حال کی چی داښه ځوان وو او خوشبويې ورڅخه راتله اوسپینی کپړی يې اچولی وی چی لستونی يې رانغښتی وه، نووی فرمایل موسٰی ﷺ ته: سلامتیا دی وی په تاباندی دالله ﷻ دطرفه، ستارب په تاباندی سلام پیش کی. نوموسٰی ﷺ وفرمایل چی هغه ذات په خپله سلام دی اوسلامتیا والادی اودهغه ذات دپاره حمد اوثناء اوشکردی، داسی ذات دی اوداسی رب دی چی دهغه دنعمت حساب نسم کولی، اونه قدرت لرم چی دهغه دشکر ادایګی وکم مګر دهغه ذات په مدد سره. بیاموسٰی ﷺ وفرمایل چی: ماته وصیت وکه داسی وصیت چی ستا څخه وروسته هغه ماته فائده ورسوی، نوخضر ﷺ ورته وفرمایل چی: ای طالب العلمه (یعنی ای طلب کونکی دعلم) یقیناً ویونکی لږ ستړی کیدونکی وی داوریدونکی څخه، نوته مه ستړی کوه خپل هم مجلس والا په بیان دڅه خبری کی، اوپه دی خبری باندی ځان پوه کړه چی زړه ستا دپاره لوښی دی نوته وګوره چی په دغه لوښی کی ته څه اچوی اودڅه څخه يې ډکوی، اوته مخ واړوه ددنیا دځان څخه اودنیا څخه شاته کړه ولی چی داځای دقراري نه

(c) ketabton.com: The Digital Library



دی اونه محل دپاته کیدلو دی، اویقیناً ته گرځول سوی یې مبلغ (یعنی تبلیغ کونکی ددین) دخلگو دپاره چی ته دخلگودپاره دتوښی سبب سی دآخرت (یعنی ستادتبلیغ دوحی داخلګ دخپل آخرت تیاری وکی اودآخرت دپاره توښه برابره کړی)، اوخپل نفس عادت کړه په صبر باندی اوځان بچ ساته دګناهونو څخه. ای موسیٰ ځان فارغه کړه علم ته، ولی چی علم دهغه چا دپاره وی څوك چی ورلره ځان فارغه وی، اوته مه کیږه زیاتوونکی دعلم ولی چی زیات علم علمآء غلطوی، اولیونی په خوشحاله کیږی، خوپرتا باندی لازمه ده میانه روی ولی چی میانه روی کار دحکماوو دی اوښائست دعلماوو دی، اوکله چی تاته ښکنځل وکی یو جاهل سړی نوته حلم اختیارکړه اودهغه څخه منع سه ولی چی ددی جاهل ښکنځل اوجهالت ستادپاره لوی شی دی (یعنی دهغه ښکنځل ستا دپاره سبب دنجات وی په ورځ دقیامت باندی). ای موسیٰ بن عمران ته داګمان مه کوه چی تاته ډیرعلم درکول سوی دی بلکی تاته چی کم علم درکول سوی دی هغه ډیر لږ دی ای ابن عمره ته مه خلاصوه هغه دروازه چی تا ته پته نه وی چی دادڅه وجی څخه بنده سویده اوته مه بندوه هغه دروازه چی تاته پته نه وی چی دا دڅه وجی څخه خلاصه سویده. ای ابن عمرانه دچاچی ددی دنیا څخه زړه پرې کیږی اوددی دنیاخواته یې رغبت وی اوخپل حالت ته دحقارت په نظرباندی ګوری اودخپل تقدیر څخه ګیلی کوی نوهغه به څه رکم په زاهدانو کی شمارسی؟ آیادخپل شهواتو څخه په هغه سړی لیری سی کم چی ورپسی رغبت کوی؟ یاده ته به علم څه فائده ورسوی؟ اودده څخه به جهالت لیری سی چی دی ورپسی کلك مبنتی وی؟ ولی چی دده تګ دآخرت خواته وی اودی ددنیا خوا ته روان وی، ای موسیٰ ته علم وکه په دی نیت باندی چی ته عمل په وکی، اوپه دی نیت باندی یې مه کوه چی ته یې خلګوته وښیې نوځان به په ګناه کی ککړ کی، وګرزوه زهد دځان دپاره لباس اوعلم اوذکر دځان دپاره کلام (یعنی ددنیا څخه بی رغبتی دځان دپاره جامه وګرزوه اوکه خبری کول غواړی نوبیا دعلم خبری کوه یاذکر کوه) اونیکیانی دځان دپاره ډیری حاصلوه ولی چی ته په خطایانو کی هم واقع کیدی سی، اوزلزله کوه خپل زړه په بیره دالله ﷻ سره ولی چی په دی باندی الله ﷻ راضی کیږی، او دخیر کارکوه ولی چی ستا څخه خطایانی هم کیدلی سی، اوتاته نصیحت وسو که چیری ته دایاد کړی نودابه ستادپاره فائده مندوی. نونبی ﷺ فرمایلی دی: خضر ﷺ ولاړی او موسیٰ ﷺ یواځی پاته سو اوژړل یې. داحدیث صحیح نه دی،

اوابن کثیر وایې چی زه داګمان کوم چی دا دزکریا بن یحییٰ الوقاد المصری خپل قول دی، اوددی تکذیب کړی دی یوه دعلماوو دائمه وو څخه اودتعجب خبره دی ده چی ابن عساکر په دی باندی سکوت یعنی خاموشی اختیار کړیده. حافظ ابونعیم الاصبهانی وایې په نقل

(c) ketabton.com: The Digital Library



کولو سره دسلیمان بن احمد بن ایوب الطبرانی څخه دی نقل کوی دعمر بن اسحاق بن ابراهیم بن العلاء الحمصی څخه دی نقل کوی دمحمد بن الفضل بن عمر اوالکندی څخه دی نقل کوی دبقیه بن الولید څخه دی نقل کوی دمحمد بن زیاد څخه دی دابی امامه څخه دی وایې چی رسول الله ﷺ فرمایلی دی خپلو صحابوو ته: آیازه تاسی ته خبردرنه کړم دخضر ؑ په باره کی؟ نودوی وویل چی ولی نه ای دالله ﷻ رسوله، نونبی ؑ وفرمایل چی یوه ورځ دی روان وو په بازار دبنی اسرائیلو کی، په دی دوران کی یو مکاتب (یعنی هغه مریی چی مالك پریښې وی په دی شرط باندی چی مالك ته به پیسی پوره کوم چی دده قیمت دی اودی به ازادوی) ولیدی نوهغه ورڅخه سوال وکی چی څه رالره راکړه نو خضر ؑ ورته وفرمایل چی ماپه الله ﷻ باندی ایمان راوړی دی اوزماسره څه نسته چی زه یې تا ته درکم نوبیاورته ده وویل چی زه یې درڅخه دالله ﷻ په نامه غواړم. نوبیاورته خضر ؑ وویل چی زماسره نسته چی تاته یې درکم مګر داچی ته می واخلی اوپه بازار کی می خرڅ کی، نودی مسکین ورته وویل چی آیا داسی کیدی سی نوده ورته وفرمایل چی، هو، نودی یې بازارته بوتلی اوهلته یې خرڅ کی په څلورسوه درهمو باندی. نوچاچی اخستی وو دهغه سره یې څه موده تیره کړه چی هغه هیڅ کارنه په کوی، نوده ورته وفرمایل چی تازه اخستی یم ددی دپاره چی ته زما څخه څه دخیر کارواخلی یعنی نوماته څه کار وایه چی زه یې وکم، نودی سړی ورته وویل چی زه بدګڼم تاته دڅه کار ویل ولی چی ته بوډا اوعاجزه انسان یې اوپه کارسره به تاته تکلیف درورسیږی نوده ورته وفرمایل چی ماته څه تکلیف نه رارسیږی، نوده سړی ورته دیوې ډبری وویل چی هغه دیوځای څخه بل ځای ته یوسی. او داډبره دشپږو کسانو څخه کمو کسانو نسوای لوړولی اودایې په یوه ورځ کی هم نه سوای لوړولی. نوداسړی دڅه حاجت دپاره دکور څخه ووتی اوبیرته چی په لږ وخت کی کور ته رالی نوده دغه ډبره هغه بل ځای ته وړی وه، نودی سړی ورته وویل چی ډیرښه تاخوداسی کاروکی چی زماستاڅخه ددی کار امیدنه وو. نوبیا داسړی یوځای په سفرباندی تلی نودی خضر ؑ ته یې وویل چی ته زماپه کور کی زماخلیفه سه نوده ورته وفرمایل چی دڅه کاروصیت راته وکه.

نودی سړی ورته وویل چی کار کول به تاته ګران سی اوپه تکلیف کی به واقع سی، نوده ورته وفرمایل چی: ماته نه ګرانیږی اونه ماته تکلیف په رسیږی، نودی سړی ورته وویل چی ته زمادپاره کور جوړکړه دپخو خښتو څخه ترهغه وخته پوری چی زه راځم، نوداسړی په سفر باندی ووتی کله چی بیرته رالی نوکور تیار جوړسوی وو. نودی سړی ورته وویل چی زه ستا څخه پوښتنه کوم په نامه دالله ﷻ باندی چی ته څوك یې اوستاڅه کاردی؟ نوده ورته وفرمایل چی زماڅخه دی دالله ﷻ په نامه باندی پوښتنه وکړه اوداکار ماپه مجبوری کی واقع

(c) ketabton.com: The Digital Library



کوی چی زه تاته وایم چی زه څوك یم، نوزه به تاته اوس دځان په باره کی وو ایم چی زه څوك یم؟ زه خضر یم هغه خضر چی تابه څه ناڅه دده په باره کی اوریدلی یې، زما څخه سوال وکی یومسکین سړی نوزماسره څه نه وه چی ماورلره ورکړی وای، نوبیا راڅخه هغه دالله ﷻ په نامه سوال وکی نوما ورلره ځان په لاس کی ورکی نوهغه زه خرڅ کړم.

اوتاهم په دی خبره باندی خبروم چی دچا څخه هم دالله ﷻ په نامه سره سوال وسو اودهغه په طاقت اووس کی وه چی هغه ته څه ورکی اوبیایې هم ورنه کی نو دقیامت په ورځ به دالله ﷻ مخ ته ولاړوی چی پوستکی به یې تش وی اوغوښه به په کی نه وی نودی سړی وویل چی ماایمان راوړی په الله ﷻ باندی، اوتاته می تکلیف درکی ای دالله ﷻ پیغمبره اوحال داوو چی ماته ستاپه باره کی علم نه وو، نوخضر ﷺ ورته وفرمایل چی خیردی وی اوالله ﷻ دی ستاسره ښه وکی. نودی سړی ورته وویل زمامور اوپلاردی ستا څخه قربان وی ته فیصله وکړه زماپه اهل اومال کی کمه چی الله ﷻ تاته خوښوی، اوڅه چی ښه وی هغه واخله اوزه به ستالاره ازاده کړم، نوده ورته وفرمایل چی زه داخوښ ګڼم چی ته زمالاره خلاصه کړی، چی زه عبادت وکم دخپل رب، نودی سړی لاره ورته خلاصه کړه، نوخضر ﷺ وفرمایل چی: حمد اوثناء دی وی دهغه ذات دپاره چی زه یې په مجبوری کی ګرفتار کړم اوبیایې ماته نجات راکی اوداحدیث مرفوع کول غلط دی، خولائقه اومناسب دا ده چی دا موقوف سی اوددی روایت ابن جوزی په خپل کتاب (عجالة المناظر فی شرح حال الخضر) کی دطریقی دعبدالوهاب بن ضحاك څخه نقل کړی دی.

اودارکم حافظ ابن عساکر روایت نقل کړی دی چی سندیې السدی ذکرکړی دی دی وایې چی: خضر ﷺ اوالیاس ﷺ دواړه وړونه وه اوددوی دواړو پلار بادشاه وو، نوالیاس ﷺ خپل پلار ته وویل چی: هرڅه چی زما ورور خضر دی نودهغه دبادشاهی کولو شوق نسته، که چیری ده ته تاسی واده وکی نودده به ځوی پیداسی نوهغه به دده پرځای باندی بادشاهی کوی، نوده ته پلار واده وکی دیوی ښایسته اوځوانی انجلی سره. نوخضر ﷺ ورته وفرمایل چی: زماڅه رغبت اوحاجت نسته ښځی ته، که چیری ته غواړی نوزه به ستا لاره خلاصه کم څه رکم چی ستاخوښه وی، اوکه ته غواړی چی زماسره یوځای پاته سی او دالله ﷻ عبادت کوی اوداخبره پټه وساتی نوداسی هم کولی سی. نودی ښځی ورته وویل چی زه ستاسره پاته کیږم اودااراز به پټ وساتم، نوداښځی ورسره تریوه کال پوری پاته سوه. کله چی یوکال تیر سو نودی بادشاه داښځه راوغوښتله اوورته یې وویل چی زماځوی هم ځوان دی اوته هم ځوانه یې نوبچی څه سو؟ نودی ښځی ورته وویل چی بچی دالله ﷻ دخواوی، که الله ﷻ وغواړی نوبچی ورکوی چاته چی وغواړی اوچی ونه غواړی نونه یې ورکوی نودی خضر ﷺ ته پلار امروکی چی داښځه طلاقه که نودایې طلاقه کړه بیایې ورلره

(c) ketabton.com: The Digital Library



بله ښځه وکړه چې هغه کونډه وه اومخکې يې بچې پيداسوی وو کله چې يې دده سره واده وکی نودی ته يې هم هغه څه وويل کم چې يې هغه مخکنی ته ويلی وه، نوداهم پاته کیده اووی ويل چې ستاسره پاته کيږم، کله چې ددی هم يوکال تيرسو نوبادشاه دارا وغوښتله او ورته يې وويل چې بچې، څه سو نودې ورته وويل چې ستا دزوی ښځوته حاجت نسته، نودی راوغوښتی خپل پلار نودی وتښتيدی، نوپلار ورپسې کسان واستول خوګير نه سو. اوويل سوی دی چې داښځه يې مړه کړه ولې چې دې هغه پټ رازښکاره کی نوبيادد‌ی وچې څخه وتښتيدی، اوهغه اولنی ښځې يې پريښوولـه اوازاده يې کړه. نو داپاته سوه چې عبادت به يې دالله ﷻ کوی په بعضو ښارونو کې، نويوه ورځ په دی باندی يوسړی تيرسو چې هغه بسم الله وويل نودې واوريدله. نودې ورڅخه پوښتنه وکړه چې دانوم دی دکم ځای څخه ازده کی نودی سړی ورته وويل چې: زه دملګرو دخضر ﷺ څخه وم، نوماهغه ته واده وکی نودهغه بچې پيداسو اوبيا دهغه اودهغه دښځې ترمينځ څه واقعات تيرسوه تردی چې دغه ښځه خادمه سوه دفرعون دلور چې دفرعون دلور په سرکی يې ږمنځ وهل (يعنی دهغه سربه يې ږمنځوی) نويوه ورځ ددی دلاس څخه ږمنځه خطا سوه نودی بسم الله وويل، نوددی فرعون لور ورته وويل چې آيا زما پلار دی يادکی؟ (يعنی ددی مطلب داوو چې دی ښځې دالله نوم واخستی نوددی فرعون لور داګمان وکی چې دالله څخه مراد ددی پلار دی نوځکه يې پوښتنه وکړه چې آيا زما پلار يادوی؟ نودی ښځې ورته وويل چې نه، بلکی هغه رب يادوم چې زما اوستا اوستا دپلار رب دی، نودی خپل پلار ته داخبره ورسوله نوپلار يې امر وکی په بلولو اوګرمولو داوسپنو کې نوډيری اوسپنی يوځای سوی اوهغه ګرمی سوی، اوبيايې امر وکی چې داښځه وروغورځوی. کله چې دی ښځې دااور وليدی نوداپر شاه سوه اوددی سره ځوی وو هغه ځوی ورته وويل چې موری ته په حق يې اوصبر وکړه، نو دی ښځې ځان اورته وغورځوی اومړه سوه. الله ﷻ دی پر ورحميږی.

هرڅه چې هغه حديث دی چې حافظ ابوبکر البيهقی ذکرکړی دی، دی وايې چې موږ ته خبر راکړی دی ابوعبدالله الحافظ دی وايې چې ماته خبر راکړی دی ابوبکر بن بالويه دی نقل کوی دمحمد بن بشر بن مطرڅخه دی نقل کوی دکامل بن طلحه څخه دی نقل کوی دعباد بن عبدالصمد څخه دی دانس بن مالك څخه دی وايې چې: کله چې رسول الله ﷺ وفات سو نوصحابه رضي الله عنهم پرراټول سوه اوټولو ژړل. نوپه دی دوران کی يوسړی رادننه سو چې په ږيره کی يې سپين اوتور وريښته ګډوډ وه اوغټ جسم والا وو نوخپل سر يې کښته کی اووی ژړل اوبيا مخامخ سو صحابوو ته نووی فرمايل: يقيناً دالله ﷻ دخوا څخه وی تسلی په هرمصيبت کی، اوبدلی وی دهرورك سوی شی څخه، نوتاسی رغبت وکی دالله ﷻ طرف ته اوهغه ته رجوع اوانابت وکی. اوهغه ذات تاسی ته په مصيبت کی کتلی دی نوتاسی ورلره

(c) ketabton.com: The Digital Library



هم وګوري، ولې چې په مصیبت والاباندې جبرنه کېږي. اوبیا رالې نوپه دې کې صحابوو یوبل ته وفرمایل چې آیادا سړی پیژنئ؟ نوابوبکر ﷛ اوعمر﷛ اوعلي ﷛ وفرمایل چې: هو، داورور درسول الله ﷺ خضر ؈ دی. (١)
اوداركم امام شافعي ویلي دي په خپل مسند کې په نقل کولو سره دقاسم بن عبدالله بن عمر څخه چې دی نقل کوی دجعفر بن محمد څخه دی نقل کوی دخپل پلار څخه دی نقل کوی دخپل نیکه څخه دی نقل کوی دعلي بن الحسین څخه دی وایې چې: کله وفات سو رسول الله ﷺ اوخلق دتعزیت دپاره راتهول سوه نودوی واوریده دیوه ویونکی څخه چې ویل یې: یقینًا دالله ﷻ دخواه تعزیت وی په هرمصیبت کې او وروسته پاته کیدونکی وی په هلاکت کې (یعني چې یووفات سی نوپه هغه پسې الله ﷻ شاته بل سړی پریږدی) اودهر ورکیدو څخه پیداکول وی (یعني دچاڅخه چې څه ورك سی نودهغه پسې ورلره الله ﷻ هغه شی بیرته پیداکوی یادهغه په ځای ورلره نیکی په عمل نامه کې لیکی)، نو پس تاسی په الله ﷻ باندی باور وکی، اودهغه څخه امید ساتی، ولې چې مصیبت په هغه چا باندی وی چې څوك دثواب څخه محروم وی. نوعلي بن الحسین وویل چې آیاتاسی ته پته ده چې دا څوك وو؟ داخضر ؈ وو. (٢)
اوداركم روایت نقل کوی عبدالله بن وهب دهغه چا څخه چې ده ته یې دارروایت ذکرکړی دی دی نقل کوی دمحمد بن عجلان څخه دی دمحمد بن المنکدر څخه: چې عمربن الخطاب ﷛ دجنازې لمونځ ورکوی چې په دې دوران کې یې یوغائبانه اواز واوریدی چې ویل یې: زموږ څخه مخکې والې مه کوه الله ﷻ دې په تاباندی ورحمیږي. نوعمر ﷛ ورلره انتظار وکی تردې چې دی ورسیدی اوپه صف کې ودریدی، اودمړی دعایې ذکرکړه چې هغه داده: یاالله که چیری ته ده لره عذاب ورکوی نوداسی ډیرستا نافرمانه دی، اوکه ته ورلره مغفرت وکی نودی ستا رحمت ته فقیردی، اوکله چې دی پټ سو نودی سړی وویل، خوشحالی دی وی تالره که چیری ته نه وای مشر دقوم یاتهیکس اخستونکی یاخزانچی یامنشی یاپولیس. نوعمر ﷛ وفرمایل چې داسړی راونیسی چې دده څخه پوښتنه وکودده دلمانځه اوددعاپه باره کې چې داڅوك دی؟ نوویل سوی دی چې دی لیری ولاړی ددوی څخه نوکله چې دوی ولیدی دهغه دپښو اثر نودیوې پښو حجم یې یولیشت وو. نوعمر ﷛ وفرمایل: زمادی قسم وی په الله ﷻ باندی چې داخضر ؈ دی دکم په باره کې چې موږ ته نبی ؈ ذکرکړی وو، په دې روایت کې انقطاع دی اوددې په شان روایتونه صحیح نه دی.

---

(١). اخرجه البیهقی فی دلائل النبوة: جماع ابواب مرض رسول الله ﷺ ووفات وماظهر فی ذلك من اثار النبوة ودلالة الصدق، باب ماجاء فی عظم المصیبه التی نزلت بالمسلمین بوفات رسول الله ﷺ (٧\ ٢٦٩).
(٢). اخرجه البیهقی فی دلائل النبوت (٧\ ٢٦٨) دطریقی دشافعی څخه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



اودارکم روایت ذکرکړی دی حافظ ابن عساکر دثوری څخه دی نقل کوی دعبدالله بن المحرز څخه دی نقل کوی دیزید بن الاصم څخه دی دعلی بن ابی طالب څخه دی فرمایي چی: زه داخل سوم خانه کعبی ته په یوشپه کی دپاره دطواف، نوپه دی دوران کی ماولیدی یوسړی چی دخانه کعبی په څادر پوری منښتی وو اودایي وویل: ای هغه ذاته چی نه منع کوی هغه اوریدل دیوبل اوریدلو څخه (یعنی الله ﷻ ته په یووخت باندی ډیر خلګ دعاګانی کوی نوالله ﷻ دټولو دعاګانی یوشان اوری اوالله ﷻ یواوریدل دبل اوریدلو څخه نه منع کوی اونه څه مغالطه پرراځی)، اوای هغه ذاته چی هغه دخلګو سوالونه په مغالطی کی نه اچوی (یعنی دډیرو سوالونوپه وجی الله ﷻ نه غلطیږی)، اوهغه ذات چی نه تنګوی هغه عاجزی اوډیر غوښتل دغوښتونکو اونه یې تنګوی ډیر سوالونه دسائلانو، ماله رزق راکی په عفو کولو سره اوپه خوږ رحمت ستا باندی (یعنی ماته عفو اوبخښنه راکی اوخپل رحمت په ماباندی نازل کی) نودې علی ﷛ فرمایلی دی چی: ماورته وویل چی دابیرته راته ووایه په ماباندی یعنی یووار یې ماته بیا ووایه: نوماته یې وویل چی، تااوریده څه چی ماوویل؟ نوماورته وویل چی هو. نوبیایې ماته وویل: قسم می دی وی په هغه ذات باندی چی دخضرؑ روح دهغه په لاس کی دی (داعلی ﷛ وایي چی داخضر ؑ وو) دادعا چی ماوکړه دابه ونه وایي هریوسړی په هرفرض پسی وروسته مګرداچی الله ﷻ به دهغه ګناهونه معاف کی، که څه هم دهغه ګناهونه دسمندردزګ هومره وی یاددرختو دپاڼو هومره وی یادستوروپه برابر ډیروی، بیابه هم الله ﷻ ده ته مغفرت کوی. اوداسی نور روایتونه ددی په باره کی ذکرسوی دی چی دی دخانه کعبی په څادر پوری منښتی وو اودا دعایې کړیده په مختلفو روایتونو سره. دارکم ابن جوزی په بله طریقی سره هم روایت ذکرکړی دی چی دهغه مفهوم هم دارکم دی لکه مخکی روایت چی موږ ذکرکی.

دارکم حافظ بن عساکر وایي چی ماته خبر راکړی دی ابوالقاسم بن الحصین دی وایي چی ماته خبرراکړی دی ابوطالب محمدبن محمد دی وایي چی ماته خبره راکړی دی ابو اسحاق المزکی دی نقل کوی دمحمد بن اسحاق بن خزیمه څخه دی نقل کوی دمحمد بن احمد بن یزید څخه دی وایي چی ماته خبرراکړی دی عمر بن عاصم دی نقل کوی دحسن بن رزین څخه دی نقل کوی دابن جریج څخه دی دعطاء څخه دی دابن عباس ﷛ څخه دی وایي چی ماته دده علم نسته مګر داچی دامرفوع ذکرسوی دی دنبی ؑ څخه چی نبی ؑ فرمایلی دی خضر ؑ اوالیاس ؑ دواړه هرکال دحج په موسم کی دیوبل سره وینی او (۱)

---

(۱). اخرجه الدار قطنی فی الافراد. اوابو اسحاق الذکی په فوائد خپلوکی داذکرکړی دی دارکم متقی الهندی په کنز العمال کی (۱۲\۳۴۰۵۲).

(c) ketabton.com: The Digital Library



دیوبل سره یوځای کیږي، اوبیا دواړه دیوبل څخه په دی کلمو سره جلا کیږي. بسم الله ماشاء الله ماکان من نعمت فمن الله، ماشاء الله، ولاحول ولاقوة الابالله، و یل سوی دی چی ابن عباس ویلی دی چی چادا دعا سهار اوماښام دری دری واره وویل نوالله ﷻ به دی په امن کی کی دغرقیدو څخه اودسوزلو څخه اودغلا څخه (یعنی دغه ورځ به ورڅخه څوك غلا ونه کړي). اوداهم ویل سوی دی چی ګمان کوم چی دایې هم ورسره ذکر کړی دی چی دی به محفوظ وی دشیطان څخه اودبادشاه څخه اودمار څخه اودلړم څخه. دارکم ابن ابی داود وایې چی: الیاس اوخضر ؑ دواړه هرکال روژه نیسی په بیت المقدس کی، اوهرکال دواړه حج هم کوی، اودواړه دزمزم اوبه هم څښی صرف په یووار څښلو سره چی هغه اوبه ددوی دپاره کافی کیږی تربل کاله پوری.

اودارکم روایت ذکرکړی دی ابن عساکر چی ولیدبن عبدالملك بن مروان (هغه خلیفه چی ددمشق جامع مسجدیې جوړکړی دی) ده داوغوښتل چی یوه ورځ په دی جماعت کی لمونځ وکی نوامریې وکی چی په دغه شپه دی جماعت دقوم څخه تش سی نودوی دغه رکم کار وکی، نوکله چی شپه سوه نودا ولید بن مروان چی دهغه دور خلیفه وو دی رالی دهغه جماعت ته نوګوری چی دباب الخضراء خواته یوسړی ولاړدی اولمونځ کوی، نوخپل قوم ته یې وویل چی آیا ماتاسی ته امرنه وو کړی چی داجماعت زما دپاره خالی کی؟ نودی قوم ورته وویل چی: ای امیر المومنین داخضر ؑ دی هره شپه دی راځی اودلته لمونځ کوی.

دارکم عبدالرزاق وایې چی ماته خبر راکړی دی معمر دی نقل کوی دالزهری څخه دی نقل کوی دعبیدالله بن عبدالله بن عتبه څخه دی وایې چی ابوسعید فرمایلی دی چی موږ ته حدیث بیانوی رسول الله ﷺ یواوږد حدیث اودده په مینځ کی یې داخبره هم وکړه چی: دجال به راځی یوه ورځ نوپه هغه باندی حرام ګرځول سوی دی داخلیدل دمدینی ښار ته نو په دغه وخت به ورته یوسړی راووځی اوورته به ووایې چی زه دالله ﷻ په نوم باندی شاهدی ورکوم چی ته دجال یې نودجال به خلګو ته ووایې چی آیازه دی مړکړم اوبیایې بیرته راژوندی کړم نوتاسی به داومنی چی زه خدای یم نوټول خلګ ورته وایې چی هو! نو داغه سړی به مړکی اوبیابه یې بیرته راژوندی کی: نودی به ووایې چی زمادی قسم وی په الله ﷻ باندی چی زما څخه ماسوا بل هیڅ څوك نسته چی ستاپه باره کی څه بصیرت او پوهه ولری نودا دجال به وغواړی چی دی دوباره مړکی نوتسلط به نه سی پرکولی چی دوباره یې مړکی معمر وایې چی ماته داخبر راکول سوی دی چی داسړی خضر ؑ دی کم چی دجال یووار مړکی اوبیایې دوباره راژوندی کی، اوددی حدیث تخریج په صحیحینو کی دحدیث دزهری څخه سوی دی. اوهغه احادیث چی ابن قیم الجوزی په خپل کتاب (عجالة المنتظر فی شرح حالت الخضر) کی ذکرکړی دی نودهغه په باره کی یې ویلی دی چی هغه

(c) ketabton.com: The Digital Library



ټول احاديث موضوعي دي، اودايې هم ويلي دي چې دهغه اثار ټول ضعيف دي، دامخکي چې کم دلائل او اقوال ذکرسوي دي ددې ټولو څخه داخبره معلوميږي چې خضر ﷺ ژوندی دی.
اوهرڅه چې هغه علماء دي چې هغوی وايې چې خضر ﷺ وفات دی هغه دادي، امام بخاري ، ابراهيم الحربی، ابوالحسين بن النادی، الشيخ ابو الفرج بن الجوزي، اودده په باره کې يې جلا کتاب ليکلی دی اوپه هغه کې يې ډير دلائل ذکرکړي دي چې دهغه څخه داثابتيږي چې خضر ﷺ وفات دی يودهغه څخه دا آيت دقرآن کريم دی: وما جعلنا لبشر من قبلك الخلد، که خضر ﷺ انسان وی نوددی آيت لاندی به داخل وی، اودهغه خاص کول ددې آيت څخه جائز نه دی مګر په دليل صحيح سره اودليل صحيح دده په باره کې نسته. اويوددې څخه داقول دالله ﷻ دی: وَإِذْ أَخَذَ اللهُ مِيثَاقَ النَّبِيِّينَ لَمَا آتَيْتُكُمْ مِنْ كِتَابٍ وَحِكْمَةٍ ثُمَّ جَاءَكُمْ رَسُولٌ مُصَدِّقٌ لِمَا مَعَكُمْ لَتُؤْمِنُنَّ بِهِ وَلَتَنْصُرُنَّهُ قَالَ أَأَقْرَرْتُمْ وَأَخَذْتُمْ عَلَى ذَلِكُمْ إِصْرِي قَالُوا أَقْرَرْنَا قَالَ فَاشْهَدُوا وَأَنَا مَعَكُمْ مِنَ الشَّاهِدِينَ (سورة ال عمران\ ۸۱)
ابن عباس ويلي دي چې الله ﷻ دټول انبياوو څخه داوعده اخستی ده چې که هغه ژوندي وي اومحمد ﷺ نبوت ښکاره سی نودهغه تابعداري به کوي اودهغه مدد به کوي. اودوی ته يې امرکړی دی چې دخپلو امتونو څخه هم دالوظ واخلي که چيري دوی ژوندي وه په دور دمحمد ﷺ کې نوپه هغه باندي به ايمان راوړی، دا امام بخاري ذکرکړي دی په نقل کولوسره هم ددی ابن عباس څخه نوخضر ﷺ که څه هم نبي وو اوکه ولي الله وو نوپه زمانه دمحمد ﷺ کې که چيري وو نودهغه مدد اوپه هغه باندي ايمان راوړل به پرشرط وی او دهغه احوال به دنبي ﷺ مخ ته راتله، اوحال داچې دهغه څخه څوك هم نه دی خبرسوی اونه يې دنبي ﷺ سره ښکاره ليدلی دی، اوبل داچې که دی ژوندي وای نو دابوبکر ﷺ څخه به دده رتبه مخکې وه اودی به دنبي ﷺ سره يوځای وای په سفرکې، خوبياهم دابوبکر ﷺ رتبه دده څخه لوړه ده. اوکه څه هم دی نبي وو خوبيا هم دموسیٰ ﷺ درجه ترده لوړه ده. اودموسیٰ ﷺ په باره کې رسول الله ﷺ فرمايلي دي چې هغه روايت امام احمد نقل کړی دی چې نبي ﷺ فرمايلي دي: زمادی قسم وی په هغه ذات باندي چې زماروح دهغه په لاس کې دی که چيري موسیٰ ﷺ اوس وای نوهغه به لازمًا زما تابعداري اختيارکړي وای، نو ددی څخه دامعلوميږي چې خضر ﷺ وفات دی اوژوندی نه دی اوکه ژوندي وی نوپه آيت کې چې څه رکم ذکرسوي دي چې پر ټولو انبياوو باندي دالازمه ده چې دنبي ﷺ تابعداري اونصرت به کوي نوپه ده باندي به هم دالازمه وی اوحال دادی چې دده په يوه غزا کې اونه په هجرت کې اونه په څه په بل کارکې دنبي ﷺ سره ذکرسته. اوبله داچې عيسیٰ ﷺ به په

(c) ketabton.com: The Digital Library



اخره زمانه کی راځی نوهغه به هم دنبی ﷺ په امتیانو کی شمارل کیږی اوپه خپله به دجلا نبی په حیثیت باندی نه راځی اوحال دادی چی دی هم یوداولو العزم والاوڅخه دی اوآخری نبی دبنی اسرائیلو دی داچی دنبی ﷺ په امتی کی شمارل کیږی نوخضر ﷺ که چیری ژوندی وای نوهغه به په طریقه اولی سره په امت دنبی ﷺ کی شمارل کیدی، اوبل دبدر په مقام کی فرشتی دنبی ﷺ ماتحت یعنی دهغه په امارت کی دکافرانو سره جنګیدلی دی چی په هغه کی دملایکو سردار جبرائیل ﷺ هم وو نودا دومره مبارکه غزوه چی ملایکو په کی هم حصه اخستی وه اودملایکو تذکره په کی هم سویده که چیری خضر ﷺ ژوندی وای نودهغه تذکره به په کی هم سوی وه چی دی په جنګ بدر کی حاضر وو خولیکن دخضر ﷺ تذکره په کی نسته ولی چی دابه دده دپاره دډیر شرافت اوعزت مقام وو خودی پکښی نه وو نوددی وجی څخه یې په کی ذکرهم نه دی سوی.

قاضی ابویعلی محمد بن الحسین بن الفراء الحنبلی وایې چی: زموږ دبعضو ملګرو څخه پوښتنه وسوه چی آیا خضر ﷺ وفات دی نوهغوی ورته په جواب کی وویل چی: هو! دی وایی چی ماته داخبره رارسیدلی ده دابی طاهر بن الغباری څخه چی هغه ویلی دی چی که دی ژوندی وی نودنبی ﷺ خواته به راغلی وی.

داروایت نقل کړی دی ابن قیم الجوزی په خپل کتاب عجاله کی نوخلاصه ددې دوهم بحث داده چی خضر ﷺ وفات دی. نودده دژوند په باره کی دوه بحثونه ذکرسوه اول داچی تر اوسه پوری ژوندی دی اودوهم داچی وفات سوی دی نوپه دی کی دادوهم قول راجح دی ولی چی داولنی بحث اکثره دلائل موضوعی اوضعیف احادیث دی چی په هغه باندی دلیل اوحجت نه نیول کیږی، اوپه دی دوهم بحث کی قوی اوصحیح دلائل اودقرآن کریم آیتونه ذکردی نوددی څخه پته ولګیده چی خضر ﷺ وفات سوی دی اوژوندی نه دی،

اودده دوفات په باره کی بل دلیل هم ذکرسوی دی هغه داروایت دی چی امام احمد یې نقل کوی دموسیٰ بن داود څخه دی نقل کوی دابن لهیعه څخه دی دابن الزبیر څخه دی دابن جابر څخه دی وایې چی نبی ﷺ فرمایلی دی مخکی دوفات څخه په موده دیوی میاشتی باندی چی دوی زما څخه پوښتنه کوی په باره دقیامت کی اودقیامت علم صرف دالله ﷻ سره دی، اوزه قسم کوم په الله ﷻ باندی چی نسته نن ورځ پر سر دمزکی باندی داسی زنده سر چی په هغه باندی سل کاله تیرسی مګر هغه به وفات کیږی.

دارکم هم داسی څلور پنځه روایتونه نورهم ذکردی هم په دی طریقی سره چی دهغه څخه هم دغه مضمون حاصلیږی اوپه دی حدیثونوکی ابن قیم الجوزی ښه په تفصیل سره بحث کړی دی اوصحیح اوضعیف اوموضوعی حدیثونه یې ټول دیوبل څخه جلاکړی دی او دهریوه

(c) ketabton.com: The Digital Library



څخه یې په ښه طریقی سره جواب کړی دی نودضرورت دپاره دهغه کتاب دکم چی مخکی موږ دوه واره نوم ذکرکړی دی هغه وګوری. ولله الحمد

## بیان دالیاس ﷺ

الله ﷻ فرمایلی دی: وَإِنَّ إِلْيَاسَ لَمِنَ الْمُرْسَلِينَ (۱۲۳) إِذْ قَالَ لِقَوْمِهِ أَلَا تَتَّقُونَ (۱۲٤) أَتَدْعُونَ بَعْلًا وَتَذَرُونَ أَحْسَنَ الْخَالِقِينَ (۱۲۵) اللهَ رَبَّكُمْ وَرَبَّ آبَائِكُمُ الْأَوَّلِينَ (۱۲٦) فَكَذَّبُوهُ فَإِنَّهُمْ لَمُحْضَرُونَ (۱۲۷) إِلَّا عِبَادَ اللهِ الْمُخْلَصِينَ (۱۲۸) وَتَرَكْنَا عَلَيْهِ فِي الْآخِرِينَ (۱۲۹) سَلَامٌ عَلَى إِلْ يَاسِينَ (۱۳۰) إِنَّا كَذَلِكَ نَجْزِي الْمُحْسِنِينَ (۱۳۱) إِنَّهُ مِنْ عِبَادِنَا الْمُؤْمِنِينَ. (سورة الصافات ۱۲۳\ ۱۳۲).

علماوو دده نسب په داسی طریقی سره ذکرکړی دی چی دا الیاس النبشی دی، اوویل سوی دی چی دی ابن یاسین بن فنحاص بن العیزار بن هارون دی. اوویل سوی دی: الیاس بن العیزار بن هارون بن عمران دی. اوعلماوو ویلی دی چی دی پیغمبروو دبعلبك والاو دپاره کم چی ددمشق مغرب خوا ته دی، نوده خپل قوم ته دعوت ورکی دالله ﷻ طرف ته چی دالله ﷻ عبادت وکی اودبتانو عبادت مه کوی اوددوی یومشهور بت وو چی دهغه نوم بعل وو. اوویل سوی دی چی دایوه ښځه وه چی دهغې نوم بعل وو. والله اعلم. خواولنی قول صحیح دی نوددی وجی څخه یې دوی ته وویل: إِذْ قَالَ لِقَوْمِهِ أَلَا تَتَّقُونَ (۱۲٤) أَتَدْعُونَ بَعْلًا وَتَذَرُونَ أَحْسَنَ الْخَالِقِينَ (۱۲۵) اللهَ رَبَّكُمْ وَرَبَّ آبَائِكُمُ الْأَوَّلِينَ (سورة الصافات ۱۲۴\ ۱۲۶) نودوی ددی پیغمبر خلاف اوتکذیب وکی اودده دقتل اراده یې وکړه.

نوویل سوی دی چی دی وتښتیدی اودخپل قوم څخه پټ سو ابویعقوب الاذرعی په نقل کولو سره دڅه کسانو څخه وایې چی الیاس ﷺ پټ سو دخپل قوم څخه په یوغارکی (۲۰) کاله، تردی چی الله ﷻ دهغه ملك بادشاه اودهغه نورملګری هلاك کړه، نوبیا الیاس ﷺ رالی خپل قوم ته اوبیایې ورلره هغه دعوت ورکی، نودده دقوم څخه ډیرو کسانو ایمان راوړی اواسلام یې قبول کی اودارکم ټول قوم ایمان راوړی بغیر د(۱۰۰۰۰) کسانو څخه نوده امروکی په قتل ددوی باندی نودوی یې قتل کړه. اودارکم په بل روایت کی سعید بن عبد العزیز وایې چی: الیاس ﷺ چی کله دخپل قوم څخه وتښتیدی نوپه یوغار کی شل ورځی پاته سو، اوپه بل روایت سره څلویښت ورځی ذکرسوی دی، چی ده ته به کارغانو رزق راوړی. هرڅه چی دده دژوند په باره کی مخکی دخضر ﷺ سره دده کم اقوال ذکر سو چی دادواړه هرکال دیوبل سره وینی اوحج کوی نو دهغه څخه دامعلومیده چی داتراوسه پوری ژوندی دی، خودغه اقوال ټول ضعیف دی اومخکی موږ دخضر ﷺ په باره کی دلائل ذکرکړه چی دهغه څخه دامعلومیده چی دی وفات دی نودغه رکم الیاس ﷺ هم وفات دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



اوهغه قول چې وهب بن منبه ذکرکړی دی چې کله ده خپل قوم ته دعوت ورکوی نوقوم ده ته ډیر تکلیف ورسوی نوده دالله ﷻ څخه دعا وغوښته چې دی وفات کړی نوالله ده ته یو حیوان راولیږی چې رنګ یې داور په شان وو نودی په هغه باندی کښېښستی اوالله ﷻ دده څخه دخوراك چښاك لذت لیری کی اودده څخه ملایکه جوړه سوه، اووصیت یې وکی یسع ؈ ته، نوپه دی قول کی هم نظردی اودا اسرائیلی اقوال دی چې نه ددی تصدیق کیدی سی اونه ددی تکذیب کیدی سی، بلکی داویل به ښه وی چې دادصحیح کیدو څخه ډیر لیری دی، والله اعلم.

دارکم حافظ ابوبکر البیهقی یوروایت ذکر کوی دابو عبدالله الحافظ څخه دی نقل کوی دعباس احمد بن سعید المعدانی البخاری څخه دی نقل کوی دعبدالله بن محمود څخه دی نقل کوی دعبدان بن سنان څخه دی نقل کوی داحمد بن عبدالله البرقی څخه دی دیزید بن یزید البلوی څخه دی دابو اسحاق الفزاری څخه دی دالاوزاعی څخه دی دمکحول څخه دی دانس بن مالك څخه دی وایې چې موږ وو درسول الله ﷺ سره په سفرکی، نونبی ؈ کښته سو په وادی کی نوپه دی دوران کی یوسړی وو چې مشغول وو اودادعایې کوله: یاالله ما وګرځوی دمحمد ﷺ دامت څخه ولی چې هغه داسی امت دی چې هغه بخښل سوی دی او دهغه توبه په هروخت کی قبلیږی، نودا انس بن مالك وایې چې زه دمشرق خواته روان سوم نوما ولیدی یوسړی چې اوږدوالی یې (۳۰۰) لویشتی وو، نوزما څخه یې پوښتنه وکړه چې ته څوك یې نوماورته وویل چې زه انس یم خادم درسول الله ﷺ، نوزماڅخه یې پوښتنه وکړه چې هغه څه سو نوماورته وویل چې په هغه ځای کی دی اوستا دعا اوری نو وې ویل چې ته ورسه اوزما سلام پروایه، اوورته ووایه چې ستا ورور الیاس ؈ په تاباندی سلام وایې نودا انس؄ فرمایې چې زه رالم نبی ؈ ته اوماورته داخبره وکړه نونبی ؈ دده لیدو ته رالی، نورالی دده خواته اوغاړه یې ورسره یوځای کړه اوسلام یې ورباندی واچوی، اوبیا دواړه کښېنسته اوخبری یې کولی نودې الیاس ؈ دنبی ؈ ته وفرمایل چې زه په ټول کال کی صرف یوه ورځ افطار کوم اونن زما دافطار ورځ ده نوما اوتابه یوځای ډوډی سره وخورو، نودی وایې چې نازل سو ده ته دآسمان څخه یودستر خوان چې په هغه باندی ډوډی اوماهیان اوداسی نور شیان تیار پراته وه نودوی دواړو ورڅخه خوراك وکی اوماته یې هم ورڅخه حصه وکړه اوبیاموږ دمازیګر لمونځ وکی، اوبیاورسره موږ خدایې په امانی وکړه اوموږ ولیدی هغه چې په وریځوکی ولاړی دآسمان خواته. اوویل سوی دی چې دا حدیث ضعیف دی خوپه دی روایت کی دتعجب خبره داده چې حاکم ابوعبدالله النیسابوری ددی تخریج کړی دی په خپل مستدرك کی، خوبیاهم داحدیث دالفاظو اودمعنٰی په اعتبار سره صحیح نه دی اومختلف دی دهغه نورو احادیثو څخه، ولی چې مخکی حدیث ذکرسوی

(c) ketabton.com: The Digital Library



وو چې رسول الله ﷺ فرمايلي دي چې: الله ﷻ آدم ﷺ پيدا کړی دی په داسې حال کې چې دهغه اوږدوالی شپيته ګزه وو، تردې چې په آخر دحديث کې يې داسې فرمايلي دي چې: وروسته دهغه څخه ترنن ورځې پورې دخلګو قدونه کميږي نوپه دې حديث سره داپته ولګيده چې هغه مخکنی حديث ضعيف دی اوصحيح نه دی. اودامخکنی حديث دانس نورو علماوو په نورو طريقو سره ذکرکړی دی اودټولو خلاصه هم دغه روايت ته راجع کيږي او دټولو څخه يومطلب راوزي چې نبي ﷺ دالياس ﷺ سره وليده اودواړو يوځای ډوډۍ خوړلې ده اودهغه اوږدوالی (۳۰۰) ګزه وو.

اودارکم بل روايت هم ذکرسوی دی چې په هغه کې په ثابت ﷺ پسې وروسته الياس ﷺ ولاړ وو اوثابت ﷺ په لمانځه ولاړ وو نودی ورپسې شاته ولاړوو نوثابت ﷺ په لمانځه کې سورة غافرشروع کې نوکله يې چې د (غافر) لفظ ووايه نو ده دوروسته څخه وفرمايل چې يالله ته ماته بخښنه وکړې اوبياچې ثابت ﷺ داقول قابل التوب لفظ ووايه نو دوروسته څخه دی وفرمايل چې ای توبه قبلونکی ذاته زماتوبه قبوله کړې، بياچې کله ده (ذی الطول) اوويل نووروسته هغه وفرمايل چې ای الله ته خپل رحمت په ماباندی اوږدکې، نودی وايې چې ما شاته وکتل نوهيڅ څوك نه وو، نودی وايې چې زه ووتم چې پوښتنه مې کوله ددغه سړي په باره کې نوما پوښتنه وکړه دڅه کسانو څخه چې په تاسې باندې خوڅوك نه دی تيرسوی؟ نوهغوی ورته وويل چې نه موږ خوڅوك هم نه دی ليدلی، نوويل سوی دی چې دوی ونه ليدی دغه سړی مګر دا الياس ﷺ وو نواصح قول دادی چې الياس ﷺ هم وفات سوی دی ولې چې مخکې په حديث کې داذکر سوه چې نبي ﷺ په يوه ورځ کې داوفرمايل چې دنن ورځې څخه اخوا به داسې زنده سرنه وي چې هغه دسل کالو تيريدو څخه وروسته ژوندی وي. که چيرې دی ژوندی وی ترنن ورځې پورې نونبي ﷺ به ددې خصوصيت بيان کړی وای اودی به يې ددې مخکنې قول څخه مستثنٰی کړی وای خو داسې يې نه دی کړی، والله اعلم.

## بيان ديوی ډلې دپيغمبرانو دبنی اسرائيلو وروسته دموسٰی ﷺ څخه

ابن جرير په تاريخ خپل کې ويلې دي چې: خلاف نسته په مينځ دعلماوو کې په خبرو او اخبارو دتيرو سوو امتونو کې چې زموږ دامت څخه مخکې تيرسوی دی په دې خبرې کې هم څه اختلاف نسته چې ديوشع ﷺ څخه وروسته ټول اموردبنی اسرائيل کالب بن يوفناته وسپارل سول. يعنې دايوسړی وو دملګرو دموسٰی ﷺ څخه اودهغه دخور خاوند وو اودا يو سړی دهغه کسانو څخه وو چې دالله ﷻ څخه به يې سخته بيره کوله، او دوی دواړه هغه کسان دي چې بنی اسرائيلوته يې ويلې وه په هغه وخت کې کله چې هغوی دجهاد څخه

(c) ketabton.com: The Digital Library



وروستوالی اختیار کړی وو: ادْخُلُوا عَلَيْهِمُ الْبَابَ فَإِذَا دَخَلْتُمُوهُ فَإِنَّكُمْ غَالِبُونَ وَعَلَى اللهِ فَتَوَكَّلُوا إِنْ كُنْتُمْ مُؤْمِنِينَ، ابن جریر ویلی دی چی دده ځخه وروسته په بنی اسرائیلو کی مشر حزیقل وو، اوداهغه سړی دی چی دوی ته یې دبیرته راژوندی کیدلو دعا کړی وه وروسته دوتلو ددوی دخپلو کورونو ځخه دوجی دوباء ځخه.

## بیان دحزقیل ؑ

الله ﷻ فرمایلی دی: أَلَمْ تَرَ إِلَى الَّذِينَ خَرَجُوا مِنْ دِيَارِهِمْ وَهُمْ أُلُوفٌ حَذَرَ الْمَوْتِ فَقَالَ لَهُمُ اللهُ مُوتُوا ثُمَّ أَحْيَاهُمْ إِنَّ اللهَ لَذُو فَضْلٍ عَلَى النَّاسِ وَلَكِنَّ أَكْثَرَ النَّاسِ لَا يَشْكُرُونَ (سورة البقره \ ۲۴۳).

محمد بن اسحاق ویلی دی چی: کله الله ﷻ کالب بن یوفنا وفات کی وروسته دیوشع ؑ ځخه نوخلیفه پاته سو حزیقل ؑ په بنی اسرائیلو کی ددی دواړو ځخه اودی ځوی دبوډی وو، اودا هغه سړی دی چی خپل قوم ته یې دعاکړی وه کم چی په قرآن کریم کی ذکرسوی دی: أَلَمْ تَرَ إِلَى الَّذِينَ خَرَجُوا مِنْ دِيَارِهِمْ وَهُمْ أُلُوفٌ حَذَرَ الْمَوْتِ، ابن اسحاق وایې چی دوی دوبا مرض ولیدی نودوی دخپل کلی ځخه وتښتیدل اوبلی مزکی ته ولاړه نوالله ﷻ په هغه سره ټول مړه کړه، نوپه دوی باندی ډیره موده تیره سوه، نویوه ورځ په دوی باندی حزیقل ؑ تیریدی نوودریدی اوسوچ یې کوی ددوی په باره کی نوده ته وویل سوه چی: ته داخوښوی چی دا الله دوباره راژوندی کی اوته ورته ګوری؟ نوده وفرمایل چی: هو. نوالله ﷻ امروکی ټولو جسمونوته چی راولاړیږی اوټول هډوکی دیوبل سره یوځای سی اوغوښه به پر واچول سی، نوټول راولاړیدل اوپه یوتکبیر سره ټولو اواز وکی.

اواسباط نقل کوی دالسدی ځخه دی نقل کوی دابی مالك ځخه دی دابی صالح ځخه دی دابن عباس ځخه اودی دمره ځخه دی دابن مسعود ځخه اودی دیوی ډلی دصحابوو ځخه دوی په دی قول دالله ﷻ کی داسیویناکوی: أَلَمْ تَرَ إِلَى الَّذِينَ خَرَجُوامِنْ دِيَارِهِمْ وَهُمْ أُلُوفٌ حَذَرَ الْمَوْتِ فَقَالَ لَهُمُ اللهُ مُوتُوا ثُمَّ أَحْيَاهُمْ، دوی وایې چی: یوکلی وو په نامه داودردان چی دواسط علاقی خواته وو چی په دی کلی کی طاعون (وبا) ناجوړی راغلی وه، نوعام خلګ ددی کلی ځخه وتښتیده اودیوبل کلی په غاړه کی پریوته نومړه سوه هغه چی په کلی کی پاته سوی وه اودا ځوك چی تښتیدلی وه نودوی محفوظ پاته سوه. کله چی طاعون ختم سو نو دوی بیرته راله خپل کلی ته په امن سره اودوی په خپلو کی وویل چی زموږ دامشران ډیر هوښیاران وه چی دوی وتښتیده نوموږ ورسره هم وتښتیدو اوکه چیری موږ نه وای تللی نو موږبه هم اوس مړه سوی وای اودوی داوعده وکړه چی په بل کال کی که بیا طاعون ناجوړی راکښته سی نوبیابه ددوی سره وتښتو. نوپه بل کال باندی بیاطاعون رالی، نو

(c) ketabton.com: The Digital Library



دوی بیا وتښتیده اوپه هغه زوړ ځای کی چی په کم کی په هغه مخکی کال کښته سوی وه هغه ځای ته دوباره ولاړه. نویوی ملایکی دکښته خوا ددغه علاقی څخه اوبلی ملایکی دلوړی خوا ددغه علاقی څخه اواز وکی چی مړه سی، نودوی مړه سوه تردی چی په دوی باندی ډیر وخت تیرسو نوپه دوی باندی دالله ﷻ نبی حزیقل ؑ تیرسو نودوی ته په سوچ کی سو نوالله ﷻ ورته وحی وکړی چی آیاته غواړی چی زه تاته داوښیم چی زه داځنګه را ژوندی کوم؟ نوده وویل چی هو، نوالله ﷻ ورته امروکی چی اواز وکه. ده اواز وکی چی ای هډوکو دالله ﷻ په حکم سره یوځای سی همدارکم دوه دری اوازونه یې نور هم وکړه چی هډوکونه دیوبل سره یوځای سی نوبیا ورته ده وفرمایل چی دالله ﷻ په حکم باندی ټول ولاړسی نوټول ژوندی سوه. ابن اسباط ویلی دی چی دوی کله ژوندی سوه نودوی داوویل (سبحانك اللهم وبحمدك لااله الا انت) نودوی بیرته خپل قوم ته ولاړه په داسی حال چی دوی بیا ژوندی وه ترهغه وخته پوری چی په خپلو اجلونو باندی مړه سوه. ابن عباس وایې چی دا (۴۰۰۰) کسان وه اوپه بل روایت کی یې (۸۰۰۰) کسان ذکر کړی دی، اوابی صالح وایې چی (۹۰۰۰) کسان وه.

محمدبن اسحاق وایې چی موږته ددوی دعمر په باره کی چا خبرنه دی راکړی، کله چی دی الله ﷻ وفات کی نوبنی اسرائیلو دالله ﷻ وعده هم هیره کړه اوپه دوی کی خبری ډیری سوی تردی چی دوی دبتانو عبادت شروع کی اودوی ځان ته یوبت په عبادت سره نښانه کړی وو چی بعل نوم یې وو، نوبیا ددی څخه وروسته الله ﷻ الیاس ؑ راولیږی دوی ته اوقصه دالیاس ؑ موددی څخه مخکی دخضر ؑ دقصی سره یوځای ځکه ذکرکړیده چی ددی دواړو ذکر اکثره یوځای کیږی، اوبل ددی وجی څخه چی الله ﷻ په سورة الصافات کی دموسٰی ؑ دقیصی څخه وروسته دده قصه ذکر کړیده نوځکه دده قصه موږ مخکی ذکرکړه. محمد بن اسحاق وایې چی دالیاس ؑ څخه وروسته الیسع بن اخطوب ته پیغمبری ورکول سوه اوهغه په بنی اسرائیلو کی پیغمبر سو.

## الیسع ؑ

دده ذکر الله ﷻ دانبیاوو سره یوځای کړی دی په دی قول خپل کی: وَإِسْمَاعِيلَ وَالْيَسَعَ وَيُونُسَ وَلُوطًا وَكُلًّا فَضَّلْنَا عَلَى الْعَالَمِينَ، (سورة الانعام\۸۶)، اودارکم الله ﷻ فرمایلی دی: وَاذْكُرْ إِسْمَاعِيلَ وَالْيَسَعَ وَذَا الْكِفْلِ وَكُلٌّ مِنَ الْأَخْيَارِ، (سورة ص \ ۴۸).

ابن اسحاق ویلی دی په نقل کولو سره دسعید څخه دی نقل کوی دقتاده څخه دی نقل کوی دحسن څخه دی وایې چی یسع ؑ وروسته دالیاس ؑ څخه په دوی کی پیغمبر وو تر هغه وخته پوری چی الله ﷻ ته منظوره وه اوبنی اسرائیلوته یې دعوت ورکوی په طرف

(c) ketabton.com: The Digital Library



دعبادت دالله ﷻ په طریقه اوپه منهاج دالیاس ؑ باندی، تردی چی وفات سو، بیا دده څخه وروسته په بنی اسرائیلوکی بیا هرقسم خرافات اوګناهونه اوخطایانی زیاتی سوی، اوظالمان په کی ډیر سوه اوانبیاء یې قتل کړه، اوویل سوی دی چی هغه سړی چی دده ذمه داری یې په ځان باندی اخستی وه هغه ذی الکفل وو ددی خبری چی: که چیری دی توبه وکاږی الله ﷻ ته اوانابت اورجوع وکی دالله ﷻ خوا ته نودی به جنت ته داخلیږی. محمد بن اسحاق دده په باره کی وایې چی دالیسع ځوی داخطوب دی. اوحافظ ابوالقاسم بن عساکر په خپل تاریخ کی وایې چی دا الیسع دالاسباط بن عدی بن شوتلم بن افرائیم بن یوسف بن یعقوب بن اسحاق بن ابراهیم ؑ دی.

اوویل سوی دی چی داتربور دالیاس ؑ دی، اوویل سوی دی چی دی دالیاس ؑ سره په قاسیون غره کی دبادشاه دبیری پټ سوی وو نوکله چی الیاس ؑ وفات سو نودی دهغه په ځای باندی نبی مقررسو. اوقصه دذی الکفل مخکی تیره سویده ددی وجی څخه چی دهغه په باره کی هم داویل سوی وه چی هغه ځوی دایوب ؑ دی، والله تعالی اعلم.

ابن جریر اوداسی نورو علماوو فرمایلی دی: چی په بنی اسرائیلوکی بیااختلافات اولانجی رالی اوګناهونه اوخطایانی یې ډیری کړی، اوقتلونه دانبیاوو یې شروع کړه، نوالله ﷻ په دوی باندی په مقابل دهغه انبیاووکی داسی ظالمان اوجابر بادشاهان مسلط کړه چی په دوی باندی یې ظلمونه کول اوددوی وینی یې بی ځایه تویولی یعنی ددوی قتلونه به یې کول اوپه دوی باندی الله ﷻ نور دښمنان پیښ کړه ماسوا ددوی دخپلو ځانوڅخه، اوکله به چی دوی مړه کی یودخپلو دښمنانو څخه نوددوی سره به هغه تابوت دلوظونو وو چی په قبة الزمان کی به پروت وو لکه څه رکم چی مخکی ذکرسو نودوی به ددې په برکت سره په دښمن باندی کامیابی حاصلوله. بیاچی کله وه ددوی څه جنګونه دغزه والاوو سره او دعسقلان والاوو سره نوهغوی په دوی باندی کامیابی حاصله کړه اوپه دوی باندی غالبه سوه نو ددوی څخه یې هغه تابوت واخستی اوپه دوی باندی یې ډیر ظلم اوزیاتی وکړه، کله چی ددی خبری څخه دبنی اسرائیلو بادشاه خبرسو نوڅټ یې کوږ سو اومړسو دغم دوجی، اوبنی اسرائیل په ډول دهغو پسونو وګرځیده چی شپونکی یې نه وی، نودوی هم بی سرپرسته پاته سوه تردی چی الله ﷻ په دوی کی پیغمبر ولیږی چی شمویل ؑ نوم یې وو، نودوی ورڅخه طلب وکی چی ددوی امیر سی په قتال کی، نودوی بیاوکړه هغه څه چی موږ به یې وروسته بیانوو انشاء الله تعالی.

ابن جریر وایې چی دیوشع ؑ دوفات څخه ترهغه وخته پوری چی الله ﷻ شمویل ؑ را ولیږی دوی ته پیغمبر ددوی په مینځ کی (۴۰۰) کاله تیرسوی وه.

* * *

(c) ketabton.com: The Digital Library



## قصه دشمیول ﷺ

دده دنسب په باره کی ویل سوی دی چی دی شمویل، اوویل سوی دی چی اشمویل بن بالی بن علقمه بن یرخام بن الیهو بن تهو بن صوف بن علقمه بن ماحث بن عموما بن عزریا دی. مقاتل وایې چی: دی دوارثانو دهارون ﷺ څخه دی. اومجاهد ویلی دی چی دا اشمویل بن هلفاقا دی، اوددې څخه ماسوا دده په نسب کی نور څه نه دی ذکر سوی حکایت کړی دی السدی په اسناد خپل سره ابن عباس ته اوابن مسعود ته اویوی ډلی دصحابوو ته او ثعلبی ته چی: کله په دوی باندی دښمنان ددوی غالبه سوه نوددوی څخه یې په ډیرتعداد سره خلگ وژل اوددوی یې په ډیر تعداد سره بچیان قیدیان کړه، اودبنی لاوی څخه دنبوت پایه ختمه سوه اوددوی څخه یوسړی هم پاته نه سو مگریوه ښځه چی حمل یې اخستی وو، نودې دالله ﷻ څخه دعا وغوښتله چی دې ته الله ﷻ ځوی ورکی، نوددې ځوی پیداسو نو اشمویل نوم یې ورلره کښیښوی، چی ددی نوم معنٰی په عبرانی ژبه کی اسماعیل دی (یعنی الله ﷻ زما دعا واوریده) کله چی داپر وبیریده نودی یې جمات ته دیونیك سړی خوا ته ولیږی چی دهغه څخه څه خیر اوعلم یادکی، اودهغه سره وو تردی چی غټ سو نویوه ورځ دجمات په یوگوټ کی بیده وو چی ناڅاپه دجمات دبل کنج څخه یواواز وسو، نودی ورته په بیری سره متوجه سو، نوده داگمان وکی چی هغه شیخ دده دی دکم سره چی دی په دی جمات کی وو نوده گمان وکی چی هغه راته اوازوکی: نوده پوښتنه ځینی وکړه چی ما ته دی اواز وکی؟ نوده بد وگڼل داچی دی وبیروی نوورته یې وویل چی: هو، بیده سه. نو دی بیده سو تردی چی دوهم اواز یې ورته وکی اوبیایې دریم اواز وکی نودا جبرایل ﷺ وو: نوورته رالی اوورته یې وویل چی: ته رب دخپل قوم دپاره پیغمبر مقررکړی یې. نوبیا چی ده څه وکړه نوهغه په دی قول دالله ﷻ کی ذکرسوی دی: كَذَلِكَ يُبَيِّنُ اللهُ لَكُمْ آيَاتِهِ لَعَلَّكُمْ تَعْقِلُونَ (۲٤۲) أَلَمْ تَرَ إِلَى الَّذِينَ خَرَجُوا مِنْ دِيَارِهِمْ وَهُمْ أُلُوفٌ حَذَرَ الْمَوْتِ فَقَالَ لَهُمُ اللهُ مُوتُوا ثُمَّ أَحْيَاهُمْ إِنَّ اللهَ لَذُو فَضْلٍ عَلَى النَّاسِ وَلَكِنَّ أَكْثَرَ النَّاسِ لَا يَشْكُرُونَ (۲٤۳) وَقَاتِلُوافِي سَبِيلِ اللهِ وَاعْلَمُوا أَنَّ اللهَ سَمِيعٌ عَلِيمٌ (۲٤٤) مَنْ ذَا الَّذِي يُقْرِضُ اللهَ قَرْضًا حَسَنًا فَيُضَاعِفَهُ لَهُ أَضْعَافًا كَثِيرَةً وَاللهُ يَقْبِضُ وَيَبْسُطُ وَإِلَيْهِ تُرْجَعُونَ (۲٤۵) أَلَمْ تَرَ إِلَى الْمَلَإِ مِنْ بَنِي إِسْرَائِيلَ مِنْ بَعْدِ مُوسَى إِذْ قَالُوا لِنَبِيٍّ لَهُمُ ابْعَثْ لَنَا مَلِكًا نُقَاتِلْ فِي سَبِيلِ اللهِ قَالَ هَلْ عَسَيْتُمْ إِنْ كُتِبَ عَلَيْكُمُ الْقِتَالُ أَلَّا تُقَاتِلُوا قَالُوا وَمَا لَنَا أَلَّا نُقَاتِلَ فِي سَبِيلِ اللهِ وَقَدْ أُخْرِجْنَا مِنْ دِيَارِنَا وَأَبْنَائِنَا فَلَمَّا كُتِبَ عَلَيْهِمُ الْقِتَالُ تَوَلَّوْا إِلَّا قَلِيلًا مِنْهُمْ وَاللهُ عَلِيمٌ بِالظَّالِمِينَ (۲٤٦) وَقَالَ لَهُمْ نَبِيُّهُمْ إِنَّ اللهَ قَدْ بَعَثَ لَكُمْ طَالُوتَ مَلِكًا قَالُوا أَنَّى يَكُونُ لَهُ الْمُلْكُ عَلَيْنَا وَنَحْنُ أَحَقُّ بِالْمُلْكِ مِنْهُ وَلَمْ يُؤْتَ سَعَةً مِنَ الْمَالِ قَالَ إِنَّ اللهَ اصْطَفَاهُ عَلَيْكُمْ وَزَادَهُ بَسْطَةً فِي الْعِلْمِ وَالْجِسْمِ وَاللهُ

(c) ketabton.com: The Digital Library



يُؤْتِي مُلْكَهُ مَنْ يَشَاءُ وَاللهُ وَاسِعٌ عَلِيمٌ، مفسرینو ویلی دی چی نبی دهغه قوم چی په دی قصی کی ذکرسوی دی داشمویل علیه السلام دی، اوبعضو ویلی دی چی شمعون علیه السلام دی، اوبعضو ویلی چی دادواړه دیوه پیغمبر نومونه دی. اوویل سوی دی چی یوشع علیه السلام مراددی، خودا بعیده ده ولی چی ابن جریر په تاریخ خپل کی مخکی موږ ذکرکړه چی هغه ویلی دی چی دیوشع اودشمویل علیه السلام په منځ کی د(۴۰۰) کالو وخت تیرسوی دی. والله اعلم.

مقصودی خبره داده چی کله داقوم دجنګونو دوجی ډیرخراب سو اوکمزوری سو نودوی غوښتنه وکړه دنبی دالله جل جلاله څخه چی دوی لره یوامیر مقررکی چی دوی دهغه دامارت لاندی قتال وکی. نودی نبی دالله جل جلاله دوی ته وفرمایل: قَالَ هَلْ عَسَيْتُمْ إِنْ كُتِبَ عَلَيْكُمُ الْقِتَالُ أَلَّا تُقَاتِلُوا قَالُوا وَمَا لَنَا أَلَّا نُقَاتِلَ فِي سَبِيلِ اللهِ یعنی دوی ته یې وفرمایل چی زه تاسی ته امیر مقرر کړم نوهسی نه چی تاسی دهغه خلاف وکی، نودوی وویل چی موږ به څه منع کړی ددی خبری څخه چی موږ جهاد ونه کړو اوقتال وکو ؟ وَقَدْ أُخْرِجْنَا مِنْ دِيَارِنَا وَأَبْنَائِنَا اوحال دادی چی موږ دخپلو کورنوڅخه ایستل سوی یو اوزموږ څخه خپل زامن قیدیان سوی دی، نودا په موږ باندی لازمه ده چی موږ قتال وکو دخپلو بچو دپاره کم چی زموږ څخه قیدیان سوی دی. الله جل جلاله فرمایلی دی: فَلَمَّا كُتِبَ عَلَيْهِمُ الْقِتَالُ تَوَلَّوْا إِلَّا قَلِيلًا مِنْهُمْ وَاللهُ عَلِيمٌ بِالظَّالِمِينَ، کله چی په دوی باندی قتال لازم سو نودوی مخونه واړول مګر لږ ددوی څخه پاته سوه اوپه دی خبری باندی کلك ولاړ وه چی موږبه قتال اوجهاد کوو. لکه څه رکم چی په آخر دقصی کی داذکر سوی دی چی ددی امیر سره ډیرلږ کسان دسین واوښتل اوډیر ورڅخه بیرته راله: وَقَالَ لَهُمْ نَبِيُّهُمْ إِنَّ اللهَ قَدْ بَعَثَ لَكُمْ طَالُوتَ مَلِكًا، ثعلبی ویلی دی چی داطالوت بن قیش بن افیل بن صارو بن تحورث بن افیح بن انیس بن بنیامین بن یعقوب بن اسحاق بن ابراهیم علیه السلام دی عکرمه اوالسدی وایې چی دی ساقی وو یعنی مشکیزو والا وو. والله تعالی اعلم.

نوددی وجی څخه بنی اسرائیلو خپل نبی ته وویل: قَالُوا أَنَّى يَكُونُ لَهُ الْمُلْكُ عَلَيْنَا وَنَحْنُ أَحَقُّ بِالْمُلْكِ مِنْهُ وَلَمْ يُؤْتَ سَعَةً مِنَ الْمَالِ، اوداپه دوی کی مشهوره وه چی نبی به په بنی لاوی کی وی اوامیربه په ډله دیهوذاکی وی، نوهرکله چی دی وو دډلی دبنیامین څخه نودوی دنفرت اظهار وکی دده څخه اودده دامارت څخه یې انکاروکی دایې وویل چی موږ دده څخه ډیر حقداره یوپه امارت باندی اودوی په کی داعیب هم ذکرکی چی دی غریب دی اودده سره مال اودولت نسته اونودی به په موږ باندی څه رکم امارت کوی؟ قَالَ إِنَّ اللهَ اصْطَفَاهُ عَلَيْكُمْ وَزَادَهُ بَسْطَةً فِي الْعِلْمِ وَالْجِسْمِ، ویل سوی دی چی الله جل جلاله وحی کړی وی شمویل علیه السلام ته چی دهریوه ځوان اوږدوالی دده دلکړی داوږدوالی برابروی نوهغه به امیروی نوپه بنی اسرائیلو

(c) ketabton.com: The Digital Library



کی ټولو خلګو ددغه لکړی سره ځان ناپ کی خویوهم په کی برابرنه وو، اودایې ورته هم فرمایلی وه چی په بیت المقدس کی دننه په یوښکرکی تیل دی کله چی داپرچا راوخوټکیده اوراتوی سوه نوهغه به امیر وی، نوکله چی داطالوت رالی نودی دلکړی سره په اوږدوالی کی برابروو اودده پرسر هغه تیل هم راوخوټکیده نوشمویل ﷺ دده سر په هغه تیلو غوړ کی اودی یې متعین کی دامارت دپاره اودی بنی اسرائیلو ته یې وویل: إِنَّ اللهَ اصْطَفَاهُ عَلَيْكُمْ وَزَادَهُ بَسْطَةً فِي الْعِلْمِ دی الله ﷻ په تاسی باندی خوښ کړی دی په اعتبار دعلم سره، ویل سوی دی چی داعلم په باره دقتال کی وو، اوبعضو ویلی دی چی دامطلق علم مراد وو (وَالْجِسْمِ) ویل سوی دی چی ښائست مراددی، بعضو ویلی دی چی اوږدوالی مراددی خو ظاهره داده چی علم اوشجاعت اوپوهه الله ورلره ورکړی وه: وَاللهُ يُؤْتِي مُلْكَهُ مَنْ يَشَاءُ وَاللهُ وَاسِعٌ عَلِيمٌ، دهغه الله ﷻ دپاره دی هرحکم اوهره فیصله چی چاته څه ورکوی اوچاته هیڅ څه نه ورکوی. وَقَالَ لَهُمْ نَبِيُّهُمْ إِنَّ آيَةَ مُلْكِه أَنْ يَأْتِيَكُمُ التَّابُوتُ فِيهِ سَكِينَةٌ مِنْ رَبِّكُمْ وَبَقِيَّةٌ مِمَّا تَرَكَ آلُ مُوسَى وَآلُ هَارُونَ تَحْمِلُهُ الْمَلَائِكَةُ إِنَّ فِي ذَلِكَ لَآيَةً لَكُمْ إِنْ كُنْتُمْ مُؤْمِنِينَ، اوداهم دالله ﷻ دخوا یو نعمت اواحسان وو پردوی باندی چی دوی ته یې هغه تابوت بیرته ورکی هغه تابوت چی ددوی څخه اخستل سوی وو اودهغه په وجه به دوی کامیابی په خپل دښمن باندی حاصلوله (تَحْمِلُهُ الْمَلٰئِكَةُ) بارونکی به وی ددې ملایکی اوتاسی به یې وینی ښکاره ددی دپاره چی داسی په تاسی باندی دالله ﷻ یوه ښانه اوحجت په دی خبری باندی چی دانیک سړی په تاسی باندی امیر مقررسوی دی. نوددی وجی څخه الله ﷻ فرمایلی دی: إِنَّ فِي ذَلِكَ لَآيَةً لَكُمْ إِنْ كُنْتُمْ مُؤْمِنِينَ، ویل سوی دی چی کله دوی ته بیرته تابوت ورکول سو او ددوی په قبضې کی سو نودوی هغه ترخپل بت لاندی کښېښووی کله چی سهار سو نودوی هغه دبت په سرباندی ولیدی بیایې په دوهمه ورځ بیا دبت څخه لاندی کښېښووی نوبیاچی سهارسو نوبیا دبت په سرباندی پروت وو، کله چی داکار بیابیا وسو نودوی ته داعلم وسو چی دادالله ﷻ کاردی نودوی دادخپل کلی څخه لیری ولیږی.

بیرته راځو خپلی واقعی ته چی کله طالوت دلښکر سره ولاړی: فَلَمَّا فَصَلَ طَالُوتُ بِالْجُنُودِ قَالَ إِنَّ اللهَ مُبْتَلِيكُمْ بِنَهَرٍ فَمَنْ شَرِبَ مِنْهُ فَلَيْسَ مِنِّي وَمَنْ لَمْ يَطْعَمْهُ فَإِنَّهُ مِنِّي إِلَّا مَنِ اغْتَرَفَ غُرْفَةً بِيَدِه کله چی دوی داردن دنهر څخه تیرسوه نوالله ﷻ په دوی باندی یوامتحان کوی چی دوی څه کوی، هغه داچی دوی ته الله ﷻ امروکی چی ددی نهر څخه به څوك اوبه نه چښی مګر دا چی یوه لپه ورڅخه وکی، اوکه چا ددی څخه اوبه وچښلی نوهغه به غزاته نه ځی. فَشَرِبُوا مِنْهُ إِلَّا قَلِيلًا مِنْهُمْ، نوددی څخه لږکسانو اوبه ونه چښلی اوباقی ټولو وچښلی. السدی وایې چی دلښکر

(c) ketabton.com: The Digital Library



تعداد (۸۰۰۰۰) کسان وه نوددوی څخه (۷۲۰۰۰) کسانو اوبه وڅښلی اوداباقی پاته سوه یعنی اوبه یې ونه څښلی په بل روایت کی چی په بخاری کی ذکرسوی دی په هغه کی نبی ﷺ په ذکر دبدر کی دافرمایلی دی چی دطالوت لښکر اودبدر صحابوو یوتعداد وو وروسته دبیرته راتلو دبعضو څخه، نوددی روایت څخه داسی معلومیږی چی څه باندی دری سوه کسان وه اوقول دالسدی چی (۸۰۰۰۰) کسان وه نوپه دی کی نظر دی ولی چی دبیت المقدس مزکه دومره نه وه چی په هغه کی یوائی لښکر (۸۰۰۰۰) کسان وی.
الله ﷻ فرمایلی دی: فَلَمَّا جَاوَزَهُ هُوَ وَالَّذِينَ آمَنُوا مَعَهُ قَالُوا لَا طَاقَةَ لَنَا الْيَوْمَ بِجَالُوتَ وَجُنُودِه، یعنی ځانونه یې درانه وګڼل اودایې وویل چی موږ کمزوری سو اوزموږ طاقت نسته چی موږ دجالوت دلښکرسره وجنګیږو: قَالَ الَّذِينَ يَظُنُّونَ أَنَّهُمْ مُلَاقُو اللهِ كَمْ مِنْ فِئَةٍ قَلِيلَةٍ غَلَبَتْ فِئَةً كَثِيرَةً بِإِذْنِ اللهِ وَاللهُ مَعَ الصَّابِرِينَ، یعنی ده بهادری ورکوله اوزړونه یې ددوی مضبوطوله اودوی ته یې دصبرویل چی ډیرقومونه داسی وی چی لږ وی خو دالله ﷻ دمدد دوجی په ډیرو باندی غالبه کیږی. وَلَمَّا بَرَزُوا لِجَالُوتَ وَجُنُودِهِ قَالُوا رَبَّنَا أَفْرِغْ عَلَيْنَا صَبْرًا وَثَبِّتْ أَقْدَامَنَا وَانْصُرْنَا عَلَى الْقَوْمِ الْكَافِرِينَ، دوی طلب وکی دالله ﷻ څخه چی دوی ته صبرورکی اوددوی مدد وکی اودوی ته فتح اوکامیابی ورکړی په جالوت اودهغه په لښکر باندی. نوالله ﷻ ددوی دادعا واوریدله اوقبوله یې کړه، نوالله ﷻ فرمایې: فَهَزَمُوهُمْ بِإِذْنِ اللهِ، نودوی ورلره شکست ورکی په مدد او نصرت دالله ﷻ سره سره ددی چی دهغوی تعداد ډیر وو بیاهم دوی ته الله غلبه ورکړه.
اوداقول دالله ﷻ : وَقَتَلَ دَاوُودُ جَالُوتَ وَآتَاهُ اللهُ الْمُلْكَ وَالْحِكْمَةَ وَعَلَّمَهُ مِمَّا يَشَاءُ، په دی کی دلالت دی په شجاعت دداود ﷺ باندی چی داسی جنګ یې کړی دی چی غټ لښکریې په ذلیله کړی دی، اوددی څخه غټه غزا بله نسته چی دیولښکر مشر په غزا کی مړ سی ولی چی دده په مرګ باندی هغه نورو کسانو ته صدمه رسیږی اوچی څومره بهادروی نوزړه یې مات سی اوبهادري ختمه سی اوپه دی سره دوی ته هم ډیره فائده رسیږی چی مال غنیمت ورته ډیر حاصلیږی، اوددین کلمه په لوړیږی. اوذکر کړی دی السدی چی داود ﷺ دخپل پلار کشر ځوی وو اودده دپلار دیارلس ځامن وه، اوطالوت دا اعلان کړی وو چی چا جالوت ووژی نوزه به هغه ته خپل ددوو لوڼو څخه یوه لور ورکوم اوپه خپل مال کی یې شریک کوم اوداود ﷺ به په لینده باندی کانی ویشتل اوپه دی کی ډیر ماهره وو، یوه ورځ دی دبنی اسرائیلو په منځ کی روان وو چی یوکانی ورته اواز وکی چی مادځان سره واخله په ماباندی به جالوت مړکړی دارکم بیا روان وو نودوهم کانی ورته اواز وکی اوبیا دریم کانی ورته هم اواز وکی نو دادری کوچنی کانی یې دځان سره راواخسته اوپه خپلی توښی

(c) ketabton.com: The Digital Library



کی یې کښېښوول اوولاړې دلښکرسره کله چې دی دجالوت دلښکرسره مخامخ ودریدی نوجالوت دلښکر څخه رادباندی سو اوځان ته یې یوسړی راوغوښتی چې زما سره دی یو سړی په طور دافتتاح جنګ وکی نوداود ﷺ ورلره وره نودی جالوت ورته وویل چې ته ولاړ سه زه ستاسره قتال نه کوم ولی چې ته کوچنی یې، خوداود ﷺ ورته وفرمایل چې ته نه غواړې خوزه غواړم چې تامړ کم، بیایې هغه دری کاڼی په یوه ګوزار سره دجالوت په سر باندی ووهل نوجالوت یې مړکی نوطالوت ورسره هغه وعده پوره کړه اوده ته یې لورورکړه خووروسته یې ورسره حسد پیدا سو چې دامال کی می دی ولی شریك کیږی نودده دقتل اراده یې وکړه خو علماوو یې مخ ونیوی. خو داخبری چې دداود ﷺ سره یې حسد پیداسو نودا دطالوت په باره کی ویل ښه نه دی ولی چې الله ﷻ دده صفت کړی دی په خپل کتاب کی چې دی الله ﷻ خوښ کی نوښه سړی داسی حرکتونه اوداسی حسد نه کوی اوداسی هم کیدی سی چې دا اسرائیلی اقوال وی چې په ده پسی یې نوری ډیری خبری هم کړی وی چې ده بیا ډیر علماء ووژل اوبیایې توبه وکښل نویو عالم هم نه وو چې دهغه څخه یې دځان په باره کی پوښتنه کړی وای چې ماته به معافی څه رکم راکول سی نودا اقوال داسرائیلو خپل جوړ کړی خرافات دی اودی لره هیڅ اعتبار نسته.

## قصه دداود ﷺ

نسب دده په داسی طریقه سره ذکرسوی دی چې دی دواد بن ایشا بن عوید بن عابر بن سلمون بن نحشون بن عویناداب بن ارم بن حصرون بن فارض بن یهوذا بن یعقوب بن اسحاق بن ابراهیم ﷺ دی. محمد بن اسحاق ویلی دی چې دداود ﷺ قدمبارك لنډ وو اوسترګی مبارکی یې شنی وی اووریښته مبارك یې لږ وه یعنی ګڼ نه وه، اوالله ﷻ ده ته ددنیا اودآخرت فائدی دواړه یوځای ورکړی وی، او وو نبوت په جلا ډلی کی اوامارت په جلا ډلی کی نوالله ﷻ دادواړه په داود ﷺ کی راجمع کړه (یعنی هم نبی وو اوهم امیر وو) لکه څه رکم چې الله ﷻ فرمایلی دی: وَقَتَلَ دَاوُودُ جَالُوتَ وَآتَاهُ اللهُ الْمُلْكَ وَالْحِكْمَةَ وَعَلَّمَهُ مِمَّا يَشَاءُ وَلَوْلَا دَفْعُ اللهِ النَّاسَ بَعْضَهُمْ بِبَعْضٍ لَفَسَدَتِ الْأَرْضُ وَلَكِنَّ اللهَ ذُو فَضْلٍ عَلَى الْعَالَمِينَ (سورة البقره \ ۲۵۱) یعنی الله ﷻ فرمایې: که چیری دامیرانو ټاکل پردی خلګوباندی نه وای نومضبوط سړی به کمزوری سړی خوړلی وی. ددی وجې څخه په بعضی اثارو کی ذکردی (چې بادشاه دالله ﷻ سایه وی په مزکه کی) ابن جریر ویلی دی چې کله طالوت دجالوت مخ ته سو یعنی یوبل ته مخامخ سوه نوجالوت وویل طالوت ته چې ماته یوسړی راوباسه دخپل لښکر څخه نوزه به په خپله درووزم نوداود ﷺ ورته راووتی نومړیې کی: وهب بن منبه وایې چې بنی اسرائیلو ټولو میلان وکی داود ﷺ ته او دطالوت ذکرچاهم نه کوی، اوطالوت یې دامارت

(c) ketabton.com: The Digital Library



ځکه لیری کی، اوداود ﷺ یې امیر مقررکی دځان دپاره، اوویل سوی دی چی داپه امر دشمویل ﷺ باندی سوی دی تردی چی بعضو داویلی دی چی دی یې مخکی دواقعی ځکه امیرکړی وو (تاریخ الطبری (۱\۲۷۹، ۲۸۰)، ابن جریر ویلی دی چی دی یې دقتل ځکه وروسته امیرکړی دی اوداقول دجمهورو هم دی اودارکم الله ﷻ فرمایلی دی: وَلَقَدْ آتَيْنَا دَاوُودَ مِنَّا فَضْلًا يَا جِبَالُ أَوِّبِي مَعَهُ وَالطَّيْرَ وَأَلَنَّا لَهُ الْحَدِيدَ (۱۰) أَنِ اعْمَلْ سَابِغَاتٍ وَقَدِّرْ فِي السَّرْدِ وَاعْمَلُوا صَالِحًا إِنِّي بِمَاتَعْمَلُونَ بَصِيرٌ (سورة سباء ۱۰\۱۱)، اودارکم الله ﷻ فرمایلی دی: وَسَخَّرْنَا مَعَ دَاوُودَ الْجِبَالَ يُسَبِّحْنَ وَالطَّيْرَ وَكُنَّا فَاعِلِينَ (۷۹) وَعَلَّمْنَاهُ صَنْعَةَ لَبُوسٍ لَكُمْ لِتُحْصِنَكُمْ مِنْ بَأْسِكُمْ فَهَلْ أَنْتُمْ شَاكِرُونَ. (سورة الانبیاء ۷۹\۸۰) ده ته الله ﷻ وسپنه نرمه کړی وه چی دی ورځکه په اسانی سره فائده حاصلوی اوپه کمه طریقه چی غواړی نواسباب دقتال ورځکه جوړ کی، عکرمه اوحسن وایې چی الله ﷻ ده ته وسپنه داسی نرمه کړی وه چی اور اوچټك ته یې ضرورت نه وو صرف به یې په لاس باندی کړوله. ابن شوذب ویلی دی چی ده به په یوه ورځ کی یواهین چادر (یعنی هغه کپړی چی داوسپنی ځکه جوړیږی چی توره اثرنه پر کوی دجنګ په وخت کی) جوړوی اوهغه به یې په (۲۰۰۰) درهمه باندی خرڅوی. اوپه حدیث کی ذکرسوی دی چی نبی ﷺ فرمایلی دی: ښه خوراك هغه دی چی دخپل کسب اودخپل لاس دمحنت ځکه یې وخوری، اونبی دالله ﷻ چی داود ﷺ دی هغه خوراك دخپل محنت او دکسب ځکه کوی.

اوالله ﷻ فرمایلی دی: وَاذْكُرْ عَبْدَنَا دَاوُودَ ذَا الْأَيْدِ إِنَّهُ أَوَّابٌ (۱۷) إِنَّا سَخَّرْنَا الْجِبَالَ مَعَهُ يُسَبِّحْنَ بِالْعَشِيِّ وَالْإِشْرَاقِ (۱۸) وَالطَّيْرَ مَحْشُورَةً كُلٌّ لَهُ أَوَّابٌ (۱۹) وَشَدَدْنَا مُلْكَهُ وَآتَيْنَاهُ الْحِكْمَةَ وَفَصْلَ الْخِطَابِ ابن عباس اومجاهد ویلی دی چی دذالید ځکه مراد خاوند دطاقت اوداطاعت دی یعنی په عبادت کی یې طاقت هم وو اواطاعت یې هم کوی دالله ﷻ. قتاده ویلی دی چی: ده ته قوت ورکول سوی دی په عبادت کی اوپوهه په اسلام باندی. دی وایې چی موږ ته خبر راکول سوی دی چی ده به دشپې قیام اللیل کوی اونیم کال به یې روژه نیوله. اوداخبره دنبی ﷺ ځکه هم نقل ده چی نبی ﷺ فرمایلی دی چی: ښه اومحبوب لمونځ دالله ﷻ په نزد لمونځ دداود ﷺ دی اومحبوبه روژه په نزد دالله ﷻ باندی روژه دداود ﷺ ده ولی چی ده به نیمه شپه خوب کوی اوبیابه دریمه حصه ولاړ وو چی عبادت به یې کوی اوبیابه یې شپږمه حصه خوب کوی او وو به چی یوه ورځ به یې روژه نیوله اویوه ورځ به یې افطار کوی اوکله به چی دچاسره مخامخ سو نودهغه ځکه به یې تیښته نه کوله اودا قول دالله ﷻ: إِنَّاسَخَّرْنَا الْجِبَالَ مَعَهُ يُسَبِّحْنَ بِالْعَشِيِّ وَالْإِشْرَاقِ (۱۸) وَالطَّيْرَ مَحْشُورَةً كُلٌّ لَهُ أَوَّابٌ، لکه څه رکم چی

(c) ketabton.com: The Digital Library



يې فرمايلې دي: يَا جِبَالُ أَوِّبِي مَعَهُ وَالطَّيْرَ، ويل سوی دی چې ده ته الله ﷻ داسې لوړ اولوی اواز ورکړی وو کله به چې ده په ښکلې اواز سره دخپل کتاب قراءت وايه نوپه هواء کې به مرغان ودريدل اودده سره به يې په يواواز باندې دهغه قرآئت کوی اوغرونو به هم جواب ورکوی اوتسبيح به يې درب العزت کوی اودده سره به مرغانو اوغرونو اوهرڅه يوځای تسبيح کوی سهار اوماښام. اوزاعی ويلی دي چې داود ؈ ته الله ﷻ دومره ښه اواز ورکړی وو کله چې به ده قرآئت وايه نوحيوان اومرغان به دده شاوخوا راټوليدل تردې چې دوی به داوږې والې اوتږې والی دوجې مړه کيدل خودځای څخه به نه ښوريدل تردې چې دريابونه اوسمندرونه به دده داواز سره ودريدله، وهب بن منبه به ويله چې ده به زبور په داسې اواز باندې ووايه چې غوږونو ددی څخه مخکې داسې اواز کله نه وو اوريدلی تردې چې دده اواز ته به انسانان اوپيريان اومرغان اوحيوان ټول کښېنسته تردې چې څه حيوان به په کې دلوږې څخه مړه سو خو ولاړيدل به نه دده قرآئت څخه اوپه بعضو احاديثوکې نبی ؈ فرمايلې دي دابوموسىٰ الاشعری‌؄ په باره کې چې دده اواز هم ددواد ؈ په شان ښه دی اوفرمايل به يې چې ابو موسىٰ الشعری ته ددواد ؈ داواز څه حصه ورکول سويده.

داركم امام احمد ويلی دي په نقل كولو سره دعبدالرزاق څخه دی نقل کوی دمعمر څخه دی نقل کوی دهمام څخه دی نقل کوی دابی هريره ؄ څخه دی وايې چې فرمايلې دي رسول الله ﷺ: الله ﷻ اسانه کړی وو قرآت په داود؈ باندې، نودی به وو چې امربه يې کوی په تيارولو دخپل آس باندې، اوده به قرآئت وايه مخکې ددې څخه چې دده آس تيار سی اودی به وو چې نه به يې خوړل مګر دخپل لاس دمحنت څخه (يعنی په خپله به يې کار اوکسب کوی اودهغه په واسطه به يې خوراك کوی)، نودی به وو چې تلاوت به يې دزبور کوی په داسې اندازه باندې چې دده آس به په کې تياريدی، اوسره ددی چې په داسې وخت کې سړی کار په تيزی سره کوی بياهم ده په خشوع اوترنم اوپه ښه اواز سره زبور وايه، رحمتونه دی وی دالله ﷻ دخوا په ده باندې. اوالله ﷻ فرمايلې دي (ولقد آتينا داود زبوراً) هرڅه چې زبور دی دامشهوره کتاب دی چې دآسمان څخه په داود ؈ باندې نازل سوی وو، اوموږ ذکرکړی دی په تفسير دهغه حديث کې چې امام احمد نقل کړی دی چې داپه روژه کې نازل سوی دی، اوپه دی کې نصيحتونه اواحکام ذکروه ددواد ؈ دقوم دپاره: وَشَدَدْنَا مُلْكَهُ وَآتَيْنَاهُ الْحِكْمَةَ وَفَصْلَ الْخِطَابِ يعنی موږ ورلره ورکی عظيم ملك اوحکم چې نافذ کيدونکی دی (يعنی الله ﷻ فرمايې چې موږ ورلره داسې حکومت اوبادشاهی ورکړه چې په خلګو باندې يې حکم نافذ کيدی سی اوڅوك دده داطاعت څخه خلاف نه سی کولی، ابن جرير اوابن عباس اوابن ابی حاتم دوی وايې چې: دوو کسانو په باره ديوه غوايې کی

(c) ketabton.com: The Digital Library



دعوه وه چې یوه دبل څخه داغوایي غصب کړې وو (یعنی په زوره یې اخستې وو) نودا یوه دعوه پروکړه چې دایې زماڅخه غصب کړې دی اودابل وایې چې دا مانه دی ورڅخه غصب کړې نودا دعوه کونکی اوغاصب دواړه داود ﷺ ته ورله اوخپله فیصله یې ورمخکی کړه نوداود ﷺ ددوی دواړو کار صباورځی ته وروسته کی نوداود ﷺ دشپې خوب ولیدی چې الله ﷻ ورته په کی وحی وکړې اوورته یې امروکی چې دادعوه کونکی قتل کی نوکله چې سهار سو نوداود ﷺ دا دعوه کونکی ته وویل چې ماته الله ﷻ امرکړې دی چې زه تا مړکم خوبیاهم ته داووایه چې تادا دعوه ولی کړیده نوده وویل چې، زمادی قسم وی په الله ﷻ باندی چې زما دادعوه په حقه ده خولیکن داچې مادده دپلار سره زیاتی کړې وو، نو داود ﷺ دده دقتل حکم وکی نودی یې قتل کی نودهغه څخه وروسته په بنی اسرائیلو کی دداود ﷺ کاروایی لویه سوه اودوی په بیره کی سوه چې سخته بیره وه. ابن عباس ویلی دی چې داقول دالله ﷻ په دی ځای باندی دلالت کوی: وَشَدَدْنَا مُلْكَهُ وَآتَيْنَاهُ الْحِكْمَةَ وَفَصْلَ الْخِطَابِ، مجاهد اوالسدی وایې چې ددی څخه مرادپوهه اوقضاوت دی. اومجاهدویلی دی چې دافصل په کلام اوپه حکم کی مراددی.

وهب بن منبه وایې چې کله په بنی اسرائیلو کی ددروغو شاهدی زیاتی سوی نوداود ﷺ ته دآسمان دخوا څخه یوه سلسله ورکول سوه چې دا اوږده وه دآسمان څخه تربیت المقدس دصخری پوری، اوداسلسله دسرو زرو وه، نوکله به چې دوو کسانو په خپله کی جګړه وکړه نودواړه به دده خواته راله نوکم یوچې حق وو نوهغه به دی ستنی ته ورسیدای سو اوکم یو چې په حقه وو نوهغه به نه سو وررسیدای بیا داسلسله دبنی اسرائیلو څخه ډیر ژر لیری سوه داجګړې ددوی په دی اٰیتونو کی الله ﷻ ذکرکړې دی: وَشَدَدْنَا مُلْكَهُ وَآتَيْنَاهُ الْحِكْمَةَ وَفَصْلَ الْخِطَابِ (٢٠) وَهَلْ أَتَاكَ نَبَأُ الْخَصْمِ إِذْ تَسَوَّرُوا الْمِحْرَابَ (٢١) إِذْ دَخَلُوا عَلَى دَاوُودَ فَفَزِعَ مِنْهُمْ قَالُوا لَا تَخَفْ خَصْمَانِ بَغَى بَعْضُنَا عَلَى بَعْضٍ فَاحْكُمْ بَيْنَنَا بِالْحَقِّ وَلَا تُشْطِطْ وَاهْدِنَا إِلَى سَوَاءِ الصِّرَاطِ (٢٢) إِنَّ هَذَا أَخِي لَهُ تِسْعٌ وَتِسْعُونَ نَعْجَةً وَلِيَ نَعْجَةٌ وَاحِدَةٌ فَقَالَ أَكْفِلْنِيهَا وَعَزَّنِي فِي الْخِطَابِ (٢٣) قَالَ لَقَدْ ظَلَمَكَ بِسُؤَالِ نَعْجَتِكَ إِلَى نِعَاجِهِ وَإِنَّ كَثِيرًا مِنَ الْخُلَطَاءِ لَيَبْغِي بَعْضُهُمْ عَلَى بَعْضٍ إِلَّا الَّذِينَ آمَنُوا وَعَمِلُوا الصَّالِحَاتِ وَقَلِيلٌ مَا هُمْ وَظَنَّ دَاوُودُ أَنَّمَا فَتَنَّاهُ فَاسْتَغْفَرَ رَبَّهُ وَخَرَّ رَاكِعًا وَأَنَابَ (٢٤) فَغَفَرْنَا لَهُ ذَلِكَ وَإِنَّ لَهُ عِنْدَنَا لَزُلْفَى وَحُسْنَ مَآبٍ، اوپه دی ځای کی اکثرو مفسرینو ډیر اقوال اوډیر خرافات چې اسرائیلی دی هغه یې بیاًن کړې دی چې اکثره په کی دروغ دی او څه حقیقت ورلره نسته نومورړ هغه قصداً پریښوول ولی چې هیڅ فائده ورڅخه نه مرتب کیږی نواختصاراً مورږ اکتفاء په اٰیتونو دقرآن کریم باندی وکړه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



اودلته خبره په دی کی ده چی دسورة (ص) سجده دلوازمو څخه ده اوکه هغه سجده دشکر ده په دی کی ډیری خبری سوی دی خوخلاصه داچی بناء بریوقول دادعزائمو یعنی دلوازمو سجدو څخه ده ولی چی نبی ﷺ دده په باره کی ویلی دی چی دده دسجدی دی اقتداء وسی نوداود ﷺ سجده کړی وه نونبی ﷺ هم سجده وکړه، اوپه بل قول کی دابن عباس څخه نقل دی چی دادعزائمو دسجدو څخه نه ده اوبیابه هم رسول ﷺ دلته سجده کوله، په بل حدیث کی رسول الله ﷺ فرمایلی دی چی دلته داود ﷺ سجده دتوبی کړی وه اوموږ به سجده په نیت دشکر باندی کوله. اودارکم ترمذی اوابن ماجه دواړو ویلی دی په نقل کولو سره دحدیث دمحمد بن یزید بن خنیس څخه دی نقل کوی دحسن بن محمد ابن عبیدالله بن ابی یزید څخه چی دی نقل کوی دابن عباس څخه، دی وایې چی: رالی یوسړی رسول الله ﷺ ته اووی ویل: ای رسول الله ﷺ ماپه شپه کی خوب ولیدی ګویاچی زه ولاړیم اولمونځ کوم، نوماسجده وکړه او زمامخ ته درخته وه نوهغه هم سجده وکړه زمادسجدی دوجی، نوما واوریدل ددی درختی څخه په حالت دسجدی کی چی ویل یې ای الله ولیکی زمادپاره ددی په بدله کی اجر دځان سره اودغه اجر زما دپاره ذخیره وګرځوی، اوددی په سب سره زما څخه بار لیری کی، اودازما دخوا څخه قبوله کړی لکه څه رکم چی دی دواد ﷺ څخه قبوله کړی وه ، ابن عباس وایې چی نبی ﷺ ولاړسو اوداسجده یې وویل اوپه سجده باندی پریوتی اودغه رکم یې وویل لکه څه رکم چی یې ددغه سړی څخه اوریدلی وه هغه څه چی درختی ویلی وه. (۱)

اوبعضو مفسرینو داویلی دی چی داود ﷺ ترڅلویښتو ورځو پوری په سجده باندی پروت وو، داقول دمجاهد اودحسن دی اودده په باره کی یې حدیث ذکرکړی دی، خودهغه په روایت کی یزید الرقاشی دی اودا ضعیف اومتروك راوی دی.

الله ﷻ فرمایې: فَغَفَرْنَا لَهُ ذَلِكَ وَإِنَّ لَهُ عِنْدَنَا لَزُلْفَى وَحُسْنَ مَآبٍ یعنی دده دپاره به په قیامت کی نژدی والی وی زموږ خوا ته، اوچاویلی دی چی دازلفی یوکلی غوندی دی چی په دی کی الله ﷻ ځان ته نیکان بندګان نژدی کوی، ددی په باره کی دنبی ﷺ حدیث نقل دی، امام احمد نقل کوی دیحیٰی بن آدم څخه دی نقل کوی دعطیه څخه دی نقل کوی دابی سعید الخدری څخه دی وایې چی رسول الله ﷺ فرمایلی دی: یقینًا الله ﷻ ته خوښ کسان په ورځ دقیامت اونژدی کسان هغه دی چی بادشاه وی اوانصافداره وی اوبدترین خلګ په نزد دالله ﷻ باندی په ورځ دقیامت کی هغه سړی دی چی باشاه وی اوظالم وی. (۲)

(۱). الترمذی: ابواب الصلاء، باب مایقول فی سجود القرآن (۲\۱ ۵۷۹).
(۲). احمد (۳\ ۲۲) الترمذی: کتاب الاحکام، باب ماجاء فی الامام العادل (۳\ ۱۳۲۹).

(c) ketabton.com: The Digital Library



الله ﷻ فرمایي: يَا دَاوُودُ إِنَّا جَعَلْنَاكَ خَلِيفَةً فِي الْأَرْضِ فَاحْكُمْ بَيْنَ النَّاسِ بِالْحَقِّ وَلَا تَتَّبِعِ الْهَوَى فَيُضِلَّكَ عَنْ سَبِيلِ اللهِ إِنَّ الَّذِينَ يَضِلُّونَ عَنْ سَبِيلِ اللهِ لَهُمْ عَذَابٌ شَدِيدٌ بِمَا نَسُوا يَوْمَ الْحِسَابِ (سورة ص \ ۲۶) داخطاب دی دالله ﷻ دطرفه داود ﷵ ته، خومراد په دی سره ولیان اوامیران او سرداران دقوم دی هغوی ته الله ﷻ په دی آیت کی اشاره کړیده چی دخلګوپه مینځ کی دانصاف فیصلی کوی اوظلم اوزیاتی مه کوی اودهغه خلګو تابعداری مه کوی چی هغه تاسی دحق دلاری څخه باطل خوا ته روانوی نوتاسی به سی ګمراهان اوکه چیری تاسی ګمراهان سوی یاست نوستاسی دپاره به سخت عذاب وی په سبب ددی چی تاسی دآخرت حساب اوکتاب هیرکی، داخطاب په اصل کی الله ﷻ داود ﷵ ته کړی دی خومراد ورڅخه عام بادشاهان داسی دی چی ددواود ﷵ خومخکی موږ صفات بیان کړه چی هغه داسی نبی وو چی یوه ورځ به یې روژه نیوله اوبله ورځ به یې افطار کوی یعنی نیم کال به دده روژه اودشپی دریمه حصه به یې عبادت کوی نوهغه په خپله انصافدار اوعادل هم وو اومعصوم وو ولی چی داظاهره خبره ده چی انبیاء ټول معصومین دی نوداخطاب هغه ته الله ﷻ وکی خومراد په کی دانور بادشاهان اوامیران دی کم چی دهغه څخه وروسته راغلی دی ترنن ورځی پوری دوی ته دایوقسم نصیحت دی چی ددواود ﷵ په شان حاکم دځانونو څخه جوړ کی، دارکم ددواد ﷵ دزهد په باره کی هم ډیر روایتونه ذکرسوی دی اودشکر ګزاری په باره کی یې هم ډیر روایتونه ذکردی اودتمام عقل په باره کی یې هم ډیر اقوال ذکردی.

لکه څه رکم چی عبدالله بن المبارك ویلی دی په کتاب الزهد کی په نقل کولو سره دسفیان الثوری څخه دی دیوغیر معروف سړی څخه دی نقل کوی دوهب بن منبه څخه، دی وایي چی: ددواد ﷵ یوڅو نصیحتونه دی دعاقل سړی په باره کی (یعنی هغه په خپل کتاب دحکمتونو کی داسی ویلی دی) چی په عاقل سړی باندی لازمه ده چی دڅلور وختونو څخه ځان نه غافله کوی، یووخت هغه چی هغه په کی دخپل رب سره مناجات (یعنی درب سره پټی خبری کول په داسی طریقی چی ته یې ذکرکوی اوطلب ددعاګانو ورڅخه کوی او استغفار کوی اوداسی نور کارونه چی درب العزت سره بنده متعلق کوی داسی کارونه کوی نودې ته درب سره مناجات کول وایې) کوی،دوهم دهغه وخت څخه دی نه غافله کیږی چی په هغه کی دی دخپل نفس سره محاسبه (یعنی دځان سره حساب کتاب کوی چی نن ورځ ماڅومره الله ﷻ یادکی اوڅومره دآخرت غم می وکی اوڅومره ګناهونه زما دلاس څخه وسوه اوداسی نور کارونه چی دانسان دځان سره تعلق لری) وکی، دریم دهغه وخت څخه دی ځان نه غافله کوی په کم کی چی دی دځان مخکی کوی هغه وړونوته چی هغه ده ته دده عیبونه بیانوی، اوڅلورم دهغه وخت څخه دی ځان نه غافله کوی په کم کی چی دی خلوت

(c) ketabton.com: The Digital Library



کوی دخپل کور والاسره اوپه هغه کی داسی کارونه وکی چی هغه دده دپاره حلال اوجائز وی اوخپل نفس ته راحت په رسوی ولی چی داځلورم وخت داسی دی چی هغه نور وختونه ددی په واسطه باندی روغ وی (یعنی انسان چی ددی څلورم وخت خیال کوی اوحق ددی اداء کوی نوهغه په دی نورو وختونو کی په راحت کی وی اوپه اسانی سره هغه نورکارونه کولی سی)، اولازم دی په عاقل باندی چی خپله زمانه وپیژنی اودخپلی ژبی حفاظت وکی نودا اقوال ددواد ﷺ دی چی هغه په خپلو حکمتونو کی ذکرکړی دی دارکم دهغه اقوال نورو علماوو هم ذکرکړی دی په مختلفو روایتونو سره چی دټولو خلاصه اومقصد هم دا دی کم چی موږ ذکر کړه.

دارکم حافظ ابن عساکر په خپل کتاب کی په باره ددواد ﷺ کی داسی ویلی دی: چی داود ﷺ فرمایلی دی چی سه دیتیم دپاره په ډول دپلار، اوپوه سه چی ته څه رکم کرل کوی هغه شان به یې ریبل کوی، اودارکم یې په بل روایت سره په خپل سندکی داسی ویلی دی چی داود ﷺ فرمایلی دی چی: ای کرونکیه دګناهونو ته نه ریبی ددی ازغی اوبدی. خودا دوهم قول کمزوری دی په اعتبار دروایت سره. اودارکم په بل روایت کی ویل سوی دی چی داود ﷺ فرمایلی دی چی: داحمق اونادانه خطیب مثال په قوم کی داسی دی لکه یو غزل ویونکی پرمړی باندی، اودارکم یې هم فرمایلی دی: چی بدنه دی غریبیدل وروسته دمالدار څخه بلکی بد دادی چی ګمراه سی وروسته دهدایت څخه. اودایې هم فرمایلی دی چی وګوره ته په قوم کی هغه څه چی ته یې بدګڼی چی تاته وویل سی اوبیا هغه مه کوه. او په بل قول کی یې فرمایلی دی چی ته وعده مه کوه دخپل ورور سره دیوشی چی بیایې نه سی پوره کولی ولی چی ستا اودهغه ترمنځ دښمنی پیدا کوی.

دارکم حافظ ابن عساکر په خپل تاریخ کی نقل کړی دی په باره دصدقه الدمشقی کی چی دی نقل کوی دابن عباس څخه په طریقی دابو الفرج بن فضاله الحنصی دی نقل کوی دابو هریره څخه دی نقل کوی دصدقه الدمشقی څخه دی وایې چی پوښتنه وکړه یوسړی یوه ورځ دابن عباس څخه په باره دروژی کی نودی ابن عباس ورته وفرمایل چی زه به تاته یو حدیث بیان کم چی زماسره په بحثونو کی پراته دی، که ستاخوښه وی نوزه به تاته بیان وکم په باره دروژی ددواد ﷺ کی چی هغه ډیر روژه دار اودشپی عبادت کونکی او مضبوط سړی وو اوتیښته به یې نه کوله کله به چی چاته مخامخ سو، او وو به چی یوه ورځ به یې روژه نیوله اویوه ورځ به یې افطار کوی، لکه څه رکم چی رسول الله ﷺ فرمایلی دی چی: ښه روژه ددواد ﷺ ده، او وو داود ﷺ چی زبور به یې په اویا قسمه اوازونو باندی وایه، اوده به په شپه کی یورکعت لمونځ کوی چی په هغه کی به ده په خپله هم ژړل

(c) ketabton.com: The Digital Library



اونور به یې هم ژړول. اوکه ستاخوښه وی نوزه به تاته دهغه دځوی دروژې بیان وکم چې سلیمان علیه السلام دی چې هغه به دمیاشتی په سرکی دری ورځی روژه نیوله اودمیاشت په منځ کی دری ورځی اودمیاشت په آخر کی به یې دری ورځی روژه نیوله، اوکه ستاخوښه وی نوزه به تاخبر کم دعیسیٰ علیه السلام دروژې په باره کی چې هغه به یوکال روژه نیوله اواوربشی به یې خوړلی اودوریښتو څخه به یې کپړې جوړولی اوهغه به یې اغوستلی، څه به چې ورکیدل هغه به یې خوړل اودچا څخه به یې سوال نه کوی، ځوی یې نه وو چې مړسوی وای اوکوریې نه وو چې خراب سوی وای، اوپرده به چې چیری شپه سوه نوپه هغه ځای کی به یې دپښو په منځ کی صف جوړکی اوپه لمانځه باندی به ودریدی تردی چې سهار به سو، اوښکاری هم وو کله به یې چې دڅه شی اراده وکړه نوهغه به ورڅخه نه سو تلی، اودی به تیریدی په مجلسونو دبنی اسرائیلو باندی چې دهغوی حاجتونه به یې پوره کول. اوکه ستا خوښه وی نوزه به تاخبرکم دروژې دمور دده څخه چې مریم بنت عمران ده چې هغه به یوه ورځ روژه نیوله اویوه ورځی به یې افطار کوی. اوکه ستا خوښه وی نوزه به تاخبرکم په باره دروژې دمحمد صلی الله علیه وسلم باندی چې هغه به په میاشیت کی دری روژې نیولی اوفرمایل به یې چې داروژه دکال ده.

## وفات دداود علیه السلام

مخکی یوحدیث ذکرسو په بیان دآدم علیه السلام کی چې په هغه کی داذکر سوی وه چې آدم علیه السلام ته ټول مخلوق وښوول سو نوپه هغه کی یوسړی وو چې ډیر پر نور وو اوړنا ورڅخه ختله نوده پوښتنه وکړه چې داڅوك دی؟ نوورته وویل سوه چې داستا ځوی داود علیه السلام دی نوبیایې پوښتنه وکړه چې دده څومره عمردی؟ نوورته وویل سوه چې شپیته کاله نوده وفرمایل چې زمادعمر څخه ورلره څلوېښت کاله ورکی نوکله چې دده دعمر څخه څلوېښت کاله ورکول سوه اوبیا دده نیټه پوره سوه اودوفات وخت یې رانژدی سو نو ملك الموت ورته رالی او ورته یې وویل چې ستاڅخه روح قبضه کوم نوده ورته وفرمایل چې آیا زما دعمر څخه څلوېښت کاله نه دی پاته نوملائکی ورته وویل چې هغه خوتا خپل ځوی داود علیه السلام ته ورکړی دی نودده څخه هیرسوه اووی فرمایل چې مانه دی ورکړی نوده ته هم الله جل جلاله زرکاله عمر پوره ورکی اوداود علیه السلام ته یې هم سل کاله پوره ورکی. داروایت نقل کړی دی ابن عباس، اوترمذی، اوددی باقی تفصیل په قصه دآدم علیه السلام کی ذکر سویدی. ابن جریر ویلی دی چې اهل کتابو ویلی دی چې دداود علیه السلام عمر (۷۷) کاله وو. بیا ابن جریر ددی قول رد کړی دی چې داغلطه خبره ده. اودوی ویلی دی چې دده موده دبادشاهی (۴۰) کاله وو.

اوهرڅه چې وفات دده دی نوامام احمد ویلی دی په مسند خپل کی په نقل کولو سره دقبیصه څخه دی نقل کوی دیعقوب بن عبدالرحمٰن بن محمد څخه دی نقل کوی دعمر بن ابی عمر څخه

(c) ketabton.com: The Digital Library



دی نقل کوی دالمطلب څخه دی نقل کوی دابو هریره څخه چی رسول الله ﷺ فرمایلی دی:
وو داود ؑ په کلك غیرت کی کله به چی دی دکورڅخه ووتی نودکور دروازی به یې بندی
کړی نودده کورته به څوك هم نه سو داخلیدلی ترڅو چی به دی بیرته نه وو راغلی، نویوه
ورځ داود ؑ دکورڅخه ووتی اودروازه یې بنده کړه نودده ښځه چی کله دکوردصحن څخه
راووتل نوګوری چی یوسړی دی اودمیدان په منځ کی ولاړدی نوپه حیرانتیا سره یې ویل
چی داڅوك دی اوکور بنددی اودی په کمه لاره کورته رادننه سوی دی، اوبیایې ورته وویل
چی ستادی قسم وی په الله ﷻ باندی چی ته ځان په داود ؑ باندی بی عزته کوی. نوپه
دی کی داود ؑ رالی چی ګوری دکورپه منځ کی یوسړی ولاړدی نوداود ؑ ورته
وفرمایل چی ته څوك یې؟ نودی ملك الموت ورته وویل چی زه هغه سړی یم چی نه بیریږم
دبادشاهانو څخه اومانسی منع کولی چوکیداران دیوځای څخه. نوداود ؑ وفرمایل: پس
ته ملك الموت یې نوپه خیر راغلی دی وی ستا دپاره په راوړلو دحکم دالله ﷻ کی. بیالږ
ساعت تم سو اوبیایې ورڅخه روح قبض کی، کله چی ده ته غسل ورکول سو اوبیا کفن
ورواچول سو اودده دکارونو څخه فارغه سو نولمر راوختی، نوسلیمان ؑ مرغانوته وویل
چی په داود ؑ باندی سایه وکی. نومرغانو سایه پروکړه تردی چی په ټولی مزکه کی
سایه سوه اوبیایی پټ کی.
اسحاق بن بشر په نقل کولو سره دسعید بن عکرمه څخه دی نقل کوی دعروبه څخه دی نقل
کوی دقتاده څخه دی نقل کوی دحسن څخه دی وایې: وفات سو داود ؑ په (۱۰۰) کلنی
کی اوپه ورځ دچارشنبی کی یودم وفات سو اودده ځوی سلیمان ؑ هم یودم بغیر دڅه
مرض څخه اوکمزوری څخه وفات سوی وو.
اوابن عساکر وایې چی دی دمحراب څخه کښته کیدی چی ملك الموت ورته رالی نوده
ورته وفرمایل چی ماپریږده چی ځه ددی څخه کښته سم اوبیا راوخیژم نوملك الموت ورته
وویل چی کلونه اومیاشتی اوورځی هرڅه پوره سوی دی اورزق دی هم پوره سوی دی نو
داود هم ناڅاپه بغیر دڅه مرض اوکمزوری څخه وفات سو. اوابن عساکر وایې چی دی
دمحراب څخه کښته کیدی چی ملك الموت ورته رالی نوده ورته وفرمایل چی ماپریږده
چی ځه ددی څخه کښته سم اوبیا وخیژم نوملك الموت ورته وویل چی کلونه اومیاشتی
اوورځی هرڅه پوره سوی دی اورزق دی هم پوره سوی دی نوداود ؑ پرهغه ځای باندی په
سجده پریوتی پرکم ای باندی چی ولاړ وو نوروح یې ورڅخه قبض کی په داسی حال کی
چی دی پرسجده باندی پروت وو. اسحاق بن بشر وایې په نقل کولو سره دوافر بن سلیمان
څخه دی نقل کوی دابی سلیمان څخه دی نقل کوی دوهب بن منبه څخه دی وایې چی: خلګ
راټول سوه ددواد ؑ جنازی ته نوټول په لمرکی ناست وه اوپه دی جنازه کی (۴۰۰۰۰)

(c) ketabton.com: The Digital Library



راهبان هم وه، اوددی څخه مخکی په بنی اسرائیلو کی داسی څوك دموسیٰ ؈ اودهارون ؈ اودیوشع ؈ څخه نه وو وفات سوی چی بنی اسرائیل ډیر په خفه سوی وه ددواد ؈ څخه یعنی دده په وفات باندی ډیر زیات خفه وو. نودوی ګرمی تنګ کړه نودوی سلیمان ؈ ته وویل چی دوی ته څه بندوبست وکی چی دګرمی څخه په محفوظ وی نو سلیمان ؈ مرغانوته امر وکی چی په دوی باندی سایه وکی نو مرغانو په دوی باندی داسی سایه وکړه چی په دوی باندی به یخه هوا هم لګیده، نودی بنی اسرائیلو دااول کار دسلیمان ؈ څخه ولیدی اوحیران سو ورته.

حافظ ابویعلی وایې په نقل کولو سره دابوهمام الولیدبن شجاع څخه دی نقل کوی دالولید بن مسلم څخه دی نقل کوی دهیثم بن حمید څخه دی نقل کوی دالوضین بن عطاء څخه دی نقل کوی دنصر بن علقمه څخه دی نقل کوی دجبیر بن نفیر څخه دی دابی الدرداء څخه دی وایې چی فرمایلی دی رسول الله ﷺ: یقینًا وفات سو داود ؈ دخپل قوم څخه په داسی حال کی چی نه دده په قوم کی څه فتنی راغلی وی اونه په دوی کی څه تبدیلی راغلی وه او دده قوم په خپل هدایت اوپه اصولو باندی پاته سو تردوه سوه کالو پوری.

## قصه دسلیمان ؈

دده دنسب په باره کی ابن عساکر ویلی دی چی داسلیمان بن داود بن ایشا بن عوید بن عابر بن سلمون بن نخشون بن عویناذب بن ارم بن حصرون بن فارص بن یهوذا بن یعقوب بن اسحاق بن ابراهیم ؈ دی.

الله ﷻ فرمایلی دی: وَوَرِثَ سُلَيْمَانُ دَاوُودَ وَقَالَ يَا أَيُّهَا النَّاسُ عُلِّمْنَا مَنْطِقَ الطَّيْرِ وَأُوتِينَا مِنْ كُلِّ شَيْءٍ إِنَّ هَذَا لَهُوَ الْفَضْلُ الْمُبِينُ، (سورة النمل ۱۶) یعنی دی ددواد ؈ په نبوت اوعلم کی وارث وو، دامرادنه دی چی دی یې وارث وو په مال کی، ولی چی ددواد ؈ ډیر زامن وه، نومال یواځی دده خاص نه وو اوبل داچی په حدیث کی دنبی ؈ څخه دی نقل دی چی: موږ په میراث کی مال نه پریږدو اوزموږ چی کم مال پاته سی هغه به په صدقی کی ورکول کیږی.

دارکم په بل روایت کی داسی ذکردی: زموږ معاشره دانبیاوو مال په وراثت کی نه پریږدی.

نو پس خبر ورکړی دی نبی ؈ چی موږ په میراث کی مال نه پریږدو مګر هغه به په صدقی کی ورکول سی. اودی سلیمان ؈ فرمایلی دی: يَا أَيُّهَا النَّاسُ عُلِّمْنَا مَنْطِقَ الطَّيْرِ وَأُوتِينَا مِنْ كُلِّ شَيْءٍ، یعنی سلیمان ؈ ته به دمرغانو خبری زده وی اودهغوی په ارادو به پوهیدی چی دا دڅه اراده کوی اوددی څه مقصد دی. اودارکم حافظ ابوبکر البیهقی وایې په نقل کولو سره دابو عبدالله الحافظ څخه دی نقل کوی دعلی بن حشاد څخه دی نقل کوی داسماعیل بن قتیبه څخه دی نقل کوی دعلی بن قدامه څخه دی نقل کوی دابو جعفر الاسود څخه دی

(c) ketabton.com: The Digital Library



نقل کوی دابی یعقوب العمی څخه دی نقل کوی دابو مالك څخه دی وایې چی یوه ورځ سلیمان ؑ تیرسو په یودوو مرغانو باندی چی یو دهغه بل ته راګرځیدی نوسلیمان ؑ خپلو ملګروته وویل چی تاسی ته پته سته چی دایو دی بلی ته څه وایې نودوی پوښتنه وکړه چی ای دالله ﷻ پیغمبره څه وایې، نو سلیمان ؑ وفرمایل چی دایودی بل ته وایې چی زماسره واده وکړه زه به تاواوسوم دځان سره ددمشق په کم کورکی چی ستاخوښه وی، بیا سلیمان ؑ وفرمایل چی ددمشق کورونه ټول دډبرو څخه جوړسوی دی نه سی کولی هیڅ څوك چی په هغه کی واوسی نودا خطاب کوونکی مرغی دروغ وایې. اوسلیمان ؑ ماسوا دهغه څخه دنورو حیواناتو په ژبو هم پوهیدی په دی خبره باندی داقول دالله ﷻ دلالت کوی (وَأُوتِينَا مِنْ كُلِّ شَيْءٍ) یعنی موږ ده ته هرهغه څه ورکړی دی چی دیوه بادشاه ورته ضرورت وی (یعنی لښکر سپاهیان اوډلی اوتسلط په پیریانو اوپه حیواناتو اوپه شیطانانو اوپه نورو علمونو باندی اوداسی نوره پوهه په کارونو اوتدبیرونو جوړولو باندی) داهرڅه ورلره الله ﷻ ورکړی وه، بیا الله ﷻ فرمایلی دی: یعنی دافضل اواحسان دطرفه څخه دهغه ذات دی کم چی پیداکونکی دآسمانونو اودمزکو دی لکه څه رکم چی الله ﷻ فرمایلی دی په دی قول خپل کی: وَحُشِرَ لِسُلَيْمَانَ جُنُودُهُ مِنَ الْجِنِّ وَالْإِنْسِ وَالطَّيْرِ فَهُمْ يُوزَعُونَ (١٧) حَتَّى إِذَا أَتَوْا عَلَى وَادِ النَّمْلِ قَالَتْ نَمْلَةٌ يَا أَيُّهَا النَّمْلُ ادْخُلُوا مَسَاكِنَكُمْ لَا يَحْطِمَنَّكُمْ سُلَيْمَانُ وَجُنُودُهُ وَهُمْ لَا يَشْعُرُونَ (١٨) فَتَبَسَّمَ ضَاحِكًا مِنْ قَوْلِهَا وَقَالَ رَبِّ أَوْزِعْنِي أَنْ أَشْكُرَ نِعْمَتَكَ الَّتِي أَنْعَمْتَ عَلَيَّ وَعَلَى وَالِدَيَّ وَأَنْ أَعْمَلَ صَالِحًا تَرْضَاهُ وَأَدْخِلْنِي بِرَحْمَتِكَ فِي عِبَادِكَ الصَّالِحِينَ. (سورة النمل ۱۸\۱۹) دلته الله ﷻ خبر ورکوی دخپل نبی سلیمان ؑ څخه چی دی یوه ورځ دخپل لښکر سره روان وو چی دادری قسمه لښکروو چی انسانان اوپیریان اومرغان وه یعنی ددی درو واړو لښکر یوځای دسلیمان ؑ سره روان وو انسانان اوپیریان خوسره یوځای روان وه اومرغان په هوا کی روان وه چی دوی یې دګرمی څخه محفوظ کول دوی په داسی ترتیب روان وه چی یودبل څخه نه مخکی کیدل.

الله ﷻ فرمایلی دی: حَتَّى إِذَا أَتَوْا عَلَى وَادِ النَّمْلِ قَالَتْ نَمْلَةٌ يَا أَيُّهَا النَّمْلُ ادْخُلُوا مَسَاكِنَكُمْ لَا يَحْطِمَنَّكُمْ سُلَيْمَانُ وَجُنُودُهُ وَهُمْ لَا يَشْعُرُونَ، نوده امروکی خپل لښکر ته ودریدل په داسی حال کی چی دده لښکرته پته نه وه چی دوی څه ته ودریده. وهب بن منبه ددی قصی په باره کی ویلی دی چی: سلیمان ؑ په طائف باندی تیریدی چی دغه میږی په خپل ملګروپسی اواز وکی اوددی میږی نوم (جرسا) وو اودی وو دقبیلی دبنو الشیصبان څخه اودی ګوډ وو او دشرمښ هومره وو په جسم کی. خوپه دی قول کی نظر یعنی شبهه ده. خومقصود دادی چی سلیمان ؑ چی کله ددی میږی داخبری واوریدلی چی ډیری ښی خبری یې وکړی نونرمه خندا

(c) ketabton.com: The Digital Library



یې وکړه اوپه ده باندی خوشحاله سو چی الله ﷻ ده ته ددی خبری واورولی اودده څخه ماسواڅوك په پوه نه سواوداسی نه ده لکه څنګه چی بعضی جاهلانوویلی دی چی دسلیمان ؑ څخه به مخکی حیواناتو دانسانانو سره خبری کولی اوهغوی ته به یې خطاب کوی نو سلیمان ؑ ددی حیواناتو څخه وعده واخسته چی دعامو انسانانو سره به خبری نه کوی نوبیابه دوی خبری نه کولی، نوداخبره صحیح نه ده، اوکه چیری داسی وه نوسلیمان ؑ ته ددی څه فائده نه وه چی دوی یې هسی منع کول اودانبیاوو سره داکار نه ښایې اونه یې کوی. نوددی وجی څخه فرمایلی دی (رَبِّ أَوْزِعْنِيّ) یعنی ماته الهام وکی اوارشاد وکی: أَنْ أَشْكُرَ نِعْمَتَكَ الَّتِي أَنْعَمْتَ عَلَيَّ وَعَلَى وَالِدَيَّ وَأَنْ أَعْمَلَ صَالِحًا تَرْضَاهُ وَأَدْخِلْنِي بِرَحْمَتِكَ فِي عِبَادِكَ الصَّالِحِينَ، اوداالله ﷻ څخه یې طلب وکی چی ده ته توفیق دشکر ورکی چی ددی نعمت په بدله کی شکر وکاړی اوده ته علم صالح اسانه کی اودده حشر دنیکانو بندګانو سره وکی په ورځ دقیامت کی. اومراد دلته دوالدینو څخه داود ؑ دی اومور یې ده. اودده مور دنیکانو اوعبادت کونکو ښځو څخه وه لکه څه رکم چی دده په باره کی روایت ذکرکړی دی سنید بن داود په نقل کولو سره دیوسف بن محمد بن المنکدر څخه دی نقل کوی دخپل پلار څخه دی نقل کوی دجابر څخه دی نقل کوی دنبی ﷺ څخه چی فرمایلی یې دی: ویلی دی مور دسلیمان ؑ ای ځویه زماته خوب مه ډیروه دشپی، ولی چی ډیر خوب سړی دقیامت په ورځ غریب کوی. مراد دغریب کیدلو څخه دانه دی چی مال اودولت ورسره نه وی بلکی اعمال په دی سره کمیږی. اوپه یو روایت کی ذکرسوی دی چی ابوهریره یې دنبی ﷺ څخه نقل کوی چی نبی ﷺ فرمایلی دی چی: ووتی یونبی دانبیاوو څخه دخلګو سره چی داستسقاء لمونځ وکی (یعنی دباران دپاره چی کم لمونځ کیږی هغه ته داستسقاء لمونځ ویل کیږی) نودی نبی داالله ﷻ ولیدی یومیږی چی خپل بعضی حصی یې دآسمان خوا ته لوړ کړی وه، نودغه نبی وفرمایل خپل قوم ته چی: بیرته راسی ولی چی ستاسی دعا قبوله سوه ددی میږی دوجی داركم الله فرمایلی دی: وَتَفَقَّدَ الطَّيْرَ فَقَالَ مَا لِيَ لَا أَرَى الْهُدْهُدَ أَمْ كَانَ مِنَ الْغَائِبِينَ (٢٠) لَأُعَذِّبَنَّهُ عَذَابًا شَدِيدًا أَوْ لَأَذْبَحَنَّهُ أَوْ لَيَأْتِيَنِّي بِسُلْطَانٍ مُبِينٍ (٢١) فَمَكَثَ غَيْرَ بَعِيدٍ فَقَالَ أَحَطْتُ بِمَا لَمْ تُحِطْ بِهِ وَجِئْتُكَ مِنْ سَبَإٍ بِنَبَإٍ يَقِينٍ (٢٢) إِنِّي وَجَدْتُ امْرَأَةً تَمْلِكُهُمْ وَأُوتِيَتْ مِنْ كُلِّ شَيْءٍ وَلَهَا عَرْشٌ عَظِيمٌ (٢٣) وَجَدْتُهَا وَقَوْمَهَا يَسْجُدُونَ لِلشَّمْسِ مِنْ دُونِ اللَّهِ وَزَيَّنَ لَهُمُ الشَّيْطَانُ أَعْمَالَهُمْ فَصَدَّهُمْ عَنِ السَّبِيلِ فَهُمْ لَا يَهْتَدُونَ (٢٤) أَلَّا يَسْجُدُوا لِلَّهِ الَّذِي يُخْرِجُ الْخَبْءَ فِي السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضِ وَيَعْلَمُ مَا تُخْفُونَ وَمَا تُعْلِنُونَ، په دی ایتونو کی الله ﷻ بیان دهغه واقعی کوی کم چی دسلیمان ؑ اودهدهد (ملاچرګك) په منځ کی واقع سویده، اودا په دی ترتیب سره چی

(c) ketabton.com: The Digital Library



هره ورځ به مرغانو سلیمان ﷷ ته حاضری ورکول اودهریوخپل خپل کارونه وه چی سلیمان ﷷ ورسپارلی وه نویوه ورځ یې دی راوغوښتی نودی نه وو نووی فرمایل: مَا لِيَ لَا أَرَى الْهُدْهُدَ أَمْ كَانَ مِنَ الْغَائِبِينَ، څه دی مالره چی زه نه وینم ملاچرګك آیا زه یې نه وینم که هغه غیب دی دلته نسته دخپل دخدمت په ځای کی: لَأُعَذِّبَنَّهُ عَذَابًا شَدِيدًا أَوْ لَأَذْبَحَنَّهُ أَوْ لَيَأْتِيَنِّي بِسُلْطَانٍ مُبِينٍ، زه به ورلره سزاورکم په سخته سزا ورکولو سره یابه یې حلالوم یابه ماته راوړی څه خبر یابه راته څه دلیل بیانوی چی دی په څه پسی تللی دی چی غیرِ حاضردی، بیا الله ﷻ فرمایلی دی چی (فَمَكَثَ غَيْرَ بَعِيدٍ) یعنی دی ورك سو اوغیب سو ترډیر وخت پوری نه بیارالی اوسلیمان ﷷ ته یې وویل: أَحَطتُ بِمَا لَمْ تُحِطْ بِهِ، یعنی زه خبرسوم په داسی خبری باندی چی دهغه څخه ته هم نه یې خبر: وَجِئْتُكَ مِنْ سَبَإٍ بِنَبَإٍ يَقِينٍ، یعنی په رښتنی وینا سره (یعنی دسباء علاقی څخه می یورښتینی خبر راوړی دی)، إِنِّي وَجَدْتُ امْرَأَةً تَمْلِكُهُمْ وَأُوتِيَتْ مِنْ كُلِّ شَيْءٍ وَلَهَا عَرْشٌ عَظِيمٌ، ده ذکروکی سلیمان ﷷ ته په باره دبادشاهی دیمن والاو کی اوپه دغه زمانه کی په دغه ځای کی یوبادشاه وو چی هغه کله وفات سو نوخپله بادشاهی یې خپلی لور ته وسپارل چی دابلقیس بنت السریح وه، اوبعضی وایې چی ددی دپلار نوم شراحیل بن ذی جدن بن السیرح بن الحارث بن قیس بن صیفی بن سبابن یشحب بن یعرب بن قحطان دی، او ددی پلار دغتو بادشاهانو څخه وو اوده بدګڼل چی دیمن څخه واده وکی، نوویل سوی دی چی ددی پلار دپیریانو څخه واده کړی وو دیوی ښځی سره چی ریحانه بنت السکن نوم یې وه، نوددی څخه یې دالور پیداسوه چی تلقمه نوم یې وه اوپه بلقیس ورته ویل کیږی. دارکم ثعلبی ویلی دی چی ماته خبرراکړی دی ابوعبدالله بن قبوحه چی دی نقل کوی دابوبکر بن حرجه څخه دی نقل کوی دابن ابی اللیث څخه دی نقل کوی دابو کریب څخه دی نقل کوی دابومعاویه څخه دی نقل کوی داسماعیل بن مسلم څخه دی نقل کوی دابی بکر څخه. دی وایې چی ماذکر وکی درسول الله ﷺ خواته دبلقیس نووی فرمایل: نه کامیابیږی یوقوم چی دهغه مشر ښځه وی. (یعنی بادشاهی یې دښځی په لاس کی وی). وَأُوتِيَتْ مِنْ كُلِّ شَيْءٍ، یعنی یوبادشاه ته چی څومره شیان اوجائداد اوشوکت ورکول کیږی نودې ته هم دغه رکم ورکول سوی وو (وَلَهَا عَرْشٌ عَظِيمٌ) یعنی یوغټ تخت دی چی دایی مالکه ده اوداسی تخت دی چی په هر قسم جواهراتو باندی ښائسته سوی دی. بیادی ملاچرګك بیان کی ددوی کفر او ددوی عبادت دلمر خواته اوبیان یې وکی ددوی دګمراهی اودشیطان په فریب کی ساتل ددوی داټول یې سلیمان ﷷ ته بیان کړه.

نوپه هغه وخت کی سلیمان ﷷ یوخط ورولیږی چی په هغه کی یې دوی ته دالله ﷻ دعبادت

(c) ketabton.com: The Digital Library



خواته دعوت وو اودوی ته داامر سوی وو په هغه کتاب کی چی دسلیمان ﷺ ملك ته په امن کی اوپه عاجزی سره اوپه اطاعت سره داخل سی لکه څه رکم چی یې په دی آیت کی فرمایلی دی: أَلَّا تَعْلُوا عَلَيَّ وَأْتُونِي مُسْلِمِينَ، یعنی زما داطاعت څخه انکار مه کوی اوماته مسلمانان راسی، نوبعضی مفسرینو داسی ویلی دی چی دی ملاچرګك داخط راوړی اودا بلقیس په خپل محل کی یواځی ولاړه وه نوداخط یې وروغورځوی نودی خط راواخستی اودخپل دولت مشران یې راوغوښتل دمشوری دپاره نو وې ویل: يَا أَيُّهَا الْمَلَأُ إِنِّي أُلْقِيَ إِلَيَّ كِتَابٌ كَرِيمٌ، بیایې دوی ته ددی کتاب عنوان اول ووایه: إِنَّهُ مِنْ سُلَيْمَانَ وَإِنَّهُ بِسْمِ اللهِ الرَّحْمَنِ الرَّحِيمِ، بیایې ددوی سره مشوره وکړه په دی کارباندی اودی مشرانو اوسردارانو دقوم سره یې په ډیر ادب کی خبری وکړی اوخطاب یې دوی ته وکی اودوی اوریدی: قَالَتْ يَا أَيُّهَا الْمَلَأُ أَفْتُونِي فِي أَمْرِي مَا كُنْتُ قَاطِعَةً أَمْرًا حَتَّى تَشْهَدُونِ، داخپل سردارانو ورته وویل چی موږخاوندان دطاقت یو اوزموږ سره مقاومت اودجنګ اسباب ډیر دی که تاسی زموږ څخه طلب ددی کوی نوموږ تیار یو خوسره ددی: وَالْأَمْرُ إِلَيْكِ فَانْظُرِي مَاذَا تَأْمُرِينَ، یعنی بیاهم ستاسی خوښه ده چی تاسی څه امر اوفیصله کوی (یعنی دغه سردارانو دی بلقیس ته داوینا وکړه).

نوددی پوهه هم پوره پوهه وه چی دی ته ددی خبری علم وسو چی داددی کتاب رالیږونکی دروغ نه وایې اوڅه مخالفت به نه کوی اودوکه به هم نه کوی نوددی وجی څخه دې وویل: قَالَتْ إِنَّ الْمُلُوكَ إِذَا دَخَلُوا قَرْيَةً أَفْسَدُوهَا وَجَعَلُوا أَعِزَّةَ أَهْلِهَا أَذِلَّةً وَكَذَلِكَ يَفْعَلُونَ، دې داخبره په خپل سوچ اوګمان سره وکړه. چی که پردوی باندی غالبه سوه نودوی ته چی څه ضرررسیږی نوتکلیف به یې دی بلقیس ته وی اوټول زور به یې دې ته رسیږی اوبیایې داخبره وکړه: وَإِنِّي مُرْسِلَةٌ إِلَيْهِمْ بِهَدِيَّةٍ فَنَاظِرَةٌ بِمَ يَرْجِعُ الْمُرْسَلُونَ، چی زه به دوی ته یوه تحفه ورولیږم بیاګورو چی دوی څه کوی اوڅه بیرته رالیږی. اودوی ته داپته نه وه چی سلیمان ﷺ ته ددی تحفو څه حاجت نسته ولی چی الله ﷻ هغه ته داسی نعمتونه ورکړی دی چی دهیڅ شی کمی په کی نسته: فَلَمَّا جَاءَ سُلَيْمَانَ قَالَ أَتُمِدُّونَنِ بِمَالٍ فَمَا آتَانِيَ اللهُ خَيْرٌ مِمَّا آتَاكُمْ بَلْ أَنْتُمْ بِهَدِيَّتِكُمْ تَفْرَحُونَ کله چی داهدیې اوتحفی سلیمان ﷺ ته راوړل سوی نوسلیمان وفرمایل چی تاسی ماته مال ښیاست اوحال دادی چی الله ﷻ ماته ددی څخه ښه راکړی دی اوتاسی په خپل تحفو باندی خوشحالیږی چی موږ تحفی ورولیږلی: ارْجِعْ إِلَيْهِمْ فَلَنَأْتِيَنَّهُمْ بِجُنُودٍ لَا قِبَلَ لَهُمْ بِهَا وَلَنُخْرِجَنَّهُمْ مِنْهَا أَذِلَّةً وَهُمْ صَاغِرُونَ، سلیمان ﷺ خپلو سالارانو ته دا امر وکی چی دا بیرته بوځی، اوسلیمان ﷺ وفرمایل چی موږ به ورځو دلښکر سره دوی ته اودوی به ذلیله ددغه

(c) ketabton.com: The Digital Library



ځای ښځه وباسو. قَالَ يَا أَيُّهَا الْمَلَأُ أَيُّكُمْ يَأْتِينِي بِعَرْشِهَا قَبْلَ أَنْ يَأْتُونِي مُسْلِمِينَ (۳۸) قَالَ عِفْرِيتٌ مِنَ الْجِنِّ أَنَا آتِيكَ بِهِ قَبْلَ أَنْ تَقُومَ مِنْ مَقَامِكَ وَإِنِّي عَلَيْهِ لَقَوِيٌّ أَمِينٌ (۳۹) قَالَ الَّذِي عِنْدَهُ عِلْمٌ مِنَ الْكِتَابِ أَنَا آتِيكَ بِهِ قَبْلَ أَنْ يَرْتَدَّ إِلَيْكَ طَرْفُكَ فَلَمَّا رَآهُ مُسْتَقِرًّا عِنْدَهُ قَالَ هَذَا مِنْ فَضْلِ رَبِّي لِيَبْلُوَنِي أَأَشْكُرُ أَمْ أَكْفُرُ وَمَنْ شَكَرَ فَإِنَّمَا يَشْكُرُ لِنَفْسِهِ وَمَنْ كَفَرَ فَإِنَّ رَبِّي غَنِيٌّ كَرِيمٌ (۴۰) قَالَ نَكِّرُوا لَهَا عَرْشَهَا نَنْظُرْ أَتَهْتَدِي أَمْ تَكُونُ مِنَ الَّذِينَ لَا يَهْتَدُونَ (۴۱) فَلَمَّا جَاءَتْ قِيلَ أَهَكَذَا عَرْشُكِ قَالَتْ كَأَنَّهُ هُوَ وَأُوتِينَا الْعِلْمَ مِنْ قَبْلِهَا وَكُنَّا مُسْلِمِينَ (۴۲) وَصَدَّهَا مَا كَانَتْ تَعْبُدُ مِنْ دُونِ اللهِ إِنَّهَا كَانَتْ مِنْ قَوْمٍ كَافِرِينَ (۴۳) قِيلَ لَهَا ادْخُلِي الصَّرْحَ فَلَمَّا رَأَتْهُ حَسِبَتْهُ لُجَّةً وَكَشَفَتْ عَنْ سَاقَيْهَا قَالَ إِنَّهُ صَرْحٌ مُمَرَّدٌ مِنْ قَوَارِيرَ قَالَتْ رَبِّ إِنِّي ظَلَمْتُ نَفْسِي وَأَسْلَمْتُ مَعَ سُلَيْمَانَ لِلَّهِ رَبِّ الْعَالَمِينَ، (سورة النمل ۳۸\ ۴۴).

طلب وکی سلیمان ﷺ دپیریانانو ښځه چی دده مخ ته دبلقیس عرش حاضرسی، اودغه تخت وو ددی دبادشاهی چی دابه پرکښېنسته نویوه ورته په کی وویل چی زه یې راوړم مخکی ددی ښځه چی ستا دامجلس ختم سی، اوویل سوی دی چی دده دامجلس به دشروع دورځی ښځه تر زواله پوری دلمر به وو په دغه وخت کی به ده دبنی اسرائیلو مسائل حل کول. نوپه دی کی یوه پیری اوازوکی چی زه یې راوړم اوزما وس اوطاقت پرسته: قَالَ الَّذِي عِنْدَهُ عِلْمٌ مِنَ الْكِتَابِ، ویل سوی دی چی دا آصف بن برخیاوو اودا دسلیمان ﷺ دامه ځوی وو اوویل سوی دی چی دایو سړی وو دپیریانو ښځه چی ایمان یې راوړی وو، اوویل سوی دی چی دده اسم اعظم یادوو. اوویل سوی دی چی دی دبنی اسرائیلو ښځه یوغټ عالم وو، اوویل سوی دی چی داسلیمان ﷺ وو، خوداقول ضعیف دی ده ورته وویل چی زه یې درته راوړم په مخکی ددی ښځه چی تاته دلیری ښځه یوسړی راښکاره سی اوستانظر پرولګیږی.

کله چی سلیمان ﷺ دغه عرش ولیدی نودالله ﷻ شکریی وکاږی دالله ﷻ ښځه یې غوښتنه وکړه چی ده دشکر توفیق ورنصیب کړی اوبیایې وفرمایل چی چاشکر وکی نودځان دپاره یې فائده واخستله اوکه چا ناشکری وکړه نوالله ﷻ ته دده دکفر ښځه څه ضررنه رسیږی.

کله چی دابلقیس راله نوسلیمان ﷺ ورته ددغه تخت په خوا اشاره وکړه چی دغه تخت ددی دبادشاهی تخت وو اوورته یې وفرمایل چی آیاستا تخت همداسی دی نودې هم وویل چی هو داخو داسی دی لکه چی زماتخت وی، اوبیایې دامنع کړه دعبادت دلمرښځه اودکفر خوا ښځه یې داسلام خوا ته راواړول. اوامروکی سلیمان ﷺ په جوړولو دیوې برنډی دچینبو ښځه نودغه رکم برنډه یې جوړه کړه چی لاندی چینبه لګیدلی وه اودچینبی ښځه لاندی اوبه روانی وی چی ماهی په کی هم وو نوکله چی دابلقیس دغه محل ته دننه سوه نو داخیال یې وکی چی مزکه لانده ده نوخپلی جامی یې لوړی کړی نوورته وویل سوه چی دا

(c) ketabton.com: The Digital Library



داسی برنډه ده چی دچینبو څخه تیاره سویده بیادی بلقیس سرعام اعلان وکی چی ما ایمان راوړی دی اوزه تسلیم یم الله ﷻ ته دسلیمان علیه السلام سره، نوبیا سلیمان علیه السلام غوښتل چی ددی سره واده وکی نوواده یې ورسری وکی نوددی په واسطه یې په پیریانو باندی هم بادشاهی مکمله سوه ولی چی ددی بلقیس مور دپیریانو دقبیلی څخه وه، محمد بن اسحاق ویلی دی چی سلیمان علیه السلام ورسره واده ونه کی بلکی دایې دهمدان بادشاه ته واده کړه اودیمن په علاقی باندی یې مشره کړه. والله اعلم. خواولنی قول مشهور دی چی ده ورسره په خپله واده کړی دی.

وَوَهَبْنَا لِدَاوُودَ سُلَيْمَانَ نِعْمَ الْعَبْدُ إِنَّهُ أَوَّابٌ (٣٠) إِذْ عُرِضَ عَلَيْهِ بِالْعَشِيِّ الصَّافِنَاتُ الْجِيَادُ (٣١) فَقَالَ إِنِّي أَحْبَبْتُ حُبَّ الْخَيْرِ عَنْ ذِكْرِ رَبِّي حَتَّى تَوَارَتْ بِالْحِجَابِ (٣٢) رُدُّوهَا عَلَيَّ فَطَفِقَ مَسْحًا بِالسُّوقِ وَالْأَعْنَاقِ (٣٣) وَلَقَدْ فَتَنَّا سُلَيْمَانَ وَأَلْقَيْنَا عَلَى كُرْسِيِّهِ جَسَدًا ثُمَّ أَنَابَ (٣٤) قَالَ رَبِّ اغْفِرْ لِي وَهَبْ لِي مُلْكًا لَا يَنْبَغِي لِأَحَدٍ مِنْ بَعْدِي إِنَّكَ أَنْتَ الْوَهَّابُ (٣٥) فَسَخَّرْنَا لَهُ الرِّيحَ تَجْرِي بِأَمْرِهِ رُخَاءً حَيْثُ أَصَابَ (٣٦) وَالشَّيَاطِينَ كُلَّ بَنَّاءٍ وَغَوَّاصٍ (٣٧) وَآخَرِينَ مُقَرَّنِينَ فِي الْأَصْفَادِ (٣٨) هَذَا عَطَاؤُنَا فَامْنُنْ أَوْ أَمْسِكْ بِغَيْرِ حِسَابٍ (٣٩) وَإِنَّ لَهُ عِنْدَنَا لَزُلْفَى وَحُسْنَ مَآبٍ، (سورة ص ۳۰\ ۴۰).

دلته الله ﷻ اول دسلیمان علیه السلام صفت ذکرکوی چی ډیر طاعت اوعبادت کونکی بنده وو او الله ﷻ بیاخپله ثناء پرویلی ده، بیاالله ﷻ هغه واقعه دآسو ذکرکړیده چی اکثر علماء یې داسی بیانوی چی یوه ورځ سلیمان علیه السلام دآسو مقابلی ته ولاړ وو اودهغه سیل یې کوی تر دی چی دمازدیګر وخت ورڅخه فوت سو اوتیر سو اوماښام وخت داخل سو اولمر پریوتی نودده څخه لمونځ قضاء سو نوده ته په دی کار باندی سخته غصه ورله نوهغه ټول آسونه یې دستونی دخوا څخه حلال کړه ددی وجی چی دی یې دمازدیګر وخت څخه مشغول کی اولمونځ یې ورڅخه قضاء کی نوداهم دده په غیرت اوپه طاعت باندی دلالت کوی چی دالله ﷻ په عبادت کی یې دومره شوقمندی وه چی دیووخت لمونځ ورڅخه په غفلت کی قضاء سو نو دهغه په ځای یې ټوله آسونه مړی کړه. وَلَقَدْ فَتَنَّا سُلَيْمَانَ وَأَلْقَيْنَا عَلَى كُرْسِيِّهِ جَسَدًا ثُمَّ أَنَابَ، ددی واقعی په باره کی هم علماوو ډیر اقوال نقل کړی دی چی اکثره اسرائیلی واقعات دی خودټولو خلاصه داده چی سلیمان علیه السلام دخپل کټ څخه ترڅلوېښتو ورځوپوری غیب وو نوکله چی رالی نوامریې وکی په نوی کولو دبناء دبیت المقدس باندی اوددی بناء یې نوی کړه، اومخکی موږ داخبره ذکرکړی وه چی بیت المقدس اول اسرائیل (یعقوب علیه السلام) جوړ کړی وو اوددی آبادی ورنوی کړه، لکه ددی په باره کی چی موږمخکی یوحدیث درسول الله ﷺ نقل کړی وو چی په هغه کی ابوذر رضی الله عنه دنبی علیه السلام څخه داپوښتنه کړی وه چی اول کم

(c) ketabton.com: The Digital Library



جماعت جوړسوی دی نونبی ﷺ فرمایلی وه چی مسجدالحرام، نوبیا ورڅخه دی ابوذر رضی الله عنه پوښتنه وکړه چی ورپسی کم نونبی ﷺ وفرمایل چی مسجد الاقصٰی، نوبیاورڅخه ابو ذر رضی الله عنه پوښتنه کړی وه چی ددی دواړو په مینځ کی دڅوموره وخت فرق دی (یعنی ددی دواړو جماعتونو دجوړیدو په منځ کی څومره کلونه تیرسوی دی) نونبی ﷺ وفرمایل چی (۴۰) کاله، نوددی حدیث څخه دامعلومیږی چی دسلیمان علیه السلام اودابراهیم علیه السلام په منځ کی خو دزر کالونو څخه زیاته وخت تیرسوی وو نومعلومه سوه چی اول بناء ددی یعقوب علیه السلام کړی وه. اوسلیمان علیه السلام دبیت المقدس دتعمیر پوره کولوڅخه وروسته داسوال کړی وو چی ده ته دی داسی باچهی ورکول سی چی دده څخه وروسته هیچاته هم نه یې ورکول سوی،

په دی خبری باندی داحدیث دنبی علیه السلام دلالت کوی کم چی امام احمد نقل کوی دعبد الله بن فیروز الدیلمی څخه دی نقل کوی دعبدالله بن عمر بن العاص څخه دی وایې چی رسول الله ﷺ فرمایلی دی: کله چی سلیمان علیه السلام بیت المقدس جماعت جوړکی نودهغه څخه یې وروسته دری دعاګانی وکړی چی دهغه څخه دوې قبولی سوی اودریمه قبوله نه سوه چی موږ دالله جل جلاله څخه طمع کوو چی دادریمه دعا زموږ دخوا څخه الله جل جلاله قبوله کی اولنی دعا داده چی دالله جل جلاله څخه یې داغوښتنه وکړه چی دده حکم دحق سره برابر کی یعنی دی چی کمه فیصله کوی چی هغه دحق سره برابره وی، نودده دادعا قبوله سوه دوهمه یې دادعا وغوښته چی ده ته داسی بادشاهی ورکړی چی داسی بادشاهی دده څخه وروسته بل چاته ورنه کول سی نودا دعا هم دده په باره کی قبوله سوه، دریمه یې دادعا وغوښته چی څوک دکور څخه ووځی په دی نیت باندی چی لمانځه ته دجماعت ته راروان وی نوهغه ته دی الله جل جلاله دټولو ګناهونو څخه داسی معافی ورکړی لکه څنګه چی ماشوم دموره پیداسی اوهغه هیڅ قسم ګناه نه وی کړی یعنی الله جل جلاله دی ورلره داسی مغفرت نصیب کړی خودا دریمه دعایې قبوله نسوه. نونبی ﷺ وفرمایل چی موږ امید کوو چی دا دریمه دعا زموږ په باره کی قبوله سی، (یعنی دنبی علیه السلام مسجد الحرام مراد وو چی دهغه جماعت ته څوك دلمانځه په نیت دکور څخه راووزی نوالله جل جلاله ورلره داسی مغفرت ورکی لکه څه رکم چی سلیمان علیه السلام فرمایلی دی).

وَدَاوُودَ وَسُلَيْمَانَ إِذْ يَحْكُمَانِ فِي الْحَرْثِ إِذْ نَفَشَتْ فِيهِ غَنَمُ الْقَوْمِ وَكُنَّا لِحُكْمِهِمْ شَاهِدِينَ (۷۸) فَفَهَّمْنَاهَا سُلَيْمَانَ وَكُلًّا آتَيْنَا حُكْمًا وَعِلْمًا، (سورة الانبیاء ۷۸\ ۷۹) دلته هم علماوو یوه واقعه دپسونو په باره کی ذکرکړیده چی په هغه کی دوو ډلو بحث کړی وو نودادواړی ډلی دداود علیه السلام خواته ورلی نوداود علیه السلام ورلره فیصله وکړه کله چی دوی راله نوسلیمان علیه السلام ته په لاری کی مخامخ سوه نوهغه ددوی څخه پوښتنه وکړه چی څه رکم فیصله وسوه نودوی فیصله

(c) ketabton.com: The Digital Library



ورته واوروله چې داسې فیصله وسوه نوسلیمان علیه السلام ورته ددغه فیصلې څخه جلابل ډول فیصله وکړه نودوی بیرته راله داود علیه السلام ته اودسلیمان علیه السلام فیصله یې ورته واوروله نوداود علیه السلام وویل چې دسلیمان علیه السلام فیصله صحیح ده اوفائده منده ده داولې؟ ځکه چې ده دالله جل جلاله څخه داغوښتنه کړې وه چې دده حکم اوفیصله دې برابره وي اوقابل قبول دې وي.
اودارکم په یوحدیث کې ذکردي چې روایت یې کوي ابی الزناد داعرج څخه دې نقل کوي دالاعرج څخه دې نقل کوي دابی هریره رضی الله عنه څخه دې وایې چې فرمایلې دي رسول الله صلی الله علیه وسلم: یوه ورځ دوې ښځې یوځای ناستې وې چې ددواړو سره خپل خپل بچیان وه چې ناڅاپه په دوی باندې شرمښ رالې نوددې یوی څخه یې بچې پورته کې نودې دواړو په دې بل بچې کې جګړه وکړه دې مشرې ښځې وویل چې ستابچې یې بوتلې اودې کشرې وویل چې ستا بچې یې بوتلې، نودوی دواړو محاکمه وکړه داود علیه السلام ته (یعنی فیصله یې داود علیه السلام ته یووړه) نوداود علیه السلام دې مشرې ته ددې بچې فیصله وکړه اودابچې یې دې مشرې ته ورکې، نوکله چې دوی دسلیمان علیه السلام خواته ورله نوسلیمان علیه السلام وفرمایل چې: ماته راکې یوه چاړه چې زه داماشوم په مینځ دوه ځایه کړم نونیم به یوې ښځې ته ورکم اونیم به بلې ښځې ته ورکم. نودې کشرې ښځې وویل چې الله جل جلاله دې په تاباندې ورحمیږې داورکړه دې ته داددې بچې دې. نوسلیمان علیه السلام دابچې دې کشرې ته ورکې ولې چې داځوی ددې وو نوزړه یې پر خوږ سو اوددې بلې ځوی نه وو هغه غله ولاړه وه اودایې نه وویل چې دامه نیمې کوه.
اودا دواړې فیصلې ددوی په شریعت کې جائز وې خودسلیمان علیه السلام فیصله راجحه وه، نو ددې وجې څخه الله جل جلاله دده مدحه بیان کړیده اوپه دې باندې یې ثناء بیان کړیده.
وَكُلًّا آتَيْنَا حُكْمًا وَعِلْمًا وَسَخَّرْنَا مَعَ دَاوُودَ الْجِبَالَ يُسَبِّحْنَ وَالطَّيْرَ وَكُنَّا فَاعِلِينَ (۷۹) وَعَلَّمْنَاهُ صَنْعَةَ لَبُوسٍ لَكُمْ لِتُحْصِنَكُمْ مِنْ بَأْسِكُمْ فَهَلْ أَنْتُمْ شَاكِرُونَ (سورة الانبیاء ۸۰\۷۹) بیا الله جل جلاله فرمایلي دي: وَلِسُلَيْمَانَ الرِّيحَ عَاصِفَةً تَجْرِي بِأَمْرِهِ إِلَى الْأَرْضِ الَّتِي بَارَكْنَا فِيهَا وَكُنَّا بِكُلِّ شَيْءٍ عَالِمِينَ (۸۱) وَمِنَ الشَّيَاطِينِ مَنْ يَغُوصُونَ لَهُ وَيَعْمَلُونَ عَمَلًا دُونَ ذَلِكَ وَكُنَّا لَهُمْ حَافِظِينَ، په دې ایتونو کې الله جل جلاله بیان دمسخر کولو دهواء سلیمان علیه السلام ته بیان کړې دي چې موږ سلیمان علیه السلام ته هوا مسخره کړې وه چې دده په خوښه باندې به چلیده.
اودارکم الله جل جلاله په سورة ص کې فرمایلي دي: فَسَخَّرْنَا لَهُ الرِّيحَ تَجْرِي بِأَمْرِهِ رُخَاءً حَيْثُ أَصَابَ (۳۶) وَالشَّيَاطِينَ كُلَّ بَنَّاءٍ وَغَوَّاصٍ (۳۷) وَآخَرِينَ مُقَرَّنِينَ فِي الْأَصْفَادِ (۳۸) هَذَا عَطَاؤُنَا فَامْنُنْ أَوْ أَمْسِكْ بِغَيْرِ حِسَابٍ (۳۹) وَإِنَّ لَهُ عِنْدَنَا لَزُلْفَى وَحُسْنَ مَآبٍ، (سورة ص۴۰\۳۶) کله چې ده آس پریښووی نوالله جل جلاله ورلره دهغه په عوض کې هوامسخره کړه چې دده په امرباندې به چلیده

(c) ketabton.com: The Digital Library



چې کم ځای ته اوکم ملك ته اوپه کم وخت کی اوکم خوا ته چی ده غوښته نوهوابه دده په حکم باندی چلیدل اودارکم نور ورلره الله ﷻ هرڅه مسخر کړی وه دحیوانانو اوپیریانانو او دانسانانو څخه، اوده به چی کله په دښمن باندی حمله کول غوښتل نوهواته به یې امروکی نودی به یې هغه ځای ته ورسوی اوکله به چی دی په تیزی سره یوځای تلی اویابه یې غوښتل چی یوځای ته ژر ورسیږی نوهواته به یې امروکی نوهوابه نوره هم تیزه سوه اودی به یې په تیزی سره هغه ځای ته ورسوی په داسی طریقی سره چی دی به په اول دسهاروخت کی دبیت المقدس څخه ووتی چی ماپښین ته به دی په اصطخر مقام کی وو چی ددی علاقی اودبیت المقدس په مینځ کی دیوی میاشتی مزل دی نودی به داپه نیمه ورځ کی ووهل. لکه څه رکم چی الله ﷻ فرمایلی دی: وَلِسُلَيْمَانَ الرِّيحَ غُدُوُّهَا شَهْرٌ وَرَوَاحُهَا شَهْرٌ وَأَسَلْنَا لَهُ عَيْنَ الْقِطْرِ وَمِنَ الْجِنِّ مَنْ يَعْمَلُ بَيْنَ يَدَيْهِ بِإِذْنِ رَبِّهِ وَمَنْ يَزِغْ مِنْهُمْ عَنْ أَمْرِنَا نُذِقْهُ مِنْ عَذَابِ السَّعِيرِ (۱۲) يَعْمَلُونَ لَهُ مَا يَشَاءُ مِنْ مَحَارِيبَ وَتَمَاثِيلَ وَجِفَانٍ كَالْجَوَابِ وَقُدُورٍ رَاسِيَاتٍ اعْمَلُوا آلَ دَاوُودَ شُكْرًا وَقَلِيلٌ مِنْ عِبَادِيَ الشَّكُورُ، (سورة سباء۱۲\۱۳) حسن بصری ویلی دی چی: سلیمان ؑ به دماپښین په وخت کی ددمشق څخه اصطخر علاقی ته تلی اوپه هغه ځای کی به یې ډوډی وخوړل نو دماښام په وخت به ددغه ځای څخه کابل ته روان سو نودکابل اواصطخر په مینځ کی دمیاشتی مزل دی، اوویل سوی دی چی اصطخر دسلیمان ؑ دلورنوم وو چی دپیریانو دقبیلی څخه وه. اوداقول دالله ﷻ : وَمِنَ الْجِنِّ مَنْ يَعْمَلُ بَيْنَ يَدَيْهِ بِإِذْنِ رَبِّهِ وَمَنْ يَزِغْ مِنْهُمْ عَنْ أَمْرِنَا نُذِقْهُ مِنْ عَذَابِ السَّعِيرِ، یعنی الله ﷻ ده ته پیریان هم مسخر کړی وه چی دده خدمت به یې کوی په مختلفو طریقو سره اوپه دی پیریانو کی به یوهم دده خلاف کارنه سو کولی اوچابه چی دده خلاف وکی نوهغه ته به یې سخت عذاب ورکوی، اودوی به ځایونه دناستی اودمجلسونوځایونه به یې جوړول اونورتصویران به یې جوړول کم چی په دیوالونو باندی لګیږی، اودا تصویرونه ددوی په شریعت کی جائزوه اوداوبو فواری اوداسی نور خدمتونه به یې دپیریانو څخه اخستل. نوددوی دهریو څخه به یې جلاجلا خدمتونه اخستل اوچابه چی په کی نافرمانی وکړه نوهغه ته به یې عذاب اوسزا ورکوله اوهرڅه چی جنات دی دهغه په باره کی درسول الله ﷺ څخه هم یوحدیث نقل دی چی دهغه روایت نقل مسلم اونسایې کړی دی دحدیث دشعبه څخه، مسلم وایې په نقل کولو سره دمحمد بن سلمه څخه دی نقل کوی دعبدالله بن وهب څخه دی نقل کوی دمعاویه بن صالح څخه دی نقل کوی دربیعه بن یزید څخه دی نقل کوی دابی ادریس الخولانی څخه دی نقل کوی دابی الدراء څخه دی وایې چی ولاړیدی رسول الله ﷺ چی لمونځ یې کوی نوموږ واوریده چی فرمایل

(c) ketabton.com: The Digital Library



یې: اعوذ بالله منك زه پناهی غوارم په الله ﷻ باندی ستا څخه) دایې دری واره وویل، او لاسونه یې داسی خلاص کړی وه لکه چی دیوشی څخه چی ځوك خوارك کوی، کله چی دلمانځه څخه فارغه سو نوموږ ورڅخه پوښتنه وکړه چی: ای دالله ﷻ رسوله ﷺ موږ واوریدی ستاسی څخه داسی شی چی تاسی ووایه چی هغه موږ مخکی ستاسی څخه نه وو اوریدلی، اوموږ ولیدل چی تاسی لاسونه وغوړول، نونبی ﷺ وفرمایل: یقیناً دښمن دالله ﷻ ابلیس دځان سره داور یوه سکروټه راوړی وه چی هغه یې زماپه مخکی دغورځولو دپاره راوړی وه، نو ما وویل: چی زه پناه غوارم په الله ﷻ باندی ستا څخه دری واره، اوبیا می وویل: زه لعنت وایم په تاباندی لعنت دالله ﷻ چی پوره لعنت دی، اوبیاما وغوښتل چی دی راګیرکم، خوکه چیری زما ورور سلیمان ﷺ دعانه وای کړی نونن ورځ به دا دمدینی دماشومانو دپاره دلوبو شی جوړوی. (۱)

دارکم ددی څخه وروسته نور روایتونه هم په مختلفو طریقو سره بیان سوی دی چی په هغه کی هم داذکر دی چی نبی ﷺ ته ابلیس په لمانځه کی راغلی وو نونبی ﷺ یې دنیولو په باره کی سوچ کوی نوپه اخره کی نبی ﷺ فرمایلی دی که دسلیمان ﷺ دعا نه وای نومابه نیولی وای اودمدینی ماشومانوبه بازی په کولی خوپه دی ځای کی سلیمان ﷺ دعاکړی وه چی ده ته دی الله ﷻ داسی بادشاهی ورکی چی دده څخه وروسته چاته ورنه کول سی نوپه پیریانو اوپه شیطانانو باندی دسلیمان ﷺ تسلط وو چی دسلیمان ﷺ څخه به یې ځان نه سوپټولی اوکه څه به یې وکړه نوسلیمان ﷺ به ورلره سخته سزا ورکوله نو دشیطانانو اودپیریانورانیول اودهغو بندی کول اوهغه ته سزاورکول داخاص ووپه سلیمان ﷺ پوری نوددی دوجی نبی ﷺ فرمایلی وه چی: که زما دوررور سلیمان ﷺ دعانه وای نومابه دارانیولی وای اونن ورځ به دی دمدینی دماشومانو دبازیو شی وای.

دارکم په تعداد دبیبیانو دسلیمان ﷺ کی هم علماوو اقوال ذکرکړی دی نوبعضو ویلی دی چی دسلیمان ﷺ (۱۰۰۰) بیبیانی وی چی په مهرونو سره یې ځان ته واده کړی وی او (۳۰۰) سوه مینځی یې وی، اوویل سوی ددی برعکس هم په داسی طریقه چی (۳۰۰) بی بیبیانی یې وی چی په مهرونو سره یې واده کړی وو او (۱۰۰۰) مینځی یې وی، اوده دنورو ښځو طاقت هم درلودی، دده دطاقت په باره کی یوحدیث ذکرسوی دی چی بخاری یې ذکر کوی په نقل کولو سره دخالد بن مخلد څخه دی نقل کوی دمغیره بن عبدالرحمٰن څخه دی نقل کوی دابی الزناد څخه دی نقل کوی دالاعرج څخه دی نقل کوی دابی هریره

(۱). مسلم: کتاب المساجد ومواضع الصلاة، باب جواز لعن الشیطان اثناء الصلاة (۲\ ۳۰) النسایي: کتاب السهو، باب لعن ابلیس والتعوذ بالله منه فی الصلاة (۳\ ۱۲۱۴).

(c) ketabton.com: The Digital Library



رضی الله عنه څخه دی دنبی علیه السلام څخه چی فرمایلی دی یوه ورځ سلیمان علیه السلام وفرمایل چی زه به نن شپه په اویاښځو باندی طواف کوم نوهره یوه ښځه به حمل اخلی اویومجاهد اوشهسوار به پیداکوی چی دالله جل جلاله په لاری کی به جهاد کوی. نوخپل یوملګری ورته وویل چی انشاء الله جل جلاله، نوده انشاء الله ونه ویل نویو ماشوم هم پیدانه سو مګر یوماشوم پیداسو چی دهغه هم بعضی حصی کمی وی اوپوره نه وو. نونبی علیه السلام وفرمایل چی که ده انشاء الله ویلی وای نوپیدا سوی به وای اوجهاد به یې کړی وای دالله جل جلاله په لاره کی.

دارکم شعیب بن الزناد ویلی دی چی (۹۰) بیبیانی یې وی اودا قول اصح دی اوښه دی، اوددی څخه وروسته بل روایت کی هم دارکم ذکرسوی دی خوپه دواړو روایتونو کی فرق دادی چی په دی روایت کی (۷۰) ښځی ذکردی اوپه دی بل روایت کی (۱۰۰) ښځی ذکردی اوددی روایت په آخره کی هم نبی علیه السلام فرمایلی دی چی: که ده انشاء الله وویلی وای نوالله جل جلاله به ورلره سل ځامن ورکړی وای چی دالله جل جلاله په لاره کی به یې جهاد کوی خوده انشاء الله ونه ویله نوالله جل جلاله ورلره ورنه کړه دارکم په اختلاف دروایتونو سره ډیر روایتونه ذکردی چی دټولو څخه هم دایو مقصد جوړیږی اودا دلالت کوی پردی خبری باندی چی سلیمان علیه السلام ددومره ښځو طاقت درلودی، اوددی ذکرسوی ایتونو په اخرکی الله جل جلاله داذکر کړی دی چی موږ سلیمان علیه السلام ته ددنیا نعمتونه هم ورکړی دی اوسره ددی موږ ورلره په آخرت کی هم کور اوثواب برابرکړی دی په دی قول سره.

## بیان دوفات دسلیمان علیه السلام او دده موده دباچهی

الله جل جلاله فرمایلی دی: فَلَمَّا قَضَيْنَا عَلَيْهِ الْمَوْتَ مَا دَلَّهُمْ عَلَى مَوْتِهِ إِلَّا دَابَّةُ الْأَرْضِ تَأْكُلُ مِنسَأَتَهُ فَلَمَّا خَرَّ تَبَيَّنَتِ الْجِنُّ أَنْ لَوْ كَانُوا يَعْلَمُونَ الْغَيْبَ مَا لَبِثُوا فِي الْعَذَابِ الْمُهِينِ. (سورة سباء \ ۱۴)

ابن جریر اوابن ابی حاتم یوروایت نقل کوی دابراهیم بن طهمان څخه دی نقل کوی دعطاء بن السائب څخه دی نقل کوی دسعید بن جبیر څخه دی دابن عباس څخه چی رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلی دی: وو سلیمان علیه السلام چی کله به یې لمونځ کوی نودده مخ ته به یوبوټی راټوکیدی نوده به ورڅخه دنوم په باره کی پوښتنه کوله چی ستاڅه نوم دی نوده به ورته خپل نوم ذکر کی. نوهمدارکم ده یوه ورځ لمونځ کوی چی مخ ته یې یوبوټی راوټوکیدی نوده پوښتنه ځینی وکړه چی ستاڅه نوم دی نوده ورته وویل چی: خروب (یعنی خرابونکی) نوبیایې ورڅخه پوښتنه وکړه چی ته دڅه دپاره یې نوده ورته وویل چی زه ددی کور دورانولو او خرابولو دپاره یم، نوسلیمان علیه السلام ته دخپل مرګ په باره کی معلومه سوه چی دده نیټه پوره ده نوویې فرمایل: ای الله جل جلاله زما مرګ ددې پیریانو څخه پټ کړی یعنی چی دوی ته زما دمرګ په باره کی څه معلومات ونسی اوخلګوته ددې خبری علم وسی چی پیریان په غیبو

(c) ketabton.com: The Digital Library



باندی نه پوهیږی (اوبل مقصدپه کی داوو چی په هغو ورځو کی سلیمان ؑ په دوی باندی دچوکیدار په شکل ولاړ وو اودوی په مسجد الاقصیٰ کی لګیاوه کار یې کوی) نو سلیمان ؑ په لکړه باندی تکیه وکړه اووفات سو نوپیریانو ته ترهغه وخته پوری پته ونه لګیده ترڅو چی دده لکړه چینجیانو وخوړل اودی راغوځار سو نوپیریانو ته پته ولګیده چی دی وفات سوی دی.

دارکم نور اقوال هم په مختلفو طریقو سره ذکردی چی دټولو خلاصه هم داوه کم چی موږ ذکر کړه چی دده مخ ته بوټی راتله بعضی وایې چی داورته په بیت المقدس کی هره ورځ یویو بوټی راوتی اودهریوه بوټی څخه به یې داپوښتنه کوله چی ته څه ته پیدا سوی یې او هریو بوټی به ورته خپل مقصد دپیدائش بیانوی تردی چی یوه ورځ یوبوټی راووتی نوده پوښتنه ځینی وکړه چی ته ولی پیدا سوی یې نوده ورته وویل چی ددی جماعت ورانولو دپاره اوتا لره دوفات کولو دپاره، نوباقی روایت دمخکی په ډول دی چی ده دالله ﷻ څخه غوښتنه وکړه چی پیریان دده په مرګ باندی خبرنه سی. تردی چی لکړه چنجیانو وروخوړل نوبیا پریانو ته معلومه سوه چی سلیمان ؑ وفات سوی دی نووتښتیده. نوددی څخه دا معلومیږی چی پیریان په غیبو باندی نه پوهیږی که په غیبو باندی پوهیدی نودا دومره سختی به یې په ځان باندی نه برداشت کولی اوسمدستی به تښتیدلی وای دسلیمان ؑ دوفات سره اونور دسلیمان ؑ دوفات په باره کی اسرائیلی قصی نقل دی چی په هغه کی خرافات ډیردی چی دهغه ذکرکول هسی بی فائدی دی نوپه دی باندی اکتفاء کوو.

اسحاق بن بشر وایې په نقل کولو سره دمحمد بن اسحاق څخه چی دی نقل کوی دالزهری څخه اوداسی نورو څخه دوی وایې چی دسلیمان ؑ عمر (**۵۲**) کاله وو اوبادشاهی یې (**۴۰**) کاله وه، اوداابن عباس څخه روایت نقل دی چی هغه وایې چی (۲۰)کاله یې بادشاهی کړیده والله اعلم، نوابن جریر ویلی دی چی مجموعه عمر دسلیمان ؑ څه باندی پنځوس کاله جوړیږی، اوپه څلورم کال دخپل بادشاهی کی یې دبیت المقدس په تعمیر باندی شروع کړی وه، بیادده څخه وروسته دده ځوی رحبعام ددوولسو کالو دپاره بادشاهی واخسته په قول دابن جریر سره. اوویلی یې دی چی ددی څخه وروسته دبنی اسرائیلو ډلی جلا جلا سوی اوخوار سوه.

**بیان دیوې ډلی دانبیاوو علیهم السلام چی وختونه اوزمانه یې صحیح معلومه نه ده**

ددوی څخه شعیا بن امصیا دی. محمد بن اسحاق وایې چی دی مخکی ترزکریا ؑ وو او داهغه پیغمبر وو چی ده زیری ورکړی دی دمحمد ﷺ اودعیسیٰ ؑ خلکو ته چی وروسته به داسی دوه پیغمبران راځی اودی په زمانه دبادشاهی دحزیقاکی وه په بیت المقدس کی اودا بادشاه ددی نبی فرمانبردار اوتابعدارو وو چی دده هره خبره به یې اوریدله اودهری خبری

(c) ketabton.com: The Digital Library



اطاعت به یې کوی کله به چې یې ده ته نصیحت وکی دڅه په باره کې چې داکار وکه نوهغه به یې کوی اودڅه څخه به یې چې منع کې نوهغه به یې نه کوی، اودارکم نوی کارونه ډیر سوی وه په بنی اسرائیلوکی چې دځانونوڅخه یې نوی طریقې رائج کړی وی، نوددی بادشاه پرپښه باندی څه دانه راوختې، اوبادشاه دبابل په دوی باندی دحملې اراده وکړه چې نوم یې سنحاریب وو. ابن اسحاق وایې چې دده سره (۲۰۰۰۰) کسان وه چې دجنګ دپاره یې را روان کړی وه نوخلګ وبیریده په سخت بیریدو سره. نودی بادشاه دا نبی شیعا ؑ ته وویل چې الله ﷻ ددی سنحاریب په باره کې څه وحی کوی نودغه نبی وویل چې هیڅ وحی راته دده په باره کې نه ده سوی، بیاوروسته وحی نازلې سوی چې په هغه کې امروو حزیقا ته دوصیت اودبل سړی په مقررولو باندی په خپل ځای کې چې ځوك هم وی ولې چې دده اجل نژدی وو. کله چې دی بادشاه ته داخبره ورسیده نوده قبلې ته مخ کې اوپه لمانځه ودریدی اولمونځ یې وکی اوتسبیحات یې بیان کړه دالله ﷻ اودعا یې وکړه اووی ژړل الله ﷻ ته په سخته ژړاسره اودعا یې وغوښته دالله ﷻ.

نوالله ﷻ ورلره دشیعا ؑ په واسطې سره زیری ورکی چې دده دعا اوژړا دالله ﷻ په دربار کې قبوله سوه اوپه ده باندی الله ﷻ ورحمیدی اوده ته یې په عمر کې (۱۵) کاله اضافه وکړه اوالله ﷻ دی محفوظ کې دخپل دښمن سنحاریب څخه، کله چې ورته شیعا ؑ دا خبره وکړه نوهغه غم اوخفګان ځینې ولاړی اوالله ﷻ ته په سجده باندی پریوتی اوپه سجده کې یې دادعا وویل: ای الله ته هغه ذات یې چې ته ورکوی بادشاهی چاته وغواړی اواخلې بادشاهی دچاڅخه چې ستاخوښه وی، اوعزت ورکوی چاته چې ستاخوښه وی اوذلیله کوی ځوك چې وغواړی، ته عالم یې په غیبو باندی اوپه شاهدی باندی، پس ته اولنی ذات یې اوته آخرنی یې اوته ښکاره یې اوته پټ هم یې اوته رحم کوی په خلګو باندی اوته قبلوی دعا دحاجتمندو.کله چې ده سر لوړکی دسجدی څخه نوالله ﷻ وحی وکړی شیعا ؑ ته چې ده ته امروکی چې دانځیرو اوبه راواخله اوپه خپلې دانی باندی یې وموږه نوده ته به شفا نصیب سی نوده هغه کاروکی نوالله ﷻ شفا ورکړه.

اوولیږی الله ﷻ په قوم دسنحاریب باندی مرګ نوکله چې دوی صباکې نوټول په کورونو کې مړه پراته وه ماسوا دسنحاریب څخه اودده دپنځو ملګرو څخه نودبنی اسرائیلو بادشاه په ده پسې کسان ولیږل اودی یې راوستې نودی یې په زنځیرونو باندی وتړی اوتر اویا ورځې پوری یې په کلوکی وګرځوی دپاره دذلیله کولو دده اودپاره دسپکاوی دده بیاداویا ورځو څخه وروسته سنحاریب هم مړسو. ابن اسحاق وایې چې: بیامړسو حزیقاکم چې دبنی اسرائیلو بادشاه وو نوپه دوی کې ګناهونه ډیرسوه اودشر کارونه په دوی کې ډیرسوه نوالله ﷻ وحی وکړی شیعا ؑ ته نوهغه په دوی کې ولاړیدی اودوی ته یې دعوت ورکوی او

(c) ketabton.com: The Digital Library



دوی ته یې دالله ﷻ دخوا څخه ددوی دمقام بیان وکی اودوی یې داخرت دعذاب څخه وبیرول. کله چې دی دخپل بیان څخه فارغه سو نودوی اراده وکړه دده دقتل، نوداشیعا علیه السلام ددوی څخه وتښتیدی تردی چې په یوی درختی کی دننه سو نو شیطان دده څخه کپړی دباندی پاته کړی نوکله چې دوی ورپسی راورسیده نودځان سره یې اره راوړل اودا درخته یې په منځ دوه ځایه اره کړه اودانبی یې هم په کی دوه ځایه اره کی.

اوبل ددوی څخه ارمیابن حلقیا علیه السلام دی چې دی دقبیلی دلاوی بن یعقوب علیه السلام څخه دی او ویل سوی دی چې داخضر علیه السلام دی داقول دضحاك دی اودابن عباس دی خوداقول کمزوری قول دی اوصحیح نه دی. ابن عساکر وایې چې: په بعضو اثارو کی داسی ذکرسوی دی چې دی په وینه دیحیٰی بن زکریا باندی ولاړوو په دمشق کی، اووی فرمایل دی وینی ته چې ای وینی تاخلګ په فتنی کی اچولی دی پس ته ودریږه، نوداوینه ودریده تردی چې بالکل غیبه سوه.

دارکم ابوبکر بن ابی الدنیا وایې په نقل کولو سره دعلی بن مریم څخه دی نقل کوی داحمد بن حباب څخه دی نقل کوی دعبدالله بن عبدالرحمٰن څخه دی وایې چې: فرمایلی دی ارمیا علیه السلام: ای زماربه په بندګانو کی کم بنده تاته ډیر محبوب دی؟ نوالله ﷻ وفرمایل هغه سړی چې هغه زماذکرمشغول کړی وی دخلګو دذکرڅخه هغه کسان چې هغوی ته ددنیا سامانونه ورسیږی نوهغه ته لږ ښکاره سی، اوکله چې ځینی لیری سی نوارمانونه یې نه کوی. داهغه کسان دی چې دوی زما محبت حاصل کړی دی اوزه به دوی ته ورکړه کوم څومره چې دوی طلب کوی زما څخه.

## ورانیدل دبیت المقدس

الله ﷻ فرمایلی دی: وَآتَيْنَا مُوسَى الْكِتَابَ وَجَعَلْنَاهُ هُدًى لِبَنِي إِسْرَائِيلَ أَلَّا تَتَّخِذُوا مِنْ دُونِي وَكِيلًا (٢) ذُرِّيَّةَ مَنْ حَمَلْنَا مَعَ نُوحٍ إِنَّهُ كَانَ عَبْدًا شَكُورًا (٣) وَقَضَيْنَا إِلَى بَنِي إِسْرَائِيلَ فِي الْكِتَابِ لَتُفْسِدُنَّ فِي الْأَرْضِ مَرَّتَيْنِ وَلَتَعْلُنَّ عُلُوًّا كَبِيرًا (٤) فَإِذَا جَاءَ وَعْدُ أُولَاهُمَا بَعَثْنَا عَلَيْكُمْ عِبَادًا لَنَا أُولِي بَأْسٍ شَدِيدٍ فَجَاسُوا خِلَالَ الدِّيَارِ وَكَانَ وَعْدًا مَفْعُولًا (٥) ثُمَّ رَدَدْنَا لَكُمُ الْكَرَّةَ عَلَيْهِمْ وَأَمْدَدْنَاكُمْ بِأَمْوَالٍ وَبَنِينَ وَجَعَلْنَاكُمْ أَكْثَرَ نَفِيرًا (٦) إِنْ أَحْسَنْتُمْ أَحْسَنْتُمْ لِأَنْفُسِكُمْ وَإِنْ أَسَأْتُمْ فَلَهَا فَإِذَا جَاءَ وَعْدُ الْآخِرَةِ لِيَسُوءُوا وُجُوهَكُمْ وَلِيَدْخُلُوا الْمَسْجِدَ كَمَا دَخَلُوهُ أَوَّلَ مَرَّةٍ وَلِيُتَبِّرُوا مَا عَلَوْا تَتْبِيرًا (٧) عَسَى رَبُّكُمْ أَنْ يَرْحَمَكُمْ وَإِنْ عُدْتُمْ عُدْنَا وَجَعَلْنَا جَهَنَّمَ لِلْكَافِرِينَ حَصِيرًا، (سورة الاسراء ٢\٨).

دارکم وهب بن منبه وایې: وحی وکړی الله ﷻ یو پیغمبر ته دپیغمبرانو څخه چې ارمیایې نوم وو په داسی وخت کی کله چې په بنی اسرائیلو کی ګناهونه اونافرمانیانی زیاتی سوی:

(c) ketabton.com: The Digital Library



چې ته په خپل قوم کې ودرېږه اوایا خپل قوم ته چې ددوی زړونه داسې دي چې په هيڅ باندې نه پوهيږي اوعقلونه يې هم داسې دي چې پوهه په کې نسته اوداسې سترګې يې دي چې حق نه پيژنې، نو ددوی څخه داپوښتنه وکړه چې زما دطاعت څخه په ليرې والی کې ددوی څه رکم حال وو، اوآياپه دوی کې څوك کامياب سوی دی زما دطاعت په پرېښوولو کې اوزماپه نافرمانې کولو کې؟ اوآيا په دوی کې چا څه ناکامي اوبدبختي زماپه اطاعت کې وليده؟ حيوانانوته چې کله خپل وطن يادسي نوهغه ځای ته بېول کيږي مګر داقوم چې ددوی پلرونوته عزت ورکول سوی دی دوی هغه عزت اواکرام پرېښوه دی ته اوپه بل خوا باندې روان سوه، هرڅه چې ددوی عالمان وه نو هغوی زما دحق څخه خلاف وکړه اوپه بله روان سوه اوهرڅه چې ددوی روژه دار وه هغوی زما څخه ماسوا دبل چاعبادت وکی، اوهر څه چې ددوی قاريان وه نوهغوی فائده وانه خسته په هغه خپل ويلوسره، اوهرڅه چې ددوی بادشاهان دي نوهغوی په ماپسې يې هم دروغ وتړل اوزما په رسولانو پسې يې هم دروغ وتړل، دوی جمع کې په خپلو زړونوکې مکر اودوکه اوفريب، اوخپلې ژبې يې په دروغو باندې عادت کړې دی، اوزمادی قسم وی په خپل عزت اوپه خپل جلال باندې چې زه به په دوی باندې داسې غمونه راولم چې په پيړيو پيړيو پورې به دځانه څخه نه خبريږي چې زه داڅه کوم اوپه دې کمې لارې باندې روان يم، او ددوی دژړا دوجې به په دوی باندې رحم نه کوم، اوپه دوی کې به زه داسې بادشاهان وټاکم چې ظالمان به وی اولښکر به يې دومره زيات وی لکه دوريځو په شان چې داټوله مزکه به يې پټه کړې وی چې دوی به خرابول کوی اودکلو څخه به دوحشت ځای جوړوی (يعنی دکلو خلګ به ټول مړه کړې نودا کلې به تش پاته سی نووحشت اوبيره به په کې وی نوڅوك به هغه علاقې ته نه سی ورتلی) نو پس هلاکت دی هغه اوسيدونکوته چې زه به هغوی څه رکم ذليلان کوم په قتلونو باندې (يعنی په کمې طريقې سره به يې زه ختموم) اوپه دوی باندې به ظالمان مسلط کړم چې په دوی باندې به ظلمونه کوی اوددوی باغونه اوکښتونه چې اوس په کې دآسو اوازونه کيږي نوبيابه په کې دشرمښانو اوازونه وی،اوددوی ښکلې ښکلې بنګلې چې دوی جوړې کړيدی نودابه وګرځوم کور دحيوانانوچې حيوانان به په کې اوسيږي، اودشمعې رڼا به وروسته په داسې تيارو بدله کوم چې دبيرې تياره به وی، اودعزت څخه وروسته به دوی ذليله کړم، او زه به ددوی رنګونه بدل کم په مختلفو عذابونو سره اوبيابه امروکم آسمان ته چې داوسپنې سه، که زه چيرې باران وکم نودوی ته به څه فائده نه رسيږي اونه به څه په راشنه کيږي اوکه څه په راوټوکوم نوهغه هم دحيوانانو دپاره بيابه ددوی څخه زه بارانونه بندکړم په وخت دکروندې کې اوبيابه يې راواروم په وخت دلوکې، نوکه دوی په دغه وخت کې څه وکرله نو يوآفت به پرراولم اوکه ددې آفت څخه محفوظ سوه نوبرکت به ورڅخه واخلم يعنی سی به خو

(c) ketabton.com: The Digital Library



برکت به یې نه وي، اوکه دوی زما څخه سوال وکي اودعا وغواړي نوددوی دعابه نه قبلوم، اوکه دوی زما څخه څه وغواړي نوزه به یې نه ورکوم، اوکه دوی ماته ژړاګاني وکړي نوزه نه پر رحمیږم، اوکه دوی ماته عاجزي وکړي نوزه به مخ ځیني واړوم. راوي ددي ابن عساکر دی. دارکم اسحاق بن بشر وایې چي ماته خبر راکړی دی ادریس دی نقل کوی دوهب بن منبه څخه دی وایې چي: کله چي الله ﷻ په طور دنبي ارمیا ﷺ بني اسرائیلو ته راولیږی، داسي وخت وو چي بني اسرائیلو نافرمانیاني ډیری کړي وي اوګناهونه یې ډیر کړي وه او پیغمبران یې وژل نوبخت نصر په دوی کی مشر وو اوداټول کارونه دده په امرکیدل اودوی ته دی په خپله راغلي ووکله چي ده ته معلومه سوه چي الله ﷻ بدله ځیني اخلي نووحی وکړی الله ﷻ ارمیا ﷺ ته چي: زه هلاکونکی یم بني داسرائیلو اوددوی څخه خپل انتقام اخلم نوته ودریږه په یوی ډبري دبیت المقدس باندي چي تاته به امر دالله ﷻ راځي اووحی به درته کیږي. نو ولاړسو ارمیا ﷺ اوخپلي جامي یې څیري کړي اوپه خپل سرباندي یې شګي واړولي اوپه سجده باندي پریوتی اووی فرمایل: ای رب العزته ماته داښه وه چي زه مورنه وای زیږولي په داسي حال کی چي زه آخرني نبي یم په بني اسرائیلو کی، اوبیت المقدس به خرابیږي زماپه مخکي اوهلاکت دبني اسرائیلو به زما دوجي وي، نوده ته وویل سوه چي سرلوړ کړه نوسریې لوړکی اوبیایې وژړل اووی فرمایل چي: ای زمارب‌ه په چا باندي خپل عذاب نازلوی؟ نوالله ﷻ وفرمایل چي: داور عبادت کونکی زما دعذاب څخه بیریږي اوزما دثواب څخه امیدهم نه لري، بیاده ته الله ﷻ وفرمایل چي ولاړسه ارمیاء او غوږ کښیږده زما وحی ته چي زه خبر درکوم تاته ستاپه باره کی اوستا دقوم په باره کی: ما ته خوښ کړي وی مخکی دپیدائش ستا څخه، اوماستا پاکی کړیده مخکی ددی څخه چي ستا شکل می ستا دمور په رحم کی جوړکړي وو، اومخکی ددی څخه چي ته ماپیدا کولی نوستا پاکی ماکړي وه، اومخکی ددی څخه چي تاتبلیغ کړي وی ماتاته خبر درکړي دی، او دغټ کار دپاره می ته ټاکلی یې او خوښ کړي می یې. نوده ته به دالله ﷻ دطرفه وحی راتلی تردي چي په دی بني اسرائیلوکی ګناهونه اونوی کارونه ډیرسوه چي ددوی دشریعت خلاف وه او ددوی څخه هغه نعمت هیرسو چي الله ﷻ دوی دسنحاریب دلښکرڅخه اودهغه دظلم څخه خلاص کړي وه، نوالله ﷻ وحی وکړی ارمیا ﷺ ته چي ودریږه په دوی کی او دوی ته زما دنعمتونو بیان وکړه اودوی ته ددوی نافرمانیانی اوګناهونه وروښیه کم چي دوی نوی نوی شروع کړي دی.

نو ارمیا ﷺ وفرمایل چي: ای زمارب‌ه زه ضعیف یم که چیری ته ماقوی نه کړي، اوزه عاجزه یم که چیری ته ماته بلاغت رانه کړي، اوزه خطاکیږم که ته زما لاره سیده نه کړي اوزه ښویدونکی یم که چیری ته زما مدد ونه کړي، اوزه ذلیله یم که ته ماته عزت رانه کړي، نو الله

(c) ketabton.com: The Digital Library



ﷻ ورته وفرمایل: آیاتاته دامعلومه نه ده چې ټول کارونه زماپه مرضی سره کیږی، اودا مخلوق اوداکارونه ټول زمادی اودازړونه ټول زماپه قبضه کی دی نوزه ورڅخه قبولوم څه رکم چې زمامرضی وی، نوزه رب یم داسی رب چې زما په شان بل څوك نسته، دریدلی دی مزکه اوآسمانونه اوڅه چې په دی کی دی زماپه کلمی سره (چې دګڼ لفظ دی) او دقدرت رجوع ماته کیږی، اوڅه چې زماسره دی دهغه علم زما څخه ماسوا دبل چاسره نسته، اوزه هغه ذات یم چې مادسمندرونو سره خبری کړی دی اوهغه می پوه کړی دی اوامرمی ورته کړیدی نوزما دامرمطابق ګرځی، اودی سمندرونو ته می حدود ګرځولی دی چې دهغه څخه تجاوز نه سی کولی، اوزه ستاسره یم دوی تاته څه ضرر نه سی دررسولی، اوماته لیږلی یې یوغېږ قوم ته چې ته هغوی ته زما داطاعت خوا ته دعوت ورکی نوکه په دوی کی ستا تابعداری چاوکړه نوهغه ته به اجروی داسی اوستابه په کی هم اجروی اودهغه داجر څخه به هیڅ هم نه کمیږی، ته ولاړسه خپل قوم ته اوپه هغوی کی ودریږه وواېه هغوی ته چې: الله ﷻ تاسی ته یاداښت درکی ستاسی په پلرونو باندی چې ستاسی پلرونه دالله ﷻ په اطاعت کی څه رکم ډوب وه اوتاسی ای دانبیاوو ځامنو تاسی دالله ﷻ په نافرمانی کی څه رکم ډوب یاست، اوآیاپه تاسی کی چازماپه طاعت کی څه بدبختی لیدلی ده؟ یامو زماپه نافرمانی کی کامیابی لیدلی ده؟ حیوانانو ته چې کله خپل وطن یادسی نوزه یې بوځم هغه ځای ته خودوی په هلاکت کی پراته دی اوزما خوا ته رجوع نه کوی اودخپلو پلرونو مقام یې هیرکړی دی چې ددوی پلرونو ته ماکم عزت ورکړی دی، اودوی طلب دکرامت اوعزت په بل ځای کی کوی.

هرڅه چې علماء ددوی دی نوهغوی زما دبندګانو سره بل کار شروع کی چې دوی ته یې نور څه ښوول کم چې زمادکتاب څخه خلاف وو، اوددوی څخه هیرسو زمادکر اونصیحت او وعده کم چې دوی زماسره کړی وه، نودوی زماپه نافرمانی کی اخته دی اوهرڅه چې ددوی بادشاهان ددی نوهغوی حق ته دیکه ورکړه اودنعمت ناشکری یې وکړه، نودوی زماپه کتاب کی تحریف وکی، اوزماپه رسولانو پسی یې دروغ وتړل، نوزمادی قسم وی په خپل عزت اوجلال باندی اوپه عظمت دشان باندی چې زما څخه ماسوا څوك دعبادت لائق نه دی اونه څوك داجرات کولی سی چې زماسره شریك مقرر کی. آیا څوك سته چې زماسره شریك وی زما په بادشاهی کی؟ اوآیا پکاردی یوانسان ته چې زما داطاعت په ځای زما نافرمانی وکی؟ اوآیا داسی کیدی سی چې زه یوسړی پیداکم اوبیاهغه دځان سره په بادشاهی کی شامل کړم، اویازه یوبنده ځان ته پیداکم اوبیاهغه ته امروکم چې دبل چا عبادت وکه اوحال دادی چې زما څخه ماسوا دعبادت لائق نسته؟ نودوی دالله ﷻ داسی نافرمانیانی وکړی اودالله ﷻ په لاره کی عبادت اوجهاد اوهرڅه یې پریښوول، اودوی څخه

(c) ketabton.com: The Digital Library



داخبره هیره سویده چی ددوی پلرونو څه رکم صبرکړی دی اوڅه رکم مجاهده یې کړیده، او څه رکم یې دالله ﷻ په لاره کی خپل ځانونه اوخپلی وینی اومالونه خرڅ کړی دی، نو دهغوی دوجی موتاسی ته ډیر عمرونه درکړه اوستاسی می ډیر عذرونه قبول کړه په دی وجه چی شاید دتوفیق اوهدایت خوا ته روان سی اوداخپل کفر پریږدی. اوهروخت به په دوی باندی بارانونه کول کیږی اودمزکی څخه به ورته بوټی شنه کیدل اوهرقسم نعمتونه به دوی ته ورکول کیده خودی هرڅه دوی لره زیات نه کی مګر کفر اوطغیان اونافرمانی نوتر څوپوری به داسی کار نه کوی؟ آیاپه ماپوری مسخری کوی؟ یاماته دوکه راکوی؟ زمادی په خپل عزت اوجلال باندی قسم وی چی زه به په دوی کی داسی فتنی وغوړوم چی دوی به په کی ګمراه کم چی ددوی دحکیمانو څخه به لاری په کی ورکی سی.
بیابه په دوی باندی زه داسی ظالمان بادشاهان اوامیران مقررکم اودهغه ظالم دزړه څخه به رحمت اوهمدردی لیری کم، اودده په زړه کی به زه داسی طمع کښیږدم چی دی به غواړی چی ټول خلګ دده تابعداری وکی اودده په زړه کی به تور والی وی لکه دتوری شپی په شان، اودوی به په مزکه کی فساد وغوړوی، اومکرونه اوتدبیرونه به جوړوی په تدبیرونو جوړولو سره، ددی ظالمانو بادشاهانو به زه زړه كلك کم نوددوی په زړونو کی به درحم ماده نه راځی اوپه چاباندی به نه رحمیږی اوددوی به نظر کار نه کوی دحق په باره کی اونه به یې غوړونه کارکوی، اودوی به چیغی وهی په بازارونوکی په لوړو اوازونوسره لکه په ډول داواز دزمری، چی ددوی دخبرو دوجی به دخلګو جسمونه وریږدیږی اوتږی به سی ددی دخبرو اوریدو سره دخلګو صبرونه (یعنی دابادشاهان به په بازارونو کی خلګو ته خطاب کوی چی خبری به یې داسی وی چی خلګ یې واوری نوټول به په دوکه سی ولی چی ډیری ژوری خبری به کوی خودوی به نه پوهیږی چی ددوی دژبی څخه کم الفاظ وزی، اوددوی به مخونه ښکاره وی اوپه هغه باندی به بدی وی خودوی ته به نه ښکاری، نوزمادی قسم وی په خپل عزت باندی چی زه به ددوی کورونه دخپل مقدس کتاب څخه خالی کم او ددوی مجلسونه به ددرس اوبیان داحادیثو څخه خالی کم چی دوی به په کی بیاتش غیبتونه او مسخری کوی، اوزه به ددوی په جماعتونو کی وحشت وغوړوم چی خلګ به صرف ددې کتلو ته راځی ولی چی دوی به دومره ښائسته جوړکړی وی ددی دپاره چی خلګ راسی اودا وګوری نودعبادت پرځای به دسیل ګاه ځای وی، اودوی به په دغه جماعت کی عبادتونه کوی اوتهجد به کوی ددې دپاره چی دنیا وګټی نودوی به دین هم ددنیا دپاره کوی. اودوی به علم کوی خودعمل دپاره نه، زه به ددوی په ملکونوکی دعزت په ځای ذلت وغوړوم اودامن په ځای به بیره وغوړوم، اودمالداری په ځای به فقیری وغوړوم، اودنعمت په ځای به پردوی کی وږی والی وغوړوم، اودخوشحالی پرځای به دوی ته مصیبتونه اوغمونه

(c) ketabton.com: The Digital Library



اوپریشانیانی وغوړوم، دارکم الله ﷻ اوږد وعظ اونصیحت اودخپل نعمتونو یادابنت دارمیا ؑ په ذریعه دی بنی اسرائیلو ته کړی دی نوپه آخره کی کعب وایې چی ارمیا ؑ وفرمایل: ای زماربه ستاپه ذات می دی قسم وی چی زه ستا مخکی اوس ستا څخه تعلیم کوم اودازما دپاره پکاردی چی زه ستا څخه تعلیم وکم اوحال دادی چی زه کمزوری یم اوما ته داپکار نه دی چی زه ستا څخه خبری وکم خوای ربه زما تازه په خپل رحمت سره نن ورځ ته وروسته کړی یم اوهیڅ څوك حقداره نه دی زما څخه زیات بیره کوونکی دعذاب څخه، ای رب العزته داعذاب زما څخه لیری کړی ولی چی ماډیر اوږد وخت په دی کور دخطاکارانو کی تیرکړی دی اودوی ستا نافرمانیانی کولی بغیر زما دمشوری څخه اوبغیر زما دتغیر څخه (یعنی دی خلکو ستا نافرمانی وکړه خو مادالاره نه ده ورښوولی اونه ورلره ماپه دی دین کی تبدیلی کړیده)، که ته ماته عذاب راکوی نودابه زما دګناه وجه وی اوکه ماته مغفرت اوبخښنه کوی نودازما امیددی ستا څخه ای الله بیادی ارمیا ؑ وفرمایل: ای ربه پاکی ده تالره موږ ستاثناء وایو اوته برکت اچوونکی یې اولوړی مرتبی والا ذات یې، آیاته هلاکوی داسی کلی چی داستا دپیغمبرانو کلی دی اوستادوحی دنازلیدلو ځای دی ای ربه زماپاکی ده تالره اوموږ ستاحمد اوثناء وایو اوته برکت والا ذات یې اولوړی مرتبی والا ذات یې آیاته خرابوی هغه جماعت اوخواته یې نور جماعتونه هم دی کم چی ستادذکر دپاره جوړسوی دی اودعبادت دپاره دهغه بنیادونه ایښوول سوی دی ای ربه زما آیاته هلاکوی داسی قوم چی هغه ستا دخلیل ابراهیم ؑ اولاددی اوستادکلیم موسیٰ ؑ امت دی اوددواد ؑ قوم دی چی هغه داسی نبی دی چی تا ښه والی ورلره ورکړی دی، ای ربه زماکم یوکلی به دعذاب څخه په امن کی وی وروسته ددی دهلاکت څخه؟ اوکم بندګان به ستادلاری پیروی کوی وروسته ددی څخه چی ته هلاك کړی اولاد دابراهیم ؑ اوامت دموسیٰ ؑ اوقوم دداود ؑ آیاته مسلط کوی په دوی باندی هغه خلګ چی داور عبادت کوی؟ الله ﷻ ارمیا ؑ ته وفرمایل چی: ای ارمیا چاچی زما نافرمانی وکړه نوهغه زما دعذاب څخه نسی خلاصیدی، ماچی کم عزت دهغه قوم ته ورکړی وو هغه زما دطاعت دوجی چی دوی به زماطاعت کوی نومادوی ته عزت ورکړی وو، اوچی دوی زما نافرمانی وکړه نودوی به زه کښېته کم کور دنافرمانیانو والاوته مګر داچی دوی ته زه خپل رحمت ورښکاره کم، نودا ارمیا ؑ ورڅخه بیا دابراهیم ؑ اودموسیٰ اوددواد ؑ په واسطه دعاګانی غوښتی نوالله ﷻ به بیا ورته وفرمایل چی، که ستاقوم دیتیمانو اومسکینانو، زمادحکمونوحفاظت کولی نومابه دوی ته همیشه دغه رکم نعمتونه ورکولی اوزمادی قسم وی په خپل عزت اوجلال باندی چی زه دوی ته په منزله دیومهربان شپانه وم چی په دوی باندی به ماسختی نه راوستلی اودوی به می دقحط څخه محفوظ کولی او ددوی څخه به

(c) ketabton.com: The Digital Library



می هرقسم سختی لیری کوله تردی چی دوی نه غټ غټ پسونه جوړسوه چی یودبل سره ښکر وهی، نوهلاکت دی وی ددوی دپاره اوبیادی هلاکت وی ددوی دپاره، زه اکرام دهغه چاکوم چی زما اکرام کوی اوزه ذلیله کوم هغه سړی چی زمادین هغه ته ذلیله اوسپك ښکاری، ددوی څخه چی مخکی کم قومونه وه نو هغوی به په پټه زما نافرمانیانی کولی اودوی یې ښکاره کوی تردی چی ښکاره کوی یې په جماعتونو کی اوپه بازارونو کی او دغرونو په سرونو کی اوددرختو په سایو کی تردی چی آسمان اومزکه ددوی څخه تنگه سوه اوماته گیله کوی ددوی په باره کی اوسره ددی ټولو دوی دالله ﷻ دکتاب څخه نفعه اوفائده نه حاصلوی. ویل سوی دی چی ارمیاؑ چی کله دالله ﷻ هغه رساله خپل قوم ته پیش کړه په کم کی چی ددوی گناهونه اونافرمانیانی ذکرسوی وه نودوی دادروغ وگڼل اوبیایې نافرمانی وکړه اوتهمت په دی ارمیا ؑ باندی ولگوی چی ته دروا‌غجن یې او دوی ورته وویل چی: تادروغ وویل اوپه الله ﷻ دی ځان لوی وگڼی آیاته داگمان کوی چی الله ﷻ دمزکی څخه خپل جماعتونه لیری کوی اوخپل کتاب لوړه وی دمزکی څخه؟ نوڅوك به عبادت کوی دالله ﷻ چی په دی مزکه کی چی کتاب نه وی اوجماعت نه وی؟ تالویی ددی کلی وکړه دالله ﷻ په نزد اوته لیونی سوی یې، نوپه هغه وخت کی الله ﷻ بخت نصر په دوی باندی مسلط کی تردی چی دوی یې محاصره کړه لکه څه رکم چی الله ﷻ فرمایلی دی: فَجَاسُوْ خِلَلَ الدِّيَارِ، ویل سوی دی، کله چی ددوی دامحاصره اوږده سوه نودوی ددی بخت نصر حکم ومنی اوددوی ماتحت ازاد سو (یعنی داسی ازاد سوه چی دی بخت نصر اوددی ډلی به چی دوی ته څه ویل نودوی به انکار نه سو کولی ضرور به یې منل) اودی بخت نصر په دوی کی دجاهلیت حکم وچلوی اوظالمانو په دوی باندی ښه ظلم شروع کی، نوددوی څخه یې دریمه حصه قتل کړه اوماشومان یې ټول ورمړه کړه تردی چی صرف بوډاگان اوبوډاگانی پاته سوی بیایې دوی وطی کړه په خپلو حیوانانو باندی اوجماعتونه یې ټول وران کړه اوماشومان به یې راکښل اوزنانی به یې په بازارونو کی درولی وی تړل سوی اوتورات دوی وسوزی اودابخت نصر شام ته هم داخل سو اوهلته یې هم بنی اسرائیل قتل کړه تردی چی ختم یې کړه، کله چی بیرته رالی دابخت نصر اوددوی لښکر نوددوی سره دبنی اسرائیلو دبچو څخه (۹۰۰۰) ماشومان غلامان وه چی دایې ددوی څخه ده ځان سره راوسته اوځانونو ته یې خادمان کړه، اودشرابونو جامونه یې په بیت المقدس کی وغورزول اوخنزیران یې په کی حلال کړه نو وو تعداد دماشومانو کم چی غلامان سوی وه ددواد ؑ دنسل څخه (۷۰۰۰) ماشومان غلامان سوی وه، او (۱۱۰۰۰) ماشومان دقبیلی دیوسف بن یعقوب ؑ وه اودده دورور دقبیلی څخه چی بنیامین دی (۸۰۰۰) ماشومان وه او دارکم دهری یوډلی اوقبیلی څخه یې په زرگونانو ماشومان بوتله دځانونو سره اودوی

(c) ketabton.com: The Digital Library



بیرته راله دبابل مزکی ته. اسحاق بن بشر وایې چی کله دی بختنصر داکار وکی چی قتل قتال اوداسی نور کارونه یې ټول وکړه نوورته وویل سوه چی، په دی بنی اسرائیلو کی یو سړی وو چی دوی یې منع کول ددی کارونو څخه اودوی ته به یې ستاپه باره کی خبر وکوی چی داسی ظالم بادشاه به په تاسی باندی الله ﷻ مسلط کوی اوستاسی جماعتونه او کتابونه اوهرڅه به سوزی، خودی بنی اسرائیلو دده تکذیب وکی اودی یې قید کی اووهل اوټکول یې ورکړه اوتهمتونه یې پرولګول . نوامروکی بخت نصر په راوستلو دارمیا ؑ دجیل څخه اوورته یې وویل چی آیاته هغه سړی یې چی تابه دوی منع کول ددی کارونو څخه، نوده وفرمایل چی هو، نودی بخت نصر ورته وویل چی داتاته دکم ځای څخه معلومه سوه، نوده وفرمایل چی زه الله ﷻ دوی ته پیغمبر رالیږلی وم نودوی زما تکذیب وکی، نو دی بخت نصر ورته وویل چی، ستاتکذیب یې وکی اوته یې بندی کړی اوته یې ووهلی؟ نوده وفرمایل چی: هو، نودی بخت نصر وویل چی ډیر بددی هغه قوم چی دخپل پیغمبرانو تکذیب کوی اودالله ﷻ درسالت تکذیب کوی، بیادی بخت نصردی ارمیا ؑ ته وویل چی ته کولی سی زماسره واوسی نوزه به ستا اکرام اوعزت وکم، اوزه داخوښ ګڼم چی ته دخپل امت سره په خپل قوم کی یوځای اوسی اوزما دخوا څخه ته په امن کی یې.

نو ارمیا ؑ ورته وفرمایل چی زه ترنن ورځی پوری دالله ﷻ په امن کی یم، اوکه بنی اسرائیل دالله ﷻ داطاعت څخه نه وای وتلی نونن ورځ به ستا څخه نه بیریده اونه به ستاپه هغوی باندی څه بادشاهی وه،کله چی بخت نصر دده داخبری واوریدلی نودی یې پریښووی اودی اوسیدی په خپله مزکه کی چی (ایلیا) دی. په دی سیاق کی غرابت دی. داکم ماشومان چی قیدیان سوی وه په هغه قیدیانو کی دانیال ؑ هم شامل وو.

## بیان ددانیال ؑ

یوروایت ذکرکړی دی ابن ابی الدنیا په نقل کولو سره داحمد بن عبدالاعلی الشیبانی څخه دی نقل کوی دشعیب بن صفوان څخه دی نقل کوی دالاجلع الکندی څخه دی نقل کوی دعبدالله بن ابی الهزیل څخه دی وایې چی حاضرسو بخت نصرته دوه زمری نوده هغه دواړه په یوی کندی کی واچول، اودانیال ؑ یې هم راوستی اودغی کندی ته یې ورواچوی نو دی دواړو زمریانو دنیال ؑ ته هیڅ ونه ویل، نوبیادده زړه سو خوراك اوڅښاك ته لکه څه رکم چی دعام انسان داوړی والی په وخت کی کیږی،

نوالله ﷻ ارمیاته وحی وکړی په داسی حال کی چی هغه په شام کی وو: چی ده ته دډوډی بندوبست وکه نوده وویل: ای زماربه زه په مقدسی مزکه کی یم اوهغه په مزکه دبابل کی دی چی په عراق کی واقع دی. نوالله ﷻ وحی ورته وکړه چی ته برابرکړه هغه څه چی موږ

(c) ketabton.com: The Digital Library



یې درته امرکوو پس سته زموږ داسی مخلوق چی ته اوتاسی چی کم خوراك برابرکړی دی دانیال ﷺ ته تاسی دواړه بار کی دا دهغه خواته. نوده خوراکه برابره کړه اوالله ﷻ ور ولیږل هغه څوك چی دایې بارول ددانیال ﷺ خواته تردی چی دایې دغه کندی په سربا‌ندی ودرول په کم کی چی دانیال پروت وو نودانیال ﷺ وویل ته څوك یې؟ نوده ورته وویل چی زه ارمیایم. نودانیال ﷺ ورته وفرمایل چی دلته څه رکم رالی اوچا راوستی نوده ورته وفرمایل چی زه الله ﷻ راوستم.

نودانیال ﷺ وفرمایل چی، آیازه الله ﷻ یادکم؟ نوده ورته وفرمایل چی: هو: نودانیال ﷺ وفرمایل چی: حمد اوثناء ده دهغه ذات دپاره چی دهغه دیاداښت څخه هیڅ څوك نه هیریږی اوحمددی دهغه ذات دپاره چی قبلوی دعا دهغه سړی چی امیدساتی دالله ﷻ څخه، اوحمد دی دهغه ذات دپاره چی هغه نه سپاری یوسړی بل چاته کله چی څوك دهغه پر ذات باندی توکل وکی، اوحمداوثناء ده دهغه ذات دپاره چی هغه بدله داحسان په احسان سره ورکوی، اوحمد اوثناء ده دهغه ذات دپاره چی هغه جزاء ورکوی په صبر سره دنجات، حمد اوثناء ده دهغه ذات دپاره چی هغه لیری کوی مشکلات وروسته دمصیبتونو څخه، حمد اوثناء ده دهغه ذات دپاره چی هغه زموږ ځای دامید دی وروسته دنا امیدی څخه.

دارکم یونس بن بکیر ویلی دی په نقل کولو سره دمحمدبن اسحاق څخه دی نقل کوی دابی خالد بن دینار څخه دی نقل کوی دابو العالیه څخه دی وایې چی: کله چی موږ فتحه کړه (تستر) علاقه نوموږ دهرمزان په بیت المال کی یوکټ پیداکی چی په هغه باندی یوسړی پروت اوسرته یې یوکتاب پروت وو نوموږ راواخستی هغه کتاب اوعمربن الخطاب ته مو وسپاری نوعمربن الخطاب دیوسړی په ذریعه دغه کتاب عربی ته واړوی: نوزه اولنی سړی یم چی ماهغه ووایه، ماووایه دغه کتاب دقرآن په رکم. نوداروای وایې چی ماوویل ابو العالیه ته چی په هغه کی څه وه نوده وویل چی ستاسی امر اواحکام اوداسی نور خطابونه په کی وه اوهغه څه په کی ذکروه کم چی وروسته واقع کیدو والادی. نوداراوی وایې چی ماځینی پوښتنه وکړه چی ستاسی په هغه سړی باندی څه وکړه نوابو العالیه وویل چی موږ په یوه ورځ کی دیارلس قبرونه وکښل په جلاجلا ځایونو کی، نوکله چی شپه سوه نوپه یو قبرکی موښخ کړه اوټول قبرونه موبندکړه ددی وجی څخه چی څوك یې بیرته ونه کاږی. نوداراوی وایې چی دوی ورڅخه دڅه امیدکوی چی راکاږی یې، نودی ابوالعالیه وویل چی کله ددوی څخه باران بندسو نودوی به دده کټ دباندی راایستی نوباران به شروع سو. نوداراوی وایې چی تاسی په دغه سړی باندی دچا گمان کوی. ابو العالیه ورته وویل چی: دانیال ﷺ نوراوی بیاپوښتنه ورڅخه وکړه چی ستاڅه خیال دی چی دی به دڅومره وخت را ایسی پاته وی؟ نوده ورته وویل چی د(۳۰۰) کالوراایسی نوده بیاپوښتنه وکړه چی آیاتاپه

(c) ketabton.com: The Digital Library



کی څه تبدیلی لیدلی ده، نوده ورته په جواب کی وویل چی بالکل فرق په کی نه وو مگر دتندی یوځو وریښتان یې لویدلی وه، دانبیاوو علیهم السلام غوښی نه جلاکیږی دبدن څخه اونه مزکه هغه ځان ته راکشوی سی اونه ددوی غوښته حیوانان خوړلی سی. ددی روایت اسناد ابو العالیه ته صحیح دی.

اوکه چیری دده تاریخ وفات هم دغه وی نوبیابه دی نبی نه وی بلکی یونیك سړی به وی په داسی بل روایت کی هم داسی قصه ذکرده خوپه هغه کی ابوموسٰی الاشعری رضی الله عنه ذکردی چی هغه دده تابوت خلاص کړی وو اوپه بعضی اقوالو کی ذکردی لکه څه رکم چی دانس بن مالك څخه دا نقل دی چی دده دپزی اوږدوالی یوه لویشت دی،

اودارکم نور واقعات ډیری ذکردی خوخلاصه دټولو هم داراوزی داکم چی موږ بیان کړه، دارکم په بل روایت کی داسی ذکردی چی دانیال علیه السلام دعاکړی وه چی مادی دمحمد صلی الله علیه وسلم امتیان پټ کی، نوالله جل جلاله ورته دادعاقبوله کړی وه نوددی وجی څخه دصحابووتردور پوری نه وو پټ سوی چی بیاصحابوو پټ کی بناء براقوال علماء.

اودابو موسٰی رضی الله عنه څخه دی نقل دی چی څلور ځایه یې ده ته قبروکښی نوپه یوه کی یې پټ کړی دی چی معلوم نه دی مگر ابوموسٰی الاشعری رضی الله عنه ته.

دارکم دابن ابی الدنیا څخه نقل کوی دابراهیم بن عبدالله څخه دی نقل کوی داحمد بن عمر بن السرح څخه دی نقل کوی دابن وهب څخه دی نقل کوی دعبدالرحمٰن بن ابی الوناد څخه دی وایې چی ماولیدلی په لاس دابن ابی برده بن ابی موسٰی الاشعری کی یوه گوتمی چی په هغه باندی دوه زمریان جوړوه چی ددواړو زمریانو په منځ کی یوسړی ناست وو، نوابو برده وایې چی داگوتمی دهغه سړی ده چی ددی کلی خلگ ددانیال علیه السلام گمان پرکوی چی دادده پلار ابوموسٰی الاشعری ځینی په هغه شپه کی اخستی وه په کمه شپه چی یې دی پټوی: نو پوښتنه وکړه ابوموسٰی الاشعری رضی الله عنه دهغه کلی دعلماوو څخه ددی نقشی په باره کی نو دوی ورته وویل چی: دکم بادشاه په قبضه کی چی دانیال علیه السلام وو دهغه بادشاه ته نجومیان ویل کیده چی دده په دی غلامانوکی به یوسړی وی چی دده ملك اوبادشاهی به دهغه دلاسه فاسدیږی اوختمیږی به اویوشپه یې ورته معلومه کړه، نودغه بادشاه وویل چی نن شپه به یوغلام هم نه پاته کیږی مگر داچی زه به یې مړکم داوو چی دوی بیا دانیال علیه السلام کندی ته وغورځوی اوورسره یې دوه زمریان هم واچول. نوبیده سوه زمریان اوده ته یې څه ضررونه رسوی. نوبیا راله دده مور اوبیا الله جل جلاله دی ورسوی هغه درجی ته کمی ته چی الله جل جلاله غوښتل چی دی ورسوی نوبیا دانیال علیه السلام دهغه نقشه په گوتمی باندی جوړه کړه ددی وجی څخه چی دالله جل جلاله دانعمت هروخت په دی سره یادساتی اوهیرنه سی ځینی.

* * *

(c) ketabton.com: The Digital Library



## جوړول دبیت المقدس وروسته دخرابیدو څخه او راجمع کیدل دسردارانو دبنی اسرائیلو وروسته دجلاکیدو څخه

الله ﷻ فرمایلی دی: أَوْ كَالَّذِي مَرَّ عَلَى قَرْيَةٍ وَهِيَ خَاوِيَةٌ عَلَى عُرُوشِهَا قَالَ أَنَّى يُحْيِي هَٰذِهِ اللَّهُ بَعْدَ مَوْتِهَا فَأَمَاتَهُ اللَّهُ مِئَةَ عَامٍ ثُمَّ بَعَثَهُ قَالَ كَمْ لَبِثْتَ قَالَ لَبِثْتُ يَوْمًا أَوْ بَعْضَ يَوْمٍ قَالَ بَلْ لَبِثْتَ مِئَةَ عَامٍ فَانْظُرْ إِلَى طَعَامِكَ وَشَرَابِكَ لَمْ يَتَسَنَّهْ وَانْظُرْ إِلَى حِمَارِكَ وَلِنَجْعَلَكَ آيَةً لِلنَّاسِ وَانْظُرْ إِلَى الْعِظَامِ كَيْفَ نُنْشِزُهَا ثُمَّ نَكْسُوهَا لَحْمًا فَلَمَّا تَبَيَّنَ لَهُ قَالَ أَعْلَمُ أَنَّ اللَّهَ عَلَى كُلِّ شَيْءٍ قَدِيرٌ، (سورة البقره \ ۲۵۹).

روایت ذکرکړی دی هشام بن الکلبی چی: بیاالله ﷻ وحی وکړی ارمیا ؑ ته چی: ته ورسه بیت المقدس ته اوزه هغه دوباره جوړوم. نوارمیا ؑ روان سو دبیت المقدس خوا ته تردی چی وررورسیدی نوبیت المقدس نه وو جوړ، نودځان سره یې په زړه کی وویل، پاکی ده هغه ذات لره چی ماته یې امروکی چی زه بیت المقدس ته راسم اوماته یې خبر راکی چی زه یې جوړوم نوکله به یې الله ﷻ جوړوی اوکله به الله ﷻ دی راژوندی کوی وروسته دمړه کولو څخه (یعنی دلته یې دژوند اومرګ څخه جوړیدل اوخرابیدل مراددی)، بیایې خپل سرکښنی ښووی په مزکه باندی اوبیده سو اودده سره خپل خرهم وو چی سپرلی یې پری کوله اوخپله خوراکه ورسره هم وه، نودی بیده سو تراویا کالو پوری تردی چی دده خوب په دوران کی بختِ نصر اودهغه څخه لوړ بادشاه لهراسب دواړه مړه سوه، اودده بادشاهی تر(۱۲۰) کالو پوری وه اودده څخه وروسته دده ځوی بشتاسب بن لهراسب بادشاه سو،

او وومرګ دبختنصرپه خپل ملك کی اوده ته داخبره راورسیده چی دشام مزکه تشه پرته ده اودفلسطین په مزکه کی حیوانان ډیرسوی دی تردی چی انسانان په کی بالکل نه دی پاته سوی نوده اعلان وکی په بابل کی بنی اسرائیلو ته چی څوك غواړی چی شام ته راسی نو هغه کولی سی چی راسی شام ته اوپه دوی کی یې یوسړی بادشاه کی چی ددواد ؑ داولاد څخه وو اودوی ته یې امروکی چی بیت المقدس بیرته جوړکی اوجماعت په کی هم جوړکی، نودوی راله اوابادی یې شروع کړه اوجماعت دبیت المقدس یې جوړکی اوکورونه اوهرڅه یې جوړکړه تردی چی ښه غتیه آبادی یې په کی جوړه کړه نوپه دغه وخت کی الله ﷻ دارمیا ؑ سترګی خلاصی کړی نوویې لیدی دغه ښار نوورته معلومه سوه چی الله ﷻ څه رکم یوشی دوباره تعمیروی، اوبیابیده سوتردی چی سل کاله یې په خوب کی پوره کړه. بیا الله ﷻ دخوب څخه راولاړکی نوده ته داسی محسوسیده چی دی یوساعت یاڅه حصه دورځی بیده وو اوچی کله بیده کیدی نوټول ځایونه دشتی وی اوکله چی راولاړ سو نوټول ځایونه آباد سوی وه، نوکله چی راولاړسو اوآبادی یې ولیده نووی فرمایل: أَعْلَمُ أَنَّ اللَّهَ عَلَى كُلِّ شَيْءٍ قَدِيرٌ ویل سوی دی: چی بنی اسرائیل راله هغه خپل زوړ حالاتو ته راله یعنی الله ﷻ

(c) ketabton.com: The Digital Library



ورته بیرته هرقسم نعمتونه ورکړه نودوی په دغه حال باندی وه تردی چی په دوی باندی غالبه سو روم والا په زمانه دباداشاهانو دطائف کی نودهغه څخه وروسته ددوی یوه ډله او یوه قبیله اوباداشاهی هیڅ پاته نه سوه یعنی وروسته ترراښکاره کیدلو دنصاری څخه. دا رکم ابن جریرپه خپل تاریخ کی داسی روایت ذکرکړی دی چی لهراسب ډیر عادل اوانصاف داره بادشاه وو چی آبادی یې خوښوله اوښارونه یې خوښول اودی وو خاوند دښه فکر اوښه تدبیر یعنی فساد اوجنګونه یې نه خوښول کله چی دی کمزوری سو خپل سلطنت یې خپل ځوی ته وسپاری چی بشتاسب وو اوددوی په زمانه کی مجوسیت (دایوه ډله ده چی داور عبادت کوی) په دغه زمانه کی راښکاره سوی وو اوپه دوی کی یوسړی وو چی زردشت نوم یې وو دارمیا عليه السلام سره مرګلری سو نوارمیا عليه السلام ته یې درد وروستی نوارمیا عليه السلام ښرا ورته وکړه نودبرګی ناجوړیورباندی ولګیده نودده دخواځخه ولاړی تردی چی دآذربیجان علاقی ته ولاړی اودبشتاسب سره ملګری سو اوهغه ته یې دخپل دین یعنی مجوسیت دعوت ورکی اوهغه قبوله کړه، اوبیا ده خپل قوم ته ددی خبری اعلان وکی چی دوی هم دا مجوسیت قبول کی نوچابه چی انکار کوی نوهغه به یې مړکوی.

بیادبشتاسب څخه وروسته بهن بن بشتاسب وو اودابادشاه دفارس والاوو څخه دی کم چی مشهوره بادشاه دی اودی دبخت نصر نایب وو اوعمر یې ډیر زیات وو. مقصودی خبره دا ده چی داتیریدونکی په دی کلی باندی دا ارمیا عليه السلام دی داقول وهب بن منبه اوعبدالله بن عبیدبن عمیر اوداسی نورو کړی دی. اودارکم دعلی څخه اودعبدالله بن سلام څخه اودابن عباس څخه اودحسن څخه او دقتاده څخه اودالسدی څخه اودسلیمان بن برده څخه نقل دی چی داعزیر عليه السلام دی اودادوهم قول مشهوره دی په نزد دډیرو علماوو دسلفو.

**قصه دعزیر عليه السلام**

ابن عساکرویلی دی چی په باره دده دنسب کی چی داعزیر بن جروه دی، اوویل سوی دی چی دی ځوی دسوریق بن عدیان بن ایوب بن درزنا بن عری بن تقی بن اسبوع بن فنحاص بن العازر بن هارون بن عمران دی. اوویل سوی دی چی داعزیر بن سروخا دی، په بعضو اثارو کی داویل سوی دی چی دده قبر په دمشق کی دی. دارکم یوروایت ذکرسوی دی دطریقی دابی القاسم البغوی څخه دی نقل کوی ددواد به عمرو څخه دی نقل کوی دحبان بن علی څخه دی نقل کوی دمحمد بن کریب څخه دی نقل کوی دخپل پلار څخه دی نقل کوی دابن عباس څخه مرفوعًا دی وایې چی: ماته معلومه نه ده چی عزیر عليه السلام نبی دی اوکه نه؟ دارکم په بل روایت سره نقل دی چی دادهغو ماشومانو څخه وو چی بخت نصر قیدیان کړی وو کله چی دی دڅلویښتو کالو سو نوالله جل جلاله ورلره پوهه اوحکمت ورکی. اوویل سوی دی چی: دده څخه ماسوا په تورات باندی دومره څوك نه پوهیده اونه دده څخه ماسوا دچا

(c) ketabton.com: The Digital Library



ډیرعلم وو پر، یعنی الله ﷻ ده ته ډیره پوهه ورکړې وه دتورات په باره کی اودتورات حافظ هم وو. اوویل سوی دی چی دده نوم دانبیاوو سره ذکروو تردی چی الله ﷻ ځینی دده نوم لیری کی کله چی ده دتقدیر په باره کی سوال وکی. خوداخبره کمزوری ده اومنقطعه ده.
دارکم اسحاق بن بشر نقل کوی دسعید څخه دی نقل کوی دابی عروبه څخه دی نقل کوی دقتاده څخه دی نقل کوی دحسن څخه دی نقل کوی دعبدالله بن سلام څخه دی وایې چی عزیر علیه السلام هغه سړی دی کم چی الله ﷻ ترسل کاله پوری مړکړی وو اوبیایې راژوندی کړی وو. دارکم نور اقوال هم ذکرسوی دی چی دټولو خلاصه هم دایو جوړیږی.
دارکم په بل روایت کی ذکرسوی دی چی دی یوه ورځ دکوره ووتی چی پرخره باندی ناست وو نودکلی څخه ډیر لیری ولاړی نوګرمی یې وسوه نویوغارته دننه سو اودخره څخه کښته سو اودخره یوخوا ته یې یوتیلی وه چی په هغه کی انځیر وه اودی بل خوا ته یې بله تیلی وه چی په هغه کی انګور پراته وه نودی ډیرستړی وو نوددی یوی تیلی څخه یې انګور واخسته اوهغه یې وخوړل اوپه دغه ځای کی یې څه هډوکی ولیده نووی فرمایل: أَنَّىٰ يُحْيِي هَٰذِهِ اللَّهُ بَعْدَ مَوْتِهَا، نودده په دی خبره کی شك نه وو چی دا به الله ﷻ څه رکم راژوندی کوی بلکې داخبره یې دتعجب دوجی وکړه، نوالله ﷻ په ده پسی ملك الموت راواستوی نودده څخه یې روح قبض کی. کله چی دی مړسو دسلو کالو دپاره،
اوپه دغه وخت کی په بنی اسرائیلو کی ډیر اختلافات وه اوډیر نوی نوی کارونه په کی پیدا سوی وه، نوویل سوی دی چی الله ﷻ عزیر علیه السلام ته په دغه وخت کله چی سل کاله پوره سو یوه ملایکه راولیږل نودده زړه یې جوړکی چی زړه یې په دی خبری باندی پوه سی او سترګی یې ورلره جوړی کړی ددی وجی چی وګوری چی الله ﷻ څه رکم دوباره سړی را ژوندی کوی بیا کرار کرار دده ټول بدن جوړیدی اوده ورته کتل اوبیا کرار کرار دده وریښته برابر کیدل، اودارکم هډوکی یې ورته برابرکړه اوبیا روح په کی واچول سو داهرڅه کیده اوده ورته کتل نودی چی بالکل برابرسو نوملائکو پوښتنه ځینی وکړه چی څوکاله پوری ته پروت وی؟ نوده په جواب کی وویل چی زه خوکیدی سی چی تریوه ورځ پوری او ددوومی ترنیمی ورځی پوری، اودایې په دی طریقی سره وویل چی دی په شروع دورځی کی بیده سوی دماپښین وخت سره نژدی اوچی راولاړیدی نوبیاهم لمرنه وو لویدلی. نووی فرمایل چی کیدی سی چی یوه ورځ بیده وم یابه می په خوب کی نیمه ورځ تیره کړی وی، نوملائکو ورته وویل چی بلکی تاسل کاله تیرکړه په خوب کی پس ته وګوره خپل خوراك اوڅښاك ته چی هیڅ قسم فرق په کی نه وو راغلی. اوبیایې چی خپل خره ته وکتل نوتش هډوکی پاته وو نوملائکی دالله ﷻ په امرسره هغه خره ته حکم وکی نو دهغه هم غوښی

(c) ketabton.com: The Digital Library



اوهډوکی راټولیدل شروع سوه تردی چی هغه هم سم سو اودځای څخه راولاړسو اوغوږونه یې دآسمان خوا ته لوړکړی وه اواوازونه یې کول په دی ګمان سره چی قیامت قائم سو.
لکه څه رکم چی الله ﷻ فرمایلی دی: وَانْظُرْ إِلَى حِمَارِكَ وَلِنَجْعَلَكَ آيَةً لِلنَّاسِ وَانْظُرْ إِلَى الْعِظَامِ كَيْفَ نُنْشِزُهَا ثُمَّ نَكْسُوهَا لَحْمًا، یعنی ته وګوره دخپل خره هډوکو ته چی موږ څه رکم برابرکړه هغه دخر په شکل چی غوښه ورپوری نه وه اوبیا مو ورباندی غوښه راشنه کړه، فَلَمَّا تَبَيَّنَ لَهُ قَالَ أَعْلَمُ أَنَّ اللهَ عَلَى كُلِّ شَيْءٍ قَدِيرٌ، یعنی چی کله ده هرڅه ولیده نوداللہ ﷻ په تقدیرباندی یی پوخ اومضبوط یقین رالی اوهغه وسوسه چی دده په زړه کی وه هغه الله ﷻ په دی معجزانه کار سره ځینی لیری کړه. ویل سوی دی چی کله دی په خپل خره باندی سپورسو اوکلی ته رالی نوخلګو یې دپیژندلو څخه انکار وکی تردی چی خپل کورته رالی اویوه بوډی ښځه ناسته وه چی (۱۲۰) کاله پرتیر سوی وه چی دا دده مینځه وه، کله چی عزیر ؑ ددی ځای څخه ووتی نودغه بوډی دشلو کالو انجلی وه اوکله چی رالی نوبوډی وه نوده وپیژنده اوپه ذهن کی یې راله: نوعزیر ؑ ورته وویل چی آیا داکور دعزیر ؑ دی؟ نودی ښځی ورته وویل چی، هو داکور دعزیر دی. نووی ژړل اووی ویل چی، مانه دی لیدلی په دی خلګو کی داسی سړی چی تریوه کال پوری یې یادکړی وی اوخلګو هغه هیرکړی دی. نوده وویل چی زه عزیر یم زه الله ﷻ ترسلو کالو پوری مړکړی وم اوبیایې راژوندی کم. نودی ښځی وویل چی پاکی ده هغه ذات دپاره، موږ عزیر ورك کړی دی دسلو کالو را ایسی اودهغه په باره کی موهیڅ ذکرنه دی اوریدلی. ده بیا وفرمایل چی: زه عزیر ؑ یم. نودی ښځی ورته وویل چی عزیر مستجاب الدعا وو، که ته چیری عزیر یې نوماته دعاوکړه چی الله ماته زما دسترګو نظر راکی چی زه تاوګورم چی ته واقعی عزیریې که ته چیری عزیر یې نوزه به دی وپیژنم. نوویل سوی دی چی ده دعا وغوښته دالله ﷻ څخه ددی دپاره اوخپل لاس یې ددی په سترګو باندی راکش کی اودلاس څخه یې راونیوله اوورته یې وویل چی ولاړیږه داللہ ﷻ په امرباندی نوداولاړه سوه داسی په تیزی سره لکه بیرته چی انسان ځوان سی. نووی ویل چی: زه شاهدی ادا کوم چی ته عزیر یې. نوبیادی ورغی بنی اسرائیلو ته چی هغوی په پخپلو مجلسونو کی ناست وه اوخپل عبادتونه یې کول، اوپه دوی کی دعزیر ؑ یوځوی وو چی د(۱۱۸) کالو وو اودده لمسیان هم بوډاګان وه، نودی بوډی اواز وکی چی عزیر ؑ راغلی دی تاسی ته. نودوی ټولو ددی داخبره درواغجنه کړه، نودی بوډی وویل چی زه ستاسی مشره یم ده ماته دعا وکړه نواللہ ﷻ ماته دده په دعاسره سترګی بیرته راکړی او زماپه پښو کی دم پیدا سو اودی داګمان لری چی دی الله ﷻ ترسل کالو پوری مړ کړی وو اوبیایې راژوندی کی. ویل سوی دی چی خلګ ټول پرراټول سوه اوپه حیرانتیا سره یې

(c) ketabton.com: The Digital Library



ورته کتل نوخپل ځوی ورته وویل چی زما دپلار داوړو په مینځ کی تور خال وو نوکله یې چی اوږه راښکاره کړه نوهغه خال پر وو نوبنی اسرائیلو وویل په موږ کی هیڅ چاته تورات نه دی یادمګر عزیرؑ ته اوتورات خوبخت نصر سوزلی وو نوکه ته عزیر یې نوتورات موږ ته بیرته ولیکه، او وو دده پلار ساروخا چی تورات یې په مزکه کی پټ کړی وو په هغه ورځوکی په کمو ورځوکی چی بخت نصر تورات وسوزی نودغه ځای دعزیر ﷺ څخه ماسوابل چاته نه وو معلوم، نودابنی اسرائیل یې دځان سره هغه ځای ته بوتله اوتورات یې راوایستی دهغه ځای څخه اودده پاڼې نرمی سوی وی اوکتاب زوړ سوی وو نودی دبنی اسرائیلو سره دیوې درختی لاندی سایې ته کښېناستی اوتورات یې نوی کی اودآسمان څخه دوی رڼاګانی رالی اوددی عزیر ﷺ نس ته دننه سوی نوده ته تورات وریاد سو په مکمله طریقه سره نوتورات یې په نوی طریقه سره ولیکی، نودهغه ورځی را ایسی یهودیان وایې چی عزیر ځوی دالله ﷻ دی، اوده تورات ورنوی کړی وو په مزکه دسواد کی چی دحزیقل کور په هغه ځای کی وو، اوهغه کلی چی دی په کی وفات سوی وو دهغه نوم (سایراباذ) وو ابن عباس وایې چی: نه وو لکه څه رکم چی الله ﷻ فرمایلی وه: وَلِنَجْعَلَكَ آيَةً لِلنَّاسِ، یعنی نښه اونمونه بنی اسرائیلوته، اوداپه دی شان سره چی دی به دخپلوبچیانو سره کښېناستی چی هغوی به بوډاګان وه اودی چی کله وفات کیدی نودځلوېښتو کالو وو نو بیرته چی راژوندی سو سل کاله وروسته نوبیا الله ﷻ په هم هغه صورت اوهیئت باندی را ولاړکی چی دځلوېښتو کالو وو نودی ځوان وو اوبچیان یې بوډاګان وه.

ابن عباس وایې چی دی دبختنصر څخه وروسته راغلی دی، اوهمداسی قول حسن هم کړی دی. مشهوره خبره داده چی عزیرﷺ یوپیغمبردی دپیغمبرانو دبنی اسرائیلو څخه اودداود اوسلیمان اوزکریا اویحیٰی عَلَيْهِمُ السَّلَامُ په مینځ کی راغلی دی،

اوپه بنی اسرائیلو کی یوسړی هم نه وو پاته چی تورات یې یادوی مګر دی وو چی الله ﷻ ده ته الهام وکی اودده په ذریعه یې دوباره په بنی اسرائیلو کی نشر کی، لکه څه رکم چی وهب بن منبه ویلی دی: الله ﷻ امروکی یوی ملایکی ته چی دنور یوه لپه یې راواخسته او دعزیر ﷺ په سینه کی یې واچول نودتورات لیکل یې شروع کړه تردی چی خلاص سو.

اودارکم روایت نقل سوی دی دابن عساکر څخه دی نقل کوی دابن عباس څخه چی پوښتنه وسوه دابن سلام څخه په باره ددی قول دالله ﷻ کی (وقالت الیهود عزیر ابن الله) دی یهودیانو ولی عزیر ﷺ ته دالله ﷻ ځوی وایه؟ نوده جواب ورکی چی داددی وجی څخه چی ده بنی اسرائیلو ته تورات دوباره لیکلی وو، اوبنی اسرائیلو به داوایه چی موسٰی ﷺ موږته تورات دکتاب په شکل کی نه سو راوړی اوعزیرﷺ موږته بغیردکتاب څخه راوړی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



نوبعضو په کی بیاداخبره شروع کړه چی عزیر ځوی دالله ﷻ دی. نوددی وجی څخه علماء وایې چی تواتر دتورات دزمانی دعزیر ؑ څخه منقطع دی. اودارکم ابن عساکر ویلی دی په نقل کولو سره دانس بن مالك څخه اودعطاء بن السائب څخه چی عزیر ؑ دموسیٰ ؑ په زمانه کی وو. دارکم ابن عساکر اوابن عباس یوقول ذکرکړی دی چی په هغه کی دابیان سوی دی چی ده دتقدیر په باره کی سوال کړی دی نوالله ﷻ ورته وفرمایل چی داسوالونه مه کوه کنې نوم به دی دانبیاوو دفهرست څخه لیری کی نوده بیاپوښتنه کوله تردی چی دده نوم یې دانبیاوو دنومونو څخه جلاکی نوداسی اقوال دنبی په باره کی صحیح نه دی اویو نبی دالله ﷻ څخه داسی بی هوده سوالونه نه کوی اوکیدی سی چی دا اسرائیلی قول یې نودا منکر قول دی اوصحیح نه دی.

## قصه دزکریا ؑ او دیحییٰ ؑ

الله ﷻ فرمایلی دی: (سورة مریم، كٓهيٰعٓصٓ (١) ذِكْرُ رَحْمَةِ رَبِّكَ عَبْدَهُ زَكَرِيَّا (٢) إِذْ نَادَى رَبَّهُ نِدَاءً خَفِيًّا (٣) قَالَ رَبِّ إِنِّي وَهَنَ الْعَظْمُ مِنِّي وَاشْتَعَلَ الرَّأْسُ شَيْبًا وَلَمْ أَكُنْ بِدُعَائِكَ رَبِّ شَقِيًّا (٤) وَإِنِّي خِفْتُ الْمَوَالِيَ مِنْ وَرَائِي وَكَانَتِ امْرَأَتِي عَاقِرًا فَهَبْ لِي مِنْ لَدُنْكَ وَلِيًّا (٥) يَرِثُنِي وَيَرِثُ مِنْ آلِ يَعْقُوبَ وَاجْعَلْهُ رَبِّ رَضِيًّا (٦) يَا زَكَرِيَّا إِنَّا نُبَشِّرُكَ بِغُلَامٍ اسْمُهُ يَحْيَى لَمْ نَجْعَلْ لَهُ مِنْ قَبْلُ سَمِيًّا (٧) قَالَ رَبِّ أَنَّى يَكُونُ لِي غُلَامٌ وَكَانَتِ امْرَأَتِي عَاقِرًا وَقَدْ بَلَغْتُ مِنَ الْكِبَرِ عِتِيًّا (٨) قَالَ كَذَلِكَ قَالَ رَبُّكَ هُوَ عَلَيَّ هَيِّنٌ وَقَدْ خَلَقْتُكَ مِنْ قَبْلُ وَلَمْ تَكُ شَيْئًا.

دارکم په بل ځای کی فرمایلی دی: وَكَفَّلَهَا زَكَرِيَّا كُلَّمَا دَخَلَ عَلَيْهَا زَكَرِيَّا الْمِحْرَابَ وَجَدَ عِنْدَهَا رِزْقًا قَالَ يَا مَرْيَمُ أَنَّى لَكِ هَذَا قَالَتْ هُوَ مِنْ عِنْدِ اللهِ إِنَّ اللهَ يَرْزُقُ مَنْ يَشَاءُ بِغَيْرِ حِسَابٍ (٣٧) هُنَالِكَ دَعَا زَكَرِيَّا رَبَّهُ قَالَ رَبِّ هَبْ لِي مِنْ لَدُنْكَ ذُرِّيَّةً طَيِّبَةً إِنَّكَ سَمِيعُ الدُّعَاءِ (٣٨) فَنَادَتْهُ الْمَلَائِكَةُ وَهُوَ قَائِمٌ يُصَلِّي فِي الْمِحْرَابِ أَنَّ اللهَ يُبَشِّرُكَ بِيَحْيَى مُصَدِّقًا بِكَلِمَةٍ مِنَ اللهِ وَسَيِّدًا وَحَصُورًا وَنَبِيًّا مِنَ الصَّالِحِينَ (٣٩) قَالَ رَبِّ أَنَّى يَكُونُ لِي غُلَامٌ وَقَدْ بَلَغَنِيَ الْكِبَرُ وَامْرَأَتِي عَاقِرٌ قَالَ كَذَلِكَ اللهُ يَفْعَلُ مَا يَشَاءُ (٤٠) قَالَ رَبِّ اجْعَلْ لِي آيَةً قَالَ آيَتُكَ أَلَّا تُكَلِّمَ النَّاسَ ثَلَاثَةَ أَيَّامٍ إِلَّا رَمْزًا وَاذْكُرْ رَبَّكَ كَثِيرًا وَسَبِّحْ بِالْعَشِيِّ وَالْإِبْكَارِ، (سورة آل عمران ۳۷\ ۴۱).

اودارکم الله ﷻ فرمایلی دی: وَزَكَرِيَّا وَيَحْيَى وَعِيسَى وَإِلْيَاسَ كُلٌّ مِنَ الصَّالِحِينَ، (سورة الانعام \۸۵). ابن عساکر په خپل مشهور تاریخ کی دزکریا ؑ په باره کی داسی نسب بیانوی: زکریا بن برخیا، اوویل سوی دی زکریابن دان، اوویل سوی دی چی زکریا بن لدن بن مسلم بن صدوق بن حشبان بن داود بن سلیمان بن مسلم بن صدیقه بن برخیا بن بلعه بن ناحور بن

(c) ketabton.com: The Digital Library



شلوم بن بهفا شاط بن اینامن بن رحیعام بن سلیمان بن داود ﷷ دیحیٰی ﷷ پلاردی چی هغه هم نبی دی، ویل سوی دی چی دی په خپل ځوی ﷷ پسی دمشق ته تللی وو اوهلته یې کارکوی. اوویل سوی دی چی دی په دمشق کی وو کله چی دده ځوی یحیٰی ﷷ قتل سوی وو. والله اعلم.

اودارکم نور نسبونه هم ددی بیان سوی دی په مختلفو طریقو سره. مقصود داچی الله ﷻ امر وکی خپل محبوب پیغمبر محمد مصطفٰی ﷺ ته چی ته خلګو ته دزکریاﷷ قصه وکړه چی الله ﷻ ورلره ځوی ورکی په داسی حال کی چی بوډاوو اوښځه یې بوډی وه نوداقصه دوی ته ځکه ذکرکړه چی دوی هم پوه سی چی دالله ﷻ څخه نا امیده کیدل نه دی پکار. په دی اٰیتونو کی الله ﷻ دزکریا ﷷ هغه دعا ذکرکوی چی الله ﷻ ته یې په خپل دعاکی ویلی وه په بیری سره چی ورسره حاضر کسان دادعا وانه وری ده الله ﷻ ته اول دځان حالت بیان کی چی زه کمزوری سوم اووریښته می سپین سوه لکه په دی قول دالله ﷻ کی ذکردی: قَالَ رَبِّ إِنِّي وَهَنَ الْعَظْمُ مِنِّي وَاشْتَعَلَ الرَّأْسُ شَيْبًا، (سورة مريم \ ۴) اوداقول دده: وَلَمْ أَكُنْ بِدُعَائِكَ رَبِّ شَقِيًّا، یعنی ای ربه زماچی دعانه کی مګر قبوله اوپه دی باندی باعث داسو چی ده دادعا وکړه، چی کله دمریم بنت عمران بن ماثان زوی مواری اوکفالت په ځان باندی واخستی نو کله به چی دمریم بنت عمران خواته دی ورتلی نودلوښو څخه ماسوابه میوی پرتی وی نوده ته داعلم وسو چی دالله ﷻ دخوا دی نودده په زړه کی داطمع پیداسوه چی دالله ﷻ څخه نا امیدی نه دی کول پکار نوبیایې دالله ﷻ څخه دادعا وغوښته چی ده ته یوځوی ورکی. لکه څه رکم چی په دی قول دالله کی ذکرسوی دی: هُنَالِكَ دَعَا زَكَرِيَّا رَبَّهُ قَالَ رَبِّ هَبْ لِي مِنْ لَدُنْكَ ذُرِّيَّةً طَيِّبَةً إِنَّكَ سَمِيعُ الدُّعَاءِ، اوداقول دده: وَإِنِّي خِفْتُ الْمَوَالِيَ مِنْ وَرَائِي وَكَانَتِ امْرَأَتِي عَاقِرًا یعنی دی بیریدی په وروستنی نسل باندی چی هغوی دده څخه وروسته بی لاری نه سی نوددی دوجی څخه یې طلب دځوی وکی چی دده دخپلی ملا پیدا شی وی چی نیك اوپرهیز ګار رضا کونکی دالله ﷻ وی، چی دده وراثت هم کوی اودیعقوب ﷷ داولاد وراثت هم کوی اودا دعا یې هم دالله ﷻ څخه طلب کړه چی بیایې داسی سړی وګرځوی چی لکه څه رکم یې چی پلرونه نیکان خلګ تیرسوی دی اوټول پیغمبران دی نودی هم دهغو مخکنیو په شان وګرځوی (مطلب داچی دی هم نبی کی لکه دخپلو پلرونو په رکم)، اودلته وراثت دمال نه دی مراد ولی چی مخکی موږ داخبره وکړه چی پیغمبران مال په وراثت کی نه پریږدی اوکم مالونه چی ددوی څخه پاته سی نوهغه به په صدقه کی ورکول کیږی، لکه څه رکم چی دا موږ مخکی په حدیث دنبی ﷺ کی بیان کی اودامو ورسره هم بیان کړی وه چی دانبیاوو پرکورنی باندی صدقی هم حرامی دی یعنی چی ځوك سیدوی اودنبی ﷺ په اولاد کی

(c) ketabton.com: The Digital Library



داخل وی نو په هغه باندی صدقه اخستل او استعمالول جائزنه دی، دارکم دوراثت دانبیاوو په باره کی دسلیمان ؑ په قصه کی بحث وسو لکه څه رکم چی الله ﷻ فرمایلی وه (وورث سلیمان داود) هلته موږ داخبره کړی وه چی وراثت په نبوت کی مراددی نه په مالونو کی او که په مالونو کی مراد وای نودسلیمان ؑ خونور ورونه هم وه هغوی به ورسره هم بیاذکر سوی وای ولی چی هغوی هم حقدار دمیراث دی خووراثت دمال نه وو مراد بلکی وراثت دپیغمبری مراد وو نوځکه ذکر دسلیمان ؑ وسو اودنورو ورونو نسو پیدا. بل په دی خبره باندی داحدیث دنبی ؑ هم دلالت کوی: نحن معاشر الانبیاء لانورث. اوبل دنیا دپیغمبرانو په نزد باندی ډیر حقیر اوسپك شی وه نوهغوی به دآخرت په غم کی وه نودنیا به یې نه راټولوله، دارکم امام احمد یوروایت ذکرکوی په نقل کولو سره دزید څخه دی نقل کوی دابن هارون څخه دی نقل کوی دحماد بن سلمه څخه دی نقل کوی دثابت څخه دی نقل کوی دابی رافع څخه دی نقل کوی دابوهریره څخه دی وایې چی رسول الله ﷺ فرمایلی دی. وو زکریا ؑ نجار (یعنی ترکان)، همدارکم مسلم اوابن ماجه هم ددی تعبیر کړی دی په بلی وجی سره دحماد بن سلمه څخه اوداقول دالله ﷻ : يَا زَكَرِيَّا إِنَّا نُبَشِّرُكَ بِغُلَامٍ اسْمُهُ يَحْيَى لَمْ نَجْعَلْ لَهُ مِنْ قَبْلُ سَمِيًّا ددی آیت تفسیر په دی قول دالله ﷻ سره سوی دی: فَنَادَتْهُ الْمَلَائِكَةُ وَهُوَ قَائِمٌ يُصَلِّي فِي الْمِحْرَابِ أَنَّ اللهَ يُبَشِّرُكَ بِيَحْيَى مُصَدِّقًا بِكَلِمَةٍ مِنَ اللهِ وَسَيِّدًا وَحَصُورًا وَنَبِيًّا مِنَ الصَّالِحِينَ، کله چی ده ته الله ﷻ زیری دبچی ورکی نودده په مخ کی دحیرانتیا کرښی ښکاره کیدلی چی تعجب به یې کوی په دی خبره باندی چی په دی حال کی به ځوی څه رکم پیدا سی لکه څه رکم چی په دی آیت کی ذکرسوی دی: قَالَ رَبِّ أَنَّى يَكُونُ لِي غُلَامٌ وَكَانَتِ امْرَأَتِي عَاقِرًا وَقَدْ بَلَغْتُ مِنَ الْكِبَرِ عِتِيًّا، یعنی څه رکم به زمازوی پیداسی اوحال دادی چی زه خوبوډا یم اوښځه می بوډی ده. لکه څه رکم چی ابراهیم خلیل الله فرمایلی وه: قَالَ أَبَشَّرْتُمُونِي عَلَى أَنْ مَسَّنِيَ الْكِبَرُ فَبِمَ تُبَشِّرُونَ، اولکه څه رکم چی ساره ویلی وه: يَا وَيْلَتَى أَأَلِدُ وَأَنَا عَجُوزٌ وَهَذَا بَعْلِي شَيْخًا إِنَّ هَذَا لَشَيْءٌ عَجِيبٌ (۷۲) قَالُوا أَتَعْجَبِينَ مِنْ أَمْرِ اللهِ رَحْمَةُ اللهِ وَبَرَكَاتُهُ عَلَيْكُمْ أَهْلَ الْبَيْتِ إِنَّهُ حَمِيدٌ مَجِيدٌ، (سورة هود ۷۲\ ۷۳).

اوهمدارکم دزکریا ؑ دعاقبوله سوه اویوه ملایکه ورته راله اودالله ﷻ دطرف څخه یې پیغام ورلره ورکی چی رب العزت فرمایې چی داکار په ماباندی اسانه دی یعنی په دی کار کی ماته هیڅ مشکل نسته، ولی چی هغه ذات اسبابو ته حاجت نه لری دهغه ذات په یوی کلمی سره هرڅه بدلیږی اوهرڅه پیداکیږی اوالله ﷻ ورته خطاب وکی چی ته می پیداکولی سوی مخکی نوستا څخه یوځوی نه سم پیداکولی اوحال داوو چی ستا پیدائش ماته هیڅ

(c) ketabton.com: The Digital Library



هم نه وو. او الله ﷻ وفرمایل: فَاسْتَجَبْنَا لَهُ وَوَهَبْنَا لَهُ يَحْيَى وَأَصْلَحْنَا لَهُ زَوْجَهُ إِنَّهُمْ كَانُوا يُسَارِعُونَ فِي الْخَيْرَاتِ وَيَدْعُونَنَا رَغَبًا وَرَهَبًا وَكَانُوا لَنَا خَاشِعِينَ، اومعنٰی ددی لفظ چی مورِ ددی کور والا یعنی ښځه برابره کړه یعنی دهغه به حیض نه کیدی نوحیض یی شروع سو، اوویل سوی دی چی دده په ژبه کی فرق وو هغه مو وربرابرکی. بیادی زکریا ؑ وفرمایل چی زما دپاره یو نښانه وګرځوه په وخت دتعلق زما اوزما دښځی په باره دهغه ځوی کی چی مورِ ته یې زیری راکول سوی دی، نوالله ﷻ ورته وفرمایل چی ستا دپاره داغته نښانه ده چی ته به دخلګو سره تردرووړځوپوری خبری نه کوی اوداچی دخلګوسره به ښه رویه ساتی اومزاج به ورسره ښه ساتی. اوالله ﷻ ورته امروکی دډیر ذکر کولو په دی حال کی سهار اوماښام، نودی خلګوته په خوشحالی سره ورووتی محراب ته، مجاهد اوعکرمه اووهب اوالسدی اوقتاده ویلی دی چی دده دژبی څخه طاقت دګویایی واخستل سو دانه چی ناجوړی پر لګیدلی وه نوده به په اشارو باندی خبری کولی اوذکربه یې په زړه سره کوی ولی چی دده ژبی کار نه کوی. اودا قول دالله ﷻ : يَا يَحْيَى خُذِ الْكِتَابَ بِقُوَّةٍ وَآتَيْنَاهُ الْحُكْمَ صَبِيًّا، دلته الله ﷻ خبر ورکوی دیحیٰی ؑ څخه چی زکریا ؑ ته الله ﷻ وروسته دډیرو دعاګانو څخه ورکی: چی الله ﷻ ده ته علم اوپوهه ډیره ورکړی وه په داسی حال کی چی دی ماشوم وو. عبدالله بن المبارک وایې چی معمر ویلی دی چی: ماشوم والی دیحیٰی بن زکریادی: چی ملګرو به ورته ویل راځه چی ځو بازی ته نوده به ورته ویل چی مورِ دبازیو دپاره نه یو پیدا سوی: وَحَنَانًا مِنْ لَدُنَّا وَزَكَاةً وَكَانَ تَقِيًّا قتاده اوابن عباس اومجاهداوعکرمه دی ټولوویلی دی چی دحنان څخه مرادرحمت دی یعنی په طور درحمت زمورِ دخواڅخه اوعکرمه ویلی دی چی دحنان څخه مراد محبت دی. اوهرڅه چی زکات دی نودا پاکوالی ددی دی اوسلامت کیدل دده دی دعیبونو څخه اونقصاناتو څخه. بیا الله ﷻ فرمایلی دی: وَسَلَامٌ عَلَيْهِ يَوْمَ وُلِدَ وَيَوْمَ يَمُوتُ وَيَوْمَ يُبْعَثُ حَيًّا، دادری وختونه داسی دی چی په انسان باندی ډیر سخت وی ولی چی په دریو واړو کی انسان دیومرحلی څخه بلی مرحلی ته اوړی نوددی درو واړو پیژندنه انسان ته په هغه وخت کی کیږی کله چی دده څخه دغه وخت تیرسی لکه په ماشوم والی باندی انسان هلته پوهیږی کله چی غټ سی اوددی دنیا دعملونو قدر انسان ته هلته وریاد سی کله چی مړسی اوبیادقبر زندګی انسان ته ښه ښکاره کیږی دقیامت دحساب اوکتاب څخه، نودا دری وختونه داسی دی چی ددی پیژندنه انسان ته وروسته دتیریدلو څخه کیږی. نوکله چی دادری مرحلی په انسان باندی سختی مرحلی وی نوالله ﷻ په کی دبنی آدم سلامتیا کوی. دا رکم سعید بن ابی عروه نقل کوی دقتاده څخه دی نقل کوی دقتاده څخه چی حسن ویلی

(c) ketabton.com: The Digital Library



دي چي: یحیٰی ﷺ اوعیسیٰ ﷺ دواړو سره ولیده نودوی یوبل ته وویل چي زما دپاره استغفار وغواړه ته زما څخه ښه یې نوعیسیٰ ﷺ یحیٰی ﷺ ته وفرمایل چي ته زما څخه ښه یې ولی چي تاپرځان باندی په خپله هم سلامتیا ویلی ده اوالله ﷻ درباندی هم سلامتیا ویلی ده. نوده ته معلومه سوه، اوالله ﷻ دواړه خوښ کړی دی. اودا چي په بل آیت کی ذکر دی: وَسَيِّدًا وَحَصُورًا وَنَبِيًّا مِنَ الصَّالِحِينَ، ویل سوی دی چي دحصور څخه مراد هغه دی چي کم سړی ښځو ته راتګ نه کوی، اوداسی نوری معناګانی هم سوی دی.

دارکم دابن وهب څخه نقل دی چي دی نقل کوی دابن لهیعه څخه دی نقل کوی دعقیل څخه دی نقل کوی دابن شهاب څخه دی وایې چي یوه ورځ راووته نبی ﷺ اوصحابه ﷺ اوپه خپلو کی یې مذاکره کوله نوپه دوی کی یوه ویونکی وویل چي موسیٰ کلیم الله دی اویوبل ویونکی په کی وویل چي عیسیٰ روح الله اوکلمة الله دی. اویو ویونکی وویل چي ابراهیم خلیل الله دی نودوی همدارکم مذاکره کوله چي نبی ﷺ وفرمایل: څه سو شهید چي ځوی دشهید دی؟ مرادیې یحیٰی بن زکریا ﷺ وو.

دارکم یحیٰی بن سعید الانصاری روایت نقل کوی دسعیدبن المسیب څخه دی نقل کوی دابن العاص څخه دی وایې چي ما اوریدلی دی درسول الله ﷺ څخه چي فرمایل یې: هریو بنی آدم به دقیامت په ورځ راځی اوهغه به څه ناڅه ګناه کړی وی مګر یحیٰی بن زکریا. دا رکم نور روایتونه دنبی ﷺ څخه ډیر ذکردی چي دیحیٰی ﷺ پرفضیلت باندی دلالت کوی.

دارکم اسرائیلی واقعات هم دده په باره کی ذکرسوی دی چي په هغه کی اکثره خبری داسی ذکرسوی دی چي هغه دانبیاوو په باره کی ذکرکول بالکل مناسب نه دی نوددی وجی څخه یې موږ نه ذکرکوو ولی چي په هغه کی دانبیاوو بی حرمتی کیږی. نوپه احادیثو درسول الله ﷺ باندی مواکتفاء ښه ده ولی چي په بیان دهغو واقعو سره ذهن منشتر کیږی.

دارکم دامام احمد څخه روایت نقل دی چي دی یې نقل کوی دعفان څخه دی نقل کوی دابو خلف موسیٰ بن خلف څخه دی نقل کوی دیحیٰی بن ابی کثیر څخه دی نقل کوی دزید بن سلام څخه دی نقل کوی دجد بن ممطور څخه دی نقل کوی دحارث الاشعری څخه چي نبی ﷺ فرمایلی دی: الله ﷻ امرکړی وو یحیٰی بن زکریاته دپنځوکلمو چي دابه زده کوی اوبنی اسرائیلو ته به یې بیانوی نونژدی وه چي دده څخه هیری سوی وی نوعیسیٰ ﷺ ورته وفرمایل چي، تاته امرسوی دی دپنځو کلموچي دابنی اسرائیلو ته بیان کړی نودا یاته بیان کړه یایې ماته پریږده چي زه یې بیان کم نوده ورته وفرمایل چي زه بیریږم چي هسی نه چي داته بیان کړی اودالله ﷻ عذاب په مابانډی نازل سی ولی چي ددی امر ماته سوی دی. نو ده بنی اسرائیل یوه ورځ په جمات کی راټول کړه په بیت المقدس کی تردی چي ډك سو نودی په ممبر باندی کښېنستی اودالله ﷻ حمد اوثناء یې بیان کړه اوبیایې وفرمایل چي: ماته الله

(c) ketabton.com: The Digital Library



ﷻ دپنځو شیانو امرکړیدی چی په هغه باندی زه په خپله عمل وکم اوتاسی ته یې هم وښیم. اول دهغو پنځوڅخه دادی چی تاسی شرك مه کوی دالله ﷻ سره، ولی چی ددی مثال داسی دی لکه چی یوسړی په خپلو پیسو باندی یوغلام ځان ته واخلی اودی په کارباندی ولګوی نوداکار کوی اودی بل چاته پیسی ورکوی بغیر دخپل مالك څخه، نوپه تاسی کی څوك داخوښه وی چی دهغه غلام داسی سی، اویقینًا الله ﷻ تاسی پیداکړی یاست اوتاسی ته رزق درکوی نوددغه ذات عبادت وکی اودهغه سره شریکان مه جوړوی، دوهم داچی زه تاسی ته امرکوم دلمانځه، ولی چی الله ﷻ دخپل بنده څخه که یوې خواته اوبلی خواته یې په لمانځه کی وکتل نوالله ﷻ توجه ځینی بدله کړی نوپه لمانځه کی یوخوا ته اوبل خوا ته مه ګوری، دریم داچی تاسی ته زه امر کوم دروژی، ولی چی ددی مثال په نزددالله ﷻ باندی داسی دی لکه چی دیوسړی سره په خپل توښه کی یاجیب کی مشك وی اوهریوه سړی ځینی خوشبویې حاصلوی، اویقینًا په نزد دالله ﷻ باندی دروژه دار دخلې بوی ترمشکو ښه دی. بل داچی زه تاسی ته امرکوم دصدقی ورکولو، ولی چی ددی مثال داسی دی لکه یو سړی چی خپل لاس په خپل څټ پوری وتړی اوبیا ددښمن مخ ته ورسی په دی اراده باندی چی هغه ته په څټ باندی ووهه نوبیایې وفرمایل چی: آیازه ستاسی دپاره دځان فدیه ورکم نولګیاسو چی دځان څخه یې لږ اوکله ډیره فدیه ورکوله تردی چی ختم سو. اوزه تاسی ته امرکوم دالله ﷻ دذکرپه باره کی چی دالله ﷻ په کثرت سره ذکرکوی، ولی چی ددی مثال داسی دی لکه چی په یوانسان دښمن پسی سوی یې اودی ځنی تښتی تردی چی دی دننه سی یوقلعی ته اوپه هغه کی ځان ته مورچې ونیسی اوپناه په کی واخلی، اوبنده په پناه کی وی دشیطان څخه ترڅو پوری چی دالله ﷻ په ذکرکی مشغول وی. رسول الله ﷺ فرمایلی دی چی ماته هم الله ﷻ دپنځو شیانو امرکړی دی: په جماعت باندی چی لمونځ به په جمع سره کوی اوپه طاعت باندی اوپه هجرت باندی اوپه جهاد فی سبیل الله باندی اوپه اوریدلو دامر اونواهی دالله ﷻ باندی، اوچاچی دجمع سره لمونځو پریښووی نوهغه داسلام دغونډی څخه کښته سو تردی چی توبه ونه کاږی اوچی دعوه وکی په دعوه دجاهلیت باندی نودی به دجهنم په یوه حصه کی پروت وی. وویل سوه چی ای دالله رسوله که څه هم دغه سړی لمونځ کوی اوروژه نیسی نونبی ﷺ وفرمایل چی: که څه هم لمونځ کوی اوروژه نیسی اوځان ته مسلمان هم وایې بیابه هم ورځی، تاسی رابولی مسلمانان په خپلو نومونو سره هغه نومونه چی الله ﷻ په نومولی دی مسلمانان اومومنان بندګان خپل (۱) دارکم نور روایتونه په مختلفو طریقو سره ذکر دی چی دمضمونو څخه جلا جلا دی او

(۱). (۱۴\۲۰۲) الترمذی کتاب الامثال، باب ماجاء فی مثل الصلاة والصیام والصدقه (۵\ ۲۸۲۳).

(c) ketabton.com: The Digital Library



مقصود دې یودی چې کم مخکې موږ بیان کې چې الله ﷻ یحیٰی علیه السلام ته پنځه کلمې ښوولې وې چې په دې باندې خپله هم عمل وکې اوبنی اسرائیلو ته یې هم وښیي ؒ نواکتفاء به په دې یو روایت باندې وکې ولې چې مقصود ددې یوه څخه هم حاصلیږي. دارکم ابن وهب وایې چې یحیی علیه السلام به دومره ژړله، که دده په سترګو باندې پردې وای نوهغه به هم څیرې سوې وای. دارکم ابن مبارك ویلې دي په نقل کولو سره دوهب بن الورد څخه دی وایې چې:
بې درکه سو یحیٰی علیه السلام تردرو ورځو پورې نوپلار یې ورپسې ووتی تردې چې په دښت کې یې پیداکې چې یوقبریې کنبلې وو او ولاړوو په کې اوژړل یې نودې پلاریې ورته وفرمایل چې ای زماځویه زه دې لټوم اوتا دلته ځان ته قبرکنبلې دی اوپه کې ژاړې نوده وفرمایل چې ای پلاره تاماته په خپله ویلې وه چې دجنت او ددوږخ په منځ کې یوه کامیابي ده چې هغه نه پرې کیږي مګر په ژړاګانو سره؟ نودې پلار وته وفرمایل چې وژاړه بچیه. نودواړه په ژړاسوه. دارکم داروایت وهب بن منبه اومجاهد هم نقل کړی دی. دارکم دابن عساکر څخه نقل دی چې ده به دومره ژړل چې دده په مخ باندې یې اوښکو اثرپاته کې.

**سبب دقتل دیحیٰی علیه السلام**

دده دقتل په باره کې ډېر اقوال ذکرسوي دي خومشهوره په کې دادی چې بعضې بادشاهانو ددمشق دده په زمانه کې دخپلو محارمو سره نکاح کول وغوښتل یایې دهغه چا سره واده کول وغوښتل چې دهغه سره واده جائز نه وو، نویحیٰی علیه السلام دغه بادشاه ددې کار څخه منع کې نودغه ښځې چې دبادشاه محرمه وه اودبادشاه سره یې واده کول غوښتل نو دې وویل چې ماته دیحیٰی علیه السلام وینه په هبه کې راکړه نودغه بادشاه خپل یوڅو کسان ولیږل نودیحیٰی علیه السلام سرمبارك یې راوړی اووینه مبارکه یې ورته راوړله، نوویل سوي دي چې دا ښځه هم په دې وخت کې مړه سوه اوویل سوي دي چې لږ وخت وروسته مړه سوه.
اوویل سوي دي چې دبادشاه ښځې یوسړی په محرمو کې خوښ کړی وو اوبیایې یحیٰی علیه السلام دقتل دپاره ولیږی نودغه سړی انکار وکې دقتل څخه، نودې بیاحیله اوچل جوړکې چې بادشاه ته یې وویل چې دده وینه ماته هبه کړه نوبادشاه خپل کسان ولیږل اودې یې قتل کې اوپه یولوښي کې یې ورته سرمبارك اووینه مبارکه دیحیٰی علیه السلام راوړله.
دارکم په یوروایت کې دیعقوب الکوفي دعمربن میمون څخه نقل کوی دی نقل کوی دخپل پلار څخه دی نقل کوی دابن عباس څخه دی وایې: چې کله چې په رسول الله علیه السلام باندې اسراء وسوه یعنی آسمان ته وخیژول سو، نوزکریا علیه السلام یې ولیدی نوپوښتنه یې ځینې وکړه چې ای دیحیٰی علیه السلام والده ته ماخبره کړه په باره دقتل ستاکې چې ته څه رکم قتل سوی او بنی اسرائیلو ولې قتل کړې؟ نوده نبي علیه السلام ته وفرمایل چې: زه تاته خبر درکوم دیحیٰی علیه السلام په باره کې چې یحیٰی علیه السلام دخپلې زمانې ښه سړی وو اودټولو څخه ښه سړی وو لکه مخکې څه

(c) ketabton.com: The Digital Library



رکم چی یې صفات په قرآن کریم کی ذکرسوی دی اودده ښځو ته حاجت نه وو نو دبادشاه دښځی دی خوښ سو، اودغه ښځه باغیه یعنی زناکاره وه نودی په یحیٰی علیه السلام پسی کسان ولیږل چی دده خواته ورسی نویحیٰی علیه السلام ورته انکار وفرمایی اوددی ښځی خواته نه ورلی نوددی درد ورته رالی اودا دیحیٰی دقتل په باره کی په سوچ کی سوه چی ددوی په هر کال کی یواختروو نوپه دی اخترکی دوی ټول په یوځای کی راټولیدل نوپه دغه ورځ بادشاه دی خپلی ښځی ته وویل چی نن ورځ ته زما څخه څه غواړی نوزه به یې درڅخه نه منع کوم نو دی ځینی طلب دوینی دیحیٰی علیه السلام وکی نوبادشاه خپل څه کسان ورولیږل اودی په جماعت کی پرلمانځه ولاړوواوزه ورپسی شاته ولاړوم نودی یې راوغورځوی اوسریې ځینی پریکی اووینه یې ورلره په یولوښی کی واچول اوددی ښځی خواته یې یووړی، نورسول الله ﷺ بیا پوښتنه وفرمایله چی تاته چاصبر درکی په دغه وخت کی نوده وفرمایل چی زه په خپلو نفلونو باندی ولاړوم نوماورلره خپل لمونځ نه خرابوی صرف می ورته په لمانځه کی لږ ډول خیال سو، نوکله یې چی دده سروی وړی اودهغوی مخ ته یې کښېښوده نوالله جل جلاله دشپی مزکه پروچاودل اوټول په کی دننه سوه. نوکله چی سهار سو نوبنی اسرائیلو وویل چی دزکریا رب زکریا علیه السلام ته په درد سوی دی نودوی وویل چی راځی چی موږ دخپل ملك دپاره ددرد اظهار وکو اوزکریا علیه السلام قتل کو نوکله چی دوی په ماپسی راتله نوزه ددوی څخه وتښتیدم نوکله چی ستړی سوم نویوی درختی راته اواز وکی چی زماخوا ته راسه نوزه په هغه درختی کی دننه سوم نوابلیس زما دڅادریو خوا ددرختی څخه وایستله، اوبنی اسرائیل چی کله راله نوابلیس ورته وویل چی آیاتاسی درخته ولیدل چی زکریاؑ دی درختی دننه سو، نودی په خپل جادو سره دغه درختی ته دننه سو. نوابلیس دوی ته مشوره ورکړه چی اره راوړی اوپه اره باندی یې په منځ دوه ځایه کی نواره یې راوړل اوزه یې په اره کړم. نونبی علیه السلام ورته وفرمایل چی: آیا تاڅه درد محسوس کی کله یې چی ته اره کولی، نوده وفرمایل چی الله جل جلاله زماروح په هغه درخته کی اچولی وو. ددی حدیث په سیاق کی غرابت دی اوپه قصه داسراء کی په نورو ځایونو کی دزکریا علیه السلام قصه نسته مګرپه دی روایت کی.

بیا اختلاف سوی دی، په ځای دقتل دیحیٰی علیه السلام کی چی دی په مسجد الاقصیٰ کی وژل سوی دی اوکه نه بناء په دوو قولینو باندی: یوقول دادی چی ثوری یې نقل کوی داعمش څخه دی نقل کوی دشمله بن عطیه څخه دی وایې چی: په هغه ډبری باندی کم چی په بیت المقدس کی پرته ده پرهغه باندی (۷۰) انبیاقتل سوی دی یودهغه څخه یحیٰی بن زکریا علیه السلام دی. دارکم په بل قول کی ذکرسوی دی چی دا ابوعبیده القاسم بن سلام نقل کړی دی دعبد الله بن صالح څخه دی نقل کوی داللیث څخه دی نقل کوی دیحیٰی بن سعید څخه دی نقل کوی دسعید بن المسیب څخه دی وایې چی: بخت نصرچی کله دمشق ته رالی نوهلته دیحیٰی

(c) ketabton.com: The Digital Library



علیه السلام وینی جوش کوی، نوده دخلگو څخه ددی په باره کی پوښتنه وکړه نوخلگو خبر ورلره ورکی، نوددی دوینی دپاره یې (۷۰۰۰۰) کسان قتل کړه نوبیا داوینه ودریده اوجوش یې نه وهی. دااسناد سعید بن المسیب ته صحیح دی، اوتقاضا هم داده چی دی په دمشق کی قتل سوی دی.

دارکم زید بن واقد وایې چی: کله موږ ددمشق جماعت جوړوی نودیحیٰی علیه السلام سرمبارك دیو رکن دجماعت څخه راووتی چی وریښته اوپوستکی هرڅه یې برابر وه، لکه څه رکم چی په بل روایت کی ذکرسوی دی چی داسی ښکاره کیدی لکه چی یو ساعت مخکی قتل سوی وی. دارکم حافظ ابن عساکر دیحیٰی علیه السلام دقتل واقعه په بلی طریقی سره ذکرکړیده چی دهغه په آخره کی هم داذکر سوی دی چی دبادشاه یوه لور وه چی دیحیٰی علیه السلام دیو فتوٰی دوجی یې خپل پلار ته ویلی وه چی دیحیٰی علیه السلام وینه دی ته هبه سی نویحیٰی علیه السلام بیاقتل سو. سعید بن عبدالعزیز ویلی دی چی دده وینه جوش ووهی تردی چی ارمیاعلیه السلام ددی وینی خواته ودریدی اووی فرمایل چی بنی اسرائیل دی ختم کړه اواوس ودریږه نوبیا دغه وینه ودریدله داالله جل جلاله په حکم باندی.

## قصه دعیسٰی بن مریم روح الله علیه السلام

الله جل جلاله په سورة آل عمران کی رد ذکرکړی دی پرنصاراوو باندی، کمو چی داالزام په عیسٰی علیه السلام باندی لګولی وو چی داالله جل جلاله ځوی دی، پاك دی الله جل جلاله ددامی خبرو څخه.

اومخکی موږ ذکرکی چی دنجران یووفد په رسول الله صلی الله علیه وسلم باندی تیرسو نوهغوی په دی ګنده عقیده باندی اخته وو چی عقیده دتثلیث ده (یعنی دوی وایې چی خدایان نعوذ بالله دری دی یوالله جل جلاله بذات خوددی دوهم عیسٰی علیه السلام دی اودریم مریم بیاپه دوی کی نوری فرقی هم سته) نوالله جل جلاله په منځ ددی سورة کی اٰیتونه نازل کړه چی په هغه کی الله جل جلاله دا بیان کړه چی عیسٰی داالله جل جلاله بنده دی اوپیغام رسان دی، الله جل جلاله دده خلقت اوتصویر دمور په رحم کی داسی جوړکړی دی لکه څه رکم چی یې دنوروخلګو خلقت کړی دی اودده خلقت بغیر دپلار څخه سوی دی، ولی چی الله جل جلاله پرده باندی قادردی چی آدم علیه السلام یې دمور او پلار څخه بغیر پیداکی نودی یې بغیر دپلار څخه پیداکی.

اودی داالله جل جلاله په یولفظ چی کُنْ دی په هغه سره پیداسوی دی. دده کیفیت دپیدائش چی داڅه رکم پیداسو اودده مور څه رکم حمل واخستی په دی ټولو باندی به انشاء الله خبری کوو. الله جل جلاله فرمایلی دی اوهغه ربښتنی ویونکی دی: إِنَّ اللهَ اصْطَفَى آدَمَ وَنُوحًا وَآلَ إِبْرَاهِيمَ وَآلَ عِمْرَانَ عَلَى الْعَالَمِينَ (۳۳) ذُرِّيَّةً بَعْضُهَا مِنْ بَعْضٍ وَاللهُ سَمِيعٌ عَلِيمٌ (۳٤) إِذْ قَالَتِ امْرَأَةُ عِمْرَانَ رَبِّ إِنِّي نَذَرْتُ لَكَ مَا فِي بَطْنِي مُحَرَّرًا فَتَقَبَّلْ مِنِّي إِنَّكَ أَنْتَ السَّمِيعُ الْعَلِيمُ (۳۵) فَلَمَّا وَضَعَتْهَا قَالَتْ

(c) ketabton.com: The Digital Library



رَبِّ إِنِّي وَضَعْتُهَا أُنْثَى وَاللهُ أَعْلَمُ بِمَا وَضَعَتْ وَلَيْسَ الذَّكَرُ كَالأُنْثَى وَإِنِّي سَمَّيْتُهَا مَرْيَمَ وَإِنِّي أُعِيذُهَا بِكَ وَذُرِّيَّتَهَا مِنَ الشَّيْطَانِ الرَّجِيمِ (۳۶) فَتَقَبَّلَهَا رَبُّهَا بِقَبُولٍ حَسَنٍ وَأَنْبَتَهَا نَبَاتًا حَسَنًا وَكَفَّلَهَا زَكَرِيَّا كُلَّمَا دَخَلَ عَلَيْهَا زَكَرِيَّا الْمِحْرَابَ وَجَدَ عِنْدَهَا رِزْقًا قَالَ يَا مَرْيَمُ أَنَّى لَكِ هَذَا قَالَتْ هُوَ مِنْ عِنْدِ اللهِ إِنَّ اللهَ يَرْزُقُ مَنْ يَشَاءُ بِغَيْرِ حِسَابٍ (سورة آل عمران ۳۳\۳۷) دلته الله ﷻ دآدم علیه السلام فضیلت بیان کړی دی اوبیایې دهغه په نسل کی دابراهیم علیه السلام دکورنی فضیلت بیان کړی دی نوپه دوی کی اسماعیل علیه السلام هم داخل دی نوبیایې داسماعیل علیه السلام په کورنی کی دعمران علیه السلام کورنی ذکر کړیده اودا دمریمی پلاردی په دی کی یې دابیان کړی دی چی ددوی بهترینه کورنی ده.

محمد بن اسحاق وایې چی دی عمران بن باشم بن امون بن میشا بن حزیقا بن احریق بن رحبعام بن داود علیه السلام دی. اوابو القاسم بن عساکر وایې چی دامریم بنت عمران بن ماثان بن العازر بن الیود بن اختر بن صادوق بن عیازوز بن الیاقیم بن ابیود بن زریابیل بن شالتال بن یوحینا بن برشا بن امون بن میشا بن حزیقا بن احاز بن موثام بن عزریا بن یوران یوشافاط بن ایشا بن ایابن رحبعام بن سلیمان بن داود علیه السلام، اوپه دی دوهم نسب کی مخالفت دی دمحمد بن اسحاق. خوپه دی کی خلاف نسته چی په دواړو سلسلو کی ددواد علیه السلام په اولاد کی راځی، اودا عمران په خپله زمانه کی دبنی اسرائیلو امام وو چی خلګو ته به یې دجمع لمونځونه ورکول، اودده مور حنه بنت فاقود بن قابیل داوه دډیرو عبادتګارو ښځو څخه چی هروخت به یې دالله ﷻ عبادت کوی.

اودعیسی علیه السلام والده محترمه مریم رضی الله عنها داهم دپرهیزګارو ښځو څخه وه چی همیشه به یې لمونځونه اوعبادتونه کول اوبل کاربه یې نه وو. محمد بن اسحاق ویلی دی چی: دمریم والده نه حامله کیدل نویوه ورځ یې یوه مرغی ولیدل چی خپل بچی یې دځان سره روان کړی وو نوبچی ته یې زړه وسو نودالله ﷻ څخه یې دعا وغوښتل اونذر یې وکی که چیری ددی ځوی پیداسی نوهغه به دالله ﷻ دکور دخدمت دپاره وقف وی. نوویل سوی دی چی دا په هغه وخت کی حائضه سوه چی کله دحیض څخه پاکه سوه نوحمل یې واخستی چی حمل دمریم رضی الله عنها وو: فَلَمَّا وَضَعَتْهَا قَالَتْ رَبِّ إِنِّي وَضَعْتُهَا أُنْثَى وَاللهُ أَعْلَمُ بِمَا وَضَعَتْ وَلَيْسَ الذَّكَرُ كَالأُنْثَى، کله یې چی داحمل وزیږوی نودا هلك نه وو نوالله ﷻ ورته وفرمایل چی نه دی نر اولاد په خدمت دبیت المقدس کی تکړه دزنانه طائفی څخه. اوپه دغه زمانه کی به خلګو خپل نر اولاد دبیت المقدس دخدمت دپاره وقف کوی. اوداقول دالله ﷻ (وَانِّي سَمَّيْتُهَا مَرْيَمَ) الله ﷻ فرمایې چی ما نوم هم پرایښی دی چی مریم دی نوپه دی قول دالله ﷻ باندی خلګو دلیل نیولی دی چی نوم په ورځ دپیدائش ایښوول کیږی.

اولکه څه رکم چی په حدیث کی ثابت دی چی کله دانس رضی الله عنه ورور پیدا سو نو نبی ﷺ ته یې

(c) ketabton.com: The Digital Library



وروړی نونبی ﷺ ورته اول په خوله کی خرما واچوله کم چی نبی ﷺ ژوولی وه اوبیایې دعبدالله نوم پرکښیښوو. اوپه بل حدیث کی دنبی ﷺ څخه نقل دی چی فرمایلی دی: هر ماشوم چی پیداسی نودهغه څخه به حلالول کیږی یوه حلاله په اوومه ورځ باندی اووریښته به ځینی پری کول سی اونوم به پر ایښوول سی. اوداقول دالله ﷻ: وَإِنِّي أُعِيذُهَا بِكَ وَذُرِّيَّتَهَا مِنَ الشَّيْطَانِ الرَّجِيمِ، دادلالت کوی په دی خبره باندی چی دا الله ﷻ ځینی قبوله کړیده دبیت المقدس دخدمت دپاره، امام احمد وایی په نقل کولو سره دعبد الرزاق څخه دی نقل کوی دمعمر څخه دی نقل کوی دالزهری څخه دی نقل کوی دالمسیب څخه دی نقل کوی دابو هریره رضی الله عنه څخه چی نبی ﷺ فرمایلی دی: نسته یوماشوم داسی چی هغه پیداسوی وی چی په هغه باندی شیطان لاس نه وی راکښته کړی مګردوه کسان دی مریم اوعیسیٰ علیهما السلام (یعنی مفهوم ددی حدیث داجوړیږی چی هرکله ماشوم پیداسی نوشیطان خپل لاس باندی مسه کی دادوه کسان دی چی په دوی باندی شیطان لاس نه دی مسه کړی) دارکم دنبی ﷺ څخه په اختلاف دراویانو سره نور هم روایتونه ذکردی چی په هغه کی هم داذکر سوی دی چی دشیطان دلاس مسه کولو څخه دادوه کسان چی مریم اوعیسیٰ ﷺ دی دا دواړوه محفوظ سوی دی، دارکم په یوبل روایت کی امام احمد وایې په نقل کولو سره دعبدالملك څخه دی نقل کوی دی دعبدالرحمٰن الخزامی دی نقل کوی دابی الزناد څخه دی نقل کوی دالاعرج څخه دی نقل کوی دابی هریره څخه دی دنبی ﷺ څخه چی فرمایلی دی: هربنی آدم ته شیطان په بغل کی یوه ضربه ورکوی مګرعیسیٰ بن مریمؑ چی ده ته شیطان ضربه ورکوله نوده هسی پردی ته یې ضربه ورکړه اودی ځینی محفوظ دی.

اوداقول دالله ﷻ : فَتَقَبَّلَهَا رَبُّهَا بِقَبُولٍ حَسَنٍ وَأَنْبَتَهَا نَبَاتًا حَسَنًا وَكَفَّلَهَا زَكَرِيَّا، مفسرینوپه دی ځای کی اقوال پیش کړی دی چی کله دی پیداسو نوموریې دی په کپړه کی وپیچی اومسجد الاقصیٰ ته یې ولیږی اوهلته یې هغه عابدانو ته وسپاری کم چی په جماعت کی وه نودی چی کوچنی وو نودوی ټولو ددی په کفالت کی بحث اومباحثه وکړه هریوولی ویل چی دده کفالت به زه کوم نوقرعه اندازی (هسکه\پچه) یې وکړه نو دزکریا ﷺ نوم په کی راووتی نو الله ﷻ فرمایلی دی (وَكَفَّلَهَا زَكَرِيَّا) یعنی په سبب دغالبه کیدلو ددی په قرعه اندازه کی یې کفالت وکی لکه څه رکم چی الله ﷻ فرمایلی دی چی مفهوم یې داسی دی: داخبری دغیبو دی ای نبی ﷺ تاته یې موږ بیانوو اوته په هغه وخت کی ددوی خواته حاضرنه وی کله چی دوی خپل قلمونه ویشتل ددی وجی څخه چی څوك به ددی مریم ﷺ کفالت کوی اوپه دی خبره به یې جګړه په خپلوکی کول. اودا قلمونه یې په داسی طریقی باندی قرعه اندازی ته پیش کړی وه چی هریوه خپل خپل قلم راواخستی اوټول یې په یوځای کی راټول کړه اوپه

(c) ketabton.com: The Digital Library



یوځای کی یې کښېښوول بیایې یوماشوم چی بالغ سوی نه وو هغه یې راوغوښتی اودهغه ماشوم یوقلم ددی قلمونو څخه راواخستی نوهغه قلم دزکریا ؑ وو. نوزکریا ؑ دده دکفالت ذمه وارسو.

الله ﷻ فرمایلی دی: كُلَّمَا دَخَلَ عَلَيْهَا زَكَرِيَّا الْمِحْرَابَ وَجَدَ عِندَهَا رِزْقًا قَالَ يَا مَرْيَمُ أَنَّى لَكِ هَذَا قَالَتْ هُوَ مِنْ عِندِ اللهِ إِنَّ اللهَ يَرْزُقُ مَنْ يَشَاءُ بِغَيْرِ حِسَابٍ، مفسرینو ویلی دی چی زکریا ؑ ددې دپاره په جماعت کی خاص ځای برابرکی چی هغهٔ ځای ته به ددې څخه ماسوا بل څوك نه دننه کیدی، نودغه مریم ؓ به په دغه ځای کی دالله ﷻ عبادت کوی، او دمسجد الاقصٰی خدمت به یې کوی کم چی به ددې په ذمه باندی وو او دورځی اوشپی به یې دومره عبادت کوی چی خلکو به ددې دعبادت مثالونه ورکول لکه څه رکم چی دحاتم طایې مثال خلګ په سخاوت ورکوی، دارکم په عبادت کی بنی اسرائیلو ددی مثال پیش کوی دومره زیات عبادت به یې کوی. اوزکریا ؑ به چی کله ددې خواته راتلی نوددې خوا ته به داسی خوراکونه په نورو کاسوکی پراته وه بغیر دده دکاسو څخه اوداسی خوراکونه وه چی ده ګرسره لیدلی نه وه نو پوښتنه یې وکړه دمریم ؓ څخه چی دارزقونه درته دکم ځای څخه راځی نودی جواب ورکی چی دالله ﷻ دطرفه، ولی چی الله ﷻ بی حسابه روزی ورکوی چاته چی وغواړی. نوپه دغه وخت کی دزکریا ؑ طمع پیداسوه که څه هم په عمر باندی پوخ وو خوبیایې هم طمع دځوی وسوه نودعایې وغوښته دالله ﷻ څخه چی یاالله راکی ماته ښه نسل چی ښه وی ولی چی ته قبلونکی ددعاګانو یې.

بعضو ویلی دی چی ده داسی دعاوکړه: ای رزق ورکونکی ربه مریم ؓ ته دی میوی ورکړیدی بې له خپل موسومه څخه نویا الله ماته هم ځوی راکی که څه هم زما عمر ورته برابر نه دی.

الله ﷻ فرمایلی دی: وَإِذْ قَالَتِ الْمَلَائِكَةُ يَا مَرْيَمُ إِنَّ اللهَ اصْطَفَاكِ وَطَهَّرَكِ وَاصْطَفَاكِ عَلَى نِسَاءِ الْعَالَمِينَ (٤٢) يَا مَرْيَمُ اقْنُتِي لِرَبِّكِ وَاسْجُدِي وَارْكَعِي مَعَ الرَّاكِعِينَ (٤٣) ذَلِكَ مِنْ أَنْبَاءِ الْغَيْبِ نُوحِيهِ إِلَيْكَ وَمَا كُنْتَ لَدَيْهِمْ إِذْ يُلْقُونَ أَقْلَامَهُمْ أَيُّهُمْ يَكْفُلُ مَرْيَمَ وَمَا كُنْتَ لَدَيْهِمْ إِذْ يَخْتَصِمُونَ (٤٤) إِذْ قَالَتِ الْمَلَائِكَةُ يَا مَرْيَمُ إِنَّ اللهَ يُبَشِّرُكِ بِكَلِمَةٍ مِنْهُ اسْمُهُ الْمَسِيحُ عِيسَى ابْنُ مَرْيَمَ وَجِيهًا فِي الدُّنْيَا وَالْآخِرَةِ وَمِنَ الْمُقَرَّبِينَ (٤٥) وَيُكَلِّمُ النَّاسَ فِي الْمَهْدِ وَكَهْلًا وَمِنَ الصَّالِحِينَ (٤٦) قَالَتْ رَبِّ أَنَّى يَكُونُ لِي وَلَدٌ وَلَمْ يَمْسَسْنِي بَشَرٌ قَالَ كَذَلِكِ اللهُ يَخْلُقُ مَا يَشَاءُ إِذَا قَضَى أَمْرًا فَإِنَّمَا يَقُولُ لَهُ كُنْ فَيَكُونُ دلته الله ﷻ دملائکو په واسطه مریم ؑ ته زیری ورکوی چی دادخپل زمانی خوښه سوی ښځه ده په نزد دالله ﷻ باندی اودا زیری یې ورته هم ورکی چی دې ته به الله ﷻ ځوی ورکوی بغیر دپلار څخه چی

(c) ketabton.com: The Digital Library



هغه به نبي وي اوشريف به وي: وَيُكَلِّمُ النَّاسَ فِي الْمَهْدِ يعني دخلگوسره به په زانگوکی خبری کوی اوپه ماشوم والی کی به خلگوته دعوت ورکوی دالله ﷻ خواته اوخلگ به دشرك څخه منع کوی، اوداچی دبوډاتوب په وخت کی به هم خلگو ته دعوت ورکوی دالله ﷻ خوا ته، اودی مريم ﵂ ته په کثرت دعبادتونو باندی اوپه کثرت دذکرباندی امروسو ولی چی ددې کرامت اهل سی اودالله ﷻ شکر اداء کړی، نوويل سوی دی چی دامريم ؓ به په لمانځه باندی ودريدله تردی چی پښی مبارکی به يې په رپيدو سوی، الله ﷻ دی پر ورحميږی او الله ﷻ دی ددې په مور اوپلار باندی هم ورحميږی.

نودا قول دملايکو: يَا مَرْيَمُ إِنَّ اللهَ اصْطَفَاكِ، يعنی ته يې مختاره کړی يې، وَطَهَّرَكِ، يعنی دبدو اخلاقو څخه اوتاته يې غوره صفتونه درکړيدی، وَاصْطَفَاكِ عَلَى نِسَاءِ الْعَالَمِينَ، يعنی دخپلی زمانې پرټولو ښځو باندی، لکه څه رکم چی الله ﷻ موسٰی ﵇ فرمايلی دی: إِنِّي اصْطَفَيْتُكَ عَلَى النَّاسِ، (سورة الاعراف \۱۴۴) اوداقول: وَلَقَدِ اخْتَرْنَاهُمْ عَلَى عِلْمٍ عَلَى الْعَالَمِينَ، يعنی ته يې خوښ کړی يې پرزنانو دټولی دنيا باندی.

لکه څه رکم چی امام بخاری اومسلم اوترمذی دعلی بن ابی طالب څخه نقل کوی دی وايې چی رسول الله ﷻ فرمايلی دی: ښه دښځو (دنصاراوو څخه) مريم ﵇ ده، اوښه ښځه د(ددی امت څخه) خديجه بنت خويلد ﵂ ده، دارکم امام احمد وايې په نقل کولو سره دعبدالرزاق څخه دی نقل کوی دمعمر څخه دی نقل کوی دقتاده څخه دی نقل کوی دانس ﵁ څخه دی وايې چی فرمايلی دی رسول الله ﷺ: کافی دی دښځو دټولو عالم څخه څلور، مريم بنت عمران، آسيه ښځه دفرعون، خديجه بنت خويلد، اوفاطمه بنت محمد ﷺ. دارکم ترمذی هم يو روايت ذکرکړی دی چی په هغه کی هم دغه الفاظ دی اودغه څلور په کی ذکردی چی ښه زنانی دټولی دنيادی.

اوپه يوبل روايت کی ابويعلی الموصلی ويلی دی په نقل کولو سره ديونس بن محمد څخه دی نقل کوی ددواد بن ابی الفرات څخه دی نقل کوی دعلباء بن احمر څخه دی نقل کوی دعکرمه څخه دی نقل کوی دابن عباس څخه دی وايې چی رسول الله ﷺ په مزکه باندی څلور خطونه راکش کړه اوبيايې وفرمايل: تاسی ته معلومه ده چی څه دی؟ نوموږ وويل چی الله ﷻ ته اودهغه رسول ته معلومه ده. نوبيا رسول الله ﷺ وفرمايل: ښه ښځی دجنت څلور دی، يوه خديجه بنت خويلد، فاطمه بنت محمد ﷺ، مريم بنت عمران، اسيه ښځه دفرعون. اودارکم نسايې هم داسی روايت نقل کړی دی دطريقی ددواد بن ابی هند څخه. اودارکم ابن عساکر دطريقی دابی بکر عبدالله بن ابی داود سليمان الاشعث څخه چی په هغه کی هم دمخکنی روايت په شان روايت ذکرسوی دی دارکم په بل روايت کی نبی ﷺ

(c) ketabton.com: The Digital Library



فرمايلي دي چي: فاطمه رضي الله عنها مشره ده دښځو دجنت مگر هغه فضيلت چي دمريم بنت عمران دی هغه دې لره نسته. مقصود داچي داحديث په دی باندی دلالت کوی چي فاطمه رضي الله عنها اومريم بنت عمران په دی څلور واړو کی بهترينی دی. بيا احتمال داستثناء لری چي مريم بنت عمران دفاطمه رضي الله عنها څخه افضله وی اودا احتمال هم لری چي پر ټولو يو ډول فضيلت ولری ليکن په دی باره کی حديث ذکر سوی دی چي نقل يې کوی ابن عساکر دابو الحسين بن الفراء څخه اوابو غالب اودابو عبدالله څخه دوی نقل کوی دابو جعفر بن المسلمه څخه دی نقل کوی دابو طاهر المخلص څخه دی نقل کوی داحمد بن سليمان څخه دی نقل کوی دالزبير څخه دی نقل کوی دمحمد بن الحسن څخه دی نقل کوی دعبدالعزيز بن محمد څخه دی نقل کوی دموسیٰ بن عقبه څخه دی نقل کوی دابن عباس څخه دی وايې چي فرمايلي دی رسول الله ﷺ ښه اوسيده دجنتيانو ښځو مريم بنت عمران ده اوبياورپسی فاطمه رضي الله عنها ده اوبيا ورپسی خديجه رضي الله عنها ده اوبيا ورپسی دفرعون ښځه ده، بيا وروسته ددی هرې يوې فضيلت جلاجلا ذکرسوی دی اودارکم دنبی ﷺ نوری بيبيانی هم سته اوهغوی ټولی هم امهات المومنين دی اودټولو مسلمانانو اودمومنانو مندی دی او دټولو مسلمانانو دزنانو څخه ښه دی. (۱)

اوهرڅه چي ذکر دمريم علیها السلام سو نو دهغې دمرتبی او دفضيلت پته ددی دوو درو روايتونو څخه معلومه سوه ديوه روايت څخه معلومه سوه چي دخپلی زمانی په ښځوکی ښه اوافضله ښځه وه اودارکم دبل روايت څخه دامعلومه سوه چي دابه مشره وی اوسيده به وی په جنت کی دښځو اونور داسی روايتونه ددی دفضيلت په باره کی ذکرسوه. دارکم په دی باب کی دخديجی رضي الله عنها دوفات په باره کی يوڅو روايتونه ذکرسوی دی چي دهغه څخه هم دا معلوميږی چي مريم بنت عمران اوآسيه چي ښځه دفرعون ده دوی به په جنت کی دنبی ﷺ بيبيانی وی، اوپه بل روايت کی نبی ﷺ په خپله بذات خود فرمايلي دی: چي مريم بنت عمران اوآسيه چي ښځه دفرعون ده دوی به زما بيبيانی وی په ورځ دقيامت (يعنی په جنت کی.

## ولادت عيسیٰ علیه السلام

الله جل جلاله فرمايلی دی: وَاذْكُرْ فِي الْكِتَابِ مَرْيَمَ إِذِ انْتَبَذَتْ مِنْ أَهْلِهَا مَكَانًا شَرْقِيًّا (۱۶) فَاتَّخَذَتْ مِنْ دُونِهِمْ حِجَابًا فَأَرْسَلْنَا إِلَيْهَا رُوحَنَا فَتَمَثَّلَ لَهَا بَشَرًا سَوِيًّا (۱۷) قَالَتْ إِنِّي أَعُوذُ بِالرَّحْمَنِ مِنْكَ إِنْ كُنْتَ تَقِيًّا (۱۸) قَالَ إِنَّمَا أَنَا رَسُولُ رَبِّكِ لِأَهَبَ لَكِ غُلَامًا زَكِيًّا (۱۹) قَالَتْ أَنَّى يَكُونُ لِي غُلَامٌ وَلَمْ يَمْسَسْنِي

---

(۱). اوپه دی ځای کی بيادنبی ﷺ دبيبيانو ذکر مصنف کړی دی چي دهغه ددی باب سره څه تعلق نسته. مترجِم

(c) ketabton.com: The Digital Library



بَشَرٌ وَلَمْ أَكُ بَغِيًّا (۲۰) قَالَ كَذَلِكَ قَالَ رَبُّكَ هُوَ عَلَيَّ هَيِّنٌ وَلِنَجْعَلَهُ آيَةً لِلنَّاسِ وَرَحْمَةً مِنَّا وَكَانَ أَمْرًا مَقْضِيًّا (۲۱) فَحَمَلَتْهُ فَانْتَبَذَتْ بِهِ مَكَانًا قَصِيًّا (۲۲) فَأَجَاءَهَا الْمَخَاضُ إِلَى جِذْعِ النَّخْلَةِ قَالَتْ يَا لَيْتَنِي مِتُّ قَبْلَ هَذَا وَكُنْتُ نَسْيًا مَنْسِيًّا (۲۳) فَنَادَاهَا مِنْ تَحْتِهَا أَلَّا تَحْزَنِي قَدْ جَعَلَ رَبُّكِ تَحْتَكِ سَرِيًّا (۲٤) وَهُزِّي إِلَيْكِ بِجِذْعِ النَّخْلَةِ تُسَاقِطْ عَلَيْكِ رُطَبًا جَنِيًّا (۲۵) فَكُلِي وَاشْرَبِي وَقَرِّي عَيْنًا فَإِمَّا تَرَيِنَّ مِنَ الْبَشَرِ أَحَدًا فَقُولِي إِنِّي نَذَرْتُ لِلرَّحْمَنِ صَوْمًا فَلَنْ أُكَلِّمَ الْيَوْمَ إِنْسِيًّا (۲۶) فَأَتَتْ بِهِ قَوْمَهَا تَحْمِلُهُ قَالُوا يَا مَرْيَمُ لَقَدْ جِئْتِ شَيْئًا فَرِيًّا (۲۷) يَا أُخْتَ هَارُونَ مَا كَانَ أَبُوكِ امْرَأَ سَوْءٍ وَمَا كَانَتْ أُمُّكِ بَغِيًّا (۲۸) فَأَشَارَتْ إِلَيْهِ قَالُوا كَيْفَ نُكَلِّمُ مَنْ كَانَ فِي الْمَهْدِ صَبِيًّا، ذکر کړیده الله ﷻ داقصه وروسته دقصی دزکریا ؑ څخه لکه چی هغه ورته توطیه اوتمهید اومقدمه وه لکه څه رکم چی یې په سورة آل عمران کی فرمایلی دی، ددی دواړو سیاق یودی اولکه څه رکم چی الله ﷻ په سورة الانبیاء کی فرمایلی دی: وَزَكَرِيَّا إِذْ نَادَى رَبَّهُ رَبِّ لَا تَذَرْنِي فَرْدًا وَأَنْتَ خَيْرُ الْوَارِثِينَ (۸۹) فَاسْتَجَبْنَا لَهُ وَوَهَبْنَا لَهُ يَحْيَى وَأَصْلَحْنَا لَهُ زَوْجَهُ إِنَّهُمْ كَانُوا يُسَارِعُونَ فِي الْخَيْرَاتِ وَيَدْعُونَنَا رَغَبًا وَرَهَبًا وَكَانُوا لَنَا خَاشِعِينَ (۹۰) وَالَّتِي أَحْصَنَتْ فَرْجَهَا فَنَفَخْنَا فِيهَا مِنْ رُوحِنَا وَجَعَلْنَاهَا وَابْنَهَا آيَةً لِلْعَالَمِينَ، اومخکی بیان سوه چی کله مریم رضی الله عنها خپلی مور دبیت المقدس دخدمت دپاره وقف کړه اوزکریا ؑ دهغې کفالت پرخپله ذمه باندی واخستی اوده وره په جمات کی یوخاص ځای ورته مقرر کی چی دې به په دی کی عبادت اولمونځونه کول اوپه هغه ځای کی ورسره ملائکی خبری وکړی اوزیری یې ورکی په پیدائش دماشوم باندی چی نبی به وی اوپه زانګوکی به دخلګو سره خبری کوی اوخلګوته به دعوت ورکوی دالله ﷻ طرف ته، اوکله چی مریم ؑ بالغه سوه نوپه عبادت کی یې داسی نوم وو چی په بنی اسرائیلو کی داسی سړی نه وو چی ددې په رکم عبادت به یې کوی نوالله ﷻ ورته دزیری څخه وروسته داحکم کړی وو چی په عبادتونو کی اوپه ذکرونو کی اضافه والی وکی ددی وجی څخه چی ددې کرامت اوشرافت مستحقه سی اودالله ﷻ دنعمت شکرهم اداء سی اوالله ﷻ ورته وفرمایل چی داسی ځوی به وی چی نادری معجزی به ورسره وی هغه داچی مړی به راژوندی کوی دالله ﷻ په حکم سره اودبرګی ناجوړیانی به جوړوی، نودامریم رضی الله عنها په تعجب کی سوه چی بغیر دپلار څخه به بچی څه رکم وسی، ولی چی ددی خاوند نه وو نودی ملائکی ورته خبر ورکی چی الله ﷻ په هرڅه باندی قادره دی اوکله چی یوشی ته وایې چی سه نو وسی یعنی دالله ﷻ په یوی کلمی باندی هرحکم سرته رسیږی، نوددی په دی خبروباندی یقین رالی اوالله ﷻ ته تسلیمه سوه اوخپل کارونه یې ټول الله ﷻ ته وسپارل، ولی چی دی ته معلومه وه چی ددی کار څخه وروسته به خلګ ډیری خبری کوی اوداخلګ ښکاره حالاتوته ګوری بغیردسوچ اوفکر

(c) ketabton.com: The Digital Library



څخه (یعنی داسوچ نه کوی چی الله ﷻ په داسی کارونو باندی قادردی ولی چی آدم ؑ یې بی موره اوبی پلاره پیداکی نوعیسیٰ ؑ بی پلاره نه سی پیدا کولی خودا خلګ په دی باره کی سوچ نه کوی اوصرف اسبابو ته ګوری چی اسباب نه وی نویو کارهم نه منی).
اوداوه چی په دوران دحیض کی دمسجد الاقصیٰ څخه یوطرف ته ووته اوداوبو اخستو دپاره به هم وته نویوه ورځ دا یواځی سوه په یوخوا دمسجدالاقصیٰ کی نوجبرایل ؑ ورته الله ﷻ دانسان په شکل باندی راولیږی کله چی دې ولیدی نو وی ویل: زه پناهی غواړم په رحمٰن ذات باندی ستا څخه که ته چیری نیك انسان یې (یعنی که نیك انسان یې نو دمخ څخه لیری سه) ابو العالیه وایې چی: ماته معلومه سوه چی تقی ویل کیږی هغه سړی ته چی دبدو کارونو څخه ځان محفوظ کی.
دارکم په دی ځای کی بنی اسرائیلو ویلی دی چی تقی په بنی اسرائیلو کی یوفاسق انسان وو نوداقول بلا دلیله دی، اوداسی اقوال کول دځان څخه دبدبختو کاردی. نودی جبرایل وفرمایل چی زه دالله ﷻ دخواڅخه تاته پیغام رسان یم (یعنی زه انسان نه یم بلکی ملایکه یم) اوددی دپاره راغلی یم چی ستا دالله ﷻ په حکم تاته ماشوم هبه کم. نودی مریم ؓ وفرمایل چی څه رکم به وی زما دپاره ماشوم اوحال دادی چی ماته یوانسان هم نه دی را نژدی سوی، اونه زه فاحشه یم چی بدکاری می کړی وی نودی ملایکی ورته وویل چی ستا رب وعده کړی وه اوداکار پرالله ﷻ باندی اسانه دی. اودا قول دالله ﷻ (وَلِنَجْعَلَهُ ءَايَةً لِّلنَّاسِ) یعنی الله ﷻ وفرمایل چی دی به موږ نښانه وګرځووپه خپل قدرت باندی دی خلګو ته چی دوی وګوری چی موږ څه رکم مخلوق پیداکوو، لکه څه رکم چی موآدم ؑ بی موره اوبی پلاره پیداکړی دی اوبی بی حوا مو دنارینه څخه پیدا کړیده چی شرکت دزنانه په کی نه وو نودارکم موعیسیٰ ؑ صرف دزنانه څخه پیداکی چی دنارینه شرکت په کی نسته نو داټول په قدرت دالله ﷻ باندی دلالت کوی، اوهغه ذات په هرڅه باندی قادر دی اوداقول دالله ﷻ (وَرَحْمَةً مِّنَّا) یعنی دی به دخلګو دپاره زموږ دخواڅخه رحمت هم وی ولی چی دی به خلګو ته دعوت ورکوی په طرف دعبادت دالله ﷻ اوخلګ به دشرك څخه منع کوی اودی به په وړوکوالی اوپه غټ والی کی خلګو ته دعوت ورکوی اوداقول دالله ﷻ (وَكَانَ أَمْرًا مَّقْضِيًّا) یعنی داکار داسی کاردی چی په دی باندی فیصله سویده اومقرره سویده دالله ﷻ دخوا اودا به ضرور کیږی. نوویل سوی دی چی جبرایل ؑ ددی په ګریوان کی پوه کړه نو دی یودم حمل واخستی لکه څه رکم چی دیوې عامی ښځی سره خاوند کوروالی وکی نو هغه ناڅاپه حمل واخلی دغه رکم حمل یې واخستی. اوویل سوی دی چی په خوله کی یې ورپو کړه نودا پوه روح وو چی ددی په خلی کی یې وکی، نوداقول خلاف دی دسیاق دقرآن

(c) ketabton.com: The Digital Library



څخه اوددغه قصی څخه چی په قرآن کی ذکر سویده اودلته خوعامی ملائکی ته بیا رجوع کیږی اوحال داچی جبریل علیه السلام راغلی وو نوددی وجی څخه یې فرمایلی دی ﴿فَحَمَلَتْهُ﴾ یعنی حمل یې واخستی دماشوم ﴿فَانْتَبَذَتْ بِهِ مَكَانًا قَصِيًّا﴾ اودا ددی وجی چی کله دی مریم رضی الله عنها حمل واخستی نوپه دی باندی مزکه تنګه سوه ولی چی دا دتهمتونو څخه بیریده، اوورته معلومه سوه چی خلګ به هرقسم خبری کوی پردی باندی چی کله دحمل اثرات ښکاره سوه نواول سړی دبنی اسرائیلو چی نوم یې یوسف بن یعقوب النجار وو چی دادمریم رضی الله عنها دترور ځوی وو دی په سخت تعجب کی سو چی سره ددی چی دومره عبادتونه کوی بیایې څه رکم حمل واخستی اوحال داچی خاوند هم نسته، نویوه ورځ ورته رالی اوورته یې وویل چی: ای مریم آیا داسی کښنت سته چی دهغه تخم یادانه نه وی؟ نومریم علیها السلام وفرمایل چی: هو سته، چاپیدا کړی دی په اول وار داکښت. نوبیا ورته دی سړی وویل چی. آیا دپلار څخه بغیر ماشوم وی؟ نومریم وفرمایل چی: هو، چاپیدا کړی دی آدم علیه السلام اوڅه رکم یې بی موره اوبی پلاره پیدا کړی دی. نوبیاده ورته وویله چی ماته الله خبر راکه په دی خپلی خبری سره. نو مریم علیها السلام وفرمایل چی ماته الله جل جلاله زیری راکړی دی: بِكَلِمَةٍ مِنْهُ اسْمُهُ الْمَسِيحُ عِيسَى ابْنُ مَرْيَمَ وَجِيهًا فِي الدُّنْيَا وَالْآخِرَةِ وَمِنَ الْمُقَرَّبِينَ ﴿٤٥﴾ وَيُكَلِّمُ النَّاسَ فِي الْمَهْدِ وَكَهْلًا وَمِنَ الصَّالِحِينَ، اوویل سوی دی چی زکریا علیه السلام هم داسی پوښتنه دمریم رضی الله عنها څخه وکړه نوهغه ته یې هم دارکم جوابونه ورکړی وه.

دارکم السدی یوقول پیش کړی دی په اسناد کولو سره صحابوو ته: چی مریم رض یوه ورځ دخور کورته ورله نودی خورورته وویل چی ماته ځان حامله ښکاری نومریم رض ورته هم وویل چی ماته هم ځان حامله ښکاری نودواړو یوبل ته غاړه ورکړه په دی خبری باندی نوبیا مریم رض وفرمایل چی ماته داسی معلومیږی لکه چی هغه حمل چی زماپه نس کی دی هغه ته چی ستاپه نس کی دی سجده کوی. دلته معنٰی دسجدی تعظیم اواکرام دی.

لکه څه رکم چی دامخکی مورږ بیان کړه چی زمورږ دزمانی څخه مخکی یوبل ته سجدی کول جائز وی خوزمورږ په شریعت کی داحرامی سوی، لکه څه رکم چی ملائکوته الله جل جلاله امرکړی وو چی سجده وکی آدم علیه السلام ته، ابوالقاسم وایې چی مالك ویلی دی: ماته داسی خبره را رسیدلی ده چی عیسٰی اویحیٰی علیهما السلام دواړه دترور ځامن دی، اوبیایې ورپسی دامخکنی قول ذکرکړی دی چی مریم علیها السلام ویلی دی چی ماته داسی معلومیږی چی داستا حمل زما حمل ته سجده کوی. مالك وایې چی په دی کی ماته فضیلت دعیسٰی علیه السلام ښکاری ولی چی هغه به مړی ژوندی کول اودبرګی ناجوړی به یې ښه کوله دالله جل جلاله په حکم سره. راوی ددی ابن ابی حاتم دی. او دمجاهد څخه نقل دی دی وایې چی مریم رض خپل حمل ته وویل چی کله

(c) ketabton.com: The Digital Library



زه یوائې یم نو زماسره خبری کوه اوکله چې دخلګو په منځ کې یم نوپه نس کې دننه ذکر او تسبیح دالله ﷻ کوه. بیا داخبره ظاهره ده چې داحمل یې ترنهو میاشتو پوری وو.
دابن عباس اوعکرمه څخه نقل دی چې حمل یې تراتو میاشتو پوری وو اوبیایې وزیږوی، اوبعضو ویلی دی چې دی په نه ساعتوکی داحمل زیږولی دی ددی قول دوجی: فَحَمَلَتْهُ فَانتَبَذَتْ بِهِ مَكَانًا قَصِيًّا (۲۲) فَأَجَاءَهَا الْمَخَاضُ إِلَى جِذْعِ النَّخْلَةِ خو صحیح داده چې په تعقب سره یې حمل زیږیدلی دی لکه څه رکم چې الله ﷻ فرمایلی دی: ثُمَّ خَلَقْنَا النُّطْفَةَ عَلَقَةً فَخَلَقْنَا الْعَلَقَةَ مُضْغَةً فَخَلَقْنَا الْمُضْغَةَ عِظَامًا فَكَسَوْنَا الْعِظَامَ لَحْمًا ثُمَّ أَنْشَأْنَاهُ خَلْقًا آخَرَ فَتَبَارَكَ اللهُ أَحْسَنُ الْخَالِقِينَ، (سورة المومنون\۱۴) اودامعلومه خبره ده چې په منځ دهرو دوو حالونوکی څلویښت ورځی وی لکه څه رکم چې داخبره دحدیث څخه ثابته سویده.
محمد بن اسحاق ویلی دی چې: په بنی اسرائیلو کی داخبره مشهوره سوه چې داحامله ده، نوپه یوه کور باندی هم ثوك دومره نه دننه کیدی څومره خلګ چې دزکریا ؑ دکور خواته راروان وه. بعضو ویلی دی چې دوی تهمت په یوسف باندی ولګوی کم به چې ددې سره په جمات کې عبادت کوی، نومریم ؓ ددوی څخه لیری ولاړه اویوجلا ځای یې ځان ته ونیوی نودا راله دیوی خرما درختی ته اودهغه لاندی کښېنسته اودایې وویل: قَالَتْ يَا لَيْتَنِي مِتُّ قَبْلَ هَذَا وَكُنْتُ نَسْيًا مَنْسِيًّا، په دی کی دلیل دی په دی خبری باندی چې دفتنو په وخت کی انسان مرګ راغوښتلی سی اودایې ددی وجی څخه وویل چې دې ته معلومه سوه چې دوی په دی باندی تهمت لګوی اوددی خبره یې نه منله اوتصدیق ددی نه کوی بلکې تکذیب به یې کوی دوی په هغه وخت کی چې دا ماشوم ورته راوړی په لاسونو کی، سره ددی چې دا په منځ ددوی کی ډیره عبادتګاره اوپرهیزګاره دښځو وه، نوددی خبری دوجی داپه غم کی سوه نوبیایې تمنا وکړه چې یاددی کار څخه مخکی مړه وای اویا دسره پیداسوی نه وای.
اوداقول: فَنَادَاهَا مِنْ تَحْتِهَا، په دی کی دوه اقوال دی چې دا اواز چا ورته وکی یوقول دادی چې جبریل ؑ وکی اوبل قول داچې عیسٰی ؑ وکی خواولنی قول ښه دی ولی چې عیسٰی ؑ دقوم په مخکی اول وار خبری کړی وی اوددغه څخه مخکی یې خبری نه وی کړی. أَلَّا تَحْزَنِي قَدْ جَعَلَ رَبُّكِ تَحْتَكِ سَرِيًّا ویل سوی دی چې دانهر وو چې دده خواته روان وو لکه څه رکم چې داقول دجمهورو دی. اوپه حدیث کی دطبرانی څخه روایت نقل دی خوضعیف روایت دی اوابن جریر خوښ کړی دی اوالربیع بن اسلم اوداسی نوروهم ویلی دی چې دایې ځوی عیسٰی ؑ دی، خواولنی قول صحیح دی: وَهُزِّي إِلَيْكِ بِجِذْعِ النَّخْلَةِ تُسَاقِطْ عَلَيْكِ رُطَبًا جَنِيًّا، دلته یې دخوراك اوڅښاك ذکرسوی دی نوددی وجی یې ورته فرمایلی دی: فَكُلِي

وَاشْرَبِي وَقَرِّي عَيْنًا، بیاویل سوی دی چی څه رکم دادرختی وچی وی. اوداهم ویل سوی دی چی لندی وی اوخرما په کی وه، اوپه دغه وخت کی یخ وو نودخرماموسم وو اودا ددی قول دالله ﷻ څخه هم معلومیږی: تُسَاقِطْ عَلَيْكِ رُطَبًا جَنِيًّا، عمر بن میمون ویلی دی چی دحاملی ښځی دپاره دخرما څخه بل ښه شی نسته اوبیایې دا اٰیت ویلی دی. اودارکم ابن ابی حاتم ویلی دی په نقل کولو سره دعلی بن الحسین څخه دی نقل کوی دشیبان څخه دی نقل کوی دمسرور بن سعید التمیمی څخه دی نقل کوی دعبدالرحمٰن بن عمر الاوزاعی څخه دی نقل کوی دعروه بن رویم څخه دی نقل کوی دعلی بن ابی طالب رضي الله عنه څخه دی وایی چی رسول الله ﷺ فرمایلی دی: تاسی دخپل عمه (چی خرما ده) ددی اکرام کوی ولی چی داهم دخاوری څخه جوړه سویده لکه څه رکم چی آدم عليه السلام دخاورو څخه پیدا دی، اودارکم په بل روایت کی رسول الله ﷺ فرمایلی دی چی: تاسی خپل حامله دارو ښځو ته خرما ورکوی اوکه خرمانه وی نوبیا جواری ورکوی، ولی چی دالله ﷻ په نزد ددی څخه ښه شی نسته ولی چی ددی لاندی مریم رضي الله عنها ناسته وه اودارکم نور روایتونه هم ذکردی په مختلفو اقوالو سره. اوداقول دالله ﷻ : فَإِمَّا تَرَيِنَّ مِنَ الْبَشَرِ أَحَدًا فَقُولِي إِنِّي نَذَرْتُ لِلرَّحْمَنِ صَوْمًا فَلَنْ أُكَلِّمَ الْيَوْمَ إِنْسِيًّا، داهغه کلام دهغه مخکنی اواز کونکی دی، یعنی دغه اواز کونکی ورته وویل چی ته خوراك کوه اوڅښاك کوه که چیری ستا سره دانسانانو څخه یوسړی ووینی نوورته ووایه چی نن ورځ زما روژه ده په اشاری سره نه په خبرو سره، اودهغه په شریعت کی به چی دچا روژه وه نوهغه به خوراك هم نه کوی اوخبری به یې هم نه کولی.

اوپه دی باندی داقول دلالت کوی: فَلَنْ أُكَلِّمَ الْيَوْمَ إِنْسِيًّا، اوهرڅه چی زموږ په شریعت کی دی نویوه ورځ ترشپی پوری خاموشی ښه نه ده. اوداقول دالله ﷻ : فَأَتَتْ بِهِ قَوْمَهَا تَحْمِلُهُ قَالُوا يَا مَرْيَمُ لَقَدْ جِئْتِ شَيْئًا فَرِيًّا (۲۷) يَا أُخْتَ هَارُونَ مَا كَانَ أَبُوكِ امْرَأَ سَوْءٍ وَمَا كَانَتْ أُمُّكِ بَغِيًّا، اسلافو ویلی دی چی کله مریم رضي الله عنها ددوی دمنځه ولاړه نودوی ورپسی دلټولو دپاره ووته نوچی ګوری دخرما ددرختی لاندی ناسته ده اوشاوخوا ورته ړناګانی دی اوخوراکونه دی نودوی چی کله ورته راتږدی سوه نوماشوم یې ورسره ولیدی نوورته یې وویل چی په ډیر یوغټ کاردی راتګ کړی دی. په دی قول کی نظردی، سره ددی چی کیدی سی چی ددی په سرکی اوپه آخره کی څه کلام ناقص وی ولی چی داخو دظاهر دقصی څخه کم چی په قرآن کی ذکر ده دهغه څخه خلاف دی ولی چی په قرآن کریم کی ذکر سویدی چی دی په خپله داماشوم ددی قوم خواته راوړی، اودایې وروسته دڅلویښتو ورځو دپیدائش څخه راوړی. مقصود داچی کله ورسری خپلو کسانو داماشوم ولیدی نوورته یې وویل چی په ډیر یوغټ کار

(c) ketabton.com: The Digital Library



باندی دی راتګ کړی دی. بیایې ورته ویلی دی چی (یَاُخْتَ هٰرُوْنَ) داخور دهارون ورته ځکه ویل سوی دی چی دادهارون سره په عبادت کی مشابه وه. اوویل سوی دی چی داهارون ورور دموسٰی ﷺ مراددی هغه به هم ډیر عبادتونه کول نودی هم ډیر عبادتونه کول نوځکه یې ورته خور دهارون ویلی دی. اومحمد بن کعب القرظی ویلی دی چی داخور دموسٰی ﷺ اوهارون ﷺ وه خوداخبره بالکل غلطه ده ولی چی ددوی په مینځ کی دزرګونو کلنو فاصله او موده ده. بیاپه دی (یَاُخْتَ هٰرُوْنَ) کی ډیر اقوال اوخبری ذکرسوی دی چی دایې ورته ولی ویلی دی اودا واقعی دهارون ﷺ خورده اوکه نه؟ اودهارون څخه کم هارون مراددی خو په هرحال داخور دموسٰی ﷺ اودهارون ﷺ نه وه بلکی داقول صحیح دی چی ورسره په عبادت کی یوډول وه نوځکه یې ورته اخت هارون ویلی دی. نودوی ورته وویل چی: مَا كَانَ أَبُوكِ امْرَأَ سَوْءٍ وَمَا كَانَتْ أُمُّكِ بَغِيًّا، یعنی دوی ورته وویل چی ستا پلار خوداسی سړی نه وو اونه ستامور داسی باغیه اوفاحشه وه.
دارکم ابن جریر په تاریخ خپل کی ویلی دی چی دوی داتهمت په زکریا ﷺ باندی ولګوی ولی چی هغه به ورتلی اوډوډی اواسباب به یې وروړل نودوی دزکریا ﷺ قتل وغوښتی نو زکریا ﷺ ددوی څخه وتښتیدی تردی چی یوه درخته ورته څیری سوه نوپه هغه کی دننه سو نودوی ورپسی راله اوهغه درخته یې اره کړه نودی یې په منځ کی هم ورسره اره کی او بعضو منافقینو ددې داکا پرزوی باندی تهمت لګولی وو نوکله چی داډیره تنګه سوه اوبله چاره نه وه نودهغه ماشوم یعنی عیسٰی ﷺ خواته یې اشاره وکړه. نودوی وویل: قَالُوا كَيْفَ نُكَلِّمُ مَنْ كَانَ فِي الْمَهْدِ صَبِيًّا، مورِ به څه رکم خبری وکو دهغه چاسره چی هغه په زانګو کی پروت وی اوحال دادی چی ماشوم په څه پوهیږی اوخبری هم نه سی کولی اودی مریم رضي الله عنها ته یې وویل چی ته اوس بهانه کوی مورِ ته ددی خبری چی زمورِ دماشوم خوا ته خیال سی اوته به څه حیله جوړه کړی نوپه دغه وخت کی عیسٰی ﷺ دزانګو څخه خبری شروع کړی:
قَالَ إِنِّي عَبْدُ اللهِ آتَانِيَ الْكِتَابَ وَجَعَلَنِي نَبِيًّا (۳۰) وَجَعَلَنِي مُبَارَكًا أَيْنَ مَا كُنْتُ وَأَوْصَانِي بِالصَّلَاةِ وَالزَّكَاةِ مَا دُمْتُ حَيًّا (۳۱) وَبَرًّا بِوَالِدَتِي وَلَمْ يَجْعَلْنِي جَبَّارًا شَقِيًّا (۳۲) وَالسَّلَامُ عَلَيَّ يَوْمَ وُلِدْتُ وَيَوْمَ أَمُوتُ وَيَوْمَ أُبْعَثُ حَيًّا، دا اولنی خبری وی چی عیسٰی ﷺ وکړی په زانګوکی اوداسی دپوهی خبری یې وکړی چی ټول کسان ورته حیران سوه، ولی چی ده وویل چی زه ده الله جل جلاله بنده یم اوماته کتاب راکول سوی دی اوزه نبی مقررسوی یم اوزه مبارك ګرځول سوی یم اوماته وصیت سوی دی په لمانځه باندی اوپه زکات باندی، اوبیایې دخپل مور براءت ذکرکی دهغه خبروڅخه چی جاهلانو ورپسی کړی وی په دی قول چی: آتَانِيَ الْكِتَابَ وَجَعَلَنِي نَبِيًّا، ولی

(c) ketabton.com: The Digital Library



چې الله ﷻ هغه چاته خپل نبوت نه ورکوي کم چې په هغه صورت پیداسوی وي چې ددوی ګمان پروو، لکه څه رکم چې الله ﷻ فرمایلی دی (وَبِكُفْرِهِمْ وَقَوْلِهِمْ عَلَى مَرْيَمَ بُهْتَانًا عَظِيمًا) اوداپه دې صورت باندې چې په دغه وخت کې دیهودیانو یوه ډله وه چې هغوی به دغه تور په مریم ﷺ باندې لګوی چې داحمل (نعوذبالله) دزنا څخه دی، په دوی باندې دی الله ﷻ لعنت وکی په هغه آیت کې اودمریم ﷺ پاکي یې بیان کړه چې داداسې ښځه نه ده. دارکم عیسٰی ﷺ دغو کسانو ته دخپل نورو خصوصیاتوبیان هم وکی چې زه مبارك ګرځول سوی یم یعني په داسې طریقې مبارك ګرځول سوی دی چې دی به دعوت کوی دالله ﷻ خواته او خپل قوم به یې دشرك څخه منع کوی، اوبل مبارك په دې وجې باندې هم دی چې ده دخپلې مور پاکې په کوچنیوالی کې بیان کړی وه، اوبل داچې ده ته امرسوی وو دلمانځه اودزکات اودا امرونه الله ﷻ مبارك کسانو ته کوی. اوبل عیسٰی دابیان هم وکی چې ماته امر سوی دی په نیکی کولو دخپل مور سره (دلته په دې آیت کې الله ﷻ دووالده لفظ ذکرکړی دی دا ددې دوجې چې خلګو ته داصراحتًا معلومه سوه چې دده والد یعنې پلار نسته) اودا قول دالله ﷻ : وَالسَّلَامُ عَلَيَّ يَوْمَ وُلِدْتُ وَيَوْمَ أَمُوتُ وَيَوْمَ أُبْعَثُ حَيًّا داهغه دری غټ نعمتونه دی دالله ﷻ دطرفه کم چې دیحیٰی ﷺ دپاره هم ذکرسوی دی (ددې بیان مور مخکې کړی دی).

بیا الله ﷻ دعیسٰی ﷺ جلیت اومدحه کړیده اودده په باره کې وضاحت کړی دی: ذَلِكَ عِيسَى ابْنُ مَرْيَمَ قَوْلَ الْحَقِّ الَّذِي فِيهِ يَمْتَرُونَ (٣٤) مَا كَانَ لِلَّهِ أَنْ يَتَّخِذَ مِنْ وَلَدٍ سُبْحَانَهُ إِذَا قَضَى أَمْرًا فَإِنَّمَا يَقُولُ لَهُ كُنْ فَيَكُونُ، لکه څرنګه چې الله ﷻ دده په باره کې وروسته دبیان دقصې دسورة آل عمران څخه ویلي دي: ذَلِكَ نَتْلُوهُ عَلَيْكَ مِنَ الْآيَاتِ وَالذِّكْرِ الْحَكِيمِ (٥٨) إِنَّ مَثَلَ عِيسَى عِنْدَ اللهِ كَمَثَلِ آدَمَ خَلَقَهُ مِنْ تُرَابٍ ثُمَّ قَالَ لَهُ كُنْ فَيَكُونُ (٥٩) الْحَقُّ مِنْ رَبِّكَ فَلَا تَكُنْ مِنَ الْمُمْتَرِينَ (٦٠) فَمَنْ حَاجَّكَ فِيهِ مِنْ بَعْدِ مَا جَاءَكَ مِنَ الْعِلْمِ فَقُلْ تَعَالَوْا نَدْعُ أَبْنَاءَنَا وَأَبْنَاءَكُمْ وَنِسَاءَنَا وَنِسَاءَكُمْ وَأَنْفُسَنَا وَأَنْفُسَكُمْ ثُمَّ نَبْتَهِلْ فَنَجْعَلْ لَعْنَةَ اللهِ عَلَى الْكَاذِبِينَ (٦١) إِنَّ هَذَا لَهُوَ الْقَصَصُ الْحَقُّ وَمَا مِنْ إِلَهٍ إِلَّا اللهُ وَإِنَّ اللهَ لَهُوَ الْعَزِيزُ الْحَكِيمُ (٦٢) فَإِنْ تَوَلَّوْا فَإِنَّ اللهَ عَلِيمٌ بِالْمُفْسِدِينَ، (سورة آل عمران (۵۸ \ ۲۳)

داپه هغه وخت کې کله چې وفد دنجران والاوو رالې چې هغوی (۲۰) کسان سپاره وه په خپلوسپرلیو باندې چې ددوی امیران څوارلس کسان وه اوبیاپه دوی کې دری مشران ټاکل سوی وه چې دوی مناظره کوله په باره دعیسٰی ﷺ کې نوالله ﷻ دآل عمران منځنی آیتونه نازل کړه اوپه هغه کې یې دپیدائش دعیسٰی اودهغه دموربیان وکی. اوخپل رسول ته یې امر وکی چې مباهله ورسره وکړه (دمباهلې مطلب دادی چې دوه کسان په خپلو کې په یوې خبرې باندې لانجه وکی یووایې چې زه په حق یم اوبل وایې چې زه په حق یم نودواړه یوه

(c) ketabton.com: The Digital Library



دښت ته ووزی اویوپه بل پسی ښراوکی چی کم یوپه غلط وی الله ﷻ دی هغه هلاك کړی) نوکله چی ورته نبی ﷺ دمباهلی وویل نودوی سرونه کښته کړه اومنع سوه دمباهلی څخه بالاخر دوی بیرته ولاړه ددوی په باره کی اوږده قصه ده چی هغه په تفسیر دسورة آل عمران کی بیان سوی ده. مقصود داچی الله ﷻ دعیسیٰ ؑ په باره کی خپل نبی ته خبر ورکی چی دی حق کلمه ده دالله ﷻ دخوا اوددی وجی څخه یې داهم فرمایلی دی: مَا كَانَ لِلّٰهِ أَنْ يَتَّخِذَ مِنْ وَلَدٍ سُبْحَانَهُ إِذَا قَضَى أَمْرًا فَإِنَّمَا يَقُولُ لَهُ كُنْ فَيَكُونُ، اوداقول دالله ﷻ : وَإِنَّ اللّٰهَ رَبِّي وَرَبُّكُمْ فَاعْبُدُوهُ هٰذَا صِرَاطٌ مُسْتَقِيمٌ، داپوره والی دخبری عیسیٰ ؑ وو په زانګوکی، دوی ته یې دا خبر ورکی چی الله ﷻ دده رب هم دی اوددوی رب هم دی اودالاره سیده لاره ده. الله ﷻ فرمایلی دی: فَاخْتَلَفَ الْأَحْزَابُ مِنْ بَيْنِهِمْ فَوَيْلٌ لِلَّذِينَ كَفَرُوا مِنْ مَشْهَدِ يَوْمٍ عَظِيمٍ، نوخلګ ددغه زمانی په اختلاف کی واقع سوه کم چی یهودیان دهغه زمانی وه نوهغوی په دی خبره باندی ولاړ وه چی دی دغلطی لاری څخه پیدادی. اوبعضو داوویل چی دی په خپله (نعوذ بالله) الله دی اورب دی. بعضو داوویل چی دی ځوی دالله ﷻ دی، اومومنانو وویل چی دی دالله ﷻ پیغمبردی اودهغه رسول دی، نوڅوك چی په دی عقیدی وی چی دی دالله ﷻ پیغمبر دی اودهغه بنده دی اودمریم ؓ ځوی دی چی دالله ﷻ په یوه کلمه دکُنْ سره پیدا سوی دی نودا خلګ نجات پیداکونکی دی اوڅوك چی ددی خبری څخه خلاف کوی نوهغه کافران او ګمراهان اوضدیان دی، پس داسی خلګوته الله ﷻ وعده ورکړیده ددی خبری: فَاخْتَلَفَ الْأَحْزَابُ مِنْ بَيْنِهِمْ فَوَيْلٌ لِلَّذِينَ كَفَرُوا مِنْ مَشْهَدِ يَوْمٍ عَظِيمٍ، امام بخاری ویلی دی په نقل کولو سره دصدقه بن الفضل څخه دی وایې چی ماته خبر راکړی دی الولید دی نقل کوی دالاوزاعی څخه دی نقل کوی دعمیر بن هانی څخه دی نقل کوی دجناده بن ابی امیه څخه دی نقل کوی دعباده بن الصامت څخه دی نقل کوی دنبی ﷺ څخه چی فرمایلی یې دی: چا چی شاهدی اداکړه ددی خبری چی نسته لائق دعبادت ماسوا دالله ﷻ اودهغه شریك نسته، اوداشاهدی یې هم اداکړه چی محمد ﷺ دالله ﷻ رسول دی اودهغه بنده دی اوعیسیٰ دالله ﷻ رسول دی اودهغه بنده دی اویوه کلمه ده دالله ﷻ چی مریم ؑ ته یې ورکړی وه، اودا ددی خبری تصدیق یې وکی چی جنت حق دی اواور دجهنم حق دی، الله ﷻ به یې جنت ته داخل کی، ولی چی په دی خبرو باندی یې عمل کړی دی. ولید نقل کوی دعبدالرحمٰن څخه دی نقل کوی دعمیر څخه دی نقل کوی دجناده بن وزاد څخه ده په کی دازیات کړی دی چی الله ﷻ به ورله دجنت اته واړه دروازی خلاصی کړی نوچی په کمه دروازه یې خوښه وی په هغه باندی به جنت ته دننه کیږی). دارکم ددی روایت نورو هم کړی دی لکه مسلم سو په بله طریقی سره چی مفهوم یې یوډول دی ددی حدیث سره.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## بیان ددی خبری چی الله ﷻ داولاد څخه منزه دی

الله ﷻ په سورة مریم کی فرمایلی دی: وَقَالُوا اتَّخَذَ الرَّحْمَنُ وَلَدًا (٨٨) لَقَدْ جِئْتُمْ شَيْئًا إِدًّا (٨٩) تَكَادُ السَّمَوَاتُ يَتَفَطَّرْنَ مِنْهُ وَتَنْشَقُّ الْأَرْضُ وَتَخِرُّ الْجِبَالُ هَدًّا (٩٠) أَنْ دَعَوْا لِلرَّحْمَنِ وَلَدًا (٩١) وَمَا يَنْبَغِي لِلرَّحْمَنِ أَنْ يَتَّخِذَ وَلَدًا (٩٢) إِنْ كُلُّ مَنْ فِي السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضِ إِلَّا آتِي الرَّحْمَنِ عَبْدًا (٩٣) لَقَدْ أَحْصَاهُمْ وَعَدَّهُمْ عَدًّا (٩٤) وَكُلُّهُمْ آتِيهِ يَوْمَ الْقِيَامَةِ فَرْدًا. (سورة مریم ۸۸\ ۹۵)

الله ﷻ په دی اٰیتونو کی خپله پاکی داولاد څخه بیان کړیده چی دالله ﷻ اولاد نسته اوالله ﷻ ده ته حاجت هم نه لری، ولی چی الله ﷻ مالك دټولی دنیادی اومالك دټولو مخلوقاتو دی هغه برابره ده چی انسانان دی اوکه حیوانان دی اوکه مرغان دی اوکه جنات دی اوکه نور څه دی ددوی ټولو خالق مالك اورازق صرف یوهغه ذات دی چی وحده لاشریك له ذات دی اودغه ذات دټولو پالونکی دی داسی پالونکی دی چی داسی پالونکی بل نسته اوهغه ذات ته عاجزه دی هغه ټول مخلوقات چی په مزکه کی اوسیږی، لکه څه رکم چی الله ﷻ فرمایلی دی: وَجَعَلُوا لِلَّهِ شُرَكَاءَ الْجِنَّ وَخَلَقَهُمْ وَخَرَقُوا لَهُ بَنِينَ وَبَنَاتٍ بِغَيْرِ عِلْمٍ سُبْحَانَهُ وَتَعَالَى عَمَّا يَصِفُونَ (١٠٠) بَدِيعُ السَّمَاوَاتِ وَالأَرْضِ أَنَّى يَكُونُ لَهُ وَلَدٌ وَلَمْ تَكُنْ لَهُ صَاحِبَةٌ وَخَلَقَ كُلَّ شَيْءٍ وَهُوَ بِكُلِّ شَيْءٍ عَلِيمٌ (١٠١) ذَلِكُمُ اللهُ رَبُّكُمْ لَا إِلَهَ إِلَّا هُوَ خَالِقُ كُلِّ شَيْءٍ فَاعْبُدُوهُ وَهُوَ عَلَى كُلِّ شَيْءٍ وَكِيلٌ (١٠٢) لا تُدْرِكُهُ الأَبْصَارُ وَهُوَ يُدْرِكُ الأَبْصَارَ وَهُوَ اللَّطِيفُ الْخَبِيرُ، (سورة الانعام (١٠٠\١٠٣)

نوالله ﷻ په دی اٰیتونو کی دابیان کړی دی چی الله ﷻ پیداکونکی ددی ټولو مخلوقاتو دی نوڅه رکم به وی دهغه دپاره بچی؟ اوبچی نه وی مګرپه یوصورت کی، هغه داچی په دوو کسانو کی څه مشابهت وی یاڅه مناسبت وی اومور مخکی هم داذکر کړه چی الله ﷻ وحده لاشریك له ذات دی داسی ذات دی چی دهغه مشابه نسته اونه دهغه نظیر سته. اونه دهغه ځوی سته اونه یې هم منصب سته دهرقسم شرکت څخه الله ﷻ بری دی، لکه څه رکم چی الله ﷻ په خپل عزیز کتاب کی فرمایلی دی: قُلْ هُوَ اللهُ أَحَدٌ (١) اللهُ الصَّمَدُ (٢) لَمْ يَلِدْ وَلَمْ يُولَدْ (٣) وَلَمْ يَكُنْ لَهُ كُفُوًا أَحَدٌ (سورة الاخلاص ۱\ ۴) دلته الله ﷻ ښکاره بیان کړی دی دخپل ذات په باره کی چی داسی ذات دی چی نظیر یې نسته نه په ذات کی اونه په صفاتو کی اونه په کارونو کی (اَلصَّمَدُ) بی نیازه ذات دی چاته یې هم ضرورت نسته اوکامل دی په خپلو حکمتونوکی اوپه رحمت کی اوپه علم کی اوکامل مکمل دی په خپلو صفاتو کی (لَمْ يَلِدْ) نه ورله زوی سته (وَلَمْ يُولَدْ) اونه مخکی دهغه څخه چاڅه زیږولی دی یعنی دچا څخه پیدانه دی، وَلَمْ يَكُنْ لَهُ كُفُوًا أَحَدٌ، اونه ورلره برابر سته په ذات کی اونه په صفاتو کی اونه په کارونو کی خلاصه داچی نسته خوك دهغه نظیر اومشابه په هیڅ طریقه سره.

(c) ketabton.com: The Digital Library



داركم الله ﷻ فرمايلى دى: يَا أَهْلَ الْكِتَابِ لَا تَغْلُوا فِي دِينِكُمْ وَلَا تَقُولُوا عَلَى اللهِ إِلَّا الْحَقَّ إِنَّمَا الْمَسِيحُ عِيسَى ابْنُ مَرْيَمَ رَسُولُ اللهِ وَكَلِمَتُهُ أَلْقَاهَا إِلَى مَرْيَمَ وَرُوحٌ مِنْهُ فَآمِنُوا بِاللهِ وَرُسُلِهِ وَلَا تَقُولُوا ثَلَاثَةٌ انْتَهُوا خَيْرًا لَكُمْ إِنَّمَا اللهُ إِلَهٌ وَاحِدٌ سُبْحَانَهُ أَنْ يَكُونَ لَهُ وَلَدٌ لَهُ مَا فِي السَّمَاوَاتِ وَمَا فِي الْأَرْضِ وَكَفَى بِاللهِ وَكِيلًا (١٧١) لَنْ يَسْتَنْكِفَ الْمَسِيحُ أَنْ يَكُونَ عَبْدًا لِلَّهِ وَلَا الْمَلَائِكَةُ الْمُقَرَّبُونَ وَمَنْ يَسْتَنْكِفْ عَنْ عِبَادَتِهِ وَيَسْتَكْبِرْ فَسَيَحْشُرُهُمْ إِلَيْهِ جَمِيعًا (١٧٢) فَأَمَّا الَّذِينَ آمَنُوا وَعَمِلُوا الصَّالِحَاتِ فَيُوَفِّيهِمْ أُجُورَهُمْ وَيَزِيدُهُمْ مِنْ فَضْلِهِ وَأَمَّا الَّذِينَ اسْتَنْكَفُوا وَاسْتَكْبَرُوا فَيُعَذِّبُهُمْ عَذَابًا أَلِيمًا وَلَا يَجِدُونَ لَهُمْ مِنْ دُونِ اللهِ وَلِيًّا وَلَا نَصِيرًا، (سورة النساء ۱۷\ ۱۷۳) په دى اٰيتونو كى الله ﷻ اهل كتابو ته خطاب كوى چى ددى خپلو كارونو څخه منع سى هغه داچى ددوى به داعقيده ساتله چى عيسىٰ ؑ دالله ﷻ ځوى دى نوالله ﷻ دوى ته هغه ټوله قصه ذكركړه كم چى مخكى مونږ بيان كړه چى جبرايل ؑ رالى اودمريم ؓ په ګريوان كى يې پوه كړه نودهغه څخه هغې حمل واخستى اوعيسىٰ ؑ ورڅخه پيداسو اوالله ﷻ (روح الله) دوجى دتكريم اوشرافت څخه ورته وايى لكه څه ركم چى الله ﷻ په بعضى ځايونو كى (بيت الله عبدالله) ويلى دى نودارکم ده ته يې روح الله ويلى دى دوجى دعزت اواكرام اوشرافت څخه اوكلمه يې ورته ځكه ويلى ده چى دى دالله په يوى كلمى سره پيداسوى دى چى هغه د(كُنْ) لفظ دى، لكه څه ركم چى الله ﷻ په بل ځاى كى فرمايلى دى: إِنَّ مَثَلَ عِيسَى عِنْدَ اللهِ كَمَثَلِ آدَمَ خَلَقَهُ مِنْ تُرَابٍ ثُمَّ قَالَ لَهُ كُنْ فَيَكُونُ، اودارنګه يې په بل ځاى كى فرمايلى دى: وَقَالُوا اتَّخَذَ اللهُ وَلَدًا سُبْحَانَهُ بَلْ لَهُ مَا فِي السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضِ كُلٌّ لَهُ قَانِتُونَ (١١٦) بَدِيعُ السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضِ وَإِذَا قَضَى أَمْرًا فَإِنَّمَا يَقُولُ لَهُ كُنْ فَيَكُونُ (سورة البقره ۱۱۲\ ۱۱۷) اوداركم الله ﷻ په بل ځاى كى فرمايلى دى: وَقَالَتِ الْيَهُودُ عُزَيْرٌ ابْنُ اللهِ وَقَالَتِ النَّصَارَى الْمَسِيحُ ابْنُ اللهِ ذَلِكَ قَوْلُهُمْ بِأَفْوَاهِهِمْ يُضَاهِئُونَ قَوْلَ الَّذِينَ كَفَرُوا مِنْ قَبْلُ قَاتَلَهُمُ اللهُ أَنَّى يُؤْفَكُونَ، (سورة التوبه \۳۰) نوالله ﷻ خبر وركوى په دى اٰيتونو كى ديهوديانو اودنصارىٰ څخه چى دادوو ډلو هرى يوې په الله ﷻ پسى هرڅه وويل چى دايې ځوى دى، خوالله ﷻ ددى خبرو څخه مستغنى ذات دى اوددوى داګمان وو چى عيسىٰ ؑ دالله ﷻ ځوى دى، لكه څه ركم چى بعضو ډلو دعربو داويلى وه چى داملائكى دالله ﷻ لوڼى دى او الله ﷻ ځان ته دپيريانو مشران خسران كړى وه نودهغوى څخه داملايكى پيداسوى، داڅومره غلط قول دى دالله ﷻ په باره كى چى دانسان شعور اوعقل هم داخبره نه منى او پاته داچى داسى خبرى دالله ﷻ په باره كى وويل سى، ډيردردناك عذاب دى دهغه چاد پاره چى دپاك ذات په باره كى داسى خيالات اوګمانونه كوى چى دټول عالم اومخلوقاتو پيدا

(c) ketabton.com: The Digital Library



کونکی دی اوهغه ذات ته به دتهولو انسانانو واپسی وی، لکه څه رکم الله ﷻ فرمایلی دی: وَجَعَلُوا الْمَلَائِكَةَ الَّذِينَ هُمْ عِبَادُ الرَّحْمَنِ إِنَاثًا أَشَهِدُوا خَلْقَهُمْ سَتُكْتَبُ شَهَادَتُهُمْ وَيُسْأَلُونَ. (سورة الزخرف \ ۱۹) دارکم الله ﷻ په بل ځای کی فرمایلی دی: فَاسْتَفْتِهِمْ أَلِرَبِّكَ الْبَنَاتُ وَلَهُمُ الْبَنُونَ (۱٤۹) أَمْ خَلَقْنَا الْمَلَائِكَةَ إِنَاثًا وَهُمْ شَاهِدُونَ (۱٥۰) أَلَا إِنَّهُمْ مِنْ إِفْكِهِمْ لَيَقُولُونَ (۱٥۱) وَلَدَ اللهُ وَإِنَّهُمْ لَكَاذِبُونَ (۱٥۲) أَصْطَفَى الْبَنَاتِ عَلَى الْبَنِينَ (۱٥۳) مَا لَكُمْ كَيْفَ تَحْكُمُونَ (۱٥٤) أَفَلَا تَذَكَّرُونَ (۱٥٥) أَمْ لَكُمْ سُلْطَانٌ مُبِينٌ (۱٥٦) فَأْتُوا بِكِتَابِكُمْ إِنْ كُنْتُمْ صَادِقِينَ (۱٥۷) وَجَعَلُوا بَيْنَهُ وَبَيْنَ الْجِنَّةِ نَسَبًا وَلَقَدْ عَلِمَتِ الْجِنَّةُ إِنَّهُمْ لَمُحْضَرُونَ (۱٥۸) سُبْحَانَ اللهِ عَمَّا يَصِفُونَ (۱٥۹) إِلَّا عِبَادَ اللهِ الْمُخْلَصِينَ. (سورة الصافات ۱۴۹\۱٦۰)، اودارکم یې په بل ځای کی فرمایلی دی: وَقَالُوا اتَّخَذَ الرَّحْمَنُ وَلَدًا سُبْحَانَهُ بَلْ عِبَادٌ مُكْرَمُونَ (۲٦) لَا يَسْبِقُونَهُ بِالْقَوْلِ وَهُمْ بِأَمْرِهِ يَعْمَلُونَ (۲۷) يَعْلَمُ مَا بَيْنَ أَيْدِيهِمْ وَمَا خَلْفَهُمْ وَلَا يَشْفَعُونَ إِلَّا لِمَنِ ارْتَضَى وَهُمْ مِنْ خَشْيَتِهِ مُشْفِقُونَ (۲۸) وَمَنْ يَقُلْ مِنْهُمْ إِنِّي إِلَهٌ مِنْ دُونِهِ فَذَلِكَ نَجْزِيهِ جَهَنَّمَ كَذَلِكَ نَجْزِي الظَّالِمِينَ. (سورة الانبیاء \ ۲۴\ ۲۹) اودارکم یې په بل ځای کی فرمایلی دی: قَالُوا اتَّخَذَ اللهُ وَلَدًا سُبْحَانَهُ هُوَ الْغَنِيُّ لَهُ مَا فِي السَّمَاوَاتِ وَمَا فِي الْأَرْضِ إِنْ عِنْدَكُمْ مِنْ سُلْطَانٍ بِهَذَا أَتَقُولُونَ عَلَى اللهِ مَا لَا تَعْلَمُونَ (٦۸) قُلْ إِنَّ الَّذِينَ يَفْتَرُونَ عَلَى اللهِ الْكَذِبَ لَا يُفْلِحُونَ (٦۹) مَتَاعٌ فِي الدُّنْيَا ثُمَّ إِلَيْنَا مَرْجِعُهُمْ ثُمَّ نُذِيقُهُمُ الْعَذَابَ الشَّدِيدَ بِمَا كَانُوا يَكْفُرُونَ. (سورة یونس ۲۸\۷۰) نودا اٰیتونه ټول ردکوی په مشرکانو دعرب باندی اوپه یهودیانو باندی او په کافرانو باندی اوپه ټولو هغو کسانو باندی چی دالله ﷻ په باره کی غلطی خبری کوی او غلطی عقیدی ساتی اوالله ﷻ پاك دی ددوی دخبرو څخه اوددوی دګمانونو څخه کم چی دوی کوی. هرکله چی وه نصارٰی چی هغوی په دی باره کی ډیری خبری کولی نوځکه په قرآن کریم کی دهغوی ذکر ډیرسوی دی، اوددوی مختلفی عقیدی وی چابه په کی ویل چی عیسٰی ﷺ دالله ﷻ ځوی دی اوچابه په کی ویل چی په خپله بذات خود (نعوذ بالله) الله دی اوچاویل چی دادریم الله دی په اوله درجه کی به یې الله ﷻ په خپل ځای منی اوپه دوهمه درجه کی به یې مریم ﷺ ته خدای وایه اوپه دریمه درجه کی عیسٰی ﷺ ته. نوالله ﷻ په قرآن کریم کی ددوی دخبرو رد په وضاحت سره بیان کی چی دوی څه وایې نوهغه دروغ دی اوڅوك چی په الله ﷻ دروغ وایې هغه هیڅ کله نه کامیابه کیږی.

الله ﷻ فرمایلی دی: لَقَدْ كَفَرَ الَّذِينَ قَالُوا إِنَّ اللهَ هُوَ الْمَسِيحُ ابْنُ مَرْيَمَ قُلْ فَمَنْ يَمْلِكُ مِنَ اللهِ شَيْئًا إِنْ أَرَادَ أَنْ يُهْلِكَ الْمَسِيحَ ابْنَ مَرْيَمَ وَأُمَّهُ وَمَنْ فِي الْأَرْضِ جَمِيعًا وَلِلَّهِ مُلْكُ السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضِ وَمَا بَيْنَهُمَا يَخْلُقُ مَا يَشَاءُ وَاللهُ عَلَى كُلِّ شَيْءٍ قَدِيرٌ. (سورة المائده \ ۱۷) نوپه دی اٰیتونو کی هم الله ﷻ دوی

(c) ketabton.com: The Digital Library



ته خبر ورکی چی خالق حقیقی هم هغه ذات دی چی پالونکی دټولو مخلوقاتو دی، اودارکم یې په بل ځای کی فرمایلی دی: لَقَدْ كَفَرَ الَّذِينَ قَالُوا إِنَّ اللهَ ثَالِثُ ثَلَاثَةٍ وَمَا مِنْ إِلَهٍ إِلَّا إِلَهٌ وَاحِدٌ وَإِنْ لَمْ يَنْتَهُوا عَمَّا يَقُولُونَ لَيَمَسَّنَّ الَّذِينَ كَفَرُوا مِنْهُمْ عَذَابٌ أَلِيمٌ (۷۳) أَفَلَا يَتُوبُونَ إِلَى اللهِ وَيَسْتَغْفِرُونَهُ وَاللهُ غَفُورٌ رَحِيمٌ (۷٤) مَا الْمَسِيحُ ابْنُ مَرْيَمَ إِلاَّ رَسُولٌ قَدْ خَلَتْ مِنْ قَبْلِهِ الرُّسُلُ وَأُمُّهُ صِدِّيقَةٌ كَانَا يَأْكُلَانِ الطَّعَامَ انْظُرْ كَيْفَ نُبَيِّنُ لَهُمُ الْآيَاتِ ثُمَّ انْظُرْ أَنَّى يُؤْفَكُونَ (سورة المائده ۷۳\ ۷۵) په دی اٰیتونو کی الله ﷻ حکم وکی ددوی په کفر باندی اوداخبر یې ورکی چی عیسٰی ﷺ دالله ﷻ یوپیغمبر اوبنده دی چی دمریم ﷺ ځخه پیدادی اوبلونکی دی دالله ﷻ خواته په دعوت ورکولو سره خلګو ته اوخلګ به یې منع کول دغیرو دعبادت څخه اودشرك څخه، ولی چی الله ﷻ هره ګناه دبنده همداسی معاف کوی مګرشرك داداسی ګناه ده چی بغیر دتوبی څخه نه معاف کیږی هغه هم داسی توبه وی چی دزړه داخلاصه وی اوپه پښیمانتیا سره وی.

دارکم الله ﷻ په قرآن کریم کی داسی فرمایلی دی چی چا دالله ﷻ سره شریك مقرر کی نوپه هغه باندی دالله ﷻ دخواه جنت حرام دی اودهغه دورتګ ځای جهنم دی اونسته دظالمانو دپاره څه مددګار، یعنی چی شرك کوی دالله ﷻ سره نوپه هغه باندی جنت ته دننه کیدل حرام ګرځول سوی دی اوورتګ به یې دجهنم خواته وی اوداډیر بدځای دی دورتګ اوکم سړی چی دالله ﷻ سره شرك کوی نوالله ﷻ دهغه سره خپل مدد اونصرت پریږدی نوماسوا دالله ﷻ څخه بل مددګار نسته چی دده مددوکی، واحد هغه ذات دی چی خالق دټولو کائناتو دی اوپالونکی هم دټولو کائناتو دی نودارکم مددګار هم دټولو کائناتو دی نوهغه ذات چی دانسان سره مدد پریږدی نودانسان دپاره بل مدد ګار بیانه وی. نوددی وجی څخه الله ﷻ فرمایلی دی (مامن اله الااله واحد) یعنی الله ﷻ په دی اٰیت کی داسی فرمایلی دی چی زما څخه ماسوابل اله نسته اوبل رب اوبل خدای نسته هرڅه چی کوی هغه واحد ذات یې کوی نه ورلره زوی سته اونه ورلره شریك سته اونه ورلره ملګری سته بلکی هغه ذات دهرڅه څخه بری اوبی نیازه بادشاه دی.

بیا الله ﷻ دی یهودیانو اونصارٰی اومشرکینو ته وعید اوتهدید ورکوی: وَإِنْ لَمْ يَنْتَهُوا عَمَّا يَقُولُونَ لَيَمَسَّنَّ الَّذِينَ كَفَرُوا مِنْهُمْ عَذَابٌ أَلِيمٌ، که چیری دوی ددی خپلو خبرو څخه منع نه سوه نودوی ته به دردناك عذاب ورسول سی. بیا الله ﷻ دوی ته دعوت ورکوی په لطف او مهربانی سره په دی خبره چی دوی توبه نه کاږی اواستغفارنه کوی دهغه کړو ګناهونو څخه اودهغه کړو خبرو څخه په باره کی دالله ﷻ چی په سبب دهغه باندی په دوی عذاب دجهنم واجب سوی دی نوفرمایلی یې دی: أَفَلَا يَتُوبُونَ إِلَى اللهِ وَيَسْتَغْفِرُونَهُ وَاللهُ غَفُورٌ رَحِيمٌ، بیا الله ﷻ

(c) ketabton.com: The Digital Library



دعیسیٰ ﷺ په باره کی بیان کړی دی په دی آیت کی: مَا الْمَسِيحُ ابْنُ مَرْيَمَ إِلاَّ رَسُولٌ قَدْ خَلَتْ مِنْ قَبْلِهِ الرُّسُلُ، فرمایلی دی الله ﷻ چی نه دی مسیح عیسیٰ ﷺ مګریو پیغمبر په ډول دنورو پیغمبرانو چی مخکی تیرسوی دی، نوپه دی آیت کی هم ددی خبری بیان دی چی دی دالله ﷻ زوی نه دی. السدی اوداسی نورو علماوو ددی آیت په باره کی ویلی دی: لَقَدْ كَفَرَ الَّذِينَ قَالُوا إِنَّ اللهَ ثَالِثُ ثَلَاثَةٍ، ګمان کړی دی دی کافرانو چی دوه خدایان (نعوذ بالله) مریم او عیسیٰ ﷺ دی اودریم خدای الله ﷻ دی، ولی چی ددوی دامراد دیوبل آیت څخه هم معلومیږی هغه دادی چی الله ﷻ عیسیٰ ع ته فرمایلی دی: وَإِذْ قَالَ اللهُ يَا عِيسَى ابْنَ مَرْيَمَ أَأَنْتَ قُلْتَ لِلنَّاسِ اتَّخِذُونِي وَأُمِّيَ إِلَهَيْنِ مِنْ دُونِ اللهِ قَالَ سُبْحَانَكَ مَا يَكُونُ لِي أَنْ أَقُولَ مَا لَيْسَ لِي بِحَقٍّ إِنْ كُنْتُ قُلْتُهُ فَقَدْ عَلِمْتَهُ تَعْلَمُ مَا فِي نَفْسِي وَلَا أَعْلَمُ مَا فِي نَفْسِكَ إِنَّكَ أَنْتَ عَلَّامُ الْغُيُوبِ (۱۱۶) مَا قُلْتُ لَهُمْ إِلَّا مَا أَمَرْتَنِي بِهِ أَنِ اعْبُدُوا اللهَ رَبِّي وَرَبَّكُمْ وَكُنْتُ عَلَيْهِمْ شَهِيدًا مَا دُمْتُ فِيهِمْ فَلَمَّا تَوَفَّيْتَنِي كُنْتَ أَنْتَ الرَّقِيبَ عَلَيْهِمْ وَأَنْتَ عَلَى كُلِّ شَيْءٍ شَهِيدٌ (۱۱۷) إِنْ تُعَذِّبْهُمْ فَإِنَّهُمْ عِبَادُكَ وَإِنْ تَغْفِرْ لَهُمْ فَإِنَّكَ أَنْتَ الْعَزِيزُ الْحَكِيمُ، (سورة المائده ۱۱۸\۱۱۶) خبرورکوی په دی ایتونو کی الله ﷻ دعیسیٰ څخه چی دقیامت په ورځ به ورته الله ﷻ په توجه داکرام اوعزت وایې چی په دی ویناسره زجر اوترټنه ورکی هغه کافرانو ته چی هغوی دعیسیٰ ﷺ اودهغه دمورپه باره کی وایې چی دوی خدایان دی نودعیسیٰ ﷺ څخه به الله ﷻ پوښتنه وکی په داسی طریقه سره چی دانور به یې اوری نووبه فرمایې: أَأَنْتَ قُلْتَ لِلنَّاسِ اتَّخِذُونِي وَأُمِّيَ إِلَهَيْنِ مِنْ دُونِ اللهِ قَالَ سُبْحَانَكَ، یعنی تاخلګوته ویلی دی چی موږ ته خدایان وواياست اوموږ دالله ﷻ سره شریك کی نو عیسیٰ ﷺ به وفرمایې: مَا يَكُونُ لِي أَنْ أَقُولَ مَا لَيْسَ لِي بِحَقٍّ إِنْ كُنْتُ قُلْتُهُ فَقَدْ عَلِمْتَهُ تَعْلَمُ مَا فِي نَفْسِي وَلَا أَعْلَمُ مَا فِي نَفْسِكَ إِنَّكَ أَنْتَ عَلَّامُ الْغُيُوبِ، یعنی ستا څخه ماسوا ددی حقدار بل څوك نسته، إِنْ كُنْتُ قُلْتُهُ فَقَدْ عَلِمْتَهُ تَعْلَمُ مَا فِي نَفْسِي وَلَا أَعْلَمُ مَا فِي نَفْسِكَ إِنَّكَ أَنْتَ عَلَّامُ الْغُيُوبِ، داډیر عظیم ادب دی په خبروکی اوپه جواب کی عیسیٰ ﷺ فرمایې: مَا قُلْتُ لَهُمْ إِلَّا مَا أَمَرْتَنِي بِهِ، ماخو دوی ته امرنه دی کړی مګر دهغه څه چی تاسی ماته امرکړی وو اوهغه داچی دالله ﷻ عبادت وکی ولی چی هغه ذات زمارب هم دی اوستاسی رب هم دی، کله چی دی زه ځینی لوړ کړم (آسمانوته) نوته په هغوی باندی شاهدوی اوته په هرڅه باندی خبردار یې اوهرڅه ته کتونکی یې بیادی فرمایې: إِنْ تُعَذِّبْهُمْ فَإِنَّهُمْ عِبَادُكَ وَإِنْ تَغْفِرْ لَهُمْ فَإِنَّكَ أَنْتَ الْعَزِيزُ الْحَكِيمُ که ته چیری دوی ته عذاب ورکوی نوداستا بندګان دی اوکه ته ورلره مغفرت کوی نوبی شکه: أَنْتَ الْعَزِيزُ الْحَكِيمُ یې.

(c) ketabton.com: The Digital Library



دارکم موږ په تفسیر کی هغه حدیث چی امام احمد یې روایت نقل کوی دابو ذر څخه هغه روایت موذکر کړی دی چی په هغه کی ابی ذر وایې چی نبی ﷺ په دی آیت کریمه: إِنْ تُعَذِّبْهُمْ فَإِنَّهُمْ عِبَادُكَ وَإِنْ تَغْفِرْ لَهُمْ فَإِنَّكَ أَنْتَ الْعَزِيزُ الْحَكِيمُ، باندی ټوله شپه تیره کړه اوبیایې وفرمایل: ماسوال وکی دالله ﷻ څخه دخپل امت دپاره دشفاعت، نوماته راکول سو، مګر داحاصلیدونکی ده دهغه چادپاره چی ده دالله ﷻ سره شریك نه وی مقررکړی. (۱)

اودارکم الله ﷻ فرمایلی دی: وَمَا خَلَقْنَا السَّمَاءَ وَالْأَرْضَ وَمَا بَيْنَهُمَا لَاعِبِينَ (١٦) لَوْ أَرَدْنَا أَنْ نَتَّخِذَ لَهْوًا لَاتَّخَذْنَاهُ مِنْ لَدُنَّا إِنْ كُنَّا فَاعِلِينَ (١٧) بَلْ نَقْذِفُ بِالْحَقِّ عَلَى الْبَاطِلِ فَيَدْمَغُهُ فَإِذَا هُوَ زَاهِقٌ وَلَكُمُ الْوَيْلُ مِمَّا تَصِفُونَ (١٨) وَلَهُ مَنْ فِي السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضِ وَمَنْ عِنْدَهُ لَا يَسْتَكْبِرُونَ عَنْ عِبَادَتِهِ وَلَا يَسْتَحْسِرُونَ (١٩) يُسَبِّحُونَ اللَّيْلَ وَالنَّهَارَ لَا يَفْتُرُونَ (سورة الانبیاء ۱۶\۲۰)، اودارکم الله ﷻ په بل ځای کی فرمایلی دی: لَوْ أَرَادَ اللهُ أَنْ يَتَّخِذَ وَلَدًا لَاصْطَفَى مِمَّا يَخْلُقُ مَا يَشَاءُ سُبْحَانَهُ هُوَ اللهُ الْوَاحِدُ الْقَهَّارُ (٤) خَلَقَ السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضَ بِالْحَقِّ يُكَوِّرُ اللَّيْلَ عَلَى النَّهَارِ وَيُكَوِّرُ النَّهَارَ عَلَى اللَّيْلِ وَسَخَّرَ الشَّمْسَ وَالْقَمَرَ كُلٌّ يَجْرِي لِأَجَلٍ مُسَمًّى أَلَا هُوَ الْعَزِيزُ الْغَفَّارُ (سورة الزمر ۴\ ۵) اودارکم الله ﷻ فرمایلی دی: قُلْ إِنْ كَانَ لِلرَّحْمَنِ وَلَدٌ فَأَنَا أَوَّلُ الْعَابِدِينَ (٨١) سُبْحَانَ رَبِّ السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضِ رَبِّ الْعَرْشِ عَمَّا يَصِفُونَ (سورة الزخرف ۸۱\ ۸۲) اودارکم الله ﷻ فرمایلی دی: وَقُلِ الْحَمْدُ لِلَّهِ الَّذِي لَمْ يَتَّخِذْ وَلَدًا وَلَمْ يَكُنْ لَهُ شَرِيكٌ فِي الْمُلْكِ وَلَمْ يَكُنْ لَهُ وَلِيٌّ مِنَ الذُّلِّ وَكَبِّرْهُ تَكْبِيرًا، (سورة الاسراء\ ۱۱۱) اودارکم الله ﷻ فرمایلی دی: قُلْ هُوَ اللهُ أَحَدٌ (١) اللهُ الصَّمَدُ (٢) لَمْ يَلِدْ وَلَمْ يُولَدْ (٣) وَلَمْ يَكُنْ لَهُ كُفُوًا أَحَدٌ، (سورة الاخلاص ۱\ ۴).

اودارکم په حدیث کی دنبی ﷺ څخه ثابت دی چی نبی ﷺ فرمایلی دی چی ماته بنده زما ښکنځلی وکړی اودهغه دپاره دامناسب نه وه چی ګمان به یې زما په باره کی کوی چی زما دپاره اولاددی اوحال دادی چی زما اولاد نسته اوزه یکتنها ذات یم اونه زما سره څوك برابر اونظیر سته. اوپه بل یوروایت کی همدا ذکرسوی دی چی رسول الله ﷺ فرمایلی دی: چی هیڅ څوك په بد اوریدلو کی دالله ﷻ څخه ډیرصبر کونکی نسته، ولی چی دوی دالله ﷻ دپاره اولاد ثابتوی اوبیاهم الله ﷻ دوی ته رزق ورکوی اومعافی هم دوی ته کوی په بل روایت کی بیاداسی هم دی چی رسول الله ﷺ فرمایې: الله ﷻ ظالم ته مهلت ورکوی تردی چی کله یې په عذاب سره ګرفتاره وی نوبیا ورته ترشا هم نه ګوری، اوبیایې داآیت کریمه

(۱). احمد (۵\ ۱۴۹) ، والبیهقی فی الکبری: کتاب الصلاة، باب ترتیل القرآة (۳\ ۴۷۱۷).

(c) ketabton.com: The Digital Library



وو ایه: وَكَذَلِكَ أَخْذُ رَبِّكَ إِذَا أَخَذَ الْقُرَى وَهِيَ ظَالِمَةٌ إِنَّ أَخْذَهُ أَلِيمٌ شَدِيدٌ (سورة هود\۱۰۲) اودارکم الله ﷻ فرمایلی دی: وَكَأَيِّنْ مِنْ قَرْيَةٍ أَمْلَيْتُ لَهَا وَهِيَ ظَالِمَةٌ ثُمَّ أَخَذْتُهَا وَإِلَيَّ الْمَصِيرُ (سورة الحج \ ۴۸)، نُمَتِّعُهُمْ قَلِيلًا ثُمَّ نَضْطَرُّهُمْ إِلَى عَذَابٍ غَلِيظٍ (سورة لقمان \ ۲۴)، اودارکم الله ﷻ فرمایلی دی: قُلْ إِنَّ الَّذِينَ يَفْتَرُونَ عَلَى اللَّهِ الْكَذِبَ لَا يُفْلِحُونَ (۶۹) مَتَاعٌ فِي الدُّنْيَا ثُمَّ إِلَيْنَا مَرْجِعُهُمْ ثُمَّ نُذِيقُهُمُ الْعَذَابَ الشَّدِيدَ بِمَا كَانُوا يَكْفُرُونَ (سورة یونس ۶۹\ ۷۰) اودارکم الله ﷻ فرمایلی دی: فَمَهِّلِ الْكَافِرِينَ أَمْهِلْهُمْ رُوَيْدًا (سورة الطارق \ ۱۷)

## ځای دپیدائش دعیسیٰ ؑ اودهغه تربیت په کوچنیوالی کی

دی په (بیت اللحم) کی پیداسوی دی چی دا دبیت المقدس سره نژدی ځای دی. اووهب بن منبه ویلی دی چی دی په مصر کی پیدا سوی دی، دمخکنی حدیث څخه داثابتیږی چی دی په بیت اللحم کی پیداسوی دی، اوهرقول چی ددی حدیث سره تعارض کوی هغه قول باطل دی. ذکرکړی دی وهب بن منبه چی کله بتان پریوته اوشیطانان وتښتیده نوابلیس لټون شروع کی چی ګوری دمریم ؓ په غیږه کی عیسیٰ ؑ پروت دی، اوپه آسمان کی یوغټ ستوری ښکاره سو، نوبادشاهان دفارس دده په باره کی دنجومیانو څخه پوښتنه وکړه چی په دی کی څه مطلب دی نونجومیانو وویل چی داپیدائش دیوعظیم سړی دی په مزکه کی، نودوی ولیږل دخپل کسانو په لاس سره زر اوداسی نور جوهری کانی په هدیه کی عیسیٰ ؑ ته، کله چی داکسان شام ته راله نودشام بادشاه پوښتنه ځینی وکړه چی څه ته راغلی یاست نودوی ورته دغه خبره وکړه نودوی چی کتل نوعیسیٰ ؑ پیداسوی وو اودده خبره دپیدائش مشهوره سوی وه ولی چی ده په زانګوکی خبری کړی وی نودوی یې دهغه سامانونو سره دعیسیٰ ؑ خواته ولیږل اوڅه نورکسان یې ورسره هم یوځای کړه چی دوی دهغه کورته ورسوی اوخپلو کسانو ته یې وویل چی کله داکسان راسی نوداماشوم یعنی عیسیٰ ؑ بیاقتل کی، نوکله چی داکسانو داسره زر اوجوهرات دعیسیٰ ؑ مور ته ورکړه اوراله نودغه کسانو مریم ؓ ته وویل چی مور ته دشام بادشاه حکم کړی دی چی ستابچی ووژنو نودا ولاړه دخپل ځوی سره مصرته اوهلته اوسیدل تردی چی زوی یې د(۱۲) کالو سو اوکرامات اومعجزی پرښکاره سوی نوده بعضی فیصلی خلګوته ورکړی په داسی طریقی سره چی دخلګو په سترګو کی دده عزت زیات سو اودده اکرام هم زیات سو اوحال داوو چی دی کوچنی وو یودهغه څخه داوو چی یوزمیندار سړی خلګوته ډوډی کړی وه نو کله یې چی په خلګو باندی ډوډی وخوړه نودهغه زمانی دخلګو داعادت وو چی ډوډی څخه به یې وروسته شراب چښل نوده چی کله لوښی دشرابو وکتی نوپه هغه کی شراب نه وه ګرانه سوه داخبره کله چی دعیسیٰ ؑ ده ته خیال سو نوراولاړ سو اوپه لوښی کی یې یوڅو واره

(c) ketabton.com: The Digital Library



لاس وڅرخوی نولوښی ترخولی پوری ډك سو نوخلګ حیران سوه دده دغه کار ته نوخلګو ده ته اودده مورته ډیری پیسی ورکړی نودوی وانه خیسته اوروان سوه په طرف دبیت المقدس باندی. والله اعلم.

اودارکم اسحاق بن بشیر وایې په نقل کولو سره دعثمان بن ساج اوداسی نورو څخه دی نقل کوی دموسٰی بن وردان څخه دی نقل کوی دابی نضره څخه دی نقل کوی دابی سعید څخه اودی دمکحول څخه دی نقل کوی دابی هریره څخه دی وایې چی: اول وار چی الله ﷻ دعیسٰی ؑ ژبه په خبرو کړه وروسته دهغه څخه چی ده په کوچنیوالی کی یووار په زانګو کی خبری کړی وی نودالله تعالی لویې یې بیان کړه داسی لویې چی مخکی غوږونو داسی لویې نه وه اوریدلی چی لمر اوسپوږمی اودرخته بوټو هرڅه راورسره وویل نوده وفرمایل: یاالله ته ډیر نژدی یې په خپل لوړوالی کی، اولوړ یې په خپل نژدی والی کی، لوړ یې په ټولو خلګو باندی، یاالله ته هغه ذات یې چی تاپیدا کړی دی په هواکی اوه آسمانونه چی په هغه کی ستا ملائکی دی چی ستا پاکی بیانوی اوستا تقدس بیانوی اوتاپه دی کی نور ګرځولی دی په توروالی دتیارو کی اوړنادی ګرځولی ده په ړنا دورځو کی (یعنی دشپی په تیاره کی دی نورګرځولی دی اودورځی په ړناکی دی هم ړنا ګرځولی ده داپه دی صورت باندی چی په ورځ کی په خپله ړناوی نودلمر په ذریعه یې په ړناکی ړناپیدا کړیده)، اوپه وریځوکی یې تندرونه پیداکړی دی چی دالله ﷻ تسبیح اوپاکی بیانوی، نوستاپه عزت سره منور کیږی هغه ړنا دتیاری اوتاپه دی تیاروکی دهدایت څراغ لګولی دی نوبرکت والا دی هغه ذات چی آسمانونه اومزکی دهغه دی اوڅه چی ددی په منځ کی دی هغه هم دهغه ذات دی، پس کښته دی تالره په اطاعت باندی سخت دهغه اوحیا کونکی دی ستا څخه دوجی دقدرت ستا اوعاجزه دی تالره موجونه دسمندرونو، نوته هغه ذات یې چی دسمندر څخه دی نهرونه روان کړی دی اودنهرونو څخه دی ولی روانی کړی دی اودولو څخه دی کوچنی کوچنی چینی روانی کړی دی، اوبیادی دهغه اوبو څخه درختی اوبوټی را ایستلی دی اومیوی دی ځینی پیداکړی دی اودارکم ډیره اوږده دعایې ذکرکړیده چی ټول صفتونه دهغه ذات دی داسی صفات دی اوپه داسی ترتیب سره یې ذکرکړی دی چی دهرانسان په وس اوطاقت کی داسی په ترتیب سره ذکر کول نسته، اوپه آخره کی یې دسورة الاخلاص مفهوم ذکرکړی دی چی ته بی نیازه اومستغنی ذات یې اونه ستاڅخه څوك پیدادی اونه ته دچا څخه پیدایې اونه ستاسره څوك برابردی اونه ستا نظیر سته. اودارکم اسحاق بن بشیر وایې په نقل کولو سره دجویبر څخه دی نقل کوی دمقاتل څخه دی نقل کوی دضحاك څخه دی نقل کوی دابن عباس څخه دی وایې چی: عیسٰی ؑ خبری پریښوولی وروسته دهغه څخه چی په زانګوکی یې خبری کړی وی تردی چی هلك سوددووکالو نوالله ﷻ پوهه اوحکمت

(c) ketabton.com: The Digital Library



ورلره ورکی نویهودیانو په دغه وخت کی خبری ډیری کړی اوده ته به یې ولد الزنا وایه.
ویل سوی دی، چی کله دی ددوو کالو سو نومور یې دی کتاب ته کښېنوی چی څه ووایی
داستاذ سره نوڅه ازده کی نودی لګیاسو چی دااستاذ به ورته څه ښوول نوده به ورسره په
کی مقابله کوله، نویوه ورځ دده معلم اواستاذ اباجاد سو نوده پوښتنه ځینی وکړه چی
اباجاد څه ته وایې نوهغه استاذ ورته وویل چی ماته معلوم نه دی نوده ورته وویل چی ته
به ماته څه رکم تعلیم راکوی اوحال دادی چی تاته دخپل نوم په باره کی علم نسته چی
اباجاد څه ته وایې؟ نودی معلم اباجاد وویل: نوته راته ووایه چی اباجاد څه ته وایې نو
عیسیٰ ﷺ ورته وفرمایل چی ته ددی خپل ځای څخه ولاړسه، نودځای څخه یې ولاړکی او
خپله دهغه پرځای کښېنستی نوبیایې دی خپل استاذ ته وویل چی اوس پوښتنه وکړه چی
څه رکم پوښتنه کوی نودی استاذ ورته وویل چی اباجاد څه ته وایی؟ نوده ورته وفرمایل:
هرڅه چی الف دی نودانعمتونه دالله ﷻ دی، اوباء دالله ﷻ بهاء ده، اوجیم دالله ﷻ بهجت
اوجمال دی. نودا استاذیې حیران سو نوعیسیٰ ﷺ اولنی سړی وو چی داباجاد په باره کی
یې پوښتنه کړی وه، نونبی ﷺ ورلره دیوی یوی کلمی جواب ډیر په اوږدی طریقی سره
ذکر کړی دی چی دهغه ذکرکول دلته برابری نه دی، اواسحاق بن بشرویلی دی په نقل کولو
سره دجویبر څخه دی نقل کوی دمقاتل څخه دی نقل کوی دضحاك څخه دی نقل کوی دابن
عباس څخه دی وایې چی: عیسیٰ ﷺ په خپل هلکوالی کی داسی داسی کارونه کول چی
الله ﷻ به ورته په ذریعه دالهام ښوول نومور پروبیریده چی بنی اسرائیل ورته څه ونه وایې
نومریم ﷺ ته الله ﷻ وحی وکړی چی دبیت المقدس دمزکی څخه ووځی اودمصر مزکی ته
دی ولاړه سی، لکه څه رکم چی الله ﷻ فرمایلی دی: وَجَعَلْنَا ابْنَ مَرْيَمَ وَأُمَّهُ آيَةً وَآوَيْنَاهُمَا إِلَى
رَبْوَةٍ ذَاتِ قَرَارٍ وَمَعِينٍ، اختلاف کړی دی مفسرینو په ربوه لفظ کی چی دربوه څخه څه مراددی
بعضو ویلی دی چی دایولوړ ځای مراددی اوبعضوویلی دی چی دمصر مزکه مراده ده لکه
څه رکم چی اهل کتابو دامعنا کړیده. اوچاویلی دی چی شګه مراده ده.
اوویلی دی اسحاق بن بشر چی موږ ته خبرراکړی دی ادریس دهغه څه څخه چی دوهب بن
منبه څخه یې اوریدلی وه ده ویلی دی چی کله عیسیٰ ﷺ ددیارلسوکالوسو نوالله ﷻ ورته
حکم وکی چی دمصر څخه ولاړسی ایلیا مزکی ته نوکله چی دی روان سو نومخ ته ورلی
یوسف چی دده دمور تره وو هغه رالی نوپه خپل خره باندی یې بوتله نودی رالی ایلیاته او
هلته پاته سوه تردی چی الله ﷻ ورلره انجیل ورکی اودتورات علم یې ورته وښووی او
دبرګی ناجوړی دښه کولو اودمړو راژوندی کول اوداسی نور کرامات اومعجزی یې ورلره
ورکړی اوعلم په هغه شیانو باندی چی څوك یې په کور کی ذخیره کوی اوڅه خوری ددی

(c) ketabton.com: The Digital Library



هرڅه علم یې ورلره ورکی اوخلګو خبری شروع کړی دده دراتګ په باره کی اوخلګو دا وویل چی دی چی راسی نوخدای خبر څه چی څه کارونه به کوی. نودوی حیران وه ددی عیسیٰ ؈ کارونو ته نودی عیسیٰ ؈ دوی ته دعوت ورکی دعبادت دالله ﷻ طرف ته نوپه دوی کی دده داکارونه وغوړول سوه.

**بیان دنازلیدلو دځلورو کتابونو اوبیان دهغه دوختونو**

ابوذرعه الدمشقی وایې په نقل کولو سره دعبدالله بن صالح څخه دی نقل کوی دمعاویه بن صالح څخه دی نقل کوی دڅا څخه چی نقل کوی یعنی منقول یې معلوم نه دی، دی وایې چی: نازل سوی دی تورات په موسیٰ ؈ باندی په شپږو ورځو کی چی درمضان څخه ماسوا نوری شپی وی، اونازل سوی دی زبور په داود ؈ باندی په دوولس شپو کی چی هغه هم درمضان څخه ماسوا په بلې میاشتی کی نازل سوی دی، اوددی دواړو په منځ کی (۴۸۲) کاله وخت تیرسوی دی، اونازل سوی دی انجیل په عیسیٰ ؈ باندی په اتلسو شپو کی چی درمضان څخه ماسوابله میاشت وه اودا دزبور څخه (۱۰۵۰) کاله وروسته نازل سوی دی، اونازل سوی دی قرآن کریم په حضرت مصطفیٰ محمد ﷺ باندی په (۲۴) درمضان کی.

اوددی وضاحت موږ په تفسیرکی ددی قول دالله ﷻ سره کړی دی اوپه تاریخ ابن جریر کی ذکرسوی دی چی په عیسیٰ ؈ باندی انجیل نازل سوی وو په داسی حال کی چی دی د(۳۰) کالو وو. لکه څه رکم چی به یې وروسته بیان راځی، انشاء الله تعالیٰ.

دارکم اسحاق بن بشیر ویلی دی: چی ماته خبرراکړی دی سعیدبن ابی عروبه چی دی نقل کوی دقتاده څخه دی نقل کوی دعبدالرحمٰن بن آدم څخه دی نقل کوی دابوهریره ؓ څخه دی وایې چی: وحی وکړی الله ﷻ عیسیٰ ؈ ته چی ای عیسیٰ بن مریم: ته کوشش کوه زماپه عبادت کی اوسستی مه کوه اوفرمانبرداری کوه اواطاعت کوه ای ځویه دهغه ځوانی اوبهادری ښځی ته ځوی نه یې دزناکاری اونه دفاحشی، بلکی ته ماپیدا کړی یې نښانه دپاره ددی خلګو چی داخلګ دی ومنی چی الله ﷻ په هرڅه باندی قادردی اوالله ﷻ اسبابو ته ضرورت اوحاجت نلری هرڅه چی غواړی هغه کوی، پس زماعبادت کوه اوزمااطاعت کوه اوخاص په ماباندی توکل کوه، داکتاب په کلکه اومضبوطوالی سره ونیسه اوخپل قوم ته یې دعوت ورکړه اودهغوی مخ ته دابیان وکه چی زه حق یم (یعنی ذات دالله ﷻ مراددی) اوزه هغه ذات یم چی همیشه قائم اودائم یم اوزما دپاره زوال نسته، اودوی ته داووایه چی دوی تصدیق وکی دهغه نبی چی عربی اوامی دی اوستا څخه وروسته به راځی، (اوبیایې دنبی ؈ ډیر صفات بیان کړه چی داسی وجود ورلره الله ﷻ ورکړی دی چی روان یې نوپه مزل کی یې بل مثال نسته اودبدن مبارك څخه یې داسی خوشبویې راوزی لکه چی مشك یې

(c) ketabton.com: The Digital Library



لګولی وی اوپزه يې داسی ده لکه سره زر، ګڼه ږیره والا چې ږیره مبارکه يې اوږده وه، که دچاخواته متوجه کیږی نوپه پوره طریقی سره متوجه کیږی داسی نه چې صرف مخ وراړوی بلکی ټول بدن مبارك به يې هغه خواته کوی چې دچا اړخ ته متوجه کیدی، اوقد اوقامت مبارك يې نه اوږد اونه لنډ بالکل برابر اوسیده، داسی بیبیانی يې وی چې کم نسلونو والاوی، دده دپاره کوردی یعنی په جنت کی چې څه ستنه په کی نسته، اودارکم نور صفتونه يې ورلره بیان کړی دی چې ډیر زیات دی)، بیا الله ﷻ عیسٰی ؑ ته وفرمایل چې: ای عیسٰی ته کفالت وکړه ددغه نبی لکه څه رکم چې زکریا ؑ ستا دوالدی کفالت کړی وو، ولی چې ددغه نبی حیثیت زماخواته داسی دی چې داسی منزله اوحیثیت دهیڅ چا نسته، دده کلام به قرآن وی اودده دین به اسلام وی اوزه په خپله سلام ذات یم پس (طوبی) دی هغه سړی لره چې چادده زمانه پیداکړه اودده صحبت يې وکی اودده کلام يې واوریدی نوعیسٰی ؑ پوښتنه وکړه چې طوبی څه شی دی؟ نوالله ﷻ ورته وفرمایل چې، دایوه درخته ده چې ماپه خپل قدرت سره کرلی ده، چې دابه دټولو خلګو دپاره وی اصل به ددی درضوان څخه وی اواوبه به ددی دتسنیم څخه وی اویخ والی ددی به دکافور څخه وی او خوند ددی به خوند دزنجبیلو وی او بوی به يې بوی دمشکو وی، چاچې ددی څخه یوه لپه وکړه نوهغه به بیاهیڅ وخت نه تږی کیږی. نوعیسٰی ؑ وفرمایل : ای ربه ما اوبه کړی په دغه اوبو سره. نوالله ﷻ ورته وفرمایل چې: حرام دی په انبیاوو باندی چښل ددی څخه تر څو چې دغه نبی اوبه نه يې ځینی چښلی اوحرام دی په نورو امتونو باندی چې ددی څخه چښل وکی ترڅو چې ددی نبی امتیانو ځینی اوبه نه وی چښلی (دانبی محمد ﷺ مراددی اودده امت مراددی) بیاالله ﷻ عیسٰی ؑ ته وفرمایل چې زه تا لوړوم دځان خوا ته (یعنی آسمان ته دی خیژوم یعنی بغیر دوفات څخه) نو دی عیسٰی ؑ وفرمایل چې ولی می لوړوی ای الله؟ نوالله ﷻ ورته وفرمایل زه دی لوړوم اوبیادی راکښته کوم په آخره زمانه کی چې ته وګوری ددغه نبی دامت څخه عجائب یعنی دوی چې کم دحیرانتیا کارونه کوی چې هغه ته وګوری اوته ددوی سره مدد وکی په وژلو ددجال باندی، زه به تاراکښته کوم دلمانځه په وخت کی نوته به دوی ته جمع نه ورکوی ولی چې دوی بخښل سوی دی اودهغه نبی څخه وروسته به بل نبی نه وی.

اودارکم هشام بن عمار نقل کوی دالولید بن مسلم څخه دی نقل کوی دعبدالرحمٰن بن زید څخه دی نقل کوی دخپل پلار څخه دی وایې چې: عیسٰی ؑ وفرمایل: ای ربه زماماته خبراکړه ددغه رحم سوی امت په باره کی نوالله ﷻ ورته وفرمایل چې داامت داحمد ﷺ دی، داامت به اکثره علماء اوحکماء وی لکه چې په شان دانبیاوو چې دوی به راضی کیږی په لږ باندی اوزه به راضی کیږم ددوی څخه په اسانه عمل باندی، اوزه به دوی داخلوم جنت ته

(c) ketabton.com: The Digital Library



په لا اله الاالله باندی. ای عیسیٰ دوی به اکثره اوسیدونکی دجنت وی، ولی چی ددوی ژبه به همیشه په لااله الاالله باندی لنده وی اوددوی به تندی اکثره په سجده باندی پراته وی چی دبل امت به داسی حال نه وی لکه څه رکم به چی ددوی وی. اودارکم ابن عساکر ویلی دی دطریقی دعبدالله بن بدیل العقیلی څخه دی نقل کوی دعبدالله بن عوسجه څخه دی وایې چی: عیسیٰ علیه السلام ته الله ﷻ وحی وکړې اوورته یې وفرمایل: مادخپل ځان دپاره مقصد وګرځوه اومادځان سره توښه کړه، اوماته نژدی والی اختیار که په نفلونو کولو سره، ماته ته ګران یې نوبل څوك زماسره مه برابروه نوزه به تاذلیله کم، اوته صبر کوه په مصیبتونو باندی اوراضی اوسه په قضاء اوتقدیر باندی (یعنی دتقدیر په فیصلو کی چون چرا مه کوه اوپه هغه باندی راضی سه که څه هم ستادنفس څخه خلاف فیصله به سوی وی) اوزما خوشحالی په ځان کی لټوه ولی چی زماخوشحالی په دی کی ده چی زمانافرمانی ونه سی اوزما اطاعت وسی، اوزماسره نژدی اوسه په ذکرسره اوزمامحبت ستاپه زړه کی وی چی دغفلت په وختونو کی تاراولاړوی اوزماخوا ته رغبت کوه اوپه خپل زړه کی زمابیره ځای کړه، اوپه ښو کارونوکی تیزی کوه اوسستوالی مه کوه اوپه خلګو کی زمانصیحت وغوړوه اوپه خلګو کی زماپه حکم باندی فیصلی کوه. ای عیسیٰ بن مریم ته ژړا وکړه په ځان باندی مخکی دراتګ دهغه ورځی څخه چی بیابه دی ژړا فائده نه کوی اوداسی ژړاوکړه لکه چی ته خپل اهل اوخاندان پریښودو والایې اودنیا اودهغه خوند اولذتونه پریږده او اعراض ځینی وکړه اودخلګو سره په نرمی سره خبری کوه اوپه هرچاباندی سلام اچوه او ویښ اوسه کله چی نیکان بندګان بیده سی په دی بیری سره چی هسی نه چی څه آفت راسی دزلزلی یاداسی بل آفت، اومخکی ددی څخه ځان ته توښه برابره کړه چی بیا وروسته مال اودولت اواهل پکار نه راځی، اوخپلی سترګی توری کړه په خفګان سره کله چی مضبوط خلګ خنداګانی کوی (یعنی کله چی ښه اومضبوط خلګ دالله ﷻ دفکر څخه غافله سی اودآخرت غم نه کوی اوپه ځان باندی فخر کوی نوته سترګی ځینی پټی کړه او دخفګان اودغم اظهار پروکړه) اوکله چی تاته څوك بدردی وایې نوته په هغه صبرکوه، اوزیری به وی ستادپاره که چیری تاته درکول سو هغه څه چی وعده یې سویده دصبر کونکو سره، اودالله ﷻ څخه دهرڅه امید کوه اوپه هغه باندی توکل کوه، اوهرکار په حساب سره کوه ولی چی ددی کارونوبه ستاڅخه په ورځ دقیامت پوښتنه کول کیږی، او ځان ته داسی طبیعت جوړکړه چی ته ګوری چی صالحینو ته ماکم نعمت ورکړی دی نوستا زړه دهغوی په نعمتونو کتلو سره اوبه سی اوزړه دی وسی چی دغه نعمتونه الله ﷻ تاته هم درکی. دارکم ابو داود په کتاب القدر کی یو روایت ذکرکړی دی په نقل کولو سره دمحمد بن یحیٰی بن فارس څخه دی نقل کوی دعبدالرزاق څخه دی نقل کوی دمعمر څخه دی نقل

(c) ketabton.com: The Digital Library



کوی دالزهری څخه دی نقل کوی دابن طاوس څخه دی نقل کوی دخپل پلار څخه دی وایې چی: ولیده عیسیٰ بن مریم ﷺ دابلیس لعنت الله علیه سره نوورته یې وفرمایل. آیاتاته معلومه ده چی تاته به نه دررسیږی څه نقصان یاڅه فائده مګرهغه چی الله ﷻ درته په تقدیر کی لیکلی وی؟ نوابلیس وویل: نوته دغره سرته وخیژه اوځان راایله کړه نوتاته به معلومه سی چی ته ژوندی پاته کیږی یانه. نوابن طاوس دخپل پلار څخه نقل کوی چی: بیاعیسی ﷺ وفرمایل چی تانه دی آوریدلی چی الله ﷻ فرمایلی دی چی مادی نه مجبوره کوی بنده په یوکار باندی ولی زه چی څه غوارم هغه کوم.

اوالزهری ویلی چی بنده په الله ﷻ باندی امتحان نه سی کولی بلکی الله ﷻ په بنده باندی امتحان کوی. اوابو داود نقل کوی داحمد بن عبده څخه دی نقل کوی دسفیان څخه دی نقل کوی دعمر څخه دی نقل کوی دطاوس څخه دی وایې چی: شیطان رالی اوعیسیٰ ﷺ ته یې وویل چی آیاته په ځان باندی داګمان نه کوی چی ته رښتنی یې، نوته ولاړسره اویوی لوړی غونډی ته وخیژه اوځان راایله کړه. نوعیسیٰ ﷺ ورته وفرمایل، هلاکت دی وی ستا دپاره، تانه دی آوریدلی چی الله ﷻ فرمایلی دی ای نبی هیڅکله ماته دځان دهلاکت سوال مه کوه ولی چی زه چی څه غوارم نوهغه کوم.

اودعیسیٰ ﷺ دپاره خاص ځای نه ووی چی هلته به دی اوسیدی یابه یې هلته عبادت کوی بلکی پرکم ځای به چی ورلی نوهم هلته به یې دالله ﷻ تسبیحات وایه اودالله ﷻ یادونه به یې کول، اودعیسیٰ ﷺ په اولنی وار باندی مړی ژوندی کول په هغه ورځ وه چی دی یوه ورځ په یوی ښځی باندی تیریدی چی دغه ښځه یوقبرته ناسته وه اوژړله یې، نودی عیسیٰ ﷺ ورته وفرمایل چی څه چل دی تالره ولی ژاړی؟ نودی ښځی ورته وویل چی زمایوه لور مړه سویده اوددی څخه ماسوا زمانور هیڅ څوك نسته اومادالله ﷻ سره وعده کړیده چی زه به ددی ځای څخه نه ښوروم تردی چی الله ﷻ ماته هم مرګ راولیږی اویاالله ﷻ داراژوندی کی اوزه یې ووینم. نوعیسیٰ ﷺ ورته وفرمایل چی آیاچی داته ووینی نوته بیا ځی؟ نودی ښځی وویل چی هوزه به ولاړه سم. نوویل سوی دی چی عیسیٰ ﷺ دوه رکعاته لمونځ وکی، اوبیا رالی اوددی قبرخواته کښېنستی اووی فرمایل دې قبر ته ای فلانی دالله ﷻ په حکم سره ولاړه سه اودقبر څخه راووزه. نوویل سوی دی، چی قبر وښوریدی کله چی عیسیٰ ﷺ دوهم اواز وکی نوقبر خلاص سو نوبیایې دریم اواز وکی نوددی ښځی لور را ووته اوخپل سریې دخاورو څخه وڅنډی نوعیسیٰ ﷺ ورته وفرمایل چی داڅه شی ته وروسته کړی؟ نودی انجلی وویل کله چی اولنی اوازماته وسو نوملائکی رالی اوزماخلقت یې برابرکی نوکله چی دوهم اواز وسو نوماته زماروح راکول سو اوکله چی ماته دریم اواز

(c) ketabton.com: The Digital Library



وسو نوزه وبیریدمه چی قیامت قائم سو، اوبیاخپلی مورته راله اوورته یې وویل چی ولی ته په ماباندی دمرګ خوند دوه واره څکی اوبیایې خپلی مورته وویل چی ته صبر وکړه او محاسبه دځان سره وکړه ولی چی زماڅه حاجت نسته دنیاته، بیادی انجلی عیسٰی ﷺ ته وویل، ای دالله ﷻ پیغمبره ته دالله ﷻ څخه زمادپاره سوال وکه چی مابیرته دآخرت ژوند ته اوپه ماباندی مرګ اسانه کی. نوعیسٰی ﷺ ورلهر دالله ﷻ څخه دعا وغوښته او ملك الموت روح ځینی قبض کی اودمزکی سره برابره سوه. نوداخبره یهودوته ورسیده نوهغوی نورهم غصه سوه، اومخکی دنوح ﷺ په قصه کی هم ذکرسوی وه چی دعیسٰی ﷺ ملګرو دده څخه طلب وکی چی دوی ته سام راژوندی کی چی دهغه څخه دکښتی په باره کی پوښتنه وکی نوهغه یې هم دالله ﷻ په حکم سره راژوندی کی اوبیا رالی خاوری سو.

اوبل روایت دالسدی څخه نقل دی چی دی یې نقل کوی دابی صالح څخه دی نقل کوی دابن عباس څخه په ذکرکولو دیوخبرکی چی په هغه کی داذکردی چی دبنی اسرائیلو یو بادشاه وفات سوی وو نوخلګو دده کټ راوړی عیسٰی ﷺ ته نوعیسٰی ﷺ دالله څخه دعا وغوښته نوالله ﷻ دابادشاه راژوندی کی نودوی چی کله داحالت وکتی نودوی سخت حیران سوه اوپه تعجب کی سوه دی کارته.

دارکم الله ﷻ فرمایلی دی اوهغه رښتنی وینا والادی: إِذْ قَالَ اللهُ يَا عِيسَى ابْنَ مَرْيَمَ اذْكُرْ نِعْمَتِي عَلَيْكَ وَعَلَى وَالِدَتِكَ إِذْ أَيَّدْتُكَ بِرُوحِ الْقُدُسِ تُكَلِّمُ النَّاسَ فِي الْمَهْدِ وَكَهْلًا وَإِذْ عَلَّمْتُكَ الْكِتَابَ وَالْحِكْمَةَ وَالتَّوْرَاةَ وَالْإِنْجِيلَ وَإِذْ تَخْلُقُ مِنَ الطِّينِ كَهَيْئَةِ الطَّيْرِ بِإِذْنِي فَتَنْفُخُ فِيهَا فَتَكُونُ طَيْرًا بِإِذْنِي وَتُبْرِئُ الْأَكْمَهَ وَالْأَبْرَصَ بِإِذْنِي وَإِذْ تُخْرِجُ الْمَوْتَى بِإِذْنِي وَإِذْ كَفَفْتُ بَنِي إِسْرَائِيلَ عَنْكَ إِذْ جِئْتَهُمْ بِالْبَيِّنَاتِ فَقَالَ الَّذِينَ كَفَرُوا مِنْهُمْ إِنْ هَذَا إِلَّا سِحْرٌ مُبِينٌ (۱۱۰) وَإِذْ أَوْحَيْتُ إِلَى الْحَوَارِيِّينَ أَنْ آمِنُوا بِي وَبِرَسُولِي قَالُوا آمَنَّا وَاشْهَدْ بِأَنَّنَا مُسْلِمُونَ. (سورة المائده ۱۱۰\۱۱۱) په دی اٰیتونوکی الله دخپل نعمتونوبیان کړی دی عیسٰی ﷺ ته اوخپل احسانات یې ورته بیان کړی دی یودهغه څخه داچی دی یې بی پلاره پیداکی اودا پیدائش یې خلګو ته نښه په قدرت دالله ﷻ باندی وګرځول اوبیادده پیغمبر مقررول وروسته ددی څخه دابل احسان دی دالله ﷻ دطرفه (وَعَلى وٰلِدَتِكَ) اودده په والدی باندی یې هم داحسان ذکروکی چی هغه یې خوښه کړیده دنورو ښځو څخه اولوړ مقام یې ورلره ورکړی دی: إِذْ أَيَّدْتُكَ بِرُوحِ الْقُدُسِ، هغه داچی راتګ دجبریل اودپوکی کولو په ګریوان دمریم ﷺ کی دابل احسان سو دالله ﷻ دخوا: تُكَلِّمُ النَّاسَ فِي الْمَهْدِ وَكَهْلًا، اوبل احسان داچی تابه خبری کولی دخلګو سره په زانګو کی: وَإِذْ عَلَّمْتُكَ الْكِتَابَ وَالْحِكْمَةَ وَالتَّوْرَاةَ وَالْإِنْجِيلَ، اوبل غټ احسان دالله ﷻ دخوا دادی چی ده ته یې پوهه اوعلم اوحکمت ورکی او

(c) ketabton.com: The Digital Library



دتورات اوانجیل علم یې ورلره نصیب کی چی بل ځوك په دغه زمانه کی ماسوا دده ځخه نه په پوهیدی: وَإِذْ تَخْلُقُ مِنَ الطِّينِ كَهَيْئَةِ الطَّيْرِ بِإِذْنِي، اودابل احسان دالله ﷻ دخوا، هغه داچی عیسٰی ﷺ به دخټی ځخه مرغی جوړه کړه اوپکښی پوه به یې کړه نودهغه ځخه به دالله ﷻ په حکم سره صحیح مرغی جوړه سوه چی دعام مرغانو په شان به الوتله. وَتُبْرِئُ الْأَكْمَهَ وَالْأَبْرَصَ بِإِذْنِي وَإِذْ تُخْرِجُ الْمَوْتَى بِإِذْنِي، اوبل دااحسان دالله ﷻ دخوا چی ده به ړندوته دالله ﷻ ځخه دعا وغوښتله نوهغه ته به الله ﷻ دسترګو نظر ورکی اودارکم چی دچابه برګی ناجوړی وه نوهغه ته به یې دعا وغوښتل نودغه برګی ناجوړی به ښه سوه، اوبل داچی دالله ﷻ په اذن اوحکم سره به یې مړی راژوندی کول لکه مخکی چی ځه رکم په واقعاتوکی ذکر سوه. وَإِذْ كَفَفْتُ بَنِي إِسْرَائِيلَ عَنْكَ إِذْ جِئْتَهُمْ بِالْبَيِّنَاتِ فَقَالَ الَّذِينَ كَفَرُوا مِنْهُمْ إِنْ هَذَا إِلَّا سِحْرٌ مُبِينٌ اوبل دااحسان چی کله بنی اسرائیلو دده دقتل اراده وکړه نوالله ﷻ دی دځان خوا ته لوړکی اودده دتکلیفونو ځخه یې محفوظ کی. اوداقول دالله ﷻ : وَإِذْ أَوْحَيْتُ إِلَى الْحَوَارِيِّينَ أَنْ آمِنُوا بِي وَبِرَسُولِي قَالُوا آمَنَّا وَاشْهَدْ بِأَنَّنَا مُسْلِمُونَ، دلته دوحی ځخه مراد ارشاد اودلالت دی یعنی کله چی تاحوارییټو ته لارښوونه کول چی په الله ﷻ باندی ایمان راوړی اودهغه درسول تابع داری وکی نوهغوی وویل چی موږ ایمان راوړی دی اوموږ دمسلمانانو ځخه یو دلته هم ددلالت معنٰی مراده ده اوپه بل ځای کی داسی ذکرسوی دی لکه ځه رکم چی الله ﷻ فرمایلی دی: وَأَوْحَى رَبُّكَ إِلَى النَّحْلِ، (سورة النحل \ ۲۸) وَأَوْحَيْنَا إِلَى أُمِّ مُوسَى أَنْ أَرْضِعِيهِ فَإِذَا خِفْتِ عَلَيْهِ فَأَلْقِيهِ فِي الْيَمِّ (سورة القصص \ ۷). یادلته وحی په واسطه دنبی سره مراد ده. نودا ځه چی مخکی بیان سو داټول دالله ﷻ دخواه ښکاره نعمتونه اواحسانات وه په عیسٰی ﷺ تردی چی انصاریې ورلره ملګری کړه اومددګاران یې کړه ورلره چی دده سره به یې دعوت کوی دالله ﷻ خوا ته: لکه ځه رکم چی الله ﷻ خپل بنده اوخوږ پیغمبر خاتم الانبیاء محمد مصطفٰی ﷺ ته فرمایلی دی: هُوَ الَّذِي أَيَّدَكَ بِنَصْرِهِ وَبِالْمُؤْمِنِينَ (۶۲) وَأَلَّفَ بَيْنَ قُلُوبِهِمْ لَوْ أَنْفَقْتَ مَا فِي الْأَرْضِ جَمِيعًا مَا أَلَّفْتَ بَيْنَ قُلُوبِهِمْ وَلَكِنَّ اللهَ أَلَّفَ بَيْنَهُمْ إِنَّهُ عَزِيزٌ حَكِيمٌ، (سورة الانفال ۶۲\ ۶۳)، اودارکم الله ﷻ فرمایلی دی: وَيُعَلِّمُهُ الْكِتَابَ وَالْحِكْمَةَ وَالتَّوْرَاةَ وَالْإِنْجِيلَ (۴۸) وَرَسُولًا إِلَى بَنِي إِسْرَائِيلَ أَنِّي قَدْ جِئْتُكُمْ بِآيَةٍ مِنْ رَبِّكُمْ أَنِّي أَخْلُقُ لَكُمْ مِنَ الطِّينِ كَهَيْئَةِ الطَّيْرِ فَأَنْفُخُ فِيهِ فَيَكُونُ طَيْرًا بِإِذْنِ اللهِ وَأُبْرِئُ الْأَكْمَهَ وَالْأَبْرَصَ وَأُحْيِي الْمَوْتَى بِإِذْنِ اللهِ وَأُنَبِّئُكُمْ بِمَا تَأْكُلُونَ وَمَا تَدَّخِرُونَ فِي بُيُوتِكُمْ إِنَّ فِي ذَلِكَ لَآيَةً لَكُمْ إِنْ كُنْتُمْ مُؤْمِنِينَ (۴۹) وَمُصَدِّقًا لِمَا بَيْنَ يَدَيَّ مِنَ التَّوْرَاةِ وَلِأُحِلَّ لَكُمْ بَعْضَ الَّذِي حُرِّمَ عَلَيْكُمْ وَجِئْتُكُمْ بِآيَةٍ مِنْ رَبِّكُمْ فَاتَّقُوا اللهَ وَأَطِيعُونِ (۵۰) إِنَّ اللهَ رَبِّي وَرَبُّكُمْ فَاعْبُدُوهُ هَذَا صِرَاطٌ مُسْتَقِيمٌ

(c) ketabton.com: The Digital Library



(۵۱) فَلَمَّا أَحَسَّ عِيسَى مِنْهُمُ الْكُفْرَ قَالَ مَنْ أَنْصَارِي إِلَى اللهِ قَالَ الْحَوَارِيُّونَ نَحْنُ أَنْصَارُ اللهِ آمَنَّا بِاللهِ وَاشْهَدْ بِأَنَّا مُسْلِمُونَ (۵۲) رَبَّنَا آمَنَّا بِمَا أَنْزَلْتَ وَاتَّبَعْنَا الرَّسُولَ فَاكْتُبْنَا مَعَ الشَّاهِدِينَ (۵۳) وَمَكَرُوا وَمَكَرَ اللهُ وَاللهُ خَيْرُ الْمَاكِرِينَ، (سورة آل عمران ۴۸\ ۵۴) نودهریوه نبی دپاره دخپل زمانی مطابق معجزی ورکول سوی دی، نوویل سوی دی، چی دموسیٰ دپاره دخپل زمانی مطابق معجزی ورکول سوی دی، نوویل سوی دی، چی دموسیٰ ﷺ په وخت کی دجادو ګری ډیره چرچه وه نوهغه ته داسی معجزه ورکول سوه چی ټول جادوګران په پرسوه، داسی نښه یې ده ته ورکړه چی جادوګران څه چی دعام خلګو ذهنو هم کار ورلره پرېښووی داسی معجزه وه، اودعیسیٰ ﷺ په زمانه کی دحکمت ډیره چرچه وه نوالله ﷻ عیسیٰ ﷺ ته داسی حکمت اودانایې ورکړه چی دهیڅ چاپه وس کی دهغه سره مقابله کول نه وو اوداسی حکیم وو چی دړندو علاج به یې دالله ﷻ په حکم سره کوی اوبرګی داسی ناجوړی وه چی چابه یې هم علاج نه سو کولی اوده ته الله ﷻ دبرګی دعلاج طریقی ښوولی وی اوداركم جذام ناجوړی سوه اونوری داسی ناجوړیانی چی یوحکیم هم دانه سو کولی چی علاج یې وکی اوالله ﷻ ده ته ددی ټولو دعلاج طریقی ښوولی وی، اوبل داچی بنده دی حدته نه سی رسیدلی چی مړی دقبرونو څخه راولاړوی نوداپه صدق دده دنبوت باندی غټ اوښکاره دلیل وو. اودا رکم دنبی ﷺ په دور کی دبلاغت اوفصاحت چرچه وه نوالله ﷻ خپل محبوب نبی ته داسی معجزانه کلام ورکی چی انتهایې بلیغ اوفصیح کلام وو.

وَمَكَرُوا وَمَكَرَ اللهُ وَاللهُ خَيْرُ الْمَاكِرِينَ، اوداركم الله ﷻ فرمایلی دی: وَإِذْ قَالَ عِيسَى ابْنُ مَرْيَمَ يَا بَنِي إِسْرَائِيلَ إِنِّي رَسُولُ اللهِ إِلَيْكُمْ مُصَدِّقًا لِمَا بَيْنَ يَدَيَّ مِنَ التَّوْرَاةِ وَمُبَشِّرًا بِرَسُولٍ يَأْتِي مِنْ بَعْدِي اسْمُهُ أَحْمَدُ فَلَمَّا جَاءَهُمْ بِالْبَيِّنَاتِ قَالُوا هَذَا سِحْرٌ مُبِينٌ (۶) وَمَنْ أَظْلَمُ مِمَّنِ افْتَرَى عَلَى اللهِ الْكَذِبَ وَهُوَ يُدْعَى إِلَى الْإِسْلَامِ وَاللهُ لَا يَهْدِي الْقَوْمَ الظَّالِمِينَ (۷) يُرِيدُونَ لِيُطْفِئُوا نُورَ اللهِ بِأَفْوَاهِهِمْ وَاللهُ مُتِمُّ نُورِهِ وَلَوْ كَرِهَ الْكَافِرُونَ، (سورة الصف ۶\ ۸) تردی چی ددی څخه وروسته یې داسی فرمایلی دی: يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا كُونُوا أَنْصَارَ اللهِ كَمَا قَالَ عِيسَى ابْنُ مَرْيَمَ لِلْحَوَارِيِّينَ مَنْ أَنْصَارِي إِلَى اللهِ قَالَ الْحَوَارِيُّونَ نَحْنُ أَنْصَارُ اللهِ فَآمَنَتْ طَائِفَةٌ مِنْ بَنِي إِسْرَائِيلَ وَكَفَرَتْ طَائِفَةٌ فَأَيَّدْنَا الَّذِينَ آمَنُوا عَلَى عَدُوِّهِمْ فَأَصْبَحُوا ظَاهِرِينَ، (سورة الصف \ ۱۴) نوعیسیٰ ﷺ آخرنی نبی دبنی اسرائیلو دی اوپه دوی کی یوه ورځ ولاړسو اودوی ته یې زیری ورکی په راتګ دیونبی باندی چی هغه آخرنی نبی دی او دهغه څخه وروسته به بل نبی‌نه وی‌اودوی ته یې نوم هم وښووی اودوی ته یې دهغه صفات هم بیان کړه چی دوی یې کله په دی صفاتو باندی پیداکی اووپیژنی نودهغه تابعداری دِ وکی، اودایې دوی ته ځکه بیان کی چی په دوی باندی حجت قائم کی اواحسان وو دطرفه

(c) ketabton.com: The Digital Library



دالله ﷻ ځخه.
الله ﷻ فرمایلی دی: الَّذِينَ يَتَّبِعُونَ الرَّسُولَ النَّبِيَّ الْأُمِّيَّ الَّذِي يَجِدُونَهُ مَكْتُوبًا عِنْدَهُمْ فِي التَّوْرَاةِ وَالْإِنْجِيلِ يَأْمُرُهُمْ بِالْمَعْرُوفِ وَيَنْهَاهُمْ عَنِ الْمُنْكَرِ وَيُحِلُّ لَهُمُ الطَّيِّبَاتِ وَيُحَرِّمُ عَلَيْهِمُ الْخَبَائِثَ وَيَضَعُ عَنْهُمْ إِصْرَهُمْ وَالْأَغْلَالَ الَّتِي كَانَتْ عَلَيْهِمْ فَالَّذِينَ آمَنُوا بِهِ وَعَزَّرُوهُ وَنَصَرُوهُ وَاتَّبَعُوا النُّورَ الَّذِي أُنْزِلَ مَعَهُ أُولَئِكَ هُمُ الْمُفْلِحُونَ (سورة الاعراف \ ۱۵۷) محمد بن اسحاق وایې په نقل کولو سره دثور بن یزید ځخه دی نقل کوی دخالد بن معدن ځخه دی نقل کوی داصحابو درسول الله ﷺ ځخه چی دی صحابوو نبی ؑ ته وفرمایل: مورږ ته دځان په باره کی څه خبر راکه نونبی ؑ وفرمایل: دعادابراهیم ؑ اوزیری دعیسیٰ ؑ، اوزما والدی یوقسم نور لیدلی وو چی کله یې زماحمل واخستی چی دهغه دوجی به ورته دبصری دعلاقی قصرونه ښکاره کیدل. اودارکم په یوبل روایت کی دالعرباض بن ساریه اودابی امامه ځخه چی دوی نقل کوی دنبی ؑ ځخه چی فرمایلی دی چی په هغه کی همدا عبارت ذکردی چی زه دعا دابراهیم ؑ یم اوزیری دعیسیٰ ؑ اوداددی وجی ځخه چی ابراهیم ؑ چی کله خانه کعبه جوړوله نودا دعایې کړی وه چی یاالله دلته په دوی کی یونبی پیداکی چی هم ددی قوم ځخه وی، لکه څه رکم چی الله ﷻ فرمایلی دی: رَبَّنَا وَابْعَثْ فِيهِمْ، اولکه چی دبنی اسرائیلو ځخه نبوت ختم سو نوعیسیٰ ؑ په دوی کی ولاړسو اودوی ته یې خبرورکی چی په دوی کی نبوت ختم سو اودده ځخه وروسته به یوپیغمبر راځی چی هغه به ختم الانبیاء وی اوپه عربوکی به وی چی احمد نوم به یې وی، چی هغه محمد بن عبدالله بن عبدالمطلب بن هاشم چی دی به په سلسلی داسماعیل ؑ کی وی. الله ﷻ فرمایلی دی: فَلَمَّا جَاءَهُمْ بِالْبَيِّنَاتِ قَالُوا هَذَا سِحْرٌ مُبِينٌ، دلته ضمیر یاعیسیٰ ؑ ته راجع دی اویامحمد ﷺ ته راجع دی، بیاالله ﷻ امرکړی دی مومنانوته په نصرت داسلام باندی اوپه نصرت اومدد دانبیاوو باندی اودنبی ؑ سره تعاون په نشر ددین کی اوپه نشر ددعوت کی نوفرمایلی دی: يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا كُونُوا أَنْصَارَ اللهِ كَمَا قَالَ عِيسَى ابْنُ مَرْيَمَ لِلْحَوَارِيِّينَ مَنْ أَنْصَارِي إِلَى اللهِ، یعنی څوك به زمامدد وکی په دعوت کی دالله ﷻ خوا ته: قَالَ الْحَوَارِيُّونَ نَحْنُ أَنْصَارُ اللهِ، اودوی وه په یو کلی کی چی الناصره نوم یې وو نودوی دهغه کلی په نوم باندی مسمیٰ سوه چی نصاریٰ ورته اوس هم ویل کیږی: فَآمَنَتْ طَائِفَةٌ مِنْ بَنِي إِسْرَائِيلَ وَكَفَرَتْ طَائِفَةٌ، یعنی کله چی عیسیٰ ؑ دی بنی اسرائیلو ته دادعوت ورکی نوپه دوی کی چا ایمان راوړی اوچا انکار وکی یعنی دده دادعوت یې ونه منی اوپه خپل کفر اوګمراهی باندی پاته سو نودهغه وخت ځخه راسی تردی زمانه داسلام پوری دنصاراو اودیهودو په خپلوکی دیوبل سره کینه اوبغض پیداسو

(c) ketabton.com: The Digital Library



اودواړې ډلې په ناحقه وې مګر يوڅو کسان چې دهغوی عقيدې صحيح وې، ولې چې په يهوديانو کې اکثرو دعيسٰی ؑ دعوت قبول نه کې، اوپه نصاراو کې اکثرو عيسٰی ؑ ته داسې درجه ورکړه چې دالله ﷻ څخه يې هم لوړ کې نودواړه کافران وه مګر يوڅو خاص کسان چې هغوی داويل چې عيسٰی ؑ دالله ﷻ بنده دی اودهغه پيغمبردی نوری داخبرې يې نه دی کړې چې دادريم الله دی اونه يې داويلې دی چې داالله ﷻ ځوی دی لکه څه رکم چې په دې باندې بعضو نصاراوو قول کړی دی.

**بيان ددسترخوان**

الله ﷻ فرمايلی دی: وَإِذْ أَوْحَيْتُ إِلَى الْحَوَارِيِّينَ أَنْ آمِنُوا بِي وَبِرَسُولِي قَالُوا آمَنَّا وَاشْهَدْ بِأَنَّنَا مُسْلِمُونَ (۱۱۱) إِذْ قَالَ الْحَوَارِيُّونَ يَا عِيسَى ابْنَ مَرْيَمَ هَلْ يَسْتَطِيعُ رَبُّكَ أَنْ يُنَزِّلَ عَلَيْنَا مَائِدَةً مِنَ السَّمَاءِ قَالَ اتَّقُوا اللهَ إِنْ كُنْتُمْ مُؤْمِنِينَ (۱۱۲) قَالُوا نُرِيدُ أَنْ نَأْكُلَ مِنْهَا وَتَطْمَئِنَّ قُلُوبُنَا وَنَعْلَمَ أَنْ قَدْ صَدَقْتَنَا وَنَكُونَ عَلَيْهَا مِنَ الشَّاهِدِينَ (۱۱۳) قَالَ عِيسَى ابْنُ مَرْيَمَ اللهمَّ رَبَّنَا أَنْزِلْ عَلَيْنَا مَائِدَةً مِنَ السَّمَاءِ تَكُونُ لَنَا عِيدًا لِأَوَّلِنَا وَآخِرِنَا وَآيَةً مِنْكَ وَارْزُقْنَا وَأَنْتَ خَيْرُ الرَّازِقِينَ (۱۱۴) قَالَ اللهُ إِنِّي مُنَزِّلُهَا عَلَيْكُمْ فَمَنْ يَكْفُرْ بَعْدُ مِنْكُمْ فَإِنِّي أُعَذِّبُهُ عَذَابًا لَا أُعَذِّبُهُ أَحَدًا مِنَ الْعَالَمِينَ (سورة المائده ۱۱۱\ ۱۱۵).

په تفسير کې موږ دمائده (يعنی دسترخوان) دنزول په باره کې تفصيلي خبره کړيده ددی په باره کې دابن عباس اودسليمان الفارسی څخه اودعمار بن ياسر څخه روايت نقل دی. چې مضمون دهغه داسې دی چې: عيسٰی ؑ حوارييونو ته امر وکې چې ديرش ورځې روژه ونيسي، کله چې دوی داديرش ورځې روژه ونيوله نودوی غوښتنه وکړه دعيسٰی ؑ څخه چې دوی ته دی دآسمان څخه يودستر خوان نازل کې چې دوی دهغه څخه خوراك وکې او زړونه يې مطمئن سی په دی خبره باندې چې الله ﷻ ددوی څخه داروژه قبوله کړيده، اودا به ددوی دپاره اختر دافطار سی (يعنی عيدالفطر چې موږ ورته کوچنی اختر وايو) اوداسې دستر خوان وی چې داولنی اواخرنی دپاره کافی سی، اوغريب اومالدارو ته کافی سی. نو عيسٰی ؑ دوی ته نصيحت وکې چې ددی طلب مه کوی ولې چې ددی شکر به بيانه سی ادا کولی اوددی شرطونه به بياپوره نه کې، نودوی کلك سوه په دی خبره باندې چې ضرور به داسوال کوی درب څخه ددی دستر خوان په باره کې، نوکله چې دوی نه منع کيده نو عيسٰی ؑ ولاړسو اوپه لمانځه باندې ودريدی اودوه رکعته لمونځ يې وکې اوالله ﷻ ته په ژړاسو چې دوی ته داطلب ورپوره کې نوالله ﷻ دآسمان څخه دسترخوان نازل کې اودوی ورته کتل، اودا دسترخوان دوی ته کرار کرار نژدی کيدی، څومره به چې نژدی کيدی نو عيسٰی ؑ به دادعاکوله چې داددوی دپاره نعمت وګرځی اونه داچې عذاب وګرځی ددوی دپاره اودا دسترخوان په يوڅادر باندې پټ سوی وو نوعيسٰی ؑ داڅادر ځينی ليری کې نووی

(c) ketabton.com: The Digital Library



فرمایل (بسم الله خیر الرازقین) په نامه دهغه الله باندی چی ښه رزق ورکونکی دی. نوپه دې باندی میان اونور هرقسم خوراکونه اومیوی چی انګور اوانار اوداسی نوری میوی پر پرتی وی اوددی سترخان څخه ښه بوی ختی، بیاعیسیٰ ﷺ دوی ته امروکی په خوړلو ددی څخه نودوی ورته وویل چی موږ ځینی خوراك نه کوو چی ترڅو پوری چی تاځینی خوراك نه وی کړی، نوعیسیٰ ﷺ دوی ته وفرمایل چی اول سوال تاسی کړی دی ددې په باره کی نودوی خوراك ځینی ونه کی نوعیسیٰ ﷺ مسکینانو ته اوناجوړو ته اودچاچی هرقسم ناجوړی وه اوڅه تکلیف وو دی ټولو ته عیسیٰ ﷺ امروکی نودوی راله اوپه خوړلو یې شروع وکړه نوپه چاباندی چی څه تکلیف وو هغه الله ﷻ ځینی لیری کی اودچاچی څه ناجوړی وه الله ﷻ هغه ناجوړی په سبب ددی خوراك سره ځینی لیری کړه.

اودارکم ددوی تعداد (۱۳۰۰) کسان وه نودی ټولو ته الله ﷻ شفا ورکړه. نوویل سوی دی چاچی ورڅخه اول وار خوراك نه وو کړی نوهغوی ډیرخفه سوه، اوویل سویدی چی دا دسترخوان به روزانه ددې خوراکونو سره نازلیدی اوبیابه دوی ورځی وروسته نازلیدی.

دارکم بیا داصرف دفقیرانو دپاره مقرر سو نومنافقینو په کی خبری شروع کړی نوالله ﷻ دا سترخان بالکل مسخ کی اوختم یې کی اودهغه کمو کسانو چی خبری کولی نوددوی څخه یې خنزیران جوړکړه.

اودارکم روایت ذکرکړی دی ابن ابی حاتم په نقل کولو سره دحسن بن قزعه څخه دی نقل کوی دسفیان بن حبیب څخه دی نقل کوی دسعید بن ابی عروبه څخه دی نقل کوی دقتاده څخه دی نقل کوی دخلاس څخه دی نقل کوی دعمار بن یاسر څخه دی نقل کوی دنبی ﷺ څخه دی وایې چی: دآسمان څخه الله تعالی دسترخان نازل کړی وو چی په هغه کی ډوډی اوغوښی اومیوی وی اودوی ته امرسوی وو چی دابه نه ذخیره کوی اوخیانت به په کی نه کوی، نودوی ذخیره کړه نوددوی څخه واخستل سو، اوددوی څخه خنزیران اوبیزوګان جوړ سوه (۱) اوددی په باره کی موږ په تفسیرونو کی تفصیلی بحث کړی دی نو دتفصیل دپاره تفسیرته رجوع وکی.

روایت ذکرکړی دی ابوبکر بن ابی الدنیاپه نقل کولو سره دیوسړی څخه چی نوم یې نه دی ذکرسوی دی نقل کوی دحجاج بن محمد څخه دی نقل کوی دابوهلال بن محمدبن سلیمان څخه دی نقل کوی دبکربن عبدالله المزنی څخه دی وایې چی: دحوارییننو څخه خپل نبی عیسیٰ ﷺ ورك سو نودوی ورپسی دسمندر خوا ته ووته کله چی دوی سمندرته ورسیده نوګوری چی عیسیٰ ﷺ داوبو په سرباندی روان دی اویوموج یې لوړوی اوبل یې کښته

---

(۱). الترمذی: کتاب التفسیر، سورة المائده (۵\ ۳۰۲۱).

(c) ketabton.com: The Digital Library



کوی نوپه دی کی یوسړی ورته وویل چی آیازه ستا خواته درتلی سم نوداعیسیٰ ؑ ورته
وفرمایل چی هو!نوپه دوی کی چی یوسړی ورروان سونویوقدم یې چی کښېښووی په دوهم
قدم ایږدلو سره ډوب سو نوده عیسیٰ ؑ ته اواز وکی چی زه غرق سوم نوعیسیٰ ؑ لاس
ونیوی ځینی اوداوبو څخه یې راوایستی، اوبیایې وفرمایل چی: که چیری دبنی آدمو یقین
داوربشی ددانی دومره وای نودوی به په اوبو باندی ګرزیدلای.
اودارکم هم داسی یوبل روایت دابوسعید بن الاعرابی څخه نقل دی چی دی یې نقل کوی
دابراهیم بن ابی الجحیم څخه دی نقل کوی دسلیمان بن حرب څخه دی نقل کوی دابی هلال
څخه دی نقل کوی دبکر څخه هم په دی طریقی سره په کمی طریقی چی دامخکنی روایت
ذکرسوی دی. بیاابی الدنیا ویلی دی په نقل کولوسره دمحمد بن علی بن الحسن بن سفیان
څخه دی نقل کوی دابراهیم بن الاشعث څخه دی نقل کوی دالفضیل بن عیاض څخه دی
وایې چی: ویل سوی دی عیسیٰ ؑ ته چی ته څه رکم داوبو په سرباندی ګرزی نوده
وفرمایل چی په یقین اوپه ایمان سره، نودوی ورته وویل چی دغه ایمان خوموږ هم راوړی
دی اودغه یقین خوزموږ هم دی، نوعیسیٰ ؑ دوی ته وفرمایل چی بیاراځی زماسره نوکله
چی دوی دعیسیٰ ؑ سره روان سوه نودوی په اوبوکی غرق سوه، اوعیسیٰ ؑ داوبو پر
سرپاته سو، نوعیسیٰ ؑ دوی ته وویل چی ولی، نودوی وویل چی موږ دسمندر دموجونو
څخه بیریدلو نوعیسیٰ ؑ دوی ته وفرمایل چی دسمندر دموجونو څخه بیریداست اودهغه
رب څخه چی ددی موجونو رب دی دهغه څخه نه بیریداست. نوبیایې دوی راوایستل. بیا
عیسیٰ ؑ مزکه ووهل تردی چی ورته وغوړول سوه نوعیسیٰ ؑ خاوره ځینی راواخسته،
نوپه یوه لاس کی یې لوټه وه اوپه بل لاس کی یې دسروزرو ټکړه وه نودوی ته یې وفرمایل
چی په دی کی تاسی ته کم یوګران دی نودوی وویل چی داسره زر نوعیسیٰ ؑ وفرمایل
چی دازما په نزد بددی. اومخکی موږ داذکرکړه چی په قصه دیحییٰ ؑ کی چی عیسیٰ
ؑ ددوی څخه کپړی جوړولی اوهغه به یې اچولی اوددرختی پاڼی به یې خوړل اودهغه
دپاره کور اوخاص مکان نه وو اونه به یې څه ذخیره کوله دصبا ورځی دپاره.
دارکم ابن عساکر ویلی دی په نقل کولوسره دالشعبی څخه دی وایې چی: وو عیسیٰ ؑ
چی کله به دده خواته دقیامت ذکروسو نوده به چغه ووهل، اوبیایې وفرمایل چی: داسی نه
سی کیدی چی دابن مریم خواته دی دقیامت تذکره وسی اوهغه دی خاموشه پاته سی.
اودارکم اسحاق بن بشیر ویلی دی په نقل کولو سره دهشام بن حشان څخه دی نقل کوی
دحسن څخه دی وایې چی په ورځ دقیامت به دزاهدانو مشرعیسیٰ ؑ وی اودغه کسان چی
په دنیاکی به دګناهونو تښتیدل دهغوی حشر به دعیسیٰ ؑ سره په ورځ دقیامت کی وی.
اوویل سوی دی چی یوه ورځ عیسیٰ ؑ ته خوب ورلی نویوکاڼی یې دسرلاندی کښېښووی او

(c) ketabton.com: The Digital Library



بیده سو نوکله چې ورلره خوب خوند ورکی نوابلیس لعین ورته رالی اوورته یې وویل چې ته وایې زما ددنیا سامانونو ته ضرورت نسته، اوداکانړی هم ددنیا سامان دی نوعیسیٰ ﷺ ولاړسو اوداکانړی یې هم دسر څخه لیری کی اودا ابلیس یې باندی وویشتی اوورته یې وویل چې داواخله ددنیا سره ستاسو زمانه دی پکار. اودارکم معتمر بن سلیمان ویلی دی چې یوه ورځ عیسیٰ ﷺ دخپلو کسانو سره راووتی چې یوه چوغه یې دوړی څخه جوړه کړې وه هغه یې اچولی وه اوپښی یې لڅې وی (څپلی یې نه وی) اوپه حالت دژړاکی وو اورنګ مبارك یې ژړ وو داوړی والی څخه اوشونډی مبارکی یې وچی وی دتږی والی څخه نووی فرمایل: ای بنی اسرائیلو، زه هغه سړی یم چې الله ﷻ ماته په دنیاکی یوه درجه راکړې ده اوزه په دی باندی نه تعجب کوم اونه فخرپه کوم آیاتاسی ته معلومه ده چې زما کور چیری دی؟ نودوی وویل چې چیری دی ای دالله ﷻ رسوله؟ نوده وفرمایل چې جماعتونه زماکورونه دی اوروغوالی زما اوبه دی اواوښکی زماوریوالی دی، اوڅراغ زما سپوږمی ده په شپه کی، اوپه یخ کی زما لمونځ دلمر راختل دی، اوزماکپړی دوړی څخه جوړی دی، اوزما شعار دالله ﷻ څخه بیره ده، اوزماهم مجلس مسکینان خلګ دی اونا جوړیان خلګ دی، سهار سی اوزماسره هیڅ څه نه وی اوماښام سی اوزماسره هیڅ څه نه وی اوزه روغ صحت والایم چې هیڅ ته می زړه نه کیږی، نو وروسته څوك دی زما څخه ډیر ګټه کونکی اوزما څخه ډیر مالدار. اودارکم محمد بن الولید بن ابان بن حیان بن ابی الحسن العقیلی المصری دی نقل کوی دهانی بن المتوکل الاسکندری څخه دی نقل کوی دحیوه بن شریح څخه دی نقل کوی دالولید بن ابی الولید څخه دی نقل کوی دشفی بن ماتع څخه دی نقل کوی دابوهریره رضی الله عنه څخه دی نقل کوی دنبی ﷺ څخه چې فرمایلی دی: وحی وکړی الله ﷻ عیسیٰ ﷺ ته چې دیوځای څخه منتقل کیږه بل ځای ته ددی وجی څخه چې ته ونه پیژندل سی کنې تاته به ضرر ورسوی، زمادی په خپل عزت اوپه جلال باندی قسم وی چې تاته به زه (۱۰۰۰) حوری درکم اوستا ولیمه به زه ترڅلور سوه کالو پوری ورکوم. په دی حدیث کی غرابت دی.

دارکم داسماعیل بن عیاش څخه نقل دی دی نقل کوی دعبدالله بن دینار څخه دی نقل کوی دابن عمر څخه دی وایې چې: وفرمایل عیسیٰ ﷺ حوارییونوته چې: تاسی خوری ډوډی داوربشو اواوبه چښی خوتروی اوبه، اوددنیا څخه په امن سره وځی اوپه سلامتیا سره اوځی داحقه خبره زه تاسی ته کوم چې ددنیا لذت دآخرت لذت ختموی اودآخرت لذت ددنیالذت ختموی (یعنی څوك چې دآخرت لذت اونعمتونه غواړی نوهغه دی په دی دنیا کی په نعمتونو پسی نه ګرځی اوښه لباس اوښه خوراکونه دی نه کوی ولی چې ددی دنیا نعمتونه دآخرت نعمتونه ختموی)، اوبدبخته اوشریر عالم هغه دی چې په خپل علم باندی دنیا

(c) ketabton.com: The Digital Library



ته ترجیح ورکوی.
اودارکم وهب ویلی دی په نقل کولو سره دسلیمان بن بلال څخه دی نقل کوی دیحیٰی بن سعید څخه دی وایې چې: عیسٰی ﷷ به فرمایل چې تاسی په دنیاباندی تیرسی اوتعمیر په کی مه جوړوی، اودابه یې فرمایل: محبت ددنیا دټولو خطایانو سردی، اوپه کتلو سره زړه ته شهوت کښېنته کیږی، اوحکایت کړی دی وهیب بن الورد همداسی روایت خوهغه په کی دازیات کړی دی: اواکثره داسی شهوتونه وی چې په میراث کی ورکوی اهل ته ډیر غمونه. اوپه بل روایت کی ویل سوی دی چې عیسٰی ﷷ فرمایلی دی: ای بنی آدمه ته دالله ﷻ څخه بیره کوه په هرځای کی چې یې، اوپه دنیاکی جماعت ځان ته کور کړه اوخپلو سترګوته ژړاوښیه اوخپل بدن ته صبر وښیه، اوزړه ته فکر سوچ وښیه. اودصبا دروزی دپاره غم مه کوه ولی چې داغلط کاردی. اوپه یوبل روایت کی ذکردی چې عیسٰی ﷷ فرمایلی دی: لکه څه رکم چې په تاسی کی یوسړی دسمندر په موجونو باندی کورنه سی جوړولی نودارکم په دنیاکی قرارهم نه سی نیولی. اودارکم سفیان الثوری ویلی دی چې عیسٰی ﷷ فرمایلی دی: چې دانسان په زړه کی ددنیا اواٰخرت محبت دواړه نه یوځای کیږی. دارکم ابراهیم الحربی ویلی دی په نقل کولو سره ددواد بن رشید څخه چې دی نقل کوی دعبدالله الصوفی څخه دی وایې چې: عیسٰی ﷷ فرمایلی دی: طالب ددنیا په ډول دهغه سړی دی لکه یوسړی چې دسمندر څخه اوبه چښی چې دسمندر څخه څومره اوبه چښی هغه دومره انسانان نور هم تږی کیږی تردی چې مړه سی.
اودارکم په یوبل روایت کی نقل دی چې عیسٰی ﷷ فرمایلی دی چې: یقینًا شیطان ددنیا سره دی اومکر دده دمال سره دی اوبنائست دده دخواهشاتو سره دی، اوځای دده شهواتو سره دی. اودارکم ابو مصعب ویلی دی په نقل کولو سره دمالك څخه دی وایې چې: عیسٰی ﷷ فرمایلی دی: تاسی ډیری فضولی خبری مه کوی ولی چې په دی سره زړه سختیږی او سخت زړه دالله ﷻ څخه لیری وی مګر تاسی ته پته نه لګیږی، اودخلګو ګناهونو ته داسی مه ګوری لکه چې تاسی اربابان یاست بلکی داسی ګوری لکه چې تاسی بندګان یاست، ولی چې خلګ دوه قسمه وی څوك په عافیت کی وی اوڅوك په مصیبت کی وی نوپه تاسی کی دی رحم وکی هغه کسان چې په عافیت کی دی په هغه کسانو باندی چې هغوی په مصیبت کی وی. اودارکم مالك بن دینار ویلی دی چې عیسٰی ﷷ فرمایلی دی چې: دجنت الفردوس دطلب دپاره دوربشی ډودی سره شګه خوړل اودسپو سره په دشتو کی بیده کیدل هم کم دی. اودارکم دعبدالله بن المبارك روایت نقل کوی دسفیان څخه دی نقل کوی دمنصور څخه دی نقل کوی دسالم څخه دی نقل کوی دابن ابی الجعد څخه دی وایې چې ویلی دی عیسٰی ﷷ: تاسی عمل وکی دالله ﷻ درضا دپاره، اوعمل مه کوی دخپلو خیټو

(c) ketabton.com: The Digital Library



دپاره، تاسی وګوری دی مرغانو ته چی سهارتش ججوری دجالو څخه وځی اوماښام چی راځی نوججوری یې ډك وی اودغه مرغان نه کرونده کوی اونه ریبل کوی اونه څه کارکوی، اوالله ﷻ ورته رزق ورکوی. اوتاسی ځان وساتی دفضولیاتوددنیا څخه ولی چی فضولیات ددنیا په نزد دالله ﷻ باندی ګندګی ده. اودارکم صفوان بن عمر یوروایت نقل کوی دشریح بن عبدالله څخه دی نقل کوی دیزید بن میسره څخه دی وایې چی: وویل حوارییینو مسیح عیسٰی ؑ ته: ای عیسٰی ؑ وګوره دی جماعت ته څومره ښه جوړسوی دی. اوڅومره ښه ښکاری. نوعیسٰی ؑ وفرمایل چی بالکل ښه جوړدی خوزه تاسی ته داحقه خبره کوم چی الله ﷻ به ددی جماعت یوکانې پرې نږدی مګرهغه به هلاکوی په سبب دګناهونوداهل دهغه ولی چی الله ﷻ دانه خوښوی چی دادی دسروزرو اودسپینو زرو څخه اونه ددغو کاڼو څخه چی تاسی په تعجب کی اچوی ددی څخه جوړسی بلکی الله ﷻ داخوښوی چی یوجماعت په زړونو باندی جوړسی اوپه نیکو اعمالو باندی ښائسته سی اوپه دغه اعمالو بآندی الله ﷻ مزکه آبادوی، اوهم په دی زړونو اواعمالو باندی الله ﷻ مزکه خرابوی که چیری دازړونه او اعمالونه په غلطه طریقه وی. دارکم یوبل روایت نقل کوی حافظ ابن عساکر په تاریخ خپل کی دابو منصور بن محمد الصوفی څخه دی نقل کوی دعائشه بنت الحسن بن ابراهیم الورکامیه څخه دی وایې چی ماته خبرراکړی دی احمد بن جعفر الرازی دی نقل کوی دسهیل بن ابراهیم الحنظلی څخه دی نقل کوی دعبدالوهاب بن عبدالعزیز څخه دی نقل کوی دمعتمر څخه دی نقل کوی دمجاهد څخه دی نقل کوی دابن عباس څخه دی نقل کوی دنبی ؑ څخه چی فرمایلی دی: تیرسو عیسٰی ؑ په یوکلی باندی چی خراب سوی وو او تش کنډواله په کی پاته سوی وه، نوعیسٰی ؑ چی ددی کلی دامحلونه اوقصرونه ولیدل نووی فرمایل، ای الله دی کلی زه په تعجب کی کړم اوداقصرونه زماډیر خوښ سوه. نوالله ﷻ دغه کلی ته وحی وکړی چی عیسٰی ؑ ته جواب ورکی. نوویل سوی دی، چی دغه ځای عیسٰی ؑ ته اواز وکی چی ای عیسٰی ؑ زماحبیبه زما څخه څه غواړی. نوعیسٰی ؑ ورته وفرمایل چی ستادرختی اونهرونه څه سوه؟ اوستا اوسیدونکی څه سوه؟ نودی کلی ورته وویل چی ای زماحبیبه دالله ﷻ حقه وعده په دی خلګو باندی راله نوزما درختی وچی سوی اوزما نهرونه هم وچ سوه اوزما بنګلی اوقصرونه هم خراب سوه اوزما اوسیدونکی هم مړه سوه. نوده بیاپوښتنه وکړه چی دهغوی مالونه څه سوه؟ نودی کلی ورته جواب ورکی چی هغه ټول مالونه چی دوی په حلاله اوحرامه طریقه سره جمع کړی وه هغه ټول زماپه نس کی پراته دی، دالله ﷻ دپاره دی میراث دآسمانونو اودمزکو، نوویل سوی دی چی عیسٰی ؑ وفرمایل په دغه وخت کی: زه تعجب کوم دری قسمه خلګو ته، یوداچی طالب ددنیاوی اومرګ دی دځان خوا ته طلب کوی (یعنی دی دنیاځان ته رابولی اومرګ

(c) ketabton.com: The Digital Library



دی دځان خواته رابولی)، دوهم سړی چی قصرونه اومحلونه جوړوی اودورتګ ځای یې قبر وی، اودریم هغه سړی چی په ډکی خولی سره خنداکوی اومخ ته یې اوروی ابن آدم په ډیرو نه مړیږی، اوپه لږو قناعت اوصبر نه کوی، جمع کوی مال هغه چاته چی هغه یې شاباسی نه کوی، اوددی پیش کیدل دی رب ته چی هغه بیاعذر نه قبلوی اوالله ﷻ به ورته فرمایی چی ته په دنیا کی دی خپل خیټی بندوی اودخپلو شهوتونه بندوی. اوالله ﷻ به دغه انسان ته وفرمایې چی ته خیټه ډکوی اوحال دادی چی ته قبرته دننه کیدونکی یې اوای دآدم ځویه ته به دقیامت په ورځ خپل حشر وګوری دبل چاپه میزان کی. په دی حدیث کی هم غرابت دی لیکن په دی کی ښائسته نصیحتونه دی نوددی وجی څخه مو ولیکی.
اودارکم سفیان الثوری نقل کوی دخپل پلار څخه دی نقل کوی دابراهیم بن التیمی څخه دی وایې چی عیسیٰ علیه السلام فرمایلی دی: ای دحوارینو ډلی تاسی خپلی خزانی په آخرت کی کښیږدی اوهلته یې ذخیره کی، ولی چی دانسان زړه په هغه ځای کی وی په کم ځای کی چی دهغه خزانه وی. اوپه یوبل روایت کی ذکردی چی بنی اسرائیلو ته عیسیٰ علیه السلام ددرو خبرو نصیحت وکی، یوداچی تاسی ته هرځای هم دنیکی لاری معلومی سی نوتاسی په هغه لارپسی روان سی اودهغه تابعداری وکی، اوکه دیوکار بدپه تاسی کی معلوم سی نوتاسی دهغه څخه ځان ساتی، دریم داچی په یوکار کی یاپه څه مسئله کی ستاسی اختلاف وی نوهغه تاسی علماوو ته پیش کی. اودارکم عبدالرزاق نقل کوی دمعمر څخه دی نقل کوی دیوسړی څخه دی نقل کوی دعکرمه څخه دی وایې چی: عیسیٰ علیه السلام فرمایلی دی: تاسی ملغلری دخنزیر خواته مه ورغورزوی ولی چی دخنزیر ملغلری نه پکاریږی، اوتاسی حکمت هغه چاته مه ورکوی چی هغه یې طلب نه کوی، ولی چی حکمت دملغلرو څخه ښه دی، او دچا چی حکمت پکارنه وی نوهغه ده خنزیر څخه هم زیات بدتروی.
اودارکم ویل سوی دی چی دعیسیٰ علیه السلام څخه پوښتنه وسوه، دکم سړی فتنه زیاته وی؟ نو عیسیٰ علیه السلام وفرمایل: ښویدل دیوعالم ولی چی عالم سړی چی کله وښویږی نودځان سره ډیر خلګ ښویوی. اودارکم ویل سوی دی چی عیسیٰ علیه السلام فرمایلی دی: ای دبدی علماوو تاسی ګرځولی ده دنیا په خپل سرباندی اوآخرت دپښنو لاندی، ستاسی وینا شفاده او ستاسی عمل دوایې ده ستاسی مثال په ډول ددرختی د(الدقلی) دی دایوه درخته ده چی په ظاهری شکل باندی ښه ده خوچی چاځینی خوراك وکی نومړکیږی، نوعیسیٰ علیه السلام دوی ته وویل چی ستاسی مثال دهغه درختی په ډول دی چی څوك ورته ګوری نوپه تعجب کی سی اوکه خوراك ځینی وکی نومړسی. اودارکم دوهب څخه نقل دی، دی وایې چی عیسیٰ علیه السلام فرمایلی دی ای دبدی علماوو تاسی دجنت په دروازو کی ناست یاست نونه په خپله دننه کیږی اونه نور مسکینان دننه کیدلو ته پریږدی. یقیناً په نزد دالله ﷻ باندی بدترین انسان هغه دی

(c) ketabton.com: The Digital Library



چې په خپل علم سره دنیا طلبوي، اوداركم وهب بن منبه ويلي دي چې: يوه ورځ عيسىٰ عليه السلام دخپلو ملګررو سره ديوقبر په غاړه ودريدي نوعيسىٰ عليه السلام وفرمايل چې په دې سړي باندې داقبرتنګ دی اودی په کې لغتي وهي، نوبياعيسىٰ عليه السلام وفرمايل دې خپلو ملګروته چې په دی سړي به داقبر دومره تنګ نه وي ځومره چې په تاسي باندې دمور رحم تنګ وو مګر الله ﷻ چې يې وغواړي نوانسان ته يې فراخه کوي. اوداركم ابوعمر الضرير ويلي دي ماته خبرراسيدلی دی چې عيسىٰ عليه السلام به کله مرګ ياد کی نودبدن مبارك څخه يې وينه په قطرو قطرو تويېدله. اوداركم ډير اثار داسي دعيسىٰ عليه السلام څخه نقل دي چې دالړ ورڅخه موږ ذکر کړه اوپه دې باندې به اکتفاء وکو.

## بيان دلوړولو دعيسىٰ عليه السلام آسمان ته

الله ﷻ فرمايلي دي: وَمَكَرُوا وَمَكَرَ اللهُ وَاللهُ خَيْرُ الْمَاكِرِينَ (٥٤) إِذْ قَالَ اللهُ يَا عِيسَى إِنِّي مُتَوَفِّيكَ وَرَافِعُكَ إِلَيَّ وَمُطَهِّرُكَ مِنَ الَّذِينَ كَفَرُوا وَجَاعِلُ الَّذِينَ اتَّبَعُوكَ فَوْقَ الَّذِينَ كَفَرُوا إِلَى يَوْمِ الْقِيَامَةِ ثُمَّ إِلَيَّ مَرْجِعُكُمْ فَأَحْكُمُ بَيْنَكُمْ فِيمَا كُنْتُمْ فِيهِ تَخْتَلِفُونَ. (سورة آل عمران ۵۴\ ۵۵) نودلته الله ﷻ خبر ورکړی دی چې کله دې بيده وو نوالله ﷻ وفات کی دی په خوب سره بنابرقول صحيح، او خلاص يې کی دهغه ضرر څخه چې يهوديانو غوښته چې ده ته يې ورسوي. حسن بصري وايې چې په دغه وخت کی يوبادشاه وو چې نوم يې داود بن نوراوو چې ده په قتل دعيسىٰ عليه السلام باندې امر وکی اودده په پهانسي کولو باندې يې امروکی نوعيسىٰ عليه السلام يې دجمعې په ورځ چې دخالي شپه وه په بيت المقدس کی قيدکی نوالله ﷻ دعيسىٰ عليه السلام شکل په دې ملګرو کی يوبل سړي ته ورکی اودی يې ددوی څخه لوړ کی دآسمان خوا ته، اوکله چې دوی بيت المقدس ته په عيسىٰ عليه السلام پسې داخل سوه نودوی کتله چې عيسىٰ عليه السلام آسمان خوا ته وخيژول سو، اوپه دوی کی څه کسان رادننه سوه نويوځوان يې وکتی چې الله ﷻ هغه دعيسىٰ عليه السلام په ډول کړی وو په شکل کی نودوی ګمان پروکی چې داعيسىٰ عليه السلام دی نوهغه يې راونيوی اوپانسي يې کی اوپه سرباندې يې ورته ازغی کښېښوول دذليل کولو دپاره اودسپکاوی دپاره اوعام نصارىٰ ټول يهودو ته تسليم سوه کم چې دعيسىٰ عليه السلام دلوړيدو منظر نه وو کتلی، اودوی داګمان وکی چې عيسىٰ عليه السلام پانسي سو اوذليله سو او دوی ګمراه سوه په سخته ګمراهی سره. اوددې څخه خبر وکی الله ﷻ په دې خپل قول سره وَإِنْ مِنْ أَهْلِ الْكِتَابِ إِلَّا لَيُؤْمِنَنَّ بِهِ قَبْلَ مَوْتِهِ يعني په هغه وخت کی کله به چې دی په آخره زمانه کی بياراکښته کيږي مخکی دقيامت څخه، نودی به خنزيران وژني اوصليب به مات کی اوپه کافرانو باندې به ټيکس کښېږدي اوداسلام څخه ماسوا به بل دين نه قبلوي، لکه څه رکم چې ددې خبرو وضاحت موږپه خپل تفسيرکی ددې قول دالله ﷻ سره کړی دی داکم

(c) ketabton.com: The Digital Library



اٰیت چې مخکې ذکرسو، دارکم یوروایت نقل دی دابن ابی حاتم څخه دی نقل کوی داحمد بن سنان څخه دی نقل کوی دابو معاویه څخه دی نقل کوی دمنعال بن عمر څخه دی نقل کوی دسعید بن جبیر څخه دی نقل کوی دابن عباس څخه دی وایې چې: کله چې الله ﷻ وغوښتې چې عیسٰی ﷺ اسمان ته لوړکی نودی بیت المقدس ته ددولسو کسانو سره دننه سو، اودوی ته یې وفرمایل چې په تاسی کی څوك داخوښوی چې زماپه ځای باندی پانسی سی اوپه جنت کی زماسره په یوه درجې کی وی؟ نوپه دی کی یوځوان هلك راولاړسو اووی ویل چې زه داسی غواړم نوالله ﷻ دهغه شکل دعیسٰی ﷺ سره یوډول کی اوعیسٰی ﷺ یې آسمان ته لوړکی نودیهودو څخه یوڅو کسان راله اوداځوان یې بوتلی اوپانسی یې کی نوپه دی دولسو کسانو کی دری ډلی جوړی سوی بعضو ویلی دی چې دی الله ﷻ وو په موږ کی اوبیرته آسمان ته وختی (یعنی الله ﷻ دانسان په شکل کی موږ ته نازل سوی وو اوبیرته وختی) نودی ډلی ته یعقوبیه وایې. اودوهمی ډلی داویلی دی چې دی دالله ﷻ ځوی وو تراوسه پوری زموږ سره دلته پاته وو اوچې الله ﷻ وغوښتی نولوړ یې کی، او دریمه ډله مسلمانان وه چې هغوی ویله چې دی دالله ﷻ پیغمبر وو اوالله ﷻ آسمان ته لوړ کی نودادری قسمه ډلی سوی اولنی دوی ډلی کافران سوه اودادریمه ډله مسلمانان پاته سوه، نودا اولنی دوی ډلی رالی اودادریمه ډله چې مسلمانان وه دایې قتل کړه نودهغه ورځی راایسی اسلام ددوی څخه ختم سو تردی چې الله ﷻ محمد مصطفی ﷺ ته نبوت ورکی اوداسلام رڼایې بیرته بحاله کړه. ابن عباس وایې چې دا په دی قول دالله ﷻ سره ظاهریږی: فَأَيَّدْنَا الَّذِينَ آمَنُوا عَلَى عَدُوِّهِمْ فَأَصْبَحُوا ظَاهِرِينَ. (سورة الصف\ ۱۴) اودا اسناد دابن عباس خوا ته صحیح دی.

اودارکم نسایې یوروایت نقل کړی دی دابی کریب څخه دی نقل کوی دابی معاویه څخه هم په دی الفاظو سره. اودارکم ابن جریر روایت نقل کړی دی دمسلم بن جناد څخه چې دی نقل کوی دابی معاویه څخه. اودارکم یوبل هم دسلفو څخه داسی روایت نقل کوی، چې ډیر اوږد روایت یې نقل کړی دی چې په هغه کی یې داذکرکړی دی چې محمد بن اسحاق بن یسار ویلی دی: عیسٰی ﷺ دالله ﷻ څخه دعا وغوښته چې دده داجل نیټه وروسته سی ددی وجی څخه چې دی خپل رسالت اودعوت تکمیل ته ورسوی اوډیر خلګ په دین کی داخل سی. اوویل سوی دی چې دده سره دولس حواریین وه چې نومونه یې داوه: بطرس: یعقوب بن زبدا، یحنس چې ورور دیعقوب وو، اندراوس وفلیس، ابر ثلما، متی، توماس، یعقوب بن حلقیا، تداوس، فتاتیا، یودس، کریایوطا، داهغه دولس حواریین وه ابن اسحاق ویلی دی چې: په دوی کی یوبل سړی هم وو چې دوی پټ کړی وو چې نوم یې سرجس وو

(c) ketabton.com: The Digital Library



اوددغه سړي دعیسٰی ﷺ سره شکل یوډول وو اوبیادي دعیسٰی ﷺ په ځای باندي پانسي سو. اوویل سوی دی چي بعضی نصارٰی داوایي چي هغه سړی په دغه شکل دعیسٰی ﷺ سره مشابه سوی وو هغه یودس بن کریایوطاوو، والله اعلم.
اوضحاك په نقل کولو سره دابن عباس څخه ویلی دی. چي عیسٰی ﷺ دځان څخه وروسته شمعون خلیفه کی اوقتل کی یهودو یودس کم ته چي دعیسٰی ﷺ شکل ورکول سوی وو.
اواحمد بن مروان ویلی دی په نقل کولو سره دمحمد بن الجهم څخه دی وایي چي: ما اوریدلی دی دفراء څخه چي ددی اٰیت په باره کی یې وویل: وَمَكَرُوا وَمَكَرَ اللهُ وَاللهُ خَيْرُ الْمَاكِرِينَ دی وایي چي عیسٰی ﷺ دخپل دترور دکور څخه ډیر موده غیب سوی وو تردی چي یوه ورځ رالی نویهودیان اودهغه مشر چي کم په جالوت مقام کی وو هغه هم خبرسو نوټول په ده پسی دغه ځای ته راله اودکور دروازه یې ماته کړه نوالله ﷻ ددوی سترګی په عیسٰی ﷺ باندی ړندی کړی نودوی عیسٰی ﷺ ونه لیدی تردی چي عیسٰی ﷺ ددی کور څخه ووتی اودباندی په دغه ځای کی یوبل سړی هم ولاړوو نوالله ﷻ هغه ته دعیسٰی شکل ورکی نوکله چي دایهودیان دکور څخه ووتل نودباندی یې داسړی ولیدی نوورته یې وویل چي ته عیسٰی یې نوهغه سړی راګیرکی اوپانسی یې کی. نوالله ﷻ وفرمایل: وَمَا قَتَلُوهُ وَمَا صَلَبُوهُ وَلَكِنْ شُبِّهَ لَهُمْ اودارکم دابن جریر څخه هم یوروایت نقل دی چي په هغه کی هم داذکر دی چي دوی محاصره سوی وه په بیت المقدس کی، خودهغه په روایت کی (۱۸) کسان ذکر سوی دی، نودوی چي کله په عیسٰی ﷺ پسی رادننه سوی دی نوددوی څخه عیسٰی ﷺ غیب سوی وو نودوی دی حوارییڼو ته وویل چي تاسی په موږ باندی جادو وکی موږ ته به یاعیسٰی ﷺ راباسی یابه تاسی ټول قتل کوو، نوعیسٰی ﷺ دوی ته وویل چي نن ورځ څوك ځان خرڅوی دجنت په قیمت باندی نویوه سړی وویل چي زه نوالله ﷻ هغه ته دعیسٰی ﷺ شکل ورکی، نویهودیانو هغه راونیوی اوپانسی یې کی اوالله ﷻ عیسٰی ﷺ لوړ آسمان ته وخیژوی. نودوی ته دعیسٰی ﷺ هم شکل پیش سوی وو اودوی داګمان کړی وو چي دوی په حقیقت کی عیسٰی ﷺ پانسی کړی دی اوبعضی نصاراوو هم داومنل چي عیسٰی ﷺ پانسی سوی دی. اودارکم حافظ ابن عساکر ویلی دی په طریقه دیحیٰی بن حبیب سره، په باره دهغه کی چي مریم دهغه یهودی بادشاه څخه طلب وکی دکښته کولو دهغه سړی دبدن کم چي پانسی سوی وو وروسته داوو ورځو څخه، اوددی داګمان وو چي دایې ځوی دی، نودده بدن کښته اوهلته پټ سو. نویوه ورځ مریم ؓ دیحیٰی ﷺ مورته وویل چي زماسره نه ځی دعیسٰی ﷺ قبرته، نوداورسره روانه سوه اوددی ګمان دمخکی څخه داوو چي عیسٰی ﷺ پانسی سوی دی، نوکله چي دوی دواړی روانی سوی نوپه دی

(c) ketabton.com: The Digital Library



کی مریم ﷺ ته جبریل ﷺ راښکاره سو نومریم ﷺ دیحیٰی ﷺ مورته وفرمایل چی ته پرده نه کوی نودی ورته وویل چی څوك دی چی زه پرده وکم نوورته وویل سوه چی تاته څوك نه ښکاری نودی وویل چی نه، نومریم ﷺ ورته وفرمایل چی جبرایل دی نوداځینی په یوخوا سوه نومریم ﷺ ته جبریل ﷺ وفرمایل چی کمی خواته روانه یې نودی ورته وویل چی دعیسیٰ ﷺ قبرته، نوجبریل ﷺ ورته وفرمایل چی هغه خووفات سوی نه دی بلکی هغه اسمان ته خیژول سوی دی، اودی مریم ﷺ ته یې وفرمایل چی ته په فلانی ورځ راسه نو ستا سره به دی ځوی ووینی، اوجبرایل ﷺ ورته یوځای نښانه کی چی په داسی ځای کی به ستاسره ځوی ووینی، نوکله چی داپه هغه ورځ باندی ورله ته نوپه هغه ځای کی یې ځوی ولیدی اوپه لیدلو سره یې ورمنډه کړه اوغاړه یې پرچاپیره کړه اومچ یې کی اودالله ﷻ څخه یې ورته دعاگانی وغوښتلی لکه څه رکم چی به یې ورته مخکی غوښتلی، اوعیسیٰ ﷺ خپلی مورته وفرمایل چی ای زماموری زه قوم نه وم مړکړی بلکی زه الله ﷻ لوړکړی وم آسمان ته تالره ژر ترژره مرگ راروان دی نوتاسی صبر پروکی اودالله ﷻ ډیر ډیر ذکرکوه.
نوبیا ولاړی عیسیٰ ﷺ آسمان ته نوبیا یې دمور سره نه دی لیدلی تردی چی والده محترمه یې هم وفات سوه. اوویل سوی دی چی مریم ﷺ دعیسیٰ ﷺ څخه وروسته ترپنځو کاله پوری ژوندی وه اوکله چی وفات کیدل نوعمر یې (۵۳) کاله وو. الله ﷻ دی دواړو څخه راضی وی اودواړو ته دی جنت الفردوس نصیب کړی. (آمین)
اوحسن بصری ویلی دی چی کله عیسیٰ ﷺ وفات کیدی نوعمر مبارك یې (۳۴) کاله وو اوپه حدیث کی ذکرسوی دی چی جنت ته به هرانسان په (۳۳) کلنی کی دننه کیږی (یعنی څوك چی په بوډاوالی کی هم وفات سی یاڅوك په ماشوم والی کی وفات سی نوټول به په (۳۳) کلنی کی جنت ته داخلیږی)، اوپه بل حدیث کی ویل سوی دی چی په پیدائش دعیسیٰ ﷺ باندی اوپه حسن دیوسف ﷺ باندی به وی چی جنت ته به داخلیږی.
اودارکم په یوروایت کی دحماد بن سلمه څخه نقل دی چی دی نقل کوی دعلی بن یزید څخه دی نقل کوی دسعید بن المسیب څخه دی وایې چی: عیسیٰ ﷺ وفات سوی دی په (۳۳) کلنی کی. دارکم سفیان بن عیینه روایت نقل کوی دعمر بن دینار څخه دی نقل کوی دیحیٰی بن جعده څخه دی وایې چی ویلی دی فاطمه بنت رسول الله ﷺ چی ماته رسول الله ﷺ فرمایلی دی: عیسیٰ ﷺ په بنی اسرائیلو کی څلویښت کاله تیرکړی دی. اودا روایت منقطع دی. اودارکم ابن جریر ویلی دی په نقل کولو سره دالاعمش څخه دی نقل کوی دابراهیم څخه دی وایې چی: عیسیٰ ﷺ وفات سوی دی په (۲۲) درمضان المبارك اوپه دغه رکم تاریخ باندی علی ﷺ هم وفات سوی دی. اودارکم دضحاك څخه نقل دی وایې چی کله عیسیٰ ﷺ لوړ سو نوداسمان څخه یوه وریځ راله اوعیسیٰ ﷺ پرکښېنستی اوهغه

(c) ketabton.com: The Digital Library



وریځ روانه سوه دآسمان خواته او عیسیٰ ﷺ خدای په امانی وکړه دخپلی مور سره اومور یې ژړل اوخپل ځوی ته یې کتل چی دآسمان خوا ته روان دی نوعیسیٰ ﷺ خپل څادر مور ته وروغورځوی اوخپلی مورته یې وویل چی دابه نښانه وی زما اوستاپه منځ کی په ورځ دقیامت اوخپله بګړی مبارکه یې شمعون ته پرېښوول اووالده یې اخته وه چی اشاره یې ورته کوله په لاس سره دخدای په امانی تردی چی ورك سو ددی دنظرونو څخه، اودی ډیر ورسره محبت کوی، ولی چی ددی به داکوشش وو چی دی خپل ځوی ته ددواړو خواو څخه محبت ورکی هم محبت دپلار اوهم محبت دمور نوددی وجی څخه یې ورسره ډیرزیات محبت وو، اودارکم داسحاق بن بشیر څخه نقل دی دی نقل کوی دمجاهدبن جبران څخه دی وایې چی: کله چی یهودو هغه سړی پانسی کی نوډیر مسیحیان یعنی نصاریٰ یهودیانو ته تسلیم سوه اویهودیانو ډیرظلمونه پرشروع کړه اوددوی یې ډیر سپکاوی وکی، کله چی داخبر روم ته ورسیدی چی هلته دمشق بادشاه وو هغه ته داخبره چی وررسوله چی په دغه ځای کی یوپیغمبر وو چی دبرګی ناجوړی اوجذام ناجوړی علاج یې کوی اودده په علاج سره به صحیح کیدی اوړندوته به یې چی دعاوکړه نونظر به یې صحیح سو اومړی به یې را ژوندی کول اوداسی نور عجیبه اوحیرانکن کارونه به یې کوله نودی بادشاه دی یهودیانو پسی کسان وروليږل اوددوی څخه یې ډیر کسان مړه کړه اوډیر یې ځینی ګرفتار کړه اوډیر یی ځینی بندیان کړه اوکم ملګری چی دعیسیٰ ﷺ وه هغه یې خپل دربار ته طلب کړه چی په هغه کی یحییٰ ﷺ اوشمعون هم وو اوداسی یوه ډله دنیکانوپه کی وه نودی بادشاه ځینی دعیسیٰ ﷺ په باره کی پوښتنه وکړه نودوی ورته ټوله واقعه بیان کړه نودی بادشاه ددوی سره بیعت وکی اوددوی دین یې په غالبه کی، اوهغه څانګه چی په هغه باندی هغه سړی پانسی سوی نوهغه یې راوړه اودهغه یې ډیر تعظیم اوقدر وکی اودخرما په یوی درختی کی یې وځړوی کی نودهغه ورځی راایسی نصاریٰ دصلیب قدر شروع کی اوددغه ځای څخه روم ته دنصرانیت دین ننوتلی دی. اوپه دی قول کی نظردی. یوداچی یحییٰ بن زکریا نبی دی اونبی په دی خبره باندی اقرار نه کوی چی عیسیٰ ﷺ پانسی سوی دی ولی چی هغه معصوم دی اومعصوم ته دحق پته لګیږی چی په هره طریقه سره وی. دوهم داچی رومیان په نصرانیت کی نه دی داخل سوی مګر (۳۰۰) کاله وروسته، اوپه دغه وخت کی بادشاه قسطنطین بن قسطن ووچی دابانی دهغه مدینی دی چی ده ته یې نسبت کول کیږی. دریم داچی کله دی یهودیانو چی کله هغه سړی پانسی کی نوبیایې ورته هغه ځای دپانسی کنډواله مقررکی چی خلګوبه په کی خپلی ګندګی غورځوله اومرداری به یې ورغوځول او هم داحال وو تردی په زمانه دقسطنطین کی دده مور هغه ځای ته ولاړه اوهغه ځای یی را وکښی نوهغه لرګی یی پیداکی په کم باندی چی داسړی چی مشابه دعیسیٰ ﷺ سره وو دی په

(c) ketabton.com: The Digital Library



پانسی سوی وو. نوویل سوی دی چی په دی لرګی کی الله ﷻ داسی خصوصیت کښیښنووی چی چابه په ځان پوری ومړی نوځه ناجوړی به چی پکښی وه نوهغه به لیری کیدله، تردی چی دوی دهغه لرګی ډیر تعظیم شروع کی اودسروزرو په غلاف کی یې بندکی اوګران ګران کانی یې پرتاو کړه نودهغه ورځی راسی خلګو تبرګا ددغه لرګی په شان صلیب واختستی اوهغه به یې مچوی، اوددغه بادشاه مورچی نوم یې هیلانه وه دی دغه ځای چی ډیران ورځخه جوړسوی وو دغه ځای یې صفاکی اوپه دغه ځای باندی یې کښېښسته چی عبادتګاه دنصرانیانو ده دایې جوړه کړه اوښکلی یې کی دغه ځای په مختلفو جواهراتو سره چی نن ورځ ددوی په نزد دغه ځای په مقدس ښار سره یادول کیږی اودوی ورته نوم دقیامت اخلی داپه دی بناسره چی دوی وایې چی دقیامت په ورځ به دعیسٰی ؑ جسد مبارك ددی ځای ځخه راپاځیږی. اودغه هیلانه چی دبادشاه موروه دې امروکی چی هغه ډبره چی دیهودو قبله وه دهغه ځای ځخه دی ډیران جوړسی اوګندګی اوهرڅه دی هلته وغورځول سی نودوی دغه کارشروع کی تردی چی عمربن الخطاب ؓ فتح کی، اوجمات ددی ډبری ځخه لوړنه وو جوړ بلکی ددی ډبری سره په څنګ کی جوړوو په کم ځای کی چی نبی ﷺ ټولو انبیاوو ته جمع ورکړیده اوبیاپه نبی ﷺ باندی اسراء وسوه اوداجماعت په نامه داقصی سره دی چی نن ورځ داسرائیلو په قبضه کی دی.

**بیان دصفت عیسٰی ؑ اوفضائل دهغه**

الله ﷻ فرمایلی دی: مَا الْمَسِيحُ ابْنُ مَرْيَمَ إِلاَّ رَسُولٌ قَدْ خَلَتْ مِنْ قَبْلِهِ الرُّسُلُ وَأُمُّهُ صِدِّيقَةٌ، (سورة المائده \ ۷۵). ویل سوی دی چی ده ته مسیح ځکه ویل کیږی چی ده ټوله مزکه مسحه کړیده په ګرځیدلوسره ولی چی ددین دپاره به دی دیوځای ځخه تلی بل ځای ته اودفتنو ځخه به تښتیدی، اوبل دیهودو دلاسه چی هغوی ورپوری تهمت اوالزام لګوی. اودارکم الله ﷻ فرمایلی دی: ثُمَّ قَفَّيْنَا عَلَى آثَارِهِمْ بِرُسُلِنَا وَقَفَّيْنَا بِعِيسَى ابْنِ مَرْيَمَ وَآتَيْنَاهُ الْإِنْجِيلَ وَجَعَلْنَا فِي قُلُوبِ الَّذِينَ اتَّبَعُوهُ رَأْفَةً وَرَحْمَةً، (سورة الحدید \ ۲۷) اودارکم الله ﷻ په بل ځای کی فرمایلی دی: وَآتَيْنَا عِيسَى ابْنَ مَرْيَمَ الْبَيِّنَاتِ وَأَيَّدْنَاهُ بِرُوحِ الْقُدُسِ (سورة البقره \ ۱۵۳)

اودارکم دده دصفاتو په باره کی ډیر اٰیتونه ذکردی. اوهرڅه چی احادیث دی نومخکی موږ یوحدیث ذکرکی چی نبی ؑ فرمایلی دی: نسته یوماشوم چی پیداکیږی مګر مسح کوی په هغه باندی شیطان نو هغه ماشوم چیغه وهی مګر مریم ؑ اودهغه ځوی عیسٰی ؑ، نودا ددی په فضائلو کی شمارل کیږی چی الله ﷻ دپیدائش دورځی ځخه دشیطان دګوتو ځخه خلاص کړی دی. اودارکم بل حدیث هم موږ بیان کی چی عمیر بن هانی نقل کوی دجناده ځخه دی نقل کوی دعباده ځخه دی وایې چی رسول الله ﷺ فرمایلی دی: چاچی

(c) ketabton.com: The Digital Library



شاهدی ورکړه ددی خبری چی نسته لائق دعبادت مګر یوالله ﷻ دی اومحمد ﷺ دالله ﷻ بنده اودهغه پیغام رسان دی، اودایې وویل چی جنت حق دی اودوږخ حق دی، نوالله ﷻ به داسړی ضرور جنت ته داخلوی چی په دی باندی دعمل پیروی وکی. راوی ددی حدیث بخاری اومسلم دواړه دی. اودارکم بخاری اومسلم حدیث دشعبی ذکرکوی چی دی یې نقل کوی دابی برده بن ابی موسیٰ څخه دی نقل کوی دخپل پلار څخه دی وایې چی فرمایلی دی رسول الله ﷺ: چاچی خپلی مینځی ته ادب وښووی په ښه طریقه سره اوتعلیم یې ورکی په ښه طریقه سره اوبیایی ازاده کړه اوواده یې ورسره وکړی نودده دپاره دوه اجرونه دی، اوکله چی ده په عیسیٰ ﷺ باندی ایمان راوړی اوبیاپه ماباندی ایمان راوړی نودده دپاره هم دوه اجرونه دی، اوچی یوغلام دخپل رب څخه وبیریدی اودخپل مولا خدمت یې په ښه طریقه سره وکی نودده دپاره هم دوه اجره دی. دالفظ دبخاری دی. دارکم په یوبل روایت کی ذکردی چی محمد بن کثیر وایې په نقل کولو سره داسرائیل څخه دی نقل کوی دعثمان بن المغیره څخه دی نقل کوی دمجاهد څخه دی نقل کوی دابن عمر څخه دی وایې چی فرمایلی دی رسول الله ﷺ: ماولیدی عیسیٰ ﷺ چی سور وو اوپلن سینه والاوو، او موسیٰ ﷺ غټ بدن والاوو اوداسی ښکاره کیدی لکه چی دالزط قبیلی څخه وی. (۱)

لکه څه رکم چی داسی ډیر احادیث په قصه دابراهیم ﷺ اوموسیٰ ﷺ کی تیر سویدی چی ضمنًا په کی دعیسیٰ ﷺ ذکرهم سوی دی.

دارکم بخاری یوروایت ذکرکوی په نقل کولو سره دعبدالله بن محمد څخه دی نقل کوی دعبدالرزاق څخه دی نقل کوی دمعمر څخه دی نقل کوی دهمام بن منبه څخه دی نقل کوی دابو هریره رضی الله عنه څخه دی نقل کوی درسول الله ﷺ څخه چی فرمایلی دی: ولیدی عیسیٰ یو سړی په غلاباندی نوورته یې وویل چی غلادی کوله؟ نودی سړی وویل چی نه زمادی قسم وی دالله ﷻ په ذات باندی نوعیسیٰ ﷺ وفرمایل چی ایمان دی راوړی په الله ﷻ باندی اوزه دی درواغجن کړم. اوهمداسی روایت مسلم هم ذکرکړی دی دطریقی دمحمد بن رافع څخه چی هغه نقل کړی دی دعبدالرزاق څخه. اوداپه حسن خلق باندی دلالت کوی چی دالله ﷻ په نوم باندی چی څوك قسم واخلی نودهغه څیړل نه دی پکارولی چی دالله ﷻ دنامه سپکاوی راځی. اوعیسیٰ ﷺ هم ده ته دتعظیم داسم دالله ﷻ دپاره دغه سړی صحیح وبولی اوځان یې ملامت کی. چی دده سترګی به دوکه سوی وی ولی چی دالله ﷻ په نامه باندی څوك ددروغو قسم نه اخلی.

---

(۱). صحیح البخاری: کتاب العلم، باب تعلم الرجل امته واهله (۱\ ۹۷) . مسلم: کتاب الایمان، باب وجوب الایمان برسالة محمد ﷺ (۲\ ۱۸۷).

(c) ketabton.com: The Digital Library



اوداركم بخاري يوبل روايت ذكركړى دى په نقل كولوسره دمحمد بن يوسف څخه دى نقل كوى دسفيان څخه دى نقل كوى دمغيره بن نعمان څخه دى نقل دسعيد بن جبير څخه دى نقل كوى دابن عباس څخه دى وايې چى فرمايلى دى رسول الله ﷺ: ستاسى حشر به كول كيږى لڅى پښى اولڅ بدن، اوبيانبى ﷺ دا ايت ووايه: كَمَا بَدَأْنَا أَوَّلَ خَلْقٍ نُعِيدُهُ وَعْدًا عَلَيْنَا إِنَّا كُنَّا فَاعِلِينَ نواول به كپړى وراچول كيږى ابراهيم ﷺ ته، بيابه لوړسى زما دراسته خوا څخه اودچپه خوا څخه زماملګرى نوزه به وايم چى زماملګرى نوماته به وويل سى چى: دوى به پرخپلو پندو باندى بيرته ځى ستا څخه دهغه وخت رااېسى چى ته ځينى جلاسوى يې، نو نبى ﷺ فرمايې چى زه به وايم لكه څه ركم چى دالله ﷻ نيك بنده عيسٰى ﷺ فرمايلى وه: وَكُنْتُ عَلَيْهِمْ شَهِيدًا مَا دُمْتُ فِيهِمْ فَلَمَّا تَوَفَّيْتَنِي كُنْتَ أَنْتَ الرَّقِيبَ عَلَيْهِمْ وَأَنْتَ عَلَى كُلِّ شَيْءٍ شَهِيدٌ (۱۱۷) إِنْ تُعَذِّبْهُمْ فَإِنَّهُمْ عِبَادُكَ وَإِنْ تَغْفِرْ لَهُمْ فَإِنَّكَ أَنْتَ الْعَزِيزُ الْحَكِيمُ، ([۱])

اوداركم په يوبل روايت كى ذكردى چى عبدالله بن الزبير الحميدى يې نقل كوى دسفيان څخه دى وايې چى مااوريدلى دى دعبدالله بن عبدالله څخه دى نقل كوى دابن عباس څخه دى وايې چى مااوريدلى دى دعمر بن الخطاب ﷺ څخه چى په منبر باندى يې فرمايل چى تاسى ماته ترجيح مه راكوى په دى انداز باندى چى تاسى په كى غلاوكړه په ډول دنصرانيانو چى عيسٰى ﷺ ته يې كړى وو، بلكى زه دالله ﷻ بنده يم اودهغه رسول يم ([۲])

اوداركم بخاري ويلى دى په نقل كولو سره دابراهيم څخه دى نقل كوى دجرير بن حازم څخه دى نقل كوى دمحمد بن سيرين څخه دى نقل كوى دابوهريره څخه اودى دنبى ﷺ څخه چى فرمايلى دى: درى كسانو په زانګو كى خبرى كړى دى، يوعيسٰى ﷺ دوهم دجريج په نامه باندى په بنى اسرائيلو كى يوسړى وو چى مور ورته اواز وكى نوهغه په جواب كى وويل چى زه لمونځ وكم كه ستاخواته درسم: نومور ورته خبرى وكړى چى ياالله دشرميدلو مخ په ووينى نوپه دې كى يوه ښځه دى جريج ته دده جونګړى ته راله اودجريج څخه يې طلب دبدفعلى وكى نوجريج ورته انكاروكى نوداولاړه اوديوه شپونكى سره يې بدفعلى وكړه نودهغه څخه ماشوم پيداسو نودى ښځى ته وويل سوه چى داماشوم دكم ځاى څخه سو نودى ښځى خلګو ته وويل چى دادجريج څخه دى. نوداخلګ راله اودده جونګړه يې ماته كړه اوده ته يې ډر ازار وركى نودى جريج اودس وكى اولمونځ يې وكى اوددى ماشوم خواته رالى اوورته يې وويل چى ستاپلار څوك دى؟ نودى ماشوم وويل چى فلانكى شپونكى دى. نودى خلګو جريج ته وويل چى ستاجونګړه به موږ دسروزرو څخه جوړه كړو.

---

([۱]). صحيح البخاري: كتاب الانبياء، باب قول الله تعالى: (واذكر فى الكتاب مريم) (۲\ ۳۴۴۷).
([۲]). صحيح البخاري: كتاب الانبياء، باب قول الله تعالى: (واذكر فى الكتاب مريم) (۲\ ۳۴۳۲).

(c) ketabton.com: The Digital Library



نودی جریج وویل نه مګر بیرته یې دخاورو څخه جوړکی، اوبله یوه ښځه وه چې خپل بچی
ته یې تی ورکوی نوپه دی کی یوسړی تیرسو چې ډیر هشاش بشاش یعنی په غرور اوکبر
سره اوپه آس باندی ناست وو نودی ښځی وویل چی یاالله زماځوی هم داسی وګرځوی،
نودی ماشوم دمور سینه پریښوولـه اووی ویل یاالله ته ماداسی نه کړې، اوبیایې دمورسینه
په خوله کړه اوتی یې رودی (ابوهریره رضي الله عنه وایې ماته داسی ښکاریدی چې نبی عليه السلام خپله
ګوته مبارکه ځوښله) اوبیاخلګو یوه مینځه رانیولی وه چې وهل اوټکول یې ورکول نو
ددی ماشوم مور وویل چی یاالله ته زماځوی داسی نه کړې نودی ماشوم دمور سینه
پریښووله اووی ویل چی یاالله ماهم داسی کې. نودی مورورته وویل چی ولی داسی وایې؟
نودی ځوی ورته وویل چی داسړی په آس باندی چی سپور وو دایوظالم دظالمانو څخه وو.
اودوی چی داکمه مینځه رانیولی وه چی دی غلاکړی ده اوزنایې کړیده نودی هیڅ نه دی
کړی. اودارکم روایت ذکرکړی دی په نقل کولو سره دسفیان ثوری څخه دی نقل کوی دابی
الزناد څخه دی دالاعوج څخه دی نقل کوی دابوهریره څخه دی وایې چی فرمایلی دی
رسول الله صلى الله عليه وسلم: زه ډیر حقداریم په باره دعیسٰی عليه السلام په باره کی دنورو څخه (مطلب داچی
دعیسٰی عليه السلام دپیدائش په ورځ باندی نصرانیانو روژه نیولی وه نونبی عليه السلام وفرمایل چی زه
دعیسٰی عليه السلام په باره کی ډیرحقداریم یعنی ددی نصرانیانو څخه په روژه نیولوکی)، اوانبیاء
ټول ورونه دی دیوپلار څخه (یعنی په حقیقت کی ټول دیوپلار ځامن نه دی بلکی دټولو
شجره نسب ابراهیم عليه السلام ته رسیږی اوهغه داکثرو انبیاوو پلاردی)، اوزما اودعیسٰی عليه السلام په
منځ کی بل نبی نسته.
اودارکم په بل روایت کی امام احمد نقل کوی دعبدالرزاق څخه دی نقل کوی دمعمر څخه
دی نقل کوی دهمام څخه اودی نقل کوی دابی هریره رضي الله عنه څخه اودی نقل کوی دنبی عليه السلام
څخه هم په دی الفاظو سره په کمه طریقه چی مخکی روایت بیان سو.
اودارکم امام احمد روایت کوی دیحیٰی څخه دی نقل کوی دابی عروبه څخه دی نقل کوی
دقتاده څخه اودی نقل کوی دعبدالرحمٰن بن آدم څخه دی نقل کوی دابوهریره رضي الله عنه څخه
اودی نقل کوی دنبی عليه السلام څخه چی فرمایلی دی: انبیاء ټول ورونه دیوه پلار څخه دی او
دټولو دین یو دی اومندی یې جلاجلا دی، اوزه اول حقداریم په باره دعیسٰی عليه السلام کی ولی
چی زما اودهغه په منځ کی بل پیغمبر نسته، اوهغه به راکښته کیږی چی کله راکښته سی
نوتاسی به یې وپیژنی ولی چی هغه داسی سړی دی چی سوروالی ته اوسپین والی ته نژدی
دی، نوهغه به خنزیر قتل کوی اوصلیب به ماتوی اوپه کافرانو باندی به ټیکس کښیږدی
تردی چی ټول کافران به مړه سی غیر داسلام څخه، اودده په زمانه کی به الله جل جلاله دجال هم
مړکوی، اوپه مکه کی به داسی امن راسی چی اوښ به دزمری سره یوځای ګرځی اوزمریان به

(c) ketabton.com: The Digital Library



دغوایو اوشرمښانو سره ګرځی اوماشومان به دمارانو سره بازی کوی چی ماران به ضرر نه ورسوی نوبیابه وی دځلګو په منځ کی ترڅو چی الله ﷻ غواړی، نوبیابه وفات سی او مسلمانان به دجنازی لمونځ پروکی اوپټ به یې کی. اودارکم هشام بن عروه نقل کوی دصالح څخه چی مولی دابوهریره ﷺ دی چی دی نقل کوی درسول الله ﷺ څخه چی رسول الله ﷺ فرمایلی دی: عیسٰی ﷺ به په آخره کی دوباره راځی اوځلوېښت کاله به تیروی، اوعیسٰی ﷺ راکښته کیدل موږ بیان کړی دی په خپل تفسیر کی په (کتاب الملاحم) کی. لکه څه رکم موچی ددی ذکرپه اختصار سره کړی دی دی قول دالله ﷻ سره: وَإِنْ مِنْ أَهْلِ الْكِتَابِ إِلَّا لَيُؤْمِنَنَّ بِهِ قَبْلَ مَوْتِهِ وَيَوْمَ الْقِيَامَةِ يَكُونُ عَلَيْهِمْ شَهِيدًا، (سورة النساء \ ۱۵۹) اودامو په کی هم ذکرکړی دی چی دی به ددمشق په میناره باندی راکښته کیږی اودسهار دلمانځه وخت به وی نوپه دغه وخت کی چی کم دمسلمانانو امام وی هغه به ورته ووایې چی رامخکی سه ای روح الله. نوعیسٰی ﷺ به ورته وفرمایې چی تاسی امیران ددی امت یاست اوتاسی ته الله ﷻ ډیر لوړ مقام درکړی دی، اوپه یوبل روایت کی ذکردی چی عیسٰی ﷺ به ورته وفرمایې چی، اقامت ستادپاره وسو نوته مخکی سه اوعیسٰی ﷺ ورپسی شاته لمونځ وکی، اوبیابه پرسپرلی باندی کښینی اوورسره به مسلمانان وی اوپه دجال پسی به وځی چی هغه قتل کی نوددجال سره به مخامخ سی په (باب لد) کی نوپه خپلو مبارکو لاسونو باندی به یې مردار اوهلاك کړی، اوکله چی عیسٰی ﷺ وفات سی نوویل سوی دی چی دنبی ﷺ سره به په څنګ کی پټول کیږی. اودارکم په بل روایت کی ذکرسوی دی دابن عساکر څخه په آخر دترجمی دعیسٰی ﷺ کی چی نقل یې کوی دعائشه ﷺ څخه، چی عیسٰی ﷺ به دنبی ﷺ په څنګ کی پټ سی. خوددی اسناد صحیح نه دی.

اودارکم ابوعیسٰی الترمذی ویلی دی په نقل کولو سره دزید بن اخزم الطائی څخه دی نقل کوی دابوقتیبه څخه دی نقل کوی دابو مودود المدنی څخه دی نقل کوی دعثمان بن ضحاك څخه دی نقل کوی دمحمد بن یوسف بن عبدالله بن سلام څخه دی نقل کوی دخپل پلار څخه دی نقل کوی دخپل نیکه څخه دی وایې چی لیکل سوی دی په تورات کی په باره دصفت دمحمد ﷺ اوپه باره دصفت دعیسٰی ﷺ کی چی دادواړه به یوځای پټ سی.

ابومودود ویلی دی چی دنبی ﷺ دقبرسره دیوسړی ځای پاته دی.

اودارکم بخاری یوروایت نقل کوی دیحیٰی بن حماد څخه دی نقل کوی دابی عوانه څخه دی نقل کوی دعاصم الاحول څخه دی نقل کوی دابی عثمان النهدی څخه دی نقل کوی دسلیمان څخه دی وایې چی په منځ دعیسٰی ﷺ اومحمد ﷺ کی د(۶۰۰) کالو فاصله ده، اوویل سوی دی چی (۵۴۰) کاله فاصله ده، اوویل سوی دی چی څه باندی دیرش کاله. خو

(c) ketabton.com: The Digital Library



مشهور (**۵۴۰**) کاله فاصله ده، اوویل سوی دی چی څه باندی دیرش کاله. خومشهور (۲۰۰) کاله دی. بعضی په کی وایې چی (۲۲۰) کاله په حساب قمری سره دی نوپه حساب دشمسی سره هم دا(۲۰۰) کاله جوړیږی.
اودارکم ابن حبان ویلی دی په باره دپاته کیدلو دامت دعیسٰی ﷺ په خپل دین باندی وروسته دعیسٰی ﷺ څخه: دی نقل کوی دابویعلی څخه دی نقل کوی دابوهمام څخه دی نقل کوی دالولیدبن مسلم څخه دی نقل کوی دالهیثم بن حمیدڅخه دی نقل کوی دالوضین بن عطاء څخه دی نقل کوی دنصربن علقمه څخه دی نقل کوی دجبیر بن نفیر څخه دی نقل کوی دابی الدرداء څخه دی وایې چی فرمایلی دی رسول الله ﷺ: یقینًا الله ﷻ قبض کی داود ﷺ دخپل قوم څخه خودهغه په قوم کی څه تبدیلی اوڅه فتنی رانه لی اوکله چی عیسٰی ﷺ آسمان ته وخیژول سو نودهغه امت تر(۲۰۰) کاله پوری په خپل دین باندی پیروی وکړه. (۱) اودارکم ابن جریر ویلی دی په نقل کولو سره دمحمد بن اسحاق څخه چی عیسٰی ﷺ مخکی ددی څخه چی لوړسی آسمان دخوا ته وصیت یې وکی حواریینو ته چی خلگو ته دالله ﷻ دعبادت دعوت ورکوی اوخلگ دشرك څخه منع کوی اوپه هر یوی ډلی کی یوسړی متعین کی دپاره ددعوت اواصلاح. نوویل سوی دی چی عیسٰی ﷺ چی کم سړی کم ځای ته لیږلی وو هغه به دهغه ځای دخلگو په ژبه باندی خبری کولی. اوویل سوی دی چی انجیل دعیسٰی ﷺ څخه څلورو کسانو نقل کړی دی (لوقا، متی، مرقس، یوحنا) او ددی څلورو واړو چی په نقل کی اختلاف سته یوپه یو ترتیب سره اوبل په بل ترتیب سره نقل کړی دی. څه یې ځینی لیری کړی وه اوڅه یې په کی زیات کړی وه، اوپه دی څلورو کی صرف دوه وه چی عیسٰی ﷺ یې لیدلی وو (متٰی اویوحنا) اودانور دوه دده ملگری دی (مرقس اولوقا). او وه دهغه کسانو څخه چی په مسیح عیسٰی ﷺ باندی یې ایمان راوړی وو یوسړی په دمشق کی چی نوم یې (ضنیا) وو چی دی پټ سوی وو په هغه غارونو کی چی دننه وو په (باب الشرقی) سره چی دی نژدی وو دهغه کنیسی سره چی دپانسی په ځای باندی جوړه سوی وه دیوظالم بادشاه څخه چی بولس الیهودی نوم یې وو اودمسیح ﷺ سره یې ډیره سخته دښمنی وه.
اوده دخپل ورور سرگنجی کړی وو کله چی هغه په عیسٰی ﷺ باندی ایمان راوړی وو او بیایې داخپل ورور په ټول کلی کی گرځولی وو تردی چی خلگوپه کاڼو باندی ویشتی نو شهیدسو. اوکله چی بولس خبرسو چی مسیح ﷺ ددمشق خوا ته متوجه سوی دی نودخپل لښکر سره دمشق ته روان سو نوپه لاره کی ورسره دکوکبا په مقام کی مخامخ سو نوکله

---

(۱). اخرجه ابن حبان فی: کتاب علامات النوبة، باب ماجاء فی داود والمسیح (۱۲/۲۰۹۰).

(c) ketabton.com: The Digital Library



چې دابادشاه دعیسیٰ ﷺ په ملګرو پسې سو نوملائکې رالې اودې یې دلښکر سره په خپلو وځرو باندې ووهې نوټول یې ړانده کړه نودهغه څخه وروسته ورته دعیسیٰ ﷺ دتصدیق په باره کې یقین ورلې نوبیا عیسیٰ ﷺ ته رالې اوخپل عذر یې ورته بیان کې او خفګان یې په خپل کار باندې ښکاره کې، اوپه عیسیٰ ﷺ باندې یې ایمان راوړی نودده څخه ایمان قبول سو نوده بیاغوښتنه وکړه دعیسیٰ ﷺ څخه چې دده دپاره دالله ﷻ څخه دعا وغواړي چې ده ته نظر ورکې، نوعیسیٰ ﷺ ورته وفرمایل چې ته ولاړسه دهغه سړي خواته چې ضینا نوم یې دی اودشرقي دروازې سره چې کم غارونه دي په هغه کې ناست دی نوهغه ته ووایه چې هغه درته دالله ﷻ څخه سوال وکې، نوهغه ته ورلې اوهغه ورته دالله ﷻ څخه دعا وغوښته نوالله ﷻ نظر بیرته ورکې، نودی نورهم دعیسیٰ ﷺ په باره کې ښه ګمان والاسو اودده په باره کې یې داعقیده خپله کړه چې دی دالله ﷻ پیغمبر دی اودالله ﷻ نیك بنده دی اوده عیسیٰ ﷺ ته په دغه ځای کې یوه کنیسه جوړه کړه چې اوس هم په کنسیه دبولس باندې مشهوره ده اوپه دمشق کې ده نودغه کنیسه دصحابوو تردور پورې روغه وه نوبیا دصحابوو په دورکې خرابه سوه.

## فصل

اختلاف وکې خلګو وروسته دختلو دعیسیٰ ﷺ څخه آسمان ته په ډیرو اقوالو سره، لکه څه رکم چې دااقول اکثرو علماوو دسلفو ذکرکړی دی اوابن عباس هم ذکرکړی دی ددی قول دالله ﷻ سره: فَأَيَّدْنَا الَّذِينَ آمَنُوا عَلَى عَدُوِّهِمْ فَأَصْبَحُوا ظَاهِرِينَ (سورة الصف \ ۱۴)
ابن عباس اوداسې نورو ویلې دي: چې بعضو خلګو ویلې دي: چې دی په موږ کې دالله پیغمبر اوبنده وو الله ﷻ لوړ کې آسمان ته. اوداسې نورو ویل چې: دی په خپله (نعوذبالله) الله ﷻ وو دڅه وخت دپاره زموږ سره تم سو اوبیرته آسمان ته وختی اودریمې ډلې وویل چې: دی دالله ﷻ ځوی وو. نواولنی قول حق دی اودانور اقوال دکفردي اوڅوك چې په دی نورو خبرو باندې عقیده لري نوهغه کافردی لکه څه رکم چې الله ﷻ فرمایلې دي: فَاخْتَلَفَ الْأَحْزَابُ مِنْ بَيْنِهِمْ فَوَيْلٌ لِلَّذِينَ كَفَرُوا مِنْ مَشْهَدِ يَوْمٍ عَظِيمٍ (سورة مريم\۳۷). اوپه نقل دانجیل کې هم اختلاف سوی دی چې دی په څلورو اقوالو باندې اوپه څلورو طریقو سره نقل سوی دی چې په څه کې زیادت دی اوپه څه کې نقصان دی. اوبیا د(۳۰۰) کالو څخه وروسته په دوی کې داسې غټې فتنې واقع سوې اوداسې کارونه راښکاره سوه چې ددوی علماوو په کې دعیسیٰ ﷺ په باره کې داسې خبرې وکړې چې هغه په راټولو سره نه را ټولیږي اوپه ذکرکولو سره نه ختمیږي. اوپه دوی کې چې کمه ډله وه چې هغه په صحیح عقیدې باندې وه چې عیسیٰ ﷺ دالله ﷻ رسول دی اودهغه بنده دی نودغه ډله دوی دخپلو

(c) ketabton.com: The Digital Library



مینځونو ښځه وشړله چې ددوی مشر عبدالله بن اریوس وو اودوی وشړل سوه ددشتو خوا ته اودوی هغه کارونه شروع کړه چې نه ددوی په رواج کې وه اونه ددوی په شریعت کې وه.

**بیان دجوړولو دبیت اللحم اودقمامه**

جوړه کړه قسطنطین بادشاه بیت لحم په ځای دپیدائش دعیسیٰ ﷺ کی اوهیلانه چې ددی بادشاه موروه دی جوړه کړه قمامه په ځای دپانسی کی، اودوی تسلیم سوی وه یهودو ته په دی خبره باندی چې داپانسی سو عیسیٰ ﷺ دی اوحال داچې داسی نه وو. اودوی دواړو ډلو کفر اختیار کی هم یهودیانو اوهم نصرانیانو، یهودیانوپه دی طریقی سره دکفر لاره اختیاره کړه چې په تورات کی یې تحریفونه وکړه، یعنی څه چې په دوی حرام سوی وه هغه یې ځان ته حلال کړه اودحرامو کارونو دپاره یې چلونه جوړ کړه یودهغوحرامو ځخه خنزیر دی چې داپر دوی باندی حرام سوی وو اودوی ځان ته حلال کی، اودوی دمشرق خوا ته لمونځونه شروع کړه اوحال داوو چې عیسیٰ ﷺ لمونځ نه وو کړی مګر دبیت المقدس هغه ډبری خوا ته، اوهمدارکم زموږ پیغمبر ددواړو جهان سردار محمد مصطفیٰ ﷺ هم دهغه ډبری خوا ته لمونځ کړی دی تر (۱۲) یا (۱۷) میاشتو پوری، بیادهغه ځخه وروسته کعبی خوا ته تبدیلی وسوه هغه کعبه چې ابراهیم خلیل الله جوړه کړی وه. اودوی په خپلو کنیسو کی تصویران وځړول اومخکی داشی په دوی کی نه وو اودوی هغه عقیده چې ددوی ماشومانو اوزنانو دځان سره یادول هغه په دوی کی ده چې دوی ورته امانت ویله، اودا ددوی غټ اوښکاره کفر وو. اوداکار ددوی ټولو ډلو وکی لکه دنسطوریه کسان وه، اوډله دیعقوبیه سوه چې داډله دیعقوب البزدی وه، دوی عقیده لری دهغه عقیدی په مختلفو طریقو سره چې په تفسیرکی ذکرسوی دی، اودوی چې داکمه عقیده برابره کړی وه په دی کی دوی داسی خبری کړی دی چې دانسان فطرت یې نه قبلوی.

* * *

**بیان دخاتم الانبیاء حضرت محمد ﷺ**

اسم مبارك محمد بن عبدالله بن عبدالمطلب (دده اصل نوم شیبه دی) بن هاشم بن عبدمناف بن قصی بن کلاب بن مره بن کعب بن لوی بن غالب بن فهد بن مالك بن نظر بن کنانه بن هزیمه بن مدرکه بن الیاس بن مضر بن نزار بن معد بن عدنان بن ادو بن حقوم بن ناهو بن تیرح بن یعرب بن یشجب بن ثابت بن حضرت اسمٰعیل ﷺ بن ابراهیم خلیل الله ﷺ بن تارح بن متوشلخ بن ناحور بن ساروح بن راعون بن فالخ بن قیبر بن شالخ بن ارفخشذ بن سام بن نوح بن لامك بن متوشلخ بن اخنوح (اودا ادریس ﷺ دی) بن پرو بن مهلیل بن قنیل بن یانش بن شیث بن آدم ﷺ. داشجرهٔ نسب ابن هشام په خپل کتاب کی دعبدالله هلکانی

(c) ketabton.com: The Digital Library



څخه نقل کړیده چې دی نقل کوی دمحمد بن اسحاق څخه دارکم الله ﷻ په قرآن کی په ډیرو ځایونو کی دنبی ﷺ په باره کی فرمایلی دی یودهغو ځایونو څخه، محمد ﷺ دالله ﷻ پیغام رسان دی اوهغه کسان دکمو چې ستاسره ناسته ولاړه ده دوی دکافرانو په باره کی ډیرسخت دی اوپه خپلو کی په یوبل باندی ډیر مهربانه دی. ای مخاطبه ته دوی وینی چې دوی کله درکوع په حالت کی وی اوکله دسجدی په حالت کی وی (عرض داچې) دوی دالله ﷻ رضامنتیا لټوی، ددوی نښانی دسجدو دوجې ددوی په تندی کی ښکاره کیږی.
دارکم الله ﷻ دنبی ﷺ په باره کی په بل ځای کی داسی فرمایلی دی. تاسی خلګو دپاره (یعنی هغه کسان مراددی کم چې دالله ﷻ څخه بیریږی اوپه آخرت باندی ایمان لری اوپه کثرت سره ذکرکوی) دوی ته رسول الله ﷺ ښه نښانه ده اوعمده نمونه ده اودارکم الله ﷻ په ډیرو ځایونو کی دخپل محبوب ذکرکړی دی اوهرقسم لقبونه یې ورته ذکرکړی دی لکه په یوځای کی الله ﷻ فرمایلی دی، اوکله چې دالله ﷻ یوخاص بنده دالله ﷻ دعبادت دپاره ودریږی دا (کافر) خلګ په دوی پوری الزامونه لګوی، اودارکم نور ډیرځایونه دی چې الله ﷻ په کی دنبی ﷺ صفات اومدحه بیان کړیده نوپه دی باندی به اکتفاء وکړو.

## عظمت دنبی ﷺ

دحضرت عمر بن العاص څخه روایت نقل دی دی وایې چې رسول الله ﷺ فرمایلی دی: الله ﷻ په عامو خلګو کی عرب خوښ کړی اوپه عربوکی یې بیازه خوښ کړی یم. اودارکم دحضرت وائل بن اسقع څخه روایت نقل دی دی وایې چې مااوریدلی دی درسول الله ﷺ څخه چې فرمایلی یې: الله ﷻ په بنی ادمو کی حضرت ابراهیم ﷺ خوښ کړی دی اوهغه یې ځان ته ملګری مقرر کړی دی اوبیایې دابراهیم ﷺ په بچو کی اسماعیل ﷺ خوښ کړی دی اوبیایې داسماعیل ﷺ په اولاد کی نزار خوښ کړی دی اوبیایې دنزار په بچیانو کی مضر خوښ کړی دی اوبیایې دمضر په اولاد کی بنی کنانه خوښ کړی دی اوبیایې په بنی کنانه کی قریش خوښ کړی دی. اوبیایې په قریشو کی بنی هاشم خوښ کړی دی، بیا یې په بنی هاشم کی زه خوښ کړی یم، (غرض داچې) نبی ﷺ دټولو کائناتو سرداردی او دالله ﷻ څخه وروسته دده مرتبه ده لکه څه رکم چې په یوشعرکی ذکرسوی دی: (بعد ازخدا بزرګ تویی قصه مختصر).
دارکم بل روایت جعفر بن محمد نقل کړی دی دخپل پلار څخه چې په هغه کی یې دهغه ذکرسوی قصه ذکرکړیده خوپه دی روایت کی داجبرائیل ویلی دی اوپه هغه مخکنی روایت کی نبی ﷺ په خپله ذکرکړی دی، اوباقی مقصود یودی هغه داچې نبی ﷺ ښه شخصیت دی په ټول عالم کی دارکم دابن عباس څخه یوروایت نقل دی چې نبی ﷺ فرمایلی دی ټول مخلوقات ددی دنیاپه دوه تقسیمه باندی تقسیم سوی دی اوزه په هغه کی په بهترین تقسیم

(c) ketabton.com: The Digital Library



کی شمار سوی یم، لکه څه رکم چی الله ﷻ فرمایلی دی: وَأَصْحَابُ الْيَمِينِ مَا أَصْحَابُ الْيَمِينِ، وَأَصْحَابُ الشِّمَالِ مَا أَصْحَابُ الشِّمَالِ، داهغه دوی ډلی دی کم چی نبی ﷺ فرمایلی دی چی خلګ په دوه تقسیمه باندی تقسیم دی نودایوه ډله راسته خوا والا یعنی جنتیان دی اودا بله ډله چپه خوا والا یعنی دوږخیان دی نونبی ﷺ بی شکه اوشبه په دی راسته خوا والو کی ده اوداښه ډله ده، بیانبی ﷺ فرمایلی دی چی بیا دادوه قسمه الله ﷻ تقسیم کړی دی په دری قسمونو باندی چی هغه الله ﷻ په خپل کتاب کی ذکرکړی دی یودهغه څخه: فَأَصْحَابُ الْمَيْمَنَةِ مَا أَصْحَابُ الْمَيْمَنَةِ دی، اوبل قسم: وَأَصْحَابُ الْمَشْأَمَةِ مَا أَصْحَابُ الْمَشْأَمَةِ دی، اودریم قسم: وَالسَّابِقُونَ السَّابِقُونَ، دی داهغه خلګ دی چی مخکی والی یې کړی دی بیادا دری قسمونه الله ﷻ بیاپه ډلو اوقبیلو باندی تقسیم کړی دی لکه څه رکم چی یې په قران کریم کی فرمایلی دی: وَجَعَلْنَاكُمْ شُعُوبًا وَقَبَائِلَ، دا ددی وجی څخه چی الله ﷻ فرمایي چی تاسی په خپلوکی تعارف سره وکی اوپیژندنه وکی یقیناًپه تاسی کی الله ﷻ ته خوښ متقی ستاسی څخه دی دانه چی تاسی په خپل قبیلو باندی فخر شروع کی اوپه خپل مال اودولت باندی نوالله ﷻ دی خلګو ته وفرمایل چی دچاسره مال زیات وی یادولت ورسره وی نو هغه دالله ﷻ په نزد باندی عزتمند نه دی بلکی دالله ﷻ په نزد باندی هغه سړی ښه دی چی په چاکی تقوٰی وی اوپه چاکی چی شرافت وی، نونبی ﷺ هم په دی شیانو باندی فخر نه کوی بلکی داکوشش به یې کوی چی متقی سی اوپرهیز ګاره سی نودالله ﷻ په نزد باندی به ښه سی، اولکه څه رکم چی الله ﷻ دنبی ﷺ کوروالاو ته فرمایلی دی: إِنَّمَا يُرِيدُ اللهُ لِيُذْهِبَ عَنْكُمُ الرِّجْسَ أَهْلَ الْبَيْتِ وَيُطَهِّرَكُمْ تَطْهِيرًا،چی الله ﷻ غواړی چی ستاسی پاکی وکی اوستاسی څخه ګندګی لیری کی.

**بیان دحسن دحضرت محمد ﷺ اودهغوی حلیه مبارکه**

دنبی ﷺ کماحقه ښائست بیانول زموږ دوس اوطاقت څخه وتلی ده بیاهم صحابوو دخپل وس اوطاقت مطابق بیان کړی دی، په ترمذی کی دحضرت انس رضی الله عنه څخه روایت نقل دی چی دی وایي چی دنبی ﷺ قدمبارك نه ډیر اوږدوو اونه ډیرلنډ ووبلکی درمیانه قدوالا وو، اورنګ مبارك یې نه ډیر زیات سپین وو (چی عیبجن ښکاره سی) اونه خړوو بلکی دخوارلسمی سپوږمی په رکم بریښیدی اوښائسته وو بلکه ددغه څخه هم زیات بریښیدی، اودنبی ﷺ ویښته مبارك نه ډیرسیده وه اونه ډیر پیچلی وه بلکی ددي په درمیانه انداز کی وه، بیاپه څلویښت کلنی کی نبی ﷺ دالله ﷻ پیغمبر مقرر سو، څه کم اوزیات لس کاله نبی ﷺ په مکه کی تیرکړه. اوهمدارکم یې لس کاله په مدینه کی تیرکړه اوبیاپه

(c) ketabton.com: The Digital Library



شپیته کلنی کی وفات سو دارکم په بل روایت کی هم ترمذی دعلی ﷺ څخه روایت نقل کړی دی چی په هغه کی هم دغه بیان سوی دی خودا الفاظ په کی زیات دی چی دنبی ﷺ دمخ کاسه نه غونډ وه اونه اوږده وه بلکی غونډوالی ته نژدی اوښائسته برابره وه لکه په عام طور سره داسی مخ ته خلګ (کتابی مخ) وایی.

دنبی ﷺ رنګ سپین وو چی سوروالی ته مائل وو یعنی سور سپین وو، اودنبی ﷺ دسترګو مبارکو توروالی نهایت درجی تور اوسپین والی نهایت درجی سپین وو، اودنبی ﷺ بڼی مبارکی اوږدی وی، اوپه جسم مبارك یې زیات وریښته نه وو، کله به چی نبی ﷺ مزل کوی نوپه قوت سره اوچاق چاق قدمونه به یې ایږدل لکه چی یوسړی دلوړ ځای څخه کښته قدمونه ایږدی نونبی ﷺ به مزل دارکم فرمایی، اوکله به چی نبی ﷺ دچاطرف ته متوجه کیدی نوپه پوره طورسره به متوجه کیدی یعنی مخ مبارك اوسینه مبارکه به یې دواړه دهغه سړی خوا ته متوجه کول، داسی نه لکه دمتکبرینو په شان چی په یوطرف باندی چاته نظرکوی، اودنبی ﷺ ددواړو اوږو مبارکو ترمنځه مهر نبوت وو. اوزموږ نبی ﷺ آخری نبی دی بی شکه اوبی شبهې اودده څخه وروسته بل نبی راتلونکی نسته، دټولو څخه وروسته راغلی دی اودټولو څخه یې لوړ مقام حاصل کړی دی، اونبی ﷺ ته به چی چاکتل نو په (رعب کی به سو مخکی دتعارف څخه اوکله به یې چی دنبی ﷺ سره تعارف وکی نونبی ﷺ به ورته دومره محبوب سو چی دخپل ځان اومال څخه به پرتیروو. نبی ﷺ چی کله دی دنیاته تشریف راوړی نوپه مکه کی یویهودی اوسیدی هغه دخلګو څخه دا پوښتنه وکړه چی: ای خلګو ستاسی په کورونو کی خوکم ماشوم نه دی پیداسوی، نوخلګو ورته وویل چی موږ ته معلومه نه ده، نودی یهودی دوی ته وویل چی زه څه وایم نوهغه په ښه غور سره واوری، نن ورځ په تاسی کی ددی دنیا اخری پیغمبر پیداسوی دی، اودهغه داوږو په منځ کی دنبوت مهردی، نودا خلګ ددی یهودی عالم په خبری باندی ډیرحیران سو تردی چی داخلګ ولاړه اوهریو په خپل کورکی پوښتنه کوله چی نن خوکم ماشوم نه دی پیداسوی تردی چی معلومه سوه چی دعبدالله په کورکی یوماشوم پیدا سوی وو، نو ددی قریشو څخه یوسړی ددی یهودی عالم خواته ورلی چی داخبریې ورته ورکوی (اوحال داوو چی دایهودی عالم په خپله ددی ماشوم دکتلو دپاره ډیر بیقراره وو) نودی یهودی عالم ته داقریشی رالی اوداخبر یې ورکی تردی چی دایهودی دعبدالله کور ته رالی اودبی بی آمنی څخه یې داماشوم طلب کی نوبی بی آمنې دده څخه کپړی لیری کړی نویهودی چی څه رکم دنبی ﷺ پرملا مبارکی باندی مهر نبوت ولیدی نودغم دوجی فوراً بی هوښه سو نوکله چی دی په هوښ کی رالی نوخلګو پوښتنه ځینی وکړه چی ولی څه چل وو چی ته بی

(c) ketabton.com: The Digital Library



هوښه سوی؟ نودی یهودی عالم وویل چی نن ورځ زموږ دبنی اسرائیلوڅخه نبوت واخستل سو اودهمیشه دپاره نبوت ختم سو.

## پیدائش دنبی اکرم ﷺ

دابن عباس ؓ څخه روایت نقل دی دی وایې چی: کله رسول الله ﷺ پیداسو نودنبی ؑ نو (ناف) پرې سوی وو، اوپه یوبل روایت کې ذکردی چی: کله چی ابراهیم ؑ پیداسو نو دهغه دنو پری کولو دپاره جبرایل ؑ راغلی وو نودابراهیم ؑ نوم یې پر یادکی اوپه غوږ کی یې ورته اذان وکی، اوبیایې ورته سپینی کپړی ورکړی، اونبی ؑ چی کله پیدا سو نو نو مبارك یې دمخکی څخه پرې سوی وو اودنبی ؑ په سترګو مبارکو کی رانجه اچول سوی وه اوبدن مبارك دنبی ؑ دهرڅه څخه صفاسوی وو اوکله چی دنبی ؑ دمور حمل وونوپه عربو باندی ډیری سختی راغلی وی اوډیری پریشانیانی پرراغلی وی اوقحط سالی وه نوپه کم کال باندی چی نبی ؑ پیداسو اوده دنیاته یې تشریف راوړی نودعربو څخه هغه سختیانی اوقحط سالی لیری سوه اوهرخوا ته شنه بوټی اوخوشحالی وغوړول سوه اوهرخوا ته بارانونه شروع سوه اوښه ډیر بارانونه وسوه چی عرب ډیر زیات په خوشحاله سوه. په البدایه والنهایه کی ذکرسوی دی چی عبدالمطلب کله خپل لمسی نو پری سوی ولیدی نووی ویل چی زما دالمسی به لوړ شان والا اوعظیم انسان وی.

اوکله چی نبی پیداسو نولاس مبارك یې بندوو اودشهادت ګوته یې دآسمان خوا ته لوړه کړی وه اوسر مبارك یې دآسمان خوا ته لوړ کړی وو.

## دنبی ﷺ دپیدائش ورځ

دنبی ؑ دپیدائش په وخت کی هم اختلاف دی. دحضرت ابن عباس ؓ څخه روایت نقل دی دی وایې: کله چی رسول الله ﷺ پیداسو ناف مبارك (یعنی نو) یې پری سوی وو اوپه بل روایت کی ذکردی چی کله ابراهیم ؑ پیداسو نوجبرایل ؑ ورته رالی اوناف یې ور پری کی اوبیایې ورته په غوږ کی اذان وکی، اوبیایې ورته سپینه جامه واغوسته. اوکله چی زموږنبی حضرت محمد ﷺ پیداسو نو نو یې دمخکی څخه پرې سوی وو اوپه سترګو مبارکو کی یې رانجه اچول سوی وه.

## بیان دورځی دپیدائش دنبی ؑ

په دی کی هم اختلاف دی چی نبی ؑ په کمه ورځ پیداسوی دی اوبیا په دی کی هم اختلاف دی چی دی په دې ورځ کی پیداسوی دی اوکه په شپه کی اوبیاپه کمه ورځ پیدا سوی دی اوپه کمه میاشت کی پیداسوی دی. نوپه یوروایت کی ذکردی چی نبی ؑ ددوشنبی (یعنی دګل) په ورځ باندی پیداسوی دی. داقول ډیرموکدقول دی اوپه دی باندی دډیرو علماوو اتفاق دی چی اکثره محقیقینو ددی ورځ په متعلق ویلی دی چی دنبی ؑ

(c) ketabton.com: The Digital Library



پیدائش هم په دی کی سوی دی اوپه دی کی هیڅ اختلاف نسته. اودغه محققین وایې چی هغه علماوو چی ویلی دی چی دنبی ﷺ پیدائش دجمعی په ورځ سوی دی نوهغوی دروغ وایې. ددی ورځی متعلق دقتاده څخه یوروایت نقل دی چی قتاده وویل چی مادنبی ﷺ څخه ددی ورځی متعلق پوښتنه وکړه نو وی فرمایل چی داهغه ورځ ده چی زه په کی پیدا سوی یم اوهرڅه چی وخت دی نودهغه متعلق دزبیر بن بکار څخه اودحافظ بن بکار څخه اودحافظ ابن عساکر څخه روایت نقل دی دوی وایې چی نبی ﷺ دسهار شروع کیدو په وخت کی پیداسوی دی په دی قول باندی عبدالمطلب تاکیدکړی دی ولی چی عبدالمطلب ویلی دی چی زموږ په کورکی دشپی اوورځی دلیدو په وخت کی یوماشوم پیداسوی دی.
اودمشهورتابعی سعید بن المسیب څخه نقل دی دی وایې چی: نبی ﷺ دورځی په نیمایې کی پیداسوی دی یعنی دماپښین په وخت کی اودی وایې چی: تاریخ دربیع الاول دولسم وو. اوعلامه شامی هم ددی قول سره اتفاق کړی دی. په بل روایت کی علامه دمیاطی ویلی دی: چی نبی ﷺ په لسم دربیع الاول باندی پیدا سوی دی اوده ویلی دی چی داقول صحیح قول دی. ددی دصحیح کیدلو وجه داهم کیدی سی چی دولسم دربیع الاول باندی ابن اسحاق قول کړی دی اوپه هغه باندی ډیر تنقید نیول سوی دی ولی چی هغه داقول منقطع نقل کړی دی او بل داچی سند یې ورته هم نه دی ذکرکړی. تردی چی ابن مدین ویلی دی چی دابن اسحاق په روایت باندی دلیل اوحجت نیول صحیح نه دی.
اوامام مالك دده په باره کی ویلی دی چی داکذاب (یعنی درواغجن) دی. دارکم یوبل روایت هم ذکرسوی دی چی په هغه کی قول په (۱۷) ربیع الاول باندی سوی دی. اوپه یوبل روایت کی (۱۸) دربیع اول باندی قول سوی دی، اونور هم ډیراقوال ذکرسوی دی یوروایت په کی داهم دی چی ویل سوی دی چی دی په دولسم درمضان المبارك باندی پیداسوی دی اوپه یوبل روایت کی اتم درمضان المبارك باندی قول سوی دی اوپه دی تاریخ باندی قول ددی وجی څخه سوی دی چی دنبی ﷺ مور په ورځودغې اخترکی حمل اخستی نوبیا عموماً نه میاشتی حمل وی نوپه دی ترتیب سره درمضان المبارك دغه تاریخ صحیح دی اودهغه علماوو چی کمو دنبی ﷺ دولادت په باره کی درمضان المبارك میاشت ذکر کړیده نودوی وایې چی هم په دی میاشت کی پیداسوی دی اوهم په دی میاشت کی ورته وحی شروع سویدی، نودوی وایې چی هم ددی وجی څخه دی دنبی ﷺ ولادت هم په دی رمضان المبارك کی تسلیم سی. اوپه یوبل روایت کی (۸) دربیع الاول هم ذکردی چی په دی باندی ابن ناحیه اواکثرو علماوو دتاریخو اتفاق کړی دی لکه علامه قطب قسطلانی سو.
اودارکم اکثره محدیثینوهم په دی قول باندی اتفاق کړی دی لکه علامه حمیدی سو اودهغه استاذ علامه ابن حزم سو. دارکم په یوبل روایت کی دوهم دربیع الاول باندی قول سوی دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



خلاصه داچی دولسم دربیع الاول خاص کول په ولادت دنبی ﷺ باندی صحیح نه دی ولی چی دومره اقوال پیش سوه نودهریوه دپاره قوی قوی دلائل سته، بلکی دوفات دنبی ﷺ په باره کی پردغه دوولسم دربیع الاول باندی اتفاق دی چی نبی ﷺ په دولسم دربیع الاول باندی وفات سوی دی. نوداورځ دپیدائش نه بلکی دوفات ده. وهب بن منبه ویلی دی چی عیسٰی ﷺ کله پیداسو نوټول بتان چی څه وه نوټول وغورځیده. اودنبی ﷺ والدی چی کله دنبی ﷺ حمل واخستی نوټول بتان مات سوه اوکله چی نبی ﷺ پیداسو نوبیا بتان دسجدی په حالت کی پریوتلی وه. حضرت عبدالمطلب ویلی دی چی زه په خانه کعبه کی وم چی یودم ټول بتان مات سوه اوپه دغه وخت کی دخانه کعبی دیوالونو اواز وکی چی نن ورځ دالله ﷻ آخری پیغمبر اومحبوب سړی دی دنیاته تشریف راوړی اودده په لاسونو باندی به الله ﷻ هغه کسان هلاکوی څوك چی دغیر الله عبادتونه کوی، اودغه مکه به دبت پرستی څخه پاکوی. په سیرت حلبیه کی ذکرسوی دی چی په قریشوکی یوڅوکسان وه چی دهغوی خپل خاص بتان وه چی هره ورځ به ورته راتله چی یودهغه څخه ورقه بن نوفل وو او زید بن عمر ابن نفیل وو اوعبدالله بن جحش وو دوی به هره ورځ خپل بتانو ته راتله په کمه ورځ چی نبی ﷺ پیداسو، نودوی چی خپل بتانو ته راله نوبتان یې چپه سوه نودوی خپل بتان ودرول نوهغه بتان بیاچپه سوه، نودوی حیران سوه. اوکله چی نبی ﷺ پیداسو نوپه خانه کعبه کی تردرو ورځی پوری زلزله وه داسی زلزله وه چی قریشو ورته کتل داددی خبری خبرداری وو چی اوس دالله ﷻ کور دهغه بنده ته دخالی کولو وخت رالی اودخانه کعبی دپاکیدو وخت رالی. اودارکم دنبی ﷺ په پیدائش باندی دفارس یعنی ایران دباداشاهانو په مضبوط محلونو کی زبردست چاودنه رالل اواکثره قصرونه یې چپه سوه او زلزله په کی وسوه چی دزلزلی دوجی ددوی دمحل څوارلس ستنی چپه سوی، اودارکم ددوی په ملك کی چی کم اور دعبادت دپاره لګول سوی وو نوهغه اور یودم دنبی ﷺ په پیدائش سره مړسو، غرض داچی دغه ورځ دټولو بت پرستانو اوبی دینو دپاره آخری چیلنج وو اوخاص کر په ایران کی ډیری نښی ښکاره سوی وی اودانښی په فارس والاو باندی ځکه ډیری پیش سوی دی چی پردوی باندی په مستقبل کی عذابونه راتله نودهغه څخه خبرداری ورکول سوه چی په مستقبل کی به کسری پرویز دمحمد ﷺ خط مبارك څیری اوبیابه دهغه سلطنت اوبادشاهی زره زره کیږی اوپر دوی به دالله ﷻ دخوا سخت عذاب نازلیږی داسی عذاب به وی چی ټوله دنیابه یې ګوری په دغه وخت کی نوشیروان دفارس بادشاه وو اودده ﷺ په دور کی بیاپرویز بادشاه سوی وو اودده ﷺ مبارك خط یې ووایه، اودنبی ﷺ دنافرمانی په وجه باندی الله ﷻ هغه هلاك اوتباه کی.

په تفسیر ابن مخلدکی ذکرسوی دی چی داسی خط مخکی کله نه وولیکل سوی کم یې چی ده

(c) ketabton.com: The Digital Library



ته لیکلی وو اوپه دی کی دالیکل سوی وه چی شیطان په خپل ژوند کی څلور واره دغم او مصیبت دلاسه چیغه وهلی ده، یوداچی کله الله ﷻ دهغه څخه هغه مقام واخستی کم چی دهغه وو مخکی دپیدائش دآدم علیه السلام څخه، دوهم داچی کله دآسمان څخه مزکی ته راکښته سو، دریم داچی کله نبی ﷺ پیداسو اودنیاته یې تشریف راوړی، څلورم داچی کله سورة فاتحه (یعنی سورة الحمد) نازل سو. دعیون الاثر مصنف یوشعر ویلی دی چی مطلب یې دادی (کله چی دنبی ﷺ پیدائش وسو نوپه دغه وخت کی ابلیس په ډیرسخت غم کی ککړ وو اودځان سره یې ژړل اوځان یې په چپلاخو وهی اوچیغی یې وهلی چی زه تباه سوم برباد سوم پس هغه ته دهغه چیغو اوژړاګانو څه فائده ورکړه؟

دحضرت عکرمه څخه روایت نقل دی چی کله نبی ﷺ پیداسو نودآسمان څخه ستوری را ایله سوه نوشیطانانو خپل لښکرته وویل چی نن ورځ داسی یو ماشوم پیداسوی دی چی زموږ پرتولی خواری باندی به اوبه واچوی، کله چی شیطانان دآسمان خوا ته دورتګ څخه ودرول سوه نودوی ابلیس ته راله اودغه خبره یې ورته وکړه چی دوی دآسمان ته دورتګ څخه منع سوه اودوی ووهل سوه اوورشړل سوه نوابلیس وویل چی نن ورځ څه خاص واقعه سویده نوابلیس ټولو شیطانانوته امروکی چی دهری مزکی څخه لږ لږ خاوره راوړی نو شیطانانو دټولی مزکی څخه لږ لږ خاوره راوړل نوابلیس دیویو ځای خاوره بوی کوله تردی چی دمکی خاوره یې بوی کړه نودشیطانانو څخه یې پوښتنه وکړه چی دادکم ځای خاوره ده نویوه ورته وویل چی دادمکی خاوره ده نوده فوراً وویل چی په دغه ځای کی یوخاص خبره سته، راهبانو ته اوارباباتو ته هم دنبی ﷺ دولادت خبر ورسیدی تردی چی حسان بن ثابت وایې چی: کله چی نبی ﷺ پیداسو نوپه هغه وخت کی زه داوو یا اته کالو وم اوپه خبرو پوهیدم یعنی هرڅه به می په ذهن کی کښېنسته، دی وایې چی: ماپه مدینه کی یویهودی ولیدی چی یوه شپه یې په زوره زوره خپل یهودیانو ته اوازونه کول داوو چی ټول شاوخوا ورته راټول سوه نوټولو ورته وویل چی په تاباندی څه سوی دی؟ نوده ورته وویل چی، نن شپه داحمد ﷺ ستوری راوختی اوددی سره سره هغه نن شپې پیداسوی دی (نوپه پخوانی کتابونو کی هم دده ﷺ په باره کی ذکرسوی دی).

مقصود داچی دنبی ﷺ دپیدائش څخه ټول عالم خبردارسو اودنبی ﷺ په پیدائش سره په ټوله دنیاکی رڼا وغوړول سوه، دارکم دده دوالدی محترمی بی بی آمنی څخه هم ډیری خبری دنبی ﷺ په باره کی نقل دی چی عبدالمطلب رالی نوهغه ته یې ټولی خبری بیان کړی بیاحضرت عبدالمطلب نبی ﷺ په خپل غیږ کی خانه کعبی ته بوتلی اوهلته یې دالله ﷻ څخه دده دپاره دعا وغوښته اودالله ﷻ شکریې اداکی اوبیرته یې کورته راوستی، نو دهغه وروسته بی بی اٰمنه دنبی ﷺ والده دده دپاره دشیدوچښلوپه باره کی فکرمنده سوه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## دنبی ﷺ تی رودل

موږ مخکی دمهرنبوت په باره کی دیهودی قول ذکرکی هلته موږ یوقول پرېښووی ولی چی دهغه ځای سره یې مناسبت نه وو اودلته یې ذکرکوو هغه داچی دهغه یهودی بله نښه ددی نبی ﷺ په باره کی داذکر کړی وه چی ده به دشپی شیدی نه رودلی، اودا خبره په ډیرو روایتونوکی ذکرسویده چی نبی ؑ تردوی یادری ورځی پوری تی نه دی رودی اودا دځه ناجوړی دوجی، داقول دحافظ ابن حجر هم دی بیاچی کله نبی ؑ تی رودل شروع کړه نودخپلی والدی محترمی څخه یې تی ورودی، اوعلامه قفاعی په کتاب العیون کی ویلی دی چی بی بی آمینه چی دنبی ؑ والده ده نبی ؑ ته یې ترنهو ورځو پوری تی نه دی ورکړی دهغه څخه وروسته (ثوبیه) چی دابولهب مینځه وه هغه نبی ؑ ته شیدی ورکولی، ام ایمن عزیزه وایې چی نبی ؑ ته دهغه دوالدی څخه وروسته اول ثوبیه تی ورکړی وو، کله چی ثوبیه خپل مالك ابولهب ته دنبی ؑ دپیدائش خبر ورکی نوابولهب دا ازاده کړه او دثوبیی تی دهغې دخپل ځوی دوجی وو اوثوبیه دنبی ؑ څخه مخکی ابوسفیان چی دنبی ؑ داکا ځوی وو هغه ته یې هم تی ورکړی وو نوابو سفیان دنبی ؑ رضاعی ورور سو، اودابوسفیان په باره کی ډیر علماء دالیکی چی دی دنبی ؑ دکوچنی والی ملګری وو لیکن کله چی داسلام اواز وسو نودی دنبی ؑ څخه جلاسو بیایې په فتح مکه کی ایمان راوړی اوخپل ورورولی یې برقراره کړه اوددغه ورځو څخه یوڅو کاله مخکی ثوبیه حضرت حمزه رضی الله عنه ته هم شیدی ورکړی وی دارکم دی دنبی ؑ رضاعی ورور سو، اودارکم دبنی سعد یوی ښځی چی حلیمه نوم یې وو هغه بیانبی ؑ ته تی ورکوی اوبیادی حضرت حمزه رضی الله عنه ته هم تی ورکړی وو نودارکم حمزه رضی الله عنه ددوو ښځو په واسطه دنبی ؑ رضاعی ورور سو، اودارکم نبی ؑ ته ډیرو ښځو داسی تی ورکړی وو چی تعدایې تراتو پوری رسیږی په یوروایت کی داسی ذکردی چی دبنی سلیم دری انجونی وی چی وچی وی هغوی خپلی سینی دنبی ؑ په خوله مبارکه کی کښېښوولی نوشیدی ځینی راروانی سوی او ددی دری واړو نومونه عاتکه وه، چی نبی ؑ بیاپه خپله فرمایلی دی چی: زه ددرو عاتکو دبنی سلیم ځوی یم. اودټولو څخه زیات تی نبی ؑ دحلیمه سعدیه رضی الله عنها څخه رودلی دی او دا دابو ذوئیب لور وه اودادقبیلی دهوزان څخه وه اودحضرت حلیمې رح نسب داسی دی، حلیمه بنت ابی ذوئیب عبدالله بن حرث بن شجنه بن جابر بن ازام بن ناصر بن نصیه بن نصر بن سعدبن بکر بن هوازن بن منصور بن عکرمه بن فصفه بن قیس بن صیلان دی، اوددی خاوند اخرث بن عبد الزی بن رفاعه وو، ابن اسحاق وایې چی دنبی ؑ رضاعی ورور او خور دحضرت حلیمی دخوا څخه دادی، عبدالله بن حرث، انیسه بنت حرث. اودا انیسه بنت حرث دی هم دنبی ﷺ ډیر خدمت کړی دی او دنبی ﷺ سره یې ډیر محبت وو تر دی چی ددی

(c) ketabton.com: The Digital Library



څخه ډیر اشعار نقل دی.

### بیان دبرکاتو دنبی ﷺ

حضرت بی بی حلیمه رض دنبی ﷺ درضاعت حالت په ډیر دردناك حالت سره بیان کړی دی په سیرت ابن هشام کی دابن اسحاق څخه روایت نقل دی چی: بی بی حلیمه رض دخپل خاوندسره اویوڅو ښځی نوری دخپل کلی څخه ووتلی اوروانی سوی په دی نیت سره چی دښار څخه څه داسی ماشومان دځان سره راولی چی هغه تی رودی اوپه کرایی سره ماشوم ته تی ورکی اوڅه روزی په وګټی، حضرت حلیمه رض وایې چی دغه کال دخشك سالي یعنی دقحطی کال وو چی ټول خلګ په داسی بدحال کی وه تردی چی زه په خپل خره باندی سپره وم نوهغه هم دلوږی والی دلاسه قدم ډیر په خواری سره اخستی اوحضرت حلیمه رض وایې چی زماپه تیونو کی شیدی هم وچی سوی وی چی ددی دوجی زماپه لاس کی چی کم زما بچی وو هغه به نه بیدیدی ولی چی وږی به وو. اوزموږ چی کمه اوښه وه هغه هم خواره اوټپه سوی وه چی شیدی به یې نه ورکولی، مقصود داچی دا وایی چی: په خواری سره زه مکی ته ورسیدم اوزماسره چی کمی ښځی وی نوهغه زماڅخه مخکی ولاړی دځان سره یې ماشومان اخستی وه اوولاړی، په دوی کی یونبی ﷺ پاته سو چی یوې هم دځان سره وانه خستی ددی وجی څخه چی دی یتیم وو اواکثره اجرت اوپیسه دماشوم پرسر پلار ورکوی نو دده پلار وفات سوی وو نوددی وجی څخه دی چا دځان سره وانه خستی نوبی بی حلیمه رض وایې چی ماهم اول دنبی ﷺ څخه هم په دی خبری باندی اعراض وکی اودځان سره می وانه خستی اوبیا چی کله زه دشپی ولاړم اودخاوند سره می مشوره وکړه اوورته می وویل چی صباته زموږ قافله روانه ده اودټولو سره ماشومان سته اوزموږ سره ماشوم نسته نوموږ دامشوره وکړه چی موږ به ددوی نورو دشرم دوجی دایتیم ماشوم دځان سره بوزو نوداوایې چی: خاوندهم زماحمایت وکی په دی خبری کی اوماته یې وویل چی ته دایتیم ماشوم ضرور راوله زما کلك امید دی چی الله جل جلاله به ددی ماشوم په سبب موږ ته خیر اوبرکت راکوی.

بی بی حلیمه رض وایې چی څه رکم مانبی ﷺ دخپلی سینی سره ولګوی نوزما دواړی سینی دشیدو څخه ډکی سوی اونبی ﷺ ښه په ماړه نس تی ورودی اوددی بی بی حلیمی رض خپل ځوی هم په ماړه نس تی ورودی اودواړو ډیر په آرام سره اوپه راحت سره شپه تیره کړه اودا رکم بی بی حلیمه رض وایې چی زموږ حیوانان چی کم وه نو دهغوی غولانځی هم شیدو څخه ډکی سوی. اوبیاچی کله دوی روان سوه خپل کلی ته اوبی بی حلیمی رض دځان سره نبی ﷺ په غیږکی واخستی نوبی بی حلیمه رض دخپل سفر داستان داسی بیانوی: دا وایې چی زه په خپل خره باندی ناسته ومه اونبی ﷺ زماپه غیږکی وو نوداخر داسی په تیز رفتاری سره روان وو چی دټولی قافلی څخه مخکی سو نوزماسره چی په قافلی کی کمی ښځی وی نو

(c) ketabton.com: The Digital Library



ټولې حیرانې سوې اوماته یې وویل چې داهم هغه خرنه دی چې دهغې خوا څخه ته پراغلې وې؟ نومادوی ته وویل چې هوهم هغه خردی نودوی راته وویل چې داخو اوس ډېر تیزسوی دی، نوبي بي حلیمهؓ وایې چې په سکون اوراحت سره موږ خپل کلي ته ورسیدو اوزموږ په کلي کې نورهم حالات خراب سوي وه تردې چې واښه هم نه وه خودرسول الله ﷺ دراتګ څخه وروسته زموږ پسونه دځنګل څخه ماړه راتله اوښه شیدې به یې ورکولې، اودنورو خلګو پسونه به څه ګرځیده اوسیربه یې کوی اویوه قطره شیدې به یې هم نه ورکولې او خلګو به خپلو شپونکیوته ویل چې تاسي ولې پسونه هلته نه ګرځوی په کم ځای کې چې دحلیمې پسونه څرېږي نودوی به هم په هغه ځای کې پسونه څرول په کم ځای کې چې دبي بي حلیمېؓ پسونه څریدل بیاهم بي بي حلیمهؓ وایې چې زموږ پسونه به ماړه راتله اوشیدې به یې ورکولې اودهغوی پسونو به شیدې نه ورکولې.

**بیان په تیزي سره دغټیدو دنبي ﷺ**

حضرت بي بي حلیمهؓ وایې چې موږ په ډېرو نعمتونو دالله ﷻ کې واقع سو اوډېر برکتونه موږ ته راکول سوه اوزما سره په داسې خوشحالي سره وخت تیریدی تردې چې دوه کاله تیر سوه په داسې حالاتو کې، اونبي ﷺ په داسې تیزي سره غټ سو چې بل ماشوم ورسره مقابله نه سوه کولې، اوکله چې ددوو کالوسو نوښه په هوش اوحواس کې سو، اودتې رودلو په وخت کې به نبي ﷺ دراسته سینې څخه تې رودې اودابله به یې خپل رضاعي ورورته پریښوول، بي بي حلمیېؓ به داکوشش کوی چې دابله سینه هم ورکې خونبي ﷺ به نه اخستې، دادنبي ﷺ یوغټه علامه دنبوت وه چې په وړوکوالي کې چې دتې رودلو زمانه وه په دغه وخت کې به یې دبل اکرام کوی لکه څه رکم چې یې دایوه سینه رودله اوبله یې خپل رضاعي ورور ته پریښووله، حلیمهؓ فرمایې چې نبي ﷺ ددوو میاشتو سو نوهرې خوا ته به ګرځیدی، اوکله چې نبي ﷺ داتو میاشتو سو نوخبرې یې شروع کړې چې په خبرو مبارکو باندې به یې هرڅوك پوهیدی، اوپه نهمه میاشت کې یې بالکل صفا خبرې شروع کړې چې دخلګو سره به یې عامه ګفتګو کوله، اودلسو میاشتو په دوران کې دغټو هلکانو سره به یې ساعت تیروی، حضرت حلیمهؓ فرمایې چې په نبي ﷺ باندې به روزانه یوه رڼا دنور راکښته کیدله داسې رڼا به وه لکه چې دلمر شعاع پرچا ولګیږي اوبیابه دغه رڼا غوړیده، همدارکم دنبي ﷺ دشیدو خوړلو وخت ختمیدی اودنبي ﷺ برکات ښکاره کیدل، کله چې دتې څخه منع سوه نوابن عباسؓ وایې چې نبي ﷺ اول دا وفرمایل (الله اکبر کبیرا والحمد لله کثیرا وسبحان الله بکرة واصیلا) الله ﷻ دټولو څخه لوړ دی اودهغه دپاره حمد اوثناء ده اودهغه تسبیح کول کیږي سهار اوماښام. اونبي ﷺ دکوچنیوالي څخه هیڅ شي ته بغیر دبسم الله څخه ګوتې نه وې وروړې.

(c) ketabton.com: The Digital Library



اوبی بی حلیمه‌ؓ فرمایي چی دکله څخه چی نبی ﷺ موږ کلی ته راوستلی دی دهغه ورځی را ایسی دبنوسعد قبیلی داسی کورنه وو چی په هغه کی دمشکو خوشبویي نه وه. اودارکم دخلګو په زړونوکی هم نبی ﷺ محبت ډیر سوی وو، تردی چی دچاپه بدن باندی به څه ناجوړی ولګیده یابه څه پرزخم ولګیدی نونبی ﷺ ته به رالی اودنبی ﷺ لاس مبارك به یې په هغه ځای باندی تیرکی اوهغه به روغ سو، که حیوان به هم ناجوړه سو نوهغه به هم دنبی ﷺ دلاس مبارك په ذریعه ښه کیدی. حضرت حلیمه‌ؓ فرمایي چی کله نبی ﷺ ددوو کالو سو نو دوعدی مطابق مانبی ﷺ بیرته مکی ته بوتلی سره ددی چی زړه دانه غوښته چی نبی ﷺ واستوم، نودنبی ﷺ والدی ته می وویل چی مزید دیوه کال دپاره لا دی پریږدی ماته ولی چی زه بیریدم چی په ده باندی دمکی ناجوړیانی ونه لګیږی، نوبی بی امنیؓ ورته دیوه کال په وخت بیانبی ﷺ ورکی اودی بیرته دځان سره راوستی.

په سیرت ابن هشام کی ذکردی چی بی بی حلیمه‌ؓ فرمایي: یوه ورځ نبی ﷺ زما دځوی سره چی دنبی ﷺ رضاعی ورور وو دواړه دپسونو څرولو دپاره وتلی وه چی په دی کی زما ځوی په منډه کورته رالی اووی ویل چی زماورور دوو سپینو کپړو والو دځان سره لوړکی او دځان سره یې بوتلی اوسینه یې ورڅیری کړل، نوبی بی حلیمه‌ؓ فرمایي چی زما دپښو څخه مزکه وتښتیده اودخپل خاوند سره په تلوار هغه ځای ته ورلو چی داڅه وسوه، دا وایې چی موږ کله ورلو نونبی ﷺ روغ جوړ ولاړوو نوبی بی حلیمیؓ پوښتنه ځینی وکړه چی داڅه وسوه ستاسره ای زما ځویه نونبی ﷺ ورته وفرمایل چی داسی دوه کسان راله اوزما سینه یې څیری کړه اویوشی یې پکښی لټوی خو راته معلومه نه ده چی څه یې په کی لټول، بیابی بی حلیمه‌ؓ فرمایي چی موږ به دنبی ﷺ سره یوځای ګرځیدوچی ناڅاپه یوځای څه مصیبت پرنازل نه سی اوحضرت حلیمه‌ؓ وایې چی زه یووار بیرته ولاړم دنبی ﷺ والدی ته نوماته یې وویل چی ولی دی دومره ژر راوړی اوحال داوو چی دی دی زما څخه ډیرپه ضد او حرص سره بیولی وو نوبی بی حلیمیؓ ورته وفرمایل چی هغه خو صحیح ده خو زه دزمانی دحوادثو څخه بیریږم هسی نه چی څه مصیبت ورته پیښ نه سی، نوبی بی حلیمه‌ؓ وایې چی ماته بی بی آمینی وویل چی رښتیا رښتیا وو ایه چی څه خبره ده نوزه مجبوره سوم نوځه چی ورسره سوی وه هغه ټول می ورته وویل چی داسی کار دنبی ﷺ سره سوی دی نوزما څخه بی بی آمنی پوښتنه وکړه چی آیاته پرده باندی دشیطانانو څخه بیره کوی؟ نوما ورته وویل چی هو! نوبی بی آمنی راته وویل چی ستا دابیره بی ځایه ده ولی چی په ده باندی دشیطانانوس نه چلیږی اونه ده ته څه ویل کیږی ولی چی کله ما دده حمل اخستی وو نوزماپه رحم کی یونور غوندی شی پیداسوی وو اوزما څخه به یوقسم نورختی چی دهغه نور په ذریعه به ماته تربصری پوری علاقی ښکاره کیدی اوکله چی دی پیداسو نو

(c) ketabton.com: The Digital Library



ده لاس په مزکه ایښی وو اویوه ګوته یې دآسمان خواته لوړه کړې وه نوددې وجې څخه دې ته دځان سره بیرته بوځه اوښه په خوشحالي یې ورکې. په حلبی کې ابن اسحاق وایې چې دشق صدر څخه وروسته کله چې بی بی حلیمی<sup>رض</sup> نبی ﷺ بیرته راروان کې نودمکې په لوړه حصه<sup>رض</sup> کې بی بی حلیمی<sup>رض</sup> نبی ﷺ ورك کې نوبی بی حلیمه<sup>رض</sup> بیرته په پریشانی سره مکې ته راله اوعبد المطلب ته یې خبر ورکې، نوعبد المطلب ژر ترژره خانه کعبې ته ورلې اوهلته یې دنبی ﷺ دپیدا کیدو دعا وکړه، نوکله چې ده دعا وکړه نودآسمان څخه ورته اواز وسو چې ای خلګو مه پریشانه کیږئ ولې چې دمحمد ﷺ رب سته اوهغه نه ضائع کیږي، نوپه دې کې عبد المطلب پوښتنه وکړه چې هغه به موږ ته څوك راولي، نوده ته اواز وسو چې ورسه په تِهامه کې دیمنی درختی وخواته هغه ولاړدی نوپه دغه وخت کې عبدالمطلب په خپل آس باندې ورلې اوچې ګوری یوه درخته ده شنه ده اوګڼه ده اولاندې یې داماشوم ولاړ دی نوده پوښتنه ځینی وکړه چې ته څوك یې نونبی ورته وفرمایل چې زه محمد بن عبدالله بن عبدالمطلب یم نوده ژر ترغاړه کې اوورته یې وویل چې ته زما زړګې یې اولوړ یې کې دځان سره اوپه آس باندې یې کښېنوی اوپسونه یې حلال کړه اوپه مکې والاوو باندې یې وخوړل.

## بیان دوفات دمور دنبی ﷺ

بیاچې کله نبی ﷺ ولاړی نودخپل نیکه په سرپرستی کې اودمور په پرورش کې ډیر په تیزی سره لوی سو، کله چې دنبی ﷺ عمر اووه کاله سو نو دنبی ﷺ والده وفات سوه، او دنبی ﷺ دوالدې قبیله بنی نجار وه، ابن هشام وایې چې دعبد المطلب دوالدې نوم سلمی بن عمر نجاریه وه نوددې وجې څخه دنبی ﷺ والده اووالد دواړه دیوې قبیلې وه.

کله چې دنبی ﷺ والده وفات سوه نونبی ﷺ دخپل نیکه په پرورش کې وو، اوپه خانه کعبه کې یوه خاص چیتایې پرته وه چې په هغه باندې به حضرت عبد المطلب یوازې کښې نستې اوبل څوك به نه پرکښېنستې اوبل چاته دکښېنستو اجازه هم نه وه اودده په ځای باندې به کښېنستل بې ادبی ګڼل کیده اونور دقریشو مشران اوعام خلګ به دده شاوخوا راټولیدل لکه شمع چې بل سې نوپتنګان ورته راټولیږي نودوی به پرحضرت عبدالمطلب هم په داسې طریقې سره راټولیدل، اونبی کریم ﷺ به په بې پرواهې سره هم داسې سیده ورتلې اوپه دغه چیتایې باندې به کښېنستې نودده اکاګانوبه دې منع کوی چې په دې ځای کې مه کښېنه نوحضرت عبدالمطلب به ویل چې دې مه منع کوی ولې چې دې به ډیر لوړ شان والا شخصیت جوړیږي بیابه نبی ﷺ دحضرت عبد المطلب پرملا باندې دده دسترګو تورنبی ﷺ ختې اوکښېنه کیدې نوحضرت عبدالمطلب ته به دده دغو حرکاتو ډیر خوند ورکوی اوخوشحاله کیدې به دده په حرکاتو باندې، دبنی مدلج یوقیافه شناس (یعنی هغه

(c) ketabton.com: The Digital Library



کسان چې دحرکاتو څخه دانسان پته لګوی) حضرت عبدالمطلب ته وویل چې دده (محمد) حفاظت کوه ولې چې دده قدمونه دابراهیم ﷺ دقدمونو سره لیدل کیږی اودده څخه ماسوا دبل چاقدمونه دهغه سره نه لیدل کیږی. دارکم دنبی ﷺ نور هم ډیرصفات ذکرسوی دی په کتابونو کی چې دهغه ټولو ذکرکول دلته محال دی چې دده په ذریعه الله ﷻ ډیرو خلګو ته فائدې ورسولې مخکې دنبوت څخه په چاباندې به یې چې لاس مبارك راکښته کې نوهغه به الله ﷻ دده دبرکت دوجې ښه کی دچابه چې زخم وو هغه به هم دده په لاس مبارك راکشولو سره ښه سو دارکم مخکې موږ بیان کړه چې دکافرانو سرونه ټیټ سوه په پیدائش دنبی ﷺ باندی اوداکثرو محلو څخه په زلزلو سره راچپه سوه اوبتان ټول مات سوه دنبی ﷺ په پیدائش سره، اودارکم الله ﷻ دعربو څخه خشك سالی لیری کړه په سبب دپیدائش دنبی ﷺ باندی داسی خشك سالی راغلی وه چې هیڅ هم نه وه پاته سوی اوعرب ډیر په بد حال کی وه نودنبی ﷺپه ذریعه الله ﷻ پردوی باندی فراخی راوسته اوخوشحالی یې په دوی باندی راوسته اوډیرو تکلیفونو اومصیبتونو څخه یې دوی خلاص کړه، دارکم نبی ﷺ په دی قریشو یعنی په دی خپل قوم کی داسی زندګی تیره کړه چې ټولو خلګو ته محبوب ترین انسان دی وو اودخلګو امانتونه اوفیصلی به ده ته راتلی اودټولو په منځ کی دی امین مشهور وو اوهروخت به یې په خانه کعبه کی تشریف فرمایلی وو په کوچنیوالی کی یې دماشومانو سره بازی نه کولی اودکوچنی والی څخه یې په زړه کی دالله ﷻ بیره وه اوهروخت به په خانه کعبه کی ناست وو اودالله ﷻ ذکربه یې کوی اوالله ﷻ دی دهرجهالت څخه اوددښمنی دلاروڅخه اودبی هوده خبرو څخه اودبی هوده مجلسوڅخه اودارکم دنورو فضولیاتو څخه محفوظ ساتلی وو، کله چې نبی ﷺ دځوارلسو کالو یا دپنځلسو کالو سو نو دقریشو په یوجنګ کی شریك سو هغه هم دخپلو ترونو دحفاظت دپاره داجنګ دقریشو او دبنی کنانه دبنی قیس سره وو. ابن اسحاق وایې چې دنبی ﷺ عمر مبارك (۱۸) کاله وو.

**بیان دنکاح دنبی ﷺ دخدیجة الکبرٰی رضی الله عنها سره**

روایت ذکر کړی دی ابن هشام چې وایې: کله چې دنبی ﷺ عمر مبارك (۲۵) کاله سو نو دالله ﷻ په مشیئت سره دنبی ﷺ نکاح دخدیجی رضی الله عنها سره وسوه، دحضرت خدیجی رضی الله عنها نسب داسی دی: خدیجه بنت خویلد بن اسد بن عبد العزی بن قصی بن مره بن کعب بن لؤی بن غالب، ابن اسحاق وایې چې خدیجه رضی الله عنها یوه تاجره ښځه وه اوپه شرافت اومالداری کی ډیره مخکی وه اوخپل مال یې به یې خلګوته ورکوی اوتجارت به یې کوی نوددی منافعه به دی ته ورکول کیده اودټولو قریشو هم داکسب وو.

* * *

(c) ketabton.com: The Digital Library



## تجارت دنبی ﷺ او سفر دنبی ﷺ شام ته

خدیجی رضي الله عنها ته چی کله دنبی ﷺ په باره کی معلومات وسو چی نبی ﷺ ډیر صادق اوامین اوخوش اخلاق اوخوش ګفتاره انسان دی نودی ورته خپل مال ورکی اوورسره یې یوغلام هم ورکی نونبی ﷺ دی تجارت ته تیارسو اوبیاخدیجی رضي الله عنها دنورو په نسبت دنبی ﷺ منافعه زیاته کښې ښووله، نونبی ﷺ ددغه غلام سره وران سو تردی چی دشام سرحدونو ته ورسیدی نوهلته یې یوراهب ولیدی نودی راهب دنبی ﷺ سره چی داکم غلام وو ددی څخه پوښتنه وکړه چی دا څوك دی؟ نودی غلام ورته وویل چی دایو سړی دی دقریشو څخه نو په دغه وخت کی نبی ﷺ په دغه ځای کی یوه درخته وه نودهغه لاندی یې تشریف راوړی نودی راهب وویل چی ددی درختی لاندی دپیغمبر څخه ماسوابل څوك نه کښینی، مقصد داچی نبی ﷺ شام ته ولاړی اوهلته یې خرید اوفروخت وکی نوخدیجی رضي الله عنها ته په دی پیره کی دوه چنده فائده وسوه اوپه دی سفرکی میسره کم چی دخدیجې رضي الله عنها غلام وو اودنبی ﷺ سره په سفرکی وو نوده ډیر عجیبه کارونه په سفر کی ولیده چی دراتګ څخه وروسته یې خدیجی رضي الله عنها ته بیان وکی. اوحضرت خدیجی رضي الله عنها په قریشوکی مالداره اوشریفه ښځه وه نوددی وجی څخه هرچا داغوښته چی ورسره واده وکی نوددی وجی څخه دهرچا داخیال وو چی ددې سره واده وکی، کله چی دواده پیغام دخدیجی رضي الله عنها دخوا څخه نبی ﷺ ته ورسیدی نونبی ﷺ دخپلو اکاګانو سره مشوره وکړه اوهغوی ته یې ټوله خبره ورپه غاړه کړه نوحمزه رضي الله عنه دنبی ﷺ سره دخدیجی رضي الله عنها دپلار خواته ولاړه اودهغه دپلار سره یې صلاح اومشوره وکړه اوددواړو واده وسو، دابن هشام دوینا په مطابق ددی مهر شل اوښان وه.

اودنبی ﷺ اولنی بی بی خدیجه رضي الله عنها وه اودابراهیم ؓ څخه ماسوا نورټول اولادیې دخدیجی رضي الله عنها څخه وو.

## دنبی ﴿ﷺ﴾ اولاد

روایت ذکر کړی دی ابن اسحاق چی وایې: دنبی ﷺ ټول بچیان ماسوا دابراهیم څخه دخدیجی رضي الله عنها څخه وه چی په دی کی دری ځامن وه، قاسم، طیب، طاهر. اوپه دا اولنی ځوی سره دنبی ﷺ اسم کنیه مشهوره ده چی ابوالقاسم ﷺ دی اوڅلور لوڼی وی، دټولو څخه مشره رقیه وه اودهغه څخه کوچنی زینب وه اودهغه څخه کوچنی کلثوم وه اودهغه څخه کوچنی فاطمه الزهراء وه رضي الله عنهن دابن اسحاق څخه نقل دی چی دنبی ﷺ دری کوچنی ځامن دنبوت څخه مخکی وفات سویدی اوپه لوڼوکی ټولو داسلام زمانه پیداکړی وه اوټولوهجرت کړی وو، ابن هشام وایې چی دنبی ﷺ ځوی ابراهیم دحضرت ماریه قبطیه څخه وو چی دادنبی ﷺ مینځه وه، دمصردبادشاه مقوقس دانبی ﷺ ته په هدیه کی ورکړی وه

(c) ketabton.com: The Digital Library



## نوی تعمیر دخانه کعبی

روایت ذکرکړی دی ابن اسحاق: چی کله دنبی ﷺ عمر مبارك (۳۵) کاله سونوپه دغه کال باندی قریشو دخانه کعبی دنوی تعمیرپه باره کی اراده وکړه، چی دانوی جوړه کی اونوی چت پرواچوی مگر په دوی کی هیڅ څوك داسی نه وو چی دخانه کعبی دیوالونه شهیدکی، اودا دیوالونه قریشو ځکه لوړوله چی مخکی به دخانه کعبی دیوالونه کوچنی وه نوپه هغه کی چی کمه خزانه پرته وه هغه چاپټه کړی وه اودهغه څخه ماسوا نور سامانونه هم ځینی ورك سوی وه چی بیا دویك په نامه یوغلام سره گیر سوی وه، ابن هشام وایې چی ددی غلا په وجه ددی غلام لاسونه کټ سوی وه اوبیا دتعمیر په باره کی قریشو دکښتی دتختی استعمالولوپه باره کی سوچ کوی اوداکښتی دجده دساحل څخه پیداسوی وه چی دکم رزمی سوداگری کښتی وه اودهغوی څخه غرقه سوی وه، اوقریشوددی کښتی تختی دخانه کعبی په چت کی لگول غوښتل، اودوی ته یوترکان هم ورکول سوی وو چی هغه ویلی وه چی دخانه کعبی چت به زه تیاروم، نوقریش په دی کشمکش کی وه چی خانه کعبه څه رکم شهیده سی نودومره جرات په چاکی دی چی خانه کعبه شهیده کړی اوهسی نه چی الله ﷻ ناراضه نسی؟ اوپه دی دوران کی یو عجیبه غیبی مدد وسو هغه داچی په خانه کعبه کی یوه تِه خانه جوړوه چی په هغه کی کم نذرونه دخلگو پراته وه هلته یومارووچی دعادت مطابِق به کله کله دباندی راوتی اودخانه کعبی پردیوالونو باندی گرزیدی نودهغه دبیری به څوك هم خانه کعبی ته نه نژدی کیدی نویوه ورځ دامار ووتی اوحسب عادت په دیوالونو باندی گرځیدی چی په دی دوران یوه مرغی راله اودامارېې لوړ کی اودځان سره یې یو وړی، نوقریشو چی داکار ولیدی نونور هم مطمئن سوه اودوی وویل چی داسی لگیږی چی الله ﷻ زموږ ددی کار څخه راضی دی، ولی چی زموږ دلاری څخه یې مضرشی لیری کی او موږته یې ټول اسباب هم تیارکړه اوکاریگرهم موجود وه، آخرداچی ټول ودریده اوځانونه یې دخانه کعبی دجوړولو دپاره تیارکړه، اوپه دی کی یوسړی چی ابووهب بن عمر بن عائد بن عمران بن مخدوم نوم یې وو دی ودریدی اودخانه کعبی ددیوال څخه یې یوه خښته را جلا کړه نوهغه خښته دده دلاس څخه ووتل اوبیرته په خپل ځای باندی ولگیده نوده مخ دقریشو خواته واړوی اوقریشوته یې خطاب وکی چی تاسی ددی خبری ډیرلحاظ کوی چی په دی کی صرف خپل حلاله پیسه ولگوی اوحرامه پیسه په کی مه لگوی لکه دسود پیسه سوه اوظلم پیسه سوه داپه دی کی مه لگوی، بعضی کسان داخطاب دولید بن مغیره خوا ته منسوب کوی، اوابو وهب دنبی ﷺ خپل وو یعنی دنبی ﷺ دوالدی ماما وو اونهایتی بزرگ انسان وو اوشریف انسان وو چی عرب دده په صفت کی اودده په تعریف کی ډیری قصیدی بیانوی، غرض داچی دخانه کعبی هرطرف دټولو قبیلو په سرباندی تقسیم سو څه

(c) ketabton.com: The Digital Library



حصه په کی دیوې قبیلی په غاړه وه اوڅه حصه یې دبلی قبیلی په غاړه وه، سره ددی چی کارهم په قبیلو باندی تقسیم سو بیاهم چا داهمت نه سوکولی چی خانه کعبه شهیده کړی، تردی چی دوی ولیدته وویل چی هغه دا اقدام وکی نودهغه طبیعت خراب وو نودوی وویل که چیری سهارته دولید طبیعت صحیح وو نوموږ ته به معلومات وسی چی الله ﷻ زموږ ددی کار څخه راضی دی اوکه ولیدته په نن شپه کی څه تکلیف یاڅه آفت ورسیدی نوموږ ته به معلومه سی چی الله ﷻ زموږ په دی اقدام باندی راضی نه دی، نوپه دغه شپه ټولو الله الله کوی تردی چی سهارسو نودوی ګوری چی ولید روغ جوړدی نوددوی په زړونوکی همت پیداسو اوټولو دخانه کعبې په شهیدولو باندی شروع وکړه اودخانه کعبی دیوالونه یې شهید کړه تردی چی دابراهیم ﷺ تربنیادونو پوری ورسیدل نوچی هغه یې هم وکینده نوپه مکه کی یوبدحال سو نودوی وویل چی بس دی ددی څخه نور کښته مه کیندی نوکله چی دوی دیوالونه ختم اونوی دیوالونه یې ووهل نوهری یوی قبیلی ځان ځان ته جلا جلا کاڼی راواخسته اوهریوې ویل چی ددی خانه کعبی آخری کاڼی به زموږ په لاس باندی لګیږی اوتکمیل به یې موږکوو، تردی چی ددی فضیلت حاصلولو دپاره دقبیلو په منځ کی خونریز جنګونه وسوه تردی چی بنی عبدالدار قبیلی والاوو دوینی څخه یوه پیاله ډکه کړه اوپه منځ کی یې کښې ښووله اوټولو په کی ګوتی لندی کړی اوقسمونه یې واخسته چی موږ به خپل ځانونه قربان کو خودا فضیلت به دلاسه نه ورکوو.

نودارکم ډیروخت په دغه جنګ کی تیرسو، آخرداچی نبی ﷺ ددوی فیصله وکړه، په داسی طریقی سره چی په دغو ورځوکی په دوی کی بزرګ ترین انسان ابوامیه بن المغیره بن عبد الله بن عمر بن مخدوم وو دی وویل چی ای قریشو تاسی داسی وکی چی دخانه کعبی دغه دروازی ته ګوری چی څوك اوس رادننه سو نوهغه به ستاسی ثالث وی اوستاسی فیصله به وکی نودټولو دافیصله خوښه سوه نودقدرت کاروو چی په دغه وخت کی نبی ﷺ رالی نو قریشو چی نبی ﷺ ولیدی نوډیر خوشحاله سو اوټولو داوویل چی داډیر امانت داردی او ډیرښه فیصله کونکی دی نوټول دهغه فیصلی ته کښېنسته، نونبی ﷺ په دغه وخت کی یو څادر واخستی اوبیانبی ﷺ په خپلو مبارکو لاسونوسره حجر اسود لوړکی اوپه هغه څادر کی یې کښېښووی اوهریوې قبیلی ته یې دهغه یوه یوه څنډه ورکړه اونبی ﷺ په خپلو مبارکو لاسونو حجر اسود دخانه کعبی په دیوال کی ولګوی نودټولو دزړه ارمانونه هم پوره سو چی دافضیلت یې حاصل کی اوجنګونه ددوی په منځ کی هم ختم سو، اوکله چی حجر اسود کښې ښوول سو نودهغه څخه وروسته نور تعمیر پوره سو.

## نبی ﷺ ته درسالت زیری ورکول

روایت ذکر کړی دی ابن هشام: چی نبی ﷺ ته درسالت ورکول کیدو څخه مخکی دنصاری او

(c) ketabton.com: The Digital Library



دیهودو علماوو دابیانونه کول دخپلو کتابونو څخه اوجادوګرانوبه په خپل جادو سره داوینا کوله چې داسې شخصیت به په مکه کې پیداکیږي اوهغه ته به رسالت ورکول کیږي هرڅه چې یهود اونصارٰی وه نوهغوی به داخبره دخپلو کتابونو څخه کول اوهرڅه چې جادوګران وه نوهغوی داخبره دشیطانانو په ذریعه کول چې په دغه وخت کې پرشیطانانو باندې دآسمان تګ نه وو بندسوی اوبیاچې کله نبي ﷺ ته رسالت ورکول سو نوبیاپه آسمان کې شهاب ثاقب اېښوول سوی وو چې کله به دوی ورتله نودوی به په شهاب ثاقب سره به ویشتل کیدل، اوبیادوی ته ژر ترژره دحقیقت معلومات ورته وسو چې نبي ﷺ ته رسالت ورکول سوی دی، عبدالله بن کعب وایې چې حضرت عمر رضي الله عنه په خپل دور دخلافت کې یوه ورځ وفرمایل: زمادې په هغه رب باندې قسم وي چې زه یوه ورځ په خانه کعبې کې ناست وم دیوبت خواته چې په موږ کې یوسړي دبت په نامه باندې حلاله کړې وه اوموږ دهغه دتقسیم په انتظار وو چې ددې تقسیم وسې نوپه دغه دوران کې مادددې بت څخه یواواز واوریدې چې دې بت وویل، یوسړی دی چې ډیره صفا وینا کوي اوهغه (لاالٰه الاالله) وایې. اودا واقعه دظهور اسلام څخه یوه میاشت مخکې سوې وه.

**په بعثت دنبي ﷺ باندې دیهودو عقیده**

روایت ذکرکړی دی ابن اسحاق: چې عاصم بن عمر ویلي دي چې دنبي ﷺ دبعثت څخه مخکې دیهودو اودنصاراو به هروخت جنګونه وه اویهودیانو به ویل چې اوس په دې نژدې وختونوکې به یوپیغمبر راښکاره کیږي چې موږ به دهغه سره یوځای کیږو اوتاسې ته به شکست درکوو بیاچې کله دنبي ﷺ پیدائش وسو نودوی ځینې منکره سوه دحسد دوجې څخه. ابن اسحاق وایې په نقل کولو سره دسلمه بن قش څخه چې دایوصحابي دی دی وایې چې: زموږ سره نژدې یویهودي اوسیدی چې عبد الاشهل نوم یې وو اوځوان هلك وو اویو څادر به یې پرځان پیچلی وو، یوه ورځ رالی اودجهنم اودجنت تذکره یې کوله اودقیامت دحساب اوکتاب تذکره یې هم کوله نوخلګو ځینې پوښتنه وکړه چې دغه به څه علامه وي نودی یهودي وویل چې ددې علامه داده چې یوپیغمبر به راځي نودې خلګو وویل چې کله به رازي نودا راوي وایې چې زماخواته یې اشاره وکړه چې داماشوم که ژوندی وي نودی به یې ووینې. بیادغه یهودي هم ژوندی وو چې نبي ﷺ دپیغمبرۍ اعلان وکی، نوموږ په نبي ﷺ باندې ایمان راوړی اودې یهودي ته ماوویل چې موږ خو ستا په وینا په دې پیغمبر باندې ایمان راوړی دی نوته ولې ایمان نه راوړې نودی یهودي وویل چې صحیح ده مګر دا هغه پیغمبرنه دی، غرض داچې دبنې اسرائیلو دنبي ﷺ په پیغمبرۍ باندې مکمل یقین خو وو خودوی دانه غوښته چې داشرافت ددوی څخه واخستل سي اوعربوته ورکول سي نو دضد اوحسد دوجې به یې ایمانونه نه راوړل.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## دنبی ﷺ دنبوت ابتداء

روایت ذکرکړی دی محمد بن اسحاق دی وایې: کله چی دنبی ﷺ عمر مبارك څلویښتو کالوته ورسیدی نوالله ﷻ دټولی دنیا دپاره رحمت اودخلګو دپاره زیری ورکونکی راولیږی اوالله ﷻ دټولو پیغمبرانو څخه داوعده اخستی وه چی کم کم یودنبی ﷺ په وخت کی ژوندی وی نوهغه به دنبی ﷺ اطاعت اونصرت کوی اودنبی ﷺ په امت کی به شمارل کیږی اوهرنبی ته داویل سوی وه چی دخپل امت څخه داوعده واخلي چی: که دنبی ﷺ په دور کی څوك وو ددوی دامتیانو څخه نوپه نبی ﷺ باندی به ایمان راوړی، لکه څه رکم چی دا الله ﷻ په خپل عزیزکلام کی فرمایلی دی. (یقینًا موږ اخستی دی وعده دټولو انبیاوو څخه چی کم ته موږ کتاب اوحکمت ورکړی دی بیاچی ستاسی خواته یوپیغمبر راسی اودهغه سره کتاب وی نوتاسی به دهغه تصدیق کوی اوپه هغه باندی ایمان راوړی).

ابن اسحاق وایې چی دنبی ﷺ اولنی میوه دنبوت داوه چی نبی ﷺ به خوبونه لیدل اوکم خوب به چی نبی ﷺ ولیدی نوهغه به په صبا ورځ کی په حقیقت باندی بدلیدلی، اودنبوت څخه مخکی نبی ﷺ خلوت یعنی یوائی والی ډیر محبوب وو ددی وجی څخه به نبی ﷺ په غارِ حراکی یوازی کښېنستی، ابن اسحاق په یوبل روایت کی وایې چی دنبی ﷺ یو کرامت داوو چی نبی ﷺ به دکمی درختی یاکاڼی په څنګ تیریدی نوهغه درختی اوکاڼی به خبری کولی، اونبی ﷺ ته به یې ویل ای دالله ﷻ رسوله په تا باندی دی دالله ﷻ سلام وی، نبی ﷺ به یوی خوا اوبلی خواته نظروکی خوهیڅ به نه ښکاره کیده ماسوا ددرختو او کاڼو څخه، نبی ﷺ ته به داسی معجزی اوکرامات مخ ته کیدل تردی چی نبی ﷺ په غارِ حراکی وو اوالله ﷻ ورته جبرایل ﷺ راولیږی چی درمضان المبارك ورځی وی.

## ابتداء دوحی

اقْرَأْ بِاسْمِ رَبِّكَ الَّذِي خَلَقَ (١) خَلَقَ الْإِنْسَانَ مِنْ عَلَقٍ (٢) اقْرَأْ وَرَبُّكَ الْأَكْرَمُ (٣) الَّذِي عَلَّمَ بِالْقَلَمِ (٤) عَلَّمَ الْإِنْسَانَ مَا لَمْ يَعْلَمْ . (سورة العلق ۱\۵).

ابن اسحاق وایې په نقل کولو سره دقتاده لیثی څخه چی دی نقل کوی دعبیده بن عمیر څخه دی نقل کوی دعبدالله بن زبیر څخه دی وایی چی: موږ عبید بن عمیر ته وویل چی موږ ته بیان وکی چی نبی ﷺ ته ابتدایې وحی څه رکم وسوی؟ نوعبیده بن عمیر داواقعه بیانول شروع کړه په داسی حال کی چی عبدالله بن زبیرهم مخامخ ناست وو اودااروی وایې چی زه هم په دغه وخت کی وم: نبی ﷺ به په کال کی یوه میاشت په غار حراء کی دخلوت دپاره تشریف وړی اوکله به چی کم مسکین دنبی ﷺ خواته راتلی نونبی ﷺ به ډوډی په وخوړل اوکله به چی میاشت پوره سوه نواول به خانه کعبی ته نبی ﷺ تشریف فرماسو او

(c) ketabton.com: The Digital Library



اووه واره به یې طواف وکی اوبیا دهغه څخه وروسته به یې کورته تشریف وی وړی په دی وار کی دهغه مبارکه میاشت درمضان المبارك راله. اوهغه عظیمه شپه هم راله په کم کی چی نبی ﷺ ته نبوت ورکول کیدی نوجبرایل ﷺ رالی اودهغه سره دوریښمو په کپړه کی یوکتاب وو چی په هغه کی پیچل سوی وو اوبیایې نبی ﷺ ته وفرمایل چی (اقرء) یعنی ووایه! نونبی ﷺ ورته وفرمایل چی زه قاری نه یم یعنی مطلب داچی زه نه سم ویلی په دی کی جبرایل ﷺ بیانبی ﷺ دخپل سینی مبارکی سره ولګوی اوورته یې دوباره وویل چی (اقراء) نونبی ﷺ ورته وفرمایل چی زه څه ووایم نوجبریل ﷺ ورته لوړ آیتونه وویل، چی ترجمه یې داده: (ووایه په نامه دخپل رب سره هغه رب چی انسان یی دمنجمدی وینی څخه جوړ کړی دی اوستارب لوړ شان والادی هغه ذات چی په قلم سره یې ښوونه کړیده (او) انسان ته هغه خبری ښیی چی هغه ته معلومی نه وی دهغه په باره کی).

بیانبی ﷺ په رعب کی سو او وبیریدی او دحضرت خدیجی رضي الله عنها خواته رالی اوپوره واقعه یې ورته وفرمایل چی داسی کار وسو نوحضرت خدیجی رضي الله عنها دځان سره نبی ﷺ دورقه بن نوفل خواته بوتلی، کله چی هغه داخبره واوریده نویوه چیغه یې ووهل (القدوس القدوس) اوبیایې وویل چی بی شکه داهغه ملایکه ده چی موسیٰ ﷺ ته به راتله اوبیایې دی حضرت خدیجی رضي الله عنها ته وویل چی نبی ﷺ ته ووایه چی خپل قدمونه مضبوط کړی ولی چی دی پیغمبر دی.

## نزول دقرآن کریم

روایت ذکرکړی دی ابن اسحاق چی وایې: دقرآن ابتدایې نزول په رمضان المبارك کی سوی دی، لکه څه رکم چی الله ﷻ په خپله فرمایلی دی: شَهْرُ رَمَضَانَ الَّذِي أُنْزِلَ فِيهِ الْقُرْآنُ هُدًى لِلنَّاسِ وَبَيِّنَاتٍ مِنَ الْهُدَى وَالْفُرْقَانِ فَمَنْ شَهِدَ مِنْكُمُ الشَّهْرَ فَلْيَصُمْهُ وَمَنْ كَانَ مَرِيضًا أَوْ عَلَى سَفَرٍ فَعِدَّةٌ مِنْ أَيَّامٍ أُخَرَ يُرِيدُ اللهُ بِكُمُ الْيُسْرَ وَلَا يُرِيدُ بِكُمُ الْعُسْرَ وَلِتُكْمِلُوا الْعِدَّةَ وَلِتُكَبِّرُوا اللهَ عَلَى مَا هَدَاكُمْ وَلَعَلَّكُمْ تَشْكُرُونَ، (سورة البقره\۱۸۵) درمضان میاشت هغه میاشت ده چی په دی کی قرآن نازل سوی دی داسی قرآن کریم چی په دی کی دخلګو راهنمایې سویده اودهدایت کتاب دی اوپه دی کی ښکاره نښانی ذکر سوی دی اوقرآن کریم حق اوباطل سره جلا کوی.

اوپه بل ځای کی په سورة القدرکی هم داذکر سوی دی چی دهغه مضمون هم داجوړیږی، اوداسی په نورو ځایونو کی هم اٰیتونه ذکردی چی دټولو څخه دامعلومیږی چی په رمضان المبارك کی دقرآن کریم دنازلیدلو ابتداء سویده.

بیا دوحی سلسله ترډیری مودی پوری بنده وه چی په هغه سره نبی ﷺ ته ډیر غم ورسیدی اوکافرانو په نبی ﷺ پوری قسم قسم خبری اوخنداګانی وکړی اوهرقسم اعتراضونه یې

(c) ketabton.com: The Digital Library



وکړه چې ددی په وجه نبی ﷺ ډیر غمګین سو نوالله ﷻ دوهم وار وحی شروع کړی چې په هغه کی اول وار سورة الضحیٰ نازله سوه.

## هغه کسان کمو چې اول اسلام قبول کی

داښکاره خبره ده چې دټولو څخه اول اسلام راوړونکی ښځه حضرت خدیجة الکبریٰ رضی الله عنها ده اوبیادجنس په اعتبارسره ابن اسحاق ویلی دی چې اول علی رضی الله عنه ایمان راوړی دی په داسی حال کی چې دده عمر (۱۰) کاله وو، بیا دهغه څخه وروسته زید بن حارث بن شرحبیل بن کعب بن عبدالعزی بن لوی القیس کلبی اسلام راوړی دی اوقبول کړی یې دی اودی دنبی ﷺ غلام وو، بیادده څخه وروسته ابوبکر بن ابی قحافه رضی الله عنه اسلام راوړی دی چې دابوبکر رضی الله عنه خپل نوم (عتیق) وو خوپه اسم کنیه سره مشهوره سوی وو او دده دوالد صاحب نوم عثمان بن عامر بن کعب بن سعد بن ثیم بن مره بن کعب بن لوی بن غالب بن فهر وو، خودابن هشام په روایت سره دابوبکر رضی الله عنه خپل اسم مبارك عبدالله وو اوعتیق نوم په روایت دابن اسحاق کی ذکرسوی دی.

بیاحضرت ابوبکر الصدیق په خپلو هم مجلسو کی داسلام متعلق خبره وغوړول چې په هغه سره ډیر کسان په اسلام کی داخل سوه چې دهغوی نومونه دادی (عثمان بن عفان رضی الله عنه، زبیر بن عوام رضی الله عنه، عبدالرحمٰن بن عوف رضی الله عنه، سعد بن ابی وقاص رضی الله عنه، طلحه بن عبیدالله رضی الله عنه) اوداټول صحابیان په عشره مبشره کی داخل دی کمو ته چې په دنیاکی دجنت زیری ورکول سوی دی پنځه کسان دااودری مخکنی دوی ټولوبه دنبی ﷺ سره یوځای لمونځونه اداء کول اوبیا ددوی څخه وروسته ابوعبیده هم اسلام قبول کی اوداهم په عشره مبشره کی شامل دی، اوبیا دا انداز دالله ﷻ په مدد اونصرت سره روان وو اواسلام په خپل غیږ کی خلګ راټولول.

## داسلام ښکاره اعلان

الله ﷻ نبی ﷺ ته فرمایلی دی: فَاصْدَعْ بِمَا تُؤْمَرُ وَأَعْرِضْ عَنِ الْمُشْرِكِينَ، (سورة الحجر\۹۴) یعنی الله ﷻ نبی ﷺ ته خطاب وکی چې تاته کم حکم درکول کیږی ته به په هغه سره دحق اوباطل فرق کوی او دمشرکانو څخه اعراض کوه هغوی چې په تاپسی څه وایې اویا تاته مخامخ څه وایې نوته دهغوی په خبروپسی مه ګرزه اوزمادحکم مطابق کارکوه. ابن اسحاق وایې چې تردرو کالو پوری اسلام پټ وو، کله چې داذکر سوی اٰیت اودا ایت هم نازل سو: وَأَنْذِرْ عَشِيرَتَكَ الْأَقْرَبِينَ، نوکله چې دااٰیت نازل سوپه دی کی صراحةً حکم وو چې داسلام ښکاره اعلان وسی. اوڅه رکم چې اسلام پټ وو نو دارکم یې مخالفت هم پټ کیدی اوچې دکله څخه ښکاره سو نوبیاښکاره مخالفت شروع سونوټول قریش په نبی ﷺ پسی ولګیدل

(c) ketabton.com: The Digital Library



اونبی ﷺ ته یې په مختلفو طریقو باندی لالچ ورکوی اوکله چی دوی ته معلومه سوه چی نبی ﷺ داخپله طریقه نه پریږدی نوبیایې نبی ﷺ ته تکلیفونه رسول، ابواسحاق وایې چی بیا ورځ په ورځ په اسلام کی ترقی کیدلی اوخلګ به په اسلام کی داخلیدل، اوحال داوو چی قریشوبه هرممکن کوشش کوی چی خلګ په اسلام کی داخل نه سی. ابن اسحاق وایې په نقل کولوسره دابن عباس څخه دی وایې چی یووار دقریشو ټول سرداران یوځای سوه چی دانومونه یې دی (عتبه بن ربیعه، شیبه بن ربیعه، ابوسفیان بن حرث، نصر بن حرث، اسود بن مطلب بن اسد، زمعه بن اسود، ولید بن مغیره، ابوجهل بن هشام، عبدالله بن امیه، عاص بن وائل، نبیه بن حجاج، منبه بن حجاج، امیه بن خلف) اودارکم نورسرداران هم ددوی سره وه،داټول یوه ورځ دخانه کعبی سره راټول سوه اومحمد ﷺ یې راغوښتی اوټولو ورته په یووخت کی وویل: ای محمد (ﷺ) ته موږ راغوښتی یې دخبرو اترو دپاره، ولی چی زموږ دی قسم وی په الله ﷻ باندی موږ عرب قوم یو اوموږنه دی لیدلی داسی ښارچی هغه په داسی آفت کی واقع سوی وی لکه څه رکم چی تاموږ واقع کړی یو، زموږپه پلرونو پسی بدی وایې اوزموږ معبودانو ته ښکنځل کوی اوزموږ جماعت دی ټکری ټکری کی، داسی یوه خرابی پاته نه ده چی تاپه موږکی نه وی کړی، بس دی اوزموږ داخبره واوره، که دپیسو دپاره داکار کوی نوموږ به تاته دومره پیسی درکو چی دټولو څخه به زیات مالداره ته یې، اوکه ته وایې چی موږ تاخپل مشرکو نوموږ ستامشری پرځانونو باندی منو، اوکه ته وایې چی مابادشاه کړی نوموږ تاته بادشاهی درکوو، اوکه پرتاباندی څه پیریان رازی نوموږ خبر کړه چی موږ ستاعلاج وکی. نونبی ﷺ په جواب کی دوی ته وویل. داکمی خبری چی تاسی وکړی نوپه دی کی زه ستاسی څخه هیڅ نه غواړم، نه زه ستاسی څخه سلطنت غواړم اونه زه ستاسی څخه مال اودولت غواړم، بلکی زه الله ﷻ تاسی ته پیغمبر رالیږلی یم اوپه مباندی یې خپل کتاب نازل کړی دی، اوماته یې حکم کړی دی چی ددی خلګو دپاره زیری ورکونکی اوبیره ورکونکی جوړسم، اوکه تاسی داخبره قبلوی نوپه دواړو جهانونو کی به کامیاب سی، اوکه تاسی دانه قبلوی نوزه به ترهغه وخته پوری انتظار کوم ترکم وخت پوری چی الله ﷻ زما اوستاسی په منځ کی فیصله وکی.

## هجرت دحبشی

بیادی کافرانو پرمسلمانانو باندی ډیر ظلمونه شروع کړه اودوی ته یې مصیبتونه ورکول. محمد بن اسحاق وایې: کله چی نبی ﷺ دامصیبتونه په مسلمانانو باندی ولیدل نوخپلو صحابوو ته یې امروکی چی دحبشی خواته هجرت وکی، ولی چی دابه تاسی ته ښه وی، او په هغه ځای کی یوبادشاه دی چی ډیر منصف بادشاه دی په چا باندی ظلم اوزیاتی نه کوی او دربښتینوالی مزکه ده، اوتاسی په حبشی کی اوسیږی ترهغه وخته پوری چی زموږ څخه

(c) ketabton.com: The Digital Library



تکلیفونه لیری سی، بیاصحابه روان سوه اودحبشي خوا ته يې هجرت وکی اودا اولنی هجرت وو په اسلام کی، په دوی کی سرفهرست عثمان ﷛ وو، چی په ده باندی دنبی ﷺ لور واده وه، اوپه دوی کی جعفر بن ابی طالب ؓ هم وو، دوی ټول (۸۳) کسان وه ماسوا دماشومانو څخه، اوحضرت عمار بن یاسرهم غالبًا په دوی کی وو، بیاقریشو په دی باندی هم صبرونه کی اوخپله یوه قافله يې په نجاشي بادشاه پسی ولیږل چی هغه هم دوکه کړی ددوی په باره کی چی په هغه کی خاص عمر بن العاص اوعبدالله بن ربیعه وه مگر ددوی په مقابله کی جعفر﷛ داسی زبردست بیان دنجاشي مخ ته وکی چی دهغه په اوریدلو سره نجاشي وژړل اوبیايې وویل چی ستاسی خبری ټولی حق دی اوقریش يې بیرته نامراده واستول.

## هجرت دمدینی

روایت ذکرکړی دی ابن اسحاق: بیاهم په دی مکه کی نبی ﷺ ته دمعراج واقعه پیښه سوه چی په دغه وخت کی په قریشو کی اوپه مکه کی په څه ځایونوکی اسلام غوړول سوی وو، اوبیادهغه څخه وروسته نبی ﷺ چی دخپل صحابوو تکلیفونه وکتل نوهغوی ته يې امر وکی په هجرت کولو سره مدینی ته اوپخپله نبی ﷺ دځان په باره کی منتظر وو چی الله ﷻ ورته څه حکم ورکوی، ابن اسحاق وايې چی عائشه ﵂ فرمايلی دی: چی نبی ﷺ به دابوبکر ﷛ خواته سهار یاماښام ضرور راتلی نویوه ورځ دماپښین په وخت کی نبی ﷺ حاضرسو نوابوبکر ﷛ ته معلومات وسو چی نن څه ضروری خبره سته، نوعائشه ﵂ وايې چی: زه اوزما خور موږ دواړه په دغه ځای کی ولاړ وو نونبی ﷺ زما والد صاحب ته وفرمایل چی دوی لیری کی چی زه تاته څه خبره کوم، نوابوبکر ﷛ نبی ﷺ ته وویل چی دازما خوندی دی اوددی څخه څه خطره مه کوه، نونبی ﷺ ابوبکر ﷛ ته وفرمایل چی ماته دهجرت اجازه راکول سوه، دنبی ﷺ په دی خبره باندی ابوبکر الصدیق ﷛ دومره خوشحاله سو چی دخوشحالی دلاسه په ژړا سو اونبی ﷺ ته مخاطب سو چی ددی ورځی دپاره مادوه اوښان ساتلی دی، نوپه مکه کی دنبی ﷺ دهجرت څخه هیڅ څوک خبرنسو ماسوا دابوبکر ﷛ دکور والاو څخه اودعلی ﷛ څخه، اوعلی ﷛ نبی ﷺ دامانتونو داداء کولو دپاره په مکه کی پریښی وو، بیانبی ﷺ دخپل کور دشاتنی کړکی څخه ووتی دابوبکر الصدیق ﷛ سره اوپه غارِ ثور کی تم سو اوابوبکر ﷛ خپل ځوی عبد الله ته وویل چی ته اوره چی خلگ زموږ په باره کی څه وايې، اوخپل غلام ته يې وفرمایل چی ته دشپې پسونه څروه اوزموږ خواته يې راوله چی موږ يې شیدی وچښو، او حضرت اسماء چی دابوبکر ﷛ لور وه دی به ډوډی تیاروله اوبیابه يې دوی ته راوړله هم دارکم دری ورځی نبی ﷺ اوابوبکر الصدیق ﷛ په دی غارکی تیری کړی، اوپه مکه کی

(c) ketabton.com: The Digital Library



قریشو ډیر تب اوتالاش وکی دنبی ﷺ خوپیدا نسوه ورته اوبیایې سرِ عام اعلان وکی چی ثوك موړ ته دمحمد په باره کی خبر راکړی نوموړ به ورته سل اوښان په انعام کی ورکوو. خوبیاهم دوی ته نبی ﷺ ورنه کول سو اوپه دریمه ورځ نبی ﷺ دابوبکر الصدیق سره روان سو په خوا دمدینی باندی.

**دنبی ﷺ مدینه منورې راتلل**

روایت ذکرکړی دی ابن اسحاق چی رسول الله ﷺ په قباء کی ترڅلورو ورځو پوری پاته سوه دوشنبه، سه شنبه، چارشنبه، پنج شنبه، (ګل، شروع، نهی، اوزیارت) داڅلور ورځی نبی ﷺ په قباء کی تیری کړی اوپه دی ځای کی یې جماعت تعمیر کی بیاددی ځای څخه روان سوه بنی سالم بن عوف ته اوهلته یې په وادی رانوناء کی یوجماعت جوړکی اوهلته نبی ﷺ اولنی جمعه وویل. اوبیا نبی ﷺ مدینی ته روان سو اوپه لاره کی نبی ﷺ دډیرو قبیلو سره ولیده اودډیرو سردارانو سره یې خبری اتری وکړی، تردی چی دنبی ﷺ اوښه مدینی منوری ته ورسیده اونبی ﷺ اوښه په خپلی مرضی باندی پریښوولہ چی په کم ځای کی کښینی نوپه هغه ځای کی به دنبی ﷺ کور اوجماعت وی نودنبی ﷺ اوښه ددوو یتیمانو په مزکه باندی کښېنسته چی دهغو دواړونومونه سهل اوسهیل وو، اودوی دواړه دمعاذ بن عفراء زیر تربیت وه چی دهغه سره به په کورکی پاته کیده، نونبی ﷺ داوښی څخه کښته سو نو اوښه بیا ولاړه سوه اوروانه سوه اوبیا بیرته راله اوپه هغه ځای کی کښېنسته اوپه دی ځای کی دابو ایوب الانصاری کور نژدی وو نوهغه دډیری خوشحالی څخه په ځان نه پوهیدی په دی اندازی ډیر خوشحاله وو اوډیر خلګ په دغه ځای کی ولاړ وه اوډېولو داطمع وه چی دده په مزکه باندی کښېنی نوابو ایوب الانصاری داوښی سامان په خپل کور کی کښېښووی اونبی ﷺ دهغه په کورکی ارام وکی.

**غزا دبدر**

ابن هشام په خپل سیرت کی ذکر کړیدی چی دحضرت ابن اسحاق څخه نقل دی چی: نبی ﷺ ته اطلاع وسوه چی دابوسفیان غټه قافله دتجارت دشام څخه راروانه ده چی په هغه کی دیرش څلویښت کسانو ډیرمال دځان سره راروان کړی دی نونبی ﷺ صحابووته دجنګ دتیاری اطلاع وفرمایله نودی خلګو فوراً خپل قاصد مکی ته ولیږی اواطلاع یی دجنګ ورسوله اودقریش سرداران یې خبرکړه نودقریشو غټ لښکر داسلحو سره رالی، اودی خوا ته نبی ﷺ خپله قافله برابره کړه اودځان سره یې روانه کړه اونبی ﷺ ته دقریشو دلښکر دروانګی معلومات وسو، نودارکم دقریشو دوی ډلی سوی یوه دجنګ اویوه دمال، نوپه دی وخت کی الله ﷻ دوی ته خطاب وکی په دی قول سره: وَلَقَدْ نَصَرَكُمُ اللهُ بِبَدْرٍ وَأَنْتُمْ أَذِلَّةٌ

(c) ketabton.com: The Digital Library



فَاتَّقُوا اللهَ لَعَلَّكُمْ تَشْكُرُونَ (۱۲۳) إِذْ تَقُولُ لِلْمُؤْمِنِينَ أَلَنْ يَكْفِيَكُمْ أَنْ يُمِدَّكُمْ رَبُّكُمْ بِثَلَاثَةِ آلَافٍ مِنَ الْمَلَائِكَةِ مُنْزَلِينَ، الله ﷻ داټول صورت حال دبدر متعلق بیان کړی دی چی په دی کی اصل مقصد داوو چی الله ﷻ دمومنانو په لاس باندی دکافرانو یوی ډلی ته شکست ورکوی، اوالله ﷻ دمومنانو سره داوعده کړی وه چی دوی ته به فتحه ورکوی دکافرانو په یوی ډلی باندی اوداهغه غزاوه چی الله ﷻ په کی ملائکی دمومنانو دمدد دپاره رالیږلی وی اوپه دی غزاکی دقریشو اکثره سرداران مړه سوه اودایوه عظیمه کامیابی وه دمومنانو دپاره، په دی غزاکی دمسلمانانو تعداد (۳۱۰) کسان وو یاڅه لوړ وو، اوکافران د(۹۰۰) څخه زیات وه، په دی کی دقریشو دمشرانو څخه دعتبه بن ربیعه ځوی ولیدبن عتبه اودده ورور شیبه بن عتبه راووتی اودریم عتبه په خپله راووتی نودوی اواز وکی چی آیا زموږ دمقابلی دپاره څوك سته نودمومنانو څخه عوف رضی الله عنه اومعوذ رضی الله عنه اویو دریم سړی چی شاید عبدالله بن رواحه وو دوی راووتل نودی سردارانو دقریشو ځینی پوښتنه وکړه چی تاسی څوك یاست نودوی وویل چی موږ انصار یو نوعتبه په کی وویل چی ای محمد ﷺ موږ ته دخپل قوم څخه کسان راوباسه نونبی علیه السلام شیرِ خدا علی رضی الله عنه ته اوسید الشهداء حمزه رضی الله عنه او عبیده رضی الله عنه ته امروکی نودوی دری واړه لکه زمریان میدان ته یې راودانګل نوعتبه ځینی پوښتنه وکړه چی تاسی څوك یاست نودوی ورته وویل چی موږ مهاجرین یو نوعتبه وویل چی اوس برابری وسوه نوعلی رضی الله عنه خوپه اول وار باندی دولید څخه سرپری کی اوپه خاورو کی یې غرور اوتکبر ور وغورځوی اودی نور دوو صحابوو ته په مخه عتبه اوشیبه دواړه ورغله نوحمزه رضی الله عنه هم دعتبه څخه سرپرې کی اوعبیده رضی الله عنه دشیبه دلاسه څخه زخمی سو اودی هم زخمی سو نودکافرانو ټول لښکر ددرد څخه ډك وو په دی کی دواړی ډلی دیوبل سره په جنګ ومښتی نوپه دی دوران کی نبی علیه السلام دعاکوله چی لوړ یې وکتل نوجبرایل علیه السلام دخپل لښکرسره راروان وو نونبی علیه السلام ډیر زیات خوشحاله سو، اوپه دی جنګ کی ابوجهل دوو ماشومانو چی معاذ اومعوذ وو ددوی په لاس باندی الله ﷻ جهنم ته واصل کی اودده څخه ماسوا دکافرانو نور هم غټ سرداران مړه سوه اودکافرانو مړی هری خوا ته په ډیری ډیری باندی پراته وه. اوبیا دالله ﷻ په فضل اوکرم سره داسلام جنډه نوره هم لوړه سوه تر دی چی مکه هم فتحه سوه، اودهغه څخه وروسته دحجة الوداع واقعه رامخ ته سوه.

## بیان دحجة الوداع

دحج تیاري: روایت ذکر کړی دی ابن اسحاق چی کله دذیقعده میاشت راله نونبی علیه السلام دحج تیاری وکړه اوخلګو ته یې هم دتیاری امر ورکی حضرت عائشه رضی الله عنها فرمایې چی نبی علیه السلام دذیقعده په پنځه ویشتم باندی حج ته په سفر باندی روان سو، او په مدینه کی یې ابو

(c) ketabton.com: The Digital Library



دجانه ساعدی اوپه بل قول سره سباع بن عرفطه غفاری حاکم مقررکی.

**(دحضرت عائشه رضي الله عنها مناسک حج)**

حضرت عائشه رضي الله عنها فرمایي چی موږ کله دسرف مقام ته ورسیدو نونبی عليه السلام وفرمایل چی دچاسره قربانی نه وی نوهغه دی دعمری په نیت سره احرام وتړی اوپه دی ځای کی عائشه رضي الله عنها فرمایي چی ماته ناجوړی دښځو راله نونبی عليه السلام زماخواته رالی اوماژړله نونبی عليه السلام ماته وفرمایل چی ای عائشه ته ولی ژاړی؟ ولی په تا باندی ناجوړی راله؟ نو عائشه رضي الله عنها فرمایي چی ماوویل نبی عليه السلام ته چی، هو، نوعائشه رضي الله عنها فرمایی چی ماپه دغو ورځوکی وویل: کاشکی چی زه دنبی عليه السلام سره په دی سفرکی نه وای راغلی، نو نبی عليه السلام وفرمایل چی داسی مه وایاست، څه چی حاجی کوی هغه ته هم کوه مګرته دبیت الله طواف مه کوه، کله چی موږ خانه کعبی ته رالو نوعمرو والا عمری وکړی اواحرامونه یې خلاص کړه اودنبی عليه السلام بیبیانو هم احرامونه خلاص کړه.
بیاچی کله دقربانی ورځ راله نوعائشه رضي الله عنها فرمایي چی زماکورته ډیره غوښه راله نوما پوښتنه وکړه نوماته خبر راکول سو چی نبی عليه السلام دخپلو بیبیانو څخه هم قربانی کړی وه بیاچی کله دحج شپه وه نونبی عليه السلام په ماپسی زما ورور عبدالله راولیږی اوزه مقام نعیم سره وم دعمری دپاره یې په ماپسی رالیږلی وو، داعمره په ځای دهغه عمری کی وه کمه چی زما څخه پاته سوی وه، حضرت حفصه رضي الله عنها بنت عمر رضي الله عنه بن الخطاب فرمایي چی نبی عليه السلام په خپلو ټولو بیبیانو باندی عمره وکړه اوپه ټولو باندی یې احرامونه خلاص کړه، نوما نبی عليه السلام ته وویل چی تاسی ته څه مانع دی چی تاسی داحرام نه کښته کوی نونبی عليه السلام وفرمایل چی مادځان سره دقربانی حیوان راوړی دی هغه چی کله حلال کم نوبیابه احرام خلاص کم.
دادنبی عليه السلام اولنی اواخرنی حج وو نوځکه ورته حجة الوداع ویل کیږی اوددی څخه یوڅو ورځی وروسته نبی عليه السلام ددی دنیا څخه په رحلت سو، دهغه څخه وروسته دخلافت په باره کی دمهاجرینو اودانصارو اختلاف واقع سو مهاجرینو به ویل چی خلاف زموږ حق دی او انصارو به ویل چی زموږ حق دی ولی چی موږ دنبی عليه السلام میلمستیا کړیده اوموږ انصار یو دنبی عليه السلام بالآخر ابوبکر الصدیق رضي الله عنه اول خلیفه مقرر سو اودهغه څخه وروسته عمر رضي الله عنه خلیفه مقررسو اودهغه څخه وروسته عثمان رضي الله عنه مقررسو چی دده رضي الله عنه په دور کی فتنې را ښکاره سوی اودی شهیدسو، اوبیا دده څخه وروسته علی رضي الله عنه خلیفه سوچی ددوی په دور کی خوارج راووته اوقتل اوقتال ډیرسو اوبلی خواته معاویه رضي الله عنه پرخلاف ودریدی چی

(c) ketabton.com: The Digital Library



ته یې ښځه وه چې الله پیدا کړی وه دده دپوښتۍ څخه، نوآدم ﷵ ورڅخه پوښتنه وکړه چې ته څوك یې هغه وویل چې زه ښځه یم نوآدم ﷵ ورته وویله چې ته څنګه پیدا سوی یې ؟ نودی ورته ویله ددی دپاره چې ته ماته راحت پیداکی نوپوښتنه وکړه ملائکو دآدم ﷵ څخه ددی وجی چې دده دعلم اندازه ولګیږی ددی نوم چشی دی ؟ نوآدم ﷵ وفرمایل حواء بیایې پوښتنه وکړه چې دی ته حواء ولی ویل کیږی ؟ نوآدم ﷵ وویله ځکه چې دا دژوندی شی څخه پیدا سویده، اوذکر کړی دی محمد ابن اسحاق دابن عباس څخه چې دا پیدا سویده دچپه پوښتۍ دآدم ﷵ څخه اودا نرم اوپوست ځای دغوښی دی او مصداق ددی په دی قول دالله ﷻ کی ذکر دی : يَا أَيُّهَا النَّاسُ اتَّقُوا رَبَّكُمُ الَّذِي خَلَقَكُمْ مِنْ نَفْسٍ وَاحِدَةٍ وَخَلَقَ مِنْهَا زَوْجَهَا وَبَثَّ مِنْهُمَا رِجَالًا كَثِيرًا وَنِسَاءً، (النساء ۱).

اوپردی باندی به بحث کوو وروسته انشاء الله تعالی، اوپه صحیحینوکی یوبل زائد حدیث ذکر دی دمیسره الاشجعی څخه دی نقل کوی دابی حازم څخه هغه دابی هریره ﷺ څخه چې درسول الله ﷺ څخه نقل کوی چې رسول الله ﷺ فرمایلی دی (نصیحت کوی خپلو ښځو ته دخیر ولی چې دا پیدا سویده دچپه پوښتۍ څخه اوډیر کوږ ځای په پوښتۍ کی لوړ ځای دی، که ته چیری وغواړی چې سیده کړی دا پښتۍ نوماته به یې کړی اوکه هم داسی یې پریږدی نوکږه به پاته سی نو پس وصیت کوی خپلو ښځو ته په خیر سره دا لفظ دبخاری ([1]) دی.

اواختلاف کړی دی مفسرینو په دی آیت کی (وَلَا تَقْرَبَا هٰذِهِ الشَّجَرَةَ) چاویلی دی چې دادرخته دانګورو وه اوابن عباس اوسعید بن جبیر اوالشعبی اوجعده بن هبیره او محمد بن قیس او السدی په روایت دابن عباس کی اوابن مسعود اویوه ډله دصحابه وو ویلی دی: چې ګمان کوی یهودیان چې دا دغنمو وه او وهب وایی چې: میوه ددی ډیره خوندوره وه اونرمه وه ترکوچو.

اوویلی دی امام الثوری په نقل کولو سره دابی حصین څخه چې هغه نقل کوی دابی مالك څخه (وَلَا تَقْرَبَا هٰذِهِ الشَّجَرَةَ) چې دادرخته دخرما وه او ابن جریج دمجاهد څخه نقل کوی چې دادرخته دانځیر وه اوپه دی سره قول کړی دی قتاده اوجریج، او ابو العالیه وایی چې دا داسی بوټی دی چې چا ددی څخه خوراك وکی نوهغه به قضایی حاجت کوی اوپه جنت کی قضایی حاجت کول نسته. اودا ډیر نازك اختلاف دی، اوالله ﷻ هم دا درخته نه ده ذکر کړی چې دا دڅشی درخته ده اوکه چیری په ذکر ددی درخته کی زموږ مصلحت وای نوالله ﷻ به

---

([1]). دا حدیث متفق علیه دی ددې تخریج کړیدی امام بخاری په کتاب النکاح ، باب الوصیة بالنسآء کی، ۱۸۲\۹ او مسلم په کتاب الرضاع، باب الوصیة بالنسآء کی، ۵۸\۱۰ ، په روایت دابی هریرة ﷺ .

(c) ketabton.com: The Digital Library



هغه دعثمان رضی الله عنه بدله غوښتله اوعلی رضی الله عنه فرمایل چی وخت دفتنو دی اوداکارپه دی وخت کی ښه نه وو، اوبیا دهغه څخه وروسته ډلی جوړی سوی، لکه دولة الایوبیة سو او دولة العباسیه سو او دوی به بیاپه خپله کی جنګیدل دبادشاهی دپاره اوبیاپه منځ منځ کی پر مسلمانانو باندی ډیر تکالیف راله اوډیر ظلمونه په مسلمانانو باندی وسوه.

السبت، ۰۲ ذو الحجة، ۱۴۲۸

پای

بحمدالله تم

**کمپوزنګ**:
الحافظ نور احمد الحقانی (سلمه الصّمد)
**العلم کمپیوټرز ، کوئټه**
03218016371 :

**ناشر**:
**مکتبه رحمانیه، کاسی روډ، کوئټه**
03337806049 :

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**